تفسیر

معارف القرآن

پهٔ قندهاری پښتو

تالیف

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع

پښتو ترجمه کوونکی ابوصدیق احمد مولوی نصیر احمد حقانی

تصحیح او سمون: مولوی نصیر احمد حقانی او مولوی امین الله حقانی

مکتبه حنفیه

گانسی روډ. کوټه

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

فهرست تفسیر معارف القرآن

مضمون	مخ
وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ : الخ ، ۸۳ تر ۸۲	۶
دآیتونو ترون	۶
دځینی اهل کتابو حق پرستی	۷
دحضرت جعفر رضي الله عنه تقریر دحبشی په باچا اثر	۸
دحبشی دباچا دټولی دپیغمبر په دربارکی حاضری	۸
دقوم اوملت اصلی روح حق پرست عالمان او مشائخ دی	۹
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ : الخ ۸۷ تر ۸۸	۹
ددنیا پرېښوول که دالله ﷻ په حدونو کی دننه وی نو جائز دی که نه وی نو حرام دی	۱۰
یو حلال شی لره دحرام مقرر کولو دری درجی	۱۰
لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَٰكِنْ : الخ ، ۸۹	۱۱
دقسم خوړلو څو صورتونه او ددی متعلق حکمونه	۱۲
ترقسم ماتیدو مخکی کفاره ورکول جائز نه دی	۱۴
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ :الخ ،۹۰ تر ۹۲	۱۴
دکائناتو پیدا کول دانسان دنفعی دپاره دی	۱۵
دازلام تشریح	۱۶
دهسکی جائز صورت	۱۶
دشرابو او جواری بدنی او روحانی فسادونه	۱۶
لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا : الخ ۹۳ تر ۹۲	۱۹
جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِلنَّاسِ : الخ ، ۹۷ تر ۱۰۰	۲۴
د امن او اطمینان څلور ذریعی	۲۵
بیت الله دټولو عالم عمود یعنی ستن ده	۲۵
دبیت الله وجود ددنیا د امن سبب دی	۲۶
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ : الخ ،۱۰۱ تر ۱۰۳	۳۰
دبی ضرورته پوښتنه کولو څخه منع	۳۱
دنبی کریم ﷺ څخه وروسته دنبوت او وحی سلسله ختمه سوه	۳۱
دبحیری، سائبی وغیره تعریف	۳۲
مَا جَعَلَ اللَّهُ مِنْ بَحِيرَةٍ وَلَا سَائِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ : الخ ۱۰۴ تر ۱۰۵	۳۳
نا اهل پیشوا جوړول هلاکت لره بلنه ورکول دی	۳۴
داقتدار معیار	۳۵
په چا دتنقید کولو اثرناکه طریقه	۳۵

Maktaba Tul Ishaat.com

دخلقو داصلاح فکر کوونکو ته یوه تسلی	۳۵
دګناهونو دبندولو په باره کی دحضرت صدیق اکبر ؓ یوه خطبه	۳۶
دمعروف او منکر معنی	۳۶
دمجتهدینو امامانو رحمهم الله په مختلفو اقوالو کی هیڅ شرعی منکر نه وی	۳۷
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ : الخ ، ۱۰۲ تر ۱۰۸	۳۷
دیوه کافر شاهدی دبل کافر په معامله کی قابل قبول ده	۴۲
په کوم سری چی دچا څه حق وی هغه دی قید کول کیږی	۴۲
يَوْمَ يَجْمَعُ اللَّهُ الرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَا أُجِبْتُمْ قَالُوا لَا عِلْمَ لَنَا إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ : الخ ، ۱۰۹ تر ۱۱۰	۴۳
په قیامت کی به د انبیاء علیهم السلام څخه تر ټولو اول پوښتنه کیږی	۴۴
دیوشک لیری کول	۴۵
یو سوال او دهغه جواب د انبیاؤ علیهم السلام د انتهایی شفقت اظهار	۴۶
په محشر کی د پنځو شیانو پوښتنه	۴۶
دحضرت عیسی ؑ سره خصوصی سوال او جواب	۴۷
دحضرت عیسی ؑ جواب دالله ﷻ په دربار کی	۴۸
په حضرت عیسی ؑ باندی دخو خاصو انعامونو ذکر	۴۸
وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ أَنْ آمِنُوا بِي وَبِرَسُولِي قَالُوا آمَنَّا وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ : الخ ، ۱۱۱ تر ۱۱۵	۴۸
مومن لره دمعجزو مطالبه کول نه دی په کار	۵۰
کله چی نعمت په غیر معمولی طور سره زیات وی نو دناشکری وبال یی هم زیات وی	۵۰
وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ : الخ ، ۱۱۲ تر ۱۱۸	۵۱
معلومات او مسئلی: اهمی فائدی	۵۳
قَالَ اللَّهُ هَذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ : الخ ، ۱۱۹ تر ۱۲۰	۵۴
﴿ سورة الانعام ﴾	**۵۶**
الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ : الخ ، ۱ تر ۵	۵۶
معلومات او مسئلی	۵۷
أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا : الخ ، ۴ تر ۱۱	۶۰
معلومات او مسئلی	۶۲
قُلْ لِمَنْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ قُلْ لِلَّهِ كَتَبَ : الخ ، ۱۳ تر ۱۴	۶۵
قُلْ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ : الخ ۱۵ تر ۲۱	۶۷
معلومات او مسئلی	۶۹
وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا : الخ ، ۲۲ تر ۲۲	۷۳
معلومات او مسئلی	۷۴
دمشرکانو دفلاح نه پیدا کیدو وجه	۷۴

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَوْ تَرٰى اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ فَقَالُوْا : الخ ، ۲۷ تر ۳۲	۷۹
قَدْ نَعْلَمُ اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ الَّذِيْ يَقُوْلُوْنَ : الخ ۳۳ تر ۴۱	۸۴
دکفارو پر بی هوده خبر نبی کریم ﷺ ته تسلی	۸۵
دخلقو دحقونو انتهایی اهمیت	۸۹
وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَاَخَذْنٰهُمْ : الخ ، ۴۲ تر ۴۵	۸۹
قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ وَاَبْصَارَكُمْ : الخ ، ۴۲ تر ۴۹	۹۳
قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ : الخ ، ۵۰ تر ۵۱	۹۴
دعربو دکفارو دطرف څخه دفرمائشی معجزو معاندانه مطالبه	۹۵
وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ : الخ ، ۵۲ تر ۵۵	۹۹
دتکبر اوجاهلیت لیری کول اودعزت اوذلت اسلامی معیارپه اسلام کی دامیراوغریب هیڅ امتیاز اوفرق نشته	۱۰۱
یوڅو احکام او هدایات	۱۰۴
په توبه سره هره یوه ګناه معاف کیږی	۱۰۷
قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ : الخ ، ۵۲ تر ۵۸	۱۰۸
وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ : الخ ، ۵۹ تر ۲۲	۱۰۸
دګناهونو څخه دخلاصيدو نسخهٔ اکسیر	۱۱۱
دقرآن په اصطلاح کی علم غیب اوعام قدرت مطلقه یوازی دالله ﷻ خاص صفت دی هیڅ مخلوق په دی کی دالله ﷻ سره شریک نشته	۱۱۱
قُلْ مَنْ يُّنَجِّيْكُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ : الخ ، ۲۳ تر ۲۴	۱۱۷
دالله ﷻ دعلم او دالله ﷻ قدرت مطلقه څه نښانی	۱۱۷
دحادثو اومصیبتونو اصلی علاج	۱۱۸
قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰٓى اَنْ يَّبْعَثَ : الخ ، ۲۵ تر ۲۷	۱۲۱
دالله ﷻ دعذاب دری قسمونه	۱۲۲
وَاِذَا رَاَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا فَاَعْرِضْ : الخ ، ۲۸ تر ۷۳	۱۲۸
دباطلو خلقو دمجلس څخه دپرهيزکولو حکم	۱۳۱
وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا : الخ ، ۷۴ تر ۸۱	۱۳۵
دعقیدو اصلاح او دعملونو بلنه دخپل څخه شروع کول په کار دی	۱۳۸
دوه قومی نظریه ، مسلمان یو قوم او کافر بل قوم دی	۱۳۹
په تبلیغ اودعوت کی دحکمت څخه کار اخیستل دانبیاؤ علیهم السلام سنت دی	۱۴۰
داسلامی تبلیغ کوونکو دپاره څو هدایتونه	۱۴۱
اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْاَمْنُ وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ : الخ ، ۸۲ تر ۸۹	۱۴۲
اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰىهُمُ : الخ ۹۰ تر ۹۴	۱۴۷

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّ اللَّهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوَى يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ : الخ ، ۹۵ تر ۹۸	۱۵۴
دمخلوقاتو دا آرام دپاره دشپې قدرتي او جبري تعين يو لوی نعمت دی	۱۵۶
دلمر او سپوږمۍ حساب	۱۵۷
وَهُوَ الَّذِي أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ : الخ ، ۹۹ تر ۱۰۲	۱۶۰
لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ : الخ ، ۱۰۳ تر ۱۰۷	۱۶۲
دالله ﷻ دليدلو مسئله	۱۶۵
وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا : الخ ، ۱۰۸ تر ۱۱۰	۱۶۸
ديوی گناه سبب جوړيدل هم گناه ده	۱۷۲

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

....

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاِذَا سَمِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰٓى اَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ

او هرکله چی واوری هغه چی نازل سوی دی په رسول ﷺ نو ته وینی سترگی د دوی چی بهیږي

مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ ۚ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا

داوښکو څخه په دی وجه چی دوی وپیژنده حقه خبره وایی ای ربه زموږ موږ ایمان راوړی دی

مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۸۳﴾ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ

نو ته ولیکه موږ دمنونکو سره ،او موږ ته څه سوی دی چی یقین نه راوړو په الله او په هغه شی چی راورسیدی

الْحَقِّ ۙ وَنَطْمَعُ اَنْ يُّدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۴﴾

موږته دحق څخه ، اوطمع کوو ددې چی داخل به کړی رب زموږ موږ سره دنیك بختانو څخه

فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ بِمَا قَالُوْا جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

بیا دوی ته په بدله کی ورکی الله په دی وینا د دوی داسی باغونه چی بهیږي لاندی نهرونه

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ وَذٰلِكَ جَزَآءُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

اوسی به په دی کی همیشه او دا ده بدله دنیکی کوونکو ، او کوم خلق چی منکر سول

وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۸۶﴾

او درواغ یی کړه زموږ آیتونه دغه دی د دوږخ او سیدونکی .

دآیتونو تړون: مخکی دیهودو دمشرکانو سره د دوستی ذکر وو اوس د دوی دمشرکانو سره دمسلمانانو ددښمنی ذکر دی ،کوم چی ددی دوستی اصل سبب وو اوچونکی قرآن مجید په هره معامله کی دعدل او انصاف تر ټولو لوی دعوت ورکوونکی دی ، په دی وجه یهود او نصاریٰ یی په یوه درجه کی شمار نه کړل، په چاکی چی کومه خوبی وه ، هغه یی هم ښکاره کړه ، مثلاً دنصاراؤ په یوخاص جماعت کی په نسبت ددی یهودو تعصب کم وو، او په دی نصاراؤ کی کومو چی حق قبول کړی وو، د دوی یی صفت وکی او ښه جزایی ورته ذکر کړه ، او دا خاص جماعت دحبشو نصاری دی کومو چی په خپل ملک هغومسلمانانو ته هیڅ تکلیف نه وو ورکړی، کوم چی دمدینی منوری دهجرت څخه مخکی حبشی ته تللی وه اوکوم نور نصارا چی داسی وی هغوی هم په دی کی حکماً داخل دی او په دوی کی کومو چی

حق قبول کړی وو ، هغه نجاشی بادشاه او دده ملګری وو ، چې په حبشه کې یې قرآن واوریدی ، وی ژړل او مسلمانان سول بیا دیرش کسان دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سول اوقرآن یې واوریدی ، وی ژړل او مسلمانان سول ، دا ددی آیتونو شان نزول دی .

لنډتفسیر: او (ځینی په دوی کی کوم چې په آخر کې مسلمانان سوی وه ، داسی دی چې) کله دوی دا (کلام) اوری کوم چې په رسول ﷺ باندی نازل سوی دی (یعنی قرآن) نو ته دده ﷺ سترګی وینی چې اوښکی تری بهیږی ، په دی سبب سره چې دوی (دین) حق (یعنی اسلام) پیژندلی دی (مطلب دا دی چې کله حق اوری نو اثر پرکیږی او) داسی وایی چې ای زمونږ ربه ! مونږ مسلمانان سوو نو مونږ هم دهغه خلقو سره ولیکی (یعنی په هغوکی مونږ شمارکړی) کوم چې د (محمد ﷺ او دقرآن دحقوالی) تصدیق کوی او زمونږ سره څه عذر دی چې مونږ په الله ﷻ (دمحمد ﷺ دشریعت دښوونی مطابق) او کوم (دین) حق چې مونږ ته (اوس) را رسیدلی دی په دی ایمان نه راوړو او (بیا) ددی خبری امید (هم) لرو چې زمونږ رب به مونږ په نیکو (مقبولو) خلقو کی دا خل کړی (بلکی دا امید په اسلام پوری تړلی دی ، په دی وجه مسلمانیدل ضروری دی) نو دی (خلقو) ته به الله ﷻ د دوی د (دی) وینا (سره دعقیدی) په بدل کی به داسی باغونه (دجنت) ورکړی چې د هغوی (ترمحلونو) لاندی به نهرونه بهیږی (او) دوی به په هغه کی همیشه همیشه اوسی او دنیکانو دا جزا ده او (د دوی په خلاف) کوم خلق چې کافران سول او زمونږ آیتونو اوحکمونو ته یې دروا غ وویل دغه خلق دوږخیان دی (په دوږخ کی به اوسی)

معلومات اومسئلې (دځینې اهل کتابو حق پرستي)

په دی آیتونو کی دمسلمانانوسره ددښمنی یا دوستۍ په معیار سره دهغه اهل کتابو ذکر سوی دی ، چې د خپلی حق پرستی او دخدای ﷻ څخه دبیری په وجه یې دمسلمانانو سره بغض اودښمنی نه لرله ، لیکن ددی صفتونو خلق په یهودوکی ډیر کم بلکی نیست وه ، لکه حضرت عبدالله بن سلام او نور په نصاراؤ کی نسبتًا دداسی خلقو شمیر زیات وو ، خاص کر دنبی کریم ﷺ په مبارک وخت کی دحبشو دملك بادشاه نجاشی او ددغه ځای په حاکمانو او عواموکی دداسی خلقو شمیر زیات وو او په دی سبب سره چې کله د مکی مکرمی مسلمانان دقریشو دظلمونو څخه تنګ سول ، نونبی کریم ﷺ دوی ته دحبشو طرف ته د هجرت مشوره ورکړه او وی ویل چې ما اوریدلی دی چې دحبشو بادشاه نه په خپله ظلم کوی اونه بل څوک ظلم کولو ته پریږدی ، په دی وجه دی مسلمانان دڅه وخت دپاره هلته ولاړ سی، په دی مشوره عمل کوونکی په اول وار یوولس ۱۱ حضرات دحبشی طرف ته ووتل چې په دوی کی حضرت عثمان غنی او دده محترمه بی بی دنبی کریم ﷺ لوڼ حضرت رقیه ﷺ هم شامله وه .

ددی څخه وروسته دحضرت جعفر ﷺ (د ابی طالب د زوی) په مشری کی دمسلمانانو یوه لویه قافله چې د ښځو څخه علاوه په کښی دوه اتیا ۸۲ نارینه وه ، حبشی ته ورسیدل دحبشی بادشاه او دهغه ځای خلقو د دوی شریفانه استقبال وکی او دا خلق په امن او عافیت سره هلته پاته سول .

دمکی دقریشو غصی اوغضب دوی هلته هم په ارامه پرینښول نه غوښتل چې دا خلق دی په بل ملکیت کی خپل ژوند په ارامه سره تیر کړی ، دوی خپله یوه ډله د ډیرو تحفو سره دحبشی بادشاه ته ولیږله او دا

Maktaba Tul Ishaat.com

درخواست یې ورکې چې دا مسلمانان دې د خپل ملک څخه وباسي، لیکن دحبشې بادشاه دحالاتو تحقیق وکې او دحضرت جعفر ﷺ او دده دملګرو څخه یې د اسلام او داسلام دپیغمبر ﷺ حالات معلوم کړل، دا حالات او داسلام تعلیمات یې دحضرت عیسی ﷺ او دانجیل دپیش ګویو عین مطابق پیدا کړل، په کوم کې چې دحضرت خاتم الانبیاء ﷺ د راتلو ذکر وو، او دده ﷺ دتعلیماتو لنډه غوندې نقشه او دده ﷺ د اصحابو ﷺ شکل او شباهت او نور په کتبې ذکر وه، نو ددې اثر پر وسو او دحبشې بادشاه دقریشو د ټولې هغه تحفې او ډالۍ واپس کړې او دوی ته یې صفا جواب ورکې چې زه دخپل ملک څخه دداسې خلقو د ایستلو حکم نه سم کولې.

(دحضرت جعفر ﷺ تقریر دحبشې په باچا اثر)

حضرت جعفر ﷺ دنجاشې په دربارکې داسلام او داسلامې تعلیماتو یوه لنډه نقشه پیش کړه او بیا ددې حضرات ﷺ هلته دتم کیدو څخه یوازې دده په زړه کې نه بلکې دهغه ځای دحاکمانو اوعوامو ټولو په زړه کې د اسلام او د اسلام د پیغمبر حضرت محمد ﷺ رښتینې محبت اولویې پیدا کړه، ددې نتیجه دا سوه چې کله نبې کریم ﷺ مدینې منورې ته هجرت وفرمایې اوهلته دده ﷺ او د اصحابو کرامو ﷺ په اطمینان سره پاته کیدل معلوم سوه او دحبشې څخه مدینې منورې ته دتلو قصد مهاجرینو وکې نو د حبشې باچا نجاشې د دوی سره دخپل مذهب دنصاراؤ لوی لوی عالمان مشائخ دحضور ﷺ په خدمت کې ولیږل چې ټول اویا کسان په دوی کې دوه شپیته دحبشې وه او اته د شام وه.

(دحبشې دباچا دټولۍ دپیغمبر په دربارکې حاضرې)

داټولګې دنبې کریم ﷺ په خدمت کې په فقیرانه اوراهبانه جامو کې حاضره سوه، نبې کریم ﷺ دوی ته سورت یاسین ووایه دې خلقو به اوریدې او اوښکې به یې بهیدې، ټولو وویل چې دا کلام دهغه کلام سره څومره مشابه دې کوم چې په حضرت عیسی ﷺ نازل سوی وو، او دا ټول مسلمانان سول.

د دوی د واپسې څخه وروسته دحبشې باچا نجاشې هم د اسلام اعلان وکې اوخپل یو خط یې خپل زوی ته ورکې او دده په مشرې کې یې ټولۍ مدینې ته ولیږله، لیکن دبد قسمتۍ څخه د دوی کښتۍ په دریاب کې غرقه سوه، غرض دا دې چې دحبشې باچا او حاکمانو اوعوامو د اسلام او مسلمانانو سره نه یوازې د شریفانو اوعادلانو سلوک وکې، بلکه آخر په خپله هم مسلمانان سول.

جمهور تفسیر لیکونکې فرمایې چې دا ذکر سوې آیتونه ددغه حضراتو په باره کې نازل سوي دي،

وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُمْ مَوَدَّةً لِلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوا : او په وروسته آیتونو کې د دوی دالله ﷻ دبیرې څخه ژړل او حق قبلولو بیان سوی دی په دې هم دجمهورو تفسیر لیکونکو اتفاق دی چې که څه هم دا آیتونه دنجاشې او دده دلیږلې ډلې په باره کې نازل سوي دي، لیکن الفاظ عام دي، په دې وجه ددې حکم دټولو نصاراؤ دپاره عام اوټولو ته شامل دی کوم چې دحبشې دخلقو په شان حق پرست او انصاف کوونکې وي یعنې تر اسلام مخکې دانجیل تابعدار وي، اوداسلام تر راتلو وروسته د اسلام پیرویان سول، په یهودو کې که څه هم یوڅو حضرات دا ډول موجود وه، کوم چې دحضرت موسی ﷺ په زمانه کې په تورات عمل کوونکې وه، بیا د اسلام تر راتلو وروسته مسلمانان سول، مګر دا دومره کم وه چې

Maktaba Tul Ishaat.com

د امتونو او قومونو په ذکر کولو کې دوی نه ذکر کیږي ، د باقي یهودو حال ښکاره وو چې دوی د مسلمانانو په دښمني او بیخ کنۍ کې تر ټولو مخکې وه ، په دې وجه یې په آیت کې د دوی دا حال ذکر کې ، لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ : یعنې د مسلمانانو په دښمنۍ کې تر ټولو زیات سخت یهود دي .

د کلام خلاصه دا سوه چې په دې آیت کې د نصاراؤ دیو خاص جماعت صفت سوی دی چې د خدای ﷻ ښخه بیریدل او حق پرست وه ، په دوی کې نجاشي او دده ملګري هم دا خل دي او نور نصارا هم په کوم کې چې دا صفتونه وي یا په راتلونکي زمانه کې پیدا کیږي ، لیکن د دې دا معنی نه د آیت ښخه راوزي او نه کیدی سی چې نصارې که څه هم هر څومره چې ګمراه وي او د اسلام په دښمنۍ کې هر څومره چې سخت وي دوی به په هرحال د مسلمانانو دوستان ګڼل کیږي او مسلمانان به دوی ته د دوستۍ د پاره لاس اوږدوي ، ځکه چه دا غلطه ده او د واقعاتو ښخه قطعاً خلاف ده ، امام ابوبکر جصاص رحمه الله په احکام القرآن کې فرمایي ، چې ځینې جاهلان چې دا خیال کوي چې په دې آیتو کې مطلق د نصاراؤ صفت دی ، او دوی مطلق تر یهودو ښه دي ، دا سراسر جهالت دی ځکه چې که په عام طور سره د دواړو ډلو د مذهبي عقیدو موازنه وسی نو د نصاراؤ شرک زیات واضح دی او که د مسلمانانو سره د دوی معاملوته وکتل سی نو د ننن سباعامو نصاراؤ هم د اسلام په دښمنۍ کې تر یهودو کمه حصه نه ده اخیستې ، البته دا صحیح ده چې په نصاراؤ کې داسې خلق ډیر تیر سوي دي ، چې خدا ترس او حق پرست وه ، نو په دې وجه د دوی توفیق د اسلام دقبلولو سوی دی ، او دا آیتونه د دې دواړو ډلو په مینځ کې د دې فرق دښکاره کولو د پاره نازل سوي دي په خپله د دې آیت په آخر کې قرآن کریم دا حقیقت په دې الفاظو سره ښکاره کړی دی ، ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ : یعنې د کومو نصاراؤ صفت چې په دې آیتونو کې سوی دی ، د هغه وجه دا ده چې په دوی کې عالمان او د خدای ﷻ ښخه بیریدونکي او پرینبودونکي د دنیا حضرات موجود دي ، او په دوی کې تکبر نشته چې د نورو په خبره فکر کولو ته تیار نه وي ، د مقابلې ښخه معلومه سوه چې د یهودو دا حالت نه وو ، په دوی کې د خدای ﷻ ښخه بیره او حق تابعداري نه وه ، د دوی عالمانو هم د دنیا د پرینبولو په ځای خپل علم یوازې د معاش ذریعه جوړ کړی وو او د دنیا په طلب کې داسې مست سوي وه چې د حق او ناحق او حلال او حرام بیلتون یې نه کوي .

(د قوم او ملت اصلي روح حق پرست عالمان او مشائخ دي)

د ذکر سوي آیت د بیان ښخه یوه اهمه خبره دا معلومه سوه چې د قوم او ملت اصل روح حق پرست او خدا ترس عالمان او مشائخ دي، د دوی وجود د پوره قوم ژوندون دی ، تر څو پوري چې په یو قوم کې داسې عالمان او مشائخ موجود وي چې د دنیا په خواهشاتو پسې نه ځي د خدای ﷻ ښخه بیره د دوی مقام وي ، نو د هغه قوم د خیر او برکت ښخه نه سي محرومه کیدی .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا

ای ایماندارانو مه حراموی هغه خوندورشیان کوم ی چې الله ستاسې د پاره حلال کړي دي او د حد ښخه مه تیریږي بیشکه الله نه

Maktaba Tul Ishaat.com

يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴿٨٧﴾ وَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا م

خوښوي دحد څخه تيريدونکي ، اوخوري دالله درکړل سوي هغه شيان چي حلال پاک دي

وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي أَنْتُمْ بِهِ مُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

او بيره کوي دالله څخه په کوم چي تاسي ايمان لري .

دآيتونو تړون: تردي ځايه پوري د اهل کتابو متعلق خبري اتري وي مخ ته بيا واپسي ده دفرعي احکامو طرف ته ، چي د دوی څه ذکر دسورة په شروع کي اوڅه په مينځ کي هم سوي وو او دمقام دخصوصيت په اعتبارسره يوخاص تړون هم نقل دی هغه داچي لوړ دصفت په مقام کي درهبانيت ذکرراغلی دی نوګويا چي دغه ددنياد پرېښولو يوخاص جز دی ليکن دا احتمال ؤ چي هسي نه يوڅوک درهبانيت برابر خاصيتونه د صفت قابل وګڼي ، په دی وجه په دی مقام کي دحلالو دحرامولو منع زياته مناسبه معلومه سوه .

لنډتفسير: ای مؤمنانو ! الله ﷻ چي کوم شيان ستاسي دپاره حلال کړي دي (برابره خبره ده که دخوراک، چينباک او اغوندلو دقسم څخه وي اوکه دنکاح دقسم څخه وي) په دي کي مزه دار (او دخوښې) شيان (په قسم او وعده کولو پر خپلو نفسونو باندي) مه حراموی او د (شرعي) حدونو څخه (کوم چي دحلالو او حرامو په باره کي مقرر دي) مه وزی بيشکه الله ﷻ د (شرعي) حد څخه وتونکي نه خوښوي اوخدای چي کوم شيان تاسي ته درکړي دي په دوی کي حلال او دخوښې شيان خوري (استعمالوی) اودالله څخه بيره کوي په کوم چي تاسي ايمان لري (يعني دحلالو شيانو حرامول دالله ﷻ درضا څخه خلاف دي نو دالله ﷻ څخه وبيريږی او داسي کار مه کوی)

معلومات اومسئلي: ﴿ ددنياپريښوول که دالله ﷻ په حدونوکي دننه وي نو جائز دی که نه وي نو حرام دی ﴾

په ذکرسوو آيتونوکي دابښوول سوی ده چي که ددنياپريښوول او دخوندونو اومزو پريښول په يوه درجه کي ښه اوغوره دي مګرپه دی کي هم دالله ﷻ دحدونو څخه تجاوزکول بد اوحرام دي چي تفصيل يي دادی

﴿ يوحلال شي لره دحرام مقرر کولو دری درجي ﴾

يوحلال شي لره دحرام مقررکولو دری درجي دي ، يوه دا چي په عقيده سره دا حرام وګڼي ، دوهم دا چي په وينا سره دغه شي دځان دپاره حرام کړی ، مثلاً قسم وخوری چي يخي اوبه به نه څښم يا فلانی قسم حلال خوراک به ونه خورم يا فلانی جائز کار به ونه کړم ، دريم دا چي عقيده او وينا هيڅ نه وي سوی محض عملاً دهميشه دپاره ديوحلال شي دپريښولو قصد وکړی ، په اولنی صورت کي که ددغه شي حلالوالی په قطعی دليلونو سره ثابت وی ، نو ددی په حرام ګڼلو سره به دالله ﷻ دقانون په ډاګه دخلاف کولو په وجه سره به کافر سی اوپه دوهم صورت کي که دقسم د الفاظو په ويلو سره يي دغه شي پر ځان حرام کړی وی، نوقسم به يي وسی دير الفاظ دي چي دفقه په کتابونوکي ذکر دی ، په دوی کي يومثال دا دی چي مثلاً په ډاګه ووايي چي په الله مي دی قسم وی چي دا فلانی شی به ونه خورم يا فلانی کار به ونه کړم يا ووايي چي فلانی شي يا فلانی کار دي پر ما حرام وی ، ددی حکم دا دی، چي بی ضرور ته داسي قسم خوړل ګناه ده ، پرده

Maktaba Tul Ishaat.com

لازمه ده چی داسی قسم مات کړی او دقسم کفاره ادا کړی ، ددی تفصیل به مخکی راسی . انشآء الله
دریم قسم چی په هغه کی یی په عقیده یا قول سره څه شی نه وی حرام کړی بلکې په عمل کی داسی کار کوی ، لکه دحرامو سره چی کول کیږی چی دهمیشه دپاره یی پریښول لازم کړی ، ددی حکم دا دی چی که دغه حلال پریښول ثواب گڼی نو دا بدعت او رهبانیت دی چی عظیمه گناه یی په قرآن او حدیث سره ثابته ده ، ددی خلاف کول واجب دی او په داسی پابندی باندی پاته کیدل گناه ده، البته که داسی پابندی په نیت دثواب نه وی بلکه په یوه بله وجه مثلاً دڅه بدنی یا روحانی ناجوړی په سبب سره څه خاص شی د همیشه دپاره پاته کړی نو په دی کی هیڅ گناه نسته ، دځینو صوفیانو او بزرگانو څخه د حلالو شیانو د پریښولو چی کوم روایتونه نقل دی، هغه ټول ددی قسمه څخه دی، چی هغوی دخپل نفس دپاره دغه شیان مضر گڼلی دی یا ورته چا بزرگ مضر ښوولی وه ، په دی وجه په طور دعلاج یی پریښول، په دی کی هیڅ باک نسته .

د آیت په آخر کی یی وفرمایل ، وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ : یعنی دالله ﷻ تر حدونو مخکی مه ځی ، ځکه چی الله ﷻ داسی مخکی تلونکی نه خوښوی .
ترحد دمخکی تللو مطلب دادی چی یو حلال شی یی له څه عذره ثواب وگڼی او پاته یی کړی چی ناپوهه سړی یی تقوی گڼی او دالله ﷻ په نزد باندی ترحد تجاوز او ناجائز دی په دی وجه په بل آیت کی ارشاد دی.
وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ : یعنی کوم رزق حلال او پاک چی الله ﷻ تاسی ته درکړی دی دغه خوری او دالله ﷻ څخه په کوم چی ستاسی ایمان دی بیره کوی .
په دی آیت کی یی په ډاگه وفرمایل چی حلال او پاک شیان ثواب گڼل او پریښول تقوی نه ده ، بلکی تقوی په دی کی ده چی دغه دالله ﷻ نعمت وگڼی او استعمال یی کړی او شکر یی ادا کړی ، البته که یی دڅه جسمانی یا روحانی مرض په وجه سره یی په طور دعلاج پریږدی ، نو دا په دی کی نه دی داخل .

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ الْأَيْمَانَ

نه نیسی تاسی الله ﷻ ستاسی په عبثو قسمونو باندی او لیکن نیسی تاسی په هغه قسم چی تاسی مضبوط کړی دی .

فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ

نو ددی کفاره خوراك ورکول دی لسو(۱۰) محتاجانو ته داوسط درجی هغه خوراك چی تاسی کوی ،

أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ ۖ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ

خپل کوروالاوو ته یاجامی ورکول لسو(۱۰) محتاجانو ته ، یا یو غلام ازادول دی، بیاچی چاته داحصل نه وی نو روژی نیول دی

ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ ۚ ذَٰلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ ۚ وَاحْفَظُوا

دری ورځی ، دا کفاره ده ستاسی دقسمونو کله چی قسم وخوری ، او حفاظت کوی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

أَيْمَانِكُمْ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٨٩﴾

دخپلو قسمونو داسي بيانوي الله تاسي ته خپل حکمونه چي تاسي احسان ومنئ .

دآيتونو تړون : لوړ دپاکو شيانو دحرامولو ذکر وو او دا چونکي ځيني وخت په قسم خوړلو سره وي په دي وجه اوس مخکي دقسم خوړلو دحکم ذکر دی .

لنډتفسير: الله ﷻ ستاسي (په دنيا کي) مواخذه نه کوي (يعني کفاره نه واجب کوي) ستاسي په لغوه قسم (ماتولو) باندي ليکن (داسي) مواخذه په هغه فرمايي چي تاسي قسمونه (په راتلونکي خبره (محکم کړی (اوبيا دغه قسمونه مات کړی) نو ددی (قسم ماتولو) کفاره (دا ده چي) لسو محتاجانو ته خوراک ورکول ، د اوسط درجي کوم چي خپل کور والاوو ته (دعادت مطابق) خوراک ورکوی يا دوی (لسو محتاجانو) ته کپړه ورکول (داوسطي درجي) يا يو غلام يا مينځه ازادول (يعني په دی دری خبروکي چي کومه کولی سی هغه دی وکړی) او دچا چي (ددی دری واړو) طاقت نه وي نو (دده کفاره) دری ورځي (پرله پسي) روژي نيول دی دا (چي ذکر سو) کفاره ده ستاسي د (داسي) قسمونو کله چي تاسي قسم وخوری (او بيا يي مات کی) او (چونکي داکفاره واجب ده په دی وجه) دخپلو قسمونو خيال ساتئ (چي بيا داسي ونه سی چي قسم مات کړی اوکفاره ورنه کړی او الله ﷻ چي لکه څنګه داحکم ستاسي ددنيوی رعايت اودينی صلحتونو بيان کړی دی) دغه شان الله ﷻ ستاسي دپاره خپل (نور) حکمونه (هم) بيانوی چي تاسي (ددی نعمت يعني د خلقو دمصلحتونو درعايت) شکر اداکړی .

معلومات اومسئلي (دقسم خوړلو څو صورتونه اوددی متعلق حکمونه)

په دی آيت کي دقسم خوړلو ديوڅوصورتونو بيان دی ، دځيني بيان په سورت بقره کي هم تير سوی دی او خلاصه دټولو دا ده چي که چاپه تيره واقعه باندی قصداً په دروغو قسم وخوړی دی ته د فقهاؤ په اصطلاح کي ، يمين غموس ، وايي مثلا يو سړی يوکار کړی دی او دی پوهيږي چي ما دا کار کړی دی او بيا هم قصداً قسم وخوری چي دا کار ما نه دی کړی ، دا د دروغو قسم سخته ګناه کبيره او ددنيا او اخرت دوبال سبب دی ، مګر په دی څه کفاره نه واجبيږی ، توبه او استغفار لازم دی ، په دی وجه دی ته فقهاؤ په اصطلاح کي يمين غموس ، وايي ځکه چي ، غموس، معنی ده ، ډوبوونکی، دا قسم بنده په ګناه او وبال کي ډوبوی .

دوهم صورت دادی چي په تيره واقعه باندی چي دی يي په خپل نزد رېښتينی ګڼي قسم وخوری او په واقع کي هغه غلطه وی ، مثلاً په څه ذريعه معلومه سوی وی چي فلانی سړی راغلی دی او دی په دی خبره يقين زکړی قسم وخوری چي هغه راغلی دی اوبيا معلومه سی چي دا قسم دواقعي خلاف دی ، هغه نه دی راغلی ، دی ته ، يمين لغوه، وايي ، دغه ډول که بی ارادی د ژبی څخه دقسم لفظ وزی ، نو دی ته هم ، يمين لغوه ، ويل کيږی، ددی حکم دا دی چي په دی نه کفاره سته او نه ګناه .

دريم صورت دقسم دا دی چي په راتلونکی زمانه کي دڅه کار کولو يا دنه کولو قسم وخوری ، دی ته ، يمين منعقده، وايي، ددی حکم دا دی چي ددی قسم دماتولو په صورت کي کفاره واجبيږی او په ځينو

Maktaba Tul Ishaat.com

صورتونو کی ورسره گناه هم وی او په ځینو کی گناه نه وی ، یوازی کفاره وی .
دلته دقرآن کریم په ذکر سوی آیت کی په ظاهره دلغوه څخه هم هغه قسم مراد دی چی پر هغه کفاره نه وی برابره خبره ده که گناه وی او که نه وی ځکه چی په مقابل کی یی ، عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ : ذکردی ، ددی څخه معلومه سوه چی دلته دمواخذی څخه مراد یوازی ددنیامواخذه ده چی دکفاری په صورت کی وی .
او دسورت بقره په آیت کی ارشاد دا دی ، لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ : په دی کی دلغوڅخه مراد هغه قسم دی چی بی له قصد او ارادی دژبی څخه ووزی یاپه خپل نزد یوه خبره رښتیا گڼی اوقسم په وکړی ، مگرپه واقع کی هغه غلطه سی ددی په مقابل کی هغه قسم ذکر دی چی په قصدسره یی درواغ ویلی وی ، چی ، یمین غموس ورته ویل کیږی ، په دی وجه ددی آیت حاصل دا سو چی په ، یمین لغوه ، باندی خو هیڅ گناه نسته ، بلکی گناه په ، یمین غموس ، کی ده ، چی قصداً یی درواغ ویلی وی نوپه سورت بقره کی حکم دآخرت دگناه دی اودسورت مائده په آیت کی کوم چی دا اوس ذکر سوی دی، ددنیوی حکم یعنی کفاری بیان دی ددی خلاصه دا سوه چی په لغوه قسم باندی الله ﷻ تاسی نه نیسی یعنی کفاره نه واجبوی ، بلکی کفاره یوازی په هغه قسم لازموی چی په راتلونکی زمانه کی دڅه کارکولو یا نه کولو په باره کی یی خوړلی وی اوبیا یی مات کړی وی ، ددی څخه وروسته دکفاری تفصیل داسی ارشاد فرمایی .
فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ : یعنی په دی درو کارونو کی دی یوپه خپل اختیار سره وکړی اول دا چی لسو مسکینانو لره دی دمتوسطی درجی خوراک سهار ماښام ورکړی دوه وخته یادی لسو مسکینانو لره په قدر دستر پټیدوکپړه ورکړی ، مثلاً یو پرتوگ یا اوږد قمیص یا دی یو غلام چی دده په ملک کی وی ، ازاد کړی .
ددی څخه وروسته ارشاد دی ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ : یعنی که دقسم ماتوونکی، ددی مالی کفاری اداکولو قدرت نه وی چی لسومسکینانو لره نه خوراک ورکولی سی او نه کپړه او نه غلام ازادولی سی، نو بیا دده کفاره داده چی دری ورځی روژی دی ونیسی، په ځینو روایتونو کی دلته د دری روژو پرلپسی د نیولوحکم راغلی دی ، په دی وجه د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله اوځینو نورو امامانو په نزد کفاره دقسم دری ورځی روژی پرلپسی نیول ضروری دی ، په ذکر سوی آیت کی دقسم دکفاری متعلق لفظ د ، اطعام راغلی دی او داطعام معنی دعربی لغت په اعتبار سره دخوراک ورکولو هم ده او په یو ځای یی دخوړلو هم ده ، په دی وجه فقهاو رحمهم الله د آیت مطلب دا مقرر کړی دی چی کفاره ورکوونکی ته د دواړو خبره اختیار دی چی لس مسکینان میلمانه کړی ، خوراک په وخوری یاخوراک د دوی په ملکیت کی ورکړی ، مگرپه اول صورت کی داضروری ده چی دمتوسطی درجی خوراک کوم چی عادةً دوی (یعنی داکفاره ورکوونکی) په خپل کورکی خوری دغه شان خوراک دی دواړه وخته لسو مسکینانو ته په ډك نس ورکړی اوپه دوهم صورت کی دی یومسکین ته په قدر دیوی سرسایی ورکړی او یادهغه قیمت، په دی دری واړو کی چی ورته کومه اسانه وی هغه دی وکړی ، لیکن روژه نیول یوازی

Maktaba Tul Ishaat.com

په هغه صورت کې کافي کيدی سی کله چی په دی دری سره ؤ کی پر يوه هم قدرت نه وی .

﴿ تر قسم ماتيدو مخکي کفاره ورکول جائز نه دی ﴾

د آيت په آخر کی يې دخبرد ارولو دپاره دوه کارونه ارشاد وفرمايل اول ، ذَٰلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ : يعني دا کفاره ده ستاسی دقسم کله چی تاسی قسم وخوری، امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله او دنورو اکثرو امامانو په نزد ددی مطلب دا دی چی کله تاسی ديو راتلونکی کار په کولو يا نه کولو قسم وکری او بيا دغه قسم مات سی نو ددی کفاره هغه ده کومه چی لوړه ذکر سوه ، ددی مطلب دا دی چی کفاره دقسم ماتيدو څخه وروسته په کار ده ، دقسم ماتيدو څخه مخکی که کفاره ورکړل سوه ، نو هغه به معتبره نه وی ، وجه دا ده چی د کفار د لازميدو سبب قسم ماتول دی خو کله چی قسم مات نه وی نو کفاره واجب نه ده ، نولکه څنګه چی دوخت څخه مخکی لمونځ نه کيږی ، درمضان څخه مخکی درمضان روژه نه کيږی دغه شان د قسم ماتيدو څخه مخکی دقسم کفاره هم نه ادا کيږی .

ددی څخه وروسته ارشاد فرمايي ، وَاحْفَظُوا أَيْمَانَكُمْ : يعنی دخپلو قسمونو حفاظت کوی ، مطلب دا دی چی که دڅه شی قسم تاسی خوړلی وی ، نو بې دشرعی يا طبعی ضرورته ، قسم مه ماتوی، او ځينی حضرات فرمايي چی ددی څخه مراد دا دی چی په قسم خوړلو کی تلوار مه کوی ، خپل قسمونه محفوظ ساتی ترڅو پوری چی سخته مجبوری نه وی ، هسی قسمونه مه خوری (مظهری)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ

ای ايماندارو ! دا چی کوم شراب او جواری او بتان او پانسی (غشی)

رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٩٠﴾ إِنَّمَا

دی ټول ګنده کارونه دی دشيطان نو ددې څخه ځان ساتی چی تاسی نجات پيدا کی ،

يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ

شيطان خو دا غواړی چی واچوی په تاسی کی دښمنی او بغض په ذريعه دشرابو

وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ ﴿٩١﴾

او جواری او منع کړی تاسی دالله ديادو څخه او دلمانځه څخه نو اوس هم تاسی به منع سی ؟

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَاحْذَرُوا فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا

او حکم منی دالله او حکم منی درسول او ځان ساتی بيا که تاسی واپس سواست

Maktaba Tul Ishaat.com

اِنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۹۲﴾

نو پوه سی چی زمونږ درسول ﷺ په ذمه صرف رسول دی ښکاره

دآیتونو تړون: لوړ دحلالو شیانو دپریښولو خاص ممانعت وو اوس مخ ته دځینو حرامو شیانو داستعمال ممانعت بیانیږی .

لنډتفسیر: ای مؤمنانو! خبره دا ده چی شراب اوجواری اوبت اونور او دهسکی اچولو غشی داټولی ګنده خبری شیطانی کارونه دی ، نو ددی څخه بالکل جلا اوسی چی تاسی (په وجه ددی دنقصانونو څخه دبچ کیدو چی مخ ته ذکرکیږی) نجات پیدا کړی (اودغه نقصانونه دنیوی هم دی اودآخرت هم چی بیان یی دا دی چی) شیطان خو داغواړی چی دشرابو اوجواری په ذریعه ستاسی په مینځ کی (په روزګارکی) دښمنی او په زړونوکی) بغض واچوی (نوښکاره خبره ده چی په شرابوکی عقل په ځای نه وی ښکنځل کولو اوفسادته خبره رسیږی چی تردی وروسته بیا هم په طبیعتونوکی خړوالی باقی وی او په جواری (څمار) کی چی کوم سړی بی وبایلی ، دی ګټونکی ته غصه وی او ددی غصی اثرپه هغه بل باندی هم کیږي دا خو یی ددنیا نقصان او ضرر سو) او(شیطان داغواړی چی ددی شرابو اوجواری په سبب سره) دالله ﷻ دیادو اودلمانځه څخه (کومه چی دالله ﷻ دیادو تر ټولو ښه طریقه ده) تاسی لیری ساتی (نوداهم ښکاره خبره ده څکه چی په شرابوکی خو دده هوښ په ځای نه وی اوپه جواری کی خو دګټونکی خوشحالی اومستی تردی حده پوری وی ، چی دی په کښنی غرق وی اوبایلونکی انتهایی خفه او پریشانه او دبیا غالب اوګټو راتلو په کوشش کی دومره غرق وی چی فراغت ورته نه وی ، دا خو دینی نقصان او ضرر سو ، نو هرکله چی دومره ناکاره شیان دی وروسته ووایاست ؟ چی) آیا اوس به هم تاسی منع سی؟ او تاسی (په ټولو حکمونو کی) د الله ﷻ حکم منی او درسول (ﷺ) حکم منی او (دحکم دمخالفت څخه احتیاط ساتی اوکه (دحکم دمنلو څخه) مخ واوړی نو پوه سی چی زمونږ درسول په ذمه یوازی صفا صفا (دحکم) رسول دی (اوهغه داکار په ښه طریقه سره پوره کړی اوتاسی ته یی حکمونه ورسول ، اوس ستاسی هیڅ عذر باقی پاته نه سو)

معلومات اومسئلي (دکائناتو پیدا کول دانسان دنفعي دپاره دی)

په دی آیتونوکی ددی خبری ښوول منظوردی چی دکائناتومالک داټول کائنات دانسان دخدمت دپاره پیدا کړی دی اوهر یو شی یی دانسان په خاص خاص خدمت لګولی دی اوانسان یی ددی کائناتو مخدوم جوړکړی دی ، په انسان یی یوازی یوه پابندی لګولی ده چی زما دمخلوق څخه دنفعی اخیستو چی کوم حدونه مونږ مقرر کړی دی ، دهغه څخه به مخکی نه تیریږی ، کوم شیان چی مونږ تاسی ته پاک اوحلال درکړی دی ، ددغوڅخه ځان ساتل بی ادبی اوناشکری ده او دکومو شیانوچی یوخاص استعمال مونږ حرام کړی دی ، په دی کی خلاف ورزی کول نافرمانی اوبغاوت دی ، دبنده کار دا دی چی دمالک حقیقی د هدایت مطابق دهغه دمخلوقاتو استعمال وکړی ، ددی نوم عبدیت یعنی بندګی ده .

په اولنی آیت کی دشرابو جواری ، بت او دجواری دغشو دحراموالی بیان دی ، دامضمون دسورت بقره

Maktaba Tul Ishaat.com

په یو آیت کې تقریباً هم په داسې الفاظو سره تیر سوی دی، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ: په دې کې یې دې څلورو شیانو ته رجس ویلی دی، رجس په عربي ژبه کې داسې ګنده شی ته ویل کیږي، دکوم څخه چې دانسان په طعیت کې کرکه او نفرت پیدا کیږي دا څلور شیان داسې دي چې که انسان لږ هم برابر عقل او سلیم طبع لري نو په خپله به دده ددې شیانو څخه کرکه او نفرت وي.

(دازلام تشریح)

په دې څلورو شیانو کې یو ازلام دی چې دزَلَمْ جمع ده، ازلام هغه غشو ته ویل کیږي په کومو سره چې په عربو کې دهسکې کولو په طور دجواري رسم جاري وو، چې ددې صورت دا وو، چې لسو(۱۰) کسانو به په شریکه یو اوښ ذبح کې، بیا به یې ددې دغوښو دتقسیم دپاره په ځای ددې چې لس حصې یې کړې په دې کې به یې داسې جواري کوله چې په لسو غشو کې به یې په اوو غشو دځه مقررو حصو نخښې جوړې کړې وې په چا یوه په چا دوې یا درې او درې غشې به یې ساده پریښې وه، دا غشې به یې په ترکش کې واچول او ښورول به یې بیا به یې دیوه یوه شریک دپاره یو یو غشی دترکش څخه را ایستی او دځومره حصو غشی چې به دچا په نوم را ووتل دی به ددغو حصو مستحق ګڼل کیدی او دچا په نوم چې به ساده غشی راووتی هغه به دحصې څخه محروم وو، لکه نن صبا چې ډیر قسمونه دلاترۍ په طریقه په بازارونو کې جاري دی، دغه ټول داسې هسکې او جواري دقرآن په حکم سره حرام دي.

(دهسکي جائز صورت)

البته یو قسم هسکه جائز او دنبي کریم ﷺ څخه ثابته ده، هغه دا چې کله چې حقونه دټولو برابر وي او حصې یې هم برابر تقسیم کړې وي، بیا ددې حصو مقررکول په ذریعه دهسکې وسې، مثلاً یو کور په څلورو شریکانو کې تقسیمول دې نو دقیمت په لحاظ سره څلور حصې برابرې جوړې کړې او س دامقررول چې کومه حصه به دکوم شریک سی دا تعین که په رضامندۍ او مصلحت سره نه سوای کیدی نو دا هم جائزه ده چې هسکه وکړي او دچا په نوم چې دکوم طرف حصه راووزي هغه حصه هغه ته ورکول کیږي یادیو شی خواهشمند زر ۱۰۰۰ کسان دي او دټولو حقونه برابر دي، مګرکوم شی چې تقسیم کول وي، هغه ټول سل وي، نو په دې کې په هسکې سره فیصله کول کیږي.

دلازم دهسکې په ذریعه دغوښو دتقسیمولو دجاهلانه رسم حراموالی دسورت مائنده په یو آیت کې مخکې راغلی دی. وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ.

لنډه دا ده چې په دې ذکر سوی آیت کې چې دکومو څلورو شیانو حراموالی ذکر دی، په دوی کې دوه یعني، مَيْسِرْ او، ازلام: دنتیجې په اعتبار سره یو شی دی په باقي درو کې یو انصاب دی، چې دنُصب جمع ده، داسې شی ته نصب ویل کیږي چې دعبادت دپاره درول سوی وي، برابره خبره ده که بت وي یادرخته، ډبره او نور.

(دشرابو او جواري بدني او روحاني فسادونه)

دآیت دشان نزول او تردې وروسته راتلونکې آیت څخه معلومیږي چې په دې آیت کې اصل مقصود د دوو

Maktaba Tul Ishaat.com

شیانو دحراموالی اوفسادونوبیانول دی یعنی شراب اوجواری دانصاب یعنی بتانوذکربی ددی سره په دی وجه یوځای کړی دی چی اوریدونکی پوه سی چی دشرابو اوجواری جرم داسی سخت دی لکه بت پرستی.
دابن ماجه په یوحدیث کی نبی کریم ﷺ فرمایی، شَارِبُ الْخَمْرِ کَعَابِدِ الْوَثَنِ: یعنی دشرابو چښونکی داسی مجرم دی لکه دبت عبادت کوونکی اوپه ځینو روایاتو کی دی، شَارِبُ الْخَمْرِ کَعَابِدِ اللَّاتِ وَالْعُزّٰی: یعنی دشرابو چښونکی داسی دی لکه دلات اوعزی عبادت کوونکی، خلاصه دخبری دا سوه چی دلته د شرابو اوجواری دسخت حراموالی او د دوی د روحانی اوجسمانی خرابو بیان دی، اول یی روحانی او معنوی خرابی د، رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ: په الفاظوکی بیان کړی، چی مطلب یی دا دی چی داشیان د فطرت سلیمه په نزدګنده قابل نفرت شیان اوشیطانی جالونه دی چی په دی کی دمبتلو څخه وروسته انسان په بی شمیره فسادونو اوهلاکوونکو خرابوکندوکی غورځوی، ددی روحانی فسادونو فرمایلو څخه وروسته یی حکم وکی، فَاجْتَنِبُوهُ: چی هرکله داشیان داسی دی نو ددی څخه ځان وساتی اوپرهیز ورڅخه وکړی، په آخر کی یی وفرمایل لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ: په دی کی یی وښوول چی ستاسی ددنیا اوآخرت کامیابی په دی کی ده چی ددی شیانو څخه پرهیز وکړی.
ددی څخه وروسته په دوهم آیت کی دشرابو اوجواری ددنیوی اوظاهری فسادونوبیان یی داسی وفرمایی، إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ: شیطان داغواړی چی تاسی په شرابو اوجواری کی اخته کړی، ستاسی په مینځ کی دبغض اودښمنی بنیادونه واچوی، ددی آیتونو نزول هم څه دداسی واقعاتو په باره کی سوی دی چی دشرابو په نشه کی داسی حرکتونه صادر سوی وه چی دیو بل په مینځ کی دغصی اوغضب اوبیادجنګ جګړی سبب جوړ سی اودایو اتفاقی حادثه نه بلکی دشرابو په نشه کی چی کله دسړی عقل ولاړسی نو دده څخه خامخا داسی حرکتونه کیږی.
دغه شان دجواری معامله ده چی بایلونکی که څه هم خپل بایلل ومنی او دغه وخت یی نقصان وسی لیکن خپل مقابل ته غصه او غضب او دښمنی ددی لازمی نتیجه وی، حضرت قتاده رضی الله عنه ددی آیت په تفسیرکی فرمایی چی دځینو عربو عادت وو چی په جواری کی به یی خپل اهل اوعیال اومال اوسامان هرڅه بایلول او انتهایی دغم اوتکلیف ژوند به یی تیروی.

دآیت په آخرکی بیا ددی شیانو یوه بله خرابی په دی الفاظوکی ارشاد فرمایی، يَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ: یعنی داشیان تاسی دالله ﷻ دیاد اولمانځه څخه غافله کوی، داخرابی په ظاهره روحانی اوآخرت خرابی ده چی ددنیاوی خرابی څخه وروسته یی مکرر ذکر کوی، په دی کی اشاره کیدی سی چی اصل د نظرقابل اودفکرقابل هغه ژوند دی کوم چی همیشه پاته کیدونکی دی، دعقلمند په نزد دغه ژوند ښائسته کول په کار دی او ددغه ژوند دخرابیدو څخه بیره کول په کار دی، ددنیا ددی څو ورځو ژوند ښائسته کیدل څه دفخر شی نه دی او نه ددی خرابی زیاته دغم کولو قابله ده، ځکه چی ددی دواړوحالتونه په یو څو ورځوکی ختمیدونکی دی.

دوران بقا چو باد صحرا بگذشت تلخی وخوشی وزشت وزیبا بگذشت

Maktaba Tul Ishaat.com

(یعنی ددنیا ژوند د صحرا د باد په شان تیر سو، غم، خوشحالي، ناکاروالي او ښائست هر څه یې په یو دم کې تیر سو)

اوداهم ویل کیږي چې دالله ﷻ دذکر او لمانځه څخه غفلت دا ددنیا اوآخرت، جسم او روح دواړو دپاره مضر دی، دآخرت او دروح دپاره خو یې مضروالي ښکاره دي چې دالله ﷻ څخه دغافل اودبې نمازه آخرت تباه او روح یې مړ دی او که لږ په غورسره وکتل سي، نو دالله ﷻ څخه دغافل دنیاهم وبال جان وي، چې کله دالله ﷻ څخه غافله سي نو دده انتهایي مقصود، مال دولت، عزت او مرتبه جوړه سي، نو دا دومره جنجالونه دځان سره راوړي چې بیا جلا یو مستقل غم جوړسي اوپه دې کې اخته سوی انسان بیا دخپل هغه لوی مقصد یعنی ارام راحت، اطمینان اوسکون څخه هم محرومه سي اودراحت په دې اسبابو کې داسې مست سي چې په خپله راحت هم ورڅخه هیر سي، او که په څه وخت کې دامال دولت، عزت اومرتبه ورڅخه ولاړه سي یا کمي په کښې راسي نو دغم اوخفګان یې بیا انتها نه وي، غرض دا دی چې داخالص دنیا دار انسان په دواړو حالتونو کې په غم، فکر او خفګان کې ګیر وي.

اگر دنیاباشد درد مندیم وگر باشد بمہرش پائی بندیم

(یعنی که دنیا نه وي نو هم خفه او دردمند یو او که وي نو په غم کې یې اخته او پریشانه یو)

په خلاف دهغه سړي چې زړه یې دالله ﷻ په یادو روښانه او دلمانځه په نور سره منور وي، ددنیا مال دولت مرتبې اومنصبونه دده پر پښو پریوزي او ده ته صحیح راحت او ارام رسوي او که دا شیان ورڅخه ځي نو دده په زړه هیڅ نه کیږي، د دوی دا حال وي چې.

نه شادی داد سامانی نه غم اورد نقصانی به پیش همت ماهر چی آمد بود مهمانی

(یعنی نه خوشحالي ما ته څه زیات کړل اونه رالره غم څه نقصان راکې زما دهمت په مخکې هرڅه چې راغلل په طور دمیلمنو وه)

لنډه دا ده چې دالله ﷻ دذکر او دلمانځه څخه غفلت ته که په غور سره وکتل سي نو دآخرت اودنیا دواړو خرابي ده، په دې وجه ممکنه ده چې د، رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ: څخه خالص د روحاني اوآخرت د ضرورنو بیانول مقصود وي، اوپه، يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ: سره خالص ددنیا اوجسماني خرابو ښوول مقصود وي او په، يَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ: سره ددین اودنیا شریکې تباهي او بربادي ذکر کول مقصود وي.

دلته دا خبره هم دکتو قابله ده چې دالله ﷻ په ذکر کې خولمونځ هم داخل دی، بیا دلمانځه په ځانته ذکر کولو کې څه حکمت دی؟ وجه دا ده چې په دې کې دلمانځه اهمیت او دالله ﷻ دذکر په ټولو اقسامو کې د ښه والي اوشرافت طرف ته اشاره ده، په دې وجه یې لمونځ ځانته ذکر کې.

او دټولو دیني اودنیوي بدني او روحاني خرابیو دتفصیل ښوولو څخه وروسته یې ددې شیانو څخه دمنع کیدو هدایت په یو عجیبه او زړه پوری انداز کې وفرمایی ارشاد دی، فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ: یعنی هرکله چې داټولي خرابي ستاسې په علم کې راغلي نو اوس به هم ددې څخه منع سي؟

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی دواړو آیتونو کی دشرابو اوجواری اونورو دحراموالی اوسختی منعی بیان وو . چی دا دالله ﷻ د قانون یوه دفعه ده ، په دریم آیت کی یی دا حکم د اسانولو او په دی عمل کول د اسان جوړولو دپاره قرآن کریم دخپل بیان دیوی خاصی طریقی لاندی ارشاد وفرمایی .

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَاحْذَرُوا فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ .

ددی مطلب دا دی چی دالله ﷻ اودهغه درسول دحکم منل ستاسی دفائدی دپاره دی ، که تاسی یی ونه منی نو نه دالله ﷻ څه نقصان دی اونه درسول ﷺ دالله ﷻ ددی نفع اونقصان څخه بالاتر کیدل خو ښکاره وه البته درسول ﷺ متعلق دا خیال کیدی سو چی هرکله دده خبره ونه منل سي نو دده په اجر او ثواب یا قدر او مرتبه کی به شاید څه فرق راسی ددی شبهی دلیری کولو دپاره یی ارشاد وفرمایی . فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ : یعنی که په تاسی کی هیڅوک هم زمونږ درسول ﷺ خبره ونه منی نو بیا هم دده ﷺ په قدر او منزلت کی څه فرق نه راځی ، ځکه چی ځومره کار ده ﷺ ته سپارل سوی وو هغه یی سرته ورسوی (یعنی صفا صفا او په واضح طور سره یی دالله ﷻ احکام ورسول) ددی څخه وروسته څوک چی یی نه منی هغه خپل نقصان کوی ، زمونږ درسول ﷺ په دی سره هیڅ تاوان نه کیږی .

لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوا وَّآمَنُوا

کوموخلقوچی ایمان راوړی اونیك عمل یی وکی په دوی هیڅ گناه نسته ، په هغه کی چی مخکی یی خوړلی دی چی آئنده دپاره تقوٰی اختیار کړی او ایمان راوړی ،

وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ثُمَّ اتَّقَوا وَّآمَنُوا ثُمَّ اتَّقَوا وَّأَحْسَنُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ

اونیك عمل وکړی بیا تقوٰی اختیار کړی او یقین وکړی بیا تقوٰی اختیاز کړی او الله دوست ساتی

الْمُحْسِنِينَ ﴿٩٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللَّهُ بِشَيْءٍ مِّنَ

نیکی کوونکو لره ، ای ایماندارو ! خامخا به ستاسی آزمائش وکړی الله په یوه خبره

الصَّيْدِ تَنَالُهُ أَيْدِيكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ اللَّهُ مَن يَخَافُهُ بِالْغَيْبِ

په هغه ښکاره باندی چی ورسیږی ورته لاس ستاسی اونیزی ستاسی چی معلوم کی الله چی څوك دهغه څخه بریږي په نالیدلی

فَمَنِ اعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٩٤﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

بیا چاچی زیاتوب وکی وروسته ددې څخه نو دده دپاره عذاب دردناك دی ، ای ایماندارو !

لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ۚ وَمَن قَتَلَهُ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا

مه وژنی ښکار کوم وخت چی تاسی په احرام کی یاست ، اوڅوك چی ستاسی څخه دی قتل کړی قصداً

Maktaba Tul Ishaat.com

فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ

نو په ده بدله ده دغه قتل سوي برابر د حيوانانو څخه چې حکم به کوي په دې دوه معتبر سړي ستاسي څخه

هَدْيًۢا بٰلِغَ الْكَعْبَةِ اَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ اَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا

داسي چې دغه حيوانان د بدلې په طور نيازور رسول سي کعبې ته يا په ده کفاره ده ځو محتاجانو ته د خوراك يا دې برابر روژې،

لِّيَذُوْقَ وَبَالَ اَمْرِهٖ ؕ عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ ؕ وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ

د دې د پاره چې سزا وڅکي د خپل کار، الله معاف کړل څه چې وسو او څوك چې بيا وکړي الله به بدل

اللّٰهُ مِنْهُ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿۹۵﴾ اُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهٗ

واخلي ده څخه، او الله زبردست دی بدله اخيستونکی، حلال سو تاسي د پاره د درياب ښکاره

مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ۚ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا ؕ

او د درياب خوراك، ستاسي د فائدې د پاره او د ټولو مسافرانو او حرام سو په تاسي ښکاره د ځنګل تر څو چې تاسي

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۹۶﴾

په احرام کي ياست، او بيره کوي د الله څخه د چا خواته چې به تاسي جمع سي.

د آيتونو ترون: په لباب کی د مسند احمد څخه په روايت د ابوهريره ؓ نقل دي چې کله په لوړ آيت کی د شرابو او جواري حراموالی نازل سو نو ځينو خلقو عرض وکی چې يا رسول الله ﷺ ډير خلق کومو چې شراب چيښل او د جواري مال يې خوړی او د حراموالي څخه مخکي مړه سوي دي او اوس معلومه سوه چې دغه حرام دي د دوی به څه حال وی پردی باندي دا آيت نازل سو، لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ آمَنُوْا: او په وروسته آيت يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ : کی د پاکو شيانو د حراملو د ممانعت ذکر وو، او اوس په آيت، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ بِشَيْءٍ : کی بيان فرمايي چې الله ﷻ ته مکمل اختيار حاصل دی چې په خاصو حالاتو کی خاص شيان حرام کړي (بيان القرآن)

لنډتفسير: په داسي خلقو چې ايمان لري او نيک کار کوي په هغه شي کی هيڅ ګناه نسته کوم چې دوی خوري او چيښي (او دغه وخت هغه حلال وی که څه هم وروسته حرام سي او دوی لره به ګناه ولې وی) هر کله چې (څه کار د ګناه مقتضی نه وی بلکي يو منع کوونکی کار موجود وی هغه دا چې) دغه خلق

Maktaba Tul Ishaat.com

(دخدای ﷻ د بیری څخه ددغه وخت دناجائزه شیانو څخه) پرهیز کوی او (دلیل ددی بیر دا وی چی دغه خلق) ایمان لری (کوم چی دخدای ﷻ د بیری سبب دی) او نیک کار کوی (کوم چی دخدای ﷻ څخه د بیری نخښنه ده او پردی حالت تول عمر پاته سی نو که چیری دوی ته هغه حلال سی کوم چی یی مخکی خوړی اوچیښی او بیا وروسته هغه حرام سی نو) بیا (ددی څخه هم ددغه خدایی بیری په سبب) پرهیز کوونکی سوی وی او (ددی بیری هم دلیل دتیر پشان دا وی چی دغه خلق) ایمان لری اوښه نیک علم کوی (کوم چی موقوف دی پر ایمان ، وروسته دلته هم سبب اوعلامات دخدای ﷻ په بیره کی جمع دی ، مطلب دا دی چی په هر وار مکرر حراموالی کی د دوی دا عمل ترسره کیدونکی وی ، دڅه دوه دری واورو خصوصیت نسته، وروسته سره دوجوده دمانع اوهمیشه مانع زمونږ دفضل څخه لیری ده، چی دی دی گناهگاروی) او (د دوی داخاص طریقه ذکر سوی دنیکوکاری یوازی دگناه لازمولو څخه مانع نه ده بلکی د ثواب د وجود او دالله ﷻ د محبوبیت هم مقتضی ده ځکه چی) الله ﷻ دداسی نیکانو سره محبت ساتی (نو په دوی کی دمبغوض کیدو گرسره احتمال نسته ، دا خو دمحبوبیت درجه لری)

ای مسلمانانو! الله ﷻ په لږ ښکاره سره ستاسی امتحان کوی، کوم ته (چی ستاسی څخه دلیری تښتیدو په وجه) ستاسی لاسونه او ستاسی نیزی رسیدی سی (د امتحان مطلب دا چی په حالت داحرام کی د وحشی حیوانانو ښکار کول پر تاسی حراموی، لکه چی مخکی په وضاحت سره راځی ، داوحشی حیوانان به ستاسی خوا خوا ته گرځوی) ددی دپاره چی الله ﷻ (په ظاهری طور هم) معلوم کړی چی کوم سړی دده څخه (یعنی دده دعذاب څخه) بی له لیدلو څخه بیرېږی (او دحرامو دکولو څخه چی دعذاب سبب دی ځان ساتی ددی څخه په لازمی طور دا هم معلومه سوه چی دا ښکاره حرام دی) نوڅوک چی ددی (حرمت) څخه وروسته (چی ازمائش هم دلالت پرکوی) ترحد (شرعی وزی (یعنی دامنع سوی ښکار وکړی) دده دپاره دردناکه سزا (مقرر) ده نو (ښکاری حیوانان به دغه ډول خوا خوا ته گرځیدل او په صحابه ؤ ﷺ کی اکثره دښکاره شوقیان وه، په دی کی د دوی دفرمانبرداری امتحان کیدی چی دوی په کښی کامیابه وختل مخکی دزیات ممانعت وضاحت دا دی چی) ای مسلمانانو! وحشی ښکار (دهغه څخه ماسوا کوم چی شریعت ورڅخه مستثنی کړی دی) مه قتلوی کله چی تاسی په احرام کی یاست (داسی کله چی دغه ښکار په حرم کی وی ، که څه هم ښکاری په احرام کی نه وی ددی هم دغه حکم دی) اوڅوک چی په تاسی کی دا قصداً قتل کړی نو پرده به (دده ددی کار) بدله واجب وی کومه چی (په اعتبار دقیمت) به برابره وی دهغه حیوان سره کوم چی ده قتل کړی وی چی (داندازی) فیصله به یی په تاسی کی دوه معتبر سړی کوی (چی په دینداری کی هم قابل اعتبار وی ، اوپه تجربه اوپوهه کی هم، نودی قاتل ته دقیمت داندازی مقررکولو څخه وروسته اختیار دی) برابره خبره ده که (په دی قیمت داسی حیوان واخلی چی) دغه د بدلی (حیوان) د خاصو حیوانانو څخه وی (یعنی اوښ، غوا ، میږه، پسه، بزه نروی اوکه ماده) په دی شرط چی دنیاز په ډول سره دکعبی (ترخوا) پوری (یعنی حرم ته دننه) ورسول سی (یعنی یومسکین ته په قدر دیوی سرسایی د کوچنی اختر ورکول سی) او برابره خبره ده که ددغه (غلی) برابر روژی ونیسی (دبرابری صورت دا دی چی د هرمسکین دحصی یعنی دیوی سرسایی په بدله کی یوه روژه

Maktaba Tul Ishaat.com

ونیسی اوډابدله مقرره سوی ده) ددی دپاره چی دخپل کړی کار خوند وڅکی (په خلاف د هغه سړی څخه چی چا قصداً ښکار نه وی کړی نو دی خو به که څه هم چی بدله هم دغه ورکوی مګر دا دده دکار سزا نه ده ، بلکی ددغه حرم احترام دی یعنی دحرم ښکار چی دحرم په وجه محترم وو یا د احترام په وجه دمحترم په شان سوی وو ، ددغه تاوان او بدله ده او ددی بدلی په اداکولو سره) الله ﷻ تیر معاف کړی او کوم سړی چی بیاداسی حرکت وکړی (چونکه په دوباره دیو کار کولو کی تراول جرات زیات وی) نو (په دی وجه تر ذکر سوی بدلی علاوه چی د اصل کار یا ځای بدله ده په آخرت کی) الله ﷻ به دده څخه (ددی اجرت) بدله اخلی (البته که توبه وباسی نو د انتقام سبب به ختم سی) او الله ﷻ زبردست دی ، بدله اخیستی سی، ستاسی دپاره (په حالت داحرام کی) د دریاب (یعنی اوبو) ښکار کول او ددی خوړل (تول) حلال سوی دی، ستاسی دنفعی اخیستو دپاره (اوستاسی) دمسافرانو دپاره (چی په سفر کی ور څخه نفع واخلی او توښه یی کړی) او دوچی ښکار که څه هم چی په ځینو صورتونو کی یی خوړل حلال دی مګر) نیول یی (یا په کښی مددګار جوړیدل) ستاسی دپاره حرام سوی دی، ترڅو چی تاسی په حالت د احرام کی یاست او د الله ﷻ (دمخالفت) څخه بیره کوی کوم ته چی به تاسی جمع کړل سی (او دهغه په مخکی به حاضر سی)

معلومات اومسئلې: تحقیق کوونکی لیکلی دی چی دتقوی (یعنی دضرورنو ددین څخه د ځان ساتلو څو درجی دی او د ایمان او دیقین مرتبی هم په لحاظ دقوت اوضعف په تفاوت سره دی، دتجربی اوشرعی دلیلونو څخه ثابته ده چی څومره انسانان په ذکر، فکر، نیک عمل او دالله ﷻ په لاره کی په جهاد کی ترقی کوی، دومره دخدای ﷻ څخه بیره او دهغه دلوبیی او جلال په تصور سره زړه آباد او ایمان او یقین مضبوط اومحکم کیږی، الله ﷻ طرف ته درسیدو دمرتبی ددی ترقی اوعروج طرف ته په دی آیت کی دتقوی او ایمان په بیا بیا مکرر کولو سره اشاره فرمایی، اودسلوک په آخری مقام، احسان، او ددی په فائده خبرداری فرمایی (تفسیر عثمانی)

مسئله: ښکار کوم چی په حرم کی او احرام کی حرام دی ، دا عام دی برابره خبره ده که داسی حیوان وی چی غوښی یی خوړل کیږی او که غوښی یی نه خوړه کیږی، حرام وی ، څکه چی حکم دآیت مطلق دی .

مسئله: ښکار (یعنی صید) هغه حیوانانو ته ویل کیږی ، چی وحشیان وی ، عادتاً د انسانانو په خواکی نه اوسی ، وروسته کوم حیوان چی پیدائشی دکورونو دساتنی وی، لکه پسونه، بزی، غواوې ، اوښان، د دوی ذبح کول اوخوړل جائز دی .

مسئله: البته کوم چی په دلیل سره مستثنی سوی دی اودهغوی نیول اوقتلول حلال دی لکه د دریاب د حیوانانو ښکار، په دی قول دالله ﷻ سره أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ: اوځینی دوچی حیوانان لکه کارغه، تپوس، شرمښ، مار، لړم، اوچیچونکی سپی دغه شان هغه درنده چی په خپله حمله کوی، د دوی قتل هم جائز دی په حدیث کی د دوی استثناء ذکر ده ددی څخه معلومه سوه چی په ، الصَّیْد کی الف الام عهدی دی .

مسئله: کوم حلال ښکاره چی داحرام څخه بغیر او دحرام څخه بهر اوسی ددی خوړل محرم لره جائز دی، هر کله چی دی دده په قتل او نوروکی مدد کوونکی یا اشاره کوونکی یا ښوونکی نه وی، په حدیث کی

Maktaba Tul Ishaat.com

داسې راغلې دي، او د آیت په الفاظو، لَا تَقْتُلُوا: کې هم دې طرف ته اشاره ده، ځکه چې دلته لاتقتلوا فرمایي، لَا تَأْکُلُوا نه فرمایي.

مسئله: دحرم په ښکار لکه څنګه چې قصداً په قتلولو سره جزاء واجبه ده، دغه شان په خطا او په هیره سره هم جزاء واجبه ده (اجرجه الروح)

مسئله: لکه څنګه چې په اول وار سره جزاء واجب ده، دغه شان په دوهم اودریم وارقتلولوسره هم واجب ده.

مسئله: د جزاء مطلب دا دی چې په کوم وخت اوکوم ځای کې داحیوان قتل سوی دی ښه خو دا ده چې په دووعادلانو سړو سره اوجائز دا هم ده چې په یوه عادل سړي سره ددغه حیوان دقیمت اندازه ولګوی، بیا په هغه کې داتفصیل دی چې دغه قتل سوی حیوان که غیر ماکول وی، یعني غوښه یې نه خوړل کیږي نو دا قیمت به دیوی بیزی دقیمت څخه زیات نه واجبیږي او که دغه حیوان دخوراک وو نو څومره اندازه چې ولګول سوه، هغه به ټوله واجب وی او په دواړو حالاتو کې مخکې ده لره په درو صورتونو کې اختیار دی که غواړي نوپه دغه قیمت دی یوحیوان دقرباني دشرطونو مطابق واخلي او دحرم په حدودوکې دی دننه ذبح کړي، په فقیرانو دی تقسیم کړي او یا دی ددغه قیمت برابر غله دصدقې دشرطونو مطابق دیوی یوی سرسایي په قدر مسکینانو له ورکړي او یا دی ددغه غلې په اندازه چې دا څومره مسکینانو ته رسیږي د هر مسکین دحصې پر سر دی یوه یوه رژوه ونیسي، او دغلې په تقسیم او روژو کې دحرم قید نسته او که قیمت دنیم اوړي یعني یوی سرسایي څخه کم واجب سي نو دده اختیار دی چې دغه یوه مسکین لره ورکوی او که ددی پرځای یوه روژه نیسي، دغه شان که فی مسکین یوه یوه سرسایه یعني نیم نیم اوړي ورکړي او دنیم اوړي څخه کم باقي پاته سي نو هم دغه اختیار دی برابره خبره ده که دغه باقي پاته یو مسکین لره ورکوی او که یوه روژه نیسي، دنیم اوړي وزن زمونږ د وزن (انګریزی سیر) په اعتبارسره پاؤ کم دوه سیره دی.

مسئله: په ذکر سوی اندازه کې چې دڅومره مسکینانو حصې جوړي سي که دغومره مسکینانو ته دوه وخته خوراک په مړه خیټه ورکړي نو هم جائز دی.

مسئله: که ددغه قیمت برابر دذبح کولو دپاره حیوان وتاکې مګر څه قیمت ورڅخه باقي پاته سو نو په دې باقي کې اختیار دی چې په بل حیوان په اخلي او که غله ورکوی یا که دغلې په حساب سره روژې نیسي، لکه څنګه چې په قتل کې جزاء واجب ده، دغه شان دداسې حیوان په زخمي کولو کې به هم اندازه کول کیږي چې په دی سره دحیوان څومره قیمت کم سوی دی په دغه مقدارقیمت کې بیا هم دغه دری واړه ذکر سوی صورتونه جائز دي.

مسئله: محرم لره چې دکوم حیوان ښکار کول حرام دی دهغه ذبح کول ورلره هم حرام دی که دی یې ذبح کړي نوحکم به یې دمردار په شان وی او په، لَا تَقْتُلُوا: کې اشاره ده دې ته چې ذبح دده په شان دقتل ده.

مسئله: که حیوان یې په ځنګل کې قتل کړي وی نوکومه آبادي چې ورته نژدې وی، دهغه ځای په اعتبار سره به اندازه کول کیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: اشاره دلالت او اعانت په ښکارکې په مثل دښکار کولو حرام دی .

جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيٰمًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلَآئِدَ

جوړه کړیده الله کعبه کوم چې کور دی دعزت قائم پاته کوونکې دپاره دخلقو او میاشتو دعزت لره او قربانی لره چې نیازی دکعبې وی او دکومو په غاړه چې پټه وی ،

ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

بیا یی کعبې ته داپه دی وجه چې تاسی پوهه سی چې بیشکه الله ﷻ ته معلوم دی څه چې په اسمانونو او مځکه

وَاَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٩٧﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ وَاَنَّ

کې دی او الله ﷻ په هر شی ښه خبر دی ، پوهه سی چې بیشکه دالله عذاب سخت دی ، او

اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٩٨﴾ مَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ ۗ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ

بیشکه الله بخښنې والا مهربانه دی ، درسول په ذمه نه دی مګر رسول ، او الله ته معلوم دی هغه چې تاسی

وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿٩٩﴾ قُلْ لَّا يَسْتَوِي الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ

په ډاګه کوی او هغه چې تاسی یی په پټه کوی ، ته ووایه چې برابر نه دی ناپاك او پاك که څه هم تاته ښه لګیږي

الْخَبِيْثِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿١٠٠﴾ ع

دناپاکو ډیروالی نو بیره کوی دالله څخه ای هوښیارانو چې تاسی فلاح (نجات) پیدا کی

لنډتفسیر: خدای ﷻ کعبه چې داادب مکان دخلقو (دمصلحتونو) دقائم پاته کیدو سبب مقرر کړی دی او (دغه شان) دعزت میاشتی هم او (دغه شان) په حرم کی قربانیدونکی حیوان هم او (دغه شان) هغه حیوان هم دکومو په غاړه کی چې (ددی نخښنې دپاره) پټې وی (چې دا دالله ﷻ نیاز دی په حرم کی به ذبح کیږي) دا (اقرارعلاوه دنورو دنیوی مصلحتونو څخه) ددی (دینی مصلحت) دپاره (هم) دی ، ددی دپاره چې (ستاسی عقیده برابره او پخه سی ، په دې شان سره چې تاسی په دی مصلحتونو دلیل ونیسی) ددی خبری یقین (د اول څخه یا داخرڅخه) وکړی چې بیشکه الله ﷻ دټولو اسمانونو او مځکی دننه شیانو علم (کامل) لری (څکه چې داسی حکم مقرر کول چې په هغه کی دآئنده دپاره دداسی مصلحتونو رعایت وی د انسانانو عقلونه یی نه سی سوچ کولی دا دلیل دی دالله ﷻ دکامل علم) او (په دی ذکر سوو معلوماتو سره دعلم کامل څخه دلیل ونیسی یقین وکړی چې) بیشکه الله ﷻ هرڅه ښه پیژنی (څکه چې ددی معلوماتو په علم باندی څه شی اطلاع نه ده ورکړی ، معلوه سوه چې دعلم ذاتی نسبت دټولو معلوماتو

Maktaba Tul Ishaat.com

سره یوشان وی) تاسې په یقین سره پوه سئ چې الله ﷻ سزا هم سخته ورکوونکې دی او الله ﷻ لوی مغفرت او رحمت والا دی (نو دده دحکمونو خلاف مه کوی او که چیرته درڅخه وسی نو دشریعت دقاعدې موافق توبه کوی) درسول (ﷺ) په ذمه خو یوازې رسول دی (نو هغه یې ښه ورسول او س تاسې سره څه عذر او حیله پاته نه سوه) او الله ﷻ په هر څه پوه دی څه چې تاسې (په ژبه یا په اندامونو سره) ښکاره کوی او څه چې (په زړه کې) پټ ساتې (نو تاسې لره په کار دی چې په ظاهر او باطن دواړو سره اطاعت کوی) تاسې (ای محمد صلی الله علیه وسلم دوی ته دا هم) وواياست چې ناپاک او پاک (یعنې ګناه او فرمانبرداری، یا ګناه کوونکې او حکم منونکې) برابر نه دی (بلکې خبیث مبغوض دی او پاک مقبول دی نو فرمانبرداری کول او مقبول جوړیدل په کار دی، په ګناه کولو سره مبغوض جوړیدل نه دی په کار، که څه هم ای لیدونکیه!) تاته دناپاکو ډیروالی (لکه چې اکثره په دنیا کې داسې وی) په تعجب کې اچوی (چې سره دناکاروالی دا ډیر ولې دی، مګر پوه سئ چې ډیروالی په څه حکمت سره دی، دلیل دښه والی نه دی، نو کله چې ډیروالی ښه والی نه دی یا دا چې هر کله د الله ﷻ په علم او عذاب باندې خبر سواست) نو (دی ته مه ګوری بلکې) دخدای ﷻ (دحکم دخلاف کولو) څخه بیره کوی چې تاسې (په پوره طور سره) کامیاب سئ (چې هغه جنت او دحق رضا ده)

معلومات او مسئلې: (د امن او اطمینان څلور ذریعې)

په اولنی آیت کې الله ﷻ څلور شیان دخلقو دقیام او بقاء او امن او اطمینان سبب ښوولی دی، اول. کعبه، لفظ دکعبې په عربی ژبه کې داسې مکان ته ویل کیږي چې څلور کونجه وی، په عربو کې دقبیله خثعم جوړکړی یو بل کور هم په دی نوم سره یادیدی، چې کعبه یمانیه به یې ورته ویل، په دی وجه دبیت الله دغه بلې کعبې څخه دممتازکولو دپاره یې دلفظ دکعبې سره د ٱلْبَيْتُ الْحَرَامَ: لفظ زیات کی، لفظ د قیام او قوام اسم مصدر دی، هغه شی ته ویل کیږي، په کوم چې دیو شی قیام او بقاء موقوفه وی، په دی وجه د، قِيَامًا لِّلنَّاسِ: معنی دا سوه چې کعبه او ددی متعلقات دخلقو دقیام او بقاء سبب او ذریعه ده، او لفظ د، نَاسٌ په لغت کې عامو خلقو ته ویل کیږي، دلته دقرینې دمقام په وجه سره خاص مکې والا یا اهل عرب هم مراد کیدی سی او دعامې دنیا خلق هم، او ښکاره خبره دا ده چې دټولې دنیا انسانان په دی کې دا خل دی، البته مکه او عربو والا یو خاص اهمیت او خصوصیت لری، په دی وجه مطلب د آیت دا سو چې الله ﷻ کعبه بیت الله او دکومو شیانو ذکر چې مخ ته راځی دا دټول عالم انسانیت دپاره د بقاء قیام او امن او سکون ذریعه جوړه کړی ده، ترڅو چې ددنیا دهر ملک، هری خطې او هر طرف خلق ددی بیت الله طرف ته مخ کوی او لمونځ کوی او دبیت الله حج کیږي، یعنې پرچاچې حج فرض وی، هغوی حج اداکوی تر هغه وخته پوری به پوره دنیا قائمه او محفوظه وی او که یو کال داسې هم وسی چې هیڅوک حج ونه کړی یا څوک دبیت الله طرف ته مخ نه کړی او لمونځ ونه کړی نو پر ټوله دنیا به عام عذاب راسی

(بیت الله دټولو عالم عمود یعنې ستن ده)

دا مضمون دتفسیر امام حضرت عطاء رحمه الله په دی الفاظو کې بیان کړی دی، لَوْ تَرَكُوْهُ: عَامًا وَّاحِدًا لَّمْ يُنْظَرُوْا وَلَمْ يُؤَخَّرُوْا (بحر محیط) ددی څخه معلومه سوه چې په معنوی طور سره بیت الله دټولې دنیا

Maktaba Tul Ishaat.com

ستن ده ، ترڅو پورې چې دې ته مخ کيږي او ددې حج کيږي دنيا به قائمه وي اوکه څه وخت دبيت الله دا احترام ختم سو، نو دنيا به هم ختمه سي، پاته سوه دا معامله چې ددنيا په نظام او بيت الله کې جوړ او تړون څه دى؟ نو ددې حقيقت معلومول ضروري نه دي، لکه څنګه چې مقناطيس اوسپنې او کهرباء او خزلو (تيلو اونورو) په مينځ کې دتړون څه حقيقت چاته معلوم نه دى ، مګر دا يو داسې حقيقت دى چې ليدل کيږي ، اوڅوک ورڅخه انکار نه سي کولى ، دبيت الله اوددنيا نظام ديوبل سره دتړون حقيقت معلومول هم د انسان په قبضه کې نه دي، دا دکائناتو دخالق په ښوولو سره معلوميدى سي ، دبيت الله دټولې دنيا دپاره دبقاء سبب کيدل يو معنيو شي دى، په ظاهري سترګو دا نه سي ليدل کيدى ليکن دعربو اواهل ملکه وو دپاره د امت او سلامتي سبب کيدل په لويو تجربو او مشاهدو سره ثابت دي.

(دبيت الله وجود ددنيا د امن سبب دى)

په عامه دنيا کې دامن قائمولو صورت دحکمتونو قوانين او د دوى قبضه وي ، په دې وجه ډاکو، غل قتلونه اولوټ مارکوونکى جرات نه سي کولى ليکن دعربو په جاهليت کې نه څه باقاعده حکومت قائم وو اونه دعام امن دپاره څه قانون وو ، سياسي نظام يوازې په قبايلي انسانانو باندې قائم وو، يوى قبيلي به د بلې قبيلې په جان، مال عزت او ابرو ټولو شيانو چې کله به غوښته حمله کولى سوه ، په دې وجه يوى قبيلې ته هم په هيڅ وخت کې د امن او اطمينان موقع نه وه ، الله ﷻ په خپل قدرت کامله سره په مکه مکرمه کې بيت الله دحکومت پرځاى د امن ذريعه جوړه کړه څنګه چې دحکومت دقانون خلاف ورزى يو پوه انسان نه سي کولى ، دغه شان دبيت الله شريفې دحرمت اوتعظيم حق تعالى دجاهليت په زمانه کې هم دعامو خلقو په زړونو کې داسې پيوست کړى وو ، چې دده داحترام دپاره به يې خپل ټول جذبات او خواهشات شاته غورځول.

دعربو جاهلان چې په خپل جنګيالى توب او دقبيلو دښمنيو کې په ټوله دنيا کې بې مثله وو ، الله ﷻ دبيت الله او ددې دمتعلقاتو دومره حرمت او تعظيم د دوى په زړوو کې پيوست کړى وو، چې که د دوى به هر څومره جاني دښمن او دسختو څخه سخت مجرم وو اوپه حرم شريف کې به داخل سو نو دډير غم اوغصې باوجد به يې ده ته هيڅ هم نه ويل ، دپلار قاتل به په حرم کې زوى ته مخاخ سو نو زوى به سترګې کښته کړى اوتير به سو ، دغه شان کوم سړى چې به دحج اوعمرې دپاره ووتى يا کوم حيوان چې به په حرم شريف کې دقرباني دپاره را وستل سو ، دده هم دومره احترام په عربو کې عام وو چې تر بدو لابد سړى به هم ده ته څه ازار نه رسوى اوکه دغه به دجاني دښمن هم وو، نو په داسې حالت کې چې ده به دحج اوعمرې څه نخښه احرام ياپټه تړلى وه ، قطعاً به يې ورته څه نه ويل.

په شپږمه هجرى کې چې کله نبي کريم ﷺ دصحابه کرامو ﷺ ديوخاص جماعت سره دعمرې احرام وتړى او دبيت الله شريف په قصدروان سو اودحرم حدونو ته نژدې دحديبيې په مقام کې يې قيام وفرمايى اوحضرت عثمان غني يې ديوڅوملګروسره مکې ته وليږى چې دمکې سردارانو ته ووايې چې مسلمانان داوخت دڅه جنګ په نيت سره نه ، بلکې دعمرې اداکولو دپاره راغلي دي په دې وجه دې دوى ته لار نه بندول کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دقریشو سردارانو ددیر بحث اومباحثې څخه وروسته خپل یونمائنده دنبي کریم ﷺ خدمت ته ولیږی،
نبي کریم ﷺ چې هغه ولیدی نو یې وفرمایل چې داسړی دبیت الله شریفې دمحرماتو خاص خیال ساتونکی
دی په دې وجه خپل دقرباني حیوان په کوموچې دقرباني نخښې سوې دی ده ته یې مخامخ کړی، ده چې
کله دا قرباني ولیدې نو اقرار یې وکی چې بیشکه دا خلق دبیت الله څخه هیڅکله منع کول نه دی په کار.
لنډه دا ده چې دحرم محترم احترام دجاهلیت په زمانه کې هم الله ﷻ د دوی په زړونوکې داسې ایښې وو
چې ددې په وجه امن او امان قائم وو ددې احترام په وجه یوازې حرم شریف ته دننه راتلونکې اوهغه خلق
به په امن وه، څوک چې به دحج او عمرې دپاره ووتل او دحج څه نخښه به پردوی موجوده وه، ددنیا
داطرافو خلقو ته به ددې څخه څه نفع امن او اطمینان حاصل نه وو، لیکن په عربوکې چې څنګه دبیت الله
دکور او دده دشاوخوا حرم احترام عام وو، دغه شان دحج دمیاشتو هم خاص احترام وو دې میاشتو ته به
یې د حرمت میاشتې (اشهر حرم) ویلې، په دې میاشتو کې به دحرم څخه دباندې قتل اوقتال ټولو عربو
حرام ګڼې اوپرهیز به یې ورڅخه کوی، په دې وجه قرآن کریم په، قِيَامًا لِّلنَّاسِ: کې دکعبې سره درې نورې
شیان هم شامل کړی دی اول وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ: یعنې دعزت اوعظمت میاشت دلته چونکې لفظ دشهر
مفرد راوړل سوی دی، په دې وجه عام تفسیر لیکونکې فرمایې چې دلته دشهر حرام څخه مراد میاشت
د ذې الحجې ده چې په دې کې دحج ارکان او کارونه اداکول کیږی او ځینې فرمایې چې لفظ که څه هم
مفرد دی، مګر مراد ددې څخه جنس دی په دې وجه ټولې دعزت او حرمت میاشتې په کښې دا خلې دی.
دوهم شی، هَدْيَ: ده، هدی هغه حیوان ته ویل کیږی دکوم چې قرباني په حرم شریف کې کیږی داسې
حیوان چې به دچا سره وو، دعامو عربو دستور وو چې هغه ته به یې څه نه ویل، ده به په امن او اطمینان
سره سفرکوی اوخپل مقصد به یې پوره کولای سوای، په دې وجه هدی هم د امن قائمولو سبب سو.
دریم شی، قَلَائِدَ: دی، قلائد دقلاده جمع ده، دغاړې هارته ویل کیږي دعربو په جاهلیت کې دا رسم
وو، چې څوك به دحج دپاره تلې، نو په خپله غاړه کې به یې یو هار په طور دنخښې اچوی، چې خلق یې
وینې چې دی حج له ځی نوڅه تکلیف به ورته نه رسوی، دغه شان دقرباني دحیوان په غاړه کې به یې هم
هار اچوی، دوی ته به یې هم قلائد ویل، په دې وجه قلائد هم دامن اوسکون یوه ذریعه جوړه سوه.
اوچې غور ورباندې وکړل سې نو دا درې سره شیان، شهر حرام، هدی اوقلائد، ټول دبیت الله
دمتعلقاتو څخه دی، د دوی احترام هم دبیت الله داحترام یو ښاخ دی، لنډه دا ده چې بیت الله او ددې
متعلقات الله د ټولې دنیا دمخلوق دپاره په عام طور سره او د عربو او اهل مکه وو دپاره په خاص طور
سره ددې ټولو کارونو دین او دنیا دواړو دپاره قیام او قوام جوړ کړی دی.
د، قِيَامًا لِّلنَّاسِ: په تفسیرکې ځینې تفسیرلیکونکې فرمایې چې ددې څخه مراد دا دی چې بیت الله او
حرم محترم دټولودپاره ځای دامن جوړسوی دی ځینې فرمایې چې ددې څخه مراددمکې دخلقودپاره د رزق
فراخې ده چې سره ددې چې په دې مځکه کې هیڅ شی نه پیدا کیږی لیکن الله ﷻ دټولې دنیاشیان رسوی
ځینې وایې چې دمکې خلق کومو ته چې به یې دبیت الله خادمان اومحافظان ویل دوی ته به خلقو الله
والا یعنې خدایې خلق ګڼل د دوی سره به یې همیشه دتعظیم معامله کوله د: قیاماً للناس څخه د دوی دا

Maktaba Tul Ishaat.com

خاص اعزاز مراد دی.
امام عبدالله رازی رحمه الله فرمایی، چی په دی ټولو خبرو کی هیڅ اختلاف نسته د: قِيَامًا لِلنَّاسِ په مطلب کی دا ټول شیان دا خل دی چی الله ﷻ بیت الله د ټولو خلقو دبقاء په قیام، معاش او معاد دروغوالی او نجات ذریعه جوړه کړی ده او عرب او مکی والا یی په خصوصیت سره ددی په ظاهری او باطنی برکتونو نمانځلی دی.
په آخر د آیت کی ارشاد فرمایی، ذَٰلِكَ لِتَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ: یعنی مونږ بیت الله او ددی متعلقات د خلقو دپاره ذریعه دامن و امان او قیام او بقا جوړه کړی ده چی اهل عرب یی په خصوصیت سره وینی، دا په دی وجه وویل سو چی ټول خلق پوه سی چی الله ﷻ د مځکی او آسمان هر شی پوره پیژنی او هغه ددی انتظام کولی سی.
په دوهم آیت کی ارشاد فرمایی، اعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ وَأَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ: یعنی پوه سی چی الله ﷻ سخت عذاب ورکوونکی دی او دا چی الله ﷻ ډیر بخښنی والا او رحم کوونکی دی، په دی کی بی وښوولہ چی کوم حکمونه یی د حلالو او د حرامو کړی دی، دا عین حکمت او مصلحت دی ددی په منلو کی ستاسی دپاره خیر دی او ددی په خلاف کولو کی سخت وبال او عذاب دی ددی سره یی دا هم وښووله چی د انسان څخه که په هیره او غفلت سره څه ګناه اوسی نو الله ﷻ فوراً عذاب نه ورکوی بلکه د توبه کوونکو او شرمنده کیدونکو دپاره یی د مغفرت دروازه خلاصه ده، په دریم آیت کی یی ارشاد فرمایی مَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ: یعنی زمونږ د رسول ﷺ په ذمه خو دومره کار دی چی زمونږ حکمونه مخلوق ته ورسوی، بیا یی دوی منی او که یی نه منی، ددی نفع او ضرر دوی ته رسیږی، د دوی په نافرمانی سره زمونږ د رسول ﷺ هیڅ نقصان نسته، او په دی هم پوه سی چی الله ﷻ لره څوک فریب نه سی ورکولی هغه ستاسی په ظاهر او باطن او پټ او ښکاره هر یو کار خبر دی، په څلورم آیت کی یی ارشاد وفرمایی، قُلْ لَا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ: په عربی ژبه کي طیب او خبیث دوه متقابل لفظونه دی طیب د هر شی ښه او کره ته وایی او خبیث د هر شی ردی او خراب ته وایی، په دی آیت کی د اکثرو تفسیر لیکونکو په نزد د خبیث څخه مراد حرام یا ناپاک دی او د طیب څخه مراد حلال او پاک دی، د آیت معنی دا سوه چی د الله ﷻ په نزد پاک او ناپاک یا حلال او حرام برابر یدی نه سی، دلته لفظ د خبیث او طیب د خپل عام والی په لحاظ سره حرام او حلال مال او دولت لره هم شامل دی، او ښه او بد انسانانو لره هم، او ښهٔ او بد عملونو او اخلاقو لره هم، مطلب د آیت واضح دی چی د یو عقل سلیم په نزد نیک او بد، ښه او ناکاره برابر نه وی، ددی فطری قانون مطابق د الله ﷻ په نزد حلال حرام یا پاک شیان برابر نه دی، دغه شان ښه او بد عملونه او اخلاق برابر نه دی، دغه شان نیک او بد انسان برابر نه دی، مخ ته ارشاد فرمایی، وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيثِ: یعنی که څه هم ځینی وخت لیدونکو ته د خراب، او خبیثو شیانو ډیروالی څه عجیبه معلومیږی او شاو خوا د خرابو او خبیثو شیانو ښوریدل او د غالب راتللو په سبب دوی ته ښه لګیږی مګر دا د انسانی علم او شعور بیماری او د احساساتو قصور وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

(دآیت شان نزول)

دآیت د شان نزول متعلق په ځینی روایتونو کی دی چی کله په اسلام کی شراب حرام سول او اخیستل خرخول بی منع سول نو یو سړی چی دهغه کاروبار شراب خرخول وو او ددی په ذریعه ده څه مال جمع کړی وو، دنبی کریم ﷺ څخه یی پوښتنه وکړه چی یارسول الله ﷺ دا مال کوم چی دشرابو په تجارت کی زما سره جمع سوی دی که دا په څه نیک کار کی ولګوم نو آیا زما دپاره به فائده مند وی؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل چی که ته دا په حج یا جهاد وغیره کی خرچ کړی نو دا به د الله ﷻ په نزد دغوماشی دیوه وزر په قدر هم قیمت ونه لری الله ﷻ دپاک او حلال شی څخه ماسوا بل هیڅ هم نه قبلوی دحرام مال د ابی قدری خو د آخرت په لحاظ سره سوه اوکه په ژور نظر سره وکتل سی او دتولو کارونو آخری انجام مخ ته راوستل سی نو معلومه به سی چی ددنیا په کاروبار کی هم حلال او حرام مال برابر نه وی، په حلال مال سره چی څومره فائدی او ښه نتیجی اوحقیقی آرام او راحت نصیب کیږی، هغه هیڅکله په حرام مال سره نه نصیب کیږی.

په تفسیر در منثورکی په حواله دابن ابی حاتم نقل دی، چی په زمانه دتابعینو کی خلیفه راشد حضرت عمر بن عبد العزیز ؒ چی کله دتیرو امیرانو دزمانی ناجائز ټیکسونه بند کړل او دکومو خلقو څخه چی بی په ناجائزه سره مالونه اخیستی وه، هغه یی بیرته ورکړل اوسرکاری بیت المال خالی سو او امدنی ډیره کمه سوه نو دیوی صوبی ګورنر د دوی په خدمت کی خط ولیکی چی دبیت المال امدنی ډیره کمه سوی ده، نو فکر دی چی دحکومت کاروبار به څنګه وچلیږی، حضرت عمر بن عبد العزیز ؒ ورته په جواب کی دا آیت ولیکی. لَا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيثِ: او ورته بی ولیکل چی تاسی مخکی چی په ظلم زیاتوب سره څومره خزانه ډکه کړی وه تاسی دهغه په مقابله کی عدل اوانصاف قائم کړی، خپله خزانه کمه کړی او هیڅ پروا مه کوی، زموږ دحکومت کاروبار به په دی کم مقدارسره پوره سی، دا آیت که څه هم په یوه خاصه واقعه کی نازل سوی دی چی دشمیرکمښت او زیاتوب څه شی نه دی، په لږوالی او ډیروالی سره دیوه ښه والی اوبدوالی نه شی معلومیدی، د خلقو پر سرونو لاس اېښوول یو پنجوس ۵۱ لاسونه دیوکم څلویښتو په مقابله کی دحق او دصداقت معیار نه سی جوړی دی.

بلکه که ددنیادهری طبقی په حالاتو باندی لږ هم نظر واچول سی نو په ټوله دنیاکی که به دښو اونیکو مقدار اوشمیرکم او دبدو شمیر زیات په نظر راسی دایمان په مقابله کی کفر، دتقوی اوپاکی او دینداری او امانتداری په مقابله کی فسق، فجور، دعدل اوانصاف په مقابله کی ظلم او زیاتوب، دعلم په مقابله کی جهل، دعقل په مقابله کی بی عقلی به زیاته ولیدل سی، چی په دی سره دا یقین لازمی کیږی چی د یو شی یا یوی ډلی دشمیر ډیروالی ددی په ښه والی یا حقوالی باندی قطعاً دلیل نه سی جوړی دی، بلکه د یو شی ښه والی او غوره والی ددغه شی او ددغه ډلی په ذاتی حالاتو او اندازو باندی کیدی سی، که حالات او اندازه یی ښه وی نو ښه به وی اوکه بد وی نو بد به وی، قرآن حکیم دا حقیقت، وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيثِ: په الفاظو کی واضح کړی دی، البته دشمیر ډیروالی، اسلام هم په ځینی موقعو باندی فیصله کوونکی مقرر کړی دی، خو دا په هغه ځای کی وی کوم ځای چی ددلیل قوت او ذاتی خوبیو دموازنی فیصله کوونکی څوک داقتدار خاوند حاکم نه وی، په داسی موقع باندی

دعوامو دجگړې دختمولو دپاره دشمیر ډیروالی ته ترجیح ورکول کیږي ، لکه دامام دمقرر کولو مسئله ده ، چې هلته څوک امام او امیر فیصله کوونکی موجود نه وي په دې وجه درابی کثرت ته ترجیح ورکول کیږي چې جگړه ختمه سي ، دا هیڅ کله نه ده چې کوم شی په زیات شمیر سره خلقو اختیار کړی ، هغه شی حلال او جائز او حق دی ، دآیت په آخرکې یې ارشاد وفرمایی ، فَاتَّقُوا اللَّهَ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ: یعنی ای دعقل خاوندانو دالله ﷻ څخه بیره کوي چې په دې کې بې اشاره وفرمایله چې دیو شی دشمیر د ډیروالی څخه مه بیریږي یا ډیرپه مقابله دلږوکی دحق او صحیح معیار مقرر کول دعاقلانو کار نه دی، په دې وجه بې عاقلانو ته خطاب وکی دوی بې ددې غلطی روبی څخه دمنع کولو دپاره د (فاتقوا الله) حکم ورکی .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ وَإِنْ

ای ایماندارو ، پوښتنه مه کوي دداسی خبرو چې که تاسې ته ښکاره کړل سي نو تاسی به خفه کړي

تَسْأَلُوا عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ الْقُرْآنُ تُبْدَ لَكُمْ عَفَا اللَّهُ عَنْهَا وَاللَّهُ

اوکه پوښتنه کوی ددې خبرو په داسی وخت کې چې قرآن نازلیږي نو تاسی به ښکاره کړل سي ، الله ﷻ ددې څخه

غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٠١﴾ قَدْ سَأَلَهَا قَوْمٌ مِنْ قَبْلِكُمْ ثُمَّ أَصْبَحُوا بِهَا

معافی کړې ده او الله ﷻ بخښنې والا برداشت کوونکی دی ، دداسی خبرو پوښتنې کړې دي یو قوم ستاسی څخه مخکې بیا ددغه خبرو څخه ،

كَافِرِينَ ﴿١٠٢﴾ مَا جَعَلَ اللَّهُ مِنْ بَحِيرَةٍ وَلَا سَائِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ

منکر سول ، نه دی مقرر کړی الله ﷻ بحیره او نه سائبه او نه وصیله

وَلَا حَامٍ وَلَكِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَأَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٠٣﴾

او نه حامی او لیکن کافران جوړوي په الله پاک باندې دروغ او په دې کې اکثر بې عقله دي.

لنډتفسیر: ای مومنانو! دداسی (فضول) خبرو پوښتنه مه کوي (په کوموکې چې دا احتمال وي چې) که تاسی ته ښکاره سي نو تاسی به خفه کړي (یعنی دا احتمال په کښې وي چې جواب به یې ستاسی دمنشاء خلاف راسی نو ستاسی به خوښ نه سي) او (په کوموکې چې دا احتمال وي چې) که تاسی په زمانه د نزول د قرآن (اووحی) کې دداسی خبرو پوښتنه نه کوی نو تاسی ته به ښکاره نسی (یعنی په سوال کولوکی دا دوهم احتمال وي چې جواب ورسیږي او په جواب رسیدو کې دغه اولنی احتمال وي چې ښه به درباندې ونه لگیږي او دا دواړه احتمالونه په مجموعی طور سره چې دسوال کولو دې واقعی دي ، نو داسی سوال منع دی ، خیر) تیر سوالونه (کوم چې تردې وخته پوری سوی دی ، دغه خو) الله ﷻ معاف کړل (لیکن آئنده یې مه کوی) او الله ﷻ لوی مغفرت والا دی (په دې وجه تیر سوالونه معاف سوه او) لوی

Maktaba Tul Ishaat.com

حلم والا دی (په دی وجه په آئنده خلاف ورزی کولو په دنیا کی چی سزا درنه کړی ، نو په دو که کی مه لویږی چی مخکی به هم څه عذاب او سزا نه وی) داسی خبری ستاسی څخه په مخکی (زمانه کی) دنورو (امتونو) خلقو هم (دخپلو پیغمبرانو څخه) پوښتلی دی ، بیا (دوی ته جواب ورسیدی نو) ددغه خبرو حق بی پرځای نه کی (یعنی په دغه جوابونو کی چی کوم داحکامو متعلق وه ، دهغه موافق عمل بی ونه کی ، اوکوم چی دواقعاتو متعلق وو ، دهغه څخه متاثره نه سوه نو هسی نه چی په تاسی کی نوبت دی ته ورسیږی، په دی وجه ښه دا ده چی داسی سوالونه کول پریږدی) الله ﷻ نه بحیره روا کړی ده او نه سائبه اونه وصیله اونه حامی، لیکن کوم خلق چی کافران دی دوی (دی رسمونو په باره کی) په الله ﷻ باندی درواغ جوړوی (چی خدای په دی کارونو خوشحاله دی) او اکثره کافران (ددین) عقل نه لری (اوکار ورڅخه نه اخلی بلکه محضی دخپلو مشرانو لیدل سوی داسی دجهالت کارونه کوی)

معلومات اومسئلي (دبي ضرورته پوښتنه کلو څخه منع)

په دی آیتونو کی په دی خبره خبرداری ورکول سوی دی چی دځینو خلقو دالله ﷻ په حکمونو کی بی ضرورته دباریکیو لټولو او تر وریښته دځرمنی ایستلو شوق وی اوکوم حکمونه چی ورکړل سوی نه وی دهغه متعلق بغیر دڅه حاجت اوضرورته سوالونه کوی ، په دی آیت کی دوی دا ښوونه ورکړل سوی ده ، چی دوی دی داسی سوالونه نه کوی چی په جواب کی یی په دوی څه سخته راځی یا دپټو رازونو په ښکاره کیدو سره د دوی رسوایی وسی .

شان نزول: ددی آیتونو شان نزول دمسلم د روایت مطابق دا دی چی کله دحج فرضیت نازل سو نو اقرع بن حابس ﷺ پوښتنه وکړه چی آیا هرکال حج زمونږ په ذمه فرض دی؟ نبی کریم ﷺ ددی سوال جواب ورنه کی ، نوهغه بیا بیا سوال وکی ، نبی کریم ﷺ خاموش وو ، چی ده په دریم وار بیا سوال وکی ، نو دغه وخت نبی کریم ﷺ په زورنی سره ده ته خبرداری وفرمایی چی که ما ستا په جواب کی هوا ویلی نو بیا به داسی سوی وه اوپه تاسی به هرکال حج فرض وای او بیا به تاسی داحکم نه سوای پوره کولی، ددی څخه وروسته یی ارشاد وفرمایی چی دکومو شیانو متعلق زه تاسی ته څه حکم ونه کړم ، نوهغه هم دغه شان پریږدی ، په هغه کی لټون اوپوښتنی مه کوی ، تر تاسی مخکی ځینی امتونه ددی ډیرو سوالونو کولو په وجه هلاک سوی دی ، چی کوم شیان الله ﷻ اودهغه رسول صلی الله علیه وسلم نه وه فرض کړی ، په سوالونو کولو به یی هغه فرض کړل او بیا به دهغه په خلاف ورروزی کی اخته سول ، ستاسی کار دا دی چی دکوم کار زه حکم وکړم ، دخپل طاقت مطابق دهغه دپوره کولو کوشش کوی او دکوم شی څخه چی منع وکړم هغه پریږدی (مطلب دا دی چی دکومو کارونو څخه خاموشی سوی وی دهغه متعلق لټون مه کوی .

(دنبي کريم ﷺ څخه وروسته دنبوت او وحي سلسله ختمه سوه)

په دی آیت کی یوضمنی جمله دا هم ارشاد وفرمایل سوه چی ، وَإِنْ تَسْأَلُوا عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ الْقُرْآنُ تُبْدَ لَكُمْ : یعنی دقرآن دنزول په زمانه کی که تاسی داسی سوالونه کوی نو په وحی سره به دهغه جواب راسی ، په دی کی یی دقرآن دنزول دزمانی سره وتړی اودی طرف ته یی اشاره وفرمایله چی دقرآن دنزول دمکمل کیدو څخه وروسته به دنبوت او وحی سلسله بنده سی، دنبوت تر ختمیدو او دوحی دسلسلی ترختمیدو

Maktaba Tul Ishaat.com

وروسته دداسي سوالونو به كه څه هم دا اثر نه وي چي نوي احكام به راسي كوم شيان چي فرض نه وي، هغه به فرض سي يا به په ذريعه دوحي، دچاځه پټ راز ښكاره سي، ليكن بې ضرورته سوالونه جوړول او په لټون كي بې پريوتل دبې ضرورته شيانو متعلق سوالونه كول وروسته تر قطع كيدو دنبوت هم بد اومنع دي، ځكه چي په دې كي خپل او دنورو وخت ضائع كول دي، دنبي كريم ﷺ ارشاد دي، مِنْ حُسْنِ اِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَالَا يَعْنِيْهِ: يعني دمسلمانانو يو ښه والى دا دي چي سړى فضول خبري پريږدي، ددې څخه معلومه سوه چي ډير مسلمانان چي بالكل دفضول شيانو په تحقيق كي لګيدلي وي چي دحضرت موسى ﷺ دمورځه نوم وو او دحضرت نوح ﷺ دكشتۍ پلنوالي او اوږدوالي څومره وو، ددې هيڅ اثر د انسان په عمل باندي نسته، داسي پوښتنه اوسوالونه كول بده خبره ده، خاصكر چي بيا دا هم معلومه وي چي دداسي سوالونو كوونكي خلق اكثره ددين دضروري او اهمو مسئلو څخه بې خبره وي، په فضولو كارونو كي دپريوتو نتيجه دا وي چي بنده دضروري كارونو څخه محرومه سي، پاته سوه دامسئله چي فقهاؤ حضراتو په خپله فرضي صورتونه دمسئلو را ايستلي دي او سوالونه يې جوړ كړي دي، دهغه حكمونه يې بيان كړي دي نو دا بې ضرورته شي نه وو، راتلونكو واقعاتو دا وښووله چي آئنده نسلونو ته ددې ضرورت وو، په دې وجه دغه فضول او بې مطلبه سوالونه نه وه داسلام په تعليماتو كي دا هم يو تعليم دي چي علم وي او كه عمل، څه كار وي او كه خبره تر څو پوري چي په دې كي څه ديني يا دنيوي فائده پيش نظر نه وي نو په دغه كي وخت ضائع كول نه دي په كار.

(دبحيري، سائبي وغيره تعريف)

بحريه، سائبه، وصيله، حامي دا ټول دجاهليت دزماني رسمونه اونخښي ښناني دي، تفسير ليكونكو د دوى په تفسيركي ډير اختلاف كړي دي، ممكنه ده چي په دوى كي دهر يوه لفظ اطلاق په مختلفو صورتونو كيږي، مونږ يوازي دسعيدبن المسيب تفسيردصحيح بخاري څخه نقل كوو.

بحيره: هغه حيوان چي شيدى به يې دبتانو په نوم وقف كول چابه په خپل كاركي نه را وستل.

سائبه، كوم حيوان چي به يې دبتانو په نوم، زمونږ دزماني دسانډ په شان پريښووي.

حامي: نر اوښ چي په يو خاص شمير سره به يې اوښې بلاربې كړي، دا به يې هم دبتانو په نوم پريښووي

وصيله: كومي اوښې چي به مسلسل ماده بچي راوړي په مينځ كي به يې نر بچي پيدانه سو دا به يې هم دبتانو په نوم پريښووله.

علاوه ددې څخه چي دا شان دشرك نخښي وي، دكومو حيوانانو دغوښو شيدو ياسپرلي اونورو څخه چي به الله ﷻ نفع اخيستل جائز كړي وه د دوى په حلالوالي اوحراموالي به يې هم دخپل طرف څخه قيدونه لګول، ګوا كي دخپل طرف څخه به يې شريعت جوړي اولوى ظلم بيا دا وو چي دا خپل مشركانه رسمونه به يې الله ﷻ ته منسوب كول دهغه دخوشحالي او نژديكت ذريعه به يې ګڼله، ددې جواب وركول سو، چي الله ﷻ هيڅكله دا رسمونه نه دي مقرر كړي د دوى مشرانو په خداى ﷻ پوري دروغ جوړ كړي دي او اكثر بې عقلو عوامو دغه قبول كړل.

غرض دا دي چي دلته دا خبرداري وركړل سوى دي، چي لكه څنګه چي په فضول اوبې كاره سوالونو

کولو سره د شریعت په حکمونو کې تنګی او سختی کول جرم دی دغه شان تر دی زیات جرم دا دی چې بغیر د شارع د حکم څخه محض په خپله رایه او خواهش سره حرام او حلال منتخب سی، (فوائد عثمانی)

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ

او کله چې وویل سی، دوی ته چې راسی هغه ته کوم چې الله نازل کړی دی او رسول ﷺ طرف ته

قَالُوا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ۚ أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ

نو وایي چې مونږ ته کافی دی هغه په کومو چې موندلی دی مونږ پلار نیکه خپل، که څه هم د دوی پلار نیکه نه څه علم درلودی او نه ورته،

شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٠٤﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنفُسَكُمْ ۖ لَا يَضُرُّكُم

لاره معلومه وه نو بیا به هم دوی داسی کوی، ای ایماندارو په تاسی لازم دی فکر د خپل ځان، ستاسی هیڅ نه سی

مَّن ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ ۚ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم

ورانولی ځوک چې ګمراه سو، کله چې تاسی په لاره باندی یاست الله ﷻ ته بیرته تلل دی ستاسی د ټولو، بیا به

بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٠٥﴾

هغه خبر کړی تاسی په هغه چې تاسو کول.

دآیتونو تړون: لوړ درسم پرستو کفارو دیو جهالت ذکر وو او داسی جهالتونه د دوی ډیر زیات وه، چې ددی په اوریدو به مسلمانانو ته خفګان او افسوس کیدی، په دی وجه مخکی مومنانو ته ددی متعلق ارشاد دی چې تاسی ولی په دی غم کی لویدلی یاست، تاسی ته دخپلی اصلاح او دنورو په اصلاح کی په قدر دطاقت او دقدرت دکوشش کولو حکم دی، باقی په کوشش باندی فائده مرتب کیدل ستاسی داختیار څخه دباندی دی، په دی وجه (خپل کار کوه دبل چا غم مه کوه) باندی عمل کوی.

لنډتفسیر: کله چې دوی ته وویل سی چې الله ﷻ چې کوم حکمونه نازل کړی دی دهغه طرف ته او د رسول (صلی الله علیه وسلم) طرف ته (په چا چې دغه حکمونه نازل سوی دی) رجوع وکړی (کوم کار چې په دی سره حق ثابت سی هغه حق وګنی او کوم چې باطل وی، هغه باطل وګنی) نو وایي چې مونږ ته خو (ددی حکمونو او رسول صلی الله علیه وسلم ضرورت نسته مونږ ته خو) هغه (طریقه) کافی ده په کومه چې مونږ خپل مشران موندلی دی (الله ﷻ فرمایي چې) آیا (دغه طریقه دوی لره په هرحال کی کافی ده) که څه هم د دوی مشرانو (د دین) نه پوهه درلوده او (د یو آسمانی کتاب) هدایت یې درلودی، ای مسلمانانو! خپل (د اصلاح) فکر کوی (اصل کارستاسو پر ذمه دا دی، باقی دنورو د اصلاح متعلق دا خبره ده چې

Maktaba Tul Ishaat.com

کله تاسی د خپل طرف څخه دخپل قدرت مطابق داصلاح کوشش کوی مگر په بل اثر نه کیږی نو تاسی دا ثر نه کیدو فکرمه کوی چی) کله تاسی (ددین) په لاره چلیږی (او ددین واجبات اداکوی، داسی چی خپله هم اصلاح کوی او دنورو په اصلاح کی هم کوشش کوی) نو کوم سړی چی (سره ستاسی داصلاح دکوششه هم) گمراه وی نو دده (دگمراهی) څخه ستاسی هیڅ نقصان نسته (اولکه څنگه چی په اصلاح اونوروکی ترحد دزیات فکر اوغم څخه منع کول کیږی ، دغسی دهدایت څخه دنا امید کیدو په صورت کی دغصی څخه په دنیا کی پر دوی دسزا نازلیدو ارزوکول هم منع دی ، ځکه چی دحق اوباطل مکمله فیصله خو به په آخرت کی وی نو) دالله ﷻ خوا ته ستاسی دټولو تلل دی بیابه هغه تاسی ټولو ته وښیی څه چی تاسی کول (او د ښوولو سره به پر حق دثواب او پر باطل دعذاب حکم نافذ وفرمایی)

معلومات او مسئلي: دآیتونو شان نزول: دجاهلیت په رسمونو کی دپلار نیکه تقلید هم وو چی دوی یی په هر یو ناکاروالی کی اخته کړی وه او د هری نیکی څخه یی محرومه کړی وه، په تفسیر در منثور کی په حواله د ابن ابی حاتم نقل دی چی په دوی کی که به چیری یو خوش نصیبه حق خبره ومنله او مسلمان به سو نوهغه ته به یی دا پیغور ورکوی چی تا خپل پلار اونیکه بی وقوفان وگڼل چی دهغو لاری دی پریښوول . بله لار دی اختیارکړه، د دوی پردی گمراهی سربیره پر گمراهی باندی دا آیت نازل سو ، وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَى مَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُوا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا: یعنی کله چی به دوی ته وویل سوه چی تاسی دالله ﷻ نازل کړی حقیقتونو اوحکمونو او درسول صلی الله علیه وسلم طرف ته رجوع وکړی چی په هر حیثیت سره دحکمت اومصلحت اوستاسی دپاره داصلاح اونجات ضامن دی، نو د دوی سره ددی څخه ماسوا بل څه جواب نه وو چی مونږ لره خو هغه طریقه کافی ده پر کومه چی مونږ خپل پلار اونیکه لیدلی دی، دا هغه شیطانی استدلال دی، چی په لکونو خلق یی سره دمعمولی پوهی اوعلم او هنر لرلو گمراه کړل، قرآن کریم د دوی په جواب کی وفرمایل، أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ شَيْئًا: غور او فکر کوونکو لره دقرآن کریم دی یوی جملی دیو سړی یا یو جماعت د پیشوا جوړیدلو یو صحیح اصول بیان کړل ، ړوند لره یی نظر او جاهلانو اوغافلانو ته یی دحقیقت ښکاره کولو مکمل سامان ورکړی، هغه دا چی دا خبره خو عقل منی چی ناپوه دی دپوهو ، ناخبره دی دخبردارو پیروی کوی جاهل سړی دی دعالم اقتداء کوی، لیکن د اخو دعقل خبره نه ده چی دعلم، عقل اوهدایت دمعیار څخه واوړی، دخپل پلار نیکه یا ورورلی اقتداء کول دی خپله طریقه جوړه کړی او په دی دی هم ځان نه پوه کوی چی دا پیشوا په خپله چیرته روان دی او مونږ کوم ځای ته رسوی، خو بس وریسی سی .

دغه شان ځینی خلق دیو سړی تابعداری او اقتداء ځکه کوی چی په ده پسی خلق ډیر وی، نوچی کوم طرف ته دی گڼه وینی نوهم هغه طرف ته ځی، دا هم یو عقل نه منونکی حرکت دی، ځکه چی ډیروالی خو اکثره په دنیا کی دبی وقوفو یا کم عقلو یا دبی عملو خلقو وی ، نو په دی وجه دخلقو گڼه دحق او ناحق یا ښه بد دپیژندو معیار نه سی جوړیدی .

(نا اهل پیشوا جوړول هلاکت لره بلنه ورکول دی)

دقرآن کریم دی جملی ټولو ته دښکاره حکمت سبق ورکی چی په دوی کی هیڅ شی د وریسی کیدو او

Maktaba Tul Ishaat.com

پیشوا جوړولو دپاره هیڅکله کافي نه دي ، بلکې په هر انسان تر ټولو اول دا لازمه ده چې دخپل ژوند مقصد او دخپل سفر هدف معلوم کړي ، بیا ددي مقصد حاصلولو دپاره دا وګوري چې څوک داسې سړي دي چې ددي مقصد لار هم پیژني او په دي لاره باندي روان هم وي . نوکله چې ورته څوک داسې پیدا سي ، نوبیشکه چې په ده پسې کیدل دي منزل مقصود ته رسولی سي، دا حقفت دي دمجتهدینو امامانو دتقلید چې دوی په دین پوهیدونکي هم دي او په دي عمل کوونکي هم، په دي وجه ناپوهه چې د دوی تابعداري وکړي ، نو ددین مقصد یعني دخدای ﷻ او درسول ﷺ تابعداري حاصلولی سي اوچاچي لار ورکه کړي وي منزل مقصود په خپله نه پیژني یا یې پیژني خو قصداً په غلطه لار روان وي، په ده پسې تلل دهرعقلمند په نزدخپل کوشش اوعمل ضائع کول دي بلکې خپل هلاکت ته بلنه ورکول دي ، ددي علم اوحکمت او روشن خیالي په زمانه کې هم افسوس دي چې تعلیم یافته دعقل اوپوهي خاوندانوهم داحقیقت نظرانداز کړي دي او ددي دنني تباهي او بربادي تر ټولو لوی سبب په نا اهلو اوغلطو پیشوایانو او لیډرانو پسې کیدل دي .

(داقتدار معیار)

دقرآن کریم دي جملې داقتداء (یعني په چا دپسې کیدو) دیر دعقل او واضح معیار دوه شیان جوړ کړي دي علم اوپه هدایت کیدل ، دعلم څخه مراد منزل مقصود اوهغه ته درسیدو طریقې پیژندل دي اوهدایت پیدا کیدو څخه مراد ددغه مقصد په لاره تلل دي یعني په صحیح علم باندي برابرعمل کول دي لنډه دا سوه چې کوم سړي پیشوا جوړوی نو اول دا وګوره چې د کوم مقصد دپاره چې دي دي پشوا کړي دي ، دي ددغه مقصد او ددغه مقصد دلاري څخه په پوره ډول سره خبر هم دي اوکه نه ؟ بیا دا وګوره چې دي پر دغه لاره ځي هم اوکه نه؟ او دده عمل دخپل علم مطابق هم دي اوکه نه ؟

غرض دا دي چې دیو چا د پیشوا جوړولو دپاره د صحیح علم او د برابر عمل په معیار سره کره کول ضروري دي ، محض پلار نیکه کیدل او یا ددیرو خلقو لیډرکیدل ، یادمال دولت خاوند کیدل یا د حکومت اوبادشاهت خاوندکیدل ، په دي کې یو شی هم داسې نه دي چې دپیشوا کیدلو معیار وګنل سي او اقتداء ورپسې وسي .

(په چا دتنقید کولو اثرناکه طریقه)

قرآن کریم دلته دپلاراونیکه تقلید کوونکو خلقوغلطي ښکاره کړه اوددي سره یې په بل باندي تنقید کول او دهغه دغلطي ښکاره کولو یوه خاص اثرکوونکي طریقه هم وښووله چې په دي سره دمخاطب زړه هم نه ازاریږي اوپه غصه کې هم نه راځي ځکه چې دپلارنیکه دتقلید کوونکو په جواب کې یې داسې ونه فرمایل چې ستاسې پلارنیکه جاهلان یا ګمراهان وه، بلکې دسوال کولوپه طریقه یې اشاره وکړه چې آیا دپلارنیکه پیروي په داسې حالت کې هم ښه دعقل خبره کیدی سی، کله چې پلار نیکه نه علم لري او نه عمل .

(دخلقو داصلاح فکر کوونکو ته یوه تسلي)

په دوهم آیت کې دخلقو داصلاح په فکرکې خپل هرڅه قربانوونکو ته تسلي ورکړل سوې ده چې کله تاسې دتبلیغ اوتعلیم په حق اداکولوکې په خپل طاقت سره کوشش وکړي اودنصیحت اوخیرخواهي حق مو ادا کړي ، نوبیا هم که څوک په ګمراهي پاته سي نو تاسې دده فکر مه کوي، په دي حالت کې دنورو دګمراهي یاغلط کاري به ستاسې هیڅ نقصان نه وي، ارشاد فرمایي ، یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا عَلَیْکُمْ أَنْفُسَکُمْ

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ : یعنی ای مسلمانانو! تاسی خپل فکر کوی، کله چی تاسی په سیده لاره یاست نو څوک چی گمراه دی ، دهغه څخه ستاسی هیڅ نقصان نسته ، ددی آیت د ظاهری الفاظو څخه خو داسی ګنګل کیږی ، چی هر یوه انسان لره خو یوازی دخپل عمل او دخپلی اصلاح فکر کافی دی ، نور خلق چی هر څه کوی هغه ته دفکر کولو ضرورت نسته، او دا خبره دقرآن کریم دبی شمیره وضاحتونو څخه خلاف ده ، چی په هغه کی یی امر بالمعروف او نهی عن المنکر د اسلام اهمه فریضه او ددی امت یو امتیازی خصوصیت مقرر کړی دی ، په دی وجه ددی آیت په نازلیدو ډیرو خلقو ته شبهات را ورا ندی سول، دنبی کریم ﷺ څخه یی پوښتنه وکړل او ده صلی الله علیه وسلم ورته وضاحت وفرمایی چی دا آیت دامر بالمعروف او نهی عن المنکر سره منافی نه دی ، که امر بالمعروف پاته کړی نو دمجرمانو سره به ته هم ونیول سی، په دی وجه په تفسیر بحر محیط کی دحضرت سعید ابن جبیر څخه د آیت دا تفسیر نقل دی چی په تاسی چی دشریعت د طرفه څخه کوم کارونه واجب دی ، هغه ادا کوی چی په دی کی جهاد او امر بالمعروف هم دا خل دی ، ددی هرڅه کولو څخه وروسته بیا هم چی کوم خلق گمراه پاته سول ، نو په تاسی څه نقصان نسته ، دقرآن کریم په الفاظو ، إِذَا اهْتَدَيْتُمْ: (چی غور وکړل سی نو دا تفسیر به په خپله واضح سی، ځکه چی ددی معنی دا ده چی کله تاسی په سیده لاره باندی یاست نو دنورو گمراهی ستاسی دپاره ضررناکه نه ده او ښکاره خبره ده چی څوک امر بالمعروف نه کوی ، نو دی بیا په سیده لاره باندی نه دی .

په تفسیر درمنثور کی یی دحضرت عبدالله بن عمر واقعه نقل کړی ده چی د دوی څخه چا د اپوښتنه وکړه چی دفلانی فلانی حضراتو دیو بل سره سخته جګړه ده او یو بل ته مشرک وایی نو ابن عمر ﷺ وفرمایل چی آیا ستا دا خیال دی چی تاته وروایم چی ولاړ سه ددغو خلقو سره قتال وکړه ، هیڅکله نه، ولاړ سه او دوی په نرمی سره پوه کړه که قبوله یی کړه نو ډیره ښه ده او که قبوله یی نه کړه نو د دوی فکر پریږده، خپل فکر کوه ، بیا دا آیت ده ﷺ دخپل جواب په شهادت کی تلاوت کی .

(دګناهونو دبندولو په باره کي دحضرت صديق اكبر ﷺ يوه خطبه)

دآیت دظاهری الفاظو څخه چی په سرسری نظر سره کومه شبه پیدا کیدله ددی په باره کی حضرت صدیق اکبر یوه خطبه ارشاد وفرمایله چی ، تاسی خلق دا آیت وایاست او ددی بی موقعی استعمال کوی چی د امر بالمعروف ضرورت نسته ، ښه پوه سی چی ما دنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چی کوم خلق څه ګناه کیدل وینی او دخپل طاقت په مناسب ددی دمنع کولو کوشش نه کوی ، نو نژدی ده چی الله ﷻ ددغه مجرمانو سره دا نور خلق هم په عذاب کی ونیسی، دا روایت په ترمذی ابن ماجه کی موجود دی او د ابو داود په الفاظو کی دی چی کوم خلق یو ظالم په ظلم کولوووینی او دی دظلم کولو څخه (دخپل طاقت موافق) منع نه کړی ، نو الله ﷻ به ټول په عذاب باندی ونیسی .

(دمعروف او منكر معني)

دتیر تفصل څخه دا خبره معلومه سوه چی په هرمسلمان دا لازمه ده چی دی دمنکر یعنی ناجائزو کارونو د بندولو کارکوی یادی لږ تر لږه ددی څخه دنفرت اظهار وکړی ، اوس دا معلومه کړی چی معروف او منکر څه ته وایی؟ لفظ د ، معروف دمعرفه څخه، او ، منکر د انکار څخه وتلی دی ، پر یو شی په غور فکر سره ځان پوهول او پیژندلو ته معرفه وایی ، ددی په مقابله کی منکر نه پیژندلو یا نه پوهیدلو ته وایی ، دا دواړه لفظونه

Maktaba Tul Ishaat.com

د یو بل مقابل گڼل کیږي ، په قرآن کریم کې یو ځای ارشاد دی ، يَعْرِفُونَ نِعْمَةَ اللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا: یعنی د الله ﷻ د کامل قدرت نښې نښانې ووینی او دده نعمتونه وپیژنی، مگر بیا په وجه دعناد انکار کوی، گواکې چې گرسره دا نعمتونه پیژنی نه ، ددی څخه معلومه سوه چې دلغوی معنی په اعتبار سره دمعروف معنی د پیژندل سوی شی ده ، او دمنکر معنی ده دنه پیژندلی سوی شی.

امام راغب اصفهانی رحمه الله په مفردات القرآن کی په دی مناسبت سره دشرع په اصطلاح کی دمعروف او منکر دا معنی بیان کړی ده ، چې معروف هر هغه کار ته ویل کیږي چې دهغه غوره والی او ښه والی په عقل یاشروع سره پیژندل سوی وی ، اومنکر دهرهغه کارنوم دی چې په عقل اوشرع سره هغه نا آشنا او نه پیژندونکی وی ، یعنی بد گڼل کیږي ، په دی وجه د امر بالمعروف معنی دښه کارطرف ته بلنه ده اودنهی عن المنکر معنی دبدکار څخه دمنع کولو ده (نو دامر بالمعروف او نهی عن المنکر مطلب سو دنیکو امر کول او د بدو څخه منع کول)

(دمجتهدینو امامانو رحمهم الله په مختلفو اقوالو کي هیڅ شرعي منکر نه وی)

لیکن په دی ځای کی دگناه اوثواب یافرمانبرداری اونافرمانی په ځای دمعروف اومنکر په لفظ راوړوکی شاید دی طرف ته اشاره وی چې هغه باریکی او اجتهادی مسئلې په کوموکی چې دقرآن اوسنت داجمال یا ابهام (پټ والی) په وجه دوې رایی کیدی سی اوپه دی بناباندی په دی کی دامت دفقهاؤ خبری مختلفی دی ، هغه ددی دائری څخه خارج دی ، دکومو مجتهدینو امامانو رحمهم الله چې د دوی اجتهاد د امت عالمانو منلی دی که په یوه مسئله کی د دوی دوی مختلفی وینا گانی وی ، نو په دوی کی یوی ته هم شرعی منکر نه ویل کیږي بلکه ددی دواړه جانبه په معروف کی دا خل دی په داسی مسئلوکی دیوی رایی غوره کوونکی ته دا حق نسته چې بلی رایی ته منکر ووایی، داسی لکه چې دگناه خبری ته ویل کیږي، هم دا وجه ده چې په صحابه رضی الله عنهم اوتابعینو کی د ډیرو اجتهادی اختلافاتو او متضادو خبره سره سره دا هیڅ ځای نه دی نقل سوی چې دوی پر یو بل د فاسق یا گناهگار کیدو فتوی لگولی وی ، بحث مباحثې او مناظری هرڅه به کیدل او هر یوه به دخپلې خبری دښه والی وجهی بیانولی اوخپله رایه به یې غوره کوله او په بل به یې اعتراض کوی لیکن هیچا بل داختلاف په وجه گنهگار نه گڼی، لنډه دا چې داجتهادی اختلاف په موقع باندی خو دا هر دعلم خاوند لره اختیار دی چې کوم طرف ښه وگڼی، هغه اختیار کړی، لیکن دبل کار منکر گڼل او پرده باندی دبد گڼلو هیچاته حق نسته ، ددی څخه دا خبره معلومه سوه چې په امر بالمعروف یانهی عن المنکر کی دا خل نه دی ، ددی مسئلو څخه جنگ جگړه جوړول یوازی دناپوهی یا جهالت په وجه سره کیدی سی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ

ای ایماندارو شاهد په مینځ ستاسی کی کله چې ورسیږي

Maktaba Tul Ishaat.com

أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِيْنَ الْوَصِيَّةِ اثْنٰنِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ أَوْ اٰخَرٰنِ

يوتن ته په تاسي کی مرک ، په وخت دوصيت کی دوه تنه سړی دی معتبر ستاسی څخه يادوه شاهدان نور وی

مِنْ غَيْرِكُمْ إِنْ أَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَأَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةُ

ستاسی څخه ماسوا او که تاسی سفر کوی په ملك کی با ورسيږي تاسی ته مصيبت

الْمَوْتِ تَحْبِسُوْنَهُمَا مِنْ بَعْدِ الصَّلٰوةِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ إِنِ

دمرگ ، نو ودی دروی دواړه وروسته دلمانځه څخه دوی دواړه به قسم وکړی په الله ، که

ارْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا وَّلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ

تاسی په شك کی یاست چی مونږ اخلو دقسم په بدله کی مال که څه هم څوك زمونږ خپلوان هم وی ،اومونږ نه پټوو شاهدی

اللّٰهِ إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ الْاٰثِمِيْنَ ﴿١٠٦﴾ فَإِنْ عُثِرَ عَلٰٓى أَنَّهُمَا اسْتَحَقَّآ إِثْمًا

دالله که نه مونږ به بیشکه چی گناهکار یُو ، بیا که خبر سی چی دی دواړو حقه خبره پټه کړی ده نو دوه

فَاٰخَرٰنِ يَقُوْمٰنِ مَقَامَهُمَا مِنَ الَّذِيْنَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْأَوْلَيٰنِ

شاهدان به نور ودریږي ،ددوی په ځای دهغو څخه دچا چی حق پټ سوی دی چی دټولو څخه زیات نژدی وی

فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ لَشَهَادَتُنَآ أَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا وَمَا اعْتَدَيْنَآ

مړی ته بیابه قسم وکړی په الله چی زمونږ شاهدی زیاته حقه ده داولینو دشاهدی څخه اومونږ زیاتی نه دی کړی

إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠٧﴾ ذٰلِكَ أَدْنٰٓى أَنْ يَّأْتُوْا بِالشَّهَادَةِ عَلٰى

که نه مونږ به بیشکه ظالمان یُو ، په دی کی امید دی چی ادا کړی شهادت په

وَجْهِهَآ أَوْ يَخَافُوْٓا أَنْ تُرَدَّ أَيْمَانٌ بَعْدَ أَيْمَانِهِمْ ۗ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

صحیح طریقه سره او بیریږي چی واپس به سی قسم زمونږ د دوی دقسم څخه وروسته ، او بریږي دالله

وَاسْمَعُوْا ۗ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿١٠٨﴾

څخه او واوری او الله نه ښیی سیده لار نافرمانو ته .

Maktaba Tul Ishaat.com

دآیتونو ترون: لوړ ددینی اصلاح متعلق احکام وه ، اوس مخ ته ددنیا متعلق دځینو احکامو ذکر دی اوپه دی کی بی اشاره وکړه چی الله ﷻ په خپل رحمت سره دآخرت د اصلاح په شان دخپلو بندگانو ددنیا د معاش اصلاح هم فرمایی (بیان القرآن)

شان نزول: د ذکر سوی آیت دنزول واقعه دا ده چی ، بدیل نومی یو سړی چی مسلمان وو د دوو سړیانو: تمیم او عدی سره چی دغه وخت نصرانیان وه ، دتجارت په غرض شام ته ولاړی ، چی شام ته ورسیدل، نو بدیل ناروغ سو ، ده دخپل مال فهرست ولیکی اوپه اسبابو کی یی کښیښوی، اوخپل دواړه ملگری یی په خبر نه کړل ، چی مرض یی زیات سو نو ده دی دواړو نصرانی ملگرو ته وصیت وکی چی زما ټول سامان به زما وارثانو ته ورسوی ، دوی چی ټول سامان راوړی نو وارثانو ته یی حواله کی ، خو دسپینو زرو یوه پیاله یی چی دسرو زرو ملمع کاری پر سوی وه یا وربانديگل کاری سوه وه، ددی اسبابو څخه ویستله ، وارثانو ته په اسبابو کی فهرست په لاس ورغی ، دوی ددغه سړیانو څخه پوښتنه وکړه چی مړی خو به ددی څخه څه مال خرڅ کړی نه وی یا یی په خپل علاج خوبه نه وي لگولی؟ دوی دواړو وویل چی نه، آخر دا معامله نبی کریم ﷺ عدالت ته پیش سوه ، چونکی د وارثانو سره شاهدان نه وه ، نو دواړو نصرانیانو قسم وکی چی مونږ دمړی په مال کی هیڅ قسم خیانت نه دی کړی اونه ورڅخه مونږ څه شی پټ کړی دی ، آخر په قسم باندی فیصله د دوی په حق کی وسوه څه وخت وروسته خبره په ډاگه سوه چی هغه پیاله دوی په مکه کی په یو زرگر باندی خرڅه کړی وه، کله چی د دوی څخه پوښتنه وسوه نو دوی وویل چی دا مونږ ددغه مړی څخه اخیستی وه، خو چونکی زمونږ سره د اخیستو شاهدان موجود نه وه نو مخکی مونږ څکه ددی ذکر نه وو کړی ، چی هسی نه مونږ درواغجن سو ، دمړی وارثانو بیانبی کریم ﷺ ته رجوع وکړه اوس د مخکنی معاملی برعکس داخیستو دعوی کوونکی مدعیان او وارثان منکر وه اوشاهدی په کښی موجود نه وه ، په دی کی وجه د وارثانو دوو سړیانو چی مړی ته زیات نژدی وه ، قسم واخیستی چی پیاله دمړی ملکیت وو ، او دواړه نصرانیان په خپل قسم کی درواغجن دی ، نوپه کم قیمت (یعنی په یو زر درهمه) چی دوی پاله خرڅه کړی وه هغه یی وارثانو ته ورکړه .

لنډتفسیر: ای مسلمانانو! ستاسی دمینځ (په معاملو) کی (مثلاً وارثانو ته دمال سپارلو دپاره) دوه تنه وصیان جوړول مناسب دی (که څه هم بالکل وصی نه جوړول هم جائز دی) کله چی په تاسی کی چاته مرگ راسی (یعنی) کله چی دوصیت کولو وخت سی (او) دغه دواړه سړیان به داسی وی چی دیندار وی او ستاسی (یعنی مسلمانانو) څخه وی یا دپردی قوم دوه سړیان وی که چیری (مسلمانان نه سی پیدا مثلاً) تاسی یوځای تللی یاست، بیا پر تاسی باندی واقعه د مرگ راسی (او دا ټول کارونه واجب نه دی ، مگر مناسب او ښه دی ، که نه نو لکه څنگه چی بالکل وصی نه جوړول جائز دی ، دغه شان که یو وصی وی یا عادل نه وی یا په کلی کی وی اوغیر مسلم وصی جوړ کړی ، ټولی خبری جائز دی، بیا ددی وصیانو دا حکم دی چی) که چیری (په وخه وجه سره پر دوی باندی) تاسی ته (ای وارثانو!) شبهه وی نو (ای دمقدمی حاکمانو مقدمه داسی فیصله کړی چی اول د وارثانو څخه چونکی چی دوی دعوی کوونکی دی ، په دی خبره باندی شاهدان راوغواړی چی دوی فلانی شی مثلاً جام اخیستی دی اوکه هغوی شاهد نه سی پیش

Maktaba Tul Ishaat.com

کولی نو دوصیانو څخه چی وربانذی دعوی سوی ده داسی قسم واخلی چی) دا دواړه (وصیان) ورروسته
تر لمانځه (دماخیګر مثلاً) بند کړی (ځکه چی اکثره په دی وخت کی ګناه زیاته وی نو پر درواغو قسم
کوونکی به څه نا څه شرمیږی، دا رنګه ددی وخت قدر هم لوی دی څه ددی خیال به هم وی او مقصود
ددی څخه دقسم سخت والی دی چی وخت مبارک او موقع دګنی ګونی دخلقو ده) بیا به دواړه (داسی) په
خدای قسم اخلی چی په صیغی دقسم سره به داسی ووایی چی) مونږ ددی قسم په بدله کی څه (ددنیا) نفع
اخیستل نه غواړو (چی ددنیا د نفع اخیستلو دپاره به په قسم کی رښتیا پاته کړی) که څه هم (په دی
واقعه کی زمونږ) څوک خپلوان هم (ولی نه) وی (چی دهغوی مصلحت مونږ خپل مصلحت ګڼو، قسم
خورو او اوس خو څه داسی هم نه ده ، کله چی ددو چنده مصلحتونو په وجه سره هم مونږ درواغ نه وایو،
نو دیو مصلحت دپاره به څنګه درواغ وایو) او دالله خبری (دکومو چی دهغه دطرف څخه دویلو حکم دی،
دا) به مونږ پټه نه کړو (که نه) مونږ (که داسی وکړو نو) په دی حالت کی به سخت ګنهګار یو (دا سخت
والی د وینا دی چی ده ته دا خبره مخ ته راسی چی رښتیا ویل واجب دی او درواغ ویل حرام دی او دالله
لویی ورته حاضره سی، نو دا به دی د درواغو دقسم څخه منع کړی او س ددی دواړو سختیو څخه
وروسته که دحاکم رایه دا وی نو بی له سختوالی داصل مضمون څخه دی قسم وخوری، مثلاً مونږ ته
مړی پیاله نه ده راکړی او په دی دعوه فیصله کول په کار دی نو ددی آیت په واقعه کی هم داسی وسوه)
بیا (ددی څخه وروسته) که چیری (په څه ښکاره طریقی سره) ددی اطلاع وسی چی دغه دواړه وصیانو څه
ګناه کړی ده (مثلاً د آیت په واقعه کی چی مخکی یی ذکر سوی دی کله چی پیاله په مکه کی پیدا سوه او
د دواړو وصیانو څخه د پوښتنی په کیدو سره دوی دمړی څخه د اخیستو دعوه وکړه، چی په دی دمړی
څخه د اخیستو اقرار لازمیږی او دا د دوی د اولی خبری څخه مخالف دی ، چی په هغه کی یی مطلق د
اخیستو څخه انکار کړی وو، چونکی اقرار په مضر حجت دی، په دی وجه د دوی خیانت او درواغ په
داګه معلوم سوه) نو (په داسی صورت کی ددعوی مخ به بدل سی، وصی چی اول وربانذی دعوی سوی
وه ، اوس د اخیستو دعوی کوونکی سو او وارثان چی اول یی دعوی کړه وه، دخیانت اوس په دوی
دعوی وسوه، په دی وجه اوس د فیصلی دا صورت سو چی اول به دوصیانو څخه دشاهدانو طلب وسی
داخیستو او کله چی دوی شاهدان د اخیستو پیش نه کړی نو (ددی (وارثانو) خلقو څخه دچا په مقابله کی
چی (ددی وصیانو دطرف څخه) ګناه (دغه ذکر سوی) ګناه سوی وه او (کوم چی په شریعت کی دمیراث
مستحق وی مثلاً د آیت دواقعی په صورت کی) دوه سړیان (وه) کوم چی (دقسم دپاره) دغه دواړه
(وصیان) دریدلی وه (اوس به) دا دواړه (د قسم دپاره) دریږی، بیا دواړه به (داسی) په خدای قسم واخلی
چی (د صیغی دقسم سره دا ووایی چی) په یقین سره زمونږ دا قسم (په وجه ددی چی بالکل د اشتباه څخه
ظاهراً او حقیقتاً پاک دی) ددی دواړو (وصیانو) تردی قسم زیات رښتیا دی (ځکه چی ددغه حقیقت که
څه مونږ ته علم نسته لیکن ظاهراً خو دغه مشتبه سو) او مونږ (دحق څخه) یوه ذره تجاوز نه دی کړی (که
نه) مونږ (که داسی وکړو نو) په دغه حالت کی سخت ظالمان یو (ځکه چی پردی مال قصداً بی اجازته
اخیستل ظلم دی دا هم سختول دقسم دی ، چی د حاکم په رایی باندی دی، بیا به په اصل مضمون سره

Maktaba Tul Ishaat.com

ورځخه قسم واخيستل سي چې صيغه يې په وجه ددې چې په فعل (كار) بل باندې دې داسې وي ، چې په خداى قسم زمونږ په علم كې مړي ددې دعوه كوونكو په لاس جام نه دې خرڅ كړې او كله چې دعلم دواقع كيدو اونه واقع كيدو څه ظاهري لارنه سي جوړيدې، په دې وجه ددې په واقع والي باندې زيات سخت قسم وركول سو چې لفظ د: احق پردې دلالت كوي چې حاصل يې دا سو چې ددې مدار چې كله پر ما باندې دې، په دې وجه قسم اخلم لكه څنګه چې په دې كې دظاهري درواغو څه ثبوت نه سي كيدې دغه ړول په حقيقت كې درواغ هم نه دې او دا قرينه فائده كوي چې دلته قسم په علم باندې دې او چونكې ددې درواغجن والي بغير د اقرار څخه هيڅكله نه سي ثابتيدې ، په دې وجه په دې كې چې كوم حق وهل سوي وي ، دا به ډير سخت ظلم وي ، نوعجيبه نه ده چې دلته (ظالمين) په دې وجه ويل سوي وي) دا (قانون چې په دوو آيتونو كې تول ذكر سو) ډير نږدې ذريعه ده ددې كار چې دغه (وصيان) خلق واقعه په ټيک طور سره ښكاره كړي (كه زيات مال نه وي سپارل سوي قسم دې وخوري، اوكه سوي وي نو دګناه څخه دې وبيريږي، انكار دې وكړي، دا حكمت خو په قسم د وارثانو كې دې او دا ټول اړخونه ددې دپاره دې چې حقدارانو ته د دوى حق ورسول سي چې كوم روا سوي او غوښتل سوي دې ، ځكه چې كه وصيانو ته قسم نه وي روا او وصيان د مال په سپارلو كې رښتني وي نو د دوى دتهمت دليرى كيدو به څه طريقه نه وه اوكه چيرې دوى درواغجن وي نو د وارثانو دحق ثابتيدو به څه طريقه نه وه، او اوس چې دوى رښتيني وي، نو د الزام څخه خلاص سوه اوكه درواغجن وي نو شايد چې د درواغو دقسم څخه وبيريږي، انكار وكړي دقسم څخه ، نو د وارثانو حق به ثابت سي ، اوكه د وارثانو قسم روا نه واى او شرعاً دحق څخه انكار نه واى نو دوصيانو دحق ثابتولو به هيڅ طريقه نه وه او اوس دوارثانو دحق والي په وخت كې د دوى حق ثابتيدې سي او دحق د نستوالي په وخت كې دقسم څخه په انكار سره به دوصيانو حق ثابت سي، وروسته دوصيانو دقسم په حكمت كې دوه شقونه دې او ، يَـأْتُوا بِالشَّهَادَةِ : دواړو لره شامل دې او دوه شقونه د وارثانو دقسم په حكمت كې دې ، په دوى كې دويم شق د وصيانو دقسم په اول شق كې دا خل دې او اولني شق د ، أَوْ يَخَافُوا:مدلول دې، وروسته په مجموعه دواړو قسمونو كې دټولو شقونو رعايت دې) او دالله ﷻ څخه بيره كوي (او په معاملو اوحقونو كې درواغ مه واياست) او (دا حكمونه) واوري (يعنې وېې منى) او (كه خلاف وكړې نو فاسقان به سي) الله ﷻ فاسقانو خلقو ته (دقيامت په ورځ د فرمانبردارو ددرجو طرف ته) رهنمايي نه كوي (بلكې د نجات موندو په وخت كې به هم تر دوى كم وي نو داسې تاوان ولې قبلوى)

معلومات اومسئلې: مسئله: مړي چې چاته خپل مال وسپاري او د ورته ووايي چې دا به فلاني چا او نورو ته وركړې ، دغه سړى وصي دې ، يعنې وصيت ورته سوي دې او دا يو سړى هم كيدې سي او زيات هم.

مسئله: دوصي مسلمانان والي اوعادل والي كه په سفركي وي اوكه په كلي كې ښه دې ، لازم نه دې .

مسئله: په جګړه كې چې كوم سړى دزياتي ثابتوونكى وي، مدعي يعنې دعوى كوونكى دې اوهغه بل مدعي عليه يعنې دعوى ورباندې سوى ده .

مسئله: اول شاهدان دمدعي څخه اخيستى سي، نوكه دې دشرعي قاعدې مطابق شاهدان پيش كړي نو

Maktaba Tul Ishaat.com

مقدمه به دی وکټي، البته که دی دقسم څخه انکار وکړي نو مقدمه به بیا مدعی وګټي .

مسئله: دقسم خستول دوخت دځای په مناسبت سره لکه چې په ذکر سوی آیت کې سوی دی ، دا دحاکم په رایه باندی ده ، لازمه نه ده، ددی آیت څخه هم لازموالی نه ثابتیږی او دنورو آیتونو او روایتونو څخه یې اطلاق ثابت دی .

مسئله: که مدعاعلیه دخپل یوکار متعلق قسم خوری نو الفاظ دی دا ووایې چې زه ددی کارڅخه نه یم خبر.

مسئله: که دمیراث په مقدمه کې وارث مدعا علیه وی نو چاته چې په شریعت کې میراث رسیږی، قسم به پر هغوی راځي ، برابره خبره ده که هغه یو وی او که ډیر وی اوکوم چې وارثان نه وی یعنی میراث ورته نه رسیږی ، پر هغو به قسم نه وی (بیان القرآن)

(دیوه کافر شاهدی دبل کافر په معامله کي قابل قبول ده)

(دالله ﷻ قول دی) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ : تردی قول پوری ، آخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ : په دی آیت کې مسلمانانو ته حکم ورکړل سوی دی ، چې کله په تاسې کې دچامرګ راسي نو دوه داسې سړیان وصیان جوړ کړی چې ستاسې څخه وی اونیکان وی او که د خپل قوم سړیان نه وی نو دپردی قوم یعنی کافرانو څخه یې جوړ کړی .

ددی څخه امام ابوحنیفه رحمه الله علیه دامسئله را ایستلی ده چې دکفارو شاهدی دځینو په ځینو باندی جائز ده ځکه چې په دی آیت کې یې دکفارو شاهدی په مسلمانانو باندی جائز کړی ده، لکه چې د، آخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ: څخه ښکاره ده، نو دکفارو شاهدی دځینو په ځینو باندی په طریق اولی جائز ده .

لیکن وروسته په آیت ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ: تردی قول پوری ، وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ سره یې دکفارو شاهید په مسلمانانو باندی منسوخه کړه لیکن دکفارو شاهدی دځینو په ځینو باندی هم دغه شان باقی ده (قرطبی، احکام القرآن للجصاص رحمه الله)

دامام صاحب رحمه الله دمذهب تائد ددې حدیث څخه هم کیږي چې یو یهودی زنا وکړه ، نو نورو یهدیانو ورله تور کی دنبی کریم ﷺ په حضور کی یې پیش کی ، ده ﷺ چې دده دا حالت ولیدی نو دوجهی پوښتنه یې وکړه ، نو دغو خلقو ورته وویل چې ده زنا کړی ده ، نو ده ﷺ دشاهدانو دشهادت څخه وروسته په ده درجم حکم وکی . (جصاص)

(په کوم سړی چې دچا څه حق وی هغه دی قید کول کیږی)

(دالله ﷻ قول) تَحْبِسُونَهُمَا: ددی آیت څخه یو اصول معلوم سو چې دکوم سړی ی په چا څه حق واجب وی ، ده لره ددغه حق دپاره دضرورت په وخت کې قید کول کیږی (قرطبی)

(دالله ﷻ قول دی) مِنْ بَعْدِ الصَّلٰوةِ څخه دماخیګرلمونځ مراد دی ددی وخت دغوره کولو وجه دا ده چې ددی وخت تعظیم به اهل کتابو ډیرکوی، درواغ ویل په داسې وخت کې خاص د دوی په نزد منع وو، ددی څخه معلومه سوه چې په قسم کې دیو خاص وخت یاخاص مقام اونورو قیدلګول نسته او قسم سختول جائز دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اُجِبْتُمْ ۭ قَالُوْا لَا عِلْمَ لَنَا ۭ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ

په کومه ورځ چې جمع کړي الله پیغمبران بیا به ووایي تاسي لره څه جواب درکړی سوی وو ؟ دوی به ووایي چي مونږ ته علم نسته ، ته یې په پټو خبرو ،

الْغُيُوْبِ ﴿۱۰۹﴾ اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِيْ عَلَيْكَ وَ

پوهیدونکی ، کله چې ووایي الله ای عیسیٰ دمریمی زویه ، یاد کړه زما احسان چې په تاسوی

عَلٰى وَالِدَتِكَ ۘ اِذْ اَيَّدْتُّكَ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ۣ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي

دی او ستا په مور باندی کله چې مدد وکی ما ستا په روح پاک سره تا به خبری کولی دخلقو سره

الْمَهْدِ وَكَهْلًا ۚ وَاِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ

په غیږکی او په لوی عمرکی ، او کله چې وښووی ما تا ته کتاب او دپوهی خبری او تورات

وَالْاِنْجِيْلَ ۚ وَاِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّيْنِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ بِاِذْنِيْ فَتَنْفُخُ فِيْهَا

او انجیل او کله چې تا به جوړوی دختی څخه ۔ دمرغه صورت زما په حکم سره بیا به پوکل کول

فَتَكُوْنُ طَيْرًا بِاِذْنِيْ وَتُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ بِاِذْنِيْ ۚ وَاِذْ

تا به دی کی نو سو به الوتونکی زما په حکم سره او جوړوی به دی دموږ څخه ړوند پیدا سوی او فس (پیدا سوی) زما په حکم سره او کله

تُخْرِجُ الْمَوْتٰى بِاِذْنِيْ ۚ وَاِذْ كَفَفْتُ بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ عَنْكَ اِذْ

چې به تاژوندی را ویستل مړی زما په حکم سره او کله چې منع کړل ما بنی اسرائیل ستا څخه کله

جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۱۰﴾

چې ته راغلی دوی ته په ښکاره نښانو سره نو وویل کافرانو ددوی څخه نورهیڅ نه دی دا خو جادو دی ښکاره .

دآیتونو ترون: لوړ دمختلفو احکامو ذکر وسو او په مینځ کی په دوی دعمل ترغیب او په مخالفت یې بیرول وفرمایل سوه نو اوس ددی دتاکید دپاره په راتلونکی آیت کی دقیامت هیبت ناک واقعات را یادوی چې د خلقو دفرمانبرداری طرف ته زیاته مینه پیدا سی او دمخالفت څخه منع سی او دقرآن مجید طرزهم اکثر داسی دی ، بیا دسورت په آخر کی داهل کتابو مکالمه ذکر سوی ده ، چې په تیرو دیرو آیتونو کی ذکر سوه چې ددی مقصد اهل کتابو ته دحضرت عیسی ؑ متعلق ځینی مضامین اوروول

Maktaba Tul Ishaat.com

دی ، چې په دې سره د هغه بندګۍ ثابته سي او د اولوهیت نفي ورڅخه وسي (یعنې دا معلومه سي چې دی بنده دی ، خدای نه دی) که څه هم ددې خبرو واقع کیدل به په قیامت کې وي (یعنې دا خبرې اترې به په قیامت کې کیږي)

لنډتفسیر: (دغه ورځ به خومره هیبت ناکه وي) په کومه ورځ چې به الله ﷻ ټول پیغمبران (سره د دوی د امتونو) جمع کړي بیا (په دې امتونو کې چې کوم ګنهګار وي ، دوی ته د زورنې او اورولو دپاره به دې پیغمبرانو ته) ارشاد وفرمایي چې تاسې ته (ددې امتونو دطرف څخه) څه جواب رسیدلی وو ، دوی به عرض وکړي چې (ظاهري جواب خو مونږ ته معلوم دی او دغه به بیان هم کړو ، لیکن د دوی په زړونو کې چې څه وي دهغه) مونږ ته هیڅ خبر نسته (دغه به تاسې ته معلوم وي ځکه چې) تاسې بیشکه چې دپټو خبرو پوره علم لرې (مطلب دا دی چې یوه ورځ به داسې وي او دعملونو اوحالاتو پوښتنه به کیږي، په دې وجه تاسې لره دمخالفت اونافرمانۍ څخه بیریدل په کار دي او په دغه ورځ به دحضرت عیسی ؈ سره خاصې خبرې اترې وي) کله چې الله ﷻ ارشاد وفرمایي چې ای عیسی علیه السلام زوی دمریم زما انعام یادکړه (ددې دپاره چې خوند بې زیات سي) کوم چې پر تا باندې او ستا پر مور باندې (په مختلفو وختونو کې په مختلفو صورتونو سره سوی دی مثلاً) کله چې ماستا په روح القدس (یعنې جبرائیل ؈) سره امداد او تائید وکی (او) تا به دخلقو سره (په دواړو حالتونو کې یو دول) خبرې کولې (دمور) په غیږه کې هم اوپه لوی عمرکې هم (په دواړو خبرو کې څه فرق نه وو) اوکله چې ماتاته (آسماني) کتابونه او دپوهې خبرې او (خاص کر) تورات اوانجیل وښوول اوکله چې به دتادختې څخه یو شکل جوړوی لکه دمرغه شکل چې وي زما په حکم سره بیا به تا په دې (جوړکړي شکل) کې دننه پوکی (پُف) کوی چې دهغه څخه به (بالکل حیوان) مرغه جوړې دی زما په حکم سره او تا به جوړول دمورڅخه پیدا ړانده او دفس (جذام) ناروغان زما په حکم سره اوکله چې مابنی اسرائیل (کوم چې ستاڅخه مخالف وه) ستاڅخه (یعنې ستادقتل او اهلاک څخه) لیرې ودرلودل ، کله چې (دوی تاته ضرر رسول وغوښتل کله چې) تا دوی ته (دخپل نبوت) دلیلونه (معجزې) را وړې وې ، بیاچې په دوی کې کوم کافران وه ، هغوی ویلي وه ، چې دا (معجزې) بغیر دښکاره جادوڅخه نور هیڅ هم نه دي .

معلومات اومسئلې: (په قیامت کې به دانبیاء علیهم السلام څخه تر ټولو اول پوښتنه کیږي)

(دالله ﷻ داقول) يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ : په قیامت کې به که څه هم د اول څخه تر آخره پورې پیداسوې ټول مخلوقات په یوه ډاګ میدان کې ولاړ وي او دهرځای دهرملک او دهرې زمانې انسانان چې وي هغه به په دې میدان کې حاضروي او دټولوڅخه به د دوی دتمام عمر دعملونو حساب اخیستل کیږي لیکن په بیان کې یې په خصوصیت سره دانبیاؤ علیهم السلام ذکر وکړي ، يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ: یعنې هغه ورځ یاده کړه په کومه ورځ چې به الله ﷻ ټول رسولان دحساب دپاره جمع کړي، مراد دا دی چې جمع خوبه ټول عالم کړي مګر ترټولو اول سوال به دانبیاؤ علیهم السلام څخه وي چې ټول مخلوق بې ووینې چې نن ورځ هیڅوک د حساب اوسوال جواب څخه مستثنی نه دی بیا درسولانو څخه چې کوم سوال کول کیږي، هغه دا دی چې ، مَاذَآ اُجِبْتُمْ :یعنې کله چې تاسې خلقو خپل خپل امتونه دالله ﷻ او دهغه دحق دین طرف ته

Maktaba Tul Ishaat.com

راوبلل، نودغه خلقو تاسی لره څه جواب درکړی وو؟ او آیا دوی ستاسی په ښوول سوو حکمونو باندی عمل وکی ، اوکه انکار اومخالفت یی وکی ؟ ددی سوال مخاطب به که څه هم انبیاء علیهم السلام وی، لیکن په حقیقت کی اوروول یی د دوی امتونو ته مقصود دی ، چی امتونو کوم نیک اوبدعملونه کړی وی دهغه شاهدی ترټولو اول دانبیاؤ علیهم السلام څخه واخیستل سی ، د امتونو دپاره به دا وخت ډیر نازک وی، چی دوی به په دی بی هوښه کوونکی هنګامه کی دپیغمبرانو دشفاعت په طمع وی او دی طرف ته به د دوی په باره کی د پیغمبرانو څخه داسوال وسی ، نو ښکاره خبره ده چی رسولان څه غلطه یادواقعی څخه خلاف خبره خو کولی نه سی، په دی وجه د ګناهګارانو اومجرمانو سره به بیره سی چی کله چی په خپله پیغمبران زمونږ د جرم شاهدان جوړسی نو اوس پاته څوک سو چی زمونږ مدد یا سفارش به وکړل سی، پیغمبران ﷺ به ددی سوال دا جواب ورکړی قَالُوْ لَاعِلْمَ لَنَا اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ : یعنی مونږ ته د دوی دایمان او عمل هیڅ علم نسته ته په خپله په ټولو پټو شیانو ښه خبر یی .

(دیوشک لیری کول)

دلته سوال دا دی چی دهر رسول علیهم السلام د امت هغه خلق چی کوم دده تر وفات وروسته پیدا سوی دی ، د دوی په باره کی خوکه څه هم دپیغمبرانو علیهم السلام دا جواب صحیح او صفا دی چی د دوی د ایمان اوعمل څخه دغه پیغمبران علیهم السلام خبر نه دی، ځکه چی دغیبو علم د الله ﷻ څخه ما سوا بل چاته نسته ، لیکن یو ډیر لوی شمیر د امت خو دهغو خلقو هم دی چی په خپله دپیغمبرانو علیهم السلام په کوششونو سره د دوی په لاسونو مسلمانان سوی دی او بیا د دوی د احکامو پیروی یی د دوی په وړاندی کړی ده ، دغه ډول هغه کافران کومو چی د دوی خبره نه ده منلی اومخالفت اودښمنی یی کړی ده ، د دوی په باره کی به دا وینا څنګه صحیح سی، چی مونږ ته د دوی د ایمان اوعمل علم نسته ، په تفسیربحر محیط کی دی چی امام عبدالله رازی ددی په جواب کی فرمایی چی دلته دوه شیان جلا جلا دی ، یوعلم دی چی معنی یی کامل یقین دی اودوهم ظن یعنی غلبه دګمان او ظاهره خبره ده چی یو انسان که دبل انسان په مخکی هم وی خو دده د ایمان اوعمل شاهدی که ورکولی سی، نو محض دغالب ګمان په اعتبار سره ورکولی سی ، که نه وی نو د زړونو راز اوحقیقی ایمان چی تعلق یی د زړه سره دی ، هغه خو هیچاته بغیر د الله ﷻ دوحی څخه نه سی معلومیدی په یقینی طور سره ، په هرامت کی دمنافقانو ډلی پاته سوی دی چی په ظاهره به یی ایمان هم راوړی او دحکمونو پیروی به یی هم کوله ، مګر په زړونوکی یی ایمان نه وو او نه دتابعداری څه جذبه وه، دلته چی څه وو توله ریا کاری وه ، البته ددنیا تول احکام پر ظاهرو کارونو باندی بنا کیږی ، کوم سړی چی خپل ځان ته مسلمان وایی او دخدای ﷻ دحکمونو تابعداری کوی، او داسلام اوایمان څخه خلاف دده څخه قول اوفعل ثابت نه وی انبیاء علیهم السلام او د دوی امتونه دده ته په مومن صالح ویلو باندی مجبور وه، برابره خبره ده که دی په زړه کی مومن مخلص وی یا منافق، په دی وجه نبی کریم ﷺ فرمایی .

نَحْنُ نَحْكُمُ بِالظَّوَاهِرِ وَاللهُ مُتَوَلِّي السَّرَآئِرِ .

یعنی مونږ په ظاهرو علمونو باندی حکمونه جاری کو د زړونو دپټو رازونو متولی یوازی په خپله الله ﷻ دی

ددې قاعدې لاندې په دنیا کې خو انبیاء علیهم السلام او د دوی نائبین، خلفاء او علماء به په ظاهري عملونو دنیک گمان په مطابق دنیک مومن کیدو شاهدي ورکولې سې لیکن نن هغه ددنیا عالم چې تول دار او مدار یې پر ظن او گمان وو، ختم سو، دا دمحشر میدان دی چې دلته اوس دوړې څخه شپږه ایستل کیږي، حقیقتونه به ښکاره سي، دمجرمانو په مقابله کې به اول دنورو خلقو څخه شهادتونه واخیستل سي، په دې سره که مجرمان مطمئن نه سي او دخپل جرم اعتراف ونه کړي، نو دخاص قسم سرکاري شاهدانو څخه به کار واخیستل سي، د دوی پر خُلو او ژبو به مهر ولګول سي او چپ به سي او د مجرم دلاسونو پښو اوڅرمنې څخه به شاهدي واخیستل سي، دوی به دهر یو کار پوره حقیقت بیان کړي، اَلْیَوْمَ نَخْتِمُ عَلَی اَفْوَاهِهِمْ وَتُکَلِّمُنَا اَیْدِیهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا کَانُوا یَکْسِبُونَ: دغه وخت به انسانانو ته معلومه سي چې زما ټول اندامونه درب العالمین خفیه (یعنې پټ) پولیس وو، د دوی د بیان څخه وروسته به د انکار هیڅ صورت باقي پاته نه سي.

لنډه دا چې ددغه عالم هیڅ حکم محض په گمان او اندازه سره نه سي چلیدی بلکې په علم اویقین به دهر شي دار او مدار وي او دا خو اوس معلومه سوه چې دیو سړي د ایمان اوعقل حقیقي اویقیني علم ماسوا د الله ﷻ څخه بل هیچاته نسته په دې وجه د انبیاؤ علیهم السلام څخه چې کله په محشر کې دا پوښتنه وسي چې ،مَاذَا اُجِبْتُمْ: نو ددې سوال حقیقت به دوی وپیژني چې دا سوال زمونږ څخه په دنیاکې نه کیږي چې جواب یې دگمان په بنیاد سره ورکو، بلکه دا سوال په محشرکې کیږي چې دلته دیقین څخه ماسوا بله خبره نه سي چلیدی په دې وجه به د دوی دا جواب وي چې مونږ ته د دوی متعلق هیڅ علم نسته، یعنې یقیني علم نسته، دا بالکل په ځای او درست دی.

(یو سوال او دهغه جواب د انبیاؤ علیهم السلام د انتهایي شفقت اظهار)

دلته داسوال پیدا کیږي چې دامتونو دقبول اونه قبول، فرمانبرداري اونافرماني کوم واقعات چې د دوی په مخکې سوي دي، ددې څخه چې په غالب گمان دوی ته کوم علم حاصل سوی وو، ددې سوال په جواب کې خو په کار وه چې هغه یې بیان کړې وی، یوازې ددې علم دیقین د درجې حواله په الله ﷻ باندې کیدی سي، مگر دلته انبیاء علیهم السلام دخپلو معلوماتو او پیښو واقعاتو گرسره څه ذکر ونه کې، خبره یې دالله ﷻ وعلم ته حواله کړه اوخاموش سول، حکمت په دې کې دا وو چې انبیاء علیهم السلام په خپلو امتونو او د خدای په عام مخلوق بې انتهاء شفقت کوونکې وي، د دوی متعلق به داسې څه خبره دخُلې څخه ایستل ونه غواړي چې دا خلق وربانډې په گرفت کې راسي، البته که څه مجبوري وی نو بیا به وایې چې دلته د یقیني علم دنیستوالي عذر موجود وو، ددې عذر څخه یې کار واخیستی، په خپلو ژبو یې دخپلو امتونو خلاف د څه ویلو څخه خلاصیدې سول، نو په دې ډول سره ددې څخه خلاص سول.

(په محشر کې دپنځو شیانو پوښتنه)

لنډه دا چې په دې آیت کې دقیامت د هیبتناک منظر یوه لږ غوندې ننداره وښوول سوه چې دحساب کتاب په میدان کې دالله ﷻ دټولو څخه زیات ښه اومقبول رسولان ولاړ دي اولړزیږي نو چې دنورو به څه

Maktaba Tul Ishaat.com

حال وي، په دې وجه ددغه ورځې فکر دنن ځخه په کار دی، اودعمر فرصت ددغه ورځې دتیارۍ دپاره غنیمت ګڼل په کار دي، دترمذي شریف په یوحدیث کې دي چې نبي کریمﷺ فرمایلي دي.

وعن ابن مسعودعن النبی صلی الله علیه وسلم قال: لاَ تَزُوْلُ قَدَمَا ابْنِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتّٰى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ، عَنْ عُمْرِهٖ فِيْمَا أَفْنَاهُ وَعَنْ شَبَابِهٖ فِيْمَا أَبْلاَهُ وَعَنْ مَالِهٖ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيْمَا أَنْفَقَهُ وَمَاذَا عَمِلَ فِيْمَا عَلِمَ؟ رواه الترمذی وقال، هذاحدیث غریب.

یعني دیوسړي قدم به په محشر کې ترهغه وخته پورې مخ ته ونه ښورې ترڅو چې دده ځخه دپنځو سوالونو پوښتنه نه وي سوې، یو دا چې خپل لوی عمر او شپې ورځې دي په څه کې خرڅې کړې، دوهم دا چې خاص کر دځوانۍ زمانه چې دقوت اوطاقت زمانه وه په کومو کومو کارونو کې يې خرڅه کړه، دریم دا چې په ټول عمر کې چې کوم مال ده ته رسیدلی دا دکوم ځای وو اؤ په کومو حلالو یا حرامو طریقو سره يې ګټلی وو، څلورم دا چې مال يې په کومو جائزو یا ناجائزو کارونو کې خرڅ کړی وو، پنځم دا چې په خپل علم دی تر کومه اندازې پورې عمل کړی وو.

الله ﷻ دخپل انتهايي رحمت اوشفقت په بنا سره ددې امتحان دسوالونو پرچه هم اول دنبي کریم ﷺ په ذریعه امت ته وښووله، اوس د دوی کار یوازې دومره پاته سو چې ددې سوالونو حل وپیژني اومحفوظ يې کړي، ترامتحان مخکې دسوالونو ښوول وروسته هم که څوک په دې کې فیل سي نو ترده زیاته محرومه څوک کیدی سي؟

(دحضرت عیسی ؑ سره خصوصي سوال او جواب)

په اولنۍ آیت کې يې دعامو پیغمبرانو حال اؤ د دوی ځخه دسوال اوجواب ذکر وکې په دوهم آیت کې او تردې وروسته دسورت تر ختمیدو پورې په نهو آیتونوکې په خصوصیت سره دبني اسرائیلو دآخري پیغمبر حضرت عیسی ؑ ذکر او پرده دالله ﷻ دخاصو انعامونو دځه تفصیل بیان دی او په محشر کې دده ځخه د یوخصوصي سوال او دهغه دجواب ذکر دی چې په راتلونکو آیتونو کې راځي.

ددې سوال اوجواب مطلب بني اسرائیلو او ټول مخلوق ته هم ددغه هیبتناک منظر ښوول دی، چې په دغه میدان کې کله د روح الله اوکلمة الله ځخه پوښتنه کیږي چې ستا امت چې ستا ځخه دخدای ﷻ سره شریک جوړ کړی وو، نو دی به سره دټول عزت، لویي او پاکدامنۍ اونبوت څومره وبیریږي، خپله پاکي به دالله ﷻ په دربار کې پیش کړي چې یو وار نه بار بار په مختلفو بیانونو سره به ددې نفي وکړي چې ما دوی ته دا ښوونه نه ده کړې اول به عرض وکړي چې، سُبْحَانَكَ مَا يَكُوْنُ لِيْ أَنْ أَقُوْلَ مَا لَيْسَ لِيْ بِحَقٍّ: یعني پاک يې ته زما څه طاقت وو چې ما به داسې خبره کوله چې ماته دهغه حق نه وو.

دخپلې بیزارۍ دوهم اړخ داسې اختیاروي، چې په خپله الله ﷻ خپل شاهد جوړوي، فرمايي چې که ما داسې ویلي وي، نو تاته به يې خامخا علم وي، ځکه چې ته زما د زړه د رازونو ځخه هم خبر يې، دقول او فعل به څه وایم ته خو، عَلاَّمُ الْغُيُوْبِ: یعني په ټولو رازونو خبردار يې.

ددې ټولو ابتدايي خبرو ځخه وروسته د اصل سوال جواب ورکوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

(دحضرت عیسي ﷺ جواب دالله ﷻ په دربار کي)

یعنی دا چی ما دوی ته هغه ښوونه کړی ده دکومی چی تاما ته حکم فرمایلی وو ، أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ: یعنی دالله ﷻ عبادت کوی چی زما هم رب دی او ستاسی هم ، بیا ددی تعلیم څخه وروسته ترڅو چی زه په دی خلقو کی وم ، نو زه د دوی دخبرو اوکارونو شاهد وم (دغه وخت په دوی کی چا داسی نه وه ویلی) بیاچی کله تازه لوړ کړم نوبیا دا خلق ستاسی په نګرانی کی وه تاسی د دوی د خبرو او کارونو څخه ښه خبردار یاست .

(په حضرت عیسي ﷺ باندی دخو خاصو انعامونو ذکر)

په دی آیتونوکی چی کوم د حضرت عیسی ﷺ دسوال جواب ذکر سوی دی ، تردی مخکی دهغو خاصو انعامونو ذکر دی ، چی په خاص طور سره په حضرت عیسی ﷺ باندی سوی وه ، او دمعجزو په شکل کی ده ته ورکول سوی وه، په دی ټولوکی یی یو طرف ته دخاصو انعاماتو اوبل طرف ته دجواب طلبی منظر ونیوی اودبنی اسرائیلو دی دواړوقومونوته یی خبرداری ورکړه په کوموکی چی یوه دده سپکاوی وکی او قسم قسم تهمتونه یی ورباندی ولګول، ازار یی ورته ورسوی او دوهم قوم دی خدای یا دخدای زوی جوړ کی ، دانعاماتو د ذکر کولو سره یی اول قوم او په سوال جواب ذکر کولو سره یی دوهم قوم ته خبرداری ورکړه ، دلته چی یی دکرمو انعامونو په تفصیل سره ذکر په خو آیتونوکی کړی دی ، په دی کی یوه جمله زیاته دغورقابله ده چی په دی آیت کی ارشاد شوی دی ، تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا: یعنی یوه خاصه معجزه کومه چی حضرت عیسی ﷺ ته ورکړل سوه ، هغه دا ده چی ته به دخلقو سره د وړوکوالی په حالت کی هم خبری کوی او د زوړعمر په حالت کی هم، په دی کی اوله خبره خو معجزه کیدل او خاص انعام والی یی ښکاره دی دپیداکیدو په اولنی حالت کی کوچنی دخبرو کولو قابل نه وی ، کوم کوچنی چی دمور په غیږه یا زنګو کی خبری وکړی نو دا به دده خاص امتیاز وی ، په زوړ حالت کی چی دخبروکولوکوم ذکر دی نو داخوځه دذکر قابله خبره نه ده ، هر سړی په دی عمر کی خبری کوی، لیکن چی دحضرت عیسی ﷺ پر خصوصی حالت باندی غور وکړل سی نو دا به هم معجزه ثابته سی ځکه چی حضرت عیسی ﷺ د زوړوالی عمر ته تر رسدو مخکی اول ددنیا څخه پورته سو ، اوس ددی ځای د انسانانو سره دده خبری کول زوړ عمر ته تر رسیدو وروسته هلته کیدی سی کله چی دی دوباره دی دنیا ته تشریف راوړی لکه چی دمسلمانانو په جمع سره عقیده ده او دقرآن اوحدیثو څخه ثابته ده، ددی څخه معلومه سوه چی لکه څنګه چی دحضرت عیسی ﷺ په ورکوتوالی کی خبری کول معجزه وه ، دغه شان په زوړعمرکی یی خبری کول هم دی دنیا ته د دوباره راتلو په وجه معجزه ده .

وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ أَنْ آمِنُوا

او کله چی ما په زړه کی واچوله حواریانو ته چی ایمان راوړی

بِي وَبِرَسُولِي قَالُوا آمَنَّا وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ ﴿١١١﴾ إِذْ قَالَ

په ما او زما په رسول ﷺ نووی ویل مونږ ایمان راوړو او ته شاهد سه چی مونږ فرمانبرداریو ، کله چی وویل

Maktaba Tul Ishaat.com

الْحَوَارِيُّوْنَ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيْعُ رَبُّكَ اَنْ يُّنَزِّلَ

حواريانو ای عیسی زوی دمریمې آیا ستا رب کولی سی چې نازله کړی

عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ ؕ قَالَ اتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾

په مونږ باندی سترخوان دړک دآسمان څخه، وې ویل وبیریږي دالله څخه که تاسی ایمان داریاست،

قَالُوْا نُرِيْدُ اَنْ نَّاْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُنَا وَنَعْلَمَ اَنْ قَدْ

دوی وویل چې مونږ غواړو چې وخورو ددې څخه او مطمئن سی زمونږ زړونه او مونږ پوه سو چې

صَدَقْتَنَا وَنَكُوْنَ عَلَيْهَا مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۱۱۳﴾ قَالَ عِيْسَى ابْنُ

تا مونږ ته رښتیا وویل او سو مونږ په دې باندی شاهد ، وویل عیسی دمریمې زوی

مَرْيَمَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اَنْزِلْ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ تَكُوْنُ لَنَا عِيْدًا

ای الله ربه زمونږه ! نازله کړی په مونږ باندی سترخوان دړک دآسمان څخه چې سی دغه ورځ

لِّاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا وَاٰيَةً مِّنْكَ ۚ وَارْزُقْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۱۱۴﴾

اخترزمونږ دمخکنیو او وروستنیو دپاره او نخښنه وی ستا دطرفه او رزق راکړی مونږ ته او هم ته بنه رزق ورکونکی یې

قَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ۚ فَمَنْ يَّكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ فَاِنِّيْٓ اُعَذِّبُهٗ

وویل الله زه بیشکه نازلومه هغه سترخوان په تاسی بیا چې څوک په تاسی کی ناشکري وکی ددې څخه نوزه به ده لره عذاب ورکړم

عَذَابًا لَّآ اُعَذِّبُهٗٓ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۱۵﴾ ع

داسی عذاب چې چا ته به یې ورنه کړم په جهان کی

تفسیر: او کله چې ما حواريانو ته (په انجیل کی ستا په ژبه) حکم وکی چې تاسی په ما او زما په رسول (عیسی علیه السلام) ایمان راوړی نو دوی (په جواب کی تاته) وویل چې مونږ (په خدای او رسول یعنی په تا) ایمان راوړو او ته شاهد سه چې مونږ (دخدای او ستا) پوره فرمانبردار یو، هغه وخت دیادولو قابل دی کله چې حواريانو (حضرت عیسی علیه السلام ته) عرض وکی چې ای عیسی زوی دمریم (علیه السلام) آیا ستا رب داسی کولی سی (یعنی څه دحکمت او نورپه شان کار خو ددې منع کوونکی نسته) چې پر مونږ د آسمان

Maktaba Tul Ishaat.com

ځخه څه خوراک (پوخ کړی) نازل کړی هغوی ورته وویل چې دخدای څخه وبیریږی که تاسی ایماندار یاست (مطلب دا دی چې تاسی خو ایماندار یاست په دی وجه دخدای څخه وبیریږی او د معجزو دفرمائش څخه چې ضرورت ورته نسته، نو د ادب څخه خلاف ده په دی وجه ورځخه ځان وساتی) دوی وویل چې (زمونږ مقصود بی ضرورته فرمائش کول نه دی، بلکی دیو مصلحت په وجه ددی درخواست کوو هغه دا چې) مونږ (یوخو) دا غواړو چې (دبرکت حاصلولو دپاره) ددی څخه خوراک وکړو او (دوهم داغواړو چې) زمونږ زړونو ته (په ایمان) پوره اطمینان راسی او (مطلب د اطمینان دا دی چې) زمونږ دایقین نور زیات سی چې تاسی (په دعوه درسالت کی) مونږ ته رښتیا ویلی دی (ځکه چې څومره دلیلونه زیاتیږی نو هغومره پر دعوی یقین زیاتیږی) او (دریم دا غواړو چې) مونږ (دهغه خلقو په مخکی چا چې دامعجزه نه ده لیدلی) دشاهدی کوونکو څخه سو (چې مونږ داسی معجزه لیدلی ده چې د دوی په مخکی درسالت اثبات وکړای سو او د دوی دهدایاتو دا ذریعه جوړه سی) عیسی دمریم زوی (ﷺ) چې کله ولیدل چې دوی په درخواست کی د دوی غرض صحیح دی نو دالله څخه یی) سوال وکی چې ای الله ﷻ زمونږ پروردګاره! پر مونږ دآسمان څخه خوراک نازل کړه چې دغه (خوراک) زمونږ دپاره یعنی په مونږ کی چې کوم اول (یعنی په موجوده زمانه کی) دی او کوم چې وروسته (زماکی راتلونکی) دی دټولو دپاره یوه دخوشحالی خبره سی (دموجوده حاضرو خلقوخوشحالی په خوراک سره اوپه درخواست قبلیدو سره او د وروسته راتلونکو خلقو خوشحالی په خپلو مشرانو دانعام کیدو په وجه او دا عنایت خاص دی په مومنانو سره) او (زما پر پیغمبری) ستا دطرف څخه یوه نخښه سی (چې دمومنانو یقین زیات سی او په حاضرو منکرو یاغائبو باندی دلیل سی او دا مقصد دمومنانو اونورو ټولو دپاره عام دی) او ته مونږ ته (دغه سترخوان) راکړی او ته تر ټولو عطاء کوونکو څخه زیات ښه یی (ځکه چې نور ټول دخپلی نفعی دپاره څه ورکوی او ستا ورکول دمخلوق دنفعی دپاره وی په دی وجه مونږ خپلی نفعی پیش کوو، ستاسی ﷻ دسترخوان درخواست کوو) الله ﷻ په جواب کی) ارشاد وفرمایی چې (تاسی خلقو ته وفرمایاست چې) زه به دغه خوراک (د آسمان څخه) پرتاسی خلقو نازلوونکی یم بیا چې کوم سړی په تاسی کی ددی څخه وروسته (ددی) ناشکری وکړه (یعنی واجب حقونه یی عقلاً او نقلاً ادا نه کړل) نو زه به ده لره داسی سزا ورکړم چې دغه سزا به (ددغه وخت) په جهان والاوو کی هیچا لره ورنه کړم.

معلومات اومسئلې: (مومن لره دمعجزو مطالبه کول نه دی په کار)

(داقول دالله ﷻ) قَالَ اتَّقُوا اللَّهَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ: کله چې حواریانو دحضرت عیسی ﷺ څخه د آسمان څخه دسترخوان نازلیدو مطالبه وکړه نو دوی په جواب کی وفرمایل چې که تاسی ایمان داریاست نو دالله ﷻ څخه وبیریږی، ددی څخه معلومه سوه چې ایماندار بنده ته دا مناسب نه دی چې دی دا قسم فرمائش وکړی اوخدای ﷻ وازمایی او دالله ﷻ څخه دخرق عادت شیانو مطالبه وکړی بلکی ده لره په کار دی چې رزق او نور په هغه ذریعه وغواړی کومی طریقی چې الله ﷻ مقرری کړی دی.

(کله چې نعمت په غیر معمولي طور سره زیات وی نو دناشکری وبال یي هم زیات وی)

(دالله ﷻ) فَإِنِّي أُعَذِّبُهُ عَذَابًا لَا أُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ: ددی آیت څخه معلومه سوه چې کلمه نعمت غیر

Maktaba Tul Ishaat.com

عادي او عجيبه قسم وي نو ددې شكريه هم دمعمولي قسم څخه ډيره زياته په كار ده او په ناشكرۍ كولو په بې عذاب هم غير معمولي او عجيبه قسم كې راځي.

مائده (دسترخوان - خوانچه) د آسمان څخه نازله سوې وه او كه نه؟ په دې باره كې دتفسير ليكونكو اختلاف دى جمهور دنزول قائل دي يعني چې نازله سوې وه، دترمذي په حديث كې دعمار بن ياسر ؓ څخه نقل دي چې مائده د آسمان څخه نازله سوه، په دې كې ډوډۍ او غوښه وه او په دې حديث كې دا هم دي چې دې خلقو (يعني څينو) خيانت وكې او دراتلونكو ورځې دپاره يې ور څخه كښېښول، وروسته د بيزوګانو او خنزيرانو په شكل كې مسخ سول (نعوذ بالله من غضب الله)

او ددې حديث څخه دا هم معلوميږي چې دوى ددې څخه خوړلي هم وه لكه چې په، تأكُلُ: كې د دوى دا غرض هم ذكر دى البته دمخكې دپاره اېښوول منع وو (بيا القرآن)

وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ ءَاَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِيْ وَاُمِّيَ اِلٰهَيْنِ مِنْ دُوْنِ

او هغه وخت چې ووايي الله اى عيسىٰ دمريمې زويه آيا تا ويلي وو خلقو ته چې ونيسي ما او زما مور دوه معبودان ماسوا دالله څخه

اللّٰهِ ۭ قَالَ سُبْحٰنَكَ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اَقُوْلَ مَا لَيْسَ لِيْ ۤ بِحَقٍّ ۭ اِنْ كُنْتُ

وبه وايي چې پاك يې ته څه لائق دي ماله چې ووايم داسې خبره چې ماله دهغه حق نسته، كه ما داسې

قُلْتُهٗ فَقَدْ عَلِمْتَهٗ ۭ تَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِيْ وَلَآ اَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِكَ ۭ

ويلي وي نو تاته به خامخا معلومه وه، ته پوهيږې په هغه چې زما په زړه كې دي او زه نه پوهيږم په هغه چې ستا

اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ۝۱۱۶ مَا قُلْتُ لَهُمْ اِلَّا مَآ اَمَرْتَنِيْ بِهٖٓ اَنِ

په زړه كې دي، بيشكه ته پوهيږې په پټو خبرو، ماهيڅ نه دي ويلي دوى ته مګر هغه چې تايي ماته حكم كړى دى

اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ ۚ وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ ۚ

چې بندګي كوى دالله چې رب زما او رب ستاسې دى او زه د دوى څخه خبر وم ترڅو پورې چې په دوى كې وم

فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ ۭ وَاَنْتَ عَلٰي كُلِّ

بيا كله چې تا زه پورته كړم نو ته خبرلرونكى د دوى وې، او ته دهر شي څخه

شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝۱۱۷ اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۚ وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ

خبردار يې، كه ته دوى ته عذاب وركوې، نو دوى ستا بندګان دي، او كه ته دوى معاف كوې،

Maktaba Tul Ishaat.com

فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۱۸﴾

بیشکه چی ته یی زبردست حکمت والا

لنډتفسیر: او هغه وخت هم دیادولو قابل دی کله چی الله ﷻ (په قیامت کی حضرت عیسی ؑ ته، کفارو نصاراؤ ته د اورولو دپاره) وفرمایی چی ای عیسی زوی دمریم (په دی خلقو کی چی دچاعقیده د درو خدایانو وه یعنی دالله ﷻ سره بی به حضرت عیسی ؑ او حضرت مریم علیها السلام لره په خدایی کی شریک منی نو) آیا تا دی خلقو ته ویلی وه چی ما (یعنی حضرت عیسی ؑ) او زما مور (حضرت مریم ؑ) هم هم علاوه دخدای ښخه معبودان جوړکړی ، نو عیسی ؑ به عرض وکړی چی (توبه توبه) زه خو (په خپله عقیده کی) تا (دشریک ښخه) پاک ګڼم (لکه چی ته په واقع کی هم پاک یی، نو په داسی حالت کی) ما ته په هیڅ شان مناسب نه وه چی داسی خبره می کوله دکومی دونیا چی ما ته هیڅ حق نسته (نه اعتبار دخپلی عقیدی چی زه دیوخدای قائل او نه په اعتبار دالله دپیغام رسونکی چی ماته داسی پیغام نه دی راکړل سوی او دلیل زما ددی نه ویلو دا دی چی) که چیری ما (په واقع کی) ویلی وای نو تاته به دهغه (یقیناً) علم وای (مګر کله چی ستا په علم کی هم ما نه دی ویلی او که ما ویلی وای نو تاته به ښکه معلومه وای چی) ته زما د زړه دننه خبره هم پیژنی (نو چی په ژبه می ویلی وای د هغه علم به درته ولی نه وی) او زه (خو په مثل دنور مخلوقات دومره عاجز یم چی) ستا په علم کی چه ښه دی ، دا (بغیر ستا دښولو ښخه) نه پیژنم (لکه چی د نور مخلوقات هم دا حال دی وروسته) دټولو غیبو پوهیدونکی خاص ته یی (نو کله چی ماته خپل دومره عاجزوالی او ستا دومره لوی کمال ماته معلوم دی نو په خدایی کی دشرکت دعوی ښنګه کولی سم، تردی ځای پوری خو ددی خبری نفی وکړل سوه ، مخته اوس ددی په مقابله کی دخدای دیو والی ثابتول دی چی) ماخو دوی ته نور هیڅ نه دی ویلی یوازی دا (خبره) کومه چی تا ماته دوی ته دویلو دپاره فرمایلی وه چی تاسی دالله ﷻ بندګی اختیار کړی کوم چی زما رب دی او ستاسی هم رب دی او (تردی ځای پوری خو حضرت عیسی ؑ دخپل حالت ذکر وکی، مخ ته دهغه خلقو دحالت متعلق عرض کوی ښکه چی په : ءانت قلت للناس اتخذونی : کی خو په ډاګه سوال ددی خبری دی چی تا داسی کلمه ویلی ده او که نه ده، لیکن اشارةً ددی هم سوال معلومیږی چی دا ددری خدایانو عقیده دکوم ځای ښخه پیدا سوه ، وروسته حضرت عیسی ؑ په دی باره کی داسی عرض وکی چی) زه په (حال) د دوی خبر ووم ترڅو چی زه په دوی کی (موجود) وم (نو تردغه وخته پوری د دوی حال خو ما لیدلی دی ، ددغه متعلق زه بیان کولی سم) وروسته کله چی تازه لوړکړم (یعنی اول وار زه ژوندی د آسمان طرف ته او دوهم وار زه دوفات په طور) نو (دغه وخت یوازی) ته د دوی (په حال) خبر وی (ددغه وخت خبر ما ته نسته چی د دوی دګمراهی سبب څه وو او ښنګه وسو) او ته دهرڅه پوره خبر لری (تردی پوری خوبی خپله او د دوی معامله عرض کړه ، مخ ته اوس د دوی او دالله ﷻ د معاملاتو متعلق عرض کوی چی) که ته دوی لره (په دی عقیده) سزا ورکوی نو (هم ستا اختیار دی ښکه چی) دوی ستا بندګان دی (او ته د دوی مالک یی او مالک ته حق دی چی بندګانو لره د دوی په جرم باندی سزا ورکړی) او که ته

دوی معاف کړی نو (هم ستا اختیار دی ځکه چې) ته زبردست (قدرت والا) یې (نو په معافی هم قادر یې او) حکمت والا (هم) یې (نو ستا معافی به هم دحکمت موافق وی په دی وجه په دی کی هم څه بدوالی نه سی کیدی، مطلب دا دی چې په دواړو حالتونو کی ستا اختیار دی زه هیڅ دخل نه سم کولی)

(غرض دا چې حضرت عیسی ﷺ په اولنی عرض ، سُبْحَانَكَ: الخ کی خپله پاکی د دری خدایانو دعقیدی لرونکو څخه او ددی دتعلیم څخه، اوپه دوهم عرض ، وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ : کی خپله پاکی د دوی ددی عقیدی د مفصل سبب د پیژندو څخه ، او په دریم عرض ، إِنْ تُعَذِّبْهُمْ : کی خپله پاکی د دوی په باره کی دڅه تحریک کولو څخه ظاهره کړه او دا مقصود وو دالله ﷻ دحضرت عیسی ﷺ سره ددی خبرو ، وروسته په دی کی دی کفارو ته به پوره زورنه وی ، د دوی په ناپوهی چې حسرت به یې وی په خپله ناکامی)

معلومات او مسئلې: اهمي فائدې: وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى : الخ ، الله ﷻ په هر څه پوه دی نو دحضرت عیسی ﷺ څخه سوال ددی دپاره نه کوی ، چې معلومه ورته نه ده ، بلکی ددی مقصود دده قوم نصاراو لره ملامتول او زورنه ورکول دی ، چې څوک تاسی الله منی ، هغه په خپله ستاسی دعقیدی خلاف دخپلی بندګی اقرارکوی اوستاسی دبهتان څخه هغه پاک دی (ابن کثیر)

فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ: دحضرت مسیح ﷺ دمرګ یا آسمان ته دپورته کولو او نور بحث د سورت آل عمران په آیت ، إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ : کی تیر سوی دی ، هلته یې وګوری .

فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي: په دی آیت سره دحضرت عیسی ﷺ دمرګ اوآسمان ته دپورته کولو څخه په انکار باندی دلیل نیول صحیح نه دی ، ځکه چې دا خبری دقیامت د ورځی دی ، اودغه وخت به دآسمان څخه تر ارکښته کیدو وروسته ده ته حقیقی مرګ حاصل سوی وی ، لکه چې ابن کثیر په روایت دابو موسی اشعری یو حدیث نقل کړی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې کله دقیامت ورځ سی نو پیغمبران علیهم السلام او د دوی امتونه به راوغوښتل سی، بیا به حضرت عیسی ﷺ راوغوښتل سی، بیا به الله ﷻ ده ته خپل نعمتونه وریاد کړی او نژدی به یې کړی ، وبه فرمایی ورته چې ای عیسی ﷺ زوی دمریمی ، اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلَى وَالِدَتِكَ : تردی چې وبه فرمایی ، يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِنْ دُونِ اللَّهِ: حضرت عیسی ﷺ به انکار وکړی چې پروردګاره ! ما نه دی ویلی ، بیا دنصاراو څخه پوښتنه وسی نو داخلق به ووایی چې هاں دہ مونږته داحکم کړی وو ، تردی وروسته به دوی دوږخ ته راکش کړل سی.

إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ : یعنی ته په خپلو بندګانو ظلم اوبی ځایه سختی نه کوی ، په دی وجه که دوی لره سزا ورکړی نو په عین عدل اوحکمت به مبنی وی اوفرض کړه که معاف یې کړی ، نو دامعافی به هم د عجز په وجه نه وی ځکه چې ته غالب او زبردست یې ، په دی وجه یو مجرم ستا دقبضی څخه نه سی بهرکیدی چې ګوندی دی ستا څخه وتښتی او ته وربandی قوت نه کړی پیدا او چونکی حکمت والا هم یې، په دی وجه دا هم ممکنه نه ده، چې یو مجرم هم دغسی بی موقعی پریږدی، په هر حال کومه فیصله چې ته د مجرمانو په حق کی وکړی هغه به بالکل حکیمانه او قادرانه وی، دحضرت مسیح ﷺ دا خبری

Maktaba Tul Ishaat.com

په چونکه په محشر کې وي، کوم ځای چې به دکفارو په حق کې دڅه شفاعت او درحم دعا نه سې کیدی ، په دې وجه حضرت مسیح ﷺ د ، عَزِيزٌ حَكِيمٌ : په ځای ، غَفُورٌ رَحِيمٌ : اونور صفتونه اختیارنه کړل په خلاف ددې چې حضرت ابراهیم ﷺ په دنیا کې خپل پروردګار ته عرض کړی وو ، رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (ای پروردګاره! دې بتانو ډیر خلق ګمراه کړل نو څوک چې په دوی کې زما تابع سول هغه زما سړی دی او چا چې زما نافرمانی وکړه نو بیا ته غفور رحیم یې) یعنی اوس موقع ده چې ته په خپل رحمت سره آئنده دوی ته دتوبې او حق طرف ته د واپس کیدو توفیق ورکړې ، او تیر ګناهونه یې ورمعاف کړې (فوائد عثمانی)

ابن کثیر په روایت د ابو ذر ﷺ نقل کړی دی چې نبی کریم ﷺ یو وار توله شپه یو آیت وایه او هغه آیت ، إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ : وو ، بیا چې کله سهار سو نوما پوښتنه وکړه ، چې یارسول الله! تاسی دا آیت وایه ، رکوع مو په دې سره او سجده مو په دې سره کوله ، تردې چې سهار سو نو وی ویل ، چې ما خپل پروردګار ته دخپل ځان دشفاعت درخواست وکی نو ماله راکول سو او هغه انشاء الله چې ماته رسیدونکی دی ، دداسی سړی دپاره چاچې دالله ﷻ سره څه شی شریک کړی نه وی .

په بل روایت کې راځي چې ده صلی الله علیه وسلم دا ذکر سوی آیت ووایه او د آسمان طرف ته یې لاس لوړ کی او وی ویل ، اَللّٰهُمَّ اُمَّتِيْ : یعنی پروردګاره! زما په امت نظر درحمت وکړې او ده صلی الله علیه وسلم په ژړا سو نو الله ﷻ ورڅخه په ذریعه دجبرائیل امین پوښتنه وکړه ، چې ژاړې ولې؟ نو ده صلی الله علیه وسلم جبرائیل امین ددې خبرې څخه خبر کی نو الله ﷻ حضرت جبرئیل ﷺ ته وفرمایل ، چې ولاړ سه او (حضرت) محمد ﷺ ته ووایه چې زه به ډیر ژر ستا د امت په باره کې تا راضی کړم او تا به خفه نه کړم

قَالَ اللَّهُ هَٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ

وفرمایل الله پاك دا ورځ ده چې په کار به ورسی رښتونوته رښتیا د دوی د دوی دپاره دی باغونه چې بهیږی په ورڅخه لاندې نهرونه وسیږی به په دې کې همیشه همیشه ،

فِيهَا أَبَدًا ۚ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١١٩﴾ لِلَّهِ

الله ﷻ راضی سو د دوی څخه او دوی به راضی سی دهغه څخه ، دا ده لویه کامیابی ، دالله دپاره

مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٢٠﴾

دی حکومت دآسمانونو او دمځکی او څه چې ددې دواړو په مینځ کې دی او هغه په هرڅه باندې قادر دی .

دآیتونو تړون: لوړ په دواړو رکوع ګانو کې دقیامت د ورځې دعملونو او حالاتو دحساب کتاب او سوال او جواب ذکر دی اوس مخ ته ددغه لټون او حساب نتیجې ذکر کول کیږی .

لنډتفسیر: (ددې ټولو خبرو اترو څخه وروسته) الله ﷻ به ارشاد وفرمایې چې دا (دقیامت ورځ) هغه ورځ ده چې کوم خلق (په دنیا کې په عقیدو او عملو او قولونو کې) رښتینی وه (چې هغه رښتیا یې ویلی یې اوس

Maktaba Tul Ishaat.com

ښکاره کیږي په کومو کې چې انبیاء علیهم السلام کوم چې ورسره خطاب کیږي . او هغه مومنان د کومو د ایمان چې انبیاء او ملائکې علیهم السلام ټول شاهدي ورکړي ، دا ټول په دې صادقانو کې داخل دي او په دې کې اشاره د تصدیق د رسولانو او تصدیق د حضرت عیسیٰ ﷺ وطرف ته هم وسوه ، غرض دا ټول حضرات کوم چې په دنیا کې رښتنې وه) د دوی رښتینوالي به (نن) د دوی په کار ورسي (او هغه په کار ورتلل دا دي چې) دوی لره به (د جنت) باغونه (د اوسیدو د پاره) ورکول سي، چې لاندې (تر محلونو) د هغه په نهرونه بهیږي چې دوی به په کښې همیشه همیشه اوسي (او دا نعمتونه به دوی ته ولې نه ورکول کیږي ځکه چې) الله ﷻ د دوی څخه راضي او خوشحاله دی او دوی دالله ﷻ څخه راضي او خوشحاله دي (او څوک چې راضي او دده څخه راضي وي ، هغه ته داسې نعمتونه ورکول کیږي) دا (څه چې ذکر سو) ډېره لویه کامیابي ده (چې د دنیا هیڅ یوه کامیابي ددې سره نه سي برابریدی)

د آیتونو ترون: اوس سورت ختمیدونکی دی ، په پوره سورت کې څه اصولي او فروعي احکام بیان سوي دي ، نو ځکه په آخر کې دا بیان فرمایل سوی دی چونکه الله ﷻ د پوره کائناتو مالک دی ، ددې د پاره هغه ته ددې احکامو ورکولو حق دی او بندګانو ته دا احکام په پوره ډول منل په کار دي ، ولې چې الله ﷻ په هر شي قدرت لري هغه د نافرماني په صورت کې سزا او د فرمانبرداري په صورت کې په انعام ورکولو قادر دی لکه چې وفرمایل سوه : هم دالله ﷻ دی سلطنت د آسمانونو او د مځکې او د هغه شیانو چې په دې (آسمانونو او مځکه) کې موجود دي او هغه په هر شي باندې پوره قدرت لري .

معلومات او مسئلې: فائده : قَالَ اللّٰهُ هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ : په عام طور سره د واقع مطابق خبرې ته صدق (رښتیا) ویل کیږي او د واقع څخه خلاف ته کذب (دروغ) ویل کیږي ، لیکن د قرآن او سنت څخه معلومیږي چې دروغ او رښتیا عام دي ، وینا او کار دواړو ته شامل دي ، لکه چې په دې حدیث کې د واقع څخه خلاف کار ته دروغ ویل سوي دي ، وَمَنْ تَحَلّٰى بِمَا لَمْ يُعْطَ كَانَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُوْرٍ (مشکوة) یعنې ، که څوک ځان په داسې کالو سره ښائسته کړي چې ده لره نه وي ورکول سوي، یعنې دیو داسې صفت یا عمل دعوه وکړي چې په ده کې نه وي نو ګواکې ده د دروغو دوه کپړې واغوستې ، په یو بل حدیث کې یې په ډاګه او په پټه یو ډول ښه لمونځ کوونکي ته رښتینی بنده ویلی دی ارشاد دی .

إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا صَلّٰى فِي الْعَلَانِيَةِ فَأَحْسَنَ وَصَلّٰى فِي السِّرِّ فَأَحْسَنَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى : هٰذَا عَبْدِيْ حَقًّا : (مشکوة)

یعنې څوک چې په ښکاره ښه لمونځ کوي او دې یې په پټه هم دغه ډول ادا کوي نو د داسې سړي په باره کې الله ﷻ فرمایي ، دا زما رښتینی بنده دی .

رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ : یعنې الله ﷻ د دوی څخه راضي سو او دوی دالله ﷻ څخه په یو حدیث کې راځي چې مومنانو ته د جنت تر حاصلیدو وروسته به الله ﷻ وفرمایي چې لوی نعمت دا دی چې زه ستاسې څخه راضي سوم، اوس به هیڅکله ستاسې څخه خفه نه سم .

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ : یعنې دا لویه کامیابي ده ، ښکاره خبره ده چې تر دې زیاته به بله څه کامیابي وي چې مالک او خالق جل جلاله راضي وي .

فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ أَوَّلُهٗ وَ آخِرُهٗ .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿سورة الانعام﴾

سُورَةُ الْاَنْعَامِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَخَمْسٌ وَسِتُّوْنَ اٰيَةً وَعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة انعام په مکه کی نازل سوی دی په دی کی یوسل (۱۶۵) پنځه شپیته آیتونه او شل (۲۰) رکوع ګانی دی.

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ

تول صفتونه خاص الله پاک لره دی چاچی پیدا کړل آسمانونه او مځکه او جوړه یی کړه تیاره

وَالنُّوْرَ ۥ ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ① هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ

او رڼا بیا هم داکافران دخپل رب سره نور برابر وی هغه دی چاچی پیدا کړاست

مِّنْ طِيْنٍ ثُمَّ قَضٰٓى اَجَلًا ؕ وَاَجَلٌ مُّسَمًّى عِنْدَهٗ ثُمَّ اَنْتُمْ

تاسی دخاورو څخه بیا یی مقرر کی یو وخت ، اویوه موده مقرره ده په نزد دالله بیا هم تاسی

تَمْتَرُوْنَ ② وَهُوَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَفِي الْاَرْضِ ؕ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ

شک کوی ، اوهغه الله دی په آسمانونوکی اوپه مځکه کی پوهیږي ستاسی په پټو

وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُوْنَ ③ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ

او په ښکاره وو او پوهیږي په هغه څه چی تاسی کوی ، او نه دی راغلی دوی ته څه نښانی دنښانو

رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ④ فَقَدْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ؕ

درب د دوی څخه ، مګر دوی ورڅخه غفلت کوی ، نو بیشکه درواغجن کی دوی حق هرکله چی ورته راغی

فَسَوْفَ يَاْتِيْهِمْ اَنْۢبٰٓؤُا مَا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ⑤

نو اوس به راسی دوی ته حقیقت دهغه خبری چی دوی ورپوری خندل

لنډتفسیر: تول صفتونه خاص الله ﷻ لره لائق دی چاچی آسمانونه او مځکی پیدا کړل او تاریکی او رڼاګانی یی جوړی کړی ، بیا هم کافران خلق (په عبادت کی نور) دخپل رب سره برابر وی هغه (الله) داسی دی چاچی تاسی (توله په واسطه د آدم علیه السلام) دخاوری څخه جوړ کړاست بیا یی (ستاسی دمرګ

Maktaba Tul Ishaat.com

یو نیټه مقرره کړه او بل وخت معین (د دوباره ژوندي پورته کیدو) خاص د الله ﷻ په نزد (معلوم) دی بیا هم تاسي (خیني په تاسي کی) شک لری (چی قیامت محال گنی، حال دا دی چاچی اول ژوند درکړی دی دوباره ژوند درکول هغه ته څه گران دی) او هغه دی لائق عبادت په حقه په آسمانونو کی هم او په مځکه کی هم (یعنی نور ټول معبودان باطل دی) هغه ستاسي په پټو حالاتو هم او ستاسي په ښکاره حالاتو هم (یو ډول) پوه دی او (خاص کر تاسي چی کوم ظاهر یا باطن) عمل کوی (چی دجزا یا سزا مدار دی ورباندی) هغه پیژنی او دوی (کفارو) ته څه نښانه هم د دوی درب د نښانو څخه نه ده راغلی مگر دوی دهغه څخه منع کوی نو (چونکه دا د دوی عادت جوړ سوی دی) دوی دا رښتینی کتاب (قرآن) هم دروا غ کوی، کله چی هغه دوی ته راغلی نو (د دوی دا دروا غجن کول به خالی نه ځی بلکی) ډیر ژر به دوی ته خبر ورسیږی دهغه شي دکوم سره چی دی خلقو ټوقی کولی (مراد د دی څخه عذاب دی چی خبر یی په قرآن کریم کی اوریدی، نوخندل یی او ددی د خبر رسیدو مطلب دا دی چی کله عذاب نازل سی، نو ددی خبر رښتینی والی به دوی په سترگو وويني)

معلومات او مسئلي: حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمایی چی د سورت انعام یو خصوصیت دا دی چی دا ټول سورت بغیر دڅو آیتونو څخه په یو وخت په مکه کی داسی نازل سوی دی چی او یا زره ۷۰۰۰۰ ملائکی ورسره تسبیح ویونکی راغلی وی، د تفسیر په امامانو کی د مجاهد، کلبی، قتاده رحمۃ اللہ علیہم اونورو هم تقریباً دا وینا ده.

ابو اسحاق اسفرائنی رحمہ اللہ فرمایی چی دا سورت د توحید په ټولو اصولو او قاعدو مشتمل دی، دا سورت د الْحَمْدُ لِلّٰهِ څخه شروع سوی دی، په دی کی یی دا خبر ورکړی دی چی ټول صفتونه خاص الله ﷻ لره دی او مراد ددی خبر څخه خلقو ته دحمد تعلیم ورکول دی او د تعلیم په دې خاص طرز کی دی طرف ته اشاره ده چی هغه دچا د حمد او صفت محتاج نه دی، که څوک یی حمد یعنی ثنا او صفت کوی او که یی نه کوی، هغه دخپلو ذاتی کمالونو په اعتبار سره خود بخود ه صفت کړل سوی یعنی محمود دی، ددی جملی څخه وروسته یی د آسمان او مځکی تیاری او رڼا دپیدا کولو ذکر وفرمایی دهغه صفتی ستاینی دلیل یی هم وښووی چی کوم ذات د دومره لوی قدرت او حکمت خاوند دی نو هم هغه دحمد او ثنا مستحق کیدی سی.

په دی آیت کی یی، سَمٰوٰت: جمع او ارض مفرد ذکر کړی دی، که څه هم په بل آیت کی د آسمان په شان د اوو مځکو ذکر هم موجود دی، شاید چی په دی کی دی طرف ته اشاره وی چی اوه آسمانونه دخپل شکل، صورت او نورو صفتونو په اعتبار سره دیو بل څخه فرق لری او اووه مځکی دیو بل هم شکل او یو شان وی په دی وجه یی دوی د یوی په شان مقرر کړی (مظهری)

دغه شان په ظُلُمٰتٌ جمع او نُورٌ واحد ذکر کولو کی دی طرف ته اشاره ده چی نُور، تعبیر دی دصحیح لاری او صراط مستقیم څخه او هغه یوه ده، او ظلمت تعبیر دی دغلطی لاری څخه چی هغه بې شمیره دی (مظهری، بحر محیط)

دلته دا خبره هم دغور قابله ده چی د آسمانونو او مځکی جوړول یی په لفظ دخلق سره تعبیر کړی دی، او

Maktaba Tul Ishaat.com

د تیارې او رڼا جوړول یې په لفظ دجعل سره ، په دې کې دې طرف ته اشاره ده چې تیاره او رڼا دمځکې او آسمان په شان په خپل ذات سره قائم شیان نه دي بلکه عارضي شیان او صفتونه دي ، او ظُلمت یې په ، نُور سره شاید ددې دپاره مخکې ذکر کې ، چې اصل په دې دنیا کې ظلمت دی ، نور خو دخاصو خاصو شیانو سره تړل سوی دی کله چې هغه مخامخ سي نو رڼا پیدا اسي او کله چې هغه نه وي نو تاریکه وي .

ددې آیت مقصود د توحید حقیقت او ددې واضح دلیل بیانول او ددنیا هغه ټول قومونه په دې خبرول دي ، کوم چې یا د سره توحید قائل نه دي او یا دقائلیدو باوجود د توحید حقیقت یې پرېیښې دی ، مجوسیان ددنیا دوه خالقان مني ، یَزْدان ، او اَهرَمَنْ ، یزدان خالق دخیر او اهرمن خالق دشر مني ، او ددې دواړو تعبیر په نُورْ او ظُلُمَات سره هم کوي .

دهندوستان مشرکان درې دېرش کروړه (۳۳۰۰۰۰۰۰) دیوتاګان دخدای سره شریکوي، آریه سماج د توحید دقائلیدو باوجود روح او ماده قدیم او دخدای دقدرت اوپیدا کولو څخه یې ازاد مقرر کړل او د توحید ~~حقیقت~~ څخه واپس سوه ~~دغه شان نصارا د توحید دقائلیدو~~ سره حضرت عیسی ﷺ او دهغه مور دخدای سره شریک ګڼي او د توحید دعقیدې راټینګولو دپاره یې دوې یو په درو او درې په یوه کې عقل نه منونکې نظریه اختیاره کړه ، او دعربو مشرکانو خو دخدای په تقسیم کې دومره سخاوت ښکاره کړې چې هر یو غر او هره یوه دبره د دوې په نزد د انسانانو معبود جوړیدې سوه ، غرض هغه انسان چې الله ﷻ دې اشرف المخلوقات او دکائناتو مخدوم جوړې کړې وو ، کله چې دې بې لارې سو ، نو ده نه یوازې لمر ، سپوږمۍ او ستورې بلکې اور ، اوبه ، درختې ، غر ، دبره ، تردې چې چینجې مینجې یې هم خپل معبودان جوړ کړل او سجدې یې ورته وکړې او حاجت روا او مشکل کشا یې وګڼل .

قرآن کریم په دې آیت کې الله ﷻ د آسمانونو او مځکو پیدا کوونکې او د تیارې او رڼا جوړونکې وښووې ، ددغه ټولو خیالاتو رد یې وکړه ، چې رڼا او تاریکه او آسمانونه او مځکې او په دې کې پیدا سوې ټول شیان دالله ﷻ پیدا سوي او جوړ سوي دي ، نو بیا دوې څنګه دالله ﷻ سره شریک او حصه دار کول کیږي په اول آیت کې یې دلوې عالم یعنې ټولې دنیا تر ټولو لوې شیان دالله ﷻ مخلوق او محتاج ښکاره کړل ، د توحید دصحیح عقیدې ښوونه یې انسان ته وکړه ددې څخه وروسته یې په دوهم آیت کې انسان ته وښوول چې ستا وجود په خپله یو کوچنې عالم دی که ددې ابتداء او انتهاء او ژوند ته نظر وکړې نو د توحید عقیده به یو ښکاره حقیقت ستا مخ ته راسي ، په دې کې ارشاد فرمایي ، هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ طِينٍ ثُمَّ قَضَىٰ أَجَلًا: یعنې الله ﷻ هغه ذات دی چې تاسې یې دختو څخه پیدا کړاست ، چې حضرت آدم ﷺ یې دختو د خمیرې څخه پیدا کړې ، بیا یې په کښې روح واچوی او دعامو انسانانو خوراک دخاورې څخه پیدا کیږي ، دخوراک څخه نطفه او دنطفې څخه د انسان پیدایش په عمل کې راځي .

حضرت ابو موسی اشعري فرمایي چې ما دنبي کریم ﷺ څخه اوریدلي دي چې الله ﷻ حضرت آدم ﷺ د خاورې دیو خاص مقدار څخه پیدا کړې چې د ټولو مځکو اجزاء په کښې شامل سوي وه ، ځوک تور دي ځوک سپین ، ځوک سره ، ځوک سخت ، ځوک نرم ، ځوک پاکیزه خوي ، ځوک بدخویه ، ځوک خبیث

(مظهري په روایت د ابن عدي په سند حسن سره)

Maktaba Tul Ishaat.com

دا خو ابتدایي پیدا کیدو ذکر وو، ددې څخه وروسته دانتها د دوو منزلونو ذکر دی، یوه دیو بنده ځان ځان ته انتها چي مرګ ورته ویل کیږي، دوهمه دټولي نوع انساني او دکائناتو خادمانو ټولو انتهاء چي قیامت ورته ویل کیږي د انسان دشخصي انتهاء دپاره فرمایي، ثُمَّ قَضٰى أَجَلًا: یعني دانسان دپیدائش څخه وروسته الله ﷻ دده دبقاء او ژوند دپاره یو میعاد مقرر کی، دی میعاد ته درسیدو نوم مرګ دی، کوم چي که څه هم انسان ته نه دی معلوم مګر دالله ﷻ ملائکي یې پیژني، بلکي په خپله انسان هم په دې حیثیت سره خپل مرګ پیژني چي هر وخت په هرځای کي خپل شاوخوا د آدم ﷺ اولاد مرکیدونکيویني ددې څخه وروسته دپوره عالم دانتها یعني دقیامت ذکر داسې فرمایي، وَأَجَلٌ مُسَمًّى عِنْدَهُ: یعني یو بل میعاد مقرر دی چي علم یې یوازي الله ﷻ ته دی ددې میعاد پوره علم نه چا ملائکي ته سته، نه چا انسان ته خلاصه دخبري دا ده چي په اول آیت کي دلوی عالم یعني پوره دنیا حال دا وښوول سو چي دغه دالله ﷻ پیدا سوی او جوړ سوی دی، او په دوهم آیت کي یې دغه شان دکوچني عالم یعني انسان چي دخدای مخلوق دی بیان وکی، بیا یې انسان دغفلت دخوبه څخه دبیداره کولو دپاره دا وښوول چي دهرانسان یو خاص عمر دی چي دهغه څخه وروسته دده مرګ یقیني دی او دا داسې شی دی چي هر یو انسان یې خپل شاوخوا هر وخت ویني، وَأَجَلٌ مُسَمًّى عِنْدَهُ: کي دا هدایت ورکول سوی دی، چي دانسان دشخصي مرګ څخه دټول عالم په عام مرګ یعني قیامت باندي دلیل نیول یوفکري او طبعي امر دی، په دې وجه دقیامت په راتلو کي دچا دڅه شک ځای نسته، په دې وجه په آخر دآیت کي یې وفرمایل، ثُمَّ أَنْتُمْ تَمْتَرُونَ: یعني دداسې واضحو دلیلونو باوجود تاسې دقیامت په باره کي شکونه شبهې را وباسې.

په دریم آیت کي د اولو دوو آیتونو دمضمون نتیجه بیانوي، چي الله ﷻ هغه ذات دی چي په آسمانونو او مځکو کي دعبادت او فرمانبرداري لائق دی او هغه ستاسې دظاهر او باطن دهرحال او هري خبري او هرکار څخه پوره خبردار دی.

په څلورم آیت کي دغافل انسان دغفلت او دحق خلاف دضد کولو شکایت داسې فرمایي چي، وَمَا تَأْتِيهِمْ مِنْ آيَةٍ مِنْ آيَاتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ: یعني دالله ﷻ دیو والي دواضحو دلیلونو اوښکاره نخښو باوجود منکرو خلقو دا طریقه اختیار کړې ده چي دالله ﷻ دطرف څخه کومه نخښه د دوی دهدایت دپاره را ولیږل سي نو دوی ورڅخه مخ اړوي او یوه ذره غور نه په کښي کوي.

په پنځم آیت کي ددې غفلت اختیارولو زیات تفصیل اوخیني واقعاتو طرف ته اشاره کوي او بیان فرمایي چي، فَقَدْ كَذَّبُوا بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ: یعني کله چي حق د دوی مخ ته راغی نو دوی حق دروغجن کی، دحق څخه مراد قرآن هم کیدی سي او دنبي کریم ﷺ پاک ذات هم، ځکه چي نبي کریم ﷺ دعمر د اول وخت ته تر آخره پوري ددې عربو قبیلو په مینځ کي پاته سوی دی، دکوچنیوالي څخه ځواني او دځواني څخه زوړوالي یې د دوی دسترګو په مخکي راغلی دی، دوی ته دا هم په پوره شان سره معلومه وه چي نبي کریم ﷺ دیو انسان څخه مطلقاً څه تعلیم نه وو حاصل کړی تردې چي خپل نوم یې هم په خپله نه سوای لیکلی، په ټولو عربو کي دده صلی الله علیه وسلم لقب اُمّي مشهور وو، څلویښت کاله عمر یې

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې حال سره د دوی په وړاندې تېر سو، چې نه يې هيڅکله دشعر او شاعرۍ سره دلچسپي راغلې ده، اونه يې دځه علم اوتعليم سره مناسبت دی، بيا دڅلوېښتو کالو په پوره کېدو ناڅاپه دده صلی الله عليه وسلم دژبې مبارکې څخه هغه حقيقتونه، معلومات، علمونه او فنونه جاري سول چې ددنيا لوی لوی ماهران فلاسفران ددې په مخکې عاجزان سول، دعربو ټولو فصيحانو اوبليغانو ته يې دخپل راوړی کلام دمقابلې دپاره چيلنج ورکی، دغه خلق چې نبي کريم ﷺ لره دشکست ورکولو دپاره دخپل ځان اومال، عزت او ابرو، اولاد او خاندان هرڅه قربانولو دپاره هر وخت تيار وو، په دوی کې دهيچا دا زړه ونه کړل سو چې دا چيلنج قبول کړي او دقرآن کريم ديو آيت مثال پيش کړي.

دغه ډول دنبي کريم ﷺ او دقرآن کريم خپل وجود په خپله دحقانيت لوی نخښې وي، ددې څخه علاوه دنبي کريم ﷺ په لاسو په زرګونو معجزې او ښکاره ښکاره نخښې داسې ښکاره سوې چې ددې څخه هيڅ د صحيح عقل والا انسان انکار نه سی کولی، مګر دې خلقو دا ټولې نخښې دسره دروغجنې کړې، په دې وجه په دې آيت کې يې ارشاد وفرمايي، فَقَدْ كَذَّبُوا بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ.

دآيت په آخرکې يې د دوی دکفر او انکار او دروغجن کولو دبد انجام طرف ته د اشارې کولو دپاره وفرمايل، سَوْفَ يَأْتِيهِمْ أَنْبَاءُ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ: يعنې نن خو دا دبد انجام څخه غافله خلق دنبي کريم ﷺ په معجزو او دده ﷺ په راوړل سوې هدايتونو اوقيامت او آخرت ټولو پورې خنداګانې او ټوقې کوي ليکن ډېر ژر هغه وخت راتلونکی دی کله چې به دا ټول حقيقتونه د دوی دسترګو په مخکې ښکاره سي، قيامت به سي، د ايمان اوعمل حساب ورکول به وي اوهرڅوک به دخپلو کړو سزا اوجزا پيداکړي، مګر ددغه وخت يقين اواقرار به د دوی په کار ورنه سي، ځکه چې دغه ورځ بيا دعمل نه ده، بلکې ورځ دجزا به وي اوس الله ﷻ دغور اوفکر کولو فرصت ورکړی دی، داغنيمت ګڼل، دالله ﷻ په آيتونو ايمان راوړل ددنيا او آخرت کاميابي ده.

أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّن قَرْنٍ مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّن لَّكُمْ

آيا دوی نه وينې چې څومره هلاک کړي دي مونږ د دوی څخه مخکې امتونه کوم چې مونږ آباد کړي وو په ملک کې

وَأَرْسَلْنَا السَّمَاءَ عَلَيْهِم مِّدْرَارًا وَجَعَلْنَا الْأَنْهَارَ تَجْرِي مِن

دومره چې تاسې مونه ياست آباد کړي اوراوليږي مونږ په دوی داسمان څخه پرله پسې باران اوجوړ کړل مونږ بهيدونکې نهرونه

تَحْتِهِمْ فَأَهْلَكْنَاهُم بِذُنُوبِهِمْ وَأَنشَأْنَا مِن بَعْدِهِمْ قَرْنًا

د دوی لاندې بيا هلاک کړل مونږ دوی، د دوی په ګناهونو او پيدا کړل مونږ، د دوی څخه وروسته

آخَرِينَ ⑥ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَابًا فِي قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ

نور قومونه، او که نازل کړو مونږ په تا ليکل سوې په کاغذ کې بيا يې ونيسي دوی په خپلو لاسونو کې

Maktaba Tul Ishaat.com

لَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٧ وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ

نوخامخا به ووایی کافران چی دا نه دی مګر ښکاره جادو دی ، او وایی ولی نه نازلیږي

عَلَيْهِ مَلَكٌ ؕ وَلَوْ اَنْزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِيَ الْاَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُوْنَ ۝٨

په ده باندی ملائکه ، او که مونږ نازله کړو ملائکه نو کار به فیصله سی بیا به دوی ته مهلت ورنه کول سی ،

وَلَوْ جَعَلْنٰهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنٰهُ رَجُلًا وَّلَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ مَّا يَلْبِسُوْنَ ۝٩

او که مونږ رسول لیږلی ملائکه نو هغه به هم دسړی په شکل وو او دوی به یی په دغه شک کی اچول په کوم کی چی اوس دوی لویږي

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ

اوبیشکه خندا کړل سوی ده په رسولانو پوری مخکی ستا څخه بیا ونیول خندا کوونکی

مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝١٠ ع قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوْا

هغه شی چی په کوم پوری یی خندا کوله ، ته ووایه چی وګرځی په ملک کی بیا وګوری چی

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ۝١١

څه انجام سو ؟ د درواغجن کوونکو

تفسیر: آیا دوی نه دی لیدلی چی مونږ تر دوی مخکی څومره امتونه (په عذاب) هلاک کړی دی کومو لره چی مونږ په دنیاکی داسی قوت (بدنی او مالی) ورکړی وو چی تاسی ته هغه قوت نه دی درکړل سوی او مونږ پر دوی ښه بارانونه اورول او مونږ د دوی (ترکښتونو او باغونو) لاندی نهرونه جاری کړل (چی په دی سره یی فصلونو او میوو ښه ترقی وکړه او دوی دخوشحالی ژوند تیرول شروع کړی) بیا (ددی قدرت او طاقت اوسامان سره) مونږ دوی د دوی دګناهونو په سبب (په قسمونو عذابونو سره) هلاک کړل او تر دوی وروسته مونږ نور امتونه پیدا کړل (نو که په تاسی باندی هم عذاب نازل کړی نو څه تعجب دی ، او ددی خلقو دعناد دا حال دی چی) که مونږ په کاغذ لیکلی یو کتاب په تا نازل کړی وای، بیا دی خلقو په لاسونو کی نیولی هم وای (لکه چی دوی دا مطالبه کړی وه چی لیکل سوی کتاب دی دآسمان څخه راسی اوپه لاسونو سره دنیولو ذکر یی وکی ، دنظر بندی شبهه یی هم لیری کړه) بیا به هم دی کافرانو خلقو ویل چی دا نور هیڅ هم نه دی خو ښکاره جادو دی (ځکه چی کله یی دخبری منلو اراده نه وی نو په هر دلیل کی څه نا څه نوی خبره را ایستل څه مشکل دی) او دا خلق داسی هم وایی چی ده (پیغمبر ﷺ) ته څه ملائکه (چی مونږ یی وینو او خبری یی واورو) ولی نه رالیږل کیږی (حق تعالی فر...ایی) او که مونږ یو

Maktaba Tul Ishaat.com

ملائکه (دغه شان) راالیږلی نو تو له قصه به ختمه سوی وای بیا (دملائکی تر نازلیدو وروسته) به دوی ته یوه ذره مهلت نه سوای ورکول کیدی (ځکه چی دالله ﷻ عادت دا دی چی کوم خلقو ته غوښتل سوی معجزه وښوول سی او بیا هم دوی دایمان ځخه انکار وکړی نو فوراً بی مهلته په عذاب نیول کیږی اوهلاکول کیږی اوترڅوچی دغه غوښتل سوی معجزه ورته نه وی ښوول سوی په دنیاکی دوی ته مهلت وی) اوکه مونږ ده (پیغام رسونکی) لره ملائکه مقررولی نو (چی په شکل دملائکی مو لیږلی نوهیبت به یی انسانانو نه سوای برداشت کولی په دی وجه) مونږ به دا (ملائکه) دانسان (په شکل) جوړوله نو په دی باندی به هم دوی شبه کول، لکه چی اوس یی کوی (یعنی دا ملائکه به یی انسان ګڼله، بیا به یی هم اعتراض کوی، غرض دا دی چی دملائکی نازلیدی کوم چی یی دوی مطالبه کوی په خپل شکل سره دلیدو د دوی طاقت نسته او په شکل د انسان سره یی په راالیږلو کی به بیا هم د دوی شک لیری نه سی او بل طرف ته به دوی ته نقصان دا ورسیږی چی په نه منلو به یی دعذاب مستحق سی) او (تاسی د دوی په دی عبثو مطالبو غم مه کوی ځکه چی) واقعی ترتامخکی چی کوم پیغبران راغلی دی، د دوی سره هم (دمخالفینو دطرف ځخه) مسخری سوی دی، بیاکومو خلقو چی په دوی پوری مسخری کړی وی، دوی دهغه عذاب ونیول دکوم چی دوی مسخری کولی (ددی ځخه معلومه سوه چی د دوی په دی طرزعمل سره پیغمبرانو ته هیڅ نقصان نه رسیږی بلکی دا په خپله د دوی دپاره عذاب اومصیبت دی، اوکه دا خلق دتیرو امتونو دعذاب ځخه انکارکوی) نو ته (دوی ته) ووایه چی لږ په مځکه کی ولاړ سی وګرځی، بیا وګوری چی ددرواغجن کوونکو څه انجام سو.

معلومات او مسئلي: په تیرو آیتونوکی دالله ﷻ دحکمونو او درسولانو دتعلیماتو ځخه دمنع کوونکو یا مخالفت کوونکو دپاره سخت عذاب ذکر وو، په دی آیتونوکی یی ددغه منکرانو مخ خپل شاوخوا حالتو اودتیری زمانی تاریخی واقعاتو طرف ته راګرځوی، دوی ته یی دعبرت اونصیحت حاصلولو موقع ورکړی ده، بیشکه ددنیا تاریخ تر عبرتونو یو کتاب دی چی که دی ته دعبرت په سترګو وکتل سی، نو دزرګونو وعظونو ځخه زیات اثر کوونکی وعظ دی، دیوحکیم دا جمله ډیر ښه ده چی دنیا یوبهترین کتاب دی او زمانه یو بهترین استاذ دی، دا وجه ده چی دقرآن کریم یو ډیره لویه حصه قصی اوتاریخ دی، لیکن په عام طور سره غافله انسان ددنیا تاریخ ته هم دیو وخت تیرولو اوتفریحی شغل ځخه زیات حیثیت اومقام نه دی ورکړی، بلکه دی دوعظ اوحکمت ښه کتاب یی هم دخپل غفلت اوګناه یوه ذریعه جوړه کړه تیری قصی او واقعات یا خو اوس دخوب راوستونکی دوا په ځای استعمالول کیږی یا دخالی وخت تیرولو او زړه لوبولو یوه مشغله ورځخه جوړه سوی ده، شاید په دی وجه قرآن کریم ددنیا تاریخ دعبرت اونصیحت دپاره اخیستی دی، مګر دعامی دنیا دتاریخی او دقصو دکتابونو په شان نه چی په هغوی کی قصه ویل یا تاریخ بیانول یو مقصد وی، په دی وجه تاریخی واقعات پرلپسی دقصی په شکل کی نه بیانوی، بلکی دقصی ځومره ټوټه چی دکومی معاملی او دکوم حال سره متعلق وی، هلته هم دغومره ټوټه بیانوی، بیاپه بل ځای کی ددغه قصی دوهمه ټوټه دهغه ځای دمناسبت سره بیانوی، بیا په بل ځای کی ددغه قصی دوهمه ټوټه دهغه ځای دمناسبت سره بیانوی، په

Maktaba Tul Ishaat.com

دي کي دي حقيقت طرف ته اشاره کيدی سی چي څه خبر يا قصه هيڅکله په خپله مقصود نه وی ، بلکي دهر خبر او واقعي څخه څه عملي نتيجه را ايستل مقصد وی ، په دی وجه ددغه قصی چي څومره حصه ددغه مقصد دپاره ضروري وی هغه وايه او مخ ته څه او دخپلو حالاتو جائزه اخله ، او دتيرو واقعاتو څخه عبرت حاصلوه او خپله اصلاح کوه .

دذکر سوو آيتونو څخه په اولنی آيت کي يي دنبي کريم ﷺ مخاطبو يعني مکي والوته دا ارشاد فرمايلي دی ،چي آيا دی خلقو دخپل ځان څخه دمخکي قومونو حال نه دی ليدلی چي دوی ورڅخه عبرت او نصيحت واخلي او دليدو څخه مراد د دوی په حال غور اوفکر کول دی ، ځکه چي دغه قومونه دغه وخت د دوی په وړاندی نه وه چي دوی ليدلی وای ، ددی څخه وروسته يي دمخکي قومونو دهلاکت اوبربادی ذکر وفرمايي ، كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِنْ قَرْنٍ : يعني مونږ د دوی مخکي څومره قومونه هلاک کړي دي .

لفظ د ، قرن : هغه جماعت ته هم ويل کيږي چي په يو وخت او يوه زمانه کي په جمع موجود وی ، اود زماني يوی اوږدی حصی ته هم، چي ددی په باره کي دلسو کالو څخه واخله تر سلو کالو پوری مختلف قولونه دی مگر دځينو رواياتو دحديث او واقعاتو څخه تائيد ددی خبری کيږي چي لفظ دقرن سلو کالو ته ويل کيږي لکه چي په يو حديث کي دی چي نبي کريم ﷺ عبدالله بن بشر مازني ﷺ ته فرمايلي وه ، چي ته به يو قرن ژوندی يي او هغه پوره سل کاله ژوندی پاته سو اونبي کريم ﷺ يو کوچني ته دعاوکړه چي يو قرن ژوندی اوسي نو هغه پوره سل کاله ژوندی وو ، دحديث اکثرو عالمانو حضراتو، خَيْرُ الْقُرُوْنِ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ : څخه دا مطلب اخيستی دی چي هر قرن يي سل (۱۰۰) کاله منلي دی .

په دی آيت کي يي دتيرو قومونو ددنيا په باره کي اول دا ښوولي دی چي دوی ته الله ﷻ په مخکه کي هغه فراخي اوقوت او دژوند سامان ورکړی وو ، چي وروسته خلقو ته نه دی نصيب سوی، ليکن کله چي دوی رسولان درواغجنان کړل او دالله ﷻ دحکمونو مخالف يي اختيارکی ، نودغه ټول جاه، جلال، مال اومنال يي دالله ﷻ دعذاب په مخکي بي کاره ثابت سو او ټول نيست او نابود سوه، نو دا ننی مخاطب اهل مکه چي نه ورته دعاديانو اوثموديانو په شان قوت اوطاقت حاصل دی اونه ورته دشام اويمن دخلقو په شان خوشحالي دوی ته دتيرو قومونو دواقعاتو څخه عبرت حاصلول او دخپلو کارونو معاينه کول په کار دی ، چي هغوی مخالفت وکړی نو څه انجام يي سو .

دآيت په آخر کي فرمايي ، ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ قَرْنًا آخَرِيْنَ : يعني دالله ﷻ دکامل قدرت تصرف دانه وو چي دلوی لوی جاه اوجلال حکومت او بادشاهي مالکان او د ډول ډول قوت اوطاقت والا قومونه دسترگو په رپ کي هلاک او برباد کړي ، بلکه د دوی په هلاکولو سره يي د دوی پرځای نور قومونه پيدا کړل او داسي يي آباد کړل چي کتونکي په دی هم پوه نه سول چي ددی ځای څخه څوک کم سوی هم دی . اودالله ﷻ ددی قدرت او حکمت ليدل خو دغسي په هره زمانه او هروخت کي کيږي، چي روازنه په لکونو زرگونو انسان هلاکيږي، مگر هيڅکله هم خالي والي په نظر نه راځي ، هيڅکله هم دا احساس نه کيږي چي ددی ځای خلق هلاک سول او اوس ددی ځای اوسيدونکي نسته .

Maktaba Tul Ishaat.com

خدا جانے یہ دنیا جلوہ گاہ ناز ہے کس کا؟ هزارو اٹھ گئے رونق وهی باقی هے مجلس کی
خدای پوهیږی چی دا دنیا دچا د ناز جلوه ګاه ده، په زرګونو ورڅخه ولاړل خو ددنیا رونق (ښائست) هم
دغسی په خپل ځای باقی پاته ده.
یووار په میدان دعرفات کی کوم ځای چی تقریباً دلسو لکو خلقو مجمع وه دی طرف ته نظر ولاړی چی د
نن څخه تقریباً اویا اتیا کاله مخکی په دی ټوله مجمع کی دیو انسان وجود هم نه وو، اوپه دی ځای کی
تقریباً دومره خلق نور موجوده وه، چی نن دهغوی نوم او نښان نسته، دغه شان دانسانانو هره جمع او د
خلقو هره جوپه چی هرکله دتیر وخت او راتلونکی سره یوځای وکتل سی نو یو ډیر اثر کوونکی واعظ
ښکاره کیږی (نو مبارک دی الله ﷻ ښه پیدا کوونکی)
دوهم آیت په یو خاصه واقعه کی نازل سوی دی، عبدالله بن امیه دنبی کریم ﷺ په مخکی یوه معاندانه
مطالبه پیش کړه اووی ویل چی زه په تا ترهغه ایمان نه سم راوړی، ترڅو پوری چی زه دا واقعه ونه وینم
چی ته آسمان ته وخیژی او دهغه ځای څخه زمونږ په مخکی یو کتاب راوړی چی په هغه کی یی زما نوم
اخیستی وی، داسی وایی چی زه ستا تصدیق وکړم، او ددی ټولو خبرو سره بی دا هم وویل چی که ته دا
ټول هرڅه وښیی هم، خو زه مسلمانیدونکی نه ښکارم.
اوعجیبه اتفاق دا هم دی چی بیاهم دغه صاحب مسلمان سو او داسی سو چی داسلام غازی جوړ سو او د طائف په
غزاکی شهید سو، دقوم داسی بی ځایه معاندانه مطالبو اودمسخرو په رنګ کی خبرو به تر مور اوپلار زیات
شفیق نبی کریم ﷺ په زړه مبارک څه اثر کړی وی، ددی صحیح اندازه مونږ نه سوکولای، یوازی هغه څوک په دی
پوهیدی سی، دچا سره چی دقوم داصلاح اونجات فکر دنبی کریم ﷺ په شان وی.
په دی وجه په دی آیت کی ده صلی الله علیه وسلم لره دتسلی ورکولو دپاره ارشاد فرمایی چی د دوی دا مطالبات
دڅه غرض اومقصد دپاره نه دی او نه د دوی مقصد څه کار کول دی، د دوی حال خو دا دی چی څه دوی طلب
کوی که ددی زیات هم ښکاره صورتونه د دوی په مخکی ستا دربښتینوالی راسی، خو بیا هم دوی یی نه قبلوی،
مثلاً که مونږ د دوی دوینا مطابق دآسمان څخه پرکاغذ لیکل سوی کتاب نازل کی او یوازی دا نه چی دوی یی په
سترګو ووینی، چی دنظر بندی یا جادو احتمال په کښی وی، بلکه دوی دغه کتاب په خپلو لاسونوکی هم
ونیسی وګوری چی محض خیال نه دی، حقیقت دی مګر کله چی د دوی خبری ټولی دعناد دی نو بیا به هم داسی
وایی چی، اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ: یعنی دا خو ښکاره جادو دی.
د دریم آیت دنزول هم یوه واقعه ده، چی دغه عبدالله ابن امیه نضرین حارث اونوفل بن خالد یو وار جمع
سول دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سول، او دا مطالبه یی پیش کړه چی مونږ به په تا هله ایمان
راوړو کله چی ته دآسمان څخه یو کتاب راوړی او ددی سره څلور ملائکی راسی چی ددی خبری شاهدی
ورکړی چی داکتاب دالله ﷻ دطرفه څخه راغلی دی، او دا چی ته ﷺ دالله ﷻ رسول یی.
ددی جواب یو خو الله ﷻ دا ورکړی چی دا په غفلت کی ډوب داسی مطالبی کوی چی خپل مرګ اوهلاک
ته بلنه ورکوی، ځکه چی دالله ﷻ دطرفه څخه د دوی غوښتل سوی معجزه وښوول سی نو که دوی بیا هم
په منلو اوپه اسلام راوړوکی ذره قدرتاخیر وکی نو بیا دوی دعام عذاب په ذریعه سره هلاکول کیږی،
دی قوم اهل مکه وو هم دا مطالبه دنیک نیتی نه کوله چی دمنلو توقع ورڅخه وسی، په دی وجه

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمايې ، وَلَوْ اَنْزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِيَ الْاَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُوْنَ يعنى كه مونږ د دوى غوښتل سوى معجزه وښيو چې ملائكه راوليږو او دا قوم خو منونكى نه دى ، نو ددى معجزى دليدو څخه وروسته هم كله چې خلاف ورزى وكړى نو دالله ﷻ حكم به د دوى دهلاكولو دپاره جارى سى او تردى وروسته به دوى ته يو ذره هم مهلت ورنه كړل سى، په دى وجه دوى لره پوهيدل په كار دى چې د دوى غوښتل سوى يوه نښانه هم كه ښكاره نه سى ، نو په دى كى د دوى خير دى ، ددى خبرى يو دوهم جواب يې په څلورم آيت كى په بل انداز سره داسى وركى چې دا سوال كوونكى عجيبه بې وقوفه دى چې دملائكو دنازليدو مطالبه كوى خكه چې دملائكو دنازليدو دوه صورتونه دى ، يو خو دا چې ملائكه په خپل اصلى شكل كى رامخامخ سى نو ددى دهيبت برداشت خو يو انسان نه سى كولى ، بلكى دبيرى څخه يې فوراً دمړكيدو بيره ده ، دوهم صورت دا دى چې ملائكه په شكل دانسان راسى ، لكه جبرئيل امين ﷺ چې نبى كريم ﷺ ته ډير وارونه دانسان په شكل راغلى دى ، نو په دى صورت كى ددى سوال كوونكو چې كوم اعتراض په تا ﷺ دى ، هغه به بې په دغه ملائك هم وى ، چې دوى به دغه ملائك يو انسان گڼى.

ددى ټولو معاندانه سوالونو دجواب وركولو څخه وروسته په پنځم آيت كى نبى كريم ﷺ ته دتسلى دپاره ارشاد فرمايې ، چې دا دمسخرو ټوقو او ازار رسولو معامله چې ستا ﷺ قوم ستا سره كوى ، داپه تا ﷺ پورى خاص نه ده ترتا ﷺ مخكى هم دټولو رسولانو سره داسى كارونه سوى دى ، مگر هغوى همت نه دى بايللى ، او انجام بې داسى سوى دى ، چې ټوقى او مسخرى كوونكى قوم هغه عذاب نيولى دى ، په كوم پورى چې به دوى مسخرى كولى ، لنډه دا چې ستا كار دحكمونو رسول دى ، هغه چې وكړى خپل زړه فارغ كړى نو كه اثر بې په چا وسى اوكه نه، ددغه څارنه ستا ﷺ په ذمه نه ده ، نو په دى وجه په دى كى په مشغوليدو خپل زړه مه غمجن كوه.

قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قُلْ لِّلّٰهِ ؕ كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ؕ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

پوښتنه وكړه چې دچادى څه چې دى په آسمانونو اومځكه كى ، ووايه چې دالله دى ليكلى يې دى په خپله ذمه مهربانى خامخا به تاسى را جمع كړى دقيامت ورځى ته ،

لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَلَهٗ

چې هيڅ شك په كى نسته ، كوم خلق چې په نقصان كى واچوى خپل ځانونه نو دوى ايمان نه راوړى ، اوخاص

مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ؕ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۱۳﴾ قُلْ اَغَيْرَ

دالله دپاره دى څه چې آرام كوى په شپه كى ، اوپه ورځ كى او هغه هرڅه اوريدونكى پوهيدونكى دى، ته ووايه چې

اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ ؕ

دالله څخه ماسوا بل څوك جوړ كړم خپل مددگار (او هغه) جوړونكى دى دآسمانونو او دمځكى او هغه ټولو ته خوراك وركوى

Maktaba Tul Ishaat.com

قُلْ إِنِّىٓ أُمِرْتُ أَنْ أَكُوْنَ أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۴﴾

وو ایه چې ماته حکمن سوی دی چې د ټولو څخه اول زه حکم ومنم او ته هیڅکله مه کیږې د مشرکانو څخه

لنډتفسیر: تاسی (دی مخالفینو ته په طور دالزام دحجت) وو ایاست چې څه په آسمانونو او مځکه کې موجود دی دا ټول دچا ملکیت دی (اول خو به دوی هم دغه جواب درکړی چې توحید به ورڅخه ثابت سي، او که په څه وجه سره لکه بیره یا مغلوبیت سو، جواب درنه کې نو) تاسی وو ایاست چې ټول دالله ﷻ ملکیت دی (او دوی ته دا هم وو ایاست چې) الله ﷻ (په خپل فضل سره په توبه کوونکو باندی) مهربانی فرمایل په خپله ذمه لازم فرمایلی دی (او دا هم وو ایاست چې که تاسی توحید قبول نه کی نو بیا به یې سزا هم تاسی لره څکل وی څکه چې) تاسی به خدای ﷻ دقیامت په ورځ (دقبرونو څخه ژوندی راپورته کی په میدان دحشر کی) جمع کړی (او دقیامت حالت دا دی چې) ددی په راتلو کی هیڅ شک نسته (مگر کومو خلقو چې خپل ځانونه (یعنی خپل عقلونه او نظرونه) ضائع (یعنی بی کاره) کړی دی نو دغه ایمان نه راوړی (او دوی ته په طور دتمامولو دحجت دا وو ایاست چې) خاص دالله ﷻ ملکیت دی څه چې په شپه او په ورځ کی اوسی (دی او ددی څخه د اولنی آیت، قُلْ لِمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ: دمجموعی حاصل دا راووتی چې څومره شیان چې په یوځای کی دی یا په یوه زمان کی دی، ټول دالله ﷻ په ملکیت کی دی) او هغه تر ټولو لوی اوریدونکی پوهیدونکی دی (بیا دتوحید ثابتولو څخه وروسته دوی ته) وو ایاست چې ایا دالله ﷻ څخه ماسوا کوم چې د آسمانونو او مځکې پیدا کوونکی دی او کوم چې (ټولو ته) خوراک ورکوونکی دی او ده ته هیڅوک خوراک نه ورکوی (څکه چې هغه دخوراک چنباک دحاجت څخه بی پروا دی نو آیا دداسی الله ﷻ څخه ماسوا) بل څوک خپل معبود مقرر کړم (تاسی ددی انکاری استفهام په تشریح کی په خپله) وفرمایاست (چې زه غیرالله معبود څنګه جوړولی سم چې دا خو دعقل او نقل څخه خلاف ده) ماته دا حکم سوی دی چې تر ټولو مخکی اسلام قبول کړم (چې په دی کی دتوحید عقیده هم راغله) او (ماته دا ویل سوی دی چې) ته دمشرکانو څخه هیڅکله مه کیږه.

معلومات او مسئلې: آیت، قُلْ لِمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ: کی دکفارو څخه سوال سوی دی چې دآسمان او مځکی او د دوی دټولو کائناتو مالک څوک دی؟ بیا په خپله دنبی کریم ﷺ په ژبه مبارکه سره دا جواب ارشاد فرمایی چې دټولو مالک الله ﷻ دی، دکفارو دجواب انتظار کولو په ځای په خپله دجواب ورکولو وجه دا ده چې دا جواب دمکی دکفارو په نزد هم منل سوی دی، دوی که څه هم په شرک او بت پرستی کی اخته وه، مگر دمځکی او آسمان او دټولو کائناتو مالک بی خاص الله ﷻ گڼی.

لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ: کی د، اِلٰی: لفظ یا خو د، فِیْ: په معنی دی او مراد دا دی چې الله ﷻ به ټول اولین او آخرین دقیامت په ورځ جمع کړی او یا جمع کول په قبرونو کی ورڅخه مراد دی، نو مطلب به داسی چې تر قیامته پوری به الله ﷻ ټول انسانان په قبرونو کی جمع کړی تردی چې په قیامت کی به ټول ژوندی راپورته کړی (قرطبی)

Maktaba-Tul-Ishaat.com

كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ : په صحيح مسلم كې د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې كله الله ﷻ مخلوقات پيدا كړل نو يوه ليكلې نامه يې په خپله ذمه دوعدې وليكه كومه چې د الله ﷻ سره ده چې د دې مضمون يې دا دى ، اَنَّ رَحْمَتِيْ تَغْلِبُ عَلٰى غَضَبِيْ : يعنې زما رحمت به زما په غضب غالب وي (قرطبي)

اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ : په دې كې اشاره ده ، چې د آيت په شروع كې كوم چې د الله ﷻ دعام رحمت ذكر دى ، كفار او مشركان كه د دې څخه محروم سول نو دوى په خپله په خپل عمل سره محروم سول دوى د رحمت د حاصلولو طريقه اختيار نه كړه (قرطبي)

وَلَهٗ مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ :دلته يا د سكون څخه مراد قرار نيول دي يعنې كوم شى چې د دنيا په شپه او ورځ كې موجود دي ، دغه ټول د الله ﷻ ملكيت دي او دا هم كيدى سي چې مراد ورڅخه د سكون او حركت مجموعه وي يعنې ، مَا سَكَنَ وَمَا تَحَرَّكَ : او ذكر يې يوازې د سكون كړى دى ، حركت چې د دې مقابل دى هغه ورڅخه په خپله معلوميدى سي .

قُلْ اِنِّيْٓ اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ

ته ووايه زه بيريږم كه نا فرمانى وكړم دخپل رب څخه دلوى ورځې دعذاب څخه

عَظِيْمٍ ﴿۱۵﴾ مَنْ يُّصْرَفْ عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهٗ ؕ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ

دچا څخه چې ليرى سو دغه عذاب په دغه ورځ نو په ده رحم وكى الله ، او دا ده لويه

الْمُبِيْنُ ﴿۱۶﴾ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا هُوَ ؕ وَ

كاميابى ، او كه ورسوى تا ته الله سختى نو هيڅوك ددې ليرى كوونكى نسته ماسوا دهغه څخه

اِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۷﴾ وَهُوَ الْقَاهِرُ

او كه ورسوى تا ته څه خير نو هغه په هر څه قادر دى ، او هغه غالب دى

فَوْقَ عِبَادِهٖ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿۱۸﴾ قُلْ اَيُّ شَيْءٍ اَكْبَرُ شَهَادَةً ؕ

په خپلو بندګانو ، او هغه دى لوى حكمت والا دټولو څخه خبردار ، ته پوښتنه وكړه چې دټولو څخه لوى شاهد څوك دى

قُلِ اللّٰهُ ۙ شَهِيْدٌۢ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۟ وَاُوْحِيَ اِلَيَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَكُمْ

ووايه چې الله شاهد دى زما او ستاسي په مينځ كې ، او نازل سوى دى ما ته دا قرآن چې تاسي ددې څخه خبردار كړم

Maktaba Tul Ishaat.com

بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ ؕ اَىِٕنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اٰلِهَةً اُخْرٰى ؕ قُلْ

او چا ته چې دا ورسيږي آيا تاسې شاهدي کوئ چې دالله سره بل معبود هم سته ؟ ته ووايه چې زه

لَّاۤ اَشْهَدُ ۚ قُلْ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّاِنَّنِيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹﴾

خو شاهدي نه کوم ، ووايه چې هغه دی معبود يو او زه بيزاره يم ستاسې دشرک څخه ،

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ۘ اَلَّذِيْنَ

چا لره چې مونږ ورکړې دی کتاب دوی پيژني دا لکه چې پيژني خپل زامن هغه خلق چې

خَسِرُوْۤا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى

په نقصان کې واچوی خانونه خپل نو دوی ايمان نه راوړي ، او څوک دی زيات ظالم دهغه څخه چې جوړوي

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۱﴾

په الله ﷻ باندې دروغ يا دروغجن کړي آيتونه دهغه بيشکه خلاص به نه سي ظالمان .

لنډتفسير: ته ووايه چې که زه دخپل رب ونه منم (چې داسلام او ايمان د حکم تعميل ونه کړم يا په شرک کې اخته سم) نو زه ديوې لوی وورځې (يعني قيامت) عذاب څخه بيريږم (دا ښکاره خبره ده چې نبی کريم ﷺ معصوم دی داسلام او ايمان خلاف دشرک او ګناه صادريدل دده ﷺ څخه ممکن نه دی مګر دلته اورول عام امت ته دی ، چې نبی معصوم هم دالله ﷻ دعذاب څخه بيره لري ، بيا فرمايي چې دغه عذاب داسې دی چې) دکوم سړي څخه ددغه ورځې عذاب ليرې سو په ده دالله ﷻ لوی رحم وکی او دا (د عذاب ليرې کيدل او دالله ﷻ درحمت متوجه کيدل) ښکاره کاميابي ده (په دې کې دهغه رحمت بيان هم وسو دکوم ذکرچې ددې څخه مخکې په ، كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ : کې راغلی دی) او (تاسې دوی ته دا هم واوروی چې ای انسانه) که تاته الله ﷻ څه تکليف (په دنيا يا آخرت کې) ورسوی نو ددې ليرې کوونکی ماسوا دالله ﷻ څخه هيڅوک نسته (که هغه غواړي ليرې يې کړي يا يې ليرې نه کړي او که ژر يې وکړي او که وروسته) او که تاته (دغه ډول) څه نفع ورسوي (نو ددې هم څوک ليرې کوونکی نسته لکه چې بل ځای دی ، لَا رَآدَّ لِفَضْلِهٖ : ځکه چې) هغه په هر څه پوره قدرت لرونکی دی (او دذکر سوی مضمون دتاکيد دپاره دا هم وفرماياست چې) هغه الله ﷻ (دقدرت په اعتبار سره) په خپلو بندګانو غالب او برتر دی او (دعلم په اعتبار سره) هغه لوی حکمت والا او پوره خبر لرونکی دی (نو دی په علم سره دټولو حال پيژني او په قدرت سره به ټول جمع کړي او په حکمت سره به مناسبه جزاء او سزا ورکړي) تاسې (دی

Maktaba Tul Ishaat.com

منکرانو درسالت ته) ووایاست چی(ښه نو دا وښیاست چې) تر ټولو لوی شی دشاهدی ورکولو دپاره څوک دی (چی دهغه په شاهدی ورکولو دټولو اختلاف رفع سی، ددی جواب ښکاره دی چی دا به وی چی الله ﷻ تر ټولو لوی دی بیا) تاسی ووایاست چی زما او ستاسی په مینځ کی (په کومه مسئله کی چی اختلاف دی په دی کی هغه) الله ﷻ شاهد دی (چی دهغه شاهدی تر ټولو زیاته ده) او (دهغه شاهدی دا ده چی) ما ته دا قرآن په طور دوحی (دالله ﷻ دطرفه څخه) را لیږل سوی دی ، ددې دپاره چی زه ددی قرآن کریم په ذریعه تاسی ته اویوچاته چی دا قرآن ورسیږی دا ټول (په دی وعدو دعذاب سره) وبیروم (کوم چی دتوحید اورسالت په انکار باندی په دی کی ذکر دی ، څکه چی دقرآن د اعجاز او ددی دمثل جوړولو څخه دټولی دنیاعاجزه کیدل دالله ﷻ تکوینی شهادت دنبی کریم ﷺ په رښتینوالی باندی وسو اودقرآن دمضامینو څخه بی تشریعی شهادت وسو) آیا تاسی (تردی لوی شهادت وروسته هم کوم چی توحید لره شامل دی) دتوحید په باره کی په رښتیا سره به داسی شاهدی ورکړی چی دالله ﷻ سره (دعبادت په لائق والی کی) څه بل معبود هم (شریک) دی (او که دوی دضد په وجه دا هم ووایی چی هوا! مونږ دا شاهدی ورکوو ، نودغه وخت بیا د دوی سره بحث کول فضول دی ، بلکه یوازی) تاسی (دخپلی عقیدی ظاهرولو دپاره) ووایاست چی زه خو ددې شاهدی نه ورکوم اوبیشکه زه ستاسی دشرک څخه بیزاره یم (اوستا درسالت په باره کی چی کوم دا خلق وایی چی مونږ دیهودو اونصاراؤ څخه پوښتنه وکړه او ومولیدل نو ددی معاملی تحقیق دا دی چی) کومو خلقو لره مونږ کتاب (تورات او انجیل) ورکړی دی، هغه ټول خلق رسول (ﷺ داسی) پیژنی لکه څنګه چی خپل زامن پیژنی (لیکن کله چی دلوی شهادت په موجودګی کی داهل کتابو دشهادت ضرورت نسته نو که دا نه وی نو ددی څخه هم دلیل نه سی نیول کیدی او د داسی لوی شهادت په موجودګی کی هم) کومو خلقو چی خپل ځان ضائع کړی دی ، دوی به ایمان نه راوړی (دعقل دضائع کولو مطلب دا دی چی دا بی بی کاره کی د عقل څخه بی کار وانه خیستی) ترده به زیات ظالم څوک وی چی په الله ﷻ درواغ جوړکړی یا دالله ﷻ آیتونه دروا غجن کړی دداسی بی انصافو (حال به دا وی چی) دوی لره به (دقیامت په ورځ) خلاصی نه وی (بلکه په دائمی عذاب کی به ګرفتار وی)

معلومات اومسئلی: په تیرو آتیونو کی دالله ﷻ دکامل قدرت ذکر یی وکی په ده دایمان راوړو اودشرک څخه دځان ساتلوحکم یی ورکړی وو ، په ذکر سوی آیتونو کی په اولنی آیت کی یی ددی حکم په خلاف ورزی کولو دعذاب یوخاص انداز بیان کړی دی چی نبی کریم ﷺ ته حکم ورکړل سو ، چی ته خلقو ته ووایه چی که فرض کړه زه هم دخپل رب دحکم خلاف وکړم، نو ما لره هم په قیامت کی دعذاب بیره ده، دا ښکاره خبره چی نبی کریم ﷺ دهری ګناه څخه معصوم دی ، د دوی څخه نافرمانی دسره نه سی کیدی ، لیکن دوی ته یی په نسبت کولو سره امت ته دا ښوول مقصود دی چی ددی حکم په خلاف ورزی کولو باندی چی کله د انبیاؤ نبی نه سی معاف کیدلی نو دبل چا څه مجال دی ، تردی وروسته فرمایی ، مَنْ يُّصْرَفْ عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهٗ : یعنی دمحشر د ورځی عذاب ډیر هیبتناک اوسخت دی ، دکوم سړی څخه چی داعذاب لیری سو نو پوه سی چی په ده الله ﷻ لوی رحمت وسو ، وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ : یعنی دا لویه

Maktaba-Tul-Ishaat.com

اوښکاره کامیابی ده ، دلته د کامیابی څخه مراد جنت ته داخلیدل دی ددی څخه معلومه سوه چی دعذاب څخه خلاصی او دجنت داخله لازم اوملزوم دی، په دوهم آیت کی د اسلام د یوی انسانی عقیدی بیان سوی دی ، چی دهری نفعی او نقصان مالک په حقیقت کی یوازی الله ﷻ دی ، هیڅوک چاته دحقیقت په اعتبار سره نه څه معمولی غوندی نفع رسولی سی اونه څه معمولی غوندی نقصان، اوپه ظاهره چی چاته دچا دلاسه نفع یا نقصان رسیدل ښکاری دایوازی یوظاهری صورت او دحقیقت په مخکی دیوی پردی څخه زیات هیڅ حقیقت نه لری

کار زُلف تُست مشک افشانی اما عاشقان مصلحت را تهمتی بر آهوئی چین بسته اند

(دمشک خوشبو چی په جان کی خپریږی نو دا ستا دزلفو خوشبو ده خو عاشقان دځه مصلحت په وجه دا تهمت دچین په هوسۍ باندی لګوی)

داعقیده هم د اسلام دهغه انقلابی عقیدو څخه ده کومی چی مسلمانان دټول مخلوق څخه بی حاجته او یوازی دخالق حاجتمند یی جوړ کړل ، د دوی یو داسی بی مثاله ټولی یی تیاره کړه ، چی په لوږه تنده او تنګدستی کی هم پر ټوله دنیا غالب سوه دچا په مخکی سرکښته کول یی نه پیژندل .

فقر می بهی سر بسر فخر وغرور وناز هو کسی کا نیازمند هو سب سے جو بے نیاز هو

(په فقیری کی هم تر مالدارکم نه یم که دی فخر غرور او ناز کوی زه یی هم کوم، زما هیچاته حاجت نسته نو زه دچا حاجتمند کیدی نه سم)

په قرآن مجید کی ځای په ځای دامضمون په مختلفو عنوانانو سره بیان سوی دی په یو آیت کی ارشاد دی

مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ :

یعنی الله ﷻ چی کوم رحمت دخلقو دپاره خلاص کړی ، ددی څوک بندوونکی نسته او په چا چی یی بند کړی څوک یی خلاصوونکی نسته .

په صحیح حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ به خپلو دعاګانو کی اکثره داسی فرمایل .

اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ :

یعنی ای الله ! څه چی ته ورکوی دهغه منع کوونکی هیڅ نسته اوڅه چی ته منع کوی دهغه څوک ورکوونکی نسته او دیو کوشش ستا په مقابله کی نفع نه سی ورکولی .

امام بغوی رحمه الله تردی آیت لاندی دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه نقل کړی دی چی یو وار نبی کریم ﷺ په یوه سپرلی سپور سو او زه یی خپلی شاته (ردیف) جوړ کړم، ترڅه ځای پوری ترتلو وروسته ماته متوجه سو، وی فرمایل چی ای هلکه ! ما عرض وکړی چی حاضر یم څه حکم دی؟ ده ﷺ وفرمایل چی ته الله ﷻ یادوه ! الله به تا یاد ساتی ، چی ته الله ﷻ یاد ساتی نو ته به هغه په هرحال کی په خپل مخکی وینی ، ته د امن عافیت اوخوشحالی په وخت کی الله ﷻ وپیژنه، نو ستا دمصیبت په وخت کی به الله ﷻ تا وپیژنی ، کله چی ته څه غواړی نو یوازی د الله ﷻ څخه یی غواړه اوچی مدد غواړی نو یوازی دالله ﷻ څخه مدد غواړه ، هرڅه چی په دنیاکی کیدونکی دی ، دتقدیر قلم هغه لیکلی دی که ټول مخلوقات یوځای سی او ددی کوشش وکړی چی تاته څه داسی نفع ورسوی چی الله ﷻ ستا په حصه کی نه وی را

Maktaba Tul Ishaat.com

وسځلی نو دوی هیڅکله دغه نفع تاته نه سی رسولی او که دوی ټول یو ځای سی او ددی کوشش وکړی چی تاته داسی نقصان ورسوی چی ستا په قسمت کی نه وی نو هیڅکله به پردی قدرت نه کړی پیدا، که نه کولای سی چی دیقین سره په صبرعمل وکړی نو داسی خامخا کوه، که پردی قدرت نه لری نو صبر کوه، ځکه چی په داسی شیانو چی ستا طبیعت یی نه غواړی، صبر کولو کی لوی خیرات او برکت دی او نبه پوه سه چی دالله ﷻ مدد دصبر سره دی او دمصیبت سره راحت او دتنګی سره فراخی ده (داحدیث په ترمذی او مسند احمد کی په صحیح سند سره ذکر دی)

انسوس دی چی دقرآن ددی واضح اعلان او دنبی کریم ﷺ دټول عمر دتعلیماتو باوجود دا امت بیا په دی معامله کی بی لاری سو، ټول دخدای ﷻ اختیارات یی په مخلوق تقسیم کړل، نن دداسی مسلمانانو ډیر لوی شمیر دی چی دمصیبت په وخت کی دخدای ﷻ په ځای دمختلفو پیرانو فقیرانو نومونه اخلی، شکرانی ورکوی او مدد ورځخه غواړی، خدای ﷻ ته یی ګرسره فکرنه وی، دانبیاؤ علیهم السلام او اولیاؤ رحمهم الله په وسیله سره دعا غوښتل بیله خبره ده، اوجائز دی اوپه خپله د نبی کریم ﷺ په تعلیماتو کی ددی شاهد موجود دی، لیکن سیده په سیده یو څوک مخلوق دحاجت پوره کولو دپاره رابلل او دده ځخه خپل حاجتونه غوښتل دقرآن ددی حکم خلاف ښکاره بغاوت دی الله ﷻ دی مونږ ټول مسلمانان پر صراط مستقیم برابر او قائم لری.

دآیت په آخرکی فرمایي، وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ: یعنی خاص الله ﷻ په خپلو ټولو بندګانو غالب او قادر دی او ټول دده ترقدرت لاندی او محتاج دی، دغه وجه ده چی ددنیا ترلوی لا لوی انسان برابره خبره ده که دالله ﷻ رسول او مقرب ولی ولی نه وی یا ددنیا تر لوی لا لوی بادشاه ولی نه وی، په خپله هره یوه اراده کی نه سی کامیابیدی او هر مراد یی نه سی پوره کیدی.

هغه ﷻ حکیم هم دی چی دده ټول کارونه عین حکمت دی او دهرشی پیژندونکی هم دی په دی کی په لفظ د قاهر سره دالله ﷻ دکامل قدرت او په لفظ دحکیم سره دده ﷻ داحاطه کوونکی علم بیان یی وکی، دا یی وښوله چی ټول دکمال صفتونه په علم او قدرت کی راګیر دی او الله ﷻ په دی دواړو کی بی مثله دی.

دپنځم آیت دنزول یو خاصه واقعه عامو تفسیر لیکونکو نقل کړی ده چی یو وار داهل مکه وو یو وفد نبی کریم ﷺ ته راغی او ورته یی وویل چی ته کومه دعوه کوی چی زه د الله ﷻ رسول یم، پردی ستا شاهد څوک دی؟ ځکه چی مونږ داسی یو سړی پیدا نه کی چی ستا تصدیق کوی حال دا دی چی مونږ دیهودو او نصاراؤ ځخه ددی په تحقیق کی پوره کوشش وکی، پردی دا آیت نازل سو، قُلْ اَیُّ شَیْءٍ اَکْبَرُ شَهَادَةً: یعنی ته ووایه چی ترالله ﷻ زیات دچا شهادت دی چی دهغه په قبضه کی ټول جهان او دټولو نفع او ضرر دی، بیا تاسی ووایاست چی زما او ستاسی په مینځ کی الله ﷻ شاهد دی او دالله ﷻ دشاهدی ځخه مراد هغه معجزی او ښکاره آیتونه دی چی الله ﷻ دنبی کریم ﷺ دبرحق رسول کیدو متعلق ښکاره کړی دی، په دی وجه ددی ځخه وروسته اهل مکه وو ته خطاب کوی، ارشاد فرمایی، اَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ اَنَّ مَعَ اللهِ آلِهَةً اُخْرٰی: یعنی آیا دالله ﷻ تردی شاهدی وروسته هم تاسی ددی خلاف ددی خبری شاهدی ورکوی چی دالله ﷻ سره بل معبود هم سته که داسی وی نو تاسی پوه سی او ستاسی انجام، زه خو داسی

Maktaba Tul Ishaat.com

شاهدی نه سم ورکولی ، قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ يعني ته ووايه چې الله ﷻ يو بې مثله معبود دی ، دده سره
هيڅوک شريک نشته ، او ارشاد فرمايي ، وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا الْقُرْآنُ لِأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ يعني په ماباندی په طور
دوحی سره قرآن کريم راليږل سوی دی چې ددی په ذريعه زه تاسی د الله ﷻ دعذاب څخه وبيروم ، او هغه
خلق وبيروم چاته چې ترقيامته پوری دا قرآن رسيږی .
ددی څخه ثابته سوه چې نبی کريم ﷺ خاتم النبيين او آخری پيغمبر دی او قرآن کريم د الله ﷻ آخری کتاب
دی ترقيامته پوری ددی تعليم او تلاوت باقی دی او په خلقو باندی ددی تابعداری لازمه ده . حضرت
سعيد بن جبير ؓ فرمايي چې چاته قرآن ورسيږی هغه داسی سو لکه دی چې د محمد ﷺ زيارت وکی .
او په يو حديث کی دی چې کوم سړی ته قرآن کريم ورسيدی زه دهغه نذير (بيروونکی) يم .
په دی وجه نبی کريم ﷺ صحابه کرامو ؓ ته تاکيد فرمايلی دی ، بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً يعنی زما حکمونه
او تعليمات خلقو ته ور ورسوی که څه هم يو آيت وی .
او حضرت عبد الله ابن مسعود ؓ فرمايي چې نبی کريم ﷺ فرمايلی دی چې الله ﷻ دی هغه سړی تر وتازه
او صحت مند ساتی ، چا چې زما يوه مقاله (وينا) واوريده ، بيا يې دا ياده کړه ، بيا يې امت ته ورسله .
ځکه چې ډير وارونه داسی کيږی چې يو سړی په خپله د يوی خبری په مطلب دومره نه پوهيږی څومره
چې وروسته راتلونکی ورباندی پوهيږی ، کومو ته چې دغه کلام ده رسولی وی .
په آخری آيت کی ددغه خلقو ددی قول ترديد دی چې مونږ ديهودو او نصارا و تولوڅخه تحقيق وکی ،
هيڅوک هم ستا درښتينوالی او نبوت شاهدی نه کوی ددی متعلق ارشاد فرمايي ، الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ
يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ يعنی يهودو او نصارا نبی کريم ﷺ داسی پيژنی لکه خپل اولاد چې پيژنی .
وجه دا ده چې په تورات کی دنبی کريم ﷺ پوره حليه شريفه ده ﷺ اصلی وطن بيا دهجرت وطن او دده ﷺ
عادتونه او خويونه او دده ﷺ دکارنامو داسی تفصيلی ذکر دی چې ترددی وروسته دچا دڅه شک اوشبهی
ځای نه پاته کيږی بلکی يوازی دنبی کريم ﷺ ذکر نه بلکی دده ﷺ د صحابه کرامو ؓ په تفصيل سره
ذکر په تورت او انجيل کی موجود دی ، په دی وجه ددی خبری ګرسره څه امکان نشته ، چې کوم سړی
تورات او انجيل وايي او ايمان ورباندی لری او هغه دی نبی کريم ﷺ نه پيژنی .
دلته الله ﷻ دتشبيه په موقع دا ارشاد وفرمايل چې لکه څنګه چې خلق خپل بچيان پيژنی ، دايي ونه
فرمايل چې لکه څنګه چې کوچنی خپل مور او پلار پيژنی ، وجه دا ده چې دمور او پلار پيژندل خپلو
بچو لره تر ټولو تفصيلی او يقينی وی دبچو دبدن هره حصه دمور او پلار په مخکی وی ، دکوچنيوالی
څخه تر ځوانی پوری د دوی په لاسونو اوغيره کی پرورش پيدا کړی په دی وجه دوی چې څومره خپل
اولاد پيژندی سی ، هغومره اولاد دوی نه سی پيژندی .
حضرت عبد الله بن سلام ؓ چې اول يهودی وو ، بيا مسلمان سو ، حضرت فاروق اعظم ؓ دده څخه
پوښتنه وکړه چې الله ﷻ په قرآن شريف کی خبر ورکړی دی چې تاسی خلق زمونږ رسول الله ﷺ داسی
پيژنی لکه خپل اولاد ، ددی څه وجه ده ، عبد الله بن سلام ؓ وفرمايل چې هوا مونږ نبی کريم ﷺ د الله ﷻ
په بيان کړی صفتونو سره پيژنو کوم چې الله په تورات کی نازل کړی دی ، په دی وجه ددی علم مونږ ته

Maktaba Tul Ishaat.com

يقيني او قطعي طور سره دي ، په خلاف دخپل اولاد چې په دې کې شبهه کيدې سي چې دا زمونږ اولاد دي هم او که نه دي.

حضرت زيد بن سعنه ﷺ چې د اهل کتابو څخه دي ، ده نبي کريم ﷺ د تورات او انجيل په بيان کړو صفتونو سره پيژندلی وو ، يوازې يو صفت داسې وو چې دهغه تصديق ده ته مخکې نه وو سوی، تر امتحان کولو وروسته يې تصديق وسو ، هغه دا چې د ده ﷺ حلم به په غصه باندې غالب وي ، نو دې دنبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او تجربه يې وکړه ، نو دا صفت دحلم يعنې بردباري يې هم په دوی کې پيدا کړه نو دغه وخت مسلمان سو .

د آيت په آخر کې فرمايي چې دا اهل کتاب کوم چې دنبي کريم ﷺ دښه پيژندو باوجود نه مسلمانيږي او دوی دخپله لاسه خپل ځانونه برباد وي او په تاوان کې پريوزي ، الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ :

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا أَيْنَ شُرَكَاؤُكُمُ الَّذِينَ

او په کومه ورځ چې مونږ جمع کړو دا ټول بيا به ووايو هغو خلقو ته چا چې شرک کړی وو کوم ځای دي شريکان ستاسي ،

كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ لَمْ تَكُن فِتْنَتُهُمْ إِلَّا أَن قَالُوا وَاللَّهِ رَبِّنَا

دکومو چې تاسي دعوی کوله ، بيا به پاته نه سي د دوی سره څه بهانه مګر دا چې وبه وايي قسم دی په الله

مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴿٢٣﴾ انظُرْ كَيْفَ كَذَبُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُم

چې زمونږ رب دی نه وو مونږ شرک کوونکي، وګوره څنګه دروغ وايي په خپلو ځانونو او ورک سوی د دوی څخه

مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ

هغه خبري چې دوی به جوړولي ، او ځيني په دوی کې غوږ اږدي تاته او مونږ د دوی په

قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا وَإِن يَرَوْا كُلَّ

زړونو باندي غور خولی دی پردي چې دوی پوهه نه سي او په غوږونو د دوی کې درونډوالی دی او که ووينی ټولی

آيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوا بِهَا حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوكَ يُجَادِلُونَكَ يَقُولُ الَّذِينَ

نښانی ايمان نه راوړي په دې ، تردي چې راسي تاته تاسي دجګړې کولو دپاره وايي

كَفَرُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٢٥﴾ وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ

کافران نه دي دا مګر قصې دي دتيرو خلقو ، او دوی خلق منع کوي ددې څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

وَيَنْـَٔوْنَ عَنْهُ ۚ وَإِن يُهْلِكُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾

او تبنتي ددې څخه ، او نه هلاکوي مګر خپل ځانونه او دوی نه پوهیږي

لنډتفسیر: ﴿ دمشرکانو دفلاح نه پیداکیدو وجه ﴾

اوهغه وخت هم دیادولو قابل دی په کومه ورځ چې مونږ ټول خلق (په میدان دحشرکې) جمع کړو، بیا به مونږ مشرکانو ته (په واسطه یا بې واسطې په طور د زجر او زورنې) ووایو چې (وښیاست) ستاسې هغه شریکان دکومو چې به تاسې دمعبودوالې دعوی کوله چیرې ولاړل (چې ستاسې سفارش نه کوی په کومو چې ستاسې باور وو) بیا به د دوی دشرک انجام ددې څخه ماسوا بل هیڅ هم (ظاهر) نه سی چې دوی به (ددې شرک څخه په خپله دبیزاره کیدو اونفرت اظهار وکړی اوپه بدحواسی کې به) داسې ووایې قسم په الله ﷻ چې زمونږ رب دی ، مونږ مشرکان نه وو (الله ﷻ دتعجب په نظر سره فرمایې) لږ وګوری چې څنګه (صریح) درواغ بې وویل په خپلو ځانونو او په هغو شیانو چې دوی په درواغ جوړول (یعنې د دوی بتان اوهغه چې دوی به دخدای سره شریک جوړول) هغه ټول ورک سوه (دقرآن څخه په انکار د دوی ملامتول ، وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ: او په دوی (مشرکانو) کې ځینې داسې دی چې (ستا دقرآن ویلو په وخت کې ددې اوریدو ته) ستا طرف ته غوږونه ایږدی (مګر د دوی دا اوریدل دحق طلب کولو دپاره نه دی ، بلکه محض دتماشې یا مسخرې په نیت سره دی په دې وجه ددې څخه دوی ته هیڅ نفع نه رسیږی پس) مونږ د دوی په زړونو پردې اچولې دی ددې څخه چې دوی په دی (قرآن) باندې پوه سی او د دوی په غوږونو کې دروندوالی دی (چې دوی بې دهدایت دپاره وانه وری دا خو د دوی د زړونو اوغوږونو حالت وو اوس د دوی سترګو اونظر ته وګوری) که دغه خلق (ستادنبوت دتصدیق) ټول دلیلونه (هم) ووینې په دې هم ایمان نه راوړی (د دوی عناد دې اندازې ته رسیدلی دی) تردې چې کله دا خلق ستا خواته راځې ، نو ستا سره خامخا جګړه کوی (په دې شان چې) دا خلق کوم چې کافران دی داسې وایې چې دا (قرآن) نورهیڅ نه دی، یوازې بې سنده خبرې دی، چې دتیرو خلقو څخه (په نقل) را روانې دی (یعنې مذهب والا دمخکې څخه داسې خبرې کوی چې معبود یو دی او دا چې انسان دخدای پیغمبر کیدی سی ، په قیامت کې بیا ژوندی کیدل دی چې ددې مطلب فساد او درواغجن کول دی ، وروسته تردې نوره ترقې ورکوی جګړې ته او دنورو دهدایت څخه منع کولو ته تیاریږی) او بیا داخلق ددې (قرآن) څخه نور خلق هم منع کوی اوپه خپله هم (ددې څخه دنفرت ظاهرولو دپاره) لیرې لیرې اوسی او (په دې حرکتونو سره) دا خلق خپله تباهی کوی او (دحماقت اودیربغض څخه) هیڅ خبر نه لری (چې مونږ دچانقصان کوو ، زمونږ په دې کار سره خو درسول اوقرآن هیڅ تاوان نه کیږی)

معلومات اومسئلې: په تیرآیت کې دا ذکر دی چې دظالمانو اوکافرانوبه فلاح نصیب نه سی په دې ذکر سوو آیتونوکې ددې تفصیل اوتشریح ده ، په اولنی او دوهم آیت کې دهغه تر ټولو لوی امتحان ذکر دی کوم چې په محشرکې درب العالمین په مخکې کیدونکی دی ، ارشاد فرمایې ، : وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا: یعنې هغه ورځ دیادولو قابله ده په کومه کې چې به مونږ دوی ټول یعنې دا مشرکان او د دوی جوړسوی

Maktaba Tul Ishaat.com

معبودان جمع کړ. ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا أَيْنَ شُرَكَاؤُكُمُ الَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ : یعني بیا به مونږ د دوی څخه پوښتنه وکړو چې تاسې چې کوم معبودان زمونږ حصه دار جوړکړي وه اوشریکان مو جوړکړي وه او خپل حاجت روا مشکل کشا به مو گڼل ، نن هغه چیري دي؟ ستاسې مدد ولي نه کوي؟ په دې کې یې لفظ دثم اختیار کړی دی چې دفراخي او ساعت دتیرولو دپاره استعمالیږي، ددې څخه معلومه سوه چې په محشرکې به ترجمع کیدو فوراً وروسته سوال جواب نه وي ، بلکه تر ډیري زماني پوري به دحیراني اوپریشاني په حالت کې ولاړ وي ، یوه موده وروسته به حساب کتاب اوسوالونه شروع سي ، په یوحدیث کې دنبي کریم ﷺ ارشاد دی چې هغه وخت به ستاسې څه حال وي ، کله چې الله ﷻ تاسې په میدان دحشرکې داسې جمع کړي لکه غشي په تیر کش (غش داني) کې جمع کول کیږي او پنځوس زره کلونه به دغه ډول یې ، او په یوه روایت کې دي چې دقیامت په ورځ به یو زرکاله ټوله په تیاره کې وي ، دیو بل سره به خبري هم نه کول کیږي (دا روایت حاکم په مستدرک کې او بیهقي ذکر کړی دی)

په دې روایت کې چې کوم دپنځوسو او یو زرکلونو فرق دی ، دافرق دقرآن په دوو آیتونو کې هم ذکردی ، یوځای ارشاد دی ، كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ : یعني دهغې ورځې مقدار به پنځوس زره کلونه وي او بل ځای ارشاد دی ، وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ: یعني ورځ به ستاسې درب سره یو زرکاله وي ، او ددې فرق وجه دا ده چې دا ورځ به دسخت تکلیف اومشقت په اعتبار سره اوږده وي او دمحنت اومشقت درجې به مختلفې وي ، په دې وجه دځینو دپاره به دا ورځ پنځوس زره کاله او دځینو دپاره به یو زرکاله محسوسیږي ، لنډه دا چې په دې تر ټولو لوی امتحان گاه کې به اول اوږده موده داسې تیریږي چې امتحان به نه شروع کیږي ، تردې چې دا خلق به ارزوگاني شروع کړي چې په یو ډول دي دا امتحان او حساب ژر واخیستل سي انجام هرڅه چې وي دا پریشاني تردد اوتکلیف خو به لیري سي ، دې اوږدو دریدو او لویې زماني ته د اشاري کولو دپاره یې لفظ د ، ثم : سره وفرمایل ، ثُمَّ نَقُولُ : دغه شان په دوهم آیت کې چې د مشرکانو دطرف څخه کوم جواب ذکر دی ، هغه هم په لفظ د ، ثم : سره راغلی دی ، ددې څخه دا معلومه سوه چې دغه خلق به هم ډیر وخت څخه وروسته په ډیر غور اوفکر دا جواب ورکړي چې ، وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ: یعني په الله رب العالمین به قسم واخلي او وبه وایي چې مونږ خومشرکان نه وو ، په دې آیت کې یې د دوی جواب په لفظ د ، فِتْنَتُهُمْ : سره تعبیر فرمایلی دی او دا لفظ امتحان او ازمائش ته هم ویل کیږي، اوپه چاعاشق اومفتون کیدوته هم، او دلته دواړه معنی مراد کیدی سي، په اول صورت کې به یې د دوی د امتحان جواب په امتحان سره تعبیر کړی دی اوپه دوهم صورت کې مراد دا دی چې دا خلق په دنیا کې په دې بتانو او دځان څخه په جوړکړو معبودانو باندې عاشقان وه، خپل ځانونه اومالونه به یې په دوی قربانول ، مگر نن هغه ټول محبتونه اوعشقونه ختم سول او د دوی جواب بغیر ددې څخه بل هیڅ ونه سو چې د دوی څخه یې دبیزاري او جدایي دعوی وکړه ، د دوی په جواب کې یوعجیبه شی دا دی ، چې د قیامت دمیدان هیبتناک منظرونه او درب العالمین دکامل قدرت عجیبه او نا آشنا واقعاتو دلیدو څخه وروسته به د دوی دا زړه ورتیا څنگه وسي چې درب العالمین په مخکې به ولاړ وي او درواغ به وایي ، او هغه هم د دومره سختوالي سره چې دهغه په لوی ذات به قسم هم وخوري

Maktaba Tul Ishaat.com

او وايي به چې مونږ مشرکان نه وو ، عام تفسير ليکونکي ددې په جواب کې فرمايي چې د دوی دا جواب دځه عقل، هوش او انجام ليدو په بنابانديزه دی ، بلکه دد يرهيبت او حيرانی په بنابانديزې ، او په داسې حالت کې دبنده په خوله چې هر څه راسي هغه وايي ليکن دحشر دميدان په عامو حالاتو او واقعاتو کې دغور کولو ځخه وروسته دا هم ويل کيږي ، چې الله ﷻ د دوی دپوره حالات او اندازه دمخامخ راوستو دپاره دوی لره داقدرت هم ورکړي چې دوی په آزادی سره څه غواړي ووايي ، لکه څنګه چې به يې په دنيا کې ويل ، چې د دوی دکفر اوشرک دلوی ګناه سره داعيب هم د دوی داهل محشر په مخکې راسي چې دوی په درواغو ويلو کې بې مثله دی ، چې په دې هيبتناکه موقع باندې هم د درواغو ځخه بيره نه کوي ، دقرآن کريم ديوبل آيت ، فَيَحْلِفُونَ لَهُ كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ: ځخه هم دې طرف ته اشاره کيدې سی ، چې معنی يې دا ده چې ، دا خلق لکه څنګه چې د مسلمانانو په مخکې د درواغو قسمونه اخلي ، دغه شان به په خپله درب العالمين په مخکې هم د درواغو دقسمونو ځخه نه په شا کيږي په محشرکې چې کله دوی دا قسمونه وکړي دخپل شرک او کفر ځخه انکاري سی نو دغه وخت به قادر مطلق ﷻ د دوی په خلو باندې دسکوت مهر ولګوي ، او د دوی اندامونو ، لاسونو او پښوته به حکم وکړي چې تاسې شاهدي وکړئ چې دې خلقو به څه کول ، دغه وخت به ثابته سی چې زمونږ لاسونه پښې سترګې او غوږونه دالله ﷻ پټ پوليس وه ، هغه ټول عملونه او کارونه به يو يو مخ ته راولي ، ددې متعلق په سورت ياسين کې ارشاد دی .

الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ. دقدرت ددې واقعې ترليدلو وروسته به دهيچا ځخه دازړه ورتياونه سی چې بياځه خبره پټه کړي يادرواغ ووايي په قرآن کريم کې بل ځای ارشاد دی ، وَلَا يَكْتُمُونَ اللَّهَ حَدِيثًا: يعنی په دغه ورځ به دوی دالله ﷻ ځخه څه خبره پټه نه کړل سی .

ددې مطلب حضرت عبدالله بن مسعود ؓ دا ښوولی دی چې اول اول به دوی ښه درواغ ووايي او په درواغ به قسمونه وخوري ليکن لکه چې په خپله د دوی لاسونه او پښې د دوی په خلاف شاهدي ورکړي ، نو دغه وخت به بيا دوی ديوی غلطی خبری زړه ورتيا ونه کړای سی ، غرض دا چې دا حکم الحاکمين په دربار کې به مجرم ته دخپل بيان ورکولو پوره موقع به آزادی سره ورکول سی ، اولکه څنګه چې ده په دنياکې درواغ ويل دغه وخت به هم دده دا اختيار دده ځخه وانه خيستل سی ځکه چې قادرمطلق به دده درواغو پرده په خپله دده د لاسو او پښو په حواله سره څيرې کړي ، دغه وجه ده چې تر مرګ وروسته کوم اولنی امتحان په قبرکې چې دمنکر اونکير ملائکو په مخکې وي ، کوم ته چې داخلي امتحان ويل کيږي ، ددې متعلق په حديث کې دی چې منکر اونکيرچې کله دکافر ځخه سوال کوي چې ، مَنْ رَبُّكَ وَمَادِيْنُكَ: يعنی ستا رب څوک دی او ستا دين څيشی دی؟ نو کافر به ووايي ،هاه هاه لَاْ اَدْرِيْ: يعنی های های په هيڅ نه پوهيږم ، ددې په خلاف مومن به په ،رَبِّيَ اللّٰهُ وَدِيْنِيَ الْاِسْلَامُ: سره جواب ورکړي ، معلوميږي چې په دې امتحان کې به څوک د درواغو ويلو زړه ورتيا نه سی کولی که داسې نه وي نو کافرهم دغه جواب ورکولی سی کوم چې مسلمان يې ورکوي ، وجه دا ده چې ددې امتحان اخيستونکي به ملائکې وي، دوی نه دغيبوعلم لري او نه دلاسو او پښو ځخه شاهدي اخيستې سی ، که

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته د دروغو ویلو اختیار بنده ته وای نو ملائکو به دده دجواب مطابق کارکولی او نظام به خراب وای، په خلاف دحشر دمیدان د امتحان څخه چې هلته سوال جواب نیک په نیکه دعالم خبیر اوقادر مطلق سره به وی، هلته که څوک دروغ هم ووایی ، خو وبه نه چلیږي ، په تفسیر بحر محیط اومظهري کې دځینو حضراتو داقول هم نقل دی ، چې د دروغو قسمونه خوړونکي دخپل شرک څخه انکار کوونکي به هغه خلق وی ، چې په ښکاره یې یو مخلوق ته خدای یا د خدای نائب نه وی ویلی ، مګر د دوی عمل دا وو چې دخدایي ټول اختیارات یې په مخلوق باندې تقسیم کړي وه او د دوی څخه به یې خپل حاجتونه غوښتل ، دی خلقو به خپل ځان مشرک نه ګڼې، په دې وجه به په میدان دحشرکې هم قسمونه اخلي ، دابه وایي چې مونږ مشرکان نه وو ، بیا به الله ﷻ د دوی رسوایي ښکاره کړي .

دوهم سوال په دې آیت کې دا کیږي ، چې دځینو آیتونو دقرآن څخه معلومیږي چې الله ﷻ به دکافرانو فاجرانو سره خبرې ونه کړي او ددې آیت څخه صفا دا معلومیږي ، چې د دوی سره به خطاب اوخبرې وی ، جواب دا دی چې کلام اوخبرې په طور دعزت او اکرام یا قبولوالي ددعا به نه وی ، دزجر او زورنې دخبرې نفي یعنې نیستوالي په دې آیت کې مراد نه دی او دا هم ویل کیږي چې دا خبرې کومې چې په دې آیت کې یې ذکر دی په واسطه دملائکو به وی ، اوپه کوم آیت کې چې دالله ﷻ دخبرو نیستوالي راغلی دی ، ددې څخه مراد بې له واسطه څخه خبرې دی .

دآیت په آخر کې ارشاد فرمایي ، انظُرْ كَيْفَ كَذَبُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ : په دې کې نبي کریم ﷺ ته خطاب دی چې ته وګوره چې داخلق پر خپلو ځانونو څومره دروغ وایي اوڅه چې دوی په الله ﷻ پورې جوړول ، هغه نن ټول ورک سول ، په خپلو ځانونو د دروغو ویلو څخه مراد دا دی چې وبال ددې د دروغو ویلو په دوی باندې پریوتونکي دی ، او د دروغو څخه مراد دا هم کیدی سي، چې په دنیا کې د دوی دالله ﷻ سره شریک او حصه دار جوړول یو دروغ وو ، نن حقیقت ښکاره سو د دوی د دروغو څخه پرده پورته سوه، او دا هم کیدی سي چې ددې افتراء څخه مراد د دروغو قسم دی کوم چې په محشر کې خوړل کیږي ، بیا به دلاسونو، پښو او اندامونو په شاهدۍ هغه دروغ ښکاره کیږي ، اوځینې تفسیر لیکونکي حضرات فرمایي چې د افتراء څخه مراد دمشرکانو هغه تاویلونه دي کوم چې به یې دخپلو باطلو معبودانو په باره کې په دنیا کې کول مثلاً ، مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى: یعنې مونږ ددې بتانو عبادت په دې نه کوو چې خدایان یې ګڼو ، بلکه په دې وجه یې کوو چې الله ﷻ ته به زمونږ سفارش وکړي ، مونږ به ورته نژدې کړي ، په محشر کې د دوی دا دروغ داسې ښکاره سوه چې تر ټولو دلوی مصیبت په وخت کې نه چا د دوی سفارش وکړی او نه یې په عذاب کې دکمی څخه ذریعه جوړه سوه ، دلته یو سوال دا دی ، چې ددې آیت څخه خو دا معلومیږي چې څه وخت دا سوال جواب وی ، باطل معبودان به ټول غائب وی ، یو به هم مخامخ نه وی او دقرآن مجید په یو آیت کې ارشاد دی ، احْشُرُوا الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ: یعنې په قیامت کې به دالله ﷻ حکم دا وی چې جمع کړی ظالمان او د دوی ملګري اوهغه چې دې خلقو یې عبادت کوی ، ددې څخه معلومیږي چې په محشرکې به باطل معبودان هم حاضر اوموجود وی ، جواب دا دی چې په دې آیت کې د دوی دغائب کیدو څخه مراد دا دی چې په حیثیت

Maktaba Tul Ishaat.com

دحصه دار او شریک یاسفارش کوونکی به دوی غائب وی چی دی خلقو ته به څه نفع نه سی رسولی، دغسی خوبه حاضر اوموجود وی ، دغه شان په دواړو آیتونو کی څه تعارض پاته نه سو او دا هم کیدی سی چی په یو وخت کی دوی تول په یوځای جمع سی ، بیا جلا سی ، او دا سوال ورڅخه دجلا کولو څخه وروسته وکړل سی .

په دی دواړو آیتونو کی دا خبره په خصوصیت سره د یادولو قابله ده چی الله ﷻ مشرکانو ته دحشر په هیبت ناک میدان کی دا اختیار ورکړی چی دوی په ازادی سره څه غواړی ووایی ، تردی چی په دروغو بی قسم واخیستی او دشرک څخه یی انکار وکړی ، په دی کی شاید دی طرف ته هم اشاره ده چی د دروغو ویلو عادت یو داسی خبیث عادت دی ، چی بیا نه پاته کیږی تردی چی دی خلقو کومو چی په دنیا کی د مسلمانانو سره په دروغو قسمونه اخیستل، دلته یی هم اخلی او دخدای دټول مخلوق په مخکی یی رسوایی وسوه ، په دی وجه په قرآن کریم اوحدیث کی په دروغو ویلو باندی دسخت عذاب وعده او زورنه راغلی ده ، په قرآن کریم کی ځای پرځای پر دروغجن دلعنت الفاظ راغلی دی اونبی کریم ﷺ فرمای چی د دروغو څخه ځان ساتی ځکه چی دروغجن دفاجرانو ملګری دی او دروغجن او فاجر به دواړه جهنم ته ځی، (ابن حبان فی صحیحه)

اودنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چی هغه عمل څه دی چی په هغه سره بنده دوزخ ته ځی؟ ده ﷺ وفرمایل، چی هغه عمل دروغ دی (مسند احمد)

اودمعراج په شپه نبی کریم ﷺ یوسړی ولیدی چی دده دخولی دواړه طرفونه څیریږی او بیا روغول کیږی او بیا څیری سی دغه ډول دا کار به دده سره ترقیامته پوری کیږی، ده ﷺ دجبرائیل امین ﷺ څخه پوښتنه وکړه ، چی دا څوک دی؟ نو هغه ورته وفرمایل چی دا دروغجن دی .

اودمسند احمد په یو روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی بنده تر هغه وخته پوری پوره مومن نه سی کیدی ترڅو پوری چی دروغ بالکل پری نهږدی تر دی چی په ټوقو اومذاق کی هم دروغ نه وایی دارنګه بیهقی اونورو کی په صحیح سند سره راغلی دی چی دمسلمان په طبیعت کی نور ناکاره خویونه خو کیدی سی ، مګر خیانت او دروغ نه سی کیدی اوپه یوحدیث کی دی چی دروغ د انسان رزق کموی

وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ : عام تفسیر لیکونکی ، ضحاک، قتاده او دمحمدبن حنفیه په نزد دا آیت دمکی دعامو کفارو په باره کی نازل سوی دی ، کومو چی به خلق دقرآن اوریدو او دده دتابعداری کولو څخه منع کول او په خپله به ورڅخه هم لیری لیری اوسیدل او دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه دا هم نقل دی چی دا آیت د نبی کریم ﷺ د اکا حضرت ابوطالب او نورو هغه اکاګانو متعلق دی کومو چی به خلق ده ﷺ ته د آزار رسولو څخه منع کول او دده ﷺ مرسته به یی کوله، مګرنه به یی په قرآن کریم ایمان راوړی اونه به یی ورباندی عمل کوی، په دی صورت کی به د ، يَنْهَوْنَ عَنْهُ : ضمیر دقرآن پرځای نبی کریم ﷺ ته راجع وی

(مظهری په روایت د ابن ابی حاتم دسعید بن ابی هلال څخه)

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ وُقِفُوا عَلَى النَّارِ فَقَالُوا يٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِاٰيٰتِ

او كه ته ووينى كله چې ودرول سي دوى په دوزخ باندې نو وبه وايي چې اى كاشكې ، موږ بيا وليږل سو او درواغجن نه كړو موږ ايتونه ،

رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٧﴾ بَلْ بَدَا لَهُم مَّا كَانُوا يُخْفُونَ

درب خپل اوسو موږ دايماندارو څخه ، نه ده داسې بلكه ښكاره سوه دوى ته ، هغه چې دوى پټوله

مِن قَبْلُ وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكٰذِبُونَ ﴿٢٨﴾

دمخكې څخه ، او كه بيا وليږل سي نو بيا به هم هغه كاركوي، دكوم څخه چې منع كړل سوي واست، اودوى بيشكه درواغجن دي

وَقَالُوٓا إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٢٩﴾ وَلَوْ

اووايي زموږ دپاره ژوند نسته مګر دا ددنيا ده اونه يُو موږ بيا ژوندي كيدونكي ، اوكاشكې

تَرَىٰٓ إِذْ وُقِفُوا عَلَىٰ رَبِّهِمْ قَالَ أَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ قَالُوا بَلَىٰ

چې ته ووينى كله چې دوى ودرول سي دخپل رب په مخكې وبه فرمايي چې آيا دا رښتيانه دي؟وبه وايي دوى ولې

وَرَبِّنَا قَالَ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٠﴾ ع قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ

نه قسم دى زموږ په رب ، وبه فرمايي نو وڅكى عذاب په بدله كې دخپل كفركولو ، تباه سول هغه خلق

كَذَّبُوا بِلِقَآءِ اللّٰهِ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتْهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُوا يٰحَسْرَتَنَا

چاچې درواغ وګڼل يوځاى كيدل درب تردې چې كله راسي په دوى قيامت ناڅاپه نووبه وايي اى افسوس ،خومره

عَلَىٰ مَا فَرَّطْنَا فِيهَا وَهُمْ يَحْمِلُونَ أَوْزَارَهُمْ عَلَىٰ ظُهُورِهِمْ أَلَا

كوتاهي موږ وكړه په دې كې او پورته به كړي دوى خپل بار په خپلو شاګانو خبردار

سَآءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٣١﴾ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَلَلدَّارُ

ناكاره بار دى كوم چې دوى لوړوي ، او نه دى ژوند ددنيا مګر لوبې او عبثې دى او آخرت كور

الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٣٢﴾

غوره دى دپرهيزګارانو دپاره ، آيا تاسي نه پوهيږي

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: اوكه تاسي (دوى) هغه وخت وويني (نو ډيره هيبتناكه واقعه به په نظر درسي) كله چي دوى (منكرين) د دوزخ په خوا كي ودرول سي (او نژدى وى چي دوزخ ته بې واچوى) نو (په زړګونو ارزوګانو سره) به ووايي چي افسوس څه ښه خبره به واى چي كه مونږ بيا (دنيا ته) وليږل سو اوكه داسي وسي نو مونږ به (بيا) دخپل رب آيتونه (لكه قرآن او نور) هيڅكله درواغجن نه كړو او مونږ به (خامخا) د ايماندارو څخه سو (الله ﷻ فرمايي چي د دوى دا ارزو اووعده ريښتيني قصد او اراده دحكم منلو نه ده) بلكي (دا وخت په يو مصيبت كي مبتني دي چي) كوم شي چي بې تردى مخكي (په دنيا كي) پټاوه، هغه اوس د دوى په مخكي راغلي دي (مرا ددى شي څخه د آخرت عذاب دى چي په دنيا كي دكفر او نافرماني په وجه بې د دوى سره وعده كيده او دپټولو څخه مراد انكار دى ، مطلب دا دى چي دا وخت دوى عذاب ويني په دى وجه دځان خلاصولو دپاره دا ټولي وعدي كوي اوپه زړونوكي بې هيڅكله دوعدي پوره كولو اراده نسته تردى چي) كه (بالفرض) دا خلق بيابيرته وليږل سي نو هم به هغه كاركوى دكوم څخه چي دوى منع سوى وه (يعني كفر او نافرماني) او يقيناً دوى (په دغه وعدوكي) بالكل دروا غجنان دى (يعني نه بې داوخت د وعدي پوره كولو قصد سته او نه كه دنيا ته ولاړ سي نو دوعدي پوره كولو احتمال ورڅخه سته) او دوى (منكرين) وايي چي ژوند بل يو هم نسته يوازى دا ددنيا ژوند دى او مونږ به (ددى ژوند دختميدو څخه وروسته بيا) ژوندى نه سو (لكه پيغمبران چي فرمايي) اوكه تاسي (دوى) هغه وخت وويني (نو ډيره عجيبه واقعه به ووينى) كله چي دوى دخپل رب په مخكي دحساب دپاره ودرول سي او الله ﷻ دوى ته فرمايي چي (ووايا ست) آيا دا (دقيامت په ورځ دوباره ژوندى كيدل) واقعي كار نه دى؟ دوى به ووايي چي بيشكه (واقعي دى) قسم دى په خپل رب ، الله ﷻ به وفرمايي ، نو اوس دخپل كفرخوند وڅكى (تردى وروسته به دوزخ ته وليږل سى) بيشكه په (سخته خساره كي پريوتل هغه خلق چا چي دالله ﷻ سره يوځاى كيدل (يعني دقيامت په ورځ ژوندى كيدل او دخداى په مخكي پيش كيدل) دروا غجن كړل (او دا دروا غجن كول به لږ ورځي وى) تردي چي كله هغه په مقرر وخت (يعني دقيامت په ورځ دخپلو دعوو سره) په دوى ناڅاپه (بې له خبر څخه) راسى (دغه وخت به د دوى ټولي دعوى او درواغ ختم سى او) دوى به ووايي هاى افسوس دى زمونږ په كوتاهي (اوغفلت چي ددى (قيامت) په باره كي (زمونږ څخه) وسوه اوحالت به د دوى دا وى چي دوى به خپل (دكفراونافرماني) بار په خپله شا باركړي وى، ښه واورى چي ناكاره به وى ، هغه شي كوم چي دوى په خپله شاباركړي وى اوددنياژوند نورهيڅ نه دى بغير دلوبو اوعبثو څخه (په وجه ددى چي غير نافع اوغير باقي پاته كيدونكي دى) اوبيا دآخرت كور دپرهيزګارانو دپاره ښه دى ، آيا تاسي سوچ نه كوى .

معلومات اومسئلي: داسلام درى بنيادى اصول دى ، توحيد ، رسالت ، د آخرت عقيده ، باقي ټولي عقيدى تردى درو لاندى داخلي دى او دا هغه اصول دى ، كوم چي انسان دده دخپل حقيقت او دژوند دمقصد څخه خبرداركوى دده په ژوند كي انقلاب راولي او دى پر يوه سيده اوصفا لاره ودروى ، په دوى كي هم په عملي طور سره دآخرت عقيده اوپه دى كي دحساب جزا اوسزا عقيده يوه داسي انقلابي عقيده ده چي دانسان د هريوه عمل مخ يوخاص طرف ته راګرځوى ، دغه وجه ده چي دقرآن كريم ټول مضامين

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی درو وارو عقیدو پر شاوخوا گرځی ، په ذکر سوو آیتونوکی په خصوصیت سره دآخرت دسوال جواب ، هلته د اوړدو سختو دثواب عذاب او ددنیا دناپائیداری حقیقت بیان سوی دی .
په اولنی آیت کی دمجرمانو انکار کوونکو دا حال بیان سوی دی چی په آخرت کی چی کله دوی د دوزخ پر غاړه باندی ودرول سی او دوی هغه عذاب ووینی کوم چی تر وهم اوخیال هم زیات هیبت ناک دی ، نو دا ارزو به وکړی چی کاشکی مونږ بیادنیاته ولیږل سو نو مونږ به دخپل رب دراليږل سوو آیتونو اوحکمونو درواغجن کول ونه کړو ، بلکه مونږ بهورباندی ایمان راوړو او په مومنانو کی به داخل سوی وای .
په دوهم آیت کی علیم اوخبیر احکم الحاکمین د دوی دبیری ددی ارزو راز داسی ښکاره کړی چی ارشاد یی وفرمایی ، دا خلق لکه چی همیشه په درواغو ویلو باندی عادت سوی دی ، دوی په دی خپله خبره او ارزوکی هم درواغجن دی او خبره ددی څخه ماسوا بله نه ده چی دپیغمبرانو علیهم السلام چی کوم حقیقتونه دوی ته راوړل سوی وه ، اودی خلقو هغه دپیژندو باوجود محض د ضد یا ددنیا دچل ول په بی کاره طمع سره په دغه حقیقونو دپردی اچولو کوشش کوی ، نن هغه ټولو یو یو د دوی مخ ته راغلل، دالله ﷻ دیو والی او دکامل قدرت نخښی یی په سترګو سره ولیدی ، دپیغمبرانو علیهم السلام رښتینوالی یی ولیدی ، دآخرت د دوباره ژوندی کیدو مسئله چی همیشه به ورڅخه دوی انکار کوی ، اوس دوی حقیقت ولیدی ، جزآء اوسزا یی مخامخ ولیدله ، دوزخ یی په خپلو سترګو ولیدی ، نو اوس د دوی سره د مخالفت څه دلیل باقی پاته نه سو ، په دی وجه اوس وایی چی کاشکی مونږ دنیا ته واپس کیدی سوای ، نو مومنان په واپس سوای وای .
لیکن د دوی پیداکوونکی علیم اوخبیر مالک وفرمایل ، چی اوس خوداسی وایی لیکن فرض کړه که دوی دوباره دنیا ته ولیږل هم سی، نو دوی به بیا دا خپل قول او اقرار هیر کړی او بیا به هم هغه هرڅه کوی ، کوم چی دوی مخکی کول ، او دکومو حرامو شیانو چی دوی منع سوی وه ، دوی به بیا هم په هغه کی اخته سی ، په دی وجه د دوی دا وینا هم یو درواغ او فریب دی .
د دوی دی قول ته درواغ ویل دکار د انجام په لحاظ سره هم کیدای سی ، چی دوی کومه وعده چی اوس کوی چی که دوی دوباره دنیا ته واپس سی نو درواغ به نه وایی ، مګر داسی کیدی نه سی ، دوی که هلته ولاړل هم خو بیا به درواغ وایی او ددی درواغ ویلو دا مطلب هم کیدی سی چی دا وخت هم چی کوم خلق دا وایی ، په رښتینی اراده سره یی نه وایی ، بلکه محض ددی وخت دفع کولو او دعذاب څخه دبچ کیدو دپاره وایی ، په زړه کی اوس هم د دوی اراده نسته .
په دریم آیت کی چی کوم دا ارشاد فرمایی ، وَقَالُوٓا اِنۡ هِیَ اِلَّا حَیَاتُنَا الدُّنۡیَا: ددی عطف په ، عَادُوْا باندی دی چی معنی یی دا ده چی که دوی دوباره هم دنیا ته ولاړ سی ، نو بیا به هم دنیا ته په رسیدو دا وایی چی مونږ خو ددی دنیا د ژوند څخه ماسوا بل ژوند نه منو ، نو دا ژوند ژوند دی ، دوباره مونږ نه ژوندی کیږو ،
دلته یو سوال دا کیدی سی چی کله په قیامت کی د دوباره ژوندی کیدلو اوبیا دحساب کتاب اوجزا سزا نظاره په سترګو ووینی ، نو داڅنګه ممکنه ده چی بیا دلته راسی اوانکار به کوی ، جواب دا دی چی د انکار کولو دپاره دا لازمه نه ده چی په واقع کی دوی ته ددی واقعاتو اوحقیقتونو پته نه وی اویقین یی ورباندی نه وی ، بلکه لکه څنګه چی نن ډیر کفار اومجرمان په اسلامی حقیقتونو پوره یقین لری اوبیا

Maktaba Tul Ishaat.com

هم محض دعناد او ضد په وجه په انکار او دروغ ویلو باندی قائم ولاړ دی دغه شان به دا خلق دنیا ته واپس راتلو څخه وروسته دقیامت دقائم کیدو او په دوباره ژوند او آخرت په ټولو حالاتو دپوره یقین لرلو باوجود محض دشرارت او عناد په وجه به بیا هم دروغ وایی ، لکه چی قرآن کریم په دی موجوده ژوند کی دځینو کفارو متعلق ارشاد فرمایی .

وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا:

دا خلق زمونږ د آیتونو څخه خو انکار کوی مګر په زړونو کی یی ددی دحق والی پوره یقین دی .

لکه چی دیهودو په باره کی یی ارشاد فرمایلی دی چی دوی خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم داسی پیژنی لکه خپل زامن چی پیژنی ، خو ددی باوجود د دوی په مخالفت باندی ټینګ دی .

لنډه داده چی دکائناتو خالق په خپل ازلی علم سره پیژنی چی ددی خلقو چی ددی خلقو دا وینا چی که دوباره دنیا ولیږل سی نو مومنان صالحان به سی بالکل دروغ او فریب دی که د دوی دوینا مطابق دوباره دنیا پیدا سی او دوی په کی پریښوول سی نو دوی به بیا هم هغه هرڅه کوی کوم یی چی په اولنی ژوند کی کول په تفسیر مظهری کی په حواله دطبرانی دا روایت دنبی کریم ﷺ څخه نقل سوی دی ، چی د حساب کتاب په وخت کی به الله ﷻ حضرت آدم ﷺ دمیزان عدل په خوا کی ودروی او وبه فرمایی چی د خپل اولاد عملونه په خپله وګوره اود کوم سړی نیک عملونه چی دده ترګناهونو یوه ذره هم زیات سی نو دی ته جنت ته رسولی سی ، او دالله ﷻ ارشاد به وسی چی زه به دجهنم عذاب ته یوازی هغه سړی داخلوم، دچا په باره کی چی زه پوهیږم که دی دوباره دنیا ته ولیږل سی، نو بیا به هم هغه حرکتونه کوی، کوم چی یی مخکی کول .

وَهُمْ يَحْمِلُونَ أَوْزَارَهُمْ: دحدیث په روایتونو کی دی چی دقیامت په ورځ به دنیکو خلقو عملونه ددوی سپرلی جوړسی او دبدکارو عملونه به د دروند بار په شکل کی د دوی پر سرونو بار سی ، دلته دا خبره په خاص طور سره دذکر قابله ده چی کافران او فاجران به دحشر په میدان کی دخپل ځان خلاصولو دپاره دبیری او بدحواسی سره مختلفی خبری وکړی ، کله به په دروغو قسمونه اخلی ، کله به ارزوګانی کوی چی مونږ بیا دنیا ته واپس سوی ، مګر دا به هیڅوک نه وایی چی مونږ اوس ایمان راوړو او اوس به نیک عمل کوو ، ځکه چی حقیقت به په یقینی طور دوی ته ښکاره سی چی دآخرت کور دعمل کورنه دی او دا چی د ایمان صحیح والی هغه وخت وی چی ایمان په غیبو باندی وی، ترلیدو وروسته تصدیق دخپلو لیدو دعمل تصدیق وی ، دخدای ﷻ او درسول ﷺ تصدیق نه وی ، ددی څخه معلومه سوه چی دالله ﷻ رضاء ددی فائده یعنی دهمیشه عیش او راحت په دنیا کی دامن او اطمینان پاک ژوند ، او په آخرت کی دجنت نعمتونه حاصلول یوازی ددنیا د ژوند په ذریعه کیدی سی ، نه ددی څخه مخکی په عالم ارواح کی ددی حاصلول ممکن دی او نه ددی دتیریدو څخه وروسته په عالم آخرت کی دا حاصلیدی سی .

ددی څخه واضحه سوه چی ددنیا ژوند ډیرلوی نعمت او ترټولو زیات قیمتی شی دی په کوم کی چی دا عظیم الشانه سودا اخیستل کیږی ، په دی وجه په اسلام کی ځان مړکول حرام او دمرګ دعا یا ارزو کول منع دی ، په دی کی دخدای ﷻ دیولوی نعمت ناشکری ده ، دځینو بزرګانو په حالاتو کی دی چی دوفات

Maktaba Tul Ishaat.com

په وخت کې د مولانا جامي رحمه الله دا شعر د دوی پر ژبه وو

با دو روز زندگی جامی نشد سیرِ غمت وه چه خوش بودی که عمرِ جاودانی داشتیم

(جامی رحمه الله فرمایي چې ای جامي په دې دوو ورځو ژوند ستا زړه هیڅ یخ نه سو څنګه به ښه وای که د همیشه ژوند مې نیولی وای)

ددې څخه دا هم واضحه چې د ذکر سوو آیتونو په آخري آیت کې او په نورو ډیرو قرآني آیتونو کې چې یې ددنیا ژوند ته لهو او لعب فرمایلي دی یا په ډیرو احادیثو کې چې د دنیا کوم بدوالي راغلي دی ، ددې څخه مراد د دنیا هغه لمحې او وختونه دي کوم چې دالله ﷻ د ذکر او فکر څخه په غفلت کې تیري سي ، ورنه کوم وخت چې دالله ﷻ په عبادت او ذکر کې تیریږي ددې برابري د دنیا یو نعمت او دولت نه سي کولی .

دن وهی دن هے شب وهی شب هے جو تیری یاد می گذر جائے

ورځ هغه ورځ او شپه هغه شپه ده ، کومې چې ستا په یادو کې تیري سي .

په یو حدیث شریف کې هم ددې تائید کیږي ، په کوم کې چې ارشاد دی .

اَلدُّنْیَا مَلْعُوْنٌ وَمَلْعُوْنٌ مَافِیْهَا اِلاَّ ذِکْرُ اللهِ اَوْعَالِمٌ اَوْ مُتَعَلِّمٌ .

یعني دنیا هم معلونه ده او څه چې په دې کې دي ټول ملعونان دي، مګر دالله ﷻ یاد او عالم یا شاګرد.

او که په غورسره وکتل سي نو عالم او طالب العلم هم په ذکرالله کې داخلیږي ، ځکه چې دعلم څخه هغه علم مراد دی کوم چې دالله ﷻ درضا سبب جوړسي ، نو داسې علم ازده کول او ښول دواړه په ذکرالله کې داخل دي ، بلکه دامام جزوي رحمه الله دوضاحت مطابق ددنیا هرهغه کارکوم چې دالله ﷻ دفرمان برداری یعني دشریعت داحکام مطابق کول کیږي ، هغه ټول په ذکرالله کې دا خل دي ، ددې څخه معلومه سوه چې ددنیا ترټولو ضروري کار دکسب معاش ټولې جائزې طریقې اونور ضرورتونه چې دشریعت ترحدونو وتلې نه وي ، دا ټول په ذکر الله کې دا خل دي ، د اهل اوعیال خپلوانو، دوستانو، ګاونډیانو او میلمنو او نورو دحقونو اداکولو ته په صحیح احادیثو کې صدقه او عبادت ویل سوي دي .

خلاصه دخبرې داسوه چې په دې نیا کې دالله ﷻ داطاعت او ذکرالله څخه ماسوا بل هیڅ شي دالله ﷻ په نزد غوره نسته ، محترم استاذ حضرت مولانا شاه انور شاه صاحب رحمه الله څه ښه فرمایلي دي .

بگذر از یادِ گل وگلین که هیچم یاد نیست در زمین وآسمان جز ذکر حق آباد نیست

دګل او دګل بوټي خبرې پریږده چې دا زما هیڅ نه یادیږي ، په مځکه او آسمان کې بغیر دالله ﷻ دیادولو څخه نور هیڅ شي آباد نسته .

خلاصه دخبرې دا سوه چې په دې دنیاکې داسې شي کوم چې هر یو انسان ته حاصل دي او تر ټولو زیات قیمتي او محبوب یعني خوږ دي هغه دده ژوند دی ، او دا هم معلومه ده چې دهر یوه انسان د ژوند یو محدود وخت دی ، او دا هم معلومه ده چې دخپل ژوند صحیح حد هیچاته معلوم نه دی چې اویا کاله به وي او که اویا ۷۰ ګنتي او که یوه ثانیه مهلت به هم نه وي ، بل طرف ته دا معلومه سوه چې دالله ﷻ درضا بیش قیمته پانګه چې ددنیا او دآخرت دراحتونو او خوشحالیو او دهمیشه آرام ضمانت دی هغه یوازې ددنیا په دې محدود ژوند کې حاصلول کیږي ، اوس هر یو انسان چاته چې الله ﷻ عقل او هوش

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکړی دی په خپله فیصله کولی سی چی دژوند دامحدودساعتونه اوسکینډونه په کوم کارکی خرڅ کولی په کاردی، بیشکه دعقل خواهش به دا وی چی داقیمتی وختونه تر زیاتو لازیات په هغه کارکی خرڅ کړی، دکوم څخه چی د الله ﷻ رضاحاصلیږی ، باقی هغه کار کوم چی ددی ژوند د برقرار ساتلو دپاره ضروری دی ، هغه په قدر د ضرورت اختیار کړل سی .

په یو حدیث کي دنبي کریم ﷺ ارشاد دی .

اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَرَضِيَ بِالْكَفَافِ وَعَمِلَ لِمَابَعْدَ الْمَوْتِ .

یعنی عقل مند هغه دی چی دخپل نفس محاسبه کوی اوپه قدر دکفایت په معاش راضی سی او دمرګ څخه د وروسته ژوند دپاره عمل کوی .

قَدْ نَعْلَمُ اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ الَّذِيْ يَقُوْلُوْنَ فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

مونږ ته معلومه ده چی تا په غم کی اچوی د دوی خبری نو دوی تا نه درواغجن کوی ، اولیکن داظالمان خودالله

يَجْحَدُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ فَصَبَرُوْا عَلٰى مَا

ﷻ دآیتونو څخه انکار کوی ، او درواغجن کړل سوی دی ډیرپیغمبران ستاڅخه مخکې نو صبریې کړی دی په

كُذِّبُوْا وَاُوْذُوْا حَتّٰۤى اَتٰىهُمْ نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ

درواغجن کولو او آزار رسیدلو تردی چی راغی دوی ته مدد زما ، اوهیڅوک نه سی بدلولی دالله خبری ،

وَلَقَدْ جَآءَكَ مِنْ نَّبَاِی الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۳۴﴾ وَاِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ

او تا ته دررسیدلی دی څه حالات دپیغمبرانو ، اوکه په تا باندی ګران وی

اِعْرَاضُهُمْ فَاِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تَبْتَغِيَ نَفَقًا فِي الْاَرْضِ اَوْ سُلَّمًا

د دوی مخ اړول نوکه ستاپه وس کیدی سی نو ولتوه یو غار په مځکه کی یا څینه

فِي السَّمَآءِ فَتَاْتِيَهُمْ بِاٰيَةٍ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدٰى

په آسمان کی بیا راوړه دوی ته څه معجزه ، او که الله ﷻ غوښتلی نوجمع کړی به یې وای ټول په سیده لاره

فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۳۵﴾ اِنَّمَا يَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ يَسْمَعُوْنَ ؕ

نو ته مه کیږه دناپوهانو څخه ، منی هغه کوم چی اوری

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْمَوْتٰى يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ ثُمَّ اِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ

او مړي به ژوندي کړي الله بيا به دهغه طرف ته را وستل سي ، او وايي ولې نه نازليږي په ده

اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلٰٓى اَنْ يُّنَزِّلَ اٰيَةً وَّلٰكِنَّ

يوه نښانه دده درب دطرف څخه ، ووايه چي دالله قدرت سته په دې خبره چي نازله کړي نښانه او ليکن

اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا طٰۗىِٕرٍ

په دوی کي ډير نه پوهيږي ، او نه دي يو تلونکي په مځکه او نه يو مرغه

يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ اِلَّآ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ ۭ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتٰبِ مِنْ شَيْءٍ

چي الوزي په دوو وزرونو خپلو ، مګر هر يو امت دي ستاسي په ډول ، مونږ نه دي پريښي په ليکلو کي يو شي

ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا صُمٌّ وَّبُكْمٌ فِي

بيا به ټول دخپل رب په مخکې جمع وي ، او کوم چي درواغجن کوي زمونږ آيتونه هغه کانه اوګونګيان دي

الظُّلُمٰتِ ۭ مَنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يُضْلِلْهُ ۭ وَمَنْ يَّشَاْ يَجْعَلْهُ عَلٰي صِرَاطٍ

په تيارو کي ، چالره چي غواړي الله ګمراه يې کړي او چالره چي غواړي ويې ګرځوي په سيده

مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۳۹﴾ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ

لاره باندي ، ته ووايه وګوری که راسي په تاسي عذاب دالله ﷻ ياراسي په تاسي قيامت

اَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ ۚ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۰﴾ بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ

نوآيا دالله څخه ماسوا بل څوک به رابولي ، وواياست که تاسي رښتيني ياست ، بلکه هغه به رابلی

فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَيْهِ اِنْ شَاۗءَ وَتَنْسَوْنَ مَا تُشْرِكُوْنَ ﴿۴۱﴾ ع

نوليری کوي به هغه مصيبت دکوم دپاره يې رابلی که وغواړي او تاسي هيروی څوک چي شريک جوړ وی

لنډ تفسير: (دکفارو پر بي هوده خبر نبي کريم ﷺ ته تسلي)

مونږ ښه پوه يو چي تابه د دوی (کفارو) خبری غمجن کوی نو (ته غم مه کوه بلکه د دوی معامله الله ﷻ ته

Maktaba Tul Ishaat.com

وسپاره ښکه چي) دا خلق (سیده په سیده) تاته دروا غجن وایي لیکن دا ظالمان دالله ﷻ دایتونوښه (قصداً) انکار کوي (که څه هم په دي ستا درواغ کول هم لازمیږي مګر د دوي اصل مقصد دالله ﷻ دآیتونو درواغ کول دي ، لکه چي په دوي کي ځیني مثلاً ابوجهل ددي اقرارکوونکي هم دي ، اوکله چي د دوي اصل مقصود دالله ﷻ دآیتونو درواغ کول دي ، نو د دوي دامعامله په خپله دالله ﷻ سره سوه هغه به په خپله ددوي سره پوه سي، ته ولي غم کوي) او (دکفارو دا درواغ کول څه نوي خبره نه ده بلکي) ډیر پیغمبران چي ترتامخکي راغلي دي هغوي هم درواغجن سوي دي چي په دغه هغو صبر وکړي چي دوي درواغجنان سول او دوي ته (قسم قسم) تکلیفونه رسول سوي دي تردي چي زمونږ امداد دوي ته ورسیدی (چي مخالف ورته مغلوب سو، تر دغه وخته پوري دوي صبرکوي) او (دغه ډول ترصبرکولو وروسته به تاته هم دالله ﷻ امداد ورسیږي ښکه چي) دالله ﷻ خبرو (وعدو) لره څوک بدلوونکي نسته (او دامداد وعده ستاسره سوي ده لکه چي فرمایي ، لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي: او تا ته دپیغمبرانو ځیني قصي (په قرآن کي) در رسیدلي دي (په کوموسره چي دالله ﷻ امداد او دمخالفینو په آخري کي مغلوب والي ثابتیږي ، اوخلاصه ددي تسلي دا ده چي دالله ﷻ وعده ده چي د اولنیو څو ورځو تر صبر کولو وروسته هغه خپلو رسولانو ته امداد لیږي ، په کوم سره چي په دنیاکي هم حق غالب کیږي اوباطل مغلوب کیږي او په آخرت کي هم دوي ته عزت اونجات حاصلیږي ، ستاسي سره هم دامعامله کیدونکي ده ته غم مه کوه او درسول الله ﷺ شفقت اومحبت چي کله ترټولو انسانانو زیات وو، ده ﷺ سره ددي تسلي دا غوښتل، چي دا مشرکان که په دي موجوده معجزو او دنبوت په دلیلونو مطمئن نه وي او ایمان ورباندي نه راوړي ، نو دڅه قسم معجزو چي دوي مطالبه کوي هغه معجزي که واقع سي شاید چي دوي ایمان راوړي اوپه دي وجه چي د دوي کفربي لیدي نوصبریدي به نهو نوپه راتلونکوآیتونوکي الله ﷻ داوښووله چي دخدای ﷻ دحکمت په تقاضاسره د دوي فرمائشي معجزي نه سي واقع کیدي تاسي لږ صبر کوي او د دوي د واقع کیدو فکر مه کوي لکه چي فرمایي ، وَإِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ: اوکه په تاسي (ﷺ) د دوي (منکرانو) مخ اړول (اوانکار) ګران وي (او په دي وجه ستا زړه غواړي چي د دوي فرمائشي معجزي ظاهري سي) نوکه ستا داقدرت وي چي په ځمکه کي (دتلو) څه غار یا آسمان ته (دتلو) څه ځینه ولټوي (بیا دهغه په ذریعه ځمکي یا آسمان ته ولاړ سي دهغه ځای څخه) معجزه (د دوي دفرمائشي معجزو څخه) راوړي نو (ښه ده ته داسي) وکړه (یعني مونږ خو د دوي دا فرمائشونه په وجه دنیستوالي دضرورت اوپه مقتضا دحکمت نه پوره کوو، که ته دا غواړي چي په څه نه څه ډول دي دوي مسلمانان سي نو ته په خپله ددي انتظام وکړه) اوالله ته (په تکویني طور) که منظوره وای نو دا ټول به یې په (نیکه) لارجمع کړي وای (لیکن کله چي دوي په خپله خپله نیکمرغي نه غواړي ، په دي وجه تکویناً الله ﷻ ته دامنظوره نه سوه ، نو بیا ستا په غوښتلو به څه وسي) نو ته (دا فکر پریږده او) په ناپوهانوکي مه کیږه (حق خبره او هدایت خو) هغه خلق قبلوي کوم چي (حق خبره دحق دطلب کولوپه اراده سره) اوري او (که ددي انکار اواعراض پوره سزا دوي ته په دنیاکي ونه رسیږي نوڅه به وسي آخر یوه ورځ) مړي به الله ﷻ د قبرونو څخه ژوندي راپورته کړي بیا به دوي ټول دالله ﷻ طرف ته (دحساب دپاره) راوستل سي او دا

Maktaba Tul Ishaat.com

(منکر) خلق (په عناد سره) وایي چې که دا نبي وي نو پرده (زمونږ دفرمائشي معجزو څخه) یوه معجزه ولې نازله نه سوه، ته ووایه چې الله ﷻ لره بیشکه قدرت سته پردې باندې چې هغه (هم دغسي) معجزه نازله کړي، لیکن په دوی کې اکثر (ددې انجام څخه) ناخبر دي (په دې وجه دا درخواست کوي اوهغه انجام دا دی چې که بیا هم ایمان رانه وړي، نوټول فوراً هلاک کړل سي لکه دا قول د الله ﷻ، وَلَوْ أَنزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِيَ الْأَمْرُ: مطلب دا دی چې د دوی دفرمائشي معجزې ظاهرولو ضرورت خو ځکه نسته چې مخکني کافي دي، لکه دا قول دالله ﷻ، أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ: اومونږ پوهیږوچې په فرمائشي معجزه به هم ایمان نه راوړي نودعذاب مستحق به سي، په دې وجه دحکمت تقاضا دا ده چې د دوی فرمائشي معجزه ظاهره نه سي اودآیت په آخر کې، وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ مِنَ الْجَاهِلِينَ: فرمایل دمحبت اوشفقت په طور دي، لفظ دجهالت په عربي ژبه کې ددې عامي معنی دپاره هم استعمالیږي په خلاف دپښتو او اُردو ژبې څخه، په دې وجه ددې ترجمه په لفظ دجهل یا جهالت سره کول د ادب څخه خلاف ده، په راتلونکي آیت کې دخبرداری دپاره دقیامت او دټولو مخلوقاتو دحشرذکردی) اوځومره قسمه حیوانان چې په مځکه (که په وجه دي اوکه په اوبو کې) گرځېدونکي دي اوځومره قسمونه چې دمرغانو حیوانانو څخه دي چې په خپلو دوو وزرو الوزي په دوی کې یوقسم داسي نسته کوم چې (دقیامت په ژوندي راپورته کیدو کې) ستاسي په شان ټولي نه وي او (که څه دا ټول د خپل ډیروالي په وجه بې شمیره به وي لیکن زمونږ په حساب کې ټول لیکلي دي ځکه چې) مونږ په (خپل) کتاب (لوح محفوظ) کې هیڅ شی (کوم چې ترقیامته پوري کیدونکي دي بې لیکلو) نه دی پرېښې (که څه هم الله ﷻ ته دلیکلو هیڅ ضرورت نه وو دده علم ازلي اوهرڅه لره چاپیره کوونکی کافي دی، لیکن د لیکلو په ذریعه په ضبط کې راوستل عام فهم او پوهې ته ډیر نژدې دي) بیا (ددې څخه وروسته په خپل مقرر وخت) به ټول (انسانان او حیوانان) دخپل رب مخ ته جمع سي (مخ ته بیا نبي کریم ﷺ ته دتسلی مضمون دی) اوکوم خلق چې زمونږ آیتونه درواغجن کوي دغه خو (دحق د اوریدو څخه) کانه (غوندي) او (دحق دوینا څخه) گونګیان (غوندي) کیږي (او ددې په وجه سره) په قسم قسم تیاروکي (گرفتار) دي (ځکه چې هر یوکفر یوه تیاره ده اوپه دوی کې مختلف قسم کفرونه جمع دي، بیا ددې اقسامو دکفر بیا بیا مکرر کول جلا جلا تیاري دي) الله ﷻ چالره چې وغواړي (په وجه دمخ اړولو دحق څخه) بې لارې کوي اوهغه چا لره چې وغواړي (په خپل فضل سره) پر نیکه لاره لگوي ته (دې مشرکانو ته) ووایه چې (ښه ده نو) داخو وښیاست چې که په تاسي باندې دخدای عذاب راسي یا پر تاسي قیامت راسي نو آیا (ددې عذاب اوهیبت دقیامت، دلیرې کولو دپاره به) دخدای ﷻ څخه ماسوا یوبل چاته او اوازونه کوي که تاسي (دشرک په دعوې کې) رښتیني یاست (نو په کار دي چې دغه وخت هم غیرالله راوبلی لیکن داسي به هیڅکله نه وي) بلکې (دغه وخت خو) خاص هغه رابلی بیا دکوم (آفت دلیرې کولو) دپاره چې تاسي (هغه) (راوبلی که هغه وغواړي نو دغه به لیري هم کړي (اوکه ونه غواړي نو نه یې لیري کوي اوکوم چې تاسي (اوس دالله ﷻ) شریک جوړ وي (هغه ټول هیرکړي (نوچې دسختي په وخت کې دغه خپل باطل معبودان هیروی نو په راحت کې ددوی څه په کار دي)

معلومات اومسئلې: په ذکرسوو آیتونو کې په اولني آیت کې چې بې کوم فرمایلي دي، فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ

یعني داکفارپه حقیقت کې تا نه دروغجن کوي بلکه دالله ﷻ آیتونه دروغجن کوي، ددی واقعه په تفسیر مظهري کې په روایت دسُدّي داسې نقل کړل سوي ده ، چې یو وار دقریشو کافرانو دوه سرداران اخنس بن شریق او ابوجهل یوځای سول ، نو اخنس دابوجهل څخه پوښتنه وکړه چې ای ابوالحکم! (په عربو کې ابو جهل دابوالحکم په نوم سره یادیدی په اسلام کې دده دکفر اوعنادپه سبب ورته دابوجهل لقب ورکړل سو) دلته مونږ دواړه یوازي یُو، زما او ستا خبري بل دریم نه اوري ما ته دمحمد بن عبدالله (صلی الله علیه وسلم) متعلق خپل صحیح صحیح خیال وښیه چې ته دی رښتنیی گنی اوکه دروغجن؟ ابوجهل په الله ﷻ قسم واخیستی او وی ویل چې بیشکه محمد (ﷺ) رښتینی دی، ده په ټول عمرکی هیڅکله دروغ نه دی ویلي، لیکن خبره دا ده چې دقریشو دقبیلي په یوشاخ بنوقصی کې ټولی خوبیانی جمع کیږي باقي قریش خالي پاته کیږي، نو دا مونږ څنگه برداشت کولی سو؟ جنډه دقصي په لاسونوکی ده په حرم کې حاجیانوته د اوبو ورکولو مهم خدمت د دوی په لاسونوکی دی ، دبیت الله دربانی او ددی کیلي د دوی په لاسونوکې ده اوس که نبوت هم په دوی کې ومنل سي نو دباقي قریشو سره به څه پاته سي، یو بل روایت دناجیه ابن کعب څخه نقل دی چې ابوجهل یو وار په خپله نبی کریم ﷺ ته وویل چې په تا د دروغو هیڅ گمان نسته او نه مونږ تا دروغجن کوو، البته مونږ دغه کتاب یا دین دروغجن کوو، کوم چې تا راوړی دی (مظهري)

ددی روایتونو په بنا باندی آیت په خپله حقیقي معنی کې هم اخیستل کیږي چې داکفارتانه مخکی دالله ﷻ دآیتونو دروغجن کوي او ددی آیت دا مطلب هم کیدی سي چې دا کفارکه څه هم په ظاهره کی تا دروغجن کوي خوپه حقیقت کې ستا د دروغ کولو انجام په خپله دالله ﷻ اودهغه دآیتونو د دروغجن کولو دی ، لکه چې په حدیث کې دي چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې کوم سړی ماته ازار رسوی ، دغه په حقیقت کې الله ﷻ ته د ازار رسولو حکم کی دی ، او دشپږم آیت ، وَمَامِنۡ دَ آبَۃٍ : څخه معلومه سوه چې د قیامت په ورځ به دانسانانو سره ټول حیوانان هم ژوندی کیږي اوابن جریر ابن ابی حاتم اوبیهقی دحضرت ابوهریره ؓ څخه روایت نقل کړی دی چې دقیامت په ورځ به ټول حیوانان اومرغان هم دوباره ژوندي کیږي اودالله ﷻ انصاف تردی اندازي پوري دی چې که یوښکرورحیوان بې ښکروحیوان په دنیاکی وهلی وی نو نن به دهغه بدل دده څخه اخیستل کیږي (دغه ډول به دنوروحیوانانو دیوبل سره دظلم بدل اخیستل کیږي) اوکله چې د دوی دیوبل څخه حقونه اوظلمونو بدلي واخیستل سي ، نوحکم به ورته وسی چې ټول خاوری سی نو ټول حیوانان به دغه وخت دخاور غونډۍ سی ، دا به هغه وخت وی چې کافران به ووایي ، یٰلَیۡتَنِیۡ کُنۡتُ تُرٰبًا: یعنی کاشکی! زماسره هم دامعامله سوي وای او زه خاوري سوي وای او دجهنم د عذاب څخه به خلاص سوی وای .

امام بغوی ؒ په یو بل روایت کی دحضرت ابوهریره ؓ څخه نقل کړی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې دقیامت په ورځ به ټولو دحقونو خاوندانو ته د دوی حقونه ادا سی تردی چې دبی ښکرو بیزو بدل به د ښکور ورو بیزو څخه واخیستل سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دخلقو دحقونو انتهايي اهميت)

داټولو ته معلومه چي حيوانان دخه شريعت او احکامو مکلف نه دي ، مکلف يوازې انسانان او پيريان دي ، اوښکاره خبره ده چي دغيرِ مکلف سره دجزاء اوسزا معامله نه سي کيدی ، په دی وجه علماء فرمايي چي په محشر کي دحيوانانو څخه بدلـه اخيستل پـه دی وجـه نـه دی چي دوی مکلـف دي ، بلکـه د رب العالمين د انتهايي عدل او انصاف په وجه دي ، چي يو حيوان پر بل حيوان څه ظلم وکړی نو بدلـه بـه ور څخه اخيستل کيږی ، باقي د دوی په بل هيڅ عمل به جزا او سزا نـه وی ، ددی څخه معلومـه سوه چي دالله ﷻ دمخلوق په مينځ کي دحقونو اوظلمونو معامله دومره سخته ده چي غيرِ مکلف حيوانان ور څخه هم نه دی ازاد مګر افسوس چي ډير ديندار ان ور څخه غفلت کوی .

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَاَخَذْنٰهُمْ بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ

او مونږ رسولان ليږلي وه ډيرو امتونو ته ستا څخه مخکي بيا دوی ونيول مونږ په سختي کي او په تکليف کي دد ې

يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿۴۲﴾ فَلَوْلَآ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَا تَضَرَّعُوْا وَلٰكِنْ قَسَتْ

دپاره چي دوی عاجزي وکړی، بيا دوی عاجزي ولي ونه کړه هرکله چي راغی په دوی عذاب زمونږ ليکن سخت سول

قُلُوْبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾ فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ

زړونه د دوی اوښائسته کړو دوی ته شيطان هغه کارونه چي دوی کول ، بيا کله چي دوی هير کی هغه نصيت

فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ۭ حَتّٰٓى اِذَا فَرِحُوْا بِمَآ اُوْتُوْٓا اَخَذْنٰهُمْ

چي دوی ته سو وو، خلاصی کړی مونږ په دوی دروازی دهرشی ، تردی چي دوی خوشحاله سوه په هغو شيانو چي

بَغْتَةً فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ ﴿۴۴﴾ فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۭ

دوی ته ورکړل سوی وو، ونيول مونږ دوی ناڅاپه نو دغه وخت دوی نااميده سول بيا پريکړل سو بيخ ددغه ظالمانو.

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۵﴾

اوټول صفتونه الله ﷻ لره دي چي پالونکی دی دټول جهان

لنډتفسير: او مونږ تر تامخکي امتونو ته هم پيغمبران ليږلي وه (ليکن هغوی ډوی ونـه منـل) نـو مـونږ دوی په تنګدستي او ناروغي سره ونيول چي دوی عاجزي وکړی (اودخپل کفر اوګناه څخه توبه وباسي) نو کله چي دوی ته زمونږ سزاګاني ورسيدی ، د دوی عاجزي ولي ونه کړه (چي جرم يې معاف سوی وای) ليکـن د دوی زړونه خو (تر سختو لا) سخت سـوه اوشيطان ددوی بدعلمونـه ددوی پـه خيـال کـی (هـم دغسی)

Maktaba Tul Ishaat.com

سانسته کول ... چې کله د غه [illegible] ... کوم چې ...
د ... او د طرف څخه ... کول کېدی ... [illegible]
او عذرت ... خلاصې کړی ... چې کله ... [illegible]
وسته ... [illegible]
له گمانه د عذاب څخه ... عذاب ... کې چې ... [illegible]
شرمك کې راځي ... په دې عذاب ... ﷺ ... [illegible]
پروردگار دی چې داسې ... [illegible]
معلومات اومسئلې په ذکر سوو آیتونو کې بې د شرک وکفر د مخلوقاتو ... [illegible]
خاص انداز بې کړی دی چې ... د مکې د مشرکو څخه پوښتنه کړی ده چې که په تاسې ...
مصیبت راسې، مثلاً د الله ﷺ عذاب ... په دې دنیا کې ... مرگ ... قیامت ... چې ...
راپورته سي نو په څپلو ... فکر وکړی او ووایاست چې تاسې په د غه وخت د څه څخه د مصیبت
لیری کولو د پاره څوک رابلې او د چا څخه په امید ساتی چې هغه به ستاسې څخه عذاب او مصیبت لیری
کړی، آیا دا د وبرو بتان چې په څپله تاسې جوړ کړی دی یا په مخلوق کې هغه خلق چې تاسې ورته
د خدایی حیثیت ورکړی دی. د غه وخت به ستاسې په کار درسي؟ او تاسې به دوی ته فریاد وکړی؟ او
که یوازې یو الله ﷺ به د غه وخت رابلې؟ د دې جواب د یر هوښیار لرونکي انسان څخه پټ دی څخه بل
څه نه سي کېدی کوم چې په څپله الله ﷺ د دوی د طرف څخه ذکر کړی. چې د دې عام مصیبت په وخت
کې نو لوی لا لوی مشرک هم ټول بتان او څپل جوړ کړی معبودان هیروی او یوازې یو الله ﷺ رابلې.
نو اوس نتیجه ښکاره سوه چې دا ستاسې بتان او معبودان کوم ته چې تاسې د خدایی حیثیت ورکړی
دی او دوی څپل مشکل کشا او حاجت روا گڼی او وایاست. نو کله چې د دې لوی مصیبت په وخت کې
ستاسې په کار رانه سي او ستاسې هم دا زړه ورتیا او همت نه وي چې دوی د څپل امداد د پاره
وغواړی، نو بیا د دوی عبادت او مشکل کشایي به په کومه ورځ به کار درځي؟
دا مضمون د تېرو آیتونو خلاصه دی. په دې کې بې په طور د فرض کولو سره دا وښووله چې ستاسې
د کفر او شرک نافرمانی په سزا کې پر تاسې د دې دنیا په ژوند کې هم عذاب راتلی سي او فرض کړه که په
ژوند کې عذاب رانه سي نو د قیامت راتلل خو یقیني دی په کوم کې چې به د انسان د ټولو عمرونو
او کارونو معاینه اخیستل کیږي او د جزا او سزا حکمونه به کول کیږي
د لته د قیامت څخه مراد خاص معلوم قیامت هم کېدی سي. او دا هم کېدی سي چې د لفظ د ساعة څخه
د لته کوچنی قیامت مراد وي. کوم چې د هر یو انسان په مرگ باندې قائمیږي. لکه مشهوره ده. من
مَاتَ فَقَدْ قَامَتْ قِيَامَتُهُ یعنی کوم سړی چې مړ سي د ده قیامت د دې وخت څخه قائم سو. ځکه چې
د قیامت د حساب او کتاب اولنی نمونه به په قبر او برزخ کې مخ ته راځي. او د قیامت د جزا او سزا نمونې
به د دې ځای څخه شروع کیږي. لنډه دا خبره ده چې نافرمانی کوونکي بې په دې آیتونو کې خبردار کړی
دی. چې د دې څپلې نافرمانی سره بې فکره کیږه مه. کېدی سي چې د دې دنیا په ژوند کې پر تاسې د الله

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷻ څخه عذاب راسی لکه چی پر تیرو امتونو راغلی دی ، اوکه دا هم نه وی نو بیا تر مرگ یا قیامت وروسته حساب کتاب خو یقینی دی.

لیکن دخپل ژوند دمحدودو وختونو اوپه دی کی د ورپیښو محدودو تجربو پر بنا خو دوی دپیغمبرانو علیهم السلام بیرول او خبرول یو وهمی شیان په خیال کی راولی او شاته یی اچوی اوخاص بیا چی داسی حالات هم په هره زمانه کی مخ ته راځی چی ډیر خلق دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ دښکاره نافرمانیو کولو باوجود ښه دعیش ژوند تیروی ، په دنیا کی مال ، دولت عزت اوشوکت ورته حاصل وی ، یو طرف ته دا لیدل ، بل طرف ته دالله ﷻ دپیغمبر ﷺ دا بیرول چی پرنافرمانی کوونکو به عذاب راځی کله چی دا دواړه خبری یوځای کړی، او وگوری نو د دوی بهانی لټوونکی طبعیت او شیطان دوی دوی ته دا ښیی چی د پیغمبر وینا یو هسی غولول او وهمی خیال دی ، ددی خبری دجواب دپاره په مینځ کی په ذکر سوو آیتونو کی الله ﷻ دتیرو امتونو واقعات او پر دوی جاری کیدونکی دقدرت قانون بیان کړی دی ارشاد فرمایی، وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَى أُمَمٍ مِنْ قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُمْ بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ. یعنی مونږ ستا څخه مخکی هم خپل رسولان دنورو امتونو طرف ته ولیږل اوپه دوه قسمه مو د دوی امتحان واخیستی اول مو وربانـدی سختی اوتکلیف واچول چی کـه ددی څخـه وبیریږی او دالله ﷻ طرف تـه راوگرځی ، کله چی هغوی په دی کی ناکام سول او پرځای ددی چی دالله ﷻ طرف ته راگرځیدلی وای او دسرکښی څخه منع سوی وای ښه به نافرمانی اوسرکښی کی بوخت سول نو اوس مونږ د دوی بل قسم امتحان شروع کړی اوپه دوی مو ددنیا دعیش اوعشرت دروازی خلاصی کړی او ددنیا د ژوند متعلق مو دوی لره هرڅه ورکړل ، چی شاید دا خلق نعمتونه ووینی اوخپل نعمت ورکوونکی اواحسان کوونکی وپیژنی اوپه دی شان سره دوی په عیش او عشرت کی داسی بوخت سول چی دالله ﷻ او رسول ﷺ پیغامونه یی گرسره هیرکړل او ددی خو ورځو په ژوند باندی به مست سول نو په دواړه قسمه ازمائش او امتحان کی ترناکامه کیدو وروسته پر دوی هر قسم دلیلونه تمام سول نو دالله ﷻ په عذاب کی ناڅاپه ونیول سول او داسی یی ورک کړل چی سلسله د نسب یی هم په دنیا کی پاته نه سوه ، داعذاب پر تیرو امتونو اکثر داسی راغی چی کله وربانـدی د آسمان څخه کله دمځکی څخه کله په بل صورت سره یو عام عذاب راغی او ټول قوم په کښی تباه سو دحضرت نوح ﷺ ټول قوم د اوبو داسی طوفان راگیر کړو چی دغرونو سرونه ورڅخه هم محفوظ پاته نه سول ، پر قوم عاد دهوا طوفان اته ۸ ورځی مسلسل راغی چی یو تن ورڅخه هم باقی پاته نه سو دثمود قوم دهیبت ناک اواز په ذریعه تباه سو ، دقوم لوط ﷺ پوره وطن چپه کړل سو ترننه پوری د اردن په علاقه کی دیو عجیبه قسمه اوبو په صورت کی موجود دی چی یو دساه والا شی جنگوښه ، ماهی اونور هم په کښی ژوندی نه سی پاته کیدی ، په دی وجه ده ته بحرمیت (یعنی مړ دریاب) وایی، او بحرِ لوط (یعنی د لوط ﷺ دریاب) ورته هم وایی.

غرض دا دی چی دتیرو امتونو دنافرمانو سزا اکثره خو ددی مختلف قسمه عذابونو په شکل کی راغلی ده چی په یو وخت په کښی ټول قوم تباه او برباد سوی دی اوکله داسی هم سوی دی چی په ظاهره په خپل طبعی مرگ مړه دی او داسی مړه دی چی مخ ته بیا د دوی څوک نوم اخیستونکی هم نه دی پاته سوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په ذکر سوی آیت کی داهم وښول سوه چی دالله رب العالمین عذاب پر یو قوم باندی داسی ناڅاپه نه راځی، بلکی په طور دخبردارولو لږ لږ سزاګانی نازلوی چی ددی په ذریعه نیک بخته خلق دخپل غفلت څخه راوګرځی په صحیح لاره روان سی، او داهم معلومه سوه چی کوم تکلیف او مصیبت په دنیا کی په طور دسزا ورکول کیږی ددی صورت که څه هم دسزا وی ، لیکن په حقیقت کی داسزا نه وی ، بلکی د غفلت څخه دبیدارولو دپاره وی ، چی دا عین تقاضا درحمت ده ، دقرآن کریم په یو بل آیت کی ارشاد دی ، وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ: یعنی مونږ دوی ته دلوی عذاب ورکولو څخه مخکی یو کوچنی عذاب ورڅکو چی که دوی اوس هم حقیقت وپیژنی ، دخپلی غلطی لاری څخه را وګرځی .

په دی آیتونو سره دا شبهه لیری سوه چی دا دنیا خو دجزاء کور نه دی ، بلکی دعمل کور دی ، دلته خو نیک بد ، خیر او شر په یو چا پوری تللی سی ، بلکه بدان تر نیکانو ښه وی ، بیا په دی دینا کی دسزا جاری کولو څه مطلب دی؟ جواب ښکاره دی چی اصل جزا او سزا خو په هغه ورځ دقیامت کی وی چی د هغه نوم ، يَوْمِ الدِّينِ : ینی دبدلی ورځ ده ، لیکن څه تکلیفونه په طور دنمونی دعذاب، او څه راحتونه په طور دنمونی دثواب په دی دنیاکی هم په مقتضا د رحمت سره رالیږل کیږی او ځینی عارفان خو دافرمایی چی ددنیا ځومره خوندونه او راحتونه چی دی ، دا هم ټولی نمونی دی دجنت د راحتونو ، ددی دپاره چی د انسان دی طرف ته مینه پیدا سی ، او ځومره تکلیفونه، پریشانی او غمونه چی په دی دنیاکی دی ، داهم ټولی دآخرت دعذاب نمونی دی ، چی انسان ددی څخه دځان خلاصولو اهتمام وکړی، که نه وی نو بغیر د څه نمونی ښوولو څخه یو شی ته نه مینه پیدا کیدی سی او نه ورڅخه بیریدی سی ، غرض دا دی چی ددنیا راحت او تکلیف په حقیقت کی جزاء او سزا نه دی، بلکی دجزاء او سزا نمونی دی ، او دا ټوله دنیا دآخرت شوروم (یعنی دنمائش خونه) ده چی سوداګر په کمپنی دخپل مال نمونی دښوولو دپاره ددکان په مخکی ایښی وی چی ددی په لیدو سره د اخیستونکی مینه پیدا سی ، معلومه سوه چی ددنیا غم او راحت په حقیقت کی جزاء او سزاء نه دی، بلکی دخالق څخه دپری سوی مخلوق رابطه بیا دخالق دتړلو یو تدبیر دی،

خلق را با تو چنین بد خو کنند   تا ترا ناچار رو آن سو کنند

(مخلوق چی کله ستا سره داسی بدخویی را واخلی (نو غم او تکلیف ورباندی راولی) چی ناچاره سی او دوباره ستا طرف ته راوګرځی)

په حپله دذکر سوی آیت په آخر کی هم ددی حکمت ذکر دی، لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ : یعنی مونږ چی په دنیاکی په دوی کوم محنت او مصیبت وغورځوی ددی منشا په حقیقت کی عذاب ورکول نه وو ، بلکه دا وو چی په مصیبت کی په طبعی طور سره هر سړی ته خدای یادیږی ، په دی وجه په دی محنت کی د دوی غورځول خپل طرف ته متوجه کول وو ، ددی څخه معلومه سوه چی په دنیا کی یو تکلیف او مصیبت په طور دعذاب هم په چایو سړی یا ټولی باندی راځی په دی کی هم په یو اړخ کی دالله ﷻ رحمت کارفرماوی.

ددی څخه وروسته په دریم آیت کی دا ارشاد دی ، فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ : چی کله د دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

نافرمانی ترحد زیاته سوه نو په یو خطرناک آزمائش کی دوی مبتلا سول چی په دوی د دنیا دنعمتونو او کامیابیو دروازی خلاصی سوی ، په دی کی یی په دی باندی عامو انسانان خبردار کړل چی په دنیا کی په یو سړی یا په یوه ډله باندی دعیش اوعشرت دزیاتوالی په لیدو باندی دوکه مه خوری چی ګوندی دا خلق په نیکه لار باندی دی او دوی دکامیاب ژوند مالکان دی ، بلکی ډیر واره داسی حالت په عذاب کی داخته نافرنانو هم وی ، دکومو چی ناڅاپه په سخته سزا کی نیول مقرر سوی وی ، په دی وجه نبی کریم ﷺ فرمایی چی په چا باندی دنعمت اودولت باران دی اوحال دا وی چی دی په خپلو ګناهونو اونافرمانیو کی بوخت وی نو پوه سی چی دده سره استدراج کیږی ، یعنی دده دا عیش اوعشرت دده په سخت عذاب کی دنیولو یوه نښانه ده (دا روایت دعقبة څخه کوی ، دارنګه په تفسیر ابن کثیر کی دی) اودتفسیر امام ابن جریر په روایت دعبادة ابن صامت ﷺ نقل کړی دی ، چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی .

کله چی الله ﷻ دیوقوم پریښوول اوزیاتول وغواړی نو دوه صفتونه په دوی کی پیدا کړی ، یو په هرکارکی اعتدال اومیانه روی دوهم حیا اوپاک دامنی ، یعنی دخلاف حق شیانو داستعمال څخه ځان ساتی اوکله چی الله ﷻ دیوقوم هلاکول اوبربادول وغواړی نو په دوی باندی دخیانت دروازی خلاصی کړی یعنی دوی دخپلو خیانتونو اوبدعملونو باوجود په دنیا کی کامیاب په نظر راځی ؟

په آخری آیت کی فرمایی چی کله دالله ﷻ عذاب راغی نو دظالمانو نسل یی قطع کی او ددی په آخرکی فرمایی ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ : په دی کی اشاره ده چی په مجرمانو اوظالمانو چی کله دالله ﷻ عذاب اومصیبت راسی نو دا دټول عالم دپاره یونعمت دی ، چی پردی دالله ﷻ شکر اداکول په کار دی .

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ وَاَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ مَّنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ

ته ووایه وګوری که چیری واخلی الله ستاسی غوږونه اوسترګی اومهرووهی ستاسی په زړونو نوڅوک دی داسی

يَاْتِيْكُمْ بِهٖ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُوْنَ ﴿۴۶﴾

رب دالله څخه ماسوا چی تاسی ته به دا شیان درکړی وګوره مونږ څنګه بیانوو آیتونه بیاهم دوی منع کوی ،

قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ بَغْتَةً اَوْ جَهْرَةً هَلْ

ته ووایه وګوری که راسی په تاسی عذاب دالله ناڅاپه یا په ښکاره نوڅوک به هلاک سی

يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا

دظالمانو څخه ماسوا ، او مونږ رسولان نه لیږو مګر

مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۚ فَمَنْ اٰمَنَ وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

خوشحالی او بیره اورونکی بیا چاچی ایمان راوړی او خپله اصلاح یی وکړه نونه به بیره په دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٤٨﴾ وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿٤٩﴾

اونه به غمجن وي، او چا چي دروا غجن كړل زمونږ آيتونه دوي ته به ورسيږي عذاب څكه چي دوي نافرماني كوله

لنډتفسير: ته ﷺ (دوي ته دا هم) ووايه چي دا ونبياست چي كه الله ﷻ ستاسي د اوريدو طاقت اوليدو طاقت بالكل واخلي (چي نه بيا تاسي څه اوري او نهويني) او ستاسي په زړونو مهر ولګوي (چي په زړه سره تاسي بيا په څه نه پوهيږئ) نو دالله ﷻ څخه ماسوا بل كوم معبود دي چي دا (شيان) تاسي لره بيا دركړي (كله چي ستاسي په اقرار سره هم داسي نه ده) نو بيا څنګه بل څوك دعبادت لايق ګڼي ته وګوره چي مونږ څنګه دليلونه په مختلفو اړخونو سره ښكاره كوو (بيا هم په دي دليلونو كي غور او ددي دنتيجو منلو څخه) دوي منع كوي، ته (دوي ته) دا هم ووايه چي دا ونبياست كه په تاسي دالله ﷻ عذاب راسي، برابره خبره ده كه په بي خبري كي يا په خبر سره نو آيا بغير دظالمانو څخه (په دي عذاب سره) به بل څوك هم هلاك سي (مطلب دا دي چي كه عذاب راغي نو هغه به ستاسي دظلم په وجه پر تاسي پريوزي، مومنان به ورڅخه خلاص وي په دي وجه تاسي لره پوهيدل په كار دي او ددي اميد مه كوي چي ګوندي كه عذاب راسي نو زمونږ سره په كنبي مسلمانان هم اخته سي، لكه چي وايي، مرګ انبوه جشني دارد، يعني د شريكي اوګڼي مرګ جشن وي، دا خبره هيره كړي، عذاب به پر تاسي يوازي وي مسلمانان به ورڅخه خلاص وي) او مونږ پيغمبران (دكومو پيغمبري چي په قطعي دليلونو سره ثابته سوي وي) يوازي په دي وجه ليږو چي دوي (ايماندارو او حكم منونكو ته) دالله ﷻ دناراضه كيدو څخه وبيروي (په دي وجه بي نه ليږو چي دحجت ترتماميدو وروسته بيا هم مخالفين دعناد په وجه چي كوم ډول ډول فرمائشونه كوي هغه ټول پوره كړي وښيي) بيا (ددغه پيغمبرانو د زيري وركولو او دبيرولو څخه وروسته) كوم سړي چي ايمان راوړي او (دځپل حالت عقيدتاً او عملاً) اصلاح وكړي، نو په دغه خلقو (په آخرت كي) هيڅ بيره نسته او نه به هلته غمجن وي او كوم خلق چي (ددي زيري او بيرولو څخه وروسته هم) زمونږ آيتونه دروا غ كوي، دوي ته به (ځيني وخت په دنيا كي نه وي نو په آخرت كي خو به خاما) عذاب وي، په وجه ددي چي دوي د ايمان ددائري څخه دباندي وزي.

قُلْ لَا أَقُولُ لَكُمْ عِنْدِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ

ته ﷺ ووايه چي زه نه وايم تاسي ته چي زماسره خزاني دالله دي او نه زه په غيبو خبرو پوهيږم او نه وايم تاسي ته چي زه ملائكه يم زه په هغه چليږم كوم چي ما ته دالله،

إِلَيَّ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾ وَ

حكم راځي، ته ووايه چي كله برابر يدي سي روند او ليدونكي، نو آيا تاسي غور نه كوي،

أَنْذِرْ بِهِ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْ يُحْشَرُوا إِلَىٰ رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُمْ

او خبردار كړه په دي قرآن سره هغه خلق كوم چي بيريږي ددي څخه چي دوي به جمع سي دځپل رب په مخكي داسي

Maktaba-Tul-Ishaat.com

مِّن دُونِهِۦ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٥١﴾

چې نه به وي دوی لره دالله څخه ماسوا نه څوك حمايتي او نه سفارش كوونكى ددې دپاره چې دوی خان وساتي (دګناه څخه

تفسير: ته (دې عنادګرو خلقوته) ووايه چې نه خو زه داسې ته دا وايم چې زما سره دالله ﷻ ټولې خزانې دي (چې څه زما څخه وغوښتل سي نو په خپل قدرت سره يې ورکوم) او نه زه ټول دغيبو شيان پېژنم (کوم چې دالله ﷻ خاصه ده) او نه زه تاسې ته دا وايم چې زه ملائکه يم، زه خو يوازې دهغه وحې تابعداري کوم کومه چې ماته راځي (چې په دې کې په مقتضاء دوحې باندې په خپله عمل کول هم داخل دي او نورو ته دعوت ورکول هم، لکه چې دتېرو تمامو پیغمبرانو علیهم السلام هم دا حال وو بيا) ته دوی ته ووايه چې ړوند او ليدونکى چېري برابريدی سي (اوکله چې دا خبره ټول منی) نو ايا تاسې (دسترګو خاوندان جوړيدل نه غواړې او په دې ذکر سوی تقريرکې) غور (کامل په قصد دطلب دحق) نه کوی؟ (چې په ښکاره سي او تاسې په ليدونکو کې دا خل سي) او که (په دې خبرو بيا هم دوی دعناد څخه نه واپس کيږي نو د دوی سره بحث او مباحثه بنده کړه او ستا چې کوم اصلي کار دی درسالت دتبليغ، په دې کې مشغول سي او) داسې خلق (په کفر او ګناه باندې دخدای دعذاب څخه په خاص طور سره) وبېروی (کوم چې په عقيده يا لږ تر لږه په احتمال سره) ددې خبرې بيره لری (چې په قيامت کې به) دخپل رب مخ ته به په داسې حالت کې جمع سی چې دالله ﷻ څخه ماسوا (کوم کوم چې مددګاران يا سفارشيان کفارو ګڼل دغه وخت به په دوی کې) نه به يې څوک مددګار وي او نه (مستقل) شفاعت کوونکى، شايد چې دا خلق دعذاب څخه وبېرېږي (او دکفر او ګناه څخه راوګرځي)

معلومات اومسئلې (دعربو دکفارو دطرف څخه دفرمائشي معجزو معاندانه مطالبه)

دمکې دکفارو په مخکې دنبي کريم ﷺ بې شميره معجزې او دالله ﷻ واضح دليلونه ښکاره سوی وه، دنبي کريم ﷺ په حالت ديتيمې کې دنيا ته تشريف راوړل، دليکلو ويلو څخه بالکل يوازې پاته کېدل په داسې مخکه کې پيدا کيدل دکومې چې خوا او شاته هم نه څوک عالم وو او نه علمي مرکز، دعمر شريف څلوېښت کلونه يې دغه ډول محض د امي والي په حالت کې دټولې مکې والاوو په مخکې تيريدل، بيا تر څلوېښتو کالو وروسته ناڅاپه دده ﷺ په ژبه مبارکه دداسې عقل حيرانوونکې حکيمانه کلام جاري کيدل دکوم فصاحت او بلاغت چې دعربو ټولو بليغانو ته چيلنج ورکړی، دهميشه دپاره يې د دوی په خلو باندې مهر ولګوی، دکوم چې معنی دحکمت څخه ډکې دي اوترقيامته پورې دانسانی ضرورتونو خيال په کښې ساتل سوی دی، ددې سره سره يې دکامل انسان دژوند يو داسې عملي نظام پيش کې، کوم چې دانسان عقل او دماغ هيڅکله پيش کولی او جوړولی نه سی، بلکه په عملي طور يې هم په دنياکې په ډېره کاميابي سره رائج کې او وي ښووی، اوهغه انسان کوم چې خپل انسانيت يې هيرکړی وو، دحيوانانو په شان يې د خپل ژوند مقصد يوازې خوراک څښاک، خوب او ويښيدل مقررکړی وو، ده ته يې دصحيح انسانيت سبق ورکړی دده مخ يې دهغه لوی مقصد طرف ته راوګرځوی دکوم دپاره چې دی پيدا سوی وو، دغه شان دنبي کريم ﷺ دژوند هر دور او په دې کې مخ ته راتلونکی

Maktaba Tul Ishaat.com

لوی لوی واقعات هر یو مستقله معجزه او دالله ﷻ د قدرت یوه نخښه ده ، چې ددې څخه وروسته یو انصاف خوښوونکي هوښیار لره دزیات نخښو او معجزو غوښتلو هیڅ گنجائش باقي پاته نه وو.
لیکن دقریشو کافرانو ددې سره سره دنورو قسمونو معجزو دخپل خواهش مطابق طلب وکړی ، د دوی په غوښتل سوو معجزو کې ځینې خوالله ﷻ ښوولې هم وی ، دسپوږمۍ دوې ټوټې کولو مطالبه یې کړې وه ، دشق القمر معجزه نه یوازې قریشو بلکه دغه وخت په دنیاکې داورسیدونکو لوی شمیر په خپلو سترگو سره ولیده ، لیکن د دوی دمطالبې موافق داسې لویه عظیم الشانه معجزه په ظاهریدو سره بیا هم دوی په خپل کفر، گمراهي اوضد باندې ار پاته سول ، اودالله ﷻ دی ښکاره نښانو ته یې ، إِنْ هٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ: وویل اونظر انداز یې کړې او ددې ټولو شیانو دلیدو اوپه دې دپوهیدو باوجود هم د دوی دطرف څخه روزانه مطالبه دمعجزو دنبي کریم ﷺ څخه کیده ، اولکه څنگه چې په تیرو آیتونو کې ذکر سوی دی لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ قُلْ إِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلَىٰ أَن يُنَزِّلَ آيَةً وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ : یعنی داخلق وایي چې که محمد ﷺ رښتیا دالله ﷻ رسول وی نو دده څخه معجزه ولې نه ښکاره کیږي ، قرآن ددې په جواب کې نبي کریم ﷺ ته حکم ورکړی ، چې ته دې خلقوته ووایه چې دالله ﷻ په قدرت کې هرڅه سته هغه چې کله څنگه ستاسي غوښتلو څخه بغیر یې شمیره ښکاره ښکاره معجزې نازلې کړې دي ، دغه شان هغه ستا غوښتل سوې معجزې هم نازلولې سي ، لیکن دوی دې پوه سي، چې په دې باره کې دالله ﷻ عادت دا دی چې کله د یوم قوم غوښتل سوی معجزه ښیي اوبیاهغوی په دې هم ایمان را نه وړی ، نو په دوی باندې فوراً عذاب را وستل کیږي ، په دې وجه دقوم مصلحت په دې کې وو او دې چې د دوی غوښتل سوی معجزې ښکاره نه کړې ، لیکن ډیر خلق چې ددې باریک حکمت نه بې خبره او ناپوه دی دوی په دې پوری مبنتی دی چې زمونږ غوښتل سوی معجزه دې ښکاره کړې ، په ذکر سوو آیتونو کې ددې خلقو دداسې سوالونو اومطالبو جواب په یو خاص انداز کې ورکړل سوی دی.
دمکې کفارو دنبي کریم ﷺ څخه په مختلفو وختونو کې درې مطالبې کړې وې ، اول دا چې که ته واقعي د الله ﷻ رسول یې نو دمعجزې په ذریعه زمونږ دپاره دټولې دنیا خزانې جمع کړه ، دوهم دا که ته واقعي رښتینی رسول یې نو زمونږ دپاره ټولو فائده مندو اونقصاني حالاتو او دواقعاتو پته وښیه چې مونږ د فائدو مندو شیانو دحاصلولو او دنقصاني شیانو څخه دځان ساتلو انتظام د اول څخه وکړو، دریم دا چې مونږ په دې نه پوهیږو چې دقوم یو سړی چې زمونږ په شان دمور اوپلار څخه پیدا وی او دانسانانو ټول صفتونه خوړل چیښل او په بازارونو کې گرځیدل او نور زمونږ په شان کوی اوهغه دالله ﷻ رسول جوړ سي، که داځوک ملائکه وی چې په پیدائش او صفتونو کې تر مونږ ښه وای نو مونږ به هغه دالله ﷻ رسول او خپل پیشوا منلي وای.

ددې درو واړو سوالونو په جواب کې ارشاد دی ، قُل لَّا أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَائِنُ اللّٰهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ: یعنی رسول کریم ﷺ ته هدایت وسو چې ددې خلقو ددې بې مطلبه سوالونو په جواب کې ته دوی ته صفا ووایه چې تاسي زما څخه ددنیا دخزانو مطالبه کوی ، نوما کله دا دعوی کړې ده چې دالله ﷻ ټولې خزانې زماپه لاس کې دي اوتاسي چې دامطالبه کوی چې د راتلونکي زماني

Maktaba Tul Ishaat.com

دپیښیدونکو فائده مند اونقصاني معاملو اوواقعوڅخه زه تاسي خبرکړم، نوماکله دا دعوی کړې ده ، چې دغیبو هر یو شي پېژنم اوتاسي چې کوم دملائکوخاص صفتونه په ما کې لیدل غواړې نو ما کله ویلي دي چې زه ملائکه یم.

لنډه دا چې زما څخه دلیل دداسي شي غوښتنې سي دکوم چې مادعوی کړې وي ، یعني دا چې زه دالله ﷻ رسول یم دهغه رالیږل سوي هدایت خلقوته رسوم اوپه خپله هم ددې تابعداري کوم ، نوروته هم ددې تاکید کوم لکه چې ددې دپاره یو دوه نه بې شمیره واضح دلیلونه پیش سوي دي ، درسالت ددې دعوی دپاره نه دا ضروري ده چې دالله ﷻ رسول دې دالله دټولو خزانو مالک سي اونه دا ضروري ده چې دې دې دخدای په شان په غیبو هر یوه لوی اوکوچنی شي خبروي او نه دا ضروري ده چې دې دې د انساني او بشري صفتونو څخه جلا څه ملائکه وي ، بلکه درسول منصب یوازې دومره دی چې دې دې دالله ﷻ دطرف څخه دراليږل سوي وحي تابعداري وکړي ، چې په دې دعمل کولو دعوت ورکول دي .

په دې هدایت نامې سره درسول دمنصب هم وضاحت وسو ، او درسول په باره کې چې کوم غلط تصورات دې خلقو قائم کړي وه ، هغه ورباندې هم لیرې سوه ، او ددې په ضمن کې یې مسلمانانوته هم داهدایت وکې چې دوی دعیسایانو په شان دخپل رسول څخه جوړ نه کړي اودخدایي مالک یې مقررنه کړي ، دده صلی الله علیه وسلم دلویې او دده صلی الله علیه وسلم سره دمحبت تقاضا هم دا ده چې دده صلی الله علیه وسلم متعلق دیهودو او نصاراؤ په شان په افراط اوتفریط اوغلوکې اخته نه سي چې یهودو خو دخپلو انبیاؤ دقتل څخه هم منع نه ده کړې اونصاراؤ دخپل رسول څخه خدای جوړ کړی .

ددې په اوله جمله کې چې یې دا ارشاد فرمایلی دی چې دالله ﷻ خزانې زما په لاس کې نه دي ددې خزانو څخه څه مراد دي؟ دتفسیر عالمانو دډېرو شیانو نومونه اخیستي دي ، مګر په خپله قرآن کریم چې کوم ځای دالله ﷻ دخزانو ذکر کړی دی ، نو په دې کې یې فرمایلي دي ، وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا عِنْدَنَا خَزَائِنُهُ: یعني یو شي په دنیاکې داسي نسته چې دهغه خزانې زمونږ سره نه وي ، ددې څخه معلومه سوه چې دالله ﷻ دخزانو مطلب ددنیا پر ټولو شیانو باندې حاوي دي ، څه خاص شیان نه سي متعین کېدلی ، اوکوموتفسیر لیکونکو حضراتو چې دخاصو شیانو نومونه اخیستي دي ، هغه هم په طور دمثال دي ، په دې وجه اختلاف هیڅ نسته ، اوهرکله چې دې آیت دا وښوله چې دخدای ﷻ ټولې خزانې دسیدالمرسلین ﷺ په لاسوکې هم نسته ، نو بیا دامت د یو بزرګ یا ولي متعلق دا خیال کول چې دې څه غواړې هغه کولی سي ، چاته چې وغواړي ورکولی یې سي، ښکاره جهالت دی .

په آخري جمله کې فرمایي ، وَلَا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ: یعني زه تاسي ته دا نه وایم چې زه ملائکه یم چې دهغه په وجه تاسي په ماکې بشري صفتونه وینې نو درسالت څخه انکار کوې .

په مینځنۍ جمله کې یې دخبرې طرز بدل کړی په ځای ددې چې ، وَلَا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ الْغَيْبَ : یې فرمایلي واي یعني داسي چې زه تاسي ته دا نه وایم چې زه په غیبو پوهیږم، بلکې داسي یې وفرمایل چې ، وَلَآ أَعْلَمُ الْغَيْبَ : یعني زه په غیبو پوه نه یم .

ابوحیان په تفسیرِ میحط کې ددې طرز دخبرې دبدلولو یوه باریکه توجیه داسي بیان کړې ده ، چې دټولو

Maktaba Tul Ishaat.com

خدایي خزانو مالک کیدل یا نه کیدل ، دغه شان دیو سرې ملائکه کیدل یا نه کیدل دا خو دلیدو سره تعلق لرې ، دغه مخاطب خلق ټول په دې پوهه وه چې دالله ﷻ خزانې ټولې دده ﷺ په لاس کې نه دې ، او دې ﷺ ملائکه هم نه دې ، محض په عناد سره به یې دا مطالبه کولې ، د دوی په جواب کې داویل کافي وه چې ما خو هیڅلکه ددې دعوه نه ده کړې چې زه دخزانو مالک یم یا زه ملائکه یم ، لیکن دعلم غیب مسئله داسې نه وه ، ځکه چې دغو خلقو دخپلو نجومیانو او کاهنانو په باره هم داعقیده لره چې دوی په غیبو باندې پوهیږي ، نو دالله ﷻ درسول په باره کې داسې عقیده لرل څه لیرې خبره نه وه خاص بیا کله چې دنبي کریم ﷺ دخُلې مبارکې څخه دوی ډیر دغیبو خبرونه اوریدلې هم وه او دهغو مطابق دواقعو کیدل یې هم لیدلې وه ، په دې وجه یې دلته یوازې ددعوی او خبرې نیست کول کافي ونه ګڼل بلکې د اصل کار نفي یې وکړه ، او وې فرمایل ، وَلَآ اَعۡلَمُ الۡغَيۡبَ : یعنې زه په غیبو باندې نه پوهیږم ، په دې کې یې د دوی داغلط فهمي هم لیرې کړه چې دالله ﷻ دطرف څخه په ذریعه دوحي یا الهام دکومو شیان علم یوې ملائکې یارسول یاولي ته روکړل سي ، دقرآن په اصطلاح کې دې ته علم غیب یا ددې پوهیدونکي ته عالم الغیب نه ویل کیږي . ددې آیت څخه دا هم واضحه سوه چې په دې معامله کې یو مسلمان ته خبره نه دې کول په کار، چې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته دغیبو په زرګونو لکونو شیانو علم ورکړی وو ، بلکې ټولو ملائکو او اولینو او اخرینو لره چې څومره علم ورکړل سوی دی ، تر دې ټولو زیات نبي کریم ﷺ ته علم ورکړل سوی دی ، دا دپوره امت عقیده ده ، البته ددې سره سره دقرآن او سنت دبې شمیره وضاحتونو مطابق دټولو مخکنیو او وروستنیو عالمانو دا هم عقیده ده چې دټولو کائناتو محیط (چاپیره کوونکی) علم یوازې دالله ﷻ خاص صفت دی لکه څنګه چې ددې په خالقوالي رازقوالي او قادر مطلق کیدو کې یوه ملائکه یا رسول دده ﷻ سره برابر کیدی نه سي، دغه شان دده په علم محیط کې هم دده سره څوک برابر کیدی نه سي، په دې وجه دالله ﷻ څخه ماسوا یوه ملائکه یا یوه پیغمبر ته که دغیبو په لکونو شیانو معلوم هم وي خو عالم الغیب ورته نه ویل کیږي .

لنډه دا ده چې دکائناتو دسردار سید درسولانو امام د انبیاؤ محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د کمالاتو په باره کې لویه جامعه جمله دا ده چې .

بعد از خدا بزرگ توئی قصه مختصر

په علمي کمالاتو کې هم دا ده چې ترخدای ﷻ وروسته ترټولو ملائکو انبیاؤ رسولانو دده ﷺ علم زیات دی مګر دخدای ﷻ برابر نه دی ، د برابرۍ دعوه کول دعیسائیت د غُلو لار ده ، د آیت په آخر کې فرمایي چې ، ړوند او لیدونکی نه سي برابریدی ، ددې مطلب دا دی چې نفساني جذبې او ضد او عناد پریږدی ، دحقیقت په سترګو وګوره چې په ړانده کې شمار نه سي ، ته لیدونکی او کتونکی سه او دا لیدل به تا ته په لږ څه فکر سره حاصل سي .

په دوهم آیت کې نبي کریم ﷺ ته داهدایت ورکړل سوی دی چې ددې واضحو او ښکاره بیانونو څخه وروسته هم که داخلق دخپل ضد څخه راونه ګرځي نو د دوی سره بحث او مباحثه پریږده او کوم چې اصل کار دی درسالت یعنې تبلیغ په دې کې مشغول سه او دتبلیغ او بیرولو مخ دهغه خلقو طرف ته راوګرځوه

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم چې په قیامت کې د الله ﷻ په مخکې د پیش کېدو او حساب او کتاب عقیده لري، لکه مسلمانان، یا لږ تر لږه چې ددې څخه منکر نه دي ، په طور د احتمال خو لږ تر لږه د اخطره ورسره سته چې شاید زموږ دعملونو زموږ څخه حساب واخیستل سي ، لنډه دا ده چې دقیامت متعلق دري قسمه خلق دي یو هغه چې په یقیني طور یې عقیده لري ، دوهم هغه چې په تردد کې دي ، دریم هغه چې بالکل منکر دي او دتبلیغ او بیرولو حکم انبیاؤ علیهم السلام ته که څه هم ددې دري وارو طبقو دپاره عام دي لکه چې دقرآن کریم د ډیرو ارشاداتو څخه ښکاره ده ، لیکن په اولو دوارو فرقوکې چې کله داثرقبلولو امید زیات دي، په دې وجه په دې آیت کې په خاص طورسره د دوی طرف ته دتوجه کولو هدایت فرمایل سوی دي ، وَأَنذِرْ بِهِ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحْشَرُوا إِلَىٰ رَبِّهِمْ .

وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ ۖ مَا عَلَيْكَ

او مه لیري کوه هغه خلق چې بلي خپل رب سهار او ماښام غواړي دهغه رضا په تا نسته

مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَيْءٍ

د دوی دحساب څخه څه شی او نه ستا دحساب څخه په دوی باندې څه شی

فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿٥٢﴾ وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُم بِبَعْضٍ

که ته دوی لیري کړې نو سی به دبې انصافو څخه ، اودارنګه موږ آزمایلي دي ځیني خلق په ځینو

لِّيَقُولُوا أَهَٰؤُلَاءِ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّن بَيْنِنَا ۗ أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ

سره ددې دپاره چې ووايي چې آیا دا خلق دي چې الله وربانديې فضل کړی دی په موږ تولوکې آیا نه دی الله ښه پیژندونکی

بِالشَّاكِرِينَ ﴿٥٣﴾ وَإِذَا جَاءَكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِنَا فَقُلْ سَلَامٌ

شکر کوونکی ، او کله چې راسي تاته زموږ دآیتونو منونکی نو ووایه سلام دی

عَلَيْكُمْ ۖ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۖ أَنَّهُ مَنْ عَمِلَ مِنكُمْ

په تاسی لیکلی دی ستاسی رب په خپل ځان رحمت چې څوك وکړی په تاسی کی

سُوءًا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِن بَعْدِهِ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥٤﴾

بدي په ناپوهي سره بیاددې څخه وروسته توبه وکړي اونیك سی نوخبره دا ده چې هغه بخښنې والامهربانه دی

وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ وَلِتَسْتَبِينَ سَبِيلُ الْمُجْرِمِينَ ﴿٥٥﴾ ع

او دغه شان موږ په تفصیل سره بیانوو آیتونه او چې ښکاره سي طریقه دګناهګارانو .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: او دا خلق (دخپل مجلس څخه) مه باسی کوم چی سهار ماښام (یعنی هیمشه په مناسب همیش والی) دخپل رب عبادت کوی چی په دی سره یوازی دالله ﷻ درضا قصدلری (اوبل څخه غرض دمال او مرتبی بی نه وی یعنی په عبادت کی بی همیش والی هم دی اواخلاص هم او إخلاص که څه هم باطنی کار دی خونخښی نښانی بی پیژندل کیږی هم اوکله چی دنه اخلاص څه دلیل نسته نو دا اخلاص ګمان وربانډی کول په کار دی) او د دوی (دباطن) حساب (اولټون) یوه ذره هم ستا په ذمه نه دی او (دا دباطن لټون بی ستا په ذمه نه کیدل داسی یقینی دی لکه چی) ستا (دباطن) حساب (اولټون) یوه ذره هم د دوی په ذمه نه دی چی ته وباسی دوی (یعنی که د دوی دباطن داخلاص لټون ستاپه ذمه وی نو ددی خبری امکان به وو چی دچا داخلاص تحقیق نه وی سوی، هغه جلا کړی ، مګر دا ستا په ذمه نه دی او بله څه وجه د دوی دایستلو دجائز کولو نسته اوچونکی نبی کریم ﷺ دامت مربی یعنی پالونکی اوتربیت کوونکی دی او دتربیت کوونکی دخپلوماتحتانو دحالاتو دلټون کولو احتمال کیدی سوای ، مګر ددی بر عکس چی دغه خلق به دخپل پیغمبر دباطنی حالاتو لټون کوی ، ددی هیڅ احتمال نه وو، په دی وجه دغه خو قطعًا نسته، خودلته بی احتمالی خبره دیقینی سره برابره کړه اونفی بی ورلره وکړه ددی دپاره چی ددی نیستوالی هم یقینی سی) که نه نو (د دوی په ایستلو سره) به ته په نامناسبه کار کوونکو کی سی او(مونږ چی کوم مومنان غریبانان اوکافران رئیسان جوړکړی دی چی په ظاهره دقیاس څخه لیری خبره ده) نو (ددی وجه دا ده چی) په دی طور سره مونږ (په دوی کی) ځینی (یعنی کفار) دنورو (یعنی مومنانو) په ذریعه سره په ازمائش کی اچولی دی (یعنی په دی کارکی دکفارو امتحان دی) ددی دپاره چی دا خلق (دمومنانوپه باره کی) ووایی چی آیا داخلق دی چی په مونږ ټولوکی (غوره سول) په دوی الله ﷻ خپل فضل کړی دی (یعنی دخپل دین داسلام دپاره بی د دوی انتخاب کړی دی) ایا داخبره نه ده چی الله ﷻ حق پیژندونکی ښه پیژنی (دی غریبو خلقو دخپل حقیقی نعمت اوانعام کوونکی حق وپیژندی اودحق په طلب کی شروع سوه نوپه حق دین اودالله ﷻ په نزدپه قبول والی مشرف سول او دی رئیسانو ناشکری اوکفر وکی نو ددی نعمت څخه محروم پاته سول) اوکله چی هغه خلق تاته راسی چی زمونږ په آیتونو ایمان هم لری نو ته (دوی ته د زیری اورولو دپاره) داسی ووایه چی په تاسی دی سلامتیا وی (یعنی په کفارو چی دهرقسم آفتونه په آخرت کی راځی ددی څخه دی تاسی په امن یاست او دوهم دا چی) ستاسی رب (په خپل فضل وکرم سره) رحمت کول (اوتاسی ته نعمتونه درکول) په خپله ذمه مقررکړی دی (تردی) چی کوم سړی په تاسی کی څه ناکاره کار وکړی (کوم چی) په جهالت سره (کیدی سی څکه چی دحکم څخه خلاف کول کار دجهالت دی مګر) دی بیا ددی څخه وروسته توبه وکړی او (دآئنده دپاره دخپلوعملونو) اصلاح وکړی (په دی کی دا هم راغله چی که دغه توبه ماته سی نوبیاتوبه وکړی) نودالله ﷻ شان دا دی چی (په دی باندی هم) لوی مغفرت کوونکی دی (چی دګناه سزا به هم معاف کړی) اولوی رحمت کوونکی دی (چی قسم قسم نعمتونه به هم ورکړی) او(لکه څنګه چی مونږ په دی مقام باندی دمومنانو اوکفاروحال اوانجام په تفصیل سره بیان کی) دغه شان مونږ آیتونه (چی د دواړو فرقو په حال اوانجام باندی مشتمل وی) په تفصیل سره بیانوو (چی د مومنانوطریقه هم ښکاره سی) اوچی

Maktaba Tul Ishaat.com

دمجرمانو طریقه (هم) ښکاره سي (او دحق اوباطل په واضح کولو سره دحق طلب کوونکي ته دحق پېژندل اسانه سي)

معلومات اومسئلې:

(دتکبر اوجاهلیت لیری کول اودعزت اوذلت اسلامي معیارپه اسلام کي دامیراوغریب هیڅ امتیاز اوفرق نسته)

کوم خلقوچي ددی سره چي انسان دی اوانسانیت یی ونه پېژندی ، بلکه انسان یی ددنیاپه مختلفو حیوانانوکی یوهوښیارحیوان وګڼی، کوم چي نورحیوانان خپل تابع اودخپل حکم لاندی راوستل ، خپل خدمت یی ورڅخه واخیستی، د دوی په نزد د انسان دپیدایش منشاء ددی څخه ماسوا نه سي کیدی چي دی دیوحیوان په شان خوړل چیښل، اوبیده کیدل ویښیدل اونور دحیواناتوجذبات استعمالول دخپل ژوند مقصدوګڼی، اوکله چي دژوند مقصد یوازی دا وی ، نو دا هم ښکاره خبره ده ، چي په دی دنیاکی د ښه بد، لوی کوچنی ، عزت اوبی عزتی ، شرافت اوذلت پېژندومعیارهم داکیدی سي چي دچاسره د خوراک چښاک، اخیستو استعمالولو سامان زیات وی ، هغه کامیاب، عزتمند اوشریف دی او دچاسره چي دا شیان کم وی ، هغه بی عزته ذلیل او نامراده او ناکام دی.

دانصاف خبره دا ده چي په دی عقیده اونظریه داخلاقو اونیکوعملونوهیڅ بحث هم دانسان په شرافت او عزت کی کیدی نه سي بلکه هغه عمل به ښه عمل اوهغه خوی به ښه خوی وی دکوم په ذریعه چي دا حیواني مقصدونه په ښه شان سره پوره سي ، په دی وجه دټولو انبیاؤ علیهم السلام او د دوی د راوړی دین اومذهب اولنی ا آخری سبق دا جوړ سو دی چي ددی ژوند څخه وروسته یو بل ژوند دی چي همیشه او نه قطعه کیدونکی به وی، هلته به راحت هم مکمل اوهمیشه وی اوتکلیف اوعذاب به هم مکمل اوهمیشه وی، ددنیا ژوند په خپله مقصد نه دی ، بلکه په دوهم ژوندکی چي کوم سامان په کار راتلونکی دی ، د هغه جمع کول ددی ژوند اصل مقصد دی.

رها مرنے کی تیاری می مصروف مرا کام اور اس دنیا می کیا تھا

پاته سو دمرګ په تیاری کولو کی مشغولیدل ، نو زما کار په دی دنیا کی نور څه وو.

اوپه انسان اوحیوان کی فرق هم دغه دی ، چي دحیواناتو سره دراتلونکی ژوندهیڅ فکرنه وی ، په خلاف دانسان چي دده ترټولو لوی فکر دهوښیارانو اوپوهانو په نزد دوهم ژوند برابرول دی ، په دی عقیده او نظریه باندی دشرافت او رزالت عزت او ذلت معیار شکاره خبره ده چي زیات خوړل چیښل یا زیات مال او دولت جمع کول به نه وی ، بلکه ښه خویونه اونیک عملونه به وی ، په کومو چي دآخرت دعزت دار مدار دی ، دنیا چي دکوم وخت څخه هم د انبیاء علیهم السلام دهداياتو اوتعلیماتو او دآخرت دعقیدی څخه غافله سوه ، نو ددی طبعی نتیجه مخ ته راغله چي دعزت او دولت او شرافت او رزالت معیار یوازی ډوډی اونس پاته سو، څوک چي په دی کی کامیاب دی ، هغه ته شریف اوعزتمند ویل کیږی ، اوڅوک چي په دی کی ناکامه اونیمګړی دی ، هغه غریب ، بی عزته، رزیل او ذلیل ګڼل کیږی ، په دی وجه په هره زمانه کی یوازی ددنیا د ژوند په رنګینیو کی بندو انسانانو مالداران عزتمند ، شریفان او غریب او فقیران بی عزته او رزیلان ګڼلی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دحضرت نوح ﷺ قوم ایمان راوړونکو غریبو خلقو ته په دی معیار سره رزیلان وویل او دا اعتراض یې وکی ، چې مونږ ددی رزیلانو خلقو سره نه سو کښینستی، که ته غواړی چې مونږ ته څه پیغام واوروی نو دا غریبان دخپلی خوا څخه لیری کړه قَالُوا اَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ؛ یعنی دا څنګه کیدی سی چې مونږ په تاپه داسی حالت کی ایمان راوړو چې ستا تابعداران رزیل قسم خلق دی ، حضرت نوح ﷺ ددی زړه زخمی کوونکی کلام دوی ته جواب په یو خاص پیغمبرانه اندازکی دا ورکی چې ، وَمَا عِلْمِيْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُوْنَ: یعنی زه د دوی دعلمونو څخه پوره خبر نه یم چې دا فیصله وکړم چې دوی رزیلان دی اوکه شریفان اوعزتمندبلکه دهرسړی دعمل حقیقت اوددی حساب زمارب ته معلوم دی کوم چې د زړونو خبردار دی .

حضرت نوح ﷺ ددی جاهلانو متکبرانو او دانسانی شرافت او رزالت دحقیقت څخه دناخبرو خلقو مخ د یو ښکاره حقیقت طرف ته راوګرځوی ، دایی وښووله چې دشریف او رزیل الفاظ چې کوم تاسی خلق استعمالوی او دحقیقت څخه یې خبرنه یاست، بس پیسی والا ته شریف اوغریب ته رزیل وایاست اوحال دا دی چې دشرافت اورذالت معیار پیسه نه ده ، بلکه عمل اواخلاق دی ، په دی موقع حضرت نوح ﷺ دا فرمایل سوای چې دعملونو او داخلاقو په معیار سره دا خلق تر تاسی زیات شریفان او معزز دی لیکن د تبلیغ پیغمبرانه طرز او اصلاح ورلره ددی اجازه ورنه کړه چې داسی الفاظ ووایی چې د رزالت دار او مدار خو په کارونو اوعملونو باندی دی او زه د دوی دعملونو څخه پوره خبر نه یم ، په دی وجه د دوی دشریف کیدو او رزیل کیدو فیصله نسم کولی .

دحضرت نوح ﷺ څخه وروسته هم په هره زمانه کی دقوم غریبو خلقو ته برابره خبره ده که دخپلو عملونو او اخلاقو په اعتبار سره څومره شریفان اوعزتمند وه ، مګر دنیا پرستو متکبرانو خلقو ورته حقیر او ذلیل ویلی دی او داهغه خلق دی چاچی دخپلی پوهی اونیکو خویونو په بنا په هره زمانه کی دانبیاؤ علیهم السلام په دعوت قبلولوکی مخکی والی کړی دی ، نژدی چې دمذهبونو اوملتونو په تاریخ دنظر کوونکو په نزد دیوپیغمبر دریښتینوالی اوحقوالی یو دلیل دا جوړ سو چې دده اولنی تابعداران به دقوم غریب خلق وی ، هم دغه وجه وه چې کله د روم بادشاه هرقل ته دنبی کریم ﷺ خط مبارک داسلام ددعوت دپاره ورسیدی او ده دده دحقوالی او ریښتینوالی تحقیق کول وغوښتل نو د اشناؤ خلقو څخه چې یې دنبی کریم ﷺ په باره کی کومی پوښتنی کړی دی په هغوکی یوه پوښتنه دا هم وه چې دده ﷺ اکثره تابعداران غریبان عوام دی اوکه لوی خلق؟ کله چې ده ته وویل سوه چې غریب خلق دی نو ده وویل ، هُمْ اَتْبَاعُ الرُّسُلِ : یعنی د رسولانو اولنی تابعداران هم دا خلق وی .

دنبی کریم ﷺ په مبارکه زمانه کی بیا دا سوال راپورته سو، په ذکر سوو آیتونوکی ددی جواب دخاصو هدایتونو سره ذکر دی .

ابن کثیر دابن جریر رحمه الله د روایت څخه نقل کړی دی ، چې دقریشو دکفارو څو سرداران ، عُتبه، شیبه، ابن ربیعه، مطعم بن عدی اوحارث بن نوفل او نور دنبی کریم ﷺ اکا ابوطالب ته را غلل او وی ویل چې ستا د وراره محمد (صلی الله علیه وسلم) دخبری اوریدلو اومنلوڅخه مونږ ته یو دا بندیز دی چې په ده ګیر چاپیره هر وخت هغه خلق وی کوم چې یا خو زمونږ غلامان وه اومونږ ازادکړل اویاهغه خلق وی چې

Maktaba Tul Ishaat.com

زمونږ په رحم اوکرم به يې ژوند تير وي ، ددې سپکو اوذليلو خلقو په موجودګۍ کې څنګه مونږ دده په مجلس کې شريک کيدې سو؟ ته ده ﷺ ته ووايه چې که زمونږ دراتلو په وخت کې دغه خلق د مجلس څخه ليرې کوې نو مونږ به دده خبره اورو او فکر به پر کوو.

ابوطالب نبي کريم ﷺ ته دا خبره وکړه ، نوفاروق اعظم رضی الله عنه دا رايه ورکړه چې په دې کې څه حرج نسته، د څو ورځو دپاره تاسې داسې هم وکړئ او وګورئ ، دا خلق څو هسې هم ستاسې سره مينه لري ، ددغه خلقو دراتلو په وخت کې دې دمجلس څخه ليرې کول کيږي دوې داخبره بده نه ګڼي په دې باندې دا ذکر سوې آيت نازل سو، چې په سختۍ سره يې ددې داسې کولو څخه نبي کريم ﷺ منع کې ، دآيت ترنازليدو وروسته حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه معذرت وغوښتی چې زماخيال غلط وو، اودغه غريب خلق دکومو په باره کې چې داخبرې سوې وې ، دغه وخت حضرت بلال حبشي رضی الله عنه صهيب رومي رضی الله عنه عماربن ياسر رضی الله عنه سالم مولی ابي حذيفه رضی الله عنه صحيح مولی اسيد رضی الله عنه اوحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه، مقداد ابن عمرو رضی الله عنه، مسعودبن القاري رضی الله عنه ذوالشمالين رضی الله عنه او نور صحابه کرام رضی الله عنهم وه ، دکومو دعزت اوشرافت پروانه چې دآسمانه څخه نازل سو اوپه قرآن کريم کې ددې متعلق په بل ځاى کې ددې تاکيد په دې الفاظو کې راغلی دی ،وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا: په دې کې يې نبي کريم ﷺ ته دا هدايت کړی دی چې ته خپل نفس ددغه خلقو سره وتړه کوم چې سهار ماښام يعنی هر وخت دخپل رب عبادت کوي په اخلاص سره ته خپل نظرونه د دوی څخه علاوه پر بل چا مه اچوه، دکومو غرض چې دا وي چې ددنيا د ژوند ښايست يې مقصود وي او دداسې خلقو خبره مه منه دکومو زړونه چې ما دخپل ذکرڅخه په غفلت کې اچولي دي او کوم چې دخپل نفساني خواهشاتو تابعداره سوې دي او دکوموکارچې ترحدڅخه دوتلو دي ، په ذکر سوې آيت کې يې ددغه غريبو خلقو صفت دا وښوې چې دوی سهار اوماښام خپل رب بولي ، دسهار اوماښام څخه مراد دمحاوري مطابق د ورځې اوشپې وختونه دي او دبللو څخه مراد عبادت کول دي او د ورځې او شپې ددې عبادت سره يې دا قيد هم لګولی دی چې ، يُرِيدُوْنَ وَجْهَهٗ : په دې سره يې دا خبره وښووله چې په عبادت کې ترڅو پورې چې اخلاص نه وي ، ددې هيڅ اعتبار نسته .

دآيت په آخرکې چې کوم دا ارشاد يې فرمايلی دی چې د دوی حساب ستا په ذمه نه دی اوستاحساب ددوی په ذمه نه دی ، دابن عطيه اوزمخشري او نورو دتحقيق مطابق په دې کې د، حِسَابُهُمْ او، عَلَيْهِمْ: ضميرونه دمشرکانو ددغه رئيسانو وطرف ته راجع دي کومو چې دغريبو مسلمانانو دمجلس څخه دليرې کولو فرمايش کوی، نوالله ﷻ نبي کريم ﷺ ته وښووله چې دا خلق که ايمان راوړي اوکه يې رانه وړي ته د غريبانو مسلمانانو په مقابله کې د دوی پر وا مه کوه ، ځکه چې د دوی دحساب ذمه واری پر تا نه ده ، لکه چې ستادحساب ذمه واري پر دوی نسته ، که دا ذمه واري پر تا وي ، يعنی که د دوی په نه مسلمانيدو ته ونيول سوې نو په دې صورت کې به تا غريبان مسلمانان ددې سردارانو دپاره دمجلس څخه ليرې کولي سواى ، خو چې کله داسې نه ده نو د دوی دمجلس څخه ليرې کول ښکاره بې انصافي ده ، که ته داسې وکړې نو ستا شمير به په بې انصافو خلقو کې راسي .

Maktaba Tul Ishaat.com

په دوهم آیت کی ارشاد فرمایی چی مونږ دغه ډول ځینی دځینو په ذریعه په ازمائش کی اچولی دی چی د قریشو سرداران دخدای ﷻ ددی زبردست قدرت تماشه وکړی ، چی غریبان مسلمانان کوم چی دوی سپک او ذلیله ګڼل دالله ﷻ درسول ﷺ په تابعداری کولو باندی څومره لوړمقام ته ورسیدل ، اوپه دنیا اوآخرت کی ورته څومره عزت حاصل سو ، او دوی دا وابی چی آیا دا غریب خلق دالله ﷻ دانعام اواکرام مستحق وه چی مونږ ټول شریفان پریښوولو او دوی بی په دی انعام او اکرام ونمانځل .

بردمش بر من دل سوخته لطف دگر است ‏ ‏ ‏ ‏ این گدا بین که چه شائسته انعام افتاد

پر ماباندی چی زړه می په غمونو سوی دی ، هر وخت نوی نوی مهربانی کوی زما پـه ډول فقیر تـه وګوره چی څومره د انعام مستحق سو .

دکشاف او نورو دتحقیق مطابق د دوی دا خبره ددی ازمائش اوامتحان نتیجه ده کوم چی ددغو کمزورو مسلمانانو په ذریعه د دوی څخه اخیستل سوی وو ، دوی په دغه امتحان کی ناکامه سول ، پرځای ددی چی دقدرت پر دغو نښانو باندی بی فکر کړی وای ، نو دی نتیجی ته به رسیدلی وای ، چی شرافت او رزالت په مال دولت او نورو باندی موقوف نه دی ، بلکی ددی دار او مدار پر اخلاقو او عملونو باندی دی نو دوی چیه په الله ﷻ باندی دا الزام لګول شروع کړل چی دعزت مستحق خو مونږ وو ، مونږ بی پاته کړو ، دوی ته بی ولی عزت ورکړی؟ الله ﷻ ددی په جواب کی بیا دوی د اصلی حقیقت طرف ته دمتوجه کولو دپاره دا جمله وفرمایله ، أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِالشَّاكِرِينَ : یعنی الله ﷻ ښه پیژنی چی کوم خلق حق پیژندونکی اوشکر ګذار دی ، مطلب دا دی چی دحقیقت په اعتبار سره شریف اوعزتمند هغه سړی دی چی دخپل احسان کوونکی حق وپیژنی اوشکر ګذار سی اوهم دغه مستحق دانعام اواکرام دی نه هغه چی شپه او ورځ دخپل احسان کوونکی اوانعام کوونکی په نعمتونو کی دلوبو کولو باوجود دهغه نافرمانی کوی .

(یوځو احکام او هدایات)

دذکر سوو آیتونو څخه څوحکمونه اوهدایتونه معلوم سول . اول دا چی دچا ځیری کپړی اوپریشان حالی لیدل او دی سپک او ذلیل ګڼل دهیچا حق نسته ، ډیر وارونه په داسی جامو اوکپړوکی داسی خلق هم وی چی دالله ﷻ په نزد ډیرعزتمند اومقبول وی ، په یوحدیث کی نبی کریم ﷺ فرمایی چی ډیر بدحاله اوګرد الوده خرپړ خلق داسی هم وی چی دالله ﷻ مقبول وی که دیوکار دپاره قسم واخلی چی داسی به وسی نوالله ﷻ د دوی قسم خامخا پوره کوی ، دوهم دا چی دشرافت او رزالت معیار محض ددنیا دولت او مالداری ګڼل دانسانیت سپکوالی دی ؛ ددی اصل دار اومدار پر ښو اخلاقو اوښه عمل باندی دی ، دریم دا چی د یو قوم داصلاح کوونکی اومبلغ دپاره که څه هم عام تبلیغ هم ضروری دی ، په کوم کی چی موافق مخالف، منونکی اونه منونکی ټول مخاطب وی ، لیکن دهغه خاطر دوی وروسته کول یا نظر اندازکول جائز نه دی، مثلاً دغیرِ مسلمو دتبلیغ دپاره دناپوهو مسلمانانو تعلیم اواصلاح وروسته کول نه دی په کار، څلورم دا چی دالله ﷻ انعامات په قدر دشکر ګذاری زیاتیږی ، څوک چی دالله ﷻ دانعاماتو دزیاتوب طلب ګار وی پرده لازم دی چی په قول اوعمل سره شکر ګذاری خپل شعار جوړ کړی

Maktaba Tul Ishaat.com

د آیت ، وَإِذَا جَاءَكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ: متعلق دتفسیر دامامانو دوه قولونه دی ، اکثروحضراتو دا آیتونه دتیرو آیتونو او دتیری واقعی سره متعلق مقرر کړي دي او ددي په تائید کی یی دا روایت پیش کړی دی چی کله دقریشو سردارانو دابو طالب په واسطه دا مطالبه وکړه چی ستا په مجلس کی غریبان او د ادنی درجی خلق اوسی د دوی په صف کی په کبنینستلو سرہ، ستا خبری مونږ نه سو اوریدی که زمونږ دراتلو په وخت کی دا خلق ته دمجلس لیری کوی نو مونږ به ستا خبری واورو اوفکر به وربانډی وکړو، په دی بانډی حضرت فاروق اعظم ﷺ دا مشوره ورکړه چی په دی کی هیڅ باک نسته ، مسلمانان خو په خپله مخلص دوستان دی ، دوی ته دی وویل سی ، نو دځه وخت دپاره به دوی دمجلس څخه جلا سی ، ممکنه ده چی په دی ډول دا دقریشو سرداران به قرآن واوری اومسلمانان به سی، لیکن په تیرو آیتونو کی ددی مشوری خلاف داحکم نازل سو چی داسی دی هیڅکله ونه سی داسی کول ظلم او بی انصافی ده ، ددی حکم په نازلیدو حضرت فاروق اعظم ﷺ ته دخپلی رایی اومشوری غلطی ښکاره سوه او وبیریدی چی دالله ﷻ د رضا خلاف په رایی ورکولو گناهگار سو، ددی خبری دمعذرت پیش کولو دپاره حاضر سو. په دی بانډی ذکر سوی آیتونه دده دتسلی دپاره نازل سول ، چی خلاصه یی دا ده چی ته دوی ته پر تیره غلطی بانډی دنه نیولو اطمینان وفرمایه ، بلکه یوازی دا نه ده چی په تیره غلطی بانډی به دوی نول کیږی نه بلکه دارحم الراحمین ددربارداقانون دوی ته وښیه چی کله یومسلمان په ناپوهی سره گناه وکی اوبیا په خپله غلطی پوه سی ، توبه ورڅخه وباسی او دآئنده دپاره خپل عمل برابرکړی نوالله ﷻ به دده تیر گناهونه معاف کړی اوپه راتلونکی وخت کی به یی ددنیا اوآخرت دنعمتونوڅخه هم محروم نه کړی .

ددی تشریح مطابق دا آیتونه په هغه خاص واقعه کی نازل سوی دی چی بیان یی په تیرو آیتونوکی سوی دی اوځینی تفسیر لیکونکو حضراتو ددی ایتونو مضمون دیوی مستقلی هدایت نامی په طور سره بیان کړی دی کوم چی دهغو خلقو سره متعلق دی ، دکوموڅخه چی گناه وسی ، بیاپښیمانه سی اوتوبه وباسی، اوخپل عمل برابرکړی ، اوکه فکر وربانډی وسی ، نوپه دواړو خبروکی هیڅ ټکراؤ نسته ، ځکه چی پر دی بانډی دټولو اتفاق دی چی دقرآن مجید یوحکم چی په څه خاص واقعه کی نازل سوی وی ، که الفاظ او مضمون یی عام وی ، نو دی بیا یوازی ددغه واقعی دپاره خاص نه وی ، بلکه دیوعام حکم حیثیت لری ، په دی وجه فرض کړه که دا ذکر سوی آیت دغه خاص واقعه کی نازل سوی وی ، خو بیاهم داحکم دیوی عامی قاعدی حیثیت لری ، چی هرهغه گناهکار لره شامل دی کوم چی دگناه وروسته په خپله غلطی بانډی پوه سی او پښیمانه سی او د آئنده دپاره خپل عمل برابر کړی .

اوس ددی آیتونو پوره تشریح وگوری، په اولنی ایت کی ارشاد دی ، وَإِذَا جَاءَكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِنَا فَقُلْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ: یعنی هرکله چی هغه خلق تاته راسی، کوم چی زمونږ په آیتونوایمان لری دآیتونو څخه مراد دلته دقرآن آیتونه هم کیدی سی او دالله ﷻ دکامل قدرت عامی نخښی هم ، نو دداسی خلقو په باره کی یی نبی کریم ﷺ ته داهدایت ورکړی دی چی ته دوی ته په ، سَلَامٌ عَلَيْكُمْ: سره خطاب کوه ، دلته د سَلَامٌ عَلَيْكُم دوی معناوی کیدی سی ، یوه دا چی دوی ته دالله ﷻ سلام رسوه ، چی په دی کی ددی خلقو انتهایی عزت اواکرام دی په دی صورت کی ددی غریبو مسلمانانو د زړه ماتیدو ښه زړه

Maktaba Tul Ishaat.com

ساتنه وسوه ، دکومو په باره کی چی دقریشو سردارانو دمجلس څخه دلیری کولو مشوره وړاندی کړی وه او دا هم مراد کیدی سی چی ته دی خلقو ته دسلامتیا خوشخبری واوروه چی که د دوی په عمل کی کمی یاغلطی هم سوی وی ، خوهغه به معاف سی او دوی به دهرقسم افتونو څخه سلامت وی .

په دوهمه جمله کی په ، كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ کی بی په دی احسان باندی زیات دنور احسان او انعام وعده داسی بیان وفرمایله چی ته دی مسلمانانو ته وو ایه چی ستاسی رب رحمت کول به خپله ذمه لیکلی دی ، په دی وجه ډیره بیره ترهه مه کوی ، په دی جمله کی بی اول رب استعمال کی اودآیت مضمون بی پښه مدلل کی ، چی الله ﷻ ستاسی پالونکی خپل پالل سوی نه ضائع کوی ، بیالفظ درب چی دکوم رحمت طرف ته اشاره کړی وه ، هغه بی هم په ښکاره طورسره ذکر کی اوهغه هم په داسی عنوان سره چی ستاسی رب رحمت کول په خپله ذمه لیکلی دی اوښکاره خبره ده چی دیوشریف اوښه انسان څخه هم وعده خلافی نه کیږی، نو درب العالمین څخه څنګه کیدی سی اوبیاکله چی وعده په صورت دمعاهدی لیکل سوی وی .

په صحیح بخاری ، مسلم اومسنداحمد کی په روایت د ابو هریره ؓ ذکر دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کله الله ﷻ ټول مخلوق پیداکړی او دهر یوه دتقدیر فیصله ی وکړه نوپه یوکتاب کی چی پر عرش باندی دالله ﷻ سره دی ، دایی ولیکل چی ، اِنَّ رَحْمَتِيْ غَلَبَتْ غَضَبِيْ : یعنی زمارحمت زماپه غُصه باندی غالب دی ، اوحضرت سلمان فارسی ؓ فرمایی چی ماپه تورات کی دا لیکلی لیدلی دی چی کله الله ﷻ آسمان اومځکله او د دوی ټول مخلوقات پیداکړل نو درحمت صفت بی سل حصی کی ، په دی کی بی یوه حصه په ټول مخلوق تقسیم کړه او په انسانانو حیوانانو اونورو مخلوقاتوکی چی کوم ځای هم څه درحمت اثر پیداکیدی سی ، هغه ددغه یوی حصی تقسیم سوی اثر دی په مور اوپلار اولادکی ، خور وروړکی، خاوند ښځه کی ، په عامو قریبانو، خپلوانو، همسایګانو او نورو دوستانوکی چی کوم دیوبل سره د همدر دی ، محبت او رحمت معاملی لیدل کیږی دا ټول ددغه یوی حصی درحمت نتیجی دی ، باقی یوکم سل حصی رحمت الله ﷻ ځان ته اینبی دی .

اوپه ځینو روایتونوکی بی دا دنبی کریم ﷺ دحدیث په حیثیت سره هم دا روایت کړی دی ، ددی څخه یو انسان اندازه لګولی سی چی دالله ﷻ رحمت په خپل مخلوق باندی څنګه اوپه څومره درجه کی دی ، او دا ښکاره خبره ده چی یو انسان بلکه ملائکه هم دالله ﷻ دشان مناسب عبادت او فرمان برداری نه سی کولی اوکوم اطاعت چی دشان مناسب نه وی هغه ددنیا دخلقو په نظرکی په ځای ددی چی دانعام سبب سی ، د ناراضه کیدو سبب جوړسی ، دا حال خو مونږ دحکم منلو، عبادت او دنیکیو دی چی دالله ﷻ دلوی درګاه په نسبت سره ورته وکتل سی نو ترګناهونوکمی نه دی ، اوبیا پردی سربیره چی دحقیقی ګناهونو او نافرمانیو څخه هم یو بنده خالی نه دی ، اِلاَّ مَنْ عَصَمَهُ اللهُ : مګرهغه څوک چی الله ﷻ بی وساتی ، په دی حالاتوکی خوانصاف داغوښتله چی یوسړی دی هم دعذاب څخه خلاص نه سی لیکن کیږی داچی په هر یوه بنده دالله ﷻ نعمتونه هروخت اوریږی، داټول ددغه رحمت نتیجه ده چی الله ﷻ په خپله ذمه لیکلی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ په توبه سره هره یوه ګناه معاف کیږي ﴾

ددې وروسته یې دکامل رحمت وضاحت دیوې قاعدې په صورت کې داسې بیان کې ، اَنَّهٗ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوْٓءًا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنْ بَعْدِهٖ وَاَصْلَحَ فَاَنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ: یعنې کوم سړي چې په ناپوهۍ سره څه ګناه وکړې او ددې وروسته دې توبه وکاږي اوخپل عمل برابرکړي نوالله ﷻ ډیره بخښنه کوونکې دې دده ګناه به معاف کړي ، اوډیر رحمت کوونکې دی ، چې یوازې په معاف کولوباندې به بسوالې ونه کړي بلکې انعامات به وریاندې هم وکړي ، په دې آیت کې دجهالة دلفظ څخه په ظاهره دچا دا خیال کیدې سی ، چې دګناه د معافې وعده یوازې په هغه صورت کې ده چې په ناپوهۍ اوجهل سره څه ګناه وسی ، قصداً ګناه کول په دې حکم کې داخل نه دي ، لیکن حقیقت دا نه دی ځکه چې دجهالت څخه مراد دلته کار دجهالت دی ، یعنې داسې کار وکړي چې جاهل او ناپوه یې کوي ، دا ضروري نه ده چې دی په واقع کې جاهل وي، ددې خبرې تائید په خپله دلفظ دجهالت څخه هم کیږي چې دلته یې دجهل دلفظ په ځای باندې دجهالة لفظ شاید دې طرف ته د اشارې کولو دپاره استعمال کړې دی چې جهل دعلم مقابل دی اوجهالة دحلم او وقار مقابل دی یعنې لفظ دجهالة په محاوروکې دعلم مقابل دی اوجهالة دحلم او وقار مقابل دی یعنې لفظ د جهالة په محاوروکې عملي جهالة ته ویل کیږي اوکه فکر وسی نوګناه هم چې دچا څخه کیږي نو ددې عملي جهالة په وجه سره کیږي ، په دې وجه دځینو بزرګانو وینا ده چې کوم سړي دالله ﷻ او درسول ﷺ د یوه حکم خلاف ورزي کوي نو دې جاهل دی ، مراد ددې څخه دا عملي جهل دی ، ناپوهي اوبې عملي ضروري نه ده ، ځکه چې دقرآن کریم او دصحیح حدیثونو بې شمیره دلیلونه پردې باندې دلالت کوي چې په توبه کولو باندې هره یوه ګناه معاف کیږي ، برابره خبره ده که دغفلت اوجهل په وجه سوې وي اوکه قصداً دنفس په شرارت اوپه تابعداري دخواهش سوې وي ، دلته دې خبرې ته په خاص طوره سره نظرکول په کار دي چې په دې آیت کې دګناهګارانو دبخښنې او درحمت کولو چې کومه وعده سوې ده ، هغه په دوو شیانو پورې تړل سوې ده ، یو توبه ، دوهم دعمل اصلاح ده ، دتوبې معنی ده په ګناه باندې پښیمانه کیدل، په حدیث کې ارشاد دی ، اِنَّمَا التَّوْبَةُ النَّدَمُ ، یعنې توبه نوم دی دپښیمانه کیدو.

دوهم د آئنده دپاره دخپل عمل اصلاح کول دعمل په دې اصلاح کې دا هم دا خله ده چې دآئنده دپاره دغه ګناه ته دنه نژدې کیدو قصد او پوره اهتمام وکې او دا په کې هم شامله ده چې په تیره ګناه سره چې کوم حقونه دده څخه ضائع سوي وي داختیار ترحده پورې هغه اداکړي، برابره خبره ده که دالله ﷻ حقونه وي او که دبندګانو، دالله ﷻ حقونه لکه لمونځ ، روژه، زکوة، حج او نورو فرضوکې کمې کول دي او دبندګانو حقونه لکه دچا په مال کې ناجائزه قبضه اوتصرف کول ، دچا په عزت حمله کول ، چاته دبکنځلو او نور په ذریعه ازار رسول دی ، په دې وجه دتوبې دمکمل کولو دپاره لکه څنګه چې دا ضروري ده چې پر تیره ګناه دپښیمانه کیدو سره دالله ﷻ څخه بخښنه ، وغواړي او دآئنده دپاره خپل عمل برابرکړي اودغه ګناه ته بیا نه نژدې کیږي، دغه ډول دا هم ضروري ده چې کوم لمونځونه یا روژې په غفلت کې دده څخه پاته سوي دي دهغه قضا راوړي ، کوم زکوة چې یې نه دی ورکړي ، هغه اوس ادا کې په قربانې دواړه اختر په صدقه واجباتوکې ورڅخه کمې سوې وي، هغه‌اوس ادا کړي اوکه په خپله

Maktaba Tul Ishaat.com

بی اوس د اداکولو طاقت نه وی نو چی حج بدل وکړی اوکه دخپل خوا څخه ورته دحج بدل او
نورو قضاسوو عبادتونو موقع حاصله نه سی نو چی وصیت وکړی چی دده وارث دده په ذمه دواجباتو
فدیه ورکړی اوحج بدل ورته ورکړی، لنډه دا ده چی داصلاح دعمل دپاره یوازی دآننده عمل برابرول
کافی نه دی ، دتیرو فرضو اوواجباتو اداکول هم ضروری دی ، چی هغه هم راوګرځوی .
دغه ډول دبندګانو په حقونوکی که دچا مال بی په ناجائزه طریقه اخیستی وی نو چی هغه واپس کړی یا
ورڅخه معافی وغواړی اوکه چاته بی په لاسونو یا ژبه ازار رسولی وی ، نوچی دهغه څخه معافی
وغواړی اوکه اوس بی دهغه څخه معافی غوښتل په اختیارکی نه وی، مثلاً هغه مړ وی یا داسی ځای ته
تللی وی چی اوس بی ده ته پته نه وی ، نو ددی تدبیر دا دی چی ددغه سړی دپاره دی دالله ﷻ څخه د
بخښنی غوښتنه کوی نو په دی ډول سره امید دی چی دحق خاوند به راضی سی اودده غاړه به ازاده سی.

قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ۚ قُل

ته ووایه چی زه منع سوی یم ددې څخه چی بندګی وکړم دهغو چی تاسی یی بلی ما سوا دالله څخه ، ته ووایه

لَّا أَتَّبِعُ أَهْوَاءَكُمْ ۙ قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾

زه نه خم ستاسی په خواهش که ولاړم نوزه به بی لاری سم ، اونه به سم زه دهدایت پیدا کونکو څخه ،

قُلْ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَكَذَّبْتُم بِهِ ۚ مَا عِندِي مَا

ته ووایه ماته دلیل راغلی دی درب زما څخه اوتاسی هغه درواغجن کی. نسته زما سره هغه شی

تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ ۚ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ يَقُصُّ الْحَقَّ ۖ وَهُوَ خَيْرُ

چی تاسی یی تلوارکوی ، نه دی حکم مګر دالله سره دی ، بیانوی حقه خبره اوهغه دټولو څخه ښه

الْفَاصِلِينَ ﴿٥٧﴾ قُل لَّوْ أَنَّ عِندِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ لَقُضِيَ الْأَمْرُ

فیصله کوونکی دی ، ته ووایه که وی زما سره هغه شی چی تاسی یی تلوارکوی نو ختمه سوی به وای جګړه

بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۗ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِالظَّالِمِينَ ﴿٥٨﴾

په مینځ زما او ستاسی کی او الله ښه پیژنی ظالمان

لنډتفسیر: ته (دی عنادګروته) ووایه چی ماته (دالله ﷻ دطرف څخه) منع سوی ده ددی څخه چی دهغه
(معبودانو) عبادت وکړم دکومو چی تاسی خلق دالله ﷻ (یووالی) پاته کوی ، عبادت یی (او د دوی د
ګمراهی دطریقی ښکاره کولو دپاره) ته ووایه چی زه ستاسی د(باطلو) خیالاتو تابعداری نه کوم ، ځکه

Maktaba Tul Ishaat.com

چی (که نعوذ بالله زه داسی وکړم نو) په دغه حالت کی به بی لاری سم او په (نیکه) لارتلونکی کی به نه سم ته (دوی ته داهم) ووایه چی زماسره خو(پردی دین اسلام دحقوالی) یودلیل (کافی موجود) دی چی زما درب د طرف څخه (ماته راکړل سوی دی ، یعنی قرآن مجید چی زمامعجزه ده زمارښتینوالی په ګنبی کیږی) او تاسی (بی وجهی) دا درواغ کوی (اوتاسی چی دا وایاست چی که دا دین اسلام حق وی نو پر مونږ دی د آسمان څخه کاڼی را ووریږی یا دی څه بل سخت عذاب راسی لکه چی بل ځای په دی الفاظوسره بی ذکر دی ، إِنْ كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ نو ددی جواب دا دی چی) دا کوم شی چی تاسی بی خواش کوی (یعنی عذاب دردناک) هغه زماسره (یعنی زماپه قدرت کی) نه دی حکم دهیچا نه چلیږی بغیر دالله ﷻ څخه (او دالله ﷻ حکم دعذاب په نازلولونه دی سوی نوزه څنګه عذاب ښکاره کړم) الله ﷻ حقه خبره (په دلیل سره) ښیی اوتر ټولو ښه فیصله کوونکی دی (نوهغه زما د رسالت ښکاره اوقوی دلیل قرآن کریم راولیږی او نوری واضحه معجزی بی ښکاره کړی اوصحیح دلیل یو هم پوره وی نوستاسی دفرمائشی دلیلونو دښکاره کولو ضرورت نسته په دی وجه دا وخت بی دعذاب د نازلولوپه ذریعه فیصله ونه فرمایله) ته ووایه چی که زماسره (یعنی زماپه قدرت کی) هغه شی وای دکوم چی تاسی خواهش کوی (یعنی عذاب) نو(تراوسه پوری به) زمااوستاسی په مینځ کی معامله (دمخکی څخه لا) فیصله سوی وای اوظالمان الله ﷻ ډیر ښه پیژنی (چی دچاسره کومه معامله په کوم وخت کی وکی)

دآیتونو تړون: په ذکر سوو آیتونوکی دکفارو دطرف څخه د ژرعذاب نازلولو فرمائش اودهغه جواب په ، خَيْرُ الْفَاصِلِينَ : کی اودالله ﷻ دکامل اوتمام قدرت ذکر په ،أَعْلَمُ بِالظَّالِمِينَ : کی ذکر وو ، مخته په ټولو معاملو اوتقدیرونو باندی دالله ﷻ دعلم اوقدرت داحاطی بیان کول کیږی ، یعنی چی دا هرڅه دالله ﷻ په علم اوقدرت کی راګیر دی هیڅ شی ورڅخه وتلی نسته .

وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ

او دهغه سره کیلیانی دی دغیبو چی هیڅوك ورباندی نه پوهیږي دهغه څخه ماسوا ، اوهغه پوهیږي په هغو چی په وچه دی او په دریاب کی دی اونه لویږي یوه پاڼه ،

إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي

مګر هغه ته معلومه وی او نه لویږي یوه دانه دمځکی په تیاروکی اونه یو شین شی اونه وچ شی مګر ټول

كِتَابٍ مُبِينٍ ﴿٥٩﴾ وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ بِاللَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ

په کتاب ښکاره کی دی او هغه په قبضه کی اخلی تاسی دشپی اوپوهیږي په هغه څه چی تاسی کوی

بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَىٰ أَجَلٌ مُسَمًّى ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ

د ورځی بیا تاسی پورته کوی په دی کی چی پوره سی هغه وعده چی مقرر سوی ده ، بیا به دهغه طرف ته

Maktaba Tul Ishaat.com

ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٦٠﴾ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ

واپس کړل سی بیا به خبر درکړي تاسي ته دهغه چي تاسي کول ، او هغه غالب دی په خپلو بندګانو

وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ

او ليږي په تاسي باندي حفاظت کوونکي تردي چي کله راسي په تاسي کي چاته مرګ نو په قبض

رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ ﴿٦١﴾ ثُمَّ رُدُّوا إِلَى اللَّهِ مَوْلَاهُمُ الْحَقِّ أَلَا

کي اخلي دی زمونږ ليږل سوي ملائکي او دوی کوتاهي نه کوي ، بيا به ورسول سي الله طرف ته چي مالك د دوی

لَهُ الْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ الْحَاسِبِينَ ﴿٦٢﴾

دی په حقه سره ، واوري حکم دهغه دی او هغه دير ژر حساب اخيستونکی دی.

تفسير: او د الله ﷻ سره (يعني دهغه په قدرت کي) دی خزاني د پټو شيانو (ممکنه وه، ددی څخه چي کوم شي په کوم وخت او څومره غواړي ښکاره کوي ، په دی شيانو کي دعذاب قسمونه هم راغلل مطلب دا دی چي بل چاته په دی شيانو قدرت نسته او لکه څنګه چي کامل قدرت دده خاصه ده ، دغه ډول دده علم تام او کامل هم دی ، څکه چي) داپټي خزاني هيڅوک نه پيژني بغير دالله ﷻ څخه ، او دی هغه ټول شيان هم پيژني کوم چي په وچه باندي دی او کوم چي په درياب کي دی او يوه پاڼه (قدر د درختي څخه) نه لوېږي ، مګر دی هغه هم پيژني او نه څه دانه (قدر) دمځکي په تيارو حصو کي لوېږي او نه څه وچ او لوند شي (مثلاً ميوه او نور) لوېږي ، مګر دا ټول په واضح کتاب (يعني په لوح محفوظ) کي (ليکلي) دی او دغه (الله ﷻ) داسي دی چي (اکثره) په شپه کي (دبيدو کيدو په وخت) ستاسي روح (نفساني دکوم سره چي احساس او ادراک متعلق دی) يو قسم قبض کوي (بندوي) او کوم څه چي تاسي دورځي کوي هغه (مداماً) پيژني بيا تاسي په ورځ کي ويښ (راپورته کوي ددی دپاره چي (ددی بيده کيدو او ويښيدو په دوروونو سره) مقرر ميعاد (دنيوي ژوند) تمام کړل سي ، بيا به ددغه (الله ﷻ) طرف ته (دمرګ څخه وروسته) ستاسي تلل وي ، بيا به تاسي ته وښيي څه چي تاسي (په دنيا کي) کول (او ددی مناسبه جزا او سزا به جاري کړي) او هغه (الله ﷻ په خپل قدرت سره) په خپلو بندګانو غالب دی او زور آور دی او (ای بندګانو) په تاسي (ستاسي د عملونو او روحونو) نګراني کوونکي (ملائکي) راليږي (چي ټول عمر ستاسي دعملونو هم نګراني کوي او ستاسي د روح هم حفاظت کوي) تردي چي کله په تاسي کي دچا مرګ را ورسيږي نو (دغه وخت) دهغه روح زمونږ ليږل سوي (ملائکي) قبض کوي او هيڅ کوتاهي نه کوي (بلکه څه وخت چي حفاظت حکم وو، حفاظت يي کوي ، کله چي دمرګ حکم وسي نو دغه حفاظت کوونکي د روح دقبض کوونکو سره يوځای سي) بيا به ټول دخپل حقيقي مالک خواته راوستل سي ، ښه

Maktaba Tul Ishaat.com

واوري (دغه وخت) فیصله به دالله ﷻ وي (او بل هیڅوک به په کښې دخل نه سي کولی) او هغه به ډیر ژر حساب واخلي.

معلومات اومسئلې: (دګناهونوڅخه دخلاصیدونسخهٔ اکسیر)

دټولې دنیاپه مذهبونوکې داسلام تر ټولو لویه نښانه اولوی رکن دخدای ﷻ دیووالې (توحید) عقیده ده او داهم ښکاره خبره ده چې یوازې دالله ﷻ دذات یو اوتنها منلو نوم توحید.نه دی ، بلکه ده ته په خپلو ټول کمالي صفتونوکې یو اوبې مثله منل اوده څخه ماسوا بل هیڅ مخلوق په دې کمالي صفتونوکې دده حصه دار اوشریک نه ګڼلو ته توحید وایي ، دالله ﷻ کمالي صفتونه ، حیات، علم، قدرت، سمع یعنې اوریدل، بصر یعنې لیدل، اراده، مشیت یعنې غوښتل، خلق یعنې پیداکول، رزق او نور، دې په دې ټولو صفتونوکې داسې کامل دی ، چې دده څخه ماسوا هیڅ مخلوق په څه صفت کې دده برابرکیدی نه سي ، بیا په دې صفتونوکې دوه صفتونه تر ټولو زیات لوړ اوممتاز دي.

یوعلم، دوهم قدرت، دده علم هم په ټولو موجوداتو او اموجودو، په ښکاره اوپټو، لویو اوکوچنیو په هر یوه ذره ذره باندې حاوي چاپیره کوونکی دی ، یعنې هیڅ ذره قدر هم دده دعلم څخه دباندې نسته ، او دده قدرت هم په دې ټولو پوره پوره حاوي او چاپیره کوونکی دی ، یعنې یوه ذره قدر بې هم دقدرت څخه وتلې نه دی ، په ذکر سوو دوو آیتونوکې هم ددې دوو صفتونو بیان دی ، او دا دوه صفتونه داسې دي چې که انسان دالله ﷻ په دې دو صفتونو مکمل یقین اوهر.وخت بې په زړه کې دساتل کیفیت پیداکړي، نو دده څخه به هیڅ جرم اوګناه بیا نه سي کیدی، ښکاره خبره ده چې که یو انسان ته په خپله هره وینا اوکار، ناسته ولاړه په هرقدم دا خبره په زړه کې حاضره وي چې یو پوه اوخبردار اوقادر مطلق ماهروخت ویني او زما دظاهر اوباطن او د زړه د ارادې اوخیال څخه خبر دی نو دا حاضري به هیڅکله هم دده قدم ددې قادرِ مطلق دنافرمانۍ طرف ته پورته کیدو ته پرې نه ږدي ، په دې وجه دا دواړه آیتونه انسان ته دانسانِ کامل جوړولو او دده عملونو اوخویونو ته دبرابرولو او دبرابر ساتلو دپاره نسخه اکسیر (مجربه نسخه) ده.

په اولنۍ آیت کې ارشاد فرمایي ، وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ: لفظ د ، مفاتح جمع ده اومفرد یې ، مَفْتَحْ : په زور دمیم سره هم کیدی سي چې خزانې ته ویل کیږي او ، مِفْتَحْ: په زیر دمیم سره هم کیدی سي چې معنی یې کیلیانې دي په لفظ د ، مَفَاتِح کې ددواړو معناوُ امکان سته، په دې وجه ځینو تفسیر لیکونکو اوترجمه کوونکو یې په خزانو سره ترجمه کړې ده اوځینو یې په کیلیانو سره ، اومطلب د دواړو یو دی ، ځکه چې دکیلیانو دمالک کیدو څخه مراد هم دخزانو مالک کیدل دي.

(دقرآن په اصطلاح کې علم غیب اوعام قدرت مطلقه یوازې دالله ﷻ خاص صفت دی هیڅ مخلوق په دې کې دالله ﷻ سره شریک نسته)

اودلفظ دغیب څخه مرادهغه شیان چې لاتراوسه په وجودکې نه وي راغلي یاراغلي وي خوالله ﷻ ورباندې څوک نه وي خبرکړي (مظهري) داول قسم مثال هغه ټول حالات او واقعات دي چې دقیامت سره تعلق لري ، یاپه کائناتوکې په راتلونکي وخت کې مخ ته دراتلونکو واقعاتو سره تعلق لري، مثلاً دا چې

Maktaba Tul Ishaat.com

څوک به څه وخت او کوم ځای کې پیدا سي څه څه کار به کوي ، څومره عمر به یې وي ، په خپل عمر کې به څومره ساګاني اخلي ، څومره قدمونه به پورته کوي ، کوم ځای به مري ، کوم ځای به دفن کیږي، رزق به چاته څومره او څه وخت حاصلیږي، باران به څه وخت، کوم ځای او څومره کیږي، او د دوهم قسم مثال هغه حمل دی کوم چې دښځې په رحم کې یې وجود خو نیولی دی ، مګر دا نه ده معلومه چې هلک دی او که انجلی، ښایسته دی او که بدشکله ، نیک خویه دی او که بدخویه، دغه ډول نور داسې شیان چې په وجود کې خو راغلي وي لیکن لا تر اوسه د خلقو دنظر څخه غائب وي .

د ، وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ : معنی دا سوه ، چې دالله ﷻ سره دي خزاني دغیبو، ده سره د کیدو څخه مراد دده په ملک او قبضه کې کیدل دي ، مطلب دا سو چې دغیبو دخزانو علم هم دده په قبضه کې دي اودا په وجود کې را وستل او ښکاره کول هم دده په قدرت کې دي چې کله او څومره به په وجود کې راځي ، لکه چې دقرآن کریم په یو بل آیت کې دي ، وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا عِنْدَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَعْلُومٍ: یعني زمونږ سره د هر شي خزاني دي ، لیکن مونږ هر شي په یو خاص اندازه سره نازلوو .

لنډه دا چې ددې جملې څخه دحق ﷻ بې مثاله علمي کمال هم ثابت سو او دقدرت کمال هم ، او دا هم چې دا هر شي لره راچاپیره کوونکی علم اوقدرت مطلقه یوازې دالله ﷻ صفت دی ، بل هیچاته نه سي حاصلیدی ، په آیت کې دلفظ دعنده په وړاندې کولو سره یې دعربي لغت په مطابق هم ددې خاص والي طرف ته اشاره کړې ده او وړاندې ددې اشارې په ډاګه کولو دپاره او په پوره ډول سره زړه ته دپریوتو دپاره ارشاد فرمای ، لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ: یعنی دې دغیبو خزانې دالله ﷻ څخه ماسوا بل هیڅوک نه پیژني ، په دې وجه ددې جملې څه دوې خبرې ثابتې سوې ، یو دالله ﷻ دټولو غیبو په شیانو په علم محیط سره خبردار کیدل او په ټول دکامل قدرت سره قادریدل، دوهم د ذات حق ﷻ څخه ماسوا دهیڅ یو مخلوق یا شي داسې علم او قدرت نه کیدل ، دقرآن کریم په اصطلاح کې چې دلفظ د ، غیب ، کومه معنی (په حواله دتفسیر مظهري) لوړه بیان سوې ده ، یعنی هغه شیان چې لاتر اوسه په وجود کې نه دي راغلي یا راغلي دي مګر تراوسه پورې چا مخلوق ته نه دي ښکاره سوي که دا په نظر کې وساتل سي نو په مسئله دغیبو چې په سرسري نظر کې کومې شبهې عوامو ته مخ ته راځي ، دا به په خپله ختمې سي ، لیکن په عام طور سره خلق دلفظ د ، غیب څخه لغوي معنی مراد اخلي چې کوم شي زمونږ دعلم او نظر څخه غائب وي برابر خبره ده که دنورو په نزد ددې دعلم حاصلولو ذریعې موجود وي، خو دې ته هم غیب وایي ، ددې په نتیجه کې قسم قسم شبهې مخ ته راځي ، مثلاً علم نجم، رمل، جفر یا دلاس لکیرې اونور چې دراتلونکو واقعاتو علم ور باندې حاصل سي یا دکشف او الهام په ذریعه چې سړي ته دراتلونکو واقعاتو علم وُسي یا دموسم ماهران چې دکیدونکې باد اوباران متعلق دهوا اوموسم په رڼا کې دباران کیدو یا نه کیدو پیشن ګویي کوي او په دې کې ډیرې خبرې صحیح هم سي ، دا ټول دعوامو په نظر کې علم غیب وي ، په دې وجه په ذکر سوي آیت باندې داشبهې کوي چې قرآن حکیم خو علم غیب دالله ﷻ خصوصیت ښودلی دی او لیدل کیږي چې نورو ته هم دغه حاصلیدی سي .

جواب ښکاره دی چې دکشف او الهام یاوحي په ذریعه که الله ﷻ خپل یو بنده ته دڅه راتلونکې واقعې

Maktaba Tul Ishaat.com

خبر ورکړي، نو دقرآن په اصطلاح کې داعلم نه سو، دغه ډول داسبابو اوالو په ذریعه چې کوم علم حاصل کړل سي هغه هم دقرآن داصطلاح په لحاظ سره علم غیب نه دی، لکه دموسم دمحکمي خبرونه، یا دنبض د نیولوسره دمریض پټ حالت ښوول، وجه دا ده چې دموسم محکمي ته یاحکیم ډاکټر ته دداسي خبر ورکولو موقع په لاس ورغله کله چې ددغه واقعاتو ماده پیداسوه او ظاهره سوه، فرق یوازي دومره دی چې لاتر اوسه ددغه شي ښکاره کیدل په عام طور سره نه وي سوي، دالاتو په ذریعه یې اهل فن ښکاره کوي، عوام ورڅخه ناخبره وي اوکله چې دغه ماده قوي سي نوعام ظهور یې وسي، دغه وجه ده چې د موسمونو محکمه دمیاشت دوي وروسته کیدونکي باران خبر نه سي ورکولی، ځکه چې لاتراوسه دهغه ماده نه وي پیداسوي، دغه ډول یوحکیم یا ډاکټر کال دوه کاله مخکي دخوړل سوي یا دوه کاله یا کال وروسته دخوړونکي دوابي یا خوراک پته نن دنبض په کتو نه سي ورکولی ځکه چې ددغه اثر عادتًا په نبض کې نه وي.

لنډه دا ده چې دا ټول شیان هغه دي چې دڅه شي دنښو اونښانو په لیدو سره د دوی دوجود خبر ورکول کیږي اوکله چې د دوی نښې نښاني او ماده ښکاره سي نو اوس دغه غیب پاته نه سو، بلکه په لیدونکو کې راغله، البته دباریکوالی یا کمزوري والي په وجه یې عام خلق لا تراوسه نه سي لیدی خوکله چې طاقت ونیسي، نو په عامه مشاهده (یعني لیدو) کې به راسي، ددې څخه علاوه ددې ټولوشیانود حاصلیدو باوجود بیا هم دا هرڅه معلومات دتخمیني او اندازي حیثیت لري، علم کوم چې دیقین نوم دی، هغه په دې ټولوکې په یو شي کې هم نه حاصلیږي، هم دا وجه ده چې ددې خبرونو دغلطیدو بې شمیره واقعي روزانه لیدل کیږي.

پاته سو علم نجوم او نور، نو په دوی کې چې کوم شیان دحساب سره تعلق لري دهغوی علم خو علم دی، مګرغیب نه دی، لکه چې څوک حساب وکړي او وایي چې نن په پنځه بجي یو څلویښت ۴۱: ۵ منټه لمر راخیژي یافلاني میاشت فلاني تاریخ باندي لمر یا سپوږمۍ تندر نیسي، نو ښکاره خبره ده چې دا دیو معلوم شي درفتار حساب لګول، وخت مقررول داسي دی لکه چې مونږ دهوايي جهازونو یا اور ګاډي خپل ستیشن یا اډې ته درسیدو خبر ورکوو، ددې څخه علاوه په نجوم اونورو سره چې کوم دخبرونو معلومولو دعوه کول کیږي هغه د دوی څخه ماسوا نور هیڅ نسته، په سلو درواغو کې یو رښتیا کیدل څه علم نه دی.

په حمل کې هلک دی اوکه انجلۍ ددې په باره کې هم ډیر دفن خاوندان خبري کوي، لیکن تجربه شاهده ده چې ددې درجه هم دتخمیني او اندازي ده یقیني نه ده اوپه سلوکې دوه څلور صحیح کیدل طبعي امر دی، دغه دڅه علم اوخبرداري سره تعلق نه لري.

البته کله چې دایکسري آلات ایجادسول نو دځینوخلقوخیال وو چې شاید ددې په ذریعه به دحمل نر یا ماده کیدل معلومیدی سي مګرتجربې ثابته کړه، چې دایکسري آلات هم دانه سي متعین کولی چې په حمل کې هلک دی اوکه انجلۍ لنډه داچې کوم شي دقرآن حکیم په اصطلاح کې غیب دی، دهغه ماسوا دخدای څخه بل هیچاته علم نسته، اودکوموشیانوعلم چې خلقوته دځینواسبابو اوآلاتوپه ذریعه عادتًا

Maktaba Tul Ishaat.com

حاصلیږي دغه په حقیقت کې غیب نه دی که څه هم په عام طور د نه ښکاره کیدو په وجه ورته غیب وایی دغه ډول که یو رسول اونبی ته په ذریعه دوحی یا یو ولی ته په ذریعه دکشف الهام چې دغیبو دکومو شیان علم ورکړل سی ، نو دغه دغیبو ترحدونو ووتل ، دی ته په قرآن کې دغیبو خای انباءُ الغیب ویل سوی دی لکه چې په ډیروآیتونو کې ذکر دی ، تِلۡکَ مِنۡ اَنۡبَآءِ الۡغَیۡبِ نُوۡحِیۡهَاۤ اِلَیۡکَ : په دی وجه په ذکرسوی آیت کې، لَا یَعۡلَمُهَاۤ اِلَّا هُوَ: یعنی دغیبو خزانی بغیر دالله ﷻ څخه بل هیڅوک نه پیژنی ، په دی کې دڅه شبهی یا استثناء هیڅ گنجائش نسته .

په دی جمله کې خو دحق ﷻ داخاص صفت ښوول سوی دی چې دی عالم الغیب دی ، په هرو غیبو باندی پوه دی ، په وروسته جملو کې دغیبو په مقابله کې دعلم شهادت یعنی دحاضرو اوموجودو شیانو دعلم بیان دی ، چې په دی علم کې هم دالله ﷻ دا خصوصیت دی چې دده علم محیط یعنی هر شی لره راچاپیره کونکی دی ، یوه ذره هم ورڅخه وتلی نه ده ، ارشاد فرمایی چې ، هغه پیژنی هرهغه شی چې په وچه دی او هغه شی چې په دریاب کې دی او یوه پاڼه د درختی څخه نه لویږی چې علم یی هغه ته نه وی ، دغه ډول یوه دانه چې دمځکی په تیاره حصه کې پټه ده ، هغه هم دده په علم کې ده او په هر یوه وچه او لنده کې دټولو کائناتو ذره ذره دده په علم کې ده او په لوح محفوظ کې لیکل سوی دی .

لنډه دا ده چې دعلم متعلق دوه شیان دالله ﷻ دخصوصیاتو څخه دی چې په دی کې هیڅ ملائکه یارسول یا بل مخلوق شریک نسته ، یوعلم غیب دوهم دموجوداتو علم محیط چې یوه ذره ورڅخه پټه نه ده ، په اول آیت کې یی ددی دوو مخصوصو صفتونو بیان داسی ارشاد فرمایلی دی ، ددی په اوله جمله کې د اولنی خصوصیت بیان دی ، وَعِنۡدَهٗ مَفَاتِحُ الۡغَیۡبِ لَا یَعۡلَمُهَاۤ اِلَّا هُوَ: او په وروسته جملو کې یی دټولو کائناتو او موجوداتو دعلم محیط ذکرپه دی ډول فرمایلی دی چې اول ارشاد دی ، وَیَعۡلَمُ مَا فِی الۡبَرِّ وَالۡبَحۡرِ : یعنی الله ﷻ پیژنی هرهغه شی کوم چې په وچه کې دی اوکوم چې په دریاب کې دی ، مراد ددی څخه کل کائنات اوموجودات دی ، لکه دسهار اومابښام لفظ چې ووایی، ټوله زمانه او دمشرق اومغرب لفظ چې ووایی ، ټوله مځکه ورڅخه مراد اخیستل کیږی ، دغه ډول دوچې او دریاب ذکر یی وکی ، مراد ورڅخه دټول عالم کائنات او موجودات دی ، ددی څخه معلومه سوه چې دالله ﷻ علم په ټول کائنات باندی محیط (یعنی چاپیره کوونکی) دی .

مخته یی ددی زیات تشریح اوتفصیل داسی بیان کی چې دالله ﷻ په ټولو کائناتو باندی دعلم احاطه یوازی دا نه ده چې لوی لوی شیان یی په علم کې دی ، بلکه هر یو دکوچنی لا کوچنی، تر پټ لاپټ شی هم دده په علم کې دی ، فرمایی ، وَمَا تَسۡقُطُ مِنۡ وَّرَقَةٍ اِلَّا یَعۡلَمُهَا: یعنی په ټوله دنیاکې دیوی درختی یوه پاڼه هم داسی نه ده چې هغه راولویږی او دده په علم کې نه وی ، مراد دا دی چې دهری درختی هره پاڼه تر لویدو څخه مخکی او دلویدو په وخت کې اوتر لویدو وروسته یوازی دده په علم کې ده ، هغه پوهیږی چې هره پاڼه په درختی پوری لگیدلی څومره واړونه به اوړی را اوړی ، اوکله اوکوم ځای به لویږی اوبیا به دا د کوم کوم حال څخه تیریږی ، دلویدو ذکر یی شاید ځکه کړی دی چې ددی دټولو حالاتو طرف ته اشاره وسی ځکه چې دپاڼی د درختی څخه لویدل ددی دنشو او نما او د ژوند آخری

Maktaba Tul Ishaat.com

حال دی دآخری حال ذکر یی وکی او ددی دټولو حالاتو طرف ته یی اشاره وکړه ، تردی وروسته اشاره فرمایی ، وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ: یعنی هره هغه دانه چی دمځکی په لاندی تیاروکی یوځای پرته ده ، هغه هم دده په علم کی ده ، اول یی ددانی ذکر وکی کومه چی کرونده په مځکه کی غورځوی یا پخپله یوځای ترمځکی لاندی په تیاره کی پټیږی تردی وروسته یی بیا پر ټول کائناتو دباری تعالی دعلم احاطه کول دوچی اولندی په عنوان سره ذکر کی او وی فرمایل چی دا ټول شیان دالله ﷻ په نزد په کتاب مبین کی لیکل سوی دی ، دکتابِ مبین څخه مراد دځینو تفسیر لیکونکو حضراتو په نزد لوح محفوظ دی اوځینی فرمایی ددی څخه مراد علم الهی دی ، او ددی څخه یی تعبیر په کتاب مبین سره ځکه وکی چی لکه څنګه چی لیکل سوی شی محفوظ وی ، دهیری اوغلطی امکان په کښی نه وی ، دغه ډول دالله ﷻ داعلم محیط دټولو کائناتو په ذری ذری یوازی په انداز ه سره نه دی بلکه یقینی دی .

دقرآن کریم ډیر آیتونه په دی باندی شاهد دی چی داسی علم محیط چی دهغه څخه دکائناتو یوه ذره او ددی هیڅ حال وتلی نه وی ، دا یوازی دالله ﷻ سره خاص دی ، په سورت لقمان کی دی .

إِنَّهَا إِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمٰوٰتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللّٰهُ إِنَّ اللّٰهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ:

یعنی که یوه دانه دسپیلنی برابر وی بیا هغه د ډبری په مینځ کی مښتی وی یا په آسمانونوکی یا په مځکه کی یوځای وی الله ﷻ به دا ټوله جمع کړی بیشکه الله ﷻ باریک بین اوخبردار دی .

په آیة الکرسی کی دی .

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ :

یعنی الله ﷻ دټولو بندګانو دمخکی وروسته ټولو حالاتو څخه خبردار دی اوکه ټول انسانان یوځای سی نو دده په علم کی پر یوه شی هم احاطه نه سی کولی بغیر دهغه علم څخه چی الله ﷻ یی چا ته ورکول وغواړی .

په سورت یونس کی دی

وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَبِّكَ مِنْ مِثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ : یعنی دیوی ذری برابر هم څه شی په مځکو او په آسمان کی چی دی ستا درب څخه جلا نه دی .

اوپه سورت طلاق کی دی .

وَأَنَّ اللّٰهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا .

یعنی دالله ﷻ علم په هر شی باندی محیط دی .

دغه ډول په بی شمیره آیتونوکی دامضمون په مختلفو عنوانونو سره راغلی دی ، لنډه دا ده چی په دی آیتونوکی په لوی وضاحت اوتفصیل سره دابیان فرمایل سوی دی چی دغیبوعلم (کوم ته چی په قرآن کی غیب ویل سوی دی او ددی تفسیر لوړ تیر سوی دی) یا دټولو کائناتو چاپیره کونکی علم یوازی دالله ﷻ مخصوص صفت دی دچا ملائکی یارسول علم دغه ډول په ذری دکائناتو محیط ګڼل ، دغه دعیسایانو په ډول رسول ته دخدایی درجه ورکول دی او دخدای ﷻ سره برابر یی ګڼل دی چی دقرآن کریم په وضاحت سره شرک دی ، په سورت شعراء کی دشرک دا حقیقت بیان سوی دی .

تَاللّٰهِ إِنْ كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (۹۷) إِذْ نُسَوِّيكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ: یعنی دقیامت په ورځ به مشرکان ووایی چی په خدای

Maktaba Tul Ishaat.com

قسم دی ، مونږ سخت په گمراهی کی وو چی تاسی (یعنی بتان) مونږ درب العالمین سره برابرول .
بیشکه چی الله ﷻ خپلو انبیاؤ علیهم السلام ته او بیا خاص خاتم الانبیآء صلی الله علیه وسلم ته دغیبو په زرگونو لکونو شیان علم ورکړی دی او تر ټولو ملائکو او انبیاؤ زیات ده صلی الله علیه وسلم ته ورکول سوی دی ، لیکن دا ښکاره خبره ده چی دخدای برابر علم دهیچا نسته ، اونه کیدی سی ، که داسی نه وی نو بیا به دا درسول دتعظیم هغه غلو وی کومه چی عیسایانو اختیار کړه ، چی رسول یی دخدای سره برابر کی ، ددی نوم شرک دی (نعوذ بالله منها)
تردی ځای پوری د اولنی آیت بیان وو ، په کوم کی چی دالله ﷻ دعلم دصفت دخصوصیاتو بیان وو چی هغه په هر غیب اوښکاره اوهره ذره دکائناتو حاوی دی ، په دوهم آیت کی دغه ډول دالله ﷻ دقدرت دصفت او دده دقادر مطلق کیدو بیان دی ، کوم چی دده د ذات سره مخصوص دی ، ارشاد دی .
وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ بِاللَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَى أَجَلٌ مُسَمًّى : یعنی الله ﷻ په هره شپه ستاسی روح په یو قسم سره قبض کوی او بیا سهار تاسی ژوندی راپورته کوی چی ستاسی مقرره عمر پوره کړی او بیا ټوله ورځ چی تاسی څه کوی ، دغه ټول دهغه په علم کی دی ، اودالله ﷻ کامل قدرت دی ، چی دانسان دژوند ، مرگ ، او دمرگ څخه وروسته د دوباره ژوندی کیدو یوه نمونه هره ورځ دده په مخکی راولی ، په حدیث کی یی خوب ته دمرگ ورور ویلی دی او داحقیقت دی چی خوب دبنده قوتونه داسی بی کاره کوی لکه مرگ ، په دی آیت کی الله ﷻ دخوب او دده څخه وروسته دبیداری مثال پیش کړی دی انسان یی په دی خبر کړی دی چی لکه څنگه چی هره شپه او هر سهار یو سړی په خپل ځان دمړ او ژوندی کیدو یو مثال وینی ، دغه ډول ددی ټول عالم په جمع مرگ اوبیا په جمع سره ژوندی کیدل وگنه کوم ته چی قیامت ویل کیږی ، کوم ذات چی پردی باندی قادر دی دهغه دکامل قدرت څخه دغه هم لیری نه ده په دی وجه دآیت په آخر کی فرمایی .
ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ: یعنی بیا به تاسی دالله ﷻ طرف ته واپس کیږی بیابه هغه تاسی ته وښیی چی تاسی څه کول ، مراد دا دی چی دعملونو حساب به وی بیا به پردی باندی جزا اوسزا هم وی .
په دریم آیت کی یی ددی مضمون زیات تفصیل داسی بیان کړی دی چی الله ﷻ په خپلو ټولو بندگانو یو قاهر قوت لری ترڅو پوری چی د دوی ژوند لرل ورته منظور وی نوحفاظت کوونکی ملائکی د دوی د حفاظت دپاره لیږی چی دچا طاقت نه وی چی ده ته نقصان ورسوی اوکله چی دیوبنده مقرر وخت دعمر پوره سی نو داحفاظت کوونکی ملائکی دده دمرگ په اسبابو جمع کولو کی هیڅ کوتاهی نه کوی ، اوبیا په مرگ سره هم دده معامله ختمه نه سی ، بلکه ، رُدُّوٓا اِلَى اللّٰهِ : یعنی بیرته ژوندی سی ، بیا دالله ﷻ مخ ته حاضر سی دلته د احکم الحاکمین په مخکی دپیش کیدو او دټول عمر حساب ته چی کله خیال وسی ، نو د چاطاقت دی چی کامیابه سی او دعذاب څخه به خلاص سی ، په دی وجه یی ارشاد وفرمایی ، اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰهُمُ الْحَقِّ : یعنی الله ﷻ یوازی حاکم اواحکم الحاکمین نه دی هغه دخپلو بندگانو مولی هم دی چی په هره موقع د دوی مدد هم کوی .
تردی وروسته یی وفرمایل ، اَلَا لَهُ الْحُكْمُ : بیشکه فیصله اوحکم یوازی دهغه دی ، دلته داخیال کیدی

Maktaba Tul Ishaat.com

سي چې يو ذات او د اربونو خلقو د ټولو عمرونو حساب کول به څنګه وي؟ په دې وجه بې ترددۍ وروسته وفرمايل ، وَهُوَ اَسْرَعُ الْحَاسِبِيْنَ : يعنی د الله ﷻ کارونه په خپلو کارونو باندې قياس کول جهالت دي ، هغه به ډير ژر پوره پوره حساب د ټولو واخلي .

قُلْ مَنْ يُّنَجِّيْكُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُوْنَهٗ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۚ لَئِنْ اَنْجٰىنَا مِنْ

ته ووايه څوک تاسي خلاصوی د تيارو دوچې ځمکې او د درياب څخه په هغه وخت کې چې بللی تاسي په عاجزۍ او پټه سره ، چې که تا مونږ خلاص کړو

هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۶۳﴾ قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ﴿۶۴﴾

د دې بلا څخه نو خامخا به مونږ احسان ومنو ته ووايه چې الله تاسي محفوظ کوي د دې څخه او د هرې سختۍ څخه بيا هم تاسي شرک کوي .

لنډتفسير: ته (دې خلقو ته) ووايه چې هغه څوک دی چې تاسي ته د وچې او د درياب د تيارو (يعني سختيو) څخه په دې حالت کې نجات درکوي چې تاسي هغه (د نجات درکولو د پاره) رابولی (کله) عاجزي ښکاره کوی او (کله) په پټه سره (او داسي وايـاست) چې (ای الله) که تـا مونږ تـه د دې (تيـارو) څخـه (اوس) نجات راکړی نو (بيا به مونږ خامخا د حق پيژندونکو (او په حق قائم پاته کيدونکو) څخه سو (يعنی ستا ديو والي قائل به سو چې د اتر ټولو لوی حق پيژندل دی او د دې سوال جواب خو معلوم دی او دغه خلق به هم بل څه جواب درنه کړی په دې وجه) ته ووايه چې خاص الله ﷻ تاسي لره نجات درکوي (کله چې نجات حاصليږی) او (د دې ذکر سوو تيارو څه تخصيص دی بلکه) د هرغم څخه (هغه نجات ورکوي مګر) تاسي (داسي ياست چې) بيا هم (وروسته تر نجات پيدا کيدو پر زړه طريقه) شرک کوی (چې د اعلی درجې حق ناشناسی ده او وعده موکړی وه د حق پيژندو ، غرض دا چې په داسي سختيو کې ستاسي داقرار څخه د توحيد حق والی ثابتيږی نو بيا انکار نه سی کولی)

معلومات اومسئلې

(دالله ﷻ دعلم او دالله ﷻ قدرت مطلقه څه نښانې)

په تيرو آيتونو کې د الله ﷻ علم او قدرت کامله او بې مثاله لوی والی او فراخې يې بيان سوی وه ، په ذکر سوو آيتونو کې د دغه علم او قدرت د څه نښانو بيان دی .

په اولنی آيت کې لفظ د ، ظلمات : د ، ظلمة جمع ده ، چې معنی يې ده تياره د ، ظلمات البر والبحر: معنی د وچې او د درياب تياری دي ، کله چې د تيارو مختلف قسمونه دي ، د شپې تياره ، د وريځو تياره ، د ګرد او غبار تياره ، په درياب کې د څپو تياره ، د دې ټولو قسمونو لره د شاملولو د پاره يې لفظ د ، ظلمات جمع استعمال کړی دی .

که څه هم د انسان د بيده کيدو او آرام کولو د پاره تياره هم نعمت دی ، ليکن په عامو حالاتو کې د انسان په کار په رڼا کې چليږی ، او تياره ټولو کارونو ته د بندولو څخه علاوه د ډيرو مصيبتونو او آفتونو سبب جوړيږي ، په دې وجه د عربو په محاوره کې لفظ د ، ظلمات د مصيبتونو او آفتونو او حادثاتو د پاره

Maktaba Tul Ishaat.com

استعمالیږي ، په دې آیت کې هم جمهورو تفسیر لیکونو دا معنی بیان کړې ده .
مطلب دآیت دا سو چې الله ﷻ دمکې مشرکانو ته د دوی په غلطو کارونو باندې دخبر ورکولو او د دوی د خبردار کولو دپاره نبی کریم ﷺ ته حکم وکی چې دی ددغه خلقو څخه دا پوښتنه وکړي چې په وچه او دریابي سفرونوکې چې کله دوی په یو مصیبت کې اخته سي اودغه وخت ټول بتان هیرکې ، یوازې الله ﷻ رابلي کله په ډاګه دخپل ذلت اوعاجزې اعتراف کوي اوکله په زړه زړه کې ددې اقرارکوي چې ددې مصیبت څخه ماسوا دالله ﷻ بل هیڅوک خلاصون نه سي را کولي ، او ددې خیال سره دا وعده هم کوي چې که الله ﷻ مونږ ددې مصیبت څخه خلاص کې نو مونږ به شکر اوحق پیژندل اختیار کړو یعنی دالله ﷻ شکر ګذار به سو ، او دی به خپل کارساز ګڼو اوبل هیڅوک به دده سره نه شریکه وو ، څکه چې کله زمونږ په مصیبت کې دوی په کار رانه سي ، نوبیاولي د دوی عبادت کوو ، نو اوس ته د دوی څخه پوښتنه وکړه چې په دې حالاتوکې څوک ددې مصیبتونو اوهلاکتونو څخه نجات ورکوي؟ چونکې ددې جواب مقرر او معلوم وو چې دوی خو ددې څخه انکار نه سي کولي چې دخدای څخه ماسوا څه بت یادیوتاپه دې حالت کې د دوی په کار نه ورځي ، په دې وجه په دوهم آیت کې حق تعالی ﷻ په خپله نبي کریم ﷺ ته ارشاد وفرمایي چې هم ته ووایه چې یوازې الله ﷻ دی چې تاسې ته ددې مصیبت څخه نجات درکوي ، بلکه ستاسې هرتکلیف اوپریشاني لیرې کوي ، لیکن ددې ټولو ښکاره نښانو سره سره بیا هم چې کله تاسې ته نجات او آرام حاصلیږي نو تاسې په شرک کې اخته کیږئ او دبتانو په عبادت کې لګیا کیږئ نو دا څومره غداري او هلاکوونکې قسم جهالت دی .
په دې دواړو آیتونوکې دالله ﷻ دکامل قدرت بیان هم دی چې هر یوه انسان ته دهرمصیبت اوتکلیف څخه په نجات ورکولو باندې دده پوره قدرت دی او دا هم چې دهرقسم مصیبتونو اوتکلیفونو لیرې کول یوازې دالله ﷻ په لاس کې دی ، دا هم یو داسې ښکاره حقیقت دی چې ټول عمر دبتانو اودیوتاګانو عبادت کوونکي اوبلونکي هم چې کله په مصیبت کې اخته کیږي دغه وخت دوی هم یوازې خدای ﷻ رابولي او دده جل جلاله طرف ته متوجه کیږي .
عبرت: دمشرکانو داکار د دوی دغداري په اعتبار سره که هرڅومره لوی جرم وي ، خو یوازې دمصیبت اخته کیدو په وخت کې یوازې د دوی دالله ﷻ طرف ته توجه او دحقیقت اقرار زمونږ مسلمانانو دپاره د عبرت یوه تازیانه ده چې مونږ سره ددې چې په الله ﷻ ایمان لرو مګر دمصیبتونو په وخت کې الله ﷻ نه یادوو ، بلکه زمونږ ټول خیال اوفکر مادي سامانونو ته وي ، مونږ که څه هم بتان اوتصویرونه خپل کار ساز نه ګڼو مګر دا مادي اسباب او الات هم زمونږ دپاره دبتانو څخه کم نه دي دکومو په فکر کې چې مونږ داسې ورک یو چې خدای ﷻ او دهغه دکامل قدرت طرف ته هیڅکله هم زمونږ خیال نه ځي .

(دحادثو اومصیبتونو اصلي علاج)

مونږ په هره ناروغي کې یوازې ډاکټران او دواګانې او دهرطوفان اوسیلاب په وخت کې یوازې مادي سامانونه او اسباب خپل کارساز ګڼو ، ددې په فکر کې داسې ورک سو چې دکائناتو دمالک طرف ته ګرسره زمونږ خیال اوفکر نه ځي ، حال دا چې قرآن کریم باربار په ښکاره الفاظوکې دا بیان فرمایلی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

چي ددنیا مصیبتونه او حادیث په عام طور سره د انسانانو دبدو عملونو نتیجې او دآخرت دسزا سپکه غوندي نمونه وي او په دي لحاظ سره دامصیبتونه دمسلمانانو دپاره یوقسم رحمت وي، ددي په ذریعه غافله انسانان بیدارول وي، چي دوي اوس خپلو بدو عملونو معاینه واخلي او دبدو څخه د واپس کیدو فکر شروع کړي او د آخرت دلوی اوسختي سزا څخه محفوظ پاته سی، ددي مضمون بیانولو دپاره قرآن شریف ارشاد دي.

وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ .

یعني مونږ خلقو ته لږ دول عذاب نږدي په دنیا کي ورڅکو دآخرت دلوی عذاب څخه مخکي چي دوی د غفلت اوبدو څخه راوګرځي.

دقرآن کریم په یوآیت کي ارشاد دي.

وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ .

یعني کوم مصیبت چي تاسي ته رسیږي هغه ستاسي دبدو عملونونتیجه ده او ډیر بدعملونه الله ﷻ معاف کوي.

ددي آیت په بیان کي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چي. قسم دي په هغه پاک ذات دچاپه قبضه کي چي زما روح دي چي یو انسان ته دلرګي څه عادي خراش ولګیږي، یا یي یوځای قدم وښوئیږي یا یي په څه رګ کي نقصان ولګیږي، دا ټول دڅه ګناه اثر وي اوکوم ګناهونه چي الله ﷻ معاف کوي، هغه ډیر دي.

بیضاوی رحمه الله فرمایي چي مراد ددي څخه دا دي چي مجرمانو اوګناهګارانو ته چي کوم مرضونه راځي، دا ټول دګناهونو نخښي وي، اوکوم خلق چي دګناهونو څخه پاک یا محفوظ وي، دهغوي مرضونه او آفتونه دهغوي دصبر اوثابت قدمی امتحان او دجنت دلوړو درجو ورکول دپاره وي.

لنډه دا ده چي انسان کوم چي دګناهونو څخه خالي نه وي دوی ته چي کومي ناروغي، حادثي یا تکلیفونه یاغمونه یا پریشاني راځي، دا ټول دګناهونو نتیجي او نخښي وي، ددي څخه دا هم معلومه سوه چي د ټولو مصیبتونو اوپریشانیو اوهرقسم حادثو اوآفتونو اصلي اوحقیقي علاج دا دي چي دالله ﷻ طرف ته رجوع وسي، دتیروګناهونو څخه استغفار اوآئنده دهغه څخه دپرهیزکولو پخه اراده وکړي، اودالله ﷻ څخه دمصیبتونو لیري کولو دپاره سوال وکړي، ددي دا معنی نه ده چي مادي اسباب دوایي علاج او د مصیبتونو څخه دبچ کیدو مادي تدبیرونه بي کاره دي، بلکه مطلب دا دي چي اصل کارساز الله ﷻ وګڼي او مادي اسباب دي هم دهغه انعام ګڼي او استعمالوي دي، چي ټول اسباب او آلات دهغه پیداسوي دي او دهغه ورکړي نعمتونه دي او دهغه دحکم اورضامندي لاندي دانسان خدمت کوي، اور، اوبه، خاوري او ددنیا ټول طاقتونه دالله ﷻ دحکم تابعدار دي، نه څه دوایي نفع ورکولي سي، نه څه خوراک نقصان رسولي سي، مولانان رومي رحمه الله څه ښه فرمایلي دي.

خاک وباد وآب وآتش بنده اند — با من وتو مرده باحق زنده اند

خاوري باد، اوبه او اور دهغه یعني دالله جل جلاله فرمانبردار دي ما او تاته مړه ښکاري خو دالله په نزد ژوندي دي تجربه شاهد ده چي دکله نه انسان دالله ﷻ څخه غافله سوی دي یوازي په مادي اسبابو او سامانونو پسي لګیدلی دی نو څومره څومره چي دا سامانونه زیاتیږي پریشاني او مصیبتونه نور زیاتیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

مرض بڑھتا گیا جو جو دوا کی .
يعنې څومره چې علاج کوم مرض نور نور زياتيږي .
په شخصي طور سره څه دوا يې يا انجکشن (ستن) په څه وخت کې فائده مند ثابتيدل يا ديوې مادي تدبير
کامياب کيدل د ګناه او غفلت سره هم ممکن دي ليکن که چيرې په مجموعي طور سره د ټول مخلوق د
خداى ﷻ د حالاتو معاينه واخيستل سي ، نو دا ټول شيان به ناکامه په نظر راسي ، په موجوده زمانه کې
انسان ته د راحت رسولو د پاره او د ده څخه د تکلف ليرې کولو د پاره څنګه آلات او سامانونه ايجاد سوي
دي او کيږي چې د نن څخه د پنځوس کاله مخکې انسان په وهم او ګمان کې هم نه راتلل ، د مرضونو
د علاج د پاره نوې نوې زر اثر کوونکې دوايانې او انجکشنونه او لوى لوى ماهران ډاکټران او ځاى په
ځاى د بې شميره شفاخانو څخه څوک نه دي خبر ، چې د نن څخه پنځوس شپيته کاله مخکې انسانان د دې
هر څه څخه محروم وه ، ليکن چې د مجموعي حالاتو معاينه واخيستل سي ، نو د دې هر څه آلاتو
او سامانونو څخه محروم انسان دومره بيمار او کمزوري نه وو ، لکه څومره چې د نن انسان په ناروغيو کې
ګير دي ، د غه ډول نن صبا د عامو وباګانو د پاره قسم قسم ټيکې (واکسينونه) موجود دي ، د حادثو څخه
د انسان د خلاصولو د پاره د اور مړ کولو انجنونه او د مصيبت په وخت کې د فوراً خبرداري ورکولو او
د فوراً امداد کولو ذريعې او سامانونه څومره زيات دي ليکن څومره چې دا مادي سامانونه زياتيږي ،
انسان تر مخکې زيات د حادثو او آفتونو ښکار کيږي ، وجه نوره هيڅ نه ده خو دا ده چې په تير دور کې
د خالق کائنات څخه غفلت او ښکاره نافرماني دومره نه وه څومره چې اوس ده ، هغوى به د راحت سامان
د خداى انعام ګڼى او په شکر ګذاري سره به يې استعمالوى او د نن انسان يې د بغاوت سره استعمالوى ،
په دې وجه د آلاتو او سامانونو ډيروالي د دې د مصيبت څخه خلاصون نه سي ورکولى .
لنډه دا ده چې مسلمانانو ته د مشرکانو د دې واقعې څخه عبرت حاصلول په کار دي چې د مصيبت په
وخت کې به هغوى هم خداى ياد وى ، د مومن کار دا دى چې د خپلو ټولو مصيبتونو او تکليفونو ليرې
کولو د پاره تر مادي سامانونو او تدبيرونو زيات د الله ﷻ طرف ته رجوع کوى ، که نه نو انجام به هم هغه
وى کوم چې روزانه ليدل کيږي چې هر تدبير په مجموعي لحاظ سره چپه تماميږي ، د سيلابونو بندولو
او د دې د نقصانونو څخه د خلاصيدو په زرګونو تدبيرونه کول کيږي ، مګر بيا هم هغه راځي ، او بار بار
راځي ، د مرضونو د علاج د پاره نوى نوى تدبيرونه کول کيږي مګر مرضونه ورځ په ورځ زياتيږي ،
د شيانو د ګرانى ختمولو د پاره په زرګونو تدبيرونه کول کيږي او په سر سرى ډول سره اثر کوونکى هم
معلوميږي ، ليکن په مجموعي حيثيت سره نتيجه دا ده چې ګراني ورځ په ورځ زياتيږي ، د غلا ، ډاکې ،
رشوت او غل بازاري د بندولو د پاره څومره مادي تدبيرونه نن هر حکومت استعمالوى مګر که حساب
ولګول سي نو روزانه په دې جرمونو کې زياتوالى راځي ، افسوس چې د نن وخت انسان يوازې د شخصي
او سرسرى نفع او نقصان څخه لږ د لوړو حالاتو معاينه واخلي نو ده ته به ثابته سي چې په مجموعي
حيثيت سره زمونږ مادي تدبيرونه ټول بې کاره دي ، بلکه دا خو زمونږ په مصيبتونو کې د کمي په ځاى
زياتوالى راولي او بيا بې په دې قرآني علاج نظر وکړي ، چې د مصيبتونو څخه د خلاصيدو يوازې يو لار

Maktaba Tul Ishaat.com

ده چي دکائناتو دخالق طرف ته رجوع وسي ، مادي تدبيرونه هم دده دورکول سوو نعمتونو په طور سره
په استعمال کی را وستلی سی ددی څخه ماسوا بل يوه لار دسلامتيا نسته ، اونه يې څه صورت جوړيدی سی

قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَىٰٓ أَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ

ته روايه چي هغه قادر دی په دی چي راوليږي په تاسی عذاب دلوړی څخه يا ستاسی دپښو دلاندی څخه يا جوړ کړی تاسی

شِيَعًا وَّيُذِيْقَ بَعْضَكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ ۗ اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ

مختلفی فرقی او وڅکی ځينو ته جنګ دځينو وګوره څنګه مونږ قسم قسم بيانوو

الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُوْنَ ﴿٦٥﴾ وَكَذَّبَ بِهٖ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ۗ قُلْ

آيتونه چي دوی پوه سی ، او دی درواغجن کړو ستا قوم حال دا دی چي دا حق دی ، ته روايه

لَّسْتُ عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ﴿٦٦﴾ لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسْتَقَرٌّ وَّسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٧﴾

چي زه نه يم په تاسی باندی ذمه وار ، دهر يو خبر يو وخت مقرر دی او نژدی ده چي تاسی پوهه سی

لنډتفسير: ته (دا هم) ووايه چي (لکه څنګه چي هغه په نجات ورکولو قادر دی دغه شان) په دی هم هغه قادر دی چي په تاسی (ستاسی دشرک اوکفر په وجه) څه عذاب پرتاسی دلوړه څخه راوليږی (څه ګاڼی ياهوا يا طوفاني باران) ياستاسی ترپښو دلاندی (چي مځکه ده ددې) څخه (ښکاره کړی لکه زلزله يا غرقيدل او ددې عذابونو نژدی اسباب خو دالله ﷻ څخه ماسوا دبل چا په اختيارکی نسته يو وخت به داسی وشي يا په دنيا کی يا په آخرت کی) يا چي تاسی (دغرضونو په اختلاف سره په مختلفو) ډلوکی تقسيم کړی اوټول (په خپل مينځ کی) ومښلوی (يعني وجنګوی) اوتاسی ځينو لره دځينو دجنګ (خوند) دروڅکی (او ددی نژدی سبب اختياری کار دی او ياټول آفتونه جمع کړی ، غرض دا چي تاسی ته نجات درکول اوپه عذاب کی اخته کول دواړه دهغه په قدرت کی دی ، ای محمد ﷺ) ته وګوره چي مونږ څنګه دليلونه (دتوحيد) په مختلفو اړخونو سره بيانوو ، شايد چي دوی (خلق) پوه سی او (دالله ﷻ په عذاب ورکولو دقادريدو او د کفر اوشرک په سبب په عذابيدو دپوهيدو باوجد) ستا دقوم خلقو (قريشو اوعربو هم) دا (عذاب) درواغ کړی (او ددی دنه واقع کيدو عقيده لری) حال دا دی چي هغه يقيني (واقع كيدونکی) دی (اوچي دا واوری نو دوی وايي چي کله به وی نو) ته (داسی) ووايه چي زه په تاسی (دعذاب واقع کولو دپاره) نه يم مقرر سوی (چي ماته بې خبر وی يا به زما په اختيار کی وی البته) دهر يوه خبر دپاره دواقع کيدو يو وخت (دالله ﷻ په علم کی مقرر) دی او ډير ژر به تاسی ته معلومه سی (چي دا عذاب راغی)

معلومات اومسئلې: په تيرو آيتونوکی دالله ﷻ دلوی علم اوبې مثاله قدرت دا اثر ذکر وو ، چي دهرانسان هر يومصيبت هغه ليری کولی سی اودمصيبت په وخت کی چي څوک دی راوبولی دالله ﷻ امداد په خپلو سترګو سره

وینی، ځکه چی دده پر ټولو کائناتو کامل قدرت هم دی او پرتمام مخلوق یې کامل رحمت هم دی، دده څخه ماسوا نه چاته کامل قدرت حاصل دی او نه پر ټول مخلوق باندی رحمت او شفقت.
په دی ذکر سوو آیتونو کی دکامل قدرت دبل اړخ بیان دی چی لکه څنګه چی دالله ﷻ په قدرت کی دا دی چی څه عذاب څه مصیبت او هرخومره ترلویو لا لوی آفت چی وی هغه لیری کولی سی، دغه ډول هغه ته پردی هم قدرت حاصل دی چی کله یو سړی یا یوه ډله دهغه دسرکښی دسزا په عذاب کی اخته کول وغواړی نو هرقسم عذاب ده ته اسان دی، یو مجرم ته دسزا ورکولو دپاره ددنیا دحاکمانو په ډول هغه ته نه دپولیس او فوج حاجت دی او نه ورته دچا مددګار ضرورت سته، دا مضمون یې داسی بیان کړی دی.
قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا.
یعنی الله ﷻ په دی هم قادردی چی ولیږی په تاسی باندی څه عذاب ستاسی دلوړی څخه یاستاسی ترپښو لاندی څخه یا تاسی په مختلفو پارټیو کی تقسیم کړی دیو بل سره مو ومښلوی او دیوبل دلاسه مو په عذاب کی هلاک کی.

(دالله ﷻ دعذاب دری قسمونه)

دلته دالله ﷻ دعذاب د درو قسمونو ذکر دی، یو هغه چی دلوړی څخه راسی، دوهم هغه چی دلاندی څخه راسی، دریم هغه چی په خپل مینځ کی یې اختلاف راسی، بیا یې لفظ د. عَذَابًا: دلته دتنوین سره نکره راوړی دعربی قواعدو په اعتبار سره یې په دی باندی خبرداری ورکړی چی په دی درو، قسمونو کی هم بیا مختلف قسمونه او صورتونه کیدی سی.
تفسیر لیکونکو حضراتو لیکلی دی، چی دلوړی څخه دعذاب راتلو مثالونه په تیرو امتونو کی ډیر تیر سوی دی لکه دحضرت نوح ﷺ په قوم باندی دباران سخت سیلاب راغی او په قوم عاد باندی دهوا طوفان اوپه قوم دلوط ﷺ باندی دلوړی څخه د ډیرو باران وسو، په آل فرعون باندی دوینو او چنګوښو او نورو باران وسو، په اصحاب فیل باندی کله چی دوی په مکه دحملی اراده وکړه نو دمرغانو په ذریعه وریاندی داسی ډبری وورول سوی چی دوی ټول وریاندی د ژوول سوی پلوړ (بوس) په شان سول.
دغه ډول دلاندی څخه راتلونکی عذاب هم په تیرو قومونو کی مختلف صورتونه تیر سوی دی، دحضرت نوح ﷺ په قوم خو دلوړی څخه دباران طوفان راغی او دلاندی څخه عذاب وریاندی دمځکی څخه اوبه خوټیدل شروع سول، غرض دا دی چی دلاندی اوباندی دواړه قسمه عذابونو کی په یو وخت کی ګرفتار سول او دفرعون قوم دپښو لاندی په عذاب کی غرق سو، قارون هم سره دخپلو خزانو په دی عذاب کی ګرفتار سو او په مځکه ننوتی.
اوحضرت عبدالله بن عباس ﷺ اومجاهد اونور دتفسیر امامانو فرمایلی دی چی دبره دلوړی دعذاب څخه مراد دا دی چی ظالم بادشاه او بی رحمه حاکمان به وریاندی مسلط سی او دلاندی دعذاب څخه مراد دا دی چی دخپلو نوکرانو خدمت ګارانو یا ماتحت نواکرانو دبی وفایی، غداری، غل کاری اوخیانت ګړی په عذاب کی به اخته سی، دنبی کریم ﷺ د یوڅو ارشاداتو څخه هم دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ ددی تفسیر تائید کیږی، په مشکوة شریف کی په حواله دشعب الایمان دبیهقی دنبی کریم ﷺ دا ارشاد نقل دی.
كَمَا تَكُونُوْنَ كَذٰلِكَ يُؤَمَّرُ عَلَيْكُمْ: څنګه چی ستاسی عملونه ښه یا بد وی دغه ډول به دریاندی امیران

Maktaba Tul Ishaat.com

مسلط سي ، که تاسي نيک او د الله ﷻ فرمانبردار واست نو ستاسي حاکمان او اميران به هم رحم دله او انصاف کوونکي وي او که تاسي بدعمله واست نو په تاسي به حاکمان هم بي رحمه او ظالمان مسلط کول کيږي ، د مشهوري وينا ، اَعْمَالُكُمْ عُمَّالُكُمْ : هم دا مطلب دی .

او په مشکوة کي په حواله د حلية ابي نعيم روايت دی چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي .

الله ﷻ فرمايي چي زه الله يم، زما څخه ماسوا بل معبود نشته زه د ټولو بادشاهانو مالک او بادشاه يم ، د ټولو بادشاهانو زړونه زما په لاس کي دي ، کله چي زما بندګان زما فرمانبرداري کوي نو زه د دوی د حاکمانو او بادشاهانو په زړونو کي شفقت او رحمت اچوم، او کله چي زما بندګان زما نافرماني کوي ، نو زه د دوی د حاکمانو په زړونو کي سختي را ولم ، نو هغوی په دوی هرقسم عذابونه راولي ، په دې وجه تاسي خپلو حاکمانو او اميرانو ته په بدو ردو ويلو کي وخت مه ضائع کوي ، د خپل عمل دبرابرولو په فکر کي شرع سي چي ستاسي ټول کارونه برابر کړم .

دغه ډول په ابو داؤد او نسائي کي د حضرت عائشي ﷺ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي .

کله چي الله ﷻ ديو امير او حاکم خير وغواړي نو ده ته ښه وزير او ښه نائب ورکړي ، که دامير څخه څه هيرېږي نو هغه يي ورته ياد وي او کله چي امير صحيح کار کوي نو دی يي مدد کوي او کله چي ديو امير او حاکم دپاره بدي مقرر کړي نو ناکاره خلق دده وزيران او ماتحتان جوړکړي (الحديث)

ددې روايتونو او دذکر سوی آيت دتفسير خلاصه دا ده چي انسان ته کوم تکليفونه او مصيبتونه چي د خپلو حاکمانو دلاسه رسيږي دا دلوړي څخه عذاب دی او کوم چي دخپلو ماتحتانو او نوکرانو څخه ورته رسيږي ، دا دلاندي څخه راتلونکی عذاب دی ، دا ټولي څه اتفاقي حادثي نه وي ، بلکه دالله ﷻ دقانون لاندي دانسان دعملونو سزا وي ، حضرت سفيان ثوري رحمه الله فرمايي چي کله زما څخه څه ګناه وسي نو ددې اثر زه په خپلو نوکرانو او دسپرلي په آس او دبار وړولو په خرکي وينم ، چي دا ټول زما نافرماني شروع کړي ، مولانا رومي رحمه الله فرمايي .

خلق را با تو چنين بد خو کنند	تا ترا نا چار رو آن سو کنند

يعني الله ﷻ په دنيا کي ستاسي دحاکمانو يا ماتحتانو نوکرانو په ذريعه ستاسي دمزاج خلاف دتکليف درکوونکو معاملو ظاهري عذاب په تاسي مسلط کړي دا په حقيقت کي ستاسي مخ خپل طرف ته راګرځول غواړي چي تاسي پوه سي او خپل عملونه برابر کړي او دآخرت دعذاب څخه خلاص سي .

لنډه دا ده چي دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ دتفسير مطابق دحاکمانو زور او زياتوب دلوړي څخه عذاب دی او دماتحتانو نوکرانو بي ايماني ، غلا او غداري ، دلاندي څخه راتلونکی عذاب دی او د دواړو علاج يو دی ، چي ټول دخپلو خپلو عملونو معاينه واخلي او دالله ﷻ دنافرماني او بي لاري توب څخه را وګرځول سي نو قدرت به په خپله داسي حالات پيداکړي چي دا مصيبت به ختم سي ، که نه وي نو يوازي په مادي تدبيرونو سره ددې داصلاح اميد ساتل خپل نفس ته د دوکي ورکولو څخه ماسوا نور هيڅ نسته ، چي تجربه يي هر وخت کيدي سي .

خويش را ديدم ورسوائی خويش	امتحان ما مکن ای شاه بيش

Maktaba Tul Ishaat.com

(خپل خان هم ونیم او خپله رسوایی هم وینم ای بادشاه نور امتحانونه په ماباندې مه کوه، یعنی زه په کښې کامیاب کیدی نه سم نو په ما نور امتحان مه کوه)

دلوړ اولاندې دعذاب کوم مختلف تفسیرونه چې تاسې لوړ اوس واوریدل په حقیقت کې په دې کې هیڅ اختلاف نسته، ځکه چې لفظ د، عذاباً کوم چې په دې آیت کې راغلی دی په حقیقت کې پردې ټولو تفسیرونو باندې حاوي دی، د آسمان څخه اوریدونکی ډبرې، وینه، اور او داوبو سیلاب او دلوړو حاکمانو ظلم او زور دا ټول دلوړ څخه په راتلونکې عذاب کې دا خل دي او مځکه څیریدل، دیوقوم په کښې ننوتل یا دمځکې څخه د اوبو راخوټیدل اوپه هغه کې غرقیدل یا دماتحت نوکرانو دلاسه په مصیبت کې اخته کیدل، دا ټول دلاندې څخه راتلونکې عذابونه دي.

دریم قسم عذاب چې په دې آیت کې یې ذکر سوی دی، هغه دا دی، اَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا: یعنی تاسې به مختلفې پارټۍ جوړې سې او دیوبل سره به ومنبلې او دیوبل دپاره به عذاب جوړسې، په دې کې لفظ د، يَلْبِسَكُمْ: د، لَبِسَ: مادې څخه جوړ دی چې اصلې معنی یې پټول دي، په دې معنی سره لباس هغه کپړو ته ویل کیږي کوم چې د انسان بدن پټوي، او په دې وجه التباس په معنی دشبهې اواشتباه استعمالیږي کوم ځای چې دیوې خبرې مراد پټ وي، صفا اوښکاره نه وي.

اولفظ د، شِيَعَ، دشِيعَةٌ جمع ده چې معنی یې ده په چا پسې تلل، اوتابعدارکیدل، په قرن مجید کې دي وَاِنَّ مِنْ شِيْعَتِهٖ لَاِبْرٰهِيْمَ: یعنی دحضرت نوح ﷺ په نقش اوقدم تلونکې دی حضرت ابراهیم ﷺ په دې وجه په عرف اومحاوره کې لفظ د: شیعه داسې ډلې ته ویل کیږي چې دڅه خاص غرض دپاره جمع سوې وي، اوپه دغه غرض کې دیوبل مددګار وي چې بامحاوره ترجمه یې دنن صبا په ژبه کې فرقه، ډله یا پارټۍ ده، په دې وجه د آیت ترجمه دا سوه، چې دعذاب یو قسم دا دی چې قوم په مختلفو پارټیو کې تقسیم سي، دیوبل سره ومنبلې، په دې وجه چې کله دا آیت نازل سو نو نبی کریم ﷺ مسلمانانو ته وفرمایل.

لَا تَرْجِعُوْا بَعْدِيْ كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ.

یعنی تاسې زما وروسته دکافرانو په شان مه کیږئ چې یو دبل څټ وهئ (ابن ابی حاتم دزید بن اسلم څخه روایت کړی دی) (مظهري)

حضرت سعدبن ابی وقاص ﷺ فرمایي چې یو وار مونږ دنبي کریم ﷺ سره تللو، مونږ دبني معاویه په جماعت باندې راغلو نونبي کریم ﷺ جماعت ته دننه تشریف یوړې او دوه رکعتبه لمونځ یې وکی، ددې څخه وروسته په دعا کې مشغول سو او تر ډیره وخته پورې یې دعا کوله، ددې څخه وروسته یې ارشاد وفرمایي چې ما دخپل رب څخه درو شیانو سوال وکی، یو دا چې زما امت په غرقیدو هلاک نه کړې، الله ﷻ دا دعا قبوله کړه، دوهم دا چې زما امت د قحط او لوږې په ذریعه هلاک نه کړې دا یې هم قبوله کړه، دریمه دعا مې دا وکړه چې زما امت په خپل مینځ کې په جنګ او جګړو تباه نه سي، زه ددې دعا څخه منع سوم (مظهري بحواله بغوي)

ددې مضمون یو حدیث دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه نقل دی چې په دې کې په درو دعاګانو کې یوه

Maktaba Tul Ishaat.com

دعا دا ده چی، زما په امت یو خوک دښمن مسلط نه کړی چی هغه دوی ټول هلاک کړی، دا دعا قبوله سوه او په یو بل پوری ونه مبتلی، دا دعا قبوله نه سوه، ددی روایتونو څخه ثابته سوه چی په امت محمدیه پر صاحب د دوی دی درود او سلام وی، دغه قسم عذاب خو به نه راځی کوم چی په تیرو امتونو د آسمان یا د مځکی دطرف څخه راغلی دی چی ټول قوم وربانذی تباه او برباد سوی دی، لیکن یو عذاب به په دنیا کی په دوی راځی، هغه عذاب په خپل مینځ کی جنګ جګړی دفرقو او پارټیو دیوبل سره مبتلی دی، په دی وجه نبی کریم ﷺ امت ته په فرقو او پارټیانو کی دتقسیمیدو، او په خپل مینځ کی دیوبل سره دجنګ او جګړو څخه دمنع کولو انتهایی په سختی سره منع کړی ده او په هره موقع یی ددی بیره بیان کړی ده چی په تاسی دخدای ﷻ عذاب په دی دنیا کی که راځی نو په خپل مینځ کی دجنګ او جګړو په ذریعه به راځی.

دسورت هود په یو آیت کی دا مضمون زیات په وضاحت سره راغلی دی.

وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ ۝ إِلَّا مَنْ رَحِمَ رَبُّكَ۔

یعنی خلق همیشه په خپل مینځ کی اختلاف کوی بغیر دهغه خلقو څخه په کومو چی الله ﷻ رحمت وکی. ددی څخه په ډاګه سوه چی کوم خلق په خپل مینځ کي (بغیر دشرعی وجهی څخه) اختلاف کوی، هغوی دخدای درحمت څخه محرومه یا لیری دی. په یو آیت کی ارشاد دی.

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا. په بل آیت کی ارشاد دی.

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا.

ددی ټولو آیتونو او روایتونو خلاصه دا ده چی اختلاف ډیر منحوس اوناکاره شی دی، نن که په دینی او دنیوی هرحیثیت سره دمسلمانانو دتنزل اوبربادی په اسبابو فکر وسی نو د اکثرو مصیبتونو سبب دا خپل مینځ کی اختلاف اومشت اوګریبانی په نظر راځی، زمونږ دبدو عملونو په نتیجه کی دا عذاب په مونږ مسلط سو، چی هغه قوم چی د دوی دیو والی مرکز یوه کلمه د، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ وه، ددی کلمی منونکی دمځکی په هره حصه کی چی وه، دهری ژبی ویونکی چی وه، دهر رنګ، هرنسل، هرنسب سره چی به یی تعلق وو، ټول ورونه ورونه وه، دغرونو او دریابونو سختی لاری د دوی په یووالی کی حائلی نه وی، دنسب خاندان، رنګ ژبی تفاوت د دوی په لاره کی بندیز نه وو، د دوی قومی یووالی یوازی ددی کلمی سره تړل سوی وو، دعربی، مصری، شامی، ترکی هندی اوچینی تقسیم یوازی د دوی دپیژندو او شناخت دپاره وو، نور هیڅ نه وه، په قول داقبال مرحوم.

درویش خدا مست نه شرقی هے نه غربی گهر اس کا نه دلی نه صفاهان نه سمرقند

(مطلب دا دی چی مسلمانان ټول دخدای ددین په وجه یو قوم دی که دمشرق وی اوکه دمغرب او د دوی وطن ټوله دنیا ده او دهلی، اصفهان اوسمرقند د دوی دپاره خاص نه دی)

نن دنورو قومونو په لمسون اوپرلپسی کوششونو بیادوی په نسلی لسانی اووطنی قومیتونو کی تقسیم سول او بیا په دوی کی هم هر یو قوم په خپل مینځ کی ګډوډ اوخپاره واره په مختلفو پارټیو کی تقسیم سول هغه قوم دکوم نخښه چی دغیرو سره هم دعفوی اومعافی وه اودجګړی څخه دخلاصیدو دپاره به یی

Maktaba-Tul-Ishaat.com

دخپل ترلوی لا لوی حق پریښوړی نن ددی قوم دیرخلق په معمولی اوذلیل خواهش پسی ترلوی لالوی تعلق قربانوی داهغه دغرضونو اوخواهشونو اختلاف دی کوم چی دقوم اوملت دپاره منحوس اوپه دی دنیاکی نقد عذاب دی.

خوالبته دلته په دی خبره هم ځان پوهول ضروری دی چی هغه اختلاف کوم ته چی په قرآن کی دالله ﷻ عذاب او دخدای درحمت څخه محرومی ویل سوی ده هغه اختلاف دی کوم چی په اصولو اوعقائدوکی وی، یا دنفسانی غرضونو اوخواهشونوپه وجه سره وی، په دی کی هغه درایی اختلاف داخل نه دی کوم چی دقرآن اوسنت دښوول سوو اصولو تراجتهاد لاندی په فروعی مسئلوکی دامت په فقهاؤکی د اولنی زمانی داصحابو ﷺ او تابعینو رحمهم الله څخه را روان دی، په کوم کی چی د دواړو فرقو دلیل دقرآن، حدیث اواجمال دی، او دهر یوه نیت دقرآن اوسنت دحکمونو منل دی، مگر دقرآن اوسنت دمجملو یا مبهمو الفاظو په تعبیر او د دوی څخه دفروعی مسئلو په را ایستلوکی داجتهاد او رایی اختلاف دی، داسی اختلاف ته په یوحدیث کی رحمت رمایل سوی دی، په جامع صغیرکی یی په حواله دنصر مقدسی اوبیهقی اوامام الحرمین دا روایت نقل کړی دی چی.

اخْتِلَافِ أُمَّتِيْ رَحْمَةٌ : زما د امت اختلاف رحمت دی، دامت محمدی خاص والی یی په دی وجه اختیار کړی دی چی ددی امت دعلماء حقو اومتقیانو فقهاؤ په مینځ کی چی کوم اختلاف وی هغه به همیشه په قرآن اوسنت تر اصولو لاندی وی اوخاص دخدای دپاره په رښتینی نیت سره به وی، د دوی په دی اختلاف کی څه نفسانی غرض دمرتبی یامال نه وی، نوپه دی وجه دغه دڅه جنگ جگړی سبب هم نه جوړیږی، بلکه دعلامه عبدالرءوف المنادی المصری شارح دجامع صغیر دتحقیق دامت د فقهاؤ دمختلو مسلکونو هغه درجه وی کومه چی په تیره زمانه کی دانبیاؤ علیهم السلام دمختلفو شریعتونو وه، چی داختلاف باوجود ټول دالله ﷻ حکمونه وه، دغه ډول دامت دمجتهدینو مختلفو مسلکونو ته دقرآن اوسنت تر اصولو لاندی راتلو په وجه سره ټولو ته دخدای او درسول حکمونه ویل کیږی.

ددی اجتهادی اختلاف مثال په ښکاره شیانوکی داسی دی لکه چی دښارلوی سړکونه دتلونکو دآسانی دپاره په مختلفو حصوکی تقسیم کړل کیږی، په یوه حصه بسونه ځی، په بله نوری گادی، دغه ډول د سائیلکونو اوپیاده تلونکو دپاره دسړک جلا یوه حصه وی، دیوسړک په څوحصوکی تقسیم هم که څه په ظاهره باندی دیو اختلاف صورت دی، مگر چونکه دټولو وجه دلارو دا اختلاف په ځای دمضرکیدو فائده مند او دتلونکو دپاره فراخی او رحمت دی.

دا وجه ده چی دمجتهدینو امامانو او دامت دفقهاؤ په دی اتفاق دی چی په دوی کی دیوه مسلک هم باطل نه دی اوکوم خلق چی د دوی پیروی کوی، دوی ته دنورو په نزد گنهکار ویل جائز نه دی، دمجتهدینو امامانو او دامت دفقهاؤ دمذهبونو داختلاف مطلب ددی څخه ماسوا بل څه نه دی چی بو مجتهد کوم مسلک اختیار کړی دی، هغه دده په نزد زیات قوی دی مگر دده په مقابله کی دبل مجتهد مسلک ته هم باطل نه وایی، بلکه دیوه اوبل پوره احترام کوی، دجنگ جگړی اودښمنی خو د دوی په منیځ کی گرسره څه احتمال نه وو او د دوی دتابعدارانو اوتقلید کوونکو هم ترکومه حده پوری چی

Maktaba Tul Ishaat.com

صحیح علم او دینداری وه نو دیو بل سره بی معاملی دغه ډول برابری او روغی وی.
دا اختلاف دی چی سراسر رحمت دی او دخلقو دپاره دفراخی اوآسانی ذریعه ده او ډیری فائدی مندی نتیجی لری او حقیقت دا دی چی په فروعی مسئلوکی دخیالونو اختلاف ترکومه پوری چی په خپل حدکی دننه وی، دغه څه مضر شی نه دی، بلکه دمسئلی مختلف اړخونه په داګه کیدل او صحیح نتیجی ته د رسیدو دپاره یو مددګار دی او کوم ځای چی دینداره عاقلان جمع وی نو دا ممکنه نه ده چی په یوه مسئله کی به د دوی اختلاف نه وی، داسی قانون خو یا دبی عقلو کیدی سی، دچاچی ګرسره څه پوهه نه وی، یا دبی دینو کیدی سی، چی دیو پارټی یا بل شی دلحاظ څخه دشمیر په مخالفه رایه باندی اتفاق وکی، د رایی اختلاف چی په خپلو حدونوکی دننه وی، یعنی دقرآن او سنت په قطعی او اعتقادی مسئلو او قطعی احکاموکی نه وی یوازی په فروعی او اجتهادی مسئلوکی وی، په کوموکی چی دقرآو او سنت واضح دلیل نه وی او هغه هم دجنګ جګړی او لعن طعن حدته نه رسیږی نو دا په ځای دمضرفائده مند او یو نعمت او رحمت دی، لکه څنګه چی په کائناتو دعالم کی دټولو شیانو په شکل، صورت، رنګ، بوی، نفع او خاصیت کی اختلاف دی، په حیواناتوکی په لکونو مختلف قسمونه، په بنی نوع انسان کی دمزاجونو کسبونو، د اوسیدو دطریقو، اختلاف دا ول ددی دنیا دښائست زیاتولو او بی شمیره نفع اسباب دی، ډیر خلق چی په دی حقیقت پوه نه دی، دوی دفقهاؤ رحمهم الله په مذهبونو او دعلماء حق په فتوا کی اختلاف تم هم په سپکه نظر سره ګوری، د دوی څخه داسی اوریدل کیږی چی دعلماؤ په خپل مینځ کی اختلاف دی نو مونږ کومی خواته ولاړ سو، حال دا دی چی خبره بالکل صفا ده، لکه چی څنګه دیو ناروغ په معامله کی د ډاکټرانو طبیبانو خیالات مختلف وی، نو هر سړی ددی معاملومولو کوشش کوی چی په دوی کی دفن په اعتبار سره زیات ماهر او تجربه کار کوم یو دی، نو بس دهغه څخه علاج شروع کوی، خو نورو ډاکټرانو ته بد رد نه وایی، ددعوی په وکیلانوکی اختلاف وی، نو کوم وکیل چی ورته زیات قابل او تجربه کار معلوم سی دهغه په وینا عمل کوی خو نورو ته بدی ردی نه وایی، هم دغه اصول دلته په کار دی، کله چی په یوه مسئله کی دعلماؤ فتواوی مختلفی سی، نو دخپل طاقت مطابق دتحقیق کولو څخه وروسته چی د کوم عالم علم او تقوی ترنورو زیاته او ښه وګنی، دهغه تابعداری دی کوی، خونوروته دی بدی ردی نه وایی
حافظ ابن قیم رحمه الله په اعلام الموقعین کی نقل کړی دی چی دماهرمفتی انتخاب، او د اختلاف په صورت کی په دوی کی دیوتن فتوی ته ترجیح ورکول کوم چی دده په نزد په علم او تقوی کی تر ټولو زیات وی، دا کار دهری معاملی خاوند مسلمان په ذمه په خپله لازم دی، دده کار دا خو نه دی چی دعلماؤ په فتواو کی د یوه فتوی ته ترجیح ورکړی لیکن دا دده کار دی چی په مفتیانو او علماؤ کی کوم چی دی په خپل نزد دعلم او دینداری په اعتبار سره زیات ښه ګنی دده په فتوی عمل وکی، مګر نورو عالمانو او مفتیانو ته دی بدی ردی نه وایی تر داسی کارکولو وروسته دی دالله ﷻ په نزد آزاد دی، ذمه واری بی نسته که په حقیقت کی څه غلطی دفتوی ورکوونکی څخه سوی هم وی نو هغه یی ذمه وار دی.
خلاصه دخبری دا ده چی نه هر اختلاف مطلق بد او نه هر اتفاق مطلق غوره او ښه دی، که غله ډاکوګان

Maktaba Tul Ishaat.com

او باغیان خان ته یوه ډله جوړه کړي او متق سي نو څوک په دي نه پوهيږي چي د دوی دا اتفاق بد ، ناکاره
او د قوم د پاره هلاکوونکي دي او د دوي خلاف چي کوم کار او کوشش دعوامو یا پولیس او نورو
د طرف څخه د دغه ډلې په مخالفت کي کيږي دغه دهریوه هوښیار په نظر کي ښه او فائده مند اختلاف دي
معلومه سوه چي خرابي دا په اختلاف کي نسته او نه په يوه رايه باندي په عمل کولو کي ده ، بلکه
ټولي خرابي دنورو متعلق په بدو ګمانونو او بدو وينا ګانو کي راپیښيږي چي دعلم او ديندارۍ دکمی او
د غرضونو او خواهشونو د زیاتی په نتیجه کي وي ، او کله چي په يو قوم یا ډله کي دا صورت پیدا سي نو د
دوی د پاره دا اختلاف جوړ سي ، او دیوبل خلاف په جنګ جګړو او ځيني وخت خو ديوبل په قتلونو کي
اخته سي ، او ديوبل خلاف لعن طعن او بدي ردي ويل خود مذهب حمایت کول ګڼي ، حال دا دي چي ددې
غلو او زياتي سره د مذهب هيڅ تعلق نه وي ، بلکه دا هغه جګړه ده چي نبي کریم ﷺ ورڅخه په سختی سره
منع کړي ده ، په صحيح احاديثو کي بي دي ته دقومونو دګمراهي سبب ويلي دي (ترمذی ابن ماجه)
په دوهم آيت کي بي دنبی کریم ﷺ دبرادري یعنی دمکی دقريشو دحق دمخالفت ذکر کړي دی نبی کریم
ﷺ ته بي دا هدايت فرمايلي دی چي دا خلق چي ستا څخه دعذاب دواقع کيدو دپاره دمقرر وخت پوښتنه
کوي ته دوی ته ووايه چي زه ددې کار دپاره نه یم مسلط سوی ، بلکه دهري خبري يو وخت دالله ﷻ په
علم کي مقرر دي نو دغه به په خپل مقرر وخت باندي کيږي او نتيجه به بي ستاسي مخ ته راسي .

وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ

او کله چي ته ووینی هغه خلق چي جګړي کوي ، زمونږ په آيتونو کي نو منع ورڅخه کوه تردي چي

يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ

مشغول سي په بله خبره کي اوکه هير کړي تا څخه شيطان نو مه کښينه

بَعْدَ الذِّكْرَىٰ مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَى الَّذِينَ يَتَّقُونَ

وروسته دیاد څخه دظالمانو سره ، او په پرهیزګارانو نسته دجګړه کوونکو

مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٦٩﴾ وَذَرِ

دحساب څخه څه شی ليکن د دوی په ذمه نصیحت کول دي چي هغوی وبريږي ،

الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا ۚ وَذَكِّرْ

او بريږده هغه چا چي جوړ کړي دي خپل دين لوبه او تماشه اودوکه کړي دي دوی ددنيا ژوند او نصيحت

Maktaba Tul Ishaat.com

بِهٖٓ اَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ ۖ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

کوه دوی ته په قرآن سره چی گرفتار نه سی څوك په خپلو کړو کی ، چی نه وی دده دپاره دالله څخه ماسوا

وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ ۚ وَاِنْ تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَا ۗ اُولٰٓئِكَ

یو څوك حمایتی اونه سفارش کوونکی ، او که په بدله کی ورکړی تولی بدلی نو قبول به نه سی دده څخه ، دغه

الَّذِيْنَ اُبْسِلُوْا بِمَا كَسَبُوْا ۚ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيْمٍ وَّعَذَابٌ اَلِيْمٌۢ

خلق دی چی گرفتار سول په خپلو کړو کی دوی لره چیښل دی گرمی اوبه اوعذاب دی دردناك

بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُنَا

په بدله دکفر کی ته ووایه چی آیا مونږ وبلو دالله څخه ماسوا هغه چی نه نفع رسولی سی

وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلٰٓى اَعْقَابِنَا بَعْدَ اِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ كَالَّذِى اسْتَهْوَتْهُ

مونږ ته اونه نقصان اوآیا واپس سو مونږ په پوندو خپلو ددی څخه وروسته چی الله سیده لار وښووه مونږ په مثل دهغه چاچی

الشَّيٰطِيْنُ فِى الْاَرْضِ حَيْرَانَ ۠ لَهٗٓ اَصْحٰبٌ يَّدْعُوْنَهٗٓ اِلَى

شیطانانو ورڅخه لار ورکه کړی وی په ځنګل کی چی دی حیران وی دده ملگری رابولی دی لاری طرف ته

الْهُدَى ائْتِنَا ۗ قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ۗ وَاُمِرْنَا لِنُسْلِمَ

چی زمونږ خواته راسه ته ووایه کومه لارښوولی ده ، هغه لار ده سیده ، اومونږ ته حکم سوی دی چی تابع اوسو

لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧١﴾ وَاَنْ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّقُوْهُ ۗ وَهُوَ الَّذِىٓ اِلَيْهِ

درب دمخلوقاتو ، او دا چی قائم ساتی لمونځ او بیره کوی دالله څخه او هغه دی چی دهغه مخ ته

تُحْشَرُوْنَ ﴿٧٢﴾ وَهُوَ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۗ وَيَوْمَ

به یی تاسی جمع کړل سی، او هغه دی چاچی پیدا کړل آسمانونه او مځکی په صحیح دول سره او په کومه ورځ

يَقُوْلُ كُنْ فَيَكُوْنُ ۚ قَوْلُهُ الْحَقُّ ۗ وَلَهُ الْمُلْكُ يَوْمَ يُنْفَخُ فِى الصُّوْرِ ۗ

چی ووایی چی سه نو هغه به سی ، دهغه خبره رښتینی ده او دهغه حکومت دی په کومه ورځ چی پو کل وسی په شپیلی کی

Maktaba Tul Ishaat.com

عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ﴿۷۳﴾

پوهه دی په پټو او ښکاره خبرو او هغه دی حکمت والا خبردار

تفسیر: او (ای مخاطبه) کله چی ته هغه خلق ووینی چی زمونږ په آیتونو (اوحکمونو) کی عیبونه لټوی ، نو ددغه خلقو (په خوا کی دکښیناستو) څخه منع وکړه تردی چی هغوی په څه بله خبره کی مشغول سی او که ستا څخه بی شیطان هیر کی (یعني په داسی مجلس کی دکښینستو څخه منع درته یاده نه وی) نو (کله چی دی په یاد سی) تر یادیدو وروسته بیا د داسی ظالمانو سره مه کښینه (فوراً وڅخه پورته سه) او (که چیری څه واقعی دنیوی یا دینی ضرورت داسی مجلس ته دتلو وی نو حکم بی دا دی چی) کوم خلق چی (د شریعت دمنع سوو شیانو څخه چی بی ضرورته داسی مجلس ته تلل په کی هم دا خل دی) احتیاط کوی په دوی باندی ددی (طعن کوونکو درواغ کوونکو) دپوښتنی (او ددی عیب لټولو) څه اثر نه وی (یعني په څه ضرورت سره هلته تلونکی به گناهگار نه وی) لیکن د دوی په ذمه (په شرط دقدرت سره) نصیحت کول دی شاید چی دغه (طعن کوونکی) هم (ددی خرافاتو څخه) احتیاط شروع کړی (برابره خبره ده که داسلام قبلول وکړی د دوی دلحاظه څخه اوکه نه) او (د درواغ کولو دمجلس څه تخصیص نسته بلکه) دداسی خلقو څخه بالکل منع کوه چاچی خپل (دا) دین (چی منل بی د دوی په ذمه فرض وو ، یعني اسلام) لهو اولعب جوړکړی دی (چی مسخری وررپوری کوی) او ددنیا ژوند دوی په دوکه کی اچولی دی (چی ددی په خوندونو کی مشغول دی او دآخرت څخه منکر دی ، په دی وجه ددی مسخرو انجام نه وینی) او (دمنعه کولو اوتعلقاتو پریښوولو سره سره داسی خلقو ته) ددی قرآن په ذریعه سره (په کوم پوری چی دوی مسخری کوی) نصیحت هم کوه ددی دپاره چی څوک سړی دخپل (بد) عمل په سبب (په عذاب کی) داسی ونه منښلی چی بغیر دالله ﷻ څخه نه څوک دده مددگار وی اونه سفارشی وی او دا حال داسی وی چی که چیری (فرض کړه) دټولی دنیا (دا هرڅه) دی په بدله کی ورکړی هم (چی دا هر څه خرڅ کړی او دی دعذاب څخه خلاص سی) خو دابه دده څخه قبول نه سی (نو په نصیحت سره دا فائده ده ، چی دبدو عملونو په انجام باندی پوه سی ، مخ ته منل نه منل دی ، پوه سه څکه چی) دوی (دا مسخری کوونکی) داسی دی چی (نصیحت بی ونه منی او) د خپل (بد) عمل په سبب سره (په عذاب کی) گیر سول (کوم چی به په آخرت کی داسی ښکاره سی چی) د دوی دپاره به ډیری تیزی (جوشیدلی) اوبه دڅښلو دپاره وی او (ددی څخه علاوه بله هم په دی ډول سره) درد ناکه سزا به وی ، دخپل کفر په سبب (چی بدعمل دا دی چی یوه حصه یی مسخری وی) ته (صلی الله علیه وسلم دټولو مسلمانانو دطرف څخه دی مشرکانو ته) ووایه چی آیا مونږ دالله ﷻ څخه ماسوا (ستاسی د مرضی موافق) دداسی شی عبادت وکړو چی نه هغه (دهغه دعبادت کولو په صورت کی) مونږ ته نقصان رسولی (اوقدرت یی لرلی) سی (مراد ددی څخه باطل معبودان دی چی دڅینو خو اصلاً قدرت نسته او کومو ته چی څه سته نو ذاتی نه دی ، اوپه معبودکی کم ازکم داقدرت په کاردی چی خپل موافق اومخالف ته څه نفع اوضرر رسولی سی ، نو آیا مونږ دداسی شیانو عبادت وکړو) او آیا (معاذ الله) مونږ (د اسلام څخه) په پوندو واپس سو وروسته دهغه څخه چی

Maktaba Tul Ishaat.com

مونږ ته الله ﷻ (دحقې لارې) هدايت کړى دى (يعنى اول خو شرک په خپله قبيح شى دى بيا خصوصاً
وروسته تر اسلام اختيارولو خو نور زيات هم ناکاره دى ، که نه وى نو زمونږ مثال خو به هغه شى) لکه يو
سړى دى چې دى شيطانانو يوځاى په ځنګل کې (غولولى وى د لارې څخه بې) بې لار کړى وى او دى
سرګردانه ګرځي) (او) دده څه ملګرى هم وى چې هغه ده ته دصحيح لارې طرف ته (اوازونه کوى) رابولى
بې چې (دى خواته) مونږ ته راسه (مګرهغه وربانديدډيرى حيرانى څخه نه پوهيږى اونه راځي حاصل دا
دى چې لکه څنګه چې داسړى په لاره وو ليکن دخپلولارې پيژندونکو ملګرو څخه جلا سو او دبيابان
دشيطانانو په لاسونوکې ګرفتار سو، بې لارې سو اوهغه ملګرى اوس هم دى لارې ته رابلي ، مګر دى نه
راځي داسې به زمونږ حالت سى چې داسلام په لاره د روانيدو باوجود خپل لارښوونکي پيغمبر څخه به
جلا سو، دګمراهانو په پنجه کې به ګير سو، ګمراه به سو او دغه لارښوونکي به بياهم دخيرخواهى په
وجه داسلام بلنه راکوى اومونږ به ګمراهى نه پريږدو يعنى آيا مونږ ستاسى په خوښه باندى عمل وکړو،
خپل مثال داسې جوړکړو) ته (دوى ته) ووايه چې (هرکله ددى مثال څخه معلومه سوه چې دلارې څخه بې
لارې کيدل ناکاره دى او دا) يقينى خبره ده چې سيده لار هغه دالله ﷻ (ښوول سوې) لار ده (او هغه اسلام
دى نو يقيناًددې پريښوول بې لارې کيدل دى نو بيا مونږ داکله پريښوولي سو) او (ته ووايه چې مونږ
شرک څنګه کولى سو (مونږ ته (خو) دا حکم سوى دى چې مونږ پوره تابعدار سو دپروردګار عالم (او دا
په اسلام کې دى) او دا (حکم راته سوى دى) چې دلمونځ پابندى کوو (کوم چې په توحيد باندى دايمان
ښکاره نخښه ده) او (دا حکم راته سوى دى چې) دهغه څخه (يعنى دالله ﷻ څخه) بيره کوو (يعنى مخالفت
بې نه کوو، چې په دى کې تر ټولو لوى شرک دى) اوهغه (الله ﷻ) دى دکوم خواته چې به تاسى ټول
(دقيامت په ورځ دقبرونو څخه راوزى دحساب دپاره به) جمع سى (هلته به مشرکان دخپل شرک سزا
وڅکي) اوهغه (الله ﷻ) دى چا چې آسمانونه اومځکې دفائدى دپاره پيدا کړل (چې په دى کې لويه فائده
دا ده چې ددى څخه دخالق په وجود اوپه توحيد دليل ونيول سى ، نو دا هم دتوحيد يو دليل دى) او (لوږ
چې په تُحْشَرُوْنَ کې دقيامت کوم خبر ورکول سوى دى ، چې په قيامت کې تاسى بيا ژوندى کيږى، دا هم
څه ليرى خبره مه ګڼى ځکه چې دا دالله ﷻ دقدرت په مخکې دومره آسانه ده چې) څه وخت الله ﷻ دومره
قدر ووايې چې (قيامته) ته وسه بس هغه (قيامت به فوراً) وسى دهغه (دا) وينا اثرناکه ده (خالى نه ځې)
او (د قيامت په ورځ) کله چې په شپيلۍ کې (دالله ﷻ په حکم دوهم وار ملائکه) پوکى وکړى ټول
حکومت به (په حقيقت کې هم په ظاهره هم) خاص دهغه (الله ﷻ) وى (اوهغه به په خپل حکومت سره
دموحدينو او مشرکينو فيصله وکړى) هغه (الله ﷻ) پوه دى په پټو شيانو او ښکاره شيانو (پس
دمشرکانو په عملونو او حالاتو هم خبر دى) اوهغه دى لوى حکمت والا (په دى وجه مناسب مناسبه جزا
به هر يوه ته ورکړى اوهغه دى) پوره خبر لرونکى (په دى وجه دڅه کار پټ کيدل دده څخه ممکن نه دى)

معلومات اومسئلې

(دباطلو خلقو دمجلس څخه دپرهيزکولو حکم)

په ذکر سوو آيتونو کې مسلمانانو ته يو مهم اصولي هدايت ورکول سوى دى ، چې دکوم کارپه خپله کول ګناه ده

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې دكوونكو په مجلس كې شريكېدل هم گناه ده ددې څخه ځان ساتل په كار دي ، ددې تفصيل دا دى چې.
په اولنۍ آيت كې لفظ د ، يَخُوضُونَ : دخوض څخه جوړ دى ، چې اصل معنى يې په اوبو كې ننوتل او په دې كې دتېريدو ده او په لغوه اوفضول كارونو كې داخليدو ته هم خوض ويل كيږي ، په قرآن كريم كې دالفظ په عام طور سره په دې معنى كې استعمال سوى دى ، كُنَّا نَخُوضُ مَعَ الْخَائِضِينَ . او ، فِي خَوْضِهِمْ يَلْعَبُونَ : او نور آيتونه په دې شاهد دي.
په دې وجه د ، خَوْضَ فِي الْآيٰتِ : ترجمه دلته په عيبونو لټولو يا جگړې كولو سره سوې ده ، يعنى كله چې ته هغه خلق ووني كوم چې دالله ﷻ په آيتونو كې محض دلهو اولعبو ټوقو اومسخرو په وجه دخل كوي ، او عيب جويي كوي ، نو ته د دوى څخه خپل مخ واوړه.
ددې آيت خطاب عام هر مخاطب ته دي په كوموكې چې نبي كريم ﷺ هم دا خل دي او دامت افراد هم او په حقيقت كې نبي كريم ﷺ ته خطاب هم عامو مسلمانانو ته د اورولو دپاره دى كنې دى ﷺ خو په كوچنيوالي كې هم په داسې مجلسونو كې نه دى شريك سوى، په دې وجه ده ﷺ ته دمنع كولو څه ضرورت نه وو.
بيا دباطلو خلقو دمجلس څخه دمخ اړولو مختلف صورتونه كيدى سى ، يو دا چې دهغه دمجلس څخه پورته سى، دوهم داچې هلته كه وى هم خو په بل شغل كې مشغول سى، دوى ته خيال نه كوى، ليكن په آخر آيت كې يې وښوولة چې مراد اولنى صورت دى ، چې د دوى په مجلس كې نه كښيني ، پورته سى ورڅخه.
په آخر آيت كې فرمايي چې كه شيطان ستاسى څخه هير كړي يعنى په هيره سره په دغه مجلس كې شريك سى ، برابره خبره ده كه داسى چې په دې مجلس كې دكښينستلو منع درڅخه هيره وى ، يا داسى چې دا درته ياد نه وي چې دا خلق دالله ﷻ دآيتونو او دنبى كريم ﷺ خلاف ذكرونه په خپل مجلس كې كوي ، نو په دې صورت كې چې څه وخت هم درته په ياد سى ، هغه وخت ددغه مجلس څخه ولاړيدل په كار دي ، ترياديو پس هلته كښينستل گناه ده ، په دوهم آيت كې هم دا مضمون ارشاد سوى دى او ددې په آخر كې يې دا فرمايلي دي چې كه تاسى هلته ناست پاته سى نو تاسى به هم د دوى په ډول ياست.
امام رازى رحمه الله په تفسير كبير كې فرمايي چې ددې آيت اصل منشاء دگناه مجلس اودغه مجلس والاوو څخه منع كول اوجلاكيدل دي چې ددې ښه صورت خو دا دى چې دهغه ځاى څخه پورته سى، ليكن كه د هغه ځاى څخه په پورته كيدو كې دخپل ځان ياما ل يا عزت بيره وى نو دعوامو دپاره داهم جائزدى چې د منع كولودپاره څه بل صورت اختيار كړي مثلاً په څه بل كار كې مشغول سى اودى خلقوته خيال نه كوى ليكن خواص كوم چې ددين پيشوايان گڼل كيږي ددوى دپاره ددغه ځاى څخه په هرحال ولاړيدل مناسب دي.
ددې څخه وروسته فرمايي ، وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ : يعنى كه شيطان ستاڅخه هير كړي ، ددې خطاب كه چيرې عامو مسلمانانو ته وي نوخبره صفا ده چې هيريدل دهر انسان سره تړلى دي او كه خطاب نبي كريم ﷺ ته وي ، نودلته داسوال پيدا كيږي چې كه دخداى پرنبي اورسول هم دهيريدو اثر كيږي نو دده په تعليماتو باندې به څنگه اعتماد او اطمينان پاته سى؟ جواب دا دى چې انبياء عليهم السلام ته هم دڅه

Maktaba Tul Ishaat.com

خاص حکمت او مصلحت لاندی هیر یدل خوکیدی سی ، مگر دالله ﷻ دطرف څخه فوراً په ذریعه دوحی خبر سی ، چی بیا دی په دغو هیرو باندی قائم نه پاته کیږی ، نو بالاخر د دوی علیهم السلام تعلیمات دهیریدو د شبهی څخه پاک سی .

په هرحال دآیت ددی جملی څخه معلومه سوه چی که یوسړی په هیره اوغلطی سره په څه غلطی کی اخته سی نو معاف دی ، دنبی کریم ﷺ په یو حدیث کی ارشاد دی .

رُفِعَ عَنْ اُمَّتِیْ الْخَطَاءُ وَالنِّسْیَانُ وَمَا اسْتُکْرِهُوْا عَلَیْهِ :

یعنی زما دامت څخه دخطاء او هیریدو او دهغه کار گناه معاف سوی ده کوم چی ورباندی څوک په زور وکی

امام جصاص رحمه الله په احکام القرآن کی فرمایی چی ،ددی آیت څخه معلومه سوه چی مسلمانانو ته دهر داسی مجلس څخه منعه کول په کار دی په کوم کی چی دالله ﷻ یا دهغه درسول ﷺ یا د اسلامی شریعت خلاف خبری کیږی او ددی بندول یا کم اوکم دحقی خبری اظهار کول دده په قبضه کی نه وی اونه یی ورباندی وس رسیږی ، البته که په داسی مجلس کی په نیت داصلاح شریک سی اوخلقو ته دحقی خبری تلقین وکی نو بیا باک نسته .

او دآیت په آخرکی چی دا فرمایی ، چی تر یادیدو وروسته دظالم قوم سره مه کښینی ، ددی څخه امام جصاص رحمه الله دامسئله را ایستلی ده چی دداسی ظالمو بی دینو اولوی ژبو خلقو په مجلس کی شرکت کول مطلقاً گناه ده ، برابره خبره ده که دغه وخت په ناجائزو خبرو کی مشغول وی او که نه ، ځکه چی دداسی خلقو په دی بی هوده خبرو شروع کولو کی څه وخت نه لگیږی ، ددلیل وجه دا ده چی په دی کی بی مطلق د ظالمانو سره کښینستل منع کړی ده ، په دی کی دا شرط نسته چی دوی په دغه وخت کی هم دظلم په خبرو کی مشغوله وی او دغه بی هوده خبری کوی .

دقرآن مجید په یو بل ایت کی هم دامضمون په واضح طور سره بیان سوی دی فرمایی .

وَلَا تَرْکَنُوْٓا اِلَی الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّکُمُ النَّارُ: یعنی دظالمانو خلقو سره میل اوخلط مه ساتی ، گنی نو تاسی به هم دجهنم اورته ولویږی کله چی داذکرسوی آیت نازل سونو صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکی چی یا رسول الله ﷺ که ددوی مجلس دورتلو څخه مطلقا منع وسی ، نو مونږ به په مسجد حرام کی دلمانځه او طواف څخه محرومه سو ، ځکه چی دغه خلق خوهمیشه هلته ناست وی (داواقعه دهجرت اوفتح مکی د مخکی وخت ده) او د دوی مشغله خوهم عیبونه لټول اوبدی خبری کول دی ، په دی دا دوهم آیت په دی پسی نازل سو

وَمَا عَلَی الَّذِیْنَ یَتَّقُوْنَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَیْءٍ وَّلٰکِنْ ذِکْرٰی لَعَلَّهُمْ یَتَّقُوْنَ .

یعنی کوم خلق چی احتیاط لرونکی وی دوی که په خپل کارسره مسجدِ حرام ته ځی نو ددی شریرو خلقو دبدو عملونو په دوی څه ذمه واری نسته ، البته دومره خبره د دوی په ذمه ده چی حقه خبره دی دوی ته رسوی چی شاید هغوی ددی څخه نصیحت حاصل کړی اوصحیح لاره اختیار کړی .

په دریم آیت کی هم تقریبا ددی مضمون زیات تاکید په دی ډول ارشاد فرمایل سوی دی .

وَذَرِ الَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا دِیْنَهُمْ لَعِبًا :په دی کی لفظ د ، ذَرْ د ، وَذَرْ ، څخه جوړ دی چی ددی معنی ده ، دیوشی څخه ناراضه کیدل اوپریښوول بی ، معنی دآیت دا ده چی تاسی داسی خلق پاته کړی کومو چی خپل

Maktaba-Tul-Ishaat.com

دین لهو او لعب یعنی مشغله اولوبه جوړه کړی ده ، ددی دوی معنی کیدی سی ، یو دا چه کوم حق دین یعنی اسلام دوی ته لیږل سوی دی ، دا یی لهو اولعب جوړ کړی دی ، یعنی توکی اومسخری ورپوری کوی دوهمه دا چی دوی اصلی دین پریښی دی ، دخپل دین څخه یی لهو اولعب جوړ کړی دی ، د دواړو معناؤ مطلب تقریباً یو دی ، تردی وروسته ارشاد فرمایی .

وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا : یعنی دوی ددنیا دی څو ورځی ژوند په غرور او دوکه کی اچولی دی ، دا یی د دوی دمرض اصلی سبب بیان کړی ، چی د دوی دا ټوله سرکښی اونافرمانی هم په دی سبب سره ده چی دوی ددنیا په دی څو ورځی ژوند باندی عاشقان دی اوآخرت یی هیر کړی دی که دآخرت اوقیامت عقیده یی وای نو هیڅکله به یی دا حرکتونه نه وای کړی په دی آیت کی نبی کریم ﷺ او عامو مسلمانانو ته دوه حکمونه ورکړل سوی دی ، اول دا چی دداسی خلقو څخه منع وکړی ، دکومو چی ذکر په دی جمله کی بیان سوی دی ، دوهم دا چی یوازی ددی خلقو څخه منعه کول او مخ اړول هم کافی نه دی ، بلکه په ایجابی طور سره دا هم ضروری ده چی دقرآن په ذریعه دوی ته نصیحت هم کوی او دخدای ﷻ دعذاب څخه یی بیروی هم ، په آخری آیت کی یی ددی عذاب تفصیل داسی بیان کړی چی که دوی په دی حالت پاته سول نو دخپل بدعمل په جال کی به په خپله ومښلی ، په آیت کی دلته د، أَن تُبۡسَلَ : لفظ استعمال سوی دی ، چی معنی یی قیدول اومښتل دی، چونکی په دنیاکی انسان ددی سره عادت دی، چی که په چا یی څه ظلم یا زیاتوب کړی وی او ددی سزا ده ته مخ ته راسی نو دسزا څخه دځان خلاصولو دپاره دری قسمه ذریعی استعمالوی ، لکه دخپلی ډلی اوجماعت زور دده خلاف استعمال کړی ، او دخپل ځان دخپل ظلم دسزا څخه دخلاصولو کوشش کوی ، اوکه ددی سره عاجزی سی نو دلویو خلقو دسفارش څخه کار اخلی اوکه دا هم کار ونه کړی نوبیا داکوشش کوی چی دخپل ځان دسزا څخه دخلاصولو دپاره څه مال خرڅ کړی ، الله ﷻ په دی آیت کی وښوولِه چی دخدای مجرم ته دسزا څخه دخلاصولو دپاره نه څوک دوست خپلوان کیدی سی نه دچا سفارش بغیر د الله ﷻ داجازت څخه چلیدی سی اونه څه مال قبلول کیږی ، بلکه که دټول جهان مال هم دده په قبضه کی وی اوهغه دا ټول مال دسزا څخه دخلاصیدو په فدیه کی ورکول وغواړی خو بیا به هم دا فدیه دده څخه قبوله نه کړل سی . په آخر آیت کی فرمایی.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أُبۡسِلُواْ بِمَا كَسَبُواْۖ لَهُمۡ شَرَابٞ مِّنۡ حَمِيمٖ وَعَذَابٌ أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡفُرُونَ .

یعنی داهغه خلق دی چی دخپلو بدو علمونو په سزا کی نیول سوی دی دوی ته دچینبول دپاره به دجهنم جوشیدلی اوبه حاصلیږی ، ددی متعلق په نورو ایتونوکی دی چی دغه اوبه به دده کولمی ټوټی ټوټی را وغورځوی او ددی اوبو څخه علاوه به نورهم دردناک قسم عذابونه وی ، دکفر او انکار په بدله کی .

ددی آخری ایت څخه دا هم معلومه سوه چی کوم خلق دآخرت څخه غافله یوازی ددنیا په ژوند باندی عاشقان وی ، د دوی صحبت اومجلس هم دانسان دپاره هلاکوونکی دی ددی انجام دا دی چی د دوی په صحبت کی پاته کیدونکی به هم په دی عذاب کی اخته سی په کوم کی چی به دغه اخته وی .

ددی دری سره آیتونو مطلب مسلمان ته دناکاره ماحول څخه اوناکاره صحبت څخه خلاصول دی کوم چی د انسان دپاره زهرِ قاتل دی ، دقرآن اوحدیث دبی شمیره وضاحتونو څخه علاوه لیدل اوتجربه هم ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

شاهد دی چی دانسان په تولو بدو اوجرمونو کی اخته کوونکی شیان دده ناکاره ملګری اوناکاره ماحول دی چی په دی کی دمبتلو څخه وروسته د انسان اول خو په خلاف طبع او دضمیر څخه په خلاف قسم بدو کی اخته سی اوبیا چی کله ورسره عادت سی نو پوهیږی ورباندی بیا هم نه چی دا ګوا کی زه بد کوم ، بلکه دی بیا بدی ته نیکی اونیکی ته بدی وایی ، لکه چی په یوحدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی کله یوسړی اول په ګناه کی اخته کیږی نو دده په زړه یو تور ډول تکی ولګیږی لکه چی په سپینه جامه تور تکی وسی اوهر سړی دغه بدګنی نو دغه ډول دده هم په ګناه کولو سره په زړه کی ناخوښی راځی لیکن کله چی تر یوی وروسته بله اوبیا بله په مخه کوی او دتیری ګناه څخه توبه نه کوی نو دغه ډول په یو، یو، ګناه پسی دده پر زړه توری نقطی (تکی) لګیږی تردی چی دده زړه تول تور سی اونتیجه یی داسی چی دده بیا دښه او بد تمیز ورک سی ، په قرآن مجید کی یی ددی څخه تعبیر په ، رَانَ ، سره فرمایلی دی ، كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ : یعنی د دوی په زړونو کی د دوی دبدو عملونو په وجه زنګ ولګیدی ، چی اوس په کښی صلاحیت ورک سو ، او ترکومه حده پوری چی فکر وسی نو دانسان دی حالت ته رسوونکی شی اکثره دده غلط ماحول او ناکاره صحبت وی (نعوذ بالله منهما) په دی وجه دکوچنیانو په تربیت کوونکو باندی لازم دی چی کوچنیان دداسی ماحول اوسوسایتی (علاقی، سیمی) څخه خلاص وساتی، په ورپسی درو آیتونو کی هم دشرک دباطلوالی او دتوحید او آخرت دثابتولو مضمون دی ، چی دترجمی څخه ښکاره دی .

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً ۚ إِنِّي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ

او یاد کړه کله چی وویل ابراهیم خپل پلار آزر ته آیا ته منی بتان خدایان زه وینم چی ته اوستا قوم ښکاره

مُبِينٍ ﴿٧٤﴾ وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ

ګمراهان دی ، او دا رنګه وښوول مونږ ابراهیم ﷺ ته عجائبات دآسمانونو او دمځکی او ددی دپاره چی د

مِنَ الْمُوقِنِينَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَىٰ كَوْكَبًا ۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّي ۖ

دده یقین راسی ، بیا چی کله تیاره کړه په ده شپی نو ولیدی یو ستوری ویی ویل دا دی زما رب

فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَا أُحِبُّ الْآفِلِينَ ﴿٧٦﴾ فَلَمَّا رَأَى الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هَٰذَا

بیا چی کله هغه پټ سو نو ویی ویل چی زه نه خوښوم پټیدونکی ، بیا چی کله ده ولیده سپوږمی بریښیدونکی

رَبِّي ۖ فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمْ يَهْدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ الْقَوْمِ

ویی ویل دا دی زما رب ، بیاچی کله هغه ولویده ویی ویل که هدایت ونه کړی ما ته رب زما نو بیشکه سم به زه

Maktaba Tul Ishaat.com

الضَّآلِّينَ ﴿٧٧﴾ فَلَمَّا رَءَا الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَآ أَكْبَرُ فَلَمَّآ

دګمراهانو څخه ، بیا چې کله ولیدې ده لمر روښانه ویې ویل دا دې زما رب دا ډیر لوی دې بیا

أَفَلَتْ قَالَ يَٰقَوْمِ إِنِّي بَرِيٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿٧٨﴾ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ

چې کله هغه ولویدې ویې ویل ای زما قومه زه بیزاره یم دهغه څخه چې تاسې یې شریکان جوړوی ، ما متوجه کې

لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَآ أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٧٩﴾

خپل مخ دهغه طرف ته چاچې جوړکړل آسمانونه اومځکه دټولو څخه یوه طرف ته سوم اونه یم زه دشرک کوونکو څخه

وَحَآجَّهُ قَوْمُهُ قَالَ أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي فِي اللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنِ وَلَآ أَخَافُ مَا

اوده سره جګړه وکړه دده قوم ویې ویل آیاتاسې زماسره جګړه کوی دالله په یو والې کې ، اوهغه زه پوه کړې یم ، اوزه نه بیریږم

تُشْرِكُونَ بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَشَآءَ رَبِّي شَيْـًٔا وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا

دهغوی چې تاسې یې شریکوی دهغه سره ، مګردا چې زمارب څه تکلیف رسول وغواړی ، احاطه کړې ده زمادرب

أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٨٠﴾ وَكَيْفَ أَخَافُ مَآ أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمْ

علم په ټولوشیانو آیاتاسې فکرنه کوی، او زه ولې بیریږم ستاسې دشریکانو څخه ، اوتاسې نه بیریږی ددې خبرې

أَشْرَكْتُم بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنًا فَأَيُّ الْفَرِيقَيْنِ

چې شریك جوړوی دالله سره هغه چې په هغه سره نه دی نازل سوی په تاسې څه دلیل ، اوس په دواړو فریقو کې

أَحَقُّ بِالْأَمْنِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨١﴾

څوك مستحق دی دامن وواياست که تاسې پوه لرې .

لنډتفسیر: اوهغه وخت هم دیاذولو قابل دی کله چې ابراهیم ﷵ خپل پلار ازار (نومی) ته وفرمایل چې ایا ته بتان معبودان مقررکوی ، بیشکه زه تا اوستا ټول قوم (کوم چې په دې عقیده کې ستاسره شریک دی) په ښکاره غلطۍ کې وینم (او دستورو متعلق خبری مخ ته راځی ، په مینځ کې دابراهیم ﷵ دنظر دصحیح والی صفت کوی چې دمځکې او وروسته دواړو سره ددې تعلق دی ، فرمایی) اوموږ په داسې (کامل) طور سره ابراهیم (ﷵ) ته دآسمانونو اومځکو مخلوقات (دمعرفت په سترګو) وښوول چې هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

(دخالق په ذات او صفاتو) پوه سي او ددي دپاره چي (په زياتوالي دمعرفت سره) دكامل يقين كوونكو څخه سي (مخ ته د ستورو متعلق خبري دي چي مناظره وربانددي ختموي چي لوړي خبري خو دبتانو متعلق وسوي) بيا (په دغه ورځ يا په بل ورځ) كله چي دشپي تياره پرده (دغه ډول پر نورو تېرلو) خپره سوه نو ده يو ستوري وليده (چي بريښيدي) ده (خپل قوم ته مخاطب سو) وي ويل چي (ستاسي دخيال موافق) دازما (اوستاسي) رب (او زما په حالاتو كي تصرف كوونكي) دي (ډيره ښه ده اوس به په لږ وخت كي حقيقت معلوم سي ، نولږ وخت وروسته هغه په افق (دآسمان كناره) كي ولويدي) كله چي هغه ولويدي نو ده وفرمايل چي زه د لويدونكو سره محبت نه كوم (او محبت دعقيدي درب والي دلوازمو څخه دي نو حاصل دا سو چي زه يې رب نه گڼم) بيا (په دغه شپه يا په بله شپه كي) كله چي يې سپوږمۍ وليده (چي) بريښودونكي (راختلې) ده نو (د اول په شان) يې وفرمايل چي (ستاسي دخيال موافق) دازما (اوستاسي) رب (او په حالاتو كي تصرف كوونكي) دي (ښه ده اوس په لږ ساعت كي ددي اندازه هم ووينئ نوهغه ولويده) نو كله چي هغه ولويده نو ده وفرمايل چي كه ماته زمارب (حقيقي) هدايات ونه كړي (لكه چي تر اوسه پوري راته هدايت كوي) نو زه به هم (ستاسي په شان) په گمراه خلقو كي شامل سم بيا (يعني كه سپوږمۍ داقصه ددي ستوري دقصي شپه وه نو ديوي شپي دسهار ، اوكه دسپوږمۍ قصه ددغه ستوري دقصي دشپي څخه وه نو دسپوږمۍ په سهار يا ديوي بلي شپي په سهار) كله چي ده لمر وليدي (چي په لوی اب وتاب سره) بريښيدونكي (راختلې) دي نو (د اولنيو دوو وارو په ډول بيا) وي فرمايل چي (ستاسي دخيال مطابق) دا زما (اوستاسي) رب (او تصرف كوونكي په حالاتو كي) دي (او) او دا خو په تولو (ذكر سوو) كي لوی دی (پردي باندي به خبره ختمه سي كه دده رب والي باطل سو نو دكوچنيو دا خو به په درجه اولي باطل وي ، غرض ماښام سو اوهغه هم ولويدى) نوكله چي هغه ولويدی نو ده وفرمايل چي بيشكه زه ستاسي دشرك څخه بيزاره يم (يعني خپله ازادي ورڅخه ښكاره كوم چي عقيده كي خو دهميشه څخه بيزاره وو) زه (دټولوطريقو دشرك څخه) يوه طرفته سوم خپل مخ (دظاهر او د زړه دهغه (ذات) طرف ته (ستاسي په مخكي) كوم چاچي آسمانونه او مځكي پيدا كړل او زه (ستاسي په شان) دشرك كوونكو څخه نه يم (نه په عقيده كي، نه په قول اوفعل كي) او دده سره دده قوم (عبث) جگړه شروع كړه (هغه دا چي دا پخواني رواج دي ، وَجَدۡنَآ اٰبَآءَنَا لَهَا عٰبِدِيۡنَ او دباطلو معبودانو څخه يې هم وبيرول چي د دوی څخه انكارمه كوه څه آفت به درته پيښ كړي ، لكه چي په دي باندي دده هغه جواب دلالت كوي چي ده په ، لَآ اَخَافُ الخ سره وركي) ده (د اولي خبري په جواب كي خو) وفرمايل چي آيا تاسي دالله ﷻ (په معامله كي زماسره (باطله) جگړه كوي حال دا دي چي هغه ماته (د صحيح دليلونو طريقو ښوولي ده (كومه چي ماستاسي په مخكي پيش كړه اومحضي پخواني رواج ددي دليلونو جواب نه دي نو په دي سره احتجاج ستاسي دپاره بي كاره او زما په نزد دكتلو قابل نه دي) او (بله دا خبره يې په جواب كي وفرمايله چي) زه دهغه شيانو څخه كوم چي تاسي دالله ﷻ سره (په عبادت كي) شريكوي نه بيريږم (چي هغوی به ماته څه تكليف را ورسولي سي څكه چي په دوی كي په خپله څه قدرت نسته اوكه په څه شي كي وي هم نو بيا هم مستقل قدرت په كښي نسته) ليكن كه زما پروردگار (څنگه چي قادر

مطلق دی لکه چی ددی شیانو څخه معلومه سوه دغه ډول هغه) هر شی په خپل (احاطه د) علم کی (هم) گیر کړی دی (غرض دا دی چی قدرت او علم دواړه په هغه پوری خاص دی، او ستاسی دخدایانو نه قدرت سته نه علم) آیا تاسی (اوری او) بیا هم خیال نه کوی او (لکه څنگه چی زما دنه بیریدو وجه دا ده چی ستاسی دغه معبودان دعلم او قدرت څخه خالی دی دغه ډول دا خبره هم ده چی ما خو څه کار دبیریدلو کړی هم نه دی، نو بیا) زه ددی شیانو څخه څنگه وبیریږم کوم چی تاسی (دالله ﷻ سره په عبادت او رب والی کی) شریکان جوړ کړی دی، حال دا دی چی (تاسی ته بیریدل په کار دی په دوو وجهو سره اول تاسی دبیری کار یعنی شرک کړی دی چی په دی باندی عذاب راتلی سی، دوهم دخدای عالم او قادر کیدل معلوم سوی دی، مگر) تاسی ددی خبری (دوبال) څخه نه بریږی چی تاسی دالله ﷻ سره داسی شیانو لره شریك کړی دی، دکومو (دمعبود کیدو چی دالله ﷻ دطرف څخه په تاسی څه دلیل (لفظًا) یا معنًی) نه دی نازل سوی (مطلب دا دی چی بیریدل تاسی ته په کار دی بیا تاسی سرچپه کار کوی او ما بیروی) نو (په ذکر سوو) ډلو کی (یعنی مشرکینو او موحدینو کی) دامن (یعنی ددی چی بیره ورباندی نه واقع کیږی) زیاته لایقه کومه یوه ده (او بیره هم هغه چی په واقع کی د اعتبار قابله ده، یعنی د آخرت بیره) که تاسی (څه) خبر لری.

معلومات او مسئلي: ددی څخه په مخکی آیتونو کی دنبی کریم ﷺ دعربو مشرکانو ته خطاب او دبت پرینښوولو او یوازی دخدای پرستی ددعوت بیان وو.

په دی آیتونو کی ددغه حق دعوت تائید په یو خاص اندازه سره فرمایل سوی دی کوم چی په طبعی طور سره دعربو زړونو ته خوښیږی، هغه دا چی حضرت ابراهیم ﷺ دټولو عربو مشر نیکه دی او په دی وجه په ټولو عربو کی دده تعظیم دهمیشه څخه راغلی دی، په دی آیتونو کی دحضرت ابراهیم ﷺ دهغه مناظری ذکر دی کومه چی ده دبت پرستی او نجوم پرستی خلاف دخپل قوم سره کړی وه او بیا یی ټولو ته دتوحید سبق ورکړی، په اولنی آیت کی دی چی حضرت ابراهیم ﷺ خپل پلار ازر ته وویل چی تاسی په خپلو لاسو باندی جوړ سوی بتان خپل معبودان جوړ کړی دی، زه تا او ستا ټول قوم په گمراهی کی وینم، مشهوره دا ده چی ازر دحضرت ابراهیم ﷺ دپلار نوم دی او اکثرو تاریخ لیکونکو دده نوم، تارخ ښوولی دی او دا چی ازر دده لقب دی.

او امام رازی ﷫ او په تیرو عالمانو کی دیو جماعت وینا دا ده چی دحضرت ابراهیم ﷺ دپلار نوم، تارخ او داکا نوم، ازر دی، دده اکا ازر دنمرود د وزارت وروسته په شرک کی اخته سوی وو او اکا ته پلار ویل په عربی محاورو کی عام دی، ددغه محاوری لاندی په آیت کی ازر ته دحضرت ابراهیم ﷺ پلار وویل سوه، په زرقانی شرح دمواهب کی ددی ډیر شواهد هم نقل سوی دی.

(دعقیدو اصلاح او دعملونو ښه دخپل څخه شروع کول په کار دی)

آزر دحضرت ابراهیم ﷺ پلار وو او که اکا، په هرحال په نسبی طور سره دده قابل احترام مشر وو، حضرت ابراهیم ﷺ تر ټولو اول دحق دعوت دخپل کور څخه شروع کی، لکه چی نبی کریم ﷺ ته هم ددی حکم سوی دی، وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ: یعنی خپل نژدی قریبان دخدای دعذاب څخه وبیروه، او

Maktaba Tul Ishaat.com

دی صلی الله علیه وسلم په دی بنا سره تر تولو اول د صفا غرته وختی خپل خاندان ته یی دحق دعوت ورکی او دوی یی را جمع کړل، په تفسیر بحرمحیط کی دی چی ددی څخه معلومه سوه چی که دخاندان څوک واجب الاحترام مشر ددین په صحیح لاره باندی نه وی، نو ده ته دصحیح لاری طرف ته دعوت ورکول د احترام څخه خلاف نه دی، بلکه همدردی اوخیر خواهی ده، او دا هم معلومه سوه چی دحق دعوت او داصلاح کار اول دخپلو نژدو خلقو څخه شروع کول دانبیاؤ علیهم السلام سنت دی.

(دوه قومي نظريي، مسلمان يو قوم او كافر بل قوم دى)

دارنګه په دی آیت کی حضرت ابراهیم ﷺ دخپل خاندان اوقوم نسبت خپل طرف ته دکولو په ځای پلارته دا وویل چی ستاسی قوم په ګمراهی کی دی، په دی کی ددی لوبی قربانی طرف ته اشاره ده چی حضرت ابراهیم ﷺ دخدای په لاره کی دخپلی مشرکی برادری څخه قطع تعلق وکی، ادا یی کړه اوپه خپل عمل سره یی وښوولـه چی دمسلمان قومیت قرابت په اسلام سره قائمیدی سی نسبی او وطنی قومیتونه که ددی سره تکر وخوی، نو دا تول د پریښوولو قابل دی.

هزار خویش که بیګانه از خدا باشد فدائی یک تن بیګانه که اشنا باشد

(په زرګونو خپلوان چی دخدای څخه پردی وی، دهغه یوه پردی څخه قربان سه چی دخدای سره اشنا وی)

قرآن کریم دحضرت ابراهیم ﷺ دا واقعه ذکر کړه او آئنده راتلونکو امتونوته چی هدایت وکړی چی دوی هم په دی نقش قدم باندی روان سی ارشاد دی.

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ

یعنی دامت محمدی دپاره ښه خویونه او داقتدا قابل دی دحضرت ابراهیم ﷺ او دده دملګرو داعمل چی دوی خپل نسبی اووطنی وروروليٰ ته صفا وویل چی مونږ ستاسی اوستاسی دغلطو معبودانو څخه بیزاره یو، او زمونږ اوستاسی په مینځ کی دبغض اودښمنی دیوالونه ترهغه وخته پوری حائل دی، ترڅوچی تاسی دالله ﷻ عبادت اختیار نه کړی، معلومه سوه چی دا دوه قومونه نظریه کومی چی پاکستان جوړ کړی دی ددی اعلان دتولو مخکی حضرت خلیل الله ابراهیم ﷺ فرمایلی دی، امت محمدی او نورو تولو امتونو هم ددی هدایت لاندی دا طریقه اختیار کړه اوپه عام طور سره په مسلمانانو کی اسلامی قومیت معلوم سو.

دحجة الوداع په سفرکی دنبی کریم ﷺ سره یوه قافله یوځای سوه ده ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه چی تاسی د کوم قوم څخه یاست؟ جواب یی ورکی چی، نَحْنُ قَوْمٌ مُسْلِمُونَ (بخاری) په دی کی دعربو د زوړ دستور مطابق دیوی قبیلی یاخاندان اخیستو په ځای، مُسْلِمُونَ: یی وویل، هغه حقیقی قومیت یی وښووی کوم چی ددنیا څخه واخله ترآخرته پوری چلیدونکی دی، حضرت ابراهیم ﷺ دلته خپل پلارته دخطاب کولو په وخت کی دبرداری نسبت هغه ته وکی او دخپلی بیزاری اعلان یی وفرمایی، اوکوم ځای چی دقوم څخه دخپلی بیزای اوقطع تعلقی اعلان کول وو، هلته یی خپل طرف ته نسبت وکی، خطاب یی وکی، لکه چی په راتلونکی آیت کی دی، يَا قَوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ: یعنی ای زماقومه! زه ستاسی دشرک څخه بیزاره یم، په دی کی دی طرف ته اشاره ده، چی که څه هم دنسب او وطن په لحاظ سره تاسی زما قوم یاست، لیکن ستاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

دی مشرکانه کارونو زه ستاسی د ورورولی خخه په تعلق ختمولو مجبوره کرم.
دحضرت ابراهیم ﷺ ترورور او دده پلار په غیرگ شرک کی اخته وو چی دبتانو عبادت به یی هم کوی او دستوروهم، په دی وجه حضرت ابراهیم ﷺ په دی دواړو مسئلو کی دخپل پلار او دخپل قوم سره مناظره وکړه، اول یی دبت پرستی گمراهی ذکر کړه، په راتلونکی آیت کی په طور دتمهید الله ﷻ دحضرت ابراهیم ﷺ دیوخاص ډول اوپه علم اوپوهه کی دیو اعلی مقام ذکر په دی ډول سره وفرمایی.

وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ.

یعنی مونږ ابراهیم ﷺ ته دآسمانونو اومځکی مخلوقات داسی وښوول چی ددی ټولو شیانو حقیقت ورته په ډاگه معلوم سی او دده یقین مکمل سی، ددی نتیجه وه چی په وروسته آیت کی دا دیوی مناظری په عجیب شکل کی داسی ذکر دی.

(په تبلیغ اودعوت کی دحکمت خخه کار اخیستل دانبیاؤ علیهم السلام سنت دی)

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَىٰ كَوْكَبًا قَالَ هَٰذَا رَبِّي.

یعنی یوه شپه چی کله تیاره خپره سوه او په یوه ستوری یی نظر ولگیدی نوخپل قوم ته یی د اوررولو دپاره وویل چی دا ستوری زما رب دی، مطلب یی داؤ چی ستاسی دخیالاتو اوعقیدوپه بناسره دا زما او ستاسی رب یعنی پالونکی دی، اوس په لږ وخت کی به ددی حقیقت ووینی، نولږ ساعت وروسته هغه ولویدی نوحضرت ابراهیم ﷺ ته په قوم دحجت قائمولو دپاره ښکاره موقع په لاس ورغله او وی فرمایل، لَآ أُحِبُّ الْآفِلِينَ، دا فلین، دا لفظ د أُفُول خخه جوړ دی، چی معنی یی ده غروب کیدل، یعنی لویدل.

مطلب دا دی چی زه دلویدونکو شیانو سره محبت نه ساتم اوڅوک چی خدای یا معبود جوړول کیږی، ښکاره خبره ده چی هغه د زیات محبت او عظمت مستحق په کار دی، مولانا رومی رحمه الله دا واقعه په یو شعر کی بیان کړی ده.

خلیل آسان در ملک یقین زن | نوائی لا أحب الافلین زن

دحضرت خلیل الله ﷺ په ډول یقین په ځان کی پیدا کړه اودلا احب الافلین چیغه وکړه.

ددی خخه وروسته بیا په یوه بله شپه یی بریښیدونکی سپوږمی ولیده نو بیایی خپل قوم ته د اوررولو دپاره هم هغه طریقه اختیارکړه او وی ویل چی (ستاسی دعقیدی مطابق) دا زما رب دی، مگر ددی حقیقت به هم څه ساعت وروستهووینی، نو چی کله هغه میاشت ولویده نو وی فرمایل چی که مانه زمارب هدایت نه کولی نو زه به هم ستاسی په ډول په گمراهانو کی دا خل سوی وم او سپوږمی به می خپل رب اومعبود گڼلی وای لیکن د دوی دختلو او لویدلو بدلیدونکو حالاتو زه خبر کړم چی دا ستوری هم دعبادت قابل نه دی په دی آیت کی یی دی طرف ته هم اشاره وکړه چی زمارب څه بل شی دی چی دهغه دطرفه خخه ماته هدایت کیږی، تردی وروسته یی یوه ورځ لمرختونکی ولیدی نو بیا یی قوم ته د اوررولو دپاره هم په دغه طریقه وفرمایل چی (ستاسی دخیال مطابق) دازمارب دی اوداخو تر ټولو لوی دی، مگر دده دلوی والی حقیقت اوحیثیت به هم ډیرژرستاسی مخ ته راسی نوچی لمرهم په خپل وخت ولویدی،

Maktaba Tul Ishaat.com

نو په قوم باندی د آخرت حجت تماممولو وروسته اوس اصلی حقیقت یی په واضحه بیان کی چی .

یا قَوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ: یعنی ای زما قومه ! زه ستاسی ددی مشرکانه خیالاتو څخه بیزاره یم ، چی تاسی دخدای ﷻ مخلوقات دخدای ﷻ سره شریک جوړ وی ، تردی وروسته یی دا حقیقت ښکاره کی چی زما او ستاسی رب (پالونکی) په دی مخلوقاتو کی هیڅ یو هم نه سی کیدی ، کوم چی په خپل وجودکی د بل محتاجه وی او هر وخت هر ګړی دترقی او نزول ، ختلو اولویدلو په اوښتون او بدلون کی ګیر وی ، بلکه زمونږ دټولورب هغه دی چاچی آسمانونه اومځکی اوپه دی کی پیداکیدونکی ټول مخلوقات یی پیداکړی دی ، په دی وجه ماخپل مخ ستاسی دټولو په خپله جوړکړو بتانو اوپه تغیراتو کی دګیروستوروڅخه را وګرځوی ، یوازی دیوه الله ﷻ وحده لاشریک طرف ته می کړی اوزه ستاسی په ډول دمشرکانو څخه نه یم .

په دی واقعه اومناظره کی حضرت ابراهیم ﷺ دپیغمبرانه حکمت اونصیحت څخه کار واخیستی اویکدم یی د دوی ستورو عبادت ګمراهی یاغلطی ونه فرمایله ، بلکه یو داسی اندازه یی قائم کړه ، چی دهرعقل والا انسان زړه اودماغ په خپله متاثره سی اوحقیقت وپیژنی ، لیکن دبت پرستی خلاف په خبره کولوکی یی د اول سر څخه سختی اختیار کړه او دخپل پلار اوټول قوم یی په ګمراهی باندی کیدل په صاف طور سره بیان کړل ، وجه دا وه چی دبت پرستی ګمراهی ښکاره اوپه ډاګه وه ، په خلاف دنجوم پرستی څخه چی ددی ګمراهی دومره واضحه او په ډاګه نه وه .

دلته داخبره هم دفکر قابله ده چی حضرت ابراهیم ﷺ دقوم په مخکی چی دنجوم پرستی کوم دلیل بیان کړی دی ، ددی مطلب دا دی چی کوم شی تغیر قبلوی اوحالات یی آدل بدل کیږی او دی په خپلو حرکتونو کی دیو بل طاقت تابع وی ، هغه هیڅکله ددی لائق نه دی چی دی خپل رب جوړ سی ، په دی دلیل کی د ستورو دختو اولویدو او د درمیانی ټولو حالاتو څخه دلیل نیول کیږی ، چی دوی په خپلوحرکتونوکی په خپل اختیار نه دی ، دچادحکم تابع په یو خاص ډول چلیږی ، لیکن حضرت خلیل الله ﷺ په دی ټولو حالاتو او اندازوکی یوازی ددلیل دپاره د دوی لویدل پیش کړل څکه چی د دوی لویدل دعوامو په نظرونو کی یوقسم دوی زوال ګڼل کیږی ، او د انبیاؤ علیهم السلام طرز ددلیل هغه وی کوم چی دعوامو په ذهنونو کی اثرکوی دوی په فلسفیانه حقیقتونو پسی زیات نه ځی ، بلکه دعامو ذهنونو مطابق خبره کوی په دی وجه یی ددی ستورودبی بسی اوبی اثری ثابتولو دپاره د دوی لویدل وړاندی کړل ، که نه وی نو د دوی پر بی بسی اوبی قدرته کیدو باندی خوپه ختلوسره هم دلیل نیول کیدی سوای ، او تردی وروسته د غروب یعنی لویدو څخه مخکی چی څومره ادلون بدلون ورته مخ ته راځی په دی هم دلیل نیول کیدی سوای .

(داسلامي تبليغ كوونكو دپاره څو هدايتونه)

دحضرت ابراهیم ﷺ دمناظری په دی طرزکی دعالمانو اوتبلیغ کوونکو دپاره یو څومهم هدایتونه دی ، اول دا چی دقومونو په تبلیغ او اصلاح کی نه هرځای سختی مناسب ده اونه هرځای نرمی ، بلکه دهر یوه یوه موقع او یوحد دی ، لکه چی دبت پرستی په معامله کی حضرت خلیل الله ﷺ سخت الفاظ استعمال

Maktaba Tul Ishaat.com

کړی دی ، ځکه چی د دوی ګمراهی ښکاره وه او دنجوم پرستی په معامله کی بی داسی سخت الفاظ دی استعمال کړی ، بلکه په یو خاص تدبیر سره بی دمعاملی حقیقت دخلقو ذهنونه ته کښته کړی دی ، ځکه چی دستورو بی بسی اوناچاری دومره ښکاره نه وه څومره چی دبتانو وه ، ددی څخه معلومه سوه چی عوام که په څه داسی غلطی کی اخته وی چی غلطی او ګمراهی یی په عامو نظرونو کی په ډاګه نه وی نوعالم او مبلغ ته په کار دی چی دسختی په ځای د دوی دشکونو اوشبهولیری کولو تدبیر وکړی ، دوهم هدایت په دی کی دا دی چی دحق اوحقیقت ښکاره کولو دپاره په دی کی حضرت ابراهیم ﷺ قوم ته داسی خطاب ونه کړی چی تاسی داسی وکړی ، بلکه خپل حال بی ښکاره کی چی زه خو ددی شیانو کوم چی دختلو او لویدلو په چکر کی ګیر دی ، عبادت نه سم کولی ، په دی وجه زه خپل مخ دیو داسی هستی طرف ته کوم ، کوم چی دهرڅه پیداکوونکی اوپالونکی دی مقصد خو دا وو چی تاسی ته هم داسی کول په کاردی مګر په حکیمانه اندازکی یی دښکاره خطاب څخه منعه وکړه چی دوی ضد جوړ نه کړی ، ددی څخه معلومه سوه چی داصلاح کوونکی اوتبلیغ کوونکی یوازی دا کار نه دی چی حقه خبره په هر دول چی وی، وکړی، بلکه په ده لازمه ده چی په داسی اندازسره یی وکړی ، چی په خلقو اثر وکړی

الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولَٰئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ ﴿٨٢﴾ وَتِلْكَ

کوم خلق چی یقین وکی اوګډنه کړی په خپل یقین کی څه نقصان دهغوی دپاره دی امن اوهغه دی په سیده لاره او

حُجَّتُنَا آتَيْنَاهَا إِبْرَاهِيمَ عَلَىٰ قَوْمِهِ ۚ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ ۗ إِنَّ

دا زمونږ دلیل دی چی مونږ ورکړی وو ، ابراهیم ته دده دقوم په مقابله کی ، درجی لوړ وو مونږ دچاچی وغوارو

رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٨٣﴾ وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ ۚ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ

ستارب حکمت والا دی ، پوه دی ، او وبخښی مونږ ابراهیم ﷺ ته اسحاق ﷺ اویعقوب ﷺ تولو لره

وَنُوحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ ۖ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ

مونږهدایت ورکړی دی اونوح ته هدایت ورکړی دی مونږدې تولوڅخه مخکې او د دوی په اولاد کی داود اوسلیمان اوایوب

وَيُوسُفَ وَمُوسَىٰ وَهَارُونَ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٤﴾ وَزَكَرِيَّا

اویوسف ﷺ اوموسیٰ ﷺ اوهارون ﷺ ته او مونږ دارنګه بدله ورکوو نیکانو ته ، او زکریا ﷺ

وَيَحْيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلْيَاسَ ۖ كُلٌّ مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٨٥﴾ وَإِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ

اویحیٰی ﷺ اوعیسیٰ ﷺ او الیاس ﷺ ته ، تول دنیك بختانو څخه دی ، او اسماعیل ﷺ اویسع ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَيُوْنُسَ وَلُوْطًا ۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ

اویونس ﷺ اولوط ﷺ ته، اوټولو لره مونږ فضیلت ورکړی دی په ټول مخلوق ، اوهدایت کړی دی مونږ دځینی

وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَاِخْوَانِهِمْ ۚ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۸۷﴾

پلار نیکه او اولاد د دوی ته ، او وروڼو د دوی ته ، او غوره کړی وو مونږ دوی اوپه سیده لاره مو وچلول ،

ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۚ وَلَوْ اَشْرَكُوْا

دا دالله ﷻ هدایت دی چلوی په دی چاله چی وغواړی دبندګانو خپلو څخه او که دی خلقو شرك کولی

لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۸۸﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ

نوخامخا ضائع سوی به وای څه چی دوی کړی وو ، دا خلق وو کومو ته چی ورکړی وو مونږ کتاب

وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ فَاِنْ يَّكْفُرْ بِهَا هٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا

اوشریعت او نبوت بیا که دا خبری ونه منی دمکی خلق نومونږ ددې خبرو دپاره مقرر کړی دی

لَّيْسُوْا بِهَا بِكٰفِرِيْنَ ﴿۸۹﴾

داسی خلق چی دوی څخه منکر نه دی .

تفسیر: کوم خلق چی (په الله ﷻ) ایمان لری اوخپل (دا) ایمان دشرک خلط نه کی ، دداسی خلقو دپاره (په قیامت کی) امن دی او دوی (په دنیا کی) په لاره (نیکه) چلیږی (او دا یوازی موحدین دی په خلاف د مشرکانو څخه که څه هم په معنی لغوی په خدای ایمان لری څکه چی دخدای قائل دی ، لیکن شرک هم کوی چی په دی سره شرعی ایمان منفی کیږی ، لکه چی موحدین قابل د امن دی ، نو په دی صورت کی تاسی په خپله ډیره کوی ، نه چی مونږ ډیروی ، حال دا دی چی نه ستاسی خدایان دډیره قابل دی اونه ماڅه کارد ډیریدو کړی دی ، اونه ددنیا ډیره دڅه اعتبار قابله ده ، او دا ستاسی حالت په دی دری سره اعتبار سره د ډیری دی) او دا (حجت کوم چی ابراهیم ﷺ په توحید قائم کړی وو) زمونږ (ورکړل سوی حجت وو، دغه مونږ یقینا د اعلی درجی وو او دابراهیم ﷺ څه تخصیص دی) مونږ (خو) چا ته چی وغواړو په (علمی او عملی) مرتبوکی یی لوړوو (نو ټولو انبیاؤ ته مونږ دا لوړی درجی ورکړی وی) بیشکه ستا رب لوی علم والا لوی حکمت والا دی (چی دهر یوه حال او استعداد پیژنی او دهر یوه سره مناسب هغه ته کمال ورکوی) او (مونږ چی څنګه ابراهیم ﷺ ته ذاتی کمال علم اوعمل ورکړی ، دغه ډول مو ورته اضافی کمال هم ورکړی چی دده په اصولو او فروعوکی مو ډیرو ته کمال ورکړی، لکه چی) مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

ده ته (یو زوی) اسحاق ورکړی او (یو لمسی) یعقوب (ورکړی ، اوپه دی سره دنور اولاد نفی نه کیږی او د
دواړو صاحبانو څخه) هر یوه ته (دحق دلاری) مونږ هدایت وکړی او (ابراهیم ﷺ څخه) په مخکی زمانه
کی مونږ نوح (ﷺ) ته (چی دی دحضرت ابراهیم ﷺ په نیکونوکی مشهور دی او داصل فضیلت په فرع
کی هم اثر کوی ، دحقی لاری) هدایت وکړی او ددی (ابراهیم ﷺ) د اولاد (لغوی یاعرفی یا شرعی) ته تر
آخره پوری څومره چی ذکردی تولوته مو دحقی لاری هدایت وکی یعنی) داؤد (علیه السلام) ته او (دده
زوی) سلیمان (علیه السلام) ته او ایوب (علیه السلام) ته او موسی (علیه السلام) ته او هارون (علیه
السلام) ته (دحقی لاری هدایت وکړی) او (کله چی دوی په هدایت روان وه ، نو مونږ دوی ته ښه جزا هم
ورکړه لکه ثواب او زیات نژدیکت اولکه څنګه چی مونږ په نیکو کارو دوی ته جزا ورکړه) دغه دول
(زمونږ عادت دی چی) مونږ نیک کارکوونکو ته (مناسبه) جزا ورکوو (او دارنګه مونږ دحقی لاری
هدایت وکړی) زکریا (ﷺ) ته او (دده زوی) یحیی (ﷺ) ته اوعیسی (ﷺ) تذ او الیاس (علیه السلام) ته
(او دا) تول (حضرات) په پوره نیک بختانو خلقوکی وه او دارنګه (مونږ دحقی لاری هدایت ورکی)
اسماعیل (ﷺ) ته اویسع (ﷺ) ته او یونس (ﷺ) اولوط (ﷺ) ته او(په دوی کی) هر یوه ته (د دوی
دزمانو) دتول جهان په خلقو (په نبوت سره) مونږ فضیلت ورکی اودارنګه ددی (ذکر سوو حضراتو) څه
پلار نیکه اوڅه اولد اوڅه ورونو ته (دحقی لاری مونږ هدایت وکی) اومونږ دوی (تولو) ته دنیکی لاری
(یعنی دحق دین) هدایت وکی (اوهغه دین دکوم چی دی تولوته هدایت سوی وو) دالله ﷻ (دجانب څخه
چی کوم) هدایت (کیږی) هغه دا (دین دی ، په خپلو بندګانو کی چی په چاباندی غواړی ، ددی هدایت
(یعنی منزل ته درسولو په صورت کی) کوی یی (نو اوس چی کوم خلق موجود دی هغوی ته هم ددی
هدایت په دی معنی سره وسو چی دوی ته صحیح لار وښوول سوه ، بیا منزل ته رسیدل یا نه رسیدل د
دوی کار دی ، مګر په دوی کی ځینو دا پریښول اوشرک یی اختیار کړو) او(شرک دومره ناکاره شی دی
چی غیر انبیاء خو په څه شمیر کی نه دی) که فرض کړه دی حضراتو (ذکر سوو انبیاؤ علیهم السلام) هم
(نعوذ بالله) شرک کړی وای نوڅه چی دوی (نیک) عملونه کول تول به ضائع سوی وه (مخته د نبوت
دمسئلی طرف ته اشاره ده چی) دوی (څومره چی ذکر سوه) داسی وه چی مونږ دوی (په جمع) لره کتاب
(آسمانی) او حکمت (عملونه) او نبوت ورکړی وو (نو نبوت څه عجیبه کار نه دی، چی دا کافران ستا څخه
انکار کوی، څکه چی نظیرونه یی موجود دی) نوکه (سره دنظیر موجودیدو بیا هم) دا خلق (ستا) د نبوت
څخه انکار کوی نو (ته غم مه کوه څکه چی) مونږ ددی (دمنلو) دپاره داسی ډیر خلق مقرر کړی دی (یعنی
مهاجرین او انصار) چی ددی څخه منکر نه دی .

معلومات اومسئلی: دذکر سوو آیتونوڅخه په مخکی آیتونوکی دحضرت ابراهیم ﷺ مناظره دخپل پلار
ازر او دپوره قوم دنمرو سره ذکر وه په کومه کی چی یی دهغوی دبت پرستی اونجوم پرستی خلاف
دیقینی شهادتونه دپیش کولو څخه وروسته په ذکر سوو آیتونوکی خپل قوم ته خطاب وفرمایی چی
تاسی ما په خپلو بتانو بیر وی چی که زه د دوی څخه انکار وکړم نو مابه برباد کړی حال دا دی چی نه په
بتانوکی ددی قدرت سته اونه ما څه داسی کار کړی دی چی په نتیجه کی به یی ماته څه نقصان رسیږی،

Maktaba Tul Ishaat.com

بلکه بیره تاسی ته په کار ده چی تاسی جرم هم داسی سخت کړی دی چی دالله ﷻ یو دعقل خاوند ناخبره نه دی چی الله ﷻ علیم او خبیر قادرِ مطلق دی، نو اوس تاسی په خپله سوچ وکړی او ووایاست چی دامن او اطمینان مستحق څوک دی اوبیره چا ته په کار ده؟ په دی آیتونو کی په اول آیت کی دامضمون ارشاد فرمایل سوی دی چی دعذاب څخه په امن اومطمئن یوازی هغه خلق کیدی سی کوم چی په الله ﷻ ایمان راوړی او بیا په خپل ایمان کی دڅه ظلم شرکت ونه کړی.

په حدیث کی دی چی کله دا آیت نازل سو نو صحابه کرام رضی الله عنهم وبیریدل اوعرض یی وکی چی یارسول الله ﷺ په مونږ کی څوک داسی دی چی څه ظلم یی په خپل ځان په ذریعه دګناه نه دی کړی، اوپه دی آیت کی خو دعذاب څخه دامن کیدو دا شرط دی چی دایمان سره یی څه ظلم نه وی کړی، نوبیازمونږ دنجات لار څه ده؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل چی تاسی دآیت په صحیح مطلب نه یاست پوه، په آیت کی دظلم څخه مراد شرک دی، لکه چی په یو بل آیت کی ارشاد دی، اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ: په دی وجه دآیت مراد دا دی چی کوم څوک ایمان راوړی او بیا په دی کی دالله ﷻ په ذات او صفاتو کی یو څوک شریک جوړ نه کړی، دی دعذاب څخه په امن اوهدایت پیداکوونکی دی، لنډه دا ده چی دبتانو، ډبرو، درختو، ستورو، دریابونو، عبادت کوونکی مخلوق دخپلی بی وقوفی څخه دا شیان داختیار خاوندان ګڼی او د دوی دعبادت پریښوولو څخه څکه بیریږی چی هسی نه دا شیان مونږ ته نقصان ونه رسوی حضرت خلیل الله علیه السلام دسرو زرو غوندی خبره دوی ته وښوولهٔ، چی خدای ﷻ کوم چی ستاسی دهرکار څخه خبردار هم دی اوستاسی په هره ښه اوبده باندی پوره قادر هم دی دهغه څخه تاسی نه بیریږی چی دهغه څخه په خلاف کولو به یو مصیبت راسی او دکومو شیانو سره چی نه علم سته نه قدرت دهغوی څخه داسی بیریږی؟ د ادبی عقلی څخه ماسوا نورڅه دی، بیره یوازی دالله ﷻ څخه په کار ده، او دچاچی په دی باندی ایمان وی، هغه په هیڅ بیره کی نه وی.

په دی آیت کی یی، وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ: فرمایلی دی، په دی کی دظلم څخه خو دنبی کریم ﷺ دښوودنی موافق شرک مراد دی، عامه ګناه مراد نه ده، لیکن لفظ د، بِظُلْمٍ: یی نکره راوړی، چی دعربی ژبی دقواعدو مطابق یی عام کی، چی هرقسم شرک لره شامل دی اولفظ د، لَمْ يَلْبِسُوْا: څخه جوړ دی چی یوه معنی یی اغوستل یا خلط ملط (ګډوډ) کول دی، او مراد د آیت دا دی چی کوم سړی په خپل ایمان کی یوقسم شرک ګډ کړی یعنی خدای ﷻ سره دټولو کمالی صفتونو دمنلو باوجود غیرالله هم په دی کی دځینو صفتونو حامل ګڼی، هغه ددی امن او ایمان څخه خارج دی، ددی آیت څخه معلومه سوه چی شرک یوازی دا نه دی چی په ډاګه مشرک اوبت پرست سی، بلکه هغه سړی هم مشرک دی کوم چی که څه هم دیوبت عبادت نه کوی اوکلمه د اسلام وایی، مګر یو ملائکه، یارسول یا یو ولی الله دالله ﷻ سره په ځینو خاصو صفتونو کی شریک کوی، په دی کی دهغه عوامو دپاره سخت خبرداری دی کوم چی اولیاء الله او د دوی مزارونه حاجت روا ګڼی، او عملاً دوی داسی ګڼی چی ګوا کی دخدایی اختیارات دوی ته حواله سوی دی (نعوذ بالله منه)

په دوهم آیت کی حق تعالی ﷻ ارشاد وفرمایی چی حضرت ابراهیم علیه السلام چی دخپل قوم سره په مناظره کی

Maktaba Tul Ishaat.com

کومه ښکاره فتح ترلاسه کړه اوهغوی یې لاجوابه کړل ، دا زمونږ انعام وو چې ده ته مونږ صحیح نظریه ورکړه بیا مو ورته دهغه ښکاره دلیلونه وښوول ، هیڅا ته په عقل ، پوه یا تقریر یا زور اوخطابت باندې ناز کول نه دي په کار ، بغیر دالله ﷻ دامداد اوملګرتیا څخه دچاپیرۍ نه سي پوری وتلی ، یوازې انساني عقل په حقیقت باندې دپوهیدو دپاره کافي نه دی څکه چې په هر دوی کې دا لیدل کیږي چې لوی لوی ماهر فلاسفران دګمراهۍ کندې ته لویږي اوډیر ناخوانده جاهلان دصحیح عقیدې او نظریې پابند کیږي ، مولانا رومی رحمه الله څه ښه فرمایلي دي .

بن عنایات حق وخاصان حق گر ملک باشد سیه هستش ورق

(بغیر دمهربانی دخدای ﷻ او دخاصانو دحق څخه ، که ملائکه هم وي خو چې دخدای مهرباني ورسره نه وي عمل نامه به یې توره وي)

په آخرې آیت کې فرمایي ، نَرۡفَعُ دَرَجٰتٍ مَّن نَّشَآءُ : یعنې مونږ چا ته چې وغواړو درجې یې لوړ وو ، په دې کې اشاره ده چې حضرت ابراهیم علیه السلام ته کوم چې په ټول عالم کې اوترقیامته پورې په راتلونکو نسلونو کې خاص عزت اومقام ورکړل سو چې یهودیان ، نصرانیان ، مسلمانان اوبدهمت او نور ټول دده دپاکۍ قائل دي اوتعظیم یې کوي ، دا هم زمونږ فضل او انعام دی دچا دکسب اوعمل په دې کې دخل نسته .

ددې څخه وروسته په شپږو آیتونو کې د اوولسو ۱۷ انبیاؤ علیهم السلام فهرست شمار سوی دی چې په دې کې ځیني دحضرت ابراهیم علیه السلام پلرونه نیکونه دي او اکثره دده علیه السلام اولاد دي اوځیني یې وروڼه وریرونه دي ، په دې آیتونو کې یوطرف ته خو ددې حضراتو په هدایت باندې کیدل ، صالحان کیدل ، په نیکه لاره کیدل بیان سوی دي او دا ښوول سوی دي چې دوی الله ﷻ دخپل دین دخدمت دپاره منتخب کړي اوقبول کړي دي اوبل طرف ته یې دا ښوولې ده چې حضرت ابراهیم علیه السلام دالله ﷻ په لاره کې خپل پلار او خاندان اووطن پریښی وو ، نو الله ﷻ دآخرت لوړې درجې اوهمیشه اوبې مثاله راحتونه اول په دنیا کې هم ده ته دخپل خاندان ښه خاندان او تر وطن ښه وطن ورکړي او دا لوی شرافت یې ورته ورکړي چې دحضرت ابراهیم علیه السلام څخه وروسته تر قیامته پورې څومره انبیاء او رسولان چې راغلي دي ، هغه ټول دده په اولاد کې دي ، یو ښاخ کوم چې دحضرت اسحاق علیه السلام څخه شروع سو په ده کې ټول انبیاء د بني اسرائیلو راغلل ، او دوهم ښاخ کوم چې دحضرت اسماعیل علیه السلام څخه شروع سو ، په دې کې سید الاولین والآخرین نبي د انبیاؤ ، خاتم الانبیاؤ علیهم السلام پیدا سو ، او دا ټول دحضرت ابراهیم علیه السلام اولاد دي ، ددې څخه معلومه سوه چې که څه هم عزت او ذلت او دنجات اوعذاب اصل دار اومدار دانسان په خپل عمل باندې دي لیکن په پلار یانیکه کې دنبې یاولي کیدل یا په اولاد کې عالم او صالح کیدل هم یو لوی نعمت دی او ددې څخه هم انسان ته فائده رسیږي .

په دې اوولسو ۱۷ انبیاؤ علیهم السلام کې چې دکومو فهرست په دې آیتونو کې ورکړل سوی دي یوحضرت نوح علیه السلام خو دحضرت ابراهیم علیه السلام نیکه دی ، باقي ټولو ته یې دده اولاد فرمایلي دي ، وَمِن ذُرِّيَّتِهِۦ دَاوُۥدَ وَسُلَيۡمَٰنَ : الآیة ، په دې کې یو اشکال خو دحضرت عیسی علیه السلام په باره کې کیدی سي ، چې دی بغیر دپلارڅخه د پیدا کیدو په وجه دحضرت ابراهیم علیه السلام دلور په لاوړ کې دی یعنې د زوی زوی نه دی ، دلور زوی دی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

نو ده ته اولاد ویل څنګه صحیح سو؟ ددې جواب عامو عالمانو او فقهاؤ دا کړی دی چې لفظ د ذریت دواړو ته شامل دی که د زوی څخه وی اوکه د لور څخه، او دلیل یې په دې سره نیولی دی چې حضرات حسنین ﷺ دنبی کریم ﷺ په اولادکی دا خل دی، دوهم اشکال دحضرت لوط ﷺ متعلق دی چې هغه بې په لاود کی نه دی بلکه وراره دی، لیکن ددې جواب هم واضح دی چې په عرف کی اکا ته پلار او وراره ته زوی ویل ډیر مشهور دی، په ذکر سوو آیتونوکی یې په حضرت خلیل الله ﷺ دالله ﷻ انعامات بیان کړل یو طرف ته خو دقدرت دا قانون وښوول سو چې کوم سړی دالله ﷻ په لاره کی خپل خوښ شیان قربانوی الله ﷻ ده ته په دنیاکی هم ددې ښه شیان ورکوی، دوهم طرف ته یې دمکی مشرکانو ته دا حالت واوری او دې طرف ته یې د دوی پام راګرځول مقصود دی، چې تاسې خلق دمحمد ﷺ خبره نه منی، نو وګوری کومو ته چې تاسې هم لوېې منی یعنی حضرت ابراهیم ﷺ او دهغه ټول خاندان، هغوی هم ټولو دا ویلی دی چې دعبادت قابل یوازې یو ذات دی اوهغه الله ﷻ دی، دهغه سره څوک هم په عبادت کی شریکول یا دالله سره په مخصوصو صفاتوکی حصه دارګڼل کفر اوګمراهی ده تاسې په خپله هم په دې خپلو منونکو خبرو ملزمان یاست.

په اتم آیت کی دا مضمون ارشاد فرمایل سوی دی او ددې په آخرکی نبی کریم ﷺ ته دتسلی ورکولو دپاره ارشاد فرمایی، فَإِنْ يَكْفُرْ بِهَا هَٰؤُلَاءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَيْسُوا بِهَا بِكَافِرِينَ: یعنی که ستا څیني مخاطب ستا خبره نه منی او دټولو تیرو پیغمبرانو دهدایتونو پیش کولو باوجود بیا هم په انکار باندې ولاړ وی نو ته غم مه کوه څکه چې مونږ ستا ددعوت اوهدایت منلو اوخپلولو دپاره یولوی قوم مقرر کړی دی، دوی په کفر اوانکارنه کوی، په دې کی دمبارکی زمانی موجود مهاجرین اوانصار هم دا خل دی اوترقیامته پوری راتلونکی مسلمانان هم، او دا آیت ددغه ټولو خلقو دپاره دفخر کولو دی چې الله ﷻ دوی دصفت په مقام کی ذکر کړه، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْهُمْ وَاحْشُرْنَا فِي زُمْرَتِهِمْ (ای الله ﷻ مونږ هم په دوی کی شمار کړی او زمونږ حشر د دوی سره کړی)

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ قُلْ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَالَمِينَ ۝

دغه هغه خلق وو چا ته چې هدایت وکی الله نو ته هم د دوی په طریقه ته وو وایه چې زه تاسې غوښتلی ستاسې څخه په دې څه مزدوری، دا خو محض نصیحت دی دمخلوق دپاره.

وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ إِذْ قَالُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٍ مِنْ

او ونه پیژندی دوی الله په پوره پیژندو کله چې دوی وویل چې نه دی نازل کړی الله په یو انسان باندې

شَيْءٍ ۗ قُلْ مَنْ أَنْزَلَ الْكِتَابَ الَّذِي جَاءَ بِهِ مُوسَىٰ نُورًا

څه شی، پوښتنه وکړه نو وو وایه چا نازل کړی وو هغه کتاب کوم چې موسیٰ راوړی وو رڼا وه

Maktaba-Tul-Ishaat.com

وَهُدًى لِّلنَّاسِ تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ تُبْدُوْنَهَا وَتُخْفُوْنَ كَثِيْرًا ۚ

او هدایت وو دخلقو دپاره کوم چې تاسې پاڼې پاڼې کې خلقو ته مو وښودې او ډېرې خبرې تاسې پټې ساتلې وې

وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنْتُمْ وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ ۖ قُلِ اللّٰهُ ۙ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِيْ

او تاسې ته یې وښوول هغه چې تاسې نه پیژندل او نه ستاسې پلارنیکه ، ته ووایه چې الله نازل کړی وو بیا پرېږده

خَوْضِهِمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿٩١﴾ وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِيْ

دوی چې په خپلو خرافاتو کې لوبې کوي ، او دا قرآن کتاب دی چې مونږ نازل کړی دی برکت والا تصدیق کوونکی

بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا ۗ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ

دهغه چې دده څخه مخکې دی او چې وبیروې مکې والا او ددې شاوخوا ماحول والا ، اودچا چې یقین دی

بِالْاٰخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿٩٢﴾ وَمَنْ

په آخرت هغوی په دی ایمان راوړی اوهغوی دی دخپلو لمونځو حفاظت کوونکی ، او دهغه

اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ قَالَ اُوْحِيَ اِلَيَّ وَلَمْ يُوْحَ

څخه زیات ظالم څوك دی چې تړی په الله ﷻ باندی درواغ یا وایي چې په ما وحی نازله سوه او په ده وحی نه وی

اِلَيْهِ شَيْءٌ وَّمَنْ قَالَ سَاُنْزِلُ مِثْلَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ ۗ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ

نازله سوی هیڅ هم او څوك چې وایي زه به هم نازل کړم په مثل دهغه چې الله نازل کړی دی ، او که ته وویني کله

الظّٰلِمُوْنَ فِيْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ۚ اَخْرِجُوْٓا

چې ظالمان وی دمرګ په سختو کې او ملائکې خپل لاسونه را اوږدوی چې وباسئ

اَنْفُسَكُمْ ۖ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى

خپل روحونه ، نن به تاسې ته په بدله کې درکول سی د ذلت عذاب په دی سبب سره چې تاسې به ویل په

اللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٩٣﴾ وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا

الله باندی درواغ خبری او دده دآیتونو څخه یې تکبر کوی ، اوخامخا به تاسې مونږ ته راسی

فُرَادٰى كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّتَرَكْتُمْ مَّا خَوَّلْنٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ ۚ

یو یو لکه څنګه چې مونږ تاسې پیدا کړی واست اول وار او پرېښووی تاسې څه اسباب چې مونږ تاسې ته درکړی وو

وَمَا نَرٰى مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ فِيْكُمْ شُرَكٰٓؤُا ؕ

دخپلې شاڅخه وروسته او مونږ نه وینو تاسې سره سفارش کوونکي کوم چې تاسې ورباندې ګمانونه کول چې دوی

لَقَدْ تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنْكُمْ مَّا كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۹۴﴾ ع

تاسې سره شریکان دي خامخا قطع سوه ستاسې علاقه او ولاړې کومې دعوې چې تاسې کولې .

تفسیر: (او مونږ چې دغم نه کولو او صبر کولو وایو نو وجه دا ده چې ټولو انبیاؤ ﷺ داسې کړی دي ، چنانچې) دا حضرات (چې ذکر سوه) داسې وه چاته چې الله ﷻ ددې صبر) هدایت کړی وو ، نو په دې باب کې) ته هم د دوی په طریقه (په صبر) چلیږه (ځکه چې تاته هم ددې هدایت سوی دی ولې چې په دې نه تاته نفع سته او نه څه ضرر سته چې په دې وجه ته غم او بې صبري کوی او ددې مضمون داظهار دپاره دوی ته د تبلیغ په وخت کې) تاسې (دا هم) وواياست چې زه ستاسې څخه (په دې تبلیغ دقرآن) څه معاوضه نه غوارم (چې په رسیدو بې نفع او په نه رسیدو بې ضرر وی ، بې غرضه نصیحت کوم) دا (قرآن) خو یوازې دټولو مخلوق دپاره یو نصیحت دی (چې په منلوکې بې ستاسې نفع ده او په نه منلوکې بې ستاسې نقصان دی) او دی (منکرو) خلقو دالله ﷻ چې لکه څنګه قدر پیژندل واجب وو دغسې قدر بې ونه پیژندی کله چې (په دکه خوله) دوی داسې وویل چې الله ﷻ پرهیڅ بشرڅه شی (یعنی څه کتاب) نه دی نازل کړی (دا وینا قدرنه پیژندل ځکه دی چې په دې سره دنبوت دمسئلې څخه انکار لازمیږی او دنبوت منکرالله ﷻ درواغ کوی ، او دحق تصدیق واجب دی ، نو په دې کې په قدر شناسۍ واجب کې خلل راغی ، دا خو تحقیقي جواب وو او په الزامي پته خوله کوونکي جواب ورکولوکې) ته (دوی ته) دا وو وایه چې (داخو وښایست چې) هغه کتاب چا نازل کړی دی کوم چې موسی (ﷺ) راوړی وو (یعنی تورات کوم چې تاسې هم منې) چې دهغه حال دا دی چې هغه (په خپله په مثل د) نور (واضح) دی او (دکومو دهدایت دپاره چې هغه) راغلی وو ددغه خلقو دپاره هغه (په وجه دشریعت دبیان په ذریعه) هدایت دی کوم چې تاسې (دخپلو نفساني غرضونو دپاره) پاڼی پاڼی کړی دی چې په هغه (کی څومره پاڼی چې تاسې غواړی هغه) ښکاره کوی (چې هغه کی ستاسې دمطلب خلاف خبره نه وی سوی) او ډیری خبری (چې ستاسې دمطلب څخه خلاف وی ، یعنی په کوموپاڼوکې چې هغه لیکل سوی وی هغه) پټوی او (ددې کتاب په برکت) تاسې ته ډیری داسې خبری وښوول سوی کومې چې (مخکې ترکتاب رسیدو) نه تاسې (یعنی قوم دبنی اسرائیلوکوم چې په وخت کې د نزول دآیت موجود وو) پیژندلې او نه ستاسې (دنږدې سلسلې) لویو (یعنی مشرانو پیژندلې، مطلب دا دی چې دکوم تورات چې دا حالت دی چې دی خو اول تاسې هم منی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهم په جه دنور او هدایت کیدو دمنلو قابل هم دی ، دریم هر وخت ستاسی په استعمال کی دی ، که څه
هم دغه استعمال خوشرمناک دی ، لیکن دهغه په وجه دانکار ځای خو پاته نه سو ، څلورم ستاسی په حق
کی هغه دلوی نعمت او احسان شی دی ، دده په برکت عالمان جوړ سواست ، په دی حیثیت سره هم په در
کی دانکار ځای نسته ، نو دا وواياست چی دا چا نازل کړی دی او کله چی ددی سوال جواب داسی معلوم
دی چی دغه خلقو به هم ددی څخه ماسوا بل جواب نه ورکوی په دی وجه په خپله دجواب ورکولو دپاره
نبی کریم ﷺ ته حکم دی چی) ته (هم دغه) وواېه چی الله ﷻ (مذکورکتاب) نازل کړی دی (او په دی سره د
دوی عامه دعوه باطله سوه) بیا (چی داجواب ورته واوروی) دوی د دوی په عبثه مشغله کی مشغول
پریږده (یعنی ستاسی ذمه واری ختمه سوه که یی نه منی نوته فکرمه کوه ، مونږبه ورسره پوه سو) او (لکه
څنګه چی تورات زمونږ نازل کړی کتاب دی دغه شان) دا (قرآن) هم (دکوم چی دیهودو د ذکر سوی قول
څخه درواغ کول مقصود دی) داسی کتاب دی کوم چی مونږ (په تا) نازل کړی دی چی دلوی (خیر او
برکت والا دی (نو په ده باندی ایمان راوړل او عمل ورباندی کول ددنیا اوآخرت کامیابی ده او دځان څخه
مخکی (نازل سوو) کتابونو (دالله ﷻ دطرف څخه دنازلیدو) تصدیق کوونکی دی (نو مونږ داقرآن دخلقو
دنفعی او دالله ﷻ دکتابونو دتصدیق دپاره نازل کړی دی) او (ددی دپاره مو نازل کړی دی) چی ته (ددی
په ذریعه سره) مکی والا اوشاوخوا والا (په خصوصیت سره د الله ﷻ دعذاب څخه چی په دی مخالفت
باندی به وی) وبیروی (او دغه شان عام خلق ورباندی هم وبیروی (لیکون للعالمین نذیراً) او (ستا
دبیرولو څخه وروسته که څه هم داټول ایمان رانه وړی لیکن) کوم خلق چی په آخرت (پوره یقین لری
(داسی چی دعذاب څخه بیره لری او ورڅخه دخلاصیدو فکر کوی او همیشه دحق په طلب او دنجات
دلاری په لټون کی وی برابره خبره ده که په نقلی دلیل سره وی او که په عقلی تجویز سره) داسی خلق (خو)
په دی (قرآن باندی ایمان راوړی او (په ایمان او عقیده سره ددی په عملونو هم پابندی کوی څکه چی
دعذاب څخه نجات په دی ټولو باندی په جمع سره په عمل کولو باندی دی، لکه چی) هغوی په خپل
لمونځ باندی همیشوالی کوی (او هر کله چی په دی عبادت باندی چی روزانه پنځه واره مکرر او سخت دی
همیشوالی کوی ، نو دنورو عبادتونو چی کله کله او اسان دی خو به په درجه اولی سره پابند وی ،
مطلب دا دی چی دچا دمنلو یا نه منلو فکر مه کوه څوک چی خپل خیر غواړی وبه یی منی ، څوک چی یی
نه غواړی نه به یی منی ته خپل کار کوه) او دهغه سړی به زیات ظالم څوک وی کوم چی به الله ﷻ درواغ
تهمت لګوی (او دمطلق نبوت یا دخاص نبوت څخه منکر وی لکه چی لوړ دځیو خبره راغلی ده ،مَآ اَنۡزَلَ
اللّٰهُ عَلٰی بَشَرٍ الخ : او دځینو وینا ده ، اَبَعَثَ اللّٰهُ بَشَرًا رَّسُوۡلًا : یا داسی وواېی چی په ما وحی راځی ، حال
دا دی چی ده ته دهیڅ خبری هم وحی نه ده راغلی (لکه مسیلمه او نور) او (دغه ډول ترده هم زیات ظالم به
څوک وی) کوم سړی چی داسی وواېی چی څنګه کلام الله ﷻ (درسول ﷺ ددعوی مطابق) نازل کړی دی
دغه ډول به زه هم راوړم (وبه بنیم، لکه نضر او نورو ویلی وه ، غرض دا چی دا ټول خلق لوی ظالمان دی)
او (دظالمانو حال دا دی چی) که ته (دوی ته) هغه وخت وګوری (نو ډیر هیبتناک منظر به ووینی) کله چی
دا ظالمان خلق (دکومو چی ذکر وسو) دمرګ په (روحانی) سختیو کی (ګرفتار) وی او (دمرګ) ملائکی

Maktaba Tul Ishaat.com

(چې دملک الموت ملګري دې د دوی د روح ایستلو دپاره د دوی طرف ته) خپل لاسونه وراوږدوي (او دسختۍ ښکاره کولو دپاره ورته دا وایي چې) ها (ژر) خپل روحونه راوباسئ (کوم ځای خلاص ګرځېداست، ګورئ) نن (د مرګ سره في الحال) به تاسې ته د ذلت سزا درکول کیږي (یعنې داسې چې بدني تکلیف به په کښې نه وي او روحاني ذلت هم) په دې سبب سره چې تاسې دالله ﷻ په باره کې دروغ وېناوې کولې (لکه مآ انزل الله او اوحي الي او سانزل او نور) اوتاسې دالله ﷻ دآیتونو (قبلولو) څخه (کومه چې دهدایت ذریعه وه) تکبرکوی (دا حال خو به بېځ دمرګ په وخت کې وي) او (کله چې دقیامت ورځ سې نو الله ﷻ به ووايي) تاسې ماته (د یار اومددګار څخه) یوازې یوازې (تن تنها) راغلاست (او په داسې حالت سره راغلاست) لکه څنګه چې مونږ اول وار (په دنیا کې) تاسې پیداکړي واست (چې نه په بدن پوري جامه وه او نه په پښو کې پرتوګ) او څه چې مونږ تاسې ته (په دنیا کې ساز وسامان) درکړی وو (چې تاسې وربانديې خوندونه کوله) هغه مو دځان وروسته پرېښول (دځان سره مو هیڅ را نه وړه مطلب دا دی چې دمال اودولت په تکیه باندې مه اوسې دا ټول به دلته پاته کیږي) او (په تاسې کې چې دځینو په خپلو باطلو معبودانو دشفاعت طمعه وه نو) مونږ خوستاسې سره (دا وخت) ستاسې هغه شفاعت کوونکي نه وینو (ددې څخه ثابته سوه چې په واقع کې هم ستاسې نه دي) دکومو په نسبت چې تاسې دعوې لرلې چې دوی ستاسې په معامله کې (زمونږ سره) شریک دي (چې تاسې دعبادت کومه معامله زمونږسره کیده هغه ددوی سره کیده) واقعي ستاسې (او د دوی) په مینځ کې خوتعلقات قطع سو (چې نن تاسې ددوی څخه بیزاره اوهغوی ستاسې څخه بیزاره دي شفاعت به څه وکړي) اوهغه ستاسې دعوه (چې ذکر سوه) څه سوه چې تاسې به کوله (بې کاره ثابته سوه نو اوس به پوره پوره په مصیبت کې ولویږي)

معلومات اومسئلې: په تیرو آیتونو کې په حضرت خلیل الله ابراهیم علیه السلام باندې دالله ﷻ دعظیم الشانه انعامونو او دده دلوړو درجو ذکر وو، په کوموکې چې ټول نسل دحضرت آدم علیه السلام ته عموماً اواهل مکه او عربو ته خصوصاً دا خبره په عملي صورت کې ښوول مقصود وه چې کوم سړي دالله ﷻ مکمل منل دخپل ژوند مقصد وګرځوي او ددې دپاره دخپلو خوښو اومینه کوونکو شیانو قرباني کړي لکه حضرت خلیل الله علیه السلام چې پیش کړه، چې مور اوپلار، ملک او وطن ټول یې دالله ﷻ دپاره پرېښوول، بیا یې دبیت الله جوړولو دعظیم خدمت دپاره دشام شنه باغونه دپرېښوول اودمځکې شګلنه مځکه یې اختیار کړه، دښځې اوبچي په سره میره کې دپرېښودو حکم وسو نو فوراً یې قبول کړه، دیو نازبین او ګران زوی د قرباني حکم ورته وسو نو دخپل اختیار ترحده پوري یې دا پوره کړل، وي ښوول، دداسې حکم منونکو اصل بدله خو به دقیامت څخه وروسته په جنت کې حاصلیږي، لیکن په دنیا کې هم الله ﷻ دوی ته هغه مرتبه او دولت ورکوي چې دهغه په مقابله کې دټولې دنیا دولتونه هیڅ نه وي، حضرت خلیل الله خپل قوم اوخپل خپلوان دالله ﷻ دپاره پرېښوول نو ددوی په بدله کې دده ته دپیغمبرانو جماعت ورکړل سوچې اکثره دده په اولاد کې دي، دعراق او شام وطن یې پرېښووی، نو دالله ﷻ کور، دامن ښار او دکلو مور ورته ورکول سوه، چې مکه مکرمه ده دده قوم دده ذلیل کول وغوښتل نو ددې په بدله کې دې دټولې دنیا اودقیامته پوري دارتلونکو نسلونو امام اوپیشواجوړسوچې ددنیامختلف قومونه اومذهبونه

Maktaba Tul Ishaat.com

دیوبل سره دلویولویو اختلافونو باوجود دحضرت ابراهیم ﷺ په تعظیم او عزت باندی متفق راروان دی
په دی سلسله کی د اوولسو ۱۷ پیغمبرانو فهرست شمار سوی دی ، په دوی کی ډیر دحضرت ابراهیم ﷺ په اولاد کی دا خل دی او دا ښوول سوی وه چی دا ټول هغه لوی هستی دی چی دوی الله ﷻ ټول عالم په خلقو کی دخپل دین دخدمت دپاره منتخب کړل او دوی ته یی نیکه لار وښووله .
په دی ذکر سوو آیتونو کی په اولنی آیت کی نبی کریم ﷺ ته خطاب فرمای او اهل مکه وو ته یی اوروی چی د یو قوم پلار اونیکه محض په دی خبره دتقلید قابل نه سی جوړی دی چی محض پلار نیکه دی ، نو په دی وجه به د دوی هروینا او کار دتابعداری قابل وی لکه چی په عامه طریقه سره دعربو او اهل مکه وو خیال ؤ .
بلکه دتقلید او تابعداری دپاره اول دا پیژندل ضروری دی چی مونږ چی دکوم چا پیروی کوو ، دی په خپله په هدایت او نیکه لاره باندی دی او که نه دی ، په دی وجه د انبیاؤ علیهم السلام یولند دول فهرست یی شمار کی ، وی فرمایل چی ،اُولٰئِکَ الَّذِیْنَ هَدَی اللّٰهُ : یعنی دا هلك دی کوموته چی الله ﷻ هدایت کړی دی بیا فرمایی ،فَبِهُدٰهُمُ اقْتَدِهْ : یعنی تاسی هم د دوی هدایت او طریقه کار اختیار کړه .
په دی کی یو هدایت خو اهل عربو او تمام امت ته دا دی چی دپلار نیکه بی هوده تقلید پریږدی او دخدای ﷻ دطرف څخه دهدایت پیدا کوونکو بزرگانو تابعداری وکړی ، دوهم هدایت په کښی په خپله نبی کریم ﷺ ته دی چی ته هم ددی تیرو پیغمبرانو طریقه اختیار کړه .
دلته دا خبره دفکر قابله ده چی د انبیاء علیهم السلام په شریعتونو کی فروعی او جزوی اختلافات د مخکی څخه هم وو او په اسلامی ملت کی هم د دوی څخه مختلف ډیر احکام نازل سوی دی ، نو بیا حضور ﷺ ته دتیرو انبیاؤ په طریقه دتلو او دعمل کولو څه مطلب سو؟ دنورو آیتونو د روایتونو په بنا ددی جواب دا دی چی دلته په ټولو فروعی او جزوی احکامو کی دتیرو پیغمبرانو دطریقه کارخوښولو حکم نه دی ، بلکه ددین په اصولو توحید ، رسالت او آخرت کی د دوی طریقه ښوول مقصود دی کوم چی دهیڅ پیغمبر په شریعت کی هم ادل بدل سوی نه دی ، دحضرت ادم ﷺ څخه واخله ترخاتم النبین صلی الله علیه وسلم پوری د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام هم دا یوه عقیده او طریقه پاته سوی ده ، باقی فروعی احکام په کوموکی چی بدلون نه دی سوی په هغوی کی هم دکار طریقه شریکه پاته سوی ده او په کوموکی چی د حالاتو دبدلیدو په وجه سره دوخت په تقاضا او حکمت سره څه بل حکم ورکول سوی دی دهغه منل بیا لازمی سوی دی، دغه وجه ده چی نبی کریم ﷺ معمول دا وو ، چی ترکوم وخت پوری به ده ته په ذریعه دوحی څه خاص هدایت نه وو راغلی ، نو ده به په فروعی معاملاتو کی هم دتیرو پیغمبرانو په طریقه کار باندی عمل کوی (مظهری او نور)
تردی وروسته یی نبی کریم ﷺ ته په خصوصیت سره دیو داسی اعلان حکم وکی ، دکوم اعلان چی ټولو تیرو پیغمبرانو ته هم کړی دی ، هغه دا چی ، قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُکُمْ عَلَیْهِ اَجْرًا اِنْ هُوَ اِلَّا ذِکْرٰی لِلْعٰلَمِیْنَ : یعنی زه ستاسی دژوند برابرولو دپاره چی کوم هدایتونه تاسی ته درکوم په دی ستاسی څخه څه فیس او معاوضه نه اخلم ، که تاسی دا ومنی نو زما هیڅ نفع نسته او که یی ونه منی نو څه نقصان می نسته دا خو دټولی دنیا دمخلوق دپاره دنصیحت او خیرخواهی پیغام دی ، په تعلیم او تبلیغ باندی څه معاوضه نه اخیستل

Maktaba Tul Ishaat.com

دتولو پیغمبرانو یوه شریکه طریقه راغلې ده او دتبلیغ په اثرکولوکې ددې لوی دخل دی ، دوهم آیت دهغه خلقو په جواب کې راغلی دی ، چاچې دا ویلي وه چې الله ﷻ هیڅکله هم پریوه بشرباندې څه کتاب نه دی نازل کړی ، دا دکتابونو اورسولانومعامله دسره غلطه ده ، ددې خبرې کوونکي که دمکې بت پرست وه ، لکه چې ابن کثیر چې فرمایي نومعامله ښکاره ده چې دوی دهیڅ کتاب اونبي قائل نه اوکه یهود وه ، لکه چې نورو تفسیر لیکونکو اختیار کړې ده ، او دآیت دخبرې سلسله په ظاهره ددې تائیدکوي ، نوبیا د دوی داسې وینامحض غصه اوخبره هاخوا دیخواته کول وو چې په خپله د دوی دمذهب څخه هم خلاف وه ، د امام بغوي په روایت کې دي چې په دې وجه یهود هم دهغه سړي څخه ناراضه سول چاچې داخبره کړې وه او ددې غلطۍ په وجه یې هغه دمذهبي پیشوایي دوعدې څخه لیرې کی ، په دې آیت کې حق تعالی نبي کریم ﷺ ته فرمایي چې کومو خلقو دا بې هوده خبره وکړه ، دوی الله ﷻ دپیژندو په ډول نه دی پیژندلی ، ګنې دا بې باکه خبره به د دوی دخُلې څخه نه وای وتلې ، ته دې خلقو ته کوم چې مطلق دآسماني کتابونوڅخه انکارکوي ، دا وفرمایله چې که خبره داسې وي چې الله ﷻ په یوبشر باندې څه کتاب نه وي لیږلی ، نو دا ووایاست چې داتورات کوم چې تاسې هم منې اووددې په وجه دقوم مشران جوړې یاست داچانازل کړی د؟ اوددې سره یې ورته داهم وښووله چې تاسې هغه کاره تلونکي یاست چې کوم تورات ته تاسې آسماني کتاب وایاست اومنې یې دهغه سره هم ستاسې دا معامله ده چې تاسې دا دتړلي کتاب په ځای په جلا جلا پاڼوکې لیکلی دی چې کله ستاسې زړه غواړي نو یوه پاڼه دمینځ څخه راباسی ، او ددې دبیان څخه انکار کوي ، لکه دتورات هغه آیتونه په کوموکې چې دنبي کریم ﷺ نخښې اوصفتونه بیان سوي وه ، هغه تاسې ویستل ، دآیت دآخرې جملې ، تَجۡعَلُوۡنَهٗ قَرَاطِیۡسَ : هم دامطلب دی ، قراطیس دقرطاس جمع ده اومعنی یې کاغذ دی ، تردې وروسته دغه خلقو ته خطاب کوي فرمایي ، وَعُلِّمۡتُمۡ مَّا لَمۡ تَعۡلَمُوۡۤا اَنۡتُمۡ وَلَاۤ اٰبَآؤُکُمۡ : یعنی دقرآن په ذریعه تاسې ته دتورات اوانجیل زیات هم هغه علم درکړل سوی دی ، دکوم چې نه تاسې ته ددې څخه مخکې خبر وو ، اونه ستاسې پلارنیکه ته، په آخر آیت کې فرمایي ، قُلِ اللّٰهُ ثُمَّ ذَرۡهُمۡ فِیۡ خَوۡضِهِمۡ یَلۡعَبُوۡنَ : یعنی ددې سوال جواب چې کله الله ﷻ څه کتاب نه دی رالیږلی ، نو تورات چا نازل کړی دی دوی به څه درکړي ، خو ته ورته وفرمایه چې خاص الله ﷻ نازل کړې دی اوکله چې په دوی باندې حجت تمام سو نوستاکارتمام سو، اوس چې دوی په کوم لهو اولعب کې ورک دي ، دوی هم په دغه خپل حال پریږده .

په دوی دالله ﷻ دطرف څخه نازل سوو کتابونو په باره کې په دوی دحجت تماموڵوڅخه وروسته په دریم آیت کې ارشاد فرمایي ، وَهٰذَا کِتٰبٌ اَنۡزَلۡنٰهُ مُبٰرَکٌ مُّصَدِّقُ الَّذِیۡ بَیۡنَ یَدَیۡهِ وَلِتُنۡذِرَ اُمَّ الۡقُرٰی وَمَنۡ حَوۡلَهَا: یعنی لکه څنګه چې تورات دوی دالله ﷻ دطرف څخه نازل سوی منې ، دغه ډول داقرآن هم مونږ نازل کړی دی او دده دحق والي او رښتینوالي دپاره دوی ته دا شهادت کافي دی چې قرآن دهغه ټولو شیانو رښتینوالی کوي کوم چې په تورات اوانجیل کې نازل سوي دي او تر تورات او انجیل څخه وروسته دده دنازلولو ضرورت په دې وجه پیښ سو چې دا دواړه کتابونه خو دبني اسرائیلو دپاره رالیږل سوي وه ، د دوی بل ښاخ چې بني اسماعیل ورته وایي او عرب دي او په اُمّ القری یعنی مکه مکرمه او ددې په شاوخوا کې اوسیږي ، د

Maktaba-Tul-Ishaat.com

دوی دهدایت دپاره څه خاص پیغمبر اوکتاب تراوسه نه وو راغلی ، مکی معظمی ته قرآن کریم ام القری فرمایلی دی یعنی دتمامو ښاورنو اوکلو بیخ اوبنیاد ، ددی وجه دا ده چی دتاریخی روایاتو مطابق چی په ابتداء دپیدائش کی دمځکی دپیداکیدو شروع ددی ځای څخه سوی ده او دارنګه دا خبره چی دټول عالم قبله او دمخ کولو مرکز دلته دی (مظهری) دأُمَّ القُرٰی سره یی ، وَمَنْ حَوْلَهَا وفرمایل یعنی دمکی ټول اطراف چی په دی کی ټول عالم مشرق ، مغرب، جنوب او شمال دا خل دی .

دآیت په آخر کی ارشاد وفرمایی ، وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِ وَهُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ : یعنی کوم خلق چی په آخرت ایمان لری هغه په قرآن هم ایمان لری او دخپلو لمونځونو پابندی کوی ، په دی کی یی د یهودو اومشرکانو په یوه شریکه ناروغی باندی خبرداری ورکړه چی دا بی فکری چی کوم غواړی منی کوم چی وغواړی رد وی یی اوپه خلاف کی یی محاذ جوړ وی ، دا ددې مرض اثر دی چی دوی په آخرت ایمان نه لری، دکوم سړی چی په آخرت اوپه ورځ دحساب ایمان وی دی به دخدای بیره خامخا دی طرف ته متوجه کوی چی په دلیلونوکی به فکر کوی او دحقی خبری په قبلولوکی به دپلار نیکه رواجونو پروا نه کوی .

اوکه فکر وسی نو دآخرت څخه بی فکری دمرضونو مور ده ، کفر اوشرک هم ددی نتیجه وی اونور ټول ګناهونه اونافرمانی هم په آخرت دیقین لرونکی څخه که څه غلطی اوګناه وسی هم نو زړه یی ناقراره سی او آخر توبه وباسی ، مخ ته دګناه څخه دځان ساتلو قصد وکی ، اوپه حقیقت کی دخدای څخه بیره او دآخرت فکرهغه شی دی کوم چی انسان لره انسان جوړ وی او دګناهونو څخه یی لیری ساتی ، په دی وجه دقرآن کریم یو سورت بلکه یوه رکوع هم شاید ددی څخه خالی نه ده چی هغه کی یی د اخرت دفکر طرف ته توجه نه وی راګرځولی . اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ جُمْلَةَ هُمُوْمِنَا هَمًّا وَّاحِدًا هَمَّ الْآخِرَةِ .

إِنَّ اللَّهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوَىٰ ۖ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ ۚ

الله دی چی چوی دانه او مندکه ، را وباسی ژوندی دمړی څخه او را ایستونکی دئ د ژوندی څخه مړی لره

ذَٰلِكُمُ اللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٩٥﴾ فَالِقُ الْإِصْبَاحِ وَجَعَلَ اللَّيْلَ سَكَنًا

دا دی الله بیا تاسی چیری غولیږئ ، چوونکی دی دسهاد رڼا ، او ده شپه جوړه کړی ده دآرام دپاره او

وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴿٩٦﴾ وَهُوَ

لمر او سپوږمی دحساب دپاره ، اندازه جوړه کړی ده دغه زورور او خبر دار ، او هغه

الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ النُّجُومَ لِتَهْتَدُوا بِهَا فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۗ

جوړ کړی دی ستاسی دپاره ستوری چی په دی سره لاره معلومه کړی په تیارو دوچی او دریاب کی

Maktaba Tul Ishaat.com

قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۹۷﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ

خامخا مونږ ښکاره بیان کړی دی نخښې ، دهغو خلقو دپاره چې پوهیږي ، او هغه دی چا چې تاسی پیدا کړل

نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَّمُسْتَوْدَعٌ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ ﴿۹۸﴾

دیوسړي څخه بیایوستاسی دقرارځای اویودامانتونو ایښوولوځای دی، خامخامونږپه ډاګه بیانوو آیتونه هغه قوم ته چې فکرکوي

لنډتفسیر: بیشکه الله ﷻ چوونکی دی ددانی او بمبتی (یعنی په مځکه کي دکرلو وروسته چې کومه دانه یا بمبته چوي دا دالله ﷻ کار دی) هغه جاندار (شی) دبی روح (شی) څخه را وباسی (لکه دنطفی څخه انسان پیداکیږي) اوهغه بی روح (شی) دجاندار (شی) څخه را ایستونکی دی (لکه دانسان د بدن څخه چې نطفه راباسی) الله ﷻ دا دی (د کوم چې داسی قدرت دی) نو تاسی (دده عبادت پریږدی) چیری (دغیر الله د عبادت طرف ته) چپه روانیږی هغه (الله ﷻ) دصبح (صادق دشپې څخه) را ایستونکی دی (یعنی شپه ختمه سی اوصبح صادق ښکاره سی) اوده شپه دراحت شی جوړ کړی دي (چې ټول سټړی ستومانه بیده سی او ارام پیدا کړی) او دلمر او سپوږمی (رفتار) په حساب سره مقرر کړی دی (یعنی د دوی رفتار په ضبط کی بند دی چې په دی سره دوختونو په معلومولو کی آسانی ده) دا (چې په حساب سره د دوی رفتار وي) مقرر سوی خبره ده دداسی ذات چې قادر (مطلق) دی (چې په دا قسم حرکت پیدا کولو دهغه قدرت دی او) لوی علم والا دی (چې ددی رفتار حکمتونه او مصلحتونه ورته معلوم وه ځکه به په دی خاص طریقه سره مقرر کړو) اوهغه (الله ﷻ) داسی دی چاچې ستاسی د (فائدی) دپاره ستوری پیدا کړي (اوهغه فائده دا ده) چې تاسی ددی په ذریعه سره (دشپې) په تیاروکی په وچه کی اوپه دریاب کی هم لارمعلومه کړی ، بیشکه مونږ (دا) دلیلونه (دتوحید او دانعام) ښه په ډاګه بیانوو (اوکه څه هم رسیږی به ټولو ته مګر نفع) دهغو خلقو دپاره (به وی) کوم چې (د ښه او بدڅه) خبرلري (ځکه چې فکرهم داسی خلق کوي) اوهغه (الله ﷻ) داسی دی چاچې تاسی (ټوله په اصل کی) دیوسړي څخه (چې حضرت آدم ؑ دی) پیداکړاست بیا تاسی (مخ ته د تولد اوتناسل داسی سلسله را روانه ده چې په تاسی کي دهرسړي دپاره په ماده کی) یوځای دزیات پاته کیدو دی (یعنی دمور بچه دانی) اویوځای دڅه وخت اوسیدو دی (یعنی دپلارشا، په وجه ددی قول دالله ﷻ مِنْۢ بَيْنِ الصُّلْبِ) بیشکه مونږ (دا) دلیلونه (هم دتوحید اوانعام) ښه په ډاګه بیان کړی دی (په عام طور سره ، مګر ددی څخه نفع هم په مثل دتیارو) دهغو خلقو دپاره (به وی) چې عقل اوپوهه لری (دا تفصیل سو د، يُخْرِجُ الْحَيَّ الخ)

معلومات اومسئلي: په تیرو آیتونوکی دکفارو دضد اونا آرامی اوحقیقتونو اونتیجو څخه دغفلت ذکر وو او ددی ټولو خرابیو اصلی بنیاد دخدای ﷻ او دده دبی مثاله علم اوقدرت څخه بی خبری ده ، په دی وجه په ذکرسوو څلورو آیتونوکی دالله ﷻ څخه دغافل انسان ددی مرض علاج بی داسی وفرمایی چې دخپل لوی علم اوعظیم قدرت یوڅو نمونی او په انسان دخپلو انعاماتو اواحساناتو یوه سلسله بی ذکرکړه چې په دی کی هرفکر کوونکی اوسلیم طبع انسان دکائناتو دپیداکوونکی دلوی اوبی مثاله قدرت او ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

خبری دقائل کیدو څخه بغیر نه سی پاته کیدی چی دا عظیم الشانه کارنامی په ټول کائنات کی ماسوا د خدای ﷻ څخه دهیچاپه قدرت کی نښته، په اولنی آیت کی ارشاد فرمایی إِنَّ اللَّهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوَىٰ یعنی الله ﷻ خیرونکی دی ددانی او دمندکی، په دی کی دقدرت یوه حیرانوونکی کاروایی ښوول سوی ده چی وچه دانه او وچه مندکه وچوی، ددی ددننه څخه شین بوټی را ایستل دهغه پاک ذات کار دی چی د کائناتو پیداکوونکی دی، دانسان دمحنت اوکوشش په دی کی هیڅ دخل نښته، دکرونده گر دټول کوشش خلاصه تر دی زیاته نه وی چی د دانی اومندکی دننه څخه چی کوم تیغ دالله ﷻ قدرت را ایستلی دی ددی دلاری څخه منع کوونکی اومضر شیان لیری کړی، مخکه دیوی اونورو په ذریعه نرمول، بیاسره اچول او اوبه ورکول ددی ټولو کارونو اثر تر زیات لازیات دا دی چی دراوتونکی نازل تیغ په لاره کی بندیز پاته نه سی باقی اصل کار چی دانه اومندکه چول او ددی څخه دبوټی تیغ را ایتسل او بیا په دی کی رنگ په رنگ عجیبه پانی راوتل او بیا داسی، گلونه اومیوی نیول چی د انسان دعقل اودماغ دهغه دیوی پانی یا یوی څانگی جوړولو څخه عاجز دی، په دی کی ښکاره خبره ده چی انسانی عمل لره هیڅ دخل نښته، په دی وجه په قرآن کریم کی بل ځای ارشاد دی، أَفَرَأَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ * أَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُ أَمْ نَحْنُ الزَّارِعُونَ: یعنی آیاتاسی هغو دانو ته نه گوری کومی چی تاسی په خاوروکی غورځوی چی داتاسی زرغونوی اوکه مونږ.

دوهمه جمله دا ارشاد فرمایی، وَيُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ: یعنی الله ﷻ دبی جانه شیانو څخه جاندار شیان پیداکوی دبی جانوڅخه مراد نطفه یا هگی ده، دکوموڅخه چی انسانان او حیوانات پیداکیږی دغه ډول دجاندارو څخه بی جانه شیان راباسی، دلته دبی جانه شیانو څخه مراد هم نطفه اوهگی ده چی دا دجاندارو شیانو څخه راوزی، تردی وروسته فرمایی، ذَٰلِكُمُ اللَّهُ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ: یعنی دا ټول کارونه خو یوازی یو الله ﷻ کړی اوجوړکړی دی بیا سره ددی چی په دی باندی پوهیږی نو کوم طرف ته چپه چلیږی چی دخپلو لاسونو جوړکړی بتان حاجت روا، مشکل کشا اومعبودان گڼی.

په دوهم آیت کی ارشاد دی، فَالِقُ الْإِصْبَاحِ: دفالق معنی ده خیری کولو والا او داصباح معنی دلته د سهار وخت دی، دفالق الاصباح معنی ده خیروونکی دصباح، یعنی د ژوری تیاری څادر خیری کړی، صباح ورڅخه راوباسی، دا هم دهغو کارونو څخه یو کار دی په کوموکی چی دپیریانو اوانسانانو اوټولو کائناتو قوتونه بی کاره دی، اوهر یو لیدونکی چی یی وینی نو په دی پوهیدو مجبوره دی چی دشپی تر تیاری وروسته د رڼا پیداکوونکی نه یو انسان کیدی سی، نه ملائکه او نه بل مخلوق، بلکه دا یوازی د هغه مافوق الادراک هستی کار دی، چی دټول جهان پیداکوونکی دی.

(دمخلوقاتو دا آرام دپاره دشپی قدرتی او جبری تعین یو لوی نعمت دی)

تردی وروسته ارشاد فرمایی، وَجَعَلَ اللَّيْلَ سَكَنًا: لفظ دسکن دسکون څخه جوړ دی، هرهغه شی ته سکن وایی، کوم چی په رسیدو سره انسان ته سکون، اطمینان او راحت حاصل وی په دی وجه دانسان د اوسیدو کورته یی په قرآن کی سکن فرمایلی دی، جَعَلَ لَكُم مِّن بُيُوتِكُمْ سَكَنًا: ځکه چی دانسان کور

Maktaba Tul Ishaat.com

برابره خبره ده که یوه جونکړه ولی نه وی خو هلته په رسیدو سره انسان ته عادةً سکون او راحت حاصلیږی، په دی وجه معنی ددی جملی دا سوه چی الله ﷻ شپه دهرجاندار دپاره دسکون او راحت شی جوړکړی دی، په فالق الاصباح کی دهغه نعمتونو ذکر وو، کوم چی انسان ته د ورځی په رڼا کی حاصلیږی دشپی په تیاره کی نه سی حاصلیدی، تردی وروسته، جَعَلَ الَّيْلَ سَكَنًا: یی وفرمایل، دی طرف ته یی اشاره وکړه چی لکه څنګه چی د ورځی رڼا یوعظیم نعمت دی چی ددی په ذریعه انسان خپل ټول کاروبار کوی، دغه ډول د شپی تیاره هم بده مه ګڼی، دا هم یو نعمت دی ډیر لوی، چی په دی کی ستړی ستومانه انسان آرام وکړی او ددی قابل سی چی صبا ته بیا په تازه دم او چسباندی سره کار وکړی، که نه وی نو انسانی فطرت مسلسل کار کول نه سی برداشت کولی.

دشپی تیاره دراحت دپاره متعین کول یومستقل نعمت او دالله ﷻ دقادر قدرت یوخاص اظهار دی، مګر دا نعمت روازنه بی غوښتلو حاصلیږی په دی وجه د انسان خیال ګرسره دی طرف ته ځی نه، چی دا څومره لوی احسان اوانعام دی، فکر وکی که هر یوانسان په خپله اراده سره دخپل آرام وخت مقررولی، نوچابه د سهار په اته (۸) بجی باندی دبیده کیدو اراده کوله، چابه دولس بجی، چا به څلور بجی، اوچابه دشپی په مختلفو حصو کی، چی ددی نتیجه به دا وه چی دشپی او ورځی په څلیرویشتو ۲۴ ګنټو کی به یو ګنټه هم داسی نه راتله چی په هغه کی به انسانی کاروبار محنت مزدوری، کارخانی او فیکټریانی نه چلیدی، ددی لازمی نتیجه به دا وه چی دبیده کیدونکو په آرام کی به خلل راتلی او دکارکوونکو په کارکی به هم دخوب کوونکو په آرام کی به دکارکوونکو شور زوږ اوکرس کړوس خلل کیدی، او دکارکوونکو په کارکی به ددغه خلقوغیرِحاضری خلل کیده چی کوم به دغه وخت بیده کیدل، دغه ډول دبیده کیدونکو ډیرهغه کارونه به پاته کیدل کوم چی د دوی دخوب په وخت کی به کیدی سوای، دالله ﷻ قادر قدرت نه یوازی پر انسانانو بلکه په هرجاندار باندی دشپی په وخت کی دخواب داسی غلبه مسلطه کړه چی دی کار پریږدی اوبیده کیدلوته مجبوره کیږی دماښام کیدو سره هر مرغه، حیوان او ځناورخپل خپل ځای دقرار اوکورته مخه کوی، هر یو انسان په جبری طور سره کار پریږدی، د آرام کولو په فکرکی لګیاکیږی، په ټوله دنیا یوه خاموشی خپره سی، دشپی تیاره دخوب او آرام دپاره مددګاره ثابته سی څکه چی عادتاً په زیاته رڼا کی خوب نه کیږی.

فکر وکی که دټولی دنیاحکومتونه اوعوام یوځای سی او دبین المللی معاهدی په ذریعه دبیده کیدو یو وخت مقررول وغواړی نو اول خو به دا څومره ګرانه وی او دوهم که ګرسره دی ټولو انسانانو ددی وعدی پابندی کولی، په یوه مقرر وخت باندی بیده کیدی، نو دا حیوانان به چا ددی وعدی پابند کول، اوکه دوی به آزادګرځیدل نو دخوب کوونکو او د دوی دسامانونو به څه حال وای، دا دالله ﷻ غالب قدرت دی، چاچی په جبری طور په هر انسان او هر جاندار په یو معین وخت کی خوب مسلط کی او ددی بین المللی وعدی څخه یی دوی بی حاجته کړل، فتبارک الله احسن الخالقین.

(دلمر او سپوږمۍ حساب)

ارشاد فرمایی، وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا: حُسْبَان، په پیښ سره مصدر دی، دحساب کولو اوشمیرکولو

Maktaba-Tul-Ishaat.com

په معنی کی راځی ، معنی یی دا ده چی الله ﷻ دلمر او سپوږمی، ختل لویدل او د دوی رفتار په یو خاص حساب سره اېښی دی چی د دوی په ذریعه انسان دکلونو ، میاشتو ، ورځو او ګنټو بلکه دمنټو او سکنډونو حساب په آسانۍ سره لګولی سی ، دا دالله ﷻ دغالب قدرت عمل دی ، ددی عظیم الشان نورانی کرو او د دوی حرکتونه یی په داسی محکم او مضبوط انداز سره اېښی دی چی په زرګونو کلونو تیریدو باندی هم په دوی کی هیڅکله د یوه منټ یا یو سکنډ فرق نه راځی ، دی مشینری (کارخانی) ته نه هیڅکله د ورکشاپ ضرورت پیښیږی او نه یی د پرزو سولیدو او بدلیدو څه ضرورت راځی دا دواړی نورانی کری په خپله خپله دائره کی په یو معین رفتار سره چلیږی .

لَا الشَّمْسُ يَنۢبَغِي لَهَا أَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ : په زرګونو کلونو کی هم د دوی په رفتار کی دیر سکنډ فرق نه راځی ، افسوس چی دقدرت ددی مستحکم او غیر بدلیدونکی نظام څخه دوکه وخوړه چی دا شیان یی مستقل بالذات بلکه معبود او مقصود جوړ کړل ، که دده دا نظام یو وخت ماتیدی ، او د مشینری (کارخانی) جوړولو دپاره دځو ورځو یا ګنټو وقفه په کښی راتلی ، نو انسان به پوه سوی وای چی دماشین دځانه نه چلیږی بلکه ددی څوک چلوونکی سته او جوړونکی سته ، مګر (ای زما تیز فکره ته زما دپاره بلا سوی) ددی کرو غیر بدلیدونکی او محکم نظام دانسان سترګی خړی کړی او خپل طرف ته یی ولګولی تردی چی هغه دا هیر کړی چی .

کوئی محبوب هے اس پرده زنگاری می

څوک محبوب سته په دی زرینه پرده کی .

آسمانی کتابونه انبیاء او رسولان د دوی ددی حقیقت څخه د خبرولو دپاره نازل سول .

دقرآنکریم دی ارشاد دی طرف ته هم اشاره وکړه ، چی دکلونو او میاشتو حساب دلمر څخه هم کیدی سی او دسپوږمی څخه هم ، دواړه دالله ﷻ انعامات دی ، دا بله خبره ده چی عام بی تعلیمه ددنیا دآسانۍ او د دوی دحساب او کتاب دجنجال څخه دخلاصولو دپاره په اسلامی احکامو کی قمری سن او کال استعمال سو او چی کله داسلامی تاریخ او اسلامی احکامو مدار دسپوږمی په حساب باندی دی په دی وجه په امت فرض دی چی دوی دا حساب قائم او باقی وساتی ، نور شمسی حسابونه او نور که دڅه ضرورت په وجه اختیار وی ، نو هیڅ ګناه نسته ، لیکن قمری حساب بلکل نظر انداز کول او ختمول لویه ګناه ده چی په دی سره به انسان ته دا هم پته ونه لګیږی چی رمضان به کله راځی او ذی الحجه او محرم کله .

په آخر دآیت کی فرمایی ، ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ : یعنی دا حیرانونکی مستحکم نظام دحرکتونو چی هیڅکله په کښی دیوه منټ او سکنډ فرق نه راځی ، دا دهغه پاک ذات دقدرت کرشمه کیدی سی چی په هر څه غالب او قوی هم دی او په هر څه او هر کار پوه هم دی .

په دریم آیت کی ارشاد دی ، وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ النُّجُومَ لِتَهْتَدُوا بِهَا فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ : یعنی دلمر او سپوږمی څخه علاوه نورستوری هم دالله ﷻ دکامل قدرت خاص نخښی دی او ددی په پیداکولو کی د زرګونو حکمتونو څخه یو حکمت دا هم دی چی انسان دخپلو دریابی او وچی په سفرونو کی کوم ځای چی

Maktaba Tul Ishaat.com

د شپې دتیارې په وخت کې د طرفونو پته لګول هم اسان نه وي ، د دې ستورو په ذریعه خپله لار معلومولی سي ، تجربه شاهده ده چې دنن په دې مشیني زمانه کې هم انسان د ستورو د هدیت څخه بې حاجته نه دی ، په دې آیت کې هم انسان په دې غفلت او کوتاه نظرۍ باندې خبردار سوی دی چې دا ستوري هم دچا جوړونکي او چلوونکي دحکم تابع چلیږي ، نه په خپل وجود کې مستقل دي او نه په خپله بقاء او عمل کې ، کوم خلق چې یوازې دوی ته ګوري او د دوی دجوړونکي طرف ته نظر نه کوي ، هغوی سخت کوتاه نظره او دوکه خوړونکي دي .

آنانکه بجز روئی تو جائی نگرانند   کوته نظرانند چی کوته نظرانند

هغه څوک چې بغیر ستا دمخ څخه بل طرف ته ګوري ، لنډ نظره دي او ډیر لنډ نظره دي

تردې وروسته ارشاد فرمایی ، قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ: یعني مونږ دقدرت دلیلونه ښه په ډاګه بیان کړي دي ، دهغه خلقو دپاره چې خبر لري ، په دې کې یې دې خبرې ته اشاره وفرمایله چې کوم خلق په دې ښکاره نخښو سره هم الله ﷻ ونه پیژني ، هغه بې خبره او بې هوښه دي ، په څلورم آیت کې ارشاد دی ، وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَمُسْتَوْدَعٌ . مستقر دقرار څخه جوړ دی ، مستقر هغه ځای ته وایي چې دکوم شي دپاره ځای دقرار وي او مستودع دودیعت څخه جوړ دی ، چې معنی یې ده چې یو شي دچاسره په عارضي طور باندې دڅو ورځو دپاره کښیږدي ، نو مستودع هغه ځای ته ویل کیږي ، کوم ځای چې یو شي په عارضي طور سره د څو ورځو دپاره کښېښول سي .

یعنی الله ﷻ هغه پاک ذات دی چا چې انسان دیو جان یعنی حضرت آدم ؑ څخه پیدا کړي ، بیا دده دپاره یې یو مستقر یعني تر یوې مودې پورې د اوسیدو ځای جوړ کړي دی او یو مستودع یعني دڅو ورځو د پاته کیدو ځای دی .

دقرآن کریم الفاظ خو دا دي ، دې په تعبیر او تفسیر کې ډیر احتمالونه دي په دې وجه دتفسیر دعالمانو ویناګانې په دې کې مختلفې دي ، چا ویلي دي چې مستودع دمور ګیډه او مستقر دا دنیا ده ، چا فرمایلي دي چې مستودع قبر دی او مستقر کور د آخرت دی ، او نورې هم ډیرې ویناګانې دي په کښې ، او دقرآن په الفاظو کې دټولو ګنجائش سته ، حضرت قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله په تفسیر مظهري کې دې ته ترجیح ورکړې ده ، چې مستقر دآخرت مقام جنت یا دوزخ دی او د انسان دپیدائش د اول څخه تر آخرته پورې څومره مرحلې چې دي دا ټولې مستودع یعني دڅو ورځو دقیام ځایونه دي ، برابره خبره ده که دمور ګیډه وي یا مځکه یا د اوسیدو ځای یا قبر او برزخ ، دقرآن کریم په یو آیت کې هم ددې ترجیح معلومیږي ، په کوم کې چې فرمایی ، لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ: یعني تاسي تر یوې درجې همیشه پورته کیږي ، ددې مطلب دا دی چې تر آخرت مخکې مخکې انسان په خپل ټول ژوند کې د یو مسافر حیثیت لري ، چې د ظاهري سکون قرار په وخت کې هم دعمر د سفر منزلونه قطع کوي .

مسافر هو کهاجاتا هے ، ناواقف هو منزل سے   ازل سے پهرتے پهرتے ګور تک پهنچا هو مشکل سے

مسافر یم چیرې روان یم ، دمنزل څخه هیڅ خبر نه یم ، د ازل څخه په رادیخوا په منزل منزل ګرځیدم ګورته په ډیر مشکله سره راورسیدم .

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې آخرې آيت کې يې په دې ظاهرې ډول او ډال او ددنيا په رنګينيو کې مشغول دخپل اصل مستقر او
د خداى او آخرت څخه غافله کيدونکي سترګې سپړيدلي دي ، چې دې حقيقت وپيژني او ددنيا د دوکې
او فريب څخه نجات پيدا کړي مولانا رومي رحمه الله څه ښه فرمايي .

همه اندر زمن تر ازين است — که تو طفلى وخانه رنګين است

په دنياکې دا هرڅه ستا دپاره ځکه دي ، چې ستا مثال ديو کوچني دي او ددنيا کور يوه نقش خانه ده ،
چې تا مشغوله کړي .

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ
او هغه نازلوي دآسمان څخه اوبه بيا را ويستي مونږ په دې
نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ فَاَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ۚ
سره وابنه هرشي بيارا ويسته مونږ په دې سره سبزي چې را وباسو مونږ دهغه څخه داني په يو بل سره پيوست
وَمِنَ النَّخْلِ مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَّجَنّٰتٍ مِّنْ اَعْنَابٍ
او دخرما دنباخ څخه دميوې غونچې زوړند او باغونه دانګورو
وَّالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ۗ اُنْظُرُوْٓا اِلٰى ثَمَرِهٖٓ
او دخونانو او دانارو ديو بل په ډول او جلا جلا هم وګورئ دهرې درختې ميوې ته
اِذَآ اَثْمَرَ وَيَنْعِهٖ ۗ اِنَّ فِيْ ذٰلِكُمْ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٩٩﴾ وَجَعَلُوْا
کله چې هغه ميوه ونيسي او پخه سي ، په دې شيانو کې نښاني دي دپاره دايماندارو ، او جوړوي
لِلّٰهِ شُرَكَآءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوْا لَهٗ بَنِيْنَ وَبَنٰتٍۢ بِغَيْرِ
الله لره شريکان پيريان حال دا دې چې هغه دوى پيدا کړي دي او جوړوي هغه زامن او لوڼې په جهالت سره
عِلْمٍ ۗ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿١٠٠﴾ بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ اَنّٰى
هغه پاک دى او ډير لېرې دى دهغو خبرو څخه چې دا خلق يې بيانوي، په نوې شان پيدا کوونکي دآسمانونو او دمځکې دى
يَكُوْنُ لَهٗ وَلَدٌ وَّلَمْ تَكُنْ لَّهٗ صَاحِبَةٌ ۗ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ وَهُوَ
څنګه کيدى سي ده لره زوى حال دا دى چې دده څوک ښځه نسته ، او ده جوړ کړي دي هرشي ، او دى

Maktaba Tul Ishaat.com

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٠١﴾ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ

په هر څه خبر دی ، دا ذئ الله چې ستاسې رب دی ، نسته څوک معبو ماسوا دده څخه ، پیداکوونکی دهرشی دی

فَاعْبُدُوهُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ﴿١٠٢﴾

نو تاسې دده عبادت کوی او هغه په هر شی کار ساز دی .

لنډتفسیر: او هغه (الله ﷻ) داسې دی چا چې د آسمان (د طرف څخه) اوبه وورولې، بیا مونږ ددې (اوبو) په ذریعه سره دهرقسم (رنګا رنګ) زرغونیدونکی (دمځکې څخه) را ویستل (دیو ډول اوبو اویو ډول خاورې څخه دومره مختلف قسمونه زرغونیدونکی چې په رنګ، بوی اوخوند اوفائدوکی بې حده مختلف دی ، څومره عجیبه کرشمه (نښانه) دقدرت ده) بیا مونږ ددې (تیغ) څخه (چې اول دمځکې څخه وزې چې څوک ورته ډنډورې اوڅوک ورته تیغ وایی اوپه رنګ ژړ وی) شین ښاخ را ویستی ددی (ښاخ څخه مونږ په یوبل شړبیره پیوښت شوی دانې راوباسلی (دا خو دغلو حال دی چې ذکر یې په لنډ ډول په (فالق الحب والنوی) کې راغلی او دخرماؤ د درختو څخه) یعنې د دوی د ښاخونو څخه غونچې دی (چې دبار دوجهې څخه) لاندې طرف ته زوړندې دی او (په دې اوبو سره مونږ) د انګورو باغونه (پیداکړل) او د زیتونو او انارو (درختې مو پیداکړی) کوم چې (ځینې انار او ځینې زیتون (خونان) دمیوې په شکل، صورت، مقدار رنګ او نورکی) د یوبل سره یو ډول وی او (ځینې) دیو بل سره یو ډول نه وی (لږ) دهر یوه میوې ته خو وګورئ ، کله چې هغه میوه ونیسی (چې دغه وخت بالکل اومه بې خونده دنفعې قابله نه وی) او (بیا) دهغه پخیدو ته وګورئ (چې دغه وخت په ټولو صفتونوکی څنګه کامله سوه ، داهم دخدای دقدرت نښانې دی) په دې (کارونو) کې (هم دلیلونه (دتوحید موجود) دی (اوګوا کې په اعتبار دتبلیغ سره دټولو دپاره دی مګر دنفعې په اعتبار سره) دهغه خلقو دپاره (دی) کوم چې دایمان (راوړلو فکر) لری (دا دمیوو ذکر وسو دکومو چې لنډ ډول بیان په والنوی کې راغلی دی)

او (مشرکانو) خلقو (په خپلو عقیدو کې) شیطانان (داسې) دالله ﷻ سره (په صفتونو اوکارونو کې چې لوړ ذکر سوه) شریکان مقرر کړی دی (چې د دوی په غلولو سره شرک کوی او دخدای په مقابله کې د دوی وینا چلیږی) حال دا دی چې دا خلق (په خپله د دوی د اقرار موافق هم) خدای پیداکړی دی (کله چې خالق بل نسته ، نومعبود هم بل نه دی په کار) اوپه دې (مشرکانوکی ځینو) خلقو دالله ﷻ په حق کې زامن اولونې (په خپله عقیده کې) محض بې دلیله جوړکړی دی (لکه نصارا حضرت مسیح ؑ اوځینې یهودیان حضرت عزیر ؑ ته دخدای زوی او دعربو مشرکانو به ملائکو ته دخدای لونې ویلې) هغه پاک او ډیر لوړ دی ، ددې خبرو څخه کوم چې دا خلق (بې دخدای ﷻ په ډول کې) بیانوی یعنې دا چې دده څوک شریک وی یا بې اولاد وی) هغه دآسمانونو اومځکو ایجادکوونکی (یعنې دنیست څخه هست کوونکی) دی (اوبل یو ایجاد کوونکی نسته ، نومعبود دی هم بل نه وی ، ددې څخه خو دشریک نفې وسوه او د اولاد دنفی دلیل دا دی چې د اولاد حقیقت دا دی چې ښځه اوخاوند وی او د دواړو

Maktaba Tul Ishaat.com

دپیوستون څخه دریم جاندار شي پیداوي نو) دالله ﷻ اولاد څنګه کیدی سي حال دا دی چي دهغه څوک بی بی خو نسته اوالله ﷻ (چي څنګه دا خلق پیدا کړل، وَخَلَقَهُمْ . اومځکه او آسمانونه یې پیدا کړل، بَدِيعُ السَّمٰوٰتِ الخ دغه ډول هغه) هر شي پیدا کړی او (لکه څنګه چي هغه په صفت دخالقیت کی بی مثله دی دغه ډول په دی صفت کی هم بی مثله دی چي) هغه هر شي بنه پیژني (همیشه د ازل څخه ، اوپه دی صفت کی هم څوک دده شریک نسته ، او پیداکول بغیر دعلم څخه کیدی نه سي ، ددی څخه هم ثابته سوه چي بل څوک خالق نسته) دا (ذات دکوم چي صفتونه دکمال بیان سوه دا) دی الله ﷻ رب ستاسی دده څخه ماسوا بل دعبادت لایق نسته ، دهرشي پیداکوونکی (لکه چي لوړ بیان سو، لکه چي دا صفتونه په الله ﷻ کی دی) نو تاسی خلق (خاص) دده عبادت کوی او (بیاداچي) هغه دهرشي کارساز (حقیقي) دی (بل هیڅوک کارسازهم نسته نودده عبادت کوی نوهغه به تاسی ته حقیقي نفع ورسوی، نور به درته ځه درکړی ، غرض دا چي پیداکوونکی هم هغه دی ، پوه دعلم خاوند هم هغه دی کار ساز هم هغه دی او دا ټول کارونه دا غواړی چي معبود دی هم هغه وی)

معلوم اومسئلي: په دی مضامینوکی دیوعجیبه ترتیب رعایت دی هغه داچي دلته ددری قسمه کائناتو ذکر دی دمځکی دآسمانونو او ددی دواړو دمینځ په فضاء کی دپیداکیدونکوشیانو ، اوبیان یې شروع کړی دی ، دمځکی څخه چي داموږته ډیره نژدی ده اوبیا یې ددی دوی حصی کړی ، یوبیان دمځکی څخه دراټوکیدونکوسبزسو ، درختو ، باغونو ، دوهم دحیواناتو ، انسانانو اوځناورو ، اول یې مځکی کړل چي دا په نسبت ددی نورو ښکاره دی او د دوهم معامله چي په روح موقوفه ده باریکه ده ، چنانچي دنطفی مختلفي مرحلي دطبیبانوپه نزد معلومي دی اومخصوصي دی ، په خلاف دبوټو اوشینکیو دلوئیدو او ترقي کولو اونورچي داپه عام طورسره په مشاهده کی راځي، بیایې دآسماني فضا دکائناتو ذکر وکی . سهار ماښام ، بیا یې پورته آسماني کائنات ذکر کړل ، لمر، سپوږمی، ستوری، بیا چونکی دمځکی شیان زیات لیدل کیږی ، دا یې دوباره مکرر کړل اومضمون یې وربانذی ختم کی ، مګر اول د دوی ذکر په لنډه سره وو ، اوس په تفصیل سره ذکر کړ، خوپه دی تفصیل کی یې تریب دهغه لنډ ذکر دترتیب څخه برعکس راوړی ، چي دنفسونو بیان یې مخکی کی او دشینکیو او سبزو یې وروسته ، ممکنه ده چي ددی بنا په دی وی چي په دی تفصیل کی یې دنعمت دظاهرولو عنوان اختیارکړی وی ، نوپه دی حیثیت سره چي په چا انعام سوی وی ، دی مقصود وی اومقصود قابل دمخکی کولو وی ، اوپه نباتانو بوټو اونوروکی اولني ترتیب په خپل حال دی چي دغلوحال په دانه اومندکه مخکی راغی اودباران ذکرپه مینځ کی راتلل دنباتاتو تابع دی اوپه دی کی یوه بله باریکی هم کیدی سي چي دباران مختلف حالتونه دی چي دشروع کیدو په اعتبار سره آسماني دی او دختمیدو په اعتبار سره دمځکی سره دی او دمزل په اعتبار سره فضایي دی .

لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ ﴿١٠٣﴾ قَدْ

نه سي نیوی دی سترګی او دی پیدا کی سترګی اوهغه ډیرباریک بین خبردار دی ، تاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

جَآءَكُمْ بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَمَنْ اَبْصَرَ فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ عَمِیَ

تاسو ته راغلي دي نښاني ، ستاسي د رب د طرف څخه ، بيا چاچي وليدي نو د خپل ځان دپاره او څوک چي ړوند

فَعَلَيْهَا ۚ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ﴿۱۰۴﴾ وَكَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ

سو نو د خپل نقصان دپاره او زه نه يم په تاسي نګهبان ، او دغه شان قسم قسم ښايو مونږ آيتونه

وَلِيَقُوْلُوْا دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهٗ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِیَ

او دي دپاره چي دوی ووايي چي تا د چا څخه ويلي دي او چي واضحه کړو مونږ دا د پوهيدونکو دپاره ، او ته څه

اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۶﴾

په هغه چي حکم تاته راسی ستا د رب بل يو معبود نسته ماسوا د هغه څخه ، او مخ اړوه د مشرکانو څخه ،

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكُوْا ۗ وَمَا جَعَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۚ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۱۰۷﴾

او که چيري الله ﷻ غوښتلی نو دغه خلقو به شرک نه وای کړی او مونږ نه يي ګرځولی ته په دوی نګهبان او نه يي ته په دوی باندي ذمه وار .

تفسير: (او هغه د عليم کيدو او يو والي دا حال دی چي) دي خو هيڅ نظر نه سي را ګيرولی (په دنياکی خو يي داسي هيڅوک نه سي ليدی لکه چي په شرعي دليلونو سره ثابته ده ليکن احاطه کول به يي محال وي ، او کوم شي چي په ظاهري سترګو باندي يي احاطه کول محال وي نو باطني حقيقت خو د هغه د ظاهري په مقابله کي ډير پټ دی ، د هغه احاطه کول په عقل سره چي د ظاهري احساس په نسبت په کښي په ډيرو درجو سره د خطاء احتمال سته ، په دي خو به د هغه احاطه کول په درجه اولی محال وي) او هغه (يعني الله ﷻ) ټول نظرونه (کوم چي د ده د احاطه کولو څخه وجوباً عاجز وه) احاطه کړی دی (د غه ډول نور شيان يي هم د علم په احاطه کي دي ، وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ : او (د دي کار څخه چي هغه په ټولو احاطه کوونکی دی او په ده هيڅوک احاطه نه سي کولی ، دا لازمه سوه چي) هغه ډير باريک بين او خبردار دی (او بل هيڅوک نه دی او دا د علم هغه کمال دی چي په دي کي الله ﷻ بي مثله دی ، ته دي خلقو ته ووايه چي) اوس بيشکه تاسي ته ستاسي د رب د طرف څخه د حق ليدو ذريعي (يعني د توحيد او رسالت د حقوالي عقلي او نقلي دليلونه) رسيدلي دي نو کوم سړی چي (په دي ذريعو سره) حق ووينی هغه خپله فائده کوی او کوم سړی چي ړوند پاته کيږی هغه خپل نقصان کوی او زه ستاسي (يعني ستاسي د عملونو) نګران نه يم (يعني لکه چي د نګرانی کوونکی دا ذمه واري وي چي ناکاره حرکت کولو ته څوک نه پريږدی ، دا زما ذمه واري نه ده ، زما کار يوازي تبليغ دی) او (وګوری) مونږ په دي (ښه) طور سره دليلونه په مختلفو اړخونو باندي بيانوو چي ته يي ټولو ته ورسوی او د دي دپاره چي دوی (په تعصب

Maktaba-Tul-Ishaat.com

سره دا منکران) ووايي داسي چي تا دچا څخه (دا مضامين) ويلي دي (مطلب دا دی چي په دوی نور زيات الزام راسي چي مونږ خو به دغه ډول په داګه حق ثابتول او تاسي به بيا هم عبث بهاني جوړولی) او ددی دپاره چي مونږ دا (دقرآن مضامين) دعقل مندانو دپاره ښه ښکاره کوو (يعنی دقرآن نازلولو دری فائدی دی ، يو دا چي تاته دتبليغ اجر درکړل سی ، دوهم دا چي په منکرانو باندی زيات جرم قائم سی ، دريم دا چي هوښيارانو او دحق طالبانو ته حق ظاهر سی پس) ته (دی ته مه ګوره چي څوک يې مني او که نه) په خپله په دی طريقي باندی چليږه دکومی (دچليدو) چي وحی تاته ستا درب څخه راځي (او په دی طريقه کی لوی شی دا عقيده ده چي) دالله ﷻ څخه ماسوا څوک د عبادت لايق نسته (او په دی طريقه کی دتبليغ حکم هم داخل دی) او (په دی قائم اوسه) دمشرکينو څخه پرواه مه کوه (چي افسوس دوی يې ولی نه قبلوی او (وجه دپرواه نه کولو دا ده چي) که الله ﷻ ته منظوره وای نو دوی به شرک نه وای کړی (ليکن ددی خلقو په دی بدوعملونو سره الله ﷻ ته منظوره سوه چي دوی ته سزا ورکړی ، په دی وجه يې داسي اسباب جمع کړل ، بيا ته دوی څنګه مسلمانولی سی) او (ته په دی فکرکی ولی پروت يې) مونږ ته په دوی د دوی (دعملونو) نګران نه يې جوړ کړی او نه ته (دوی ته په عذاب ورکولو زمونږ دطرف څخه اختيار مند يې (نو کله چي ستا په ذمه نه د دوی دجرمونو تفتيش دی او نه درته د دوی دسزا حکم دی ، نو بيا ولی ته پريشانه يې)

معلومات اومسئلې: دسورت انعام په دی پنځو آيتونو کی په اول آيت کی ابصار دبصر جمع ده چي معنی يې ده نظر او دليدو قوت دی او د ادراک معنی ده موندل ، نيول په احاطه کی را وستل ، حضرت ابن عباس ﷺ دلته دادراك تفسير احاطه کول بيان کړی دی (بحر محيط)

معنی د آيت دا سوه چي دټول مخلوقات پيريانو ، انسانانو اوملائکو اوټولوحيواناتو نظرونه چي يو شی الله ﷻ داسی نه سی ليدی چي دا نظرونه دهغه دذات احاطه وکی (يعنی ټول برابر يې ووينی) اوالله ﷻ د ټولومخلوقاتو نظرونه په پوره ډول سره ليدی سی او دهغه ليدو په دی ټولو احاطه کړی ده په دی لنډ آيت کی دالله ﷻ دوه خاص صفتونه ذکر دی اول دا چي په ټول کائنات کی هم دهيچا نظر بلکه که ټول نظرونه جمع هم سی دهغه احاطه نه سی کولی .

حضرت ابو سعيد خدری ﷺ فرمايي چي نبی کريم ﷺ فرمايلی دی چي که ددنياټول مخلوقات انسانان ، حيوانات ، پيريان ، ملائکي اوشيطانان چي دکله څخه پيدا دی اوترڅو پوری چي پيدا کيږی ، دا ټول يو ځای سی په يو صف کی ودريږی نوکه دا ټول خپل نظرونه يو هم کړی خو دهغه د ذات احاطه په دی خپلو نظرونو نه سی کولی (مظهری په حواله د ابن ابی حاتم)

او دا خاص صفت دالله ﷻ کيدی سی ، که نه وی نونظر لره الله ﷻ داسی قوت ورکړی دی چي ترکوچنی لا کوچنی حيوان تر وړو لا وړه سترګه ددنيا تر لوی لا لويه کره ليدی سی اوپه نظر سره ددی احاطه کول کيږی لمر اوسپوږمی خومره لويې لويې کُری دی چي دمځکی اوټولی دنيا د دوی په مقابله کی هيڅ حيثيت نسته ، مګر دهرانسان بلکه ترکوچنی لادکوچنی حيوان سترګه هم دغه کره داسی وينی چي په نظرکی د دوی احاطه کول کيږی ، اوحقيقت دا دی چي نظر خو دانسانی حواسوڅخه يوه حاسه ده چي په

Maktaba Tul Ishaat.com

دی سره د محسوسو شیانو علم حاصلیدی سی ، دالله ﷻ ذات خو دعقل او وهم تر احاطی هم ډیر لوړ دی ، دده علم د سترګو په حاسه سره څنګه حاصلیدی سی .

تو ل دی می آتا هے سمجھ می نهی آتا　　　　بس جان گیا می تیرے پهچان یهی هے

نه په زړه کی راځی خو په ښکاره حواسو سره دی نه سم لیدی بس زه پوه سوم چی هم ستا پیژندل دغه دی ، چی په سترګو نه سی لیدل کیدی .

دالله ﷻ ذات او صفات غیر محدود دی ، یعنی په احاطه کی نه سی راتلی دانسان حواس ، عقل او خیال ټول محدود دی ، نو ښکاره خبره ده چی یو غیر محدود په محدود کی نه سی ځای کیدی ، په دی وجه د دنیا هوښیارانو فلاسفرانو چا چی په عقلی دلیلونو سره د کائناتو دخالق دپته لګولو او دده دذات او صفاتو د ادراک دپاره خپل ټول عمرونه په بحثونو او تحقیقونو کی صرف کړل او صوفیاء کرامو چا چی دکشف او شهود په لاری سره ددی میدان سفر کړی دی ، ټول په دی متفق دی چی دده دذات او صفاتو حقیقت نه چا پیدا کړی او نه یی پیدا کولی سی . مولانا رومی رحمه الله فرمایی .

دُور بینان بارگاه الست　　　　غیرِ ازین پی نه بُرده اند که هست

یعنی دالله ﷻ دربار ته رسیدونکو بزرګانو ددی څخه ماسوا نور هیڅ نه دی موندلی چی بس الله ﷻ سته موجود دی ، او حضرت شیخ سعدی رحمه الله فرمایی .

چی شبها نشستم درین سیر گم　　　　که حیرت گرفت آستینم که قُم

ډیری شپی می په دی ورک سفر پسی خیالات وځغلول چی ګوندی پیدا به یی کړم خو آخر چی حیرانتیا لستونی راڅخه ونیوی چی پورته سه ، یعنی کامیاب نه سوم .

(دالله ﷻ دلیدلو مسئله)

انسان دالله ﷻ زیارت کولی سی او که نه؟ په دی مسئله کی دټولو عالمانو داهل سنت والجماعت عقیده دا ده چی په دی دنیا کی دالله ﷻ دذات لیدل او زیارت نه سی کیدی ، وجه دا ده چی حضرت موسی علیه السلام کله چی دا درخواست وکی چی ، رَبِّ اَرِنِیْ : ای زما ربه ! په ما باندی خپل زیارت وکړه نو په جواب کی ورته ارشاد وسو ، لَنْ تَرَانِیْ : ته هیڅکله ما نه سی لیدی ، ظاهره خبره ده چی کله حضرت موسی علیه السلام ته دا جواب حاصلیږی ، نو بیا دبل پیری او انسان څه مجال دی ، البته په آخرت کی مومنانو ته دالله ﷻ زیارت کیدل په صحیح او قوی متواترو احادیثو سره ثابت دی او په خپله په قرآن کریم کی موجود دی .

وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ :دقیامت په ورځ به ډیر مخونه تر او تازه او خوشحاله وی او دخپل رب طرف ته به ګوری البته کفار اَومشرکان به په دغه ورځ هم دسزا په طور دالله ﷻ په لیدو مشرف نه وی ، لکه چی دقرآن شریف په یو آیت کی دی ، كَلَّآ اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوْبُوْنَ .

یعنی کفار به په دغه ورځ دالله ﷻ دزیارت څخه په پرده کی او محروم وی .

او په آخرت کی به دالله ﷻ زیارت په مختلفو مقامونو باندی وی ، دمحشر په میدان کی هم ، او جنت ته تر رسیدو وروسته هم ، او دجنتیانو دپاره به تر ټولو نعمتونو لوی نعمت دالله ﷻ زیارت وی .

نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کله جنتیان جنت ته داخل سی نو الله ﷻ به دوی ته وفرمایی ، چی کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

نعمتونه چې په جنت کې تاسې ته درکړل سوي دي که تر دغوه زيات نورڅه غواړي نو ووايا ست چې مونږ درته هغه هم درکړو، نو دغه خلق به عرض وکي چې يا الله تا مونږ ته د دوږخ څخه نجات راکی او جنت ته دي داخل کړو، تردې زيات مونږ نور څه غواړو؟ دغه وخت به پرده دمينځ څخه لوړه سي او تول به دالله ﷻ زيارت وکي او دجنت تر ټولو نعمتونو به لوی دا نعمت وي (یاالله ﷻ ته بي زمونږ په نصيب کړې، امين) دا حديث په صحيح مسلم کې دحضرت صهيب ﷺ څخه نقل دی.

او دصحيح بخاري په يو حديث کې دي چې نبي کريم ﷺ يوه شپه دسپوږمۍ په رڼا کې تشريف فرماو او صحابه کرام ﷺ ورته چاپيره وه ده ﷺ دسپوږمۍ طرف ته وکتل او بيايي وفرمايل، چې (په آخرت کې) تاسې به خپل رب داسې په ډاګه ويني لکه څنګه چې دا مياشت (سپوږمۍ) ويني، او دترمذي او مسند احمد په يو حديث کې په روايت دابن عمر ﷺ نقل دي چې الله ﷻ چې په کومو خلقو په جنت کې خاص درجه عنايت وفرمايي هغوی ته به روازنه سهار او ماښام دحق تعالی ﷻ زيارت نصيب وي.

لنډه دا ده چې په دنيا کې څوک دالله ﷻ زيارت نه سي کولی او په آخرت کې به ټولو جنتيانو ته نصيب وي او نبي کريم ﷺ چې کوم دمعراج په شپه زيارت کړی وو، هغه هم په حقيقت کې دعالم آخرت زيارت دی، لکه چې شيخ محی الدين ابن عربی ؒ فرمايي، چې دنيا يوازې ددې جهان نوم دی کوم چې دآسمانونو په مينځ کې بند دی، دآسمانو پورته دآخرت مقام دی، هلته په رسيدو سره چې کوم زيارت وسی هغه ته ددنيا زيارت نه ويل کيږي.

اوس سوال دا پاته سو، چې کله دقرآن د ايت لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ: څخه دا معلومه سوه، چې انسان دسره الله ﷻ ليدی نه سي، نو په قيامت کې به څنګه وي؟ ددې ښکاره جواب دا دی چې دقرآن دآيت دا معنی نه ده چې دانسان دپاره دالله ﷻ ليدل او زيارت ناممکن دی، بلکه معنی دآيت دا ده چې انسانی نظر دهغه د ذات احاطه نه سي کولی، څکه چې دهغه ذات غير محدود او دانسان نظر محدود دی.

په قيامت کې هم چې کوم زيارت وي هغه به ددې قسمه څخه وي چې نظر به احاطه نه سي کولی، او په دنيا کې دانسان او دده دنظر دومره قوت نسته چې دغه ډول ليدل هم برداشت کړي، په دې وجه په دنيا کې مطلق ليدل نه سي کيدی او په آخرت کې به قوت پيدا سي نو ليدل او زيارت به وسي، مګر په نظر کې به د ذات حق ﷻ احاطه هغه وخت هم نه وي، دوهم صفت دالله ﷻ په دې آيت کې يې دا فرمايلي دي چې دده نظر په ټولو کائناتو باندې احاطه کوونکې دی، ددنيا يوه ذره هم دده دنظر څخه پټه نسته، داعلم مطلق او علمی احاطه هم دحق تعالی خاص خصوصيت دی دده څخه ماسوا هيڅ مخلوق ته دټولو شيانو دکائناتو اود ذرې علم نه چيرې حاصل سوی دی او نه چيرې کيدی سي، څکه چې دغه خاص صفت دی درب العزت ﷻ

ددې څخه وروسته ارشاد فرمايي، وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ: لطيف دعربی لغت به اعتبار سره په دوو معناو کې استعماليږي، يو په معنی دمهربان، دوهم مقابل دکثيف (يعنی محسوس او معلوم) نو دلطيف معنی هغه شي چې دحواسو په ذريعه سره محسوس او معلوم ول کيږي، او دخبير معنی ده خبردار، معنی ددې جملې دا سوه چې الله ﷻ لطيف دی په دې وجه دحواسو په ذريعه دده ادراک (موندل) نه سي کيدی، او

Maktaba Tul Ishaat.com

خبیر دی، په دی وجه د کائناتو یوه ذره هم دده دعلم او خبرڅخه وتلی نه دی او که دلطیف معنی دلته د مهربان واخیستل سی، نواشاره به دی طرف ته وی چی که څه هم الله ﷻ زمونږ دهرکار او وینا بلکه دهری ارادی او خیال څخه خبردار دی او ددی تقاضا دا وه چی مونږ دی په هرګناه نیول کیږو، مګر چونکه هغه لطیف او مهربانه هم دی، په دی وجه په هره ګناه باندی نیول نه کوی، په دوهم آیت کی لفظ د بصائر: د بصیرت جمع ده چی معنی یی ده عقل او پوهه، یعنی هغه قوت په کوم سره چی انسان دغیر محسوس شیانو علم حاصلولی سی، دبصائرڅخه مراد په آیت کی هغه دلیلونه او ذریعی دی په کوموسره چی انسان حق او حقیقت معلوم کړی معنی د آیت دا ده چی دالله ﷻ دطرف څخه تاسی ته دحق دلیدو ذریعی او وسیلی رسیدلی دی، یعنی قرآن راغی، نبی کریم ﷺ راغی، دحضور معجزی راغلی دحضور ﷺ اخلاق او معاملی او تعلیمات ولیدل سوه، دا ټولی دحق دلیدو ذریعی دی، نوکوم سړی چی ددی ذریعو څخه کار واخیستی، دبصیرت خاوند جوړ سو، ده خپله نفع حاصله کړه او چاچی دا ذریعی پریښوولی دحق څخه ړوند پاته سو نو ده خپل نقصان وکی، په آخری آیت کی فرمایی چی زه ستاسی نګران نه یم، یعنی نبی کریم ﷺ ددی ذمه وار نه دی چی خلق په زبردستی دبدو کارونو څخه منع کی، لکه دنګران او محافظ کارچی وی، بلکه درسول ﷺ منصبی فرض یوازی احکام رسول او پوهول دی، بیادهر سړی خپل اختیار دی چی تابعداری کوی او که نه دا ده ذمه واری ده.

په توحید او رسالت باندی چی کوم واضح دلیلونه په تیرو آیتونوکی بیان سوی دی په دریم آیت کی دهغه طرف ته اشاره کوی فرمایی، کَذٰلِکَ نُصَرِّفُ الْاٰیٰتِ: یعنی مونږ دغه ډول دلیلونه په مختلفو اړخونو سره بیانوو، تردی وروسته فرمایی، وَلِیَقُوْلُوْا دَرَسْتَ وَلِنُبَیِّنَهٗ لِقَوْمٍ یَّعْلَمُوْنَ: ددی خلاصه دا ده چی ټول د هدایت سامان، معجزی او دلیلونه، بی مثله کتاب قرآن او دیومحض امی دژبی مبارکی څخه دداسی علمونو او حقیقتونو ښکاره کیدل، چی دټولی دنیا فلاسفران او حاکمان ورڅخه عاجزه دی، داسی بلیغ کلام چی ترقیامته پوری راتلونکو پیریانو او انسانانو ته یی چیلنج ورکی چی دده دیوکوچنی سورت په ډول کلام که څوک جوړولی سی، نو جوړ دی کړی، اوټوله دنیا ددی څخه عاجزه سوه، دا ټول دحق لیدو داسی سامان وو چی هریوضدی او منکر ته هم دنبی کریم ﷺ په قدمونو باندی پریوتل په کار وو، لیکن د کومو خلقو په طبیعت کی چی زنګ او کوږوالی وو، هغوی وویل چی، دَرَسْتَ: یعنی داعلمونه تا دچاڅخه ویلی دی، او ددی سره یی دا هم وفرمایل، وَلِنُبَیِّنَهٗ لِقَوْمٍ یَّعْلَمُوْنَ: ددی خلاصه دا سوه چی هوښیاران دچا چی پوه برابر او عقل سالم وی، دهغوی دپاره دا بیان نفع مند اوفائده مند ثابت سو، لنډه دا چی سامان د هدایت خو دټولو په مخکی کښیښوول سو، مګر کړو ورڅخه فائده وانه خیسته او دچاچی عقل او پوهه برابر وه هغوی ددی په ذریعه ددنیا رهبران جوړسول، په څلورم آیت کی نبی کریم ﷺ ته هدایت دی چی ته دی ته مه ګوره چی څوک یی منی او که یی نه منی، ته په خپله په دغه لاره باندی څه دکومی په تلوچی تاته ستا درب څخه وحی نازله سوی ده چی په دی وحی کی دتبلیغ حکم هم داخل دی، په دی قائم اوسه، د مشرکینو طرف ته خیال مه کوه، چی افسوس دوی قبوله ولی نه کړه.

Maktaba Tul Ishaat.com

په پنځم آیت کې یې ددې وجه ښوولې ده چې که الله ﷻ ته په تکویني طور دا منظوره وای چې ټول انسانان مسلمانان سي نو دوی به شرک نه وای کړی لیکن د دوی دبدو عملونو په وجه الله ﷻ دا منظوره وه چې دوی ته سزا ورکړل سي ، نو داسې اسباب یې برابر کړل ، بیا ته دوی ځنګه مسلمانان جوړولی سې او ته په دې فکر کې ولې یې؟ مونږ ته د دوی په عملونو نګران نه یې مقرر کړی او نه ته دوی ته په دې عملونو باندې دعذاب ورکولو زمونږ د طرف څخه مختار یې ، نو په دې وجه تا ته د دوی په دې بدو عملونو باندې تشویش کول نه دي په کار .

وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ

اوتاسې ښکنځل مه کوی هغو ته دچا چې دوی عبادت کوی دالله څخه ماسوا

اللّٰهِ فَيَسُبُّوا اللّٰهَ عَدْوًاۢ بِغَيْرِ عِلْمٍؕ كَذٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ اُمَّةٍ عَمَلَهُمْ

نو دوی به ښکنځل وکړی الله ته په بې ادبۍ بغیر دپوهې څخه دغه شان مونږ ښائسته کړې دی دهرې فرقې په نظرکې د دوی عملونه ،

ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ وَاَقْسَمُوْا

بیا ددې ټولو خدای طرف ته رسیدل دی بیا به هغه وښیې دوی ته هغه چې دوی کول ، او دوی قسمونه

بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَاؕ قُلْ اِنَّمَا

خوری په الله سخت قسمونه خپل چې که چیری راسی دوی ته څه نښانه نو خامخا به وربانډې ایمان راوړی

بِهَا قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ وَمَا يُشْعِرُكُمْ اَنَّهَاۤ اِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۹﴾

ته ووایه چې نښانې خو دالله سره دي او تاسې ته ای مسلمانانو څه خبر دی چې کله هغه نښانې راسی نو داخل ایمان نه راوړی

وَنُقَلِّبُ اَفْـِٕدَتَهُمْ وَاَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوْا بِهٖۤ اَوَّلَ

اومونږ چپه کوو د دوی زړونه او د دوی سترګې لکه چې ایمان نه راوړی په نښانو باند اول

مَرَّةٍ وَّنَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۱۱۰﴾

وار او مونږ پریښې دي دوی ، د دوی په سرکښۍ کې سر ګردانه .

لنډتفسیر: اوښکنځل مه کوه هغه (باطلو معبودانو) ته د کومو چې دوی (مشرکان) دخدای (دیوالی) څخه ماسوا عبادت کوی ځکه چې (ستاسې په داسې کولو سره به) بیا دوی د ډیر جهد څخه (یعنی

دغصي څخه) دالله ﷻ په شان کې بې ادبي وکې (او په دې سره تعجب مه کوې چې داسې بې ادبي کوونکو ته في الحال سزا ولې نه حاصليږي څکه چې) مونږ (په دنيا کې خو) دغه دول (لکه څنګه چې کيږي) دهري طريقې خاوندانو ته د دوې عمل (که ښه وي او که بد) ښه ښکاره کړې دې (يعني داسې اسباب جمع کيږي چې هر يو خپله طريقه خوښوي ، ددې څخه معلومه سوه چې دا دنيا يوازې د ازمائش او امتحان ده ، نو په دې کې سزا ضروري نه ده) بيا به (خامخا په خپل وخت) دخپل رب خواته ددې (ټولو) تلل وي نو (هغه وخت) هغه به دوې ته وښيي څه چې دوې هم (په دنيا کې) کول (او مجرمانو ته به سزا ورکي) اودا (منکر) خلق ډير زوردار قسمونه په الله ﷻ باندې خوري چې که دوې (يعني مونږ) ته (يعني د دوې دفرمائشي نښانونه) يوه نښانه را (ښکاره) سي نو دوې (يعني مونږ) به خامخا په دغه (نښانو) باندې ايمان راوړو (يعني دنښانو ښکاره کوونکې نبوت به ومنې) ته (په جواب کې) ووايه چې نښانې ټولې دخداې ﷻ په قبضه کې دي (هغه چې په دوې کې څنګه غواړي تصرف په کښې کوي بل ته په کښې دخل کول اوفرمائش کول بې ځايه دي ، څکه چې دالله ﷻ څخه ماسوا بل چاته معلوم نه ده چې دکومې په ښکاره کولو کې حکمت دې او دکومې نه ښکاره کول حکمت ، البته درسول ليږلو په وخت کې مطلق په څه نښانه ښکاره کولو کې حکمت يقيني دې، نو الله ﷻ ډيرې نښانې دمحمد ﷺ ددعوې د رښتينې کولو ښکاره کړې دي چې ددليل دپاره پوره دي پس دا د دوې دفرمائش جواب سو) او (چونکه دمسلمانانو په زړونو کې خيال وو چې ښه به وي که دا نښانه ښکاره سي ، شايد ايمان راوړي ، دوې ته خطاب فرمايي چې) تاسې ته ددې څه خبر دي (بلکه مونږ ته پته ده) چې دغه (فرمائشي) نښانه چې کوم وخت را (ښکاره) سي دا خلق به (دډير عناد څخه) بيا هم ايمان رانه وړي او (د دوې دايمان راوړو په وجه سره) مونږ هم د دوې زړونه (د ارادې دطلب دحق څخه) او د دوې سترګې (دحق دليدو دنظر څخه) اړوو (د دوې د ايمان نه راوړل داسې دي) لکه چې دې خلقو په دې (قرآن) باندې (چې لويه معجزه ده) اول وار (کله چې راغې) ايمان نه دې راوړې (نو اوس د دوې ايمان نه راوړل ليرې مه ګڼې) او (دسترګو اړول يعني دنظرونو بې کاره کولو مطلب ظاهري اړول نه دې بلکه مراد دا دې چې) مونږ د دوې د دوې په سرکښې (کفر) کې حيران (سرګردان) پاته کوو (چې دايمان راوړلو توفيق به يې نه وي ، دا معنوي اړول دي)

معلومات اومسئلې: په ذکر سوو آيتونو کې اولنې آيت په يو خاص واقعه کې نازل سوې دې اوپه دې کې د يوې مهمې اصولي مسئلې هدايت سوې دې چې کوم کارپه خپله کول جائز نه وي دهغه سبب اوذريعه جوړيدل هم جائز نه دي .

دآيت شان نزول دابن جرير د روايت مطابق دا دې چې کله دنبي کريم ﷺ اکا محترم ابوطالب دمرګ په مرض کې وو نو دقريشو مشرک سرداران کوم چې دنبي کريم ﷺ په دښمنۍ او ازار رسولو پسې لګيدلي وو او دقتل سازشونه به يې کول ، د دوې سره دا فکر سو چې د ابوطالب دوفات به زمونږ دپاره ډيره مشکله مسئله جوړه سي ، څکه چې ترده وروسته که مونږ محمد ﷺ قتل کې نو دا به زمونږ دعزت اوشرافت څخه خلاف وي ، څکه چې خلق به وايي دابوطالب په مخکې بې ورسره هيڅ نه سواې کولی او دهغه دمرګ وروسته يوازې په لاس ورغی نوقتل يې کې ، په دې وجه اوس وخت دې چې مونږ يوځاې

Maktaba Tul Ishaat.com

سو او په خپله د ابوطالب سره څه فیصله کوونکی خبره وکړو، دا خبره تقریباً هر یوه تعلیم یافته مسلمان
ته معلومه ده چی ابوطالب که څه هم مسلمان سوی نه وو، لیکن د نبی کریم ﷺ سره نه یوازی محبت بلکه
عظمت اولویی یی هم دده په زړه کی پیوست وه او دده ﷺ د دښمنانو په مقابله کی یی خپله سینه ډال کړی
وه، دقریشو یوځو سردارانو دا مشوره وکړه ابوطالب ته یی دلیږلو دپاره یو وفد تیار کی، چی په کښی
ابو سفیان، ابو جهل عمرو بن العاص او نور دقریشو سرداران شامل وه، دابوطالب څخه ددی وفد
دملاقات دپاره دوخت اخیستو کار مطلب نومی یو سړی ته وسپارل سو، ده دابو طالب څخه وخت
واخیستی او دا وفد یی هلته ورسوی.

وفد ابوطالب ته وویل چی زمونږ مشر او سردار یی او تاته معلومه ده چی ستا وراره محمد ﷺ مونږ ته او
زمونږ معبودانو ته سخت تکلیف او ازار رسولی دی، مونږ غواړو چی ته دی راوغواړی او پوه یی کی
چی زمونږ معبودانو ته بدی ردی نه وایی، نو مونږ به په دی صلح وکړو چی هغه په خپل دین چی څنګه
غواړی عمل دی کوی، څوک چی غواړی معبود دی جوړ وی، مونږ به ورته هیڅ نه وایو.

ابوطالب رسول الله ﷺ ځانته راوغوښتی او ورته یی وویل چی دا ستا دقام سرداران راغلی دی، نبی
کریم ﷺ دی وفد ته مخاطب سو، وی فرمایل، چی تاسی خلق څه غواړی؟ دوی وویل چی زمونږ خواهش
دا دی چی ته مونږ او زمونږ معبودان پریږدی، بدی ردی ورته نه وایی او مونږ به ستا او ستا دمعبود
څخه قرار سو، دغه ډول به زمونږ په مینځ کی مخالفت ختم سی، نبی کریم ﷺ وفرمایل، چی ښه نو دا
وویاست چی که زه ستاسی خبره ومنم، نو آیا تاسی به یوی داسی کلمی ویلو ته تیار سی چی دهغه په
وینا سره به تاسی دټول عرب مالکان سی او دعجم خلق به ستاسی تابعدار او قلنګ درکوونکی سی.

ابوجهل وویل چی داسی کلمه یوه نه، چی مونږ لسو ویلو ته تیار یو ووایه هغه څه ده؟ حضور ﷺ
وفرمایل لاَ اله الا الله ددی په اوریدو سره ټول غصه سول، ابوطالب هم وویل چی زما وراره! ددی کلمی
څخه ماسوا یوه بله خبره ووایه، ځکه چی ستا قوم ددی کلمی څخه بیریدلی دی، حضور ﷺ وفرمایل
اکا! زه خو ددی کلمی څخه ماسوا بل کلمه دوهم کلمه نه سم ویلی، که دغه خلق د آسمان لمر راکښته کی
او زما په لاس کی یی کښیښږدی خو هم به زه ددی کلمی څخه ماسوا کومه بله کلمه هیڅکله ونه وایم،
مقصد دا وو چی دوی مایوسه کړی.

په دی باندی دا خلق ناراضه سول! وی ویل، چی یا خو به ته زمونږ دمعبودانو (بتانو) دبدو ویلو څخه
منع کیږی، که نه وی نو مونږ به تاته هم ښکنځل کوو او هغه ذات ته هم دکوم چی ته خپل ځان ته رسول
وایی، په دی دا آیت نازل سو، وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ یعنی ته د
دوی بتانو ته بد مه وایه کوم چی دی خلقو خدایان جوړ کړی دی چی ددی په نتیجه کی به دوی الله ﷻ ته
بد رد ویل شروع کړی، دخپل بی لاری توب او ناپوهی څخه.

په دی کی د، لاَ تَسُبُّوا: ا لفظ د: سب څخه مشتق دی، چی معنی یی ده ښکنځل کول، نبی کریم ﷺ خود
خپل فطری اخلاقو په بنا د اول څخه هم ددی پابند وو، هیڅکله په کوچنیوالی کی هم یو انسان بلکه څه
هم حیوان هم دښکنځلو لفظ دده ﷺ دژبی مبارکی څخه نه دی وتلی، ممکنه ده چی دځینو صحابه کرامو

Maktaba Tul Ishaat.com

شخه یو ځای څه سخته کلمه وتلی وی چی دمکی مشرکانو ورځخه په ښکنځلو سره تعبیر کړی
وی او دقریشو دسردارانو دی وفد دنبی کریم ﷺ په مخکی دا معاملی کښینبوده ، دا اعلان یی وکی
چی که نه زمونږ دبتانو دښکنځلو شخه منع نه سوی ، نومونږ به ستا خدای ته ښکنځل کوو ، په دی
باندی قرآنی حکم دا نازل سو ، چی ددی په ذریعه یی مسلمانان منع کړل چی دوی دمشرکانو
دباطلو معبودانو متعلق دی څه سخته کلمه نه وایی په دی آیت کی دا خبره په خاص طور سره دنظر قابله
ده چی ددی شخه په مخکی آیت کی په خپله نبی کریم ﷺ ته خطاب کیدی مثلاً ارشاد دی ، اتَّبِعْ مَا أُوحِيَ
إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ، او ، وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ : او ، وَمَا جَعَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا : او وَمَا أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ .
په دی ټولو صیغو کی نبی کریم ﷺ مخاطب وو ، چی ته ﷺ داسی کوه ، داسی مه کوه ، تردی وروسته په
دی آیت کی طرز دخطاب یی دنبی کریم ﷺ شخه بدل کی ، عامو مسلمانانو ته یی وکی ، فرمایی ، لا
تسبوا: په دی کی اشاره ددی خبری طرف ته ده چی نبی کریم ﷺ خو هیڅکله چاته ښکنځل کړی نه دی ،
سیده په سیده ده ﷺ په دی خبره سره مخاطب کول دده د زړه دماتیدو سبب کیدی سی ، په دی وجه یی
خطاب عام کی او ټولو صحابه کرامو ﷺ په دی کی احتیاط کول شروع کی (بحر محیط)

باته سره دا معامله چی دقرآن کریم په ډیرو آیتونو کی دبتانو ذکر په سختو الفاظو کی راغلی دی او هغه
آیتونه منسوخ سوی هم نه دی ، تلاوت یی تراوسه پوری کیدی سی ، ددی جواب دا دی چی دقرآن په
آیتونو کی کوم ځای چی دا الفاظ راغلی دی ، هغه په طور دمناظری دڅه حقیقت دښکاره کولو دپاره
وارد سوی دی ، هلته دچا زړه ازارول مقصد نه دی ، اونه خوک پوه سړی ورځخه دا نتیجه ایستلی سی ،
چی په دی کی بتانو ته بدی خبری ویل یا دمشرکانو چیړل منظور دی او دا یو داسی ښکاره فرق دی چی
دهری ژبی دمحاوری خاوندان وربانډی په اسانی سره پوهیدی سی چی کله دیو سړی عیب یابدی
دمسئلی دصفا کولو دپاره ذکر کول کیږی ، لکه چی عام طور په عدالتونو کی روزانه مخ ته راځی ، لیکن
دعدالت په مخکی کیدونکی بیان ته په دنیاکی یو سړی هم دانه وایی چی فلانی فلانی ته ښکنځل
وکړل ، دغه ډول د ډاکټرانو او حکیمانه په مخکی دبنده ډیر داسی عیبونه بیانیږی چی که په بل ځای کی
یی په بل ډول سره څوک بیان کړی ، نو ښکنځل به ګڼل کیږی ، لیکن په غرض دعلاج ددی بیانولو ته
هیڅوک ښکنځل کول نه وایی .

دغه ډول قرآن کریم ځای په ځای دبتانو بی حسیو بی شعوری او بی علمیو بی قدرتی او بی بسی یی په
داسی اندازی کی بیان کړی ده چی پوه خلق په حقیقت پوه سی او دناپوهو خلقو غلطی یا کوتاهی نظری
ښکاره سی ددی په نتیجه کی ارشاد دی ، ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ : یعنی دا بتان هم کمزوری دی او د
دوی طالبان هم کمزوری دی ، یا دا ارشاد سوی دی إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ : یعنی
تاسی او دکومو بتانو چی تاسی عبادت کوی ، ټول جهنم خشاک دی ، دلته هم چا ته بدرد ویل مقصود
نه دی ، دګمراهی اوبد انجام ذکر کول مقصود دی او فقهاؤ وضاحت کړی دی چی که یو سړی دمشرکانو
د خیرلو دپاره دا آیت وایی ، نو دده دپاره هم دا تلاوت کول په منع او ناجائزوالی کی دا خل دی لکه چی
په مکروهو ځایونو کی دقرآن کریم تلاوت کول هرچاته معلوم دی ، چی جائز نه دی (روح المعانی)

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاصه دخبری دا ده چی نبی کریم ﷺ په ژبه مبارکه اوقرآن کریم کی نه مخکی یوځای داسی خبره راغلې وه چی دا خلق یی ښکنځل وکړی اونه آئنده دراتلو څه خطره وه ، البته دمسلمانانو څخه ددی خبری امکان وو نو دوی یی په دی آیت کی دداسی کولو څخه منع کړل ، دی واقعی او په دی باندی قرانی هدایاتو دیو لوی علم دروازه خلاصه کړه او یو څو اصولی مسئلی ددی څخه راووتلی .

(دیوی گناه سبب جوړیدل هم گناه ده)

مثلاً یو اصول ورڅخه دا راووتی چی کوم کار دخپل ذات په اعتبار سره جائز بلکه په یوه درجه کی ښه هم وی ، مگر په کولو سره یی څه فساد لازمیږی یاپه نتیجه کی یی خلق په گناه کی اخته کیږی ، نو ددغه کار کول هم منع سی ، څکه چی باطلو معبودانو یعنی بتانو ته بد ویل کم از کم جائز خو خامخا دی او که د ایمانی غیرت په تقاضا سره وویل سی نوشاید چی په خپل ذات کی ثواب اوښه هم دی ، لیکن په نتیجه کی یی دا بیره وه چی خلق به الله ﷻ ته بدی خبری ووایی ، نوبتانو ته بد ویونکی به ددی بدی سبب جوړ سی په دی وجه دا جائز کار یی هم منع کی ، ددی یو بل مثال په بل حدیث کی داسی راغلی دی چی نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته وفرمایل چی یو سړی دی خپل مور او پلار ته ښکنځل نه کوی . صحابه کرامو ﷺ عرض وکی چی یا رسول الله دا خو دهیچا څخه ممکنه نه ده چی خپل مور او پلارته ښکنځل وکی ، وی فرمایل ، چی البته په خپله خو څوک ښکنځل نه کوی لیکن کله چی دی دبل سړی مور اوپلارته ښکنحل وکی نو ددی ښکنځلو سبب دا زوی جوړ سو ، نو داهم داسی ده لکه چی ده په خپله ښکنځل کړی وی ، ددی معاملی یوبل مثال درسالت په زمانه کی دا مخ ته راغی چی نبی کریم ﷺ حضرت عائشی ﷺ ته وفرمایل چی بیت الله شریفه دجاهیت په زمانه کی په یوه حادثه کی نړیدلی وه ، نو دمکی قریشو دنبوت او بعثت څخه مخکی دا جوړ کړه ، ددی په جوړ ولو کی یو څو شیان دابراهیم ﷺ د ابادی څخه خلاف وسوه ، یو خو دا چی کوم حصی ته حطیم ویل کیږی دا هم دبیت الله حصه ده ، د ابادولو په وخت کی دسرمایی د کموالی په وجه دا حصه پاته سوه ، دوهم دبیت الله شریفی دوی دروازی مشرقی اومغربی وی ، یوه د داخلیدو دپاره اوبله دوتلو دپاره ، په جاهلیت کی یی مغربی دروازه بنده کړه یوازی یوه یی کړه اوهغه یی هم ترمخکی لوړه کړه چی بیت الله شریفی ته دننه تلل یوازی د دوی په رضااو اجازه سره کیدی سی هرسړی ورته بی دریغه نه سی ورننوتلی ، نبی کریم ﷺ وفرمایل چی زما زړه غواړی چی دبیت الله موجوده آبادی ونړوم دحضرت خلیل الله ﷺ د آبادی بالکل مطابق یی جوړه کړم . مگر دا بیره ده چی ستا قوم یعنی عام عرب اوس مسلمانان سوی دی ، دبیت الله شریفی دنړولو څخه هسی نه د دوی په زړونو کی څه شبهی پیدا نه سی ، په دی وجه ماخپله اراده پریښووله ښکاره خبره دا چی دبیت الله شریفی دحضرت خلیل الله ﷺ د آبادی مطابق جوړول دثواب کار وو ، مگر چی په دی دخلقو دناپوهی په وجه یوه خطره مرتب کیده نو ده صلی الله علیه وسلم دا اراده پریښووله ، ددی واقعی څخه هم دا اصول معلوم سول چی په یو جائز بلکه د ثواب په کار باندی چی څه فساد لازمیدی نو دغه جائز کار به هم منع سی .

لیکن په دی باندی یوقوی اشکال دی ، چی روح المعانی دابو منصور څخه نقل کړی دی ، هغه دا چی الله

ﷺ په مسلمانانو باندې جهاد او قتال لازم کړی دی حال دا دی چې دقتال دا لازمي نتيجه ده چې مسلمان کله د يو غير مسلم دقتل اراده وکې نو هغه به هم دمسلمان دقتل اراده کوي او دمسلمان قتل حرام دی نو ددې اصولو په بنا جهاد هم ممنوع په کار دی ، او دغه ډول به تبليغ اسلام ، دقرآن تلاوت ، اذان او لمونځ ددې ډير کفار خندا گانې کوي او مذاق پورې کوي نو آيا مونږ به ددې غلطې رويې په بنا باندې ددې خپلو عبادتونو څخه قرار سو؟ ددې جواب په خپله ابو منصور دا ورکړی دی ، چې دا شکال دیو ضروري شرط په نظر انداز کولو سره پيدا سوی دی ، شرط دا دی چې هغه جائز کار دکوم څخه چې دڅه فساد دلازميدو په وجه سره منع سوی ده ، دا اسلام دضروري او مقصدي کارونو څخه نه وي ، لکه باطلو معبودانو ته بد ويل په دې پوري د اسلام څه مقصد ترل سوی نه دی ، دغه ډول دبيت الله آبادي دحضرت ابراهيم ﷺ دآبادي په ډول کول ، په دې هم څه اسلامي مقصد موقوف نه دی ، په دې وجه چې کله ددې څخه ديني فساد خطره پيدا سوه نو دا کارونه يې پريښوول ، اوکوم کارونه چې داسې وي چې په خپله په اسلام کې مقصود وي يا څه اسلامي مقصد درباندې موقوف وي ، که دنورو خلقو دغلطې رويې څخه په دې سره څه فساد او خرابي پيدا کيدل په نظر راځي نو هم به دغه مقصد هيڅکله نه پريږدی ، بلکه کوشش به کول کيږي چې دا کار په خپل ځای جاري وي او راتلونکې فسادونه ترکومه حده پوري چې ممکن وي بند کړل سي .

دا وجه ده چې يو واري حسن بصري او امام ابن سيرين دواړه ديوې جنازې په لمانځه کې دشرکت کولو دپاره ولاړل ، هلته يې وليدل چې دسړيانو سره ښځې هم جمع وي ، نو چې دا يې وليدل نو امام ابن سيرين بيرته راغی ، مگر حضرت حسن بصري وفرمايل چې دخلقو دغلط عمل په وجه مونږ خپل ضروري کار څنگه پريږدو ، دجنازې لمونځ فرض دی نو ددې فساد په وجه نه سی پاته کيدی ، البته ددې کوشش به د خپل طاقت موافق کول کيږي چې دغه فساد ختم سي .

په دې وجه خلاصه ددې اصولو کوم چې دذکر سوي آيت څخه را ووتی ، دا دی چې کوم کار په خپل ذات کې جائز بلکه عبادت او ثواب هم وي مگر دشرعي مقصدونو څخه نه وي که ددې په کولو څخه فساد لازميږي نو هغه کار پريښوول واجب سي په خلاف دشرعي مقصدونو څخه چې دفساد لازميدو په وجه نه پريښوول کيږي ، ددې اصول څخه د امت فقهاؤ په زرگونو مسئلې او احکام را ايستلي دي فقهاؤ فرمايلي دي چې که دچا زوی نافرمانه وي او دې پوهيږي چې که دڅه کار کولو ورته وايي نو انکار کوي اوخلاف ورڅخه کوي په کوم چې دی سخت گناهگاريږي ، نو په داسې صورت کې پلار ته په کار دی چې ده ته دحکم په انداز کې دڅه کارکولو يا نه کولو نه وايي ، بلکه دنصيحت په انداز کې دی داسې وايي چې فلاني کار که وسي نو ډيره به ښه وي ، چې د انکار يا خلاف کولو په صورت کې ديوې نوې نافرمانۍ کولو گناه په ده را نه سي (خلاصة الفتاوی)

دغه ډول چاته په وعظ او نصيحت کولو کې که په قرائنو سره دا معلومه سي چې دی به دنصيحت قبلولو په ځای څه داسې غلط انداز اختيار کړي چې په نتيجه کې به يې دی نور هم په گناه کې اخته سي ، نو په داسې صورت کې نصيحت پريښوول ښه دي ، امام بخاري په صحيح کې په دې مضمون باندې

Maktaba Tul Ishaat.com

پر مستقل باب ایښی دی ، بَابُ مَنْ تَرَکَ بَعْضَ الْاِخْتِیَارِ مَخَافَةَ اَنْ یَقْصُرَ فَهْمُ بَعْضِ النَّاسِ فَیَقَعُوْا فِیْ اَشَدَّ مِنْهُ یعنی خینې وخت جائز بلکه ښه شیان هم په دې وجه پاته کول کیږی چې په دې سره د بعض عوامو په غلط فهمی کې داخته کیدو بیره وی ، په دې شرط چې دغه کار په اسلامی مقصدونوکې نه وی. مګر کوم کار چې په اسلامی مقاصدو کې داخل وی برابره خبره ده که فرض واجب وی او که سنت مؤکده یا نور قسم اسلامی شعائر وی که دې په ادا کولو سره ناپوهه خلق په غلطئ کې اخته کیږی ، نو د کارونه به هیڅکله نه پریښوول کیږی . بلکه په نورو طریقو سره دې د خلقو دغلطی فهمی او غلط کیږ لیری کولو کوشش کول کیږی ، د اسلام اولنی حالات شاهد دی چې په لمانځه ، تلاوت او تبلیغ اسلام باندې به دمکې مشرکان غصه کیدل ، مګر په دې وجه سره هیڅکله دا اسلامی شعائر نه دی پاته شوی . بلکه په خپله د ذکر شوی آیت په شان نزول کې چې کومه واقعه دابو جهل او نورو سردارانو دقریشو ذکر شوی ده ، د دې حاصل دا دی چې دقریشو سردارانو په دې صلح کول غوښتل چې نبی ﷺ د توحید تبلیغ کول پریږدی د دې په جواب کې حضور ﷺ وفرمایل چې زه دا کار په هیڅ حال کې نه شم کولی که څه هم دوی لمر او سپوږمی راوړی او زما په لاس کې کیږدی .

په دې وجه د دې مسئلې صفایی په داسې دول سره وشوه چې کوم کار په اسلامی مقاصدو کې داخل وی ، که دهغه په کولو سره څه خلق په غلط فهمی کې یا غلط کاری کې اخته کیږی نو هم به دا کار هیڅکله نه پریښوول کیږی البته کوم کار چې په اسلامی مقاصدو کې داخل نه وی او په پاته کولو سره یې څه دینی مقصد نه فوت کیږی ، داسې کارونه د نورو دغلط فهمی یا غلط کاری د بیرې په وجه سره پاته کړل کیږی .

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ

اوومه پاره ختمه شوه

تفسیر معارف القرآن د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf شو. د

دعا په هیله احمدي! واټساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفیۍ سره محفوظ دي

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو کی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمة الله علیه

پښتو ترجمه کوونکې (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقانی) او مولوی آمین الله (حقانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۸)

خپرونکې

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	فهرست تفسیر معارف القرآن	مخ
وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَا إِلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ : الخ ، ۱۱۱ تر ۱۱۳		۶
أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي : الخ ، ۱۱۴ تر ۱۱۷		۸
فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِينَ : الخ ، ۱۱۸ تر ۱۲۱		۱۳
دآیتونو ترون		۱۴
أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ : الخ ۱۲۲		۱۵
مومن ژوندی دی او کافر مړ دی		۱۶
ایمان نور دی او کفر تیاره ده		۱۸
د ایمان د نور فائده نورو ته هم رسیږي		۱۹
وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَابِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا : الخ ، ۱۲۳ تر ۱۲۵		۲۰
نبوت اورسالت کسبی او اختیاري نه دی بلکه یو منصب دی چې دعطآء کولو اختیار یې یوازي د الله ﷻ په لاس کی دی		۲۲
په دین کی د سیني خلاصیدل او ددی نښاني		۲۳
صحابه کرامو ﷺ ته په دین کی شرح صدر حاصل وو ځکه ورته شکونه او شبهې ډیري کمې مخ ته راتلي		۲۳
دشکونو او شبهو لیري کولو اصلی طریقه بحث او مباحثه نه ده شرح صدر حاصلول دي		۲۴
وَهَٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ : الخ ، ۱۲۶ تر ۱۲۸		۲۴
وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ الظَّالِمِينَ بَعْضًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ : الخ ، ۱۲۹ تر ۱۳۲		۲۹
په محشر کی به د خلکو تولی د عملونو په لحاظ سره وی ددنیا د تعلقاتو په بنیاد نه وي		۳۰
په دنیا کی هم د علمونو او اخلاقو په اجتماعی معاملو باندی اثر		۳۰
یو ظالم ته د ظالم د لاسه سزا ورکول کیږي		۳۱
آیا په پیریانو کی هم رسولان وي؟		۳۲
دهندوانو معبودان هم عموماً پیریان دي په دوی کی د څه رسول یا نبی کیدو احتمال		۳۳
وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ : الخ ، ۱۳۳ تر ۱۳۶		۳۳
الله جل جلاله دټولو څخه بی نیازه دی د کائناتو پیداکول یوازي د هغه د رحمت نتیجه ده		۳۶
یو انسان الله ﷻ نه دی بی نیازه کړی په دی کی لوي حکمت دی که انسان بي نیازه شي نو ظلم کوي		۳۶
کافرانو ته په دی خبرداری کی د مسلمانانو دپاره عبرت		۳۸
وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ شُرَكَاؤُهُمْ : الخ ، ۱۳۷ تر ۱۴۰		۳۹
وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَ جَنَّاتٍ مَعْرُوشَاتٍ وَغَيْرَ مَعْرُوشَاتٍ : الخ ، ۱۴۱ تر ۱۴۲		۴۱
دمځکی عشر		۴۵
ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ مِنَ الضَّأْنِ اثْنَيْنِ : الخ ، ۱۴۳ تر ۱۵۰		۴۷
قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ : الخ ، ۱۵۱ تر ۱۵۳		۵۱

Maktaba-Tul-Ishaat.com

دذکر سوو آیتونو خاص خصوصیات	۵۴
دا آیتونه دنبی کریم ﷺ وصیت نامه ده	۵۴
ترټولو اولنی لویه گناه شرک دی چی حرام سوی دی	۵۵
دشرک تعریف اوددی قسمونه	۵۵
دوهمه گناه دمور او پلار سره بد سلوکی ده	۵٦
دریم حرام قتل داولاد دی	۵۷
داولاد تعلیمی او اخلاقی تربیت نه کول او دبی دینی د پاره آزاد پریښوول هم یو قسم قتل داولاد دی	۵۸
څلورم حرام دبی حیایی کار دی	۵۸
پنځم حرام په ناحقه قتل دی	٦۰
شپږم حرام دیتیم مال په ناجائزه سره خوړل دی	٦۰
اووم حرام په ناپ اوتول کی کمی کول دی	٦۱
دافسرانو، ملازمانو اومزدورانو په خپله مقره وظیفه اوخدمت کی کوتاهی کول هم دناپ او تول دکمی کولو په حکم کی دی	٦۲
اتم حکم عدل او انصاف دی ددی خلاف کول حرام دی	٦۳
نهم حکم دالله ﷻ وعده پوره کول یعنی دوعدی ماتول حرام دی	٦۴
ثُمَّ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ تَمَامًا عَلَى الَّذِي : الخ، ۱۵۴ تر ۱۵۷	٦٦
هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا أَن تَأْتِيَهُمُ الْمَلَائِكَةُ : الخ، ۱۵۸	٦۸
إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا : الخ، ۱۵۹ تر ۱٦۰	۷۲
په دین کی پربدعت پیدا کولو دعذاب سخته زورنه	۷۳
قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ : الخ، ۱٦۱ تر ۱٦۵	۷٦
دیوچاد گناه باربل نه سی پورته کولی	۸۰

﴿سورة الاعراف﴾

	۸۲
المص (۱) كِتَابٌ أُنزِلَ إِلَيْكَ فَلَا يَكُن فِي صَدْرِكَ : الخ، ۱ تر ۷	۸۲
دسورة دمضامینو خلاصه	۸۳
وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ : الخ، ۸ تر ۱۰	۸۵
دعملونو دوزن کولو متعلق یوه شبهه او دهغی جواب	۸۷
دعملونو وزن به څه رنگه وی؟	۸۹
وَلَقَدْ خَلَقْنَاكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَاكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ : الخ، ۱۱ تر ۱۸	۹۱
دابلیس ترقیامته پوری دژوند دعا قبوله سوه اوکه نه؟ په صورت دقبلیدوکی ددوو تکراوو خوړونکو آیتونو دالفاظو تطبیق	۹۳
آیا دکافر دعا هم قبلیدی سی؟	۹۴

Maktaba Tul Ishaat.com

دآدم ﷺ او ابلیس دواقعی مختلف الفاظ	۹۴
دابلیس دازړه ورتیا څنګه وسوه چی په دربار دعزت او دجلال کی یی داسی په بی باکی سره خبری وکړی؟	۹۵
دشیطان حمله پرانسان دڅلور طرفه محدوده نه ده، عامه ده	۹۵
وَيَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا : الخ، ۱۹ تر ۲۵	۹۵
يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي : الخ، ۲۶ تر ۲۷	۹۷
دلباس دوی فائدی	۹۹
په انسان دشیطان اوله حمله دده دلغړکولو په صورت کی وسوه نن هم نوی شیطانی تهذیب دانسان په لغړکولو اویا نیم لغړکولو پسی لګیدلی دی	۱۰۰
ترایمان وروسته ترټولو اول فرض ستر پټول دی	۱۰۰
دنوی لباس جوړولو په وخت کی دزوړ لباس صدقه کولو ثواب	۱۰۰
ستر پټول دپیدائش دوخت څخه دانسان فطری عمل دی، دترقی دانوی فلسفه باطله ده	۱۰۰
دلباس یو دریم قسم	۱۰۰
دظاهری لباس څخه هم اصلی مقصد تقویٰ حاصلول دی	۱۰۱
وَإِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً قَالُوا وَجَدْنَا عَلَيْهَا : الخ، ۲۸ تر ۳۱	۱۰۲
په لمانځه کی ستر پټول فرض دی ددی څخه بغیر لمونځ نه کیږی	۱۰۷
دلمانځه دپاره ښه لباس	۱۰۸
په لمانځه کی دلباس متعلق څو مسئلی	۱۰۸
خوړل او څیښل په قدر دضرورت فرض دی	۱۰۹
ددنیا په شیانو کی اصل مباح والی او جواز دی ترڅو چی په څه دلیل سره یی حراموالی اومنعه ثابته نه وی هیڅ شی حرام نه دی	۱۰۹
په خوړلو او څیښلو کی اسراف جائز نه دی	۱۰۹
په خوراک څښاک کی اعتدال ددین اودنیا دپاره نفع مند دی	۱۱۰
دیو آیت څخه اته شرعی مسئلی	۱۱۰
قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ : الخ، ۳۲ ار ۳۴	۱۱۱
دښکلی لباس او خوندور خوراک څخه پرهیز داسلام تعلیم نه دی	۱۱۳
په خوراک او پوښاک کی دنبی کریم ﷺ سنت	۱۱۴
يَا بَنِي آدَمَ إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ : الخ، ۳۵ تر ۳۹	۱۱۷
إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا : الخ، ۴۰ تر ۴۳	۱۱۹
په شرعی احکامو کی دآسانی رعایت	۱۲۳
دجنتیانو دزړونو به دیو بل څخه خړوالی ایسته سوی وی	۱۲۴
دهدایت مختلفی درجی دی چی آخری درجه یی جنت ته ددا خلیدو ده	۱۲۵

Maktaba Tul Ishaat.com

وَنَادٰی أَصْحٰبُ الْجَنَّةِ أَصْحٰبَ النَّارِ أَنْ قَدْ وَجَدْنَا : الخ ، ۴۴ تر ۴۹	۱۲۵
اعرافیان کوم خلک دی؟	۱۲۹
دسلام مسنون لفظ	۱۳۱
وَنَادٰی أَصْحٰبُ النَّارِ أَصْحٰبَ الْجَنَّةِ : الخ ، ۵۰ تر ۵۳	۱۳۱
إِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ : الخ ۵۴	۱۳۳
دآسمان او مځکی په پیدائش کی شپږ ورځی موده څنګه تیره سوه؟	۱۳۴
دمځکی آسمان او ستورو دپیدائش څخه اوله ورځ او شپه څنګه پیژندل کیږي؟	۱۳۴
اُدْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ : الخ ۵۵ تر ۵۲	۱۳۷
دمځکی اصلاح او خرابي څه ده او دخلکو دګناهونو پردی څه اثر دی؟	۱۴۱
وَهُوَ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ : الخ ، ۵۷ تر ۵۸	۱۴۵
لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلٰى قَوْمِهِ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ : الخ ، ۵۹ تر ۶۴	۱۴۹
وَإِلٰى عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ : الخ ، ۶۵ تر ۷۲	۱۵۵
دعاد او ثمود لنډ تاریخ	۱۵۸
دحضرت هود علیه السلام نسب نامه او ځینی حالات	۱۵۸
وَإِلٰى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صٰلِحًا : الخ ، ۷۳ تر ۷۶	۱۶۱
معلومات او مسئلی	۱۶۳
حکمونه او مسئلی	۱۶۵
فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ : الخ ، ۷۷ تر ۷۹	۱۶۷
معلومات او مسئلی	۱۶۷
وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الْفٰحِشَةَ : الخ ، ۸۰ تر ۸۴	۱۷۰
معلومات او مسئلی	۱۷۱
وَإِلٰى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلٰهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءَتْكُمْ : الخ ، ۸۵ تر ۸۷	۱۷۵

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَآ إِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰى وَحَشَرْنَا

او که مونږ نازل کړو په دوی باندی ملائکي او خبری وکړی دوی سره مړی او که ژوندی کړو مونږ

عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْٓا إِلَّآ أَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ

هرشی دوی ته مخامخ نو هم داخلق ایمان نه راوړی مګر که وغواړی الله

وَلٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا

لیکن په دوی کی آکثره جاهلان دی ، او دغه شان مونږ ګرځولی دی دهرنبی دپاره دښمنان

شَيٰطِيْنَ الْإِنْسِ وَالْجِنِّ يُوْحِيْ بَعْضُهُمْ إِلٰى بَعْضٍ زُخْرُفَ

دشیطانانو انسانانو او پیریانو کوم چی ښیی یو بل ته ښائسته کړل سوی

الْقَوْلِ غُرُوْرًا ۚ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوْهُ فَذَرْهُمْ وَمَا

خبری دفریب ورکولو دپاه ، اوکه ستارب غوښتلی نو دغو خلقو به دا کار نه وای کړی ، نو ته پریږده دوی

يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ وَلِتَصْغٰٓى إِلَيْهِ أَفْـِٔدَةُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

پوه سه او د دوی درواغ ، اوددی دپاه چی مائله سی دغه ښائسته سوو خبروو ته زړونه دهغو خلقو دکوموچی یقین نسته

بِالْاٰخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوْا مَا هُمْ مُّقْتَرِفُوْنَ ﴿۱۱۳﴾

په آخرت باندی او چی هغوی دا خوښ کړی او چی وکړی څه ناکاره کار چی دوی کوی

لنډتفسیر: او (د دوی دعناد خو دا حالت دی چی) که مونږ (یو فرمائشي نښانه خو لاڅه کوی که څو څو او لوی لوی فرمائشي نښاني هم ظاهري کړو، مثلاً دا چی) دوی ته ملائکي اولیږو (لکه چی دوی وایی ، لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ) او د دوی سره مړي (ژوندی سی) خبري وکړي (لکه چی دوي وایی ، فَأْتُوْا بِاٰبَآئِنَا) او (دوی خو یوازی دومره وایی ، تَاْتِيَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ قَبِيْلًا ، که) مونږ (په دی اکتفاء ونه کړو بلکه) ټوله موجودات (د غیبو چی په دی کی جنت او دوږخ هرڅه راغلل) دوی ته د دوی د سترګو په مخکی) راجمع کړو (چی هرڅه په ډاګه ووینی) بیا هم دا خلک هیڅکله ایمان نه راوړي ، ها! مګر که خدای وغواړی (او دوی تقدیر بدل کړي) نو دا بیله خبره ده (نو هرکله چی د دوی د عناد او شرارت دا حال دی او په خپله هم دوی په دی پوه دي چی زمونږ نیت دا وخت هم د ایمان راوړلو نه دی نو ددی مقتضا دا وه چی دنښانو فرمائش یی نه کولی څکه

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دا محضې بې کاره دي) لیکن په دوی کې زیات خلک د جهالت خبرې کوي (چې د ایمان راوړلو خو یې قصد نسته او بیا هم خامخا فرمائشونه کوي چې ددې څخه د دوی جهالت ښکاره دی) او (دا خلک چې کومه ستا سره دښمني لري دا څه نوې خبره نه ده چې ستا سره وسوه ، بلکه څنګه چې دوي ستا سره دښمني لري) دغه ډول مونږ د هر نبي دښمنان ډیر شیطانان پیداکړي ، څه انسانان (د کومو سره چې اصلي معامله وه) او څه پیریان (ابلیس او دده اولاد) د کومو څخه چې ځینې (یعني ابلیس او دده لښکر) نورو ځینو ته (یعنی کافرانو ته) د ښائسته کړل سوو خبرو وسوسې کوي چې دوي په دوکه کې واچوي (مراد ددې څخه د کفر او مخالفت خبرې دي چې په ظاهر کې نفس ته هم ښې معلومیدي او په باطن کې هلاکوونکې وي او دا دوکه ده ، کله چې دا څه نوې خبره نه ده نو ددې غم مه کوه چې ستا سره دا خلک داسې معاملې ولې کوي ، خبره دا ده چې په دې کې ځینې حکمتونه دي ، په دې وجه د دوی په داسې کارونو باندې قدرت دی) اوکه الله ﷻ (دا) غوښتلې (چې ددې خلکو په داسې کارونو باندې قدرت نه وای) نو (بیا) به دوی داسې نه وای کړي (مګر د ځینو حکمتونو په وجه یې دوي لره قدرت ورکړي دی) نو (هرکله چې په دې کې دا حکمتونه دي نو) دا خلک او څه چې دوي (ددین په باره کې) دروغ جوړول کوي (لکه دنبوت څخه انکار چې ددې دښمنۍ وجه ده) دوی ته پریږده (د دوی په فکر او غم کې مه کیږه ، مونږ به ورته په خپله په خپل وخت مناسب سزا ورکوو ، چې په دې حکمتونو کې یو دا هم دی) او (دغه شیطانان دي کافرو خلکو ته څکه وسوسې کوي) چې دي (فریب ناکو خبرو) ته ددې خلکو زړونه مایل سي کوم چې په آخرت (لکه څنګه چې په کار دی) یقین نه لري (مراد ورڅخه کافران دي که څه هم اهل کتاب وي ، څکه چې لکه څنګه په کار دی دغسې د دوی هم یقین نسته او که داسې نه وای نو دوی به د نبوت څخه انکار نه کولی په کوم چې به په قیامت کې سزا وي) او ددې دپاره چې (د نفس تر میلان وروسته) دا (د زړه په اعتقاد سره هم) خوښ کړي او ددې دپاره چې (تر اعتقاد وروسته) وکړي هم هغه کارونه کوم چې دوي کول .

معلومات او مسئلې: په تیرو آیتونو کې ددې خبرې ذکر وو چې دنبي کریم ﷺ دښکاره معجزو او دالله ﷻ د روښانه نښانو راتلو باوجود هم دې ضدیانو خلکو ددې څخه څه فائده وانه خیسته په خپل انکار او ضد باندې پاته سول ، په راتلونکو آیتونو کې ددې ذکر دی ، چې دې خلکو دخپل ضد اوعناد یوبل رنګ داسې بدل کړو چې دنبي کریم ﷺ څخه یې د خاص قسم معجزو ښکاره کولو مطالبه وکړه لکه چې ابن جریر نقل کړي دي چې دقریشو سردارانو مطالبه وکړه چې که ته مونږ ته دا معجزه وښیې چې د صفا غر ټول سره زر سي نو مونږ به ستا نبوت او رسالت ومنو او مسلمانان به سو .

نبي کریم ﷺ وفرمایل چې ښه ده وعده وکړی چې که دا معجزه ظاهره سوه نو تاسې به مسلمانان سې ، دوی قسمونه واخیستل نو حضور صلی الله علیه وسلم ددعا دپاره ودریدی چې دا غر د سرو زرو سي ، حضرت جبرئیل ﷺ وحی راوړلی چې که ته غواړې نو مونږ به اوس ټول غر د سرو زرو کړو ، لیکن د الله ﷻ دقانون مطابق به ددې نتیجه دا وي چې که بیا هم دوی ایمان رانه وړي نو په ټولو به عام عذاب نازل سي او دوی به په کښې هلاک سي ، لکه چې په تیرو قومونو داسې واقعات راغلي دي چې دوی کله دڅه خاص معجزې مطالبه کړي ده او هغه ورته ښوول سوي ده او دوی بیا هم منکر سوي دي نو په دوی دخدای ﷻ قهر او

Maktaba Tul Ishaat.com

غضب او عذاب نازل سوی دی ، رحمة العالمین ﷺ چې کله ددی خلکو دعادتونو او اخلاقو، ضد او عناد څخه خبر وو نو د شفقت په وجه یې وفرمایل چې اوس زه ددی معجزې دپاره دعا نه کوم په دی واقعه باندی دا آیت نازل سو ، واقسموا بالله جهد ایمانهم په دی کی دکفارو خبره نقل سوي ده چې دوی دغوښتل سوی معجزې په ظاهریدو باندی د مسلمانیدو دپاره قسمونه اخلې ، ددی څخه په وروسته آیت ، انما الآیات عندالله کی ددی ویناجواب دی ، چې معجزې او نښاني ټولي د الله ﷻ په اختیارکی دی اوکومی معجزې چې ظاهری سوي دي ، هغه هم دهغه دطرف څخه وي ، لیکن دعقل اوانصاف په بنا باندی دوی لره دداسی مطالبې کولو حق نسته ، ځکه چې نبی کریم ﷺ دالله ﷻ درسول کیدو دعوی کوي او په دی دعوی باندی ډیر دلیلونه او شهادتونه د معجزو په صورت کی پیش سوي دي ، اوس بل فریق ته ددی حق خو سته چې پردی دلیلونو او شهادتونو جرح وکړي او غلط یې ثابت کړي ، لیکن چې په دی شهادتونو څه جرح نه کوي او بیا دا مطالبه کوي چې مونږ نور شهادتونه غواړو ، دا خو به داسی وی لکه چې په عدالت کی یو مدعی علیه د مدعی په پیش کړو شاهدانو باندی خو جرح ونه کړي مگر دا وایی چې زه ددی شاهدانو شاهدي نه منم بلکه که فلانی مقررسړی شاهدي اداکړي بیابه یې ومنم نو دا به یو عدالت هم د اوریدو قابله ونه گڼي. دغه ډول په نبوت اورسالت باندی دبی شمیره آیتونواومعجزوښکاره کیدوڅخه وروسته چې ترڅوپوری دغه معجزی غلطی ثابتی نه کړي ، دوی لره ددی وینا حق نسته چې مونږ ته فلانی قسم معجزه وښیه نو هلته به ایمان راوړو.
ددی څخه وروسته تر آخر آیته پوری مسلمانانو ته ښودنه او خطاب دی چې ستاسی کار په حق دین باندی په خپله قائم اوسیدل او نورو ته صحیح طریقه رسول دي بیا هم که دوی ضد کوي نو د دوی په فکر کی مه کیږي ، ځکه چې په زور څوک مسلمانیدی نه سي که په زور مسلمانول کیدای نو تر الله ﷻ زورآور هیڅوک نسته هغه به په خپله ټول مسلمانان کړی وای ، او په دی آیتونو کی یې مسلمانانو ته د مطمئن کولو دپاره دا هم وښووله چې که مونږ د.دوي غوښتل سوي معجزې هم بالکل ښکاره او په ډاگه کړو، خو دوی بیا هم ایمان نه راوړي ، ځکه چې د دوی دا انکار دڅه غلط فهمی او ناپوهی په وجه نه دی ، بلکه د ضد، عناد او بغض له کبله دی چې ددی علاج په څه معجزه سره نه سي کیدی ، په آخر آیت : ولوانتنا نزلنا الیهم الملائکة کی ددی مضمون بیان دی چې که مونږ دوي ته د دوی غوښتل سوی ټولی معجزې هم وښیو، بلکه تردی زیات که دملائکو سره د دوی ملاقات او د مړو سره د دوی خبری وکړو خو بیا هم دوی منونکی نه دی په وروسته دوو آیتونو کی نبی کریم ﷺ ته تسلي ورکول سوي ده چې دا خلگ که ستا سره دښمنی کوي نو څه د تعجب خبره نه ده ، د تیرو ټولو پیغمبرانو هم دوی دښمنان راغلی دي و ته په دی مه خفه کیږه.

أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي أَنْزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا

نو آیا اوس دالله څخه ماسوا بل څوک منصف جوړکړم حال دا دی چې هغه نازل کړی دی په تاسی باندی کتاب ښکاره

وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُ مُنَزَّلٌ مِنْ رَبِّكَ

او کومو خلقو ته چې مونږ کتاب ورکړی دی ، هغوی پوهیږي چې دا نازل سوی دی ستا درب دطرف څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

بِالْحَقِّ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿١١٤﴾ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا

حق نو ته مه کیږې دشك كوونكو څخه ، اوستا درب خبره پوره رښتینې

وَعَدْلًا لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١١٥﴾ وَإِنْ

اوانصاف ده څوك بدلونكى نسته دده خبرولره ، او هغه دى آوريدونكى پوهيدونكى ، اوكه

تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ إِنْ

ته خبره ومنې دډيرو هغو خلقو چې په مځكه كې دي نو تا به غلط كړي دالله ﷻ دلارې څخه ، دغه

يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿١١٦﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ

تول چلیږي په خپل خیال باندې او تول اټکل چلوي ستارب ښه

أَعْلَمُ مَنْ يَضِلُّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿١١٧﴾

پوهه دی په هغو چې بې لارې كیږي دهغه دلارې څخه ، اوهغه ښه پوره دی په هغو چې دهغه په لاره باندې دي.

تفسیر: (ته وروایه چې زما او ستاسې په مینځ کې چې کوم درسالت په دعوه کې اختلاف دی چې په حکم دسرکار زه ددې مدعي یم او تاسې منکر یاست او دا مقدمه د احکم الحاکمین په اجلاس کې زما په حق کې داسې فیصله سوي ده، چې زما په دې دعوې باندې کافي ثبوت او دلیل یعنې معجز قرآن یې په خپله قائم کړي دی او تاسې یې بیا هم نه منئ) نو آیا (تاسې دا غواړئ چې دا خدایي فیصله پوره ونه گڼم او) د الله ﷻ څخه ماسوا بل څوک فیصله کوونکی تلاښ کړم ، حال دا دی چې هغه داسې (کامله فیصله) کړي ده چې هغه یو کتاب (چې په خپل اعجاز کې) کامل (دی) تاسې ته رالیږلی دی (چې د خپل اعجاز په وجه پر نبوت باندې پوره دلیل دی ، نو ددې دوه کمالونه خو دا دی چې معجز دي او نازل دی د الله ﷻ دطرف څخه او ددې څخه علاوه په نورو وجهو سره هم کامل دی او په دې پوري چې کوم نور مقصدونه دتعلیم او هدایت متعلق دي ، دهغوی دپاره کافي دی ، لکه چې) دده (یو دریم) حال (دکمال) دا دی چې دده مضامین (کوم چې ددین په باره کې مهم دي) ښه صفا صفا بیان سوي دی او (څلورم صفت دکمال دده دا دی چې په تیرو کتابونو کې دده خبر ورکول سوی وو ، چې دا دده د یو ډیر مهتم بالشان کیدو ښنانه ده ، لکه چې) کومو خلکو ته چې مونږ کتاب (یعنې تورات انجیل) ورکړي دی ، هغوي ښکاره هم کړه اوکوم چې عناد گروه هغوی نه ښکاره کوله) نو ته د شک کوونکو څخه مه کیږه او (پنځم دکمال صفت دده دا دی چې) ستا رب (دا) کلام د واقعیت او اعتدال په اعتبار سره (هم) کامل دی (یعنې په علمونو او عقیدو کې یې واقعیت او په ظاهري اوباطني عملونو کې یې اعتدال دی او شپږم صفت دکمال دده دا دی چې) دده (ددې) خبري

Maktaba Tul Ishaat.com

څوک بدلوونکی نسته (یعنی په دی کی دتحریف او تبدیلی کولو څخه الله ﷻ دده حفاظت کوي ، وانا له لحافظون) او (سره د دومره کامل دلیل چی بیا هم څوک د زړه څخه یا د ژبی څخه ددی تکذیب وکړي) هغه (یعني الله ﷻ د دوی خبری) ښه اوري (او د دوی عقیدي) ښه پیژني (پر خپل وخت به دوی لره کافی سزا ورکړي) او (سره دواضحو دلیلونو) په دنیا کی زیات خلک داسی (منکر او ګمراه) دي ، چی که (بالفرض) ته د دوی خبره ومنی (نو دوی به تا د الله ﷻ دسیده) لاري څخه بی لاري کړی (ځکه چی دوی په خپله ګمراهان دی لکه چی په عقیدو کی) دوی محض په بی اصله خبرو او خیالاتو باندی چلیږي او (په خبرو کی بالکل قیاسی خبري کوی (او د دوی په مقابل کی ځینی بندګان د خدای په لارد باندی هم دی او) په یقین سره ستا رب دوی (هم) پیژنی کوم چی دده په (ښوول سوي نیکه) لاره باندی چلیږي (نو ګمراهانو ته به سزا ورکول کیږي او د نیکی لاري والاوو ته انعام او اکرام)

معلومات او مسئلي : په تیرو آیتونو کی ددی خبري ذکر وو چی د مکی مشرکانو دنبی کریم ﷺ اوقرآن په حقوالی او صحیح والی باندی دشکاره ښکاره معجزو او دلیلونو لیدو او پوهیدو باوجود د عناد څخه دا مطالبی کوی چی فلانی فلانی معجزي که مونږ ته وښوول سی نو مونږ به منلو ته تیار سو ، قرآن د دوی د عناد دا جواب ورکړی چی کومی معجزي دوی اوس کتل غواړي ، زمونږ دپاره ددی ښکاره کول هم څه مشکل نه دی ، لیکن دا عنادګر خلک به ددی تر لیدو وروسته هم د سرکښی څخه وانه وړي او دقدرت تر قانون لاندی به ددی نتیجه بیا دا وي چی په دوي ټولو به عذاب راسی .

په دی وجه رحمة العالمین صلی الله علیه وسلم د دوی دغوښتل سوو معجزو د ظاهرولو څه د شفقت په بنا باندی انکار وکړو او کومی معجزي او دلیلونه چی تر اوسه پوری دوی ته راغلی وه په هغوي کی یی د فکر کولو طرف ته دوی ته دعوت ورکړو، په ذکر سوو آیتونو کی د هغو دلیلونو بیان دی ، په کومو چی په ظاهري طور سره د قرآن کریم حقوالی او کلام الهی ثابت دی ، په اول آیت کی چی کوم ارشاد فرمایل سوی دی ، ددی خلاصه دا ده چی زماو ستاسی په مینځ کی درسالت اونبوت په مقدمه کی چی کوم اختلاف دی زه یی دعوی کوم او تاسی ورڅخه انکار کوی او دا مقدمه د احکم الحاکمین په اجلاس کی زما په حق کی داسی فیصله سوي ده چی زما په دی دعوی باندی کافی ثبوت او دلیل په خپله د قرآن اعجاز دی کوم چی ددنیا ټولو قمونو ته چیلنج ورکړي دی چی که دده په دی خبره کی ستاسی څه شک شبهه وي چی دا د الله ﷻ کلام نه دی نو دده د یو کوچنی غوندي سورت یا آیت مقابله وکړی او وی ښیاست ، چی ددی د جواب څخه ټول عرب عاجزه سول او هغه خلکو کومو چی دنبی کریم ﷺ او اسلام د کمزوري کولو دپاره خپل ځان مال، اولاد عزت هر څه قربانول ،په دوي کی یوه هم داسی ونه کړل چی دقرآن دمقابلی دپاره یی یو آیت دوه پیش کړی وای نو آیا دا ښکاره معجزه د حق د قبلولو دپاره کافي نه وه؟ چی یو اُمی چا چی هیڅ ځای هم څه تعلیم نه وو حاصل کړی ، دده دپیش کړی کلام د مقابلي څخه ټول عرب بلکه ټول جهان عاجزه سو، دا په حقیقت کی د احکم الحاکمین په عدالت کی ددی مقدمي واضحه فیصله ده چی نبی کریم ﷺ دالله ﷻ برحق رسول او قرآن دالله ﷻ برحق کلام دی.

په اولنی آیت کی ددی متعلق فرمایی ، اَفَغَيْرَ اللهِ اَبْتَغِیْ حَکَمًا یعنی آیا تاسی دا غواړی چی دالله ﷻ ددی فیصلی څخه وروسته زه یو بل فیصله کوونکی تلاښ کړم، دا نه سی کیدی ، ددی څخه وروسته یی دقرآن

Maktaba Tul Ishaat.com

کریم یو څو داسی خصوصیات ذکر کړي دی چې په خپله دقرآن کریم دحقوالی او دکلام الهی والی ثبوتونه دی، مثلاً فرمایی، هو الذی انزل الیکم الکتاب مفصلاً په دی کی دقرآن کریم د څلورو خاصو کمالونو بیان دی، اول دا چې دغه دالله ﷻ دطرف نال سوی دی و دوهم دا چې دغه یو کامل او معجز کتاب دی چې ټول جهان دده د مقابلي څخه عاجزه دي، دریم دا چې ټول اهم او اصولی مضامین په دی کی ډیر په تفصیل سره واضح بیان سوی دی، څلورم دا چې دقرآن کریم څخه مخکښی اهل کتاب یهود او نصارا هم په یقین سره پوهیږي چې قران دالله ﷻ دطرف څخه نازل سوی حق کلام دی، بیا په کوموکی چې دحق وینا اوحق والی رښتینوالی څه صفت وو، هغوي دا ظاهر هم کړی اوکوم خلک چې عنادګر وه، هغوی سره دیقینه هم ددی اظهار نه کوي.

د قرآن کریم ددی څلورو صفتونو بیانولو څخه وروسته نبی کریم ﷺ ته خطاب دی، فَلَاتَکُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِیْنَ: یعنی ددی ښکاره دلیلونو څخه وروسته ته دشک کوونکو څخه مه کیږه دا ښکاره خبره ده، چې نبی کریم ﷺ په هیڅ وخت کی هم نه په شک کوونکو کی وو، او نه کیدی سوای و لکه چې په خپله د نبی کریم ﷺ ارشاد په تفسیرابن کثیرکی دی چی، نه ماهیڅکله شک کړي دی اونه هیڅکله سوال، معلومه سوه چی دلته په لفظونوکی که څه هم خطاب نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دی لیکن په حقیقت کی نورو ته اوړول مقصود دی او د دوی طرف ته یی په اسناد کولو سره مبالغه اوتاکید کول منظور دی چی کله نبی کریم ﷺ ته داسی وویل سوه، نو دنورو څه هستی ده، چی څه شک په کښی وکړي.

په بل آیت کی دقرآن حکیم د نورو دوو امتیازي صفتونو بیان دی کوم چی د قرآن کریم د کلامی الهی والی کافي ثبوت دی ارشاد دی، وَتَمَّتْ کَلِمَةُ رَبِّکَ صِدْقًاوَّعَدْلًا لَامُبَدِّلَ لِکَلِمَاتِه: یعنی ستا درب کلام کامل دی، د رښتینوالی، انصاف او اعتدال په اعتبار سره دده د کلام څوک بدلوونکی نسته، په لفظ د، تمت کی د کاملیدو بیان دی، او د کلمة ربک څخه مراد قرآن دی (بحر محیط عن قتادة)

دقرآن کریم ټول مضامین دوه قسمه دی یوهغه په کوموکی چی دتاریخ عالم عبرتناک واقعات اوحالات او په نیکوعملونووعده اوپه بدوعملونودسزابیان دی، دوهم هغه په کومو کی چی د انسان د اصلاح او کامیابی دپاره احکام بیان سوی دی، ددی دواړو قسمونو متعلق په قرآن مجید کی دا دوه صفتونه بیان سوي دي، صدقاً وعدلاً، د صدق تعلق د اول قسم سره دی، یعنی څومره واقعات اوحالات یاوعد او وعید چی په قرآن کی بیان سوي دی هغه ټول رښتینی او صحیح دي، په هغه کی دهیڅ غلطی امکان نسته، او دعدل تعلق د دوهم قسم یعنی احکامو سره دی چی مطلب یی دا دی چی دالله ﷻ ټول احکام په عدل باندی مبنی دی او په لفظ د عدل کي دوی معناوي دي، یوه انصاف چی په دی کی په چا ظلم او د چا حق وهل نه وي. دوهم اعتدال یعنی میانه روی چی نه بالکل د انسان د نفسانی خواهشاتو تابع وی او نه داسی چی د انسان جذبات او دده فطری خواهشونه یی برداشت نه کړل سی، نو ددی مطلب دا سو چی دالله ﷻ ټول احکام په انصاف او اعتدال باندی مبني دی، نه په دی کی په چا ظلم سته او نه په کی څه سختی او تکلیف سته چی انسان یی برداشت کولی نه سي، لکه چی بل ځای ارشاد دی، لَایکلف الله نفساً الاوسعها: یعنی الله ﷻ په چا باندی دده دقدرت او طاقت څخه ماسوا څه عملی تکلیف نه اچوي، ددی سره یی په دی آیت کی

Maktaba Tul Ishaat.com

لفظ د ، تمت راوړي دا يې هم وښوولې چې يوازې دانه ده چې په قرآن شريف کې د صدق او عدل صفتونه موجود دي ، بلکه هغه په دې صفتونو کې په هر حيثيت سره کامل او مکمل دی .
او دا خبره چې ټول قرآني احکام دټولو قومونو ددنيا دپاره اوترقيامته پورې دراتلونکو نسلونو او بدليدونکو حالاتو دپاره په انصاف باندې مبني دي او په اعتدال باندې هم ، که لږغوندې هم فکر وسی نو دا يوازې دالله ﷻ په احکامو کې کيدی سی ددنياپوه قانون جوړوونکې اسمبلۍ دټولو راتلونکو او موجوده حالاتو نه پوره اندازه لګولې سی اونه ددغو حالاتو په رعايت ساتلو سره څه قانون جوړولې سی ، هرملک او قوم هم يوازې دموجوده حالاتو ترمخه قانون جوړ وي اوپه دغو قوانيوکې هم دتجربې کولوڅخه وروسته ډير شيان دعدل اواعتدال څخه خلاف وګڼل سی نويدلول کيږي ، دنورو قومونو او نورو ملکونو يا د راتلونکو حالاتو پوره رعايت کول او داسې قانون جوړول چې په هر قوم ، هر ملک او هر حال کې دعدل او اعتدال په صفتونو پوره وي د انساني فکر او نظر څخه بالاتر دی ، يوازې دالله ﷻ په کلام کې کيدی سی په دې وجه دا پنځم صفت دقرآن کريم دی چې په دې کې بيان سوی تير او راتلونکې ټول واقعات او وعد وعيد ټول رښتيني دي ، په دې کې دواقع څخه دخلاف کيدو آدنی قدرې شبهه نه سی کيدی او په دې کې بيان سوی ټول احکام د ټولې دنيا اوترقيامته پورې دراتلونکو نسلونو دپاره په عدل او اعتدال سره پوره دي ، نه په دې کې په چا څه ظلم سته او نه دعدل اواعتدال څخه په کې څه دوربښته قدر تجاوز سته ، دا په خپل ځای دقرآن دکلام الهي والي مکمل ثبوت دی .
شپږم صفت يې دا بيان کړي دی چې : لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ يعنې دالله ﷻ دکلموڅوک بدلوونکې نسته ، د بدلولو يوصورت خو دا کيدی سی ، چې څوک په دې کې غلطي ثابته کړي اوپه دې وجه يې بدل کړي ، يا دا چې يو دښمن په زور سره دا بدل کړي ، دالله ﷻ کلام ددې ټولو خبرو څخه بالاتر او پاک دی ، ده ﷻ په خپله وعده فرمايلې ده ، انا نحن نزلنا الذكر وانا له لحافظون : يعني مونږ قرآن نازل کړي دی اومونږ ددې حفاظت کوونکې يو، بيا د چا څه مجال دی چې د خدای حفاظت مات کړو او څه تبديلي په کې وکړو، لکه چې څوارلس سوه کاله په دې تير سول او په هر وخت او هره زمانه کې دده مخالفين تر منونکو په شمير کې هم زيات پاته سوي دي او په قوت کې هم ، ليکن دهيچا مجال نه دی سوی چې دقرآن په يوه زير، زير کې څه فرق پيداکړي ، البته دبدليدو يو دريم صورت دا هم کيدی سی چې په خپله دالله ﷻ دطرف څخه دا منسوخ سی اوبدل يې کړي ، په دې وجه حضرت عبدالله ابن عباس ؓ فرمايي چې په دې آيت کې دې طرف ته اشاره ده چې نبی کريم ﷺ آخری پيغمبر اوقرآن کريم آخری کتاب دی تردې وروسته دمنسوخ کيدلو يې هيڅ احتمال نسته ، لکه چې دقرآن کريم په نورو آيتونوکې دا مضمون نورهم زيات په وضاحت سره راغلی دی ، د آيت په آخر کې فرمايي ، وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ : يعنې الله ﷻ دا ټولې خبرې اترې اوري ، کوم چې دا خلګ کوي او دټولو دحالاتو او رازونو څخه خبر دی د هر يوه د عمل بدله به دهغه مطابق ورکړي .
په دريم آيت کې الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته اطلاع ورکوي چې په مځکه داوسيدونکو انسانانو اکثريت په ګمراهي باندې دی ، ته د دوی څخه مه بيريږه د دوی خبرو ته غوږ مه ايږده ، قران کريم په ډيرو ځايونو کې دا مضمون بيان کړي دی ، يوځای ارشاد دی ، وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ الْأَوَّلِينَ : بل ځای ارشاد دی : وَمَا أَكْثَرُ النَّاسِ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ: مطلب دادی چی عادتاً په انسان باندی دشمیر د ډیروالی رعب غالب کیږي او د دوی خبره بیا منی، په دی وجه نبی کریم ﷺ ته خطاب وسو چی، په دنیا کی زیات خلګ داسی دی چی که ته د دوی خبره ومنی نو دوی به تا د الله ﷻ د لاری څخه بی لاری کړي ځکه چی دوی دعقیدو او نظریو په لحاظ سره محض په خیالاتو او وهمونو پسی روان او په احکامو کی محض دتخمینی او اندازی څخه کار اخلی د کومو چی هیڅ بنیاد نسته .

لنډه دا ده چی ته د دوی دشمیر دډیروالی څخه په رعب کی د راتلو په وجه د دوی دموافقت خیال قدرهم مه کوه، ځکه چی دوی ټول بی اصوله او بی لاری تلونکی دی، په آخر آیت کی فرمایی، به یقین سره ستا رب دوی ښه پیژنی کوم چی دده د لاري څخه بی لاري سی او هغه هم ښه پیژني کوم چی دده په لاره کی چلیږي، نو لکه څنګه چی ګمراهانو ته سزا ورکول کیږي، په نیکه لاره تلونکو ته به انعام او اکرام هم حاصل وي .

فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ وَمَا

نو تاسی خوری دهغو حیواناتو څخه په کومو چی نوم واخستل سی دالله که تاسی دهغه په حکمونو ایمان لرونکی یاست

لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ

او څه وجه ده چی تاسی نه خوری دهغو حیوانانو څخه چی نوم وربانذی اخستل سوی دی دالله او هغه په تفصیل سره

مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا لَيُضِلُّونَ

بیان کړی دی تاسی ته هغه چی حرام کړی دی په تاسی مګر کله چی مجبوره سی دهغه خوراک ته، او ډیر خلق بی لاری کوی

بِأَهْوَائِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِينَ ﴿١١٩﴾

پخپلو خیالاتو سره بغیر دتحقیق څخه، اوستا رب ښه پیژنی دحد څخه زیاتیدونکی،

وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ

او پرېږدی ښکاره ګناه او پټی، کوم خلق چی ګناه کوی

سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ

ډیر ژر به سزا پیداکی دخپلو کړو، او مه خوری دهغو څخه په کومو چی نوم نه وی

اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ ۗ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ

اخستل سو دالله او دا خوړل ګناه ده، او شیطانان په زړه کی اچوی

Maktaba Tul Ishaat.com

أَوْلِيَآئِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ ۚ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ ﴿۱۲۱﴾

خپلو ملګرو ته چې تاسي سره جګړه وکړي، او که تاسي د دوی خبره ومنله نو تاسي به هم مشرکان یاست

د آیتونو تړون: لوړ یې د، اِنْ تُطِعْ په الفاظو کې دګمراهانو دتابعداري څخه مطلق منع کړې وه ، مخ ته د دغه په بنا دیوی واقعی په یو خاص کار کې دتابعداري کولو څخه منع فرمایي ، هغه خاص واقعه دذبح سوي او غیر ذبح سوي دحلالوالي ده ، واقعه دا ده چې کافرانو مسلمانان په شک کې اچول غوښتل چې د الله ﷻ وژل سوي حیوان خو نه خوري او خپل وژل سوي یعني ذبح سوي خوري ، اوابو داود او حاکم دحضرت عباس رضی الله عنه څخه دا روایت کړي دي چې ځینو مسلمانانو دا شبهه د نبي کریم ﷺ په حضور کې نقل کړه ، په دې دا آیتونه تر، لَمُشْرِكُونَ پورې نازل سوه ، ابو داود او ترمذي د ابن عباس رضی الله عنه څخه دا روایت نقل کړي دی ، دارنګه په لباب کې دی .

خلاصه دجواب دا ده چې تاسي مسلمانان یاست ، دالله ﷻ حکمونه مو په ځان لازم کړي دي اوالله ﷻ د حلالو او حرامو تفصیل ښوولی دی ، نو په دې باندې چلیږي ، په حلالو د حرامو او په حرامو دحلالو شک مه کوی او دمشرکانو وسوسو ته ګوری ، اوتحقیق ددې جواب دا دی چې داصولو دثابتولو دپاره خو عقلي دلیلونه په کار دي او پس دثابتیدو د اصولو څخه په عملونو او په فروعاتو کې یوازي نقلي دلیلونه کافي دي عقلي دلیلونو ته ضرورت نسته ، بلکه ځینې وخت مضر دي ، ځکه چې په دې سره د شکونو دروازي خلاصیږي ، ځکه چې په فروعو کې د قطعي دلیل څه لار نسته البته که دحق طلب کوونکي د زړه تسلي کول غواړي ، نو دده دتسلي دپاره ده ته څه په دلیلونو او بیانونو پیش کولو کې څه باک نسته ، لیکن کله چې دا هم نه وي ، بلکه جګړه کوي ، نو بیا خپل کار کول په کار دی او د اعتراض کوونکي طرف ته خیال نه دی کول په کار البته که اعتراض کوونکي دیو فرعي حکم عقلي دقطعي دلیل څخه مخالفت ثابتول وغواړي نو د حق د مدعي په ذمه دده جواب کول به وي ، لیکن دمشرکانو په شبهو کې ددې خبرې احتمال نسته ، په دې وجه په دې جواب کې یوازي مسلمانانو ته په لوړه ذکر سوی قاعده باندې خطاب دی چې داسې خرافاتو ته مه ګوری په حق عقیده لری اوعمل په کوی ، په دې بنا باندې دلته دمشرکانو دشبهي جواب که په وضاحت سره ذکر نه دی نو په دې شبهه نه سی کیدی ، مګر په دې باندې یې هم دې طرف ته اشاره کړي ده کوم ځای چې په ، کلوا کې ذکر اسم الله او لاتاکلوا کې : لم یذکر اسم الله ذکر دی او دا په عادت سره او په نورو دلیلونو سره معلومیږي چې ، ذکر اسم الله د ذبح په وخت وي او د ، لم یذکر اسم الله دثابتیدودوه صورتونه وی نیستوالی دذبح اونیستوالی دذکرپه وخت دذبح کې نوخلاصه د شبهي د جواب دا سوه چې حلالوالي په دوو کارونو باندې راځي ، یو په ذبح چې پلیته وینه ورڅخه ووزي او د پلیتي څخه پاک سي . چې دغه پلیتي سبب دمنع وه ، دوهم دالله ﷻ نوم اخیستل چې برکت په حاصلیږي ، اوکوم چې په یو نه لرونکو حیوانانو کې دحلالوالي دپاره شرط دی او د یو شي دموجودولو دپاره د مانع لیري کول نو دا دواړه کارونه ضروري دی ، دشرط موجودولو دپاره نو په دې دواړو مجموعه وو سره حلالوالی ثابتیږي

لنډتفسیر: (او هرکله چې لوړ دکفارو دتابعداری بدوالی معلوم سو) نو په کوم (حلال) حیوان چې (د ذبح په

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت) د الله ﷻ نوم (بې له شرکت دغير څخه) واخیستل سی ددی څخه (بې له تکلفه) خوري (او دغه مباح او حلال ګڼي) که تاسی دده په حکمونو ایمان لري (څکه چی دحلالو حرام ګڼل د ایمان څخه خلاف دی) او په تاسی کوم کار (د قبیلی دعقیدي څخه) ددی باعث کیدی سی چی تاسی دداسی حیوان څخه ، خوری په کوم چی (د ذبح په وخت کی) د الله ﷻ نوم (بغیر د شرکت دغیرڅخه) اخیستل سوی وی ، حال دا دی چی الله ﷻ (په بل آیت کی) ددی ټولو حیواناتو تفصیل ښوولی دی ، کوم چی یی په تاسی حرام کړي دی ، مګر هغه هم کله چی تاسی ته سخت ضرورت راسي نو حلال دی (او په دی تفصیل کی دا ذبح سوی د الله ﷻ په نوم داخل نه دی ، بیا ددی په خوړو کی د عقیدي په لحاظ سره کوم ګرانوالی دی او ددی خلګو د شبهو طرف نه قطعاً نظر مه کوی څکه چی) دا یقیني خبره ده چی ډیر خلګ (چی د هغوي څخه دوی هم دی د خپل خان سره نور هم) دخپلو غلطو خیالاتو (په بنا سره) بې له څه سنده ګمراه کوي (مګر ترڅو به په دی کی د دوی خبر وی) په دی کی هیڅ شک نسته چی الله ﷻ ترحد (د ایمان) وتونکی (چی دوي په کښی هم دي) ښه پیژنی (نو په یو وار به ورته سزا ورکړي) او تاسی ظاهری ګناه هم پریږدی (مثلاً په حلالو دحرامو عقیده کول باطني ګناه ده ، لکه چی ددی عکس هم) بیشکه کوم خلګ چی ګناه کوي دوی ته به د دوی دکړو ډیره زر (په قیامت کی) سزا ورکول سي ، او دداسی حیوانانو څخه مه خوری په کومو چی (په ذکر سوي طریقه) د الله ﷻ نوم نه وي اخیستل سوی (لکه مشرکان چی داسی حیوانان خوري) او دا کار (یعني چی د الله ﷻ نوم نه وی په اخیستل سوی د هغه خوړل) حکم نه منل دي (غرض دا دی چی مه په پاته کولو کی د دوی تابعداري کوي او مه په کولو کی) او (ددی خلګو شبهو ته په دی وجه نه دی کتل په کار چی) یقیناً شیطانان خپلو (دی) دوستانو (او تابعدارانو) ته (ددی شبهو) تعلیم ورکوي چی دوي ستا سره (بی کاره) جګړي کوي (یعني اول خو دا شبهه د نص څخه خلاف ده دوهم غرض ورڅخه محض جګړه ده په دی وجه د توجه قابلي نه دی) اوکه تاسی (خدای مه که) ددی خلګو خبره ومنله (په عقیدو یا کارونو کی) نو یقیناً تاسی به مشرکان سی (چی خدای په تعلیم به دنورو تعلیم ته ترجیح ورکړي ، کوم چی برابر ګڼل یی هم شرک دی یعني د دوی خبره منل داسي ناکاره شي دی نو په دی وجه وریسی دمخ اړولو څخه هم خان ساتل په کار دی)

معلومات او مسئلي: په ، مَا ذُكِرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ کی ذبح اختیاري او ذبح اضطراري یعني په غشی ، باز ، سپی او نورو ښکار کله چی د ورپریښودلو په وخت کی بسم الله ووایی ، او ذکر حقیقی او ذکر حکمی ټول داخل دي ، نو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد په کوم چی بسم الله په هیره سره پاته سي ، هغه حکماً په ، ما ذکر اسم الله علیه کی داخل دی ، البته په قصداً پاته کولو سره د امام صاحب رحمه الله په نزد حرامیږي .

أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي

آیا هغه څوک کوم چی مړ وو بیا مونږ دی ژوندی کی او مونږ ده له ورکړه رڼا چی ګرځی په دی سره

النَّاسِ كَمَنْ مَثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِنْهَا كَذَٰلِكَ

په خلقو کی برابر یدی سی دهغه سره چی حال یی دا وی چی پروت وو دی په تیارو کی دهغه څخه نه سی وتلی

Maktaba Tul Ishaat.com

زُيِّنَ لِلْكٰفِرِيْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۲﴾

دغه شان ښائسته کړل سوي دي دکافرانو په نظر کی د دوی کارونه

لنډتفسير: داسی سړی چی اول مړ (يعنی گمراه) وو، بيا مونږ دی ژوندی (يعنی مسلمان) کړو او مونږ ده ته يو داسی نور (يعنی ايمان) ورکړی چی په دی سره دی په خلگو کی گرځی (يعنی هر وخت دده سره وی چی په دی سره دي دټولو ضرورتنو ځخه لکه گمراهی او نور سره محفوظ وی او په امن او بی فکره وي، نی آيا داسی سړی (په بدحالی کی) د هغه سړي په شان کيدی سي د چا حالت چی دا وی چی هغه (دگمراهی) په تيارو کی (گير) وي (او (وتلی ورځخه نه سی (مراد دا دی چی دی مسلمان نه سی ، او دا خبره دتعجب نه ده چی کفر، سره ددی چی تياره ده ، دی ځنگه په دی قائم پاته کيږي ، وجه دا ده چی لکه ځنگه چی مومنانو ته د دوی ايمان ښه ښکاره کيږي) دغه ډول کافرانو ته د دوی عملونه (کفر او نور) ښائسته معلوميږي (نو په دی وجه سره دا سرداران د مکي، چی تاته عبث فرمائشونه شبهي او جګړي پيش کوي، خپل کفر ورته ښه ښکاره سوي دی ځکه په دغه باندی اخته دی)

معلومات او مسئلي: په تيرو آيتونو کی اول ددی ذکر راغلی وو چی د اسلام مخالفين دنبی کريم ﷺ اوقرآن کريم ښکاره ښکاره معجزو د ليدلو باوجود په ضد او عناد سره د نوو نوو معجزو مطالبی کوي ، تردی وروسته قرآن وښووله چی که دا خلگ واقعی دحق طلب کوونکي وي ، نوکومی معجزي چی دوی په سترگو ليدلی دی ، هغه دوی ته دحق معلومولو دپاره تر پوره هم زياتی وي ، بيا ددغو معجزو بيان راغی. په ذکر سوي آيت کی په نبی کريم ﷺ اوقرآن باندی د ايمان لرونکو او دکفر او انکار کوونکو څه حالات او خيالات او د دواړو دنيک او بد انجام بيان ، او دمومن اوکافر او ايمان اوکفر حقيقت يی په مثالونو سره ښکاره کړي دی ، دمومن او کافر مثال يی په ژوندي او مړو سره ، او د ايمان او کفر مثال يی په رڼا او تياري سره ورکړي دی ، دا قرآنی مثالونه دی چی په دی کی څه شاعري نسته د يو حقيقت ښکاره کول دي.

مومن ژوندی دی او کافر مړ دی: په دی مثال کی يی مومن ژوندی او کافر مړ ښوولی دی وجه دا ده چی په انسانانو، حيواناتو او نباتاتو کی که څه هم د ژوند قسمونه او شکلونه مختلف دي ، ليکن د دومره خبري ځخه يو پوه انسان انکار نه سي کولی چی په دوی کی د هر يوه ژوند د يو خاص مقصد دپاره دي او قدرت په دوی کی ددغه مقصد د حاصلولو پوره اهليت او صلاحيت ايښی دی ، د قرآن ارشاد دی ، اعطی کل شیء خلقه ثم هدٰی : په دی کی ددی بيان دی چی الله ﷻ د کائناتو دعالم هر شی پيدا کړی او دی يی چی د کوم مقصد دپاره پيدا کړی وو ، هغه ته درسيدو دپاره يی ده ته پوره ښودنه وکړه ، چی تردی لاندی هر مخلوق دخپل ژوند د وظيفی او دخپلی خپلی ډيپتی حق ادا کوي ، په دی عالم کی مځکه ، اوبه، هوا او اور، دغه ډول آسمانی مخلوقات او لمر، سپوږمی، ستوري خپله خپله ډيپتي په پوره ډول سره پيژني او خپل فرائض ادا کوي او دا د خپلو فرضو ادا کول په دوی کی دهر يو شی د ژوند ثبوت دي ، او په څه وخت او څه حال کی چی په دوی کی څه شی خپله ډيپتي اداکول پريږدي نو دی ژوندی نه دی بلکه مړ دی ، اوبه که خپل کار تنده ماتول او خيري او نور ليري کول پريږدي نو دی ته بيا اوبه نه ويل کيږي ، اور که سوزل او

Maktaba Tul Ishaat.com

بلیدل پریږدي نو بیا اور نه دی ، درخته او واښه که تړکیدل او لوئیدل او بیا ګل او میوه نیول پریږدي نو هغه بیا درخته او ګیاه نه سی پاته کیدی ، څکه چی دوی خپل د ژوند مقصد پریښی دی ، نو دوی د یو بی روحه مړي په ډول سول.

دټولو کائناتو په تفصیل سره تر جائزی اخستلو وروسته یو انسان په کوم کی چی څه هم عقل او شعور وي ، په دی خبره د فکر کولو دپاره به مجبور وي چی د انسان د ژوند مقصد څه دی؟ او دده ډیپټي څه ده؟ او دا چی که دی خپل د ژوند مقصد پوره کوي نو ده ته ژوندی ویل لایق دی او که یی نه پوره کوي نو تر یوه مړ لاس زیات څه حقیقت نه لري ، اوس دا سوچ کول په کار دی چی د انسان د ژوند مقصد څه دی او دده فرائض څه دي؟ او ددی ذکر سوو اصولو مطابق دا متعینه ده چی که دی خپل د ژوند مقصد او خپله ډیټي اداکوي ، نو ژوند دی ، کنی د مړ ویلو لائق دی کومو یی پوهو او بی عقلو خلکو چی انسان دخانه یو ترکیدونکی (راشین کیدونکی) واښه یا یو هوښیار قسم حیوان ګڼلی دی او د دوی په نزد باندی په یو انسان ، خر او سپي کی هیڅ فرق نسته ، ددی ټولو د ژوند مقصد دوی خپل نفساني خواهشات پوره کول خوړل، چیښلو او بیده کیدل ، ویښیدل بیا مړه کیدل ګڼلي دي ، دغه دعقل او شعور دخاوندانو په نزد د مخاطب کولو قابل نه دی ، ددنیا هوښیاران برابره خبره ده که دهر مذهب او ملت او هر مکتب خیال سره چی تعلق لري دعالم دپیداکیدو څخه ترننه پوری دانسان کائنات اوبه اشرف المخلوقات کیدو باندی متفق راغلی دی او دا ښکاره ده چی ښه او اعلی هغه شی ګڼل او بلل کیږي چی دده د ژوند مقصد اعلی ، په ښه او بهتروالی کی لوړ او ممتاز وي ، او هر د پوهی او عقل خاوند انسان په دی هم پوه دی چی په خوړلو چیښلو او بیده کیدلو ، ویښیدلو، اوسیدلو، اغوستلو کی انسان د نورو حیواناتو څخه څه خاص امتیاز نه لري ، بلکه ډیر حیوانان ترده ښه او زیات خوري او چیښي، او ترده په ښه قدرتي کپړو کی پټ دی ، ترده په ښه هوا او فضاء کی اوسی او تر کومه حده پوری چی دخپلي نفعی او نقصان د پیژندو معامله ده ، په دی کی هم هر یوحیوان بلکه هره درخته تر یو حده پوری باشعوره ده ، دفائدو مندو شیانو حاصلول او دمضرو شیانو څخه دمحفوظ کیدو خاص صلاحیت په خپل ځان کی لري ، دغه ډول نورو ته دنفعی رسولو په معامله کی خو دټولو حیواناتو او نباتاتو قدم په ظاهره تر انسان هم مخکی په نظر راځي ، چی د دوی غوښه ، څرمن، هډوکي، پلی او د درختو د تنو څخه واخله تر شاخونو او پانو پوری هر شی دمخلوق دپاره دپه کار راتلو او دده د ژوند د ضرورتونو د پیداکولو بی شمیره فائده لري ، په خلاف د انسان څخه چی نه دده غوښه په څه کار راځي ، نه څرمنو نه ویښته نه هډوکی او نه پلی.

اوس دی ته کتل په کار دی چی په دی حالاتو کی بیا حضرت انسان په څه بنا باندی دکائناتو مخدوم او اشرف المخلوقات ګرځي ، اوس دحقیقت پیژندو منزل نژدی راغی ، چی لږ غوندي فکر وسي نو معلومه سی چی ددی ټولو شیانو د عقل او شعور رسایی یوازي تر موجوده ژوند او تر وقتی نفع او نقصان پوری ده او په دی ژوند کی دوی د نورو دپاره فائده مند په نظر راځي ، تردی ژوند مخکی څه وه او وروسته څه راتلونکی دی په دی میدان کی د نباتاتو او جماداتو څه چی د لویو لویو هوښیارانو حیوانانو عقل او شعور هم کار نه کوي ، او نه په دی میدان کی د دوی څخه څه شی د چا دپاره په کار راتلونکی یا فائده مند

Maktaba Tul Ishaat.com

کیدی سی . بس دا هغه میدان دی په کوم کی چی مخدوم د کائناتو، افضل دمخلوقاتو لره کار کول دي ، او په دی سره دده د نورو څخه امتیاز واضح کیږي .

معلومه سوه چی د انسان د ژوند مقصد دا دی چی دټول عالم پر ابتداء او انتها نظر واچول سی او ددی نتیجی او انجام مخ ته کړل سی او دا متعین سی چی په مجموعی اعتبار سره کوم شی نفع مند او فائده مند دی او کوم شی مضر او تکلیف ورکوونکی دی بیا په خپل عقل او پوهی سره دخان دپاره هم دفائده مندو شیانو د حاصلولو او د مضرو شیانو څخه دمحفوظ کیدو او نورو ته هم دفائده مندو شیانو طرف ته د بللو او دمضرو شیانو څخه د محفوظ کیدو اهتمام کوي ، ددی دپاره چی دهمیشه راحت اوسکون او اطمینان ژوند حاصل سی اوکله چی دانسان د ژوند مقصد او کمالِ انسانی دا معیاري فائده په خپله حاصولو او نور ته رسول دی نو اوس د قران دا مثال یو حقیقت جوړیږي او مخ ته راځي ، چی ژوندی یوازې هغه سړی دی کوم چی په الله ﷻ او دهغه په رسول ﷺ باندی ایمان راوړي او د عالم په ابتداء او انتهاء او ددی مجموعی په اعتبار سره نفع او نقصان د وحی الهی په رڼا کی وپیژني ځکه چی یوازي انساني عقل نه هیڅکله دا میدان سر کړي دی او نه یی سر کولی سي ، ددنیا لویو لویو عالمانو، عاقلانو، حکیمانو، فلسفیانو آخر ددی اقرار کړي دی ، مولانا رومي رحمه الله څه بنه فرمایي .

زیر کانِ موشگافان دهی	کرده هر خرطوم خطِ ابلهی

ددنیا لویو لویو هوښیارانو او پوهانو چی څومره په دی میدان کی سوچونه او فکرونه چلولی دی ، په آخر کی یی خپل هر څه بی کاره لیدلی دی .

او کله چی د ژوند د مقصد په اعتبار سره ژوندی یوازي هغه سړی دی کوم چی د الله ﷻ دوحی تابع او مومن وي ، نو دا هم متعینه سوه چی کوم داسی نه دی هغه ته د مړ ویلو حق سته ، مولانا رومي رحمه الله څه بنه فرمایی .

زندگی از بهر طاعت وبندگی است	بی عبادت زندگی شرمندگی است
آدمیت لحم وشحم وپوست نیست	آدمیت جز رضائی دوست نیست

ژوند دپاره دفرمانبرداری اوبندگي کولو دی ، بی عبادته ژوند خو شرم دی ، انسانیت غوښی ، وازگی او پوستکی ته نه ویل کیږي ، انسانیت دا دی چی دوست (یعني الله ﷻ) ورځخه راضی سی .

داقرآنی مثال وو دمومن او دکافر چی مومن ژوندی اوکافر مړ دی مثال یی د ایمان اوکفر د رڼا اوتیارې سره ورکړي دی .

ایمان نور دی او کفر تیاره ده: ایمان ته یی نور یعنی رڼا او کفر ته یی ظلمات یعنی تیاره ویلی ده ، که لږ فکر وسی نو دا مثال هم څه خیالی مثال نه دی ، دیو حقیقت بیان دی ، دلته هم د رڼا او تیاري په اصل مقصد چی فکر وسی نو حقیقت به یی مخ ته راسی چی د رڼا مقصد دا دی چی ددی په ذریعه نژدی او لیري شیان ولیدل سی ، ددی په ذریعه د فائدو مندو شیانو دحاصلولو او مضرو شیانو څخه د ځان ساتلو موقع ورته ورکول سی .

اوس ایمان ته وګوری چی هغه یو نور دی چی رڼا یی په ټولو آسمانونو او ځمکو او تردی تمامو دباندی په

Maktaba Tul Ishaat.com

هغو تولو شیانو خپره ده ، یوازي دا یوه رڼا ده چې دټول عالم دانجام او دټولو کارونو صحیح نتیجې ښوولی سي ، دچا سره چې دا نور وی هغه په خپله هم د ټولو نقصاني او ضرري شیانو څخه محفوظ کیدی سي ، او نور هم محفوظ کولی سی ، او چاته چې دا رڼا حاصله نه وي ، دی پخپله په تیارو کی دی ، دټول عالم او پوره ژوند په اعتبار سره چې کوم شی نفع مند او کوم مضر دی ، ددی هیڅ فرق نه سی کولی ، یوازی ورسره متصل څه شیان به په لاس وروړلو څه پیژندی سی ، د موجوده دنیا د ژوند دا شاوخوا ماحول دی ، کافر دا ژوند او ددی نفع نقصان خو پیژندی سی لیکن د وروسته راتلونکی پوره ژوند ده ته هیڅ خبر نسته او نه دی دهغه په نفع اونقصان باندی څه پوه دی ، قرآن کریم ددی مضمون دپاره ارشاد فرمایی .

يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِنَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ الْآخِرَةِ هُمْ غَافِلُونَ .

یعني دا خلک ظاهری ددنیا ژوند او ددی کره اوکوته خو پیژنی مګر د آخرت څخه قطعاً غافله دی .

په بل یو آیت کی دتیرو منکرو او کافرو امتونو کولو وروسته قرآن کریم فرمایی ، وکانوا مستبصرین : یعنی د آخرت په معامله کی داسی سخت غفلت او بی عقله نه وه بلکه روشن خیاله خلک وه ، لیکن دی ظاهری او سرسري روشن خیال یوازی ددنیا ددی څو ورځو ژوند ښائسته کړی وو ، د آخرت همیشه ژوند دپاره یی هیڅ کار ونه کړي .

ددی تفصیل تر اوریدو وروسته دقرآن مجید دغه ذکر سوي آیت بیا یو وار ووایاست .

أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِنْهَا .

مطلب دا دی چې هغه سړی کوم چې مخکی مړ یعني کافر وو ، بیامونږ هغه ته ژوند ورکی یعني مسلمان موکړه او مونږ ده ته یو داسی نور یعني ایمان ورکی چې دی په هغه سره په خلکو کی ګرځي ، دهغه سړي سره برابر کیدی سی چې مثال یی داسی دی چې هغه په قسم قسم تیارو کی ګیر وي چې دوتلو ورڅخه نه وي ، یعني دکفر په تیارو کی اخته دی ، دی پخپله خپله نفع او نقصان نه پیژنی او دهلاکت څخه نه سی محفوظ کیدی ، نو نورو ته به څه نفع ورسوي .

(د ایمان د نور فائده نورو ته هم رسیږي)

په دی آیت کی یی ، نوراً یمشی به في الناس : وفرمایل ، دی طرف ته یی هم هدایت کړي دی چې دایمان نور یوازی دمسجد ، خانقاه ، یاکونج او حجری سره مخصوص نه دی ، چاته چې الله ﷻ دا نور ورکړي دی هغوی دا دخلکو هر مجلس او هری جمعی ته رسوي ، او هرځای ددی د رڼا څخه په خپله هم فائده اخلی او نورو ته هم ورڅخه فائده رسويٙ ، نوڅ په هیڅ تیاري سڅ نه سی پټیدی ، لکه چې الیدڅ کیږي چې یوه نری نری رڼا کوونکی شمع هم په تیاره کی ښکاره کیږي او پټیږي نه ، که څه هم رڼایی لیری نه رسیږي چې رڼا تیزه وی نو تر لیری رسیږي ، چې کومه وي نو لږ ځای رڼا کوي ، مګر په تیاره باندی په هر حال غالبه وي ، هغه خو رڼا نه وي چې په تیاره باندی کمزوری سی ، دغه ډول هغه ایمان نه دی چې دکفر څخه مغلوب یا مرعوب سی ، د ایمان دا نور د انسان د ژوند په هره شعبه ، هر حال او هر دور کی دده سری دی ، دغه شان په دی مثال کی یوه بله اشاره دا هم ده چې څنګه د رڼا فائده هر انسان او حیوان ته په اراده یا بی له ارادی څخه په هرحال کی څه نا څه رسیږي فرض کړه چې نه د رڼا خاوند دا غواړي چې بل دی زما ددی رڼا څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

څه فائده واخلي مګر کله چې ربنا د چا سره وي ، نو ددې څخه په بې اختیاره او قدرتي طور باندې ټولو ته
فائده رسیږي ، دغه ډول دمومن دایمان څخه نورو ته هم څه ناڅه فائده رسیږي ، برابره خبره ده که په
پوهیږي او که نه ، د آیت په آخر کې ارشاد فرمایي ، كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكٰفِرِيْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ یعني ددې
واضحو او ښکاره دلیلو باوجود کوم منکران او کافران چې خبره نه مني دهغه وجه دا ده چې ، هر کس
بخیال خویش خبطي دار : هر سړی په خپل خیال کې ځان ته کامل وایي ، شیطان اونفساني خواهشاتو د
دوی په نظرونو کې د دوی بد عملونه دوی ته ښه او ښائسته جوړ کړي دي ، چې دا د دوی سخته غلطي ده .
(نعوذ بالله منه)

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ اَكٰبِرَ مُجْرِمِيْهَا لِيَمْكُرُوْا فِيْهَا ۚ وَمَا يَمْكُرُوْنَ اِلَّا بِاَنْفُسِهِمْ

او دارنګه کړي دي مونږ په هر کلي کې د ګناهګارانو سرداران چې حیلې کوي هلته او کومې حیلې چې کوي نو د خپل ځان د پاره کوي

وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ وَاِذَا جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ قَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ حَتّٰى

او فکر نه کوي ، او کله چې راسي دوی ته څه نښانه نو وایي چې مونږ هیڅکله نه منو ترڅو چې

نُؤْتٰى مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ رُسُلُ اللّٰهِ ؔۘ اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ

را نه کړل سي مونږ ته په شان دهغو چې ورکړل سوي دي دالله رسولانو ته ، الله ښه پیژني هغه موقعه کوم ځای چې

رِسَالَتَهٗ ؕ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا صَغَارٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعَذَابٌ

لیږي خپل پیغام ډیر ژر به ورسیږي ګناهګارانو ته ذلت دالله دطرف څخه اوعذاب

شَدِيْدٌۢ بِمَا كَانُوْا يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ

سخت په دې وجه سره چې دوی مکر کوي ، نو چاله چې الله غواړي چې هدایت ورته وکړي نو خلاصه کې

صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ ۚ وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا

سینه دده دپاره دقبلولو داسلام او چاله چې غواړي چې ګمراه یې کړي نو کړي سینه دده تنګه ډیره تنګه

حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِ ؕ كَذٰلِكَ يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲۵﴾

چې ګویا دی په زور سره ختیږي آسمان ته ، دغه شان راولي الله ﷻ عذاب پر ایمان نه راوړونکو باندې

لنډتفسیر: او (دا څه نوې خبره نه ده لکه څنګه چې دمکې سرداران دا جرمونه کوي او ددې په اثر سره نور
خلک شامليږي په کې) دغه ډول مونږ (په مخکې امتونو کې هم) په هر کلي کې دهغه ځای سرداران (اول) د

Maktaba Tul Ishaat.com

جرمونو کوونکي جوړ کړل (بیا ددي په اثر سره نور عوام هم د دوی سره یوځای سول) ددي دپاره چي دغه خلګ هلته (انبیاو علیهم السلام ته دضرر رسولو دپاره شرارتونه وکړي (چي په دې سره د دوی دعذاب مستحق کيدل ښه ثابت سي) اوهغه خلګ (که څه هم په خپل خیال کي نورو ته ضرر رسوی لیکن په واقع کي) دخپل ځان سره شرارت کوی (ځکه چي ددې وبال به دوی ته رسیږي) او (په انتهایی جهل سره) دوی ته (ددې) ګرسره خبر هم نسته او (ددې مکی دکافرانو جهل او جرم دې حد ته رسیدلی دی چي) کله دوی ته څه نښانه راسی نو (سره ددې چي هغه دخپل اعجاز په وجه سره دنبوت کافي دلیل وي ، مګر دا خلګ بیا هم) داسی وایي چي مونږ (په دې نبي باندې) هیڅکله ایمان نه راوړو ترڅو چي مونږ ته هم داسی شي رانه کړل سی کوم چي د الله ﷻ رسولانو ته ورکول کیږي (یعني وحی خطاب او یا صحیفه او کتاب په کوم کي چي مونږ ته تا باندې د ایمان راوړو حکم وي او ددې وینا لوي جرم والی ښکاره دی چي دروغ کول ، عناد او تکبر او ګستاخي ټول په کي شامل دي ، مخ ته الله ﷻ دا رد وي ، فرمایي چي) دا موقع خو خدای پاك ښه پیژني کوم ځای ته چي هغه خپل پیغام (دوحی په ذریعه سره) لیږي (نو آیا هر کس او ناکس ددې شرافت قابل سو ، دا خو چي خدای چا ته ورکوي دهغه اختیار دی ، مخ ته ددې جرم د سزا بیان دی چي) ډیر ژر به دی خلګو ته چا چي دا جرم کړي دی خدای پاك ته په رسیدو (یعنی په آخرت کي) ذلت ورسیږي (ځکه چي دوی خپل ځان دنبي په مقابله کي دعزت اونبوت مستحق ګڼلی وو) اوسخته سزا (به ورته ورکول کیږي) د دوی د شرارتونو په مقابله کي نو (لوړ چي کوم دمومن او کافر دحال ذکر دی ددې څخه دا معلومه سوه چي) کوم سړي ته الله ﷻ (دنجات) په لاره باندې روانول وغواړي دهغه سینه (یعنی زړه) داسلام (قبلولو) دپاره خلاصه کړي (چي ددې په قبلولو کي پیش او پس نه کوي او هغه نور دکوم چي ذکر سوی دی دا دی) او چا ته چي (تکویناً او تقدیراً) بې لاري ساتل غواړي دهغه سینه (یعنی زړه داسلام قبلولو څخه) تنګه (او) ډیره تنګه کړي (او ده ته اسلام راوړل داسی مصیبت ښکاري) لکه څوک چي (فرض کړه) آسمان ته ختل غواړي (او ختلی نه سی زړه یې تنګیږي اوپه یومصیبت کي اخته کیږي ، نو څنګه چي دا سړی نه سی ختلی) دغه ډول الله ﷻ په ایمان نه راوړونکو باندې (چونکي د دوی دکفر او شرارت په سبب) غضب اچوي (په دې وجه په دوی ایمان نه سی راوړی)

معلومات او مسئلي: د تیر آیت په آخر کي ذکر وو چي دا دنیا د امتحان کور دی ، دلته چي څنګه د ښو او نیکو عملونو سره څه محنت او مشقت لګیدلی وي ، د دوی په لاره کی دلته بندیزونه مخ ته راځي ، دغه ډول دبدو عملونو سره د څو ورځو نفساني خوندونو او خواهشونو د غولولو دپاره وي کوم چي دحقیقت او انجام څخه د غافل انسان په نظر کی دده بدعملونه ښائسته کوي او ددنیا لوي لوي هوښیاران په دې کی اخته کیږي ، دذکر سوو آیتونو څخه په اولنی آیت کی ددې بیان دی چي ددې امتحان او ازمائش یو طرف دا هم دی چي ددنیا دپیدا کیدو څخه هم دغسي را روانه ده چي دهرکلی سرداران او مالداران او لوی خلګ دحقیقت او انجام څخه غافله په دې فاني خوندونو کی مست سی او جرمونه کوي ، او دعوامو عادت دا دی چي په لویو خلګو پسی تلل او دهغوی نقل کول خپله نیک بختي ګڼي ، او انبیاء علیهم السلام او د دوی نائبین عالمان او مشائخ کوم چي دوی د دوی دبدو عملونو څخه منع کول او د دوی دانجام طرف ته متوجه

Maktaba Tul Ishaat.com

کول غواړي ، دا لوی خلک د دوی خلاف قسم قسم شراراتونه کوي ، کوم چې په ظاهر کې خو ددی بزرګانو خلاف شرارتونه او سازشونه او د زړه آزار رسولو سامان وي ، لیکن د انجام په اعتبار سره ددی ټولو وبال په خپله د دوی طرف ته راګرځي او اکثره په دنیا کې هم دا ښکاره کیږي .

په دې ارشاد کې مسلمانانو ته ددی خبر ورکول سوي دی چې د دنیا دغټانو سردارانو او مالدارانو پیښې دی نه کوي او په دوی پسې دټولو عادت دی هم پریږدي انجام ته کتل دي خپل شعار جوړ کړي او ښه او بد دی په خپله وپیژني ، دارنګه نبی کریم ﷺ ته دا تسلی ورکول مقصود دی ، چې دقریشو سرداران کوم چې ستامخالفت ته دریدلي دي په دی سره ته مه دلګیره کیږه دا څه نوی خبره نه ده ، دتیرو پیغمبرانو علیهم السلام سره هم دی خلګو داسې کړي دی او آخر هغوی رسوا او ذلیل سوي دی او د الله ﷻ کلمه لوړه سوي ده .

په دوهم آیت کې ددی قریشو دسردارانو د یو داسې خبرو اترو ذکر دی کوم چې دحق په مقابله کې دعناد او توقو مسخرو په انداز کې وی او بیا یی ددی جواب ورکړی .

امام بغوي رحمه الله په روایت دقتاده نقل کړي دی چې دقریشو تر ټولو لوی سردار ابوجهل یو وار وویل چې بنو عبد مناف (یعني دنبی کریم ﷺ خاندان) سره مونږ په هر محاذ مقابله وکړه چې په دی کی په هر محاذ کی مونږ د دوی څخه وروسته نه یو پاته سوی لیکن اوس هغوی داسې وایی چې تاسې په شرافت او بزرګی کی زمونږ مقابله څکه نه سی کولی چې زمونږ په خاندان کی یو نبی راغلی دی کوم ته چې دالله ﷻ دطرف څخه وحی راځي ، بیا یی وویل چې زه په الله ﷻ قسم اخلم چې مونږ به هیڅکله د دوی تابعداری ونه کړو ترڅو چې په خپله مونږ ته داسې وحی را نه سی ، لکه څنګه چې دوی ته راځی ، په ذکر سوی آیت کی د وَإِذَا جَاءَتْهُمْ آيَةٌ قَالُوا لَنْ نُؤْمِنَ حَتَّى نُؤْتَى مِثْلَ مَا أُوتِيَ رُسُلُ اللَّهِ . هم دا مطلب دی .

(نبوت اورسالت کسبي او اختیاري نه دی بلکه یو منصب دی چې دعطاء کولو اختیار یې یوازي دالله ﷻ په لاس کې دی)

قرآن کریم ددی خبري دنقل کولو څخه وروسته جواب ورکی ، الله اعلم حیث یجعل رسالته : یعنی الله ﷻ پوهیږي چې هغه خپل نبوت اورسالت چاته عطاء کوي ، مطلب دا دی چې دي بی وقوفو دخپل جهالت څخه دا ګڼلی ده چې نبوت او پیغمبري دخاندانی شرافت یا دقوم دسرداری اومالداری په ذریعه حاصلیدی سی حال دا دی چې نبوت دالله ﷻ دخلافت منصب دی چې ددی حاصلول دچا په اختیار کی نه دی ، دهر څومره کمالاتو ترحاصلولو وروسته هم څوک په خپل اختیار سره یا دکمال په زور سره نبوت اورسالت نه سی حاصلولی ، دا یوازي دالله ﷻ بخشش او عطاء ده ، هغه چې چا ته غواړي ورکوي یی .

ددی څخه ثابته سوه چې رسالت اونبوت څه کسبی او اختیاري شی نه دی چې په علمی عملی کمالاتو یا مجاهده او ریاضت او نورو سره حاصل سی ، یو سړی که دولایت په مرتبو کی هر څومره لوړ ولاړ سی ، خو هم نبوت نه سی حاصلولی بلکه دا محض دخدای فضل دی چې دخدای ﷻ دعلم اوحکمت ترمخه خاصو بندګانو ته ورکول کیږي ، ها ! دا ضروری ده چې کوم سړي ته د الله ﷻ په علم کی دا مقام او وعده ورکول منظور وي ، هغه د شروع څخه ددی قابل پیدا کول کیږي دده د اخلاقو او اعمالو خاص تربیت کول کیږي .

دآیت په آخر کی ارشاد فرمایی ، سَيُصِيبُ الَّذِينَ أَجْرَمُوا صَغَارٌ عِنْدَ اللَّهِ وَعَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا كَانُوا يَمْكُرُونَ : په دی کی لفظ د صغار حاصل مصدر دی چې معنی یی ده ذلت او رسوایی ، ددی جملی معنی دا ده چې دا د

Maktaba Tul Ishaat.com

حق مخالفت كوونكي چې نن د خپل قوم مشران او رئيسان دي، ډیر ژر به د دوی لويي اوعزت په خاورو کی گډ سی دوی ته دالله ﷻ په خوا کی سخت ذلت اورسوايي رسيدونکی ده اوسخت عذاب په راتلونکی دی.

د الله ﷻ دخوا مطلب دا هم کیدی سی چې دقیامت په ورځ کله چې دوی دالله ﷻ په مخکی حاضر سي ، نو ذلیل او خوار به حاضر سی او بیا به دوی ته سخت عذاب ورکول سی او دا معنی هم کیدی سی چې که څه هم دا وخت دوی ډیر عزتمند او رئیسان دي لیکن د الله ﷻ دطرفه دوی ته سخته رسوايي اوذلت رسیدونکی دی ، دغه په دنیا کی هم کیدی سی اوپه آخرت کی هم ، لکه چې دانبياء عليهم السلام دمخالفينو متعلق ددنیا تاریخ شاهد دی ، چې آخر د دوی مخالفين په دنیا کی هم ذليله سوي دي ، زمونږ دنبی کریم ﷺ لوی لوی مخالفين چې خپل عزت نغاری یی غښولی ، یو یو سوه یا خو په دائره داسلام کی داخل سول او کوم چې مسلمانان نه سول نو ذلیل او خوار سول او هلاک سول ، د ابوجهل ابو لهب قریشی سردارانو او نورو حال ددنیا ولیدی او دمکی په فتح باندی ددی ټولو ملاگانی ماتی سوی.

(په دين كي د سيني خلاصيدل او ددی نښاني)

په دريم آيت کی دالله ﷻ دطرف څخه دهدايت موندونکو او په گمراهي دپاته کیدونکو څه حالات او نښانی ښوول سوي دی ارشاد فرمایی ، فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ يعنی كوم سړي ته چې الله ﷻ هدايت كول غواړي ، نو دده سینه داسلام دپاره خلاصه کړي ، حاکم په مستندرک کی او بیهقی په شعب الايمان کی په روایت دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نقل کړي دي ، چې کله دا آیت نازل سو نو صحابه کرامو ﷺ دنبی کریم ﷺ څخه دشرح صدر یعنی داسلام دپاره د سینی دخلاصیدلو دتفسیر پوښتنه وکړه ، نوحضور ﷺ وفرمایل چې الله ﷻ دمومن په زړه کی یوه رڼا واچوی چې په دی سره دده زړه د حقی خبري اوریدلو، پوهیدلو او قبلولو ته خلاصیږي (حقه خبره په آسانی سره بیا قبلوي او دخلاف حق څخه یی نفرت او بیره وي) صحابه کرامو ﷺ عرض وکی ، چې آیا ددی څه نښانه هم سته ؟ چې په دی سره هغه سړی وپیژندل سی چې شرح صدر حاصل سوی وي ؟ وبی فرمايل هو؟ نښانه یی دا ده چې ددغه سړي ټوله مینه آخرت او دهغه دنعمتونو طرف ته سي ، ددنیا دبی خایه خواهشاتو او فاني خوندونو څخه وبیریږي او دمرگ تر راتلو مخکی دمرگ تیاري شروع کړي بیا فرمایی ، وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِ يعنی کوم سړی چې الله ﷻ په گمراهي کی ساتل وغواړي ، دهغه زړه تنگ اوسخت تنگ کړي ، ده ته دحقی خبری قبلول ، او په دی عمل کول داسی سخت وي ، لکه یو سړی ته چې آسمان ته ختل گران وي.

دتفسیر امام کلبی رحمه الله فرمایی چې ، دده دزړه تنگیدو مطلب دا دی چې په ده کی دحق او نیکی دپاره څه لار پاته نه سی ، دا مضمون دحضرت فاروق اعظم ﷺ څخه هم نقل دی اوحضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمایی چې کله دی دالله ﷻ ذکر اوری نو ده ته وحشت راځی یعنی ترهیږي ورڅخه اوکله چې دکفر او شرک خبري اوری نو زړه یی ورسره لگیږي.

(صحابه کرامو ﷺ ته په دين كي شرح صدر حاصل وو څكه ورته شكونه او شبهي ډيري كمي مخ ته راتلي)

دغه وجه وه چې صحابه کرامو ﷺ ته کوم چې الله ﷻ دخپل رسول ﷺ دصحبت اوبلا واسطی شاگردی دپاره منتخب کړی وه ، په اسلامی احکامو کی شبهی او وسوسی ډيري کمی مخ ته راتلي ، په ټول عمرکی

Maktaba Tul Ishaat.com

صحابه کرامو ﷺ چې کوم سوالات دنبي کريم ﷺ په مخکې پيش کړل ، هغه په شمير يوڅو وه ، وجه دا وه
چې دنبي کريم ﷺ دصحبت په فيض سره دالله ﷻ دلويي اومحبت زور نقش د دوی په زړونوکی ناست وو ، د
کوم په سبب چې دوی ته دشرح صدر مقام حاصل وو ، د دوی زړونه خود بخوده دحق اوباطل معيار جوړ
سوي وو ، حق به يې په آساني سره فوراً قبلوي اوباطل د دوی په زړونوکی لارنه پيدا کوله اوبيا چې څومره
چې دنبي کريم ﷺ دمبارکې زمانې څخه ليري کيدل ، شکونو او شبهو لار پيدا کول شروع کړل او دعقيدې
اختلاف شروع سو.

(دشکونو او شبهو ليري کولو اصلي طريقه بحث او مباحثه نه ده شرح صدر حاصلول دي)

ترننه پوري دنيا ددې شکونو او شبهو په ګيره کې مبنتي ده او دبحث او مباحثو په ذريعه ددې حل کول
غواړي ، کومه چې ددې خبرې صحيح لار نه ده .

فلسفي کو بحث کے اندر خدا ملتا نهی ڈور کو سلجها رها هے پر سرا ملتا نهی

فلسفي ته هر څومره بحث او مباحثې کوي خو ددې په ذريعه خدای نه سي موندی مزي څنګه خلاص کړي
چې سر يې نه سي پيدا کوی ، معامله خرابه ده .

لار خو هم هغه ده کومه چې دصحابه کرامو ﷺ او د امت دمشرانو وه ، چې دالله ﷻ کامل قدرت او دهغه
انعامونه به يې خپل مخ ته راوستل نو دالله ﷻ لويي اومحبت به په دوی کې پيدا سو اوشبهې به خود
بخوده ليري سوی ، دغه وجه ده چې په خپله قرآن کريم نبي کريم ﷺ ته ددې دعا غوښتلو تلقين فرمايلی
دی چې ، رب اشرح لی صدری : يعني ای پروردګاره! زما سينه خلاصه کړي ، دآيت په آخرکی فرمايي
كَذٰلِكَ يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ : يعني دغه ډول الله ﷻ په ايمان نه راوړونکو باندې عذاب
راولي او حقه خبره د دوی زړه ته نه لويږي او هر بدی ته په منډه ورځي .

وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا ۗ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۲۶﴾ لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ عِنْدَ رَبِّهِمْ

او دا لار ستا درب ده سيده ، مونږ واضحه کړي دي نښاني دغور کوونکو دپاره د دوی دپاره دی دسلامتيا کور

وَهُوَ وَلِيُّهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ۚ

د دوی درب سره اوهغه د دوی مددګار دی په سبب د دوی دعملونو ، اوپه کومه ورځ چې جمع کړي دا ټول ،

يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُمْ مِّنَ الْاِنْسِ ۚ وَقَالَ اَوْلِيٰٓؤُهُمْ

وبه فرمايي ای ډلې دپيريانو تاسې ډير څه تابع کړي وو دځان دانسانانو څخه ، او وبه وايي د دوی دوستان

مِّنَ الْاِنْسِ رَبَّنَا اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَّبَلَغْنَا اَجَلَنَا الَّذِيْٓ

دانسانانو څخه ای زمونږ ربه! کار اخستی وو مونږ ځينو په ځينو باندې او مونږ ورسيدو خپلې هغه وعدې ته

Maktaba Tul Ishaat.com

أَجَّلْتَ لَنَا قَالَ النَّارُ مَثْوٰىكُمْ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا إِلَّا مَا شَاءَ اللّٰهُ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾

کومه چې تاموږ ته مقرر کړې وه ، وبه فرمايي اور دی کور ستاسې وسيږي به په دې کې مگر کله چې وغواړي الله ، بېشکه ستا رب حکمت والا خبردار دی .

تفسير: او (لوړ چې دکوم اسلام ذکر دی نو) هم دا (اسلام) ستا د رب (ښوول سوی) نيکه لاره ده (چې په دې باندې په روانيدو سره نجات ورکول کيږي ، دکوم ذکر چې په ، مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ أَنْ يَّهْدِيَهُ : کې دی او ددی سيده لارې دوضاحت دپاره) موږ دنصيحت حاصلوونکو دپاره دا آيتونه صفا صفا بيان کړي دي (چې ددې داعجاز په وجه به دوی په دې سره دده تصديق کوي او بيا دده په مضامينو به عمل وکي او نجات به حاصل کړي ، دا تصديق او عمل نيکه لاره ده په خلاف د هغوی څخه د کومو سره چې دنصيحت حاصلولو فکر نه وی دهغوی دپاره نه دا کافي دی او نه نور کافي دی مخ ته ددغه منونکو د جزاء ذکر دی لکه څنګه چې د نه منونکو د سزا ذکر لوړ په څو جملوکې سوی دی چې) ددې خلګو دپاره د دوی دررب سره (چې ور ورسيږي) دسلامتيا (يعنې دامن اوبقا) کور (يعنې جنت) دی او الله ﷻ د دوی سره محبت ساتي د دوی د (نيکو) عملونو په وجه سره ، او (هغه ورځ د يادولو قابله ده) په کومه ورځ چې الله ﷻ ټول مخلوق جمع کړي (او په دوی کې بيا خاص کافران به حاضر کړي ، په دوی کې چې کوم دپيريانو شيطانان دی دوی ته به په زوره سره وويل سي چې) ای ډلې دپيريانو دغه ډول به د انسانانو څخه پوښتنه وسی ، أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَنْ لَا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ : غرض دا دی چې د پيريانو شيطانان به هم اقرار وکړی) اوکوم انسانان چې د دوی (شيطانانو) سره تعلق کوونکی وه ، هغوی به (هم په اقرار سره) ووايي چې ای زموږ پروردګاره! (ته صحيح فرمايي واقعي) په موږ کې يوه دبل څخه (په دې ګمراهي اوګمراه کولو کې نفساني) فائده حاصله کړي وه (لکه چې ګمراه انسانانو ته دکفر اوشرک پخپلو عقيدوکې خوند وی اوګمراه کوونکو شيطانانو ته په دې سره خوند حاصليږي چې زموږ وينا وچليده) او (په حقيقت کې موږ د دوی په غولولو سره دقيامت څخه منکر وو ، ليکن هغه انکار غلط ثابت سو لکه چې) موږ دې خپل معين ميعاد ته را ورسيدو ، کوم چې تا زموږ دپاره مقرر کړی وو (يعنې قيامت راغی) الله ﷻ به (ټولو کفارو دپيريانو او انسانانو ته) وفرمايي چې ستاسې دټولو ځای دوزخ دی چې هميشه هميشه به په کښې اوسيږي (دوتلو به ورڅخه هيڅ لار او تدبير نه وي) ها! که خدای ﷻ ته (ايستل) منظور وی نو بيله خبره ده (ليکن دا يقيني ده چې خدای هم نه غواړي په دې وجه به په کښې هميشه ياست) بېشکه ستا رب لوي حمت والالوی علم والا دی (په علم سره د ټولو جرمونه معلوموي او په حکمت سره مناسبه سزا ورکوي)

معلومات او مسئلې: په ذکر سوو آيتونو کې په اولنی آيت کې نبی کريم ﷺ ته خطاب دی ارشاد فرمايي ، وهذا صراط ربک مستقيماً: يعنې دا لار ستا د رب ده برابره په دې کې په لفظ د ، هذا سره په قول دابن عباس ؓ داسلام طرف ته اشاره ده اوپه قول دابن مسعود ؓ دقرآن طرف ته (روح) معنی دا ده چې دا قرآن يا اسلام شريعت کوم چې تا ته درکول سوی دی دا لار ستا د رب ده ، يعنې داسې لار ده چې ستارب په خپل حکمت بالغه سره منتخبه کړي ده ، او دا يې خوښه کړي ده ، په دې کې يې د لارې اضافت او نسبت د رب

Maktaba Tul Ishaat.com

طرف ته وکړي او دي خبرې ته يې اشاره وکړه چې دقرآن او اسلام کوم دستور العمل چې تاته درکول سوي دي په دې باندې عمل کول څه دالله ﷻ د فائدې دپاره نه دي بلکه دعمل کوونکو دفائدې دپاره د الله ﷻ د شانِ تقاضا په بنا باندې دي ، ددې په ذريعه د انسان داسې تربيت کول مقصود دي چې په کښې دده دائمي کاميابي او خوشحالي ضمانت وي .

بيا په دې لفظ درب نسبت يې نبي کريم ﷺ طرف ته وکړی په ده صلی الله عليه وسلم باندې يې د يو خاص لطف اوعنايت اظهار وفرمايي چې ستا پروردګار دا لار منتخبه کړې ده ، ددې نسبت خوند اهلِ ذوق محسوس کولی سي چې يو بنده ته دخپل رب دطرف څخه ادنی نسبت حاصليدل هم دده دپاره د انتهايي فخر شي دي ، او که رب الارباب او معبود دکائناتو خپل خان دده طرف ته منسوب کړي ، چې زه ستا يم نو دده دقسمت به څه ووايي ، حضرت حسن نظامي په دې مقام کې فرمايي .

بنده حسن بصد زبان گفت که بندۀ تو ام تو بزبان خود بگو که بنده نواز کيستی

حسن خو په خپله ژبه سل واره وويل چې زه ستا بنده يم خو ته په خپله ژبه ووايه چې ته بنده پالونکی دچايي؟ تردې وروسته يې ددې قرآن لارې دا حال په لفظ د ، مستقيماً سره بيان کې چې دا لار نيکه لار ده ، په دې کې يې هم مستقيم دصراط دصفت په طور باندې د راوړلو په ځای دحال په طريقه سره په ذکر کولو سره دې طرف ته اشاره وکړه چې کومه لار پروردګار عالم منتخبه کړې ده په دې کې غير دمستقيم والي اوسيده والي څخه بل احتمال ګرسره کيدی نه سي (روح وبحر) تردې وروسته يې وفرمايل قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ : يعني مونږ دنصيحت قبلوونکو دپاره دا آيتونه صفا صفا بيان کړي دي .

فصلنا : د تفصيل څخه جوړ دی ، د تفصيل اصل معنی دا ده چې د مضمون تجزيه وکړي اويو يو فصل جلا جلا بيان کړي ، په دې طريقه سره ټول مضمون ذهن ته راځي ، په دې وجه دتفصيل مطلب صفا صفا بيانول سوه ، مطلب دا دی چې مونږ بنيادي او اصولي مسئلې صفا صفا په تفصيل سره بيان کړي دي چې په دې کې څه مجمل والی يا ابهام باقي نه دی پاته سوی ، په دې کې يې دلقوم يذکرون : په فرمايلو دا وښوله چې که څه هم دقرآن ارشادات بالکل واضح او صفا دي ، ليکن ددې څخه فائده هغه خلګو واخيسته کوم چې دنصيحت حاصلولو په قصد سره په قرآن کې فکر کوي ، دضد اوعناد او پلار او نيکه د رسمونو د نقل کولو په دې د دوی په مينځ کې نه حائلې کيږي ، په دوهم آيت کې ارشاد فرمايي لهم دارالسلام عند ربهم : يعني دکومو خلګو چې لوړ ذکر وسو چې دوی دقرآن هدايتونه قبلوي ، د دوی دپاره د دوی درب سره د دارالسلام انعام موجود اومحفوظ دی ، په دې کې لفظ د، دار معنی کور او د، سلام معنی دټولو مصيبتونو او محنتونو څخه د سلامتيا ده ، په دې وجه دار السلام هغه کور ته ويل کيږي ، په کوم کې چې د تکليف، مشقت، رنج، غم آفت او مصيبت ګرسره راتلل نه وي او ښکاره خبره ده چې دا جنت کيدی سي . اوحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي چې ، سلام دالله ﷻ نوم دی او د : دارالسلام معنی ده ، دالله کور او ښکاره خبره ده چې دالله کور دامن او سلامتيا ځای وي ، په دې وجه دمعنی مطلب بيا هم دا سو چې هغه کور به کوم کې چې دهرقسم امن ، سکون، سلامتيا اواطمينان وي، جنت ته يې دارالسلام وفرمايل او دې طرف ته يې اشاره وکړه چې يوازې جنت هغه ځای دی ، کوم ځای کې چې به انسان ته دهرقسم تکليف،

Maktaba Tul Ishaat.com

پریشاني او نقصان او هر خلاف طبع شی ځخه مکمل او همیشه سلامتیا حاصله وي، چې په دنیا کی به نه هیڅکله تر لویو لالوي بادشاه ته حاصله سوي وي او نه هیڅ کله تر لویو لالوي نبی او رسول ته. ځکه چې د فاني دنیا دا عالم دداسی مکمل او همیشه راحت ځای نه دی.

په دی آیت کی یی دا ښوولی ده چې ددی نیک بختو خلګو دپاره د دوی درب سره دارالسلام دی ، درب سره دکیدو دا معنی هم کیدی سی چې دا دارالسلام دلته نقد نه ورکول کیږي ، بلکه کله چې دوی د قیامت په ورځ دخپل رب خواته ولاړ سی ، هغه وخت به ورکول کیږي او دا معنی هم کیدی سی چې د دار السلام وعده غلطه کیدی نه سی ، رب کریم ددی ضامن دی هغه دده سره محفوظه ده اوپه دی کی دی طرف ته اشاره ده چې ددغه دارالسلام نعمتونه او راحتونه نن هیڅوک په تصورکی هم نه سی راوستی ، هم هغه رب پوهیږي دچا سره چې دا خزانه محفوظه ده ، او د دوهمی معنی په اعتبار سره ددی دارالسلام ورکول کیدل په قیامت او آخرت پوری موقوف نه معلومیږي ، بلکه دا هم کیدی سی چې رب کریم چا ته چې وغواړي په دی دنیا کی هم دارالسلام ورنصیب کول کیږی چې دټولو آفتونو اومصیبتونو ځخه یی امن په نصیب کړي ، برابره خبره ده که داسی وي چې په دنیا کی ورته ګر سره ځه آفت او مصیبت ونه رسیږي ، لکه چې په تیرو انبیاؤ علیهم السلام او اولیاؤ کی ددی مثالونه موجود دي او یا داسی چې دآخرت دغه نعمونه دده په مخکی راولي دده نظر داسی حقیقت شناس جوړکړي چې ددنیا دځو ورځو دا تکلیف اومصیبت دده په نظرونو کی ډیر سپک او معمولی سی په نظر ورځي ، دمصیبتونو یو غر هم ده ته د وښو تر تیلی ځخه کم په نظر ورځی.

رنج راحت شد چو مطلب شد بزرگ ‌ ‌ ‌ ‌ ګرد ګله تو تیائی چشم ګرګ

تکلیف راحت وګرځي هرکله چې مقصد لوی وی ، لکه شرمښ ته چې د ګلی دوړه د سترګو رانجه وي.

ددنیا دتکلیف په مقابله کی چې کوم انعامات ورکیدونکی وي هغه دوی ته داسی مخامخ سی چې دا تکلیفونه ورته بیا خوند ناک معلومیږي او دا ځه لیري خبره نه ده وګوی چې دآخرت همیشه نعمتونه خو ډیر لوی شی دی ، ددنیا ددی ځو ورځو دراحت تصور انسان ته ځومره لوی لوی محنتونه او مشقتونه خواږه جوړوي چې سفارشونه او رشوتونه پیش کوي د آزادی راحت قربانوی اوخوب او آرام ختمونکی ملازمت او مزدوری په شوق سره طلب کوي ، او دملازمت او مزدوري دمحنت په ورکول کیدو سره خوشحالی کوی او شکرونه ادا کوي ، ځکه چې دده په مخکی دیو دیرش ورځو پوره کیدو ځخه وروسته ورکول کیدونکي تنخواه خوند وي ، دغه خوند ددی ملازمت او مزدوري هغه ټول تریخوالی خوږوي ، د قرآن کریم دا آیت ، وَلِمَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَانِ :یوتفسیر دا هم دی چې ، د خدای ﷻ ځخه بیریدونکو ته به دوه جنتونه ورکول کیږي ، یو په آخرت کی دوهم په دنیا کی ، ددنیا جنت دا وي چې اول دده په هر یو کار کی د الله ﷻ مدد شامل وي ، هر یو کار ورته آسانه په نظر ورځي ، او که هیڅکله یوه ورځ تکلیف ، مشقت یا ناکامي ورته هم را نه سي نو دآخرت دنعمتونو په مقابله کی ورته هغه خوندناک معلومیږي چې په دی سره ورته دا تکلیف هم راحت جوړ سی.

لنډه داده چې په دی آیت کی دنیکوخلګودپاره ددوی درب سره چې دکوم دارالسلام ذکردی هغه دارالسلام په

Maktaba Tul Ishaat.com

آخرت کی خویقینی اومتعین دی اوداهم کیدی سی چی په دی دنیاکی هم دته ددارالسلام خوندورکول کیږي
په آخر دآیت کی ارشاد فرمایی : وهو ولیهم بما کانو یعملون : یعنی د دوی دنیکو عملونو په وجه الله ﷻ د
دوی ولی کار ساز ناصر او مدد گار سی او دده مشکلات آسانه سی په دریم آیت کی په میدان دحشر کی
دټولو پیریانو او انسانانو ترجمع کولو وروسته د دواړو ډلو سره دسوال او جواب ذکر دی چی الله ﷻ به
دپیریانو شیطانانو ته خطاب وکړي د دوی دجرم اظهار به داسی وفرمایی چی تاسی دانسانانو په گمراه
کولوکی لویه حصه اخیستی ده ، ددی په جواب کی به پیریان څه ووایی ، ددی ذکر قرآن نه دی کړی . دا
ښکاره خبره ده چی دعلیم اوخبیر په مخکی د اقرار څخه ماسوا بله چاره نسته مگر د دوی داقرار په نه ذکر
کولو کی دی طرف ته اشاره ده چی په دی سوال باندی به دوی داسی حیران سی چی دجواب دپاره به یی ژبه
ونه چلیږي (روح)

تردی وروسته د انسانانو شیطانان یعنی هغه خلگ چی په دنیا کی د شیطانانو تابع وه په خپله هم گمراه وه
او د نورو هم د گمراهی سبب جوړ سوی وه ، ددغه خلگو دطرف څخه د الله رب العالمین د درگاه څخه یو
جواب ذکر سوي دی ، که څه هم سوال د انسانانو دشیطانانو څخه نه دی سوی ، مگر په ضمنی طور سره
گواکی دوی هم مخاطب وه ، ځکه چی دوی هم دگمراهی ښوولو هغه کار کړی وو ، کوم چی دشیطانانو د
پیریانانو وو ، ددی ضمنی خطاب په وجه سره دغه خلگو جواب ورکړی ، مگر ظاهره ده چی په خپله د
انسان نما شیطانانو څخه به هم سوال وي چی ذکر یی صراحةً که څه هم دلته نسته مگر دسورة یاسین په
دی آیت کی ذکر دی ، أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَنْ لَا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ : یعنی ای انسانانو
آیا مونږ تاسی ته درسولانو په واسطه سره داسی نه وویل چی دشیطان تابعداري مه کوی؟ ددی څخه
معلومه سوه چی دانسانی شیطانانو څخه به هم په دی موقع سوال پوښتنل کیږي او دوی به په جواب کی
اقرار وکي چی بیشکه زمونږ څخه دا جرم سوی دی چی مونږ دشیطانانو خبره ومنله او دا به ووایی چی
بیشکه پیریانو شیطانانو زمونږ سره او مونږ د دوی سره دوستانه تعلقات جوړ کړل ، دیو بل څخه مو دنفع
حاصلولو لاري ورڅخه ازده کړي او کله کله به یی دشیطانانو پیریانو په نوم نذرانی ورکولی او یا به یی په
څه بله طریقه د دوی څخه امدد هم غوښتی ، لکه په بت پرستو هندوانو بلکه په ډیر جاهلو مسلمانانو کی
هم داسی طریقی مشهوري دي چی دهغوی په ذریعه دشیطانانو او پیریانو څخه په خینو کارونو کی
کومک غوښتل کیږي او پیریانو شیطانانو دانسانانو څخه دا فائده حاصله کړه چی د دوی خبره ومنل سوه
او دوی دانسانانو په خپلو تابعدارانو جوړولو کی کامیاب سول ، تردی پوري چی دوی مرگ او آخرت هیر
کړل او دا وخت دی خلگو اقرار وکی چی کوم مرگ او آخرت مونږ دشیطان په غولولو سره هیر کړی وو
اوس هغه مونږ ته مخ ته راغی ، نو د الله ﷻ ارشاد به وسی ، النَّارُ مَثْوَاكُمْ خَالِدِينَ فِيهَا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ إِنَّ رَبَّكَ
حَكِيمٌ عَلِيمٌ : یعنی ستاسی د دواړو ډلو دجرم سزا اوس دا ده چی ستاسی ځای اور دی چی همیشه به په
کښی اوسیږي ، مگر دا چی الله ﷻ چا ته ددی څخه ایستل وغواړي ، لیکن د نورو نصونو له مخی قرآن
کریم شاهد دی چی الله ﷻ به داسی ونه غواړي ، نو په دی وجه همیشه به په کی اوسیږي .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَكَذٰلِكَ نُوَلِّيْ بَعْضَ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضًا بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اَلَمْ

اودا رنګه به مونږ یو خای کړو ګناهګاران دیو بل سره د دوی دعملونو په سبب ، ای تولیه دپیریانو او انسانانو

يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ

آیا نه وو درغلی تاسی ته رسولان ستاسی څخه چی او رول یی تاسی ته زما حکمونه او بیرول یاست تاسی

لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۭ قَالُوْا شَهِدْنَا عَلٰٓي اَنْفُسِنَا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ

دملاقات ددې ورځی ستاسی څخه ، وبه وایی چی مونږ اقرار وکړو په خپلو ګناهونو او دوکه کړل دوی ژوند

الدُّنْيَا وَشَهِدُوْا عَلٰٓي اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۰﴾ ذٰلِكَ

د دینا او قائله سو دوی په خپل خان ددې خبری چی دوی کافران وه ، دا په دی

اَنْ لَّمْ يَكُنْ رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰي بِظُلْمٍ وَّاَهْلُهَا غٰفِلُوْنَ ﴿۱۳۱﴾

وجه چی ستا رب هلاکوونکی نه دی کلولره ، د دوی دظلم له کبله اوخلق ددغه خای ناخبره وی

وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ۭ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۲﴾

او دهر یوه دپاره درجی دی د دوی دعمل او ستا رب ناخبره نه دی د دوی دکارونو څخه .

تفسیر: اولکه څنګه چی په دنیا کی دګمراهی په لحاظ سره په تولوکی تعلق اوقرب وو دغه ډول په دوږخ کی) خینی کفاربه دخینوکفارو سره نژدی (اویوخای) سی د دوی دعملونو (دکفر) په سبب (داذکر سوی خطاب خو پیریانو او انسانانو ته په اعتبار د دوی دیوبل سره دتعلق لرلو ؤ ، مخ ته اوس هر یوه ته د دوی دهر یوه دخپل تعلق په لحاظ سره خاص خطاب دی چی) ای ډلی دپیریانو او دانسانانو نو دا وواياست چی تاسی کوم کفر او انکار کوی نو) آیا تاسی ته په تاسی کی پیغمبران نه وه راغلی چی تاسی ته یی زما حکمونه (عقیدو او عملونو متعلق) بیانول او تاسی ته یی ددی ورځی (دواقع کیدو) خبر درکوی (بیا څه وجه وه چی تاسی دکفر او انکار څخه نه واپس کیدی دوی تول به عرض وکړي چی مونږ تول په خپل خان (د جرم) اقرار کوو، زمونږ سره هیڅ وجه د عذر او د براءت نسته ، مخکی الله ﷻ دوی ته ددی مصیبت دورپیښیدو وجه ښیی) او دوی (دلته) ددنیا ژوند په هیره کی اچولی دی (چی ددنیا خوندونه یی مقصد ګڼلی دی آخرت ته یی فکر نسته) او (ددی ثمره دا سوه چی هلته) به دا خلګ اقرار وکړي چی دوی (یعنی مونږ) کافران وه (او په غلطه باندی وه ، مګر دهغه خای په اقرار هیڅ نه کیږي که په دنیا کی یی لږ دا غفلت لیری کولی نو دا بده ورځ به یی ولی لیده ، مخ ته درسولانو په رالیږلو کی چی مخکی یی ذکر وو دخپل

Maktaba Tul Ishaat.com

رحمت اظهار فرمايي چي) دا (د رسولانو لیږل) په دي وجه دي چي ستا رب دیوکلي خلک د (دوی د) کفر سبب (په دنيا کي هم) په داسي حالت کي نه هلاکوي چي ددی کلي اوسيدونکي (دخدای ﷻ دحکمونو څخه درسولانو دنه راتلو په وجه) ناخبره وي (نو دآخرت عذاب چي ډير سخت دی ، دا به هيڅکله نه وای ، نو په دي وجه رسولان راليږي چي دوی په خپل جرم خبر سی او بيا چي څوک په عذابيږي نوهغه به يې مستحق وي ، لکه چي مخکي فرمايي) او(کله چي رسولان راغلل او هريوه ته پته ولګيده نواوس چي هرڅوک څه کوي) هر يوه ته به (دپيريانو او انسانانو صالحانو او بدانو څخه به دجزا اوسزا هم دغسي) درجي ورکول کيږي د دوی دعملونو په سبب او ستا رب د دوی دعملونو څخه بی خبره نه دی .

معلومات او مسئلي: د ذکر سوو آيتونو په اولني آيت کي د لفظ د ، نولی دعربی لغت په اعتبار سره دوی ترجمي کيدی سی ، يوه دملګري کولو او نژدی کولو او دوهمه دمسلط کولو ، دتفسير د امامانو، اصحابو ، او تابعينو څخه هم دواړه روايتونه ددی تفسير نقل دی .

(په محشر کي به د خلکو ټولي د عملونو په لحاظ سره وی ددنيا د تعلقاتو په بنياد نه وي)

حضرت سعيد بن جبير ؒ او قتاده اونوروواوله ترجمه اختياره کړي ده دآيت مطلب يې دا مقرر کړي دی چي دقيامت په ورځ به دالله ﷻ په نزد دخلکو ټولی اوجماعتونه دنسلي يا وطني يا رنګ او ژبی په بنا باندی نه وي ، بلکه دعملونو او اخلاقو په بنياد باندی به وي ، دالله ﷻ فرمانبرداره مسلمانان چي به هرځای وي ، هغوی به دمسلمانانو ملګري وی اونافرمانه کافران چي کوم ځای وي ، هغوی به دکافرانو ملګري وی که څه هم د دوی په نسل ، نسب، وطن، ژبه، رنګ او معاشرت کی هر څومره فرق لیري والی او اختلاف وي .

بيابه په مسلمانانوکی هم نيک ديندراه دديندارو سره وی او ګناهګار بدعمله به د بد عملو سره وي ، په سورة کورت کی چي کوم ارشاد دی چي واذا النفوس زوجت : يعني دخلکو به جوړي او ټولګی جوړي سی ، ددی هم دامطلب دی چي د عملونو او اخلاقو په اعتبار سره به د محشر خلک په ټولګيو کی تقسيم سی .

حضرت عمر فاروق اعظم ؓ ددی آيت په تفسيرکی فرمايي چي ديوقسم نيک يابدعلم کوونکی به يوځای سی ، نيکان خلک به دنيکانو سره جنت ته او بدان به دبدو سره دوږخ ته ورسول سی ، او ددی مضمون د تائيد دپاره فاروق اعظم ؓ دقرآن کريم د آيت ، احشروا الذين ظلموا وازواجهم : څخه دليل وفرمايي ، چي مضمون يې دا دی چي دقيامت په ورځ د ذکر سوي آيت دمضمون خلاصه دا سوه چي الله ﷻ به ځيني ظالمان د نورو سره کړي ، يوه ټولی به ورڅخه جوړه کړي ، که څه هم په نسلی او وطنی اعتبار سره په دوی کی هرڅومره ليري والي وي ، او په يو بل آيت کی هم دا خبره واضحه بيان سوي ده چي په محشر کی به دا دنيوی او رسمی يو والی چي نن په خلکو کی د نسل، وطن، رنګ او ژبه او نورو په بنيادونو قائم دی ، ټول به بيخی ختم سی ، يو تقوم الساعة يومئذ يتفرقون : يعنی کله چي قيامت قائم سی نوکوم خلک چي په خپل مينځ کی يو او متفق وي ، هغوی به جلا جلا سی .

(په دنيا کي هم د علمونو او اخلاقو په اجتماعي معاملو باندی اثر)

اوددی موجوده قرابتو اوتعلقاتو رمسی ډلو په او پريکيدل به په قيامت کی خو ښکاره او په ډاګه دټولوپه مخکی راسی مګرپه دنياکی هم ددی کوچنی ډول نمونه هرځای ليدل کيږي چي دنيکو خلکو دنيکانو سره

Maktaba Tul Ishaat.com

مناسبت وي ، د دوی دډلی اوسوسائتی سره تړلی وي او دغه ډول په نیکو کارونو کی د یو بل سره مرسته کوي او ارادی یی مضبوطیږي ، دغه ډول دبدکردارو دخان په ډول دبدانو سره تعلق او مینه وی او د هغوی سره یی ناسته پاسته وي او د دوی په ملګرتیا کی د دوی په بد عملی او بد خلقی کی روزانه نوي نوی اضافی کیږي او دنیکۍ لاري د دوی مخ ته بندیږي ، دا د دوی د بد علمی نغده سزا دوی ته په دنیا کی ورکول کیږي.

لنډه دا چی دنیکو او بدو عملونو یوه جزا او سزا خو به په آخرت کی ورکول کیږي او یوه جزا او سزا نغده به په دی کی دنیا کی داسی ورکول کیږي چی نیک بنده ته به ملګري هم نیک او دیانتدار ورکول کیږي چی دده کار ته به ترقی ورکوي او بد او بد نیته بنده ته بد عمله او د کار ملګري هم دده په ډول ورکول کیږي چی دی به نور زیات کندی ته وراچوي ، نبی کریم ﷺ فرمایلی دي چی کله الله ﷻ دیو بادشاه او حاکم څخه راضي سی نو ده ته ښه وزیران او ښه عمله ورکړي ، چی دده د حکومت ټول کارونه په برابر او په ترقی سی او کله چی ورڅخه الله ﷻ ناراضه سی ، نو ده ته عمله او دکار ملګری ناکاره او بدکاره ورکړي ، نو دی که ښه کار کول هم غواړي نو قدرت به نه کړي پر پیدا .

﴿یو ظالم ته د ظالم دلاسه سزا ورکول کیږي﴾

دذکرسوی آیت دا مطلب دترجمی په اعتبار سره دی ، او دحضرت عبدالله بن عباس ؓ عبدالله بن زبیر ؓ ابن زید ؓ مالک بن دینار او نورو څخه ددی آیت تفسیر د دوهمی ترجمی په اعتبار سره دا نقل دی چی الله ﷻ خینی ظالمان په خینو مسلط کوي او دغه ډول یو ظالم ته دبل دلاسه سزا ورکوي ، دا مضمون هم پر خپله خای صحیح اودرست دی اودقرآن شریف دنورو ارشاداتو مطابق دی ، په یو حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی کماتکونون کذلک یؤمرعلیکم: یعنی څنګه چی تاسی یاست دغسی به حاکمان په تاسی مسلط کیږي . که تاسي ظالمان او بدکاره واست ، نو ستاسی حاکمان به هم ظالمان او بدکاران وي ، او که تاسی نیک عمله اونیک کرداره یاست نوالله ﷻ به ستاسی حاکمان رحم دله اومنصف مزاجه خلګ جوړکړي ، حضرت عبدالله بن عباس ؓ فرمایی چی کله الله ﷻ دیوقوم سره ښه کول وغواړي نو په دوی باندی ښه حاکمان او امیران مسلط کړي اوکله چی دیوقوم سره بدکول وغواړي نو په دوی باندی ناکاره حاکمان او بادشاهان مسلط کړي (بحرِ محیط)

په تفسیرِ روح المعاني کی دی چی فقهاؤ ددی ایت څخه په دی باندی دلیل نیولی دی چی کله رعیت او عوام دالله ﷻ څخه روی ګردانه (مخ اړوونکی) سی اوپه ظلم او زیاتی کی اخته سي ، نوالله ﷻ پردوی ظالمان حاکمان مسلط کړي او د دوی په لاسونو باندی دوی ته سزا ورکوي ، او ابن کثیر په روایت د عبدالله ابن مسعود ؓ دنبی کریم ﷺ دا فرمان نقل کړي دی چی ، من اعان ظالمان سلطه الله علیه : یعنی کوم سړی چی دظالم په ظلم دده مدد کوي ، نو الله ﷻ دا ظالم دده د ازارولو دپاره په ده مسلط کوي او دده په لاسو باندی ده ته سزا ورکوي .

په دوهم آیت کی دیو سوال جواب ذکر دی ، کوم چی به په محشرکی پیریان او انسانان مخاطب کړي ، ویه کړل سی ، چی ستاسی په کفر او دخدای ﷻ په نافرمانی کی داخته کیدو څه سبب دی؟ آیا تاسی ته زمونږ رسول نه وو در رسیدلی کوم چی ستاسی دقوم څخه وو چی زما آیتونه یی تاسی ته اورول او هدي ورځ د

Maktaba Tul Ishaat.com

حاضري او حساب څخه به يې بيرولاست؟ ددې په جواب کې ددې ټولو دطرف څخه درسولانو دراتلو او د
حق پيغام د اورولو او ددې باوجود په کفر او نافرمانۍ کې داخته کيدو ذکر سوي دی؟ او د دوی دطرف
څخه څه وجه او سبب ددې غلط کارۍ نه دی ذکر سوی ، بلکه الله ﷻ ددې وجه دا ښوولې ده چې ، وغرتهم
الحياة الدنيا : يعني دا خلک ددنيا ژوند اوخوندونو په دوکه کې اچولي دي چې دوی هرڅه دا ګڼلي دي
کوم چې په حقيقت کې هيڅ نه وه او انجام او عاقبت څخه غافله سول په قول د اکبر مرحوم .

تھی فقط غفلت ہے غفلت عیش کا دن کچھ نہ تھا ہم اسے سب کچھ سمجھتے تھے وہ لیکن کچھ نہ تھا

يعني ددنيا عيش اوعشرت هيڅ هم نه وو يوازي غفلت اوغفلت وو ، مونږ داهرڅه ګڼل اوپه حقيقت کې هيڅ هم نه وو
په دې آيت کې يوه خبره خو دا دفکر قابله ده چې په ځينو نورو آيتونو کې خو دا ذکر دی چې دمشرکانو
څخه کله چې په محشرکې د دوی دکفر اوشرک متعلق پوښتنه وسي، نو دوی به دخپل جرم څخه منکر سي
او دالله رب العزت په دربار کې به قسم وخوري او دا دروغ به ووايي چې ، والله ربنا ما کنا مشرکين يعني
قسم دی زمونږ په الله ﷻ باندې چې مونږ هيڅکله مشرکان نه وو او ددې آيت څخه معلوميږي چې دوی به
په خپل شرک اوکفر په پښيمانتيا سره اقرار وکړي په دې دواړوکې په ظاهره تعارض اواختلاف معلوميږي،
مګرپه نورو آيتونوکې ددې وضاحت اوتشريح داسې موجوده ده چې په اول کې کله چې د دوی څخه پوښتنه
وسي نومنکر به سي ، مګر دغه وخت به الله ﷻ په خپل قدرت کامله سره د دوی ژبې بندې کړي دلاسونو.
پښو او نورو اندامونو څخه به يې شاهدي واخلي ، دالله ﷻ په کامل قدرت سره به دوی ته دخبرو کولو
طاقت ورکول سي او دې به صفا صفا ټول عملونه لوي او کوچني بيان کړي او دغه وخت به پيريانو او
انسانانو ته معلومه سي چې زمونږ لاسونه ، پښې او ټول اندامونه دقدرت کارخانې خفيه پوليس وه ، کومو
چې دټولو معاملو او حالاتو رښتيني او صحيح شاهدي ورکړه ، نو اوس به دوي ته د انکار هيڅ ګنجائش
پاته نه سي ، دغه وخت به دا خلک صفا صفا د جرم اقرار وکړي .

(آيا په پيريانو کې هم رسولان وي؟)

دوهمه خبره دلته دا دفکر قابله ده چې په دې آيت کې الله ﷻ پيريان او انسانان دواړه مخاطب کړي دي او
دا يې ورته فرمايلي دي چې آيا زمونږ رسولان تاسې ته نه دي راغلي کوم چې ستاسې دقوم څخه وه ، ددې
څخه دا ظاهريږي چې لکه څنګه چې انسانانو ته رسولان انسان ليږل سوي دي دغه ډول پيريانو ته رسولان د
پيريانو دقوم څخه ليږل سوي دي ، په دې مسئله کې دتفسير اوحديث دعالمانو خبري مختلفې دي دځينو
وينا دا ده چې رسولان او نبيان يوازې انسانان راغلي دي ، د پيريانو په قوم کې هيڅ رسول بې له واسطې نه
دي راغلی ، بلکه داسې سوي دي چې د انساني رسول او پيغمبر کلام خپل قوم ته د رسولو دپاره دپيريانو
په قوم کې څه خلک داسې راغلي دي کوم چې په حقيقت کې درسولانو قاصدان او پيغام رسونکي وه ، په
مجازي طور سره دوی ته هم رسولان ويل کيږي ، ددې حضراتو دليل دقرآن مجيد دا آيتونه دي ، په کومو
کې چې يې دپيريانو داخبري ذکر کړي دي چې دوی دنبي کلام يا قرآن واوريدی او خپل قوم ته يې ورسوی
مثلاً، ولوا الی قومهم منذرين : اودسورة جن آيت ، فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا (۱) يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ : او نور
ليکن دعلماؤ يوجماعت ددې آيت دظاهري معنی په اعتبار سره ددې هم قائل دي چې ترخاتم الانبياء ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

مخکې دهري ډلې رسول د دغه ډلې څخه به وو، د انسانانو په مختلفو طبقو کې به انسانان رسولان راتلل او د پېریانو په مختلفو طبقو کې به د پېریانو څخه رسولان راتلل، د حضرت خاتم الانبیاء ﷺ دا خصوصیت دی چې دی ﷺ د ټول عالم د انسانانو او پېریانو واحد رسول رالیږل سوی دی او هغه هم د څه یوې زمانې د پاره نه بلکه تر قیامته پورې د پیدا کیدونکو ټولو پېریانو او انسانانو د پاره دی او دا ټول د ده ﷺ اهت دی او دی ﷺ بې رسول او پیغمبر دی.

(د هندوانو معبودان هم عموماً پېریان دي په دوی کې د څه رسول یا نبي کیدو احتمال)

د تفسیر په امامانو کې کلبي او مجاهد او نورو دا قول اختیار کړي دی او قاضي ثناء الله صاحب پاني پتی په تفسیر مظهري کې ددې قول په اختیارولو سره فرمایي چې ددې آیت څخه ثابتیږي چې تر حضرت آدم ﷺ مخکې د پېریانو رسولان د پېریانو په قوم کې به وه او کله چې دا ثابته ده چې په مخکه باندې تر انسانانو په زرګونو کلونه مخکې پېریان آباد وه او هغوي هم د انسانانو په ډول د احکامو مکلف دي نو د عقل او شرع په بنا ضروري ده چې په دوی کې دي د الله ﷻ د احکامو رسوونکي رسولان او پیغمبران وي.

حضرت قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله فرمایي چې د هندوستان هندوان چې د خپل، وید تاریخ په زرګونو کلونه مخکې ښیي او خپل معبودان او بزرګان چې دوی ورته، اوتار وایي، د دغه زمانې خلګ ورته وایي. هیڅ لیرې نه ده چې دا هم د پېریانو رسولان او پیغمبران وي او د هغوي راوړل سوي هدایتونه دوی د څه کتاب په شکل کې جمع کړي وي، د هندوانو د اوتارو چې کوم تصویرونه په مندرونو «د هندوانو په عبادتخانو» کې ایښوول کیږي هغه هم ددې انداز دی چې د چا څو څو مخونه دي د چا ډېر لاسونه او پښې دي د چا د فیل په ډول خرتم «شونډک» دی چې د عامو انساني شکلونو څخه ډېر مختلف دی او د جناتو په داسې شکلونو باندې جوړیدل څه لیرې خبره نه ده، نو په دې وجه څه لیرې خبره نه ده چې د دوی اوتار د پېریانو په قوم کې راغلي رسولان یا د دوی نائبان وي او د دوی کتابونه هم د دوی د هدایتونو مجموعې وي او بیا په کې کرار کرار د نورو کتابونو په ډول تحریف سوی وي او شرک او بت پرستي یې په کښې داخله کړې وي، او بیا هم په هرحال که د دغه اصل کتاب او رسولان د کومو چې که صحیح هدایتونه هم موجود وي خو د نبي کریم ﷺ د بعثت او رسالت څخه وروسته هغه هم منسوخ او ناقابل عمل سوی دی او تر مسخ کیدو او تحریف کولو وروسته خو په دوی عمل نه کول ښکاره خبره ده.

په دریم آیت کې دا ښوول سوي ده چې په انسانانو او پېریانو کې رسول لیږل د الله ﷻ د عدل او انصاف او رحمت تقاضا ده چې هغه په یو قوم داغسې عذاب نه رالیږي ترڅو چې هغوي ته اول پیغمبر ونه لیږي او هغوی بیدار نه کړي او د هدایتونو رڼا ور ونه لیږي، د څلورم آیت مطلب ښکاره ده چې د الله ﷻ په نزد په انسانانو او پېریانو کې دهري طبقي درجې مقرري دي او دا درجې د دوی د عملونو مطابق دي په دوی کې دهر یوه جزا او سزا به د دوی د عملونو د وزن په برابر وي.

وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ ۚ إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِنْ

او ستا رب بې حاجته رحمت والا دی، که وغواړي نو تاسي لیرې کړي او ستا وروسته به ودروي

Maktaba Tul Ishaat.com

بَعْدِكُمْ مَّا يَشَآءُ كَمَآ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ اِنَّ مَا

چا لره چي وغواړي لكه چي تاسي يي پيدا كړاست دنورو داولاد څخه ، دكوم شي

تُوْعَدُوْنَ لَاٰتٍ ۙ وَّمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۱۳۴﴾ قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا

چي تاسي سره وعده كول كيږي هغه خامخا راتلونكي دي او تاسي نه سي عاجزه كولى، ته ﷺ ووايه اى خلقو تاسي كاركوئ

عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ تَكُوْنُ لَهٗ

په خپل ځاى زه هم كاركوم ، نو ډير ژر به پوهه سي تاسي ، چي چا ته رسيږي

عَاقِبَةُ الدَّارِ ۗ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۱۳۵﴾ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ

دآخرت كور ، په يقين سره به خير نه وي دظالمانو ، او مقرر كوي الله لره دهغه په پيداكړو

مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ

فصلونو اوحيوانانوكي يوه حصه بيا وايي دا حصه دالله ده په خيال د دوى

وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ۚ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ اِلَى اللّٰهِ ۚ وَمَا

او دا زمونږ دشريكانو ده نو كومه حصه چي د دوى دشريكانو ده هغه نه رسيږي الله طرف ته ، او كومه

كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ يَصِلُ اِلٰى شُرَكَآئِهِمْ ۗ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۱۳۶﴾

چي دالله ده هغه رسيږي د دوى دشريكانو طرف ته ، څه ناكاره انصاف كوي

لنډتفسير: اوستا رب (رسولان څه ددى دپاره نه ليږي چي نعوذ بالله هغه عبادت ته محتاج دي هغو څخه) بالكل بى حاجته دى (بلكه په دى وجه يى ليږي چي هغه) رحمت والا (هم) دى (په خپل رحمت سره يى رسولان وليږي چي د دوى په ذريعه خلګوته نفع رسوونكى شيان معلوم سى او بيا دنفع مندو څخه نفع واخلي او دضررناكو څخه ځان وساتي ، نو په دى كي دبندګانو فائده ده ، اوباقى دهغه بى حاجتى خو داسى ده چي) كه هغه وغواړي نو تاسي ټول به (ددنيا څخه فوراً) پورته كړي اوستاسي څخه وروسته كوم (مخلوق) چي وغواړي ستاسي په ځاى بى يى (په دنيا كى) آباد كړي لكه چي (مثل يى دمخكى څخه موجود دى چي) تاسي يى (كوم چي اوس موجود ياست) ديوبل قوم دنسل څخه پيداكړي ياست (چي د هغوي هيڅ پته نسته او تاسي دهغوي په ځاى موجود ياست او دغه ډول داسلسله را روانه ده ، ليكن دا سلسله پيړى پر پيړى قائمه ده ، كه مونږ وغواړو نو فوراً هم داسى كولى سو ، خكه چي د چا په سته والى او

Maktaba Tul Ishaat.com

نه سته والی باندی زمونږ څه کار نه بندیږي نو د رسولانو لیږل زمونږ د حاجت په وجه سره نه دی ، ستاسی دحاجت په وجه سره دی ، تاسي ته په کار دی چی د دوی تصدیق او تابعداري وکړي ، خوشبختي حاصله کړي او دکفر او انکار دضرر څخه محفوظ سی ځکه چی) دکوم شي (د رسولانو په ذریعه) ستاسی سره وعده کول کیږي (یعنی قیامت او عذاب) هغه بیشکه راتلونکی شی دی او (که احتمال وي چی که څه هم قیامت راهم سی نو مونږ به یوځای وتښتو په لاس به ورنه سو، لکه چی په دنیا کي دحاکمانو مجرم کله ناکله داسی کولی سی ، نو ښه پوه سی چی) تاسی (خدای ﷻ) نه سی عاجزه کولی (ی په لاس به یی ورنه سی ، او که چیري سره ددی چی په حق باندی دلیلونه قائم سوي دی چا ته په دی کی څه خبره وی چی دکفر طریقه ښه ده داسلام دا ناکاره ده ، نو بیا دقیامت څخه څه بیره ده نو دداسی خلګو په جواب کی) ته (ﷺ) آخری خبره دا وفرمایله چی ای زما قومه! (تاسی پوه سی ، ښه دی) تاسی په خپل حال باندی کار کوی زه هم (په خپل طور سره) عمل کوم نو اوس ژر به تاسی ته معلومه سی چی ددی دنیا (دعملونو) دکار انجام به د چا دپاره نفع مند وي (زمونږ دپاره اوکه ستاسی دپاره او) دا یقینی خبره ده چی دحق ضائع کونکی (دانجام) په هیڅکله کامیابی نه وي (او تر ټولو زیات د الله ﷻ حق ضائع کول دی او دا کار په صحیح دلیلونوکی په لږ فکر کولو سره معلومیدی سی چی داسلام طریقه حق ضائع کول دي اوکه دکفر طریقه، اوڅوک چی په دلیلونوکی فکر نه کوي ، دوی ته دومره ویل بس دي ، فسوف تعلمون : یعنی ډیر ژر به تاسی ددی بدعمل به انجام پوه سی) او الله ﷻ چی کوم فصلونه (او نور) او حیوانان پیداکړي دي دی (مشرکانو) خلګو د دوی څخه څه حصه د الله (د نوم) مقرره کړه (او څه یی دبتانو دنوم مقرره کړه حال دا دی چی په پیداکولو کی ورسره هیڅوک شریک نسته) اوبه خپل ګمان اوقصدسره وایی چی دا خو دالله ﷻ ده (کومه چی دمیلمنو، مسافرو اومسکینانو او نورو دپاره په عامو مصرفونو کی صرف کیږي) او دا زمونږ معبودانو ده (دکومی چی مصرفونه خاص دی) بیا چی کوم شی د دوی دمعبودانو (د نوم) وي نوهغه دالله ﷻ (دنوم دحصی) وطرف ته نه رسیږي (بلکه که اتفاقاً یوځای هم سی خو بیا یی ورڅخه جلا کوي) او کوم شی چی دالله ﷻ (د نوم) وي ، هغه د دوی دمعبودانو (دنوم دحصی) وطرف ته رسیږي دوی څه بیکاره انتخاب جوړکړي دی (ځکه چی اول خو دالله ﷻ پیداکړی دبل په نوم ځنګه کول کیږي ، دوهم بیا څومره چی یی دالله ﷻ حصه ایستلی وي ، تر هغه یی هم کموي ، اوکه دا خبره په غناء او احتیاج مبني وي ، نومحتاج یی منل او بیا یی معبود ګڼل نوره زیاته بی عقلی ده)

معلومات او مسئلي: ددی څخه په مخکی آیت کی دا ذکر وو چی دالله ﷻ همیشه دا دستور دی چی د پیریانو او انسانانو په هرقوم کی یی خپل رسول او خپل هدایتونه لیږلی دی او ترڅو چی یی درسولانو په ذریعه دوی خبرکړی نه وي ترهغه وخته پوری یی د دوی دشرک اوکفر او ګناه او نافرمانی په وجه دوی ته سزا نه ده ورکړی په ذکر سوو ایتونوکی یی په اولنی آیت کی داښوولی ده چی درسولانو او آسمانی کتابونو داټوله سلسله ددی دپاره نه وه چی درب العالمین څه زمونږ عبادت او طاعت ته حاجت وو یا دده څه کار زمونږ په اطاعت باندی موقوف وو، داسی نه ده هغه بالکل بی حاجته او غنی دی . مګر دده ددی کاملی استغناء او بی نازی سره په ده کی یوصفت درحمت هم دی اوټول عالم په وجودکی راوستل بیایی باقی

Maktaba Tul Ishaat.com

ساتل او د دوی دظاهري او باطني موجوده او آئنده ټولو ضرورتونو بی غوښتلو پوره کول ددی ټولو سبب هم صفت د رحمت دی ، که داسی نه وی نوعاجزه انسان خو دخپلو ضرورتونو په خپله دپیداکولو قابل خو لاڅه کوي دده سره خو دخپلو بی غوښتلو حاجتونو دغوښتلو سلیقه هم نسته ، خصوصاً دوجود دا نعمت چی کوم ده ته ورکول سوي دی ، ددی بی غوښتلو ورکول کیدل بالکل واضح دی ، چی یو انسان هیڅ کله هم دخپلو پیداکیدو دعا نه ده غوښتلی او نه په وجود کی تر راتلو مخکی ددعا غوښتلو څه تصور کیدی سی ، دغه ډول د انسان پیدائش چی دکومو کومو اندامونو څخه سوی دی ، سترګی ، غوږونه، لاس، پښې ، زړه، دماغ، آیا دا شیان انسان غوښتی وه ، او که ده ته هیڅلکه ددی دغوښتلو څه پوهی او سلیقه هم نه وه ؟ هیڅ نه بلکه .

ما نبودیم وتقاضائی ما نه بود لطف تو ناگفتۀ ما می شنود

زه نه وم او نه زما د خپلو پیداکیدو څه خواهش او آرزو وه ، خو ستا مهرباني زما نا ویلی خبري اوریدی .

﴿الله جل جلاله دټولو څخه بي نیازه دی د کائناتو پیداکول یوازي د هغه د رحمت نتیجه ده﴾

په هرحال په دی آیت کی د ، ربک الغنی په الفاظو سره درب الارباب د بی حاجتی بیانولو سره یی د، ذو الرحمة اضافه وکړه او دا یی وښووله چی هغه که څه هم ستاسی دټولو بلکه دتمام کائنات څخه بالکل بی پروا او بی حاجته دی ، لیکن د بی نیازی سره هغه درحمت خاوند هم دی .

﴿یو انسان الله ﷻ نه دی بي نیازه کړی په دی کي لوي حکمت دی که انسان بي نیازه شي نو ظلم کوي﴾

او دا دهغه پاک ذات کمال دی ګنی د انسان عادت دا دی چی که دی دنورو څخه بی نیازه او مستغنی سی نو دده سره بیا دنورو د راحت او رنځ ، نفع او نقصان هیڅ پرواه نه پاته کیږي ، بلکه په دی حالت کی بیا دی په نورو باندی زور ظلم او زیاتی ته تیار سی ، دقرآن کریم په یوآیت کی ارشاد دی ، اِنَّ الْاِنْسَانَ لَيَطْغٰى (٦) اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰى : یعنی انسان چی کله خان بی نیازه اومستغنی پیداکړي ، نو دی سرکښی او زور او زیاتی ته تیار سی ، په دی وجه الله ﷻ انسان دداسی ضرورتونو په چکر کی اچولی دی چی دنورو د امداده بغیر نه پوره کیږي ، تر لویو لالوي بادشاه او حاکم نوکرانو چاکرانو او چپړاسیانو ته محتاج دی ، تر لویو لا لوي مالدار او دمل مالک مزدورانو ته محتاج دی ، سهار چی څنګه یومزدور اورکشه چلوونکی دڅه پیسو حاصلولو اودخپلی محتاجی لیري کولو دپاره د روزګار په تلاښ کی وزي ، خاص دغه ډول لوی مالداران کومو ته چی غنیان ویل کیږي ، هغوی دمزدور، رکشي اوګاډي په تلاښ کی راوزي ، قدرت ټول دمحتاجی په یو زنځیرکی تړلی دي ، هر یو دبل محتاج دی ، دچا په چا باندی احسان نسته اوکه دا نه وای نونه به یو مالدار چاته یوه پیسه ورکړی وای اونه به یو مزدور د چا څه بار لوړ کړی وو دا خو یوازي دالله ﷻ صفت دکمال دی چی دکاملی استغناء او بی نیازی باوجود هغه رحمت والا دی ، دلته که یی د ذوالرحمة په ځای لفظ درحمان یارحیم راوړی وای ، نوهم به دخبري مقصد حاصل سوی وای ، لیکن دغنی والی سره بی درحمت دصفت دخاص مطابقت داهمیت دظاهرولو دپاره عنوان د ذوالرحمة اختیار وفرمایی چی هغه دغنی اومکمل بی نیازه کیدوباوجود درحمت صفت هم مکمل لري اوداصفت درسولانو او کتابونو لیږلو اصلي سبب دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

تردی وروسته یې دا وښوولې چې لکه څنګه دده رحمت عام او تام دی ، دغه ډول دده قدرت په هر شي او هر کار باندې حاوي دی ، که هغه وغواړي نو تاسي په یوه لمحه کې فنا کولی سي او دټول مخلوق په فنا کولو سره هم دهغه دقدرت په کارخانه کې ادنی ډول فرق هم نه راځي ، بیاکه هغه وغواړي نوموجوده ټول کائنات به فنا کړي ، د دوی په ځای به نور مخلوق دغه ډول هم په دغه آن کې پیداکړي ، ددې یو مثال د انسان په هر دور کې دده مخ ته راځي ، چې نن کوم په کروړونو انسانان دمځکې په هره حصه کې آباد او د ژوند په ټولو شعبوکې یې مختلف کارونه چلوي که دنن څخه سل کاله مخکې دنیاته وکتل سي نومعلومه به سي چې هغه وخت هم دا دنیا دغه ډول آباده وه او ټول کارونه چلیدل ، مګر دموجوده آبادوونکو اوکار چلوونکو څخه یوهم نه وو ، یوبل قوم وو چې اوس ترمځکې لاندې دي دکومو چې نن نوم اونښانه هم نه لیدل کیږي ، اوموجوده ددنیا دغه مخکې قوم دنسل څخه پیداسوي ده ، ارشاد دی .

إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِنْ بَعْدِكُمْ مَا يَشَاءُ كَمَا أَنْشَأَكُمْ مِنْ ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ آخَرِينَ : یعنی که الله ﷻ وغواړي نو تاسي ټوله به لیرې کړي دلیرې کولوڅخه مراد داسي فنا کول دي ، چې نوم اونښانه یې ورکه سي ، او په دې وجه یې دلته دهلاکولو یاوژلو ذکر ونه کړي ، بلکه لیرې کول یې ارشاد وفرمایل چې په دې کې محض دفناکولو اونوم اونښانه ورکولو طرف ته اشاره ده ، په دې آیت کې ذالله ﷻ دغني اوبې نیازه کیدو، بیا دصاحب رحمت کیدو اوبیاد کامل قدرت دمالک کیدو څخه وروسته په دوهم آیت کې نافرمانو اوحکم نه منونکو ته خبرداري دی چې .

إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَآتٍ وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ : یعنی الله ﷻ چې تاسي دکوم عذاب څخه بیروی هغه خامخا راتلونکی دی ، او که تاسي ټول یوځای سي هم دخدای عذاب نه سي منع کولی په دریم آیت کې بیاد غفلت څخه دبیداره کولو دپاره یې یوه بله طریقه اختیارکړه وي فرمایل ، قُلْ يَا قَوْمِ اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَنْ تَكُونُ لَهُ عَاقِبَةُ الدَّارِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ : په دې کې نبی کریم ﷺ ته خطاب دی چې ته دی اهل مکه وو ته ووایه چې ای زما قومه ! که تاسي زما خبره نه مني نو ستاسي اختیار دی مه یې مني اوپه خپل حالت په خپله عقیده دخپل عناد مطابق عمل کوی ، زه هم دخپلې عقیدې مطابق عمل کوم ، زما په دې کې هیڅ نقصان نسته ، لیکن ډیر ژر به تاسي ته معلومه سي چې دآخرت دکور نجات اوفلاح چاته حاصلیږي ، په دې ښه پوه سي چې ظالمان یعنی حق ضائع کوونکی هیڅکله فلاح نه سي ترلاسه کوی .

اودتفسیر امام ابن کثیر ددې آیت په تفسیر کې دې طرف ته هم اشاره فرمایلې ده ، چې دلته یې په آیت کې ، من تکون له عاقبة الدار : فرمایلي دي ، عاقبة الدار الاخرة یې نه دي فرمایلي ، ددې څخه معلومیږي چې داخرت دکورڅخه مخکې ددنیاپه کورکې هم اخرفلاح اوکامیابي دالله ﷻ نیکانو بندګانو ته حاصلیږي لکه چې دنبي کریم ﷺ او صحابه کرامو ﷺ حالات په دې شاهد دي ، چې په لږ زمانه کې ټول دقوت او اقتدار خاوندان د دوی په مخکې خوار او ذلیل سول او ملکونه یې د دوی په لاسونو فتح سول ، په خپله درسالت په زمانه کې ټوله جزیره عرب دده ﷺ ماتحت سوه ، دیمن اوبحرین څخه واخله دشام ترحده پوری د دوی حکومت خپور سو ، بیا دده ﷺ دخلفاؤ او صحابو په لاسو تقریبًا پوره دنیاداسلام دجنډې لاندې راغله او دالله ﷻ دا وعده پوره سوه ، كَتَبَ اللهُ لَأَغْلِبَنَّ په دویم آیت کې ارشاد دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ : يعنی مونږ دخپلو رسولانو مدد کوو او دهغه خلقو چی ایمان راوړی په دی دنیاکی هم اوپه هغه ورځ هم کله چی په عملونو شاهدی کوونکی په شاهدی ودریږي : یعنی دقیامت په ورځ .

په څلورم آیت کی یی دعربومشرکان د دوی په یوه خاصه ګمراهی اوغلط کاری باندی خبردار کړی دی ، دعربوداعادت ووچی دفصل اوباغونواودارنګه دتجارت څخه به څه پیداوارچی وسوپه دی کی به یی یوه حصه دالله ﷻ دپاره اویوه حصه دخپلوبتانودپاره ویستله ، دالله ﷻ دنوم حصه به یی په غریبانو فقیرانو اومسکینانو خرڅ کوله اودبتانودنوم حصه به یی دبت خانی په محاورانو اوحفاظت کوونکو خرڅ کوله . اول خو د دوی دا ظلم څه کم ظلم نه وو چی ټول شیان الله ﷻ پیداکړی دی اودهرشی پیداوار هم هغه ورکوی اوبیادهغه د ورکړل سوو شیانو کی بتان شریکوی اوپه دی دپاسه به یی ظلم دا کوی چی که چیری په پیداوار کی به څه کمی راغی نو دکمی به یی دالله ﷻ په حصه باندی په دی وینا سره پوره کول چی الله ﷻ غنی دی ، زمونږ دشیانو محتاجه نه دی او دبتانو حصه به یی هم پوره کوله اودخپل استعمال حصه هم کله چی به داسی وسوه چی دبتانو دحصی څخه یا د دوی دخپلی حصی څخه به څه شی دالله ﷻ په حصه کی ولویدی دحساب پوره کولو دپاره به یی ددې څخه ویستی او که معامله به په عکس وسوه چی دالله ﷻ دحصی څخه به دبتانو په حصه کی یا د دوی په حصه کی څه شی راغلی نوهغه به یی هلته پریښووی ، او دا به یی ویل چی الله خوغنی دی که دده دحصی څخه څه شی کم هم سی نو خیردی ، قرآن کریم د دوی دا ګمراهی اوغلط کاری ذکر کړی ده او فرمایی ، سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ : یعنی ددې خلقو دا فیصله خومره ناکاره اودشرم ده چی چا دوی او د دوی ټول شیان پیدا کړل ، نو اول یی دهغه سره نور شریك کړل بیا یی دهغه حصه هم په مختلفو بهانو سره نوروته نقل کړه .

(کافرانوته په دی خبرداری کي دمسلمانانو دپاره عبرت)

دا خودعربو مشرکانوته په یوه ګمراهی اوغلط کاری باندی خبرداری وه ، ددی سره په دی ضمن کی دهغو مسلمانانو دپاره هم دعبرت تاز یانه ده ، کوم چی دالله ﷻ ورکړی ژوند اودهغه د ورکړی اندامونو پوره طاقت په مختلفو حصو کی تقسیموی ، دعمر او وخت یوه حصه دالله ﷻ اودهغه دعبادت دپاره خاص کوی ، حال دا دی چی حق دا وو چی دعمر ټول وختونه اوساعتونه یی دهغه دعبادت اوطاعت دپاره وقف وی ، دانسانی ضرورتونو اومجبورو دپاره یی ددې څخه څه وخت دځان دپاره هم ویستل ، او حق خودا دی چی بیا هم دهغه دشکر حق نه اداکیږي ، مګر زمونږ حال دا دی چی په شپه او ورځ څلویشو ساعتونو کی که مونږ څه وخت دالله ﷻ دیادو او دعبادت دپاره مقرر کړی هم وی خوکله چی څه ضرورت راپیښ سی نو نه دخپل کار په وخت کی خلل راولو ، نه دآرام په وخت کی ، ټوله نزله په هغه وخت کی ګوزار وو ، کوم چی دلمانځه ، تلاوت یاعبادت دپاره مقرر وی ، که څه کار راپیش سی یا بیماری یا څه بل ضرورت ، نودټولو څخه اول ددې اثر په هغه وخت لویږي کوم چی مونږ دالله ﷻ دذکر یاعبادت دپاره خاص کړی وی ، دا څومره غلطه فیصله اوناشکری ده الله ﷻ دی مونږ ټول مسلمانان ددې څخه وساتی (آمین)

Maktaba Tul Ishaat.com

وَكَذٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ شُرَكَاؤُهُمْ

او دارنګه ښائسته کړی دی ډیرو مشرکانو ته قتل د اولاد د دوی د دوی شریکانو

لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ ۖ وَلَوْ شَاءَ اللّٰهُ مَا فَعَلُوهُ

چې هلاک کړی دوی او خلط ملط کړی په دوی دین د دوی، او که الله ﷻ غوښتلای نو دوی به دا کارنه

فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٧﴾ وَقَالُوا هٰذِهِ أَنْعَامٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ

وای کړی نو پریږده دوی پوه سره او د دوی دروغ، او وایي چې دا حیوانان او فصل منع دی

لَّا يَطْعَمُهَا إِلَّا مَن نَّشَاءُ بِزَعْمِهِمْ وَأَنْعَامٌ حُرِّمَتْ

دا به هیڅوک نه خوری مګر چاله چې مونږ غواړو د دوی په خیال او په ځینو حیوانانو یې سپرتیا حرام کړل

ظُهُورُهَا وَأَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُونَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا افْتِرَاءً عَلَيْهِ ۚ

او په ځینو حیوانانو د ذبح په وخت کې د الله نوم نه اخلی، په الله دروغ جوړوی

سَيَجْزِيهِم بِمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٨﴾ وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هٰذِهِ

ډیر ژر به هغه سزا ورکړی دوی لره، د دې دروغو، او وایي کوم بچی چې د دې حیوان په نس

الْأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِّذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰ أَزْوَاجِنَا ۖ وَإِن يَكُن

کې دی، دا به خاص زمونږ سړی خوری، او دغه حرام دی زمونږ په ښځو او کوم بچی

مَّيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَاءُ ۚ سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ ۚ إِنَّهُ حَكِيمٌ

چې مړوی نو دده په خوراک کې به ټول برابر وی، هغه به سزا ورکړی دوی لره، د دوی د بیانونو هغه حکمت والا

عَلِيمٌ ﴿١٣٩﴾ قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا أَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ

پوه دی، بیشکه خراب سول چاچې قتل کړو اولاد په ناپوهی سره بغیر د علم څخه

وَحَرَّمُوا مَا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ افْتِرَاءً عَلَى اللّٰهِ ۚ قَدْ ضَلُّوا وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿١٤٠﴾

او حرام یې کی هغه رزق چې الله ورلره ورکی، دروغ جوړول په الله باندی بیشکه دوی ګمراه سول او نه سول لار پیدا کونکی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دآیتونوترون : په تیرو آیتونو کی دمشرکانو دباطلو عقیدو دکفر اوشرك بیان وو ، په دی آیتونو کی د دوی دعملی غلطیو اوجاهلانو رسمونو ذکر دی ، دکومو جاهلانه رسمونو ذکر چی په دی آیتونو کی راغلی دی ، هغه دا دی .

اول په غله اومیوه کی څه حصه دالله په نوم جلا کوی اوڅه دبتانو اوشیطانانو په نوم ، بیااتفاقًا که دالله ﷻ دحصی څخه څه دبتانو په حصه کی یوځای سی نو هم دغه شان یی پریږدی ، اوکه معامله په عکس وسی نولیری کوی یی اودبتانو حصه پوره کوی ، او بهانه دا وه چی الله ﷻ غنی دی ، دده حصه که کمه سی نوهیڅ نقصان نسته اوشریکان محتاج دی ، د دوی حصه کمول نه دی په کار ، ددې ناکاره رسم بیان ددی ذکر سوو آیتونو څخه په مخکې آیتونو کی راغلی دی .

دویم رسم دا وو چی بحیره ، سائبه حیوان به یی دبتانو په نوم باندی پریښوول اودا به یی ویل چی دا کار دالله ﷻ دخوشحالی دپاره دی ، په دی کی هم دبتانو حصه دا وه چی عبادت دهغوی وو او دالله ﷻ حصه دا سوه چی دا به یی دالله ﷻ خوشنوی ګڼله .

دریم رسم دخپلو لوڼو دقتل کولو وه .

څلورم رسم ځینی فصل به یی دبتانو په نوم کوی او ویل به یی چی ددی اصل مصرف صرف سړی دی ، ښځوته ددی څخه څه ورکول نه ورکول زمونږ په مرضی باندی دی د دوی حق دمطالبی نسته .

پنځم رسم به یی دغه شان کار په څاروو کی کوی چی ځینی به یی په کی دسړو دپاره خاص کول .

شپږم رسم چی کوم څاروی به یی دبتانوپه نوم پریښوول په هغوی به یی سپرتیاکول اوبار وړل حرام ګڼل .

او وم رسم ، ځینی څاروی به یی خاص کول چی په هیڅ موقع به یی پری دالله نوم نه اخستی ، نه دلشلو په وخت کی نه دسپریدو په وخت کی اونه د ذبح کولو په وخت کی .

اتم رسم داووچی دکوموحیواناتونوم به یی بحیره یاسائبه کیښووی دبتانوپه نوم به یی پریښوول د دوی دذبح په وخت کی به که ورڅخه بچی دنس څخه ژوندی راووتی نودغه به یی هم ذبح کوی خودابه صرف دسړو دپاره حلال وو اودښځو دپاره به یی حرام ګڼل اوکه بچی به مړ را ووتی نودټولو دپاره به حلال وو .

نهم رسم ، دځینی حیواناتو شیدی به یی دسړو دپاره حلال او دښځو دپاره حرام ګڼل .

لسم رسم دبحیره سائبه وصیله حامی څلورم قسم حیوان وو تعظیم به یی عبادت ګڼی .

(دا ټول روایتونه په در منثور اوروح المعانی کی دحضرت ابن عباس ﷺ مجاهد رحمه الله ابن زید رحمه الله اوسیدی رحمه الله څخه په روایت دابن منذر رحمه الله ابن ابی حاتم رحمه الله ابن ابی شیبه ، ابن حمید نقل دی .

(دبیان القرآن څخه)

لنډتفسیر : دغه ډول ددیرو مشرکانوپه خیال کی د دوی معبودانو (شیطانانو) دخپل اولاد قتلول ښه ښکاره کړی دی (لکه په جاهلیت کی دانجونو قتلول یا ژوندی ښخولو رسم وو) ددې دپاره چی (ددې ناکاره کار په کولو سره) هغه (شیطانان) دوی (مشرکانو) لره (په وجه دمستحق کیدو دعذاب) برباد کړی او ددی دپاره چی د دوی لاری ورکه کړی (چی همیشه په غلطی کی مبتلی وی اوته د دوی په دی ناکاره حرکتونو سره مه غمجن کیږه څکه چی) که الله ﷻ ته (د دوی ښه کول) منظور وی نوداسی کار به یی نه وو

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي نو ته ﷺ دوی ته اوځه چې دوی غلطې خبرې جوړوي (چې زمونږ دا کار نه دی) هم دغسې پرېږده
(هیڅ فکرمه کوه ، مونږ به ورسره پوهه سو) او دوی په خپل (غلط) خیال سره دا هم وایي چې دا (خاص)
څاروي دي او (خاص) فصلونه دي چې ددې استعمال هر سړي لره جائز نه دی ، دا هیڅوك نه سي خوړی
ماسوا دهغو ځخه کوم چې مونږ غواړو (لکه چې په څلورم اوپنځم رسم کی ذکر سول) او (داسې وایي چې
دا خاص) څاروي دي په کوموچې سپرتیا یا بار وړل حرام سوي دي (لکه چې په شپږم رسم کی ذکر سو)
او (داسې وایي چې دا خاص) څاروي دي په کومو چې (دالله نوم اخستل نه دي په کار ، نو ددې عقیدې
په وجه سره په هغوی) دا خلق دالله نوم نه اخلي (لکه چې په اووم رسم کی ذکر سو او دا ټولې خبرې)
محض په الله د دروغو جوړولو په طور باندي (وایي دروغ په دې وجه چې دوی دا کارونه دالله ﷺ دوی
نه دي دروغو جوړولو سزا ورکړی (اوس یې ځکه وویل چې قیامت کوم چې راتلونکی دی ، لیرې نه
دی اوځیني ځیني سزا ګاني خو به دمرګ سره شروع سي) اوهغوی (داهم) وایي چې کوم شی ددې څاروو
دنس ځخه (راوتونکی) وی (مثلا شیدې یا بچی) هغه خاص زمونږ دسړو دپاره (حلال) دی اوزمونږ په
ښځو حرام دی او که هغه (دنس ځخه را وتلی بچی) مړ وی نو په دی (نفع اخستو) کی (سړي اوښځې) ټول
برابردي (لکه چې په اتم اونهم رسم کی ذکر سول) اوس الله ﷺ دوی ته د دوی د (دې) غلطو خبرو سزا
ورکوي (غلطې خبرې هغه دي کومې چې اوس په دروغو جوړولو کی تیرې سوې او تراوسه پورې چې یې
سزا نه ده ورکړې نووجه داده چې) بیشکه هغه حکمت والادی (دځیني حکمتونو په وجه یې مهلت ورکړی
دی او تراوسه پورې په سزا نه ورکولو سره دی داسې نه ګڼي چې ګوندې هغه خبرنه دی ځکه چې) هغه
لوی علم والا دی (دی دهر ځه ځخه خبردی ومخکې په لنډه سره دانجام ذکر کوي فرمایي چې) واقعي په
خرابی کی ولویدل هغه خلق چاچې (دا ذکر سوي کارونه خپله طریقه جوړه کړه چې) خپل اولاد یې محض
په حماقت سره بې دځه (معقول اومقبول) سند ځخه قتل کړل اوکوم (حلال شیان چې دوی ته الله ﷺ
دخوړلو چینلو دپاره ورکړي وي ، هغه لره یې په عقیده یاعمل سره حرام کړل (لکه چې لوړ په رسمونو او
رهمونوکی چې منشاء دټولویوه ده ، ذکر سو او دا ټول) محض په الله ﷺ د دروغو جوړولو په طور
باندي (وسو لکه چې لوړ په قتل د اولاد کی ، یفترون : اوپه حرامولو دحیوانانو کی افترآءً جلا جلا هم
راغلی دی) بیشکه دا خلق په ګمراهی کی ولویدل او (دګمراهي نوي نه ده بلکه پخوانی ده ځکه چې مخکې هم
چیرې دوی په لارې باندې نه وو (نو په : ضلوا : کی خلاصه دلارې اوپه ، ماکانو ، کی ددې تاکید او په : خسروا ،
خلاصه دبدانجام چې عذاب دی ذکر کړل سو)

وَهُوَ الَّذِيٓ اَنْشَاَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ وَّغَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ

اوهغه پیدا کړی دی باغونه چې په پرچتو خوروې کیږي او په چتونو نه خوروې کیږي ،

وَّالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ وَالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا

اوخرما درختې اوفصلونه چې مختلفه یې ده میوه اوپیدا کړي یې دي زیتون او انار دیوبل په شان

Maktaba Tul Ishaat.com

وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ۚ كُلُوا مِنْ ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ

او جلا جلا هم ، خوری د دوی دمیوی څخه هرکله چی میوه ونیسی او اداکوی ددې حق په کومه ورځ

حَصَادِهِ ۖ وَلَا تُسْرِفُوا ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ ﴿١٤١﴾ وَمِنَ الْأَنْعَامِ

یی چی پریکوی ، اوبی ځایه خرڅ مه کوی ، دهغه نه خوښیږي بی ځایه خرڅ کوونکی ، اوپیداکړی یی دی

حَمُولَةً وَفَرْشًا ۚ كُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ

دحیوانانو څخه بارووړونکی اومځکی سره لګیدونکی، خوری دالله درزق څخه اومه ځی دشیطان په قدمونو باندی

الشَّيْطَانِ ۚ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ ﴿١٤٢﴾

هغه ستاسی دښمن دی ښکاره

لنډتفسیر: اوهغه (الله ﷻ) دی چاچی باغونه پیدا کړل، هغه هم کوم چی پرچتونو باندی خیژول کیږی (لکه انګور) اوهغه هم کوم چی پرچتونو باندی نه خیژول کیږی (یاپه دی وجه چی خپریدونکی بوټی نه دی لکه تنه داری درختی یاسره ددی چی خپریدونکی بوټی دی خوعادت نه دی لکه: هندوانه ختکی اونور) او دخرما درختی اوفصلونه (هم هغه پیدا کړیدی) په کوموکی چی دخوراك شیان په مختلف طورسره (حاصل) وی، اوزیتون اوانار (هم هغه پیدا کړي دی) کوم چی (انار انار) دیو بل سره (اوزیتون دیوبل سره په رنګ، خوند ، شکل اومقدارکی په ځینوصفتونوکی هم) دیوبل مشابه وی او (کله) دیوبل سره مشابه هم نه وی (اوالله ﷻ دا شیان پیدا کړل اواجازت یی کړي دی چی) ددی ټولو پیداوار خوری برابره خبره ده که دهغه وخت څخه وی) کله چی هغه راووزی (اولا پاخه سوی نه وی) او (خامخا ددی سره دومره ضروری ده چی) په دی کی چی دکوموخلګو حق (په شریعت سره) واجب دی (یعنی خیر اوخیرات) هغه ددی دپریکولو په ورځ (مسکینانو ته) ورکوی او (په دی ورکولوکی هم) ترحد (شرعی اجازی) زیاتی مه کوی یقینًا هغه (یعنی الله ﷻ) ترحد څخه (دشرعی داجازت څخه) زیاتی کوونکی نه خوښوی او (څنګه چی باغونه او فصلونه الله ﷻ پیدا کړي دی ، دغه ډول حیوانات هم نو) په حیوانانو کی لوړ قد والا (هم) اوکوچنی قد والا (هم هغه پیدا کړي دی او د دوی په باره کی یی هم په مثل دباغونو اودفصلونو اجازت کړي دی چی) څه چی الله ﷻ تاسی لره درکړي دی (اوپه شریعت سره یی حلال کړي دی ، هغه) خوری او (دخپل طرف څخه دحراموالی په احکامو جوړولو) دشیطان پرقدمونو باندی مه ځی، بیشکه هغه ستاسی ښکاره دښمن دی (چی تاسی سره دښکاره اوواضح کیدو ددلیلونو ګمراه کوی)

معلومات اومسئلي: په تیرو آیتونوکی دمکی دمشرکانو ددی ګمراهی ذکر وو چی دالله ﷻ په پیداکړ

Maktaba Tul Ishaat.com

حيوانانو او دده په ورکړو نعمتونوکي دي ظالمانو دخپلو لاسونو جوړ کړي بي روحه بتان دالله ﷻ سره حصه دار مقرر کړي دي کوم شي چي دوي په طور دعبادت يا صدقي يا خيرات وباسي ، په دي کي يوه حصه دالله ﷻ او دوهمه حصه دبتانو مقرر کوي ، بيا دالله ﷻ حصه هم په مختلفو حيلو اوحوالو سره دبتانوپه حصه کي وراچوي. دغه ډول نورو ډيرو جاهلانه رسمونو ته يي دشريعت دقانون حيثيت ورکړيدی. په ذکرسوو آيتونوکي په اول آيت کي الله ﷻ دبوټو او درختومختلف قسمونه اوددي په ذانډو اوميووکي دخپل کامل قدرت دحيرانونکو کمالونو ذکر وفرمايي اوپه دوهم آيت کي دغه ډول دحيوانانو دمختلفو قسمونو دپيدائش ذکريي وفرمايي، دوي ته يي ددوي پرګمراهي خبرداري ورکی چي دا جاهلان خلک څنګه دعليم اوخبير قادرِ مطلق سره بي خبره بي شعوره اوبي روحه اوبي طاقته شيان شريك جوړوي. اوبيايي دوي ته دنيکي لاري اوصحيح عمل طرف ته هدايت وفرمايي چي کله ددي شيانوپه پيدا کولو اوتاسي ته په درکولو کي څوك شريك نسته نوپه عبادت کي دوي شريکول انتهايي کفران دنعمت اوظلم دي چاچي داشيان پيدا کړل ، تاسي ته يي درکړل اوستاسي دپاره يي داسي مسخر کړل چي څنګه غواړي، استعمالولي يي سي اوبيايي داټول شيان ستاسي دپاره حلال کړل، پرتاسي فرض دي چي ددي نعمتونو څخه دفائدي اخيستلوپه وخت کي دشکر حق ادا کي. شيطاني خيالونه اوجاهلانه رسمونه خپل دين مه جوړوي.

په اولني آيت کي د ، اَنْشَاَ معنى ده پيدا کول، او: مَعْرُوْشَاتٍ دعرش څخه جوړ دي معنى يي ده، پورته کول اولوړول، د: مَعْرُوْشَاتٍ څخه مراد ددرختو هغه بوټي دي چي پرچوپالونو (مناګانو) باندي خپرول کيږي، لکه انګور اوځيني ترکاري، اوددي په مقابله کي په: غَيْرَ مَعْرُوْشَاتٍ کي هغه ټولي درختي شاملي دي چي څانګي يي لوړ نه لوړيږي، برابره خبره ده که تنه داره وي اوکه دذيلو درختي وي اوذيلي يي پر مځکه خپريږي، لوړ نه خيژي لکه هندوانه ، خټکي اونور.

اود ، نَخْلِ معنى دخرماوو درخته ده او: ذَرْعَ هرقسم فصل ته ويل کيږي، او زَيْتُوْن دزيتون درختي ته هم وايي اوميوي ته يي هم، او: رُمَّانْ انارته ويل کيږي، په دي آيتونوکي الله ﷻ اول په باغونوکي دپيدا کيدونکو درختو دوه قسمونه بيان کړل، يوقسم هغه چي بناخلي يي پورته خيژول کيږي، دوهم قسم هغه چي بناخلي يي پورته نه خيژول کيږي، په دي کي يي خپل حکمت بالغه اوکامل قدرت ته اشاره کړيده، چي ديوي خاوري اويو اوبو ، يوي هوا اوفضاء څخه څنګه مختلف قسم بوټي پيدا کوي، بيادوي دميوو تياريدل، شنه اوتازه يي ساتل اوپه دي کي په زرګونو اينبوول سوي خاصيتونه، چي ځيني درختي يي داسي جوړي کړيدي چي ترڅو پوري يي چوپال (منا) ته ونه خيژوي، ميوه نه نيسي اوکه يي ونيسي هم خو غتيږي اولوئيږي نه ، لکه انګور کدو اونور، اوځيني درختي يي داسي کړي دي چي که لوړ يي خيژوي ياخونه خيژي اوکه خيژي هم خوبيايي ميوه کمزوري وي لکه خټکي، هندوانه اونور، اوځيني درختي يي پرمضبوطو تنو باندي داسي درولي او جګي کړي دي چي دانسان په کاريګري کي

Maktaba Tul Ishaat.com

عادتاً داسې ممکن نه وو او د درختو دا رنګارنګ والی محض اتفاقی نه دی بلکه په لوی حکمت او د میوو دمزاج په خاصیت سره دی ځینې میوې په مځکه او خاورې سره غټېږی او پخېږی او ځینې په خاورو لګېدو سره خرابېږی، ځینې په لوړو ښاخونو پورې په زنګېدو دهوا اولمر، سپوږمۍ اوستورو په شعلو سره رنګ حاصلوی، دهری یوې دپاره قدرت دهغه په مناسبت سره انتظام کړې دی ، فَتَبَارَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ.

تر دې وروسته يې په خصوصي طور سره دخرما د درختی او فصلونو ذکر وکی دخرما میوه په عام طور سره دخوند او مزې دپاره خوړل کېږی او دضرورت په وخت کې ورځخه دپوره خوراك كارهم اخيستل کېږی او دفصلونو څخه پيدا کيدونکی غلی په عام طورسره دانسانانو اوحيوانانو دخوراك دپاره استعماليږي ، ددې دواړو دذکر کولو څخه وروسته فرمايي ، مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ په دې کې د، اُكُلُهٗ ضمير فصل (زرع) ته هم راجع کيدی سی او دخرما (نخل) طرف ته هم، په هرحال دواړه ورځخه مراد دی ، معنی دا ده چې په خرماؤ کې مختلف قسمونه اودهرقسم خوند دی او په فصلونوکی مختلف قسمونه په سوونو دی او دهر قسم خوند اوفائدې مختلفی دی ، ديوې خاورې اوبو اومځکی څخه په راوتونکو ميوو کې دومره عظيم الشان تفاوت اوبيا دهرقسم دفائدو اوخاصيتونو حيرانوونکی اختلاف اورنګ رنګ والی، يو معمولي عقل لرونکی انسان هم په دې منلو مجبوره کوی چې ددې پيدا کوونکی ځوك داسی هستی ده چې په قياس کې نه راځي اونه دهغه دعلم او حکمت اندازه ځوك انسان لګولی سی .

تردې وروسته يې دوه شيان نور ذکر کړل ، يعني آنار اود زيتون ميوه ، چې ميوه هم ده اوترکاري هم او ددې تيل ترټولو تيلو صفا ، شفاف او په عمده والی سره ډيرې فائدې اوخاصيتونه هم لري ، دزرګونو مرضونو يو ښه علاج دی دغه ډول دانار ډيرې فائدې اوخاصيتونه دي ، چې هر عام اوخاص پرې پوه دی ، ددې دواړو ميوو دذکر کولو څخه وروسته فرمايي ، مُتَشَابِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ يعني په دوی کې دهر يوه ميوه څه داسې وي چې په رنګ اوخوند کې يو ډول وي او څه داسی هم وي چې رنګ اوخوند يې مختلف وي اوددا دځينو دانو رنګ، خوند اومقدار يو ډول والی او دځينو مختلف والی په انارکی هم وي او په زيتون کې هم، ددې ټولو قسمونو درختو اوميوو ذکر کولو څخه وروسته يې په دې آيت کې انسان ته دوه حکمونه کړي دی ، اولنی حکم په خپله دانسان دخواهش اودنفس دتقاضی پوره کولو دی ، فرمايي كُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ اِذَآ اَثْمَرَ يعني ددې درختو اوفصلونو ميوې خورئ کله چې دوی ميوه ونيسی ، په دې کې ددې خبرې طرف ته اشاره ده چې ددې ټولو قسمونو درختو پيدا کوونکی مالك مقصد په دوی سره خپل څه ضرورت پوره کول نه دی، بلکې ستاسی دفائدې دپاره يې پيدا کړيدی، پس ستاسی اختيار دی چې داخوری اوفائدې ورځخه اخلی، او ، اِذَآ اَثْمَرَ يې وفرمايل اودې طرف ته يې اشاره وکړه چې د درختو دښاخونو اوڅانګو څخه ميوه را ايستل ، ستاسی کار نه دی اونه ستاسی په وس کې ده ، کله چې دالله ﷻ په اذن دغه ميوه راوزي نو دخوړلو اختيار يې دغه وخت تاسی ته حاصل سی، برابره خبره ده که هغه لا اوس پخه سوې وي اوکه نه .

Maktaba Tul Ishaat.com

دمځکي عشر: دوهم حکم یې دا وکی و وَاٰتُوا حَقَّهٗ یَوۡمَ حَصَادِهٖ د اٰتُوا معنی ده ، راوړی یا ، ادا کی ، او حصاد وایی دفصل ریبلو یاشکولو ته دمیوی ، او د: حَقَّهٗ ضمیر هرهغه دخوراك شی ته راجع دی، دکمو چی لوړ ذکر سوی دی، معنی داده چی داټول شیان خوری اوچینبی او استعمالوی، مګر یوه خبره یاده ساتی چی دفصل ریبلو یامیوی شکولوپه وخت کی ددی حق هم ادا کوی، دحق څخه مراد په غریبانو اومسکینانو صدقه کول دی، لکه چی په بل آیت کی په عامو الفاظوکی ارشاد دی ، وَالَّذِیۡنَ فِیۡۤ اَمۡوَالِهِمۡ حَقٌّ مَّعۡلُوۡمٌ ! لِّلسَّآئِلِ وَالۡمَحۡرُوۡمِ : یعنی دنیکو خلګوپه مالونوکی مقرر حق وی دغوښتونکو اونه غوښتونکو دفقیرانو اومسکینانو ·

مراد ددی صدقی څخه عامه صدقه خیرات دی یاهغه صدقه چی دمځکی زکوٰة یاعشر ورته ویل کیږی، په دی کی دتفسیر دامامانو ، اصحابو ﷺ اوتابعینو دوه قولونه دی، خینی حضراتو اولنی قول اختیار کړیدی او وجه دابنیی چی دا آیت مکی دی، اوزکوٰة دهجرت څخه دوه کاله وروسته په مدینه منوره کی نرض سوی دی، په دی وجه دلته دحق څخه مراد دمځکی زکوٰة نسی کیدی، اوځینی حضراتو دا آیت په مدنی آیاتونوکی شمیر کړیدی اودحقّ څخه مراد یی دمځکی زکوٰة اوعشر اخیستل دی ·

اودتفسیر امام ابن کثیرپه خپل تفسیرکی او ابن عربی اندلسی په احکام القرآن کی ددی فیصله داسی کړي ده ، چی آیت که مکی وی اوکه مدنی په دواړو صورتونو کی دآیت څخه دمځکی زکوٰة یعنی عشر مراد کیدی سی، څکه چی ددوی په نزد دزکوٰة دواجبیدو اصل حکم په مکه کی نازل سوی وو، دسورةِ مزمل آیت دزکوٰة پر حکم باندی مشتمل دی چی په اتفاق سره مکی دی البته دزکوٰة مقدار اونصاب مقرر کیدل اونور ترهجرت وروسته سوي دی، او ددی آیت څخه یوازی دومره معلومیږی چی دمځکی پرپیداوار باندی دالله ﷻ دطرف څخه څه حق لازم سوی دی اودمقدار تعین یی په دی کی ذکرنه دی، په دی وجه دمقدارپه حق کی دا آیت مجمل دی اوپه مکه کی ددی مقدار ټاکل په دی وجه ضروری نه وو چی هلته مسلمانانوته دا اطمینان حاصل نه وو، چی دباغونو اومځکو پیداوارپه آسانی سره حاصل کی، په دی وجه په دغه زمانه کی خو رواج هغه ووکوم چی دمځکی څخه په نیکو خلګوکی راروان وو ، چی دفصلونو ریبلو یامیوی شکولو په وخت کی به کم غریبانان هلته جمع وه، هغوی ته به یی څه ورکول، څه خاص مقدار مقررنه وو، داسلام څخه اول په نورو امتونوکی هم دفصل اومیووپه دی ډول دصدقی ورکولو رواج دقرآن کریم په آیت ، اِنَّا بَلَوۡنٰهُمۡ کَمَا بَلَوۡنَاۤ اَصۡحٰبَ الۡجَنَّةِ کی ذکر دی ، دهجرت څخه دوه کاله وروسته چی څنګه په نورو مالونوکی دنصاب اودزکوٰة دمقدار تفصیلات نبی کریم ﷺ دوحی په ذریعه بیان کړل ، دغه ډول یی دمځکی دزکوٰة بیان وفرمایی کم چی دحضرت معاذبن جبل اوابن عمر اوجابربن عبدالله ﷺ په روایتونوکی، په ټولو کتابونو داحادیثوکی نقل دی: مَاسَقَتِ السَّمَآءُ فَفِیۡهِ الۡعُشۡرُ وَمَا سُقِیَ بِالسَّانِیَةِ فَنِصۡفُ الۡعُشۡرِ، یعنی په بارانی مځکوکی کوم ځای چی داوبه کولوڅه سامان نه وی ، یوازی په باران باندی دپیداوار دار اومدار وی ددغه مځکو په پیداوارکی لسمه حصه په طور دزکوٰة

Maktaba Tul Ishaat.com

ایستل واجب دی اوکمی مځکی چی په څاهانوسره اوبه کول کیږی دهغوی دپیداوارشلمه حصه واجب ده
دزکوٰة په قانون کی اسلامی شریعت دهرقسم په زکوٰة کی داخبره دبنیادی اصولوپه طورسره استعمال
کړیده، چی په کوم پیداوار کی محنت اوخرڅ کم وی په هغه کی دزکوٰة مقدار زیات وی، اوڅومره چی
محنت او خرڅ په یو پیداوار کی زیاتیږی دغومره دزکاة مقدار کمیږی، دمثال په طور داسی پوه سی
چی که چاته پخوانی خزانه ورپیدا سی یادسرو اوسپینو کان پیدا کی نوددی پنځمه حصه په طور دزکوٰة
پرده لازمه ده، ځکه چی محنت اوخرڅ په کښی کم اوپیداوار زیات دی تردی وروسته دبارانی مځکی
نمبردی چی محنت اوخرڅ پکښی ترلږ لا لږ دی نوددی زکوٰة دپنځمی حصی نیمایی دی یعنی لسمه حصه
ده، تردی وروسته هغه مځکه ده چی په څاه یا دنهرپه اخستل سوو اوبو سیرابه کول کیږی، په دی کی
محنت او خرڅ زیات سو نوزکوٰة یی هم ددی څخه نیم سو یعنی شلمه حصه سوه، تردی وروسته عام سره
سپین او دتجارت مال دی چی په حاصلولو اوزیاتولو باندی یی خرڅ هم زیاتیږی اومحنت په کښی هم
زیات دی نو ددی زکوٰة ددی نیم یعنی څلویښتمه حصه سوه.

دقرآن په ذکرسوی آیت کی اوداحادیثوپه ذکر سوو روایتونوکی دمځکی دپیداوار دپاره څه نصاب نه
دی مقرر سوی، په دی وجه دامام اعظم ابوحنیفه اوامام احمد بن حنبل ؒ مذهب دا دی چی دمځکی
پیداوار که لږ وی اوکه زیات په هرحال زکوٰة ایستل ورڅخه ضروری دی، دقرآن کریم دسورة بقرة په آیت
کی چی دمځکی دزکوٰة ذکردی، هلته هم ددی دپاره څه نصاب ذکر نه دی، ارشاد دی، أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا
كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ : خر څوی دخپلی حلالی گټی څخه اودهغه شی څخه کوم چی مونږ ستاسی
دپاره دمځکی څخه را ایستلی دی.

دتجارت په مالونو اوحیواناتو کی خونبی کریم ﷺ نصاب بیان کړي دی، چی د دوه پنځوس نیمو تولو
سپینو زرو څخه په کوموکی زکوٰة نسته، ترسلو بزو پنځو اوښانو څخه په کوموکی زکوٰة نسته، لیکن
دمځکی دپیداوار متعلق چی کوم بیان په لوړ حدیث کی راغلی دی په دی کی هیڅ نصاب نه دی ښوول
سوی، په دی وجه په هرلږ اودیرکی دمځکی دپیداوار څخه لسمه یاشلمه حصه ایستل واجب دی ز
دآیت په آخرکی فرمایی، وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ : یعنی ترحد زیات خرڅ مه کوی، ځکه چی الله ﷻ
فضول خرڅ کوونکی خلگ نه خوښوی، دلته سوال دا دی چی دالله ﷻ په لاره کی که یوسړی خپل ټول
مال بلکی ځان هم خرڅ کی نودی ته اسراف نه ویل کیږی، بلکی دحق ادا کول ورته ویل هم گران دی، بیا
دلته داسراف څخه دمنع کولو څه مطلب دی؟ جواب دادی چی په یوطرف کی داسراف نتیجه عادتاً په بل
طرف کی کموالی اوکوتاهی راولی، کوم سړی چی په خپلو خواهشاتو کی بی دریغه، ترحد زیات خرڅ
کوی، هغه عام طور دنوروپه حقونو ادا کولوکی کوتاهی کوی، دلته یی ددی کوتاهی څخه منع کړي ده،
یعنی چی یوطرف ته سړی خپل ټول مال دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کی اوخالی لاس پاته سی نو داهل
اوعیال او خپلوانو بلکه خپل نفس حقونه به څنگه اداکی، په دی وجه یی داهدایت کړي دی چی دالله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

په لاره کې په خرڅ کولو کې اعتدال ساتی چې ټول حقونه اداسی

ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ مِنَ الضَّاْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ قُلْ آٰلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ

پیدا کړی یې دی اته نراوښځه ، دپسو څخه دوه او دبزو څخه دوه ، ووایه چې دواړه نران الله حرام کړی دی یادواړه ښځې .

اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ نَبِّئُوْنِيْ بِعِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ

یا هغه چې مشتمله وی په هغه محفوظی دانی د دواړو مادو وښیاست ماته سند که تاسی

صٰدِقِيْنَ ﴿۱۴۳﴾ وَمِنَ الْاِبِلِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ قُلْ

رښتینی یاست ، اوپیدا کړی یې دی داوښانو څخه دوه او دغواګانو څخه دوه ووایه

آٰلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اَرْحَامُ

چې آیا دواړه نران یې حرام کړی دی او یا دواړه مادی یا هغه چې مشتمله وی وربانـدی بچه دانی

الْاُنْثَيَيْنِ اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ وَصّٰىكُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا فَمَنْ اَظْلَمُ

د دواړو ښځو ، آیا تاسی حاضروی څه وخت چې الله ﷻ تاسی ته دا حکم کړی وو ؟ بیا دهغه څخه

مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا لِّيُضِلَّ النَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ اِنَّ اللّٰهَ

زیات ظالم څوک دی چې جوړوی په الله ﷻ باندی دروغ چې خلق ګمراه کړی بې تحقیقه ، بیشکه الله ﷻ

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۴﴾

هدایت نه کوی ظالمانو خلقو ته .

تفسیر: (اودا حیوانان په کومو کی چې تاسی حلال اوحرام کوی) اته نره اومادی (یې پیدا کړیدی) یعنی میږه (اوپسه) کي دوه قسمه (یونر یوماده) اوپه بزه کی دوه قسمه (یونر یوماده) ته (دوی ته) ووایه چې (داوښیاست چې) آیا الله ﷻ (په دی دواړو حیوانانوکی) دواړه نران حرام کړي دی اوکه دواړه مادی (یې حرام کړي دی) یا هغه (بچی) کم چې دواړې مادی یې په (خپله) ګیډه کی لری (هغه بچی نر وی اوکه ماده یعنی تاسی چې په کومومختلفو صورتونو سره دحرموالی دعوه کوی نوآیا حرام والی الله ﷻ فرمایلی دی) تاسی ماته په یودلیل سره خو وښیاست که چیری (په خپله دعوه کی) رښتینی یاست (داخو دکوچنی قد والا دحیوانانو متعلق بیان وسو مخ ته دلوی قد والاوو بیان دی چې په پسه اوبزه کی یې هم

Maktaba Tul Ishaat.com

نر اوماده پیدا کړل، لکه چې بیان یې وسو) او (دغه شان) په اوښ کې دوه قسمونه (یونر اویوه ماده)
اوپه غوا (میږه) کې دوه قسمونه (یونر اویوه ماده یې پیدا کړل) ته (په دې باره کې هم) ووایه چې (داخو
ونبیاست چې) آیاپه دې دواړو (حیوانانو) کې الله ﷻ نران حرام کړي دي اوکه دواړې مادې (یې حرام کړي
دي) اوکه هغه (بچي) کوم چې دې دواړو مادوپه (خپله) ګیډه کې اخیستي وي (دغه بچي نروي اوکه
ماده، ددې هم دغه مطلب دی چې تاسې کم په مختلفو صورتونو کې دحرامو دعوی کوی نو آیا دا
حراموالی الله ﷻ فرمایلی دی ؟ په دې باندې یودلیل قائمول په کار دي چې ددې دوې طریقې دي یو خو
دا چې دیو رسول یاملائکې په واسطه سره وي ، نو په مسئله دنبوت اووحې سره خوتاسې انکارکوی
نودا اړخ خونسې اختیارولی، نودوهمه طریقه ددعوی کولو مقرره سوه چې په خپله الله ﷻ بې واسطې
تاسې ته دا احکام درکړي وي نو) آیاتاسې (دغه وخت) حاضر واست څه وخت چې الله ﷻ تاسې ته ددې
(حرامو اوحلالو) حکم درکوی (اوښکاره ده چې دادعوی خوهم نه سې کولی، نو ثابته سوه چې ددوې سره
څه دلیل نسته) نو (پس دثبوت څخه ددې کار چې پر دې دعوی څه دلیل نسته، یقیني خبره ده چې) ددې
څخه زیات ظالم (اودرواغجن) به څوك وي کوم چې پر الله ﷻ بغیر ددلیله (دحرامو اودحلالو) څخه دروغ
تهمت لګوی ددې دپاره چې خلګ ګمراه کې (یعنې داسړی به ډیر ظالم وي او) یقینًا الله ﷻ ظالمانو
خلګوته (دجنت) لار (په آخرت کې) به ورونه ښیې (بلکه دوږخ ته به یې ولیږي ، نو دا خلګ به هم ددې جرم
په سزاکې دوږخ ته ولاړ سي)

قُلْ لَّآ اَجِدُ فِیْ مَآ اُوْحِیَ اِلَیَّ مُحَرَّمًا عَلٰی طَاعِمٍ یَّطْعَمُهٗٓ اِلَّآ اَنْ یَّكُوْنَ مَیْتَةً اَوْ دَمًا مَّسْفُوْحًا

ته ووایه چې زه نه پیدا کوم په هغوکې چې ماته یې وحې سوې ده څه شی حرام په خوړونکې ، چې خوري یې مګر
دا چې هغه شی مردار وي یا وینه بهیدونکې وي ،

اَوْ لَحْمَ خِنْزِیْرٍ فَاِنَّهٗ رِجْسٌ اَوْ فِسْقًا اُهِلَّ لِغَیْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ

یا غوښه دخنزیر وي چې هغه ناپاکه ده یا ناجائز ذبحه چې نوم وربانډې واخستل سي بغیردالله څخه

اضْطُرَّ غَیْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ رَبَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۴۵﴾ وَعَلَی

دبل چا بیا چې څوك دلوږې څخه بې اختیاره سي نه نافرمانی کوی اونه زیاتوب کوی نوستارب لوی معاف
کوونکې ډیر مهربانه دی ، او په

الَّذِیْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِیْ ظُفُرٍ ۚ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ

یهودو باندې باندې مونږ حرام کړي وو هر یو نوك والا حیوانان او دغوا او پسه څخه

Maktaba-Tul-Ishaat.com

حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَآ إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَآ أَوِ الْحَوَايَآ

حرام کړي وو مونږ په دوی باندي ددې وازګه مګر کومه چي لګیدلي وي په شان ددوی پوري یاپه کولمو باندي

أَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ذَٰلِكَ جَزَيْنَٰهُم بِبَغْيِهِمْ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿١٤٦﴾

یا وازګه چي یوځای وي دهډوکي سره دا مونږ دوی ته سزا ورکړې وه د دوی په شرارت اومونږ رښتیاوایو ،

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَٰسِعَةٍ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُهُۥ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ ﴿١٤٧﴾

بیا که تادرواغجن کړي نوته ﷺ ووایه چي ستاسي درب رحمت لوی فراخه دی ، اونه سي واپس کیدی دده عذاب دګناهګارو خلقو څخه .

تفسیر: ته ووایه چي (په کمو حیواناتو کي خبره روانه ده ددې متعلق) چي کوم احکام په ذریعه دوحي ماته راغلي دي په دې کي خوزه څه حرام خوراك نه پیداکوم دیو چا خوړونکي دپاره چي دا خوري (برابره خبره ده که سړی وي اوکه ښځه) مګر (داشیان البته حرام پیدا کوم هغه) داچي هغه مرادر (حیوان) وي (یعني کم چي ذبح یې واجب وي اوبې ذبح مړسي یعني په شرعي طریقه ذبح نه سي) یاداچي بهیدونکي وینه وي یادخنزیر غوښه وي څکه چي دغه (خنزیر) بالکل ناپاك دي (په دې وجه دده ټول اجزاء پلیت اوحرام دي، داسي پلیت چي نجس العین ورته ویل کیږي) یا کوم (حیوانان اونور) چي دشرك ذریعه وي (داسي) چي (په اراده دتقرب د) غیرالله منتخب سوي وي (نو دا ټول حرام دي) بیا (هم په دې کي دومره اساني دا سوي ده چي) کوم سړی (دلوږې څخه ډیر) بې تابه سي په دې شرط چي نه خو (په خوراك کي) خوند اومزه طلب کوونکي وي اونه (دضرورت داندازې څخه) تجاوز کوونکي وي (نوپه دې حالت کي ددې حرامو شیانوپه خوراك به هم پردغه سړي هیڅ ګناه نه وي) واقعي ستارب (ددغه سړي دپاره) غفور رحیم (یعني بخښونکي اومهربان) دی (چي په داسي وخت کي یې رحمت وفرمایې چي دګناه دشي څخه یې ګناه پورته کړه) او پریهودو مونږ ټول نوکونه لرونکي حیوانان حرام کړي وه اودغوا اوبزې (په اجزاوو کي) ددواړو وازګې پردوی (یهودو) مونږ حرامه کړې وه مګر هغه (وازګه ورڅخه مستثنی وه) کمه چي (ددې دواړو) په شاپوري یاکولمو پوري لګیدلي وي یاکمه (وازګه) چي هډوکي سره یوځای وي (باقي ټوله وازګې حرامي وې، پس ددې شیانو حراموالي في نفسه مقصودنه وو، بلکي) ددوی دشرارت په سبب مونږدوی ته دا سزا ورکړې وه اومونږ یقیناً رښتیني یو، بیا (ددې ذکرسوي تحقیق څخه وروسته هم که دا (مشرکان) تاته (نعوذ بالله په دې مضمون کي یوازې په دې وجه) دروغ ووایي (چي پردوی عذاب نه راځي) نوته (په جواب کي) وفرمایه چي ستاسي رب ډیرلوی رحمت والا دی (دځینو حکمتونو په وجه ژر ګرفت نه کوي) او (په دې سره داسي مه ګڼي چي همیشه به داسي محفوظ اوسي کله چي دغه مقرر وخت راسي، نوهغه وخت به) دهغه عذاب دمجرمانو خلکو څخه (په هیڅ ډول) نه واپس کیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا أَشْرَكْنَا وَلَا آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ شَيْءٍ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ

اوس به وایی مشرکان که الله غوښتلی نوشرک به نه وای کړی مونږ اونه زمونږ پلا نیکه اونه به مونږ حرام کړی وای څه شی ، دغه شان دروغجن کړی ،

الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ حَتَّىٰ ذَاقُوا بَأْسَنَا ۗ قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ مِنْ

هغو خلقو چې د دوی څخه مخکې وه تردې چې دوی وچښی عذاب زمونږ ، ته ووایه څه علم هم تاسی سره سته

عِلْمٍ فَتُخْرِجُوهُ لَنَا ۖ إِنْ تَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ أَنْتُمْ إِلَّا

چې مونږ ته یې ښکاره کړی ، تاسی خو صرف اټکل چلوی او صرف اندازه

تَخْرُصُونَ ﴿١٤٨﴾ قُلْ فَلِلَّهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ ۖ فَلَوْ شَاءَ لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٤٩﴾

کوی ، ته ﷺ ووایه نو دالله الزام پوره دی نو که هغه وغواړی نو تاسی ټولو ته به هدایت وکړی ،

قُلْ هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمُ الَّذِينَ يَشْهَدُونَ أَنَّ اللَّهَ حَرَّمَ هَٰذَا ۖ

ته ﷺ ووایه راولی خپل شاهدان چې شاهدی وکړی ددی خبری چې الله ﷻ حرام کړی دی دا شیان ،

فَإِنْ شَهِدُوا فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ كَذَّبُوا

نو که دوی شاهدی وکړی نو ته اعتبار مه کوه په دوی ، او مه څه دهغو په خواهش چاچې دروغجن کړل

بِآيَاتِنَا وَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَهُمْ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٠﴾

حکمونه زمونږ اوکوم چې یقین نه کوی په آخرت او دوی دخپل رب سره برابروی نور .

لند تفسیر: دامشرکان به داسی ووایی چې که الله ﷻ ته (په طور درضا داکار) منظور وای (چې مونږدې شرك اوحراموال ونه کویعنی که الله ﷻ شرك نه کول اونه حراموال خوښولی اوشرك اوحراموال یې ناخوښه وای) نونه به مونږ شرك کړی وای او نه به زمونږ پلار نیکه (به شرك کړی وای) اونه به زمونږ (اونه زمونږ مشرانو) یوشی (چې ذکریې لوړ سوی دی) حرام کړی وای (ددی څخه معلومه سوه چې الله ﷻ په دی شرك اوحراموالو ناراضه نه دی، الله ﷻ جواب ورکوی چې دا استدلال په دی وجه باطل دی چې په دی سره درسول دروغ کول لازمیږی، نو داخلګ رسول دروغجن کوی اولکه څنګه چې دوی یې کوی) دغه ډول کوم (کافران) خلګ چې ددوی څخه مخکې تیرسوی دی هغوی هم (رسولان) دروغجنان کړی وه ، تردې چې دوی زمونږ دعذاب خوند وڅکی (برابره خبره ده که په دنیاکې وی، لکه چې په اکثرو تیرو کافرانو

Maktaba Tul Ishaat.com

باندی عذاب نازل سوی دی، اوترمرګ وروسته خوښکاره خبره ده اودا اشاره ده دی طرف ته چی ددی خلګو ددی کفرد خبرو مقابله یوازی په قولی جواب اومناظره سره نه کول کیږی بلکی دتیرو کافرانوپه ډول به عملی سزاهم ورکول کیږی، برابره خبره ده که په دنیاکی هم اوکه به یوازی په آخرت کی. مخ ته ددوهم جواب ورکولو دپاره ارشاد دی چی) ته (دوی ته) ووایه چی آیا ستاسی سره (پردی دعوه چی ستاسی په دی کفر باندی الله راضی دی) څه دلیل سته (که وی) نوهغه مونږته مخامخ ښکاره کی (اصل خبره داده چی دلیل اونور هیڅ هم نسته) تاسی خلګ محض پرخیالی خبرو باندی چلیږی اوتاسی بالکل په اټکل سره خبری کوی (اودواړه جوابونه ورکړه) ته (دوی ته) ووایه چی پس (ددواړو جوابونو څخه معلومه سوه چی) پوره حجت دالله ﷻ سره دی اوستاسی حجت باطل سوبیا (خو پکارداوه چی تاسی ټول پرلاره سوی وای، مګر ددی توفیق دالله ﷻ دطرف څخه دی) که هغه غوښتلی نوتاسی ټول به یی پر نیکه لار راوستلی وای (مګر دالله ﷻ ډیر حکمتونه دی، چاله توفیق ورکوی، چاله یی نه ورکوی، البته دحق ظاهرول او اختیار اوارادی ورکول دټولو دپاره عام دی مخ ته دنقلی دلیل دمطالبی دپاره ارشاد فرمایی چی) ته (دوی ته) ووایه چی (دخپل عقلی دلیل حا ل خو تاسی ته معلوم سو نوبنه ده اوس څه صحیح نقلی دلیل پیش کی مثلاً) خپل شاهدان راولی چی پردی خبره باندی (باقاعده) شاهدی ورکی چی الله ﷻ دغه (ذکر سوی) شیان حرام کړي دی (باقاعده شاهدی هغه ده چی پرمشاهده مبنی وی یاپر داسی قطعی دلیل مبنی وی چی دمشاهدی په ډول یقینی وی لکه چی په ، أَمْ كُنتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ وَصّٰكُمْ کی دی طرف ته اشاره ده) بیاکه (اتفاقاً یوڅوك فرضی شاهد راولی او) هغه (شاهد ددی) شاهدی (هم) ورکی نو (چی کله دغه شاهدی یقیناًبی قاعده اومحضی خبره جوړول به وی، ځکه چی مشاهده به هم نه وی اودمشاهدی مثل به هم نه وی، په دی وجه) ته دغه شاهدی مه اوره او (کله چی ددی دروغوالی لکه چی: وَلَا حَرَّمْنَا او: كَذٰلِكَ كَذَّبَ الخ دلالت په کوی اودآخرت څخه انکار لکه چی ډیر آیتونه دلالت پر کوی، اوشرك کول، لکه چی: أَشْرَكْنَا دلالت پرکوی، ثابته سوه نوای مخاطبه) دداسی خلګو دباطلو خیالاتو (چی باطل والی یي اوس ثابت سو) تابعداری مه کوه کوم چی زمونږ آیتونه دروغ کوی اوکم چی په آخرت ایمان نه لری (اوپه دی وجه زړه ور سوی دی دحق تلاښ نه کوی) اوهغوی (دعبادت په استحقاق کی) دخپل رب سره نور شریکوی (یعنی شرك کوی)

قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ اَلَّا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَّ

ته ﷺ ووایه چی تاسی راسی چی زه واوروم تاسی ته کوم چی حرام کړی دی په تاسی ستاسی رب چی مه شریکوی دهغه سره څه شی ،

بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ۚ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ مِّنْ اِمْلَاقٍ ۭ نَحْنُ

اودمور وپلار سره نیکی کوی ، اومه وژنی خپل اولاد دخواری څخه ، مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ ۖ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا

رزق ورکوو تاسی ته او دوی ته ، او مه نژدی کیږی دبی حیایی کار ته ، کوم چی ظاهر وی په دی کی او کوم چی

بَطَنَ ۖ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ۚ ذَٰلِكُمْ

پټ وی او مه قتلوی هغه نفس کوم چی حرام کړی دی الله مګر په حقه ، تاسی ته یی دا

وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا

حکم کړی دی چی تاسی پوه سی ، او مه نژدی کیږي مال دیتیم ته مګر

بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ ۖ وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ

دا سی چی غوره وی تردی چی ورسیږي خپلی خوانی ته ، اوپوره کوی پیمانه او تول

بِالْقِسْطِ ۖ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۖ وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ

په انصاف سره ، مونږ په چا هغه شی لازم کوو دکوم چی په ده کی طاقت وی ، او کله چی خبره کوی نوحق وایی

كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ۖ وَبِعَهْدِ اللَّهِ أَوْفُوا ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ

که څه هم هغه خپلوان وی ، او دالله ﷻ وعده پوره کوی ، تاسی ته دا حکم کوی چی تاسی نصیحت

تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٢﴾ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا

واخلی ، او بیشکه دا لار ده زما سیده نو په دی چلیږي ، او مه خی

السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾

په لارو ګنو باندی چی تاسی به جلا کي دالله دلاری څخه ، دا حکم یی کړی دی تاسی ته ، چی تاسی خان وساتی

لنډتفسیر: ته (دوی ته) ووایه چی راسی زه تاسی ته هغه شیان واوروم کوم چی ستاسی رب پر تاسی حرام کړیدی هغه (شیان دا دی چی یو) داچی دالله ﷻ سره هیڅ شی مه شریکوی (نو شریک جوړول حرام سو) او (دوهم داچی) دمور اوپلار سره نیک سلوک کوی (پس ددوی سره بد کول حرام سوه) او (دریم داچی) خپل اولاد دخواری په سبب (لکه چی په جاهلیت کی اکثر عادت وو) مه قتلوی (ځکه چی) مونږ دوی ته اوتاسی ته (دواړو) ته رزق (کم چی په تقدیر کی دی) درکوو (دوی ستاسی په حصه درزق کی شریک نه

Maktaba Tul Ishaat.com

دی، نوبیایی ولی قتلوی پس قتلول حرام سو) او (څلورم داچې) دبې حیایۍ (یعنې بدکارۍ) چې څومره
طریقې دی هغه ته نژدې هم مه ځئ (پس زنا کول حرام سو) برابره خبره ده که دغه په ښکاره وی او که په
پټه وی (دغه طریقې دادی) او (پنځم داچې) دکوم قتل الله حرام کړي دی هغه مه قتلوی، مګرپه حق
(شرعي) باندی (قتل جائز دی، مثلاً په قصاص کې یاپه رحم کې پس نا حق قتل کول حرام سو) ددی
(ټولو) تاسی ته (الله ﷻ) تاکیدی حکم کړی دی چې تاسی (په دی) پوه سی (اوپوه سی عمل وکی) او
(شپږم داچې) دیتیم مال ته مه نژدې کیږئ (یعنې تصرف پکښې مه کوئ) مګرپه داسې طریقه (دتصرف
اجازت دی) کوم چې (شرعاً) ښه وی (مثلاً دده په کارکې یې لګول، حفاظت یې کول اوځینې اولیاء او
وصیانوته په دې کې یعنې دیتیم په مال کې دتجارت کولوهم اجازت دی) تردې چې دوی خپل وخت
دځوانۍ ته ورسیږي (تردغه وخته پورې ددې ذکرسوو تصرفاتو کولو هم اجازت دی، اوبیابه دده مال ده
ته ورکول سی، په دې شرط چې دی ناپوه نه وی، پس غیرشرعي تصرف دیتیم په مال کې حرام سو) او
(اووم داچې) پیمانه اوتول پوره پوره کوئ په انصاف سره (چې دچاحق نه تاسی ته پاته سی اونه راسی،
پس په دې کې دوکه کول حرام سو، داحکمونه څه ګران نه دي ځکه چې) مونږ (خو) چاکس ته دده دطاقت
څخه ماسوا (دحکمونو) تکلیف (هم) نه ورکوو (بیا په دې حکمونوکي ولې کوتاهي کول کیږي) او (اتم
دا) کله چې تاسی (دفیصلې یا شهادت اونورو متعلق څه) خبره کوئ نو (په دې کې) دانصاف کولو خیال
ساتئ، که څه هم دغه سړی (دکم په مقابله کې چې دغه خبره کوی ستاسی) خاص خپلوان وی (پس دعدل
څخه خلاف کول حرام سو) او (نهم داچې) دالله ﷻ سره کومه وعده وکئ (لکه قسم یانذر په دې شرط چې
جائز وی) هغه پوره کوئ (نو ددې نه پوره کول حرام سوه) ددې (ټولو) الله ﷻ تاسی ته تاکیدی حکم کړي
دی، ددې دپاره چې تاسی یې په یاد وساتئ (اوعمل په وکئ) اودا (هم ووایه) چې (داحکمونه څه خاص
نه دي بلکه) دادین (داسلام اوددې ټول حکمونه) زما لارده (دکوم طرف ته چې زه دالله ﷻ په حکم سره بلنه
ورکوم) کوم چې (بالکل) نیکه (اوبرابره) ده پس په دې لارچلیږئ اوپه نورو لارو باندې مه چلیږئ، دغه
لاری به تاسی دالله ﷻ دلاری څخه (دکوم طرف ته چې زه بلنه کوم) جلا (اولیری) کی ددې تاسی ته الله ﷻ
تاکیدی حکم کړي دی، ددې دپاره چې تاسی (ددې لاری دخلاف کولو څخه) احتیاط وکئ.

معلومات اومسئلې: تردې آیتونو مخکې تقریباً په دوو درې رکوع ګانوکې پرلپسې دامضمون بیانیږي
چې غافل اوجاهل انسان دمځکې آسمان اوټولو شیانو دپیدا کوونکې احکم الحاکمین نازل سوی
قانون پرېښې دی اوخپل دپلار نیکه اودځانه جوړکړی رسمونه یې خپل دین جوړ کړي دی، کوم شیان
چې الله ﷻ پاک حرام کړی وه، هغه یې جائز کړي دی، استعمالوی یې اودیر شیان کوم چې الله ﷻ حلا ل
کړی وه، دغه یې پرځان باندې حرام کړل اوځینې شیان یې دسړو دپاره جائز اودښځو دپاره حرام، ځینې
یې دښځو دپاره حلال اودسړو دپاره حرام کړي دی.

په دې درې آیتونوکې دهغه شیانو بیان دی کوم چې الله ﷻ حرام کړي دی، په تفصیلي بیان کې دنهو

Maktaba Tul Ishaat.com

شیانو ذکر دی ، تردی وروسته یی لسم حکم داسی بیان کی چی ، هٰذَا صِرَاطِیْ مُسْتَقِیْمًا فَاتَّبِعُوْهُ یعنی دادین زما نیکه لارده، په دی چلیږی . په دی کی یی دنبی کریم ﷺ دراوړل سوی اوښول سوی شریعت طرف ته اشاره وکړه دټول حلال اوحرام، جائز اوناجائز، مکروه اومستحب شیانو تفصیل یی دی ته حواله کی چی دمحمد ﷺ شریعت کوم شی ته حلال ویلی دی ، هغه حلال اوکم ته چی یی حرام ویلی دی. هغه حرام وګنی، دخپل طرف څخه دحلالو اوحرامو فیصلی مه کوی.

بیا دکومو لسو شیانو تفصیلی بیان چی په دی آیتونو کی راغلی دی، په دی کی اصل مقصد خودحرامو شیانو بیانول دی، چی پکار خوداوه چی داټول یی په صیغه دنهی دمنع کولو په عنوان سره بیان کړی وی، لیکن قرآن کریم ترخپل خاص حکیمانه انداز لاندی په دی کی څوشیان په ایجابی طور سره په صیغه دامرسره بیان کړل، اومراد دادی چی ددی څخه خلاف کول حرام دی (کشاف) ددی حکمت به مخکی معلوم سی ، هغه لس شیان دکومو دحراموالی بیان چی په دی آیتونوکی راغلی دی، دا دی ، دالله ﷻ سره په عبادت اوفرمانبرداری کی څوك شریك جوړول، دمور اوپلار سره ښه سلوك نه کول، دلوږی اوغریبی دبیری څخه خپل اولاد قتلول، دبی حیایی کار کول، څوك په ناحقه قتلول، دیتیم مال په ناجائز طورسره خوړل، په ناپ اوتول کی کمی کول، په شاهدی یافیصله یابله خبره کی بی انصافی کول، دالله ﷻ وعده نه پوره کول، دالله ﷻ لاره پریښوول اواخوا دیخوا نوری لاری اختیارول.

(دذکر سوو آیتونو خاص خصوصیات)

کعبِ احبار کوم چی دتورات ماهر عالم وو ، اول دی یهودی وو بیا مسلمان سو ، دی فرمایی چی دقرآن مجید دا آیتونه په کوموکی چی دحرامو شیانو بیان دی، دالله ﷻ کتاب تورات تربسم الله وروسته ددی آیتونو څخه شروع کیږی (انتهی) او ویل سوي دی چی دا هغه لس جملی دی کومی چی په حضرت موسیٰ ؈ نازلی سوی وی ، دقرآن تفسیر کوونکی حضرت عبدالله ابن عباس ؓ فرمایی چی داهغه آیتونه محکمات دی دکومو ذکر چی په سورت آل عمران کی راغلی دی، پرکومو چی دحضرت آدم ؈ څخه واخله ترخاتم الانبیاء ﷺ پوری دټولو پیغمبرانو علیہم السلام شریعتونه متفق پاته سوی دی ، په دی کی یو شی په یوه مذهب اوملت اویوه شریعت کی منسوخ سوی نه دی (تفسیر بحرِ محیط)

(دا آیتونه دنبي کریم ﷺ وصیت نامه ده)

اوپه تفسیرِ ابن کثیر کی دحضرت عبدالله بن مسعود ؓ څخه نقل دی ، دی فرمایی چی کوم سړی دنبی کریم ﷺ یو داسی وصیت نامه لیدل غواړی په کومه چی دده ﷺ مهر لګیدلی وی ، نوهغه دی دا آیتونه ووایی ، په دی کی هغه وصیت موجود دی کوم چی نبی کریم ﷺ دالله ﷻ په حکم امت ته کړي دی ، اوحاکم په روایت دعباده بن صامت ؓ نقل کړي دی چی نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ؓ ته خطاب وکی ، ویی فرمایل ، څوك دی چی زماسره پر دری آیتونو باندی بیعت وکی، بیایی دادری آیتونه تلاوت کړل، ویی فرمایل، بیایی دا دری آیتونه تلاوت کړل، ویی فرمایل، کوم سړی چی دا بیعت پوره کی نودده اجر

Maktaba Tul Ishaat.com

دالله ﷻ په ذمه سو.
اوس ددي لسو شيانو تفصيلي بيان او د درو واړو آيتونو تفسير وګوري، ددي آيتونو شروع داسي سوی ده، قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ: په دی کی د، تَعَالَوْا ترجمه ده: راسی، او په اصل کی داکلمه داسی وخت ویل کیږی، کله چی بلونکی پرلوړ ځای ودریږی اولاندی خلګ ځان ته راوبلی، په دی کی اشاره ددی خبری طرف ته ده چی ددی دعوت په قبلولوکی ددی خلګو دپاره برتری اولویی ده، معنی داده چی نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی فرمایی، چی ته دی خلګوته ووایه چی راسی چی زه تاسی ته هغه شیان وښیم، ووایم کوم چی الله ﷻ په تاسی حرام کړي دی دابی له واسطی څخه دالله ﷻ دطرف څخه راغلی پیغام دی، په دی کی دچا دګمان اندازی یاقیاس دخل نسته، ددی دپاره چی تاسی ددی څخه دمحفوظ کیدو دعوه وکی اوفضول دخپل طرف څخه دالله ﷻ حلال شیان حرام نه کی.
ددی آیت خطاب که څه هم چی بی له واسطی څخه دمکی دمشرکانو طرف ته دی، مګر دخطاب مضمون عام دی اوټول بنی نوع انسان لره شامل دی برابره خبره ده که مومن وی اوکه کافر، عربی وی اوکه عجمی، اوموجود اوحاضروی اوکه راتلونکی نسلونه وی (بحر محیط)

(ترټولو اولني لوبه ګناه شرک دی چي حرام سوی دی)

په دی اهتمام سره یی خطاب وکی دمحرماتو اوممنوعاتو په فهرست کی یی ترټولو اول دا ارشاد وفرمایی: اَلَّا تُشْرِكُوا بِهٖ شَيْئًا یعنی ترټولو اول کار دا دی چی دالله ﷻ سره څوك شریك او شراکتی مه جوړوی، مه دعربو دمشرکانو په ډول بتان خدایان جوړوی نه دیهودو او نصاراوو په ډول انبیاوو ته خدایان یادخدای زامن وایاست اونه دنورو په ډول ملائکو ته دخدای لوڼی وایاست مه دجاهلو عوامو په ډول انبیاء اواولیاء په صفت دعلم اوقدرت کی دالله ﷻ سره برابر وی.

دشرک تعریف اوددی قسمونه: اوپه تفسیرِ مظهری کی دی چی دلفظ د: شَيْئًا معنی دلته داهم کیدی سی چی په هیڅ قسم ښکاره یاپټ شرک کی مه اخته کیږی، ښکاره شرک خوهرسړی پیژنی چی څوك غیر الله په عبادت یا اطاعت یادده په مخصوصو صفتونو کی دالله ﷻ برابر یاورسره شریك وګڼی اوپټ شرك دادی چی په خپل کار وبار اودینی اودنیوی مقصدونو اونفع اونقصان کی که څه هم عقیده خویی دا وی کار ساز الله ﷻ دی مګر عملاً نور کارسازګڼی اوټول کوششونه په نورو پوری تړلی ساتی، یاپه عبادتونوکی ریا کاری کوی چی نوروته دښوولو دپاره لمونځ اونور په صحیح طریقه سره کوی اویا صدقه اوخیرات دنوم اونمائش دپاره کوی یاعملاً دنفع اونقصان مالك یوڅوك غیر الله مقررکی، شیخ سعدی رحمه الله دامضمون داسی بیان کړي دی ز

درین نوعی از شرك پوشیده است که زیدم به بخشید وعمرم بخست

یعنی په دی کی هم یوقسم پټ شرك دی چی سړی داسی وګڼی چی ماته زید څه را وبخښل اوعمر راته څه نقصان ورسوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

داسی نه ده بلکه بخشش یانقصان هرڅه چی دی په حقیقت کی دقادر مطلق دطرف څخه دی، زید اوعمر
پردی دی چی ددوی څخه دبخشش یانقصان ظهور کیږي، کنی څنګه چی په صحیح حدیث کی دی چی که
ددنیا ټول پیریان او انسانان یوځای سی اوتا ته څه داسی نفع رسول وغواړی کوم چی الله ﷻ ستاد پاره نه
وی مقرر کړی ، نو طاقت یی نسته چی تاته یی در ورسوی ، دغه ډول که دټولی دنیا پیریان او انسانان
یوځای سی چی تاته څه نقصان رسول وغواړی کوم چی الله ﷻ ستادپاره نه وی مقرر کړی ، نو دا هم
دهیچا څخه ممکنه نه ده .

لنډه دا ده چی دښکاره اوپټ دواړه قسمه شرک څخه انتهایی پرهیز کول په کار دی اوپه شرک کی لکه
څنګه چی دبتانو اونورو عبادت کول داخل دی، دغه ډول انبیاء او اولیاء په علم اوقدرت کی دالله ﷻ
برابر ګڼل هم په شرک کی داخل دی که خدای مه که دچا عقیده داسی وی، نودا ښکاره شرک دی اوکه
عقیده یی نه وی مګرعمل یی داسی وی، نوپټ شرک ورته ویل کیږي، په دی مقام کی یی ترټولو اول
دشرک څخه دمحفوظ کیدو هدایت کړی دی ، وجه دا ده چی شرک یوداسی جرم دی، دکم متعلق چی
دقرآن فیصله ده چی ددی معافی نسته ددی څخه ماسوا دنورو ګناهونو معافی په مختلفو اسبابو سره
کیدی سی، په دی وجه په حدیث کی په روایت دحضرت عباده بن صامت ﷺ اوحضرت ابودرداء ﷺ نقل
دی ، چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دالله ﷻ سره څوك شریك مه جوړوی که څه هم تاسی ټکړی ټکړی
سی یاتاسی په دار وځیږول سی یاتاسی ژوندی وسوځول سی .

(دوهمه ګناه دمور او پلار سره بد سلوکي ده)

تردی وروسته دوهم شی دا ارشاد فرمایی ، وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا یعنی دمور اوپلار سره داحسان معامله
اوښه سلوك کوی، مقصد خودلته دادی چی دمور اوپلار نافرمانی مه کوی، دوی ته ازار مه رسوی،
مګرپه حکیمانه انداز سره یی بیان داسی وکی چی ، دمور اوپلار سره داحسان معامله کوی، په دی کی
دی طرف ته اشاره کول دی چی دمور اوپلار په حق کی یوازی دومره پوره نه ده چی ددوی نافرمانی مه
کوی او ازار ورته مه رسوی، بلکی په ښه سلوك اوپه نازبین انداز سره دوی راضی ساتل اوخوشحالول
فرض دی، ددی بیان بل ځای په قرآن شریف کی داسی راغلی دی: وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ یعنی د دوی
په مخکی خپلی اوږی په عاجزی اونیاز مندی سره کښته کوه .

په دی آیت کی یی مور اوپلار ته ازار رسول اوتکلیف ورکول ترشرك وروسته په دوهم نمبر جرم مقرر
کړیدی، لکه چی په بل آیت کی یی ددوی حکم منل اودوی ته راحت رسول ، الله ﷻ دخپل عبادت سره
یوځای ارشاد فرمایلی دی .

وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا .

ستا رب دا فیصله کړي ده چی دده څخه ماسوا دبل چا عبادت مه کوی او دمور اوپلار سره داحسان معامله کوی
اویوبل ځای ارشاد دی ، اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ وَاِلَيَّ الْمَصِيْرُ :زماشکراداکوی اودخپل مور اوپلار، اوبیا

Maktaba Tul Ishaat.com

په زماطرف ته راځي يعني كه خلاف وكي نوسزا به پيدا كي.

په صحيحينوكي دحضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى چي دوى دنبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه چي ترټولو ښه اوبهتر عمل كوم يو دى ، دوى وفرمايل چي ، لمونځ په خپل (مستحب) وخت كي كول ، فرمايي چي مابيا پوښتنه وكړه چي تردى وروسته كم عمل ښه دى ؟ نووى فرمايل دمور اوپلار سره ښه سلوك كول ، بيايي پوښتنه وكړه چي تردى وروسته كوم عمل دى ؟ وى فرمايل ، دالله په لاره كي جهاد كول ، په صحيح مسلم كي په روايت دابوهريره رضي الله عنه ذكر دى چي يوه ورځ نبي كريم ﷺ درى سره وفرمايل ، رَغِمَ اَنْفُهُ ، رَغِمَ اَنْفُهُ ، رَغِمَ اَنْفُهُ ، يعني ذليل سو ، ذليل سو ، ذليل سو ، صحابه كرامو رضي الله عنهم عرض وكى ، يارسول الله ځوك ذليل سو؟ ويي فرمايل ، هغه سړى چاچي خپل مور اوپلار ياپه دوى كي يوتن يي دزوړوالي په زمانه كي پيدا كي ، اوبيا دى جنت ته په داخل نه سو ، مطلب دا دى چي دزوړوالي په زمانه كي دمور اوپلار په خدمت سره دجنت پيدا كول يقيني دي، لوى محروم او ذليل دى هغه سړى چاچي دومره ارزان جنت دلاس څخه وايستى، ارزان په دى وجه چي مور اوپلار كوم چي پراولاد په طبعي طور سره په خپله مهربان وى، هغوى په لږ ډول خدمت سره ډير خوشحاليږي، ددوى خوشحاله ساتل څه ډير لوى كارنه دى او دزوړوالي قيد [يي ځكه راوړى] چي كوم وخت مور اوپلار تندرست اوقوي وى او خپل ضرورتونه په خپله پوره كولي سى، بلكي داولاد هم مالي اوجاني امداد كوى، دغه وخت دوى نه دخدمت محتاجه وى اونه ددغه خدمت څه وزن وى، دقدر قابل خدمت هغه وخت كيدى سى كله چي دوى دزوړوالي په وجه سره محتاجه وى.

دريم حرام قتل داولاد دى: دريم شى دكوم حراموالي چي په دى آيت كي بيان سوى دى ، هغه قتل داولاد دى اومناسبت يي دادى چي تردى مخكي دمور اوپلار دحق بيان وو، كم چي داولاد پرذمه دى اوپه دى كي داولاد دحق بيان دى كم چي دمور اوپلار پرذمه دى، داولاد سره دبد سلوك كولو ترټولو ناكاره معامله هغه وه كومه چي په جاهليت كي ددوى دژوندى ښخولو ياقتل كولو جاري وه، په دى آيت كي ددى څخه منع سوي ده ، ارشاد فرمايي ، وَلَا تَقْتُلُوٓا اَوْلَادَكُمْ مِّنْ اِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَاِيَّاهُمْ : يعني دغريبي په وجه خپل اولاد مه قتلوى، مونږ تاسي لره هم رزق دركوو اودوى لره هم، دجاهليت په زمانه كي دبي رحمي اوسنگدلي دانا كاره رسم جوړ سوى وو، په كوم كوركي چي به انجلي پيدا كيده، نودابه يي ددى شرم دبيرى څخه چي بيابه زوم جوړيږي، ژوندى به يي په قبركي ښخوله اوكله به يي په دى بيره چي داولاد دپاره به دژوند ضرورتونه او دخوړلو اوچيښلو دسامان په جمع كولو كي مشكلات راپيښيږي، دى سنگدله خلكوبه خپل بچي په خپلو لاسونو سره قتلول ، قرآن كريم دارسم مات كي اوكوم ارشاد چي لوړ ذكر سوپه دى كي يي ددى ذهني مرض هم علاج وكى دكوم په وجه چي به دوى په دى ناكاره جرم كي اخته كيدل چي بچيانولره به خوراك دكوم ځاى څخه پيدا كوو، الله ﷻ په دى آيت كي وښوولة چي دخوراك او رزق رسولو اصلي ذمه وارتاسي نه ياست داكار سيده په سيده دالله ﷻ دى ، تاسي په خپله

Maktaba Tul Ishaat.com

په رزق او خوراك كي هم هغه ته محتاجه یاست، هغه یې درکوي نو تاسي بچیانو لره هم ورکوي که هغه یې درنه کي نوستاسي څه طاقت دی چې یوه دانه دغنمو یادوریجو په خپله پیدا کې، دمځکې ددننه څخه ددانې دیو غندل په شکل کې دمنونو خاوري په څیرولو سره را ایستل بیاهغه ته ددرختي صورت ورکول، بیادې ته ګلونه اومیوه ورکول دچا کاردی ؟ آیامور اوپلار داکار کولی سی، داټول دقادر مطلق دقدرت اوحکمت معجزې دی دانسان دعمل په کښې څه دی ؟ انسان خو یوازې دومره کولی سی، چې مځکه نرمه کې، اوچې درخته راوخیژي نو اوبه ورلره ورکې اوددې حفاظت وکې، لیکن په ګل اومیوه پیدا کولو کې خودده ادنی قدر دخل هم نسته معلومه سوه چې دمور اوپلار داتصور غلط دی چې مونږ بچیانو ته رزق ورکوو، بلکه دالله ﷻ دغیبو دخزانې څخه مور اوپلار ته هم ورکول کیږي اولادته هم ځکه یې دلته دمور اوپلار ذکر مخکې کې، ویې فرمایل چې مونږ تاسې ته هم رزق درکوو، اوددې ته هم، په دې مخکې والي کې دې طرف ته هم اشاره کیدې سي چې تاسې ته رزق په دې وجه درکول کیږي چې تاسې یې بچیانو ته ورسوی، لکه چې په یو حدیث کې دنبي کریم ﷺ ارشاد دی، اِنَّمَا تُنْصَرُوْنَ وَتُرْزَقُوْنَ بِضُعَفَائِكُمْ: یعنې ستاسې دکمزورو خلګوپه برکت سره الله ﷻ ستاسې هم مدد فرمایي اوتاسې ته رزق درکوي. دقرآن کریم په سورت اسرآء کې هم دامضمون ارشاد فرمایل سوي دی مګر هلته یې درزق په معامله کې داولاد مخکې ذکر فرمایلی دی، نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَاِيَّاكُمْ یعنې مونږ دوی ته هم رزق ورکوو اوتاسې ته هم، په دې کې هم دې طرف ته اشاره ده چې درزق ورکولو اولنی مستحق زمونږ په نزد هغه ضعیفان بچیان دي کوم چې په خپله څه نه سي کولی د دوی په خاطر تاسې ته رزق درکول کیږي.

(داولاد تعلیمي او اخلاقي تربیت نه کول او دبې دینۍ دپاره آزاد پریښوول هم یو قسم قتل داولاد دی)

داولاد دقتلولو جرم والي اوسخته ګناه والي کوم چې په دې آیت کې بیان سوی دی، داخو دظاهري قتلولو او وژلو دپاره ښکاره خبره ده اوچې فکر وسي، نواولاد ته تعلیم اوتربیت نه ورکول چې ددې په نتیجه کې دخدای اودرسول ﷺ اودآخرت دفکر څخه غافله پاته سي، په بې حیایو اوبد اخلاقیو کې ګرفتارسي داهم داولاد ترقتل کمه نه ده، قرآن کریم هغه سړی مړ ګڼلی دی کوم چې الله ﷻ نه پیژني او اطاعت یې نه کوي، په آیت، اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَاَحْيَيْنٰهُ کې ددې بیان دی، کوم خلګ چې دخپل اولاد پرکارونو او اخلاقو صحیح کولو توجه نه کوي اودوی آزاد پریږدي یاداسې غلط تعلیم ورته ورکوي، چې په دې سره یې اسلامي اخلاق تباه سي، دغه سړی هم په یو حیثیت سره داولاد قتل کوي اوظاهري قتل اثر خو یوازې ددنیا داخو ورځې ژوند هم تباه کوي اودا قتل دانسان دآخرت هغه همیشه ژوند تباه کوي.

څلورم حرام دبې حیایي کار دی: څلورم شی چې حراموالي یې په دې آیتونو کې بیان سوی دی، هغه دبې حیایي کار دی، ددې متعلق ارشاد فرمایي، وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ یعنې دبې حیایي چې څومره طریقې دي، دهغوی خوا ته هم مه ورځئ برابره خبره ده که په ښکاره وي اوکه په پټه.
فَوَاحِشَ: دفاحشه جمع ده اولفظ دفحش، فاحشه، فحشاء ټول مصدرونه دي، چې پښتو ترجمه یې په بې

Maktaba Tul Ishaat.com

حیایی سره کول کیږي اودقرآن اوحدیث په اصطلاح کې دهر داسې ناکاره کار دپاره دا الفاظ ویل کیږي دکوم چې دبدۍ او ناکاروالي اثرات خراب وي او تر لیرې پورې رسیږي، امام راغب رحمه الله په مفردات القرآن کې اوابن اثیر الجزري رحمه الله په النهایة کې دامعنی بیان کړې ده ، په قرآن کریم کې ځای په ځای دفحش اوفحشاء منع راغلې ده ، په یو آیت کې ارشاد دی ، يَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ، بل ځای ارشاد دی ، حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ ، اونور، دفحش اوفحشاء په دې عام مفهوم کې ټول لوی ګناهونه داخل دي برابره خبره ده که داقوالو سره تعلق لري اوکه دافعالو سره، اوکه دظاهر سره متعلق وي، یادباطن اوزړه سره، دبد کاری اوبې حیایی چې څومره کارونه دي هغه ټول په دې کې داخل دي، په دې وجه په عامو ژبو دالفظ دبد کارې په معنی ویل کیږي، دقرآن کریم په دې آیت کې یې فواحشوته دنژدې ورتلو څخه هم منع کړیده، داکه په عام مفهوم کې واخیستل سي، نوټول بد خویونه اوګناهونه برابره خبره ده که دژبې وي اوکه دلاسو اوپښو اونور اوبرابره خبره ده که دزړه سره متعلق وي، ټول په دې کې داخل سول، اوکه دعوامو مشهوره معنی دبې حیایی واخیستل سي نو بدکاري اوددې اسباب به ورڅخه مراد وي .

بیاپه دې آیت کې یې دفواحش په تفسیر کې داهم وفرمایل: مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ داولنی تفسیر مطابق دظاهري فواحشو څخه دلاسو پښو اوژبې اونورو ټول ګناهونه به مرادوي، اودباطني فواحشو څخه مرادبه هغه ګناهونه وي، کم چې دزړه سره تعلق لري، لکه حسد ، کینه، حرص اوناشکري، بې صبري اونور، اوددوهم تفسیر مطابق دظاهري فواحشو څخه مرادبه هغه دبې حیایی کارونه وي، کوم چې په ډاګه کول کیږي اودباطني څخه مراد هغه کوم چې په پټه کول کیږي، په ښکاره بدکاري کې ددې مقدمي لوازمات ټول داخل دي، په بدنیت سره یوې ښځې ته کتل، لاس اونور ورلره وروړل، ددې سره داسې څه خبرې کول ټول په دې کې داخل دي، اوپه باطني بې حیایی کې هغه ټول خیالونه اوارادې اوددوی دپوره کولو پټ تدبیرونه داخل دي، کوم چې دڅه بې حیایی او بدکاري په سلسله کې کول کیږي .

اوځیني حضرات تفسیر لیکونکي فرمایي چې دظاهري فواحشو څخه هغه دبې حیایی کارونه مراد دي، دکمو بدوالي چې په عام طور سره معلوم اومشهور دی اوټول یې پیژني، اودباطني فواحشو څخه هغه کارونه مراد دي کوم چې دالله ﷻ په نزد دبې حیایی کارونه وي که څه هم په عام طورسره خلګ دابدنه ګڼي یاعامو خلګوته ددې حراموالي معلوم نه وي، مثلاً ښځې ته تردرو طلاقو ورکولو وروسته ښځه کول اوپاته کول یې دداسې ښځې سره نکاح کول چې شرعاً دده دپاره حلاله نه وي، لنډه داده چې دا آیت دفواحشو داصل مطلب په اعتبار سره ټول ظاهري او باطني ګناهونه اودمشهور عام مطلب په اعتبار سره دبد کاری اوبې حیایی چې څومره ښکاره اوپټې طریقې دي، داټولې شاملې دي، اوحکم یې په دې کې دا ورکړی دی ، چې دې شیانوته نژدې کیږي هم مه، دنژدې نه ورتلو څخه مراد دا دی، چې ددااسې مجلسونو اوځایونو څخه ځان ساتي کوم ځای چې ددې خبرې بیره وي چې په ورتلو یې دګناهونو لار هواریږي، په حدیث شریف کې دنبي کریم ﷺ ارشاد دی ، مَنْ حَامَ حَوْلَ حِمًى اَوْشَكَ اَنْ يَقَعَ فِيْهِ یعنی کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

سرې چې دخه ممنوع ځاى پرشا وخوا ګرځي ، څه ليرې نه ده چې په دغه کې دې هم داخل سي، په دې وجه داحتياط تقاضا دا ده چې کوم ځاى ته داخليدل منع وي ددغه ځاى پرشاوخوا دې هم نه ګرځي .

(پنځم حرام په ناحقه قتل دی)

په حرامو کې پنځم شی ناحقه قتل دی، ددې متعلق ارشاد فرمايي: وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ يعني دکم سړي خون چې الله ﷻ حرام کړي دی دی مه قتلوی ، مګرپه حقه سره، او ددې حق تفصيل نبي کريم ﷺ په يوحديث کې بيان فرمايلی دی ، کوم چې په روايت دعبد الله بن مسعود ﷺ په بخاري اومسلم کې نقل سوی دی ، هغه داچې دی فرمايي ، چې ديو مسلمان خون حلال نه دی، مګرپه درو شيانو سره، يودا چې هغه سره ددې چې واده سوی وی اوبد کاري وکې، دوهم داچې ده څوك په ناحقه قتل کړی وی اودی يې په قصاص کې قتل سی، دريم داچې خپل حق دين پرېږدي مرتد سي [العياذ بالله]

حضرت عثمان غني ﷺ چې څه وخت دباغيانو په ګيره (دوره) کې بند وو اودې خلکو دده قتل کول غوښتل، دغه وخت هم حضرت عثمان ﷺ خلګوته داحديث واوروی، ويې ويل: چې الحمدلله زه ددې درو شيانو څخه برې (خلاص) يم، ما داسلام په زمانه کې څه چې دجاهليت په زمانه کې هم هيڅکله زنا نه ده کړې، اونه ماڅوك قتل کړيدی، اونه زما په زړه کې داوسوسه راغلی ده چې زه خپل دين داسلام پرېږدم، بياتاسي پرڅه بنا باندی ما قتل کوی ؟

اوبې وجهې قتل کول لکه څنګه چې دمسلمان حرام دی، دغه ډول دهغه غيرِ مسلم قتل هم حرام دی، کم چې په يو اسلامي ملك کې دملك دقانون پابند ژوند تيروی، يادچا سره چې دمسلمانانو معاهده ده، دهغوی قتلول هم حرام دی .

په ترمذی اوابن ماجه کې په روايت دابوهريره ﷺ دنبي کريم ﷺ دا ارشاد نقل دی چې څوك ذمي غير مسلم قتل کړی ده دالله ﷻ عهد مات کی اوکوم سړی چې دالله ﷻ عهد مات کی هغه به دجنت خوشبويی هم بوی نه کی حال دا دی چې دجنت خوشبيو به داويا ۷۰ کالو په مسافت رسيږی ، په دی يوه آيت کې دلسو څخه دپنځو حرامو اوناجائزو شيانو دبيانولو څخه وروسته ارشاد فرمايي ، ذٰلِكُمْ وَصّٰكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ : يعنی ددی شيانو الله ﷻ تاسی ته تاکيدی حکم کړي دی ددی دپاره چې تاسی پوه سی .

(شپږم حرام ديتيم مال په ناجائزه سره خوړل دی)

په دوهم آيت کې شپږم حکم ديتيم مال په ناجائز طور سره دخوړلو دحراموالی متعلق ارشاد فرمايي: وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ : يعنی ديتيم ما ل ته مه نژدی کيږی، مګرپه داسی طريقه کومه چې ښه وی ، تردی پوری چې دی خپل عمر دبلوغ ته ورسيږی ، په دی کې ديتيمانو نابالغو بچيانو ولی اوپالونکی ته خطاب دی ، چې دی د دوی مال يو اور وګڼی اوپه ناجائز طور سره ددی خوړلو اواخيستلو ته نه نژدی کيږی لکه چې په بل يوآيت کې په دی الفاظو سره راغلی دی چې ، کوم خلګ ديتيمانو مال په ناجائز طور سره په ظلم خوری ، دوی خپلی خيټی داور څخه ډکوی .

Maktaba Tul Ishaat.com

البته دیتیم دمال حفاظت کول او په څه داسې جائز کاروبار یاتجارت کې یې لګول، چې زیاتیږي په او دنقصان بیره په کښې عادتًا نه وي دا طریقه ښه او ضروري ده، دیتیمانو ولي ته دا سې کول پکار دي، تردې وروسته یې دیتیم دمال دحفاظت حد وښوولې ، حَتّٰى یَبۡلُغَ اَشُدَّهٗ یعنې تردې پورې چې دې خپل عمر دبلوغ ته ورسیږي ، نو دولي ذمه واري ختمه سوه ، دده مال دې ده ته وسپارل سي ، دلفظ داشد اصل معنٰی قوت دی او ددې شروع دجمهورو عالمانو په نزد دبالغ کیدو څخه کیږي ، کوم وخت چې په بچي کې نښانې دبلوغت ولیدل سي یادې دپنځلسو کالو عمرته ورسیږي ، دغه وخت دې شرعًا بالغ ګڼل کیږي ، البته دبالغ کیدو څخه وروسته به دا کتل کیږي چې په ده کې دخپل مال دحفاظت او په صحیح ځای کې یې دخرځ کولو صلاحیت پیدا سوی دی او که نه ، که صلاحیت په کې ولیدل سي نو دبالغ کیدو سره به دده مال ده ته وسپارل سي او که داصلاحیت پکښې اوس هم موجود نه وي نو تر پنځه ویشتو ۲۵ کالو ترعمر پورې به دمال حفاظت دولي پرذمه وي، په دې مینځ کې چې وخت هم په ده کې دمال دحفاظت او کاروبار لیاقت پیدا سي، نو ما ل دې ورلره ورکول سي او که په پنځه ویشتو ۲۵ کالو کې هم په ده کې داصلاحیت پیدا نه سو نو بیا دامام اعظم ابو حنیفه رحمه الله په نزد دده مال به پرهر حال ده ته ورکول کیږي ، په دې شرط چې دده دانِستوالي دصلاحیت دلیونتوب اوجنون حد ته نه وي رسیدلی اوځینې امامانو په نزد دغه وخت به هم مال ده ته نه سپارل کیږي بلکه شرعي قاضي به دده دمال حفاظت یوچا ذمه وار سړي ته وسپاري .

دامضمون دقرآن کریم دیو بل آیت څخه را اخیستل سوي دی ، چې په هغه کې فرمایي : فَاِنۡ اٰنَسۡتُمۡ مِّنۡهُمۡ رُشۡدًا فَادۡفَعُوۡۤا اِلَیۡهِمۡ اَمۡوَالَهُمۡ : یعنې په یتیمانو بچیانوکې که دبالغ کیدو څخه یې تاسې داصلاحیت ووینې چې دې دخپل مال په خپله حفاظت کولی سي اوپه څه کارو بارکې یې لګولی سي ، نو د دوی مال دوی ته وسپاری دې آیت دا وښووله چې یوازې بالغ والی دمال سپارلو دپاره کافي نه دی، بلکه دمال حفاظت او دکاروبار قابلیت شرط دی.

﴿اووم حرام په ناپ اوتول کې کمې کول دی﴾

اووم حکم په دې آیت کې دناپ اوتول په انصاف سره پوره کول دي دانصاف مطلب دادی چې ورکوونکی دبل فریق په حق کې څه کمی ونه کې او اخیستونکی دخپل حق څخه زیات وانه اخلي (روح المعاني)

دشیانو په معامله کې په ناپ اوتول کې کمی اوزیاتی قرآن سخت حرامه کړي ده او ددې دخلاف کوونکو دپاره په سورة المطففین کې دسخت عذاب وعده راغلې ده، دقرآن تفسیر کوونکی حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمایي چې نبي کریم ﷺ هغو خلګو ته کوم چې په تجارت کې دناپ اوتول کار کوي خطاب کوی او ارشاد فرمایي چې دناپ اوتول کارونه داسې دي چې په دې کې دبې انصافي کولو په وجه سره ستاسې څخه مخکې ډیر امتونه دالله جل جلاله دعذاب په ذریعه هلاك سوي دي (تاسې په دې کې دپوره احتیاط څخه کار اخلئ) (تفسیرِ ابن کثیر)

Maktaba Tul Ishaat.com

(د ...سرانو، ملازمانو اومزدورانو په خپله مقره وظیفه اوخدمت کي کوتاهي کول هم دناپ اوتول دکمي کولو په حکم کي دي)

یاد ساتی چی دناپ اوتول کمی کوم ته چی په قرآن کی تطفیف ویل سوي دی یوازی دتلی اوپیمانی دکمولو سره مخصوص نه دی، بلکه دچاپه ذمه چی دچا څه حق وی ، په دی کی کمی کول هم په تطفیف کی داخل دی ، لکه چی په موطاء امام مالك کی دحضرت عمر ﷺ څخه نقل دی چی یوسړی یی دلمانځه په ارکانوکی پرکمی کولو ولیدی نویی فرمایل چی تا تطفیف وکی یعنی کم حق چی واجب وو، هغه دی ادانه کی، ددی نقل کولو څخه وروسته امام مالك فرمایی ، لِكُلِّ شَيْءٍ وَفَاءٌ وَتَطْفِيفٌ یعنی دحق پوره کول اوکمی کول په هرشی کی وی، یوازی په ناپ اوتول کی کمی نه ده، ددی څخه معلومه سوه چی کوم ملازم خپله وظیفه پوره نه کوی، وخت پټوی یاپه کارکی کوتاهی کوی ، هغه څوك وزیر اوامیر وی اوکی معمولی ملازم اوهغه یو دفتری کار کوونکی وي ، اوکه علمی اودینی خدمت کوونکی وی ، کوم خلك چی دده په ذمه وی او په دی کی کوتاهی کوی نو دی هم په مطففین کی داخل دی ، دغه ډول مزدورکوم چی په خپل مقرره خدمت کي کوتاهي کوی ، هغه هم په دی کی دا خل دی .

تردی وروسته فرمایی ، لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا یعنی ، مونږ یوسړی ته دده ترطاقت زیات دڅه شی حکم نه کوو، دحدیث په ځینو روایتونو کی ددی دا مطلب بیان سوی دی چی کوم سړی ترخپل اختیار ترحد پوری دناپ اوتول پوره حق ادا کی ، نو که ددی باوجود په غیرِ اختیاری طور سره څه معمولی کمی اوزیاتی وسی، نو معاف دی، ځکه چی هغه دده دقدرت او اختیار څخه وتلی دی .

اوپه تفسیرمظهری کی دی چی ددی جملی په زیاتولو سره اشاره دی طرف ته ده چی دحق ادا کولوپه وخت کی احتیاط په دی کی دی چی لږ قدر زیات ورکول سی چی دکمی شك پاته نه سی ، لکه چی نبی کریم ﷺ په یوداسی موقع باندی تول کوونکی ته حکم وکی چی: زِنْ وَاَرْجِحْ یعنی تول کوه اوسر یی کښته کوه، (احمد ، ابوداؤد ، وترمذی بروایت سعید بن قیس ﷺ) اودنبی کریم ﷺ عام عادت دا وو، چی که دچاڅه حق به دده ﷺ په ذمه وو نو دادا کولو په وخت کی به یی دهغه ترحق زیات ادا کوی ، اودبخاری په یو حدیث کی په روایت دجابر ﷺ ذکر دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ، الله ﷻ دی پرهغه سړی رحمت وکی چی دخرڅولو په وخت کی هم نرم وی چی ترحق زیات ورکوی او داخیستو په وخت کی هم نرم وی چی تر حق زیات نه اخلی ، بلکه که څه معمولی کمی هم وی نو راضی سی .

مگردا حکم اخلاقی دی چی په ورکولو کی هم زیات ورکوی اوپه اخستوکی هم که کم وی ، نوجگړه نه کوی ، قانونی شی نه دی چی انسان په داسی کولو مجبوره وی، دی خبری طرف ته داشاری کولو دپاره په قرآن شریف کی ارشاد دی: چی مونږ چاته دهغه ترطاقت زیات حکم نه کوو، یعنی بل ته دهغه دحق څخه زیات ورکول اوپه خپل حق کی په کمی راضی کیدل څه جبری حکم نه دی ځکه چی عامو خلکو لپاره داسی کول اسانه نه دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(اتم حکم عدل او انصاف دی ددی خلاف کول حرام دی)

ارشاد فرمایی: وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ یعنی کله چی تاسی خبره کوی نوحق وایاست، که څه هم هغه خپل قریب وی، دلته دڅه خاص خبری ذکر نسته، په دی وجه دجمهورو تفسیر لیکونکوپه نزد داهر قسم خبری ته شامله ده، برابره خبره ده که هغه خبره دڅه معاملی شاهدی وی اوکه دحاکم دطرفه فیصله یاپه خپل مینځ کی مختلف قسم خبری اوررول وی، په دی ټولوکی دقرآن ارشاد دادی چی هرځای په هر حال کی په خبره کولوکی دحق اوانصاف خیال ساتل پکاردی په څه دعوه کی شاهدی یاپه فیصله کی دحق اوانصاف قائم ساتلو معنیٰ ظاهره ده چی شاهدته کمه خبره یه یقینی طور سره معلومه وی دخپل طرف څخه دیو لفظ دکمی یازیاتی څخه بغیرخومره چی ورته معلومه وی صفا صفا دی ووایی، خپل اټکل اوګمان دی نه چلوی او ددی فکر دی نه کوی چی ددی څخه به چاته فائده رسیږی، اوچاته نقصان، دغه ډول چی دڅه مقدمی فیصله کول وی، نوشاهدان چی په شرعی اصولو وتلی، نوهر څه چی ددوی دشهادت څخه دارنګه دنورو قرائنو څخه ثابت سی، دهغه مطابق فیصله کوی، په شاهدی اوفیصله دواړوکی دی نه دچادوستی اومحبت دحق خبری څخه مانع وی اونه دچا دښمنی اومخالفت په دی وجه یی دلته داجمله زیاته کړه، وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ: یعنی که څه هم هغه سړی دکوم چی دمقدمی شاهدی ورکول وی یا فیصله کول وی، هغه ستاسی قریب وی، بیاهم حق او انصاف دی نه په شاهدی کی دلاسه ورکوی اونه په فیصله کی.

مقصودپه دی آیت کی د دروغو شاهدی اودحق څخه خلاف دفیصلی کولو څخه منع کول دی، ددروغو دشاهدی متعلق ابوداؤد اوابن ماجه دنبی کریم ﷺ دا ارشاد نقل کړي دی چی، د دروغو شاهدی دشرك برابره ده، دری واره فرمایی، اوبیایی دا آیت تلاوت کی، فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ ۝ حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ: یعنی دبت پرستی دګندہ عقیدی څخه ځان ساتی او د دروغو څخه په داسی حال کی چی دالله ﷻ سره څوك شریك جوړنه کی، دغه ډول دحق خلاف دفیصلی کولوپه باره کی ابوداؤد په روایت دحضرت بریده ﷺ دنبی کریم ﷺ دا ارشاد نقل کړي دی چی، قاضیان (یعنی دمقدمو فیصله کوونکی) دری قسمه دی، په دوی کی به یوجنت ته ځی اودوه جهنم ته، چاچی دمعاملی تحقیق دشریعت موافق وکی، حق یی وپیژندی، بیایی دحق مطابق فیصله وکړه هغه جنتی دی، اوچاچی تحقیق وکی، حقه خبره خو یی وپیژنده مګر قصداً یی دهغه څخه فیصله خلاف وکړه، هغه دوږخی دی او دغه ډول هغه قاضی چاته چی علم نه وی یاپه تحقیق اوغور فکرکی یی کمی وکړه اوپه جهالت سره یی څه فیصله ورکړه هغه هم دوږخی دی.

دقرآن مجیدپه بل آیت کی یی دا مضمون نورهم په وضاحت اوتاکید سره بیان کړي دی، چی په شهادت یافیصله دچا د دوستی، خپلولی او تعلق یادښمنی او مخالفت څه اثر نه دی راتلل په کار، لکه یوځای ارشاد دی، وَلَوْ عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ یعنی، حقه خبره که څه هم په خپله ستاسی خلاف

Maktaba Tul Ishaat.com

وي يا دمور او پلار او نورو قريبانو خلاف وي ، ددي ويل اخوا اودي خوا ته كول نه دي په كار.
دغه ډول په يو بل آيت كې حكم دى ، وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا يعني ديو قوم دښمني دې تاسې دانصاف خلاف شاهدي وركولو يافيصلي كولو ته تيارنه كې، او دشاهدي اوفيصلي څخه علاوه په خپل مينځ كې په خبرو اتروكې دحق اوانصاف قائم ساتلو مطلب دادى چې په دې كې دروغ ونه وايي ، دچا غيبت ونه كې ، داسې خبره ونه وايي چې بل ته تكليف په ورسيږي ياڅه جاني يامالي نقصان ورسيږي.

(نهم حكم دالله ﷻ وعده پوره كول يعني دوعدې ماتول حرام دى)

نهم حكم په دې آيت كې دالله ﷻ وعده پوره كول اودوعدې ماتولو څخه دځان ساتل دى ، ارشاد فرمايي وَبِعَهْدِ اللَّهِ أَوْفُوا يعني دالله ﷻ وعده پوره كوى ، دالله ﷻ دوعدې څخه مراد هغه وعده هم كيدى سى كم چې په ازل كې دهر انسان څخه اخيستل سويده، چې په هغه كې انسانانوته ويل سوى وه: أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ آيازه ستاسې رب نه يم، ټولو جواب وركې: بلى يعني بيشكه ته زموږ رب او پروردګار يې، ددى وعدې مقتضى دا ده چې دپروردګار ديوه حكم څخه مخ وانه ړول سي، دګومو كارونو دكولوچې يې حكم كړې دې دا دې ترټولو كارونو مخكې اواهم وګڼي اودګومو كارونو څخه چې يې منع فرمايلې ده، دهغه خواته هم ورنه سي اودشبهاتو څخه يې هم ځان وساتي، خلاصه ددې وعدې دا ده چې دالله ﷻ مكمل اطاعت وكي ، او دا هم كيدى سى چې هغه خاص خاص وعده دګوم ذكر چې دقرآن په مختلفو موقعو باندې فرمايل سوي دى ، هغه مراد وي ، او دهغه څخه دا درې آيتونه هم دى ، دګومو تفسير چې اوس تاسې ويني (په ګوم كې چې لس حكمونه په تاكيد سره بيان سوي دي)

عالمان فرمايي چې په دې وعده كې نذر اومننه پوره كول هم دى ګوم چې يو انسان دخپل طرف څخه دالله ﷻ سره كوى چې فلاني كار به ګوم يابه يې نه ګوم (دقرآن مجيد په يوبل آيت كې يې دا په وضاحت سره بيان فرمايلې دى ، يُوفُونَ بِالنَّذْرِ يعني دالله ﷻ نيك بندګان خپلې منني (نذرونه) پوره كوى.

(لنډه دا ده چې دا نهم حكم په شميركې خونهم حكم دى ، مګر دحقيقت په اعتبارسره پرټولو شرعي احكامو واجباتو اوممنوعاتو باندې حاوى دى) ددې دوهم آيت په آخركې فرمايي ، ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ : يعني ددې كارونو تاسې ته الله ﷻ تاكيدى حكم كړي دى ددې دپاره چې تاسې يې ياد ولرئ.

په دريم آيت كې لسم حكم ذكر دى: وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ : يعني دا دينِ محمدي زما نيكه لارده نو په دې لار باندې چليږئ اوپه نورو لارو مه ځئ چې دغه لارې به تاسې دالله ﷻ دلارې څخه جلاكې په دې كې لفظ دوهٰذا اشاره ددين اسلامي ياقرآن طرف ته ده او دا هم كيدى سى چې دسورة انعام طرف ته اشاره وي ، ځكه چې په دې كې پوره اصول داسلام توحيد ، رسالت او دشرعي احكامو اصول ذكر دى ، او ، مستقيم ددين ددې لارې صفت دى ، ګوم چې يې په نحوي تركيب كې حال ذكر كړي دى او دې طرف ته يې اشاره كړي ده چې ددين داسلام دپاره مستقيم والى لازمي صفت دى ، تردې وروسته فرمايي ، فَاتَّبِعُوهُ يعني كله چې دامعلومه سوه چې دين اسلام زما لارده اوهغه مستقيمه اونيكه لار ده نو اوس دمنزل مقصود نيكه لار په لاس راغله ، په دې وجه پردې لار باندې ځئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا فرمایي وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ، سُبُل: دسبیل جمع ده ، ددی معنی هم لار ده ، مراد دا دی چی الله ﷻ ته درسیدو او دهغه درضا حاصلولو اصلی لار خو یوه ده ، لیکن په دنیاکی خلګو په خپلو خپلو خیالاتو سره مختلفی لاری جوړی کړي دی ، تاسی په دی لاروکی پر یوه لاره هم مه ځی ، ځکه چی دا لاری په حقیقت کی خدای ﷻ ته درسیدو نه دی ، په دی وجه ځوك چی پردی لارو باندی ځی ، هغه دالله ﷻ دلاری ځخه لیری کیږی . په تفسیرِ مظهری کی فرمایي چی دقرآن کریم دنازلولو اودنبی کریم ﷺ درالیږلو منشاء خو دا ده چی خلګ خپل خیالات ، خپلی ارادی اوتجویزونه دقرآن اوسنت تابع کی اوخپل ژوند ددی په سانچه کی واچوی ، لیکن کیږی داسی چی خلګو قرآن اوسنت دخپلو خیالاتو اوتجویزونو په سانچه کی داچولو قصد کړي دی ، کوم آیت یاحدیث چی دخپلی منشاء خلاف وویني نو تاویلونه په کښی کوی اودخپل خواهش مطابق یی جوړوی چی ددی ځخه دمحفوظ کیدودپاره په دی آیت کی هدایت کول سوي دی په مسند دارمی کی یی په روایت دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نقل کړي دی چی یو وار نبی کریم ﷺ یو سیده خط ولیکی اووی فرمایل چی دا دالله ﷻ لار ده ، بیایی ددی رسته اوچپه طرف ته نور خطونه ولیکل اوویی فرمایل چی دا هغه لاری دی ، په کومو چی دتلو ځخه په دی آیت کی منع سوي ده اووی فرمایل چی په دی کی پرهره لاره یوشیطان مسلط دی، کوم چی خلګ دنیکی لاری ځخه اړوی اوددغو طرف ته یی بولی اوتردی وروسته ده ﷺ په دلیل کی دا آیت تلاوت کی .په آخری آیت کی یی بیا ارشاد وفرمایی ، ذٰلِكُمْ وَصّٰكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ : یعنی الله ﷻ ددی تاسی ته تاکیدی حکم کړي دی ، ددی دپاره چی تاسی احتیاط وکی . ددرو سره وو آیتونو تفسیر او په دی کی دبیان سوو اصولو دمحرماتو بیان پوره سو ، په آخرکی دقرآن کریم په اسلوب (طریقه) بیان باندی یونظر واچوی چی دلته لس احکام بیان سوی وه ، دا یی دنن صبا دقانون دکتابونو په ډول په لسو دفعاتو کی ونه لیکل بلکه اول یی دپنځو حکمونو بیانولوځخه وروسته وفرمایل ذٰلِكُمْ وَصّٰكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ اوبیایی دڅلوروحکمونوبیانولوځخه وروسته داجمله دوباره په دی فرق سره ذکر کړه چی د ، تَعْقِلُوْنَ په ځای یی : تَذَكَّرُوْنَ وفرمایل ، اوبیا یی آخری حکم په یوجلا آیت کی بیان کی ، دغه جمله یی بیاپه دی فرق سره ذکرکړه چی د ، تَذَكَّرُوْنَ په ځای یی ، تَتَّقُوْنَ ، وفرمایل .

دقرآن کریم په دی حکیمانه طریقی دبیان کی ډیر حکمتونه دی ، اول دا چی قرآن حکیم دعامی دنیا دقوانینو په ډول محض حاکمانه قانون نه دی بلکی تربیت کوونکی قانون دی، په دی وجه دهر قانون سره دهغه دآسانولو تدبیر هم ښوول سوي دی او دالله ﷻ معرفت او دآخرت فکر هغه شی دی کوم چی انسان په پټه اوپه ښکاره دقانون په پابندی کولو مجبوره کوی، په دی وجه ددرو واړو آیتونو په آخر کی داسی کلمات راوړل سول په کومو سره چی دانسان مخ دمادی دنیا ځخه ګرځی او دالله ﷻ او آخرت طرف ته کیږی ، په اولنی آیت کی چی کم پنځه حکمونه بیان سوی دی ، دشرك ځخه ځان ساتل دمور اوپلار دنافرمانی ځخه ځان ساتل، داولاد دقتل ځخه ځان ساتل، دبی حیایی دکارونو ځخه ځان ساتل، دچا

Maktaba Tul Ishaat.com

دناحق قتل کولو څخه ځان ساتل، ددی په آخرکی خویی لفظ د: تَعقِلُونَ ، استعمال کړي دی ، څکه چی دجاهلیت دزمانی خلکو داڅه عیب نه ګڼی ، په دی وجه یی اشاره دی خبری ته وکړه چی دپلار اونیکه رسمونه اوخیالونه پریږدی ، دعقل څخه کار واخلی .

په دوهم آیت کی څلور حکمونه بیان سول ، یعنی دیتیم مال په ناحقه نه خوړل ، په ناپ اوتول کی کمی نه کول ، په خبره کولوکی دحق اوصدق لحاظ ساتل اوداللہ ﷻ وعده پوره کول ، دا شیان داسی دی چی ددی ضروری والی خودی جاهلانو ته هم معلوم وو او په دوی کی به څه خلګو په دی عمل هم کوی ، مګر ډیرو به ورڅخه غفلت کوی ، او دغفلت علاج دی ، تَذکِرَہ، یعنی دخدای او دآخرت یادول په دی وجه ددی آیت په آخرکی یی لفظ د، تَذکَّرُونَ وفرمایی .

په دریم آیت کی دصراط مستقیم اختیارولو اوددی خلاف دنورو لارو څخه دځان ساتلو هدایت دی اوپوازی دخدای بیره داسی شی دی کوم چی انسان دځپلو خیالاتو اوخواهشاتو څخه دلیری ساتلو صحیح ذریعه کیدی سی، په دی وجه ددی په آخر کی یی ، تَتَّقُونَ وفرمایل ، اوپه دری واړو ځایونوکی یی لفظ دوصیت راوړی ، کوم چی تاکیدی حکم ته ویل کیږی ، په دی وجه ځینی صحابه کرام ؓ فرمایی ، چی کوم سړی دنبی کریم ﷺ مهر کړی سوی وصیت نامه کتل غواړی هغه دی دا دری سره آیتونه ووایی .

ثُمَّ اٰتَيْنَا مُوسَى الْكِتٰبَ تَمَامًا عَلَى الَّذِيْٓ اَحْسَنَ

بیا ورکړو مونږ موسیٰ ؑ ته کتاب دپاره دپوره کولو دنعمت په نیک کار کوونکو

وَتَفْصِيْلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ

دپاره دتفصیل دهر شی او دپاره دهدایت او رحمت چی دغه خلق دځپل رب سره په یوځای

يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوْهُ وَاتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ

کیدو یقین وکړی ، او یو دا کتاب دی چی مونږ نازل کړی دی برکت والا نو په دی چلیږي اوبیره کوی

تُرْحَمُوْنَ ﴿۱۵۵﴾ اَنْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اُنْزِلَ الْكِتٰبُ عَلٰى طَآئِفَتَيْنِ مِنْ

چی په تاسی رحمت وسی، په دی وجه چی تاسی چیری ونه وایاست چی کتاب چی نازل سوی وو صرف په هغو دوو

قَبْلِنَا وَاِنْ كُنَّا عَنْ دِرَاسَتِهِمْ لَغٰفِلِيْنَ ﴿۱۵۶﴾ اَوْ تَقُوْلُوْا لَوْ اَنَّآ اُنْزِلَ

ډلو کومی چی زمونږ څخه مخکې وی، اومونږ ته دهغه دویلو خبرهم نه وو ،یاو وایاست چی که په مونږ نازل سوی وی

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَيْنَا الْكِتٰبُ لَكُنَّآ اَهْدٰى مِنْهُمْ ۚ فَقَدْ جَآءَكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ

کتاب نو مونږ به په لاره چلیدو د دوی څخه نه ، نو راغی تاسی ته دلیل ، ستاسی

رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ ۚ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِ

درب طرف څخه او هدایت اورحمت ، اوس دده څخه زیات ظالم څوك دی كوم چی دروا غجن كړی دالله

اللّٰهِ وَصَدَفَ عَنْهَا ۗ سَنَجْزِى الَّذِيْنَ يَصْدِفُوْنَ عَنْ اٰيٰتِنَا

آیتونه اومنع ورڅخه وکړی مونږ به سزا ورکړو هغو ته چی منع کوی دآیتونو زمونږ څخه

سُوْٓءَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوْا يَصْدِفُوْنَ ﴿۱۵۷﴾

ناکاره عذاب په بدله کی ددې منع کوی

تفسیر: بیا (دشرك دباطلولو ترمضمون وروسته مونږ په مسئله دنبوت کی خبره کوو، چی مونږ ته یوازی نبی نه یی جوړ کړی چی داخلك دومره سوز اوړ په کوی، بلکه ستا څخه مخکی) مونږ موسی (ﷺ پیغمبر جوړکی) کتاب (تورات) مو ورکړی وو چی په دی سره پرښه عمل کوونکو باندی (زمونږ نعمت پوره سی (چی عمل وکی اوکامل ثواب حاصل کی) اودتولو (ضروری) احکامو (ددی په ذریعه سره) تفصیل وسی او (ددی په ذریعه دتولو) رهنمایی وسی، او (دمنونکو دپاره) رحمت وی (مونږ په دی صفت سره کتاب څکه ورکی) چی دغه خلګ (یعنی بنی اسرائیل) دخپل رب سره په یوځای کیدو یقین راوړی (اودملاقات په عقیده سره تول احکام پرځای راوړی) او (کله چی د دوی دورختم سو نو ددی څخه وروسته) دا (قرآن) یو کتاب دی کم چی مونږ (تاته) راولیږلی لوی خیر اوبرکت والا پس (اوس) ددی تابعداری کوی او (ددی څخه دخلاف کولو په باره کی دخدای څخه) بیره کوی چی پرتاسی باندی (دالله ﷻ) رحمت وی (اومونږ داقرآن په دی وجه هم نازل کی چی) هسی نه تاسی خلګ (په قیامت کی دده دنه نازلیدو په صورت کی دکفر اوشرك دعذاب په وخت کی) داسی ووایاست چی کتاب (آسمانی) خویوازی ترمونږ مخکی چی کمی دوی فرقی (دیهودیانو اوعیسایانو) وی، پر هغوی باندی نازل سوی وو اومونږ بی دویلو څخه ناخبره وو (په دی وجه مونږ ته دتوحید حقیقت معلوم نه سو) یا (نورو مخکنیو مومنانو ته دثواب ورکول کیدو په وخت کی) داسی ووایی چی که پر مونږ څه کتاب نازل سوی وای نو مونږ به تردی (مخکنیو مومنانو) زیات پرلاری باندی وای (اوپه عقیدو اوعملونوکی به مونږ ددوی څخه زیات کما ل حاصل کړی وو، دثواب مستحق سوی به وای) پس (یاد ساتی چی) اوس (ستاسی سره هیڅ عذر نسته) تاسی ته (هم) ستاسی درب دطرف څخه یوکتاب (چی حکمونه یی) واضح (دی) او (کوم چی) درهنمایی

Maktaba Tul Ishaat.com

ذريعه (ده) او (دخداى) رحمت (دى) راغلى دى پس (دداسى كافى اوشافى كتاب راتلو څخه وروسته) دهغه سړى څخه زيات به څوك ظالم وى، كوم چى زمونږ دا آيتونه دروغ كى (اونور هم) ددى څخه منع كوى مونږ به اوس (په آخرت كى) دغو خلكو لره كوم چى زمونږ دآيتونو څخه منع كوى ، دوى لره به دوى منع كولو په سبب سخته سزا وركو (داسختى په دى منع كولو سره زياته سوه، كنى يوازى دروغ كول هم موجب دسزا دى)

معلومات اومسئلي: وجه دغفلت دانه ده چى تورات اوانجيل په ژبه دعربو كى نه وو څكه چى دترجمى په ذريعه سره دمضامينو څخه خبرېدل ممكن دى، بلكه وجه دا ده چى اهل كتابو داهل عربو دتعليم اوتوحيد هيڅكله هم اهتمام نه دى كړى او اتفاقًا په غوږكى يومضمون راتلل عادتًا دخبرېدو په باره كى كوم اثركوى كه څه هم په دى خبرېدو سره طلب اوتامل واجبېږى اوپر دى بنا باندى بيا په پاته كولو دتوحيد عذاب ممكن وو، اوپه دى سره دموسٰى اوعيسٰى ﷺ دبعثت په عاموالى اشكال نه لازمېږى ، څكه چى ددى عاموالى اوخاصوالى زمونږ په حضور ﷺ پورى په اعتبار دټولو اصولو اوفروعو دى ، كه نه وى نو په اصولوكى دټولو انبياوو عليهم السلام تابعدارى پرټولو خلكو واجب ده ، نو په دى بنا عذاب صحيح وو، ليكن دا عذر په سرسرى نظركى پيش كيدى سو، اوس يى گنجائش پاته نه سو اودالله دليل پوره سو، او د دوهم قول ، لَوْ اَنَّآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْكِتٰبُ لَكُنَّآ اَهْدٰى مِنْهُمْ متعلق يو سوال او جواب په اعتبار دنجات پيدا كولو داهل فترت دسورۀ مائده د دريمى ركوع په آخركى تير سوى دى .

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِىَ رَبُّكَ اَوْ يَاْتِىَ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ يَوْمَ

دا خلق انتظار نه كوى مگر ددې چى راسى په دوى ملائكى يا راسى ستا رب يا راسى څه نښانى ستا درب په كومه ورځ چى

يَاْتِىْ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا لَمْ تَكُنْ

راسى څه نښانى ستا درب په كار به ورنه سى دهيچا دده ايمان راوړل كوم چى مخكې يى

اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ اَوْ كَسَبَتْ فِىْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا ۗ قُلِ انْتَظِرُوْٓا اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿١٥٨﴾

ايمان نه وى راوړى يا په خپل ايمان يى څه نيكى نه وى كړى ته ﷺ ووايه چى تاسى هم انتظار كوى زه هم انتظار كوم

لنډتفسير: داخلگ (كوم چى وروسته ترنزول دكتاب اودليلونو اووضاحت دحق هم ايمان نه راوړى ، دخپل ايمان راوړلو دپاره) يوازى ددى كارمنتظردى (يعنى انتظار كوونكى معلومېږى) چى دوى ته ملائكى راسى يادوى ته ستارب راسى (لكه چى په قيامت كى دحساب په وخت كى واقع كيږى) ياستا درب څخه لويى نښانى (من جمله دقيامت دنښانو څخه) راسى (مراد ددى لويى نښانى څخه دلمردمغرب دطرف څخه راختل دى، مطلب دا سو چى آيا دايمان په راوړلو دقيامت دواقع كيدو يا دنږدى كيدو انتظار دى ، نو ددى متعلق واورى چى) په كومه ورځ ستا درب (دا) لويه نښانه (ذكر سوى) راسى (په

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه ورځ به) دهیڅ سړی ایمان پکار ورنه سی ، کوم چی دمخکی څخه یی ایمان نه وی راوړی (بلکه په دغه ورځ ایمان راوړی) یا (ایمان یی دمخکی څخه راوړی وی لیکن) ده په خپل ایمان څه نیك عمل نه وی کړی (بلکه په بدو عملونو اوګناهونو کی اخته وی اوپه دغه ورځ ورڅخه توبه وباسی ، نیك عملونه شروع کی نو دده توبه به قبوله نه وی او ددی څخه مخکی که یی دګناهونو څخه توبه کړی وی نو دمومن کیدو په برکت به یی توبه قبوله سوی وای ، نو دتوبی قبلیدل دایمان نفع ده ، دغه وخت ایمان دا خاص نفع ورنه کړه اوکله چی نښانه دقیامت مانعه سوه دقبلیدو دایمان اودتوبی څخه، نوخاص دقیامت واقع کیدل خوبه په درجه اولی مانع وی، بیا انتظار دڅه دی؟ اوکه په دی زړونه هم ایمان رانه وړی نو) ته (دزیاتی زورنی په طور) وفرمایه چی (خیردی ښه ده) تاسی (ددی کارونو) انتظار کوی (اوچی مسلمانیږی نه نومه کیږی) مونږهم (ددی کارونو) انتظار کوو (دغه وخت به پرتاسی مصیبت ولویږی اومونږ مومنان به انشاء الله تعالی نجات پیدا کو)

معلومات اومسئلي: دسورة انعام اکثره حصه داهل مکه اودعربو دمشرکانو دعقیدو اوعملونو داصلاح او د دوی دشبهاتو او سوالاتو په جواب کی نازله سوي ده .

په دی ټول سورة اوخصوصاً په تیرو آیتونوکی یی دمکی او دعربو پر اوسیدونکو باندی واضحه کړه چی تاسی دنبی کریم ﷺ ښکاره معجزی ولیدی دتیرو کتابونو او دتیرو پیغمبرانو پیشګویانی مو ددوی متعلق اوریدلی دی، بیا دمحض امی دژبی څخه دقرآن واضح آیتونه تاسی واوریدل چی دایوه مستقله معجزه هم ده اوس دحق اوصدق لاری ستاسی په مخکی خلاصی سوی اودالله ﷻ حجت په تاسی پوره سو اوس په ایمان راوړلو کی دڅه شی انتظار دی ، دا مضمون یی په دی ذکر سوی آیت کی په ډیر بلیغ انداز سره داسی بیان وفرمایی .

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا أَن تَأْتِيَهُمُ الْمَلَائِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ رَبُّكَ أَوْ يَأْتِيَ بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ .

یعنی داخلګ آیاپه ایمان راوړلو کی ددی انتظارکوی چی دمرګ ملائکی دوی ته راورسیږی ، یا دمیدان دحشر انتظار کوی په کوم کی چی به دجزاء اوسزاء دپاره الله ﷻ راځی ، یا ددی انتظار کوی چی دقیامت ځینی آخری نښانی ووینی ، درب کریم دقیامت په میدان کی دفیصلی دپاره تشریف فرمایل دقرآن کریم په څو آیتونو کی بیان سوی دی ، په سورة بقره کی ددی مضمون آیت داسی راغلی دی .

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا أَن يَأْتِيَهُمُ اللَّهُ فِي ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلَائِكَةُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ .

یعنی آیا داخلګ ددی انتظار کوی چی الله ﷻ دوریځو په سایو کی دوی ته راسی او ملائکی راسی او دخلګو دپاره دجنت او د دوزخ کومه فیصله چی کیدونکی ده هغه وسی ، دالله ﷻ دقیامت په میدان کی تشریف فرما کیدل په څه ډول اوپه څه کیفیت سره به وی، دا دانسان په عقل کی راتلل ګران دی، په دی وجه چی په قرآن کی څه ذکرسوی دی په دی دي ایمان راوړل سی اویقین دی پروسی اودڅه رنګوالی علم یی الله ﷻ ته حواله کړل سی ، مثلاً په دی آیت دا یقین وکړل سی چی الله ﷻ به دقیامت په میدان کی دفیصلی دجزاء اوسزاء دپاره تشریف فرماوی، اونورپه دی کی بحث اوفکر ونه سی چی په څه کیفیت اوڅه جهت سره به وی .

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې آیت کې مخ ته ارشاد فرمایي ، يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا : په دې کې يې خبرداري وفرمایي چې دالله ﷻ دځينو نښانو مخ ته تررا تلو وروسته دتوبې دروازه به بنده سي، کوم سړي چې ددې څخه مخکې ایمان نه وي راوړی او اوس ایمان راوړي نو قبول به نه سي او کوم سړي چې ایمان خو راوړی وو لیکن عمل یې نه وي کړی او دی اوس توبه وکې دنیک عمل اراده وکې نو دده به هم توبه قبوله نه سي ، لنډه دا ده چې کافر دخپل کفر څخه یا فاسق دخپل فسق او ګناه څخه که دغه وخت توبه کول غواړي نو دغه توبه به قبوله نه وي، سبب دادی چې ایمان او توبه یوازې ترهغه وخته پوري قبلیدی سي، ترڅو چې دغه دانسان په اختیار کې وي او کله چې دالله ﷻ عذاب او دآخرت حقیقتونه ولیدل سي نو بیا خوبه هریو انسان په ایمان راوړلو او دګناه څخه په واپس کیدلو خود بخوده مجبوره وي، دمجبوري ایمان او توبه قابل قبول نه دي.

دقرآن کریم په بې شمیره آیتونو کې ذکر دی چې دوږخیان دوږخ ته ورسیږي نو فریاد به وکې او لوبي لوبي وعدې به کوي چې که مونږ اوس دنیا ته دوباره واپس سو نو مونږ به دایمان او نیك عمل څخه ماسوا نور هیڅ ونه کړو، مګر ټولو ته به دا جواب وي چې دایمان او عمل وخت ختم دی او اوس چې تاسي داڅه وایاست دا دمجبوري څخه وایاست، ددې هیڅ اعتبار نسته ، ددې آیت په تفسیر کې دنبي کریم ﷺ دا ارشاد نقل دی چې څه وخت دقیامت په آخري نښانو کې دانښانه ښکاره سي چې لمر دمشرق پرځای دمغرب څخه راوخیژي او ددې په لیدو سره دټول جهان کافران دایمان کلمه ویل شروع کې او ټول نافرمانه فرمانبرداره جوړ سي ، لیکن ددغه وخت ایمان او توبه به قابل قبول نه وي (بغوی بسنده عن ابي هریره ؓ) په دې آیت کې دومره خبره دقرآن په وضاحت سره معلومه سوه چې څه نښاني به داسي واقع سي چې ترهغوی وروسته دتوبې دروازه بنده سي دچا فاسق یا کافر توبه به قبوله نه وي ، لیکن قرآن کریم ددې وضاحت نه دی فرمایلی چې هغه څه نښانه ده ، په صحیح بخاري کې ددې آیت په تفسیر کې په روایت دابوهریره ؓ داحدیث نقل دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې ، قیامت به ترهغه وخته پوري قائم نه سي ترڅو چې دا واقعه پیښه نه سي چې لمر دمغرب دطرف څخه راوخیژي کله چې خلګ دانښانه ووینې نو ټول به ایمان راوړي ، دا به هغه وخت وي دکوم دپاره چې په قرآن کې دا ارشاد دی ، چې دغه وخت به هیڅ نفس ته ایمان راوړل نفع ورنه کې .

ددې تفصیل په صحیح مسلم کې په روایت دحذیفه ابن أُسَیْد ؓ داسي نقل سوی دی چې یو وار صحابه کرامو ؓ دقیامت دنښانو ذکر په خپل مینځ کې کوی چې نبي کریم ﷺ تشریف راوړي ، دغه وخت دوی وفرمایل چې قیامت به ترهغه وخته پوري قائم نه سي ترڅو پوري چې تاسي لس ۱۰ نښاني ونه وینې، ۱: لمر دمغرب څخه راختل . ۲ : اویو خاص قسم دود ، ۳، او دابة الارض، ۴، او دیاجوج ماجوج راوتل، ۵، دحضرت عیسٰی ؑ نازلیدل ، ۶، ددجال راوتل، ۷، ۸، ۹، او په درو ځایونو کې دمځکې ننوتل، یو په مشرق کې بل په مغرب کې او بل په جزیرة العرب کې ۱۰، اویو اور چې دعدن دبیخ څخه به راپورته سي او خلګ به شړي .

او په مسندِ احمد کې په روایت دابن عمر ؓ نقل دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې په دې نښانو کې به

Maktaba Tul Ishaat.com

نرتولو اول دمغرب دطرف څخه دلمر راختل اوددابة الارض راوتل واقع کیږي، امام قرطبي رحمه الله په التذکرة کې اوحافظ ابن حجر رحمه الله په شرح دبخاري کې په روایت دحضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه دا هم نقل کړي دي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې ددې واقعې یعنې دمغرب څخه ترلمر ختلو وروسته به تر یوسل او شلو ۱۲۰ کالو پورې دنیا قائمه وي (روح المعاني)

ددې تفصیل څخه وروسته دلته داسوال پیدا کیږي چې حضرت عیسیٰ علیه السلام کله نازل سي نودصحیح روایتونو موافق به دې خلګوته دایمان دعوت ورکوي اوخلګ به ایمان قبلوي اوپه ټوله دنیا کې به داسلام نظام رائج سي، ظاهره ده چې که ددغه وخت ایمان مقبول نه وي نودا دعوت او دخلګو په اسلام کې داخلیدل خو ټول غلطیږي، په تفسیرِ روح المعاني کې خو یې ددې جواب دا اختیار کړي دي چې دمغرب دطرف څخه دلمر راختلو واقعه دحضرت عیسیٰ علیه السلام ترتشریف راوړلو کافي زمانه پس به وي ، اودغه وخت به دتوبې دروازه بنده سي.

اوعلامه بلقیني رحمه الله اونور فرمایي چې دا خبره هم دقیاس څخه لیرې نه ده چې دایمان اوتوبې دنه قبلیدو دا حکم کوم چې دلمر دمغرب څخه تر راختلو وروسته به وي تر آخري زمانې پورې به باقي پاته نه وي بلکه څه زمانه پس به داحکم بدل سي او ایمان اوتوبه قبلیدل به شروع سي (روح المعاني) والله اعلم لنډه خبره دا ده چې په ذکر سوي آیت کې که څه هم ددې وضاحت نه دی سوی چې دکومې نښانې دښکاره کیدو څخه وروسته به توبه نه قبلیږي هغه کومه نښانه ده، مګر دنبي کریم ﷺ دبیان څخه واضحه سوه چې ددې څخه مراددلمر دمغرب دطرف څخه راختل دي، اوقرآن کریم په خپله ولې ددې وضاحت نه دی کړی، په تفسیرِ بحرِ محیط کې دي چې دلته دقرآن ددې خبرې پټ پاته کول دغافلِ انسان دبیدارولو دپاره زیات فائده مندي دي چې دی به په هره نوې پیښیدونکې واقعې سره بیداریږي اوپه توبه کې به تلوار کوي.

ددې څخه علاوه ددې پټ والي اواجما ل یوه بله فائده داهم ده، چې دی په دې باندې پوه سي چې لکه څنګه چې دټول عالم دپاره دمغرب څخه په لمر ختو باندې دتوبې دروازه به بنده سي، دغه ډول ددې یوه نمونه دهر انسان دپاره په شخصي طور دتوبې بندیدل دمرګ په وخت کې به وي.

دقرآن کریم په یو بل آیت کې یې داپه واضح طورسره بیان کړي ده.

وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ حَتّٰى اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ اِنِّيْ تُبْتُ الْاٰنَ.

یعنې دهغو خلګو توبه قبوله نه ده کوم چې ګناه کوي، تر دې پورې چې کله په دوی کې دچا مرګ راسي نو وایي چې زه اوس توبه باسم ، او ددې په تشریح کې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي.

اِنَّ تَوْبَةَ الْعَبْدِ تُقْبَلُ مَا لَمْ يُغَرْغِرْ : یعنې دبنده توبه ترهغه وخته پورې قبلیږي ترڅو پورې چې دده روح حلق ته راسي او دمرګ غرغره یې نه وي شروع سوې.

ددې څخه معلومه سوه چې دروح ختلوپه وخت کې کله چې ساه آخري سي دغه وخت هم چې کله دمرګ ملائکې مخ ته راځي ، دغه وخت هم توبه نه قبلیږي ، او دا هم ښکاره خبره ده چې دا صورت حال هم دالله

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ دطرف څخه يوه مهمه نښانه ده ، په دې وجه په ذکر سوې آيت کې په ، بَعۡضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ کې دا دمرګ وخت هم دا خل دی ، لکه چې په تفسيرِ بحرِ محيط کې دځينې عالمانو دا قول نقل سوی هم دی ، او ځينې بزرګان فرمايي ، مَنۡ مَاتَ فَقَدۡ قَامَتۡ قِيَامَتُهٗ يعنی کوم سړی چې مړ سو نو دده قيامت دغه وخت قائم سو ، ځکه چې دار العمل ختم سو او دعملونو دجزاء څه نمونه دقبر څخه شروع سوه .

صائب دا مضمون په نظم کې داسې بيان کړي دی .

توبه ها را نفس باز پسين دست زدست   بيخبر دير رسيدی در محمل بستند

دتوبې وخت دزنکدن څخه تر لږمخکې پورې دی خو ته ناخبره چې خبريدې نود کجاوې دروازه بنده سوې وه دلته دعربي ژبې په اعتبارسره داخبره هم دنظر قابله ده چې په دې آيت کې اول فرمايي ، اَوۡ يَاۡتِيَ بَعۡضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ : اوبيا ددې جملې اعاده کوی اوفرمايي ، يَوۡمَ يَاۡتِيۡ بَعۡضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ لَا يَنۡفَعُ نَفۡسًا اِيۡمَانُهَا په دې کې يې دضمير څخه په کار اخيستو خبره لنډه نه کړه ، ددې څخه معلوميږي چې په اوله کلمه کې چې کوم ، بَعۡضُ اٰيٰتِ ذکر دی ، هغه بل دی ، اوپه دوهمه کلمه کې ، بَعۡضُ اٰيٰتِ ددې څخه مختلف دی ، ددې تفصيل دې طرف ته اشاره کيدی سی کوم چې اوس تاسې په روايت دحذيفه ابن اُسيد ﷺ اوريدلی دی چې دقيامت لس نښانې ديرې مهمې دی ، په دې کې آخري نښانه دمغرب څخه دلمر ختلو ده چې دتوبې دبنديدو نښانه ده ، دآيت په آخرکې ارشاد فرمايي ، قُلِ انۡتَظِرُوۡۤا اِنَّا مُنۡتَظِرُوۡنَ په دې کې نبی کريم ﷺ ته خطاب دی چې ته دې خلګوته ووايه چې الله ﷻ دټولو حجتونو ترپوره کيدو وروسته هم که تاسې مرګ يا قيامت ته انتظارکوی نودغه انتظاروکی مونږبه هم ددې انتظارکوو چې ستاسې سره ستاسې رب څه معامله کوی.

اِنَّ الَّذِيۡنَ فَرَّقُوۡا دِيۡنَهُمۡ وَكَانُوۡا شِيَعًا لَّسۡتَ مِنۡهُمۡ فِيۡ شَيۡءٍ ؕ اِنَّمَاۤ اَمۡرُهُمۡ اِلَى

چاچې لارې جوړې کړې په خپل دين کې اوسول ډيرې دلې ، تالره د دوی سره هيڅ کار نسته ، د دوی کار الله ﷻ

اللّٰهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمۡ بِمَا كَانُوۡا يَفۡعَلُوۡنَ ۝١٥٩ مَنۡ جَآءَ بِالۡحَسَنَةِ

ته حواله دی بيا به هغه خبرکړی دوی په هغه چې دوی کول ، څوک چې راتله وکړی په يوه نيکی

فَلَهٗ عَشۡرُ اَمۡثَالِهَا ۚ وَمَنۡ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزٰۤى اِلَّا مِثۡلَهَا وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُوۡنَ ۝١٦٠

نوده ته دهغه لس چنده دی ،اوڅوک چې راتله وکړی په يوه بدی سره نوسزابه پيداکی دهغه برابراو په دوی به ظلم نه وی.

لنډتفسير: بيشکه کومو خلګوچې خپلِ دين (دکوم چې دوی مکلف دی) جلا جلا کی (يعنی حق دين يې بتمامه قبول نه کی، برابره خبره ده که ټول يې پاته کی يا يوڅه او طريقې دشرک اوکفر اوبدعت يې اختيار کړی) او (مختلفې) دلې دلې جوړې سوی ، ستا ددوی سره هيڅ تعلق نسته (يعنی ته د دوی څخه بری يې پرتا هيڅ الزام نسته) بس (دوی په خپله دخپل نيک اوبد ذمه واردی او) د دوی معامله الله ﷻ ته حواله ده (هغه يې وينی ګوری) بيا (په قيامت کی) به دوی ته ددوی کار وښيي (اوحجت به پرقائم کی دعذاب

Maktaba Tul Ishaat.com

مستحق والی به ظاهرکی) کوم سړی چی نیک کار وکی ده ته به (کم ترکم) لس چنده ثواب ورکول سی (یعنی داسی به وګڼل سی چی ګواکی ده دغه نیکی لس واری کړي ده اودارنګه په یوه نیکی چی څومره ثواب ورکول کیدی اوس به ورته لس حصی ددغه ثواب ورکول کیږی) اوکوم سړی چی بدکار وکی، نو ده ته به دهغه برابر سزا ورکول کیږی (زیاته به ورته نه ورکول کیږی) اوپردغو خلګوبه (ظاهراً هم) څه ظلم نه وی (چی یونیکی یی لیکل سوی نه وی یایی ورلره یوه بدی زیاته لیکلی وی)

معلومات اومسئلي: دسورة انعام زیاته حصه دمکی مشرکانو ته خطاب او ددوی دسوال اوجواب متعلق راغلی دی، چی په دی کی دوی ته داهدایت سوی وو، چی داوخت دالله ﷻ نیکه لاره یوازی په قرآن اودنبی کریم ﷺ په تابعداری کی ده، لکه څنګه چی ترتاسی دمخکی انبیاوو په زمانه کی ددوی اوددوی دکتاب اوشریعت په تابعداری کی نجات وو، نن یوازی ستاسی اوستاسی دشریعت په تابعداری کی نجات دی، دعقل څخه کار واخلی اودا نیکه لار پرینبول اواخوا دیخوا غلطی لاری اختیارول مه کوی، کنی دغه لاری به تاسی دالله ﷻ څخه ډیر لیری بوزی.

دذکر سوی آیتونو څخه په اول آیت کی یوعام خطاب دی چی دعربو مشرکان یهود اونصارا اومسلمانان ټول پکښی داخل دی، داټول یی مخاطب کړیدی دالله ﷻ دنیکی دلاری څخه داوړیدونکو دبدانجام بیان یی کړي دی، او نبی کریم ﷺ ته یی هدایت کړیدی چی پردی غلطو لارو دتلونکو سره ستاهیڅ تعلق نه دی پکار، بیاپه دی کی غلطی لاری هغه هم دی کوم چی دصراط مستقیم څخه بالکل مخالف جانب ته بوتلونکی دی، لکه دمشرکانو اواهلِ کتابو لاری، اوهغه لاری هم دی کوم چی په مخالف جانب کی خونه دی، مګر دنیکی لاری څخه اخوا اودیخوا ته اړونکی دی، هغه دشبهاتو اودبدعاتو لاری دی، دغه هم دانسان په ګمراهی کی اچونکی دی.

ارشاد فرمایی، إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ: یعنی هغه خلګ کومو چی لاری را ایستلی دی په خپل دین کی، اوسوه ډیری فرقی، ستا د دوی سره هیڅ کار نسته، د دوی کارالله ﷻ ته حواله دی، بیابه هغه پوه کی دوی په هغه څه چی دوی کول، په دی آیت کی پر غلطو لارو دتلونکو متعلق اول خویی دا وښووله چی دالله رسول ددوی څخه خلاص دی، دنبی کریم ﷺ د دوی سره هیڅ تعلق نسته، بیایی دوی ته دازورنه واوروله، چی ددوی معامله بس خدای تعالی ته حواله ده، هغه به دوی ته دقیامت په ورځ سزاورکی، په دی کی تفریقه جوړول اوفرقی جوړیدل کوم چی په دی آیت کی ذکردی، ددی څخه مراد دادی چی ددین داصولو تابعداری پریږدی دخپلو خیالاتو اوخواهشاتو مطابق یادشیطان په مکر اوتلبیس کی اخته سی په دین کی څه نوی شیان زیات کی یا ځینی شیان پریږدی، کوم چی په دین کی ضروری وی.

(په دین کي پربدعت پیدا کولو دعذاب سخته زورنه)

په تفسیرِ مظهری کی دی چی په دی کی دتیرو امتونو خلګ هم داخل دی کوموچی دخپل دین اصول پرینبوول، دخپل طرف څخه یی څه شیان په کښی یوځای کړی وه اوددی اُمت بدعتیان هم کوم چی په

دین کی دخپل طرف څخه بی بنیاده شیان شاملوی، نبی کریم ﷺ په یوحدیث کی دامضمون داسی واضح کړي دی چی ، زما امت ته به هم هغه حالات ورپیښ سی، کوم چی بنی اسرائیلوته پیښ سوی وه، په کومو بدو عملونو کی چی دوی اخته سوی وه، زما دامت خلګ به په کټبی کی هم اخته سی ، بنی اسرائیل په دوو اویا ۷۲ فرقوکی تقسیم سوی وه ، زما امت به په دری اویا ۷۳ فرقوکی تقسیم سی چی په دوی کی به دیوی فرقی څخه علاوه نوری ټولی دوږخ ته ځی صحابه کرامو ﷺ عرض وکی چی هغه نجات پیداکونکی فرقه کومه یوه ده؟ ویی فرمایل ، مَآ اَنَا عَلَیْهِ وَاَصْحَابِیْ (یعنی هغه جماعت چی زما په طریقه اوزما داصحابو ﷺ په طریقه باندی ځی) هغه به نجات بیداکی (دا روایت ترمذی ، ابوداود په روایت دابن عمر ﷺ نقل کړي دی) اوطبرانی په معتبر سند سره دحضرت فاروق اعظم ﷺ څخه نقل کړي دی چی ده حضرت عائشی ﷺ ته وفرمایل چی په دی آیت کی دکومو فرقو ذکردی، دابدعتیان اودخپلو خواهشاتو اوخیالاتو تابع دنور طریقو ایجاد کوونکی دی، دامضمون دحضرت ابوهریرة ﷺ څخه په صحیح سندسره نقل دی، په دی وجه نبی کریم ﷺ په دین کی نوی نوی طریقی دخپل طرف څخه ایجاد کول په ډیر تاکید سره منع کړیدی، امام احمد ابوداود ترمذی اونورو په روایت دعرباض بن ساریه ﷺ نقل کړي دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ، په تاسی کی چی کوم خلګ زما څخه وروسته ژوندی پاته سی ، هغوی به ډیر اختلافات ووینی په دی وجه (زه تاسی ته وصیت کوم چی) تاسی زما سنت اودخلفاءِ راشدینو سنت په مضبوطی سره ونیسی ددی مطابق په هرکار کی عمل کوی، دنوو نوو طریقو څخه ځان ساتی ځکه چی په دین کی هرنوی پیدا سوی شی بدعت دی اوهربدعت ګمراهی ده، په یو حدیث کی ارشاد فرمایی چی کم سری دجماعت څخه یوه لویشت جلا سو ده داسلام رسی دخپل غاړی څخه ویستله (ابوداود ، احمد)

په تفسیرِ مظهری کی دی چی دجماعت څخه مرادپه دی حدیث کی دصحابو ﷺ جماعت دی ، وجه دا ده چی الله ﷻ زمونږ آقا محمد مصطفی ﷺ رسول راولیږی او قرآن یی ورته ورکی ، او دقرآن څخه علاوه دوهمه وحی یی ورکړه چی هغه ته حدیث یاسنت ویل کیږی، بیاپه قرآن کی ډیر آیتونه مشکل یامجمل یامبهم دی، ددی دتفسیر اوبیان الله ﷻ دخپل رسول په ذریعه دبیانولو وعده وفرمایله ، د، ثُمَّ اِنَّ عَلَیْنَا بَیَانَهُ هم دامطلب دی ، نبی کریم ﷺ دقرآن دمشکلاتو اومبهماتو تفسیر اودخپلو سنتو تفصیلات خپلو بلا واسطه شاګردانو یعنی صحابه کرامو ﷺ ته دخپل قول او عمل په ذریعه وښووی، په دی وجه دجمهورو اصحابو ﷺ عمل دپوره شریعت الهی بیان او تفسیر دی ، په دی وجه دمسلمان سعادت په دی کی دی چی په هرکار کی دالله ﷻ دکتاب اودنبی کریم ﷺ دسنتو تابعداری وکی او دکوم آیت یاحدیث په مرادکی چی اشتباه وی ، په دی کی هغه اختیارکی کوم چی جمهورو اصحابو ﷺ اختیار کړی وی ، ددی مقدسو اصولو په نظر انداز کولو سره په اسلام کی مختلفی فرقی پیدا سوی ، چی دصحابه وو، عمل اوتفسیر یی نظر انداز کی، دخپل طرف څخه چی په زړه کی یی څه راغلل ، هغه یی دقرآن اوسنت مطلب مقرر کی داهغه دګمراهی لاری دی دکومو څخه چی قرآن کریم وار وار منع فرمایلی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت عائشۀ صدیقه ﷺ فرمایئ چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په شپږو کسانو باندی زه لعنت کوم اوالله ﷻ هم لعنت پرکوی یوهغه سړی چاچی دالله ﷻ په کتاب کی دخپل طرف څخه څه زیات کړل یعنی برابره خبره ده که څه الفاظ یی زیات کړل یا یی په معنٰی کی داسی زیاتی وکی چی داصحابو ﷺ دتفسیر څخه خلاف وی، دوهم هغه سړی کوم چی دتقدیرِ الٰهی څخه منکر سو، دریم هغه سړی کوم چی پرامت په زبر دستی مسلط سی اوعزت ورکړی هغه سړی ته کوم چی الله ﷻ ذلیله کړي دی ، اوذلت ورکی هغه چاته چی چاته الله ﷻ عزت ورکړي دی ، څلورم هغه سړی کوم چی دالله ﷻ حرام حلال گڼی ، یعنی دمکی په حرم کی قتل اوقتال وکی یانبکار په کی وکی ، پنځم هغه سړی چاچی زما داولاد بی حرمتی وکړه، شپږم هغه سړی چی زماسنت یی پرېښوول .

په دوهم آیت کی ارشاد فرمایی ، مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزٰى اِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ په تیر آیت کی ددی بیان وو چی دنیکی لاری څخه اوړیدونکو ته به الله ﷻ په ورځ دقیامت د دوی دعملونو سزا ورکی ، په دی آیت دآخرت دجزا اوسزا کریمانه ضابطه داسی بیانوی چی کوم سړی یونیك کار وکی ، ده ته به لس چنده بدله ورکول سی، اوکوم سړی چی یوه گناه وکی ددی بدله به یوازی دیوی گناه برابر ورکول سی (زیاته نه) ، په صحیح بخاری، مسلم، نسائی اومسندِ احمدکی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، چی ستاسی رب عزوجلِ رحیم دی، کوم سړی چی دڅه نیك کار یوازی اراده وکی دده دپاره یوه نیکی لیکل کیږی، که څه هم ددغه نیکی کولو نوبت هم په لاس ورنسی، بیاچی کله دی دغه نیك کار وکی نو لس نیکی دده په عملنامه کی ولیکل سی اوکوم سړی چی دڅه گناه اراده وکی، مگر بیاهم په دی عمل ونه کی، نودده دپاره هم یوه نیکی ولیکل سی اوکه دغه دگناه کاروکی وکی هم نویوه بدی ورلره ولیکل سی یادغه هم ختمه کړل سی، ددی دومړی عفوی سره سره دالله ﷻ په دربار کی هغه سړی هلاکیدی سی کم چی دخپلو هلاکیدو قصد کړی وی (ابنِ کثیر)

په یوه حدیثِ قدسی کی په روایت دابو ذر ﷺ ارشاد دی ، کوم سړی چی یوه نیکی کوی ده ته دلسو نیکیو ثواب ورکول کیږی او تردی هم زیات، اوکم سړی چی یوه گناه کوی نوده ته سزا صرف دیوی گناه برابر ورکول کیږی یابه زه دغه هم معاف کړم اوکوم سړی چی دومره گناهونه وکی چی ټوله مځکه په ډکه سی، بیاماته راسی او مغفرت غواړی نوزه به هم په دغومره مغفرت معامله دده سره وکړم اوکوم سړی چی ماته یوه لویشت نژدی کیږی، زه به یو لاس ده ته نژدی سم، اوکم سړی چی یولاس ماته نژدی سی، زه به هغه ته یوه غیږه (ددواړو خپرو لاسونوپه قدر) نژدی سم، اوڅوك چی زما طرف ته په خرپوځو راځی زه دهغه طرف ته په منډه ورځم .

دحدیث ددی روایتونو څخه معلومه سوه ، چی دنیکی په جزاء کی ترلسو پوری زیاتوب کوم چی په دی آیت کی ذکردی، دادنٰی حد بیان دی ، اوالله ﷻ په خپل رحم اوکرم سره تردی زیاته جزاء هم ورکولی سی او ورکوی یی هم ، لکه چی دنورو روایتونو څخه اویا چنده یا اووه سوه چنده ثابتیږی .

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی آیت په الفاظو کی داخبره هم دفکر قابله ده، چی دلته لفظ د: جَآءَ بِالْحَسَنَةِ یی فرمایلی دی ، عَمِلَ بِالْحَسَنَةِ یی نه دی فرمایلی، په تفسیرِ بحرِ محیط کی دی چی ددی څخه دی طرف ته اشاره کیږی چی محض په څه نیك یابدکار کولو داجزاء نه ورکول کیږی، بلکی دجزاء اوسزاء دپاره دمرګ تروختـه پوری دغه نیك یابد عمل پاته کیدل شرط دی، ددی نتیجه دا ده چی که یوسړی څه نیك عمل وکی، لیکن بیا دده دځه ګناه په سبب سره هغه عمل حبطه اوضائع سو نودی پردغه عمل دجزاء مستحق پاته نسو. لکه معاذ الله کفر اوشرك خوټول نیك عملونه بربادوی ددی څخه علاوه نورهم ډیر داسی ګناهونه دی چی ځینی نیك عملونه باطل اوبی اثره کوی، لکه چی په قرآن کریم کی دی ، لَا تُبْطِلُوْا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰی یعنی تاسی خپلی صدقی په احسان اچولو یاضرر رسولو باطلی اوضائع کوی مه، ددی څخه معلومه سوه چی دصدقی نیك عمل په احسان اچولو یاضرر رسولو باطل اوضائع کیږی، دغه ډول په حدیث کی دی چی په مسجدکی کښیناستل اودنیا خبری کول، نیکی داسی خوری لکه اورچی لرګی خوری، ددی څخه معلومه سوه چی په مسجد کی چی یی کوم نیك عملونه، نوافل اوتسبیحات اونور کړی وی هغه ددنیا په خبرو سره ضائع سی، دغه ډول دبدو عملونو څخه چی توبه وباسی نوهغه ګناه دعملنامی څخه خرابیږی، دمرګ تروختـه پوری باقی نه پاته کیږی، په دی وجه په دی آیت کی یی دانه دی فرمایلی ، چی څوك څه نیك یابدعمل وکی نوده ته به جزا یاسزا ورکول کیږی، بلکی داسی یی فرمایلی دی چی کوم سړی نیك عمل مونږ ته راوړی نولس چنده ثواب به ورته ورکول کیږی اوکه مونږ ته بدعمل راوړی نودیو عمل سزابه پیدا کی، دالله ﷻ خواته راوړل به هغه وخت وی، کله چی دغه عمل ترآخره پوری قائم او باقی پاته سی، دنیك عمل ضائع کوونکی څه شی ورڅخه ونه سی اودبد عمل څخه توبه او استغفار کوی، دآیت په آخرکی یی وفرمایل ، وَهُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ یعنی په دی لوی عدالت کی ددی خبری امکان نسته چی پرچا څه ظلم وسی اونه دچا په نیك عمل کی دکمی څه امکان سته، اونه دچا پربد عمل باندی ددی څخه دزیاتی سزا احتمال سته.

قُلْ اِنَّنِیْ هَدٰىنِیْ رَبِّیْۤ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ۚ دِیْنًا قِیَمًا مِّلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ حَنِیْفًا ۚ وَمَا

ته ووایه چی ماته ښوونه کړی ده زمارب دلاری سیده ، ددین صحیح دملت ابراهیمی چی یو طرف وو ،

كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿۱۶۱﴾ قُلْ اِنَّ صَلَاتِیْ وَنُسُكِیْ وَ

اونه وو دشرك کوونکو څخه ، ته ووایی زما لمونځ اوزما قربانی

مَحْیَایَ وَمَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۶۲﴾ لَا شَرِیْكَ لَهٗ ۚ وَ

او زما ژوند اوزما مرګ دالله دپاره دی چی پالونکی دټول جهان دی ، نسته شریك هغه لره ،

Maktaba Tul Ishaat.com

بِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿١٦٣﴾ قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ

او دا ماته حکم سوی دی او زه د ټولو څخه اول فرمانبردار یم ته ﷺ ووایه آیا اوس زه د الله څخه ماسوا

اَبْغِيْ رَبًّا وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ۭ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ

تلاش کوم څوک رب ، او هغه دی رب د هر شی او څوک چی گناه کوی

اِلَّا عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۚ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ

نو دده په ذمه دی او بار به پورته نه کړی یو سړی د بل ، بیا ستاسی رب ته ستاسی

مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٦٤﴾ وَهُوَ

د ټولو واپس کیدل دی نو هغه به خبر کړی تاسی په کومه خبره کی چی تاسی جګړه کوله ، او هغه

الَّذِيْ جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ

تاسی خلیفه ګان کړل په مځکه کی او پورته یی کړی په تاسی کی درجی د یو

دَرَجٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ ۭ اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ

په بل باندی چی آزمائش وکړی ستاسی پخپلو ورکړو حکمونو کی ستا رب ژر عذاب ورکوونکی دی ،

وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٦٥﴾ ع

او هغه بخښنی والا مهربانه دی .

لنډتفسیر: ته ووایه چی ماته رب یوه نیکه لار (په ذریعه د وحی) ښوولی ده، چی هغه یو دین دی (کوم چی په ثبوت د دلیلونو سره) مستحکم (دی) کمه چی طریقه ده د حضرت ابراهیم (ﷺ) چی یوه ذره کوږوالی په کښی نسته او هغه (ابراهیم ﷺ) د شرک کوونکو څخه نه وو (او) ته (د دی ذکر سوی دین د څه تفصیل د پاره) وفرمایه چی (د دی دین حاصل دا دی چی) په یقین سره زما لمونځ، زما ټول عبادتونه او زما ژوند او زما مرګ دا ټول خالص د الله ﷻ د پاره دی کوم چی مالك دی د ټول جهان، د ده سره (په عبادت یا د ربوالی په صفتونو کی) څوك شریك نسته او ماته پردی (ذکر سوی دین باندی د قائم اوسیدو) حکم سوی دی او (د حکم موافق) زه (د دی دین په منونکو کی) تر ټولو منونکو اولنی (منونکی) یم، ته (د دی د باطل طرف ته بلونکو ته) ووایه چی آیا (وروسته تر واضح کیدو د حقیقت د توحید او اسلام ستا په خبره) زه د خدای ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه ماسوا بل څوك درب جوړولو دپاره تلاښ كوم (يعنى نعوذ بالله شرك اختيارکړم) حال دا دی چی هغه مالك دی دهرشی (اوټول شيان دهغه مملوك دی او مملوك دمالك سره شريك كيدی نه سی) او (تاسی چی کوم داسی واياست چی ستاسی گناه زمونږ پرسر ده دامحض لغو خبره ده چی کوونکی دی پاك صاف پاته سی اويوازی دوهم کس دی گناهګارسی ، بلکه خبره دا ده چی) کوم سړی هم چی عمل کوی ، هغه به پرده باندی وی اوڅوك به دبل چا بار (دګناه) پورته نه کی (بلکی هرڅوك به خپل بار لوړوی) بيا (دټولو ترعمل کولو وروسته) به ستاسی دټولو خپل درب طرف ته تلل وی، بيابه هغه تاسی ته وښيی په کوم کوم شی کی چی تاسی اختلاف کوی (چاچی به يودين ته ښه ويل اوچا بل ته، هلته به په عملی اطلاع سره فيصله کول کيږی چی دحق خاوندان به نجات پيداکی اودباطل خاوندان به سزا) او هغه (الله) داسی دی چاچی تاسی په دنياکی داختيار خاوندان جوړ کړاست (په دی نعمت کی خوتماثل دی) اوديوه يی پربل باندی (په مختلفو شيانوکی) مرتبه زياته کړه (په دی نعمت کی تفاضل دی) ددی دپاره چی (په دی نعمتونو سره) تاسی (په ظاهره) وازمايی په هغو شيانوکی کم چی يی (په ذکرسوو نعمتونوکی) تاسی لره درکړي دی (ازمايل داسی چی څوك ددی نعمتونو قدر کوی، دنعمت ورکوونکی اطاعت کوی اوڅوك يی بی قدری کوی، فرمانبرداری نه کوی، نو ځينی تابعدار سول ، ځينی نافرمانه اوددواړو سره به مناسبه معامله وسی، ځکه چی) په يقين سره ستا رب ډير ژر سزا ورکوونکی (هم) دی اوپه يقين سره هغه واقعی لوی مغفرت کوونکی مهربانی کوونکی (هم) دی (پس دنافرمانو دپاره عذاب دی اودفرمان بردارو دپاره رحمت دی اودنافرمانی څخه فرمانبرداری ته دراتلونکو دپاره مغفرت دی، پس پرمکلفينو باندی ضروری سوه چی دحق دين موافق فرمانبرداری اختيار کی، اودباطل څخه اودحق دمخالفت څخه واپس سی)

معلومات اومسئلي: دادسورة انعام آخری شپږ آيتونه دی ، کوموخلګوچی په حق دين کی افراط اوتفريط اوکمی اوزياتی وکی ، مختلف دينونه يی جوړ کړی وه اوپه خپله په مختلفو ډلو اوفرقوکی تقسيم سوی وه، ددوی په مقابله کی په دی کی اولنی دری آيتونه دحق دين دصحيح تصوير بيانولو اوددين دبنيادی اصولو او ځينو مهمو فروعو اوجزئياتو بيان کړي دی په اولو دوو آيتونوکی داصولو بيان دی اوپه دريم آيت کی دده دمهمو فروعو بيان دی اوپه دواړوکی يی نبی کريم ﷺ مخاطب کړيدی اودا ارشاد ورته سوی دی چی ته خلګوته داخبره ورسوه .

په اول آيت کی ارشاد دی ، قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ : يعنی ته ووايه چی ماته زمارب يوه نيکه لار ښوولی ده، په دی کی يی ارشاد وفرمايی چی ماستاسی په ډول دخپلو خيالاتو يا دپلار نيکه درسمونو تابع لارنه ده اختيار کړی، زمارب ماته دا لار ښوولی ده، اوپه لفظ درب سره يی دی طرف ته هم اشاره وکړه چی دده درب والی دشان دا تقاضاده چی هغه صحيح لار وښيی، تاسی هم که غواړی نو دهغه طرف ته دهدايت سامان ستاسی دپاره هم موجود دی، په دوهم آيت کی فرمايی: دِينًا قِيَمًا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ په دې کې لفظ د ، قِيَمَ مصدر دی په معنیٰ دقیام کې، اومراد ددې څخه قائم پاته کېدل اومستحکم دی، یعنی دادین مستحکم دی، کم چې دالله ﷻ دطرف څخه راغلی پرمضبوطو بنیادونو قائم دی، دچا پرشخصي خیالاتو قائم نه دی اوڅه نوی دین اومذهب هم نه دی چې څوك په کښې شك وکي، بلکه دټیرو ټولو پیغمبرانو علیهم السلام دین دی ، دحضرت ابراهیم علیه السلام نوم یې په دې وجه په خصوصیت سره ذکرکی چې ددنیا دهرمذهب خلګ دده دلویي او امامت قائل دی، په موجوده فرقوکې یهود، نصارا، دعربو مشرکان که په خپل مینځ کې هرڅومره مختلف دي خودحضرت ابراهیم علیه السلام پربزرګۍ اوامامت ټول متفق دی ، دا هغه مقام دامامت دی کوم چې الله ﷻ دخصوصي انعام په طور سره ورته ورکړي دی ، اِنِّيْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا ، بیاپه دوی کې هرې فرقې به ددې ثابتولو کوشش کوی چې مونږ پردین ابراهیمی باندې قائم یو، اوزمونږ مذهب ملت ابراهیمي دی، ددوی داغلطی دلیرې کولو دپاره فرمایي چې حضرت ابراهیم علیه السلام خو دغیرالله دعبادت څخه پرهیز کوونکی اودشرك څخه نفرت کوونکی وو اودا دده ډیر لوی شاهکار دی ، تاسې خلګ چې په شرك کې اخته سواست، نویهودو حضرت عزیر علیه السلام نصاراوو حضرت عیسیٰ علیه السلام اومشرکانو دعربو په زرګونو ډېرې دخدای شریك ومنل، نوبیا چاته ددې وینا څه حق نسته چې دی دملتِ ابراهیمي پابند دی، البته داحق یوازې مسلمان ته دی، چې دی دشرك اوکفر څخه بیزاره دی.

په دریم آیت کې فرمایي ، قُلْ اِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ په دې کې لفظ د ، نُسُك په معنیٰ دقربانۍ هم راځي اودحج هریو فعل ته هم نسك وایي، دحج اعمالوته مناسك ویل کیږي، اودا لفظ مطلق دعبادت په معنیٰ کې هم استعمالیږي، په دې وجه ناسك په معنیٰ دعابد ویل کیږي، دلته ددې څخه هره یوه معنیٰ مراد اخیستلی سی اوداصحابو رضی الله عنهم اوتابعینو رحمهم الله مفسرینو څخه داټول تفسیرونه نقل هم دی، مګر مطلق دعبادت په معنیٰ کې دلته زیات مناسب معلومیږي، معنیٰ دآیت داسوه چې ، زما لمونځ اوزما ټول عبادتونه اوزما ټول ژوند اوبیا مرګ داټول دالله رب العٰلمین دپاره دی، په دې کې په فروعو داعمالوکې ترټولو اول یې دلمونځ ذکر وکی ځکه چې دغه دټولو نیکو عملونو روح اوددین ستن ده، تردې وروسته یې دټولو عملونو اوعبادتونو اجمالي ذکر وکی اوبیایې ددې څخه ترقي وکړه، دټول ژوند عملونه اوحالات یې ذکرکړل اوپه آخرکې یې دمرګ ذکر وکی، دا ټول یې ذکر کړل اوویې فرمایل چې زما داټول شیان یوازې دالله رب العٰلمین دپاره دی، دچاچې هیڅوك شریك نسته اودا دکامل ایمان اوکامل اخلاص نتیجه ده چې انسان دخپل ژوند په هرحال اوهرکارکې دا دنظرپه مخکې وساتي چې زما اودټول جهان یورب دی، زه دهغه بنده اوهر وخت دهغه په نظرکې یم، زما زړه، دماغ، سترګې، غوږونه، ژبه اولاس پښې، قلم اوقدم دهغه درضا څخه خلاف پورته کول نه دي په کار داهغه مراقبه ده چې که انسان داپه خپله دماغوکې حاضره کړي نوپه صحیح معنیٰ کې به انسان سی اوګناهونه اوجرمونه به ده په خواکې هم تیرنه سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په تفسیرِ دُرِّ منثورکی تردی آیت لاندی نقل دی چی حضرت ابوموسیٰ اشعری ﷺ به فرمایل چی زما زړه غواړی چی هرمسلمان دا آیت وار وار وایی اودژوند وظیفه یی جوړ کړی، په دی آیت کی دلمانځه اودټولو عباداتونو دالله دپاره کیدل خوظاهره ده چی په دی کی دشرك یاریاء یادڅه دنیوی فائدو دخل نه کیدل مراد دی اودژوند اومرګ دالله دپاره کیدل، ددی مطلب داهم کیدی سی، چی زمامرګ اوژوند دهغه په قبضه دقدرت کی دی، نوبیا دژوند عملونه اوعبادتونه هم دهغه دپاره کیدل لازمی دی. اودا معنیٰ هم کیدی سی چی څومره عملونه دژوند سره تړلی دی هغه هم یوازی دالله ﷻ دپاره دی . لکه لمونځ روژه اودخلګو سره معاملات ، حقونه او فرائض اونور، اوکم عملونه چی دمرګ سره متعلق دی یعنی وصیت اودځان څخه دوروسته دپاره چی هرانسان څه نظام غواړی اوسوچ یی کوی ، دغه ټول دالله رب العٰلمین دپاره او دهغه دحکمونو تابع دی .

بیا فرمایی ، وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ یعنی ماته دالله ﷻ دطرف څخه ددی قول اواقرار اوکامل اخلاص حکم سوي دی او زه ترټولو اولنی فرمانبردار مسلمان یم، مراد دادی چی په دی امت کی ترټولو اول مسلمان زه یم، ځکه چی دهر امت اولنی مسلمان په خپله هغه نبی یارسول وی په کوم چی وحی اوشریعت نازلول کیږی او داولنی مسلمان کیدو څخه دی طرف ته هم اشاره کیدی سی چی په مخلوقاتو کی ترټولو اول دنبی کریم ﷺ نورمبارك پیدا کړل سوی دی ، تردی وروسته ټول آسمانونه اومځکی اومخلوقات په وجودکی راغلی دی لکه چی په یوحدیث کی ارشاد دی ، اَوَّلُ مَا خَلَقَ اللّٰهُ تَعَالیٰ نُوْرِی (روح المعانی)

دیوچادګناه بار بل نه سي پورته کولي : په څلوم آیت کی دمکی دمشرکینو ولید بن مغیره اونورو ددی خبری جواب دی کم چی به هغوی نبی کریم ﷺ اوعامو مسلمانانوته کوله چی تاسی زمونږ دین ته واپس سی نوستاسی دټولو ګناهونو بار به مونږ پورته کو، په دی باندی فرمایی ، قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْ رَبًّا وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ په دی کی نبی کریم ﷺ ته ارشاد دی چی ته دوی ته ووایه چی آیا تاسی زما څخه داغواړی چی ستاسی په ډول زه هم دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك رب تلاښ کړم ، حا ل دا دی چی هغه دټول جهان اوټول کائناتو رب دی، ددی ګمراهی زما څخه هیڅ امید مه لری، پاته سوه ستاسی داخبره چی مونږ به ستاسی دګناهونو بار پورته کو داپه خپله یوحماقت دی، ګناه خوچی کم سړی وکی دهغه په عمل نامه کی به لیکل کیږی اوهغه به یی سزا پیدا کیی، ستاسی په دی خبره دغه ګناه به څنګه تاسی ته راوګرځی، اوکه دا خیال کوی چی په حساب اوعمل نامه کی به ددوی وی خوپه قیامت کی چی یی کمه سزا وی هغه به مونږ پیدا کو نو دا خیا ل هم ددی آیت په راتلونکی جمله کی ردسو ، فرمایی: لَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰی یعنی دقیامت په ورځ به هیڅ کس دبل دګناه بار لوړنه کی، په دی آیت کی دمشرکانو دبی هوده وینا جواب یی ورکړیدی خوعامو مسلمانانوته یی هم داقاعده وښووله چی دقیامت معامله پر دنیا مه قیاس کوی چی دلته څوك سړی جرم وکی نو دبل پرسر اچول کیږی اوبیا خاصکر چی هغه بل په رضا مند

Maktaba-Tul-Ishaat.com

هم وی، مګر دالله ﷻ په عدالت کی ددی هیڅ ګنجائش نسته ، هلته دیوه په ګناه بل هیڅکله نه سی نیول کیدی، ددی آیت څخه یی دلیل ونیوی ، نبی کریم ﷺ ارشاد وفرمایی چی ، په وَلَدِ زنا به دوالدینو دګناه هیڅ اثر نه وی ، دا حدیث حاکم په صحیح سند سره دحضرت عائشی ؓ څخه نقل کړي دی .

اودیو مړی پرجنازه باندی حضرت عبدالله بن عمر ؓ څوك په ژړا ولیدی نووی فرمایل، چی دژوندی په ژړا باندی مړی په عذاب کیږی، ابن ابی ملیکه فرمایی چی ما داخبره دحضرت عائشی ؓ په مخکی نقل کړه نوهغی ؓ وفرمایل چی تاسی دیوداسی سړی خبره نقل کوی چی نه هغه هیڅکله دروغ ویلی دی اونه دهغه په ثقه والی کی څه شبهه کول کیږی، مګر کله چی په اوریدو کی هم غلطی کیدی سی، په دی معامله کی خو دقرآن ناطق فیصله ستاسی دپاره پوره ده: وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰی یعنی دیوه ګناه پربل باندی نه سی لویدی نو دیوه ژوندی سړی په ژړا به مړی بی قصوره څنګه په عذابیدی سی (دُرِّ منثور)

په آخر آیت کی ارشاد فرمایی ، چی بیا تاسی ټولو لره به آخر دخپل رب طرف ته تلل وی ، کوم ځای چی به ستاسی دټولو اختلافاتو فیصله واوړول سی ، مطلب دا دی چی دچالاکی اوکړو خبرو څخه را وګرځی او دخپل انجام فکر وکی . په پنځم اوشپږم آیت کی یی په یوجامع نصیحت سره سورةِ انعام ختم کړي دی اوهغه دتیری زمانی تاریخ اودتیرو قومونو سرګذشت یی دوی ته مخکی کی دخپل مستقبل طرف ته یی ددوی توجه راوګرځوله ، وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ الْأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ : په دی کی لفظ دخَلَآئِف دخلیفه جمع ده چی معنٰی یی ده دچا قائمقام اوځای نشین ، معنٰی دا ده چی الله ﷻ تاسی ترتاسی دمخکی قومونو پرځای آباد کړی یاست، کم مکان اومخکی ته چی نن تاسی خپل ملکیت وایاست دابه صبا دنورو خلګو په ملکیت کی وی ، الله ﷻ هغوی لیری کړل ، تاسی یی دهغوی په ځای کښینولاست ، اوبیا دا خبره هم هروخت دفکر قابله ده چی په تاسی کی هم ټول خلګ یوړول نه دی، څوك مفلس دی، څوك مالدار، څوك ذلیل دی څوك عزت دار اوداهم ښکاره ده چی که مالداری اوعزت په خپله دانسان په اختیارکی وای، نوکم سړی به مفلسی اوذلت اختیار کړی وای دا دتفاوت درجی هم تاسی ته ددی خبر درکوی چی اختیار دیی بلی هستی په لاس کی دی، هغه چی څوك وغواړی مفلس کوی څوك چی وغواړی مالدار کوی یی، چاته چی وغواړی غزت ورکوی اوچاته چی وغواړی ذلت ورکوی .

په آخر آیت کی فرمایی ، لِيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰكُمْ یعنی ستاسی دنورو خلګو پرځای دکښینولو او د دوی دمال جانداد مالك کولو اوبیا د دولت اوعزت په اعتبار سره په مختلفو درجو کی دساتلو مقصد دا دی چی ستاسی سترګی وغړیږی او ددی خبری امتحان وسی چی کم نعمتونه دمخکی خلګو څخه واخیستل سول، تاسی ته وسپارل سول، په دی کی تاسی څه عمل کوی، دشکر ګذاری اوفرمانبرداری اوکه دناشکری اونا فرمانی ؟ په شپږم آیت کی یی ددی دواړو حالتونو انجام داسی وښووی ، اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ : یعنی ستا رب پرنافرمانو باندی ژر عذاب لیږونکی دی او دفرمان بردارو دپاره غفور او رحیم دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دسورة انعام شروع دحمد څخه وسوه اوختم يې په مغفرت وسو، الله ﷻ دې مونږ ټولوته دحمد توفيق راکې او په مغفرت سره مو دې سر فرازه کې . آمين

په حديث کې دې چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې سورة انعام مکمل په يو وار نازل سوی دی او په داسې ډول سره نازل سو چې اويا زره ملايکې تسبيح ويونکې ورسره نازلې سوي، په دې وجه حضرت فاروق اعظم ﷺ فرمايي چې سورة انعام دقرآن کريم دښه او اعلى سورتونو څخه دی .

﴿سورة الاعراف﴾

سُوْرَةُ الْاَعْرَافِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَتَانِ وَسِتُّ اٰيَاتٍ وَّاَرْبَعٌ وَّعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة اعراف په مکه کې نازل سو او ددې دوه سوه (۲۰۶) شپږ آيتونه او څلورويشت (۲۴) رکوع گانې دي .

شروع کوم دالله په نوم سره چې بې حده مهربانه نهايت رحم والا دی .

الٓمّٓصٓ ﴿۱﴾ كِتٰبٌ اُنْزِلَ اِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ حَرَجٌ

دا کتاب نازل سوی دی په تا باندې نو په کار دی چې ستا زړه تنگ نه سي

مِّنْهُ لِتُنْذِرَ بِهٖ وَذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲﴾ اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ

ددې په رسولو سره چې وبيروې په دې سره ، او نصيحت وي ايماندارولره ، چليږئ په هغو کوم چې نازل

اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۭ قَلِيْلًا مَّا

سو په تاسې ستاسې درب دطرف څخه او مه چليږئ ددې څخه ماسوا په نورو ملگرو پسې تاسې ډير کم

تَذَكَّرُوْنَ ﴿۳﴾ وَكَمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا فَجَآءَهَا بَاْسُنَا بَيَاتًا اَوْ

نصيحت قبلوی ، او ډېرې کلي مونږ هلاک کړل چې راغې په دوی زمونږ عذاب دشپې شپې

هُمْ قَآئِلُوْنَ ﴿۴﴾ فَمَا كَانَ دَعْوٰىهُمْ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَآ اِلَّآ اَنْ

يا دغرمې چې دوی بيده وه ، بيا دا وو د دوی اواز هرکله چې راغې په دوی باندې زمونږ عذاب

قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۵﴾ فَلَنَسْئَلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَ

چې ويل يې بيشکه چې مونږ گناهگار وو ، نو مونږ به خامخا دهغوی څخه پوښتنه وکړو کوم ته چې مونږ

Maktaba-Tul-Ishaat.com

لَنَسْـَٔلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۶﴾ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ وَّمَا كُنَّا غَآئِبِيْنَ ﴿۷﴾

پیغمبران لیږلی دی او خامخا به پوښتنه وکړو د رسولانو څخه، بیا به مونږ دوی ته حالات بیان کړو په خپل علم سره او مونږ هیڅ ځای غائب نه وو.

دسورة دمضامینو خلاصه: په ټول سورت دنظر اچولو څخه معلومیږی چی په دی کی زیات تره مضامین دآخرت اورسالت سره متعلق دی، اوپه اول آیت کی: کِتٰبٌ اُنْزِلَ کی دنبوت اوپه آیت نمبر شپږم: فَلَنَسْـَٔلَنَّ کی دآخرت دتحقیق بیان دی اودځلورمی رکوع دنیمایی څخه دشپږمی رکوع ترختمه پوری بالکل دآخرت بحث دی، بیا داتمی ۸ رکوع څخه تر یویشتمی ۲۱ رکوع پوری هغه معاملی ذکر دی کومی چی دانبیاء علیهم السلام او د دوی دامتونو سره سوی دی، داټولی مسئلی درسالت سره متعلق دی اوپه دی تصوکی ورسره درسالت څخه دمنکرانو دسزاګانو هم ذکر په مخه روان دی ، چی موجوده منکران ورڅخه عبرت حاصل کی ، او درکوع دوه ویشتمی ۲۲ دنیمایی څخه ددرویشتمی ۲۳ ترختم پوری بیا دآخرت بحث دی، یوازی داوومی ۷ اودوه ویشتمی۲۲ رکوع په شروع کی اودآخری څلور ویشتمی۲۴ رکوع په اکثره حصه کی خاص پرتوحید بحث دی، باقی ډیره کمه حصه دسورة داسی ده، چی په هغه کی جزوی اوفروعی احکام دمقام په مناسبت سره ذکر دی (بیان القرآن)

لنډتفسیر: الٓمّٓصٓ: (ددی معنی خو دالله ﷻ په علم کی ده اودالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ په مینځ کی یوراز دی ، چی امت یی نه دی په خبر کړی، بلکه ددی دلټون څخه یی هم منع کړي ده و کِتٰبٌ اُنْزِلَ اِلَیْکَ (الخ) دا (قرآن) یو کتاب دی کوم چی (دالله دجانب څخه) تاته په دی وجه لیږل سویدی چی ته ددی په ذریعه (خلک دنافرمانی دسزا څخه) وبیروی، پس ستاپه زړه کی (دچاپه نه منلو سره) بالکل تنګی نه دی راتلل په کار (ځکه چی دچاپه نه منلوسره ستاپه اصلی مقصد دراليږلو کم چی حقه خبره رسول دی، څه خلل نه راځی نوبیاته ولی زړه تنګی کیږی) اودا (قرآن په خصوصیت سره) نصیحت دی، دایماندارو دپاره (مخ ته عام امت ته خطاب دی چی کله ددی قرآن دالله ﷻ دطرف څخه نازلیدل ثابت سول نو) تاسی خلګ ددی (کتاب) تابعداری کوی کوم چی تاسی ته ستاسی درب دطرف څخه راغلی دی (دکتاب تابعداری داده چی په زړه سره دده تصدیق هم وکی اوعمل ورباندی هم) اوخدای ﷻ چی پریږدی (چاچی ستاسی دهدایت دپاره قرآن نازل کی) دنورو ملګرو تابع داری مه کوی (کم چی تاسی ګمراه کی لکه شیطانان دپیریانو اوانسانانو ، مګرسره ددی مشفقانه پوهولو) تاسی خلګ ډیرکم نصیحت منی ، اوځومره کلی دی چی دوی (یعنی ددی اوسیدونکی د دوی دکفر اودراغجن کولو پربنا باندی) مونږ تباه او برباد کړل اوپردوی زمونږ عذاب (یاخو دشپی) په وخت کی راغی (کوم چی دبیده کیدو او دآرام کولو وخت دی) یاپه داسی حالت کی (راغی) چی دوی دغرمی په وخت ارام کوی (یعنی ځینی په یووخت کی اوځینی په بل وخت کی) نو کوم وخت چی پردوی زمونږ عذاب راغی دغه وخت ددوی دځلو څخه بغیر ددی څخه بله هیڅ خبره نه وتله چی واقعی مونږ ظالمان (اوخطاکار) وو (یعنی داسی وخت یی اقرار وکی کله چی

Maktaba Tul Ishaat.com

داقرار وخت تیر سوی وو ، داخو دنیوی عذاب سو) بیا (تردی وروسته به دآخرت دعذاب سامان وی چې
په قیامت کی به) مونږ ددی خلګو څخه (هم) خامخاپوښتنه وکړو کوموته چې پیغمبران لیږل سوی وه (چې
تاسی دپیغمبرانو وېناومنله اوکه نه) اومونږبه دپیغمبرانو څخه خامخا پوښتنه وکړو (چې ستاسی
امتونو ستاسی خبره منلی ده اوکه نه ده ؟ یَوۡمَ یَجۡمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ فَیَقُوۡلُ مَاذَآ اُجِبۡتُمۡ، او ددواړو سوالونو
څخه مقصودبه کفاروته زورنه اوخبرداری وی) بیا چې کله مونږ پوره خبر لرو په خپله به (تولوته مخامخ
ددوی عملونه) بیان کو اومونږ (دعمل دوخت اوځای څخه) غائب نه وو .

معلومات اومسئلي: پرتول سورة دنظر اچولو څخه معلومیږی چې ددی سورة مضامین زیات تره دآخرت،
نبوت اورسالت متعلق دی ، لکه چې دسورة دشروع څخه ترشپږمی رکوع پوری تقریباً دآخرت مضمون
بیان سوی دی، بیا داتمی ۸ رکوع څخه تریو ویشتمی ۲۱ رکوع پوری دتیرو پیغمبرانو حالات او ددوی
دامتونو واقعات، ددوی جزا اوسزا اوپر دوی دراغلو عذابونو، تفصیلی ذکر دی .

فَلَا یَکُنۡ فِیۡ صَدۡرِكَ حَرَجٌ ، په اولنی آیت کی نبی کریم ﷺ ته خطاب فرمایی، ارشاد ورته فرمایل سوي دي
چې داقرآن دالله ﷻ کتاب دی کوم چې تاته رالیږل سوی دی، تاته په دی سره زړه تنګول نه دی په کار،
دزړه تنګیدو څخه مراد دادی چې دقرآن کریم اودده داحکامو په تبلیغ کی دی تاته دچا څخه بیره منع
کوونکی نه سی ، چې خلګ به دا دراوغجن کی اوتاته به آزار ورسوی (لکه چې دا روایت سوی دی دابی
العالیه څخه، مظهری) اشاره ددی خبری طرف ته ده چې چا پرتا داکتاب نازل کړی دی، هغه ستا دامداد
اوحفاظت هم انتظام کړي دی ، په دی وجه ته ولی زړه تنګوی، اوځینی حضرات فرمایی چې دلته دزړه
دتنګی څخه مراد دادی چې دقرآن‌اواسلام دحکمونو په اوریدو سره به هم کوم خلګ چې نه مسلمانیدل
نو دابه پرنبی کریم ﷺ په وجه دشفقت ګرانیدل، نودایی دزړه په تنګیدو سره تعبیر کړل اودایی ښوولی ده
چې ستامنصبی فرض یوازی تبلیغ اودعوت دی ، کله چې تادا کار وکی نو اوس دا ذمه واری ستانه ده
چې څوك مسلمان سو او څوك نه سو، نو بیا بی وجهی ته ولی زړه تنګی کیږی؟

فَلَنَسۡـَٔلَنَّ الَّذِیۡنَ اُرۡسِلَ اِلَیۡهِمۡ وَلَنَسۡـَٔلَنَّ الۡمُرۡسَلِیۡنَ: یعنی دقیامت په ورځ به دعوام الناس څخه پوښتنه کوی چې
مونږتاسی ته رسولان اوکتابونه لیږلی وه، تاسی دهغوی سره څه معامله وکړه ؟ اودرسولانو څخه به
پوښتنه وسی چې درسالت دکم پیغام اودالله ﷻ دحکمونو سره چې مونږتاسی لیږلی واست ، دغه تاسی
خپلو خپلو امتونو ته رسولی دی اوکه نه ؟ (بیهقی داابن عباس ﷺ څخه نقل کړي دی مظهری)
اوپه صحیح مسلم کی دحضرت جابر ﷺ روایت دی چې چې نبی کریم ﷺ دحجة الوادع په خطبه کی
دخلګو څخه پوښتنه وکړه، چې دقیامت په ورځ به ستاسی څخه زماپه باره کی پوښتنه وسی چې
ماتاسی ته دالله ﷻ پیغام رسولی دی اوکه نه؟ فَمَآ اَنۡتُمۡ قَآئِلُوۡنَ یعنی دغه وخت به تاسی ددی په جواب
کی څه وایاست ؟ تولو صحابه کرامو : عرض وکی، چې مونږبه ووایو چې تاسی دالله ﷻ پیغام مونږ ته
رسولی دی او دخدای امانت حق دی ادا کړیدی اوامت سره دی دخیرخواهی معامله وکړه چې دابی

Maktaba Tul Ishaat.com

دادریدل نونبی کریم ﷺ وفرمایل : اَللّٰهُمَّ اشْهَدْ یعنی یا الله ته شاهد سه، او دمسند احمد په روایت کی دی
چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دقیامت په ورځ به الله ﷻ زما څخه پوښتنه وکی چی آیا تا زما پیغام
خلګوته رسولی دی؟ نوزه به په جواب کی عرض وکړم چی مارسولی دی ، په دی وجه اوس تاسی ټول
ددی اهتمام کوی چی کم خلګ حاضردی، هغوی دی غائبوته زماپیغام ورسوی (مظهری)، دغائبو څخه
مرادهغه خلګ دی کوم چی په دغه زمانه کی موجود وه مګر په دغه مجلس کی حاضرنه وه اوهغه
نسلونو ته هم کم چی وروسته پیداکیږی دوی ته دنبی کریم ﷺ دپیغام رسولو مطلب دادی چی دهری
زمانی خلګ دی راتلونکو نسلونوته ددی پیغام درسولو سلسله جاری وساتی چی ترقیامته پوری پیدا
کیدونکو ټولو انسانانو ته داپیغام ورسوی .

وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِنِ الْحَقُّ ۚ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ

اوتول په دغه ورځ حق دی بیا چی دچا تولونه درانه سی

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۸﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ

نودغه دی نجات پیداکوونکی ، او دچا چی تولونه سپک سول نو دوی هغه دی

الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَظْلِمُوْنَ ﴿۹﴾ وَلَقَدْ

چی خپل نقصان یی وکی په دی وجه چی زمونږ دآیتونو څخه یی انکار کوی ، اومونږ

مَكَّنّٰكُمْ فِى الْاَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ ۗ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۰﴾

تاسی ته ځای درکی په مځکه کی اومقررموکی په دی کی ستاسی دپاره رزقونه ، تاسی دیر کم شکرکوی .

لنډتفسیر: او په دغه ورځ (یعنی دقیامت په ورځ دعملونو اوعقیدو) تول واقع کیدونکی دی (چی په عام
طورسره دهریوه حالت ظاهرسی) بیا (دتول څخه وروسته) چی دکوم سړی تول (دایمان) درروندسو (یعنی
هغه به مومن وی) پس داسی خلګ (خو) به کامیاب وی (یعنی نجات به پیداکی) اودکم سړی چی تول
(دایمان) سپک سو (یعنی دغه به کافروی) نودغه خلګ به هغه وی چاچی خپل نقصان وکی، په سبب ددی
چی زمونږ دآیتونو حق یی نه اداکوی اوبیشکه مونږتاسی لره پرمځکه باندی داوسیدو ځای درکی
اومونږ ستاسی دپاره په دی (مځکه) کی دژوند سامان پیداکی (چی ددی مقتضی داوه چی تاسی ددی
په شکریه کی فرمانبردار اوحکم منونکی سی، لیکن) تاسی خلګ ډیرکم شکر کوی (مراد ددی څخه
نافرمان برداری ده، اوکم یی ځکه وفرمایل چی لږ اوډیر نیک کار خواکثره خلګ کوی، خودنه ایمان په
وجه سره هغه داعتبار قابل نه وی)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي: په اولنی آیت کی ارشاد دی ، وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِنِ الْحَقُّ یعنی دښه اوبد عمل وزن کول په دغه ورځ حق اوصحیح دی، په دی کی دهیڅ شك اوشبهی ځای نسته، په دی کی دی طرف ته اشاره ده چی خلگ په دی خبره دوکه نه سی ، چی وزن او تول خوپه هغه شیانوکی کیدی سی ، په کومو کی چی څه بوج او دروندوالی وی، دانسان عملونه که ښه وی اوکه بد ، ددی خودسره څه جسم اووجود نسته چی تول یی وسی، بیا دعملونو وزن به څنگه وسی، ځکه چی اول خومالك الملك قادر مطلق په هرشی باندی قادر دی ، دا څه ضروری ده چی کوم شی مونږ نه سو تللی ، حق تعالی یی هم نه سی تللی ، ددی څخه علاوه نن صبا خوپه دنیاکی دوزن اوتول کولو دپاره نوی نوی آلی ایجاد سوی دی چی نه په کښی دترازو ضرورت سته اونه یی دپلی ، اولگړی اونورو شیانو، نن خو ددی نوو آلاتو په ذریعه هغه شیان هم تلل کیږی ، دکومو دتللو چی دنن څخه مخکی دچا تصورهم نه وو، هوا تلل کیږی ، برقی ځپی تلل کیږی ، یخ اوگرمی تلل کیږی ، اومیتر یی تله وی ، نوکه الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره دانسان عملونه تول کی ، نو په دی کی څه لیری والی دی؟ ددی څخه علاوه دکائناتو خالق په دی هم قادر دی چی زمونږ عملونوته یوڅه وخت جوهری وجود اوڅه شکل اوصورت ورکی ، په حدیثونو کی دنبی کریم ﷺ دیر روایات په دی هم شاهد دی ، چی په برزخ او محشرکی به انسانی عملونه په خاصو خاصو شکلونو اوصورتونو کی راځی ، په قبر کی به دانسان نیك عملونه په یوښکلی صورت کی دده ملگری جوړیږی او بد عملونه به مار او لړم جوړ سی او پر ده به را څرخی، په حدیث کی دی چی کم سړی دمال زکوٰة نه وی ادا کړی، دغه ما ل به دیو زهرجن مارپه شکل کی دده قبرته راسی، اودی به چیچی اووایی به چی زه ستا مال یم، ستا خزانه یم، دغه ډول په معتبرو احادیثوکی دی چی په میدان دحشرکی به دانسان نیك عملونه دده سپرلی جوړه سی اوبد عملونه به یی بوج سی اوپرده به بار سی، په صحیح حدیث کی دی چی دقرآن مجید سورة بقره اوسورة آلِ عمران به په میدان دحشرکی ددوه ژورو وریځوپه شکل کی راسی، پرهغو خلگوبه سایه کوی ، کوم خلگ چی ددوی ویونکی وو، دغه ډول دحدیثو بی شمیره روایتونه په مستند اومعتبرو طریقو سره نقل دی چی ددی څخه معلومیږی چی ددی جهان څخه تر تیریدو وروسته به زمونږ تول نیك اوبد عملونه خاص خاص شکلونه اوصورتونه اختیار کی اودیو جوهری وجود سره به په میدان دحشرکی موجود وی، دقرآن کریم ډیر ارشادات هم ددی تائید کوی، ارشاد دی: وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا ، یعنی خلگوچی په دنیاکی څه عملونه کړی وه، هغه به هلته حاضر اوموجود پیدا کی .

په یوآیت کی فرمایی ، فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ! وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ یعنی کوم سړی چی دیوی ذری برابرهم څه نیك عمل وکی ، نو په قیامت کی به هغه وینی، اوکه دیوی ذری برابرهم څه بدوکی، نوپه قیامت کی به هغه هم وینی، ددی حالاتو څخه داظاهره ده چی دانسان عمل به په جوهری وجودکی دده مخ ته راځی، په دی کی هم دتاویل هیڅ ضرورت نسته، چی دعملونو جزا اوسزا به موجوده پیدا کی او

Maktaba Tul Ishaat.com

ربه بی وینی، په دی حالاتوکی ښکاره خبره ده چی ددی عملونو تول کول څه لیری اومشکل کارنه دی،
لیکن دلږ ډول پوهی اوعقل مالك انسان ددی عادی دی چی تول کارونه پرخپلو موجوده حالاتو اوپه
ظاهری اندازوسره قیاس کوی اوتول شیان په دی پیمانه سره ګوری اواندازه کوی، قرآن کریم دده دا حال
داسی بیان کړي دی ، يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ یعنی داخلګ یوازی ددنیوی ژوند
پرظاهری اړخ پیژنی اوهغه هم پوره نه اودآخرت څخه بالکل غافله دی، ددنیا په ظاهری ژوندکی
خومخکه آسمان سره یوځای کوی، لیکن دشیانو دحقیقت څخه چی دکمو صحیح ښکاره کیدل به په
آخرت کی کیدونکی وی، داخلګ بالکل بی خبره دی، په ذکرسوی آیت کی یی ځکه په اهتمام سره دا
وفرمایل : وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِنِ الْحَقُّ چی داظاهر لیدونکی انسان په آخرت کی دوزن کیدو دعملونو څخه
انکار ونه کی، کم چی په قرآن کریم سره ثابته اودتول مسلمان امت عقیده ده .
په قرآن مجیدکی دقیامت په ورځ دعملونو دوزن کولو مسئله په ډیرو آیتونوکی په مختلفو عنوانونو
سره راغلی ده، اودحدیثو روایتونه ددی په تفصیل کی بی شمیره دی .

﴿دعملونو دوزن کولو متعلق یوه شبهه او دهغی جواب﴾

دعملونو دوزن کولو متعلق چی کوم تفصیلی بیان دنبی کریم ﷺ په احادیثوکی راغلی دی، په دی کی
یوه خبره خودا دفکر قابله ده چی دحدیثو په ډیرو روایتونوکی راغلی دی چی په محشرکی به دعدل په
میزان کی ترټولو لوی وزن دکلمی د: لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ مُحَمَّدٌرَّسُوْلُ اللّٰهِ وی په کومه پله کی چی داکلمه وی هغه به
پرټولو باندی درنه وی، ترمذی، ابن ماجه، ابن حبان، بیهقی اوحاکم دحضرت عبدالله ابن عمر؄ څخه
داروایت نقل کړي دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په مشحرکی به زمادامت یو سړی دټول مخلوق
مخ ته راوستل سی اودده به یوکم سل ۹۹ عمل نامی راوړل سی اوپه دی کی به هره یوه عملنامه دومره
اوږده وی ترخومره پوری چی نظر رسیږی اودا ټولی عملنامی به دبدو عملونو اوګناهونو څخه ډکی
وی، ددی سړی څخه به پوښتنه وسی چی په دی عملنامو کی چی څه لیکل سوی دی دغه ټول صحیح دی
اوکه عملنامه لیکونکو ملائکو پرتاڅه ظلم کړیدی اودواقع خلاف یی څه خبره لیکلی ده، دی به اقرار
وکی چی ای زما پرردګاره! څه چی لیکل سوی دی، ټول صحیح دی، اوپه زړه کی به وبیریږی چی اوس
به زما دنجات څه صورت کیدی سی ؟ دغه وخت به الله ﷻ وفرمایی چی نن به پرچا هیڅ ظلم نه وی، ددی
ټولو ګناهونوپه مقابله کی ستا دنیکی یوه پرچه هم زمونږ سره موجوده ده، چی په هغه کی ستا کلمه:
اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُـهٗ لیکل سوي ده دغه سړی به عرض وکی ، چی ای پروردګاره!
ددومره لوی توری عملنامی په مقابله کی به داکوچنی ډول پرچه څه وزن ولری؟ دغه وخت به ارشاد وسی
چی پرتا ظلم نه کیږی ، او په یوه پله کی به هغه ټولی دګناهونو څخه ډکی عملنامی کښیښوول سی اوپه
بله کی به دا دایمان دکلمی پرچه کښیښوول سی، نوددی کلمی داپله به درنه سی او دټولو ګناهونو پله به
سپکه سی، چی دا واقعه یی بیان کړه نو نبی کریم ﷺ وفرمایل ، چی دالله ﷻ دنوم په مقابله کی هیڅ شی

Maktaba Tul Ishaat.com

دروند نه سی کیدی (مظهری)
او په مسند بزار اومستدرك دحاکم کی دحضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کله دحضرت نوح . دوفات وخت راغی نوخپل زامن یی راجمع کړل، ویی فرمایل ، چی زه تاسی ته دکلمی لا اله الا الله وصیت کوم، ځکه چی که اووه آسمانونه اومځکی په یوه پله کی اوکلمه د: لا اله الا الله په بله پله کی کښینول سی ، نو دکلمی پله به په درنه وی ، ددی مضمون روایتونه په حدیثونو کی دحضرت ابوسعید خدری څخه اودحضرت ابن عباس اودحضرت ابو درداء ﷺ څخه په معتبرو سندونو سره دحدیثونو په کتابونو کی منقول دی (مظهری)
ددی روایتونو مقتضی خو دا ده چی دمؤمن پله به همیشه درنه وی برابره خبره ده که دی هرڅومره گناهونه چی وکی ، لیکن دقرآن مجید دنورو آیتونو او ډیرو روایتونو دحدیث څخه ثابتیږی چی دمسلمان نیکی اوبدی به تللی کیږی دچا دنیکیو پله به درنه وی اودچا دبدو ، دچاچی دنیکیو پله درنه سی، هغه به نجات پیدا کی اودچا چی دگناهونو پله درنه سی، دی به په عذاب سی، مثلاً دقرآن مجید په یوآیت کی دی .

وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلاَ تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفٰى بِنَا حَاسِبِيْنَ .

یعنی ، مونږبه دقیامت په ورځ دانصاف تله قائمه کو نو پرچا به ادنٰی قدر ظلم نه کیږی، کمه نیکی یابدی چی دسپلنی ددانی برابرهم که چاکړی وی هغه تول به دعمل په تله کی کښینبوول سی اومونږ دحساب دپاره کافی یو، اوپه سورة قارعه کی دی .

فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ ! فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ! وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ ! فَاُمُّهٗ هَاوِيَةٌ :

یعنی ، دچاچی دنیکیو پله درنه سی هغه به په ښکلی عیش کی وی اودچا چی دنیکیو پله سپکه سوه دده مقام به دوږخ وی .
حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ ددی آیت په تفسیرکی فرمایی چی دکوم مومن دنیکیو پله درنه سی، هغه به دخپلو عملونو سره جنت ته اودچا چی دگناهونو پله درنه سی هغه به هغه به دخپلو عملونو سره جهنم ته ولیږل سی (داروایت کړي دی بیهقی په شعب الایمان کی ، مظهری)
او په ابو داؤد کی په روایت دحضرت ابوهریره ﷺ نقل دی چی که چیری دیوبنده په فرضوکی څه کمی پیدا کړل سی نو رب العلمین به وفرمایی ، چی وگوری ددی بنده څه نفل هم سته اوکه نه ؟ که نفلونه یی موجود وی نو دفرضو کمی به یی په نفلونو سره پوره سی (مظهری)
ددی تولو آیتونو اوروایتونو خلاصه داده چی دمومن مسلمان پله به کله درنه او کله سپکه وی، په دی وجه ځینی عالمان دتفسیر فرمایی چی ددی څخه معلومیږی چی په محشرکی به تول دوه واره وی، اول به دکفر او ایمان وزن (تول) وی چی ددی په ذریعه به دمومن اوکافر فرق وسی په دی تول کی چی دچاپه عملنامه کی یوازی کلمه دایمان هم وی، دده پله به درنه وی اودی به دکافرانو دتولی څخه جلا سی،

Maktaba Tul Ishaat.com

بیابه دوهم تول دنیك اوبد عمل وي په دې کې به دچا مسلمان نیکي اودچا بدی درنې وي، اوددي مطابق به ده ته جزا اوسزا ورکول کیږي، دغه ډول دټولو آیتونو او روایتونو مضمون پرخپل خپل ځای درست دې اودیو بل سره یې تړون راځي (بیان القرآن)

دعملونو وزن به څه رنګه وي؟ په بخاري اومسلم کې په روایت دابوهریره ﷺ داحدیث نقل دې چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې دقیامت په ورځ به ځینې غټ او چاغ کسان راسي چې وزن به یې دالله ﷻ په نزد دیوې ماشي دوزر برابر هم نه وي او ددوی په شاهدي کې یې دقرآن دا آیت ووایه ، فَلَا نُقِیْمُ لَهُمْ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ وَزْنًا یعني دقیامت په ورځ به مونږ ددوی هیڅ وزن مقرر نه کړو (مظهري)، اودحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ په مناقبو کې داحدیث راغلی دی ، چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دده پنډۍ که هرڅومره نرۍ دي لیکن قسم دې په هغه ذات دچاپه قبضه کې چې زما روح دی چې دقیامت دعدل په تله کې دده وزن داحد دغر څخه به هم زیات وي.

او دحضرت ابوهریره ﷺ هغه حدیث په کوم چې امام بخاري خپل کتاب ختم کړیدی، په دې کې دادي چې دوې کلمې داسې دي چې پرژبه ډیرې آسانې دي مګر دعمل په تله کې ډیرې درنې دي اودالله ﷻ په نزد ډیرې محبوبې دي اوهغه کلمه دادي: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِیْمِ، اودحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې د ، سُبْحَانَ اللهِ په ویلو دعمل دتلې نیمه پله ډکیږي او په اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سره باقي نیمه پوره کیږي ، او ابوداود ، ترمذي ، ابن حبان په صحیح سند سره دحضرت ابو درداء ﷺ څخه نقل کړي دي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي، چې دعمل په تله کې دښه خوی برابر هیڅ عمل وزن داره نسته ، اوحضرت ابو ذرِ غفاري ﷺ ته نبي کریم ﷺ وفرمایل چې تاته داسې دوه کارونه ښیم، په کوموچې عمل کول دانسان دپاره څه ګران نه دي اوپه تله دعمل کې به هغه دټولو څخه زیات درانه وي، یوښه خوی، دوهم زیات خاموش پاته کیدل، یعني بې ضرورته خبرې نه کول، اوامام احمد په کتاب الزهد کې په روایت دحاذم ﷺ نقل کړي دي چې دنبي کریم ﷺ خواته یووار جبرائیلِ امین تشریف راوړی، نوهلته یوسړی دالله ﷻ دبیرې څخه ژړیدی ، نوجبرئیل وفرمایل ، چې دانسان دټولو عملونوبه وزن کیږي، مګر دخدای اودآخرت دبیرې څخه ژړل داسې عمل دی چې دانه تلل کیږي، بلکه یوه اوښکه به یې هم دجهنم ترلویو لا لوئ اور مړکي (مظهري)

په یوحدیث کې دي چې دحشرپه میدان کې به یوسړی حاضرسي، کله چې دده عملنامه مخ ته راسي، نودې به خپل نیك عملونه ډیرکم پیداکې، وبه بیریږي چې ناګهانه به یوشی دوریځې په ډول پورته سي اورابه سي اودده دنیکو عملونوپه پله کې به ولویږي اوده ته به وښوول سي چې داستا دهغه عمل ثمره ده کوم چې تاپه دنیاکې خلګوته ددین احکام اومسئلې ښوولي اوازده کولې اودغه ستا دتعلیم سلسله مخکې وچلیده، نوکوم کوم سړي چې عمل په وکي، دهغو ټولوپه عملونوکې ستا حصه هم ولګول سوه (مظهري دابن مبارك څخه)، طبراني په روایت دابن عباس ﷺ نقل کړي دي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي

Maktaba Tul Ishaat.com

چې کوم سړی دجنازې سره ترقبرستانه پورې ولاړ سی دده دعمل په میزان کی به دوه قیراطه کښېښوول سی، اوپه نورو روایتونو کی دی چی ددی قیراط وزن به دأحد دغره برابروی ، طبرانی په روایت دحضرت جابر رضي الله عنه نقل کړي دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دانسان دعمل په تله کی ترټولو اول کم عمل چی به ایښوول کیږی هغه به پر خپل اهل او عیا ل دخرخ کولو اوددوی دضرورتونو پوره کولو نیك عمل وی، اوامام ذهبی رحمة الله عليه دحضرت عمران بن حصین رضي الله عنه څخه نقل کړي دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دقیامت په ورځ به دعالمانو سیاهی په کومه چی دوی علم دین اواحکام ددین لیکلی وی اودشهیدانو وینه وتلل سی نو دعالمانو دسیاهی وزن به دشهیدانو تر وینی زیات سی، دغه ډول دحدیثو روایتونه په قیامت کی دعملونو دتول کولوپه سلسله کی ډیردی، دلته یوځوپه دی وجه ذکر سوه چی ددی څخه دخاصو خاصو عملونو دفضیلت قدر اوقیمت اندازه ولګیږی .

ددی ټولو روایتونو دحدیث څخه، دعمل تللو اندازه مختلفه معلومیږی، دځینو څخه معلومیږی چی عمل کوونکی انسان به تلل کیږی اودوی به دخپل عمل په اعتبار سره سپك اودرانه وی اودځینو څخه معلومیږی چی عملنامی به تلل کیږی اودځینو څخه معلومیږی چی په خپله به عملونه، مجسم کیږی اوهغه به تلل کیږی، دتفسیرِ امام ابن کثیر رحمة الله عليه ددی ټولو روایتونو نقل کولوڅخه وروسته فرمایی چی دا کیدی سی چی وزن به په مختلفو وارونو سره څو واره کول کیږی، اوظاهره خبره ده چی پوره حقیقت ددی معاملو الله ﷻ ته معلوم دی اودعمل کولو دپاره ددی حقیقت پیژندل ضروری هم نه دی، یوازی دومره کافی ده چی زمونږ دعملونو وزن به وی، که دنیك عمل پله سپکه سوه نوعذاب به وی، دابله خبره ده چی الله ﷻ یوڅوك په خپل فضل اوکرم سره یا دیو نبی یاولی په شفاعت سره معاف کی اودعذاب څخه نجات پیداکی، په کمو روایتونو کی چی داذکر دی چی ځینی خلګ به یوازی دایمان دکلمی په برکت نجات پیداکی، اوټول ګناهونه به یی ددی په مقابله کی معاف سی دا ددی استثنایی صورت سره تعلق لری کوم چی دعامی قاعدی څخه جلا دیو خاص فضل اوکرم اظهار دی .

په دی دواړو آیتونو کی دکومو چی تفسیر اوس بیان سو ، ګناهګاران دحشر دمیدان درسوایی اودالله ﷻ دعذاب څخه بیرول وو ، په دریم آیت کی یی دالله ﷻ دنعمتونو ذکر وفرمایی، دحق قبلولو اوپه دی دعمل کولو ترغیب یی داسی ورکی چی مونږ تاسی لره پرمځکه باندی پوره قدرت اومالکانه تصرف درکی، اوبیایی په دی کی ستاسی دپاره دعیش دسامان حاصلولوپه زرګونو لاری خلاصی کړی، ګواکی رب العٰلمین مځکه دانسان دټولو ضرورتونو څخه واخله ترتفریحی سامانه پوری یوعظیم الشان ګودام جوړ کړیدی، اوټول انسانی ضرورتونه یی په دی کی پیداکړیدی، اوس دانسان کار یوازی دومره دی چی ددی ګودام څخه خپل ضرورتونه راوباسی، اوددی داستعمالولو طریقی زده کی، دانسان دهرعلم اوفن او دسائنس دنوو نوو ایجادنو خلاصه ددی څخه ماسوا نور هیڅ نسته چی دکائناتو دخالق پیدا سوی شیان کوم چی دمځکی په ګودام کی محفوظ دی، په سلیقه سره راوباسی، اوپه صحیح طریقه یی

Maktaba Tul Ishaat.com

استعمال کی، بی وقوفه او بد سلیقه سړی کوم چی ددی ګودام څخه درا ایستلو طریقه نه پیژنی او بیا که
یې ورځخه راوباسی، نو د استعمال طریقه یی نه پیژنی، هغه ددی دنفعو څخه محرومه وی، پوه سړی په
دواړو خبرو ځان پوه کی نو نفع ورځخه حاصلوی، لنډه دا چی د انسان ټول ضرورتونه الله ﷻ په مځکه کی
پیدا کړی او اینبی دی چی ددی تقاضا داده چی دی هروخت په هر حال کی د الله ﷻ شکر ګذاروی، مګر
دی په غفلت کی لویږی، دخپل خالق او مالک احسانات هیروی او په دی شیانو کی منبتی پاته کیږی،
په دی وجه دآیت په آخرکی په طور دشکایت ارشاد فرمایی، قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ یعنی تاسی خلک ډیر کم
شکر ادا کوی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ

او مونږ تاسی پیدا کړاست بیا مو درته صورتونه جوړکړل، بیا مونږ حکم وکی ملائکو ته

اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوٓا إِلَّآ إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ

چی سجده وکړی آدم ؑ ته نوسجده وکړه ټولو مګر شیطان نه وو د

السَّٰجِدِينَ ﴿١١﴾ قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَنَا خَيْرٌ

سجده کونکو څخه، وویل تا لره څه مانع وو چی تا سجده ونه کړه کله چی ما تا ته حکم وکی، ویی ویل، زه دده څخه

مِّنْهُ خَلَقْتَنِى مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُۥ مِن طِينٍ ﴿١٢﴾ قَالَ فَاهْبِطْ

ښه یم، زه تا پیدا کړم داور څخه او دی دی پیدا کی دختی څخه، ویی ویل ته کښته سه

مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ

ددی ځای څخه، ته ددی لائق نه یی چی تکبروکړی دلته نو دباندی ووزه، ته ذلیل یی

الصَّٰغِرِينَ ﴿١٣﴾ قَالَ أَنظِرْنِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤﴾ قَالَ إِنَّكَ

ویی ویل چی ماته مهلت راکړه ترهغه ورځی پوری چی خلق دقبرونو څخه پورته کول کیږي، ویی فرمایل، تا ته

مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴿١٥﴾ قَالَ فَبِمَآ أَغْوَيْتَنِى لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَٰطَكَ

مهلت درکړل سو، ویی ویل لکه څنګه چی تا زه ګمراه کړم زه به خامخا کښینم دوی ته، ستا په سیده

Maktaba Tul Ishaat.com

الْمُسْتَقِيمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَآتِيَنَّهُمْ مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ

لاره کی ، بیا به په دوی راځم د دوی دمخکې څخه او د دوی دشاه څخه

وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَائِلِهِمْ ۖ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ ﴿١٧﴾

او راسته طرف څخه او دچپه طرف څخه او بیا به نه کی پیدا اکثره په دوی کی شکر گذار ،

قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَدْحُورًا ۖ لَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٨﴾

ویی ویل ووزه ددې ځای څخه په بد حال سره مردود سوی ، څوك چی په دوی کی ستاپه لار ولاړسی، نوزه به خامخا ډك کړم دوږخ ستاسی دټولو څخه .

لنډتفسیر: او مونږ تاسی ته (د) پیدا (کولو سامان) پیدا کی (یعنی دحضرت آدم .ماده مونږ جوړه کړه، ددی مادی څخه تاسی ټول خلګ یاست) بیا (ترمادی جوړولو وروسته) مونږ ستاسی صورت جوړ کی (یعنی په ماده کی یی دحضرت آدم ﷺ صورت جوړ کی، بیادغه صورت دهغه په اولاد کی راروان دی، دانعمت دایجاد سو) بیا (کله چی حضرت آدم ﷺ جوړ سو او دنومونو علم ورته ورکول سو نو) مونږ ملائکو ته وفرمایل چی آدمﷺ ته (اوس) سجده وکی (دانعمت داکرام سو) نو ټولو ملائکو سجده وکړه بغیر دابلیس څخه چی هغه په سجده کوونکو کی شامل نه سو ، الله تعالی وفرمایل ته سجده نه کوی تا لره ددی څخه کوم کار منع کوونکی دی کله چی ما (پخپله) تاته دسجدی حکم درکی ، ویی ویل (هغه منع کوونکی کار دادی چی) تا زه داور څخه پیدا کړم اودی (آدم ﷺ) تادخاورو څخه پیداکړي دی (دا دشیطانی استدلال اوله مقدمه ده، اودوهمه مقدمه چی ذکریی ونه سو هغه داده چی اورپه وجه دنورانی کیدو ترخاورو افضل دی، دریمه مقدمه داده چی دافضل فرع او اولاده هم دغیرِ افضل دفرعی څخه افضل وی، څلورمه مقدمه داده چی دافضل سجده کول غیرِ افضل ته نامناسبه ده، داڅلور واړه مقدمی یی یوځای کړی ، نو شیطان دخپلی سجدی نه کولو دادلیل جوړ کی، چی زه افضل یم په دی وجه می غیرِ افضل ته سجده ونه کړه، مګر داولی مقدمی څخه ماسوا نوری ټولی مقدمی غلطی دی، او اوله مقدمه هم دعامو انسانانوپه حق کی په دی معنٰی سره صحیح ده، چی دانسان په پیدائش کی غالب جز دخاوری دی دباقی مقدمو غلطوالی ښکاره دی، ځکه چی داور پرخاورو باندی افضل کیدل یو جزوی فضیلت خوکیدی سی، خوپه کلی طور دی ته افضل ویل دعوٰی بی دلیله ده، دغه ډول دافضل دفرعی اواولاد افضل والی هم مشکوك دی په زرګونو واقعات ددی څخه خلاف مخ ته راغلی دی چی دنیك اولاد بد اودبد اولاد نیك وی، دغه شان داهم غلطه ده چی افضل لره مفضول ته سجده کول نامناسب دی، په ځینو وختونو کی دمصلحتو تقاضا ددی څخه خلاف لیدل سوي ده)

الله ﷻ وفرمایل (کله چی ته داسی نا فرمانه یی) نو دآسمان څخه کښته سه تا ته هیڅ حق حاصل نه دی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

چې نه تکبر وکې (خاص کر) په اسمان کې په اوسیدو (کوم ځای چې ترټولو دفرمان بردارو مقام دی) نو (ددې ځای څخه) وزه (لیرې سه) بیشکه ته (ددې تکبرپه وجه سره) په ذلیلانو کې شمار سوی ، هغه وویل ماته مهلت راکړه، دقیامت تر ورځې پورې ، الله ﷻ وفرمایل تاته مهلت درکول سو ، هغه وویل چې په سبب ددې چې تا زه (په حکم تکویني سره) گمراه کړې یم زه قسم اخلم چې زه به دوی (یعني آدم ﷺ او دآدم اولاد دلارې وهلو) ته ستا په سیده لاره باندې (کومه چې حق دین دی، ځم او) کښینم به ، بیابه په دوی (دهر ځلور طرف څخه) حمله کوم ددوی دمخکې څخه هم، دشا څخه هم اوددوی دراسته طرف څخه هم اودچپه طرف څخه هم (یعني ددوی په غولولوکې به دکوشش هیڅ اړخ باقي پاته نه کړم ددې دپاره چې دوی ستا عبادت ونه کړل سی) او (زه به په خپل کوشش کې کامیاب هم سم، لکه چې) ته به په دوی کې اکثره (ستا دنعمتونو) احسان منونکې پیدانه کې الله ﷻ وفرمایل چې ددې ځای (آسمان) څخه ذلیل اوخوار سوی، وزه (اوته چې کومه دآدم ﷺ داولاد دغولولو خبره کوې) نوځه چې ستازړه غواړي هغه کړه زه دټولو څخه بې نیازه یم، نه دچاسیده لارته په راتلوکې زماځه فائده سته اونه یې په گمراه کیدو (څه نقصان) کم سړي چې په دوی کې ستاخبره ومنې، زه به خامخا ستاسې څخه (یعني ابلیس او دده دخبرو منونکو څخه) جهنم ډک کړم.

معلومات اومسئلې: دحضرت آدم ﷺ او دشیطان دا واقعه کومه چې دلته ذکر ده ، ددې څخه مخکې دسورة بقره په ځلورمه رکوع کې بیان سوي ده ، ددې سره دتعلق لرونکو ډېرو هغو کارونو چې تحقیق په کې کول غوښتل دهغو بیان هلته سویدی، دلته دنورو زیاتو تحقیق طلبو کارونو جواب لیکل کیږي.

(دابلیس ترقیامته پورې دژوند دعا قبوله سوه اوکه نه! په صورت دقبلیدوکې ددوو تکراوو خوړونکو آیتونو دالفاظو تطبیق)

ابلیس عینې په هغه وخت کې چې پر ده باندې عتاب اوعذاب کیدی، دالله ﷻ څخه یوه دعا وغوښته ، او هغه هم عجیبه دعا چې ترقیامته پورې دژوند مهلت راکې، ددې په جواب کې چې کم ارشاد حق تعالی فرمایي ددې الفاظ دلته په دې ذکر سوې آیت کې خو یوازې دادي ، اِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ یعني تاته مهلت درکول سو ، ددې الفاظو څخه په قرینه ددعا اوسوال داسې گڼل کیږي چې دامهلت ترقیامته پورې ورکول سو ، لکه چې ده سوال کړې وو ، مگر ددې وضاحت په دې آیت کې نسته، چې دکم مهلت ورکولو ذکر دلته فرمایل سوی، دا دابلیس دوینا مطابق ترقیامته پورې دی یا تریوبل میعاده پورې، لیکن په دوهم آیت کې دلته د: اِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ الفاظ هم راغلي دي چې ددې دظاهري څخه دامعلومیږي چې دابلیس غوښتل سوی مهلت ترقیامته پورې نه دی ورکول سوی بلکه دڅه خاص مودې پورې ورکول سوي دی ، کوم چې دالله ﷻ په علم کې محفوظ دی نوخلاصه یې داسوه چې دابلیس دادعا قبوله خوسوه مگر نا تمام چې دقیامت دورځې پرځای تر یوې خاصې مودې پورې مهلت ورکول سو، په تفسیرِ ابن جریرکې یوروایت دسدي څخه نقل دی چې ددې مضمون تائید ځینې کیږي ددې حدیث الفاظ دادي.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَلَمْ يَنْظُرْهُ اِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ وَلٰكِنْ اَنْظَرَهُ اِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ وَهُوَ يَوْمٌ يُنْفَخُ فِى الصُّوْرِ النَّفْخَةَ الْاُوْلٰى فَصَعِقَ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِى الْاَرْضِ فَمَاتَ الخ الله ﷻ ابلیس ته ترقیامته پوری مهلت نه دی ورکړی بلکه تریوی مقرری ورځی پوری یی مهلت ورکړي دی او دغه ورځ هغه ده په کومه کی چی به اوله شپیلۍ ووهل سی چی آسمان اومځکی والا به ټول په بی هوښه اومړه سی.

ددی خلاصه دا سوه چی شیطان خو په خپله دعاکی ترهغه وخته پوری مهلت غوښتلی وو کله چی دوهمه شپیلۍ ووهل سی اوټول مړی ژوندی سی، ددی نوم: یوم البعث (یعنی ددوباره پورته کیدو ورځ) ده، که دادعا یی بعینه قبوله سوی وای نوکوم وخت چی دیو ذات حق قیوم څخه ماسوا هیڅوك به ژوندی پاته نه سی او د، كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ا وَيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ ظهوربه وسی ، ددی دعاپه بناء به ابلیس هغه وخت هم ژوندی وی ، په دی وجه دده یوه دعا یی تر ، يَوْمُ الْبَعْثِ پوری دمهلت پرځای تر: يَوْمَ يُنْفَخُ فِى الصُّوْرِ پوری په مهلت سره بدله کړه اوقبوله یی کړه اثریی داسو چی څه وخت پرټول عالم باندی مرګ راځی دغه وخت به ابلیس ته هم مرګ راسی بیاچی کله ټول دوباره ژوندی سی، نودی به هم ژوندی سی.

په دی تحقیق سره هغه شبهه هم لیری سوه ، کومه چی دآیت ، كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ څخه ددی دعا متعلق پیدا کیږی چی په ظاهره په دواړوکی ټکر راغی.

لیکن خلاصه ددی تحقیق دا ده چی ، يَوْمُ الْبَعْثِ او يَوْمُ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ دوی جلا جلا ورځی دی ، ابلیس تر: يَوْمُ الْبَعْثِ پوری مهلت غوښتی وو، هغه پوره قبول نه سو، دا یی بدل کی اوتر ، يَوْمُ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ پوری یی مهلت ورکی ، حضرت حکیم الامة تهانوی په بیان القران کی ترجیح دی ته ورکړي ده ، چی په حقیقت کی دا دواړی جلا جلا ورځی دی ، بلکه داولی شپیلی دوخت څخه جنت اودوږخ ته ترداخلیدو پوری به یوه اوږده ورځ وی ددی په مختلفو حصوکی به مختلف واقعات کیږی، ددی مختلفو واقعاتو پربنا باندی ددی واقعی هرطرف ته نسبت کول کیږی، مثلاً دی ته: دشپیلی وهلو ورځ او ورځ دفناء هم ویل کیږی اویوم بعث او، یوم جزا هم ، په دی سره ټول اشکالات ختم سول، فلله الحمد.

آیا دکافر دعا هم قبلیدی سي؟ داسوال په دی وجه پیدا کیږی چی دقرآن دآیتونو، وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِيْنَ اِلَّا فِىْ ضَلَالٍ څخه په ظاهره داګنل کیږی چی دکافر دعا نه قبلیږی، مګر ددی واقعی دابلیس اوذکر سوی آیت څخه دقبلیدو ددعا اشکال ظاهر دی، جواب دادی چی په دنیاکی خودکافر دعا هم قبلیدی سی، تردی چی دابلیس په دول دغټ کافر دعا هم قبوله سوه، مګرپه آخرت کی دکافر دعا قبوله نه ده اوذکر سوی آیت ، وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِيْنَ دآخرت متعلق دی، ددنیا سره ددی هیڅ تعلق نسته.

(دآدم ؑ اوابلیس دواقعي مختلف الفاظ)

په قرآن کریم کی داقصه څوځایه راغلی ده او هرځای ددی سوال اوجواب الفاظ مختلف دی، حال دادی واقعه یوه ده، وجه داده چی په اصلی واقعه کی خوپه ټولو ځایونوکی یو مضمون دی اودالفاظو نقل کول هرځای بعینه ضروری نه دی، روایت په معنی سره هم کیدی سی، دمضمون او مطلب دیووالی څخه وروسته اختلاف دالفاظو لره اعتبار نسته.

Maktaba Tul Ishaat.com

(دابليس دا ژړه ورتيا څنګه وسوه چې په دربار دعزت او دجلال کې يې داسې په بې باکې سره خبرې وکړې؟)

درب العزت ﷻ په پاک دربار کې خو ملائکو اورسولانو ته هم دهيبت اوجلال په وجه دساه اخستو مجال نشته، ابليس څنګه داسې زړه ور سو عالمان فرمايي، چې دا دقهر الهي سخت اظهار دی، کم چې دابليس دمردود کيدو په وجه يوه داسې پرده حائله سوه چې دده څخه يې دالله ﷻ لويي، عظمت او جلال پټ کې اوبې حيايي يې په ده مسلطه کړه (بيان القرآن په اختصار او وضاحت سره)

(دشيطان حمله پرانسان دڅلور طرفه محدوده نه ده، عامه ده)

دقرآن کريم په ذکر سوي آيت کې داذکر دی چې ابليس دآدم ؑ داولاد دګمراه کولو دپاره څلور طرفونه ويلي دي، مخکې وروسته، راسته اوچپه، ليکن دلته په حقيقت کې څه حد تاکل نه دی، بلکې مراد دادی چې دهرطرف څخه اوهرې منعې څخه، په دې وجه ترسر دلوړ دطرف څخه اودپښو لاندې دطرف څخه دګمراه کولو احتمال ددې سره منافي نه دی، دغه ډول په حديث کې چې داذکردی چې شيطان دانسان په بدن کې داخل سي او دويني درګونوپه ذريعه دانسان په ټول بدن کې تصرف کوي، نودا هم ددې سره منافي نه ده، په ذکر سوي آيت کې شيطان ته دآسمان څخه دوتلو حکم دوه واره ورکول سويدی، اول په، فَاخْرُجْ اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ کې، او دوهم په، قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُوْمًا کې، غالبًا اولنی کلام يو تجويز دی او په دوهم کې ددغه تجويز نافذ کول دي (بيان القرآن په اختصار)

وَيٰۤاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا

اواى آدمه! اوسه ته اوستا ښځه په جنت کې بيا خورئ دکوم ځاى څخه چې غواړئ اومه نژدې کيږئ دې درختي ته

مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹﴾ فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا

بيابه تاسې سئ ګناهګار، بيا وغلول دوی شيطان چې ښکاره کړي په دوی

مَاوٗرِيَ عَنْهُمَا مِنْ سَوْاٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هٰذِهِ

باندې هغه شی چې د دوی دنظر څخه پټ وو، د دوی دپردې دانداموڼو څخه، اوده وويل چې تاسې نه یاست منع کړي ستاسې رب ددې

الشَّجَرَةِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ اَوْ تَكُوْنَا مِنَ الْخٰلِدِيْنَ ﴿۲۰﴾

درختې څخه مګر ددې وجهې څخه چې تاسې به سئ چيرې ملائکې يابه سئ دهميشه پاته کيدونکو څخه،

وَقَاسَمَهُمَاۤ اِنِّيْ لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿۲۱﴾ فَدَلّٰىهُمَا بِغُرُوْرٍ فَلَمَّا

اوقسم يې وکې چې زه خامخا ستاسې دوست يمه، بيا يې مائله کړل دوی په دوکه سره،

Maktaba Tul Ishaat.com

ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا

بیا کله چې وڅکله دی دواړو درخته نو ښکاره سو په دوی عورتونه د دوی او شروع سو چې پوري کولې یې په خان

مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ۭ وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا

پوري پاڼې دجنت او آواز وکی دوی ته ، د دوی رب ویې فرمایل چې ما نه واست منع کړی تاسی ددې

الشَّجَرَةِ وَاَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٢٢﴾ قَالَا

درختی څخه او نه می وویل تاسی ته چې شیطان ستاسی ښکاره دښمن دی ، وویل دوی دواړو

رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا ۫ وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ

ای زموږ ربه ظلم وکی موږ پخپل ځان او که ته موږ ونه بخښې ، او په موږ رحم ونه کړې نو موږ به خامخا سو

الْخٰسِرِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالَ اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِي

تباه ، ویې فرمایل کښته سی تاسی به دیو بل دښمنان یاست ، او ستاسی دپاره په

الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿٢٤﴾ قَالَ فِيْهَا تَحْيَوْنَ وَ

مځکه کی تکانه او نفع اخستل وی تر یو وخته پوري ، ویې فرمایل په دې کی به تاسی ژوندي

فِيْهَا تَمُوْتُوْنَ وَمِنْهَا تُخْرَجُوْنَ ﴿٢٥﴾ ع

یاست او په دې کی به مری او ددې څخه به تاسی را ویستل سی

لنډتفسیر: او موږ (آدم ﷺ ته) حکم وکی ، چې ای آدمه ته او ستا بی بی (حواء) په جنت کی اوسی، بیا د کم ځای څخه چې غواړی (او د څه شی چې غواړی) دواړه (انسانان) یې خوری او (دومره خیال کوی چې) دی (خاصی) درختی ته (هم) مه نژدې کیږی (یعنی میوه یې مه خوری) هسی نه د هغو خلګو په شمیرکی به راسی دکمو څخه چې نامناسبه کارونه کیږی، بیا شیطان ددی دواړو په زړه کی وسوسه واچوله، ددی دپاره چې (د دغه منعه سوی درختی څخه خوراک وکی) د دوی پټ بدن کوم چې دیو بل څخه پټ وو دواړو ته مخامخ بی پردی سی (څکه چې ددی درختی دخوړلو دا تاثیر دی، برابره خبره ده که ذاتی وی او که په وجه دمنع) او (هغه وسوسه داوه چې دواړو ته یې) وویل، چې ستاسی رب تاسی دواړه ددی درختی (دخوراك) څخه (په بل سبب سره) نه یاست منع کړی، مګر محض په دی وجه سره چې تاسی دواړه

Maktaba Tul Ishaat.com

(ددې په خوړلو) ملائکې جوړې نه سې یاهسې نه چې دهمیشه ژوندي پاته کېدونکو څخه نه سې (خلاصه دوسوسې داوه چې ددې درختې په خوړلو سره ملکيتې قوت او دائمې ژوند پیدا کیږي، مګرپه شروع کې ستاسې بدن ددې تحمل نه سو کولی په دې وجه ورڅخه منع سوې واست اوس ستاسې په حالت اوقوت کې ترقي وسوه او اوس یې په تاسې کې تحمل پیدا سوی دی نومنع یې ختمه سوه) اودوی دواړو ته یې مخامخ (پردې خبره) قسم واخیستی چې یقین وکې زه ستاسې ددواړو (په زړه سره) خیر خواه یم نو (داسې خبرې یې جوړې کړې) دوی دواړه یې په فریب سره لاندې راوستل (لاندې راوستل په اعتبار دحالت اورایه سره هم وو، چې خپله لویه رایه یې پاته کړه اوددښمن رایې ته مایل سو اودمقام په اعتبار سره هم چې دجنت څخه یې لاندې مځکې ته راکښته کړل) پس دوی دواړو چې کله درخته وڅکله (فوراً) ددواړو پټ بدن یوبل ته مخامخ ښکاره سو (یعنې دجنت جامې ورڅخه ووتلې اودواړه وشرمیدل) او (دبدن پټولو دپاره) دواړو په خپل ځان (بدن) سربېره دجنت (ددرختو) پاڼې شکولې او ایښولې یې او (دغه وخت) ددوی رب دوی ته وویل، چې ایا ماتاسې دواړه ددې درختې (دخوړلو) څخه منع کړي نه واست اودا مې درته نه وه ښوولې چې شیطان ستاسې ښکاره دښمن دی (دده دغولولو څخه ځان ساتې) دواړو وویل ای زموږ ربه! موږ خپل لوی نقصان وکې (چې دپوره احتیاط اوصبر څخه موکار وانه خیستی) اوکه ته موږ ونه بخښې اوپرموږ رحم ونه کې نوواقعي موږبه په ډیرتاوان کې ولویږو الله ﷻ (آدم اوحواء ﷺ ته) وفرمایل چې (دجنت څخه) لاندې (مځکې ته) په داسې حالت کې ولاړسې چې تاسې (یعنې ستاسې اولاد) به دیوبل سره دښمنان یاست اوستاسې دپاره په مځکه کې داوسیدو ځای (منتخب سوی) دی او (دژوند په سامان سره) نفع حاصلول (منتخب سویدي) تریو خاص وخته پورې (یعنې دمرګ تروخته پورې، اودایې هم) وفرمایل چې تاسې لره هلته ژوند تیرول دي اوهلته مړه کېدل دي اوددې څخه به (دقیامت په ورځ) بیا ژوندي کېدل او راوتل وي،

معلومات اومسئلې: دحضرت آدم ﷺ اوابلیس کمه واقعه چې په ذکر سوو آیتونوکې راغلې ده بعینه داټوله واقعه دسورة بقره په څلورمه رکوع کې په پوره تفصیل سره تیره سوې ده اوددې متعلق چې څومره سوالونه اوشبهې کیدی سي ددې ټولو تفصیلي جواب اوپوره تشریح سره دنورو فائدو دسورة بقره په تفسیر کې لیکل سوي دي، که ضرورت وي، نوهلته یې وګورئ.

يٰبَنِيٓ اٰدَمَ قَدۡ اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسًا يُّوَارِيۡ سَوۡاٰتِكُمۡ وَرِيۡشًا ؕ وَلِبَاسُ التَّقۡوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيۡرٌ ؕ

ای دادم اولاده! موږ نازل کړي دي په تاسې جامې چې پټوي ستاسې سترونه اونازل کړي موږ دي په تاسې دښائست کپړې او جامې دپرهیزګارۍ، دغه دټولو څخه ښه دي،

ذٰلِكَ مِنۡ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُوۡنَ ۝۲۶ يٰبَنِيٓ اٰدَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ

دا نښانې دي دالله دقدرت، ددې دپاره چې دغه خلق غور وکړي، ای اولاده، دادم ودې نه غولوي تاسې

Maktaba Tul Ishaat.com

الشَّيْطٰنُ كَمَآ اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا

شیطان لکه چی هغه را ویستل ستاسی مور او پلار د جنت څخه وی یستل د دوی څخه جامی د دوی

لِيُرِيَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا ؕ اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ؕ

وښيي دوی ته عورتونه د دوی ، هغه وینی تاسی ، او دده قوم د هغه ځای څخه چی تاسی دوی نه وینی .

اِنَّا جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَآءَ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۷﴾

مونږ گرځولی دی شیطانانو لره ملگری دهغو خلقو چی کوم ایمان نه راوړی

لنډتفسير: ای اولاده دآدم (یو زمونږ انعام دا دی چی) مونږ ستاسی دپاره جامی پیدا کړی چی ستاسی ستر (یعنی دپردی ځایونه) هم پټوی او (ستاسی دبدن دپاره) موجب دښائست هم دی او (ددی ظاهری لباس څخه علاوه یو معنوی لباس هم ستاسی دپاره خوښ کړل سوی دی کوم چی) دتقوٰی (یعنی دینداری لباس (دی چی) دا ترهغه (ظاهری لباس) ډیر زیات (ضروری) دی (ځکه چی ددی ظاهری لباس په شرع کی مطلوب کیدل ددی تقوٰی یعنی دینداری یوه فرع ده، اصل مقصود په هر حالت کی لباس دتقوٰی دی) دا (لباس پیدا کول) دالله ﷻ د (فضل وکرم د) نښانو څخه وی ددی دپاره چی داخلگ (دانعمت) یاد ولری (او ددی په یادولو سره دخپل منعم اومحسن دفرمانبرداری حق ادا کی او دغه حق دفرمانبرداری هغه دی کوم ته چی یی لباس دتقوٰی ویلی دی) ای اولاده دآدم! شیطان دی تاسی په څه خرابی کی وانه چوی (چی په تاسی ددین اوتقوٰی څخه خلاف څه کاروکی) لکه چی ده ستاسی آنا نیکه (یعنی آدم ؑ او حواء ؑ) یی دجنت څخه را وایستل (یعنی په دوی یی داسی کاروکی چی په نتیجه کی یی دوی دجنت څخه ووتل اوډباندی هم) په داسی حالت کی چی ددوی جامی هم ددوی (دبدن) څخه وایستل سوی، ددی دپاره چی دواړه دیوبل دپردی بدن ووینی (کم چی دشریف انسان دپاره لوی شرم اورسوایی ده، غرض دادی چی شیطان ستاسی پخوانی دښمن دی، دده څخه هوښیار اوسی او زیات احتیاط په دی وجه نورهم ضروری دی چی) دی اودده لښکر تاسی په داسی طور سره وینی چی تاسی دوی (عادةً) نسی لیدی (ظاهره ده چی داسی دښمن ډیر خطرناك وی، دده څخه دځان ساتلو پوره اهتمام په کار وی اودا اهتمام په کامل ایمان اوتقوٰی سره حاصلیږی، هغه اختیارکی نو دمحفوظ کیدو سامان به برابر سی، ځکه چی) مونږ شیطانان دهغو ملگری جوړوو ، کوم چی ایمان نه راوړی (که بالکل ایمان یی نه وی ، نو په پوره طور سره شیطان په مسلط سی ، اوکه ایمان یی وی مگر کامل نه وی، نو تردی په کومه درجه پرمسلط وی ، په خلاف دمومن کامل څخه چی پرده دشیطان بالکل واك نه چلیږی ، لکه چی دقرآن کریم په یوآیت کی دی ، اِنَّهٗ لَيْسَ لَهٗ سُلْطٰنٌ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ .

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلي: دذكر سوو آيتونو څخه مخكې په پوره پوره ركوع كې دحضرت آدم عليه السلام اودشيطان رجيم واقعه بيان سوي ده ، چې په دې كې دشيطاني غولولو او لنې اثر دا سوى وو ، چې دآدم عليه السلام اوحوا ﷥ جنتي لباس وايستل سو او دوى لغړ سول او په پاڼو سره يې خپل ستر پټول شروع كړل، دذكر سوو آيتونو څخه په اولنى آيت كې الله ﷻ ټول اولاد دآدم مخاطب كوى، ارشاد فرمايي، چې ستاسى لباس دقدرت يو عظيم نعمت دى، ددى قدر كوى، دلته خطاب يوازې مسلمانانوته نه دى ، بلكه دآدم عليه السلام پوره اولاد ته دى ، په دى كې اشاره ده چې ستر پټول اولباس دانسان فطرى خواهش اوضرورت دى، بغير دڅه امتياز څخه دهرمذهب اوملت، ټول ددى پابند دى، بيايي ددى په تفصيل كې ددرى قسمه لباسونو ذكر وفرمايي: اول ، لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ په دى كې ، يوارى دموارات څخه مشتق دى چې معنى يې ده پټول او، سواٰة د و سوءة جمع ده هغه انساني اندامونو ته سوءة ويل كيږى دكومو ښكاره كيدل چې انسان فطرةً بد اوقابل شرم كني مطلب دا دى چې مونږ ستاسى دصلاح او فلاح دپاره يو داسى لباس نازل كړي دى په كوم سره چې تاسى خپل قابلِ شرم اندامونه پټ كړل سى، تردى وروسته فرمايي ، وَرِيْشًا ريش هغه لباس ته ويل كيږى كوم چې انسانان د ډول ډال اوښائست دپاره استعمالوى ، مراد دا دى چې يوازى دستر پټولو دپاره خومختصر ډول لباس كافي كيږى، مگر مونږ تاسى لره تردى زيات لباس په دى وجه دركى چې تاسى ددى په ذريعه ډول ډاجل او ښائست حاصل كى او خپل شكل ښكلى كى ، دلته قرآن كريم د ، اَنْزَلْنَا يعنى دنازلولو لفظ استعمال كړي دى ، مراد ددى څخه وركول دى ، دا ضروري نه ده چې دآسمان څخه جوړ سوى نازل سو ، لكه بل ځاى چې د ، اَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ لفظ راغلى دى ، يعنى مونږ اوسپنه نازله كړه كمه چې دټولو په مخكى دمځكى څخه راوزى، البته دواړه ځايه لفظ د: اَنْزَلْنَا يي وفرمايي اودى طرف ته يې اشاره وكړه چې لكه څنگه چې دآسمان څخه په نازليدونكو شيانوكى دڅه انساني تدبير اوكاريگرى دخل نه وى، دغه ډول دلباس اصل ماده چې پنبه ياوړى اونور دى، په دى كى دڅه انسانى تدبير يوه ذره هم دخل نسته، دغه محض دالله ﷻ دقدرت عطيه ده ، البته په دى شيانو سره دخپل راحت اوآرام اودمزاج په مناسبت سره ديخ او گرمى څخه دمحفوظ كيدو دپاره په جامو جوړولوكى دانسانى كاريگرى كاردى اودغه كاريگرى هم دحق تعالى ښوولى اوورزده كړه سوي ده، په دى وجه دحق په نظر سره داټول دالله ﷻ يو داسى عطيه ده لكه چې دآسمان څخه نازله سوى وى .

دلباس دوى فائدى: په دى كى دلباس دوى فائدى ښوول سوي دى ، يو ستر پټول ، دوهم ديخ اوگرمى څخه دحفاظت اوښائست دبدن، او اوله فائده يې مخكى ذكركړه اودى طرف ته يې اشاره وكړه چې دانسانى لباس اصل مقصد ستر پټول دى اودا دانسان دعامو حيوانانو څخه امتياز دى ، دحيوانانو لباس كوم چې په قدرتى طور سره ددوى دجزء څخه جوړ سويدى، ددى كار يوازى ديخ او گرمى څخه حفاظت يا ښائست دى، دستر پټولوپه دى كى دومره اهتمام نسته، البته دخاصو اندامونو جوړښت يې ددوى په بدن كى داسى ايښى دى، چې بالكل ښكاره نه دى، كله وربادنى دلكى پرده ده اوكله بل قسم،

Maktaba Tul Ishaat.com

او د حضرت آدم ﷺ او حضرت حواء ﷺ او د شیطان د غولولو د واقعې تر بیانولو وروسته د لباس په ذکر کولو کې دې طرف ته اشاره ده چې د انسان د پاره لغړ کیدل او قابل شرم اندامونه د نورو په مخکې ښکاره کیدل ډیر ذلت او رسوایي نښانه او بې حیایې ده او د شر او فساد مقدمه ده.

(په انسان د شیطان اوله حمله دده د لغړ کولو په صورت کې وسوه نن هم نوې شیطاني تهذیب د انسان په لغړ کولو او بیا نیم لغړ کولو پسې لګیدلي دی)

او دا وجه ده چې د شیطان اوله حمله د انسان خلاف ددې لارې څخه وسوه چې دده لباس وایستل سو، او نن هم شیطان د خپلو شاګردانو په ذریعه کله چې انسان ګمراه کول غواړي نو د تهذیب او ډول اودا ل نوم اخلي، تر ټولو اول دې لغړوي یا یې نیم لغړوي، په عامو سړکونو او کوڅوکې یې دروي او شیطان چې د څه نوم ترقي ایښي دی، هغه خو د ښځې د شرم او حیا څخه د محرومه کولو او د نیمې لغړې په حالت کې دراوستلو څخه بغیر نه حاصلیږي.

تر ایمان وروسته تر ټولو اول فرض ستر پټول دی: شیطان د انسان دا کمزوري اړخ معلوم کې او اوله حمله یې د انسان پر ستر پټولو وکړه نو اسلامي شریعت چې د انسان دهرې صلاح او فلاح کفالت (ضمانت) کوي هغه د ستر پټولو اهتمام دومره وکې چې تر ایمان وروسته تر ټولو اول فرض یې ستر مقرر کی، لمونځ، روژه او نور تردې وروسته دي، حضرت فاروق اعظم ﷺ فرمایي چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي، چې کله یو سړی نوی لباس واغوندي نو ده لره په کار دي چې د لباس اغوستلو په وخت کې دا دعا ووایي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ کَسَانِیْ مَا اُوَارِیْ بِهٖ عَوْرَتِیْ وَاَتَجَمَّلُ بِهٖ فِیْ حَیَاتِیْ.

یعنی شکر دې د هغه ذات چا چې ماله لباس را کی چې زه خپل ستر په پټ کړم او ځان په ښایسته کړم.

(د نوی لباس جوړولو په وخت کې د زوړ لباس صدقه کولو ثواب)

او حضور ﷺ فرمایلي دي چې د نوی لباس اغوستلو څخه وروسته دې زوړ لباس په غریبانو او مسکینانو باندې صدقه کې نو دې د خپل مرګ او ژوند په هر حال کې د الله ﷻ په ذمه واري او پناه کې راغی (ابن کثیر د مسند احمد څخه) په دې حدیث کې هم انسان ته د لباس اغوستلو په وخت کې د هغه دواړه مصلحتونه ورياد سوي دي، د کومو د پاره چې الله ﷻ انساني لباس پیدا کړي دي.

(ستر پټول د پیدائش د وخت څخه د انسان فطري عمل دی، د ترقي د نوي فلسفه باطله ده)

د حضرت آدم ﷺ د واقعې او د قرآن کریم ددې ارشاد څخه دا خبره هم واضحه سوه چې ستر پټول او لباس د انسان فطري خواهش او پیدائشي ضرورت دی کوم چې د اولې ورځې څخه دده سره دی او د نن صبا د ځینو فلاسفرانو دا خبره سراسر غلطه او بې اصله ده، چې انسان اول لغړ ګرځیدی، بیا د ترقي تر منزلونو وروسته ده لباس ایجاد کی.

د لباس یو دریم قسم: د ستر پټولو او د راحت او ښائست د پاره د دوو قسمو لباسونو ذکر کولو څخه وروسته قرآن کریم د یو دریم لباس ذکر داسې فرمایي، وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ذٰلِكَ خَيْرٌ په ځینو قرائتونو کې په زبر سره: لِبَاسَ التَّقْوٰى ویل سوي دي، نود، اَنْزَلْنَا په تحت کې دا خل سو، معنی دا سوه چې، مونږ یو دریم لباس

Maktaba Tul Ishaat.com

دتقوی نازل کړي دي ، او دمشهور قرائت په وجه سره معنی دا ده چي ، دا دواړه لباسونه خو هر سړی پېژنی ، يو دريم لباس دتقوی دی اودغه ترټولو لباسونو زيات ښه دي، دلباس دتقوی څخه مراد دحضرت ابن عباس ﷺ او دعروه بن زبير ﷺ دتفسير مطابق نيك عمل اوبيره دخدای پاك ده (روح) مطلب دا دی چي لکه څنګه چي ظاهری لباس دانسان دقابل شرم اندامونو دپاره په ده او ديخ اوګرمی څخه دمحفوظ کولو او دښائست حاصلولو ذريعه وی ، دغه ډول يو معنوی لباس نيك عمل اودخدای ﷻ بيره ده ، کوم چي دانسان داخلاقی عيبونو اوکمزوريو پرده ده او دهميشه تکليفونو او مصيبتونو څخه دنجات ذريعه ده، په دی وجه دا ترټولو لباسونو ښه لباس دي، په دی کی دی طرف ته هم اشاره ده چي يو بدکار انسان په چاکی چي دخدای ﷻ بيره نه وی او هغه دنيك عمل پابندده وی، هغه که په هرڅومره پردوکی پټ سی، مګر انجام يې رسوايی اوذلت وی لکه چي ابن جرير رحمه الله په روايت دحضرت عثمان غنی ﷺ نقل کړي دی چي نبی کريم ﷺ فرمايلی دی ، چي قسم دی په هغه ذات دچاپه قبضه کی چي دمحمد (ﷺ) روح دی، کم سړی چي څه عمل هم دخلګو دنظرونو څخه پټ کوی ، الله ﷻ ده ته ددی عمل څادر ورواغوندی او اعلان کوی ، چي نيك عمل وی نو دنيکی اوچي بدعمل وی نو دبدی ، دڅادر اغوستلو څخه مراد دا دی چي لکه څنګه چي په بدن اغوستل سوی څادر خلګوته مخامخ وی ، دغه ډول دانسان عمل چي څومره پټ وی دهغه ثمره اونښاني دده پرمخ اوبدن باندی الله ﷻ ښکاره کوی او ددی ارشاد په سند کی نبی کريم ﷺ دا آيت ووايه ، وَرِيْشًا، وَلِبَاسُ التَّقْوٰى، ذٰلِكَ خَيْرٌ، ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ .

﴿ دظاهری لباس څخه هم اصلي مقصد تقوی حاصلول دی ﴾

د لِبَاسُ التَّقْوٰى دلفظ څخه دی طرف ته هم اشاره کيدی سی چي دظاهری لباس په ذريعه دستر پټولو او ښائست اصل مقصد تقوی اودخدای ﷻ بيره ده ، چي په دی لباس کی هم ددی ښکاره کول داسی په کار دی ، چي پوره ستر په کښی پټ وی او قابلِ شرم اندامونه پوره پوره په پردهٔ کی وی ، هغه لڅ هم نه وی او لباس په بدن پوری داسی چسپ او منښتی هم نه وی چي اندامونه په کښی دلڅ په ډول په نظر راځی ، دارنګه چي په دی لباس کی ، دفخر، غرور اندازه هم نه وی، بلکه دتواضع نښانی وی په کښی ، بی ځايه اسراف په کښی هم نه وی ، دضرورت مطابق جامه استعمال سی ، دښځو دپاره چي مردانه اودسړو دپاره چي زنانه لباس هم نه وی، کوم چي دالله ﷻ په نزد مبغوض اومکروه دی ، اوچي په لباس کی دبل قوم نقل هم نه وی، کوم چي دخپل قوم اوملت سره دغداری اواعراض نښانه ده، اوددی سره سره داخلاقو اودعملونو صحيح والی هم موجودوی، کم چي دلپاس اصل مقصد دی، دآيت په آخرکی ارشاد فرمايي: ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ يعنی انسان ته دادری قسمونه لباس ورکول دالله ﷻ دقدرت دنښانو څخه دی ، ددی دپاره چي خلګ ددی څخه عبرت حاصل کی .

په دوهم آيت کی بياټول اولاد دآدم ﷺ ته خطاب کوی اوخبرداری ورکوی چي په خپل هرحال اوهر کارکی دشيطان دمکر څخه ځان وساتی، هسی نه چي دی بيا تاسی په څه فتنه کی اخته کی، لکه چي

ستاسي مور او پلار حضرت حوا ﷺ او حضرت آدم ﷺ يې چې د جنت څخه را وايستل، او د دوی څخه يې جامې وايستلې ، د ستر ښکاره کولو سبب يې جوړ سو، دا ستاسي پخواني دښمن دی ، دده د دښمنۍ هميشه او هر وخت خيال ساتئ .

په آخري آيت کې فرمايي ، إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ إِنَّا جَعَلْنَا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ په دې کې دلفظ دقبيل معنی دجماعت او ډلې ده، کوم جماعت چې ديو خاندان څخه وي ، دوی ته قبيله وايي او عامو جماعتونو ته قبيلې ويل کيږي، مطلب دادی چې شيطان ستاسي داسې دښمن دی چې هغه او دده ملګري خو تاسي ويني ، تاسي دوی نه سي ليدی ، په دې وجه ددوی دمکر اوفريب پر تاسي باندې چليدل زيات ممکن دي، ليکن په دوهم آيت کې داهم وښوول سوه، چې کوم خلګ دالله ﷻ طرف ته رجوع کوونکي او دشيطان دمکر څخه هوښيار او سيدونکي دي، ددوی دپاره دشيطان جال ډير کمزوری دی ، او ددی آيت په آخر کې چې کوم دا يې وفرمايل ، چې موږ شيطانان دهغو سرپرست جوړ کړي دي ، کوم چې ايمان نلري، په دې کې هم دې طرف ته اشاره ده چې دايماندارو دپاره دده دجال څخه محفوظ کيدل څه زيات مشکل نه دي، ځيني پخواني مشران فرمايي چې دا دښمن کوم چې موږ ويني او موږ يې نه وينو، ددې علاج زموږ دپاره دادی چې موږ دالله ﷻ په پناه کې راسو چې هغه دا شيطانان او دده هر يو نقل او حرکت ويني او شيطانان هغه ﷻ نه سي ليدی ، اوددا ارشاد چې انسان شيطانان نسي ليدی دعامو حالاتو او عامو عادتونو په اعتبار سره دي، که په خرقِ عادت سره يو انسان کله دي ووينی نو دا ددې منافي نه دی ، لکه چې دنبی کريم ﷺ په خدمت کې دپيريانو راتلل او سوالونه کول او اسلام قبلول او نور په صحيحو روايتونو دحديثو کې ذکر دي (روح)

وَإِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً قَالُوا وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَاءَنَا وَاللَّهُ أَمَرَنَا بِهَا ۗ قُلْ إِنَّ

او کله چې کوي څه بدکارونه وايي چې موږ په داسې کولو خپل پلارنيکه ليدلي دي او الله هم ددې موږ ته حکم کړی دی ته روايه

اللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ ۖ أَتَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾

چې الله حکم نه کوي دبدکار ولې جوړوي په الله پوري هغه خبرې چې تاسي ته معلومې نه دي

قُلْ أَمَرَ رَبِّي بِالْقِسْطِ ۖ وَأَقِيمُوا وُجُوهَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ

ته روايه چې زما رب حکم کړی دی دانصاف ، او برابر کړی خپل مخونه دهرلمانځه په وخت کې

وَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ۚ كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُودُونَ ﴿٢٩﴾

او بلې هغه خالص دهغه فرمانبردار بسی ، لکه چې تاسي يې اول وار پيدا کړاست دويم وار به بيا پيداسی،

Maktaba Tul Ishaat.com

فَرِيقًا هَدَىٰ وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلَالَةُ ۗ إِنَّهُمُ اتَّخَذُوا

يوې فرقې ته يې هدايت وکې او په فرقه مقرر سوه ګمراهي، دوی جوړ کړي دي

الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ اللَّهِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٠﴾

شيطانانو لره ملګري ما سوا دالله څخه او داسي ګڼي چي دوی په هدايت باندي دي

يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا

ای اولاده دادم اخلئ خپل ښائست دهر لمانځه په وخت کی او خوری او څښئ

وَلَا تُسْرِفُوا ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾

اوبې ځايه خرڅ مه کوی دهغه نه خوښيږي بې ځايه خرڅ کوونکی

لنډتفسير: اوهغه خلګ کله چي څه فحش کار وکی (يعني داسی کارچي ناکاروالي يې ښکاره وی اوانساني فطرت يې بدګڼي لکه په لڅه طواف کول) نووايي چي مونږ خپل پلار نيکه پردې طريقه موندلی دی او (نعوذ بالله) الله ﷻ هم مونږته دا خوښ کړی دی (ای رسول الله ﷺ د دوی ددې جاهلانه دليل په جواب کی) ته ووايه چي الله ﷻ دفحش کار هيڅکله هم ښوونه نه کوی آيا (تاسی داسی دعوه کوی) په خدای پوري داسی خبري جوړوي دکوموچي تاسی هيڅ سندنه لری ته (داهم) ووايه چي (تاسی چي د کوموفحشو اوغلطو کارونو نسبت دالله ﷻ طرف ته کړي دی چي هغه مونږ ته داحکم کړي دی ، دغه غلطه ده ، اوس هغه خبره واوری دکمی حکم چي الله ﷻ په واقعی طور باندی کړي دی ، هغه دادی چي) زما رب خوحکم کړي دی دانصاف کولو اوداچي تاسی دهري سجدی (يعني عبادت) په وخت کی خپل مخ سيده (دالله ﷻ طرف ته) ساتی (يعني څوک مخلوق دهغه په عبادت کی مه شريکوی) او دالله عبادت په دی طور سره کوی چي دهغه عبادت يوازی دالله دپاره ساتی (په دی لنډه غوندی جمله کی ټول شرعی کارونه اجمالي راغلل په ، قسط کی دبندګانو حقونه په ، أَقِيمُوا کی عملونه اوطاعتونه په ، مخلصين کی عقيدي) تاسی الله ﷻ چي لکه څنګه په اول وار پيدا کړي ياست، دغه ډول به تاسیٰ (يووخت) بيا دوباره پيدا سی، ځينو خلګو لره الله ﷻ (په دنياکی) هدايت کړيدی (دوی ته به هغه وخت جزا ورکول کيږي) اوپر ځينو باندی دګمراهي ثبوت سوی دی (دوی ته به سزا ورکول کيږيٚ) دی خلګو شيطانان خپل ملګري جوړ کړيدي اوالله يې پريښی دی او (ددی باوجود بياهم دخپل ځان په نسبت) خيال کوی چي دوی پرنيکه لار دی، ای اولاده دآدم تاسی جمات ته دحاضری په وخت کی (دلمانځه دپاره وی اوکه دطواف دپاره) خپلی جامی اغوندی او (لکه څنګه چي جامی نه اغوستل ګناه وه، هم دغسی دحلالو

Maktaba Tul Ishaat.com

شیانو خوړل او چیښل ناجائز ګڼل هم لويه ګناه ده، په دی وجه حلالو شیان، خوری چیښی او تر شرعی حد مه وزی ، بیشکه الله ﷻ نه خوښوی ترحد وتونکی.

معلومات اومسئلې: تراسلام اول دعربو دجاهلیت په زمانه کی شیطان چی خلګ په کمو شرمناکو اوعبثو رسمونوکی اخته کړی وه په دی کی یوداهم وو، چی دقریشو څخه ماسوا یوسړی دبیت الله طواف په خپلو جاموکی نه سوای کولی، بلکی یابه دی دیو قریشی څخه په سوال جامی غواړی اویابه په لڅه بیا طواف کوی.
اوښکاره خبره ده چی ټولو عربوته به دقریشو خلګو ترکومه حده پوری جامی ورکولی سوی ؟ نوپه دی وجه به دی خلګو اکثره په لڅه طواف کوی، سړو هم او ښځوهم، اوښځوبه په عام طور سره دشپی په تیاره کی طواف کوی، اودخپل دی شیطانی کار حکمت به یی دابیانوی، چی په کمو جاموکی مونږ ګناه کړی ده په هغه کی دبیت الله پرشاوخوا طواف کول دادب څخه خلاف دی (اودا دعقل رانده په دی نه پوهیدل چی په لڅه طواف کول ددی څخه زیاته بی ادبی ده اودانسانیت څخه خلاف ده) یوازی دقریشو قبیله به په دی وجه ددی دبربنډی دقانون څخه مستثنی ګڼل کیدله چی دوی دحرم خادمان دی، په ذکر سوو آیتونوکی اولنی آیت ددی عبث رسم دخرابولو اوددی دخرابی ښوولو دپاره نازل سوي دی ، په دی آیت کی فرمایی چی کله به دی خلګوڅه فحش کارکوی نوکوموخلقوچی به دوی ددی فحش کارڅخه منع کول نوجواب به یی داورکوی چی زمونږپلرونونیکونواومشرانوهم دغسی کړي دی دهغوی طریقه پریښوول دعار اوشرم خبره ده اودابه یی هم ویل چی مونږ ته الله ﷻ داسی کولو حکم راکړي دی (ابن کثیر)
په دی آیت کی دفحش کار څخه مراد داکثرو مفسرینوپه نزد هم داپه لغړه طواف دی، اوپه اصل کی فحش، فحشاء فاحشه هرداسی ناکاره کارته ویل کیږی دکوم ناکاره والی چی انتهاء ته رسیدلی وی او دعقل او پوهی او فطرت سلیم په نزد بالکل ښکاره اوواضحه وی (مظهری)، اوپه دی درجه کی دحسن اوقبح عقلی کیدل دټولوپه نزد منل سوی دی (روح)، بیادی خلګو ددی عبث رسم دجائز کیدو دپاره دوه دلیلونه پیش کړل، یودپلار نیکه تقلید ، چی دپلار نیکه په طریقه قائم ساتلو کی خیر اوښه والی دی، ددی جواب خو بالکل واضح اوښکاره وو، چی دجاهل پلار نیکه تابعداری څه دعقل خبره نه ده، دلږ غوندی عقل اوهوش لرونکی انسان هم په دی پوهیږی چی دیوی طریقی دجواز دپاره داڅه دلیل نسی کیدی چی پلار نیکه داسی کول، ځکه چی که دڅه طریقی اوعمل دپاره چی داصحیح اوجائز دی، دپلار نیکه طریقه کیدل کافی وګڼل سی، نوپه دنیاکی خو دمختلفو خلګو پلرونو اونیکونو په مختلفو اومتضادو طریقو عملونه کول، نوپه دی دلیل سره خوبه دټولی دنیا ټولی ګمراه کوونکی طریقی جائزی اوصحیح شی غرض دادی چی ددی جاهلانو دادلیل څه دتوجه قابل نه وو، په دی وجه قرآن کریم دلته ددی جواب ورکول ضروری ونه ګڼل، اوپه نورو آیتونوکی ددی هم جواب ورکول سوي دی چی که پلار نیکه دجهالت څه کار وکی نوهغه څه رنګه دتقلید اوتابعداری قابل کیدی سی، دوهم دلیل دی خلګو دخپل لغ طواف په جوازکی داپیش کی چی مونږ ته الله ﷻ داسی حکم کړیدی، داسراسر بهتان اودالله ﷻ دحکم خلاف دهغه طرف ته دیو غلط حکم نسبت کول دی ، ددی په جواب کی نبی کریم ﷺ ته خطاب

Maktaba Tul Ishaat.com

وس او داسی یی ورته وفرمایل: قُلْ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ یعنی ته وفرمایه چی الله ﷻ هیڅکله هم دڅه ناوړه کار حکم نه کوی، چی داسی حکم کول دحکمت دشانِ قُدّوسی څخه خلاف دی، بیا ددی خلګو ددی بهتان اودروغو جوړولو پرالله ﷻ او دباطل خیال په پوره ډول سره دردولو دپاره دی خلګوته داسی خبرداری ورکوی: اَتَقُوْلُوْنَ عَلَی اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ یعنی آیا تاسی دالله ﷻ طرف ته دداسی شیانو نسبت کوی دکوموچی تاسی ته علم نسته، یعنی په کوموچی دیقین کولو دپاره ستاسی سره څه دلیل نسته اوظاهره خبره ده چی بی تحقیقه دیوچا طرف ته هم دڅه نقل داسی غلط نسبت کول څومره لوی جرم اوظلم به وی، مجتهدین حضرات چی دقرآن دآیتونو څخه په ذریعه داجتهاد کم احکام راباسی اوهغه بیانوی، نودغه په دی کی داخل نه دی، ځکه دغه دقرآن دالفاظو او ارشاداتو څخه دیو حجتِ شرعی له مخی را ایستل کیږی.

په دوهم آیت کی ارشاد فرمایی: قُلْ اَمَرَ رَبِّیْ بِالْقِسْطِ یعنی دالله ﷻ دطرف څخه په لڅه دطواف جائز کولو دغلط نسبت کوونکو جاهلانوته ته ووایه چی الله ﷻ خو همیشه دقسط حکم کوی، دقسط اصلی معنی ده انصاف اواعتدال اودلته دقسط څخه مراد هغه عمل دی چی دافراط اوتفریط څخه خالی وی، یعنی نه پکښی کوتاهی وی اونه ترمقرره حد تجاوز وی، لکه چی دټولو شرعی احکامو داحال دی، په دی وجه تردی لفظ لاندی هغه ټول عبادتونه اوطاعتونه اوعام شرعی حکمونه راځی اودقسط په معنی کی داخل دی (روح)

په دی آیت کی دقسط یعنی انصاف اواعتدال دحکم بیانولو څخه وروسته ددی خلګو دګمراهی اوبی لاری کیدو مناسب دشرعی حکمونو څخه دوه حکمونه په خصوصیت سره بیان کړل، یو، اَقِیْمُوْا وُجُوْهَکُمْ عِنْدَ کُلِّ مَسْجِدٍ اودوهم: وَادْعُوْهُ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ اول حکم دانسان دظاهری اعمالو سره تعلق لری، اودوهم دده دزړه اوباطن سره تعلق لری، په اول حکم کی دمسجد لفظ داکثرو تفسیر لیکونکو په نزد په معنی دسجدی اوعبادت راغلی دی اومعنی یی داده چی دهر عبادت او لمانځه په وخت کی خپل مخ سیده ساتی، ددی دامطلب هم کیدی سی چی خپل مخ دلمانځه په وخت کی سیده دقبلی طرف ته دکولو اهتمام کوی، اودمخ سیده کولو دامعنی هم کیدی سی، چی په خپل هر قول اوفعل اوهر عمل کی خپل مخ دخپل رب دحکم تابع ساتی، ددی څخه چی هاخوا دیخوا ته مه کیږی، ددی منعی په لحاظ سره داحکم یوازی دلمانځه دپاره خاص نه دی بلکی پرټولو عبادتونو او معاملو باندی حاوی دی، اودوهم حکم ترجمه داده چی الله ﷻ په داسی ډول سره بلی چی عبادت خالص دهغه دپاره وی، په دی کی دبل چا شرکت په هیڅ حیثیت سره نه وی، تردی چی دپټ شرک یعنی دریا اونمائش څخه هم پاک وی.

ددی دواړو حکمونو پریو ځای دذکر کولو څخه دی طرف ته هم اشاره کیدی سی، چی پرانسان لازمه ده چی خپل ظاهر اوباطن دواړه دشریعت داحکامو مطابق برابر کی، نه یوازی ظاهری عبادت بغیر

Maktaba Tul Ishaat.com

داخلاص څخه کافي دي اونه يوازې باطني اخلاص بغير دظاهري تابعدارۍ دشريعت څخه کافي کيدی سي بلکې پرهر سړي لازمه ده، چې خپل ظاهرهم دشريعت مطابق برابرکي اوباطن هم يوازې دالله ﷻ دپاره خالص وساتي، ددې څخه دهغو خلګو غلطي واضحه کيږي کم چې دشريعت اوطريقت دپاره مختلفي طريقي ګني اودا خيا ل کوي چې دطريقت مطابق باطن برابرول کافي دي که څه هم دشريعت څخه خلاف وي، دا ښکاره ګمراهي ده.

دآيت په آخرکي ارشاد فرمايي ، كَمَا بَدَاَكُمْ تَعُوْدُوْنَ يعني الله ﷻ چې څنګه تاسي اول پيداکړي واست، دغه ډول دقيامت په ورځ به دوباره تاسي ژوندي کي اورا پورته به موکړي، دهغه دکامل قدرت په مخکې داخه مشکل کارنه دي اوشايد چې ددې آسانۍ طرف ته داشارې کولو دپاره د ، يُعِيْدُكُمْ پرځای يې: تَعُوْدُوْنَ وفرمايل ، چې د دوباره پيدا کولو دپاره دڅه خاص عمل اوکوشش ضرورت نسته (روح)

ددې جملي دلته دراوړلو يوه فائده داهم ده چې پرشرعي احکامو په پوره ډول سره قائم اوسيدل دانسان دپاره آسان سي، ځکه چې دآخرت اوقيامت اوپه دې کي دښه اوبد عمل دجزا اوسزا تصور يوداسې شی دی چې دانسان دپاره هرمشکل آسانولی اوهر تکليف راحت کولی سي، اوتجربه شاهده ده چې ترڅو پورې پرانسان دابيره نه وي مسلطه سوې، نه څه وعظ اونصيحت دې سيده کولی سي، اونه دڅه قانون پابندي دې دجرمونو څخه منع کولی سي.

په دريم آيت کې فرمايي چې ځينو خلګوته خوالله ﷻ هدايت کړي دی اوپه ځينو دګمراهي ثبوت سوی دی، ځکه چې دی خلګو الله ﷻ پريښې دي اوشيطانان يې خپل ملګرې اودوستان جوړ کړي دي اوداخيال کوي چې دوې پرسمه لار باندې دي.

مراد دادې چې که څه هم دالله ﷻ هدايت عام وو، مګردې خلګو ددې هدايت څخه مخ واړوی اودشيطانانو تابعداري يې شروع کړه اوپر ظلم سربيره ظلم داوسو چې دوی خپله دا بيماري صحت اوګمراهي هدايت ګڼل شروع کړل.

ددې آيت څخه معلومه سوه چې په شرعي احکامو کی جهل او ناپوهي څه عذرنه دی، يو سړی که غلطه لاره صحيح وګني اوپه پوره اخلاص يې اختيارکي، نودې دالله ﷻ په نزد معذورنه دی ، ځکه چې الله ﷻ هرسړي لره هوش، عقل اوپوهه ځکه ورکړي ده چې دی ددې څخه کار واخلي اوکړه، کوته غلط اوصحيح وپيژني، بيايي دی يوازې دده پرعقل اوپوهه باندې پاته نه کی خپل پيغمبران يې وليږل ، کتابونه يې نازل کړل دکومو په ذريعه چې يې صحيح غلط ، حق اوباطل ښه واضح کړل.

که ديو سړی په دې کی شك وي چې يوسړی کوم چې په واقع کی خپل ځان پرحقه ګني، که څه هم پرغلطه وي، بيا پرده څه الزام دی، دی معذور ګڼل په کار دی ، ځکه چې ده ته خودخپلی غلطۍ ګرسره خبرنسته، نوجواب دا دی چې الله ﷻ هرانسان ته عقل اوهوش اوبيا دانبياء عليهم السلام تعليم ورکړي دی دکومو په ذريعه چې کم ازکم ده ته دخپلو اختيار کړو خلاف احتمال اوتردد خامخا کيدل په کار دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوس دده قصور دا دی چی ده ددی شیانو طرف ته گرسره خیال ونه کی اوکومه غلطه طریقه چی یی اختیارکړی وه په هغه کلك پاته سو البته کوم سړی چی دحق په طلب کی خپل پوره کوشش وکی اوبیا هم دده نظر صحیح لاری اوحق طرف ته ونه رسیږی، هغه ممکنه ده چی دالله ﷻ په نزد معذور وی ، لکه چی امام غزالی رحمه الله په خپل کتاب التفرقة بین الاسلام والزندقة، کی فرمایی والله سبحانه وتعالی اعلم

په څلورم آیت کی ارشاد فرمایی: ای اولاده دآدم! تاسی مسجد ته دهری حاضری په وخت کی خپل لباس اغوندی اوښه خوری اوچیښی اوترحد مه وزی، بیشکه الله ﷻ ترحد وتونکی نه خوښوی، په زمانه دجاهلیت کی چی به څنگه عربو دبیت الله طواف په لڅه کول صحیح عبادت اودبیت الله احترام گڼی، دغه ډول په دوی کی دا رسم هم وو، چی دحج په ورځوکی به یی خوړل او چیښل نه کول، یوازی دومره به یی خوړله اوچیښله چی ساه قدر په واخلی، خاصکر غوړی، شیدی او دپاکیزه خوراکونو څخه خوبه یی بالکل ځان ساتی (ابن جریر)

د دوی ددی عبث طریقه کار خلاف دا آیت نازل سو، کوم چی داوښوولہ چی په لڅه طواف کول بی حیایی اوسخته بی ادبی ده، ددی څخه ځان ساتی دغه ډول دالله ﷻ دورکول سوو پاکیزه خوراکونو څخه بی وجهی ځان ساتل هم څه ددین خبره نه ده، بلکی دهغه حلال سوی شیان پر ځان حراموول گستاخی اوپه عبادت کی ترحد تجاوز کول دی، کوم چی الله ﷻ نه خوښوی ، په دی وجه دحج په ورځو کی ښه خوری اوچیښی ، البته اسراف مه کوی ، دحلالو خوراکونو څخه بالکل ځان ساتل هم په اسراف کی دا خل دی او دحج اصل مقاصد اودالله ﷻ د ذکرڅخه غافله کیدل او په خوړلو اوچیښلوکی مشغولیدل هم په اسراف کی داخل دی ، دا آیت که څه هم دعربو دجاهلیت دیوخاص رسم دلځوالی دورکولو دپاره سوي دي ، کوم چی به دوی دطواف په وخت کی دبیت الله دتعظیم په نوم باندی کوی، لیکن دتفسیر داامامانو اودامت دفقهاوو پردی باندی اتفاق دی چی دیوحکم په یوه خاصه واقعه کی دنازلیدو دامعنی نه ده، چی دغه حکم ددغه واقعی سره خاص دی، بلکه اعتبار دعاموالی دالفاظو لره دی، چی کوم شیان ددغه الفاظوپه عاموالی کی شامل وی ، په ټولو باندی دغه حکم عائد کیږی.

(په لمانځه کي ستر پټول فرض دی ددی څخه بغیر لمونځ نه کیږی)

په دی وجه ددی آیت څخه جمهورو صحابه وو تابعینو او مجتهدینو امامانو څو احکام را ایستلی دی، اول داچی لکه څنگه چی په دی کی په لڅه طواف کول منع سوی دی، دغه ډول په لڅه لمونځ کول هم حرام اوباطل دی څکه چی په حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی: اَلطَّوَافُ بِالْبَيْتِ صَلٰوةٌ ددی څخه علاوه په خپله په دی آیت کی کله چی دلفظ دمسجد څخه دجمهورو تفسیر لیکونکو په نزد مراد سجده ده، نوپه حالت دلځوالی کی دسجدی ممانعت په خپله په آیت کی واضح کیږی اوکله چی په سجده کی لځوالی منع سو نوپه رکوع، قیام، قعده اودلمانځه په ټولو کارونوکی ددی لازمیدل ښکاره خبره ده بیادنبی کریم ﷺ ارشاداتو دانوره هم واضحه کړه، په یوحدیث کی ارشاد دی چی، دیوی بالغی ښځی

Maktaba Tul Ishaat.com

لمونځ بغیر دلوپټی (پرونی) څخه جائز نه دی (ترمذی)، اودلمانځه څخه علاوه په بل حالت کی هم دستر پټولوفرضوالی دنوروآیتونواوروایتونوڅخه ثابت دی دکموڅخه چی یوآیت په دی سورة کی تیرسوی دی یٰبَنِیٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَیْکُمْ لِبَاسًا یُّوَارِیْ سَوْءٰتِکُمْ لندی داده چی ستر پټول دانسان دپاره اولنی انسانی او اسلامی فرض دی چی په هرحالت کی پرده باندی لازم دی، په لمانځه اوطواف کی خوپه درجه اولی فرض دی.

(دلمانځه دپاره ښه لباس)

دوهمه مسئله په دی آیت کی داده چی لباس یی په لفظ دزینت سره تعبیرکی اودی طرف ته یی هم اشاره فرمایلی ده چی په لمانځه کی اولی اوښه داده چی یوازی پرستر پټولو باندی بس والی ونه سی، بلکی دخپل طاقت مطابق دښائست لباس اختیار سی، دحضرت حسن ﷺ عادت وو چی دلمانځه په وخت کی به یی خپلی ترټولو ښه جامی اغوستلی اوفرمایل به یی چی الله ﷻ ښائست خوښوی ، په دی وجه زه دخپل رب دپاره زینت اوښائست اختیاروم اوالله ﷻ فرمایی ، خُذُوا زِیْنَتَکُمْ عِنْدَ کُلِّ مَسْجِدٍ معلومه سوه چی ددی آیت څخه څنګه چی په لمانځه کی دستر پټولو فرض والی ثابتیږی، دغه ډول په قدر دطاقت دصاف ستره اوښه لباس اختیارولو فضیلت اومستحب والی هم ورڅخه ثابتیږی.

(په لمانځه کي دلباس متعلق څو مسئلي)

دریمه مسئله دلته داده چی ستر دکوم چی پټول پرانسان په هرحال کی اوخصوصاً په لمانځه اوطواف کی فرض دی، ددی حد څومره دی؟ قرآن کریم اِجْمالاً دستر پټولو حکم وکی ددی تفصیلات یی نبی کریم ﷺ ته حواله کړل، ده ﷺ یی تفصیل وښووی چی دسړی ستر دنامه څخه تر زنګنو پوری اودښځی ستر ټول بدن دی، یوازی مخ اودواړه ورغوی اودپښو قدمونه ورڅخه مستثنٰی دی، دحدیثوپه روایتونوکی داټول تفصیل ذکردی، دسړی دپاره دنامه څخه لاندی بدن یا زنګنونه چی ښکاره وی، نوداسی جامه په خپله هم ګناه ده اولمونځ هم ددی سره نه کیږی، دغه ډول چی دښځی سرڅټ یالیچی یاپنډۍ ښکاره وی نوداسی جامی اغوستل په خپله هم ناجائز دی اولمونځ یی هم نه کیږی، په یو حدیث کی ارشاد دی چی په کم کورکی دښځی عورت ښکاره وی، هلته دنیکی ملائکی نه راځی، دښځی مخ ورغوی اوقدمونه کوم چی دستر څخه مستثنٰی سوی دی ، ددی دا معنٰی ده چی په لمانځه کی ددی دا اندامونه که ښکاره وی ، نو په لمانځه کی څه خلل نه راځی، ددی دامطلب هیڅکله نه دی چی دغیرِ محرمو په مخکی به هم بغیر دشرعی عذر څخه ښکاره مخ ګرځی.

دا حکم خودستر دفرض متعلق دی چی ددی څخه بغیر لمونځ نه اداکیږی اوکله چی په لمانځه کی یوازی ستر پټول مطلوب نه دی، بلکه دښائست دلباس اختیارولو ارشاد دی په دی وجه سړی لره په سرتور سر لمونځ کول، یاځنګلی اولیچی لځی ساتل اولمونځ کول مکروه دی، برابره خبره ده که دقمیص لستونی نه وی، اوکه یی لستونی پورته کړی وی، په هرحال لمونځ مکروه دی، دارنګه په داسی جامو کی لمونځ کول مکروه دی دکوموپه اغوستلو سره چی بنده دخپلو دوستانو اوعوامو په مخکی تلل شرم اوعار

Maktaba Tul Ishaat.com

ګنې لکه یوازې بنې (انګیا) بغیرد قمیص څخه که څه هم لستونې یې پوره وي یاپرسرباندې دخولې په ځای یوټوکر یادسمال ترل چې پوه سرې دخپلو دوستانو یانورو خلګو په مخکې په دې هیئت سره تلل نه خوښوي نودالله رب العٰلمین دربارته تلل په کې څنګه ښه کیدې سي دسر، اوږو، څنګلو په ښکاره ساتلو سره دلمونځ مکروه والې دقرآنې آیت دلفظ زینت څخه هم حاصلیږي اودنبي کریم ﷺ دوضاحتونو څخه هم لکه څنګه چې دآیت اوله جمله دعربو دجاهلیت دلخوالې رسم دختمولو دپاره نازله سوه، مګر دالفاظو دعاموالي څخه یې نوري ډیري مسئلې اوحکمونه معلوم سوه، دغه دوهمه جمله ، كُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا هم که څه هم دعربو دجاهلیت ددې رسم ختمولو دپاره نازله سوه چې دحج په ورځوکې به یې ښه خوراك اوچښاك ګناه ګڼله، لیکن دالفاظو دعاموالي څخه دلته هم ډیر احکام اومسئلې ثابتې سوې .

(خوړل اوچیښل په قدر دضرورت فرض دی)

اول دا چې خوړل چښل په شرعي حیثیت سره هم پرانسان فرض اولازم دي، سره دقدرته چې څوك خوړل چښل پریږدي، تردې چې مړسي یادومره کمزوري سي چې واجبات هم نه سي ادا کولې نودغه سړې دالله ﷻ په نزد مجرم اوګناهګار دی .

(ددنیا په شیانوکي اصل مباحوالي اوجواز دی ترڅوچي په څه دلیل سره یې حراموالي اومنعه ثابته نه وي هیڅ شي حرام نه دی)

یوه مسئله ددې آیت څخه داحکام القرآن جصاص مطابق دااوونه چې په دنیاکې چې څومره شیان دخوړلو اوچیښلو دي، اصل په دوی کې دادې چې دغه ټول جائز اوحلال دي، ترڅو پوري چې دیو خاص شي حراموالي اومنع په څه شرعي دلیل سره ثابته نه سي، هرشي به جائز اوحلا ل ګڼل کیږي، دې طرف ته اشاره په دې خبره وسوه چې د ، كُلُوا وَاشْرَبُوا مفعول یې ذکرنه کی، چې څه شی خوري اوچیښي اودعربي دعالمانو داتصریح ده چې پر داسې موقع مفعول نه ذکر کول دده دعاموالي طرف ته اشاره وي، چې هرشي خوړلې اوچیښلې سي، بغیر دهغو شیانو څخه کوم چې په صراحت سره حرام سوي دي (احکام القرآن للجصاص)

(په خوړلو اوچیښلوکي اسراف جائزنه دی)

دآیت دآخري جملې ، وَلَا تُسْرِفُوا څخه ثابته سوه چې دخوړلو اوچیښلو خواجازت دی ، بلکه حکم دی ، مګر ددې سره داسراف کولو څخه منع ده، داسراف معنٰی ده ترحد تجاوز کول، بیا دحد څخه دتجاوز کولو څوصورتونه دي، یوداچې دحلالو څخه تجاوز وکې حراموته ورسیږي، اوحرام شیان خوري او چیښي، ددې حراموالي څوښکاره دي، دوهم داچې دالله ﷻ حلا ل کړي شیان بې له شرعي وجهي څخه حرام وګڼي اوپاته یې کې، لکه څنګه چې دحرامو استعمال جرم اوګناه ده، دغه ډول حلا ل حرام ګڼل هم دالله ﷻ دقانون مخالفت او سخته ګناه ده (ابن کثیر، مظهري، روح المعاني)

دغه ډول داهم اسراف دی چې دلوږې اوضرورت څخه زیات خوراك اوچیښاك کوي، په دې وجه فقهاوو ترمړیدو زیات خوراك ناجائز لیکلی دی (احکام القرآن اونور) دغه ډول داهم اسراف دی چې سره دقدرته

Maktaba Tul Ishaat.com

اواختیاره ترضرورت دومره کمه وخوري چې کمزوري سي اودواجباتو ادا کولو طاقت يې نه وي، ددې دواړه قسمه اسراف څخه دمنع کولو دپاره دقرآن کريم ارشاد دی .

إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓا إِخْوَانَ الشَّيٰطِينِ .

يعنې فضول خرچي کوونکي دشيطانانو وروڼه دي ، اوبل ځای ارشاد دی .

وَالَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذٰلِكَ قَوَامًا .

يعنې دالله ﷻ هغه خلک خوښ دي کوم چې خرڅ کوي نومیانه روي کوي نه دضرورت څخه زيات خرڅ کوي اونه کم خرڅ کوي .

(په خوراک څښاک کې اعتدال ددين اودنيا دپاره نفع مند دی)

حضرت فاروق اعظم ﷺ فرمايي چې ډېر خوراك څښاك څخه ځان ساتي ، ځکه چې دا بدن خرابوي ، بيماري پيداکوي ، په عمل کې سستي پيداکوي بلکې په خوراك اوڅښاك کې ميانه روي اختياروي چې دبدن دصحت دپاره هم مفيده ده اودا اسراف څخه لیرې ده اوفرمايي چې الله ﷻ چاغ جسم والا عالم نه خوښوي (مطلب دا دی چې څوك په زيات خوراك سره په اختياري طور باندې چاغ سوی وي) اوفرمايي چې بنده ترهغه وخته پورې نه هلاکیږي ترڅوچې دی خپل نفساني خواهشات پردين باندې ښه اومخکې ونه ګڼي (روح عن ابن نعيم) سلف صالحينو (يعني تيرو نيکانو) داخبره په اسراف کې داخله ګڼلې ده چې بنده هروخت دخوراك اوڅښاك په شغل کې مشغول وي يادا تر نورو مهمو کارونو مخکې ګڼي، چې په دې سره داسې ګڼل کیږي چې دده دژوند مقصد هم داخوراك اوڅښاك دی، ددغو حضراتو دامشهوره وينا ده چې ، خوردن برائی زيستن است ، نه که زيستن برائی خوردن، يعنې خوړل دپاره دژوندون حاصلولو دي، نه چې ژوند دپاره دخوراك دي .

په يوحديث کې نبي کريم ﷺ دا هم په اسراف کې داخله کړي ده کله چې يوشی زړه وغواړي اوهغه بيا خامخا پوره کوي ، اِنَّ مِنَ الْاِسْرَافِ اَنْ تَأْكُلَ كُـلَّ مَا اشْتَهَيْتَ (ابن ماجه عن انس ﷺ)

اوبيهقي نقل کړي دي چې حضرت عائشه صديقه ﷺ يو وار نبي کريم ﷺ وليده چې په يوه ورځ کې يې دوه واره خوراك وفرمايي نو ارشاد يې ورته وفرمايي چې ای عائشې! آيا ستا داخوښه ده چې ستاشغل يوازې خوراك جوړسي .

او دميانه روی داحکم کوم چې دخوراك اوڅښاك متعلق په دې آيت کې ذکر دی يوازې دخوړلو اوڅښلو سره خاص نه دی، بلکه داغوستلو اودژوند تیرولوپه هر کارکې درميانه روی محبوبه اوښه ده، حضرت عبد الله ابن عباس ﷺ فرمايي چې څه غواړې خوري اوڅيښې اوچې څه غواړې اغوندې ، يوازې د دوو خبرو څخه ځان ساتي يو دا چې په دې کې اسراف يعني دضرورت تراندازې زيات نه وي ، دوهم په کښې فخر اوغرور نه وي .

(ديو آيت څخه اته شرعي مسئلې)

لنډه دا ده چې د، كُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا دجملو څخه اته شرعي مسئلې راووتلې، ۱، اول داچې

Maktaba Tul Ishaat.com

خوړل چښل په قدر دضرورت فرض دی، ۲. دوهمه داچی ترڅو پوری دیوشی حراموالی په څه شرعی دلیل سره ثابت نه سی، هر شی حلال دی، ۳. دریمه داچی دکمو شیانو الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ منع کړي ده دهغه استعمال اسراف اوناجائز دی، ۴. څلورمه داچی کوم شیان الله ﷻ حلا ل کړي دی ، هغه حرام ګڼل هم اسراف اوسخته ګناه ده ۵. پنځم دا چی ترمړیدلو وروسته زیات خوړل هم ناجائز دی، ۶. شپږم داچی دومره کم خوړل چی کمزوری سی وربا ندی چی دواجباتو دادا کولو قدرت یی پاته نه سی هم ناجآئز دی ۷. اوومه دا چی هروخت دخوراك اوچیښاك په فکرکی اوسیدل هم اسراف دی، ۸. اتمه داچی کله یی زړه یوشی وغواړی نو خامخایی حاصلوی.

دا خو ددی آیت دینی فائدی دی اوپه طبی طور سره که فکر وسی نو دصحت او تندرستی دپاره تردی ښه هیڅ نسخه نسته، په خوراك اوچیښاك کی میانه روی دټولو بیماریو علاج دی، په تفسیرِ روح المعانی اومظهری اونورو کی دی چی دامیر المومنین هارون الرشید سره یونصرانی طبیب دعلاج دپاره اوسیدی، هغه علی بن حسین واقد ته وویل چی ستاسی په کتاب یعنی قرآن کی دعلم طب هیڅ حصه نسته، حال دادی چی په دنیاکی دوه علمونه علمونه دی، یوعلم ادیان، بل علم ابدان چی ددی نوم طب دی، علی بن حسین وفرمایل، چی الله ﷻ دطب او حکمت ټول فن دقرآن په نیم آیت کی جمع کړي دی ، هغه داچی ارشاد فرمایی ، كُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا (اوپه تفسیرِ ابن کثیرکی داقول دځینو مشرانو په حواله سره هم نقل دی) بیاهغه وویل چی ښه نوستاسی درسول په کلام کی هم دطب متعلق څه سته ؟ هغه وفرمایل چی نبی کریم ﷺ په یوڅو کلموکی دطب ټول فن جمع کړي دی ، هغه فرمایی چی ، معده دبیماریو کور دی اودمضرو شیانو څخه پرهیز دهری دوا اصل دی، اوهریوه بدن ته هغه شی ورکوه دکم چی دی عادی دی (کشاف، روح) نصرانی طبیب چی دا واوریدل نوویی ویل چی ستاسی کتاب اوستاسی رسول دجالینوس دپاره هیڅ طب نه دی پرېښی، بیهقی په شعب الایمان کی په روایت دابوهریره ﷺ نقل کړي دی ، چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی معده دبدن حوض دی ، دټول بدن رګونه ددی حوض څخه سیراب (خړوبه) کیږی چی معده برابره وی نوټول رګونه ددی ځای څخه صحت مند خوراك بدن ته رسوی اوچی دغه خرابه وی نوټول رګونه ورڅخه بیماری اخلی اوپه بدن کی یی خپروی، محدیثنو دحدیثو ددی روایتونوپه الفاظوکی څه کلام کړیدی لیکن دکم خوراك اومحتاط اوسیدو تاکیدونه چی په بی شمیره احادیثوکی موجود دی پردی دټولو اتفاق دی (روح)

قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ قُلْ هِيَ لِلَّذِينَ

ته ووایه چا حرام کړی دی دالله ښائست کوم چی هغه پیدا کړی دی دخپلو بندګانو دپاره اوپاك شیان دخوراك

آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَذَلِكَ نُفَصِّلُ

ته ﷺ ووایه دا نعمتونه په اصل کی دایماندارو دپاره دی په ژوند ددنیاکی خالص د دوی دپاره دی په ورځ دقیامت

Maktaba Tul Ishaat.com

الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۳۲﴾ قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا

دارنگه په تفصیل بیانوو مونږ ایتونه دهغو دپاره چی پوهیږي، ته ﷺ ووایه زمارب حرام کړی دی صرف دبی حیایی

ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْاِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَاَنْ تُشْرِكُوْا

خبری کومی چی په کی ښکاره دی او کومی چی په کی پټی دی اوګناه اوناحقه زیاتوب کول ، اودا خبری چی شریك

بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ مَا

کړی الله سره داسی شی دکوم چی هغه دلیل نه دی نازل کړی اودا چی وایی په الله پاك باندی هغه خبری کومی چی

لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ۚ فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ

تاسی ته معلومی نه دی ، اودهری ولی دپاره یوه وعده ده ، بیا چی کله راسی د دوی وعده نه به وروسته کیدی

سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۳۴﴾

سی یو ګړی اونه به مخکې کیدی سی .

تفسیر: (کوم خلک چی دالله ﷻ حلا ل سوی شیان داغوستلو خوړلو اوچیښلو بی دلیله بلکه ددلیل څخه خلاف حرام ګڼی دوی ته) ته ووایه چی (داوښیاست) دالله ﷻ پیدا کړی جامی کومی چی هغه دخپلو بندګانو د (استعمال د) پاره جوړی کړي دی اودخوراك اوچیښاك حلال شیان (کوم چی الله حلال کړي دی) کوم سړی حرام کړي دی (یعنی حلال اوحرام مقرر کول خو دکائناتو دخالق اومالك کاردی تاسی دخپل طرف څخه څنګه یوشی ته حلا ل یاحرام وایاست ؟ په ذکر سوو آیتونوکی یی جامی اودخوړلو اوچیښلو شیان دالله ﷻ انعام مقرر کړي دی په دی سره کافرانوته داشبهه کیدی سوه چی دا انعام خومونږ ته ښه زیات راکول کیږی که الله ﷻ زمونږ څخه خفه وای اوزمونږ عقیدی اوعملونه دهغه څخه خلاف وای نودا انعام به مونږته ولی راکول کیدی ددی شبهی دجواب پاره فرمایی چی ای محمد ﷺ ته دوی ته دا ووایه چی (دالله ﷻ دانعامونو داستعمال اجازت دلیل دمقبول والی نه دی البته دکم استعمال څخه وروسته چی څه وباجل (تاوان) نه وی، هغه دلیل دمقبول والی دی اوداسی استعمال خالص دایماندارو حصه ده څکه کافران چی څومره زیات ددنیا نعمتونه استعمالوی دومره ددوی وبا ل اوعذاب دآخرت زیاتیږی، په دی وجه فرمایی چی) داشیان (جامی اودخوراك اوچیښاك شیان) په دی طور باندی چی دقیامت په ورځ (هم دخرابوالی اوعذاب څخه) خالص به وی ددنیاپه ژوندکی خاص دایماندارو دپاره دی (په خلاف دکافرانو څخه چی که څه هم په دنیاکی دوی دالله ﷻ نعمتونه استعمال کړل ، عیش اوعشرت یی

Maktaba Tul Ishaat.com

تیرکی، مگر ددی نعمتونو شکر یی په ایمان اواطاعت سره ادانه کی، په دی وجه به هلته دانعمتونه وبا ل اوعذاب جوړ سی) مونږ دغه ډول ټوله آیتونه دپوهو خلګو دپاره صفا صفا بیانوو ته (دوی ته دا هم) ووایه چی (تاسی چی کوم حلال شیان بی وجهی حرام ګڼلی دی، دغه خوالله ﷻ نه دی حرام کړی) البته زما رب یوازی (هغه شیان په کوموکی چی تاسی اکثر اخته یاست) حرام کړي دی (مثلاً) ټوله فحش خبری ، په دوی کی چی کم ښکاره دی ، هغه هم (لکه چی په لڅه طواف کول) اوپه دی کی چی کم پټ دی، هغه هم (لکه بدکاری) اوهره دګناه خبره (یی حرامه کړي ده) اوناحقه پرچا ظلم کول (یی حرام کړي دی) اودا خبره (یی حرامه کړي ده) چی تاسی دالله ﷻ سره یوداسی شی (په عبادت کی) شریك کی دکوم چی الله ﷻ څه سند (اودلیل) نه دی نازل کړی (نه کلیةً نه جزءیاً) اودا خبره (یی حرامه کړیده) چی تاسی خلګ دالله ﷻ په ذمه داسی خبره ولګوی دکمی چی ستاسی څه سندنه وی (لکه څنګه چی په آیت: قُلْ اَمَرَ رَبِّیْ بِالْقِسْطِ کی ټول هغه کارونه چی عمل کول په جائزوی، داخل سول، دغه ډول په اِنَّمَا حَرَّمَ کی ټول هغه کارونه چی منع ورځخه سویده، داخل سول) او (که ددی حرامو کارونو کوونکوته فوراً دسزا نه ورکول کیدوپه وجه سره ددوی په وجه سره ددی په حراموالی کی څه شبهه وی نوجواب یی دادی چی دالله ﷻ په علم کی) دهری ډلی (دهرفرد دسزا) دپاره (په مقتضا دحکمت) یو میعاد مقرر دی نو څه وخت چی د دوی (دغه) میعاد مقرر (نژدی) راسی، دغه وخت به یو ساعت نه (ددی څخه) وروسته واپس سی اونه به مخکی کیدی سی (بلکی فوراً به سزا جاری سی ددغه میعاد څخه مخکی دسزا نه ورکیدل ددی خبری دلیل نه دی چی پردی حرامو به سزا نه وی)۔

معلومات اومسئلي: په اول کی هغو خلګوته خبرداری ورکول سوي دی کوم چی په عبادتونو کی غلو او دځان څخه جوړی کړی تنګی پیدا کوی دالله ﷻ دحلالوشیانو څخه پرهیزکول اوپر خپل ځان یی حرامولو ته عبادت اوطاعت وایی ، لکه دمکی مشرکانوچی به دحج په ورځوکی په طواف کی جامی اغوستل جائزنه ګڼل اودالله ﷻ دحلالو اوښو خوراکونو څخه به یی پرهیز کول، عبادت ګڼی، دی خلګو ته دزورنی اوملامتولو په اندازکی خبرداری ورکول سوي دی چی دالله ﷻ ښائست یعنی ښه لباس کوم چی الله ﷻ دخپلو بندګانو دپاره پیدا کړي دی اوپاکیزه اوښه خوراکونه کوم چی الله ﷻ ورکړي دی ، دا چا حرام کړل ؟

(دښکلي لباس اوخوندور خوراک څخه پرهیز داسلام تعلیم نه دی)

مطلب دا دی چی یو شی حلال یاحرام ګرځول یوازی دهغه پاك ذات حق دی ، چاچی داشیان پیدا کړي دی ، بل چاته په دی کی دخل کول جائز نه دی ، په دی وجه هغه خلګ دزورنی اوعذاب قابل دی ، کوم چی دالله ﷻ حلال کړی عمده پوښاك یا پاکیزه او خوندور خوراك حرام ګڼی ، سره دطاقته په خیری ګریوان اوګډوډ اوسیدل نه څه داسلام تعلیم دی ، اونه په اسلام کی څه ښه شی دی ، لکه چی ډیر جاهلان یی داسی ګڼی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په تیرو مشرانو او داسلام په امامانو کې ډیر مشران کومو ته چې الله ﷻ مالي فراخي ورکړې وه ، اکثرو به یې ښکلې اوبیش قیمته لباس اغوستې، سردار ددواړو جهانو نبي کریم ﷺ هم کله چې فراخي راغلې نو ترښو لانبي جامې یې زیبِ تن کړي دي ، په یو روایت کې دي چې یووار ده ﷺ دباندې تشریف راوړی نو پربدن مبارك یې داسې څادر وو چې قیمت یې زر درهمه وو، دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله څخه نقل دي چې دڅلور سوه ګنې قیمتي څادر یې استعمال کړي دی ، دغه ډول حضرت امام مالك رحمه الله به همیشه ښکلې اوعمده لباس استعمالوی، دده دپاره یوصاحب دټول کال دپاره ددرې سوه شپیته جوړو سالانه انتظام په خپله ذمه اخیستی وو اوکومه جوړه چې به دامام صاحب په بدن یو وار استعمال سوه دوباره به نه استعمالیده ، څکه چې یوازې یوه ورځ به یې استعمال کړه، بیابه یې یوغریب طالب علم لره ورکوله، وجه داده چې دنبي کریم ﷺ ارشاد دی چې کله الله ﷻ یو بنده ته خپل نعمت اوفراخي ورکې نوالله ﷻ داخوښوي چې ددې نعمت اثردده پرجامو اونورو کې ولیدل سی، په دې وجه چې دنعمت اظهارهم یوقسم شکردې اوددې په مقابله کې چې فراخي وي نوښلیدلې اوخیرنې جامې استعمالول ناشکري ده، البته ضروري خبره داده چې ددوو شیانو څخه ځان وساتي ، یو دریا اونمائش څخه اوبل دفخر او غرور څخه یعنې محض خلګوته دښوولو اودخپلې لویې ښکاره کولو دپاره دې دفخر جامې نه استعمالوي او ښکاره خبره ده چې تیر مشران نیکان ددې دواړو شیانو څخه پاك وه، اود نبي کریم ﷺ اوفاروق اعظم رضی الله عنه اوځینو نورو اصحابو رضی الله عنهم څخه چې په عامو حالاتو کې دمعمولي قسم جامو یاپیوندي کپړو استعمالول نقل دي ددې دوې وجهې وي ، یوه خو دا چې اکثره کوم مال چې به راتلی ، هغه به یې په فقیرانو مسکینانو اودینې کارونو کې خرڅ کوي، دځان دپاره به یې ورڅخه څه نه پاته کول چې ښه جامې په جوړې سي، دوهم دا چې دوی دخلګو پیشوایان وه، په دې ساده اوارزانو جامو ساتلوسره به یې نورو امیرانوته ددې خبرې تلقین کول وو چې پرعامو غریبانو اوفقیرانو دووی دمالي حیثیت رعب ونه لویږي دغه ډول صوفیاءِ کرام چې مبتدیان دښائسته جامو اوخوندناکو خوراکونو څخه منع کوي ، د دوی منشاء هم دا نه وي چې دا شیان دهمیشه دپاره پریښوول، څه دثواب کار دی ، بلکه دنفس پرخواهشاتو باندې دواك پیدا کولو دپاره دسلوك په اول کې داسې مجاهدې په طور دعلاج کول کیږي اوکله چې هغه دې درجې ته ورسیږي چې پرنفساني خواهشاتو واك پیداکي چې نفس یې بیا دحرامو اوناجائزو طرف ته نه سي راکښولی نودغه وخت ټول صوفیاءِ کرام دعامو تیرو مشرانو نیکانو په ډول دښه لباس او ښ[illegible]راکونو استعمال کوي، اودغه وخت داپاك رزقونه ددوی دپاره دالله ﷻ دمعرفت اودنژدیکت په درجوکې د[illegible]ډیز پرڅای دزیاتوالي او نژدیکت ذریعه جوړیږي .

(په خوراک او پوښاک کې دنبي کریم ﷺ سنت)

په خوراك اوپوښاك کې دنبي کریم ﷺ او اصحابو اوتابعینو سنت دادې چې په دې شیانو کې دې تکلیف نه کوي څنګه پوښاك اوخوراك چې په آسانۍ سره حاصلیدې سي هغه دې دشکرسره استعمالوي، غټه کپړه اواوچ خوراك چې ورکول سي نودا تکلیف دې نه کوي چې په څه ناڅه طریقه ښه حاصل کې برابره خبره ده

Maktaba Tul Ishaat.com

که قرض ورته ولی ونه کی یا په دی فکرکی خپل ځان په یوبل مشکل کی داخته کولو نوبت رانه سی.
دغه ډول ښه او ښکلی لباس یاخوندور خوراك چی حاصل سی نودا تکلف دی نه کوی، چی قصداً یی خراب کی یایی داستعمال څخه پرهیز وکی، څنګه چی دنوی او ښه لباس او خوراك لټون تکلف دی، دغه ډول دښه او خوندور خرابول یا یی پرینښوول اوخراب استعمالول هم تکلف اوبد ګڼل سوي دی.
دآیت په مخکی جمله کی ددی یوخاص حکمت داسی ښوول سوي دی چی ددنیا ټول نعمتونه ښه اوعمده لباس، پاکیزه اوخوندور خوراکونه په اصل کی داطاعت ګذارو مومنانو دپاره پیدا سویدی، نورخلګ یی ددوی په برکت سره خوری چښی، څکه چی دنیا دارالعمل دی، دارالجزاء نه ده دلته دکړه کوټه، ښه اوبد امتیاز ددنیا په نعمتونو سره نه سی کیدی، بلکه درحمان ددنیا دنعمتونو دا دسترخوان عام دلته دټولو دپاره یوډول اینښی دی بلکه په دنیاکی دالله ﷻ عادت دا دی چی که دمومنانو اوفرمان بردارو بندګانو څخه په اطاعت کی څه کمی راسی نونور خلګ پردوی غالب سی ددنیا دنعمتونو پرخزانو قبضه وکی اودوی په غربت اولوږه کی اخته سی، مګر داقانون یوازی په دی دنیا دار العمل کی دی، په آخرت کی به ټول نعمتونه اوراحتونه یوازی دالله ﷻ دفرمانبردارو اوطاعت شعارو بندګانودپاره مخصوص وی، دامعنٰی ده دآیت ددی جملی: قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ته ووایه چی ددنیاټول نعمتونه ددنیاپه ژوندکی هم په اصل کی دمومنانو حق دی اودقیامت په ورځ خوخالص ددوی سره خاص دی، اوحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه ددی جملی دامطلب مقرر کړیدی چی ددنیا ټول نعمتونه اوراحتونه په دی خاص کیفیت سره چی دآخرت دپاره وبا لِ جان نه جوړیږی، یوازی دفرمانبردارو مومنانو حصه ده، په خلاف دکافرانو اوفاجرانو څخه چی که څه هم په دنیا کی نعمتونه دوی ته هم ورکول کیږی، بلکه زیات ورکول کیږی، مګر ددوی دا نعمتونه په آخرت کی وبالِ جان اوهمیشه عذاب جوړیدونکی دی، په دی وجه دنتیجی دپه اعتبار سره ددوی دپاره داڅه عزت اوراحت نه دی.
اوځینی تفسیر لیکونکی حضرات ددی دامعنٰی مقرروی، چی په دنیاکی دټولو نعمتونو اوراحتونو سره دمحنت اومشقت اوبیادزواجل بیره قسم قسم رنځ اوغم لګیدلی دی دخالص نعمت اوخالص راحت دلته وجودهم نسته البته په قیامت کی چی چاته دانعمتونه ورکول سی هغه به خالص ورکول کیږی نه به ور سره محنت اومشقت وی اونه به یی دزوال یانقصان څه بیره وی اونه به څه رنځ اومصیبت وی، دری سره مطلبونه دآیت په دی جمله کی ځاییږی اوپه دی وجه تفسیرلیکونکواصحابو اوتابعینودا اختیارکړي دی.
دآیت په آخرکی فرمایی، وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ یعنی مونږ دخپل کامل قدرت نښی دپوهه خلګو دپاره دغه ډول په تفصیل اووضاحت سره بیانوو چی په دی سره هرعالم اوجاهل پوه سی، په دی آیت کی دخلګو دغلو اوددوی دجاهلانه خیالاتو تردید وو، چی په ښه لباس اوښه خوراك پرینښوولو سره الله ﷻ راضی کیږی، تردی وروسته په دوهم آیت کی دڅه هغه شیانو بیان دی، کوم چی الله ﷻ حرام کړي دی اودا حقیقت دی چی ددی په ترك کولو سره دالله ﷻ رضا حاصلیږی او اشاره ددی خبری طرف ته ده

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دا خلګ په غبرګ جهالت کې اخته دي ، یو طرف ته دالله ﷻ حلال کړې بنه او پاکیزه شیان پرخپل ځان بې وجهې حراموي ددغه نعمتونو څخه محرومه سوه اوبل طرف ته کم شیان چې په حقیقت کې حرام وه او دکموپه استعمال سره چې دالله ﷻ غضب اودآخرت عذاب په نتیجه کې راتلونکې دي ، دهغوپه استعمال کې اخته سول ، دآخرت وبال یې واخیستی اودغه ډول ددنیا اوآخرت دواړو دنعمتونو څخه محرومه سول اوددنیا اوآخرت تاوان یې وکې ارشاد فرمایي .

إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَنْ تُشْرِكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ : یعنی کوم شیان چې تاسې خامخا حرام کړي دي ، هغه خو حرام نه دي ، مګر الله ﷻ ټول دبې حیایي کارونه حرام کړي دي ، برابره خبره ده که هغه ښکاره وي او که پټ وي ، اوهر ګناهګار کار اوناحق په چا ظلم کول اودالله ﷻ سره بې دلیله څوك شریك جوړول او دا خبره چې تاسې خلګ په الله ﷻ پورې داسې خبره ولګوی دکومې چې ستاسې سره سند نه وي .

په دې تفصیل کې ترلفظ دائم لاندې هغه ټول ګناهونه راغلل دکومو تعلق چې دانسان دخپل ذات سره دی اوپه بغی کې هغه ګناهونه دکومو تعلق چې دنورو دمعاملو اوحقونو سره وي، اوشرك اوپه خدای دروغ جوړول دادعقیدې ښکاره لویه ګناه ده، ددې خاص تفصیل ذکرپه دې وجه هم وسوچې په دې کې تقریباً دهر قسم محرمات اوپوره ګناهونه راغلل، برابره خبره ده که دعقیدې ګناه وي یا دعمل اوبیا دذاتي عمل ګناه وي اوکه دخلګو دحقونو، اوپه دې وجه هم چې دا دجاهلیت خلګ په دې ټولو جرمونو اوجرامو کې اخته وه دغه ډول ددوی دوهم جهالت یې ښکاره کې چې دحلالو شیانو څخه یې پرهیز کوی اودحرامو داستعمال څخه به نه اوښتل اوپه دین کې دغلو اونوو ایجاد کړو بدعتونو دا لازمي خاصه ده چې کوم سړی په دې شیانو کې اخته سي ددین داصل اودمهمو ضرورتونو څخه عادةً غافله کیږي، په دې وجه په دین کې دغُلو اودبدعت نقصان دوچنده وي یوپه خپله په غُلو اوبدعت کې اخته کیدل دي اوګناه ده، دوهم ددې په مقابله کې دصحیح دین اودسنت طریقو څخه محرومه کیدل دي، نعوذ بالله تعالی منه.

په اول اودوهم دواړو آیتونو کې دمشرکانو اومجرمانو ددوو غلطو کارونو ذکرو، یود حلالو حرام ګرځول، دوهم دحرامو حرام مقرر کول، په دریم آیت کې ددوی دبد انجام او دآخرت دسزا اوعذاب بیان دي، ارشاد فرمایي . وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ : یعنی دامجرمان چې دهرقسم سرکښی باوجود دالله ﷻ په نعمتونو کې پالل کیږي اوپه دنیاکې په ظاهره په دوی څه عذاب راغلی په نظرنه راځي ، دالله ﷻ ددې عادت څخه دې غافله نه سي چې الله ﷻ مجرمانو ته په خپل رحمت سره وخت ورکوي، چې دوی به دخپلو حرکتونو څخه واپس سي، لیکن دالله ﷻ په علم کې ددې مهلت یومیعاد معین وي، کله چې هغه میعاد راورسیږي نویو ګړی هم مخکې او وروسته کیدی نسي اودوی په عذاب کې ونیول سي نو دمرګ سره په عذاب کې داخل سي، په دې آیت کې دمیعادِ معین څخه نه دمخکې کیدو اونه دوروسته کیدو چې کم ذکردی دایوه داسې محاوره ده لکه زمونږپه عرف کې چې خریدار

Maktaba Tul Ishaat.com

دکاندار ته وایي چې په قیمت کې څه کمي یازیاتی کیدی سی ؟ نو دا ښکاره خبره ده چې دقیمت زیاتی
خوډی نه غواړي، یوازې دکمي پوښتنه کوي، مګر تبعًا ورسره زیاتی ذکر کول کیږي، دغه ډول دلته
اصلي مقصد خودادی چې ترمقرر میعاد وروسته تاخیر نه سی کیدی او دتقدیم ذکر یې دتاخیر سره په
طور دمحاوری دعوامو کړي دی .

يَٰبَنِىٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِى فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

ای اولاده دآدم! که راسی تاسی ته رسولان تاسی څخه چې بیانوي تاسی ته آیتونه زمانو څوك چې وبیریږي اونیکي

وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٥﴾ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسْتَكْبَرُوا۟ عَنْهَآ

وکي نونه به بیره وي په دوي اونه به دوي غمګین وي ، اوچاچې دروا غجن کړل زمونږ آیتونه او تکبریې وکي ددې

أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٣٦﴾ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ

څخه نو دغه دي په دوږخ کې وسیدونکی ، دغه به په دې کې همیشه وسیږي ، بیا دده څخه زیات ظالم څوك دی

عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيبُهُم مِّنَ

چې وتړي په الله باندې درواغ اویادرواغجن کړي دهغه آیتونه دغه خلق دي چې یوخای به سی دوی ته ددوی حصه

ٱلْكِتَٰبِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ قَالُوٓا۟ أَيْنَ مَا كُنتُمْ

چې لیکلې ده په کتاب کې ، تردې پورې چې کله ورسیږي دوی ته زمونږ لیږل سوي د دوی روح اخیستلولره ، نو
وبه وایي څه سو هغه کوم چې

تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ قَالُوا۟ ضَلُّوا۟ عَنَّا وَشَهِدُوا۟ عَلَىٰٓ

تاسی بلل ماسوا دالله څخه ؟ وبه وایي هغه زمونږ څخه ورك سول او اقرار به وکړي په خپل

أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوا۟ كَٰفِرِينَ ﴿٣٧﴾ قَالَ ٱدْخُلُوا۟ فِىٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ

خان ، چې بیشکه دوی کافران وو ، وبه فرمایي داخل سی سره دنورو امتونو کوم چې تاسی څخه

مِن قَبْلِكُم مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ فِى ٱلنَّارِ ۖ كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَّعَنَتْ

مخکې تیر سوي دي ، دپیریانو او انسانانو څخه په دوږخ کې دننه ، هرکله چې داخل سی یو امت لعنت به کوي

Maktaba Tul Ishaat.com

أُخْتَهَا ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا جَمِيعًا ۙ قَالَتْ أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا

په بل امت، تردې چې ولویږي په دې کې ټول نو وبه وایي د دوی وروستني اولنیوته ای ربه زمونږ

هَٰٓؤُلَآءِ أَضَلُّونَا فَـَٔاتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ ٱلنَّارِ ۖ قَالَ لِكُلٍّ

مونږ دوی ګمراه کړي وو، نو ته دوی ته ورکړې دوچنده عذاب د اور وبه فرمایل چې

ضِعْفٌ وَلَٰكِن لَّا تَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾ وَقَالَتْ أُولَىٰهُمْ لِأُخْرَىٰهُمْ فَمَا كَانَ

دواړو ته دوچند دی، لیکن تاسی نه پوهیږی، وبه وایي د دوی اولنی وروستنیوته نو هیڅ نه سوه

لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ فَذُوقُوا ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٣٩﴾

تاسی لره په مونږ باندې لوی اوس وڅکی عذاب په سبب دخپلی ګټی

تفسیر: (مونږ په عالم ارواح کې ویلي وه) ای اولاده دآدم که تاسی ته پیغمبران راسی کوم چې ستاسی څخه وی اوزما حکمونه تاسی ته بیانوی پس (ددوی په راتلو باندې) چې کوم سړی (په تاسی کې ددغه آیتونو ددروغ کولو څخه) پرهیز وکی او (دعملونو) درستی وکی (مراد دادی چې کامله تابعداری وکی) پس پردی خلګو باندې (په آخرت کې) به نه څه بیره (ونکی خبره واقع کیدونکی) وی اونه به دوی غمجن وی اوکم خلګ چې (په تاسی کې) زمونږ دی احکاموته دروغ ووایی اوددی (دقبلولو) څخه تکبر وکی دغه خلګ به دوږخیان وی اودوی به په دی کې همیشه اوسی (کله چې ددروغ کونکو دسخت عذاب مستحق کیدل اجمالاً معلوم سو، نو اوس تفصیل واوری چې) ددی سړی څخه به زیات ظالم څوک وی کم چې په الله باندې دروغ تړی (یعنی کمه خبره چې خدای نه وی ویلی، هغه ته دخدای ویل سوی وایی) یادهغه آیتونه دروغ کی (یعنی کمه خبره چې خدای ویلی وی هغه ته دخدای ناویل سوی وایی) ددی خلګو په نصیب کې چې څه (رزق اوعمر) دی هغه خودوی ته (په دنیاکې) به ورکول کیږی (لیکن په آخرت کې مصیبت اومصیبت دی) تردی پوری چې (په برزخ کې دمرګ په وخت کې خو به د دوی حالت دا وی چې) کله دوی ته زمونږ لیږل سوی ملائکی ددوی روح قبض کولوته راسی نو (دوی ته به) ووایی چې (ووایاست) هغه چیری ولاړل کوم چې تاسی دخدای څخه ماسوا دهغه عبادت کوی (اوس په دی مصیبت کې مرولی په کارنه راځی) هغه (کفار) به ووایی چې زمونږ څخه خوټول ورک سول (یعنی واقعی په کار رانغلل) او (داوخت به) دخپل کافر کیدو اقراروکی (لیکن ددغه وخت اقراربه محض بی کاره وی، اوپه خینو آیتونوکی دداسی سوال جواب واقع کیدل په قیامت کې هم ذکردی، نوپر دواړو موقعو باندې ددی کیدل ممکن دی اوپه قیامت کې به ددوی داحال وی چې) الله ﷻ به وفرمایی چې کومی فرقی (دکافرانو) چې ستاسی څخه مخکی تیری سوی دی، دپیریانو څخه هم اودانسانانو څخه هم، ددوی سره تاسی هم

Maktaba Tul Ishaat.com

دوزخ ته ځي (نو مخکي او وروسته ټول کفاربه ورته داخل سي او داسي کيفيت به جوړسي چي) څه وخت
هم يوجماعت (د کفارو دوزخ ته) داخل سي نو دځان په ډول په بل جماعت به هم (کوم چي د دوی په ډول
کافران وي او د دوی څخه مخکي دوزخ ته تللي وي) لعنت کوي (يعني ديوبل سره به يې هم همدردي نه
وي، بلکي په وجه دښکاره کيدو د حقيقت به هرسړی بل ته په بدنظر سره ګوري، او بدبه ورته وايي) تردي
چي کله په دې (دوزخ) کي ټول جمع سي نو (دغه وخت به) وروسته خلګ (کوم چي وروسته داخل سي او
دا به هغه خلګ وي کوم چي په کفرکي دنورو تابع وه) اولنيو (داخل سوو) خلګوپه نسبت (يعني دهغو
خلګوپه نسبت کم چي په وجه دسرداري او پيشوايي دکفرپه دوزخ کي اول داخل سوي وي دا) ووايي
چي ای زموږ پروردګاره! موږ دي خلګو ګمراه کړي وو، نو دوی ته د دوزخ عذاب (ترموږ) دوچنده
ورکې (الله ﷻ به) ارشاد وفرمايي چي (ددوی په عذاب دوچنده کيدوبه تاسي ته څه تسلي اوراحت
راسي، بلکي ستاسي عذاب هم هميشه وخت په وخت به زياتيږي په دې وجه ستاسي عذاب هم ددوی
ددوچنده عذاب په ډول به وي پس په دې حساب سره) دټولو (عذاب) دوچنده دی ليکن (اوس) تاسي ته
(پوره) خبرنسته (ځکه چي اوس لا دعذاب ابتداء ده دغه زياتي لاتاسي ليدلې نه دی په دې وجه داسي
خبري جوړوي، ددې څخه معلوميږي چي دنورو دوچندوالي دعذاب دځپل ځان دپاره شفاء دغضب
اوسبب دتسلي ګڼي) اواولني (داخل سوي) خلګ به وروسته (داخل سوو) خلګوته (دخدای ﷻ ددې
جواب په خبريدو) ووايي (چي کله دټولو دسزا دا حالت دی نو) بيا تاسي لره پرموږ باندې (دسپک والي
دعذاب په باره کي) څه فوقيت نسته (ځکه چي تخفيف نه موږ لره سته نه تاسي لره) پس تاسي هم دځپل
(بد) عمل په مقابله کي دعذاب (زيات) خوند څکی.

إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ

بيشکه چاچي درواغجن کړل زموږ آيتونه او ددې څخه يې تکبروکی خلاصي به نه سي د دوی دپاره دروازې

السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ

دآسمان او داخل به نه سي جنت ته تردې چي دننه سي اوښ په سرې دستنه کي

وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ ﴿٤٠﴾ لَهُمْ مِنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِنْ

او داسي موږ بدله ورکوو ګناهګارانو ته ، د دوی دپاره د دوزخ لاندې ستنې دي

فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ ﴿٤١﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا

او دسربېره يې داغوستلو شي دي ، اوداسي موږ بدله ورکوو ظالمانو ته ، او هغه خلق چي ايمان

Maktaba Tul Ishaat.com

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

راوړی او وکړی نیکی مونږ بار نه اږدو په چاباندی مګر دده د طاقت موافق ، دغه دی په جنت کی

الْجَنَّةِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۴۲﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ

اوسیدونکی ، دوی به په دی کی همیشه وی ، او وبه باسو مونږ څه چی د دوی په زړونو کی

غِلٍّ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ

دخفګان نه وی بهیږی به ددی ښخه لاندی نهرونه او وایی به شکر دی دالله هغه

هَدٰىنَا لِهٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَآ اَنْ هَدٰىنَا اللّٰهُ لَقَدْ جَآءَتْ

چی مونږ یی دی ته را ورسولو ، او مونږ نه وو لا پیدا کوونکی که هدایت نه وی کړی مونږ ته الله ، بیشکه راوړی

رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ وَنُوْدُوْٓا اَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾

وه رسولانو درب زمونږ رښتینی خبره ، او آواز به راسی چی دا جنت دی چی وارثان یی سواست تاسی
په بدله دخپلو عملونو سره .

لنډتفسیر: (داحالت خو دکفارو اورته دداخلیدو سو اوس یی دجنت ښخه دمحرومی کیفیت واوری چی) کم خلګ زمونږ آیتونه دروغ کړی اودمنلو ښخه یی تکبر کوی ددوی (دروح پورته ختلو) دپاره (ترمرګ وروسته) دآسمان دروازی نه خلاصیږی (دا خوحالت ترمرګ وروسته دبرزخ سو) او (دقیامت په ورځ به دغه خلګ هیڅکله جنت ته ولاړنه سی ترڅوچی اوښ دستنی په سپم (سوری) کی دننه ولاړ نه سی (اودا خومحاله ده، نوددوی جنت ته داخلیدل هم محا ل دی) اومونږ داسی مجرمانو خلګوته هم داسی ورکوو (یعنی زمونږ ورسره څه دښمنی نه وه، څه چی یی وکړل، هغه یی پیدا کړل اولوړ چی کم دوږخ ته تلل ذکر سویدی دغه اوربه پردوی دهر څلور طرف ښخه چاپیره وی چی دیوه طرفه ښخه به ورته هم څه راحت نه ورکول کیږی نوداسی حا ل به یی وی چی) ددوی دپاره به تردوږخ لاندی ستنی وی او سربیره به ورباندی هم ددی داغوستلو شی وی (یعنی توشکه اوبړستن به یی دواړه داور وی) اومونږ داسی ظالمانوته هم داسی سزا ورکوو (دکومو ذکرچی په: فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ کی لوړ راغلی دی) اوکوم خلګ چی (دالله ﷻ په آیتونو) ایمان راوړی اوددوی نیک کار وکی (اودانیك کارڅه داسی مشکل کارنه دی څکه چی زمونږ داعادت دی چی) مونږ پرچا باندی دده ترطاقت زیات څه کارنه اچوو (داجمله معترضه وه، غرض داچی) داسی خلګ جنت (ته تلونکی) والا دی (او) دوی به په دی کی همیشه اوسی (اوددوی حالت به

Maktaba Tul Ishaat.com

ددوږ خیانو په ډول نه وي چې هلته به هم یوبل ته لعنت اوملامتي وايي، بلکه ددوی به داحالت وي چې خه چې ددوی په زړونوکې (دخه معاملې په وجه سره په دنیاکې په طبعي طور سره) غبار (اوخفګان) وو، مونږ به هغه (هم) لیرې کو (چې دیوبل سره په الفت اومحبت سره اوسي او) ددوی (تر مکانونو) لاندې به نهرونه جاري وي اودغه خلګ به (دډیرې خوشحالۍ اوسرور څخه) وايي چې دالله ﷻ (لك لك احسان دی چاچې مونږ تردې مقامه پورې راورسولو) اومونږ به هیڅکله (دلته) نه واي رارسیدلی که الله ﷻ مونږ نه واي رارسولی (په دې کې داهم راغله چې دلته دررسیدو کمه طریقه وه ایمان اوعملونه هغه یې مونږ ته ونبوول اوپر دې یې دتلو توفیق راکې) واقعي زمونږ درب پیغمبر دربنتینو خبرو سره راغلي وو (نودوی چې پرکمو عملونو دجنت وعده فرمایلې وه هغه رښتینې ثابته سوه) او دوی ته به په چغه سره وویل سي چې دا جنت تاسې لره درکول سوي دی، ستاسې د (نیکو) عملونو په بدله کې.

معلومات اومسئلې: څو آیتونه مخ ته دیو وعدې اومیثاق ذکردی چې دهرانسان څخه په دې دنیاکې دده ترپیدا کیدو څخه مخکې په عالمِ ارواح کې اخیستل سوی وو چې کله زمونږ پیغمبران تاسې ته زمونږ هدایتونه اوحکمونه راوړي نوهغه به په تن بدن اوزړه سره منې اودهغه مطابق به عمل کوی او دا هم ښودل سوی وه چې کوم سړی دنیاته تر راتلو وروسته پردغه وعدې باندې قائم پاته سي اومطابق یې عمل وکې، هغه به دهر رنځ اوغم څخه نجات پیداکې اودهمیشه آرام اوراحت مستحق به سي، اوکوم چې دانبیاء ﷸ خبروته دروغ ووایي یاورڅخه سرکښي وکې دهغه دپاره دجهنم همیشه عذاب مقردی، په دې ذکرسوو آیتونوکې ددې واقعي دصورت اظهاردی، کم چې دې دنیاته ترراتلو وروسته دانسانانو مختلفو ډلو اختیار کړی وو چې ځینو دغه وعده اومیثاق هیرکې اوخلاف ورزي یې وکړه او ځینې قائم پرپاته سول اوددې مطابق یې نیك عملونه وکړل، ددې دواړو فرقو دانجام اوعذاب اوثواب بیان په دې څلورو آیتونوکې دی.

په اول اودوهم آیت کې دوعدې ماتوونکو منکرانو اومجرمانو ذکر دی، اوپه آخري دوو آیتونوکې دوعدې پوره کوونکو مومنانو اومتقیانو ذکر دی، په اول آیت کې ارشاد فرمایي چې کومو خلګو انبیاء ﷸ دروا‌غ جنان کړل اوزمونږ دهدایتونو او آیتونوپه مقابله کې یې تکبروکې، ددوی دپاره به دآسمان دروازې خلاصې نه سي.

په تفسیر بحر محیط کې یې دحضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه ددې یوتفسیر دا نقل فرمایلی دی، چې نه به ددې خلګو دعملونو دپاره دآسمان دروازې خلاصې سي اونه به ددوی ددعاګانو دپاره، مطلب دادی چې ددوی دعابه قبوله نه سي او ددوی عملونه به دغه مقام ته دررسیدو څخه بند سي کوم ځای کې چې دالله ﷻ دنیکو بندګانو عملونه محفوظ اینبوول کیږي چې نوم یې دقرآن کریم په سورة مطففین کې علیّینْ ښوول سوي دی، او دقرآن کریم په یوبل آیت کې هم ددې مضمون طرف ته اشاره ده، چې په هغه کې ارشاد دی: اِلَیْهِ یَصْعَدُ الْکَلِمُ الطَّیِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ یَرْفَعُهُ یعني دانسان پاکې کلمې الله ﷻ ته پورته

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږی او د دوی نیك عمل هغه ته پورته کول کیږی ، یعنی دانسان نیك عملونه ددی سبب جوړیږی چی دده پاکی کلمی دالله ﷻ خاص دربارته ورسول سی، اوپه یوروایت دحضرت بن عباس ؓ او نوروصحابه کرامو ؓ څخه ددی آیت تفسیرداهم دی چی دمنکرانواوکافرانودروحونو دپاره به دآسمان دروازی نه سی خلاصی دغه روحونه به لاندی را ولویږی، اوددی مضمون تائید دحضرت براء بن عازب ؓ ددی حدیث څخه کیږی کوم چی ابوداؤد نسایی ابن ماجه اوامام احمد مفصل نقل کړي دی چی خلاصه یی دا ده چی. نبی کریم ﷺ دیو انصاری صحابی جنازی ته تشریف یوړی خو لاقبر تیار نه وو، نویوځای کښیناستی، اوصحابه کرام ؓ ورته شاوخوا خاموش کښیناستل ده سر مبارك لوړکی اوویی فرمایل ، چی دمومن بنده دپاره کله چی دمرګ وخت راسی، نودآسمان څخه سپینی بریښیدونکو مخونو والا ملائکی راسی چی د دوی سره دجنت کفن اوخوشبویانی وی ، اوددی دمړ کیدونکی مخ ته کښینی، بیادمرګ ملائکه عزرائیل ؑ راسی، اودده روح ته خطاب کوی چی ای نفس مطمئنه درب دمغفرت اوخوشحالی دپاره راووزه، دغه وخت دده روح داسی دبدن څخه په آسانی راوزی، لکه دمشك خوله چی خلاصه یی اواوبه ورڅخه وزی دده روح دمرګ ملائکه په خپل لاس کی واخلی اودغو ملائکوته یی حواله کی ، داملائکی دغه روح واخلی اوځی کوم ځای چی دوی ته دملائکو ډله په مخه ورځی ، هغوی ورڅخه پوښتنه کوی چی داپاك روح دچا دی ، دوی ورته دهغه نوم اولقب ښیی کم چی به ده ته دعزت اواحترام دپاره په دنیاکی استعمالیدی اووایی به چی دافلانی زوی دفلانی دی، تردی چی داملائکی ددی روح سره اول آسمان ته ورسیږی اودروازه خلاصه کړی، دروازه ورته خلاصه سی، ددی ځای څخه نوری ملائکی هم ددوی سره کیږی، تردی چی اووم آسمان ته ورسیږی، دغه وخت الله ﷻ فرمایی چی زما ددی بنده عملنامه په علیین کی ولیکی اودی واپسي کی ، دا روح بیا واپس قبر ته راسی او په قبر کی دحساب اخیستو ملائکی راسی ، دی کښینوی اوسوال ورڅخه کوی چی ستا رب څوك دی ؟ اوستا دین څه دی؟ دی ورته وایی، چی زما رب الله ﷻ دی او دین می اسلام دی ، بیا ورڅخه پوښتنه کوی، چی دا بزرګ کوم چی تاسی ته درلیږل سوی دی ، څوك دی ؟ دی وایی دا دالله ﷻ رسول دی دغه وخت دآسمان څخه یو آواز راسی، چی زما بنده رښتینی دی، ده ته دجنت فرش هوارکی اودجنت جامی ور واغوندی اودجنت طرف ته ده ته دروازه خلاصه سی، په دی دروازه ده ته دجنت خوشبویانی اوهواګانی راځی اودده نیك عمل به په یوښکلی صورت کی ده ته دده دمشغولولو دپاره راسی، ددی په مقابله کی دکافر اومنکر چی کله دمرګ وخت راسی نو دآسمان څخه دتور رنګ هیبت ناك صورت ملائکی راسی، خراب قسم ټاټ به ورسره وی اوده ته به مخامخ کښینی، بیابه دمرګ ملائکه دده روح داسی وباسی ، لکه چی یو څوزداره لکړه په لنده وړیه کی رانغښتل سوی وی او دهغه څخه یی راباسی داروح داسی وزی، نوددی بدبویی دمردار حیوان تربدبویی هم زیاته تیزه وی، ملائکی یی واخلی اوځی، په لاره کی چی کومی ملائکی ورسره مخامخ کیږی نوپوښتنه ورڅخه کوی چی دا دچا خبیث روح دی، نودوی یی دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت په هغه بد نوم اوبد لقب سره يادوي په کوم سره چې به دې په دنياکې بلل کيدې چې دافلانی زوی دفلانی دی ، تردې چې ترټولو اول آسمان ته ورسيږي ، نو د دروازې خلاصولو دپاره به وواي نو دده دپاره به دآسمان دروازه نه خلاصيږي ، بلکه حکم به وسي چې ددې بنده عملنامه په سجين کې وليکې ، کوم ځاې چې دنافرمانو بندګانو عملنامې اينبوول سوي دي اوداروح به راوغورځول سي ، دې به بدن ته دوباره راسي ملائکې به دې کښينوی ، دده څخه به هم هغه پوښتنه وکې ، کوم چې يې دمومن بنده څخه کړې وه ، دی به ددې ټولو جواب داورکی ، هاه هاه لا اَدرِيْ يعنی زه هيڅ نه پيژنم ، دده دپاره به دجهنم فرش خپور سی ، دجهنم جامې به ورته واغوستل سی اودجهنم طرف ته دروازه به ورته خلاصه سی ، ده ته به دجهنم تاو او ګرمی ور رسيږي اوقبربه پرتنګ سي ، نعوذ بالله منه (ياالله مونږته ورڅخه پناه راکې)

لنډه دا ده چې ددې حديث څخه معلومه سوه چې دمنکرانو اوکافرانو روحونه آسمان ته خيژول کيږي نودآسمان دروازه نه ورته خلاصيږي نودهغه ځاې څخه را ولويږي ، دذکر سوي آيت ، لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ اَبْوَابُ السَّمَآءِ دامطلب هم کيدی سی ، چې دمرګ په وخت کې ددوی روحونو ته دآسمان دروازې نه خلاصيږي .

په آخر دآيت کې ددې خلګو متعلق فرمايي ، وَلَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ په دې کې لفظ د ، يَلِجَ د ، وَلُوْج څخه راوتلی دی چې معنی يې ده ، په تنګ ځاې کې ننوتل ، او ، جمل اوښ ته ويل کيږي ، او ، سَمّ دستنې سوری ته ، معنی داده چې داخلګ به ترهغه وخته پورې جنت ته نه سی داخليدی ترڅو پورې چې داوښ په ډول عظيم الجثة (لوی بدن والا) حيوان دستنې په سوری کې دننه ولاړ نه سی ، مطلب دادی چې لکه څنګه چې دستنې په سوری کې داوښ دننه کيدل عادةً محا ل دی ، دغه ډول ددوی جنت ته تلل محاجل دی ، په دې سره ددې خلګو دجهنم دهميشه عذاب بيان کول مقصود دی ، تردی وروسته ددې خلګو دجهنم دعذاب دزيات سخت والی بيان يې په دې الفاظو سره کړي دی ، لَهُمْ مِّنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَّمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ د: مِهَادْ معنی ده فرش او غَوَاشْ دغاشية جمع ده چې معنی يې ده پټوونکی شی ، مطلب دادی چې تردې خلګو لاندې ستنې اوسربيره داغوستلو شی به ټول دجهنم څخه وی ، اواولنی آيت په کم کی چې دجنت څخه دمحرومی ذکر وو ، ددی په ختم کې يې ، كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِيْنَ وفرمايل اوددوهم آيت په کم کې چې دجهنم دعذاب ذکردی ، ددې په ختم کې يې ، كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ وفرمايل څکه چې دا ترهغه زيات سخت دی ، په دريم آيت کې دالله ﷻ دحکمونو دپيروی اوپابندی کوونکو ذکردی چې داخلګ جنت والا دی اوپه جنت کې به هميشه اوسی .

(په شرعي احکاموکي دآساني رعايت)

ليکن ددوی دپاره چې کوم ځاې دا شرط ذکر سوی دی چې دوی ايمان راوړی اونيك عمل وکړی ددی سره يې په رحمت اوکرم سره داهم وفرمايل: لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا چې معنی يې داده ، چې الله ﷻ په يو بنده باندې څه داسې دروند کارنه اچوی کوم چې دده ترطاقت لوړوی ، مقصود دادی چې نيك عملونه کموته چې يې دجنت دداخليدو دپاره شرط ويلی دی ، هغه څه ډير مشکل کارنه دی چې انسان يې نه سی

Maktaba Tul Ishaat.com

کولی، بلکه الله ﷻ دشریعت احکام په هره شعبه کی نرم اوآسان کړي دی ، دبیماری، کمزوری ، سفر
اونورو انسانی ضرورتونو یی په هرحکم کی لحاظ ساتلی دی اوآسانی یی په کښی ورکړي ده.
اوپه تفسیرِ بحرمحیط کی دی چی کله انسان ته دنیکو عملونوحکم ورکول سو نو دا احتمال ووچی دا
ته به داحکم په دی وجه ګران معلوم سی چی ټول نیك عملونه هرځای په هرحا ل کی په ځای راوړل
خودانسان په وس کی نه دی ، په دی وجه دا شبهه یی په دی الفاظوسره لیری کړه چی مونږ دټول انسانی
ژوند دمختلفو دورونو اوحالاتو جائزه اخیستی ده دهروخت هرځای اوهرحال دپاره مناسب احکام
ورکوو، په کومو چی عمل کول څه ګران کار نه دی.

(دجنتیانو دزړونو به دیو بل څخه خړوالي ایسته سوی وی)

په څلورم آیت کی دجنتیانو دوه خالص حالتونه بیان سوي دی یو دا چی ، وَنَزَعْنَا مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ : یعنی دجنتیانو په زړونو کی که دیوبل سره څه رنج اوخړوالی وی نو مونږ به هغه ټول د دوی
دزړونو څخه وباسو ، داخلګ به دیوبل سره بالکل خوشحاله او وروڼه وروڼه سی، جنت ته به ځی اوهلته
به اوسی، په صحیح بخاری کی دی چی مومنان کله پرپلِ صراط تیرسی، دجهنم څخه نجات حاصل کی
نودوی به جنت او دوزخ په مینځ کی پریو پُل سربیره ودروی، اوددوی په مینځ کی که دچا دچا سره څه
خفګان وی یادچا پرچا څه حق وی، نودلته چی ورسیږی نودیو بل څخه به بدل واخلی اومعاملی به صفا
سی اودغه ډول دحسد ، بغض، کینی اونورو څخه به صفا سی اوجنت ته به داخلیږی.
په تفسیرِ مظهری کی دی چی داپل به په ظاهره دپل صراط آخری حصه وی کومه چی دجنت سره متصل
ده، علامه سیوطی رحمه الله اونورو هم دا اختیار کړي ده، اوپر دی مقام باندی چی دحقونوکمی مطالبی
وی ، ددی ادا کول ظاهره ده چی په روپو او پیسو سره نه سی کیدی ، ځکه چی دغه به هلته دهیچا سره
نه وی، بلکه دبخاری او مسلم دیوحدیث مطابق دا ادائیګی به په عملونو سره وی، دحقونوپه بدله کی به
دده عمل دحق خاوند ته ورکول سی اوکه دده عملونه ټول په دی ډول سره ختم سی اودخلګو حقونه اوس
هم باقی وی نوبیابه دحق دخاوند ګناه پرده واچول سی.
په یوحدیث کی نبی کریم ﷺ داسی سړی ترټولو زیات مفلس ګڼلی دی، چاچی په دنیاکی نیك عملونه
وکړل، لیکن دخلګو دحقونو پروا یی ونکړه ددی په نتیجه کی دی دټولو عملونو څخه خالی مفلس پاته
سو، دحدیث په دی روایت کی دحقونو ادا کولو اودبدل اخستو عامه قاعده بیان سویده، لیکن
داضروری نه ده چی ټولو ته داصورت مخ ته راسی، بلکه دابن کثیر اوتفسیرِ مظهری دروایت مطابق
هلته به داصورت هم ممکن وی چی بغیر دانتقام اخیستوڅخه په مینځ کی کینه اوخړوالی لیری سی،
لکه چی په ځینو روایتونوکی دی چی داخلګ چی کله پرپُلِ صراط تیریږی نوداوبو یوی چینی ته به
ورسیږی اوددی اوبه به وچیښی، ددی اوبو خاصه به داوی چی دټولو دزړونو څخه به کینه اوخړوالی
ومینځل سی، امام قرطبی رحمه الله دآیت کریمه: وَسَقٰهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُوْرًا په تفسیرکی دانقل کړي دی،

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دجنت په دې اوبو سره به دتولو دزړونو څخه خفګانونه اوخروالی ومینځل سي.
حضرتِ علي مرتضیٰ ﷺ یووارداآیت ووایه اوویې فرمایل چې زما امید دی چې زه او طلحه ﷺ اوزبیر ﷺ به ددغوخلګوڅخه یودکوموډسینوڅخه چې جنت ته تر داخلیدو مخکې به خروالی صفا سي (ابنِ کثیر)
داهغه حضرات دي دکومو په مینځ کې چې په دنیاکې اختلافات پیدا سول اوجنګ ته نوبت رسیدلی وو دوهم حال یې دجنتیانو په دې آیت کې دابیان کړي دي چې جنت ته ورسي نودا خلګ به په دې دالله ﷻ شکر ادا کوي چې هغه دوی ته دجنت طرف ته هدایت وکی اوددې لار یې راته آسانه کړه اووایي به چې که دالله ﷻ فضل نه وای نوزمونږ مجال نه وو چې مونږدې ته رسیدلي وای، ددې څخه معلومه سوه چې یو انسان محض په خپل کوشش سره جنت ته نه سي تلی ترڅو پورې چې دالله ﷻ فضل پرده نه وي، ځکه چې کوشش په خپله دده په قبضه کې نه دی، هغه هم محض دالله ﷻ په رحمت اوفضل سره حاصلیږي.

(دهدایت مختلفې درجې دي چې آخري درجه یې جنت ته دداخلیدو ده)

امام راغب اصفهاني رحمه الله دهدایت دلفظ په تشریح کې ډیره مفیده اومهمه خبره فرمایلې ده، چې دهدایت لفظ ډیر عام دی، ددې درجې مختلفې دي اوحقیقت دادی چې هدایت دالله ﷻ طرف ته دتلو دلارې ورکول کیدو نوم دی، په دې وجه الله ﷻ ته دنژدې کیدو درجې چې څومره مختلفې اوغیرِ متناهي دي، دغه ډول دهدایت درجې هم بې حده متضادی دي، ادنیٰ درجه دهدایت دکفر اوشرك څخه نجات اوایمان دی په کم سره چې دانسان مخ دغلطی لارې څخه راوګرځي اودالله ﷻ طرف ته سي بیا دبنده اوالله ﷻ په مینځ کې چې څومره فاصله ده، ددغه دقطع کولو دهرې درجې نوم هدایت دی، په دې وجه دهدایت دطلب څخه په یووخت کې یوانسان تردې چې انبیاء اورسولان هم مستغني نه دي، په دې وجه نبي کریم ﷺ ترآخر عمره پورې د ، اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ تعلیم چې څنګه امت ته ورکی نو په خپله یې هم ددې دعا اهتمام جاري وساتی، ځکه چې الله ﷻ ته دنژدیکت ددرجو څه انتها نسته، تردې چې جنت ته داخلیدل یې هم په دې لفظ دهدایت سره تعبیر کړل، چې دا دهدایت آخري مقام دی.

وَنَادَىٰ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابَ النَّارِ أَن قَدْ

او اواز به وکړي جنتیان دوږخیانوته چې مونږ

وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ

خوپیدا کړه کومه چې وعده کړې وه زمونږ سره رب زمونږ رښتینې نو تاسی هم پیدا کړه دخپل رب وعده رښتینې

حَقًّا ۖ قَالُوا نَعَمْ ۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ أَن لَّعْنَةُ اللَّهِ عَلَى

دوی به ووایي چې هو، بیا به آواز وکړي یوآواز کوونکی د دوی په مینځ کې چې لعنت دی دالله ﷻ په

Maktaba Tul Ishaat.com

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۴﴾ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا

هغو ظالمانو باندی، چی منع کول به یی دالله ﷻ دلاری څخه اولټول به یی په دی کی کوږوالی

وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ كٰفِرُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ وَعَلَى الْاَعْرَافِ

او دوی دآخرت څخه منکر وه، او د دواړو په مینځ کی به وی یو دیوال او په اعراف باندی

رِجَالٌ يَّعْرِفُوْنَ كُلًّا بِسِيْمٰهُمْ وَنَادَوْا اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ سَلٰمٌ

به سړی وی چی پیژنی به هر یو دده په نښانی سره او دوی به آواز وکړی جنتیانو ته چی سلامتیا ده

عَلَيْكُمْ وقف لَمْ يَدْخُلُوْهَا وَهُمْ يَطْمَعُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَاِذَا صُرِفَتْ

په تاسی باندی، دوی به لا نه وی داخل سوی جنت ته او دوی به امید واروی، او کله چی وکرځی

اَبْصَارُهُمْ تِلْقَآءَ اَصْحٰبِ النَّارِ قَالُوْا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ

د دوی نظر طرف د دوږخیانو ته نو به وایی چی ای ربه زمونږ مه کړی مونږ دګناهګارانو سره

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۷﴾ وَنَادٰۤى اَصْحٰبُ الْاَعْرَافِ رِجَالًا يَّعْرِفُوْنَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ

، او آواز به وکړی اعراف والا هغو خلقو ته چی دوی یی پیژنی دهغو په نښانو سره

قَالُوْا مَآ اَغْنٰى عَنْكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ اَهٰۤؤُلَآءِ

وبه وایی په کار ورنه غله تاسی لره ستاسی ډله او کوم چی تاسی تکبر کوی ، اوس دا هغه دی

الَّذِيْنَ اَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ اللّٰهُ بِرَحْمَةٍ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ

چی تاسی به قسمونه خوړل چی وبه نه رسیږی دوی ته دالله رحمت داخل سی جنت ته نه بیره سته

عَلَيْكُمْ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿۴۹﴾

پر تاسی باندی او نه به تاسی غمجن یاست

لنډتفسیر: او (کله چی جنتیان جنت ته ورسیږی دغه وخت به دغه) جنتیان دوږخیانو ته (پرخپل حالت دخوشحالی ښکاره کولو او ددوی دحسرت دزیاتولو دپاره) ووایی چی زمونږ سره چی زمونږ رب کومه

Maktaba Tul Ishaat.com

وعده کړې وه (چې په ایمان اونیك عمل اختیارولوسره به جنت درکړم) مونږ هغه دواقعي مطابق ولیده تاسې وواياست چې) ستاسې سره ستاسې رب چې کومه وعده کړې وه (چې دکفرپه سبب به دوږخ ته راځول سې) تاسې هم هغه دواقع مطابق ولیده (یعنې اوس خوحقیقت دالله اودرسول دربتینوالې اودخپلې ګمراهۍ درته معلوم سو) دغه (دوږخیان به په جواب کې) ووایي، هو! (واقعي ټولې خبرې دالله اودرسول ﷺ صحیح وختلې) بیا (ددې دوږخیانو دحسرت اودجنتیانو دخوشحالۍ دزیاتولو دپاره) به یو آواز کوونکی (یعنې یوه ملایکه) ددواړو (فرقو) په مینځ کې (ودریږي) اوازبه وکي چې دالله ﷻ لعنت دې وي پرهغو ظالمانوکوم چې دالله دلارې (یعنې حق دین) څخه به یې منعه کوله اوپه دې (حق دین) کې به یې (همیشه په خپل ګمان کږې (خبرې) تلاښ کولې (چې په دې کې عیبونه اواعتراضونه پیداکي) اودغه خلګ (ددې سره) دآخرت څخه هم منکروه (چې نتیجه یې اوس دوی برداشت کوي، داخبره خو دجنتیانو اوددوی په تائید کې ددغه سرکاري اواز کوونکي ذکر سوه، مخ ته داعراف والاوو ذکر دی) او ددې دواړو (فرقو یعنې جنتیانو او دوږخیانو) په مینځ کې به یو مانع (یعنې دیوا ل) وي (چې ذکریې په سورة حدید کې دی ، فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ الخ ددې خاصه به دا وي چې دجنت اثر دوږخ ته او د دوږخ اثر جنت ته به نه پریږدي ، پاته سوه دا چې بیابه خبرې څنګه وي ، نو ممکنه ده چې په دې دیوال کې کومه دروازه وي لکه چې په سورة حدید کې دی ، بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ ددې دروازې څخه دا خبرې وسي یا دغسې اواز ورسیږي) او (ددې دیوال یاددې دلوړې حصې نوم اعراف دی او ددې څخه به جنتیان او دوږخیانٌ ټول معلومیږي نو) په اعراف سربیره به ډیرخلګ وي (دچا چې نیکۍ اوبدۍ په میزان کې برابرې وي) دغه خلګ به (جنتیان او دوږخیان) هریو (علاوه دجنت اودوږخ ته ددنه کیدو دنښانۍ څخه) ددوی دتندیانو څخه (هم) پیژني (تندیان داسې چې دجنتیانو پرمخونوبه نورانیت اوددوږخیانو پرمخونوبه توروالی اوخړوالی وي لکه چې په بل آیت کې دی. وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ضَاحِكَةٌ الخ) او دا اعراف والا به جنتیانو ته آوازوکي وبه وایي اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اوس به لا دا اعراف والا جنت ته داخل سوي نه وي او ددې امیدوار به وي (لکه چې په احادیثو کې راغلي دي چې د دوی امیدبه پوره سي اوجنت ته دتلوحکم به ورته وسي) اوکله چې ددوی نظرونه پردوږخیانو ولویږي (دغه وخت به په بیره سره) ووایي چې ای زمونږ ربه مونږ ددې ظالمانو خلګو سره (په عذاب کې) شامل نه کې او (لکه څنګه چې دې اعراف والاوو دجنتیانوسره سلام اوکلام وکې دغه شان) اعراف والا به (ددوږخیانو څخه) ډیرو خلګوته (کم چې کافران وي او) کوم چې د دوی پرتندیانو (په توروالي او خړوالي دمخ) سره پیژني (چې داکافران دي) اوازبه ورته وکي (او) وبه وایي چې ستاسې ډله اوستاسې خپل ځان لوی ګڼل (او دانبیاوو علیهم السلام تابعداري نه کول) ستاسې هیڅ په کار درنغلل (اوتاسې ددې تکبرپه وجه سره مسلمانان سپك ګڼل، دابه هم تاسې ویل چې دابې چاره دخه فضل وکرم مستحق دي لکه د ، اَهٰٓؤُلَآءِ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنْۢ بَيْنِنَا څخه هم دامضمون معلومیږي ، نودې مسلمانانوته خو اوس وګورئ) آیا دا (کوم چې په جنت کې عیش کوي) هغه (مسلمانان دي) دکومو

Maktaba Tul Ishaat.com

په باره کی چی تاسی به قسمونه اخیستل چی پردوی به الله ﷻ خپل رحمت ونه کی (نوپه دوی خودومره لوی رحمت وسو چی) دوی ته داحکم وسو چی ځی جنت ته (کوم ځای چی به) پرتاسی نه څه بیره وی اونه به تاسی غمجن سی (اوپه دی کلام کی چی یی کم د رِجَالاً تخصیص وکی، غالبًا وجه ددی دامعلومیږی چی لا اوس به هم ګناهګار مومنان په دوږخ کی وی ، قرینه یی دا ده چی کله اهل اعراف دجنت په امید کی جنت ته لا داخل سوی نه وی ، نوګناهګار خلګ دکومو چی ګناهونه داعراف والاوو ترګناهونو زیات دی ، ظاهره ده چی په طریقِ اولی سره به لا د دوږخ څخه راوتلی نه وی ، مګر داسی خلګ به ددی کلام مخاطب نه وی) والله اعلم

معلومات اومسئلي: کله چی جنتیان جنت ته او دوږخیان دوږخ ته خپلو خپلو ځایونو ته ورسیږی اوښکاره خبره ده چی په دی دواړو مقامونوکی به لوی لیری والی حائل وی، لیکن ددی باوجود دقرآن مجید ډیر آیتونه پردی شاهد دی چی ددی دواړو مقامونوپه مینځ کی به څه داسی لاری وی په کومو سره چی به یو اوبل لیدل کیږی اوپه مینځ کی به یی خبری اوسوال ؤ جواب وی ، په سورة صٰفّٰت کی د دوو سړیانو ذکر په تفصیل سره راغلی دی کوم چی په دنیاکی دیوبل ملګری وه لیکن یو مومن بل کافر وو، په آخرت کی چی کله مومنان جنت ته اوکافران دوږخ ته ولاړ سی نو دوی به یوبل ووینی اوخبری به وکی ارشاد دی. فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِي سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ٭ قَالَ تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ لَتُرْدِيْنِ ٭ وَلَوْ لَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ٭ اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ ٭ اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ : ددی مضمون خلاصه دا ده چی جنتی ملګری به وګوری ، دوږخ ملګری به دجهنم په مینځ کی پروت پیداکی نوورته وبه وایی چی کم بخته تا دا غوښتله چی زه هم ستاپه ډول برباد سم، اوکه دالله ﷻ فضل نه وای ، نو نن به زه هم ستاسره په جهنم کی پروت وای ، اوتابه ماته داویل چی ددی دنیا ترمرګ وروسته هیڅ ژوند اوهیڅ حساب اوکتاب یاثواب اوعذاب هیڅ هم نسته ، اوس دی ولیدل چی دا څه کیږی؟

په ذکر سوو آیتونو او تردی وروسته هم تقریبًا تر یوی رکوع پوری دا قسم خبری او سوال اوجواب ذکر دی ، کوم چی به دجنتیانو او دوږخیانو په مینځ کی وی.

اودا دجنت او دوږخ په مینځ کی دیو بل دلیدلو او خبرو کولو لاری هم په حقیقت کی د دوږخیانو دپاره یو بل ډول عذاب وی چی دهر څلور طرفه به په دوی باندی ملامتیا وی او دوی به دجنتیانو نعمتونه او راحتونه وینی د دوږخ داور سره به دحسرت په اورکی هم سوځی او دجنتیانو دپاره به په نعمت اوراحت کی یوه نوی اضافه وی، چی دبل فریق مصیبتووینی، دخپل راحت اونعمت قدر به ورته زیات سی او کومو خلګو چی په دنیاکی په دیندارو پوری خنداګانی اوټوکی اومسخری کولی او دوی به ورڅخه څه بدل نه اخیستی، نن چی دغه خلګ په ذلت اوخواری اوعذاب کی اخته ووینی، نودوی به خاندی چی ددوی دعمل سزا دوی ته ورکول سوه ، په قرآن کریم کی دا مضمون په سورة المطففین کی داسی ارشاد سوی دی ، فَالْيَوْمَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ ٭ عَلَى الْاَرَآئِكِ يَنْظُرُوْنَ ٭ هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ : جهنمیانو ته

Maktaba Tul Ishaat.com

د دوی په گمراهی باندی خبرداری او د دوی په احمقانه خبرو باندی د دوی ملامتول به دملائکو دطرف څخه هم وی هغوی به دوی مخاطب کوی ، وایی به هٰذِهِ النَّارُ الَّتِیْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿﴾ اَفَسِحْرٌ هٰذَآ اَمْ اَنْتُمْ لَا تُبْصِرُوْنَ. یعنی دادی هغه اورکوم چی تاسی دروغ کوی اوس وګوری چی آیا دا جادو دی اوکه تاسی یی نه وینی.

دغه ډول دذکرسوو آیتونوپه اولنی آیت کی جنتیان به دجهنمیانو څخه سوال وکی چی زمونږ رب چی زمونږ سره دکومو نعمتونو او راحتونو وعده کړی وه مونږ خو هغه بالکل رښتینی او پوره پیداکړه ، تاسی ووایاست چی تاسی دکوم عذاب څخه بیرول سوی یاست ، هغه هم تاسی ته مخ ته راغی اوکه نه ؟ دوی به اقرار وکی چی بیشکه مونږ هم هغه ولیدی، د دوی ددی سوال اوجواب په تائید کی به دالله ﷻ دطرف څخه یوه ملائکه دا اواز وکی ، چی دالله ﷻ لعنت دی پرهغو ظالمانو باندی وی کوموچی به خلک دالله ﷻ دلاری څخه منع کول اودابه یی غوښتل چی ددوی لار هم سیده نه سی او دوی به دآخرت څخه انکار کوی .

اعرافیان کوم خلک دی ؟ دجنتیانو او دوږخیانو دیوبل سره دخبرو اتروپه ضمن کی یوه بله خبره په دریم آیت کی دا وښوول سوه ، چی څه خلک به داسی هم وی ، چی دجهنم څخه خو به نجات پیدا کی مګر لا به جنت ته داخل سوی نه وی ، البته ددی اُمیدوار به وی چی دوی به هم جنت ته داخلیږی، دی خلګوته اعراف والا وایی .

اعراف څه شی دی؟ ددی تشریح دسورة حدید دآیت څخه کیږی ، دکوم څخه چی معلومیږی چی په محشر کی به دخلګو دری ډلی وی یوبه ښکاره مشرکان اوکافران وی، دوی ته خوبه ګرسره پرپُلِ صراط دپوری وتو نوبت ورنه کول سی، داول سر څخه به دجهنم دروازو ته ورپوری وهل سی، دوهم به مومنان وی ددوی سره به دایمان دنور رڼا وی، دریم به منافقان وی، دوی به چی کله په دنیاکی دمومنانو سره وه، نوهلته به هم په اول کی دمومنانو سره وی، اوپر پُلِ صراط به تلل شروع سی، دغه وخت به یوه سخته تیاره پرتولو راسی مومنان به دخپل ایمان په نور سره مخ ته ځی، اومنافقان به چیغی کی، دوی ته به ووایی چی لږ ودریږی چی مونږ هم ستاسی درڼا څخه فائده واخلو نوپه دی کی به دالله ﷻ دطرف څخه یو ویونکی ووایی ، چی شاته ولاړ سی هلته رڼا تلاش کی ، مطلب به یی دا وی چی دا رڼا دایمان اونیک عمل ده، دکوم چی دحاصلولو مقام شاته پاته سو، کومو خلګوچی هلته دایمان اوعمل په ذریعه دارڼا نه وی حاصله کړی ، هغوی ته نن درڼا هیڅ فائده نه سی ورکول کیدی په دی حالت کی به دمومنانو اومنافقانو په مینځ کی دیو دیوا ل پرده حائله سی، چی په هغه کی به یوه دروازه وی، ددی دروازی څخه دباندی به ټول عذاب او عذاب معلومیږی او ددروازی دننه کوم ځای چی مومنان وی هلته به دالله ﷻ رحمتونه اودجنت فضاء لیدل کیږی، دامضمون ددی آیت دی .

يَوْمَ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ : په دی آیت کی هغه بندیزکوم چی دجنتیانو او

Maktaba Tul Ishaat.com

دوږخیانو په مینځ کې حائل کول کیږي، دا یې په لفظ دسور سره تعبیر کړې دی، او دا لفظ په اصل کې په ښار چاپیره دیوال ته ویل کیږي، کوم چې په لویو ښارونو چاپیره، ددښمن څخه دحفاظت دپاره لوی مضبوط مستحکم او پلن دیوا ل جوړول کیږي، په داسې دیوالونوکې دفوځ دحفاظتي دفرقو دپټیدو ځایونه هم جوړول کیږي کوم چې دحمله کوونکو څخه ځان خبر ساتي.

دسورت اعراف په ذکر سوې آیت کې دی، وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلًّا بِسِيمَاهُمْ: دابن جریر اونورو امامانو دتفسیر دبیان مطابق په دې آیت کې دلفظ دحجاب څخه هغه دیوا ل مراد دی کوم چې دسورة حدید په آیت کې په لفظ دسور سره تعبیر سوی دی، ددې دیوا ل دلوړې حصې نوم اعراف دی، ځکه چې اعراف دعرف جمع ده اوعرف دهرشي لوړې حصې ته ویل کیږي ځکه چې دغه دلیرې څخه معروف اوممتاز وي، ددې تشریح څخه معلومه سوه چې دجنت او دوږخ په مینځ کې دحائل کیدونکي دیوال دلوړې حصې نوم اعراف دی، اوپه آیت داعراف کې یې داښودلې ده، چې په محشرکې به پرډې مقام باندې څه خلګ وي کوم چې به دجنت او دوږخ د دواړو طرفونو حالات ویني او د دواړو طرفونو داوسیدونکو سره به خبرې اوسوال او جواب کوي، اوس دا خبره چې دا به کوم خلګ وي اوپه دې درمیانې مقام باندې به دوی ولې ودرول سي؟ په دې کې دتفسیر لیکونکو خبرې مختلفې اوروایتونه دحدیثو ډیر دی، لیکن صحیح اوراجح دجمهورو تفسیر لیکونکو په نزد داده چې دابه هغه خلګ وي دکموچې به نیکي او بدي دواړه په تله دمیزان کې برابر وي، دځپلو نیکیوپه وجه خوبه دجهنم څخه نجات پیدا کې، لیکن دګناهونو په سبب به لاجنت ته ددوی داخله نه وي سوي، او آخر دالله ﷻ په رحمت سره به داخلګ هم جنت ته داخل سي.

په صحابه کرامو ﷺ کې دحضرت حذیفه ﷺ، ابن مسعود ﷺ، ابن عباس ﷺ اونورو اصحابو اوتابعینو داقول دی اوپه دې کې ټول روایتونه دحدیثوهم جمع کیږي کوم چې په مختلفو عنواناتو سره نقل دي، امام ابن جریر په روایت دحذیفه ﷺ نقل کړي دی، چې دنبي کریم ﷺ څخه داعراف والاوو متعلق پوښتنه وسوه نوده ﷺ وفرمایل چې دا هغه خلګ دي دکومو چې نیکي اوبدي به برابري وي، په دې وجه دجهنم څخه به نجات پیداکې خوجنت ته به لانه وي داخل سوي، دوی به داعراف پرډې مقام باندې پاته سي، تردې چې دټولو جنتیانو اودوږخیانو فیصله وسي اوبیا به ددوی فیصله کول کیږي اوآخر به دوی وبخښل سي اوجنت ته به داخل سي (ابن کثیر)

او ابن مردویه په روایت دحضرت جابر بن عبدالله ﷺ نقل کړي دي چې دنبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چې اهل اعراف کوم خلګ دي؟ ده وفرمایل چې دا هغه خلګ دي چې دځپل مور اوپلار درضا اواجازت څخه خلاف په جهادکې شریك سي اودالله ﷻ په لاره کې شهید سي، نودجنت ددا خلیدو څخه به دمور اوپلار په نافرمانۍ سره راوګرځول سي او ددوږخ ددا خلیدو څخه به دالله ﷻ په لاره کې دشهادت په وجه راوګرځول سي، په دې حدیث اوپه مخکې حدیث کې څه تضاد نسته، بلکه داحدیث یومثال دی دهغو

Maktaba Tul Ishaat.com

خلګو دچا ګناه اونیکی چی په برابره درجه باندی وی چی یو طرف ته دالله ﷻ په لاره کی شهادت اوبل طرف ته دمور او پلار نافرمانی دواړه سره برابر سوه (دارنګه دا ویلی دی ابن کثیر)

دسلام مسنون لفظ: داهلِ اعرافو دتشریح اوتعریف معلومیدو څخه وروسته اوس داصلی آیت مضمون وګوری، په کوم کی چی ارشاد دی چی داعراف خلګ به جنتیانوته آوازوکی وبه وایی (سَلٰمٌ عَلَیْکُمْ) دالفظ په دنیاکی هم دیوبل سره دملاقات په وخت کی په طور دتحفی او اکرام ویل کیږی اومسنون دی، اوتر مرګ وروسته دقبرونو دزیارت په وخت کی هم اوبیا په محشر اوجنت کی هم، لیکن دآیتونو اوروایتو دحدیثو څخه معلومیږی چی په دنیا کی خو (اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ) ویل سنت دی اوددی دنیا څخه ترتلو وروسته بغیر دالف لام څخه دسَلَامٌ عَلَیْکُمْ لفظ ویل سنت دی، دقبرونو دزیارت دپاره چی کمه کلمه په قرآن کی ذکرده هغه هم ، سَلٰمٌ عَلَیْکُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ راغلی ده ، اوملائکی چی کله دجنتیانو استقبال کوی دغه وخت هم دالفظ په دی عنوان سره راغلی دی ، سَلٰمٌ عَلَیْکُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِیْنَ اودلته هم اعرافیان جنتیانوته په دی لفظ سره سلام کوی ، مخ ته یی داعرافیانو دا حال ښوولی دی چی دوی به لا جنت ته دا خل سوی نه وی ، مګر اُمیدواران به یی وی ، تردی وروسته ارشاد دی ، وَاِذَا صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ تِلْقَآءَ اَصْحٰبِ النَّارِ قَالُوْا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ : یعنی کله چی داعرافیانو نظر په جهنمیانو ولویږی ، او د دوی عذاب اومصیبت ووینی نودالله ﷻ څخه به پناه وغواړی، چی مونږ ددی ظالمانو سره مه کی، په پنځم آیت کی داهم ذکردی چی اعرافیان جهنمیانو ته خطاب کوی په طور دملامت کولو به ورته دا ووایی چی په دنیا کی چی تاسی په کوم مال او دولت اودله باندی نازیداست اودکومو په وجه چی تاسی په غرور اوتکبر کی اخته واست نن خو هغه ستاسی هیڅ په کار درنغلل .

په شپږم آیت کی ذکردی ، اَهٰۤؤُلَآءِ الَّذِیْنَ اَقْسَمْتُمْ لَا یَنَالُهُمُ اللّٰهُ بِرَحْمَةٍ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَیْکُمْ وَلَاۤ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ : ددی په تفسیرکی حضرت عبدالله ابن عباس ؓ فرمایی چی کله داعرافیانو سوال اوجواب دجنتیانو اوجهنمیانو دواړو سره وسی، دغه وخت به رب العٰلمین دوږخیانو ته خطاب وفرمایی اودا کلمی به داعرافیانو په باره کی وفرمایی چی تاسی خلګوبه قسمونه اخیستل چی دوی به ونه بخښل سی اوپر دوی به څه رحمت ونه سی پس اوس وګوری زمونږ رحمت اوددی سره به اعرافیانو ته خطاب وسی ، چی ځی جنت ته داخل سی، نه په تاسی دتیرو معاملو څه بیره سته او نه دآتنده دپاره څه غم اوفکر (ابن کثیر)

وَنَادٰۤی اَصْحٰبُ النَّارِ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ اَفِیْضُوْا عَلَیْنَا مِنَ الْمَآءِ اَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ؕ قَالُوْۤا

اواوازبه وکی دوږخیان جنتیانوته چی راتوی کړی په مونږلږشان اوبه، یاڅه دهغو څخه چی رزق درکړی تاسی ته الله وبه وایی

اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَهُمَا عَلَی الْکٰفِرِیْنَ ۙ﴿۵۰﴾ الَّذِیْنَ اتَّخَذُوْا دِیْنَهُمْ لَهْوًا

چی الله پاك دا دواړه منع کړی دی په کافرانو باندی ، چاچی نیولی وو خپل دین تماشی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَّلَعِبًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ نَنْسٰهُمْ كَمَا نَسُوْا لِقَآءَ

او لوبی اوپه دوکه کی غورځولی وو دوی ددنیا ژوند ، نو نن موږ دوی هیر وو لکه چی دوی هیر کړی وو

يَوْمِهِمْ هٰذَا ۙ وَمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿٥١﴾ وَلَقَدْ جِئْنٰهُمْ

ددې ورځی یوځای کیدل اولکه څنګه چی دوی زموږ دآیتونو څخه منکر وه ، او موږ دغه خلقو ته راوړلی

بِكِتٰبٍ فَصَّلْنٰهُ عَلٰى عِلْمٍ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥٢﴾

دی کتاب چی په تفصیل بیان کړی دی موږ په خبرداری سره ، لاربښوونکی اورحمت دی دایماندارو دپاره ،

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا تَاْوِيْلَهٗ ؕ يَوْمَ يَاْتِيْ تَاْوِيْلُهٗ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ

آیا اوس ددی منتظر دی چی ددی مضمون ظاهر سی ، په کومه ورځ چی ظاهر سی ددې مضمون وبه وایی هغه

نَسُوْهُ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۚ فَهَلْ لَّنَا مِنْ

خلق چی دی یی هیر کړی وو داول څخه ، بیشکه راوړی وه زموږ درب رسول ربښتینی خبره ، نو اوس زموږ

شُفَعَآءَ فَيَشْفَعُوْا لَنَآ اَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ ؕ قَدْ

څوک سفارشي سته چی زموږ سفارش وکړی او یا موږ واپس کړی نوموږ به عمل وکړو ، خلاف ددغه چی موږ

خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٥٣﴾ ع

کوی ، بیشکه تباه کړل دوی ځان خپل ، او ورک به سی د دوی څخه هغه چی دوی جوړول

لنډتفسير: او (لکه څنګه چی لوړ جنتیانو ددوزخیانو سره خبری وکړی دغه شان) دوزخیان به جنتیانو ته آواز وکی چی (موږ دلوږی تندی اوګرمی څخه بی دمه کیږو) دخدای دپاره پرموږ لږ اوبه راتوی کی (شاید چی څه لږ په آرام سو) یانور څه راکی کوم چی الله ﷻ تاسی ته درکړي دی (ددی څخه دانه لازمیږی چی دوی به اُمید کوی ، نوغواړی به یی ، ځکه چی په ډیره پریشانی کی دتوقع څخه لیری خبری هم دخلی څخه وزی) جنتیان به (په جواب کی) ووایی چی الله ﷻ دا دواړه شیان (یعنی دجنت خوراك اوڅښاك) پرکافرانو بند کړیدی چاچی په دنیاکی خپل دین (دکم قبلول چی ددوی پرذمه واجب وو) لهو لعب جوړ کړی وو اوڅوك چی ددنیا ژوندپه دوکه (اوغفلت) کی اچولی وو (په دی وجه ددین یی ګرسره څه پروا ونکړه اودا خو دار الجزاء ده ، کله چی دین نسته نوفائده یی دکمی خوا ؟ مخ ته الله ﷻ دجنتیانو ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب په ربښتینوالی او تائید کی فرمایی) نو (کله چی په دنیاکی ددوی داحالت وو ، نو) مونږ نن (دقیامت
په) ورځ به ددوی نوم وانخلو (نو خوراك او چیښناك به ورله خاوری ورکړو) لکه چی دوی ددی (لویی)
ورځی نوم قدر لا نه اخیستی، او لکه څنګه چی دوی زمونږ دآیتونو څخه انکار کوی اومونږ دی خلګو ته
یو داسی کتاب رسولی دی (یعنی قرآن) کوم چی مونږپه خپل کامل علم سره ډیر ښه واضح واضح بیان
کړیدی (اودابیان مونږ تولوته داورولو دپاره کړي دی لیکن) ذریعه دهدایت اورحمت دهغو خلګو دپاره
(سوی) دی کوم چی (داواوری) ایمان راوړی (او کوم چی باوجود دتمامیدو دحجت ایمان نه راوړی ددوی
دحالاتو څخه داسی معلومیږی چی) دی خلګوته دبلی څه خبری انتظار نسته یوازی (دقرآن د) ښوول
سوی آخری نتیجی (یعنی دوعدی دسزا) انتظار دی (یعنی اول دعذاب څخه په وعید سره وبیریږی نو
دعذاب واقع کیدل به غواړی پس) په کومه ورځ چی (ښوول سوی) آخری نتیجه مخ ته راسی (چی تفصیل
یی ددوږخ اونورو لوړذکرسو) په دغه ورځ به کمو خلګوچی دامخکی هیره کړی وه (په پریشانی سره به
وایی واقعی زمونږ درب پیغمبر (دنیاته) ربښتینی خبری راوړی وی (مګر زمونږ څخه بی قوفی وسوه)
پس اوس آیاخوك زمونږ سفارشی سته چی هغه زمونږ سفارش وکی؟ یا آیا مونږ به بیا (دنیاته) واپس
ولیږل سوچی مونږ خلګ (بیا دنیاته ولاړ سو؟) ددی (بدو) عملونو کوم چی مونږ کول برخلاف نور (نیك)
عملونه وکړو؟ (الله ﷻ فرمایی چی اوس هیڅ صورت دنجات نسته) بیشکه دغه خلګو خپل ځان (دکفر)
په خساره کی واچوی اودا چی کومی خبری دوی جوړولی (داوخت) ټولی ورکی سوی (اوس به بغیر
دسزا څخه نور هیڅ نه وی).

إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ

بیشکه ستاسی رب الله دی چاچی پیداکړو اسمان او مځکه په شپږو ورځو کی

اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا

بیا یی قرار ونیوی په عرش باندی پټوی په شپه باندی ورځ چی دغه په دی پسی پیوست راځی په منډه

وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ ۗ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ

اوپیدا یی کړل لمر اوسپوږمی اوستوری تابعدار دخپل حکم ، واوری دده کار دی پیداکول

وَالْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٥٤﴾

اوحکم کول ، لوی برکت والا دی الله چی رب دی دټول جهان

لنډتفسیر: بیشکه ستاسی رب الله دی چاچی ټول آسمانونه اومځکی په شپږو ورځو (برابر وخت) کی پیدا

Maktaba Tul Ishaat.com

کړل بيا پرعرش (چې مشابه دی دحکومت دتخت سره داسې) قائم (اوجلوه فرما) سو (کوم چې دهغه دذول سره لائق دی) پټوي په شپې (تياره) سره ورځ (رڼا يې يعنې دشپې په تياره سره دورځې رڼا پټه او زائله سي) په داسې طور سره چې دغه شپه ورځ ژر رانيسي (يعنې ورځ په يوساعت کې تيره سوې معلوميږي ترډې چې ناڅاپه شپه راسي) اولمر اوسپوږمۍ اونور ستوري يې پيدا کړل، په داسې طورچې ټول ددۀ دحکم (تکويني) تابع دي، ياد ساتي دالله ﷻ دپاره خاص دي پيدا کول اوحاکم کيدل ، لويو کمالاتو والا دی الله ﷻ چې دټول عالم پروردګار دی.

معلومات اومسئلي: دذکرسوو آيتونو څخه په اول آيت کې آسمان اومځکه اوسياري اوستوري دپيدا کولو اوديو خاص محکم نظام په خپل خپل کارکې دلګيدو ذکر اوپه دې ضمن کې دحق تعالی دمطلق قدرت بيان يې وکی، هرعقل والا انسان ته يې دفکر دعوت ورکړي دی چې کوم پاك ذات ددې عظيم الشان عالم په وجودکې دعدم څخه په راوستلو اوپه حکيمانه نظام سره يې پرچلولو باندې قادردی دهغه دپاره څه مشکله ده چې داشيان ورك کې اودقيامت په ورځ يې دوباره پيدا کې، نو پکاردی چې دقيامت انکار پريږدی، يوازې دغه ذات خپل رب وګڼي، دده څخه خپل حاجتونه وغواړي، دهغه عبادت کوي، دمخلوق پرستی دفکرو څخه ووزي اوحقيقت وپيژني، په دې کې ارشاد فرمايي چې، ستاسې رب الله ﷻ دی کوم چې آسمان اومځکه په شپږو ورځو کې پيدا کړه.

(دآسمان او مځکي په پيدائش کي شپږ ورځي موده څنګه تيره سوه ؟)

دلته يو سوال دا پيدا کيږي چې الله ﷻ خوپردې قادردی چې داټول جهان په يوساعت کې پيدا کې په خپله دقرآن کريم دمختلفو عنواناتو څخه داخبره وار وار تکراريږي ، يوځای ارشاد دی ، وَمَآ اَمْرُنَآ اِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍۭ بِالْبَصَرِ، يعنې دسترګو درپ په مقدار کې زمونږ حکم نافذ کيدی سی، کله فرمايي ، اِذَآ اَرَادَ شَيْـًٔا اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ يعنې کله چې الله ﷻ ديو شي پيدا کول وغواړي نو فرمايي چې سه نو هغه پيدا سی بيا دعالم دپيدا کولو دپاره دشپږو ورځو دلګولو څه وجه ده ؟ دقرآن تفسير کوونکی حضرت سعيد بن جبير ﷺ ددې داجواب کړي دی چې دالله ﷻ قدرت خوبيشکه پردې باندې حاوی دی چې داهرڅه په يوساعت کې پيداکي، ليکن په تقاضا دحکمت ددې عالم په پيدائش کې يې شپږ ورځې ولګولي ددې دپاره چې انسان ته دعالم دنظام په چلولوکی دتدريج يعنې درجه پردرجه کولو اوپخته کاری تعليم ورکول سی، لکه چې په حديث کې نبی کريم ﷺ فرمايي چې په غور او فکر او تدريج او وقار سره کار کول دالله ﷻ دطرف څخه دی اوجلد بازي دشيطان دطرف څخه ده (مظهري په حواله دشعب للبيهقي) مطلب دا دی چې په جلد بازی کې انسان دمسئلې پرهر اړخ غور اوفکر نه سی کولی ، په دې وجه اکثره کار خراب سی اوپښيماني وی، په غور آساني اوفکر سره چې کوم کار وسی ، په دې کې برکت وی.

(دمځکي آسمان اوستورو دپيدائش څخه اوله ورځ او شپه څنګه پيژندل کيږي؟)

دوهم سوال دادی چې دشپې اوورځې وجود خودلمر دحرکت څخه پيژندل کيږي دآسمان اومځکې دپيدائش څخه مخکې چې کله لمرنه وو اوسپوږمۍ نه وه، نو دشپږو ورځو شميرپه کم حساب سره سو ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی وجه ځینی تفسیر لیکونکی حضرات فرمایی چی مراد دشپږو ورځو څخه دومره وخت اوزمانه ده په کمه کی چی شپږ ورځی اوشپی په دی دنیاکی وی لیکن صفا اوبی غباره خبره داده چی دورځی او شپی دا اصطلاح چی دلمر دختو څخه ترپریوتو پوری ورځ اودپریوتو څخه ترختو پوری شپه، داخو ددی دنیا اصطلاح ده دعالم دپیدائش څخه مخکی کیدی سی چی الله ﷻ دشپی اوورځی نوری نښانی مقرر کړی وی ، لکه په جنت کی چی به وی چی هلته به شپه او ورځ دلمر دحرکت تابع نه وی، ددی څخه داهم معلومه سوه چی داضروری نه ده چی هغه شپږ ورځی په کوموکی چی یی مځکه آسمان جوړ کړي دی ، هغه زمونږ ددی شپږو ورځو برابروی بلکه کیدی سی چی تردی لوی وی، لکه دآخرت دورځی په باره کی چی دقرآن ارشاد دی چی دزرو کالو برابربه یوه ورځ وی، ابوعبد الله رازی فرمایی چی دفلك اعظم حرکت ددی دنیا دحرکت په مقابله کی دومره تیزدی، چی یومنده وهونکی انسان یوقدم لوړوی نوده لا دا قدم پرمځکه ایښی نه وی، چی فلك اعظم دری زره میله مسافت قطع کړی وی (بحر محیط)

دامام احمدبن حنبل اومجاهد قول دادی چی ددی دنیا دشپږو ورځو څخه دآخرت شپږ ورځی مراد دی اوپه روایت دضحاك دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه هم دا نقل دی، اودا شپږ ورځی په کوموکی چی ددنیا پیدائش سوی دی دصحیح روایاتو په مطابق دیکشنبی څخه شروع کیږی پرجمعه ختمیږی، دهفتی په ورځ ددنیا دپیدا کیدو کارنه دی سوی، ځینی علماء فرمایی چی دسبت معنی قطع کول دی دی ورځی ته یوم السبت په دی وجه ویل سویدی چی پردی کار ختم سو (ابن کثیر)

په ذکرسوی آیت کی دمځکی اوآسمان پیدآئش په شپږو ورځوکی دمکمل کیدو ذکر دی ، ددی تفصیل دسورت حٰم السجدة په نهم اولسم آیتونوکی داسی راغلی دی، چی په دوو ورځوکی مځکه جوړه سوه بیاپه دوو ورځوکی پرمځکه سربیره غرونه، دریابونه، خزانی، درختی، بوټی او دانسانانو او حیواناتو دخوراك څښاك شیان جوړ کړه سول، ټولی څلور ورځی سوی، ارشاد فرمایی: خَلَقَ الْاَرْضَ فِیْ یَوْمَیْنِ ، اوبیا فرمایی ، قَدَّرَ فِیۡهَاۤ اَقۡوَاتَهَا فِیۡۤ اَرۡبَعَةِ اَیَّامٍ .

په اولنیو دوو ورځوکی په کموکی چی مځکه جوړه سوه، یکشنبه اودوشنبه دی، اونوری دوی ورځی په کموکی چی دمځکی دآبادی سامان غرونه اودریابونه جوړ سول، هغه سه شنبه اوچهار شنبه دی، تردی ورزوسته ارشاد فرمایی: فَقَضٰهُنَّ سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ فِیۡ یَوۡمَیۡنِ، یعنی بیا اووه آسمانونه جوړ سول په دوو ورځوکی نوظاهره ده چی دا دوی ورځی پنج شنبه اوجمعه دی دغه ډول ترجمعی پوری شپږ ورځی سوی .

دآسمان اومځکی دپیدائش تربیانولو وروسته اوس دافرمایی: ثُمَّ اسۡتَوٰی عَلَی الۡعَرۡشِ یعنی بیا پرعرش قائم سو داستوٰی لفظی معنٰی ده قائمیدل، اوعرش شاهی تخت ته ویل کیږی اوس داعرش الرحمان څنګه اوڅه دی، اوپردی دقائمیدو څه مطلب دی ؟ ددی متعلق بی غباره صفا اوصحیح مسلك هغه دی کوم چی دسلف صالحینو اصحابو اوتابعینو اوبیا داکثرو حضراتو صوفیاء کرامو : څخه نقل دی چی انساني عقل دالله ﷻ دذات اوصفاتو دحقیقت داحاطی کولو څخه عاجزه دی، ددی په لټه کی لویدل بی

Maktaba Tul Ishaat.com

کاره بلکه نقصانی دی پردی اجمالاً داسی ایمان راوړل پکاردی چی ددی الفاظو څخه چی څه دالله ﷻ مراد دی هغه صحیح او حق دی او په خپله دځانه دځه معنی مقررولو فکردی نه کوی.

دحضرت امام مالك رحمه الله څخه یوسړی داسوال وکی چی داستواء علی العرش څه مطلب دی؟ ده دلږ وخت فکر کولو څخه وروسته وفرمایل چی دلفظ، داستواء معنی خو معلومه ده، اوددی دکیفیت اوحقیقت ادراك دانسان عقل نسی کولی اوایمان راوړل په دی واجب دی اوددی متعلق دکیفیت اوحقیقت پوښتنه کول بدعت دی، ځکه چی صحابه کرامو الله ﷻ دی دټولو څخه راضی سی دنبی کریم ﷺ څخه داسی پوښتنه نه ده کړی، سفیان ثوری رحمه الله، امام اوزاعی رحمه الله لیث بن سعدی رحمه الله، سفیان بن عینیه رحمه الله عبدالله بن مبارك رحمه الله فرمایی چی کوم آیتونه دالله ﷻ دذات اوصفاتو متعلق راغلی دی، څنګه چی راغلی دی، دغه ډول بغیر دځه تشریح اوتاویل څخه ایمان په راوړل په کار دی (مظهری)

تردی وروسته په ذکر سوی آیت کی فرمایی، یُغۡشِی ٱلَّیۡلَ ٱلنَّهَارَ یَطۡلُبُهُۥ حَثِیثࣰا یعنی الله ﷻ راخپروی شپه پرورځی داسی چی شپه ژر ورځ لاندی کوی، مراد دادی چی دشپی اوورځی دالوی انقلاب چی ټول عالم درنړا څخه تیاری ته اودتیاری څخه رڼاته راولی دالله ﷻ دقدرتِ قاهره تابع دومره ژر اوپه آسانی سره کیږی چی لږ ساعت په کښی هم نه لګیږی.

تردی وروسته ارشاد فرمایی، وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦ یعنی پیدا کړل الله ﷻ لمر اوسپوږمی اوټول ستوری پردی حالت چی ټول دالله ﷻ دحکم تابع چلیږی، په دی کی دعقل خاوندته دفکر کولو بلنه ده، کوم چی دمخلوق جوړ سوی شیان هروخت وینی، چی دلویو لویو ماهرانوپه جوړو سوو مشینانو اوشیانوکی اول خوځه نقص وی، اوکه نقصان په کښی هم نه وی، نوکه هرڅومره فولادی مشینونه اوپرزی وی، خوپه چلیدو چلیدو سره وسولیږی اوسستی سی، ورته دمرمت ضرورت وی، دګریسنګ حاجت ورته راځی اوددی دپاره څوڅو ورځی بلکه په هفتو اومیاشتو مشین ولاړ وی، لیکن دی خدایی مشینانوته وګوری چی څنګه اوپه څه ډول سره داولی ورځی څخه دوی چلول سوی دی، هم په هغه ډول چلیږی، نه یی هیڅکله په رفتارکی یومنټ یا یو سکینډ فرق راځی نه هیڅکله ددوی څه پرزه سولیږی اوماتیږی اونه ورته هیڅکله دورکشاپ ضرورت راځی، وجه داده چی دوی په: مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦ سره چلیږی، یعنی ددوی دچلولو دپاره نه څه دبجلی طاقت پکاردی اونه ورته دځه انجن دمدد ضرورت دی، دایوازی دالله ﷻ په حکم سره چلیږی اودهغه تابع دی، په دوی کی څه فرق راتلل ناممکن دی، هوا کله چی قادرِ مطلق په خپله ددی دفنا کولو اراده په یو مقرر وخت باندی وکی، نودا ټول نظام به ګډوډ سی چی دهغه نوم قیامت دی.

ددی څومثالونو دذکر کولو څخه وروسته دحق تعالی دقاهره مطلقه قدرت بیان یی دیوکلی قاعدی په صورت کی داسی وکی: أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُ، دخلق، معنی پیدا کول دی اود: اَمر معنی حکم کول دی، معنی یی داده چی، دهغه دپاره خاص دی خالقیت اوحاکم کیدل، دده څخه ماسوا بل څوك نه څه ادنی

Maktaba Tul Ishaat.com

شي پيداکولی سی او نه چاته پرچا دځه حکم کولو حق سته (بغير د دی ځخه چی الله ﷻ دخپل طرف ځخه دحکم ځه خاص شعبه وروسپاری نو دغه هم په حقيقت کی دالله ﷻ حکم دی) په دی وجه مراد دآیت داسو چی داټول شيان پيداکول هم دهغه کار وو، او دپيدا کيدو ځخه وروسته ددی ځخه کار اخيستل هم دبل چا دوس خبره نه وه، هغه هم دالله ﷻ دقدرت کامله نښانه ده، صوفياء کرام فرمايی چی: خَلق او: اَمر دوه عالمه دی ، دخَلق تعلق دمادی اومادياتو سره دی او دامر تعلق دمجرداتو لطيفه وو سره دی، په آيت: قُلِ الرُّوحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّي کی دی طرف ته اشاره ده، چی روح ته يی داَمر درب ځخه وفرمايل، دَخلق او اَمرْ دواړو دالله ﷻ دپاره دخاص کيدو مطلب په دی صورت کی دادی چی آسمان اومځکه اوددی په مينځ کی چی څومره شيان دی داټول مادی دی، ددی پيدائش ته يی خلق وويل اودآسمانونو ځخه پورته چی کم دمادی او دماديت ځخه آزاد دی، ددی پيدائش يی په لفظ داَمرْ سره تعبير کی (مظهری)، دآيت په آخرکی ارشاد فرمايی ، تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ په دی کی لفظ دتبارك دبرکت ځخه جوړدی اولفظ دبرکت غټيدو، زياتيدو، ثابت پاته کيدو او نورو څو معناووکی استعماليږی، دلته دلفظ دتبارك معنٰی دلوی اولوړ ده، چی دزياتيدو په معنٰی سره هم اخيستل کيږی او دثابت پاته کيدوپه معنٰی سره هم، ځکه چی الله ﷻ قائم اوثابت هم دی اولوی اولوړ هم دی، دلوی والی دمعنٰی طرف ته يی دحديث په دی جمله کی هم اشاره کړي ده تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ، دلته د: تَبَارَكْتَ تفسير د: تَعَالَيْتَ په لفظ سره سوي دی

اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۵۵﴾ وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ

بلی خپل رب په زاری اوپه پټه سره، بيشکه هغه نه خوښوی دحد ځخه تيريدونکی، اوخرابی مه کوی په مځکه کی

بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وَادْعُوْهُ خَوْفًا وَّطَمَعًا ۚ اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۶﴾

ددی داصلاح ځخه وروسته اوبلی هغه په بيره او طمع سره ، بيشکه دالله رحمت نژدی دی نيك کارکوونکو ته

لنډتفسير: تاسی خلك (په هرحالت اوهرحاجت کی) خپل پروردگارته دعا کوی په زاری عاجزی ظاهرولو هم اوپه پټه پټه هم (البته داخبره) واقعی (ده چی) الله ﷻ هغه خلك نه خوښوی کم چی (په دعاکی) ترحد (دادب) ووزی (مثلاً دعقل ځخه دمحالو يادمحرماتو دعا غواړی) اوپه دنياکی وروسته تردی چی (دتوحيد دتعليم اوپيغمبرانو په ذريعه) ددی اصلاح اوصحيح والی سويدی، فسادمه خپروی (يعنی حق کارونه توحيد اونورمنل اوپردی په تللو سره چی لوړيی تعليم سويدی په عالم کی امن قائميږی، نوتاسی ددی تعليم په پاته کولوسره امن مه ماتوی) او (لکه ځنګه چی تاسی ته لوړ دخاص دعا کولو حکم سويدی دغه ډول دباقی عبادتونو هم حکم کيږی چی) تاسی دالله ﷻ عبادت (په کومه طريقه چی يی تاسی ته ښوولی دی) کوی دخدای ځخه بيره کوی او اُميدوار ورځخه اوسی (يعنی په عبادت باندی نازهم مه کوی اومايوسه کيږی هم مه، مخ ته دعبادت ترغيب دی چی) بيشکه دالله ﷻ رحمت نژدی دی نيك کار کوونکوته .

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلې: دذکر سوو آیتونوپه مخکې آیتونوکې دالله ﷻ دکامل قدرت خاص خاص نښانو اومهمو انعامونو ذکر وو، په دې آیتونوکې ددې بیان دی چې کله دقدرتِ مطلقه مالك اودتېرو احساناتو اوانعاماتو کوونکی یوازې ربّ العٰلمین دی نودمصیبت اوحاجت په وخت کې دهغه بلل اودهغه څخه دعا غوښتل پکاردي، هغه پرېښوول اوبل طرف ته متوجه کېدل جهالت اومحرومي دي، ددې سره یې په دې آیتونوکې ددعا کولو ځینې ادبونه هم ښوولي دي چې دهغوپه رعایت کولوسره ددعا دقبلیدو اُمید زیاتیږي.

لفظ ددعا په عربي ژبه کې یوڅوك دحاجت پوره کولو دپاره درابللوپه معنٰی کې هم راځي اومطلق دیادولو په معنٰی کې هم اودلته دواړې معناوې مراد کېدی سی په آیت کې ارشاد دی: اُدۡعُوۡا رَبَّکُمۡ یعنې بلئ خپل رب دخپلو حاجتونو دپاره، یا یادوی اوعبادت کوی دخپل رب، په اول صورت کې به معنٰی داسې چې خپل حاجتونه یوازې دالله ﷻ څخه غواړئ اوپه دوهم صورت کې داچې ذکر اوعبادت یوازې دهغه کوی دادواړه تفسیرونه دتیروبزرگانو اودتفسیر داماماتو څخه نقل دی تردې وروسته ارشاد فرمایي، تَضَرُّعًا وَّخُفۡیَةً دتضرع معنٰی عاجزي او زاري او دذلت ښکاره کول دي او دخفیه معنٰی ده پټ.

په دې دواړو لفظونوکې ددعا اوذکر دپاره ددوو مهمو آدابو بیان دی اول داچې ددعا قبلیدو دپاره داضروري ده چې انسان دالله ﷻ په مخکې دخپلې عاجزي، بې وسی اوذلت په اظهار کولو سره دعا کوي اوالفاظ یې هم دعاجزي اوبې وسی سره مناسب وي، په ویناکې یې هم عاجزي او بې وسی وي اوددعا غوښتلو هیئت یې هم دغسې وي، ددې څخه معلومه سوه چې نن صبا عوام چې په کوم انداز سره دعا غواړي اول خودې ته دعاء غوښتل نه سي ویل کېدې، بلکې دعاء ویل ورته ویل کیږي، ځکه چې اکثره داهم معلومه نه وي، چې مونږکمې کلمې په ژبه سره وایو ددې مطلب څه دی، لکه چې نن صباپه عامو مسجدونوکې داماماتو معمول جوړ سوی دی چې دعربي ژبې څه دعائیه کلمې دوی ته یاد وي نو دلمانځه په ختمیدو باندې هغه وایي، اکثره خوپه خپله هم دې امامانوته ددې کلمو مطلب اومفهوم معلوم نه وي اوکه دوی ته معلوم وي نوکم از کم جاهلان مقتدیان خوددې څخه بالکل بې خبره وي اودوی ناخبره دامام په کلمو اٰمین اٰمین وایي، ددې ټولی تماشې حاصل دیوڅو کلمو ویل وي، ددعا غوښتلوچې کم حقیقت دی، دلته هغه دسره لیدل کیږي نه، دابله خبره ده چې الله ﷻ په خپل کرم سره دابې روحه کلمې قبولې کې اودقبلیدو ددعا آثار پیدا سي، مګردخپل طرف څخه داپوهیدل ضروري دي چې دغوښتلوپه طریقه وغوښتل سي، دوهمه خبره داده چې که یوسړی ته دخپلو کلمو معنٰی هم معلومه وي اوښه په پوهه یې وایي، خوددې سره لب اولهجه یعنې دوینا طریقه اوظاهر هیئت دعاجزي اوبې وسی نه وي، نودا دعا خوبیا یوه مطالبه جوړه سی چې ددې یوه بنده ته هم څه حق نسته.

غرض دا دی چې په اول لفظ کې یې ددعا روح وښووی، چې هغه بې وسی عاجزي اودخپل ذلت اوکمزوري دښکاره کولو سره دالله ﷻ څخه خپل حاجت غوښتل دي، په دوهم لفظ کې یې یوبل هدایت

Maktaba Tul Ishaat.com

داورکې چې دعاپه پټه اوپه کرار سره غوښتلو کې ښه اوقبلیدو ته نژدې وي، ځکه چې په لوړ آواز سره په دعا غوښتلوکې اول خو عاجزي اوبې وسي باقي نه پاته کیږي، دوهم په دې کې دریا اوشهرت هم بیره ده، دریم ددې صورت هم داسې جوړیږي چې ګواکې داسړي په دې نه پوهیږي چې الله ﷻ اوري اوپوه دی زمونږپه ظاهر اوباطن یوډول پوهیږي، هره خبره که پټه وي اوکه ښکاره هغه اوري، په دې وجه دخیبر دغزا په موقع باندې دصحابه کرامورضي الله عنهم آوازونه په دعاکې لوړ سول نوحضور ﷺ ارشاد وفرمایی چې تاسې خوڅوك کوڼ یاغائب نه بلئ چې داسې اوازونه لوړوی، بلکه تاسې چې څوك بلی هغه اوریدونکی اونژدې دی یعنی الله ﷻ (په دې وجه اواز لوړول فضول دی) په خپله الله ﷻ دیوصالح سړي ددعا ذکر په دې الفاظو سره فرمایلی دی، اِذْ نَادٰی رَبَّهٗ نِدَآءً خَفِیًّا یعنی کله چې هغه راوبلی رب خپل په کرار اواز سره، ددې څخه معلومه سوه چې الله ﷻ ته ددعا داطریقه خوښه ده چې په پټ اوکرار آوازسره دعا وغوښتل سي، حضرت حسن بصري رحمه الله فرمایی چې په ښکاره اوپه زوره دعا کولوکې اوپه کرار اوپټ آواز سره په دعا کولوکې داویا ۷۰ درجې فضیلت فرق دی، دتیرو مشرانو عادت داوو چې په ذکر اودعاکې به یې ډیره مجاهده کوله اواکثربه په کښې مشغول وه، مګر هیچابه ددوی آوازنه اوریدی، بلکه ددوی دعاګانې به یوازې ددوی او ددوی درب په مینځ کې وې، په دوی کې به ډیرو حضراتو پوره قرآن کریم حفظ کوی اوتلاوت کوی مګربل څوك به ورڅخه نه خبریدی اوډیرو حضراتو به لوی لوی دینی علمونه حاصلول مګر خلګوته به یې دځان ښوولو څخه ځان ساتی، ډیرو حضراتوبه دشپې په خپلو کورونوکې ډیر اوږده اوږده لمونځونه ادا کول خو راتلونکی به ورڅخه هیڅ نه خبریدل، اوفرمایی چې مونږ داسې حضرات لیدلی دی چې ټوله شپه به یې په پټه عبادتونه کول، خوهیڅکله داسې نه ده سوی چې چاته یې ښکاره کړیدی، ددوی آوازونه به په دعاګانوکې انتهایی کرار وه (ابن کثیر، مظهري)، ابن جریج فرمایی چې په دعاکې آواز لوړول مکروه دی، امام ابوبکر جصاص حنفي په احکام القرآن کې فرمایی چې ددې آیت څخه معلومه سوه چې دعا کرار غوښتل په نسبت داظهار کولو ښه دی، دحضرت حسن بصري رحمه الله اودابن عباس ﷺ څخه هم داسې نقل دی، اوددې آیت څخه داهم معلومه سوه چې په لمانځه کې دسورة فاتحې پرختمیدو باندې چې کم اٰمین ویل کیږي، داهم کرار ویل ښه دی، ځکه چې اٰمین هم یوه دعا ده.

زمونږ ددې زمانې دمسجدونو امامانوته دې الله ﷻ هدایت وکی چې دقرآن اوسنت داتلقین او دتیرو بزرګانو هدایتونه یې ګرسره پریښې دی ترهر لمانځه وروسته ددعا دځانه یوه جوړه سوې کار روایی وي، په لوړ آواز سره څه کلمې ویل کیږي چې ددعا دآدابو څخه دخلاف کیدو څخه علاوه دهغو لمونځ کوونکوپه لمانځه کې هم خلل اچوي کوم چې دمسبوق کیدوپه وجه داما م ترفارغ کیدو وروسته خپل پاته لمونځونه پوره کوي، درسمونو غلبې ددې ناکاروالي اوفسادونه دنظرونو څخه پټ کړي دی، که پر یوخاص موقع باندې یوه خاصه دعاپه ټول جماعت باندې کول وي، نوپه داسې موقع دې یوسړی ددعا

Maktaba Tul Ishaat.com

الفاظ په معمولي آواز سره وايي اونوردي آمين وايي، په دې کې څه باك نسته، خوشرط دادی چې دنوروپه لمانځه اوعبادت کې خلل رانه سي، خو دداسې کولو عادت دې نه جوړوي، چې هسې نه عوام يې داسې وګڼي چې ددعا هم داطريقه ده، لکه چې نن صبا په عام طور سره کيدې سي.
دابيان خو دخپلو حاجتونو دپاره ددعا غوښتلو وو، که ددعا معنى دلته دذکر او عبادت واخيستل سي، نوپه دې کې هم دتيرو عالمانو تحقيق دادې چې پټ ذکر تر جهري ذکر ښه دی، اوپه صوفياء کرامو ﷺ چې چشتيه مشائخ مبتديانو ته کم دجهري ذکر تلقين کوي، هغه ددغه سرې دحال په مناسبت سره په طوردعلاج دې چې دجهر په ذريعه دده سستي اوغفلت ليرې سي، اوپه زړه کې دالله ﷻ دذکر سره جوړښت پيدا سي، که نه وي نوفي نفسه په ذکرکې جهر کول دلته هم پکار نه دي، البته جائز دي اوجواز ددې هم په حديث سره ثابت دی، په دې شرط سره چې رياء اونمائش په کښې نه وي، امام احمد بن حنبل رحمه الله، ابن حبان رحمه الله بيهقي رحمه الله اونورو دحضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ دروايت څخه نقل کړي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي.
خَيْرُ الذِّكْرِ الْخَفِيُّ وَخَيْرُ الرِّزْقِ مَا يَكْفِيْ: يعني ښه ذکر پټ دی اوښه رزق هغه دی چې دانسان دپاره کافي سي.
البته په خاصو خاصو حالاتو اووختونوکې جهر په کار اوښه دی ددې وختونو او حالاتو تفصيل نبي کريم ﷺ په خپل قول اوعمل سره واضح کړيدی، مثلاً اذان او اقامت په لوړ آواز سره کول، په جهري لمونځونوکې په زوره قرآت ويل، دلمانځه تکبيرونه، دتشريق تکبيرونه په حج کې تلبيه په لوړ آواز سره کول اونور، په دې وجه فقهاوو، الله ﷻ دې ورباندې رحمتونه وکې، په دې باب کې فيصله دا فرمايلي ده چې په کومو خاصو حالاتو او مقاماتو کې نبي کريم ﷺ قولاً يا عملاً دجهر کولو تلقين فرمايلي دی هلته جهرکول په کاردي ددې څخه علاوه په نوروحالاتو اوځايونو کې پټ ذکر ښه اوفائده مند دی.
دآيت په آخرکې ارشاد فرمايي، اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ معتدين داعتداء څخه مشتق دی، داعتداء معنى ده ترحد تجاوز کول معنى يې داده چې الله ﷻ ترحد تجاوز کوونکي نه خوښوي، ترحد مخکې تيريدل برابره خبره ده که په دعاکې وي اوکه په بل عمل کې دټولو داحال دی چې دغه دالله ﷻ خوښ نه وي، بلکه که په فکر سره وکتل سي، نودين داسلام نوم دې دحدونو اودقيدونو دپابندۍ اودفرمان بردارۍ، لمونځ، روژه، حج، زکوٰة اوپه ټولو معاملاتوکې که ترشرعي حدودو تجاوز وکړل سي نودغه پرځای دعبادت ګناه جوړه سي.
په دعاء کې ترحد دتجاوز کولو څوصورتونه دي يودا چې په دعاکې لفظي تکلفات قافيي اونور اختيارکړل سي، چې په دې سره په خشوع اوخضوع کې فرق راځي، دوهم داچې په دعاء کې غير ضروري قيدونه اوشرطونه ولګول سي لکه چې په حديث کې دي چې حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ وليدل چې دده زوی داسې دعاء غواړي چې يا الله زه ستا څخه په جنت کې دسپين رنګ راسته طرف والا محل غواړم، نوده منع کې اووې فرمايل چې په دعاکې داسې قيدونه اوشرطونه لګول ترحد تجاوز دی، چې

Maktaba Tul Ishaat.com

په قرآن اوحدیث کې منع سوې دی (مظهری په روایت دابن ماجه اونورو) دریم صورت ترحد دتجاوز دادی چې دعامو مسلمانانو دپاره بده دعاء کوی یاخه داسې شی غواړی چې دعامو خلکو دپاره مضروی، دغه ډول یو صورت ترحد دتجاوز داهم دی، کوم چې دلته ذکردی چې په دعاکې بې ضرورته آواز پورته سی (مظهری، احکام القرآن)

په دوهم آیت کې ارشاد فرمایي ، وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا په دې کې دوه لفظونه متضاد اومتقابل راغلي دی، صلاح اوفساد ، دصلاح معنې درستي او دفساد معنې خرابي ده ، امام راغب په مفردات القرآن کې فرمایي چې فساد یوشی داعتدال څخه وتلوته وایي، برابره خبره ده که دا وتل لږوی اوکه ډیر اوپه هر فساد کې دکمی اوزیاتی مدار ددې اعتدال څخه په وتلو سره دی ، څومره چې داوتل زیات وی فساد زیاتیږی، دافساد معنې خرابی پیدا کول دی او داصلاح معنې درستي کول دی، په دې وجه د: وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا معنې داسوه چې په مځکه کې خرابی مه پیداکوی، وروسته تردې چې الله ﷻ دا اصلاح کړي ده .

امام راغب فرمایي چې دالله ﷻ دیوشي داصلاح کولو څو صورتونه کیدی سی یو داچې دا داول څخه صحیح صحیح اوسم پیدا کی، لکه ، وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ دوهم دا چې په دې کې څه فساد راغلی وی ، هغه لیرې کی ، لکه ، يُصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ دریم دا چې دې ته دصلاح حکم ورکول سی، په دې آیت کې چې کم دا ارشاد دی چې کله الله ﷻ دمځکې اصلاح اوصحیح والی فرمایلی دی، نوتردې وروسته تاسی په دې کې فساد اوخرابی مه اچوی، په دې کې دمځکې داصلاح کولو دوی معناوی کیدی سی، یوه ظاهری اصلاح چې مځکه په فصل اودرختو اوبوټو سره تر اوتازه کی، دوریځو څخه اوبه پر واوروی، گلونه اومیوی ورڅخه راوباسی، دانسان او دنورو حیوانانو دپاره دمځکې څخه هرقسم دژوند ضرورتونه او دآرامی سامان پیدا کی .

دوهمه معنې یې دا ده چې دمځکې باطنی اومعنوی اصلاح وفرمایي داسې چې مځکې ته خپل رسولان، کتابونه اوهدایات ولیږی ، دکفر اوگمراهی څخه یې پاکه کی اوکیدی سی چې دادواړه معناوی یعنی ظاهری اوباطنی هرقسم اصلاح په دې آیت کې مراد وی، نو اوس دآیت معنې داسوه چې الله ﷻ دمځکې ظاهری اوباطنی اصلاح فرمایلی ده اوس تاسی په خپلو گناهونو اونافرمانیو سره په دې کې فساد مه خپروی اوخرابی په کښې مه پیدا کوی .

(دمځکې اصلاح اوخرابي څه ده اودخلکو دگناهونو پردې څه اثر دی ؟)

لکه څنگه چې داصلاح دوه قسمونه ظاهری اوباطنی دی، دغه ډول دفساد هم دوه قسمونه دی، دمځکې ظاهری اصلاح خو داده چې الله ﷻ دا دداسې جسمه جوړه کړي ده چې نه داوبو په ډول نرمه ده چې قرارنه ورباندې کیږی اونه ددبرې او اوسپنې په ډول سخته ده چې کیندل کیږی نه، په یو درمیانی حالت کې یې پیدا کړي ده چې انسان دا نرمه کی اوفصلونه اودرختی اوبوټی په کښې وکری اوپه کیندلو سره په کې

Maktaba Tul Ishaat.com

څاهان او خندقونه ، نهرونه جوړولی سی دمکانونو بینادونه په کی محکم کړی، بیا یی ددی مځکی دننه اودباندی داسی سامان پیدا کی په کم سره چی ددی آبادی کیږی، په دی کی شین گیاه او گلونه او میوی راتوکیږی، ددباندی څخه هوا ، رڼا ، گرمی اویخ یی پیدا کی، اوبیا یی دوریځوپه ذریعه پردی اوبه راواورولی، چی درختی بوټی اوفصلونه په پیدا سی، دمختلفو ستورو اوسیارو یخی او گرمی پلوشی یی پر واچولی، چی په دی سره په گلونو اومیووکی رنګ اورَس راسی، انسان ته یی پوهه اوعقل ورکی چی ددی په ذریعه ده دمځکی څخه دراوتونکو خامو موادو ، لرگیو ، اوسپنو ، پیتلو ، ایلمونیمو اونورو جوړول ماتول اولګول دمصنوعاتو دیوی نوی دني ابنایی جوړه کړه، داټوله دمځکی ظاهری اصلاح ده، کمه چی الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره فرمایلی ده، اودباطنی اوروحانی اصلاح مدار دالله ﷻ پرذکر، دالله ﷻ سره په تعلق اودهغه پراطاعت باندی دی، ددی دپاره اول خوالله ﷻ دهر انسان په زړه کی یوه ماده اوجذبه دخدای داطاعت او دیاد ایښی ده: فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوٰهَا او دانسان پرشا وخوا یی په هره ذره کی دخپل کامل قدرت اوعجیبه کاریګری داسی مظاهری ایښی دی چی ددی په لیدو سره دمعمولی فهم اوپوهی خاوندان هم ویلی سی چی: فَتَبَارَكَ اللّٰهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ، ددی څخه علاوه یی خپل رسولان راولیږل، کتابونه یی نازل کړل چی ددی په ذریعه یی دمخلوق دتعلق دخالق سره دټرلو پوره انتظام وفرمایی.

دغه ډول ګواکی دمځکی مکمله اصلاح ظاهری اوباطنی وسوه اوس حکم دادی چی مونږ دامځکه اصلاح کړیده، تاسی دامه خرابوی ، لکه څنګه چی داصلاح دوه قسمونه ظاهری اوباطنی دی، دغه ډول ددی په مقابله کی دفساد هم دوه قسمونه ظاهری اوباطنی دی ، اودالله ﷻ ددی ارشاد په ذریعه د دواړو ممانعت سوي دی.

که څه هم دقرآن اونبی کریم ﷺ اصلی وظیفه اوفرض منصبی دباطن اصلاح ده، اوددی په مقابله کی دباطنی فساد څخه منع کول دی لیکن په دی دنیاکی دظاهر اوباطن په اصلاح اوفساد کی یوداسی ربط دی چی دیوه فساد دبل دفساد موجب جوړیږی، په دی وجه قرآنی شریعت چی څنګه دباطنی فساد دروازی بندی کړي دی ، دغه ډول ظاهری فسادیی هم منع کړي ه‌ی ، غلا ، ډاکه، قتل اودبی حیایی ټولی طریقی په دنیاکی ظاهری اوباطنی هرقسم فساد پیداکوی، په دی وجه پردی شیانو یی په خصوصیت سره پابندی اوسختی سزاګانی مقرر کړیدی، اوعام ګناهونه او جرمونه یی هم منع کړیدی، ځکه چی هرجرم اوګناه کله دظاهری فسادسبب جوړیږی اوکله دباطنی، اوکه په فکرسره وکتل سی نو دظاهری فساد سبب جوړیږی اوهر باطنی فساد دظاهری فساد سبب وی.

دظاهری فساد خو دباطنی دپاره لازمیدل په دی وجه ښکاره دی چی دا دالله ﷻ دفرمان برداری اواحکامو خلاف ورزی ده او دخدای ﷻ دنافرمانی دوهم نوم باطنی فساد دی، البته باطنی فساد لکه څنګه چی دظاهری فساد سبب جوړیږی، ددی پیژندل لږ دغور اوفکر محتاج دی، وجه داده چی داټول

Maktaba Tul Ishaat.com

جهان اوددی هر لوی او کوچنی شی ټول د مالك الملك والملكوت جوړ سویدی او دده د فرمان تابع دی، ترڅو پوری چی انسان د الله ﷻ د فرمان تابع وی نو دا ټول شیان د انسان صحیح صحیح خدمت ګاران وی او کله چی انسان د الله ﷻ نافرمانی شروع کی نو د دنیا ټول شیان په پټه د انسان نافرمانه سی، چی په ظاهره یی انسان په خپلو سترګو سره نه وینی لیکن ددی شیانو په ښبانو خواصو او نتیجو او فوائدو کی د فکر کولو څخه په بدیهی طور سره ددی ثبوت ورکول کیږی.

په ظاهرکی خو د دنیا دا ټول شیان د انسان په استعمال کی وی، او به چی ترحلق تیری سی نو د تندی ماتولو څخه انکار نه کوی، خوراك دده د لوږی رفع کولو څخه نه منع کیږی، لباس او مکان دده څخه د ګرمی او یخنی دفع کولو څخه انکار نه کوی.

لیکن چی عاقبتونو او نتیجو ته و کتل سی نو دا سی معلومیږی چی په دوی کی یو شی هم خپل کارپوره نه کوی، ځکه چی اصل مقصد ددی ټولو شیانو او ددوی د استعمال دا دی چی انسان ته آرام او راحت حاصل سی، دده پریشانی او تکلیف لیری سی او د بیماریو څخه شفا حاصله کړی، اوس د دنیا پر حالاتو باندی نظر واچوی نو معلومه به سی چی نن صبا د راحتونو د سامان او د بیماریو څخه د شفا د سامانونو تراندازی د زیاتوالی باوجود د انسانانو اکثریت په انتهایی پریشانیو او بیماریو کی اخته دی، نوی نوی مرضونه، نوی نوی مصیبتونه را پیدا کیږی، ترلویو لا لوی انسان پر خپل ځای مطمئن او په آرام نه دی، بلکه څومره چی دا سامانونه زیاتیږی په دغه اندازه علاج کوی، هغومره مرض زیاتیږی.

د نن انسان کوم چی برق او بریښ او نورو مادی رنګینیانو مسحور کړیدی، که لږ ددی شیانو څخه لوړ سوچ وکی نو ده ته به معلومه سی چی زموږ ټول کوششونه، ټول مصنوعات او ایجادات زموږ په اصل مقصد یعنی اطمینان او راحت راوستلو کی فیل او ناکامه دی، ددی وجه بغیر ددی معنوی او باطنی سبب څخه بله نه ده، چی موږ د خپل رب او مالك نافرمانی اختیار کړه، نو دغه مخلوقات په معنوی طور سره زموږ څخه نافرمانی شروع کړه.

چون از و گشتی همه چیز از تو گشت

یعنی چی تا دغه نافرمانی اختیار کړه، هر شی ستا نافرمانی اختیار کړه.

چی زموږ دپاره اوس حقیقی آرام او راحت نه تیاروی، مولانا رومی رحمه الله څه ښه فرمایی

خاك و باد و آب و آتش بنده اند با من و تو مرده با حق زنده اند

یعنی خاوری، باد، او به او اور دغه د حکم او فرمان تابع دی، ما او تا ته مړه ښکاری خو د حق تعالی په نزد ژوندی دی.

خلاصه د خبری دا ده چی کله چی په فکر سره و کتل سی نو هره یوه ګناه او د خدای ﷻ څخه غفلت او د هغه نافرمانی په دنیا کی نه یوازی باطنی فساد پیدا کوی بلکی ظاهری فساد هم ددی لازمی ثمره وی، هم دا خبره مولانا رومی رحمه الله فرمایلی ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

ابر نائد از پی منع زکوٰة وز زنا افتد وبا اندر جهات

یعنی دزکوٰة په منع کولو سزاه باران بندیږی، اوپه زنا سره په دنیا کی هرطرف ته وباګانی راځی، اودا خو شاعرانه خیالات نه دی بلکه هغه حقیقت دی چی قرآن او حدیث په ناطق دی، لیکن دسزا سپکه غوندی نمونه په دی دنیا کی دمرضونو، وباګانو، طوفانونو او سیلابونو په صورت کی مخ ته راځی.

په دی وجه د ، لَا تُفْسِدُوا فِي الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا په معنی کی چی څنګه هغه جرمونه اوګناهونه داخل دی، دکمو څخه چی په ظاهر طور سره په دنیا کی فساد پیدا کیږی، دغه ډول هره نافرمانی اودخدای ﷻ څخه غفلت اوګناه هم په دی کی شامل دی، په دی وجه په ذکر سوی آیت کی یی تردی وروسته وفرمایل وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا یعنی الله ﷻ بولی په بیره اوطمع سره یعنی په داسی طور سره چی یو طرف ته دعا دنه قبلیدو بیره وی اوبل طرف ته دهغه درحمت څخه پوره اُمید هم وی اودا اُمید اوبیره په طریقه داستقامت کی دانسانی روح دوه ښاخونه دی چی په دی سره دی پرواز کوی او لوړی درجی حاصلوی، ددی عبارت څخه داهم ظاهره ده چی امید اوبیره دواړه په مساوی یعنی برابره درجه کی په کار دی، اوځینی عالمان فرمایی چی مناسبه دا ده چی دتندرستی په زمانه کی بیره غالبه ساتی چی په اطاعت کی کوتاهی نه راځی اوکله چی دمرګ وخت نژدی راسی نو اُمید دی غالب ساتی ځکه چی اوس دعمل طاقت رخصت سوی دی ، درحمت اُمید دده عمل پاته سوي دی (بحرِ محیط)

اوځینی محققین فرمایی چی اصل مقصد ددین پرصحیح لار باندی قائم پاته کیدل او دالله ﷻ په اطاعت باندی همیشه والی دی اومزاجونه اوطبیعتونه دانسانانو مختلف وی، چاته دغلبی دبیری څخه دامقام داستقامت او داطاعت حاصلیږی او چاته دمحبت دغلبی اواُمید څخه، نوچا ته چی په کم حالت کی ددی مقصد حاصلولو مدد ورکول سی، ددی دحاصلولو فکر دی کوی.

لنډه دا چی ددعاء دوه آدابونه ددی څخه په مخکی آیت کی ښوول سوي دی یوپه زاری اوعاجزی سره، دوهم په پټه اوپه کراره سره دا دواړه صفتونه دانسان دظاهری جسد سره تعلق لری ځکه چی دعاجزی څخه مراد دا دی چی خپل هیئت ددعاء په وخت کی عاجزانه اوفقیرانه جوړ کی، متکبرانه یابی نیازانه نه وی، او دپټوالی تعلق هم دخُلی اودژبی سره دی، په دی آیت کی ددعا دپاره دوه باطنی ادبونه نور هم ښوول سوي دی چی تعلق یی دانسان دزړه سره دی، هغه داچی ددعا کوونکی په زړه کی ددی بیره هم په کار ده چی شاید زما دعا قبوله نه سی او اُمید هم په کار دی چی زما دعا قبلیږی، ځکه چی دخپلو خطاګانو او دګناهونو څخه بی فکره کیدل هم دایمان څخه خلاف دی اودالله ﷻ دلوی رحمت څخه مایوسه کیدل هم کفر دی، ددعاء دقبلیدو هلته توقع کیدی سی، کله چی ددی دواړو حالتونو په مینځ مینځ کی وی.

بیا دآیت په آخرکی فرمایی ، اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِیْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِیْنَ یعنی دالله ﷻ رحمت نژدی دی نیک کار کوونکو ته، په دی کی اشاره دی خبری ته ده چی که څه هم په وخت کی ددعاء دبیری او اُمید دواړو

حالتونه پکار دی لیکن په دی دوارو حالتونو کی دأمید جانب راجح دی، ځکه چی درب العٰلمین اورحیم الرحمٰن په سخا اواحسان کی نه څه کمی سته اونه بخل، هغه تربدو لا دبد انسان بلکه دشیطان هم دعا قبلوی، البته که دنه قبلیدو څه بیره وی نوهغه دخپلو بدو عملونو اوګناهونو نحوست کیدی سی، ځکه چی دالله ﷻ درحمت دنژدی کیدو دپاره محسن یعنی نیکه عمله کیدل پکار دی، په دی وجه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ځینی خلک اوږده اوږده سفرونه کوی اوخپل هیئت فقیرانه جوړوی اودالله ﷻ په مخکی ددعاء دپاره لاسونه اوږدوی، مګر دده خوراك هم حرام دی چښل یی هم حرام دی اولباس یی هم حرام دی، نو ددا سی سړی دعاء څنګه قبلیدی سی؟ (مسلم، ترمذی عن ابی هریرة‌ﷺ) او په یوحدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دبنده دعاء ترهغه وخته پوری قبلیدی سی، ترڅو چی دی دڅه ګناه یا دقرابت پریښوولو دعانه کوی اوجلد بازی (تلوار) نه کوی، صحابه کرامو ﷺ پوښتنه وکړه چی دجلد بازی څه مطلب دی ؟ ده وفرمایل چی مطلب دا دی چی داسی خیال وکی چی زه ددومره وخت څخه دعا غواړم او لا تراوسه قبوله نه سوه تردی چی مایوسه سی اودعا پریږدی (مسلم، ترمذی)، اوپه یوحدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دالله ﷻ څخه چی کله دعا غواړی نو په داسی حالت کی یی غواړی چی تاسی ته دهغه په قبلیدو کی هیڅ شك نه وی، مراد دا دی چی دالله ﷻ درحمت لوی والی ځان ته وراندی کی زړه پردی کلك کی چی زما دعابه خامخا قبوله سی دا ددی منافی نه ده چی دخپلو ګناهونو دوجی دابیره هم محسوس کی چی شاید زما ګناهونه ددعا په قبلیدو کی خند جوړ سی (وصلی الله تعالی علی نبینا محمد ﷺ وعلی اله واصحابه اجمعین)

وَهُوَ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ ۚ حَتّٰى إِذَا أَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنٰهُ

او هغه داسی ذات دی چی چلوی هواګانی خوشخبری راوړنکی دباران څخه مخکې تردی چی کله دغه هواګانی لوړی کړی درنی وریځی نوشړو مونږ ،

لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَنْزَلْنَا بِهِ الْمَاءَ فَأَخْرَجْنَا بِهِ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ۚ

دغه وریځی دښار مړطرف ته ، بیامونږ نازلوو ددی وریځی څخه اوبه نو راوباسو په دی سره دهر قسم میوی ،

كَذٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتٰى لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٥٧﴾ وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ

دغه دول به مونږ را وباسو مړی ددې دپاره چی تاسی غور وکړی ، او کومه مځکه چی پاکیزه ده

يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ ۚ وَالَّذِي خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا ۚ كَذٰلِكَ

دهغه سبزی را وزی ددې درب په حکم سره ، اوکومه چی خرابه ده ، په دی کی نه را وزی مګر ناقصه ، دغه دول

Maktaba Tul Ishaat.com

نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّشْكُرُوْنَ (۵۸) ع

په هره طرف بیانوو مونږ آیتونه دحق منونکو دپاره.

لنډتفسير: اوهغه (الله) داسي دي چې دخپل باران ترړحمت مخکي هواګاني لیږي چي دغه (دباران خوشخبري درکي زړه) خوشحالوي تردي چي کله دغه هواګاني درنې وريځي لوړوي نومونږ دا وريځي ديوي وچي مځکي طرف ته وشړو، بيا ددي وريځي څخه اوبه واوروو، بياپه دي اوبو سره هرقسم ميوي راوباسو (چي په دي سره دالله ﷻ توحيد اوقدرت مطلقه دمړو ژوندي کول ثابتيږي په دي وجه فرمايي) هم دغسي به (دقيامت په ورځ) مونږ مړي (دمځکي څخه) راوباسو، ودروو (داټولي خبري يي درته ځکه واورولي) چي تاسي پوه سي (اودقرآن اونبي کريم ﷺ هدايت که څه هم دټولو دپاره عام دي، مګر ددي څخه فائده اخيستونکي کم خلګ دي، ددي مثا ل دهغه باران په ډول وګڼي چي باران خوپر هره مځکه اوريږي مګر فصلونه اودرختي هر ځای نه پيدا کيږي، يوازي پرهغه مځکه پيدا کيږي، په کمه کي چي صلاحيت وي، په دي وجه فرمايي) کمه مځکه چي پاکه وي، دهغه پيداوار خو دخدای په حکم سره شنه کيږي اوکومه چي خرابه وي دهغه پيداوار (که راووزي هم خو) ډيرکم راوزي داسي مونږ (هميشه) دليلونه په قسم قسم سره بيانوو (مګر دغه ټول) دهغو خلګو دپاره (نفع کوي) کوم چي (ددوي) قدر کوي.

معلومات اومسئلي: په تيرو آيتونوکي الله ﷻ دخپلو خاصو خاصو اولويو لويو نعمتونو ذکر فرمايلي دي چي په هغوي کي دآسمان، مځکي، شپي، ورځي، لمر، سپوږمۍ اودعامو ستورو دپيدائش اوددوي دانسان دضرورتونو تيارولو اوددوي په خدمت کي دلګيدو ذکريي وکي، پردي يي خبرداري وفرمايي چي کله زمونږ دټولو ضرورتونو اوټولو راحتونو سامان پيدا کوونکي يوذات پاک دي، نوپه هر حاجت اوضرورت کي مونږته دعا او درخواست هم دهغه څخه کول په کار دي ، اودهغه طرف ته رجوع کول دخپل ځان دپاره دکاميابي کيلي ګڼل په کار دي.

په ذکر سوو آيتونوکي ځيني په اول آيت کي هم ددي قسم دمهمو اولويو نعمتونو ذکر دي ، په کومو چي دانسان او دمځکي دټول مخلوقات دژوند او بقاء مدار دي، مثلاً باران اوددي څخه پيدا کيدونکي درختي، فصلونه اوترکاري اونور، فرق دا دي چي په تيرو آيتونوکي دهغو نعمتونو ذکر وو، کوم چي دلوړ عالَم سره تعلق لري اوپه دي کي دهغو نعمتونو ذکردي، کوم چي دلاندي عالَم سره تعلق لري، (بحر محيط) اوپه دوهم آيت کي يوه خاص خبره دابنوول سوي ده چي زمونږ داعظيم الشان نعمتونه که څه هم دمځکي پرهره حصه باندي عام دي، باران چي کله اوريږي نوپر درياب هم اوريږي اوپر غرهم، پر بنجرا اوخرابه مځکه اوښه اوغوره مځکه يو ډول اوريږي، ليکن فصلونه، درختي او سبزباني يوازي په هغه مځکه کي پيدا کيږي په کومه کي چي صلاحيت وي، دفصل دټوکولو، کلکي اوشګلني مځکي ددي باران څخه هيڅ فائده نسي اخيستي.

Maktaba Tul Ishaat.com

داول آیت څخه یې دانتیجه را وایستله اوویې ښووله چې کوم پاك ذات دمړي مځکې نشو اونما کوي اوژوند ورلره ورکوي، دهغه دپاره داڅه مشکله ده چې کم انسان اول ژوندي وو، بیا مړسو، په ده کې دوباره ژوند پیدا کې، دا نتیجه یې په دې آیت کې په واضح طور سره وښووله اوددوهم آیت څخه یې دانتیجه را وایستله چې دالله ﷻ دطرف څخه آسماني کتابونه اوانبیاء علیهم السلام بیا دهغوی نائبان عالمان او مشائخ ددوی تعلیم اوتربیت هم دباران په ډول دهر انسان دپاره عام دي، مګر لکه څنګه چې دباران درحمت څخه هره مځکه فائده نه سي پورته کولی، دغه ډول ددې روحاني باران څخه فائده هم یوازې هغه خلګ حاصلولی سي په چاکي چې دا صلاحیت وي، اودکومو خلګو زړونه چې دکلکي یا شګلني مځکې په ډول دنشو او نما قابلیت نه لري، هغوی دتولو واضحو آیتونو باوجود پرخپلې ګمراهي کې وي.

ددې نتیجې طرف ته د دوهم آیت په آخري جمله کې ارشاد فرمایي، كَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّشْكُرُوْنَ یعنی مونږ دغه ډول خپل دلیلونه په ډول ډول سره بیانوو دهغو خلګو دپاره کوم چې قدر کوي، مطلب دا دی چې که څه هم في الواقع دابیان خو دټولو دپاره وو، مګر دنتیجې په طور باندې فائده یې دهغو دپاره ثابته سوه په چا کې چې ددې صلاحیت دی اوهغوی یې قدر اومنزلت وپیژندی، دغه ډول ذکر سوي دواړه آیتونه داول پیدائش او ددوباره ژوندي کیدو پرمهمو مسئلو باندې مشتمل دي، اوس ددې دواړو آیتونو تفصیل واورئ، په اول آیت کې ارشاد دی، وَهُوَ الَّذِيْ يُرْسِلُ الرِّيٰحَ بُشْرًاۢ بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ په دې کې ریاح دریح جمع ده، چې معنی یې ده: هوا، او دبُشْرًا: معنی زیرې اوخوشخبري ده اودرحمت څخه مراد باران دی درحمت، یعني دا الله ﷻ دی چې رالیږي درحمت تریاران مخکې هواګاني دخوشخبري ورکولو دپاره، مطلب دادی چې عام عادت دالله ﷻ دا دی چې ترباران مخکې داسې یخې هواګاني رالیږي دکومو څخه چې انسان ته په خپله راحت اوتازګي حاصلیږي اودغه ګواکې دراتلونکي باران خبر دمخکې څخه ورکوي، په دې وجه دا هواګاني ددوو نعمتونو جمع کوونکې دي، په خپله هم دانسانانو اوعام مخلوقات دپاره نفع مند دي اودباران تر راتلو مخکې دباران خبرهم ورکوي، ځکه چې انسان یو لطیف اونازك مخلوق دی چې دده ډیر ضرورتونه باران ته بندوي، کله چې دباران اطلاع دلږ مخکې څخه ورکول سي، نودی خپل انتظام وکي، ددې څخه علاوه په خپله دده وجود اودده سامان دباران برداشت نسي کولی، دې چې دباران نښاني ووینې دخپل سامان اوخپل ځان حفاظت وکي.

تردې وروسته فرمایي، حَتّٰىٓ اِذَآ اَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا دسحاب معنی وریځ ده، او ثقال دثقیل جمع ده چې معنی یې ده دروند، یعنی کله چې دغه هواګاني درنې وریځې لوړې کړي، ددرنو وریځو څخه مراد داوبو څخه ډکې وریځې دي چې دهوا پر اوږو سپرې سي، لوړې ځي اودغه ډول داپه زرګونو منه اوبه پرهوا سپرې سي لوړې ځي اوحیرانونکي خبره دا ده چې نه په دې کې څه مشین کار کوي اونه څه انسان په دې کې محنت کوي، کله چې دالله ﷻ حکم وسي نوخود بخوده ددریاب څخه بخارات پورته کیدل شروع سي اولوړ ولاړ سي وریځ جوړه سي اودا په زرګونو بلکه په لکونو ګیلنه داوبو څخه ډك جهاز خود

Maktaba Tul Ishaat.com

بخوده دهوا پر اوږو سپور سی، آسمان ته ځیژی، تردی وروسته فرمایی: سُقْنٰهُ لِبَلَدٍ مَّیِّتٍ دسوق معنٰی ده دیوحیوان راکښل اوچلول، اودبلد معنٰی ده ښار یاکلی، دمیت معنٰی ده مړ، معنٰی داده چی کله هواګانی درنی وریځی لوړی کړی، نوموږ داوریځی وشړلی دیومړ ښار طرف ته، دمړښار څخه مراد هغه ځای دی چی داوبونه پیدا کیدو په وجه وران سوی وی اودلته پرځای دعامی په خصوصیت سره دښار اوکلی ذکر کول په دی وجه مناسب معلوم سو چی اصلی مقصد دبرق اوباران اوپه دی سره دمځکی دسیرابی څخه دانسان ضروریات تیارول دی چی ځای داوسیدو یی ښار دی، که نه وی نو دبیابان په خپله شین او زرغون کیدل مقصد نه دی.

تردی ځای پوری دذکر سوی آیت دمضمون څخه څو مهم شیان ثابت سول اول دا چی باران دوریځو څخه اوریږی، لکه چی لیدل کیږی ددی څخه معلومه سوه چی په کومو آیتونوکی دآسمان څخه باران اوریدل ذکر دی، هلته هم د: سَمَا دلفظ څخه مراد وریځ ده، اوداهم څه لیری نه ده چی څینی وخت ددریابی بخاراتو (مون سون) پرځای خود بخوده دآسمان څخه وریځ پیدا سی اوباران ورڅخه وسی، دوهم داچی دوریځو یوخاص طرف اوخاصی مځکی ته تلل سیده په سیده دالله ﷻ دحکم متعلق دی، هغه چی کله غواړی، کوم ځای غواړی، څومره چی غواړی، دباران اورولو حکم کوی، وریځ دالله ﷻ دحکم تعمیل کوی، ددی مشاهده هرځای داسی کیدی سی چی ډیر وارونه په یوښار یاکلی وریځ خپره وی اوهلته دباران ضرورت هم وی لیکن هغه وریځ دلته یوه قطره اوبه هم ورنه کی، بلکه دکوم ښار یاکلی کوته چی دالله ﷻ په حکم مقرره سوی وی، هلته ولاړه سی واوریږی، دهیچا مجا ل نسته چی ددغه ښار څخه علاوه بل ځای ددغه وریځی څخه اوبه حاصلی کی.

پخوانیو اونوو فلاسفرانو د(مون سون) او هواګانو دحرکت دپاره څه قاعدی او اصول را ایستلی دی چی دهغوی په ذریعه دوی ښیی چی فلانی مون سون چی دفلانی سمندر څخه پورته کیږی، کوم طرف ته به ځی کم ځای به اوریږی څومره اوبه اوروی، په عامو ملکونوکی دموسمیاتو محکمی دداقسم معلوماتو تیارولو دپاره قائمیږی، لیکن تجربه شاهده ده چی دموسمیاتو دمحکمی ورکول سوی خبرونه اکثره غلط وی، اوکله چی دالله ﷻ حکم ددی خلاف وسی نو ددوی ټولی ضابطی اوقاعدی دغسی پاته سی، هواګانی اومون سون خپل مخ ددوی دورکول سوو خبرونو خلاف بل طرف ته وګرځوی او دموسمیاتو محکمی دغسی حیرانی پاته سی، ددی څخه علاوه کمی قاعدی چی دهواګانو دحرکت دپاره دی فلاسفرانو منتخب کړي دی، هغه هم څه ددی منافی نه دی چی دوریځو حمل او نقل دالله ﷻ دحکم تابع دی، څکه چی دالله ﷻ عادت ددی عالم په ټول کار وبارکی دا دی چی دالله ﷻ حکم دطبعی اسبابو په پردوکی ظاهریږی ددی طبعی اسبابو څخه انسان څه ضابطه اوقاعده جوړولی سی، که نه نو حقیقت هغه دی کوم چی حافظ شیرازی رحمه الله ښوولی دی.

کار زلف تست مشك افشانی امّا عاشقان   مصلحت را تهمتی بر آهوئی چین بسته اند

Maktaba Tul Ishaat.com

يعنی دمشکو بوی ستا دزلفو په وجه دی خو عاشقانو دپاره دمصلحت تهمت په هوسۍ دچين پوری ترلی دی.
تردی وروسته ارشاد فرمايي، فَاَنْزَلْنَا بِهِ الْمَآءَ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ يعنی مونږ پردی مړ ښار باندی اوبه
واورولی او بيا په دی اوبو سره مو هرقسم ګلونه اوميوی را وايستلی، دآيت په آخرکی ارشاد فرمايي:
كَذٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتٰى لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ مونږ دغه ډول را باسو مړی دقيامت په ورځ شايد تاسی پوه سی.
مطلب دا دی چی لکه څنګه چی مونږ مړی مځکی ژوندی کړی او ددی څخه مو درختی، ګلونه اوميوی
را وايستلی، دغه ډول دقيامت په ورځ به مړی دوباره ژوندی کو، راوبه يی باسو، اودا مثالونه مونږ
ددی دپاره بيان کړي دی چی تاسی ته دسوچ اوفکر کولو موقع پيدا سی.
په روايت دحضرت ابوهريره رضی الله عنه نقل دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دی چی په قيامت به شپيلۍ دوه واره
پُف کول کيږی په اوله شپيلۍ به ټول عالم فنا سی، يوشی به هم ژوندی پاته نه سی او په دوهمه به بيا
دنوی سره عالم پيدا سی اوټول مړی به ژوندی سی، په دی ذکر سوی حديث کی دی چی ددی دواړو
شپيلو په مينځ کی به څلويښت کاله فاصله وی او په دی څلويښت کاله کی به مسلسل باران اوريږی، په
دی زمانه کی به دهر مړ انسان اوحيوان اجزاء دده دبدن سره جمع سی، دهر يوه مکمله ډانچه (جسم) به
جوړه سی او بيا به ددوهم وار شپيلۍ وهلو پروخت په دی مړوکی روح راسی اوژوندی به ودرول سی،
ددی روايت اکثره حصه په بخاری او مسلم کی موجوده ده او ددی روايت ځينی اجزاء دابن ابی داود
دکتاب البعث څخه اخستل سوي دی.
په دوهم آيت کی ارشاد دی، وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهٗ بِاِذْنِ رَبِّهٖ وَالَّذِيْ خَبُثَ لَا يَخْرُجُ اِلَّا نَكِدًا، نَكِد: وايی هغه شی
ته کوم چی بی فائدی هم وی او بيا په مقدار کی هم کم وی، معنی دا ده چی که څه هم درحمت دباران فيض
پرهر ښار، هره مځکه يو ډول وی، ليکن دنتيجو اوفائدو په اعتبار سره دمځکی دوه قسمونه وی، يوه
عمده اوښه مځکه چی په هغه کی دنشو اونما صلاحيت وی په دی کی خو هرقسم ګلونه او ميوی کيږی
اوفائده ورڅخه حاصليږی، دوهمه هغه سخته اوخرابه مځکه چی په هغه کی دټوکيدو صلاحيت نه وی،
په دی کی اول خو څه پيدا کيږی نه، بيا که په کښی څه پيدا هم سی نوهغه ډيرپه کم مقدار کی وی
اوځومره چی پيدا کيږی هغه هم بی کاره اوخراب وی، دآيت په آخرکی ارشاد فرمايي: كَذٰلِكَ نُصَرِّفُ
الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّشْكُرُوْنَ يعنی مونږ خپل دقدرت دليلونه په ډول ډول سره بيانوو دهغو خلګو دپاره کوم چی
قدر کوونکی دی، په دی کی اشاره ده چی که څه هم درحمت دباران دعام فيض په ډول دالله ﷻ دهدايت
اودښکاره آيتونو فيض هم دټولو انسانانو دپاره عام دی مګر لکه څنګه چی هره مځکه دباران څخه
فائده نه سی اخيستی، دغه ډول هر انسان دالله ﷻ دهدايت څخه نفع نه سی حاصلولی، بلکه نفع يوازی
هغه خلګ حاصلولی سی، کوم چی قدر شناس اوشکر ګذار وی.

لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۭ اِنِّىْٓ اَخَافُ

بيشکه وليږل مونږ نوح دده دقوم طرف ته نو ده وويل ای زما قومه بندګي کوی دالله، هيڅوک نسته ستاسی معبود دهغه

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه ماسوا ، زه بیریږم ،

عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿۵۹﴾ قَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ

په تاسی دعذاب د ورځی څخه ، وویل سردارانو دده دقوم مونږ وینو تا

فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ ﴿۶۰﴾ قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلَالَةٌ وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ

په ښکاره بی لاری کیدو کی ، ویی ویل ای زما قوم! زه هیڅکله بی لاری نه یم او لیکن زه رالیږل سوی یم

مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿۶۱﴾ أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنْصَحُ لَكُمْ وَأَعْلَمُ

دجانب درب دجهان څخه ، پیغام رسوم تاسی ته دخپل رب دطرف څخه او نصیحت کوم تاسی ته او پیژنم

مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿۶۲﴾ أَوَعَجِبْتُمْ أَنْ جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِنْ

دالله دطرف څخه هغه خبری کومی چی تاسی نه پیژنی، آیا تاسی تعجب کوی ددې څخه چی راغی تاسی ته نصیحت

رَبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿۶۳﴾

ستا د رب دطرف څخه دیو سړی په ژبه چی ستاسی څخه دی هغه تاسی وبیروی او چی تاسی ځان وساتی
اوچی په تاسی رحم وسی .

فَكَذَّبُوهُ فَأَنْجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ

بیا دوی هغه دروغجن کړو بیا مونږ وساتل هغه او هغه چی دده سره په کشتۍ کی وه ، او غرق کړل مونږ هغه چی

كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا عَمِينَ ﴿۶۴﴾ ع

دروغجن کول یی زمونږ آیتونه ، بیشکه دغه خلق وه ړانده ..

لنډتفسیر: مونږ نوح (علیه السلام) پیغمبر جوړ کی) دهغه دقوم طرف ته مو ولیږی پس هغه (دی قوم ته) وفرمایل چی ای زما قومه! تاسی (یوازی) دالله ﷻ عبادت کوی ، دهغه څخه ماسوا بل څوک ستاسی (دعبادت قابل) معبود نسته (اودبتانو عبادت پریږدی دکمو نومونه چی په سورة نوح کی دی، وَدّ، سواع، یغوث، یعوق اونسر) زما سره ستاسی دپاره (که زما خبره ونه منی) دیویی لوی (سختی) ورځی دعذاب بیره (ده) (چی هغه ورځ دقیامت یاورځ دطوفان) ده دقوم مشرانو خلکو وویل چی مونږ تا په صریح غلطی کی (اخته) وینو (چی دتوحید تعلیم کوی اودعذاب څخه بیرول کوی) ده (په جواب کی) وفرمایل چی ای زما

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: په ما کې یوه ذره هم غلطي نسته لیکن (کله چې) زه د پروردګار عالم (د الیږل سوی) پیغمبر یم (هغه ماته د توحید رسولو حکم راکړي دی ، په دی وجه خپل منصبي کار کوم چې) تاسی ته د خپل پروردګار پیغام (او احکام) ورسوم (او په دی رسولو کی زما خپل څه دنیوي غرض نسته، بلکه محض) ستاسی خیرخواهي کوم (ځکه چې په توحید کی ستاسی نفع ده) او (د لوی ورځی د عذاب څخه کم چې تاسی ته تعجب دی، نو دا ستاسی غلطی ده ځکه چې) زه د خدای د طرف څخه د دی خبرو خبر لرم د کومو چې تاسی ته خبر نسته (نو الله ﷺ ماته ښوولی دی چې په ایمان نه راوړو سره به د لوی ورځی عذاب واقع کیږي) او (تاسی چې زما د رسول کیدو څخه په وجه د بشر کیدو انکار کوی لکه چې په سورة مومنون کی یی وضاحت دی ، مَا هٰذَا اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُرِيْدُ اَنْ يَّتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً الخ نو) آیا تاسی په دی خبره سره تعجب کوی چې ستاسی د رب د طرف څخه تاسی ته د یو داسی سړي په معرفت چې ستاسی د جنس څخه (بشر) دی د څه نصیحت خبره راغله (هغه د نصیحت خبره دا ده چې ذکر سوه ، يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ الخ تر، اِنِّيْٓ اَخَافُ پوري) د دی د پاره چې دغه سړی تاسی (د خدای په حکم سره) د عذاب څخه وبیروی او د دی د پاره چې تاسی (په دی بیرولو سره) وبیریږی او د دی د پاره چې (په دی بیری سره مخالفت پریږدی چې په دی سره به) پر تاسی رحم وسی پس (سره د دی ټولو خبرو) دغه خلګو دی دروغ کوی نو مونږ نوح (ﷺ) او کم خلګ چې د ده سره په کښتی کی وو (د طوفان د عذاب څخه) محفوظ کړل او کمو خلګو چې زمونږ آیتونه دروغ کړی وه، دوی مونږ (په طوفان کی) غرق کړل، بیشکه دغه خلګ ړانده وه (د حق، باطل او نفع او نقصان هیڅ سوچ یی نه کوی)

معلومات او مسئلي: د سورة اعراف د شروع څخه تر دی ځایه پوري د اسلام د اصولو توحید، رسالت، آخرت په مختلفو عنواناتو او دلیلونو سره د ثابتولو او خلګو ته د دی د تابعداری ترغیب او د دی پر مخالفت د عذاب وعیدونه او ترهیب او د دی په ضمن کی د شیطان د ګمراه کوونکی مکر او فریب او نورو بیان وو او س د اتمی رکوع څخه تقریباً تر آخر د سورة پوري د څو پیغمبرانو ﷺ او د دوی د امتونو بیان دی چې په دی کی ټول پیغمبران ﷺ په متفقه طور سره د ذکر سوو اصولو توحید، رسالت، آخرت طرف ته خپلو خپلو امتونو ته دعوت ورکول، او د منونکو د اجر او ثواب او پر نه منونکو باندی د قسم قسم عذاب او د دوی د بد انجام په تفصیل سره بیان په څوارلسو ۱۴ رکوع ګانو کی راغلی دی چې د دی په ضمن کی په سوونو اصولی او فروعی مسئلی هم راغلی دی او موجوده قومونو ته یی د تیرو قومونو د انجام څخه د عبرت حاصلولو موقع ورکړي ده ، د نبي کریم ﷺ د پاره تسلی وسوه چې د تیرو ټولو پیغمبرانو سره هم داسی معاملی سوی دی ، ذکر سوی آیتونه د سورة اعراف پوره اتمه رکوع ده، په دی کی د حضرت نوح ﷺ او د ده د امت د حالاتو او خبرو بیان دی .

په سلسله کی د انبیاؤ کی تر ټولو اول نبي که څه هم چې حضرت آدم . دی لیکن د ده په زمانه کی د کفر او ګمراهي مقابله نه وه، د ده په شریعت کی هم زیات تره احکام د مځکی د آباد کاری او د انسانی

Maktaba Tul Ishaat.com

ضرورتونو متعلق وه اودکفر اوکافر هیڅکله وجودهم نه وو، دکفر اودشرك مقابله دحضرت نوح ؑ څخه شروع سوه، او درسالت اوشریعت په حیثیت سره دی په دنیاکی ترټولو اول رسول دی، ددی څخه علاوه په طوفان کی دټولی دنیا دغرقیدو څخه وروسته چی کوم خلګ باقی پاته سول، دغه حضرت نوح ؑ او دده دکښتی ملګری وو، ددوی څخه نوی دنیا آباده سوه، په دی وجه ده ته آدمِ اصغر (یا آدم ثانی) وایی، دغه وجه ده چی دانبیاؤ دقصور شروع هم ددی څخه وسوه، چی په دی کی دنه نیمو سوو ۹۵۰ کالو په لوی عمرکی د دوی دپیغمبرانه جد اوجهد او په دی داکثر امت دنه منلو اوددی په نتیجه کی بغیر دلږو مؤمنانو څخه باقی دټولو غرقیدل بیان سویدی، تفصیل یی دا دی.

په اولنی آیت کی ارشاد دی، وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ حضرت نوح ؑ دحضرت آدم ؑ څخه په اتم پښت کی دی، په مستدرك حاکم کی په روایت دابن عباس ؓ نقل دی چی دحضرت آدم ؑ اودحضرت نوح ؑ په مینځ کی لس قرنه تیر سوی دی، اودا مضمون طبرانی په روایت دابی ذر ؓ دنبی کریم ﷺ څخه نقل کړي دی (تفسیرِ مظهری)

قرن په عام طور سره سلو کالوته ویل کیږی، په دی وجه ددی دوارو په مینځ کی ددی روایت مطابق زرکاله زمانه سوه، ابن جریر ؒ نقل کړي دی چی دحضرن نوح ؑ ولادت دحضرت آدم ؑ تروفات اته سوه شپږ ویشت ۸۲۶ کاله پس سوی دی اودقرآن په وضاحت سره دده عمر نه سوه پنځوس ۹۵۰ کاله دی اودحضرت آدم ؑ دعمر متعلق په یوحدیث کی دی چی څلویښت کم زر ۹۲۰ کاله دی، دغه ډول دحضرت آدم ؑ دپیدائش څخه دحضرت نوح ؑ تروفاته پوری ټول دوه زره اته سوه شپږ پنځوس ۲۸۵۶ کاله سوه (مظهری) دحضرت نوح ؑ اصلی نوم شاکر، اوپه ځینو روایتونو کی سَکَن اوپه ځینو کی عبد الغفار، راغلی دی.

په دی کی اختلاف دی چی دده زمانه دحضرت ادریس ؑ څخه مخکی ده اوکه وروسته، داکثرو اصحابو ؓ قول دا دی چی حضرت نوح ؑ ترحضرت ادریس ؑ څخه مخکی دی (بحرِ محیط)

په مستدرك حاکم کی په روایت دابن عباس ؓ نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی حضرت نوح ؑ ته دڅلویښتو ۴۰ کالو په عمرکی نبوت ورکول سو اوتر طوفان وروسته شپیته ۶۰ کاله ژوندی وو.

دقرآن دآیت: وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ څخه ثابته ده چی دحضرت نوح ؑ رالیږل او نبوت یوازی دخپل قوم دپاره وو، دټولی دنیا دپاره عام نه وو اودده قوم په عراق کی آباد په ظاهره مهذب، مګرپه شرك کی اخته وو حضرت نوح ؑ چی خپل قوم ته کم دعوت ورکی، هغه داوو يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ یعنی ای زما قومه! تاسی دالله ﷻ عبادت کوی، دهغه څخه ماسوا ستاسی بل څوك معبود نسته زما پرتاسی دیوی لویی ورځی دعذاب بیره ده، ددی په اوله جمله کی دالله ﷻ دعبادت طرف ته بلنه ده چی اصلِ اصول دی، په دوهمه جمله کی دکفر اوشرك څخه دپرهیز کولو تلقین دی، کوم چی په دی قوم کی دوباء په شکل کی خپور سوی وو، په دریمه جمله کی دهغه لوی عذاب

Maktaba Tul Ishaat.com

دبیری څخه خبرول دي، کوم چې دخلاف ورزی په صورت کی دوي ته مخ ته راتلونکی دی ، ددی لوی عذاب څخه مراد دآخرت عذاب هم کیدی سی ، او په دنیا کی دطوفان عذاب هم (کبیر)

ددی قوم ده ته په جواب کی وویل ، قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖۤ اِنَّا لَنَرٰىكَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ لفظ دملأ، دقوم سردارانو اوخاندان مشرانوته ویل کیږی ، مطلب دا دی چې دحضرت نوح ﷺ ددی دعوت په جواب کی دقوم سردارانو وویل ، چې مونږ داګڼو چې ته په ښکاره ګمراهی کی لویدلی یی، چې زمونږ دپلار نیکه ددین څخه زمونږ ایستل غواړی په قیامت کی دوباره ژوندی کیدل اودجزا اوسزا لیدلو خیالات داټول خیالات او وهمونه دی، ددی دل آزاری اودل خراش جواب په بدل کی حضرت نوح ﷺ په پیغمبرانه لهجه کی چې کوم جواب ورکی ، هغه دتبلیغ کوونکو او اصلاح کوونکو دپاره یو مهم تعلیم اوهدایت دی ، چې دتهرولو پرخبره باندی پرځای ددی چې قهر سی اوپه غضب سی ، په ساده الفاظوکی د دوی دشبهو ازاله فرمایی ، قَالَ یٰقَوْمِ لَیْسَ بِیْ ضَلٰلَةٌ وَّلٰكِنِّیْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّیْ وَاَنْصَحُ لَكُمْ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ یعنی ای زما قومه! هیڅ ګمراهی نسته مګر خبره دا ده چې زه ستاسی په شان دپلار نیکه دجاهلی رسمونو پابند نه یم بلکه زه درب العٰلمین دطرف څخه رسول یم، څه چې زه وایم، دالله ﷻ دهدایتونو څخه یی وایم اودالله ﷻ پیغام تاسی ته رسوم چې ستاسی په کښی ګټه ده ، نه په دی کی دالله ﷻ څه فائده سته اونه په کی زماڅه غرض دی ، په دی کی درب العٰلمین لفظ دشرك پرعقیده باندی سخت ګزار دی ، چې په دی کی دفکرکولو څخه وروسته نه ددیو او دیوتا څه ځای پاته کیږی اونه دیزدان او اهرمن، تردی وروسته فرمایی چې ستاسی دقیامت په عذاب کی کمی شبهی دی، دهغه وجه ستاسی بی خبری اوناپوهی ده ماته دالله ﷻ دطرفه ددی یقینی علم راکول سوي دی ، تردی وروسته د دوی د دوهمی شبهی جواب دی ، کوم چې په سورة مومنون کی په وضاحت سره ذکر دی ، مَا هٰذَاۤ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ یُرِیْدُ اَنْ یَّتَفَضَّلَ عَلَیْكُمْ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً : یعنی دده قوم دحضرت نوح ﷺ په دعوت باندی یوه شبهه دا هم وکړه ، چې داخو زمونږ په ډول یو بشر او انسان دی ، زمونږ په ډول خوری اوڅښی ، اوبیده کیږی او ویښیږی، دی مونږ څنګه خپل مقتدا وګڼو که الله ﷻ مونږ ته څه پیغام رالیږلی نوهغه ملائکی به یی رالیږلی چې امتیاز اولویی به یی مونږ ته ښکاره وای ، اوس خو ددی څخه ماسوا بله خبره نسته چې زمونږ دقوم اونسل یو سړی پرمونږ خپله مشری اولویی قائمول غواړی .

ددی په جواب کی یی وفرمایل ، اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰی رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِیُنْذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوْا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ یعنی آیا تاسی په دی خبره باندی تعجب کوی چې ستاسی درب پیغام ستاسی طرف ته دیو داسی سړی په معرفت راغی چې ستاسی دجنس څخه دی چې هغه تاسی وبیروی اوچې تاسی وبیریږی اوچې پرتاسی رحم وسی، یعنی دده په بیرولو سره تاسی خبرسی اومخالفت پریږدی چې ددی په نتیجه کی پرتاسی رحمت وسی، مطلب دادی چې داڅه دتعجب خبره نه ده چې بشر رسول جوړ سی اول خو الله ﷻ مختار مطلق دی، چاته چې غواړی هغه ته خپل نبوت اورسالت ورکوی، په دی کی چاته دچون اوچرا

Maktaba Tul Ishaat.com

مجا ل نسته، ددی څخه علاوه که پراصل معامله فکر وسی، نو واضحه به سی، چی عامو انسانانو ته درسالت اونبوت مقصد دبشرپه ذریعه پوره کیدی سی، دملائکو څخه داکار نه سی پوره کیدی. ځکه چی اصلی مقصد درسالت دا دی ، چی دالله ﷻ په کامل اطاعت اوعبادت باندی خلګ قائم سی او دهغه دحکمونو دمخالفت څخه محفوظه سی اودا هلته کیدی سی چی هم ددوی دجنس یوبشر عملی نمونه جوړه سی، دوی ته وښیی چی دبشری تقاضاوو اوخواهشونو سره هم دالله ﷻ داحکامو اطاعت اودهغه عبادت جمع کیدی سی، که ملائکو دا دعوت راوړی اوخپل مثا ل یی خلګوته وړاندی کولی، نو دټولو خلګو داعذر به ښکاره وای چی ملائکی خودبشری خواهشاتو څخه پاکی دی، نه ورلره لوږه تنده راځی اونه ورلره خوب راځی اونه ستومانی، نوموږ دهغوی په ډول څنګه جوړ سو ، لیکن کله چی زموږ په ډول زموږ همجنس بشر دټولو بشری خواهشاتو اوخصوصیاتو باوجود دالله ﷻ ددغه احکامو مکمل اطاعت وښیی نو ددوی دپاره هیڅ عذرنه پاته کیږی، دی خبری ته داشاری کولو دپاره فرمایی ، لِيُنذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوا مطلب دا دی چی دچا دبیرولو په وجه چی خلګ وبیریږی داهغه کیدی سی کوم چی د دوی هم جنس او د دوی په ډول بشری دخصوصیاتو جمع کوونکی وی ، دا شبه داکثرو امتونو کافرانو پیش کړه چی یوبشر نبی نه دی کیدل په کار، اوقانون دټولو دغه جواب کړي دی ، افسوس دی چی دقرآن د دومره وضاحتونو باوجودنن هم څه خلګ دنبی کریم ﷺ دبشریت څخه دانکار کولو جرأت کوی، مګر جاهل انسان په دی حقیقت نه پوهیږی هغه دیو خپل هم جنس دبرتری منلوته تیارنه وی، داوجه ده چی دخپلی زمانی داولیاوو اوعالمانو سره دنفرت او سپکاوی سلوك دجاهلانو همیشه کارجوړ سوي دی چی دخپلی زمانی عالم اوولی ته سپك ګوری ، دحضرت نوح علیه السلام دقوم دزړه آزارونکی کلام په جواب کی دحضرت نوح علیه السلام دی مشفقانه اودنصیحت څخه ډکی رویی هم پردی بی حسه قوم څه اثرونه کی، بلکه نورهم ړانده سول اودهغه په دروغ کولو پسی سول نوالله ﷻ په دوی دطوفان عذاب راولیږی ارشاد فرمایی.

فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا عَمِينَ : یعنی دحضرت نوح علیه السلام ظالم قوم دده دنصیحت او خیر خواهی څه پروا ونه کړه اوکلك پردروغو ټینګ ولاړ وه نتیجه یی دا سوه چی موږ حضرت نوح علیه السلام او دهغه ملګری په یوه کښتۍ کی سپاره کړل اودطوفان څخه مو خلاص کړل اوکومو خلګو چی زموږ آیتونه دروغ کول ، هغه موغرق کړل ، بیشکه دا خلګ ړانده وه، دحضرت نوح علیه السلام قصه او دده دقوم غرقیدل اودکښتۍ والاوو دنجات پوره تفصیل به په سورة نوح اوسورة هود کی راسی، دلته دمقام په مناسبت سره یی خلاصه بیان سوه، حضرت زیدبن اسلم فرمایی چی پرقوم دنوح علیه السلام دطوفان عذاب هغه وخت راغی کله چی دوی دخپل ډیروالی اوقوت په اعتبار سره بنه پوره وه ، دعراق ځمکه اوغرونه د دوی دډیروالی په وجه پردوی تنګیدل اوهمیشه دالله ﷻ دا دستور راغلی دی چی نافرمانه خلګو ته صبر کوی ، وخت ورکوی او عذاب هغه وخت رالیږی کله چی دوی دخپل ډیروالی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

قوت او دولت هر ډول انتهاته ورسیږي او په دې کې بدمسته سي (ابن کثیر)
دحضرت نوح ﷺ سره په کښتۍ کې څومره سړي وه ؟ په دې کې روایتونه مختلف دي ابن کثیر په روایت دابن ابي حاتم دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه نقل کړي دي ، چې اتیا سړي وه چې دیوه نوم په کښې جرهم وو ده به عربي ژبه ویله (ابن کثیر)
په ځینو روایتونو کې داتفصیل هم راغلی دی چې داتیاوو په دې شمیر کې څلوېښت سړي او څلوېښت ښځې وې، دطوفان څخه وروسته چې داټول حضرات په موصل کې چې په کوم ځای کې مقیم سول، دهغه کلي نوم ثمانون مشهور سو .
غرض دا دی چې دلته يې دحضرت نوح ﷺ لنډه غونډې قصه بیان کړه یو خویې دا وښووله چې دټولو پخوانیو پیغمبرانو دعوت او اصول دعقیدو یو ډول وو ، دوهم يې داوښوول چې الله ﷻ دخپلو رسولانو تائید او حمایت په څنګه حیرانوونکې طریقه کوي چې دغرونو سرونو ته په ختونکې طوفان کې هم ددوی سلامتی ته څه خطره نه وي، دریمه يې داواضحه کړه چې دانبیاء ﷺ دروغجن کول دالله ﷻ عذاب ته بلنه ورکول دي ، لکه څنګه چې تیر امتونه دپیغمبرانو ددروغ کولو په سبب په عذاب کې ګرفتار سول دنن زماني خلګو ته هم ددې څخه بې بیري کېدل نه دي په کار .

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۗ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ

او دعاد قوم طرف ته مو لیږلی وو د دوی ورور هود ، ویې ویل ای زما قومه ! بندګي کوی دالله نسته څوك تاسی لره معبود دهغه څخه ماسوا ،

أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٦٥﴾ قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي

آیا تاسی نه بیریږي ، وویل سردارانو کوم چې کافران وه دده په قوم کې مونږ وینو تا

سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٦٦﴾ قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي

بې عقله او مونږ په تا دروغجن ګمان کوو ، وویل ای زما قومه ! زه نه یم

سَفَاهَةٌ وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦٧﴾ أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ

بې عقله لیکن زه رالیږل سوی یم دپروردګار دعالم دطرف څخه ، رسوم تاسی ته پیغامونه

رَبِّي وَأَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ ﴿٦٨﴾ أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَاءَكُمْ ذِكْرٌ

دخپل رب او زه ستاسی خیرخواه یم امانت داري سره ، آیا تاسی تعجب کوي چې راغی تاسی ته نصیحت

Maktaba Tul Ishaat.com

مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ ۗ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ

ستاسی درب دطرف څخه دیو سړی په ژبه چی ستاسی څخه دی چی تاسی وبیروی ، اویاد کړی کله چی

جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنْ بَعْدِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّزَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ

یی تاسی سرداران کراست ورروسته دقوم دنوح څخه او زیات یی کی ستاسی دبدن غتوالی ،

بَصْۜطَةً ۚ فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ اللّٰهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۶۹﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا

نو یاد کړی دالله احسان چی تاسی دپاره بنه شی ، ویی ویل آیا ته په دی

لِنَعْبُدَ اللّٰهَ وَحْدَهٗ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا ۚ فَاْتِنَا بِمَا

وجه موږ ته راغلی چی موږ بندگی وکړو دیو الله اوپریږدو هغه دکومو چی عبادت کوی زموږ پلار نیکه نوته

تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۷۰﴾ قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُمْ

راوړه موږ ته دکوم شی څخه چی ته موږ بیروی که ته رښتینی یی ، ویی ویل په تاسی واقع سوی دی

مِّنْ رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَّغَضَبٌ ۗ اَتُجَادِلُوْنَنِيْ فِيْٓ اَسْمَآءٍ

درب ستاسی څخه عذاب اوغصه ، ولی جګړه کوی زما سره په هغه نومونو کی

سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّا نَزَّلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ۗ

چی ایښی دی تاسی او ستاسی پلار نیکه ، نه دی نازل کړی الله په دی باندی څه سند ،

فَانْتَظِرُوْٓا اِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿۷۱﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ وَالَّذِيْنَ

نو انتظار کوی زه هم تاسی سره دانتظار کوونکو څخه یم ، بیا موږ وساتی دی او څوک چی

مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَمَا كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۷۲﴾

دده سره وو په خپل رحمت سره او بیخ مو پریکړی دهغو کومو چی دروغجن کول زموږ ایتونه او نه یی منل

لنډتفسیر: اوموږ دعاد قوم طرف ته ددوی (دبرادری یاوطن) ورور (حضرت) هود (علیه السلام) پیغمبر جوړ کړی
ولیږی ده (خپل قوم ته) وفرمایل ای زما قومه! تاسی (یوازی) دالله عبادت کوی دهغه څخه ماسوا ستاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

بل معبود (قابل دعبادت) نسته (اوبت پرستی پریږدی لکه چی مخ ته د: وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا څخه چی
معلومیږی) پس آیا تاسی (داسی لوی جرم یعنی شرك کوی، دالله ﷻ دعذاب څخه) نه بیریږی دده په قوم
کی چی کم مخور کافران خلگ وه، هغوی (په جواب کی) وویل چی مونږخو تا په کم عقلی کی (مبتلا
وینو (چی دتوحید تعلیم ورکوی اودعذاب څخه بیرول کوی) اوبیشکه مونږتا په درواغ جنانو خلگوکی
گڼو (یعنی نعوذ بالله نه خو توحید صحیح مسئله ده اونه دعذاب راتلل صحیح دی) ده وفرمایل چی ای
زما قومه! په ماکی ذره هم کم عقلی نسته لیکن (کله چی) زه دپروردګار عالم راليږل سوی پیغمبر یم (هغه
ماته دتوحید دتعلیم اودعذاب څخه دبیرولو حکم کړي دی، په دی وجه خپل منصبی کارکوم چی) تاسی
ته دخپل پروردګار پیغام (او احکام) رسوم او زه ستاسی خیر خواه امانت داریم (څکه چی په توحید
اوایمان کی ستاسی نفع ده) او (تاسی چی کم زما دبشروالی په وجه زما دنبوت څخه انکار کوی، لکه
چی په سورة ابراهیم کی وروسته ترذکر دقوم دنوح اوعاد اوثمود دی ، قَالُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا اوپه
سورة فصلت کی وروسته ترذکر دعاد اوثمود دی: قَالُوْا لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً الخ نو) آیا تاسی ددی خبری
څخه تعجب کوی چی ستاسی دپروردګار دطرف څخه تاسی ته دیوداسی سړی په معرفت چی ستاسی
دجنس څخه (بشر) دی څه دنصیحت خبره راغله (دغه دنصیحت خبره هغه ده چی کومه ذکرسوه ، يٰقَوْمِ
اعْبُدُوا اللّٰهَ تر، اَفَلَا تَتَّقُوْنَ پوری) ددی دپاره چی دغه سړی تاسی (دالله دعذاب څخه) وبیروی (یعنی
داخو څه دتعجب خبره نه ده آیا بشروالی اونبوت څه لیری دی دیوبل څخه لوړ په ، اَفَلَا تَتَّقُوْنَ کی بیرول
وو اوس مخ ته ترغیب دی) او (ای قومه) تاسی هغه حالت دریادکی (اویاد کی احسان ومنئ اوطاعت
کوئ) چی الله ﷻ تاسی دنوح ترقوم وروسته (پرمخ دمځکی باندی) آباد کړل اوپه شکل اوصورت کی یی
تاسی ته غتوالی (هم) زیات درکی پس دخدای ﷻ ددی نعمتونو یاد وکی (احسان ومنی او اطاعت کوی)
چی تاسی (هرډول) فلاح پیداکی، دغه خلګو وویل چی آیا (بنه نو) ته مونږته په دی وجه راغلی چی مونږ
یوازی دالله عبادت وکو او دکومو (بتانو) چی زمونږ پلار نیکه عبادت کوی مونږ هغوی (یعنی دهغوی
عبادت) پریږدو (یعنی مونږبه داسی ونه کو) اومونږته چی (په نه منلو) دکم عذاب بیره راکوی (لکه چی د:
اَفَلَا تَتَّقُوْنَ څخه معلومیږی) دغه (عذاب) مونږته راوغواړه که ته رښتینی یی، ده وفرمایل چی (ستاسی
دسرکښی چی کله داحالت دی نو) بس اوس پرتاسی دخدای دطرف څخه عذاب اوغضب راتلل دی (پس
په عذاب کی دشبهی جواب خوبه هغه وخت معلوم سی، اوپاته سوه هغه شبهه کومه چی ستاسی په
توحید کی ده چی دی بتانو نه معبودان وایاست دکمونوم چی تاسی معبود اینبی دی لیکن په واقع کی
ددوی دمعبود کیدو هیڅ دلیل نسته نو) آیا تاسی زما سره دداسی (بی حقیقته) نومونو په باره کی جګړه
کوی (یعنی دغه اینبوول سوی نومونه پرمنزله دخینو هغه نومونو دی) کوم چی تاسی اوستاسی پلار
اونیکه (دځانه) مقرر کړیدی (لیکن) ددوی دمعبودوالی خدای ﷻ څه دلیل (عقلی یانقلی) نه دی راليږلی
(یعنی په جګړه کی دمدعی پرذمه دلیل دی اودمقابل ددلیل جواب هم، پس تاسی نه دلیل قائمولی سی،

Maktaba Tul Ishaat.com

نه زما د دليل جواب راکولی سی بيا دجگړې معنی څه ده؟ پس تاسی (اوس جگړه ختمه کی اوداﷲ ﷻ دعذاب) منتظر اوسی، زه هم ستاسی سره انتظارکوونکی یم، غرض (داچې عذاب راغی او) مونږدی اودده ملګری (يعنی مومنان) په خپل رحمت (اوکرم) سره (ددی عذاب څخه) محفوظ کړل اوددغه خلکو بيخ موپری کی (يعنی بالکل موهلاك کړل) چاچی زمونږ آيتونه دروغ کړی وه او دوی (په وجه ددیری کم بختی) ايمان راوړونکی نه وه (يعنی که هلاك سوی نه وای بياهم دوی ايمان نه راوړی په دی وجه مونږ ددغه وخت دحکمت دمقتضا مطابق ددوی خاتمه وکړه)

معلومات اومسئلي

(دعاد اوثمود لنډ تاريخ)

عاد په اصل کی ديوسړی نوم دی چی دحضرت نوح ﷺ څخه په پنځم نسل اودده دزوی سام په نسل کی دی، بيا ددی سړی اولاد اوپوره قوم دعاد په نوم سره مشهور سو، په قرآن کريم کی دعاد سره کله لفظ دعادِ أُولى اوکله اِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ هم راغلی دی، ددی څخه معلوميږی چی دعادقوم ته اِرَمْ هم ويل کيږی اودعادِ أُولى په مقابله کی يوځوك عادِ ثانيه هم دی، ددی په تحقيق کی دتفسير ليکونکو اوتاريخ ليکونکو خبری مختلفی دی، زياته مشهوره داده چی دعاد دنيکه نوم اِرم دی، دده ديوه زوی يعنی دعوص په اولادکی عاد دی ده ته عادِ أُولى وايی، اودبل زوی دجثو زوی ثمود دی، ده ته عاد ثانيه وايی، ددی تحقيق خلاصه داده چی عاد اوثمود دواړه دارِم دوه ښاخونه دی، يوښاخ ته عادِ أُولى اودوهم ته ثمود ياعادِ ثانيه هم وايی اولفظ دارِم، عاد اوثمود دواړو لره شامل دی، اوځينی تفسير ليکونکی فرمايی چی دعاد پرقوم باندی چی څه وخت عذاب راغی نو ددوی يو وفد مکی معظمی ته تللی وو، هغه دعذاب څخه محفوظ پاته سو، چی ورته عادِ ثانی وايی (بيان القرآن)

اوحضرت هود ﷺ ديو نبی نوم دی ، دی هم دحضرت نوح ﷺ په ، پنځم نسل دسام په اولادکی دی، دعاد دقوم اودحضرت هود ﷺ نسب نامه په څلورم پښت کی په سام کی جمع کيږی ، په دی وجه هود ﷺ دعاد نسبی وررور دی په دی وجه يی ، أَخَاهُمْ هُودًا فرمايلی دی (چی دی يی نسبی وررور دی)

دعاد دقوم ديارلس ۱۳ خاندانونه وه ، دعمان څخه واخله ترحضرموت اويمنه پوری ددوی کلی وو، ددوی مځکی ډيری سرسبزه اوشادابی وی، هرقسم باغونه په کښی وه ، داوسيدو دپاره به يی لوی لوی ښايسته محلونه جوړول ډير جگ غټ اوقوی بدنو والا خلگ يی وه ، په ذکر سوو آيتونوکی دو زَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ بَصْطَةً هم دا مطلب دی ، داﷲ ﷻ ددنيا دټولو نعمتونو دروازی پردوی خلاصی وی، مگر ددوی غلط فهمی دغه نعمتونه ددوی دپاره وبالِ جان جوړ کړل ، دخپل قوت اوشوکت په نشه کی بدمسته سول، د ، مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً دول دغول يی شروع کړل، اورب الْعٰلَمِين دچا دنعمتونو باران چی پردوی کيدی هغه يی پريښوی اوپه بت پرستی کی اخته سول .

(دحضرت هود ﷺ نسب نامه او ځيني حالات)

اﷲ ﷻ د دوی دهدايت دپاره حضرت هود ﷺ پيغمبر جوړ کی اوراويی ليږی ، کوم چی په خپله د دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

دخاندان څخه وو، اوابو البرکات جواني چې دعربو په نسبونو کې ډیرماهر مشهور دی ، لیکلي دي چې دحضرت هود ﷺ زوی یعرب بن قطحان دی چې یمن ته ولاړی اوآباد سو اویمني قومونه دده دنسل څخه دی اودعربي ژبې ابتداء ددوی څخه سویده او دیعرب په مناسبت سره دژبې نوم عربي او ویونکو ته یې عرب وویل سوه (بحرِ محیط)

مګر صحیح دا ده چې عربي ژبه دحضرت نوح ﷺ دزماني څخه جاري وه، دحضرت نوح ﷺ دکښتۍ یو ملګری جُرهم وو چې عربي ژبه یې ویله (بحرِ محیط) اودا جُرهم دی دکومو څخه چې دمکې معظمې آبادي شروع سوه ، البته داکیدی سی چې په یمن کې دعربي ژبې ابتداء دیعرب بن قحطان څخه سوې وي اودابو البرکات دتحقیق دا مطلب وي، حضرت هود . چې دعاد قوم ته دبت پرستۍ پرېښوولو او دتوحید اختیارولو، دظلم اوزیاتي پرېښوولو، دعدل اوانصاف اختیارولو تلقین وفرمایی مګر داخلک دخپل دولت اوقوت په نشه کې بدمست وه، خبره یې ونه منله نوپه نتیجه کې یې اول عذاب په دوی کې خودا راغی چې تردری کاله پوری مسلسل باران بند سو، ددوی مځکې وچې ریګستاني صحراګاني جوړې سوې، باغونه وچ سول، مګرپه دې باندې هم داخلک دشرك اوبت پرستۍ څخه راونه ګرځیدل، نو اته ورځې او اووه شپې پردوی باندې سخت قسم دسیلۍ عذاب مسلط سو چې په دې سره ددوی پاته باغونه اومحلونه دمځکې سره هوار سول، ددوی سړي اوحیوان به په هوا کې الوتل اوبیابه سرچپه لاندې راولویدل، دغه ډول دعاد داقوم پوره په پوره هلاك سو، په ذکر سوو آیتونوکې چې ارشاد دی: وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا یعنې مونږ ددروغ کوونکو نسل پریکی، ددې مطلب ځیني حضراتو دامقرر کړي دي چې دغه وخت کوم خلګ موجود وه، هغوی ټول فنا سول اوځیني حضراتو ددې لفظ دامعنی مقرره کړي ده چې دآئنده دپاره هم دعاد دقوم نسل الله ﷻ قطع کی.

دحضرت هود ﷺ دخبرې نه منلو اوپه کفر اوشرك کې پرمبتلا پاته کیدو باندې چې کله دده پرقوم عذاب راغی نوحضرت هود ﷺ او دده ملګروپه یوه خطیره (پناه ځای) کې پناه واخیسته ، دا عجیبه خبره وه چې په دې طوفاني هوا لوی لوی محلونه نړیدل، مګردې ګیرځای (پناه ځای) ته چې به کله هوا راتله نوډیره نرمه به سوه، دحضرت هود ﷺ ټول ملګری عین دعذاب دنازلیدو په وخت کې هم دلته ښه مطمئن ناست وه، دوی ته هیڅ قسم تکلف پیښ نه سو، دقوم ترهلاکیدو وروسته مکې معظمې ته دوی منتقل سول ، (بحر محیط)

دعاد دقوم عذاب دهوا دطوفان په صورت کې په قرآن مجید کې ښه صراحةً ذکر دی اوپه سورة مومنون کې دحضرت نوح ﷺ دقصې ترذکر کولو وروسته چې کم ارشاد دی ، ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ یعنې بیا مونږ تردوی وروسته یوبل جماعت پیدا کی، ظاهره داده چې ددې جماعت څخه مراد دعاد قوم دی، بیا ددې جماعت دکارونو اوخبرو تربیانولو وروسته ارشاد فرمایی ، فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ یعنې ونیول دوی یوسخت آواز، دقرآن ددې ارشاد پربنا باندې ځیني تفسیر لیکونکی حضرات فرمایی چې دعاد پرقوم

Maktaba Tul Ishaat.com

باندی دسخت قسم هیبت ناك آواز عذاب مسلط سوی وو، مګرپه دی دواړو خبروکی څه تعارض نسته کیدی سی چی سخت آواز هم سوی وی او ذهوا طوفان هم.

دالنده واقعه ده دعاد دقوم او دحضرت هود ﷺ، ددی تفصیل په قرآنی الفاظوکی دادی، په اولنی آیت کی، وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا تَتَّقُونَ یعنی مونږ دعاد قوم طرف ته ددوی ورور حضرت هود ﷺ دهدایت دپاره ولیږی نوده وفرمایل، ای زما قومه! تاسی یوازی دالله ﷻ عبادت کړی دهغه څخه ماسوا بل څوك ستاسی معبود نسته آیا تاسی نه بیریږی ؟ دعاد دقوم څخه مخکی دحضرت نوح ﷺ دقوم لوی عذاب لا تر اوسه دخلګو دذهنونو څخه ورك سوی نه وو، په دی وجه حضرت هود ﷺ ته دعذاب دسختوالی اولوی والی بیانولو ضرورت نه وو، یوازی دومره فرمایل یی کافی وګڼل چی آیا تاسی دالله ﷻ دعذاب څخه نه بیریږی، په دوهم آیت کی دی، قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ یعنی دقوم سردارانو وویل چی مونږ خوتا په ناپوهی کی مبتلا وینو او زمونږ ګمان دادی چی ته ددروغ ویونکو څخه یی.

داتقریبًا داسی جګړه ده کومه چی دحضرت نوح ﷺ قوم دده سره کړی وه، یوازی دځینو الفاظو فرق دی، په دریم اوڅلورم آیت کی ددی جواب هم تقریبًا په هغه انداز سره دی، لکه چی حضرت نوح. ورکړی وو یعنی داچی په ماکی بی وقوفی هیڅ نسته، خبره یوازی دومره ده چی زه درب العٰلمین دطرف څخه رسول اوپیغمبر جوړ سوی راغلی یم، دهغه پیغامونه تاسی ته رسوم اوزه په واضح طور سره ستاسی خیرخواه یم په دی وجه ستاسی دپلار نیکه په جهالتونو اوغلطیوکی ستاسی سره دملګری کیدو پرځای زه ستاسی دطبیعتونو څخه خلاف حقه خبره تاسی ته رسوم کومه چی تاسی بده ګڼی، په پنځم آیت کی دعاد دقوم هغه اعتراض ذکر سوي دی کوم چی تردوی مخکی قوم دحضرت نوح ﷺ پیش کړی وو چی مونږ یو څوك دځان په ډول بشر اوانسان څنګه خپل مشر اوپیشوا ومنو، که یو ملائکه وای نوممکنه وه چی مونږ منلی وای، ددی جواب هم قرآن کریم هغه ذکرکی کوم چی حضرت نوح ﷺ ورکړی ووچی داڅه دتعجب خبره نه ده چی یوانسان دالله رسول اونبی جوړسی او خلګوته دبیرولو دپاره راسی، ځکه چی په حقیقت کی دانسان دپوهولو دپاره دانسان پیغمبر کیدل زیات اثرناك کیدی سی.

تردی وروسته هغه انعامونه ورته رایادوی کوم چی الله ﷻ په دی قوم باندی فرمایلی دی، ارشاد فرمایی وَاذْكُرُوا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ مِن بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ وَزَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ بَسْطَةً فَاذْكُرُوا آلَاءَ اللَّهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ یعنی داخبره یاده کی چی الله ﷻ تاسی دنوح ﷺ ترقوم وروسته دمځکی مالکان اوتصرف کوونکی جوړ کړاست اوپه شکل اوصورت کی یی تاسی ته غټ والی هم زیات درکی دهغه دا نعمتونه یادکی نوستاسی دپاره به ښه سی، مګردی سرکښه اوبد مسته قوم یوه خبره هم ونه منله اوهغه جواب یی ورکی کوم چی په عام طورسره ګمراه خلګ ورکوی، چی آیاته داغواړی چی زمونږ دپلار نیکه مذهب په مونږ پاته کی اوټول دیوتاګان پریږدو مونږ یوازی دیو خدای منونکی سو، داخوبه زمونږ څخه ونه سی، ته چی دکوم عذاب بیره مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

نه راکوی هغه عذاب راوغواړه که ته رښتینی یې؟ په شپږم آیت کې حضرت هود ﷺ جواب ورکی چی کله ستاسی دسرکښی اوبی هوښی داحالت دی نواوس پرتاسی دخدای ن غضب او عذاب راتلونکی دی تاسی هم انتظار کوی اومونږ هم اوس دهغه انتظار کوو، دقوم پردی قهر ورروستونکی جواب باندی دعذاب راتلو خبر خوبی ورکی، لیکن پیغمبرانه شفقت او محبت اونصیحت بیاهم مجبوره کی چی ددی کلام په دوران کی یی داهم وفرمایل چی افسوس دی تاسی اوستاسی پلرونو اونیکونو بی عقله اوبی روحه شیان خپل معبودان جوړ کړل دکوموچی په معبود کیدو باندی نه څه عقلی دلیل سته نه نقلی، اوبیا تاسی د دوی په عبادت کی داسی پاخه سوی یاست چی د دوی په حمایت کی زما سره جګړه کوی.

په آخری آیت کی ارشاد فرمایی چی دحضرت هود ﷺ دټول کوشش اودعاد دقوم دسرکښی آخری انجام داسو چی مونږ حضرت هود ﷺ اوهغه خلګ کومو چی پرده ایمان راوړی وو، دعذاب څخه محفوظ کړل او د دروغجن کوونکو ریښه مو پریکړه اودغه ایمان راوړونکی نه وه.

په دی قصه کی دغافلو انسانانو دپاره دخدای دیادولو اوپه اطاعت کی داخته کیدلو هدایت اودخلاف ورزی کوونکو دپاره اسباب دعبرت اودتبلیغ کوونکو او اصلاح کوونکو دپاره دپیغمبرانه طریقی دتبلیغ او داصلاح تعلیم دی.

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا ۗ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ

اوثمودیانو ته مولیږلی وو د دوی ورور صالح، ویی ویل ای زما قومه ابندګی کوی دالله

مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ هَٰذِهِۦ

نسته تاسی لره معبود دهغه څخه ماسوا، تاسی ته راغلی دی دلیل ستاسی درب دطرف څخه، دا

نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمْ ءَايَةً ۖ فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِىٓ أَرْضِ ٱللَّهِ ۖ وَلَا تَمَسُّوهَا

اوښه دالله ده ستاسی دپاره نښانه، نو دا پریږدی چی خوری دالله په مځکه کی اودی ته لاس مه وروړی

بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ

په بدنیت بیا به تاسی ونیسی عذاب دردناک، اویاد کړی کله چی یی تاسی سرداران کړاست

مِنۢ بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا

دعادیانو څخه وروسته اوځای یی درکی تاسی لره په مځکه کی چی جوړوی په نرمه مځکه کی

قُصُوۡرًا وَّتَنۡحِتُوۡنَ الۡجِبَالَ بُيُوۡتًا ۚ فَاذۡكُرُوۡۤا اٰلَآءَ اللّٰهِ وَلَا تَعۡثَوۡا

محلونه اوتراشی په غرونو کی کورونه ، نو یاد کړی احسان دالله اومه خپروی

فِى الۡاَرۡضِ مُفۡسِدِيۡنَ ﴿٧٤﴾ قَالَ الۡمَلَاُ الَّذِيۡنَ اسۡتَكۡبَرُوۡا مِنۡ

په مځکه فساد ، وویل سردارانو کوم چی متکبران وه دده

قَوۡمِهٖ لِلَّذِيۡنَ اسۡتُضۡعِفُوۡا لِمَنۡ اٰمَنَ مِنۡهُمۡ اَتَعۡلَمُوۡنَ

په قوم کی غریبو خلقو ته کوم چی په دوی کی ایمان یی راوړی وو آیاتاسی یقین کوی چی

اَنَّ صٰلِحًا مُّرۡسَلٌ مِّنۡ رَّبِّهٖ ؕ قَالُوۡۤا اِنَّا بِمَاۤ اُرۡسِلَ بِهٖ مُؤۡمِنُوۡنَ ﴿٧٥﴾

صالح رالیږلی دی دده رب ، وبی ویل چی مونږ خو په هغه چی دی پر رالیږل سوی دی یقین کوو

قَالَ الَّذِيۡنَ اسۡتَكۡبَرُوۡۤا اِنَّا بِالَّذِىۡۤ اٰمَنۡتُمۡ بِهٖ كٰفِرُوۡنَ ﴿٧٦﴾

وویل هغو خلقو چی متکبران وه په کومو چی ستاسی یقین دی مونږ هغه نه منو .

لنډتفسیر: اومونږ قوم دثمود ته ددوی ورور صالح (ﷺ) پیغمبر جوړکی) ومو لیږی ده (خپل قوم ته) وفرمایل ای زما قومه! تاسی (یوازی) دالله ﷻ عبادت کوی دهغه څخه ماسوا بل څوك ستاسی (قابل دعبادت) معبود نسته (نودوی دیوی خاصی معجزی درخواست وکی چی که ددی ډبری څخه یوه اوښه پیداسی نومونږ به ایمان راوړو ، لکه چی ددوی په دعا سره داسی وسوه چی هغه ډبره وچاوده اودمینځ څخه یی یوه اوښه راووته (رواه محمدبن اسحٰق) دوی ته یی وفرمایل چی) تاسی ته ستاسی دپروردګار دطرفه یو واضح دلیل (زما پررسالت) راغلی دی (مخ ته ددی بیان دی) دا اوښه ده دالله ﷻ چی ستاسی دپاره دلیل (جوړ سو ظاهر) دی (اوځکه ورته دالله ﷻ اوښه وایی چی دالله ﷻ دلیل دی) نو (علاوه ددی چی زما پررسالت دلیل دی په خپله ددی هم څه حقونه دی چی په هغوکی یودا دی چی) داپرېږدی چی دالله ﷻ په مځکه کی (واښه) خوری ګرځی (دغه ډول دخپل واره په ورځ اوبه چیښی لکه چی په بل آیت کی دی) اودی ته په بده (اوپه تکلیف رسولو) سره لاس مه وروړی چی تاسی به دردناك عذاب ونیسی او (ای قومه!) تاسی داحالت یادکی (او احسان ومنی اواطاعت کوی) چی الله ﷻ تاسی تر (قوم د) عاد وروسته (پرمخ دمځکی) آباد کړاست اوتاسی ته یی پرمځکه داوسیدو (دزړه دخوښی) ځای درکی چی په نرمه مځکه (هم لوی لوی) محلونه جوړوی اوپه غرونو کی په تراشلو سره په دی کی (هم) کورونه جوړ وی ، نو دخدای ﷻ (دا) نعمتونه (اونور نعمتونه هم) یاد کی (او دکفر اوشرك په ذریعه) په مځکه کی فساد مه

Maktaba Tul Ishaat.com

خپروی (یعنی ایمان راوړی مگر سره ددومره پوهولو، څه غریبانو ایمان راوړی او د دوی دسردارانو په مینځ کی دا خبری وسوی یعنی) دده په قوم کی چی کوم متکبران سرداران وه هغوغریبو خلکو ته وویل کوموچی په دوی کی ایمان راوړی وو، پوښتنه یی وکړه چی آیا ستاسی په دی خبره یقین دی چی صالح (ﷺ) دخپل رب دطرف څخه (پیغمبر جوړ سوی) رالیږل سوی دی، دوی (په جواب کی) وویل چی بیشکه مونږ خوپه دی (حکم) باندی پوره یقین لرو کوم چی ده ته ورکول سوی اورا لیږل سوی دی دغو متکبرو خلکو وویل چی تاسی په کوم شی یقین راوړی دی مونږ دهغه څخه منکر یو.

معلومات اومسئلي: په دی آیتونوکی دحضرت صالح ﷺ اودهغه دقوم ثمود دحالاتو ذکردی چی تردی مخکی دقوم دنوح اودقوم دهود ﷺ ذکر راغلی دی اودسورة اعراف ترآخره پوری هم دتیرو پیغمبرانو اوددوی دقومونو حالات دانبیاوو دحق پر دعوت باندی ددوی دکفر او انکار دبد انجام بیان دی.

دذکر سوو آیتونوپه اولنی آیت کی ارشاد فرمایی ، وَاِلٰی ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ددی څخه اول دعاد دقوم په بیان کی ذکر سوی وه چی عاد اوثمود دیونیکه په اولادکی ددوو سړیانو نومونه دی، د دوی اولاد هم ددوی په نومونو سره یادسو، دوه قومونه جوړ سول، یوقوم ته عاد اوبل ته ثمود وایی دعربوپه شمال مغرب کی اوسیدل او ددوی دلوی ښار نوم حِجر وو چی اوس ورته په عام طور سره مدائنِ صالح ویل کیږی، دعادیانوپه ډول ثمودیان هم دولت مند، قوی اوبهادرقوم اوپه سنګ تراشی او دعمارتونو په فن کی ماهران وه، په ډاګه مخکه دلویو لویو محلونو دجوړولو څخه علاوه، غرونه به یی کیندل اوپه دی کی به یی قسم قسم عمارتونه جوړول، په ارض القرآن کی مولانا سید سلیمان صاحب لیکلی دی چی ددوی تعمیری یادګارونه تراوسه پوری باقی دی، پردوی باندی په ارمی اوثمودی خط کی کتابتونه نقش دی، ددنیا ددولت اوثروت نتیجه په عام طور سره داوی چی داسی خلګ دخدای اوآخرت څخه غافله سی، پرغلطو لارو باندی روان سی دثمودیانو هم داحال سو، حال دادی چی تردوی مخکی دحضرت نوح ﷺ دقوم دعذاب واقعه تراوسه پوری په دنیاکی موجوده وه اوبیا ددوی دورور قوم عادیانو واقعه دهلاکت خو تازه وه، مگر ددولت اوقوت دنشی خاصه داده چی اوس دیو سړی بنیادونه نړیږی اوبل پرد‌غه ډیری دخاورو خپله آبادی کوی اوداول دغه واقعات هیروی، دعادیانو دتباهی اوهلاکت څخه وروسته دثمود قوم ددوی دمکانونو اومځکو وارثان سول اوپر دغو ځایونو یی خپل دعشرت ځایونه آباد کړل، پرکومو چی ددوی ورونه تباه سوی وه اوخاص هم هغه کارونه اوعملونه یی شروع کړل، کوم چی عادیانو کړی وه، دخدای اوآخرت څخه غافله سول په شرک اوبت پرستی کی ولګیدل، الله ﷻ دخپل روان عادت مطابق دوی ته دهدایت کولو دپاره حضرت صالح ﷺ پیغمبر جوړ کی او را ویی لیږی ، حضرت صالح ﷺ دنسب اووطن په لحاظ سره دثمودیانو دقوم یو فرد وو، ځکه چی دی هم دسام په اولاد کی وو، په دی وجه په قرآن کریم کی یی ده ته دثمودیانو ورور فرمایلی دی: اَخَاهُمْ صٰلِحًا، صالح. چی خپل قوم ته کوم دعوت ورکی ، هغه هم هغه دعوت دی کوم چی دحضرت آدم

Maktaba Tul Ishaat.com

علیه السلام څخه واخله تردي وخته پوري ټولو انبیاو علیهم السلام ورکړي دی ، لکه چی په قرآن کریم کی دی ، وَلَقَدْ
بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ یعنی مونږ په هر امت کی یو رسول ولیږی چی هغه خلګوته
داهدایت وکی چی دالله ﷻ عبادت کوی اودبت پرستی څخه ځان ساتی، دعامو تیرو پیغمبرانو په ډول
حضرت صالح . هم قوم ته دا وفرمایل: چی الله ﷻ خپل رب اوخالق اومالك وګڼی، دهغه څخه ماسوا
هیڅوك دمعبود جوړولو قابل نسته ، وبی فرمایل ، يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ددی سره یی
داهم وفرمایل: قَدْ جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ یعنی اوس خویوه ښکاره نښانه هم ستاسی درب دطرف څخه
تاسی ته رارسیدلی ده، ددی نښانی څخه مراد یوه عجیبه اونا اشنا اوښه ده چی ددی اجمالی ذکرپه دی
آیت کی هم دی، اودقرآن کریم په مختلفو سورتونو کی ددی زیات تفصیلات ذکردی، واقعه ددی اوښی
داوه چی حضرت صالح علیه السلام دخپلی ځوانی دزمانی څخه خپل قوم ته دتوحید دعوت ورکول شروع کړل
اوبرابر په دی کی اخته وو، تردی چی دزوړوالی نښانی یی شروع سوی ، چی دحضرت صالح علیه السلام دبار
بار اصرار څخه تنګ سول نوقوم دا خبره مقرره کړه چی دده څخه ځه داسی مطالبه وکی چی دی یی پوره
کولی نه سی اومونږ دده په مخالفت کی رښا مخی سو، مطالبه یی داوکړه چی که ته واقعی دالله ﷻ رسول
یی نو زمونږ دفلانی غر څخه چی نوم یی تبه دی ، دده دننه څخه یوه داسی اوښه راوباسه چی دلسو
میاشتو بلاربه وی اوقوی اوتندرسته وی ، حضرت صالح علیه السلام اول ددوی څخه وعده واخیسته چی که زه
ستاسی دامطالبه پوره کم نوتاسی به ټول په ما اوزما په دعوت ایمان راوړی ؟ کله چی ټولو معاهده
وکړه، نوحضرت صالح علیه السلام دوه رکعته لمونځ وکی ، دالله ﷻ څخه یی دعا وغوښته چی ستا دپاره هیڅ
کار ګران نه دی ، ددوی دامطالبه پوره کی، ددعا کولوسره سم په غره کی حرکت پیداسو اوددغه غره
یوه غټه تړه وچاوده ددی څخه یوه اوښه هم دغسی راووته لکه څنګه چی ددوی مطالبه کړی وه .
دحضرت صالح علیه السلام دانښکاره حیرانونکی معجزه چی یی ولیده نوپه دوی کی ځه خلګ خومسلمانان سول
اوپاته ټول قوم هم اراده وکړه چی ایمان راوړی، مګر دقوم یوڅو سردارانو کوم چی دبتانو خاص شوقیان
اودبت پرستی امامان وه ، داخلګ وغولول او دایمان راوړلو څخه یی منع کړل، حضرت صالح علیه السلام چی
وکتل چی قوم وعده ماته کړه اوبیره پیداسوه چی پردوی به ځه عذاب راسی نو دپیغمبرانه شفقت پرښنا
باندی یی دوی ته دانصیحت وفرمایی، چی ددی اوښی حفاظت کوی، دی ته ځه تکلیف ونه رسوی،
نوشاید چی تاسی دعذاب څخه محفوظ سی، که نه نو فوراً به پرتاسی عذاب راسی، دامضمون دذکر
سوی آیت په دی جملو کی ارشاد سوي دی ، هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ
عَذَابٌ اَلِيْمٌ : یعنی دا اوښه ده دالله ﷻ چی ستاسی دپاره دلیل دی نو دا پریږدی چی دالله ﷻ په مځکه کی
خوری اوګرځی اوپه بده سره دی ته لاس مه وروړی که نی تاسی به دردناك عذاب ونیسی ، دی اوښی ته
دالله ﷻ اوښه ځکه وویل سوه چی دالله ﷻ دکامل قدرت ددلیل اودحضرت صالح علیه السلام دمعجزی په
طورسره په حیرانونکی طریقه سره پیداسوه ، لکه چی حضرت عیسی علیه السلام ته یی روح الله فرمایلی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دهغه پیدائش هم په معجزانه انداز سره سوی وو، په: تَاكُلْ فِيْ أَرْضِ اللهِ کې اشاره ده دې طرف ته چې ددې اوښې په خوراك اوڅښاك کې ستاسې دملکیت اوستاسې دکور څخه هیڅ نه څي، مځکه دالله ده ددې دپیداوار پیداکوونکی هغه دی، دهغه اوښه دهغه په مځکه کې آزاده پرېږدې چې په عامو څرځایونو کې خوراك کوي.

ثمودیانو چې به دکوم ځاه څخه اوبه څښلې، دهغه څخه به دې اوښې هم اوبه څښلې، مګردې عجیب الخلقة اوښې چې به کله اوبه څښلې، نودټول ځاه اوبه به يې ختمولې، حضرت صالح عليه السلام دالله پاك په اجازت سره دافیصله کړې وه، چې یوه ورځ به دا اوښه اوبه څښي اوپه بله ورځ به دقوم ټول خلګ اوبه څښي اوورې به يې، او په کومه ورځ چې دا اوښه اوبه وڅښي نو نورو ته به داوبو پرځای داوښې شیدې په دومره مقدارکې ورکول کیدې چې دوی به ورڅخه خپل ټول لوښي ډك کړل، په قرآن کې بل ځای ددې تقسیم ذکر داسې راغلی دی، وَنَبِّئْهُمْ اَنَّ الْمَاۤءَ قِسْمَةٌۢ بَيْنَهُمْ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ يعنې ای صالح عليه السلام! ته خپل قوم خبرکه چې دځاه اوبه ددوی اودالله داوښې په مینځ کې به تقسیم وي یوه ورځ به داوښې وي اوبله ورځ به دټول قوم وي اوپر دی تقسیم به دالله دطرف څخه دملائکو نګراني وي چې څوك به يې خلاف نه سې کولی او په یو بل آیت کې دی، هٰذِهٖ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَّلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ یعنې دا دالله اوښه ده یوه ورځ داوبو حق ددې دی اود دوهمې ورځې اوبه ستاسې دپاره معین اومقرري دي.

په دوهم آیت کې ددې وعده هیروونکې سرکښه قوم دخیرخواهی او ددوی دالله جل جلاله دعذاب څخه دمحفوظ کولو دپاره بیا دوی ته دالله جل جلاله انعامونه اواحسانونه وریادوي چې اوس خودې داخلګ دخپلې سرکښي څخه راوګرځي، فرمايي، وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاۤءَ مِنْۢ بَعْدِ عَادٍ وَّبَوَّاَكُمْ فِي الْاَرْضِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْ سُهُوْلِهَا قُصُوْرًا وَّتَنْحِتُوْنَ الْجِبَالَ بُيُوْتًا په دې کې: خُلَفَاۤءَ دخلیفه جمع ده، چې معنی يې ده قائم مقام اونائب، او قُصُوْر دقصر جمع ده اولوړ عالي شان محل اوآبادی ته ویل کیږي، تَنْحِتُوْنَ دنحت څخه مشتق دی چې معنی يې ده سنګ تراشي یعنې دډبرې تراشل، جِبَال: دجبل جمع ده معنی يې ده غر، بُيُوْتًا: دبیت جمع ده چې دکور کمرې ته ویل کیږي، معنی دا ده چې دالله جل جلاله دا نعمت یادکې چې هغه عادیان هلاك کړل، دهغوی پرځای يې تاسې آباد کړاست، دهغوی مځکې اومکانونه يې ستاسې په قبضه کې درکړل اوتاسې ته يې داکاریګري وښووله چې پرداګه مځکه لوی لوی محلونه جوړوي اوغرونه تراشي او په هغوی کې کمرې اومکانونه جوړوي، په آخر آیت کې فرمايي: فَاذْكُرُوْٓا اٰلَاۤءَ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ یعنې دالله جل جلاله نعمتونه یادکې اودهغه احسان ومنې دهغه اطاعت اختیارکې اوپه مځکه کې فسادخپروونکې مه ګرځي

حکمونه اومسئلې: دذکر سوو آیتونو څخه څواصولي اوفروعي مسئلې معلومې سوې، ۱، اول، دا چې دعقیدو په اصولوکې ټول انبیاء عليهم السلام متفق دي او د دوی شریعتونه یو دی، دټولو دعوت دتوحید دی او دالله جل جلاله عبادت کول او دهغه په خلاف کولو باندې ددنیا اوآخرت دعذاب څخه بیرول دی، ۲، دوهم: دا چې په ټولو تیرو امتونو کې داسې سویده چې دقومونو لویو دولت مندو اومغرورو خلګو ددوی

Maktaba Tul Ishaat.com

دعوت نه دي قبول کړې او ددي په نتيجه کې په دنيا کې هم هلاك او برباد سوي دي او په آخرت کې هم دعذاب مستحق سول، ۳،دريم: په تفسيرِ قرطبي کې دي چې ددي آيت څخه معلومه سوه چې دالله ﷻ نعمتونه په دنياکې کافرانو ته هم ورکيدی سی لکه چې دعاد په قوم او ثمود باندې الله ﷻ ددولت اوقوت دروازې خلاصې وې، ۴،څلورم: په تفسيرِ قرطبي کې ليکلي دي چې ددي آيت څخه معلومه سوه چې لوی لوی محلونه اوعالي شان مکانونه جوړول هم دالله ﷻ نعمت دی او ددي جوړول جائز دي ، دابله خبره ده چې دالله ﷻ پيغمبرانو او اولياوُ دانه دي خوښ کړې څکه چې دا شيان دانسان په غفلت کې اچوونکي دي ، دنبي کريم ﷺ څخه چې دلوړو مکانونو (کورونو) په باره کې کوم روايتونه نقل دي هغه ددي اندازه نه دي .

په دريم اوڅلورم آيت کې هغه خبرې اترې اومباحثه ذکر ده کومه چې ثموديانو ددوو ډلو په مينځ کې سوي ده ، يوه هغه ډله چې پرحضرت صالح ؑ يې ايمان راوړی وو، دوهمه دمنکرانو او کفارو ډله.

ارشاد فرمايي: قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِن قَوْمِهِ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِمَنْ آمَنَ مِنْهُمْ : يعني وويل دصالح ؑ په قوم کې هغو خلکو کومو چې تکبر وکی ، هغو خلکوته کوم چې سپك او ذليل ګڼل کيدل يعني کوموچې ايمان راوړی وو، امام رازي رحمه الله په تفسيرِ کبير کې فرمايي چې دلته ددي دواړو ډلو دوه صفتونه قرآن کريم وښوول، مګر دکفارو صفت يې په صيغه دمعروف سره وښووی ، اِسْتَكْبَرُوا او دمومنانو صفت يې په صيغه دمجهول سره وښووی: اُسْتُضْعِفُوا په دي کې اشاره ليدل کيږي چې دکفارو دا حال چې دوی تکبر کوی دا د دوی خپل فعل وو چې قابل دمؤاخذې او دملامتيا اوانجام يې موجب دعذاب سو او دمومنانو چې کوم وصف دي خلکو بيانوی چې دوی ذليل حقير اوضعيف دي، دا دکفارو وينا ده په خپله دمؤمنانو واقعي حا ل او وصف نه دی چې پردوی څه ملامتي راسی، بلکه ملامتيا په هغوخلکو باندې ده چې بې وجهي يې دوی ته سپك او ذليل ويل اوګڼل يې، مخکې هغه مکالمه (محاوره) چې د دواړو ډلو په مينځ کې وسوه، داده چې کفارو مومنانو ته وويل چې آيا تاسې واقعي په دي باندې پوه ياست چې حضرت صالح ؑ دخپل رب دطرف څخه راليږل سوی دی ؟ مؤمنانو جواب ورکی چې کوم هدايت ده ته دالله ﷻ دطرف څخه ورکول سوي دی اوده راوړی دی، پردی ټول مونږ يقين او ايمان لرو.

په تفسيرِ کشاف کې دي چې دثمود دقوم مومنانو څنګه بليغ جواب ورکړي دي چې تاسې په کوم بحث کې پراته ياست چې دارسول دی اوکه نه دی داخبره دسره دبحث قابله نه ده، بلکه داخو بديهي اويقيني ده، اودا هم يقيني ده چې دی څه فرمايي، دغه دالله ﷻ دطرف څخه راواړل سوي پيغام دی ، خبره هر څه کيدی سی خودا چې څوك پرده ايمان راوړی اوڅوك نه ؟ نو مونږ خو الحمد لله دده په راوړو ټولو هدايتونو باندې ايمان لرو، مګر ددوی پر دي بليغ جواب باندې هم قوم هغه دسرکښی خبره وکړه چې په کوم شي تاسې ايمان راوړی، مونږ دهغه څخه منکر يو ، ددنيا دمحبت دولت اوقوت دنشي څخه دی الله ﷻ امان راکي چې دغه دانسان پر سترګو پردې جوړې سي اوبيا دي دبديهي يعني واضح اوښکاره

Maktaba Tul Ishaat.com

شیانو څخه هم انکار کوی.

فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوْا يٰصٰلِحُ ائْتِنَا

بیا دوی پریکړه اوښی او واپس سول دخپل رب دحکم څخه اوویی ویل ای صالحه! راوله

بِمَا تَعِدُنَا اِنْ كُنْتَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۷۷﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ

په مونږ دکوم څخه چی تا مونږ بیرولو که ته رسول یی . نو ونیول دوی زلزلی

فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿۷۸﴾ فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰقَوْمِ

بیا سحرته سو دوی په خپلو کورونو کی نسکور پراته ، بیا صالح واپس سو د دوی څخه اوویی ویل ای زما قومه!

لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّيْ وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُحِبُّوْنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿۷۹﴾

ما ورسوی تاسی ته پیغام دخپل رب اوخیرخواهی می وکړه ستاسی لیکن تاسی محبت نه کوی دخیرخواهانو سره.

تفسیر: غرض (داچی نه یی په صالح ﷺ ایمان راوړی اونه یی داوښی حقونه ادا کړل، بلکه) دغه اوښه یی (هم) مړه کړه اودخپل پروردګار دحکم منلو څخه یی (هم) انکار وکی (دغه حکم عقیده دتوحید اورسالت وو) او (پردی سربیره یی دابی باکی وکړه چی) ویی ویل چی ای صالحه! دکم (عذاب) څخه چی ته مونږته بیره راکوی هغه راوغواړه که ته پیغمبر یی (ځکه چی دپیغمبر صادق کیدل لازم دی) پس ونیول دوی زلزلی، پس په خپلو کورونو کی نسکور پراته پاته سول دغه وخت صالح (ﷺ) دده څخه مخ واړوی، روان سو او (په طور دافسوس یی فرضی خطاب وکی) ویی فرمایل، چی ای زما قومه! ماخو تاسی ته دخپل پروردګار حکم رسولی وو (چی په هغه عمل کول دفلاح سبب وو) اوما ستاسی (ډیره) خیرخواهی وکړه (چی څومره په شفقت می تاسی پوه کړاست) لیکن (افسوس خودادی چی) تاسی خلګو (خپل) خیر خواهان نه خوښول (په دی وجه تاسی یوه وانه وریده او آخر بده ورځ مو ولیده)

معلومات اومسئلې: په تیرو آیتونوکی راغلی دی چی دحضرت صالح ﷺ په دعا سره دغره غټه تږه وچاوده اویوه عجیبه اونا آشنا اوښه ورڅخه پیدا سوه اوالله ﷻ دا اوښه هم ددی قوم دپاره آخری امتحان داسی جوړ کړی وو، چی دکوم څاه څخه دټول کلی خلګو اوددوی حیوانانو اوبه چښلی، دی به دغه ټولی اوبه چښلی، په دی وجه حضرت صالح ﷺ ددوی دپاره وار مقرر کړی وو، چی یوه ورځ به دا اوښه اوبه چښی اوبله ورځ دکلی خلګ ثمودیان ددی اوښه په وجه په یو تکلیف کی ګیر وه اوغوښتل یی چی په یو ډول سره دا اوښه هلاکه سی، خوپه خپله دداسی کولو څخه بیریدل چی دالله عذاب به راسی، دشیطان ترټولو لوی هغه فریب په کوم کی چی انسان مبتلا سی نوخپل عقل اوهوش ورڅخه ولاړ سی، هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

دښخو فتنه ده، دقوم دوو ښائستو او خوبصورته ښځو داشرط ولګوی، چی کم سړی دا اوښه قتل کړی نوپه مونږ او زمونږ په لونړکی چی کمه یوه هغه غواړی دهغه به وی.
دقوم دوه ځوانان مِصدَعٗ اوقذار په دی نشه کی مست سول ددی اوښی دقتلولو دپاره ووتل او داوښی په لاره کی تربوی تړی لاندی پټ کښېنستل کله چی اوښه مخ ته راغله نومصدع ورباندی دغشی ګزار وکی اوقذار ورځخه په توره پښی پری کړی اوقتل یی کړه، قرآن کریم دوی دثمودیانو ترټولو لوی بد بخته اوسخت زړی ګڼلی دی: اِذِ انۡبَعَثَ اَشۡقَاهَا ځکه چی ددوی په سبب ټول قوم په عذاب کی ګیر سو.
حضرت صالح ﷺ ته چی داوښی دقتل واقعه معلومه سوه، نوقوم ته یی دځدای په حکم سره وښوول چی اوس ستاسی دژوند یوازی دری ورځی باقی دی و تَمَتَّعُوۡا فِيۡ دَارِكُمۡ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ ذٰلِكَ وَعۡدٌ غَيۡرُ مَكۡذُوۡبٍ : یعنی دری ورځی نوری په خپلو کورونو کی آرام وکی (تردی وروسته عذاب راتلونکی دی) اوداوعده رښتینی ده په دی کی دخلاف څه امکان نسته، مګر دکم قوم چی وخت خراب راځی، پردوی باندی هیڅ نصیحت اوپوهول اثرنه کوی دحضرت صالح ﷺ په دی ارشادباندی هم دی بدبخت قوم مسخری اوخنداګانی کولی او ویل یی چی داعذاب به څنګه او دکوم ځای څخه راځی اونښانه به یی څه وی ؟ حضرت صالح ﷺ وفرمایل چی نښانه یی هم واوری، صبا دپنج شنبی په ورځ به ستاسی دټولو مخونه سخت ژړ سی، سړی ښځی، کوچنیان، بوډاګان هیڅوك به ددی څخه مستثنٰی نه وی، بیابه په بله ورځ دجمعی دټولو مخونه سخت سره سی اوپه بله ورځ دهفتی به دټولو مخونه سخت تورسی، اودا ورځ به ستاسی دژوند آخری ورځ وی، بد نصیبه قوم چی دا واوریدل نوپر ځای ددی چی دتوبی او استغفار طرف ته متوجه سوی وی ، دا فیصله یی وکړه چی حضرت صالح ﷺ دی قتل کړل سی ، ځکه چی که دی رښتینی وی اوپرمونږ باندی عذاب راځی نومونږ دی ترځان مخکی ولی نه ختموو اوکه دروغ وی نودخپلو دروغو سزابه ورته ورکول سی دقوم ددی ارادی ذکرپه قرآن شریف کی بل ځای په تفصیل سره ذکردی، دقوم ددی متفقه فیصلی ترمخی څه خلک دشپی دحضرت صالح ﷺ کورته دده دقتل په اراده ولاړل، مګر الله ﷻ په لاره کی پردوی کانی واورول او هلاك یی کړل و وَمَكَرُوۡا مَكۡرًا وَّمَكَرۡنَا مَكۡرًا وَّهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ یعنی دوی هم یو پټ تدبیر وکی اومونږ هم یو داسی تدبیر وکی چی دوی ددی څخه خبرنه سول، اوکله چی دپنج شنبی دورځی سهار سو نودحضرت صالح ﷺ دوینا مطابق دټولو مخونه داسی ژړ سول لکه تیز ژړ رنګ چی چا ورپوری مښلی وی، دعذاب داولنی نښی تررښتیا کیدو وروسته هم دظالمانو دی طرف ته توجه ونه سوه چی په الله ﷻ یی ایمان راوړی وای او دخپلو غلطیو څخه راګرځیدلی وای، بلکه قهر اوغصه یی پرحضرت صالح ﷺ باندی نوره زیاته سوه اوټول قوم دده دقتل په فکرکی روان سول، الله ﷻ دی مونږ دخپل قهر څخه محفوظ کی ددی هم نښانی وی چی زړونه اودماغ سرچپه سی نفع نقصان او نقصان نفع، ښه بد اوبد ښه ګڼل شروع سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

آخر دوهمه ورځ راغله نو دپیش ګویی مطابق دټولو مخونه سره سول، اوپه دریمه ورځ سخت تور سول، اوس خودوی ټول دخپل ژوند څخه نا اُمیده سول او انتظار یې شروع کی چې عذاب به دکوم طرف څخه څنګه راځي ، په دی حالت کی دمځکی څخه یوه سخته زلزله راغله په یوه یلا به ناست ناست نسکور پرېوتل اومړه سول، دزلزلی ذکر خوپه دی لوړو آیتونوکی موجود دی: فَاَخَذَتۡهُمُ الرَّجۡفَةُ درجفة معنی ده زلزله، اوپه نورو آیتونوکی ، اَخَذَتۡهُمُ الصَّیۡحَةُ هم راغلی دی، دصیحة معنی ده چیغه اوسخت آواز، ددواړو آیتونو څخه معلومه سوه چې دا دواړه قسمه عذاب پردوی جمع سوي وو ، دمځکی څخه زلزله او دلوړی څخه صیحه یعنی چیغه، ددی نتیجه داسوه چې: فَاَصۡبَحُوۡا فِیۡ دَارِهِمۡ جٰثِمِیۡنَ، جٰثمین دجثوم څخه مشتق دی چې معنی یې ده بې حسه اوحرکت کیدل، په یوځای کی پرېوتل یا کښېنستل (قاموس) معنی یې داده چې څوك په کم حال کی وو هم پرهغه ځای پاته سو، نَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنۡ قَهۡرِهٖ وَعَذَابِهٖ (یا الله ﷻ! مونږ دخپل قهر او عذاب څخه په آمان کی)

دثمودیانو ددی قصی مهم اجزاء خوپه خپله دقرآن شریف په مختلفو سورتونو کې ذکردی اوڅه اجزاء یې دحدیثوپه روایتونوکی ذکردی څه هغه هم دی کم چې تفسیر لیکونکو داسرائیلی روایتونو څخه را ایستلی دی، مګر پردی باندی دڅه واقعی اوحقیقت دثبوت مدار نسته، دصحیح بخاری په یوحدیث کی دی چې دتبوك دغزا په سفرکی دنبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو ﷺ تیریدل دحِجر پرمقام باندی وسوه کوم ځای چې پرثمودیانو عذاب راغلی وو نوده صحابه کرامو ﷺ ته هدایت وفرمایی چې دی عذاب وهلی مځکی ته څوك دننه مه ورځی اومه ددی دڅاه اوبه استعمالوی (مظهری)

اوپه څینو روایتونو کی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې پر ثمودیانو چې کله عذاب راغی نوپه دوی کی بغیر دیو سړی ابو رغال څخه څوك نه دی محفوظ سوی، داسړی دغه وخت دمکی حرم ته رسیدلی وو ، الله ﷻ دمکی دحرم داحترام په سبب دغه وخت دی دعذاب څخه محفوظ کی اوآخر چې کله دی دحرم څخه ووتی نوهغه عذاب چې دده پرقوم باندی راغلی وو ، پرده هم راغی او هلته هلاك سو، نبی کریم ﷺ خلګوته دمکی څخه دباندی دابو رغال دقبر نښانه هم وښووله اودایی هم وفرمایل چې دده سره دسروزرو یوه همسا (لکړه) هم دفن سوي ده صحابه کرامو ﷺ قبر وکیندی نو دسروزرو همسا یی پیدا کړه ، هغه یی را وایستله، په دی روایت کی داهم دی چې دطائف اوسیدونکی بنو ثقیف ددغه ابو رغال اولاد دی (مظهری)

ددی عذاب سوو قومونو کلی الله ﷻ دراتلونکو نسلونو دپاره دعبرت نښانی پریښی دی اوقرآن کریم دعربو خلګ بار بار په دی خبر کړیدی چې ستاسی دشام دسفر پرلاره باندی داځایونه نن هم دعبرت قصی جوړی سوی دی: لَمۡ تُسۡكَنۡ مِّنۡۢ بَعۡدِهِمۡ اِلَّا قَلِیۡلًا۔

دحضرت صالح ﷺ دقوم دعذاب په واقعه کی په آخرکی ارشاد دی .

فَتَوَلّٰی عَنۡهُمۡ وَقَالَ یٰقَوۡمِ لَقَدۡ اَبۡلَغۡتُكُمۡ رِسَالَةَ رَبِّیۡ وَنَصَحۡتُ لَكُمۡ وَلٰكِنۡ لَّا تُحِبُّوۡنَ النّٰصِحِیۡنَ : یعنی دعذاب نازلیدو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

وروسته حضرت صالح ﷺ او پرده ایمان راوړونکی مومنانوهم داخای پرېښوودی ، یوبل ځای ته ولاړل، په ځینو روایتونوکی دی چی دحضرت صالح ﷺ سره څلور زره مومنان وه ، داټول دیمن علاقی حضرموت ته ولاړل اوهلته حضرت صالح ﷺ وفات سو او دځینو روایتونو څخه ددوی مکی مکرمی ته تلل اوهلته دحضرت صالح ﷺ وفات کیدل معلومیږی ، دعبارت دظاهر څخه معلومیږی چی حضرت صالح ﷺ دتللو په وخت کی خپل قوم ته خطاب وکی اوویی فرمایل چی ای زما قومه! ما تاسی ته دخپل رب پیغام ورسوی اوستاسی خیر خواهی می وکړه ، مگر افسوس چی تاسی خیر خواهان نه خوښوی.
دلته داسوال پیداکیږی چی کله ټول قوم په عذاب هلاك سو نودوی ته دخطاب کولو څه فائده ده ؟ جواب دا دی چی یوه فائده خوداده چی دخلکو دپاره عبرت سی اودا خطاب داسی دی لکه نبی کریم ﷺ چی دبدرپه غزاکی دقریشو مړوته خطاب کړی وو اوځه کلمی یی فرمایلی وی اودا هم ممکنه ده چی دحضرت صالح ﷺ دا فرمایل ترعذاب نازلیدو اوهلاکت څخه مخکی سوی وی، که څه هم په بیان کی وروسته ذکر سوی دی.

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم

اولیږلی مو وو لوط هرکله چی وویل ده قوم خپل ته آیاتاسی کوی داسی بی حیایی چی تاسی څخه مخکی ده کړی

بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً

دا هیچا په جهان کی ، تاسی راځی سړوته په شهوت سره .

مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾ وَمَا كَانَ جَوَابَ

ښځی پاته کوی ، بلکه تاسی خلق یاست دحد څخه تیریدونکی ، اوهیڅ جواب ورنه کی دده

قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ

قوم مگر دا یی وویل چی ،باسی دوی دخپل ښار څخه داخلق دیر پاك

يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٨٣﴾

وسیدل غواړی بیا وساتل مونږ دغه او دده کور والا، مگر دده ښځه چی پاته سوه ددغه ځای په وسیدونکو کی

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٨٤﴾

او ووروی مونږ په دوی باران یعنی دکتو بیاوگوره چی ځنگه سو انجام دگناهگارانو ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

تفسیر: اومونږ لوط (عليه السلام) دیوخو کلو طرف ته پیغمبر جوړکړی) ولیږی، کله چی دوی خپل قوم (یعنی خپل امت) ته وفرمایل آیا تاسی داسی فحش کار کوی کوم چی ترتاسی مخکی هیچا په جهان والاوو کی نه دی کړی (یعنی) تاسی دنارینه وو سره شهوت رانی کوی ښځی پاته کوی (اوپه دی کارکی څه داسی نه ده چی ګواکی تاسی دوکه سوی یاست) بلکه (په دی باره کی) تاسی ترحد (دسړیتوب) تیرسوی یاست او (ددی مضامینو) دده دقوم څخه څه (معقول) جواب جوړ نه سو بغیر ددی څخه چی (آخرپی دعبث ګویی په سبب) یوبل ته وویل چی داخلک (یعنی حضرت لوط عليه السلام اودده ملګری چی مومنان دی) تاسی دخپل (دی) کلی څخه وباسی (ځکه چی) داخلک ډیر پاك صاف جوړیدل غواړی (اومونږ ته ګنده وایی، بیاپه ګنده وو کی دپاکو څه کار دی ؟ داخبره دوی په مسخره سره کړی وه) پس (کله چی دی حدته نوبت ورسیدی نو) مونږ (پردی قوم عذاب نازل کی او) لوط (عليه السلام) اودده سره تعلق لرونکی مو (یعنی دده کور والا اونور ایمانداران هم ددی عذاب څخه) محفوظ کړل (داسی چی ددغه ځای څخه ورته دوتلو مخکی حکم وسو) بغیر دده دښځی څخه چی هغه (په وجه دایمان نه راوړلو) په دغه خلګوکی پاته سوه کوم چی په عذاب کی پاته سوی وه او (دغه عذاب کم چی پردوی نازل سو داوو چی) مونږ پردوی باندی یونوی قسم باران واوروی (چی دغه دکانو باران وو) پس (ای لیدونکیه) وګوره چی ددی مجرمانو انجام څنګه سو (که ته په فکر سره وګوری نو تعجب به وکی او پوه به سی چی دنافرمانی څه انجام وی)

معلومات اومسئلي: دانبیاوو عليهم السلام او د دوی دامتونو دقصوکومه سلسله چی دلوړی څخه راروانه ده دهغه څلورمه قصه دحضرت لوط عليه السلام ده، حضرت لوط عليه السلام دحضرت خلیل الله ابراهیم عليه السلام ورارہ دی د دواړو اصلی وطن په مغربی عراق کی بصری ته نژدی دبابل په نوم سره مشهور وو، په دی کی دبت پرستی عام رواج وو، دخلیل الله ﷺ کورنی په خپله په بت پرستی کی اخته وه، الله ﷻ د دوی دهدایت دپاره حضرت ابراهیم عليه السلام پیغمبر جوړ کی او ویی لیږی، قوم یی مخالفت وکی چی ددی نوبت دنمرود اورته ورسیدی، په خپله ورته پلار دکوره څخه دایستلو خطره (بیره) ورکړه، په خپل کور کی یی یوازی بی بی محترمه حضرت ساره رضي الله عنها او وراره حضرت لوط عليه السلام مسلمانان سوی وه ، فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ آخر دا دواړه یی دځان سره کړل، دخپل وطن څخه یی شام طرف ته هجرت وفرمایی، داردن نهرته تررسیدو وروسته دالله ﷻ په حکم باندی حضرت ابراهیم عليه السلام دکنعان علاقی ته ولاړی اومقیم سو، کوم چی بیت المقدس ته نژدی دی ، اوحضرت لوط عليه السلام ته هم الله ﷻ نبوت ورکی ، دبیت المقدس ددرمیانی مقام سدوم خلګوته یی دهدایت دپاره ولیږی، داعلاقه پرپنځو غټو ښو ښارونو باندی مشتمله وه، چی نومونه یی سدوم، عموره، ادمه، صبوبیم او بالع یا صوغر وو، ددی مجموعه قرآن کریم د: موتفکة او: مُؤتفکات په الفاظوسره څو ځایه بیان کړیده، سدوم ددی ښارونو دار الحکومت اومرکز ګڼل کیدی حضرت لوط ﷺ دلته قیام وفرمایی ، مځکه سرسبزه اوشادابه وه، هرقسم غلی اومیوی په کښی ډیری وی (دا تاریخی تفصیلات په بحرِ محیط، مظهری، ابن کثیر، المنار اونورو کی ذکر دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

دانسان عام عادتونه قرآن کریم بیان کړي دي و كَلَّآ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَيَطْغٰى ۝ اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰى، یعنی انسان په سرکښی کولو شروع سی، کله چی دی ووینی چی دی دچا محتاج نه دی، پردی خلګوهم الله ﷻ دخپلو نعمتونو دروازی خلاصی کړی وی ، دعام انسانی عادت ترمخی ددولت اومالداری په نشه کی اخته سوی دعیش او عشرت، هوا اوهوس هغه غاړی ته رسیدلی وه، چی دانسانی غیرت اوحیا اودبنه اوبد فطری تمیز هم ورڅخه ورك سوی وو، په داسی غیر فطری بی باکیو کی اخته سوی وه ، کوم چی دحراموالی اوګناه څخه علاوه دفطرت سلیمه دپاره داسی دنفرت اومرداری کاردی چی عام حیوانان ورته هم نه نژدی کیږی.

الله ﷻ حضرت لوط ﷺ د دوی دهدایت دپاره مامور کی، ده خپل قوم ته خطاب وکی اوویی فرمایل ، اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ اَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ یعنی په طور دخبردار کولو یی وفرمایل آیا تاسی داسی فحش کار کوی کوم چی ترتاسی مخکی په ټول جهان کی هیچا نه دی کړی ؟ دزناپه باره کی خوقرآن کریم: اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً بغیر دالف لام څخه ذکر کړیدی اودلته یی دالف لام سره: اَلْفَاحِشَةَ وفرمایل اودی طرف ته یی اشاره وکړه چی دا دفطرت څخه خلاف بدکاری ګواکی دټولو فاحشونو مجموعه اوتر زنا زیات سخت جرم دی، بیایی دا وفرمایل چی دابد کاری ترتاسی مخکی په ټول جهان کی هیچا نه ده کړی، عمروبن دینار فرمایی چی تردی قوم مخکی په دنیاکی هیڅکله داسی حرکت نه دی لیدل سوی (مظهری) اونه تر اهلِ سدوم مخکی تربیکاره لا بیکاره یوه انسان ذهن دی طرف ته تللی وو، اموی خلیفه عبد الملك به وویل چی که دقوم لوط قصه په قرآن کریم کی نه وای ذکرسوی نوما به هیڅکله ګمان نه وای کړی چی یوانسان هم داسی کارکولی سی (ابن کثیر)

په دی کی یی د دوی پربی حیایی باندی په دوه حیثیته سره خبرداری ورکړیدی، اول خودا چی په ډیرو ګناهونوکی انسان دخپل ماحول یادخپلو مشرانو دتقلید په وجه اخته کیدی سی، که څه هم دغه هم څه شرعی عذر نه دی، خوعرفًا ده ته په څه ناڅه درجه کی معذور ویل کیږی ، مګر داسی ګناه کمه چی دمخکی څخه چانه وی کړی اونه ددی دپاره څه خاص غوښتنه وي یعنی حاجت وی دغه نورهم زیات تاوان دی، دوهم په دی حیثیت سره چی کوم بدکار یابد رسم، کم سړی ایجاد کوی، پرده ددی خپل کار ګناه اوعذاب خووی اوددی سره دهغو ټولو خلګو عذاب او وبال هم دده پرګردن باندی وی کوم چی ترقیامته پوری ددغه کار څخه متاثره کیږی او اخته کیږی په کښی، په دوهم آیت کی یی ددوی دابی حیایی په زیاتو واضحو الفاظو کی داسی بیان کړه چی ، تاسی ښځی پریږدی ، دنارینه وو سره شهوت رانی کوی ، په دی کی یی اشاره وکړه چی دانسان دطبعی اوفطری خواهش دپوره کولو دپاره الله ﷻ یوه حلاله او جائزه طریقه دښځو سره دنکاح کولو مقرر کړي ده ، دا پریښوول اوغیرِ فطری طریقه اختیارول دنفس دخباثت او ذهنی ګندګی ثبوت دی.

په دی وجه صحابه وو ﷺ اوتابعینو اومجتهدینو امامانو رحمهم الله داجرم ترعامی بدکاری زیات سخت جرم اوګناه ګڼلی ده، امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله فرمایی داسی کار کوونکی ته داسی سزا ورکول په کار دی،

Maktaba Tul Ishaat.com

لکه څنګه چې دحضرت لوط ﷺ قوم ته دالله ﷻ دطرف څخه ورکول سویده چې دآسمان څخه کاڼي پر راوریدل اومځکه پر نسکوره سوه، نوپه دې وجه دې داسې سړي دیولوړ غره څخه راواچول سي او سربیره دې کاڼي پر واورول سي ، په مسند احمد ، ابوداود ، ترمذي، ابن ماجه کې په روایت دابن عباس ﷺ ذکر دي ، چې نبي کريم ﷺ دداسې کار کوونکو په باره کې فرمایلي دي ، فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ به يعني ددې کار کوونکي فاعل اومفعول دواړه قتلوى (ابن کثير)

دآيت په آخرکې فرمايي بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ يعني تاسې داسې قوم ياست چې دانسانيت ترحدوتلي ياست يعني ستاسې اصل مرض دادی چې تاسې په هرکار کې دهغه تر حد وزئ، دجنسي خواهش په باره کې هم داسې وسوه چې دخداي ﷻ ترمقررکړې حد ووتلاست او دفطرت څخه په خلاف کارکې اخته سواست

په دريم آيت کې دحضرت لوط ﷺ دنصحيت په جواب کې دده دقوم جواب داسې ذکر سوی دی چې ددې خلګو څخه څه معقول جواب خو جوړ نسوپه ضدکې راغلل يوبل ته يې وويل چې داخلګ ډير دپاکي اوصفايي دعوه کوي ددوی علاج دادی چې دوی دخپلې کلي څخه وباسو، په دريم اوڅلورم آيتونوکې دسدوم دقوم پردې بې حيايي اوبې باکي باندې دآسماني سزا ذکر دی، اودا چې پردې ټول قوم باندې دالله ﷻ عذاب نازل سو يوازې حضرت لوط ﷺ اودده يوڅو ملګري دعذاب څخه محفوظ پاته سوه، دقرآن کريم په الفاظوکې ، فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ راغلي دي يعني مونږ حضرت لوط ﷺ او دده اهل ته دعذاب څخه نجات ورکې .

دا اهل کوم خلګ وه؟ دځينو تفسير ليکونکو حضراتو وېناده چې په اهل کې دوی انجلې وې کومې چې مسلماناني سوي وې ، ښځه يې نه وه مسلمانه سوې، دقرآن مجيد په يوبل آيت کې: فَمَا وَجَدْنَا فِيْهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ ذکردی چې په دغه ټولو کلوکې ماسوا ديوه کور څخه څوک مسلمان نه وو، ددې څخه په ظاهره دا معلوميږي چې يوازې دحضرت لوط . دکور خلګ مسلمانان وه، کمو ته چې دعذاب څخه نجات ورکول سو، خوپه دې کې يې ښځه داخله نه وه، اوځيني تفسير ليکونکي فرمايي چې داهل څخه مراد عام دی خپل کور والا اونورمتعلقين کم چې مسلمانان سوي وه، لنډه دا ده چې په شمير يو څو تنه مسلمانان وه، دکومو چې الله ﷻ دعذاب څخه دمحفوظ کيدلو دپاره حضرت لوط ﷺ ته حکم ورکې چې دښځې څخه ماسوا نور اهل اومتعلقين روان کړه اودشپې په آخرکې ددې کلي څخه ووزې اوشاته به نه ګوري، څکه چې کوم وخت تاسې ددې کلي څخه ووزې نوپر دې کلي باندې به فوراً عذاب راځي، حضرت لوط ﷺ دخپل رب حکم ومنی اوخپل اهل او متعلقين يې دشپې په آخره کې دسدوم کلي څخه وايستل، دښځې متعلق يې دوه روايتونه دي، يو دا دی چې هغه ورسره نه ده وتلې، دوهم داچې ترڅه ځايه پورې ولاړه ، مګر دالله ﷻ دحکم خلاف يې شاته وکتل چې دکلي دخلګو حال ووينې، نو عذاب راونيوله ، دقرآن مجيد په مختلفو ځايونو کې يې دا واقعه کله مجمله اوکله په تفصيل سره بيان کړي ده دلته په دريم آيت کې يوازې دومره ذکر دی چې مونږ حضرت لوط ﷺ او دده اهل اومتعلقينو ته دعذاب

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه نجات ورکی، مګر دده ښځه په عذاب کی پاته سوه، دنجات ورکولو داصورت وو چی داخلک دی په آخر دشپه کی دکلی څخه ووزی اوپه شاپسی دی نه ګوری، په نورو آیتونو کی ذکردی .
په څلورم آیت کی پردی قوم دنازلیدونکی عذاب په لنډو لفظونوکی یوازی دومره ذکر سوی دی، چی پردوی یوعجیبه قسم باران ولیږل سو اوپه سورة هود کی ددی عذاب مفصل کیفیت داسی بیان سوی دی ، فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ مَّنْضُوْدٍ ۙ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ بِبَعِيْدٍ، یعنی کله چی زمونږ عذاب راغی نوکی مونږ لاندی باندی او واورولی مونږ پردوی ډبری دڅرط کانو کټ پر کټ نښانه سوی ستا درب سره اونه دی دغه کلی ددی ظالمانو څخه لیری .
ددی څخه معلومه سوه چی دلوړی څخه دکانو باران هم پر وسو او دلاندی څخه جبرئیل امین دغه ټوله مځکه لوړه کړه، نسکوره یی راواچوله او دکمو ډبرو باران چی پر وسو هغه کټ پرکټ دی، یعنی داسی مسلسل باران پر اوسو چی کټ پرکټ جمع سوی اودا ډبری نښانه سوی وی، څینی تفسیر لیکونکی فرمایی چی پر هره یوه ډبره دهغه سړی نوم لیکلی وو دکوم دهلاکت دپاره چی را اچول سوی وه او دسورة حجرپه آیتونوکی ددی عذاب څخه مخکی دا هم ذکر دی ، فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِيْنَ یعنی ونیول دوی چیغی دلمر ختو په وخت کی .
ددی څخه معلومه سوه چی اول دآسمان څخه سخت آواز دچیغی په صورت کی راغلی دی، بیا تردی وروسته دوهم عذاب راغی، دالفاظو دظاهر څخه دامعلومیږی چی ترچیغی وروسته اول مځکه نسکوره سوي ده ، بیا دزیات ذلت اوسپکاوی دپاره ډبری په اورول سوي دی ، او دا هم ممکنه ده چی اول ډبری پر اورول سوی وی، بیا مځکه نسکوره سوی وی، ځکه چی دقرآن دبیان په طریقه کی داضروری نه ده چی دکوم شی ذکر اول سوی وی، هغه دی واقع سوی هم اول وی، دحضرت لوط . دقوم په هیبتناکو عذابونوکی دمځکی دنسکورولو سزا د دوی دفحش اوبی حیایی دکار سره خاص مناسبت هم لری چی ددوی دچپه ځای څخه کار اخیستل دی .

دسورة هود دآیت په آخرکی قرآن کریم دعربو دزیات خبردار کولو دپاره داهم فرمایی ، وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ بِبَعِيْدٍ یعنی دانسکور سوی کلی ددی ظالمانو څخه څه لیری نه دی، دشام دسفر پرلاره باندی هروخت دا ددوی په مخکی وی، مګر حیرانی داده چی دوی ورڅخه عبرت نه حاصلوی ، اودا نظاره یوازی دقرآن دنزول په وخت کی نه بلکه نن هم موجوده ده، دبیت المقدس او دأردن دنهر په مینځ کی نن هم دغه دمځکی ټکره دبحرِ لوط یابحرِ میت په نوم سره بلل کیږی، ددی مځکه دسطح سمندر څخه ډیره ژوره ده اوددی پربوه خاص حصه باندی ددریاب په صورت کی یوعجیبه قسم اوبه موجودی دی، چی هیڅ جاندار ماهی چنګښه اونور په کښی ژوندی نه سی پاته کیدی ، په دی وجه ده ته مردار دریاب وایی، دی مقام ته سدوم ویل کیږی، نَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ عَذَابِهٖ وَغَضَبِهٖ (یاالله! مونږ دخپل قهر اوغضب څخه په آمان کی)

Maktaba Tul Ishaat.com

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۗ قَالَ يَٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم

اومدین طرف ته مولیږلی وو د دوی ورور شعیب ته ویې ویل ای زماقومه ابندګی کوی دالله نسته تاسی ته

مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ قَدْ جَاءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ فَأَوْفُوا الْكَيْلَ

معبود دهغه څخه ماسوا ، تاسی ته رسیدلی دی دلیل ستاسی درب دطرف څخه نوپوره کړی ناپ

وَالْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ

اوتول اومه کموی خلقوته دهغو شیانو څخه اوخرابی مه غورځوی په مځکه کی

بَعْدَ إِصْلَاحِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَ

ددې داصلاح څخه وروسته ، دا ښه ده ستاسی دپاره که تاسی ایماندار یاست ،

لَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ

اومه کښینی په لارو باندی چی بیروی اوبندوی د الله ﷻ دلاری څخه

اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِهِ وَتَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ وَاذْكُرُوا إِذْ كُنتُمْ قَلِيلًا

هغه کوم چی ایمان راوړی په هغه اولټوی په کی عیب ، اویاد کړی کله چی واست تاسی ډیرلږ

فَكَثَّرَكُمْ ۖ وَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ﴿٨٦﴾ وَإِن كَانَ

بیا یې تاسی زیات کړاست ، او وګوری چی څنګه سو انجام دفساد کوونکو ؟ اوکه په تاسی کی

طَائِفَةٌ مِّنكُمْ آمَنُوا بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ وَطَائِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوا

یوه ډله ایمان راوړی ، په هغه چی زما په لاس رالیږلی سوی دی ، او یوه ډله ایمان رانه وړی

فَاصْبِرُوا حَتَّىٰ يَحْكُمَ اللَّهُ بَيْنَنَا ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ ﴿٨٧﴾

نوصبر کوی ، ترهغه چی الله ﷻ فیصله وکړی په مینځ زمونږ کی اوهغه دټولو څخه ښه فیصله کوونکی دی .

لنډتفسیر: اومونږ دمدین (والاوو) طرف ته ددوی ورور شعیب (علیه السلام) پیغمبر جوړکړی) ولیږی، ده (مدین

Maktaba Tul Ishaat.com

والاوو ته يي) وفرمايل چې زما قومه! تاسې (يوازې) دالله ﷻ عبادت کوئ دهغه څخه ماسوا ستاسې
څوك معبود (دعبادت قابل) نسته تاسې ته ستاسې دپروردګار دطرف څخه (زما پرنبوت باندې) واضح
دليل (چې يومعجزه ده) راغلی دی (کله چې زمانبوت ثابت دی) نو (په شرعي حکمونوکې زما خبره ومنئ
لکه چې زه وايم چې) تاسې ناپ اوتول پوره پوره کوئ اوخلګوته ددوی په شيانوکې نقصان مه کوئ (لکه
چې ستاسې عادت دی) اوپرمخ دمځکې پس تردې چې (په تعليم توحيد اوراتلو دپيغمبرانو او واجيدو
دعدل اوادا کولو دحقونو دپيماني اوتلې سره) ددې اصلاح سوي ده، فساد مه خپروئ (يعنې ددې
حکمونو مخالفت او کفرمه کوئ چې موجب دفساد دی) دا (څه چې زه وايم په دې عمل کول) ستاسې
دپاره (په دنيا اوآخرت دواړوکې) نفع ده که تاسې (زما) تصديق کوئ (چې پردې دليل قائم دی، او
دتصديق سره عمل کوئ، نو په ذکر سوو کارونو کې ددواړو جهانونو نفع ده، په آخرت کې خوظاهره ده
چې نجات به وي اوپه دنياکې په شريعت په عمل کولو سره امن اوانتظام قائم وي اوخاص کرپه ناپ
اوتول کې پوره والي کول دتجارت دترقي سبب دی) اوتاسې پرسړکونو باندې په دې غرض مه کښېنئ
چې په الله ﷻ ايمان راوړونکی (دايمان راوړلو له کبله) بيروي او (دوی) دالله ﷻ دلارې (يعنې ايمان څخه
منع کې اوپه دې (لاره) کې کوږوالی (اوشبهات) تلاښ کوئ (چې بې ځايه اعتراضونه جوړوی اوخلګ
غولوی داخلګ دذکرسوی ګمراهي سره، په دې ګمراهي کې هم اخته وه، چې په سړکونوبه کښيناستل
راتلونکی خلګ به يې لمسول چې په حضرت شعيب ﷺ ايمان مه راوړې کنې مونږبه تاسې مړه کو مځ
ته دنعمت په يادولو سره ترغيب دي اوپه يادولو دبد بختي سره ترهيب دی يعنی) اوهغه حالت يادکې
کله چې تاسې (په شمار ياماں کې) کم واست بيا الله ﷻ تاسې (په شمار يامال کې) زيات کړاست (داخو
ترغيب وو دايمان راوړلو دپاره) او وګورئ چې څنګه بدانجام سو دفساد (يعنی دکفر اودروغ کوونکو
اوظلم) کوونکو (لکه قوم دنوح ﷺ، عاد اوثمود چې تير سويدی، دغه ډول پرتاسې دعذاب راتلو بيره
ده داترهيب يعنی بيرول دی په کفر) اوکه چيرې (تاسې ته دعذاب نه راتلو په دې سره شبهه وي چې) په
تاسې کې ځينو (خو) په دې حکم په کم سره چې زه راليږل سوی يم، ايمان راوړی دی اوځينو ايمان نه دی
راوړی (اوبيا هم دواړې فرقې په يو ډول حالت کې دی داسې نه ده چې پرايمان نه راوړونکو باندې عذاب
راغلی وي، ددې څخه معلوميږي چې ستا دعذاب څخه دابيرول بې معنی دی) نو (ددې شبهې جواب
دادی چې فوراً دعذاب نه راتلو څخه داځنګه معلومه سوه چې عذاب به نه راځي) لږ صبروکې تردې چې
زمونږ (دواړو فرقو) په مينځ کې الله ﷻ عملي فيصله کوونکی دی (يعنې عذاب به نازل کې، مومنانوته
به ورڅخه نجات ورکی او کفاربه په هلاك کې) اوهغه ترټولو فيصله کوونکو ښه دی (چې دهغه فيصله
بالکل مناسبه وي)

معلومات اومسئلې: دانبياء ﷺ قصې دکومو سلسله چې دتيرو آيتونو څخه راروانه ده په دوی کې
پنځمه قصه دحضرت شعيب. اودده دقوم ده کومه چې په ذکر سوو آيتونو کې بيان سوي ده، حضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

شعیب ﷺ دمحمد بن اسحق دروایت مطابق دحضرت ابراهیم ﷺ دزوی مدین په اولادکی دی او دحضرت لوط ﷺ سره هم دقرابت تعلق لری ، مَدْیَنْ دحضرت ابراهیم ﷺ اولاد دی دده نسل او اولاد هم دمدین په نوم سره مشهور سو، اوپه کوم کلی کی چی دوی اوسیدل هغه ته هم مدین وایی، گواکی مدین دیو قوم هم نوم دی اودیو ښارهم، دا ښار نن هم داُردن مشرقی بندرگاه معان ته نژدی موجود دی، په قرآن کریم کی بل ځای دحضرت موسیٰ ﷺ په قصه کی ارشاد دی ، وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ په دی کی هم دغه کلمی مراد دی (ابن کثیر)

حضرت شعیب ﷺ ته دده دښه بیان په وجه سره خطیب الانبیاء ویل کیدی (ابن کثیر، بحرِ محیط)، حضرت شعیب ﷺ چی کم قوم ته لیږل سویدی په قرآن کریم کی یی کله دوی داهل مدین اواصحاب مدین په نوم سره ذکر کړی دی او کله داصحاب ایکه په نوم ، دایکه معنیٰ ځنګل اوصحرا ده .

ځینی تفسیر لیکونکی حضرات فرمایی چی دا دواړه قومونه جلا جلا وه، ددواړو کلی هم جلا وه، حضرت شعیب ﷺ په دوی کی اول یو قوم ته ولیږل سو، ددوی تر هلاکت وروسته بل قوم ته مقرر سو، پردواړو قومونو باندی چی کم عذاب راغلی دی، دهغه الفاظ هم مختلف دی، پراصحاب مدین باندی کله د ، صیحة او کله د ، رجفة عذاب ذکردی اوپر اصحاب ایکه باندی عذاب د: ظُلَّة ذکرسوی دی، دصیحة معنیٰ چیغه اوسخت آوازدی، درجفة معنیٰ زلزله ده اوظله سائبان (سایوان) ته ویل کیږی، پراصحاب ایکه باندی دعذاب داصورت جوړ سوچی اول پرټول کلی سخته گرمی راغله چی ټول قوم ورڅخه په چیغو سو، بیا دوی ته پرنژدی ځنګل باندی یوه توره وریځ راغله چی پردغه ځنګل باندی خپره سوه اویخی هواگانی په کښی وچلیدی چی دایی ولیدل نودټول کلی خلک تردغه وریځی لاندی راجمع سول، دغه ډول دا خدایی مجرمان بغیر دڅه وارنټ (اخطار) او سپاهیانو څخه پر خپلو پښو راغلل او دخپل دهلاکت په ځای کی جمع سول، کله چی ټول راغونډ سول نو دوریځی څخه ورباندی اور را واوریدی اوپر مځکه هم زلزله راغله چی داټول په هلاك سول، اوځینی تفسیر لیکونکی حضرات فرمایی چی اصحابِ مدین او اصحاب ایکه دیوقوم نوم دی اودعذاب کوم دری قسمونه چی اوس ذکر سول ، دری سره په دی قوم جمع سوی دی ، اول دوریځی څخه اور واوریدی بیا سخت آواز راغی اوبیا زلزله راغله، ابنِ کثیر دا اختیار کړي دی..

پرهرحال دا دواړه قومونه جلا جلا وی اوکه دیوقوم دوه نومونه وی، حضرت شعیب ﷺ چی کوم دحق پیغام دوی ته ورکی ، هغه په اول اودوهم آیتونوکی ذکر دی، ددی پیغام ترتفسیر مخکی په دی پوه سی چی اسلام کوم چی دټولو پیغمبرانو علیهم السلام شریك دعوت دی ، ددی خلاصه دحقونو ادا کول دی ، بیا حقونه په دوه قسمه دی، یوسیده په سیده دالله ﷻ حقونه دی چی ددی په کولو یاپاته کولو پوری دانسانانو څه معتد به نفع او نقصان متعلق نه دی، لکه عبادتونه ؛ لمونځ روژه او نور، دوهم دبندګانو حقونه دی، چی تعلق یی دانسانانو سره دی اودا قوم ددی دواړو حقونو څخه بی خبره اوددواړو خلاف

Maktaba Tul Ishaat.com

کاربی کوی، دی خلګو په الله ﷻ او دهغه په رسولانو ایمان نه راوړی او دالله ﷻ دحقونو خلاف ورزی بی کوله اوددی سره سره به یی په اخیستلو او خرڅولو کی ناپ اوتول کموی اودخلګو حقونه به یی ضائع کول، اوپر دی سربیره لادا چی پرلارو اوسړکونو باندی به کښیناستل اوراتلونکی به یی بیرول اولوټول به یی اوپه حضرت شعیب ﷺ باندی دایمان راوړلو څخه به یی خلګ منع کول؛ دغه ډول یی پرمنځ دمځکی یوفساد پورته کړی وو، دا ددوی سخت جرمونه وه دکمو داصلاح دپاره چی حضرت شعیب ﷺ رالیږل سوی وو.

دذکر سوو آیتونو په اولنیو دوو آیتونوکی ددی قوم داصلاح دپاره حضرت شعیب ﷺ دری خبری فرمایی ، اول ، يَقَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِنْ اِلٰهٍ غَيْرُهُ یعنی ای زما قومه! تاسی دالله ﷻ عبادت کوی دهغه څخه ماسوا بل څوك ستاسی لائق دعبادت نسته ، دا دتوحید هغه دعوت دی چی ټولو پیغمبرانو ﷺ ورکړي دی اوکوم چی دټولو عقیدو اوعملونو روح دی کله چی دا قوم هم په مخلوق پرستی کی اخته او دالله ﷻ دذات اوصفاتو څخه او دهغه دحقونه څخه غافله وو ، په دی وجه دوی ته هم ترټولو اول داپیغام ورکول سو ، او وبی فرمایل ، قَدْ جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ یعنی تاسي ته ستاسی درب دطرف څخه واضح دلیل راغلی دی ، دلته دواضح دلیل څخه مراد هغه معجزی دی کومی چی دحضرت شعیب ﷺ په لاسو ظاهری سوی په تفسیر بحرِ محیط کی مختلف صورتونه ددی معجزو ذکر سوی دی .

په دوهم آیت کی دافرمایی: فَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ په دی کی دکیل معنی ده ناپ، پیمانه، اومیزان په معنی دوزن (تللو) په معنی کی دی او دبَخس معنی ده، دچاپه حق کی کمی کول نقصان رسول دی، معنی دآیت داده: چی تاسی ناپ تول پوره کوی او دخلګوپه شیانوکی کمی کول اوورته نقصان رسول مه کوی، په دی کی خویی اول دیوخاص جرم څخه منع وفرمایله کوم چی به یی داخیستلو اوخرڅولو پروخت دناپ اوتول دکمی په صورت کی کوی، بیایی: لَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وفرمایل اوپه هرقسم حقونوکی یی کمی اوکوتاهی عامه کړه، برابره خبره ده که دمال سره تعلق لری اوکه دعزت اوآبرو سره یا دبل څه شی سره (بحرِ محیط)، ددی څخه معلومه سوه چی لکه څنګه چی په ناپ تول کی ترحق کم ورکول حرام دی ، دغه ډول په نورو انسانی حقونوکی کمی کول هم حرام دی، دچا پرعزت اوآبرو باندی حمله کول، یادڅه درجی اومرتبی موافق دده احترام نه کول، دچا حکم منل چی واجب دی دهغوی په حکم منلوکی کوتاهی کول، یا دکم سړی تعظیم اوعزت چی واجب دی په هغه کی کوتاهی کول داټول کار ونه په دی جرم کی داخل دی، کم چی دحضرت شعیب . قوم کول، دحجة الوداع په خطبه کی نبی کریم ﷺ دخلګو عزت د دوی دوینی برابر واجب الاحترام او دحفاظت قابل مقرر کړي دی ددی هم حاصل دا دی ز

په قرآن مجید کی چی کم ځای دمطففین او تطفیف ذکر راغلی دی په دی کی داټول شیان داخل دی، حضرت فاروق اعظم ؓ یو سړی ژر ژر پرركوع سجده کولو باندی ولیدی نو ویی فرمایل ، قَدْ طَفَّفْتَ

یعنی تا په ناپ اوتول کې کمی وکړه (موطاء امام مالك) مراد دادي چې دلمونځ کوم حق دی هغه تاپوره نه کې، په دې کې دلمانځه حق پوره نه ادا کول یې دتطفیف په لفظ سره تعبیر کړي دی ز
دآیت په آخرکې فرمایي: لَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا یعنی دمځکې تر اصلاح وروسته په دې کې فساد مه خپروی، داجمله په دې سورة اعراف کې مخکې هم راغلې ده، هلته ددې معنی په تفصیل سره بیان سویده چې دمځکې ظاهری اصلاح دهرشي په خپل ځای کې خرڅول او دحدودو رعایت کول اودعدل اوانصاف پرقائمولو باندي موقوفه ده اوباطنی اصلاح یې دالله ﷻ سره په تعلق او دالله ﷻ دحکمونو په اطاعت باندي دغه ډول دمځکې ظاهري اوباطنی فساد ددې اصولو په پرېښوولو باندي پیدا کیږي، دحضرت شعیب علیه السلام قوم داټول اصول دپامه غورځولی وه چې ددې په وجه په مځکه کې ظاهری اوباطنی فساد راپورته سوی وو، په دې وجه دوی ته دا نصیحت وسو چې ستاسې عملونه ټول په مځکه کې فساد پورته کوونکې او دمځکې خرابوونکې دي، په دې وجه ددې څخه راوګرځئ.
بیا فرمایي، ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ یعنی داخبره ستاسې دپاره نفع منده ده که تاسې زماخبره ومنې، مطلب دادي چې که تاسې ددې خپلو ناجائزو کارونو څخه راوګرځئ نوپه دې کې ستاسې ددین اودنیا کامیابي اوبهبود دی، ددین او دآخرت کامیابي خوښکاره ده چې دالله ﷻ دحکمونوپه منلو پورې تړلې ده اوددنیا کامیابي په دې وجه چې کله خلګوته معلومه سي چې فلانی سړی په ناپ اوتول کې اوپه نورو حقونوکې په دیانتداری سره کار کوي نوپه بازارکې دده اعتبار قائم سي او تجارت یې ترقي کوي، په دریم آیت کې چې کم دا ارشاد دی چې تاسې دخلګو دبیرولو او ترهولو اودالله ﷻ دلاري څخه دمنع کولو دپاره په لارو سرکونو مه کښیني ، ددې مطلب څینو تفسیر لیکونکو دا مقرر کړي دی چې دا دواړې جملې یو مطلب ادا کوي چې داخلګ پرلارو باندي کښیني اوحضرت شعیب علیه السلام ته راتلونکې منع کوي اوبیروي او ترهوي یې، ددې څخه یې منع کړل.
اوځینې حضرات فرمایي چې د دوی دادواړه جرمونه جلا جلا وه، په لاروکې به کښیننستل لوټ ماربه یې هم کوی اوپه حضرت شعیب علیه السلام به یې دایمان راوړلو څخه هم منع کول، په اوله جمله کې اول مضمون اوپه دوهمه کې دوهم مضمون بیان سوی دی، په تفسیرِ بحرِ محیط اونورو کې یې هم دا اختیار کړي ده اوپر لارو کښیننستلو اولوټ مار کولوکې یې داهم داخله کړي ده کوم چې دشریعت څخه خلاف دناجائز ټیکس دوصولو دپاره په لاروکې چوکی (تانې) جوړ وي.
علامه قرطبی رحمه الله فرمایي چې کوم خلګ په لاروکې کښیني، ناجائز ټیکس وصولوي، دوی هم دحضرت شعیب علیه السلام دقوم په ډول مجرمان دی، بلکه تر دوی زیات ظالمان او جابران دی، دآیت په آخر کې فرمایي، وَتَبْغُوْنَهَا عِوَجًا یعنی تاسې خلګ دالله ﷻ په لاره کې عیبونه لټوی چې کله دګوتې ځای ورکول سي نو داعتراضونو او شبهو دفترونه ورپسې خلاص کې او دخلګو دحق دین څخه دبیزاره کولو کوشش کوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

تردي وروسته دآيت په آخر کې فرمايي ، ﴿وَاذْكُرُوا إِذْ كُنتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ وَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ﴾ په دې کې دوه غوخلګو دپاره دترغيب اوترهيب دواړه ارخونه استعمال سوي دي. اول خو دترغيب دپاره يې دالله ﷻ دانعمت ورياد کې چي تاسي مخکې به شمېر اوعدد کې کم واست الله ﷻ ستاسي نسلونه زيات کړه اوير لوي قوم يې درڅخه جوړکې پادمال اوسامان په اعتبار سره کم واست. الله ﷻ دولت درکړ او غنيان يې کړاست. بيا ديېرولو دپاره فرمايي چي ترڅان دمخکې فساد کوونکو قومونو پرانجام باندې نظر واچوي چي پرقوم نوح عاد، ثمود اولوط باندې کوم کوم عذابونه راغلي دي. چي تاسي ديرهر څخه کار واخلي

په پنځم آيت کې ددې قوم ديوې شبهې جواب دي ، چي دحضرت شعيب ﷺ دايمان تر دعوت وروسته داقوم په دوو حصوکې تقسيم سو. څوايمان راوړي اوځوك منکر پاته سول ، مګر په ظاهري اعتبار سره په دواړوکې څه فرق نه وو. دواړه قومونه يو دول په آرام او عيش کې وه . نوکه منکروالي څه جرم وي نومجرم ته به سزا ورکول کېده . ددې په جواب کې فرمايي ، ﴿فَاصْبِرُوا حَتَّىٰ يَحْكُمَ اللَّهُ بَيْنَنَا﴾ يعني تلواري مه کوي الله ﷻ په خپله بردباري اوکرم سره مجرمانو ته مهلت ورکوي. کله چي هغوي بالکل سرکښه سي نوبيا فيصله کول کيږي، ستاسي هم داحال دي که تاسي دخپل انکار څخه راونه ګرځېداست نو ډېرژر به په منکرانو فيصله کوونکي عذاب راسي

اتمه پاره ختمه سوه

وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

تفسير معارف القرآن د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي ا واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفئ سره محفوظ دي

تفـــــــسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتوکی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمة الله علیه

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۹)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست تفسير معارف القرآن

مضمون	مخ
قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِن قَوْمِهِ : الخ ، ۸۸ تر ۹۳	۵
معلومات او مسئلی	۷
وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّبِيٍّ إِلَّا أَخَذْنَا أَهْلَهَا : الخ ۹۴ تر ۹۹	۱۰
أَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ الْأَرْضَ : الخ ، ۱۰۰ تر ۱۰۲	۱۵
معلومات او مسئلی	۱۲
ثُمَّ بَعَثْنَا مِن بَعْدِهِم مُّوسَىٰ بِآيَاتِنَا : الخ ، ۱۰۳ تر ۱۱۰	۱۹
معلومات او مسئلی	۲۱
په معجزه او په جادو کی فرق	۲۳
قَالُوا أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَأَرْسِلْ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ : الخ ، ۱۱۱ تر ۱۲۲	۲۴
قَالَ فِرْعَوْنُ آمَنتُم بِهِ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ : الخ ، ۱۲۳ تر ۱۲۷	۲۹
په ساحرانو کی ایمانی انقلاب د موسی ﷺ ترمعجزی همسا او سپین لاس هم لوی وو	۳۲
پرفرعون دحضرت موسی او هارون ﷺ دهیبت اثر	۳۳
قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَاصْبِرُوا إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ : الخ ، ۱۲۸ تر ۱۳۲	۳۴
د مشکلاتو او مصیبتونو څخه دنجات اکسیر نسخه	۳۲
حکومت او سلطنت دحکمران طبقی دپاره امتحان دی	۳۸
فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ : الخ ، ۱۳۳ تر ۱۳۲	۳۹
وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِينَ كَانُوا يُسْتَضْعَفُونَ : الخ ، ۱۳۷ تر ۱۴۱	۴۳
وَوَاعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلَاثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ : الخ ، ۱۴۲	۴۸
په عبادتونو کی قمری حساب معتبردی په دنیاوی معاملو کی د شمسی حساب هم اجازه سته	۵۰
یوه مسئله: دنفس په اصلاح کی څلویښتو شپو او ورځو لره خاص دخل دی	۵۱
انسان ته په خپلو ټولو کارونو کی دتدریج او کرار کولو تعلیم	۵۱
دضرورت په وخت کی دکار منتظم لره خپل قائم مقام جوړول	۵۱
وَلَمَّا جَاءَ مُوسَىٰ لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ : الخ ، ۱۴۳ تر ۱۴۵	۵۲
دحضرت موسی ﷺ سره د الله ﷻ خبری	۵۴
سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الخ ، ۱۴۲ تر ۱۵۱	۵۵
تکبر انسان دروغ فکر او دعلوم الٰهیه څخه محرومه کوی	۵۹
إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ : الخ ، ۱۵۲ تر ۱۵۳	۶۱
دځینو ګناهونو څه سزا په دنیا کی هم حاصلیږی	۶۴
داویا ۷۰ بنی اسرآئیلو انتخاب او د دوی دهلاکت واقعه	۶۵
الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي : الخ ، ۱۵۷	۶۹
دخاتم النبين محمد مصطفی ﷺ او دده ﷺ دامت خاص صفتونه او فضیلتونه	۶۹
په تورات او انجیل کی دنبی کریم ﷺ صفتونه او نښانی	۷۱

Maktaba Tul Ishaat.com

دقرآن سره دسنتو تابعداری هم فرض ده	۷۶
درسول یوازی تابعداری کافی نه ده ادب او احترام یې هم فرض دی	۷۶
قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ : الخ ، ۱۵۸ تر ۱۵۹	۷۸
دنبی کریم ﷺ نبوت دټول عالم دپاره ترقیامته پوری دی په دی وجه په ده نبوت ختم دی	۷۹
دنبی کریم ﷺ یوڅو مهم خصوصیات	۸۰
دحضرت موسی ؑ په قوم کی یوحق پرست جماعت	۸۲
وَقَطَّعْنَاهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا : الخ ، ۱۶۰ تر ۱۶۲	۸۳
وَاسْأَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ : الخ ، ۱۶۳ تر ۱۶۶	۸۴
وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ : الخ ، ۱۶۷ تر ۱۶۹	۸۶
وَالَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِالْكِتَابِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ : الخ ، ۱۷۰ تر ۱۷۱	۹۲
په دین کی جبر او اکراه نسته ددی صحیح مطلب او دشبهې جواب	۹۴
وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ : الخ ، ۱۷۲ تر ۱۷۴	۹۵
دوعدی دالستُ تفصیل او ددی تحقیق	۹۶
دبیعت اخیستو حقیقت	۹۸
دوعدی الستُ متعلق څو سوالونه او جوابونه	۱۰۰
وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِي آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا : الخ ، ۱۷۵ تر ۱۷۷	۱۰۳
دبنی اسرآئیلو دیو عالم او پیشوا دګمراهی عبرتناکه واقعه	۱۰۵
مَنْ يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِي وَمَنْ يُضْلِلْ فَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ : الخ ، ۱۷۸ تر ۱۷۹	۱۰۸
په آیت کی دکافرانو څخه دپوهیدو، لیدو، اوریدو، نفی کومه چی دظاهر څخه خلاف ده، په کوم حقیقت باندی مبنی ده ؟	۱۱۱
وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا : الخ ، ۱۸۰	۱۱۳
داسمآء حُسنا تشریح	۱۱۳
ددعا ځینی آداب	۱۱۴
دالله ﷻ په نومونو کی دکجروی ممانعت او ددی مختلف صورتونه	۱۱۵
وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ : الخ ، ۱۸۱ تر ۱۸۵	۱۱۷
معلومات او مسئلی	۱۱۸
مَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ وَيَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ : الخ ۱۸۶ تر ۱۸۷	۱۲۱
قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ : الخ ، ۱۸۸ تر ۱۹۳	۱۲۵
إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ . الخ ۱۹۴ تر ۱۹۸	۱۳۱
خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ : الخ ۱۹۹ تر ۲۰۲	۱۳۴
دقرآنی اخلاقو یوه جامعه هدایت نامه	۱۳۵
وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِمْ بِآيَةٍ قَالُوا لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا : الخ ، ۲۰۳ تر ۲۰۴	۱۳۹
دقرآن دتلاوت په وخت کی دچپ کیدو او اوریدو متعلق یو څو ضروری مسئلی	۱۴۱

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيفَةً وَّدُونَ الْجَهْرِ : الخ ، ۲۰۵ تر ۲۰۲ .... ۱۴۳

دپټ او جهري ذکر حکمونه ۱۴۴

دسجدې ځینې فضیلتونه او حکمونه ۱۴۷

﴿سورة الانفال﴾ ۱۴۸

يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ قُلِ الْأَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُولِ : الخ ، ۱ .... ۱۴۸

دسورة مضمونونه ۱۴۸

دآیت پوره تفسیر ۱۵۰

دخلګو په مینځ کې داتفاق او اتحاد بنیاد په تقوی او دخدای ﷻ څخه په بیره باندی دی ۱۵۲

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ لخ ، ۲ \ ۳ \ ۴ .... ۱۵۳

دمومن خاص صفتونه ۱۵۴

كَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقًا : الخ ۵ تر ۷ .... ۱۵۲

وَإِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ : الخ ، ۷ تر ۱۰ .... ۱۲۳

إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً : الخ ، ۱۱ تر ۱۴ .... ۱۲۷

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا : الخ ، ۱۵ تر ۱۹ .... ۱۷۱

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللّٰهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنْتُمْ تَسْمَعُونَ : الخ ، ۲۰ تر ۲۴ .... ۱۷۷

وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْكُمْ : الخ ، ۲۵ تر ۲۸ .... ۱۸۳

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ : الخ ، ۲۹ تر ۳۳ .... ۱۸۹

وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ : الخ ، ۳۴ تر ۳۸ .... ۱۹۸

وَقَاتِلُوهُمْ حَتّٰى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلّٰهِ : الخ ، ۳۹ تر ۴۰ .... ۲۰۳

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والایمان

Maktaba-Tul-Ishaat.com

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِن قَوْمِهِ لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْبُ

وویل سردارانو کوم چی متکبران وه دده په قوم کی مونږ به خامخا وباسو ای شعیبه تا

وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا ۚ قَالَ أَوَ

او هغه کوم چی ایمان راوړی تا سره دخپل ښار څخه یا داچی تاسی واپس سی زمونږ دین ته ، ویی ویل که

لَوْ كُنَّا كَارِهِينَ ﴿٨٨﴾ قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللَّهِ كَذِبًا إِنْ عُدْنَا فِي مِلَّتِكُم

څه هم مونږ یی بد ګڼو هم ، بیشکه مونږ به دروغ جوړ کړو په الله باندی ، که واپس سو ستاسی دین ته

بَعْدَ إِذْ نَجَّانَا اللَّهُ مِنْهَا ۚ وَمَا يَكُونُ لَنَا أَن نَّعُودَ فِيهَا إِلَّا أَن

پس ددې چی نجات راکی مونږ ته الله ددې څخه ، اونه دی لائق مونږ لره چی واپس سو دی ته مکر دا که

يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّنَا ۚ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ۚ عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا ۚ

وغواړی الله، رب زمونږ ګیر کړی دی هر یو شی رب زمونږ په خپل علم کی ، خاص په الله مونږ توکل کړی دی

رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ ﴿٨٩﴾

ای زمونږ ربه ! فیصله وکړی په مینځ زمونږ او زمونږ دقوم کی په انصاف سره ، او ته دټولو څخه ښه فیصله کوونکی یی

وَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا

او وویل سردارانو کوم چی کافران وه دده په قوم کی که تابعداری وکړه تاسی دشعیب

إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَاسِرُونَ ﴿٩٠﴾ فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي

نو تاسی به بیشکه خراب یاست ، بیا ونیول دوی زلزلی نو سحر ته سو

دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٩١﴾ الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا

په خپلو کورونو کی نسکور پراته ، چا چی دروغجن کړی وو شعیب ګویا چی چیری هم دغه ځای نه وو

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيهَا ۛ اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَانُوْا هُمُ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۹۲﴾ فَتَوَلّٰى

چا چې دروغجن کړی وو شعیب علیه السلام هغوی سول خراب ، نو ورګرځی دی

عَنْهُمْ وَقَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَنَصَحْتُ

د دوی څخه او ویې ویل ای زما قومه! ما ورسوی تاسی ته پیغام دخپل رب اوخیر خواهی

لَكُمْ ۚ فَكَيْفَ اٰسٰى عَلٰى قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ﴿۹۳﴾ ع

می وکړه ستاسی اوس څه افسوس وکړم په کافرانو باندی

تفسیر: دده دقوم متکبرانو سردارانو (چې کله دا خبری واوریدی نو دوی په ګستاخی سره) وویل چې ای شعیبه! (یاد ساته) مونږ به تا او ستا ملګری کومو چې ایمان راوړی دی، دخپل کلی څخه وباسو یا به داسی اوسی چې تاسی زمونږ مذهب ته واپس راسی (نو البته مونږبه درته هیڅ نه وایو، داخبره یې دمومنانو دپاره څکه وکړه چې دغه خلک ترایمان مخکی پردی طریقه دکفر باندی وه، لیکن دحضرت شعیب علیه السلام په حق کی سره ددی چې دانبیاوو علیهم السلام څخه هیڅکله هم کفرنه وی صادر سوی خوپه دی وجه یې وویل چې ترپیغمبر کیدو مخکی دده پرچپ پاته کیدو دوی داګڼله چې دده عقیده به هم زمونږ په شان وی) شعیب (علیه السلام) جواب ورکی چې آیا مونږ به ستاسی مذهب ته راسو که څه هم مونږ (په دلیل دبصیرت سره) دا بد (او دنفرت قابل) هم ګڼو (یعنی کله چې ددی پرباطل والی دلیل قائم دی نومونږ څنګه دا اختیارکو) مونږ خو به په الله جل جلاله لوی د دروغو تهمت لګوونکی سو (که خدای مه که) مونږ ستاسی مذهب ته راسو (خاص کر) وروسته تردی چې الله جل جلاله مونږ ورڅخه خلاص کړی یو (څکه چې اول خو مطلقًا کفر حق دین ګڼل دا په الله جل جلاله تهمت لګول دی چې دا دین (معاذ الله) دالله خوښ دی اوخاص کر دمومن کافر کیدل ، چې کله وروسته ترعلم او دحق دلیل ترقبولو دی ، نو دا خو نور زیات تهمت دی ، یرخو هغه تهمت، دوهم دغه تهمت چې الله جل جلاله ماته ددلیل علم راکړی وو کوم چې ماحق ګڼی هغه علم یې غلط راکړی وو اوحضرت شعیب علیه السلام لفظ دواپس کیدو دنورو دغلبی په وجه ویلی دی اویا د دوی دګمان په وجه یې فرضی ویلی دی) اوزمونږ څخه ممکنه نه ده چې ستاسی مذهب ته واپس راسو لیکن البته که چیری الله جل جلاله چې زمونږ مالك دی (زمونږ په) تقدیر (کی) مقرر کړی وی (چې ددی مصلحت دهغه په علم کی دی نوخیر دابله خبره ده) زمونږ درب علم پرهرشی چاپیره کیدونکی دی (اوپه دغه علم سره دهغو تقدیرونو مصلحتونه ورته معلوم دی مګر) مونږ په الله باور لرو (او دباور سره دا امید کوو چې هغه به مونږ پرحق دین باندی ثابت ولری اوپه دی سره دا شبهه نسی کیدی چې ددوی دخپلی خاتمی په خیر

Maktaba Tul Ishaat.com

سره کیدو باندی یقین نه وو، انبیاوو علیهم السلام ته ددی یقین ورکول کیږی، بلکه ددی څخه مقصود خپله عاجزی ظاهرول اوځان مالك ته سپارل دی چی دنبوت دکمال سره لازمی دی، اوکه ډنورو مومنانوپه اعتبار سره واخیستل سی، نو بیا خو په کښی ګر سره اشکال نسته، دا جواب یی ورکی نوکله چی یی ولیدل چی په دوی خبره اثر نه کوی او دایمان راوړلو بالکل امید نسته نودوی ته یی خبره کول پریښوول دالله ﷻ څخه یی سوال وکی چی) ای زمونږ پروردګاره! زمونږ او زمونږ د (دی) قوم په مینځ کی فیصله وکی (کمه چی همیشه) دحق موافق (کوی، څکه چی دخدایی فیصلی سره حق والی لازم دی، یعنی اوس په عملی طورباندی دحق حقوالی اودباطل باطلوالی واضح کی) اوته تر ټولو ښه فیصله کوونکی یی او ددی دقوم (دغو ذکر سوو) کافرو سردارانو (چی دحضرت شعیب علیه السلام دابلیغ تقریر واوریدی نوبیره ورسره پیدا سوه چی هسی نه پر اوریدونکو یی اثر ونه سی، په دی وجه دوی نورو کافرانو ته) وویل چی که تاسی دشعیب (علیه السلام) پرلاره روان سواست نوبیشکه لوی نقصان به وکی (ددین هم څکه چی زمونږ مذهب حق دی اوحق پریښوول خساره ده، اوددنیا هم څکه چی په پوره ناپ اوتول کی به بچت کم وی، غرض داچی دوی ټول پرخپل کفر اوظلم ټینګ سول نو اوس عذاب راغی) پس دوی زلزلی ونیول پس په خپلو کورونوکی نسکور پراته پاته سول چاچی شعیب (علیه السلام) دروغ کړی وو (او دمسلمانانو د دوی دکورونو څخه ایستلو ته تیاروه په خپله) ددوی داحالت سولکه چی دوی په خپلو کورونوکی هیڅکله اوسیدلی نه وه، چاچی شعیب (علیه السلام) دروغ کړی وو (اودده تابعداری کوونکوته یی تاوان کوونکی ویلی وه په خپله) دوی په تاوان کی پریوتل، دغه وخت شعیب (علیه السلام) ددوی څخه مخ واړوی، روان سو او (په طور دافسوس یی فرضی خطاب وکی) ویی فرمایل چی ای زما قومه! ماخو تاسی ته دخپل پروردګا راحکام رسولی وه (په کومو چی عمل کول دهرقسم کامیابی سبب وو) اوما خوستاسی (ډیره) خیرخواهی وکړه (چی په قسم قسم پوه کولو می تاسی پوه کړاست، مګر افسوس چی تاسی ونه منله او دا بده ورځ مو ولیده، بیایی د دوی عناد اوکفر اونور یاد کی ویی فرمایل چی کله دوی په خپلو لاسونو دا مصیبت واخیستی نو) بیازه په دی کافرانو خلګو (د دوی په هلاکت) ولی غم وکړم.

معلومات اومسئلې: حضرت شعیب علیه السلام ته چی کله قوم داوویل چی که ته پرحقه وای نوستا منونکی به ښه په ناز اونعمت کی وای اوپرنه منونکوبه عذاب راتلی، مګر کیږی داسی چی دواړی ډلی په برابره درجه کی دآرام ژوند تیروی، نومونږ تا څنګه رښتینی وګڼو، نو په دی باندی حضرت شعیب علیه السلام وفرمایل چی تلواری مه کوی، ډیر ژربه الله ﷻ زمونږ اوستاسی په مینځ کی فیصله وکی، پردی باندی دقوم تکبر کوونکو سردارانو هم هغه خبره وکړه کمه چی همیشه ظالمان اومتکبره خلګ کوی، چی ای شعیبه باخوته اوکومو خلګو چی په تا ایمان راوړی دی هغه ټول زمونږ مذهب ته واپس راسی، کنی مونږ به تاسی ټول دخپل کلی څخه وباسو.

د دوی مذهب ته بیرته راتلل دحضرت شعیب علیه السلام دقوم دمومنانو متعلق خوپه دی وجه رښتینی دی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه ټول مخکې ددوی پرمذهب اوطریقه باندی وه، بیا دحضرت شعیب . په دعوت باندی مسلمانان سول، مګر حضرت شعیب ﷺ خویوه ورځ هم ددوی پرباطل مذهب اوطریقه باندی نه دی پاته سوی اونه دالله ﷻ یو رسول هیڅکله هم دیو مشرکانه باطل مذهب پیروی کولی سی، نوبیا دده دپاره دا ویناچی زمونږ مذهب ته بیرته راسه ، غالبًا په دی وجه وه چی تر پیغمبر کیدلو مخکی حضرت شعیب ﷺ ددی خلګو په باطلو خبرو اوکارونو باندی خاموش وو او په قوم کی شریك اوسیدی، په دی وجه د دوی خیال دحضرت شعیب ﷺ په باره کی هم دا ووچی دی هم زمونږ هم خیال اوزمونږ په مذهب کی دی، دایمان ددعوت څخه وروسته دوی ته معلومه سوه چی دده مذهب زمونږ څخه جلا دی، اوخیال یی وکی چی دی زمونږ دمذهب څخه ووتی، حضرت شعیب ﷺ جواب ورکی ، اَوَلَوْ كُنَّا كَارِهِيْنَ یعنی آیا ستاسی دا مطلب دی چی ستاسی دمذهب ناخوښه اوباطل ګڼلو باوجود مونږ ستاسی په مذهب کی داخل سو او مراد ددی څخه دادی چی داسی هیڅکله نسی کیدی تردی ځایه پوری داولنی آیت مضمون دی .

په دوهم آیت کی دی چی حضرت شعیب ﷺ خپل قوم ته وفرمایل چی ستاسی دباطل مذهب څخه الله ﷻ مونږته نجات راکی نوتردی وروسته که مونږ ستاسی باطل مذهب ته واپس سو نو دابه زمونږ دطرف څخه په الله ﷻ سخت ددروغو بهتان وی ، څکه چی اول خوپه خپله شرك اوکفر خپل مذهب جوړول دامعنی لری چی دا دالله حکم دی، نودا پرهغه بهتان اودروغ جوړول دی، ددی څخه علاوه دایمان راوړلو اوعلم اوپوهی حاصلولو څخه وروسته بیا دکفر طرف ته واپس کیدل ګواکی داویل دی چی اولنی طریقه باطله اوغلطه وه، حق اوصحیح داطریقه ده کومه چی می اوس اختیارکړه اوظاهره ده چی داغبرګ دروغ اوبهتان دی ، چی حق ته یی باطل وویل اوباطل ته حق، دحضرت شعیب ﷺ په دی ویناکی یوقسم دعوی وه چی مونږ اوس ستاسی مذهب ته نسو واپس کیدی، او داسی دعوی کول په ظاهره دبندګی څخه خلاف ده، کمه چی دالله ﷻ ددربار دنژدیکانو او داهل معرفت والاوو دشان لائقه نه ده، په دی وجه فرمایی . مَا يَكُوْنُ لَنَا اَنْ نَّعُوْدَ فِيْهَا اِلَّا اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّنَا وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا یعنی مونږ ستاسی مذهب ته هیڅکله نه سو واپس کیدی بغیر ددی څخه چی (خدای مه که) زمونږ درب رضا اواراده زمونږ دګمراه کولو وسی، زمونږ درب علم پرهرشی چاپیره کوونکی دی مونږپر هغه باندی باور کړی دی .

په دی کی دخپلی عاجزی اوکمزوری اظهار اوپه الله ﷻ باندی توکل اوځان ورته سپارل دی کوم چی دکمالاتو دنبوت څخه دی، چی مونږ څه یو چی دیو کار دکولو یا ورڅخه دځان ساتلو دعوی وکو، دیونیکی کول یا دیوی بدی څخه محفوظ کیدل ټول دالله ﷻ په فضل سره دی ، لکه چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، لَوْ لَا اللّٰهُ مَا اهْتَدَيْنَا وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا یعنی که دالله ﷻ فضل نه وای نومونږ ته به دصحیح لاری هدایت نه وای سوی اونه به مونږ صدقه اوخیرات کړی وای اونه به مونږ لمونځ کړی وای .

تردی پوری چی دقوم دمتکبره سردارانو سره ترخبروکولو وروسته کله چی حضرت شعیب ﷺ ته دا اندازه وسوه چی په دی خلګو دڅه خبری هیڅ اثر نه کیږی ، نو اوس یی دوی ته خطاب کول پریښوول،

Maktaba Tul Ishaat.com

الله ﷻ ته یی سوال وکی ، رَبَّنَا افۡتَحۡ بَیۡنَنَا وَبَیۡنَ قَوۡمِنَا بِالۡحَقِّ وَاَنۡتَ خَیۡرُ الۡفٰتِحِیۡنَ یعنی ای زمونږ پروردګاره! زمونږ او زمونږ دقوم په مینځ کی فیصله وکی دحق موافق اوته ترټولو ښه فیصله کوونکی یی .
حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمایی چی دلفظ دفتح معنیٰ دلته دفیصلی کولو ده ، په دی معنیٰ سره فاتح په معنیٰ دقاضی سره راځی (بحر محیط)
اوپه حقیقت کی په دی الفاظوسره دحضرت شعیب ﷺ مقصد دخپل قوم څخه دکفارودپاره دهلاکت دعاوه کومه چی الله ﷻ قبوله کړه اوداخلق یی دزلزلی په ذریعه هلاك کړل ، د دوهم آیت مضمون ختم سو
په دریم آیت کی دحضرت شعیب ﷺ دقوم متکبرو سردارانو دایوه ګمراه کوونکی خبره کړې ده چی دوی په خپل مینځ کی وویل یایی خپلو تابعدارو ته وویل چی که تاسی دشعیب ﷺ تابعداری وکړه نوتاسی به ډیربی وقوفه اوجاهلان وګرځول سی (بحر محیط عن عطاء) په څلورم آیت کی یی ددی سرکښه قوم دعذاب واقعه داسی ذکر کړې ده ، فَاَخَذَتۡهُمُ الرَّجۡفَةُ فَاَصۡبَحُوۡا فِیۡ دَارِهِمۡ جٰثِمِیۡنَ یعنی دوی سختی اولوی زلزلی ونیول چی په دی سره دوی په خپلو کورونوکی نسکور پراته پاته سول .
دحضرت شعیب ﷺ دقوم عذاب په دی آیت کی زلزله راغلی ده او په نورو آیتونو کی ، فَاَخَذَهُمۡ عَذَابُ یَوۡمِ الظُّلَّةِ راغلی دی ، ددی معنیٰ دا ده چی دوی د یَوۡمِ الظُّلَّةِ عذاب ونیول ، د ، یَوۡمِ الظُّلَّةِ : معنیٰ ده دسایی وریځ ، ددی مطلب دا دی چی په دوی باندی اول توره وریځ راغله چی ټول لاندی ورته جمع سول نو ددغی وریځی څخه په دوی باندی کاڼی یا اور واوریدی .
حضرت عبدالله بن عباس ﷺ په دی دواړو آیتونوکی دمطابقت دپاره فرمایی چی دحضرت شعیب ﷺ په قوم باندی اول خو داسی سخته ګرمی مسلطه سوه لکه دجهنم دروازه چی یی د دوی په طرف خلاصه کړی وی چی په دی سره ددوی ساه بندیدل شروع سول ، نه به چاته په سایه کی آرام ورتلی اونه په اوبو کی ، داخلګ دګرمی دتاؤ څخه تیه خانو (زیرخانو) ته ننوتل ، نو هلته یی تر لوړی هم سخته ګرمی وسوه ډیر پرشانه سول ، نودښار څخه دځنګل طرف ته وتښتیدل، هلته ورته الله ﷻ یوه توره وریځ راولیږله چی لاندی یی یخه هوا وه داټول خلګ دګرمی دبیری څخه تردی وریځی لاندی راجمع سول، دغه وخت دا ټوله وریځ اور جوړ سو اوپر دوی باندی واوریدی او زلزله هم پر راغله چی په دی سره دا ټوله خلګ دابرو کوټه (ډیران) سول، دغه ډول پردی قوم باندی زلزله او عذاب دظُلّه دواړه جمع سوه (بحرِ محیط)
اوځینی تفسیر لیکونکی فرمایی چی دا هم ممکنه ده چی دحضرتِ شعیب ﷺ قوم مختلفی حصی سوی وی ، په ځینو زلزله راغلی وی اوپر ځینو عذاب دظُلّه راغلی وی اوهلاك سوی وی .
په پنځم آیت کی دحضرتِ شعیب ﷺ دقوم دواقعی څخه یی نوروته دعبرت سبق ورکړې دی ، کوم چی ددی واقعی دبیانولو اصل مقصود دی ، فرمایی ، الَّذِیۡنَ كَذَّبُوۡا شُعَیۡبًا كَاَنۡ لَّمۡ یَغۡنَوۡا فِیۡهَا دلفظ دغنٰی یوه معنیٰ پریوه مقام باندی په خوشحالی سره تیرولوته هم وایی، دلته دا معنیٰ مراده ده، مطلب دادی چی دی خلګوچی په کومو مکاناتو کی په آرام او عیش سره ژوند تیروی ، تردی عذاب وروسته داسی سول چی

Maktaba Tul Ishaat.com

گواکی دلته هیځکله هم دآرام اوعیش نوم هم نه وو، فرمایی، اَلَّذِیۡنَ کَذَّبُوۡا شُعَیۡبًا کَانُوۡا هُمُ الۡخٰسِرِیۡنَ یعنی کومو خلګو چې حضرت شعیب ﷺ دروغجن کې دغه خلک په خساره کې ولویدل، په دې کې اشاره دې طرف ته ده چې دې خلګو حضرت شعیب ﷺ او دهغه مؤمنانو ملګرو ته یې دخپل کلي څخه دایستلو اخطارونه ورکول خو آخر خساره په دوی ولویدله.

په شپږم آیت کې فرمایی، فَتَوَلّٰی عَنۡهُمۡ یعنی په قوم چې یې دعذاب راتلل ولیدل، نو حضرت شعیب ﷺ او دده ملګري ددې ځای څخه روان سول، جمهور تفسیر لیکونکي فرمایي چې دا حضرات ددې ځای څخه مکې معظمې ته ولاړل اوتر آخره پورې دلته پاته سول، دقوم دانتهائي سرکښۍ اونافرمانۍ څخه مایوسه سو نو حضرت شعیب ﷺ ښراوې خو وکړې، مګر کله چې ئې پرقوم باندې عذاب راغی نو دپیغمبرانه شفقت او رحمت په سبب یې زړه ودریدی، نوخپل زړه ته ئې دتسلې ورکولو دپاره قوم ته خطاب وفرمایې چې ما تاسې ته ستاسې دربّ حکمونه رسولي وه اوهر قسم خیرخواهي مې ستاسې وکړه، مګر زه به پرکافر قوم ترڅو پورې غم کوم.

وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا فِیۡ قَرۡیَةٍ مِّنۡ نَّبِیٍّ اِلَّاۤ اَخَذۡنَاۤ اَهۡلَهَا بِالۡبَاۡسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ

او نه دي لیږلی مونږ یو کلي ته یو نبي چې نه وي نیولي مونږ دهغه ځای خلقو په سختۍ او تکلیف کې چې

یَضَّرَّعُوۡنَ ﴿۹۴﴾ ثُمَّ بَدَّلۡنَا مَکَانَ السَّیِّئَةِ الۡحَسَنَةَ حَتّٰی عَفَوۡا وَّقَالُوۡا

دوی عاجزي وکړي، بیا بدله کړه مونږ په ځای دبدۍ نیکي تردې چې دوی زیات سول او ویې ویل

قَدۡ مَسَّ اٰبَآءَنَا الضَّرَّآءُ وَالسَّرَّآءُ فَاَخَذۡنٰهُمۡ بَغۡتَةً وَّهُمۡ

چې رسیدلي دي زمونږ پلار نیکه ته هم تکلیف اوخوشحالي بیا ونیول مونږ دوی ته ناڅاپه او دوی

لَا یَشۡعُرُوۡنَ ﴿۹۵﴾ وَلَوۡ اَنَّ اَهۡلَ الۡقُرٰۤی اٰمَنُوۡا وَاتَّقَوۡا لَفَتَحۡنَا عَلَیۡهِمۡ

خبر نه وه، او که کلي والا ایمان راوړی اوپرهیزګاري یې کولی نو مونږ به خلاص کړي وای پردوی

بَرَکٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالۡاَرۡضِ وَلٰکِنۡ کَذَّبُوۡا فَاَخَذۡنٰهُمۡ بِمَا کَانُوۡا

برکتونه دآسمان اودمځکې لیکن دوی دروغجن کړل نو ونیول مونږ دوی د دوی

یَکۡسِبُوۡنَ ﴿۹۶﴾ اَفَاَمِنَ اَهۡلُ الۡقُرٰۤی اَنۡ یَّاۡتِیَهُمۡ بَاۡسُنَا بَیَاتًا وَّهُمۡ

دعملونو په بدل کې، اوس آیا بې بیري سول دکلو خلق ددې خبرې څخه چې راسې په دوی عذاب زمونږ دشپې

Maktaba Tul Ishaat.com

نَآىِٕمُوْنَ ﴿۹۷﴾ اَوَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰۤى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا ضُحًى وَّهُمْ

کله چې دوی بیده وي ، یابې بېرې سول دکلوخلق ددې خبرې څخه چې راسي په دوی عذاب زمونږ په ځابنت کې

يَلْعَبُوْنَ ﴿۹۸﴾ اَفَاَمِنُوْا مَكْرَ اللّٰهِ ۚ فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹۹﴾

او دوی بې بېرې سول دالله دتدبیر څخه　نو نه بې بېرې کېږي دالله دتدبیر څخه مګر په خرابۍ کې لویدلی .

تفسیر: اومونږ (دې ذکر سوو او د دوی څخه علاوه هم دنورو کلو څخه) یوکلي ته یو نبي نه دی لیږلی چې دهغه ځای اوسیدونکي (ددغه نبي په نه منلو باندې اول اول دخبردار کولو په غرض سره دوی) په محتاجۍ اوناروغۍ کې مونږنه وي نیولي ددې دپاره چې دوی سُست ولویږي (اودخپل کفر اودروغجن کولوڅخه توبه وکړي) بیا (کله چې په دې سره پوه نه سوه نو اِستدراجًا یاپه دې غرض سره چې دمصیبت څخه پس کم نعمت وي دهغه قدرزیات وي اوبنده دنعمت ورکوونکي طبعًا اطاعت کول شروع کوي) مونږ ددغه بدحالۍ په ځای خوشحالي بدله کړه تردې چې دوی ته (دغنا اوصحت سره په مال او اولاد کې هم) بنه ترقي وسوه او (دغه وخت یې دعناد څخه) وویل چې (دغه اولنۍ مصیبت پر مونږ باندې دکفر او دروغجن کولو په سبب نه وو، کنه نوبیا به خوشحالي ولې وه بلکه دا دزماني داتفاقاتو څخه دی لکه چې) زمونږ پلار اونیکه ته هم (دا دوه حالتونه کله) تنګي او (کله) راحتونه راغلي دي (دغه ډول پرمونږ هم دا دوه حالتونه تیرسول، کله چې دوی په دې ناپوهۍ کې ولویدل) نو (دغه وخت) مونږ دوی ناڅاپه (په هلاکوونکي عذاب کې) ونیول اودوی ته (ددې عذاب دراتلو) خبر هم نه وو (یعني دوی ته انبیاوو عليهم السلام خبر ورکړی وو ، مګرچې کله دوی دغه خبر غلط ګڼی اوپه عیش او آرام کې ورك وه په دې وجه د دوی ګمان نه وو) او (مونږ چې دوی په هلاکوونکي عذاب کې ونیول نوددې سبب یوازې ددوی کفر اومخالفت وو کنه نو) که ددې کلو اوسیدونکو (په پیغمبرانو) ایمان راوړی وای او (ددوی دمخالفت څخه یې) ځان ساتی نو مونږ به (پرځای دآفتونو دآسمان اودمځکې) پردوی دآسمان اومځکې برکتونه خلاص کړي وای (یعني دآسمان څخه باران او دمځکې څخه پیداوار به دوی ته په برکت سره ورکړل سوی وای اوکه څه هم چې تردې هلاکت مخکې دوی ته خوشحالي په یوحکمت سره ورکړل سوې وه لیکن په دې خوشحالۍ کې په دې وجه برکت نه وو چې آخر ئې دغه دځان تاوان جوړسو په خلاف دهغو نعمتونو څخه کم چې دایمان اواطاعت سره یوځای ورکول کیږي چې په دوی کې دا خیر او برکت وي چې هغه دځان تاوان هیڅکله نه جوړیږي، نه په دنیا کې نه په آخرت کې، خلاصه داسوه چې که دوی ایمان او تقوا اختیار کړي وای نودوی ته به هم دا برکتونه ورکړل سوي وای) لیکن دوی خو (پیغمبران عليهم السلام دروغجن کړل نومونږ (هم) ددوی د (بدو) عملونو په وجه سره دوی په هلاکوونکي عذاب کې ونیول (کم چې یې لوړ په ، اَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً سره تعبیر فرمایلي دی، مخ ته موجوده کفاروته عبرت ورکوي) آیا (ددې

Maktaba Tul Ishaat.com

قصوپه اوریدو سره) بیا هم ددی (موجوده) کلو اوسیدونکی (کوم چی دنبی کریم ﷺ دنبوّت په دور کی موجود دی) ددی خبری څخه بی فکره سویدی چی په دوی (هم) زمونږ عذاب دشپی په وخت کی راسی او دوی بیده وی او آیا ددی (موجوده) کلو اوسیدونکی (سره دکفر اودروغجن کولوکوم چی دتیرو کفارو دهلاکت سبب وو) ددی خبری څخه بی فکره سوي دی چی (ددغو تیرو په شان) په دوی زمونږ عذاب دورځی په غرمه کی راسی کوم وخت چی دوی په خپلوفائدو قصوکی مشغوله وی (مراد ددی څخه ددنیا کاروباردی) هو انوآیا دوی دالله ﷻ ددی (ناڅاپی) نیولو څخه (دکوم چی لوړ بیان سوي دی) بی فکره سول نو(پوه سی چی) دالله ﷻ دنیولو څخه بغیر دهغو څخه دچاچی کم بختی راغلی نور هیڅوك بی فکره کیدی نه سی.

معلومات اومسئلي: دتیرو انبیاؤ علیهم السلام او د دوی دقومونو دتاریخ او د دوی دعبرتناکو حالاتو او واقعاتو څخه دکومو سلسله چی دڅو رکوع ګانو څخه راروانه ده تردی ځایه پوری دپنځو پیغمبرانو علیهم السلام دقصو بیان سوي دی ، شپږمه قصه دحضرتِ موسیٰ علیه السلام او دده دقوم بنی اسرآئیلو ده چی ترنهه آیتونه وروسته په تفصیل سره راتلونکی ده ، دا خبره مخکی اول بیان سوي ده چی قرآن کریم ددنیا او ددنیا دقومونو دتاریخ حالات بیانوی ، مګر طریقه دبیان یی دا وی چی دعامو تاریخی کتابونو او دقصو دکتابونو په شان قصه په ترتیب اوتفصیل سره دبیانولو پرځای دهرمقام په مناسبت سره دیوی قصی یوه حصه بیانوی اوددی سره ددی څخه دحاصلو سوو عبرتونو نتیجی ذکر کوی ، په دی طریقه دلته ددی پنځو قصو بیانولو څخه وروسته په دی لوړو لیکل سوو آیتونو کی څه تنبیهات یعنی خبردارول ذکر دی.

په اول آیت کی ارشاد فرمایی چی دحضرت نوح علیه السلام دقوم او دعادیانو او ثمودیانو سره چی کوم واقعات وسول، دغه څه په دوی پوری خاص نه دی، بلکه دالله ﷻ عادت دا دی چی دقومونو دهدایت او د دوی داصلاح او فلاح دپاره پیغمبران علیهم السلام رالیږی ، کوم خلګ چی په دی غوږ ونه ګوروی نو اول خو دوی ددنیا په مصیبتونو او تکلیفونو کی راګیرول کیږی چی تکلیف او مصیبت ددوی مخ دالله تعالی طرف ته را وګرځوی ځکه چی انسان ته فطرتًا دمصیبت په وخت کی خدای وریادیږی او دظاهری تکلیف او مصیبت په حقیقت کی درحمان او رحیم رحمت او عنایت وی لکه چی مولانا رومی رحمه الله فرمایی.

خلق را با تو چنین بد خو کنند تا ترا ناچار وآنسو کنند

دذکرسوی آیت ، اَخَذْنَا اَهْلَهَا بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُوْنَ هم دا مطلب دی، د ، بُؤس او ، بَاْسَآءَ معنی فقیری او لوږه ده ، اود ، ضَرًا او: ضَرَّآءَ معنی ناروغی اومرض دی، په قرآنِ مجید کی دالفظ ځای په ځای په دی معنی کی راغلی دی حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ددی دامعنی فرمایی اوځینی دلُغت خاوندانو ویلی دی چی ، بؤس او ، بَاْسآء مالی نقصان ته ویل کیږی ، اوو ضَرّآء ځانی نقصان ته ، ددی هم داحاصل دی.

مطلب دآیت دا دی چی کله مونږ یوقوم ته پیغمبر ولیږو اوهغوی دده خبره ونه منی نو زمونږ عادت دا دی چی اول دوی په دنیا کی په مالی او جانی تنګی اوناروغی کی اخته کړو چی دوی لږ څه سُست سی

Maktaba Tul Ishaat.com

اوبر انجام نظر وکړی اوداللہ ﷻ طرف ته راوګرځی، تردی وروسته په دوهم آیت کی فرمایی ، ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ الْحَسَنَةَ حَتّٰى عَفَوْا په دی کی دسیئه څخه مراد هغه فقیری او لوږه ده یا ناروغی اوبد حالی ده ، دکومی ذکر چی لوړ راغی ، اود ، حسنة څخه مراد ددی په مقابله کی دمال ډیروالی اوفراخی اوپه بدن کی صحت اوسلامتیا ده ، اولفظ د عَفَوْ دعفو څخه جوړدی چی ددی یوه معنی دزیاتیدو او ترقی کولو هم ده، ویل کیږی ، عَفَا النَّبَاتُ وابنه یا درخته لویه سوه، عَفَا الشَّحْمُ وَالْوَبَرُ دحیوان وازګه او وربښته لوی سوه په دی معنی سره دعَفَوْا معنی ده زیات سول او ترقی یی وکړه .

مطلب دا دی چی اول امتحان ددی خلګو څخه په فقیری ، لوږه اوناروغی اونورو سره واخیستل سو، کله چی په دی کی ناکامه سول یعنی دالله تعالی طرف ته یی رجوع ونسوه نو امتحان ورڅخه داسی واخیستل سو چی دفقیری اولوږی پرځای ورلره دمال اودولت فراخی اودناروغی پرځای صحت او سلامتی دوی لره ورکړل سوه ، تردی چی دوی ښه زیات سول اوپه هرشی کی یی ښه ترقی وکړه، ددی امتحان غرض داوو چی ترمصیبت وروسته پر راحت او دولت به دوی شکر ګزار سی اودغه ډول به دوی دالله تعالی طرف ته رجوع وکړی، لیکن داپه غفلت کی ډوب په مادی راحتونو او خوندونو کی بدمسته په دی سره هم هوښیار نسول بلکه دایی وویل ، وَقَالُوْا قَدْ مَسَّ اٰبَآءَنَا الضَّرَّآءُ وَالسَّرَّآءُ یعنی داڅه نوی خبره نه ده اونه داڅه دښه یا بد عمل نتیجه ده بلکه دزمانی عادت داسی دی چی کله راحت کله رنځ، کله ناروغی کله صحت، کله تنګی اوکله فراخی وی، زموږ پلار او نیکه ته هم داسی حالات مخ ته راغلی دی .

لنډه دا ده چی اولنی امتحان په تکلیف او مصیبت سره واخیستل سو، چی په دی کی ناکامه سول نوبل امتحان ورڅخه په دولت او راحت سره واخیستل سو، په دی کی هم ناکامه سول اوپه هیڅ ډول سره دخپلی ګمراهی څخه واپس نسول نونا څاپه په عذاب کی ونیول سول ، فَاَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ : دبغتة معنی ده ناڅاپه، مطلب دادی چی کله دا خلګ په دواړه قسمه امتحانونو ناکامه سول اوپوه نه سول نو بیا موږ دوی ناڅاپه داسی په عذاب کی ونیول چی دوی ته یی خبرهم نه وو .

په دریم آیت کی ارشاد دی ، وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰٓى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا فَاَخَذْنٰهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ : یعنی که ددی کلو اوسیدونکو ایمان راوړی وای اودنا فرمانی څخه یی ځان ساتی نوموږ به پردوی دآسمان او دمځکی برکتونه راخلاص کړی وای، لیکن دوی دوراغجن کړل ، نو موږ دوی د دوی دعملونو په وجه ونیول، دبرکت لفظی معنی زیاتوب دی، دآسمان اودمځکی دبرکتونو څخه مراد دادی چی هر قسم خیربه دهر طرف څخه دوی ته خلاص سوی وای، دآسمان څخه به اوبه دضرورت مطابق پروخت اوریدلی، دمځکی څخه به هرشی دخواهش مطابق پیدا کیدی، بیابه ددی شیانو څخه دنفع اخیستو او راحت حاصلولو سامان جمع کیدی چی هیڅ پریشانی اوفکر به ورسره نه وای ، دکوم په وجه سره چی ترلوی لا لوی نعمت ترېخ سی، په هرشی کی به برکت یعنی زیاتوب وای .

بیا برکت په دنیا کی په دوه قسمه سره ښکاره کیږی، کله اصلی شی په واقع کی زیات سی، لکه دنبی

Maktaba Tul Ishaat.com

کریم ﷺ په معجزو کی دیو عادی لوښی په اوبو سره دټولی قافلی اوبه کیدل، یاپه لږ خوراك باندی دټولو خلګو مړیدل ، په صحیح روایتونو کی ذکر دیْ ، اوکله داسی هم کیږی چی که څه هم په ظاهری طور سره په دغو شیانو کی څه زیاتوب نه وی سوی، په مقدارکی هم دومره وی لکه څومره چی وو، لیکن کار وربانديْ دومره وسی چی ددغو په دوچنده، دری چنده بلکه څلور چنده سره کیدی سی اوددی تجربه په عام طور سره کیدی سی، چی یو لوښی، جامه، کور یا دکور سامان داسی مبارك وی چی تول عمر ورڅخه بنده فائده او آرام اخلی اوهغه بیا هم پرخپل ځای وی اوځینی شیان داسی وی چی دجوړولو سره مات سی یاکه روغ هم وی خو ورڅخه دنفعی اخیستلو موقع رانه سی یاورڅخه نفع هم واخلی خو پوره فائده ورڅخه حاصله نه سی.

او دا برکت دانسان په مال کی هم وی، په بدن کی هم وی، په کارکی هم وی، اوپه وخت کی هم وی، ځینی وخت یوه ډوډۍ داسی وی چی دانسان دقوّت او صحت سبب جوړه سی او ځینی وخت ترلوی لا لوی خوراك اوطاقتور خوراك اودوا کارنه کوی، دغه ډول په ځینی وخت کی برکت وی، نوپه یوه ساعت کی دومره کار وسی، چی په نورو وختونو کی په څلورو ساعتوکی هم نه کیږی په دی ټولو صورتونو کی که څه هم چی دمقدار په اعتبار سره نه مال زیات وی اونه وخت، مګر برکت په کښی داسی ښکاره سی چی کار په کښی ډیر وسی.

دی آیت داخبره واضحه کړه چی دآسمان او مځکی دټولو مخلوقاتو او موجوداتو برکتونه پر ایمان او تقوٰی باندی موقوف دی، که دا اختیار کړل سی نو دآخرت دکامیابۍ سره به ددنیا کامیابی اوبرکتونه هم حاصل سی اودایمان اوتقوٰی په پاته کولوکی به ددی برکتونو څخه محرومی وی، دنن دنیا پرحالاتو چی غور وکړل سی نو دا خبره به دیو حقیقت په شکل کی مخ ته راسی چی نن صبا په ظاهری طور باندی دمځکی پیداوار دمځکی په نسبت ډیر زیات دی او داستعمالیدونکو شیانو ډیروالی اونوی نوی ایجادات خودومره دی چی دتیرو نسلونو خوګرسره په تصوّر کی هم نه راتلل ، مګر ددی ټولو شیانو ساز او سامان دډیروالی او زیاتوالی باوجود دنن انسان سخت پریشانه، ناروغ اوتنګدست په نظرراځی، دآرام او راحت، امن او اطمینان خوګرسره وجود هم نسته، ددی سبب ددی څخه ماسوابل څه کیدی سی چی سامانونه ډیر او تول موجود دی، مګر ددوی برکت ختم سوی دی.

دلته دا خبره هم دفکر قابله ده چی دسورةِ انعام په یو آیت کی دکافرانو او فاجرانو په باره کی راغلی دی فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ، یعنی کله چی دی خلګو دالله ﷻ حکمونه هیر کړل نوموږ پردوی باندی دهرشی دروازی خلاصی کړی اوبیا ناڅاپه موږدوی په عذاب سره ونیول، ددی څخه معلومیږی چی ددنیا دهرشی دروازی پرچاباندی خلاصیدل څه حقیقی انعام نه دی، بلکه دایوقسم دالله ﷻ قهر هم کیدی سی او دلته دا وښوول سوه چی که دوی ایمان او تقوٰی اختیارولی نوموږ به په دوی دآسمان اومځکی برکتونه خلاص کړی وای ، ددی څخه معلومیږی چی دآسمان اومځکی برکتونه دالله

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷻ انعامات او دهغه درضا نښانه او علامه ده ، خبره دا ده چې ددنیا نعمتونه اوبرکتونه کله د دوی دجرم اوسرکښۍ په وجه زیاتیږي اودایوازې یوځو ورځې وي دا دقهر اوغضب علامه وي اوکله درحمت اومهربانۍ په سبب ددائمي صلاح اوکامیابۍ دپاره وي ، دا دایمان اوتقوی نتیجه وي ، دصورت په اعتبار سره په دې کې فرق کول ګران وي ، ځکه چې دانجام او عاقبت حال هیڅاته معلوم نه دی ، لیکن خدایي خلګو دنخښو په ذریعه ددې معلومول ښوولې دي ، چې کله دمال اودولت اوعیش اوآرام سره دالله ﷻ دشکر او عبادت نور زیات توفیق وي، نوداسې ګڼل کیږي چې دارحمت دی اوکه دمال دولت عزت اوراحت سره دالله ﷻ څخه مخ اړول او دګناهونو ډیروالی وي نودا ښانه ددې ده چې دا دخدای دقهر یوه علامه ده، الله ﷻ دې مونږ ورځخه په امان کې.

په څلورم آیت کې بیاددنیا ټولو قومونوته دخبرولو دپاره فرمایي، چې ددې کلو اوسیدونکې ددې خبرې څخه بې فکره سوه چې زمونږ عذاب دوی په داسې حالت کې ونیسي کله چې دوی دشپې بیده وي اوآیا ددې کلوخلق ددې څخه بې فکره سول چې زمونږعذاب دوی په داسې حال کې ونیسي کله چې دوی دورځې په خپلولهولعبوکې مشغوله وي، آیاداخلګ دالله ﷻ دپټ تدبیر اوتقدیرڅخه مطئن سول؟ پس ښه پوه سی چې دالله ﷻ دپټ تدبیراوتقدیرڅخه هغه قوم بې فکره کیدې سی کوم چې په خساره کې لویدلې وي لنډه داچې دې خلګوکوم چې ددنیاپه عیشونو اوراحتونوکې مست سول خدای یې هیرکې، دوی ته ددې خبرې څخه بې فکره کیدل نه دي په کارچې دالله ﷻ عذاب پر دوی دشپې په وخت کې یا دورځې په وخت کې په هرڅه حالت کې هم راتلې سي، لکه چې دتیرو قومونو دعذاب دواقعاتو ذکر لوړ راغلی دی دهوښیار کار دادی چې دنورو دحالت څخه عبرت حاصل کې اوکم کار چې دنورو دهلاکت او بربادۍ سبب جوړ سوی دی، دهغه څخه ځان وساتي او ورنژدې نه سي.

أَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ

آیا نه ده ښکاره سوې په هغو خلقو باندې کوم چې وارثان سوي دي دمځکې دهغه ځای دخلقو

أَهْلِهَا أَنْ لَوْ نَشَاءُ أَصَبْنَاهُمْ بِذُنُوبِهِمْ ۚ وَنَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ

دهلاکیدو څخه وروسته چې که مونږ وغواړو نو دوی به ونیسو د دوی په ګناهونو اومونږ مهروهلی دی د دوی

فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾ تِلْكَ الْقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَائِهَا ۚ

په زړونو نودوی نه آوري ، دا کلي دي چې اوروو مونږ تاته د دوی څه حلات ،

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا بِمَا كَذَّبُوْا

اوبیشکه دوی ته رسیدلی وو د دوی پیغمبران دنښانو سره ، بیا هیڅکله ونه سو چی ایمان راوړی په خبره

مِنْ قَبْلُ ؕ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٠١﴾ وَمَا وَجَدْنَا

چی اولی یی درواغجنه کړی وه دغسی مهر وهی الله په زړونو دکافرانو باندی ، اونه دی موندلی مونږ

لِاَكْثَرِهِمْ مِّنْ عَهْدٍ ۚ وَاِنْ وَّجَدْنَآ اَكْثَرَهُمْ لَفٰسِقِيْنَ ﴿١٠٢﴾

اکثر په خلقو کی دوعدی پوره کوونکی ، او اکثره په دوی کی پیدا کړه مونږ نافرمانه

لنډتفسير: (مخ ته ددی علت ښيي چی دوی لره دعذاب څخه ولی بيريدل پکار دی اوهغه علت ددوی دتيرو امتونو سره په جرم اوکفرکی شريکيدل دی يعنی) اوددغو (تيرو) پرمخکه داوسيدونکو څخه وروسته چی کوم خلگ (اوس) په مځکه د دوی په ځای اوسی آيا ددی ذکر سوو واقعاتو څخه دوی ته دا خبره (لاتر اوسه) نه ده معلومه سوی چی که مونږ وغواړو نودوی به (هم په شان دتيرو امتونو) ددوی دجرمونو (کفر اودروغ کولو) په سبب هلاك کړو (ځکه چی تير امتونه ددی جرمونوپه سبب هلاك سوی دی) او (واقعی داواقعات خوداسی دی چی ددی څخه عبرت اخيستل په کار وو ، ليکن اصل دا دی چی) مونږ د دوی په زړونو باندی مهرونه لګولی دی نو په دی سره (حقه خبره په زړه سره) اوری (هم) نه (اومنل خو لا پريږده ، په دی بند يعنی مهر لګولو سره د دوی زړونه نور سخت سول چی دداسی عبرتناکو واقعاتو څخه هم عبرت نه اخلی ، اوددی مهر لګولو سبب ددوی په اول کی کفر کول دی ، لکه چی الله ﷻ فرمايی ، بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ مخ ته شايد چی نبی کريم ﷺ ته دتسلی دپاره دټول مضمون خلاصه ده چی) ددی (ذکر سوو) کلو ځينی ځينی قصی مونږتاته بيان کړيدی اودی ټولو (دکلو اوسيدونکو) ته ددوی پيغمبران دمعجزو سره راغلی وه (مګر) بيا (هم ددوی دضد اوعناد داحال وو چی) کم شی ته چی دوی په اول کی دروغ وويل داسی خبره ونه سوه چی بيايی هغه منلی وای (اولکه څنګه چی ددوی زړونه سخت وه) الله ﷻ دغه ډول دکافرانو په زړونو باندی مهر لګوی او (په دوی کی ځينی خلګ په مصيبتونو کی دايمان راوړلو وعده هم کوی ليکن) په اکثرو خلګو کی مونږ دوعدی پوره کول ونه ليدل (يعنی دمصيبت ترليری کيدو وروسته بيا هم دغسی پاته کيدل) او مونږ اکثره خلګ (سره دليدلو درسولانو او دمعجزو ظاهريدلو اوواضحو دليلونو راتلو اوسره دمعاهدو کولو) نافرمانه پيدا کړل (پس کفار هميشه داسی وی ، نو ته هم غم مه کوه)

معلومات اومسئلي: په ذکر سوو آيتونوکی هم دتيرو قومونو دحالاتو او واقعاتو بيانولو څخه موجوده عربو او عجمو قومونو ته دا ښوول مقصود دی ، چی په دی آيتونوکی ستاسی دپاره دعبرت لوی سبق

Maktaba Tul Ishaat.com

دی چی دکوموکارونو په وجه په تیرو خلکو باندی دالله ﷻ غضب اوعذاب نازل سو، دی ته دی نه ورنژدی کیږی اودکومو کارونو په وجه سره چی انبیاء علیہم السلام او ددوی تابعدارانو ته کامیابی حاصله سوه هغه اختیار کی، لکه چی په اول آیت کی ارشاد دی.

اَوَلَمْ یَهْدِ لِلَّذِیْنَ یَرِثُوْنَ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِ اَهْلِهَاۤ اَنْ لَّوْ نَشَآءُ اَصَبْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ دهدی، یهدی.

معنی نشاندهی کول اوښوول دی، دلته ددی فاعل هغه واقعات اوحالات دی، دکومو چی لوړ ذکر سوی دی معنی داده چی دموجوده زمانی خلک کم چی دتیرو قومونو دهلاکیدو څخه وروسته ددوی دمځکو مکانونو وارثان جوړ سول یا آینده جوړیږی، آیا دوی ته تیرو عبرتناکو واقعاتو داونه ښوول چی دکفر اوانکار اودالله ﷻ دحکمونو څخه دخلاف ورزی په نتیجه کی څنګه ددوی څخه مخکی قومونه هلاک اوبرباد سوی دی، دغه شان که دوی هم دغه کارونه کوی نو په دوی هم دالله ﷻ قهر اوغضب راتلی سی. تردی وروسته فرمایی، وَنَطْبَعُ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا یَسْمَعُوْنَ د، طبع معنی چاپ کول او مهرلګول دی اومعنی داده چی داخلک دتیرو واقعاتو څخه هم څه عبرت او هدایت نه حاصلوی چی نتیجه یی داسی چی دالله ﷻ دغضب څخه د دوی په زړونو مهر ولګیږی، بیا دوی هیڅ نه اوری، په حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی کله یوانسان اول اول ګناه کوی، نو دده په زړه یو تور ټکی (نقطه) جوړیږی چی دوهمه ګناه کوی نو دوهم اوچی دریم کوی نودریم ټکی لګیږی اودغسی چی دی ګناهونه کوی نودغه ټکی زیاتیږی اوچی توبه نه کوی نودا تور ټکی دده ټول زړه ونیسی او دانسان په زړه کی چی الله ﷻ کومه دښه اوبد پیژندلو فطری ماده ایښی ده هغه ختمه اوفنا سی او نتیجه یی داسی چی دی پرښه دبد اوپربد دښه، پرمفید دمضر اوپر مضر دمفید خیال کوی، دا حالت یی په قرآن کی په، رَانَ سره تعبیر کړي دی یعنی دزړه په زنګ سره، او ددی حالت آخری نتیجه هغه ده کومه چی یی په، طبع یعنی مهر لګولو سره په دی آیت کی اوپه ډیرو نورو آیتونوکی تعبیر کړي ده.

دلته دا خبره دنظر قابله ده چی په زړه دمهر لګیدو نتیجه خوعقل اوپوه ورکیدل دی، دغوږونو په اوریدو خو ددی څه اثرنه کیږی نو په دی آیت کی موقع ددی وه چی دلته یی، فَهُمْ لَا یَفْقَهُوْنَ فرمایلی وی یعنی دوی نه پوهیږی، لیکن په قرآن کریم کی دلته، فَهُمْ لَا یَسْمَعُوْنَ راغلی دی، یعنی دوی نه اوری، سبب دا دی چی داوریدو څخه دلته مراد منل اوطاعت کول دی کومه چی نتیجه وی دپوهیدلو، مطلب دا دی چی پرزړونو دمهر لګیدو په سبب سره دوی څه حقی خبری منلوته نه تیاریږی او دا هم ویل کیږی چی دانسان زړه دده دټولو اندامونو اوجوړونو مرکز دی، کله چی دزړه په کارونوکی خلل راسی، نودټولو اندامونو کارونه خراب سی، کله چی په زړه کی دیوشی ښه والی یا بدوالی ځای سی، نوبیا په هرشی کی ده ته په سترګو سره هم دغه په نظر راځی، په غوږونو سره هم دغه ورته اوری

چشم بد اندیش که بر کنده باد عیب نماید هنرش در نظر

یعنی ددښمن سترګو ته دبنده هنر هم عیب ښکاره کیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په دوهم آیت کی ارشا دفرمایی ، تِلْكَ الْقُرٰى نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآىِٕهَا، انباء دنبا جمع ده چی معنی یی ده یوعظیم الشان خبر، معنی دا ده چی دهلاك سوو کلیو ځینی واقعات مونږ تاته بیانوو، په دی کی یی په حرف د مِنْ سره اشاره دی ته وکړه چی دتیرو قومونو حالات او واقعات کوم چی ذکر سوی دی دا ټول واقعات نه دی بلکه دزرگونو واقعاتو څخه دیوڅو مهمو واقعاتو بیان دی، تردی وروسته فرمایی ، وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا بِمَا كَذَّبُوْا مِنْ قَبْلُ یعنی دی ټولو خلگوته رسولان دمعجزو سره راغلی دی دکومو په ذریعه چی به دحق او دباطل فیصله کیده مگر ددوی دضد او دعناد داحال وو چی دکوم شی متعلق به یو واری ددوی دژبی څخه دا ووتل چی داغلط اودروغ دی بیاکه به هرڅومره معجزی اودلیلونه ددغه دحق والی اوربښتینوالی دپاره دوی ته راغلل خودوی به ددغه شی تصدیق اواقرار ته نه تیاریدل، ددی آیت څخه یوه خودا معلومه سوه چی ټولو رسولانو او انبیاوو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ته معجزی ورکول سوی دی ، چی په دی کی دځینو انبیاوو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دمعجزو ذکرپه قرآن کی راغلی دی او ددیرو نه دی راغلی، ددی څخه داخبره ګڼل نه صحیح کیږی چی دکومو معجزو ذکر په قرآن کی نه دی راغلی ، ددی څخه څه معجزه نه ثابتیږی اوپه سورة هود کی چی دحضرت هود عَلَيْهِ السَّلَامُ دقوم کوم قول ذکر دی چی ، مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ یعنی تاڅه معجزه نه ده راوړی ، ددی آیت څخه معلومه سوه چی د دوی دا خبره محض په عناد او بغض باندی وه یا دا چی دده معجزی یی معمولی وګڼلی نو داسی یی وویل .

دوهمه دا خبره دتوجه قابله ده چی په دی آیت کی ددغو خلگو چی کوم حال ښوول سوي دی چی کومه غلطه خبره به یی دخُلی څخه ووتله نوبیابه یی دهغه پالنه کوله ددی خلاف که هرڅومره واضح دلیلونه به مخ ته راغلل خودوی به دخپلی خبری حفاظت کوی، دا دخدای څخه دمنکرو اوکافرو قومونو حال دی په کوم کی چی ډیر مسلمانان بلکه ځینی علماء اوخواص هم په دی کی اخته لیدل کیږی چی کوم شی ته یی په اول وار غلط یادروغ وویل نواوس ددی دربښتینوالی په زرگونو دلیلونه که هم مخ ته راسی، خو دوی به دخپلی غلطی خبری پیروی کوی ، داحالت دخدای عَزَّوَجَلَّ دقهر اوغضب موجب دی (ازمسائل السلوك)

تردی وروسته فرمایی ، كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ الْكٰفِرِيْنَ یعنی لکه څنګه چی ددی خلگو پرزړونو باندی مهر ولګول سو، دغه شان دعامو کافرانو په زړونو الله عَزَّوَجَلَّ مهر لګوی ، چی بیا په کښبی دنیکی قبلولو صلاحیت باقی نه پاته کیږی .

په دریم آیت کی ارشاد فرمایی ، وَمَا وَجَدْنَا لِاَكْثَرِهِمْ مِّنْ عَهْدٍ یعنی په دوی کی اکثره خلگ مونږ وعده پوره کوونکی پیدا نه کړل .

حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایی چی دوعدی څخه مراد دالَسْتُ عهد دی، چی په ازل کی دټول مخلوق ترپیدا کولو مخکی یی ددوی ټولو روحونه پیدا کړل اوالله عَزَّوَجَلَّ ورته وفرمایل ، اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ یعنی آیازه ستاسی پروردگار نه یم؟ دغه وخت دټولو انسانانو روحونو داقرار او وعدی په طورسره جواب ورکی: بَلٰى، یعنی خامخاته زمونږ رب یی، دنیاته چی راغلل نواکثرو خلگو دازل داوعده هیره کړه ،

خدای ﷻ یی پرییښووی ، دمخلوق پرستی په لعنت کی ګرفتار سول ، په دی وجه په دی آیت کی فرمایی چی مونږ په دوی کی اکثره خلګ پروعده پوره کولو پیدا نه کړل (کبیر)

اوحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمایی چی دوعدی څخه مراد وعده دایمان ده ، لکه چی په قرآن شریف کی فرمایی ، اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنۡدَ الرَّحۡمٰنِ عَهۡدًا په دی کی دعهد څخه عهد دایمان اواطاعت مراد دی، نو دآیت لنډ مطلب داسو چی په دی خلګوکی اکثرو دایمان اوطاعت وعده زمونږ سره کړی وو، بیایی ددی خلاف ورزی وکړه دعهد ترلو څخه مراد دادی چی په عام طور سره انسان کله په یو مصیبت کی ګیر سی، نودغه وخت که هرڅومره فاسق اوفاجروی خوده ته هم خدای یادیږی او اکثره په زړه کی یاپه ژبه سره وعده کوی چی که ددی مصیبت څخه راته نجات حاصل سو نو دالله ﷻ په عبادت اوطاعت کی به شروع سم نافرمانی به نه کوم، لکه چی په قرآن کریم کی دډیرو خلګو داحال ذکر سوی دی ، لیکن کله چی دوی ته نجات ورکول سی او ددغه مصیبت څخه خلاص سی آرام او راحت پیدا کی نو بیا په خواهشاتو کی ګیرسی او دغه وعده هیره کی .

په ذکر سوی آیت کی دلفظ د ، اکثرڅخه دی طرف ته هم اشاره کیږی څکه چی ډیر خلګ خوداسی بدبخته وی چی دمصیبت په وخت کی هم دوی ته خدای نه یادیږی اودغه وخت هم دوی دایمان اوطاعت وعده نه کوی، نوددوی څخه دوعدی ماتولو دشکایت کولو څوګرسره څه معنی نسته اوډیر خلګ هغه هم دی چی وعده پوره کوی ، دایمان او طاعت حقونه پوره کوی ، په دی وجه یی وفرمایل ، وَمَا وَجَدۡنَا لِاَكۡثَرِهِمۡ مِّنۡ عَهۡدٍ یعنی مونږ په دوی کی اکثره خلګ وعده پوره کوونکی پیدا نه کړل .

ددی څخه وروسته فرمایی ، وَاِنۡ وَّجَدۡنَاۤ اَكۡثَرَهُمۡ لَفٰسِقِيۡنَ یعنی مونږپه دوی کی اکثره خلګ داطاعت اوفرمان برداری څخه دباندی پیدا کړل .

تردی ځایه پوری یی دپنځو پیغمبرانو علیهم السلام اوددوی دقومونو پنځه واقعات بیان کړل موجوده خلګو ته یی ددی څخه دعبرت او نصیحت حاصلولو دپاره خبرداری وفرمایی، تردی وروسته شپږمه قصه دحضرت موسیٰ علیه السلام په تفصیل سره بیانیږی، چی په دی کی دواقعاتوپه ضمن کی په سوونو حکمونه اومسئلی اودعبرت او نصیحت بی شمیره موقعی دی اوددی دپاره په قرآن کریم کی ددی واقعی اجزاء وار وار بیان سوي دی .

ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۡۢ بَعۡدِهِمۡ مُّوۡسٰی بِاٰيٰتِنَاۤ اِلٰی فِرۡعَوۡنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَظَلَمُوۡا

بیا ولیږل مونږ د دوی څخه وروسته موسیٰ علیه السلام دخپلو نښانوسره فرعون اوده سردارانو ته نو کفر وکی دوی

بِهَا ۚ فَانۡظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الۡمُفۡسِدِيۡنَ ﴿۱۰۳﴾ وَقَالَ مُوۡسٰی يٰفِرۡعَوۡنُ

دده په مقابله کی ، نو وګوری چی څه انجام سو دفساد کوونکو ، او وویل موسیٰ علیه السلام ای فرعونه !

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾ حَقِيقٌ عَلٰى أَن لَّا أَقُولَ عَلَى

زه رسول یم دپروردگار عالم له اړخه ، قائم یم په دی خبره باندی چی ونه وایم

اللّٰهِ إِلَّا الْحَقَّ ۚ قَدْ جِئْتُكُم بِبَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَرْسِلْ مَعِيَ

دالله دطرف څخه مگر کومه چی رښتیا ده ، راوړی می دی تاسی ته ښنانی ستاسی درب دطرف څخه نو ولیږه

بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿١٠٥﴾ قَالَ إِن كُنتَ جِئْتَ بِآيَةٍ فَأْتِ بِهَا إِن

زماسره بنی اسرائل ، ویی ویل که تا څه ښنانه راوړی وی نو راوړه هغه

كُنتَ مِنَ الصّٰدِقِينَ ﴿١٠٦﴾ فَأَلْقٰى عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿١٠٧﴾

که ته رښتینی یی ، نو وغورځوله ده خپله لکړه نو دغه وخت سوه اژدها ښکاره ،

وَنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا هِيَ بَيْضَاءُ لِلنّٰظِرِينَ ﴿١٠٨﴾ قَالَ الْمَلَأُ مِن قَوْمِ

او را ویستی خپل لاس نو دغه وخت هغه سپین ښکاریدی کتونکوته ، وویل سردارانو دقوم

فِرْعَوْنَ إِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٩﴾ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُمْ ۖ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿١١٠﴾

دفرعون دا خوځوك لوی پوه جادو گر دی ، ایستل غواړی تاسی ستاسی دملك څخه اوس ستاسی څه صلاح ده ؟

لنډتفسیر: بیا د دوی (ترذکر سوو پیغمبرانو) وروسته موږ (حضرت) موسیٰ ؑ دخپلو دلیلونو (یعنی معجزو) سره فرعون اودهغه سردارانوته (ددوی دهدایت او تبلیغ دپاره) ولیږلی پس (کله چی حضرت موسیٰ ؑ دغه دلیلونه ظاهر کړل نو) دغو خلکو ددی (دغو معجزو) بالکل حق ادانه کی (ځکه چی ددی حق او مقتضیٰ داوه چی ایمان یی راوړی وای) پس وګوری ددی فساد کوونکو څه (بد) انجام سو (لکه چی بل ځای ددوی غرقیدل او هلاکیدل ذکر دی ، داخو دټولی قصی اجمال وو ، مخ ته یی تفصیل دی یعنی) اوموسیٰ (ؑ فرعون ته ولاړی دالله ﷻ په حکم یی) وفرمایل چی زه درب العلمین دطرف څخه (ستاسی خلګو دهدایت دپاره) پیغمبر (مقرر سوی) یم (نوځوك چی ماته دروغ وایی دده غلطی ده ځکه چی) زما سره دا مناسب نه دی چی بغیر درښتیاوو څخه دخدای ﷻ طرف ته دیو خبری نسبت ونه کړم (اوزه خالی درسالت دعوه نه کوم بلکه) ماتاسی ته ستاسی درب دطرف څخه یو لوی دلیل (یعنی معجزه) هم راوړیده (کمه چی دغوښتلو په وخت کی ښوولی سم) پس (کله چی زه سره ددلیله رسول یم نوزه چی څه وایم دامنی لکه چی په دی کارونو کی یوزه داوایم چی) ته بنی اسرائیل (دخپل بیګار څخه آزاد کړه) زما

Maktaba Tul Ishaat.com

سره یې (دشام ملك ته چې د دوی اصلي وطن دی) ولیږه ، فرعون وویل چې که تا (دالله ﷻ دطرف څخه) څه معجزه راوړی وی نواوس یې پیش کړه که چیری ته (په دې دعوٰی کې) رښتینی یې، بس ده (فوراً) خپله همسا (پرمځکه) وغورځوله، پس ناڅاپه هغه یوه اژدها جوړه سوه (داسې چې په دې اژدها (افعی مار) کېدوکې یې هیڅ شك شبهه نه سوه کېدی) او (دوهمه معجزه یې داظاهره کړه چې) خپل لاس یې (په ګریبان دننه کې) دباندې یې را وایستی ، نو هغه یکدم ټولو کتونکوته مخامخ ډېر بریښېدونکی سو (چې دا هم ټولو ولیدی ، حضرت موسٰی ؑ چې دا لویې معجزې ظاهرې کړې نو فرعون درباریانو ته وویل چې داسړی لوی جادوګر دی، دده اصل مقصد دادی چې په خپل جادو سره پرتاسې خلګو باندې غالب راسی، ددې ځای سردارسی اوتاسې په دې ځای کې آبادېدو ته پرې نه ږدی، نو په دې باره کې ستاسې څه مشوره ده داقول دفرعون په سورة شعراء کې نقل دی، ددې په اورېدو سره لکه څنګه چې دبادشاهانو ددرباریانو په خبرو کې دهوا ملاوولو عادت وی، دفرعون دوینا دتصدیق اودده سره دموافقت دپاره) دفرعون په قوم کې چې کم سرداران (او ددربار) خلګ وه، هغوی (یوبل ته) وویل چې واقعې (لکه څنګه چې زمونږ بادشاه وایې چې) داسړی لوی ماهر جادوګر دی (خامخا) دی غواړی چې (دخپل جادوپه زورسره په خپله سره دبنی اسرائیلو سردارسی او) تاسې (په وجه ددې چې دبنی اسرائیلوپه نظرکې ازغی یاست) ستاسې د (دی) مځکې څخه وباسې پس تاسې خلګ (لکه څنګه چې بادشاه یوښتنه کوی) څه مشوره ورکوی ؟

معلومات اومسئلې: په دې سورة کې چې څومره قصې اووقعات دپیغمبرانو ؑ او د دوی دامتونو ذکر سوی دی دا په هغوی کې شپږمه قصه ده ددې دزیات په تفصیل سره دبیانولو سبب دا هم دی چې دحضرت موسٰی ؑ معجزې په نسبت دنورو تیرو پیغمبرانو په شمیر کې هم زیاتی دی او په قوت دظهور کې هم دغه ډول دده په مقابله کې دده دقوم بنی اسرائیلو جهالت اوعناد هم دتیرو امتونوپه مقابله کې زیات سخت دی ، او دا هم ده چې ددې قصې په ضمن کې ډېر معلومات ، مسئلې او احکام هم راغلی دی ، په اولنی آیت کې ارشاد فرمایې چې تردوی وروسته یعنی تر نوح ؑ هود ؑ صالح ؑ لوط ؑ اوشعیب ؑ څخه یا ددوی ترقومونو وروسته مونږ حضرت موسٰی ؑ ته خپلې معجزې ورکړې اوفرعون او دده قوم ته مو ولیږی، دآیتونو څخه مراد دتورات آیتونه هم کېدی سی او دحضرت موسٰی ؑ معجزې هم، اوفرعون په دغه زمانه کې دمصر دهریوه باچا لقب وو، دحضرت موسٰی ؑ دزملنی دفرعون نوم قابوس بنوول کیږی (قرطبی)

د: فَظَلَمُوا بِهَا ضمیر مجرور آیتونوته راجع دی، معنٰی داده چې دی خلګو زمونږ پر آیتونو ظلم وکی اودالله ﷻ په آیتونو کې دظلم کولو څخه مراد دادی چې دی خلګو دالله ﷻ دآیتونو قدر ونه پیژندی اوپه دی یې دشکر په ځای ناشکری ، داقرار په ځای انکار، دایمان پرځای یې کفر اختیار کې څکه چې دظلم اصلی معنٰی داده چې یو شی دهغه دمحل اوموقعې خلاف استعمال کې .

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا فرمایي ، فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ يعني وګوره چې بیا ددی فساد کوونکو څه انجام سو، مراد
دادی چې ددوی پرحالاتو اوانجام باندی دی فکر وکی اوعبرت ورڅخه حاصل کی، په دوهم آیت کی
فرمایي چې حضرت موسٰی علیه السلام فرعون ته وویل چې زه درب العٰلمین رسول یم زما دحال اومرتبي دنبوت
تقاضا داده چې زه دالله ﷻ طرف ته بغیر دربنتیاوو څخه دبلی خبری نسبت ونه کړم ، ځکه چې
پیغمبرانو ته چې کوم پیغام دالله ﷻ دطرف څخه ورکول کیږي، هغه ددوی سره دخدای امانت وی، په دی
کی دخپل طرف څخه کمی یازیاتی کول خیانت دی اوټول پیغمبران علیهم السلام دخیانت اوهری ګناه څخه
پاك اومعصوم دی، ددی مطلب دادی چې تاسی خلګو ته زما پرخبره ځکه یقین کول په کار دی چې زما
رښتینوالي ستاسی دټولو په مخکې دی، مانه هیڅکله دروغ ویلي دی اونه یې ویلي سم ددی څخه
علاوه ، قَدْ جِئْتُكُمْ بِبَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَأَرْسِلْ مَعِيَ بَنِيْٓ إِسْرَآءِيْلَ يعني یوازی داخبره نه ده چې ماهیڅکله دروغ نه دي
ویلي بلکه زما پردعوٰی باندی دلیل زما معجزی هم دی په دی وجه ددی ټولو شیانو تقاضا داده چې
تاسی زما خبره واوری اوویې منی، بني اسرائیل چې تاسی غلامان جوړ کړیدی، ددی څخه یې آزادکی
اوزما سره یې کی، دفرعون یوه خبره بله هم پرغوږونو ونه لګیده، دمعجزی لیدو مطالبه یې وکړه اوویې
ویل: اِنْ كُنْتَ جِئْتَ بِاٰيَةٍ فَأْتِ بِهَا اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ يعني كه تا واقعي څه معجزه راوړې وی نوپیش یې کړه
که په خپله خبره کی رښتیني یې ، حضرت موسٰی علیه السلام دده مطالبه ومنله خپله همسا یې مخکې ته واچوله
اوهغه اژدها جوړ سو ، فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ. ثعبان: لوی اژدها ته ویل کیږي اوددی صفت یې ، مبین، ذکر کی
ویې ښووی چې ددی همسا څخه مار جوړیدل ، څه داسی واقعه نه وه چې په تیاره کی یا یوګنج کی
داکار سوی وی چې څوك یې وینی اوڅوك یې نه وینی، لکه په عام طورسره چې مداریان او جادوګر یې
کوی، بلکه داواقعه په ډك دربارکی دټولو په مخکې وسوه او ټولو ولیده .

په ځینو تاریخي روایتونوکی دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه نقل دی چې دی اژدها دفرعون طرف ته خُله
وازه کړه نو وبیریدی دتخت څخه یې راټوپ کړه اودحضرت موسٰی علیه السلام شاته سو ځان یې ورڅخه پټ کی
اوددربارپه زرګونو خلګ دبیری څخه مړه سول (تفسیر کبیر)

دهمسا څخه بالکل په رښتیا سره مار جوړیدل ناممکن یامحال سی نه دی البته دعام عادت څخه دخلاف
کیدو په وجه حیرانوونکی اودتعجب خبره خامخا ده او دمعجزی اوکراماتو منشاء هم داوی چې عام
خلګ یې نه سی کولی ، دا دانبیاء علیهم السلام په لاسونو دالله ﷻ دطرف څخه جاری کړل کیږي ، ددی دپاره
چې عوام په پوه سی چې ددوی سره څه خدایي طاقت کار کوی، په دی وجه دحضرت موسٰی علیه السلام دهمسا
څخه مار جوړیدل څه دتعجب او انکار خبره نه سی کیدی .

ددی څخه وروسته فرمایي ، وَنَزَعَ يَدَهُ فَاِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ، د ، نَزَعَ معنی ده یو شی دبل شی څخه یوڅه په
سختی سره را ایستل، مراد دادی چې خپل لاس یې را وکښی اورا ویې ایستی، دلته داذکر نسته چې
دڅه شی څخه یې را وایستی، په نورو آیتونوکی دوه شیان ذکردی، یوځای ، اَدْخِلْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ راغلی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

چې معنٰی یې داده چې خپل لاس په خپل گریوان کې دننه که، بل ځای ، وَاضْمُمْ یَدَكَ اِلٰی جَنَاحِكَ ذکردې چې معنٰی یې داده چې خپل لاس په خپل تخرګی داخل که، ددې دواړو آیتونو څخه معلومه سوه چې لاس را ایستل دګریوان ددننه څخه یا دتخر دلاندې څخه وو، یعنې کله به یې دګریوان ددننه څخه په لاس را ایستلو سره اوکله دتخر دلاندې څخه په را ایستلو سره دامعجزه ظاهریده چې ، فَاِذَا هِیَ بَیْضَآءُ لِلنّٰظِرِیْنَ : یعنې دغه لاس به بریښیدونکې سو کتونکو ته .

د، بَیْضَآءَ لفظې معنٰی سپین ده او دلاس سپین والې کله دبرص دبیمارې په سبب هم کیږي، په دې وجه په بوبل آیت کې دلته مِنْ غَیْرِسُوْءٍ لفظ هم راغلې دې چې معنٰی یې داده چې دادلاس سپینوالې دڅه ناروغې په سبب نه وو او دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ دروایت څخه معلومیږي چې دا سپینوالې هم معمولې سپینوالې نه وو ، بلکه په دې سره به رڼا کیده چې ټول شاوخوا به ورڅخه روښانه کیدل، (قرطبې)

دلته لفظ د، لِلنّٰظِرِیْنَ یې زیات کې ددې رڼادعجیبه اوناآشنا والې طرف ته یې اشاره فرمایلې ده چې دا داسې عجیبه رڼا وه چې ددې لیدوته به کتونکې جمع کیدل .

دا وخت دفرعون په مطالبه باندې حضرت موسٰی ﷺ دوې معجزې وښوولې، یوه دهمسا څخه اژدها جوړیدل، دوهم دلاس په ګریوان یاتخرګې په دننه کولو اوبیا را ایستلو سره په دې کې رڼا پیدا کیدل، اوله معجزه دمخالفینو دبیرولو دپاره او دوهمه معجزه ددوې دترغیب اودنژدې راوستلو دپاره چې په دې کې اشاره وه چې دحضرت موسٰی ﷺ تعلیم دهدایت یونور لرې، دده تابعدارې دفلاح باعث ده .

قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِیْمٌ : لفظ د ، مَلَا دیو قوم با اثره سردارانو ته ویل کیږي، معنٰی داده چې دفرعون دقوم سردارانو دامعجزې ولیدې، خپل قوم ته یې خطاب وکې او ویې ویل چې داخو لوې ماهر جادوګر دې، وجه دا وه چې .

فکر هر کس بقدر همت او است

یعنې دهر سړي فکر دده دپوهې په مقدار باندې وي .

دې عاجزانوته دخداې ﷻ او دده دکامل قدرت څه خبر وو، چاچې ټول عمر فرعون خپل خداې او جادوګران یې خپل رهبران ګڼل او دجادوګرو چالاکې یې لیدلې وې، دوې ددې حیرانونکې واقعې پرلیدو باندې ددې څخه ماسوا نور څه ویلاې سواې چې داهم یولوې جادوې دې، لیکن دې خلګوهم دلته دسَاحِرٌ سره د: عَلِیْمٌ لفظ زیات کې اودایې ظاهره کړه چې دحضرت موسٰی ﷺ دمعجزې متعلق دا احساس دوې ته هم سوې وو چې داکار دعامو جادوګرو دکار څخه ممتاز اومختلف دې، په دې وجه دومره اقرار یې وکې چې دا لوې ماهر جادوګر دې .

(په معجزه اوپه جادوکي فرق)

اوالله ﷻ همیشه دانبیاء علیهم السلام معجزې په داسې اندازسره ظاهروې چې که کتونکې لږهم فکر وکې اوعناد اختیارنه کې نو دمعجزې او سحر په فرق به خپله پوه سي، سحر کوونکې په عام طور سره په

Maktaba Tul Ishaat.com

ناپاکي اوګندګي کي اوسي، اوځومره چي زيات په ګندګي اوناپاکي کي وي، دومره ددوي جادو زيات کامياب وي په خلاف دپيغمبرانو څخه چي پاکي اوصفا يي ددوي طبيعت ثانيه وي اودا هم دالله ﷻ دطرف څخه ښکاره فرق دی چي دنبوت ددعوه کوونکي سره دچا جادو هم نه چليږي، اودپوهي خاوندان خواصل حقيقت پيژني چي په جادو سره کم شيان ظاهريږي هغه ټول دطبعي دائري په اسبابو کي وي. فرق يوازي دومره وي چي دغه اسباب عامو خلګوته ښکاره نه وي بلکه پټ اسباب وي، په دی وجه دوی داسي ګڼي چي داکار بغير دڅه ظاهري سبب څخه وسو، په خلاف دمعجزي څخه چي په دې کي دطبعي اسبابو مطلق څه دخل نه وي، دغه سيده په سيده دقدرةِ حق کار وي، په دی وجه يي ددی نسبت په قرآن شريف کي دالله ﷻ طرف ته کړيدی. وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى، ددی څخه معلومه سوه چي دمعجزی اوسحر حقيقتونه بالکل مختلف اوجلا دی حقيقت پيژندونکي ته په کښي هيڅ التباس (ګډون) نسته عوامو ته کيدی سوای ، مګر الله تعالی ددی التباس ليری کولو دپاره هم داسي فرقونه په کی کښيښول چي په دی سره خلګ ددوکي څخه محفوظ سي .

لنډه دا ده چي دفرعون قوم هم دحضرت موسٰى عليه السلام معجزه دخپلو جادوګرو دکارونو څخه يو څه ممتازه او مختلفه وليده، په دی وجه پردی مجبوره سول چي دا ووايي چي دا لوی ماهر جادوګر دی چي عام جادوګران دده په شان کارونه نه سي ښوولی .

يُرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ : يعني داماهر جادوګر دا غواړي چي تاسي ستاسي دملك څخه باسي ، اوس ووايااست چي ستاسي څه رايه ده؟ څه مشوره ورکوی؟

قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَاَرْسِلْ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿١١١﴾ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ ﴿١١٢﴾ وَجَآءَ السَّحَرَةُ

ويي ويل مهلت ورکړه ده ته او ورور دده ته او وليږه پرګنو (ښارونو) ته جمع کوونکي ، چي راجمع کړي تاته کوم چي وي کامل جادوګر ، او راغلل جادوګران ،

فِرْعَوْنَ قَالُوْٓا اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿١١٣﴾ قَالَ نَعَمْ

فرعون ته ويي ويل زمونږ دپاره څه مزدوري سته که مونږ غالب سو ، ويي ويل هو

وَاِنَّكُمْ لَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿١١٤﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ

اوبيشکه تاسي به مقربين سی ، ويي ويل ای موسٰی ، يا خو ته وغورځوه او يا مونږ

نَّكُوْنَ نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ ﴿١١٥﴾ قَالَ اَلْقُوْا فَلَمَّآ اَلْقَوْا سَحَرُوْٓا اَعْيُنَ

غورځوو ، ويي ويل وغورځوی بيا چي کله هغو وغورځول ويي ترلی سترګی

Maktaba Tul Ishaat.com

النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَآءُوْ بِسِحْرٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۱۶﴾ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى

دخلقو او دوی یی ډیر بیرول او را یی وړو لوی جادو ، او مونږ حکم ولیږی

مُوْسٰٓى اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَاِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ فَوَقَعَ

موسیٰ ته چی وغورځوه خپله لکړه ، نو هغه تیرول شروع کړه دهغه تماشی چی دوی جوړه کړی

الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوْا

وه ، نو ظاهر سو حق او باطل سو څه چی دوی کول ، نو ویی بائیلله دغلته او واپس سول

صٰغِرِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ وَاُلْقِىَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۱﴾

ذلیله ، او ولویدل جادو ګران په سجده کی ، ویی ویل مونږ ایمان راوړو په پروردګار عالم

رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾

کوم چی رب دی دموسیٰ ﷺ او دهارون ﷺ.

تفسیر: (غرض داچی مشوره یی وکړه) دوی (فرعون ته) وویل چی ته ده (موسیٰ ﷺ) ته او دده ورور (هارون ﷺ) ته مهلت ورکه او (په خپلو حدونو دحکومت کی) ښارونو ته (را غوندوونکی یعنی چپراسیانو ته (حکمنامی ورکه) ویی لیږه چی دوی (دټولو ښارونو څخه) ټول ماهران جادوګران (راجمع کی) تاته یی حاضر کی (لکه چی داسی انتظام وسو) اوهغه جادوګران فرعون ته حاضر سول (او) وئی ویل چی که مونږ (پرموسیٰ) غالب راغلو نو (آیا) مونږته به څه لویه صله (او انعام) را کول سی، فرعون وویل چی هو! (انعام به هم لوی درکول سی) او (پردی سربیره به داوسی چی) تاسی به (زما) په نژدیکانو خلګو کی داخل سی (غرض داچی موسیٰ ﷺ ته دفرعون دطرفه ددی خبر ورکول سو اودمقابلی دپاره تاریخ مقررسو اوپردغه تاریخ ټول په یومیدان کی جمع سول دغه وخت) دی ساحرانو (موسیٰ ﷺ ته) عرض وکی چی ای موسیٰ ﷺ (مونږ تاته اختیار درکوو) چی ته (اول خپله همسا میدان ته) وغورځوه (کوم ته چی ته خپله معجزه وایی) اویا (ته ووایه نو) مونږ (خپلی رسی او همساګانی میدان ته) غورځوو (موسیٰ ﷺ) وفرمایل چی تاسی یی (اول) وغورځوی کله چی هغوی (خپلی رسی او همساګانی) وغورځولی نو (په جادو سره یی دلیدونکو) خلګو نظرونه بند کړل (چی په دی سره هغه همساګانی اورسیانی دمارانو په شکل کی ښوریدونکی لیدل کیدی) اوپردوی یی هیبت راوستی اویو قسم لوی

Maktaba Tul Ishaat.com

جادو یې وښووی او (دغه وخت) مونږ موسیٰ ﷺ ته (په ذریعه دوحی) حکم وکې چې ته خله همسا وغورځوه (لکه څنګه چې غورځول کیږی) نو دهمسا غورځول وو چې هغه (داژدها په جوړیدو سره) د دوی ټولې جوړې کړې تماشې تیرول شروع کړل پس (دغه وخت د) حق (حقوالی) ظاهر سو اودوی (یعنی ساحرانو) چې څه جوړ کړی وه ټول ولاړه ختم سول، پس دغو خلګو (یعنی فرعون اودده قوم) پردی موقع وبایلله اوښه ذلیله سول (اوحیران پاته سول) اوکم چې ساحران وه، هغوی په سجده پریوتل (اوپه چیغو چیغو یی) وویل چې مونږ ایمان راوړی په رب دمخلوقاتو کوم چې دموسیٰ اوهارون ﷺ هم رب دی.

معلومات اومسئلې: په دی آیتونوکی دحضرت موسیٰ ﷺ باقی قصه ذکرده چې کله فرعون دحضرت موسیٰ ﷺ ښکاره معجزه ولیده چې دهمسا څخه مار جوړسو اوبیا چې کله یی په لاس کی ونیوی بیا همسا ورڅخه جوړه سوه اوچې لاس یی دګریوان څخه را وایستی نوبریښیدی، ددی قدرتی ښو دلیدلو خوتقاضا داوه چې پرحضرت موسیٰ ﷺ یی ایمان راوړی وای، مګر لکه څنګه چې دباطلو خلګو عام طرزدی چې پرحق دپردی غورزولو او دانکار کولو دپاره صحیح شی غلط ښکاره کوی فرعون اودده دقوم سردارانوهم داخلګو ته وویل چې دالوی ماهر جادوګر دی اودده مقصد دادی چې ستاسی پرملك قبضه وکی اوتاسی ورڅخه وباسی اوس تاسی ووایاست چې څه کول پکار دی ؟ دفرعون قوم چې دا واوریدل نوجواب یی ورکی ، اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَاَرْسِلْ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ° يَأْتُوْكَ بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ په دی کی لفظ د: اَرْجِهْ د: اِرْجَآءٌ څخه مشتق دی چې معنیٰ یی مهلت ورکول اوامید ورکول دی، او، مَدَآئِنَ د، مَدِيْنَةٌ جمع ده چې هرلوی ښارته ویل کیږی، حٰشِرِيْنَ د ، حَاشِرٌ جمع ده چې معنیٰ یی ده پورته کوونکی اوجمع کوونکی، مراد ددی څخه سپاهیان دی چې دملك داطرافو څخه جادوګران راجمع کی اورایی ولی، مطلب دآیت دادی چې دقوم خلګو دامشوره ورکړه چې که دی جادوګر وی اودجادو په زور زمونږ ملك فتح کول غواړی نودده مقابله زمونږ دپاره څه مشکله نه ده، زمونږ په ملك کی لوی لوی ماهران جادوګران دی هغوی به ده ته په خپل جادو سره شکست ورکی، څه سپاهیان دملك اطرافو ته ولیږی چې دهرښار څخه جادوګران راوغواړی را وبی بلی .

وجه داوه چې په دغه زمانه کی دجادو اوسحر رواج عام وو اوپر عامو خلګو دجادوګرانو اقتدار وو او شاید حضرت موسیٰ ﷺ ته دهمسا اوسپین لاس معجزه په دی وجه ورکول سوه چې دجادوګرو سره مقابله وکی اودمعجزی په مقابله کی دجادو رسوایی ټول خلګ په سترګو سره ووینی، لکه چې دالله ﷻ پخوانی عادت هم دا دی چې دهری زمانی پیغمبرته ددغه زمانی مناسبی معجزی ورکوی، دحضرت عیسیٰ ﷺ په زمانه کی یونانی حکمت اوطب ښه پرعروج اوترقی باندی وو، نو هغه ته یی معجزه داورکړه چې دمور څخه پیدا ړانده به یی جوړول اوجذامیان (فس) به یی ښه کول دنبی کریم ﷺ په زمانه کی دعربو ترټولو لوی کمال فصاحت او بلاغت وو نو دنبی کریم ﷺ ترټولو لویه معجزه یی قرآن شریف جوړکی چې ددی دمقابلی څخه ټول عرب اوعجم عاجزه سول ، وَجَآءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوْٓا اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ

Maktaba Tul Ishaat.com

الغٰلبین ا قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ لَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ : يعنى دخلگو دمشورى مطابق دټول ملك څخه دجادوګرو دجمع كولو انتظام وسو اودا جادوګران فرعون ته راورسيدل، نو دوى دفرعون څخه پوښتنه وكړه چې كه مونږ په موسٰى ﷺ غالب راغلو نو مونږ ته به ددى څه اجرت او انعام هم راكول سى ؟ فرعون وويل، چې هو! اجرت به هم دركول سى، اوپر دى دسربيره به دا انعام وى چې تاسى ټول به زما په مقربينوكى داخل سى، داجادوګران كوم چې دحضرت موسٰى ﷺ دمقابلى دپاره دټول ملك څخه جمع سوى وه، ددوى په شميركى تاريخى روايتونه مختلف دى دنهوسورو ۹۰۰ څخه واخله تردرولكو ۳۰۰۰۰۰ پورى روايتونه دى ددوى سره دهمساګانو اورسيو يو انبار وو چې په درو سوو اوښانو يى بار كړى راوړى وى (قرطبى) فرعونى جادوګرو دراتلو سره اوله خبره دسودا بازى شروع كړه چې مونږ مقابله وكړه اوغالب راسو نومونږ ته به څه راكول سى ؟ وجه دا ده چې دباطلو خلګوپه مخكى يوازى ددنيا فائدى وى، په دى وجه دهركار تركولو مخكى دمعاوضى اواجرت سوال مخ ته راځي، په خلاف دپيغمبرانو ﷺ څخه او د دوى دناښينو څخه چې دوى په هرقدم دا اعلان كوى چې ، وَمَا اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ يعنى مونږ چې دحق كوم پيغام ستاسى دفائدى دپاره تاسى ته رسوو، پردى ستاسى څخه څه معاوضه نه غواړو، بلكه زمونږ معاوضه يوازى پررب العٰلمين باندى ده، فرعون دوى ته وويل چې تاسى خلك اجرت غواړى، زه به اجرت هم دركم اوتردى زيات دا هم چې تاسى به دشاهى دربار مقرب جوړ كړم .

دفرعون سره تردى خبرو وروسته ساحرانو دحضرت موسٰى . سره دمقابلى دځاى اووخت تعين وكى، نو يو پراخ ميدان او داختر دورځى ترلمر لوړيدو وروسته وخت ددى كار دپاره مقررسو، لكه چې دقرآن شريف په نورو آيتونوكى دى ، قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّيْنَةِ وَاَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى، په ځينو روايتونو كى دى چې پردى موقع حضرت موسٰى ﷺ دساحرانو سردارته وويل چې كه زه پرتاسى غالب راغلم نو آيا تاسى به په ما ايمان راوړى ؟ هغه وويل چې زمونږ سره داسى جادوى دى چې پردى څوك ګرسره غالب كيدى نه سى ، په دى وجه زمونږ دمغلوب كيدو ګرسره څه سوال نه پيدا كيږى اوكه بالفرض ته غالب راغلى نومونږ به على الاعلان دفرعون په مخكى په تا ايمان راوړو (مظهرى وقرطبى)

قَالُوْا يٰمُوْسٰى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ، د: اِلْقَآءُ معنى غورځول دى مراد دادى چې كله دمقابلى ميدان ته ورسيدل نوجادوګرو حضرت موسٰى ﷺ ته وويل چې يايى ته اول وغورځوه اوكه مونږ مخكى غورزونكى سو، دجادوګرو دا وينا دخپلى بى فكرى اولويى ښوولو دپاره وه چې مونږ ددى پروانه كوو چى ابتداء زمونږ څخه وسى، څكه چې مونږ په هرحالت كى پرخپل فن اطمينان لرو، ددوى دبيان داندازى څخه خوداسى معلوميږى چې غوښتله خويى داچې اول وار ددوى سى، مګر دقوت ښكاره كولو دپاره يى دحضرت موسٰى ﷺ څخه پوښتنه وكړه چې اول ته وار كول غواړى اوكه مونږ يى وكو، حضرت موسٰى ﷺ د دوى په منشاء پوه سو نو په خپله معجزه دمكمل اطمينان په سبب يى اوله موقع دوى ته وركړه او ويى فرمايل چې ، اَلْقُوْا يعنى تاسى يى اول وغورځوى .

Maktaba Tul Ishaat.com

اوابن کثیر رحمه‌الله فرمایي چې جادوګرو دحضرت موسیٰ علیه‌السلام سره دادب اواحترام معامله وکړه چې داولې موقعي یې ده ته دورکولو وړاندیز وکی دهغه دا اثر وو چې دوی ته دایمان توفیق ورکول سو، دلته یو سوال داپیدا کیږي چې اول خو جادو په خپله یوحرام کاردی اوبیا کله چې هغه یوپیغمبر ته دشکست ورکولو دپاره استعمالیږي، نوبیشکه کفردی نوبیا حضرت موسیٰ علیه‌السلام څنګه دی خلګوته داجازت ورکولو دپاره فرمایي ، اَلْقُوْا یعنی تاسي یې وغورځوی، لیکن دحال پرحقیقت چې فکر وسی نودا سوال ختمیږي، څکه چې دلته خو یقیني وه چې داخلګ به خپل سحر دمقابلې دپاره خامخا پیش کوي، خبره یوازي په اول اوپه وروستي کي وه، په دي کي حضرت موسیٰ . دخپلي لوړي ارادي دثبوت ورکولو دپاره دوی ته موقع ورکړه، ددی څخه علاوه په دی کي یوه فائده داهم وه چې اول دوی یعني جادوګران دخپلو همساګانو اورسیو څخه ماران جوړ کړه، نوبیابه دحضرت موسیٰ علیه‌السلام دهمسا معجزه یوازي دانه چې هغه به هم مار جوړ سي بلکه داسي به ظاهرسي چې دجادوګرو ټول ماران به تیرکي چې پراول قدم باندي جادوګري شکست وخوري (بیان القرآن)

اوداهم ویل کیږي چې دحضرت موسیٰ علیه‌السلام دا ارشاد دوی ته دجادوګري کولو اجازت ورکول نه وو ، بلکه د دوی درسوایي ښکاره کولو دپاره وو، چې ښه ده تاسي یې وغورځوی نوګوري چې ستاسي دجادوګري څه انجام کیږي .

فَلَمَّآ اَلْقَوْا سَحَرُوْٓا اَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوْهُمْ وَجَآءُوْ بِسِحْرٍ عَظِيْمٍ یعني کله چې جادوګرانو خپلي همساګاني اورسیاني وغورزولي نودخلګو نظربندي یې وکړه اوپردوی باندي یې هیبت غالب کی او لوی جادو یې وښوی، ددی آیت څخه معلومه سوه چې ددی خلګو جادو یوقسم نظري اوخیالي وو چې لیدونکو ته به دامحسوس کیده چې دا همساګاني اورسي ماران جوړ سول اومنډي وهي، حال دادی چې دوی به په واقع کي هم هغه شان همساګاني او رسي وي ، ماران نه وه ورڅخه جوړ سوي ، دایو قسم مسمریزم وو چې اثر یې دانسان خیال اونظر مغلوب کوي .

لیکن ددی څخه دانه لازمیږي چې دسحر یوازي دایو قسم دی، دسحرپه ذریعه ماهیت نه سی بدلیدی، څکه چې څه شرعي یاعقلي دلیل ددی پر نیستوالي قائم نه دی، بلکه دسحرمختلف قسمونه په واقعاتو سره ثابت دي، کله خو یوازي دلاسونو چالاکي وي چې ددی په ذریعه لیدونکوته مغالطه لګیږي، کله یوازي خیال اونظر بندي وي لکه په مسمریزم سره، اوکله په بدلیدو دماهیت سره هم کیدی سي، چې دانسان څخه ډبره جوړه سي، نوداهم دڅه شرعي یاعقلي دلیل څخه خلاف نه ده .

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ فَاِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ یعني مونږ موسیٰ علیه‌السلام ته حکم وکی چې خپله همسا وغورزوه، هغه په لویدو سره ترټولو لوی مار جوړ سو ددوی ټول ماران یې تیرول شروع کړل کوم چې جادوګرو په جادو سره ښکاره کړي وه، په تاریخي روایتونوکي دي چې دزرګونو جادوګرو په زرګونو همساګاني او رسي چې کله ماران جوړ سول اومنډي یې ، وهلې نوټول میدان دمارانو څخه ډک سو او بر

Maktaba Tul Ishaat.com

عجیبه غونډی هیبت دیولوی اژدها (افعی مار) په صورت کی مخ ته راغلی نو دا ټول ماران یی تیر کړل اوختم یی کړل.

فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ يعنی حق ظاهر سو اوځه چی ساحرانو جوړ کړی وه، هغه ټول باطل اوهوا سول، فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوْا صٰغِرِيْنَ يعنی په دی موقع دوی ټولو وبایلله اوښه رسوا سول، وَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ۝ قَالُوْا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ يعنی جادوګر پرسجده کولو مجبوره سول او ویی ویل چی مونږ په رب العلمین یعنی په رب دموسیٰ اوهارون ﷺ ایمان راوړی.

په سجده کولومجبوره سول ویی ویل اودی طرف ته یی اشاره وکړه چی دموسیٰ ﷺ معجزه یی ولیده نو داخلق څه داسی بی ځانه اومجبوره سول چی بی اختیاره پرسجده پریوتل اودی طرف ته هم اشاره کیدی سی چی الله ﷻ ورلره توفیق ورکی اوپه سجده یی واچول اودرب العلمین سره یی رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ زیات کی اوخپله خبره یی دفرعون په مقابله کی واضحه کړه ځکه چی دغه بی وقوفه به خپل ځان ته رب العلمین ویل ددی وجه یی ، رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ وویل اوده ته یی وښوولله چی مونږ ستاد خدایی قائله پاته نه سو.

قَالَ فِرْعَوْنُ اٰمَنْتُمْ بِهٖ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوْهُ فِي الْمَدِيْنَةِ لِتُخْرِجُوْا مِنْهَآ

وویل فرعون آیاتاسی ایمان راوړو په ده زماد اجازت څخه مخکې، داخومکردی چی جوړکړی دی تاسی تولوپه دی ښارکی چی وباسی

اَهْلَهَا ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ

ددې ښارڅخه ددې وسیدونکی ، نواوس به تاسی ته معلومه سی ، زه به خامخاپریکړم ستاسی لاسونه اودبل

خِلَافٍ ثُمَّ لَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۲۴﴾ قَالُوْٓا اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا

طرف څخه پښی ، بیابه په سولئ کړم تاسی ټوله ، هغو وویل زمونږ خو خپل رب طرف

مُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَمَا تَنْقِمُ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاٰيٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ۚ

ته بیرته تلل دی، اوستا زمونږ سره دا دښمنی ده چی ومنلی مونږ دخپل رب نښانی کله چی هغه مونږته راغلی

رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ ﴿۱۲۶﴾ وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ

ای زمونږ ربه راتوی کړی په مونږ صبر اووفات کړی مونږ مسلمانان ، او وویل سردارانو

قَوْمِ فِرْعَوْنَ اَتَذَرُ مُوْسٰى وَقَوْمَهٗ لِيُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ

دقوم دفرعون ولی پریږدی ته موسیٰ ﷺ اودده قوم چی فساد جوړکړی په مځکه کی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَيَذَرَكَ وَاٰلِهَتَكَ ؕ قَالَ سَنُقَتِّلُ اَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ۚ

اوپاته کړي تا اوستا بتان ، ويې ويل اوس به مونږ وژنو د دوی زامن اوژوندي به پرېږدو د دوی ښځې

وَاِنَّا فَوْقَهُمْ قٰهِرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾

او مونږ په دوی زور آرو يو

لنډتفسير: فرعون (ډير وبيريدی چي هسې نه ټول رعيت مسلمانان سي نو دځانه يې خبره جوړه کړه اوساحرانو ته يې) وويل چي ها! تاسي په موسیٰ (ؑ) ايمان راوړی بغير ددې چي زه تاسي ته اجازت وکړم بيشکه (معلوميږي چي) دا (کوم چي دچل ول، دجنګ په طور وسو) يوه کار روايي وه چي په تاسي عمل درآمد سوی دی، په دې ښارکي (پټ سازش سوی دی چي ته داسي وکړه مونږبه داسي وکو، بيابه دغه شان ګتل او بايلل ظاهرکي اودا کاروايي او دیوبل سره جوړښت موپه دې وجه کړيدی) چي تاسي ټول (يوسي) ددې ښار څخه ددې ځای اوسيدونکي دباندې وباسي (اوبيا په فارغ زړه ټول يوځای دلته حکومت کوی) پس (ښه ده) اوس به تاسي ته حقيقت معلوم سي (اوهغه داچي) زه به ستاسي ديو طرف لاسونه او دبل طرف پښي پريکړم بيابه تاسي ټوله په دارا وخيژوم (چي نور درڅخه عبرت واخلي) دوی جواب ورکی چي (هيڅ پروا نسته) مونږچي مړه سو (نوڅه ناکاره ځای ته خوبه ولاړ نه سو بلکه) خپل مالك ته به ولاړ سو (کوم ځای چي هرقسم امن اوراحت دی، پس په دې کي زمونږ نقصان څه دی) اوتاپه مونږکي کوم عيب ليدلی دی (چي دومره په سور اوزوړ يې) بغير ددې چي مونږ دخپل رب په حکمونو ايمان راوړو (پس داڅه دعيب خبره نه ده، بيايي دده څخه مخ واړوی اودالله ﷻ څخه يې دعا وغوښتله چي) ای زمونږ ربه! په مونږ صبر را توی کی (چي که دې سختي کوی نوچي مونږ ثابت قدم پاته سو) او زمونږ روح په حالت داسلام کي وباسي (چي هسې نه دده دسختي څخه پريشانه سو او دايمان څخه خلاف څه خبره راڅخه ونه سي) او (کله چي دحضرت موسیٰ ؑ داعظيمه معجزه په ډاګه ښکاره سوه اوساحرانو ايمان راوړی او ځيني نور خلګ هم ددوی تابع سول دغه وخت) دفرعون دقوم سردارانو (کوم چي دحکومت مشران وه ، دايي وليده چي ځيني خلګ مسلمانان کيږي، فرعون ته يې وويل چي آيا ته موسیٰ (ؑ) اودده قوم (اوتابعين) هم دغسي (خپلی خوښی ته آزاد) پريږدی چي دوی په ملك کي فساد خپروی (فساد داچي خپله ډله زياته کي چي په آخرکي يې بيره دبغاوت ده) اوده (يعني موسیٰ ؑ) تا اوستا (منتخب کړی) معبودان پريږدی (يعني ددوی دمعبود کيدو څخه منکردی اودحضرت موسیٰ ؑ قوم هم ورسره په دې عمل کي شريك دی، څکه ددې انتظام وکړه) فرعون وويل (چي فی الحال دا انتظام مناسب معلوميږي چي) مونږبه هم ددې خلګو دزامنو قتلول شروع کو (چي ددوی زور زيات نه سي) او (کله چي دښځوپه زياتيدو کي څه بيره نسته اودارنګه مونږ ته دخپل کار او خدمت دپاره هم ضرورت دی

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې وجه) ښځې به يې ژوندې پرېږدو، او مونږ په هر ډول په دوی زور آور يو (په دې انتظام کې به هيڅ ګرانی نه وي)

معلومات او مسئلې: ددې ځخه په مخکې آيتونوکې ذکر وو، چې فرعون دخپل قوم دسردارانو په مشوره دحضرت موسیٰ ﷺ دمقابلې دپاره چې کوم ساحران دټول ملك ځخه راجمع کړي وه، هغوی دمقابلې په ميدان کې وباېلله اويوازې دانه چې خپل بايلل يې ومنل، بلکه په حضرت موسیٰ ﷺ يې ايمان راوړي.

په تاريخي روايتونوکې دي چې دجادوګرو سرداران مسلمانان سول نوچې دايي وليدل نو دفرعون دقوم ځخه شپږ لکو خلګو په حضرت موسیٰ ﷺ ايمان راوړي اواعلان يې وکې، ددې مقابلې اومناظرې ځخه مخکې خو يوازې حضرت موسیٰ ﷺ اوهارون ﷺ دفرعون مخالف وه، داوخت ترټولولوی جادو ګران کوم چې په قوم کې داقتدارمالکان وه او ددوی سره شپږ لکه عوام مسلمانان سول اويولوی طاقت په مقابله کې راغی، دغه وخت دفرعون پريشاني اوګډوډ کيدل بې ځايه نه وو، مګرده داپته کړه اوديو چالاك اوهوښيار سياستدان په اندازکې يې اول خو پر جادوګرانو دبغاوت دا الزام ولګوی چې تاسې دحضرت موسیٰ ﷺ سره پټ سازش وکې اودا کار موخپل ملك اوملت ته دنقصان رسولو دپاره کړي دی

اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوْهُ فِي الْمَدِيْنَةِ يعني دا يو سازش دی کوم چې تاسې دمقابلې ميدان ته ترراتلو مخکې په ښار کې په خپل مينځ کې کړی وو او بيايې جادوګرو ته وويل، اٰمَنْتُمْ بِهٖ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ يعنې آيا تاسې زما داجازې ځخه مخکې ايمان قبول کې، دا استفهام انکاري په طور دزجر اوتنبيه وو او دخپل اجازې ځخه بغير دايمان راوړلو ذکريې وکې اوخلګو ته يې ددې يقين ورکولو کوشش کړيدی چې مونږ په خپله هم داغوښتله چې که دحضرت موسیٰ ﷺ حق والې واضح سی، نومونږ به هم دی ومنو اوخلګوته به هم اجازت وکو چې دوی مسلمانان سی، ليکن تاسې خلګو تلواري وکړه اوپه حقيقت باندې دځان پوهولو ځخه بغير دسازش ښکار سواست، په دې چالاکې سره خويو طرف ته يې دخلګوپه مخکې دحضرت موسیٰ ﷺ معجزه او دجادوګرو دطرفه دده منل يې يوسازش وګرځوی، دوی يې په پخوانۍ ګمراهۍ کې دمبتلا کولو انتظام وکې اوبل طرف ته يې سياسي چالاکې دا وکړه چې دحضرت موسیٰ ﷺ کار او دجادوګرو اسلام کوم چې خالص دفرعون دګمراهۍ ښکاره کولو دپاره وو دقوم اوعوامو سره ددې هيڅ تعلق نه وو، دايې ديوې ملکي اوسياسي مسئلې جوړولو دپاره وويل، دپاره وويل، لِتُخْرِجُوْا مِنْهَآ اَهْلَهَا يعني تاسې خلګو داسازش ځکه وکې چې تاسې غواړې چې پرملك دمصر باندې تاسې غالب راسې او ددې اوسيدونکې ددې ځای ځخه وباسې تردې چالاکتيا وروسته يې پردې ټولودخپل رعب اوهيبت اوبيرې پرې ايستلو دپاره جادوګرانوته اخطارونه ورکول شروع کړل، اول يې په مبهم (غير واضح) اندازکې وويل: فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ يعنې تاسې به اوس ووينې چې ستاسې ددې سازش به څه انجام سی، ددې ځخه يې وروسته يې ورته ښکاره کړه، لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ ثُمَّ لَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ يعنې زه به ستاسې لاس اوپښې دمختلفو طرفو ځخه پريکم، تاسې ټول به په دار وخيژوم، دمختلفو طرفونو

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه دپریکولو یومطلب دا دی چی راسته لاس او چپه پښه، چی دواړو طرفونه په زخمی اوبد شکله
اوبی کاره سی.

فرعون پردی بدحالی دواك راوستلو او دخپلو درباریانو اوعوامو دکنترول کولو پوره تدبیرونه کړی وو، اودده ظالمه څخه سزاگانی دمخکی څخه مشهوری اوپر خلکو دلړزان راوستلو دپاره کافی وی، لیکن ایمان او اسلام یو داسی زبردست قوت دی چی کله دا دچاپه زړه کی ځای وکی نوبیا انسان دټولی دنیا او ددی دوسائلو دمقابلی کولو دپاره تیار سی، دی جادوگرو چی تردی څوګنټی مخکی فرعون خپل خدای منی اوددی گمراهی به یی خلگوته هم تلقین کوی، خو کله چی داسلام کلمه یی وویله نوپه یوځو منټه کی دننه په دوی کی څه شی پیدا سوی وو، چی دفرعون ددی ټولو اخطارو په جواب کی وایی؟ اِنَّآ اِلٰی رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ یعنی که ته مونږ قتل کی نوڅه پروا نسته مونږبه دخپل رب خواته ولاړسو اوهلته به مونږته هر قسم راحت راکول سی، دا جادوگران چی کله دفرعون ددباؤ او زور څخه ناخبره نه وه نوپه دی وجه یی داونه ویل چی مونږ ستاپه واك کی نه سو راتللی یابه مونږ مقابله وکو، بلکه دده اخطار یی صحیح ومنی اودا جواب یی ورکی چی دامنو چی په دنیاکی ته مونږته په هرقسم سزا راکولو قادر یی، مگر مونږ دایمان دراوړلو څخه وروسته ددنیا ژوند هیڅ شی هم نه گڼو چی ددنیا څخه ولاړ سو نو تردی ښکلی ژوندبه راته حاصل سی او دخپل رب ملاقات به مونصیب یی اودا معنٰی هم کیدی سی چی په دی ژوندکی ستا زړه چی څه غواړی هغه وکړه آخربه مونږ اوتاسی درب العٰلمین په مخکی پیش کیږو اوهغه به دظالم څخه دمظلوم بدل واخلی دغه وخت به دخپل عمل نتیجه ستامخ ته راسی، لکه چی په یوبل آیت کی په دی موقع ددی جادوگرو دا الفاظ نقل دی، فَاقْضِ مَآ اَنْتَ قَاضٍ اِنَّمَا تَقْضِیْ هٰذِهِ الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا یعنی څه چی ستا زړه غواړی زمونږ په باره کی یی حکم وکه، بس دومره ده چی ستا حکم زمونږ په دی دنیوی ژوندکی چلیدی سی اوستا دغصی په وجه زمونږ دا ژوند ختمیدی سی، مگردایمان راوړلو څخه وروسته زمونږ په نظرکی ددی دنیوی ژوند،هغه اهمیت باقی نه دی پاته سوی کوم چی دایمان راوړلو څخه مخکی وو، ځکه چی مونږ ته معلومه سوه چی دا ژوند دراحت یا تکلیف سره هر څنگه چی وی خو تیریدونکی دی، فکر دهغه ژوند په کار دی ترکوم وروسته چی مرگ نسته اودکوم چی راحت هم همیشه دی اوتکلیف هم دفکر کولو مقام دی چی هغه خلک کوم چی ترپرون پوری په ډیر ناکاره کفرکی اخته وه، چی دفرعون په شان یوبی کاره انسان یی خدای منی، دخدای ﷻ دشان او لویی څخه بالکل نا آشنا وه په دوی کی یك دم داسی انقلاب څنگه راغی چی اوس دتیرو ټولو عقیدو اوعملونو څخه یکسر توبه کوونکی سول پرحق دین دومره پاخه سول چی روح ورکولو ته هم تیار سول اوددنیا څخه رخصت کیدل ځکه خوښوی چی خپل رب ته به ولاړ سی، اویوازی دانه چی دایمان قوت اوداللهﷻ په لاره کی دجهاد همت په دوی کی پیداسو، بلکه معلومیږی چی دحقیقی علم اومعرفت دروازی دوی ته خلاصی کړل سوی وی، دغه وجه ده چی دفرعون په مقابله کی ددی زړه ور بیان سره یی دادعا هم وکړه ، رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَیْنَا صَبْرًا وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِیْنَ

Maktaba Tul Ishaat.com

یعنی ای زمونږ پروردګاره مونږته کامل صبر راکی او د اسلام په حالت کی مونږته وفات راکی ، په دی کی اشاره ده د معرفت طرف ته چی که الله ﷻ نه غواړی نو د انسان قصد او همت هیڅ کار نه سی کولی په دی وجه یی د ثابت قدمی دعا وکړه او د ادعا لکه څنګه چی د حق د معرفت ثمره او نتیجه ده، د غه شان د دی مشکل د حل کولو بهترینه ذریعه هم ده، په کم کی چی داخلګ د غه وخت اخته وه، څکه چی صبر او ثابت قدمی هم هغه شی دی کوم چی انسان د خپل دښمن په مقابله کی د کامیابولو ترټولو یه ذریعه ده دیورپ د تیر جنګ عظیم پراسبابو او نتیجو غور کوونکی کمیشن په خپل رپورټ کی لیکلی وه چی مسلمانان کوم چی په الله ﷻ او په آخرت باندی ایمان لرونکی دی دا هغه قوم دی کوم چی په میدانِ جنګ کی تر ټولو زیات بهادر او په مصیبت او مشقت باندی په صبر کولو کی ترټولو مخکی دی .

هم دا وجه ده چی د غه وخت په جرمنی قومونو کی د جنګ په فنونو کی ماهرانو ددی تاکید کوی چی په نوج کی دی د دینداری او د آخرت د بیری د پیدا کولو کوشش وسی څکه چی په دی سره چی کوم قوت حاصلیږی هغه په بل څه شی سره نسی حاصلیدی (تفسیر المنار)

(په ساحرانو کي ايماني انقلاب د موسي ﷺ ترمعجزی همسا او سپين لاس هم لوی وو)

افسوس دی چی نن مسلمانان او مسلمانان حکومتونه د خپل ځان قوی کولو د پاره ټول تدبیرونه اختیاروی، مګر دا کار یی هیر کړیدی کم چی د قوت اویو کیدو روح دی، فرعونی جادوګرانو هم په اوله مرحله کی دا معلومه کړی وه او د ټول عمر د خدای څخه د نا آشنا او منکرو کافرانو څخه په یودم کی نه نقط مسلمانان بلکه دیو عارفِ کامل او مجاهد او غازی جوړولو دا معجزه د حضرت موسٰی ﷺ ترهمسا او سپین لاس ترمعجزی څه کمه نه وه .

(پرفرعون د حضرت موسي او هارون ﷺ د هيبت اثر)

د فرعون چالاکی او سیاسی دروغو خو دده د جاهل قوم دده سره په پخوانی ګمراهی کی د اخته پاته کیدو څه سبب خو سو ، مګر دوی په دی عجیبه خبره پوه نسول چی د فرعون د غصی ټول زور پر جادوګرانو ختم سو ، حضرت موسٰی ﷺ چی اصلی مخالف وو ، دده په باره کی د فرعون دژبی څخه هیڅ ونه وتل، نو په دی باندی دوی وویل ، أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوْمَهُ لِيُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ یعنی آیا ته موسٰی ﷺ او دده قوم د غسی پرېږدی چی دوی تا او ستا معبودان پاته کوی او په ملك کی فساد خپروی .

نو په دی خبره مجبوره سو فرعون وویل ، سَنُقَتِّلُ أَبْنَاءَهُمْ وَنَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَاهِرُونَ یعنی د دوی معامله زمونږ د پاره د څه فکر قابله نه ده مونږ به د دوی سره دا کار وکو چی په دوی کی کم هلك پیدا کیږی، هغه به قتل کوو ، یوازی انجونی به یی پرېږدو ، چی ددی نتیجه به څه وخت پس دا سی وسی چی د دوی قوم به د نارینه وو څخه خالی سی، یوازی ښځی به پاته سی چی زمونږ خدمت ګارانی مینځی به جوړی سی او مونږ پردی ټولو پوره قدرت لرو چی څه غواړو کولی یی سو، دوی زمونږ سره هیڅ نه سی کولی، تفسیر لیکونکی عالمان فرمایی چی د قوم پر دوم محرکت ورکولو بیاهم فرعون خودا وویل چی مونږبه

Maktaba Tul Ishaat.com

دبنی اسرآئیلو هلکان قتلوو ، لیکن دحضرت موسیٰ اوهارون . په باره کی داوخت هم دده پر ژبه څه رانغله ، وجه داده چی دی معجزی اوواقعی دفرعون پرزړه اودماغ باندی دحضرت موسیٰ علیه السلام سخت هیبت کښینولی وو ، حضرت سعیدبن جبیر رحمه الله فرمایی چی دفرعون حال داسی سوی وو چی کله به یې حضرت موسیٰ علیه السلام لیدی نو تشی بولی به یی بهیدی اودا بالکل صحیح ده دحق دهیبت هم دا حال وی

هیبت حق است این از خلق نیست

یعنی دا دحق تعالیٰ جل جلاله بیره او هیبت دی ، دخلګو دطرف څخه نه دی .

اومولانا رومی رحمه الله فرمایی :

هر که ترسید از حق وتقویٰ گزید ترسد از وی جنّ وانس وهر که دید

څوک چی دالله جل جلاله څخه وبیریږی نو پیریان ، انسانان اوهرشی دده څخه بیا بیریږی .

دلته دفرعون قوم چی داوویل چی حضرت موسیٰ علیه السلام تا اوستا معبودان پریږدی او فساد کوی ، ددی څخه معلومه سوه چی فرعون که څه هم دخپل قوم په مخکی په خپله دخدایی دعویدار وو او ، اَلَا رَبُّكُمُ الاَعْلٰی به یی ویل ، لیکن په خپله به یی دبتانو عبادت کوی ، او دبنی اسرائیلو دکمزوری کولو دپاره یی دا ظالمانه قانون چی کوم هلك پیدا کیږی . هغه به قتلیږی ، په دوهم وار بیا نافذ کی ، ددی اولنی وار دحضرت موسیٰ علیه السلام تر پیدائش څخه مخکی سوی وو ، چی دهغه ناکامه کیدل دوی تردی وخته پوری لیدل ، لیکن کله چی الله جل جلاله دیو قوم رسوا کول غواړی دهغه تدبیرونه هم دغسی کول کیږی چی آخر کار دغه ددوی دتباهی سبب سی ، لکه چی مخ ته به معلومه سی چی دفرعون دی ظلم اوزیاتی آخردی اودده قوم ډوب کړل .

قَالَ مُوسٰى لِقَوْمِهِ اسْتَعِيْنُوْا بِاللهِ وَاصْبِرُوْا ۚ اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ ۙ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَاۤءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ

وویل موسیٰ قوم خپل ته مدد وغواړی دالله څخه اوصبر کوی بیشکه مځکه دالله ده ، وارث کوی یی چالره وغواړی دخپلوبندګانو څخه ،

وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۲۸﴾ قَالُوْۤا اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِيَنَا

اوپه آخرت کی خیردی بیریدونکودپاره ،هغوی وویل مونږ لره تکلیفونه راکړل سوی دی ستادراتلو څخه مخکی

وَمِنْۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ؕ قَالَ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ

اوستادراتلو څخه وروسته ، ویی ویل نژدی ده چی ستاسی رب هلاك کړی ستاسی دښمن

وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ ع وَلَقَدْ

او خلیفه ګان کړی تاسی ، په ملك کی بیا وګوری چی تاسی څنګه کار کوی ، او مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

أَخَذْنَا آلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ

ونیول فرعونیان په قحطونو کی او میوو په نقصان کی چی دوی نصیحت

يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾ فَإِذَا جَاءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُوا لَنَا هَٰذِهِ ۖ وَإِن

ومنی ، بیا چی کله ورسیدی دوی ته خیر نو وبی ویل چی دا زمونږ لائق دی او چی کله

تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا بِمُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُ ۗ أَلَا إِنَّمَا طَائِرُهُمْ

ورته ورسیده بده نو بد فالی به یی کړله په موسیٰ او دده په ملګرو ، واوره چی د دوی بدبختی

عِندَ اللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣١﴾ وَقَالُوا مَهْمَا تَأْتِنَا

الله سره دی ، لیکن اکثر خلق نه پوهیږي ، او ویی ویل چی که هر څومره ته

بِهِ مِنْ آيَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾

راوړی مونږ ته نښانی چی په هغه سره سحر وکړی په مونږ خو مونږ هیڅکله په تا ایمان نه راوړو

لنډتفسیر: (ددی مجلس دخبرو اترو خبر چی کله بنی اسرائیلو ته ورسیدی نو ډیر وبیریدل اوحضرت موسیٰ ﷺ ته په فریاد راغلل نو) موسیٰ (ﷺ) خپل قوم ته وفرمایل چی په خدای تعالی باور ساتی اوثابت قدم اوسی (بیریږی مه) دا مځکه دالله ﷻ ده هرچا لره چی غواړی مالك (اوحاکم) یی جوړوی دخپلو بندګانو څخه (نو دځو ورځو دپاره یی فرعون ته ورکړي ده) اوآخر کامیابی دهغو خلکو وی څوك چی دخدای ﷻ څخه بیریږی (نو تاسی په ایمان اوتقویٰ قائم اوسی . انشاء الله ﷻ داسلطنت به هم تاسی ته حاصلیږی دلږو ورځو دانتظار ضرورت دی) دقوم خلکو (دډیر افسوس اوغم څخه چی ددی طبعی تقاضا دشکایت مکررکول دی) وویل چی (صاحبه) مونږخو همیشه په مصیبت کی یو، ستا ترتشریف راوړلو مخکی هم (چی فرعون به راباندی بیګارونه کول اوډیری زمانی راسی به یی زمونږ زامن قتلول) او ستا ترتشریف راوړلو وروسته هم (چی قسم قسم تکلیفونه راته رارسول کیږی تر دی چی اوس بیا داولاد دقتل قانون مقرر سو) موسیٰ (ﷺ) وفرمایل (مه بیریږی) ډیر ژر به الله ﷻ ستاسی دښمن هلاك کی او دهغوی په ځای به تاسی په دی مځکه حاکمان جوړکی ، بیابه ستاسی عمل وګوری (چی شکر اوقدر کوی او اطاعت یی کوی اوکه بی قدری، غفلت اونافرمانی کوی، په دی کی ترغیب دی دطاعت اوبیره ده دنافرمانی څخه) او (کله چی فرعون اودده تابعینو مخالفت اوانکارته ملا وتړله نو) مونږ فرعون والا

Maktaba Tul Ishaat.com

(ددي پارې په اوله رکوع کې دذکر سوي عادت مطابق سره دفرعونه موپه دې مصيبتونوکې اخته کړل،
قحط سالي کې او دميوو دپيداوار په کمي کې چې دوي (حقه خبره) وپيژني (اوپوه سي قبول يې کې
پس (بياهم دوی پوه نه سوه بلکه داحال يې وو چې) کله پردوی خوشحالي (يعني ارزاني اوپيداواري
راسي نو وايي چې دا خو زمونږ دپاره په کار وو (يعني مونږ نيك بخت يو ، دا زمونږ دخوش بختي اثر دی
داسي نه وه چې دخداي نعمت يې گڼلی وی ، شکر يې اداکړی وای اوفرمان برداري يې اختيار کړې وای
اوکه د دوی څخه به بدحالي (لکه قحطي او دپيداورو کموالي لکه چې ذکر سو) وررسيبنه سوه نو دموسی
(ﷺ) او دده دملگرو بدبختي به يې ورته ويله چې دا د دوی دبختي څخه وسوه ، داسي به ونه سوه چې
دا به يې دخپل کفر او دروغ کولو اوبدو عملونو بدبختي گڼلي وای چې توبه يې ور څخه ايستلې وای
حال دادی چې داتول ددوی دبدو عملو سزاوه لکه چې فرمايي چې) ياد ساتي چې ددوی د (دی بدبختي
سبب) دالله په علم کې دی (يعني ددوی دکفر عملونه دالله ﷻ په علم کې دی ، دابدبختي ددغو عملونو
سزاده) ليکن (دخپلي بدتميزي څخه) په دوی کې اکثره خلگ (په دی) نه پوهيږي او (بلکه سربيره لا
ورباندی) داوايي (چې برابره خبره ده که) که هرڅومره نا آشنا خبره مونږته راوړې چې ددې په ذريعه ته
پرمونږ جادو واچوی خوبيا هم ستا خبره مونږ هيڅکله نه منو .

معلومات اومسئلي: فرعون دحضرت موسیٰ ﷺ په مقابله کې دشکست خوړلو وروسته پرهغه بني اسرائيلو
خپله غصه داسي وايستله چې ددوی دهلکانو دقتلولو او يوازې دښځو باقي پرېښوولو قانون يې
جوړکې، نوبني اسرائيل وبيريدل چې دحضرت موسیٰ ﷺ تر پيدائش څخه مخکې کوم عذاب چې
فرعون په دوی باندې غورځولی وو ، هغه بيا راغی اوحضرت موسیٰ ﷺ هم دا خبره محسوسه کړه ، نو
دپيغمبرانه شفقت اوحکمت مطابق يې ددې بلاء څخه دنجات حاصلولو دپاره دوی ته ددوو شيانو تلقين
وفرمايي، يو ددښمن په مقابله کې دالله ﷻ څخه مدد طلب کول دوهم دکار ترفراخي پورې دصبر اوهمت
څخه کار اخيستل اودايي ورته هم وښوولي چې که دانسخه استعمال کړئ نودا ملك ستاسي دی تاسي به
غالب راسي، دامضمون داول آيت دی په کم کې چې فرمايي ، اسْتَعِينُوا بِاللهِ وَاصْبِرُوا يعني دالله ﷻ
څخه مدد طلب کوي اوصبر کوی، اوبيا فرمايي ، إِنَّ الْأَرْضَ لِلهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ يعني
ټوله مځکه دالله ﷻ ده ، هغه چې څوك غواړي ددې مځکې وارث اومالك يې جوړوی اوداخبره مقرره ده
چې په آخرکې کاميابي پرهيزگارانو ته حاصليږي، په دې کې اشاره ددې خبرې طرف ته ده چې که تاسي
تقوٰی اختيار کړه، دکم طريقه چې لوړه ذکر سوي ده چې دالله ﷻ څخه مدد غوښتل او صبر اختيارول دی
نو آخربه تاسي دمصر دملك مالکان او قابضان سي .

(دمشکلاتو اومصيبتونو څخه دنجات اکسير نسخه)

حضرت موسیٰ ﷺ بني اسرائيلو ته چې کومه حکيمانه نسخه په دښمن دغالب کيدو دپاره تلقين
فرمايلي وه، چې فکر پر وسی نو دا هم هغه اکسير نسخه ده، چې هيڅکله نه خطا کيږي، چې تر دی

Maktaba Tul Ishaat.com

وروسته کامیابی یقینی وی، ددی نسخی اولنی جزء دالله ﷻ څخه مدد غوښتل دی، کوم چی ددی نسخی اصلی روح دی، وجه داده چی دکائناتو خالق چی دچا پر مدد باندی وی نودټولو کائناتو مخ دده دمدد طرف ته راگرځی، ځکه چی ټول کائنات دهغه دحکم تابع دی.

خاك وباد وآب وآتش بنده اند
با من وتو مرده با حق زنده اند

یعنی خاوری، باد، اوبه، او اوردهغه دحکم تابعدار دی ماا وتا ته مړه دی خو دخدای پاك سره ژوندی دی په حدیث کی دی چی کله الله ﷻ دڅه کار اراده وفرمایی نودهغه اسباب خود بخوده تیاریږی، په دی وجه ددښمن په مقابله کی ترلویو لا لوی قوت دانسان دپاره دومره کار نه سی کولی څومره چی دالله ﷻ څخه دامداد په طلب کول کیږی، په دی شرط چی طلب صادق وی، محض په ژبه سره څه کلمی ویل نه وی.

دوهم جزء ددی نسخی صبر دی، دصبر معنی داصل لغت په اعتبار سره دطبعیت پر خلاف شیانو باندی ثابت قدم پاته کیدل اونفس تړواك لاندی راوستل دی پر یوه مصیبت باندی صبر کولو ته هم په دی وجه صبر ویل کیږی، چی په دی کی دژړا انګولا او واویلا کولو طبعی جذبه کنټرولیږی.

هرتجربه کار عقلمند پوهیږی چی په دنیاکی دهرلوی مقصد دپاره ډیر خلاف طبع محنت اومشقت برداشت کول لازمی دی، کوم سړی چی دمحنت اومشقت سره عادت اودخلاف طبع شیانو برداشت کوونکی جوړسی هغه اکثرپه مقصدونوکی کامیاب وی، په حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی صبر داسی نعمت دی چی تردی زیات لوی نعمت چاته نه دی حاصل سوی، (ابو داؤد)

دحضرت موسیٰ ؑ ددی حکیمانه نصیحت اوپردی دمرتب کیدونکی فتح اونصرت اجمالی وعده دکړو بنی اسرائیلو په پوهه کی کله راتله، ددی هرڅه په اوریدو سره یی وویل، أُوذِينَا مِن قَبْلِ أَن تَأْتِيَنَا وَمِنۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا یعنی ستا تر راتلو مخکی هم مونږ ته ضرر رارسول سویدی اوستا ترراتلو وروسته هم، مطلب دا وو چی ستا تر راتلو مخکی خوموپه دی امید وخت تیروی چی یو پیغمبر به زمونږ دآزادولو دپاره راسی اوس ستا ترراتلو وروسته هم دغه دتکلیفونو سلسله روانه سوه، نومونږ څه وکو؟ په دی وجه بیاحضرت موسیٰ ؑ دحقیقت واضح کولو دپاره وفرمایل، عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ: یعنی داخبره لیری نه ده چی که تاسی زما نصیحت ومنی نوډیر ژربه ستاسی دښمن هلاك اوبرباد سی اوپر ملك به ستاسی قبضه اواقتدار راسی، مګر ددی سره یی داهم وفرمایل، فَيَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ په دی کی یی وښوولہ چی په دنیاکی دیو مخکی حکومت اوسلطنت په خپله څه مقصدنه دی، بلکه په مځکه کی عدل اوانصاف قائمول او دالله ﷻ ښوول سوی نیکی خپرول اودبدی لیری کولو دپاره یو انسان ته دیوملك حکومت ورکول کیږی، په دی وجه کله چی تاسی ته دمصر پرملك باندی اقتدار حاصل سی نو هوښیار سی، هسی نه چی تاسی هم دحکومت اواقتدار په نشه کی دځان څخه دمخکی خلګو انجام هیر کی.

Maktaba Tul Ishaat.com

(حکومت او سلطنت دحکمران طبقې دپاره امتحان دی)

په دی آیت کی خطاب که څه هم خاص بنی اسرائیلو ته دی لیکن الله ﷻ هرې حکمرانی طبقی ته په دی کی خبرداری فرمایلی ده چی په حقیقت کی حکومت او سلطنت دالله ﷻ حق دی ، انسان ته چی په حیثیت دخلیفه هغه حکومت ورکوی او کله چی وغواړی نو اخلی یی ورځخه ، د ، تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ هم دا مطلب دی ، دغه شان داچی چاته په کومه مځکه حکومت ورکول سی، دغه په حقیقت کی دحکمران فرد یا دحکمران جماعت امتحان وی چی دوی دحکومت مقصد یعنی دعدل او انصاف قائمول او دامر بالمعروف او نهی عن المنکر قائمول ترکومه حده پوری پوره کوی .

په تفسیر بحرمحیط کی دلته نقل سوی دی چی دبنی عباسو دوهم خلیفه منصور ته دخلافت تر حاصلیدو یوه ورځ مخکی عمرو بن عبید راغی نو دا آیت یی ووایه ، عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ چی په دی کی دوی ته دخلافت حاصلیدو زیری وو ، اتفاقاً تردی وروسته منصور خلیفه جوړ سو او بیا عمرو بن عبید ده ته راغی نومنصور دده پیش گویی چی په ذکر سوی آیت کی یی ددی څخه مخکی فرمایلی وه، وریاده کړه نو عمروبن عبید ښه جواب ورکی چی هو! دخلیفه کیدو پیشگویی خوپوره سوه، مگریوشی باقی دی یعنی ، فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ مطلب دادی چی دملك خلیفه او امیر جوړیدل څه دفخر اوخوشحالی شی نه دی ، ځکه چی ددی څخه وروسته الله ﷻ دا هم گوری چی په خلافت او حکومت کی دده رویه څه او څنگه ده اوس ددی دکتلو وخت دی .

ددی څخه وروسته دذکر سوی آیت وعده پوره کیدل او دفرعونیانو په قسم قسم عذابونو کی گرفتاریدل او آخرپه دریاب کی غرقیدل او ختمیدل څه قدر په تفصیل سره بیان سویدی، چی په دی کی ترټولو اول عذاب دقحطی اودشپانو دکمی او دگرانی وو کوم چی په فرعونیانو مسلط سو ،

په تفسیری روایتونوکی دی چی داقحطی پردوی اووه کاله مسلسل وه، او په آیت کی چی کوم ددی قحطی په بیان کی دوه لفظونه راغلی دی، یو ، سنین، بل ، نقص ثمرات ، حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه او حضرت قتاده رضی الله عنه اونور فرمایی چی دقحطی او خشك سالی عذاب خو دکلو دخلکو دپاره وو او دمیوو کمی دښارونو دخلکو دپاره وو ځکه چی په عام طور سره په کلوکی دغلی پیداوار زیات وی او په ښارونو کی دمیوو باغونه وی نواشاره دی طرف ته سوه چی نه دغلی پوره فصلونه باقی پاته سول او نه دمیوو باغونه، لیکن کله چی پریو قوم باندی دالله ﷻ قهر راسی ، نو صحیح خبره د دوی په خیال کی نه ورځی ، فرعونیان هم په دی قهرکی اخته وه، دعذاب په دی اولنی جټکه باندی هم دوی پوه نه سول، بلکه ددی او دهر یوه راتلونکی مصیبت په باره کی به یی داویل چی دابد بختی دحضرت موسیٰ علیه السلام او دده دملگرو ده ، فَإِذَا جَاءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُوا لَنَا هَٰذِهِ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا بِمُوسَىٰ وَمَنْ مَعَهُ یعنی کله چی دی خلگو ته به څه گټه آرام او راحت حاصل سو نو دا به یی ویل چی دا زمونږ حق دی ، مونږ ته یی حاصلیدل په کار وو او کله چی به ورباندی څه مصیبت اوبدی راغله نو ویل به یی چی دا دموسیٰ علیه السلام او دده دملگرو بدبختی

ده الله ﷺ د دوی په جواب کی ارشاد فرمایی ، اَلَآ اِنَّمَا طٰٓئِرُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ، دلفظ د ، طائر لغوی معنی دمرغی ده ، عربو به دمرغانو دراسته اوچپه طرف دالوتلو څخه ښه اوبد فالونه مطلب اخیستل، په دی وجه مطلق فال ته به یی هم ، طائر وایه ، په دی آیت کی دطائر هم دامعنی ده اومطلب دآیت دادی چی ددوی فال ښه اوبد هرڅه چی هم وی داټول دالله ﷺ دطرف څخه دی هرڅه چی په دی عالم کی ظاهریږی ، ټول دالله ﷺ په قدرت او رضا سره کیږی نه په دی کی دچا دبدبختی څه دخل سته اونه دبرکت، دا ټول ددوی کچه خیالونه او جهالت دی چی دمرغانو پر الوتلو او کښېنستلو باندی ښه اوبد فالونه نیسی اودخپلو مقصدونو بنیادونه پردی باندی ایږدی، اوپه آخرکی فرعونیانو دحضرت موسیٰ ﷺ ټولو معجزو ته سحر وویل او دپامه څخه یی وغورځولی اواعلان یی وکی چی ، مَهْمَا تَاْتِنَا بِهٖ مِنْ اٰيَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ : یعنی که هرڅومره نخښی دخپل نبوت پیش کی په مونږ خپل جادو چلول غواړی خو واوره چی مونږ هیڅ کله هم په تا ایمان راوړونکی نه یو .

فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوْفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ

نو ولیږل مونږ په دوی باندی طوفان او ملخان او شپږی او جنګوښی او وینه

اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ ۟ فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ وَلَمَّا

دیری نښانی جلا جلا ، بیا هم دوی تکبر وکی او وو دوی قوم مجرمان ، او کله چی

وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوْا يٰمُوْسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ

پرېوتله په دوی څه عذاب نو ویل به یی ای موسیٰ دعا وکړه مونږ دپاره دخپل رب څخه لکه چی یی

عِنْدَكَ ۚ لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ

ښوولی ده تا ته ، که تا لیری کی زمونږ څخه دا عذاب نو بیشکه مونږ به ایمان راوړو په تا باندی اوپری به ږدو

مَعَكَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۱۳۴﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ اِلٰٓى

تاسره بنی اسرائل ، بیا چی به کله مونږ لری کی د دوی څخه عذاب تر یوی مودی پوری

اَجَلٍ هُمْ بٰلِغُوْهُ اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ﴿۱۳۵﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ

چی دوی به دغه مودی ته رسیدل دغه وخت به دوی عهدمات کی بیامونږبدله واخسته د دوی څخه ورو ستهډوب مو کړل دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

فِي الْيَمِّ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِآيٰتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غٰفِلِينَ ﴿۱۳۶﴾

په دریاب کې په دې وجه چې دوی دروغجن کړل آیتونه زمونږ او ددې څخه به یې ځانونه ناخبرول .

لنډتفسير: (کله چې یې داسې سرکښي اختیار کړه نو) بیا مونږ (ددې دوو بلاګانو څخه علاوه دا بلاګانې پردوی مسلطې کړې چې) پردوی مونږ (ډېر باران) طوفان ولیږی (چې دمالونو اوځانونو دختمیدو ویره یې پیدا سوه) او (ددې څخه وبیریدل نو دحضرت موسیٰ ﷺ سره یې وعده وکړه چې زمونږ څخه دا بلا لیرې کړه نومونږ به ایمان راوړو اوځه چې ته وایې نوهغه به منو، بیاچې کله هغه بلا لیرې سوه او دضرورت مطابق غله اونور پیدا سوه نوبیا بې فکره سول چې اوس خو مونږ خلاص سوو، نومال یې هم زیات سو اوبیرته دپخواپه شان پرخپلې سرکښۍ باندې ټینګ پاته سول نومونږ ددوی په فصلونو ملخان (مسلط کړل) او (چې کله یې بیا فصلونه تباه کیدونکي ولیدل نو وبیریدل اوبیایې هم هغسې وعده وکړه اوبیا چې کله دده په دعا سره هغه بلا لیرې سوه اوغله تیاره سوه، کورونوته یې راوړه، نوبیایې فکره سول چې اوس خوغله په واک کې راغله اوهم هغسې پرخپل کفر اومخالفت باندې ټینګ سول نومونږ په دې غله کې) دشپږې چینجي (پیدا کړل) او (کله چې وبیریدل، بیایې دغه شان وعده وکړه اوپه دعا سره دغه بلاهم لیرې سوه اوددې څخه مطمئن سول چې اوس به غله مونږ اوړه کوو اوخورو اوچیبنو به یې، نوبیا یې هغه کفر او مخالفت وو نودغه وخت مونږ ددوی خوراك داسې بې خونده کې چې پردوی) مو) چونګښې (په ډېر شمیرکې ددوی دخوراك په لوښو اوکټوو کې غورزول شروع کړل چې ټول خوراکونه یې په بې کاره سول اودغه ډول په کورونو کې کښېنستل هم دچنګښو په وجه مشکل سو او دچیبنلو اوبه یې هم دغه ډول بې خونده سوې چې ددوی اوبه) وینه (کیدې، چې خُلې ته کولې به یې نووینه کیدې به، غرض داچې پر دوی دا بلاګانې مسلطې سوې) چې داټولې (دحضرت موسیٰ ﷺ ښکاره ښکاره معجزې وې (چې ددوی په دروغ کولو اومخالفت باندې به ښکاره کیدې، دا اووه او همسا اوید بیضاء چې ورسره سې نوآیات تسعه یعنې نهه ۹ نښانې ورته ویل کیږي) نو (په کار وه چې دا معجزې اودقهر نښانې یې لیدلې وای اونسست سوی وای مګر) دغه خلګو (بیاهم) تکبر کوی اودغه خلګ وه ګناه کوونکي (چې په دومره سختۍ بیاهم نه راګرځیدل) اوکله چې پردوی به څه عذاب (ددې ذکر سوو بلاګانو څخه) واقع کیدې نوداسې به یې ویل ، ای موسیٰ! زمونږ دپاره دخپل رب څخه ددې خبرې دعا وکه دکمې چې هغه ستاسره وعده کړیده (چې هغه خبره لیرې کول دقهر دې زمونږ په راګرځیدو باندې، پس مونږ اوس وعده کوو چې) که تا داعذاب زمونږ څخه لیرې کې (یعنې دعا دې وکړه او لیرې سو) نو مونږ به خامخا ستاپه وینا سره ایمان راوړو اومونږ به بني اسرائیل هم آزاد کو، ستا سره به یې کو، بیا چې کله به (دحضرت موسیٰ ﷺ ددعاپه برکت سره) د دوی څخه دغه عذاب تریو خاص وخته پورې چې دغه ته به رسیدلې وو، لیرې سونو دغوبه فوراً وعده ماته کړه (لکه چې لوړ بیان

Maktaba Tul Ishaat.com

سوه) بیا (کله چې په هر دول سره ولیدل سوه چې دوی دخپل شرارت څخه نه راګرځي نو ده هغه وخت) مونږ د دوی څخه (پوره) بدله واخیسته یعنی دوی مو په دریاب کې غرق کړل (لکه چې داسې ذکره یې په داسې سبب سره چې دوی به زمونږ آیتونه دروغ کول او ددې څخه یې بالکل ځانونه ناخبره کول (او دروغ کول او غفلت یې هم داسې نه وو بلکه په اصرار او په عناد سره چې دحکم منلو دعوی به یې کوله او بیا به یې ماتوله)

معلومات اومسئلې: په ذکر سوو آیتونوکې دفرعونیانو اودحضرت موسیٰ ﷺ باقي قصه ذکرده چې دفرعون ساحرانو دحضرت موسیٰ ﷺ په مقابله کې وبایلله او ایمان یې راوړی ، مگر دفرعون قوم هم دغسې پرخپله سرکښې اوکفر باندې ټینګ پاته سو، تردې واقعې وروسته دتاریخي روایتونو مطابق حضرت موسیٰ ﷺ شل کاله په مصرکې مقیم پاته سو، دې خلګوته یې دالله ﷻ پیغام اوروی او دحق طرف ته به یې دعوت ورکوی او په دې موده کې الله ﷻ حضرت موسیٰ ﷺ ته نهه ۹ معجزې ورکړې ، دکومو په ذریعه چې دفرعونیانو خبرول اوپر لارې کول مقصود وو، په قرآن کریم کې په ، وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيٰتٍ کې ددې نهو ۹ معجزو بیان دی.

په دې نهو ۹ معجزوکې ترټولو اول دوې معجزې سپین لاس اوهمسا خو دفرعون په دربارکې ښکاره سوې وې او ددې دوو معجزو په ذریعه دجادوګرو په مقابله کې حضرت موسیٰ ﷺ فتح حاصله کړه ، تردې وروسته یوه معجزه هغه وه دکوم ذکر چې ددې څخه په مخکې آیتونوکې راغلی دی چې دفرعون په قوم باندې د دوی دضد او عناد په وجه قحطي مسلطه سوه ، د دوی په مځکو اوباغونو کې پیداوار ډېر کم سوه ، په کوم سره چې دوی سخت پریشانه سول آخر یې په حضرت موسیٰ ﷺ باندې ددې ددفع کیدو دپاره دعا وکړه مګر کله چې قحطي دفع سوه نو بیا به په خپله سرکښې کې اخته سول او ویل به یې داسې چې داقحطي خو دحضرت موسیٰ ﷺ او دده دملګرو دبدبختۍ په سبب وه ، اوس چې قحطي لیرې سوه نو دا زمونږ دحال تقاضا ده ، باقي دشپږو نښانو اومعجزو بیان په ذکر سوو آیتونو کې دی.

فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ.

یعنی بیا مونږ په دوی باندې طوفان ولیږی اوملخان او شپږې اوچنګښې او وینه ، په دې کې په فرعونیانو دمسلط کیدو، پنځه قسمه عذابونه ذکر دي چې ورته یې په دې آیت کې ، اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ فرمایلي دي ، چې معنی یې دحضرت عبدالله ابن عباس ؓ دتفسیر مطابق دا ده چې په دې کې هر یو عذاب تر یو مقرر وخته پورې وو، بیا موقوف سو او څه مهلت ورته ورکول سو، ددې څخه وروسته دوهم او دریم عذاب دا دول جلا جلا په دوی راغلي ، داترجمه دشیخ الهند په ترجمه کې اختیار سوې ده ابن منذر دحضرت عبدالله بن عباس ؓ دروایت څخه نقل کړیدې چې په دې کې هریو عذاب پر فرعونیانو باندې تر اوو ورځو پورې پاته سویدې دهفتې په ورځ به شروع سو دبلې هفتې په ورځ به ختم سو اوبیا به دری هفتې دوی ته مهلت ورکول سو، امام بغوی رحمه الله په روایت دابن عباس ؓ نقل کړي دي چې کله په فرعونیانو په اول وار دقحطي عذاب مسلط سو او دحضرت موسیٰ ﷺ په دعا سره دفع

Maktaba Tul Ishaat.com

سو، مگر دا خلگ دخپلې سرکښۍ څخه راونه گرځېدل، نوحضرت موسیٰ ﷺ دعا وکړه چې ای زما پروردگاره! دا داسې سرکښه خلگ دي چې دقحطۍ دعذاب اثر هم وربانډې ونه سو او معاهده يې وکړه بيايې ماته کړه اوس په دوی بانډې داسې عذاب مسلط که چې د.دوی دپاره دردناک وي او زما دقوم دپاره وعظ سي او دراتلونکو دپاره دعبرت سبق سي، نوالله ﷻ اول په دوی بانډې دطوفان عذاب راوليږی، دمشهورو تفسير ليکونکو په نزد دطوفان څخه مراد داوبو طوفان دی. دفرعونيانو دکورونو او مځکو سره دبنی اسرائيلو مکانونه اومځکې وې، دبنی اسرائيلو مکانونه او مځکې دمځکې په شان وچې وې، هيڅ اوبه پکښې هم نه وې، او دفرعونيانو ټول کورونه او مځکې ددې طوفان څخه ډکې وې.
ددې طوفان څخه وبېرېدل اوفرعونيانو حضرت موسیٰ ﷺ ته درخواست وکې چې دخپل پروردگار څخه دعا وغواړه چې داعذاب زمونږ څخه ليرې کې نو مونږ به ايمان راوړو اوبنی اسرائيل به آزاد کو، دحضرت موسیٰ ﷺ په دعا سره دطوفان ليرې سو او تردې وروسته ددوی فصلونه زيات تر اوتازه سوه نواوس يې دا وويل چې په حقيقت کې داطوفان څه عذاب نه وو بلکه زمونږ دفائدې دپاره راغلی وو چې نتيجه يې داسوه چې زمونږ دمځکو پيداوار زيات سو په دې وجه دحضرت موسیٰ ﷺ په دې کې هيڅ دخل نسته دا يې وويل ټولې وعدې يې ماتې کړې.
دغه ډول دا خلگ يوه مياشت په آرام اوراحت کې وه، الله ﷻ دوی ته دغور اوفکر کولو مهلت ورکې، مگر دوی په هوش کې رانغلل نو اوس دوهم عذاب دملخانو پر دوی مسلط سو، ملخانو ددوی ټول فصلونه اوباغونه وخوړل په ځينو روايتونو کې دي چې دلرگو دروازې اوچتونه او دکورونو ټول سامانونه ملخانو وخوړل اوددې عذاب په وخت کې هم دحضرت موسیٰ ﷺ دامعجزه وليدل سوه چې داټول ملخان يوازې دفرعونيانو پر کورونو باغونو اوفصلونو بانډې خپاره وه، په خوا کې دبنی اسرائيلو کورونه، باغونه اوفصلونه ددې څخه محفوظ وه.
دا وخت بيا فرعونيانو چيغې جوړې کړې اوحضرت موسیٰ ﷺ ته يې خواست وکې چې که داپيره ته الله ﷻ ته دعاوکې اودا عذاب ليرې سي، نو مونږ پخه وعده کوو چې ايمان به راوړو اوبنی اسرائيل به آزاد کو، حضرت موسیٰ ﷺ بيا دعا وکړه او دا عذاب ليرې سو، مگر دعذاب ترليرې کيدو وروسته دوی وکتل چې زمونږ سره اوس هم دغلې دومره ذخيره موجوده ده چې دټول کال دپاره زمونږ پوره کيږی، نوبيا سرکښه سوه او وعده يې ماته کړه، نه يې ايمان راوړی او نه يې بنی اسرائيل آزاد کړل، يوه مياشت بيا الله ﷻ دوی ته مهلت ورکې، مگر ددې مهلت څخه هم دوی څه کار وانه خيستی نو پنځم عذاب وربانډې دوينې مسلط سو چې ددوی دخوراک څيښاک هرشی به وينه جوړيده، دڅاه څخه دحوض څخه دهرځای څخه چې به يې اوبه را ايستلې، وينه به ورڅخه جوړيدل خوراک به يې وينه کيدله اوپه دې ټولو عذابونو کې دحضرت موسیٰ ﷺ دا معجزه ده چې دهر يوه عذاب څخه به بنی اسرائيل بالکل محفوظ وه اوپه امن وه، دوينې دعذاب په وخت کې فرعونيانو چې به دبنی اسرائيلو دکورونو

Maktaba Tul Ishaat.com

ښځه اوبه وغوښتلې نوچې ددوی لاسونو ته به ورسیدې وینې به سوې، پریوه دسترخوان به چې قبطی اواسرائیلی خوراك ته کښېنستل، نو چې کمه ګوله به اسرائیلی پورته کوله هغه به پرخپل حالت وه اوکمه ګوله یا داوبو غړپ چې به دقبطي خُلی ته تلی هغه به وینه جوړه سوه، دا عذاب هم دمخکنیو په شان اووه۷ ورځې وو ،آخر بیادی بدکار قوم فریاد وکې موسیٰ ﷺ ته او ترمخکې زیاتی کلکی وعدی یې وکړې نودعایې وکړه اوعذاب لیرې سو،مګرداخلق په خپله وعده خلافی ټینګ پاته سول دغه شان دا پنځه عذابونه مسلسل پردوی راغلل مګرداخلق پرخپله ګمراهي قائم پاته سول قرآن کریم داسې فرمايي.
فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ یعنی دی خلګو دتکبر ښځه کار واخیستی اودا خلګ لوی عادی مجرمان وه .
تردې وروسته دیو شپږم عذاب ذکرپه بل آیت کې په ، رِجْز سره راغلی دی دا لفظ اکثره دطاعون دپاره ویل کیږي ددانو اونورو وبایي مرضونو دپاره هم استعمالیږي په تفسیري روایتونوکې دي چې پردې خلګو دطاعون وبا مسلطه سوه چې په دې باندې ددوی اویا زره سړي مړه سول، دغه وخت بیادی خلګو فریاد وکې اوبیا په دعا کولو داعذاب لیرې سو بیا هم دی خلګو وعده ماته کړه ، د دومره مسلسل آزمائښتونو اومهلتونو ښځه وروسته کله چې په دوی کې څه احساس پیدا نه سو نو اوس آخري عذاب راغی چې ټولو خپلی مخکی مکانونه اوسامانونه پاته کړل په حضرت موسیٰ ﷺ پسې ووتل اوآخر دقلزم دریاب ګوله سول .

وَاَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِيْنَ كَانُوْا يُسْتَضْعَفُوْنَ مَشَارِقَ الْاَرْضِ

او وارثان کړل مونږ هغه قوم چې کمزوري ګڼل کیدل دهغه مځکی په مشرق

وَمَغَارِبَهَا الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنٰى

او مغرب کې په کومه کې چې برکت اینبي دی مونږ ، اوپوره سوه دنیکی وعده ستا درب

عَلٰى بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ ۙ۬ بِمَا صَبَرُوْا ؕ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ

په بني اسرائلو باندې په سبب د دوی دصبر کولو اوخراب کړل مونږ څه چې جوړ کړی وو

فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهٗ وَمَا كَانُوْا يَعْرِشُوْنَ ﴿۱۳۷﴾ وَجٰوَزْنَا بِبَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ

فرعون اوقوم دده اوڅه چې یې لوړ خواره کړی وو ، اوپوری یستل مونږ بني اسرائیل ،

الْبَحْرَ فَاَتَوْا عَلٰى قَوْمٍ يَّعْكُفُوْنَ عَلٰۤى اَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ قَالُوْا

د دریاب ښځه نو ورسیدل یو قوم ته چې عبادت یې کوی دخپلو بتانو ، ویې ویل ای

Maktaba Tul Ishaat.com

يٰمُوۡسَى اجۡعَلۡ لَّنَآ اِلٰـهًا كَمَا لَهُمۡ اٰلِهَةٌ ‌ؕ قَالَ اِنَّكُمۡ قَوۡمٌ

اى موسىٰ ! جوړ كړه مونږ دپاره دعبادت په غرض يو بُت لكه چې د دوى بتان دى ، وبى ويل تاسى خلق

تَجۡهَلُوۡنَ ﴿۱۳۸﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَاۤءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمۡ فِيۡهِ وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوۡا

جاهلان ياست ، دا خلق ، تباه كيدونكى دى ، هغه شى چې په كوم كى دوى لګيدلى دى او غلط

يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۳۹﴾ قَالَ اَغَيۡرَ اللّٰهِ اَبۡغِيۡكُمۡ اِلٰهًا وَّهُوَ فَضَّلَكُمۡ عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۱۴۰﴾

دى كوم چې دوى كوى ، وبى ويل آيا دا الله څخه ماسوا ، ولټوم تاسى دپاره يو بل معبود حال دا دى چې هغه تاسى
لره لويى دركړى ده ، په ټول جهان باندى ،

وَاِذۡ اَنۡجَيۡنٰكُمۡ مِّنۡ اٰلِ فِرۡعَوۡنَ يَسُوۡمُوۡنَكُمۡ سُوۡۤءَ الۡعَذَابِ‌ ۚ

او هغه وخت ياد كړى كله چې نجات دركى مونږ تاسى ته د فرعونيانو څخه چې رسوى به يې تاسى ته ناكاره عذاب

يُقَتِّلُوۡنَ اَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُوۡنَ نِسَآءَكُمۡ‌ ؕ وَفِىۡ ذٰلِكُمۡ بَلَاۤءٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ عَظِيۡمٌ ﴿۱۴۱﴾

چې وژل به يې ستاسى زامن او ژوندى به يې پريښودلې ستاسى ښځې ، او په دى كى احسان دى ستاسى درب لوى

لنډتفسير: او (فرعون او فرعونيان موغرق كړل) مونږ هغه خلګ كوم چې بالكل كمزورى شميرل كيدل (يعنى بنى اسرائيل) د هغه مځكى دمشرق او مغرب (يعنى د ټولو حدونو) مالكان جوړ كړل په كومه كى چې مونږ بركت ايښى وو (ظاهرى بركت په ډير پيداوار سره او باطنى بركت په وجه داوسيدو او دفن كيدو د پيغمبرانو عليهم السلام سره) او ستا درب ښه وعده د بنى اسرائيلو په حق كى د دوى د صبر په وجه سره پوره سوه (د كوم چې دوى ته حكم سوى وو چې اصبروا) او مونږ د فرعون او د ده د قوم جوړى كارخانى او څه چې دوى لوړى آبادى جوړولى، ټولى درهم برهم يعنى تباه او برباد كړلى او (په كوم درياب كى چې مونږ فرعون غرق كى) مونږ بنى اسرائيل تر (دغه) درياب پورى ايستل (چې قصه يې په سورة شعرآء كى ده) بيا (ترپورى وتلو وروسته) دا خلګ پر يو قوم باندى تيرسول چې د خپلو ځوبتانو پرشاوخوا ناست وه (يعنى د دى عبادت يې كوى) وبى وئيل اى موسىٰ زمونږ دپاره هم يو (مجسم) معبود داسى مقرر كړه لكه څنګه چې د دوى دامعبودان دى ، ده وفرمايل واقعى په تاسى خلګو كى لوى جهالت دى ، دا خلګ په كوم كار كى چې لګيدلى دى (دا د الله ﷻ له طرف څخه هم) تباه به سى (لكه چې دالله ﷻ عادت د هميشه څخه داسى جارى دى چې حق په باطل غالب كوى او باطل تباه كوى او برباد وى) او د دوى دا كار محض بى بنياده دى (ځكه چې د شرك باطلوالى يقينى او ښكاره دى او) وبى فرمايل، آيا دالله ﷻ څخه ماسوا بل

Maktaba Tul Ishaat.com

څوك ستاسي معبود جوړ کړم حال دا دی چې هغه تاسي ته (په ځینو نعمتونو کی) دټولی دنیا په خلکو باندی لوړوالی درکړیدی او (الله ﷻ دحضرت موسیٰ ﷺ دخبری په تائیدکی ارشاد فرمايي چې) هغه وخت یادکی کله چې مونږ تاسي دفرعونیانو (دظلم اوضررونو) څخه خلاص کړاست، کوم چې تاسي ته به یی سخت سخت تکلیفونه رسول چې ستاسي زامن به یی ډیر قتلول اوستاسي ښځی به یی (دخپل بیګاراوخدمت دپاره) پریښوولی اوپه ډی (واقعه) کی ستاسي دپروردګار دطرف څخه ډیرلوی آزمائش وو

معلومات اومسئلي: په تیرو آیتونو کی دفرعون دقوم دپرلپسی سرکښی او دالله ﷻ دطرف څخه دقسم قسم عذابونو په ذریعه ددوی دخبرولو او پوهولو بیان وو، په ذکر سوو آیتونوکی د دوی دبد انجام او دبنی اسرائیلو دفتح او دکامرانی ذکر دی.

په اولنی آیت کی ارشاد دی: وَاَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِيْنَ كَانُوْا يُسْتَضْعَفُوْنَ مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا : یعنی کوم قوم چې کمزوری ګڼل کیدی هغه مونږ ددغه ځمکی دمشرق اومغرب مالکان جوړ کړل په کومه کی چې مونږ برکتونه ایښی دی.

دقرآن په الفاظو فکر وکی ، داسي یی ونه فرمایل چې کوم قوم ضعیف اوکمزوری وو، بلکه دایی وفرمایل چې کوم قوم فرعون ضعیف اوکمزوری ګڼلی وو، په دی کی اشاره دی طرف ته ده چې الله ﷻ دکوم قوم په مدد باندی وی هغه په حقیقت کی هیڅکله کمزوری اوذلیله نه وی که څه هم څه وخت د دوی دظاهری حال څخه نور خلګ دوکه وخوری اودوی کمزوری وګڼی، مګر آخر بیا ټولوته معلومه سی چې هغه کمزوری اوذلیله نه وو، ځکه چې په حقیقت کی قوت اوعزت دالله ﷻ په قبضه کی دی ، تُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ او دمځکی دمالك جوړولو دپاره یی لفظ د ، اورثنا راوړی ؛ چې مونږ دوی وارثان جوړ کړل ، په دی کی اشاره دی طرف ته ده چې څنګه وارث دخپل مورث دمال مستحق وی ، دپلار په ژوندکی هرسړی په دی پوه وی چې ددی مال اوجایداد مالکان به آخر دده اولاد وی ، دغه شان دالله ﷻ په علم کی بنی اسرائیل دمځکی څخه دفرعونیانو دملك اومال مستحق وه.

مَشَارِقَ : دمشرق جمع ده، او، مَغَارِبَ دمغرب ، دیخ اوګرمی په مختلفو موسمونو کی دمغرب اومشرق دبدلیدو په وجه دجمع لفظ راوړل سو او دمځکی څخه مراد دلته دجمهورو تفسیر لیکونکو دوینا مطابق دشام اومصر ځمکه ده ، په کومه چې الله ﷻ دفرعونی اوعمالقه قومونو ترهلاکیدو وروسته بنی اسرائیلو ته قبضه او حکومت ورکی ، اوپه ، الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا سره یی دا وښوولہ چې په دی ځمکوکی الله ﷻ په خصوصیت سره خپل برکتونه ایښی دی ، دشام دمځکی په باره کی خو دقرآن کریم په ډیرو آیتونوکی دبرکتی کیدو ذکر راغلی دی، په ، الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا کی ددی بیان دی ، دغه شان دمصرپه باره کی هم دبرکتی کیدو او میوه داری کیدو ذکر د ډیرو روایتونو او دلیلونو څخه ثابت دی ، حضرت عمربن خطاب ؓ فرمایی چې دمصر دریاي نیل سَيِّدُ الانهار د دریابونو سردار دی اوحضرت عبدالله بن عمر ؓ فرمایی چې دبرکتونو دلسو حصو څخه نهه په مصر کی دی اوباقی یوه په ټوله دنیاکی (بحر محیط)

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډه داده چې کوم قوم دی دغرور اوتکبر په نشه مستو په خپله کوتاه نظری سره ذلیله اوکمزوری ګڼلی وو، مونږ هغوی ددی متکبرانو ددولت اوسلطنت اومال او ملك مالکان جوړ کړل چې دالله ﷻ اودهغه درسولانو وعده رښتینی وی، ارشاد فرمایی ، وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ الْحُسْنٰى عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ یعنی ستادرب نيك وعده دبنی اسرائیلو په حق کی پوره سوه ، ددی نبی وعدی څخه مراد یاخو هغه وعده ده کومه چې حضرت موسٰی ﷺ دخپل قوم سره کړی وه ، عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى الْاَرْضِ : یعنی نژدی ده چې ستاسی رب ستاسی دښمن هلاك کی اودهغوی دمځکی تاسی مالکان جوړکی ، اویا هغه وعده ده کومه چې په قرآن کریم کی بل ځای په خپله الله ﷻ دبنی اسرائیلو په حق کی فرمایلی ده ، وَنُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ عَلَى الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا فِى الْاَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ اَئِمَّةً وَّنَجْعَلَهُمُ الْوٰرِثِيْنَ ! وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِى الْاَرْضِ وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ : یعنی مونږ دا غواړو چې پردی قوم باندی احسان وکو کوم چې په دی ملك کی کمزوری اوذلیل ګڼل کیدل اودوی سرداران او حاکمان جوړکو اوهم دوی ددی مځکی وارثان کو اوپر دی مځکه باندی ورلره دتصرف کولو حق ورکو اوفرعون اوهامان او د دوی لښکروته هغه شی وښیو، دکوم دبیری څخه چې دوی دحضرت موسٰی ﷺ خلاف قسم قسم تدبیرونه کوی .

اوحقیقت دا دی چې دا دواړی وعدی یوډول دی ، یوه وعده ده ، دالله ﷻ دوعدی په بنا باندی حضرت موسٰی ﷺ دخپل قوم سره وعده کړی وه ، په دی آیت کی ددی وعدی پوره کیدل په لفظ د ، تَمَّتْ سره بیان سول ، ځکه چې وعده تمامیږی هغه وخت کله چې دغه وعده پوره سی ، ددی سره یی په بنی اسرائیلو ددی انعام او احسان وجه هم بیان کړه ، بِمَا صَبَرُوْا یعنی په دی وجه چې دی خلکو دالله ﷻ په لاره کی تکلیفونه برداشت کړل اوپه دی ثابت قدم پاته سول .

په دی کی یی اشاره وکړه چې زمونږ دا احسان اوانعام څه په بنی اسرائیلو پوری خاص نه وو، بلکه ددوی دعمل، صبر اوثابت قدمی نتیجه وه، کوم سړی یاکوم قوم چې داعمل اختیار کی نو زمونږ انعام هرځای هر وخت د دوی دپاره موجود دی .

حضرت موسٰی ﷺ چې کله دالله ﷻ دمدد وعده خپل قوم ته ورکړی وه دغه وخت هم ده قوم ته دانښوولی وه چې دالله ﷻ څخه مدد غوښتل او په مصیبتونو او آفتونو کی ثابت قدم پاته کیدل دکامیابی کیلی ده حضرت حسن بصری رحمه الله فرمایی چې په دی آیت کی دا اشاره لیدل کیږی چې کله دانسان مقابله دیو داسی سړی یا جماعت سره وی چې دفاع کول یی دده په قدرت کی نه وی نوپه داسی وخت کی دکامیابی اوفلاح صحیح طریقه داده چې مقابله نه کوی، بلکه صبر کوی دی فرمایی چې کله یو سړی دیوچا دضرر مقابله ده ته په ضرر رسولو کوی، یعنی دخپل بدل په خپله داخیستو فکر کوی نو الله ﷻ دی هغه ته حواله کی ، کامیابیږی اوکه ناکامه اوکله چې یو سړی دچا دضرر رسولو مقابله په صبر اودالله ﷻ دمدد په انتظار سره کوی ، نو الله ﷻ په خپله دده دپاره لاری خلاصی کی ، اولکه څنګه چې الله ﷻ دبنی اسرآئیلو سره په صبر اوثابت قدمی دا وعده فرمایلی وه چې دوی ته به پردښمن فتح اوپر مځکه

Maktaba Tul Ishaat.com

حکومت ورکی ، دغه شان یې دامت محمدی سره یې هم وعده فرمایلې ده کومه چې په سورة نورکی ذکر ده ، وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَیَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِی الْاَرْضِ اولکه څنګه چې بنی اسرائیلو دالله ﷻ وعده پوره سوی لیدلی وه ، امت محمدی ﷺ تر دوی زیات په واضح طور سره دالله ﷻ دکومك مشاهده وکړه چې په پوره مځکه د دوی حکومت او سلطنت عام سو (روح البیان)

دلته دې دا شبهه نه کول کیږی چې بنی اسرائیلو خو دصبر څخه کار نه دی اخیستی بلکه کله چې حضرت موسٰی ﷺ دوی ته دصبر تلقین وکی نو څفه سول او ویې ویل ، اُوْذِیْنَا وجه دا ده چې اول خو د دوی صبر دفرعونی آزارونو په مقابله کی اوپه ایمان ثابت قدم پاته کیدل پرلپسی ثابت دی، که یو وار ورڅخه دشکایت لفظ ووتی هم نودی ته نه دی کتل سوی ، دوهم داهم ممکنه ده چې دبنی اسرائیلو دا خبری په طور دشکایت نه وی، بلکه په طور دښکاره کولو درنځ اوغم وی .

په ذکر سوی آیت کی تردی وروسته فرمایی ، وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ یَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهٗ وَمَا كَانُوْا یَعْرِشُوْنَ یعنی مونږ تباه اوبرباد کړل هغه ټول شیان کوم چې فرعون او دده قوم جوړول او هغه آبادیانی کمی چې دوی پورته لوړولی ، دفرعون او دفرعون دقوم په جوړو کړو شیانوکی د دوی مکانونه آبادی او دکورونو دضرورت سامان دارنګه هغه مختلف قسم تدبیرونه کوم چې دوی دحضرت موسٰی ﷺ دمقابلی دپاره کول ټول داخل دی ، اوپه ، وَمَا كَانُوْا یَعْرِشُوْنَ کی لوړ مکانونه او محلونه داخل دی او لوړی درختی او هغه دانګورو بوټی هم کوم چې پرچتونو باندی خپرول کیږی .

تر دې ځایه پوری دفرعونیانو دتباهی ذکر وو، مخ ته دبنی اسرائیلو تر فتح او کامرانی وروسته د دوی دسرکښی اوجهالت بیان شروع کیږی ، کوم چې دالله ﷻ دبی شمیره نعمتونو دمشاهدی باوجود ددی خلګوڅخه وسو، چې مقصدیې نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکول دی چې تیرو پیغمبرانو دخپلو امتونو دلاسه څومره څومره تکلیفونه برداشت کړي دی ، ددی په مخ ته کولو سره به دموجوده سرکښانو آزارونه رسول سپك سی .

وَجٰوَزْنَا بِبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ الْبَحْرَ : یعنی مونږ بنی اسرآئیل په دریاب پوری ایستل ، بنی اسرائیلوته دفرعونیانو په مقابله کی معجزانه کامیابی حاصله سوه اواطمینان ورته حاصل سو نو ددی هغه اثر وسو کوم چې په عاموقومونو باندی دعیش ، عشرت او عزت او دولت کیږی ، چې په دوی کی جاهلانه کارونه پیدا سول واقعه داسی وسوه چې اوس اوس کله چې داقوم دحضرت موسٰی ﷺ په معجزه سره تردریاب پوری وتل اودفرعون دټول قوم دغرقیدو تماشه یې په خپلو سترګو ولیده چې لږمخ ته ولاړل نوپر یو داسی قوم تیر سړل چې دمختلفو بتانوپه عبادت کی لګیا وه، دبنی اسرائیلو ددوی داطریقه څه خوښه غوندی سوه اوحضرت موسٰی ﷺ ته یې درخواست وکی چې لکه څنګه چې ددی خلګو ډیر معبودان دی، ته زمونږ دپاره هم څه داسی معبود جوړ کړه چې مونږهم یولیدونکی شی مخ ته کښیږدو او عبادت یې کوو، دالله ﷻ ذات خو مونږته مخامخ نه دی حضرت موسٰی ﷺ وفرمایل ، اِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ یعنی په تاسی خلګو

Maktaba Tul Ishaat.com

کی لوی جهالت دی ، داخلک دکومو طریقه چی تاسی خوښه کړه د دوی عملونه ټول ضائع او برباد دی ، دوی دباطلو شیانو عبادت کوی ، تاسی ددی حرص مه کوی ، آیا زه ستاسی دپاره دالله ﷻ څخه ماسوا بل څوك معبود جوړ کړم حال دا دی چی الله ﷻ تاسی ته دجهان په ټولو خلکو باندی فضیلت درکړی دی مراد ورڅخه ددغه وخت ددنیا خلک دی ، چی دغه وخت په حضرت موسیٰ ﷺ باندی ایمان راوړونکی تر نورو ټولو خلکو افضل او اعلی وه .

تردی وروسته بنی اسرائیلو ته د دوی تیر حالات ورپه یاد سوه چی دوی دفرعون په لاسونوکی داسی مجبور اومقهور وه چی ددوی هلکان به یی قتلول یوازی انجونی به یی دخپل خدمت دپاره پرېښوولی. الله ﷻ دحضرت موسیٰ ﷺ په برکت اودعا سره ددی عذاب څخه نجات ورکی ، آیا ددی احسان اثر دا په کار دی چی تاسی ددغه رب العٰلمین سره ددنیا ذلیل ترینی ډبری شریکی کی ، دا څومره عظیم ظلم دی ددی څخه توبه وکی .

وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً وَّاَتْمَمْنٰهَا

او وعده وکړی مونږ دموسیٰ سره د دیرشو (۳۰) شپو او پوره مو کړی دا

بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖٓ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوْسٰى لِاَخِيْهِ

په لسو (۱۰) سره نو پوره سوه موده ستا درب څلوېښت (۴۰) شپی او وویل موسیٰ ﷺ خپل ورور

هٰرُوْنَ اخْلُفْنِيْ فِيْ قَوْمِيْ وَاَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۱۴۲﴾

هارون ته چی زما خلیفه سه زما په قوم کی او اصلاح کوه او مه ځه په لاره دفساد کوونکو

لنډتفسیر: او (کله چی بنی اسرائیل دټولو پریشانیو څخه مطمئن سول نوحضرت موسیٰ ﷺ ته یی درخواست وکی چی که اوس مونږ ته څه شریعت حاصل سی نو مونږ بهورباندی په اطمینان سره عمل کوو حضرت موسیٰ ﷺ الله ﷻ ته درخواست وکی الله ﷻ ددی قصه داسی بیانوی چی) مونږ دموسیٰ (ﷺ) سره ددیرشو شپو وعده وکړه (چی طورته راسه اعتکاف وکړه نو تاته به شریعت اوکتاب تورات درکول سی) او لس شپی مونوری ددی دیرشو شپو تمامیدل جوړی کړی (یعنی تورات مو ورکی په دی کی مولس شپی دعبادت دپاره نوری زیاتی کړی چی ددی وجه په سورة بقره کی ذکر سوي ده) دغه ډول دده دپرودرګار (مقرر سوی) وخت (ټول یوځای) پوره څلوېښت ۴۰ شپی سوی اوموسیٰ (ﷺ) کوه طورته دتلوپه وخت کی) خپل ورور هارون (ﷺ) ته ویلی وه چی زما وروسته ددی خلکو انتظام کوه او اصلاح یی کوه اودفساد کوونکوپه رایه عمل مه کوه .

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلې: په دې آيت کې دحضرت موسیٰ ﷺ اوبنی اسرائیلو هغه واقعه ذکر ده کومه چې دفرعون ترغرقیدو او دبنی اسرائیلو تر مطمئن کیدو وروسته مخ ته راغلې چې بنی اسرائیلو حضرت موسیٰ ﷺ ته درخواست وکې چې اوس مونږ مطمئن سو اوس که مونږ ته څه کتاب اوشریعت حاصل سی نومونږبه په بې فکرۍ سره په هغه عمل کوو، حضرت موسیٰ ﷺ الله ﷻ ته دعا وکړه، په دې کې لفظ د، وٰعَدْنَا دوعدې څخه مشتق دی او دوعدې حقیقت دا دی چې چاته تر نفعی رسولو مخکې دهغه اظهار وسی چې مونږ به ستا فلانی کار وکو.

په دې موقع الله ﷻ په حضرت موسیٰ ﷺ دخپل کلام نازلولو وعده وفرمایله اوددې دپاره یې داشرط ولګوی چې دیرش شپې په کوه طورکې په اعتکاف او دالله ﷻ په ذکرکې تیرې کړه اوبیا یې په دې دیرشو دلسو اضافه وکړه څلويښت یې کړې.

دلفظ د، وٰعَدْنَا اصلی معنٰی ددواړه طرف څخه دوعدې اومعاهدې راځي، دلته هم دالله ﷻ دطرف څخه دتورات ورکولو وعده وه اودحضرت موسیٰ ﷺ دطرف څخه ددیرشو څلويښتو شپو داعتکاف په دې وجه په ځاې د، وَعَدْنَا یې، وَاعَدْنَا وفرمایل په دې آیت کې څو مسئلې او احکام دفکر قابل دی، اول دا چې کله الله ﷻ ته منظوره داوه چې اعتکاف دې دڅلويښتو شپو وسی نو اول په دیرش اوبیا دلسو په اضافه کولو اوڅلويښت کولوکې څه حکمت وو چې داول سر څخه یې دڅلويښتو ورځو داعتکاف حکم کړی وای نوڅه حرج وو ؟ نو دالله ﷻ دحکمتونو احاطه څوك کولی سی، ځینې حکمتونه یې عالمانو بیان کړي دي.

په تفسیرِ روح البیان کې دي چې په دې کې یو حکمت دتدریج او کرار کرار کولو دی چې یوکار دچا پرذمه حواله کول کیږي نو داول څخه دې په زیات مقدار سره کارده ته نه حواله کوی چې دې دغه کارپه آسانی سره برداشت کې، بیادې ورته زیاتی کار حواله سی، اوپه تفسیرِ قرطبی کې دی چې په دې طرز کې حاکمانو او دکار حکم کوونکوته ددې تعلیم ورکول دی چې که چاته یوکار تر یو مقرر وخته پورې دپوره کولو دپاره ورکې اوپه دغه مقرر میعاد کې یې هغه پوره نکړای سی نوده ته دې زیات نور مهلت ورکول سی، لکه چې دحضرت موسیٰ ﷺ په واقعه کې وسوه چې ددیرشو شپو ترپوره کولو وروسته چې کوم کیفیت حاصلول په کار وو، هغه پوره نسو په دې وجه یې ورلره زیات دلسو شپو نور مهلت ورکې، څکه چې ددې لسو شپو دزیاتوالی کمه واقعه چې تفسیر لیکونکو ذکر کړي ده، هغه داده چې ددې دیرشو شپوپه اعتکاف کې حضرت موسیٰ ﷺ دقاعدې مطابق دیرش روژې هم پرلپسې ونیولې، په مینځ کې یې روژه ماته نه کړه، ددیرشمې روژې پوره کولو وروسته یې روژه ماته کړه، مقرر مقام دکوه طور ته حاضر سو، نو دالله ﷻ دطرف څخه ورته ارشاد وسو چې دروژه دار دخُلې څخه یو خاص قسم بوی دمعدې دبخار څخه پیدا کیږي هغه دالله ﷻ خوښ دی، تا تررروژې ماتولو وروسته مسواك وکې هغه بوی دې لیرې کې، په دې وجه زیاتې لس روژې نورې ونیسه چې هغه بوی بیا پیدا سی، اوپه ځینو

تفسیری روایتونوکی چی دلته دانقل دی چی تر دیرشمی روژی وروسته حضرت موسیٰ ﷺ مسواک کړی وو، دکوم په ذریعه چی هغه بوی دروژی لیری سوی وو، ددی څخه په دی خبره باندی دلیل نه سی نیول کیدی چی دروژه دار دپاره مسواک کول مکروه یامنع دی، ځکه چی اول خو ددی روایت څه سند ذکر نه دی، دوهم دا هم کیدی سی چی دا حکم دحضرت موسیٰ ﷺ دذات سره متعلق وی، دعامو خلګو دپاره نه وی یا دحضرت موسیٰ ﷺ په شریعت کی داحکم دټولو دپاره نه وی چی دروژی په حالت کی دی مسواک نه کول کیږی لیکن په شریعت محمدی کی خوپه حالت کی دروژی دمسواک کولو معمول په حدیث سره ثابت دی، کوم چی بیهقی په روایت دحضرت عائشی ﷺ نقل کړي دی، چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی، خَيْرُ خِصَالِ الصَّائِمِ السِّوَاكُ یعنی دروژه دار ښه عمل مسواک دی، دا روایت یی په جامع الصغیر کی نقل کړي دی اوحَسَن یی ورته ویلی دی.

فائده: پردی روایت کی یوسوال داکیږی چی حضرت موسیٰ ﷺ کله دحضرت خضر ﷺ په تلاښ کی سفر کوی، نونیمه ورځ په لوږه باندی صبر نه سو اوخپل ملګری ته یی وویل، اٰتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدْ لَقِيْنَا مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا یعنی زمونږ خوراک راوړه ځکه چی دی سفر مونږ ډیر ستړی کړو اوپه کوم طورکی یی پرلپسی دیرش روژی داسی ونیولی چی دشپی یی هم روژه ماته نه کړه، دا عجیبه خبره ده؟

په تفسیرِ روح البیان کی دی چی دافرق ددی دواړو سفرونو دنوعیت په سبب سره وو، اولنی سفر دمخلوق سره دمخلوق په تلاښ کی وو اودکوم طور سفر دمخلوق څخه جلا کیدل دیو ذات حق سُبْحَانَهٗ تَعالی په لټون کی وونوددی خود بخوده داسی اثر کیدل وو چی بشری تقاضاوی انتهایی کمزوری سوی دخوراک اوچیښناک حاجت دومره کم سوچی تردیرشو ورځو پوری ورته هیڅ تکلیف محسوس نه سو.

(په عبادتونوکي قمري حساب معتبردی په دنیاوی معاملوکي دشمسي حساب هم اجازه سته)

یوه بله مسئله ددی آیت څخه داثابته سوه چی دپیغمبرانو ﷺ په شریعتونو کی دتاریخ حساب دشپی څخه کیږی، ځکه چی په دی آیت کی هم ددیرشو ورځو پر ځای ددیرشو شپو ذکردی، وجه داده چی دانبیاوو ﷺ په شریعتونوکی میاشتی قُمری معتبری دی اودقمری میاشتی شروع دسپوږمی لیدو څخه کیږی اوسپوږمی دشپی لیدی سی په دی وجه میاشت دشپی څخه شروع کیږی، بیاددی هرېوه تاریخ دلمر لویدلو څخه شمار کیږی، خومره آسمانی مذهبونه چی دی ددی ټولو حساب دغه ډول دقمری میاشتو څخه اودتاریخ شروع یی دلمر لویدو څخه معتبرږی.

قرطبی په حواله دابن عربی رحمة الله عليه نقل کړي دی چی.

حِسَابُ الشَّمْسِ لِلْمَنَافِعِ وَحِسَابُ الْقَمَرِ لِلْمَنَاسِكِ.

شمسی حساب ددنیوی نفع دپاره دی اوقمری حساب دادا کولو دعبادتونو دپاره دی.

او دا دیرش شپی دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ دتفسیر مطابق دذی القعدی دمیاشتی شپی وی اوبیا په دی لس شپی دذی الحجی زیاتی سوی، ددی څخه معلومه سوه چی تورات حضرت موسیٰ ﷺ ته دلوی

Maktaba Tul Ishaat.com

اختر په ورځ حاصل سوي دي (قرطبي)

(یوه مسئله : دنفس په اصلاح کي څلويښتو شپو او ورځو لره خاص دخل دی)

ددی آیت داشاری څخه دا هم معلومه سوه چی څلویښتو شپو ته دباطنی حالاتو په اصلاح کی خاص دخل دی ، لکه چی په یو حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی کوم سړی څلویښت ورځی په اخلاص سره دالله ﷻ عبادت وکی ، نو الله ﷻ د ده دزړه څخه دحکمت چینی جاری کړی (روح البیان)

(انسان ته په خپلو ټولو کارونو کي دتدريج او کرار کولو تعليم)

ددی آیت څخه ثابته سوه چی دضروری کارونو دپاره یو خاص میعاد مقررول اوپه آسانه اودمه دمه سره یی کول دالله ﷻ سنت دی، تلوار اوجلدی کول دالله ﷻ خوښ نه دی ، ترټولو اول په خپله الله ﷻ دخپل کار یعنی دعالم پیدا کولو دپاره یو میعاد متعین کی اودا اصول یی ښوولی دی ، حال دا دی چی الله ﷻ ته دآسمان اومځکی اودټول عالم دپیدا کولو دپاره دیوه منټ هم ضرورت نسته، کله چی هغه شی ته دپیدا کولو دپاره وفرمایی چی وسه نوهغه فوراً وسی، مگرپه دی خاص طرز سره په کار کولو کی مخلوق ته داهدایت ورکول وو چی خپل کارونه په غور، فکر اودمه دمه سره کوی، دغه ډول حضرت موسیٰ ﷺ ته یی تورات ورکوی نو ددی دپاره یی هم یو میعاد مقرر وفرمایی ، په دی کی ددی اصولو ښوونه ده (قرطبي)

او دا هغه اصول وو ، دکمو نظر انداز کول چی دبنی اسرائیلو دگمراهی سبب جوړ سو ، څکه چی حضرت موسیٰ ﷺ دالله ﷻ دمځکی حکم په مطابق خپل قوم ته دا وویل او ولاړی چی دديرشو ورځو دپاره ځم ، دلته چی کله دلسو ورځو موده زیاته سوه نو دخپلی تلواري په سبب دوی دا وینا شروع کړه چی حضرت موسیٰ ﷺ یو ځای ورك سو اوس مونږ ته په کار دی چی ځان ته یوبل پیشوا جوړکو ، ددی نتیجه دا سوه چی دسامری په دام کی گیرسول اود گیلگی عبادت یی شروع کی ، که دغور فکر او په خپلو کارونو کی دکراروالی او دتامل عادی وای نو دی ځای ته به نوبت نه رسیدی (قرطبي)

دآیت په دوهمه جمله کی ارشاد دی ، وَقَالَ مُوسٰى لِاَخِيْهِ هٰرُوْنَ اخْلُفْنِيْ فِيْ قَوْمِيْ وَاَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ : ددی جملی څخه هم یو څو احکام اومسئلی راوزی .

(دضرورت په وخت کي دکار منتظم لره خپل قائم مقام جوړول)

اول داچی کله حضرت موسیٰ ﷺ دالله ﷻ دوعدی مطابق کوه طور ته داعتکاف دپاره تلی نوخپل ملگری حضرت هارون ﷺ ته یی وفرمایل ، اُخْلُفْنِيْ فِيْ قَوْمِيْ یعنی ترما وروسته زماپه قوم کی زما دقائمقام په حیثیت سره کارونه کوه ، ددی څخه معلومه سوه چی کم سړی دڅه کارذمه واروی هغه که په څه ضرورت سره یوځای ځی نوپرده لازمه ده چی دهغه کار انتظام وکی اوبیا ځی، دغه ډول داثابته سوه چی دحکومت ذمه وار حضرات چی کله یوځای په سفرځی نوخپل قائمقام اوخلیفه دی مقررکی، نوځی دی، دنبی کریم ﷺ عام عادت دا وو چی کله به یوځای دمدینی څخه دباندی تلی نو یو سړی به یی خلیفه

جوړوی، هله به تلی، یووار یی حضرت علی ﷺ خلیفه جوړ کی، یو واریی عبدالله ابن مکتوم ﷺ، دغه ډول په مختلفو وختونو کی یی مختلف صحابه کرام ﷺ په مدینه منوره کی خلیفه گان جوړ کړي دی او دباندی یی تشریف وړی دی (قرطبی)

حضرت موسیٰ ﷺ حضرت هارون ﷺ ته دخلیفه جوړولو په وخت کی ده ته یو څو هدایات ورکړه، ددی څخه معلومه سوه چی دیوچا قائمقام جوړولو په وخت کی دی دده دآسانی دپاره ضروری هدایات ورکی، په دی هدایتونو کی اولنی هدایت دادی چی، اَصۡلِحۡ په دی کی یی دَاَصۡلِحۡ مفعول ذکر ته کی چی دخه شی اصلاح کوه، ددی څخه اشاره دعاموالی طرف ته ده چی خپله اصلاح هم کوه اودقوم هم، یعنی کله چی په دوی کی دفساد څه خبره وینی نو په نیکه لاره یی دراوستلو کوشش کوه، دوهم هدایت یی داوکی چی، لَا تَتَّبِعۡ سَبِيۡلَ الۡمُفۡسِدِيۡنَ یعنی دفساد کوونکو دلاری تابعداری مه کوه، ښکاره خبره ده چی حضرت هارون ﷺ نبی دی، په دی وجه ده ته دهدایت مطلب دا وو چی دفساد کوونکو مدد یاهمت افزایی مه کوه.

لکه چی حضرت هارون ﷺ کله چی ولیدل چی قوم په سامری پسی سوی دی تردی چی دهغه په وینایی دګیلګی عبادت شروع کی، نوقوم یی ددی عبثو څخه منع کی اوسامری یی وترټی، بیاحضرت موسیٰ ﷺ تر واپس کیدو وروسته کله چی داخیال وکی چی حضرت هارون ﷺ ترما وروسته په خپلو فرضو ادا کولو کی کوتاهی کړي ده، نو په ده یی مواخذه وکړه، دحضرت موسیٰ ﷺ ددی واقعی څخه هغو خلکو ته عبرت اخستل په کار دی کوم چی بد نظمی اوبی فکری ترټولو لویه بزرګی ګنی.

وَلَمَّا جَآءَ مُوۡسٰى لِمِيۡقَاتِنَا وَكَلَّمَهٗ رَبُّهٗ ۙ قَالَ رَبِّ اَرِنِىۡۤ اَنۡظُرۡ

اوکله چی ورسیدی موسیٰ زمونږ خای دوعدی ته اوخبری وکړی ده سره دده رب ویی ویل ای زمار به ماته خان وښیی چی تا وونم

اِلَيۡكَ ؕ قَالَ لَنۡ تَرٰٮنِىۡ وَلٰـكِنِ انْظُرۡ اِلَى الۡجَـبَلِ فَاِنِ اسۡتَقَرَّ

ویی فرمایل، ته ماهیڅکله نه سی لیدی لیکن ته وګوره غر طرف ته که هغه په خپل ځای قرار

مَكَانَهٗ فَسَوۡفَ تَرٰٮنِىۡ ۚ فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّهٗ لِلۡجَبَلِ جَعَلَهٗ دَكًّا

پاته سو نو ته به ما ولیدی سی، بیا چی کله تجلی وکړه دده رب غر طرف ته نو کړو یی هغه نږدلی

وَّخَرَّ مُوۡسٰى صَعِقًا ۚ فَلَمَّاۤ اَفَاقَ قَالَ سُبۡحٰنَكَ تُبۡتُ اِلَيۡكَ

برابر او پروت موسیٰ بی هوښه، نو کله چی په هوښ کی راغی ویی ویل پاک دی ذات ستا ماتوبه وکړه تاته

Maktaba Tul Ishaat.com

وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٤٣﴾ قَالَ يٰمُوسَىٰٓ إِنِّي اصْطَفَيْتُكَ عَلَى

اوما دتولو څخه اول یقین راوړو ، ویی فرمایل ای موسیٰ! ما ته غوره کړی

النَّاسِ بِرِسٰلٰتِي وَبِكَلَامِي ۖ فَخُذْ مَآ اٰتَيْتُكَ وَكُنْ مِّنَ

دخلقو څخه په خپل پیغام رسولو او په خپلو خبرو ، نو واخله څه چی نا ته درکړو او سه شکر

الشّٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ وَكَتَبْنَا لَهُۥ فِي الْأَلْوَاحِ مِن كُلِّ شَيْءٍ مَّوْعِظَةً

کوونکی ، او ولیکل مونږ ده ته په تختوباندی دهر قسم نصیحت

وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ۚ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَأْمُرْ قَوْمَكَ يَأْخُذُوا

او تفصیل دهر یو شی ، نو ونیسه دا په زور سره او حکم کوه خپل قوم ته چی ونیسی

بِأَحْسَنِهَا ۚ سَأُورِيكُمْ دَارَ الْفٰسِقِينَ ﴿١٤٥﴾

ددې غوره خبری ډیر ژر به زه تاسی ته وښیم کور دنا فرمانو .

لنډتفسیر: او کله چی موسیٰ (ؑ په دی واقعه کی) زمونږ پر وخت (وعده سوی) باندی راغی (دکوم قصه
چی بیانیږی) او دده رب دده سره (دډیری مهربانۍ اوعنایت) خبری وکړی نو (دډیری خوشحالۍ څخه یی
ددیدار شوق پیدا سو) عرض یی وکی چی ای زما پروردګاره! خپل دیدار ما ته وښیه، چی زه تا ته یو نظر
وګورم، ارشاد ورته وسو چی ما ته (په دنیاکی) هیڅکله نسی لیدی (ځکه چی دا سترګی طاقت دجمال نه
لری (لکه چی په مشکوة کی دی دمسلم څخه: لَاَحْرَقَتْ سُبُحَاتُ وَجْهِهِ) لیکن (ستا دتسلی دپاره داسی
تجویز کوو چی) ته ددی غر طرف ته ګوره (مونږ پر ده یوه تجلی غورزوو) پس که دی پر خپل ځای برقرار
پاته سو نو (بیابه یی) ته هم ولیدی سی (غرض دا چی حضرت موسیٰ ؑ دغره طرف ته کتل) پس دده رب
کله چی په ده تجلی وفرمایله نو تجلی دی (غر) توتی توتی کی چی بیشکه ستا ذات (ددی سترګو
دبرداشت کولو څخه) منزه (اولوی) دی زه ستاپه جناب کی (ددی مشتاقانه درخواست څخه) معذرت
غوارم او (څه چی دحضور ارشاد دی چی ، لَنْ تَرٰنِی) تر ټولو اول زه په دی یقین کوم ، ارشاد وسو چی ای
موسیٰ (دا ډیره ده چی) ما (تا ته د) خپل (طرف څخه) دپیغمبری (وعده درکړه) او دخپل (ځان سره) دخبرو
کولو (شرافت می درکی اوپه) دی سره پر نورو خلګو باندی تا ته می غوره والی درکړي دی نو (اوس) څه
چی ما تاته درکړه (رسالت اوخبری کول اوتورات) دا واخله اوشکر کوه او مونږ پر څو تختو باندی

Maktaba Tul Ishaat.com

هرقسم (ضروري) نصيحت او (دضروري احکامو متعلق) دهرشي تفصيل ده ته ليکلي ورکي (هم داتختي تورات دي بياحکم وسوچي کله مونږ داتختي درکړي) نودا په کوشش سره (په خپله هم) په عمل کې راوله اوخپل قوم ته (هم) حکم کوه چي ددي په ښو ښو حکمونو باندي (يعني په ټولو ځکه چې ټول ښه دي) عمل کوي زه به اوس ډير ژر تاسي خلګو (يعني بني اسرائيلو ته) ددي بې حکمو (يعني فرعونيانو ياعمالقه وو) مقام وښيم (په دي کې زيري اووعده ده چې مصر ياشام به ډير ژر ستاسي په تسلط کې راسي، مقصود ددي ښخه ترغيب ورکول دي دحکم منلو، چې دالله ﷻ داطاعت دا برکتونه دي)

معلومات اومسئلي: لَنْ تَرٰىنِیْ: يعني ته ما نه سي ليدي، په دي کې اشاره ده چې ليدل ناممکن نه دي، مګر مخاطب په موجوده حالت سره ددي برداشت نسي کولی که نه نوکه ليدل ممکن نه واي نود، لَنْ تَرٰىنِیْ پرځاي به يې، لَنْ اُرٰی ويلي واي چي زما ليدل نه سي کيدي (مظهري)

ددي ښخه ثابته سوه چي دالله ﷻ ديدار په دنياکي هم عقلاً ممکن خو دي مګر ددي آيت ښخه ددي دليدلو منع والی هم ثابت سو چي په دنيا کي يې واقع کيدل منع سوه اُو دا مذهب دی دجمهورو اهل سنتو چې په دنيا کي دالله ﷻ ديدار عقلاً ممکن دي، مګر شرعًا ممنوع دی، لکه چې دصحيح مسلم په حديث کی دی، لَنْ يَّرٰی اَحَدٌ مِّنْکُمْ رَبَّهٗ حَتّٰی يَمُوْتَ يعني په تاسي کې هيڅ سړی ترمرګ مخکې خپل رب نه سي ليدي.

وَلٰکِنِ انْظُرْ اِلَی الْجَبَلِ: په دي کي ددي کار شاهدي ده چي په موجوده حالت کې مخاطب دالله ﷻ ليدل نه سي برداشت کولی، په دي وجه يې پرغره باندي معمولي غوندي تجلي وغورځوله اويې ښووله چي غر يې هم نه سي برداشت کولی، نو ضعيف انسان به يې څنګه برداشت کي؟

فَلَمَّا تَجَلّٰی رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ: دتجلي معنٰی په عربي لغت کي دظاهر او ښکاره کيدو ده او دصوفيانو حضراتو په نزد دبالواسطه ليدلو ده لکه يوشي چې دهنداره په واسطه وليدل سي، په دي وجه تجلي ته ليدل نه سي ويل کيدي په خپله په دي آيت کي ددي شهادت مَوجود دي چي الله ﷻ دليدلو نفي وفرمايله اودتجلي اثبات.

امام احمد، ترمذي، حاکم په روايت دانس ﷺ نقل کړي دي او ددي سند حاکم او ترمذي صحيح مقرر کړي دي چي نبي کريم ﷺ ددي آيت تلاوت وفرمايي ذلاس دځچني ګوتي پرسر باندي يې بته ګوته کښيښوله اواشاره يې وفرمايله چي دالله ﷻ دنور يوازي دومره قدر حصه ظاهره سوي وه، چي غر په ټکري ټکري وَالوتي، دا ضروري نه ده چي ټول غرّ دي ټکري سوي وي، بلکه په کومه حصه چي الله ﷻ دا تجلي وفرمايله، هغه دي متاثره سوي وي.

دحضرت موسي ﷺ سره دالله ﷻ خبري: دومره خبره خو دقرآن دواضحه الفاظو ښخه ثابته ده چي الله ﷻ دحضرت موسٰی ﷺ سره بې له واسطي کلام وفرمايي بيا په دي کلام کې يوخو هغه دي کوم چي دنبوت ورکولو په اول وخت سوي وو، دوهم کلام دادي کوم چي دتورات ورکولو په وخت کي وسو اودکوم ذکر چي په دې آيت کي دي، دآيت دالفاظو ښخه دا هم ثابتيږي چي دي دوهم کلام ته په نسبت داول څه زيات

Maktaba Tul Ishaat.com

خصوصیت حاصل وو ، لیکن حقیقت ددی کلام څه اوڅه رنګه وه ، ددی علم دالله ﷻ څخه ماسوا هیڅاته نه سی کیدی ، په دی کی چی څومره عقلی احتمالات داسی وی کوم چی دشریعت دیو حکم څخه خلاف نه وی دهغو امکان په کښی ضرور سته ، مګر په دی احتمالاتو کی یو متعین کول بی له دلیله صحیح نه دی او دتیرو صالحانو صحابه وو ﷺ اوتابعینو رحمهم الله مذهب په دی معامله کی برابر دی چی دا معامله خدای ته حواله کول کیږی ، داحتمالاتو را ایستلو په فکر کی دی نه لویږی (بیان القرآن)

سَاُورِيْكُمْ دَارَ الْفٰسِقِيْنَ : دلته د دارَ الفسقین څخه څه مراد دی؟ په دی کی دوی خبری دی ، یو دمصر دملك بل دشام دملك ، ځکه چی دحضرت موسٰی ﷺ ترفتح کولو مخکی پرمصر باندی دفرعون او دده قوم حکمرانی وه اوغالب وو ، په دی وجه یی مصرته دار الفسقین اوپر ملك دشام باندی دعمالقه وو قبضه وه هغوی هم کافران اوفاسقان وه ، په دی وجه دغه وخت شام هم دار الفسقین وو .

په دی دواړوکی دلته کوم ملك مراد دی ، په دی کی اختلاف په دی بنیاد باندی دی چی دفرعون تر غرقیدو وروسته بنی اسرائیل مصر ته بیرته تللی دی اوکه نه؟ که دغه وخت مصرته واپس تللی وی اوپر مصر باندی قابض سوی وی لکه چی دآیت ، وَاَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِيْنَ څخه ددی تائید وسو ، نو په مصر قبضه اوغلبه تردی واقعی دطور مخکی سوي ده ، په دی کی د ، سَاُورِيْكُمْ دَارَ الْفٰسِقِيْنَ څخه دشام ملك متعین کیږی اوکه دغه وخت واپس نه وی تللی نو دواړه ملکونه ورڅخه مراد کیدی سی .

وَكَتَبْنَا لَهٗ فِي الْاَلْوَاحِ : ددی څخه معلومیږی چی دتورات تختی لیکل سوی او حضرت موسٰی ﷺ ته سپارل سوی وی ، ددغه تختو دمجموعی نوم تورات دی .

سَاَصْرِفُ عَنْ اٰيٰتِيَ الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ

زر ده چی وبه ګرځوم دخپلو آیتونو څخه هغه چی تکبر کوی په مځکه کی نا حقه اوکه ووینی تولی نښانی

اٰيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا ۚ وَاِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوْهُ

ایمان نه راوړی په هغوی ، اوکه ووینی لار دهدایت نونه نیسی هغه

سَبِيْلًا ۚ وَاِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ؕ ذٰلِكَ

لار ، اوکه ووینی لار ګمراهی نو نه نیسی هغه لار دا ځکه

بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ﴿۱۴۶﴾ وَالَّذِيْنَ

چی دوی دروغ ګڼلی دی زمونږ آیتونه ، اوسوی دی ددې څخه نا خبره ، او چا چی

Maktaba Tul Ishaat.com

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ۭ هَلْ يُجْزَوْنَ

دروغ وګڼل زمونږ آيتونه او دآخرت ملاقات   برباد سول محنتونه ، هغه بدله به پيدا کړی

اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۷﴾ وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰى مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ

څه چي دوی   عمل کوی   ، او جوړ کی   قوم دموسٰی   دده څخه وروسته   د

حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ ۭ اَلَمْ يَرَوْا اَنَّهٗ لَا يُكَلِّمُهُمْ

خپلو زيوراتو څخه   يو بدن چي په ده کی دغوا اوازوو   آيا دوی دی ته نه کتل چي دغه خود دوی سره

وَلَا يَهْدِيْهِمْ سَبِيْلًا ۘ اِتَّخَذُوْهُ وَكَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۸﴾ وَلَمَّا

خبري هم نه کوی   ، او نه ورته لار ښوولی سی ، معبود يي جوړ کی هغه او دوی ظالمان وو ،   او کله چي

سُقِطَ فِيْٓ اَيْدِيْهِمْ وَرَاَوْا اَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوْا ۙ قَالُوْا لَىِٕنْ لَّمْ

پښيمانه سول او پوه سول   چي مونږ بيشکه ګمراه سو   نو ويي ويل که رحم ونه

يَرْحَمْنَا رَبُّنَا وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۱۴۹﴾ وَلَمَّا رَجَعَ

کړی په مونږ زمونږ رب او ونه بخښی مونږ نو بيشکه مونږ به تباه سو   ، او کله چي واپس سو

مُوْسٰٓى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا ۙ قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُوْنِيْ

موسٰی خپل قوم ته دغصی څخه ډک افسوس کوونکی ، ويي ويل څه ناکاره خلافت وکی تاسی زما

مِنْۢ بَعْدِيْ ۚ اَعَجِلْتُمْ اَمْرَ رَبِّكُمْ ۚ وَاَلْقَى الْاَلْوَاحَ وَاَخَذَ

زما څخه وروسته   ولی تلوار وکی تاسی ، دخپل رب دحکم څخه ، او ويي غورځولی هغه تختی او ويي

بِرَاْسِ اَخِيْهِ يَجُرُّهٗٓ اِلَيْهِ ۭ قَالَ ابْنَ اُمَّ اِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُوْنِيْ

نيوی سرد ورور خپل چي راکښوی دوی خپل خان ته ، ده وويل ای زما دمور زويه خلقو ماله کمزوری وګڼل

Maktaba Tul Ishaat.com

وَكَادُوْا يَقْتُلُوْنَنِيْ ۖ فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْاَعْدَآءَ وَلَا تَجْعَلْنِيْ مَعَ

او نژدې وه چې زه یې وژلی وای نو مه خندوه په ما پورې دښمنان او مهګرځوه ما سره د ګناهګارانو څخه

الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۵۰﴾ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِاَخِيْ وَاَدْخِلْنَا فِيْ

ويې ويل اې زما ربه معاف کړه ما او زما ورور او داخل کړه مونږ په خپل

رَحْمَتِكَ ۖ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۵۱﴾

رحمت کې او ته د ټولو څخه زيات رحم کوونکی یې .

تفسير: (اوس دا طاعت طرف ته ترغيب وروسته پرمخالفت باندې د بيرولو دپاره ارشاد دی چې) زه به داسې خلک د خپلو حکمونو څخه اړولی ساتم کوم چې په دنيا کې (داحکامو منلو څخه) تکبر کوی دکوم چې دوی ته هيڅ حق حاصل نه دی (ځکه چې خپل ځان لوی ګڼل حق دهغه چادی چې په واقع کې لوی وی اوهغه يو دخدای ذات دی) او (داړولو به پردوی دا اثر وی چې) که ټولی (ددنيا) نښانی (هم) ووينی خو بيا هم (دډيرې بدبختی څخه) په دی ايمان نه راوړی اوکه دهدايت لار ووينی نو هغه خپله طريقه نه جوړوی اوکه دګمراهی لار ووينی نوهغه خپله طريقه جوړوی (يعنی په حق نه قبلولو سره يی بيازړه سخت سی او اوړيدل يی دی حد ته ورسيږی) دا (تردی حده پوری اوړيدل يی) په دی سبب سره دی چې دوی زمونږ آيتونه (دتکبر په وجه) دروغ ګڼل اوددی (په حقيقت کی دفکر کولو) څخه به يی ځان ناخبره کوی (داسزا خويی په دنيا کی سوه چې دهدايت څخه محروم سوه) او (په آخرت کی به يی دا سزا وی چې) داخلک چاچی زمونږ آيتونو اودقيامت راتلو ته دروغ وويل، ددوی ټول کارونه (دکمو څخه چې ددوی دنفع توقع وه) برباد سول (او انجام ددی بربادېدو جهنم دی) دوی ته به دهغه سزا ورکول سی څه چې دوی کول او (کله چې حضرت موسیٰ ﷺ طور ته دتورات راوړلو دپاره تشريف يووړی نو) دموسیٰ (ﷺ) قوم (يعنی بنی اسرائيلو) دده (ترتللو) وروسته دخپلو (مقبوضه) زيوراتو څخه (کوم چې دوی دمصر څخه دراوتلو په وخت کی دقبطيانو څخه په بهانه دواده غوښتلی وه) يو ګيلګی (جوړکی چې قصه يی په سورة طٰه کی ده، دا يی معبود) ونيوی کوم چې (يوازی دومره حقيقت يی درلودی چې) يوغالب وو په کوم کی چې يو آواز وو (بل په ده کی هيڅ کمال نه وو، په کوم سره چې يو هوښيار ته دده په معبود کيدو شك ورځی) آيا دوی دا نه ليدل چې (په ده کی دسړی برابر هم قدرت نه وو لکه چې) هغه د دوی سره خبری هم نه سوای کولی او نه يی دوی ته (ددنيا يادين) څه لار ښوولی سوای (او دخدای په شان صفتونه په ده کی دکمه وه ، غرض داچې) دا (ګيلګی) دوی معبود مقرر کی او (کله چې په ده کی اصلاً څه دشك وجه نه

Maktaba Tul Ishaat.com

وه په دې وجه دوی) لوی بی شرمه کاروکی او (وروسته تروا پس کیدو دحضرت موسیٰ. چی قصه یی منع ته راخی ددوی په خبرولو سره) کله چی (پوه سول اوپردی خپل کار باندی) ستومانه سول اومعلومه سوه چی واقعی داخلگ په گمراهی کی راغلل نو (دپښیمانه کیدو څخه یی په طور دمعذرت) وویل چی که زمونږ رب پرمونږ رحم ونه کی او زمونږ (دا) گناه معاف نه کی نو مونږ به بالکل تباه سو (لکه چی په خاص طریقه سره دوی ته دتوبی دمکمل کولو حکم وسوچی قصه یی دسورة بقره په آیت ، فَاقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ کی تیره سوې ده) او (دحضرت موسیٰ ؑ دخبرولو قصه داسی وسوه چی) کله موسیٰ (ؑ) خپل دقوم طرف ته (دطور څخه) واپس راغی دغصی او غم څخه ډك (څکه چی ده ته په وحی سره دامعلومه سوی وه، په طٰه کی دی ، قَالَ فَاِنَّا قَدْ فَتَنَّا الخ نو (اول قوم ته متوجه سو) ویی فرمایل چی تاسی زما پس دا لوی دبی عقلو کار وکی، آیا دخپل رب دحکم (ترراتلو) مخکی تاسی (داسی) تلواری وکړه (زه خو داحکامو راوړلو دپاره تللی ووم ددی انتظار خو به مو کړی وای) او (بیا دحضرت هارون ؑ طرف ته متوجه سو اودینی حمایت په جوش کی) یی په تلوار سره (دتورات) تختی (خو) یوطرف ته کښیښوولی (اوپه تلوار یی په داسی زور سره کښیښوولی چی لیدونکی به ورباندی شك کوی چی داخوبی وغورزولی) او (لاسونه یی خالی کړه) دخپل ورور (هارون) سر (یعنی وریښته) یی ونیول دی یی خپل طرف ته راکش کی (چی تا ولی پوره انتظام ونه کی اوکله چی ددیر غضب څخه یوقسم بی اختیاره سوی وو، اوغضب هم ددین دپاره وو، په دی وجه بی اختیاری یی معتبره گڼل کیږی او پردی اجتهادی خطا باندی اعتراض نه سی کیدی) هارون (ؑ) وویل ای زما دمور زویه (وروره ما په خپل کوشش سره ډیر منع کړل لیکن دی خلگو زه) بی حقیقته وگڼلم (بلکه په نصیحت کولو سره) نژدی وه چی زه یی قتل کړی وای نوته په ماپوری (په سختی کولو سره) دښمنان مه خندوه او ما (په سلوك کولو سره) ددی ظالمانو خلگوپه ډله کی مه شمیره (چی ددوی سره دی کم ناخوښ والی دی هغه زماسره هم وکی) موسیٰ (ؑ) دالله ﷻ څخه دعا وغوښتله او) ویی ویل چی ای زما ربه زما خطاگانی (که څه هم اجتهادی دی) معاف کی او زما د ورور هم (کوتاهیانی کومی چی ورڅخه ددی مشرکانو په باره کی د دوی په پاته کولو سوی وی، لکه چی ددی قول څخه معلومیږی ، مَا مَنَعَكَ اِذْ رَاَيْتَهُمْ ضَلُّوْٓا اَلَّا تَتَّبِعَنِ ، الآية) اومونږ دواړه په خپل (خاص رحمت کی دا خل کړه اوته تر ټولو رحم کوونکو زیات رحم کوونکی یی (په دی وجه مونږ ددعا دقبلیدو اُمید واریو)

معلومات اومسئلی: په اولنی آیت کی چی کوم ارشاد فرمایی چی ، زه به واړوم دخپلو آیتونو څخه هغه
۱ خلگ کوم چی تکبر کوی په مځکه کی په ناحقه ، په دی کی دناحقی څخه اشاره دی طرف ته ده چی
دتکبر کوونکو په مقابله کی تکبر کول حق دی ، دغه بد اوگناه نه ده ، څکه چی دغه یوازی دصورت په
اعتبار سره تکبر وی، دحقیقت په اعتبار سره نه وی ، څکه چی مشهوره ده ، اَلتَّكَبُّرُ مَعَ الْمُتَكَبِّرِيْنَ تَوَاضُعٌ
(مسائل السلوك)

Maktaba Tul Ishaat.com

(تکبر انسان دروغ فکر او دعلوم الٰهیه څخه محرومه کوی)

او دتکبر کوونکو یعنی لویو جوړیدونکو دخپلو آیتونو څخه داړولو مطلب دا دی چی د دوی څخه دالله ﷻ په آیتونو دپوهیدو او ددی څخه دفائدی اخستو توفیق ورڅخه واخیستل سی، او دالله ﷻ آیتونه هم دلته عام مرادکیدی سی ، چی په دی کی نازل سوی آیتونه دتورات ، انجیل یاقرآن هم داخل دی او تکوینی آیتونه (نښانی) هم کوم چی په ټوله مځکه آسمان اوددوی په مخلوقاتو کی خپاره سوی دی ، په دی وجه دآیت دمضمون خلاصه داسوه چی تکبر یعنی ځان ترنورو لوی اوښه ګڼل داسی ناکاره او منحوس خصلت دی چی کوم سری په دی کی اخته سی دده عقل اوروغ فهم نه وی ، دی دالله ﷻ دآیتونو دپوهیدو څخه محرومه وی ، نه په ده کی دقرآن په آیتونو دصحیح پوهیدو توفیق باقی پاته کیږی اونه دالله ﷻ دقدرتونو په نښانو کی دغور او فکر کولو اوپه معرفت حاصلولو کی دده ذهن چلیږی .

په روح البیان کی دی چی ددی څخه معلومه سوه چی تکبر اولویی داسی ناکاره خصلت دی چی دعلوم الٰهیه وو دپاره پرده جوړیږی، ځکه چی الٰهیه علمونه یوازی دهغه په رحمت سره حاصلیږی او دالله ﷻ رحمت په تواضع سره متوجه کیږی ، مولانا رومی رحمه الله څه ښه فرمایی .

هر کجا پستی است آب آنجا رود هر کجا مشکل جواب آنجا رود

یعنی کوم ځای چی کښته وی اوبه هغه طرف ته ځی اوکوم ځای چی مشکل وی حل کول اوجواب کول دهغه ځای کول کیږی .

په مخکی دوو آیتونو کی تردی ارشاد فرمایلو وروسته بیا دحضرت موسیٰ علیه السلام باقی قصه داسی فرمایی چی ، کله چی حضرت موسیٰ علیه السلام دتورات حاصلولو دپاره په طورکی معتکف سو اوپه شروع کی چی ورته ددیرشو شپو او ورځو داعتکاف حکم وو اوددی مطابق یی خپل قوم ته ویلی وو چی دیرش ورځی پس به واپس راځم خو هلته ورته الله ﷻ دلسو ورځو میعاد نور زیات کی ، نو اسرائیلی قوم چی ددوی تلواری اونا آرامی داول څخه مشهوره وه، دغه وخت هم دوی قسم قسم خبری شروع کړی ددوی په قوم کی سامری نومی یوسړی وو چی په خپل قوم کی لوی او مشر منل کیدی مګر دکچه عقیدی سری وو ده موقع پیدا کړه دا حرکت یی وکی چی دبنی اسرائیلو سره دفرعون دقوم څه کالی پاته سوی وه، دوی ته یی وویل چی داکالی تاسی دفرعونیانو څخه په سوال را اخیستی وه اوس هغه ټول غرق سول او کالی ستاسی سره پاته سول، داستاسی دپاره حلال نه دی، ځکه چی دکفارو څخه په جنګ کی حاصل سوی مال غنیمت هم په دغه زمانه کی دمسلمانانو دپاره حلال نه وو، بنی اسرائیلو دده دوینا مطابق ټول کالی راوړل اودده سره یی جمع کړل، ده ددی سرو اوسپینو څخه دیو ګیلګی یاغوا مجسمه جوړه کړه او دجبرئیل امین علیه السلام داس دپښو خاوره چی ده یو وخت مخکی جمع کړی وه، په دی خاوره کی الله ﷻ دژوند خاصه ایښی وه ده ددی سرواوسپینو دویلی کولوپه وخت کی دغه خاوره په دی کی شامله کړه ددی دااثر وسو چی ددغه غوا په مجسمه کی دژوند نښانی پیدا سوی او دغوا آواز ورڅخه راوتل شروع سوه

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته په آیت کی د، عِجلاً په تفسیر کی یی، جَسَدًا لَهُ خُوَارٌ وفرمایل او دی طرف ته یی اشاره کړي ده دسامری دا حیرانوونکی شیطانی ایجاد چی مخامخ سو، نو ده بنی اسرائیلو ته ددی کفر طرف ته دعوت ورکول شروع کی، چی داخدای دی، حضرت موسیٰ ﷺ خو دالله ﷻ سره دخبرو کولو دپاره کوه طور ته تللی دی، او الله ﷻ (معاذالله) په خپله دلته راغلی، دحضرت موسیٰ ﷺ څخه هیر سول، بنی اسرائیلو خو به مخکی هم دده خبره منله او دا وار خویی دا چالاکی هم وښووله نو دخلکو عقیده وربانده زیاته سوه او دغه غوا یی خدای وګڼی او ددی عبادت یی شروع کی.

په دریم ذکر سوی آیت کی ددی مضمون بیان په لنډه راغلی دی، اوپه قرآن کریم کی بل ځای ددی زیات تفصیل ذکر دی، په څلورم آیت کی دحضرت موسیٰ ﷺ تر پوهولو وروسته دبنی اسرائیلو دپښیمانه کیدو او دتوبی ذکر دی، په دی کی د، سُقِطَ فِیۡ اَیۡدِیۡهِمۡ معنیٰ دعربی محاوری موافق دپښیمانه کیدو اوشرمنده کیدو ده ز

په پنځم آیت کی ددی واقعی تفصیل دی چی کله حضرت موسیٰ ﷺ دکوهِ طور څخه تورات راوړی او واپس راغی اوقوم یی دګیلګی په عبادت کی اخته ولیدی، نوکه څه هم چی دقوم ددی ګمراهی خبر الله ﷻ حضرت موسیٰ ﷺ ته په کوهِ طور کی ورکړی وو، لیکن په اوریدو اوپه لیدوکی فرق وی کله چی دا خلک یی ولیدل چی دغوا عبادت کوی نو غصه یی انتها ته ورسیده.

اول یی قوم ته مخ کی اوویی فرمایل، بِئۡسَمَا خَلَفۡتُمُوۡنِیۡ مِنۡۢ بَعۡدِیۡ یعنی تاسی زما وروسته دا ډیر نامعقوله کار وکی، اَعَجِلۡتُمۡ اَمۡرَ رَبِّکُمۡ آیا تاسی دخپل رب دحکم راتلو څخه تلوار وکی؟ یعنی دالله ﷻ دکتاب تورات دراتلو انتظار خوبه موکړی وای، تاسی دهغه څخه تلوار وکی اودا ګمراهی مو اختیار کړه، او ځینی تفسیر لیکونکی ددی جملی دامطلب ښاکی چی آیا تاسی تلواری وکړه او دا موګڼلی وه چی زما مرګ واقع سوی دی، تردی وروسته یی حضرت هارون ﷺ ته مخ کی چی ته خوما خپل خلیفه جوړ کړی وی اوزه تللی وم نوتا خلک ددی ګمراهی څخه ولی نه منع کول، ده ته یی لاس ورواچوی نو دتورات تختی یی په لاسونوکی وی، ژر یی هغه کښیښوولی داقرآن کریم په دی الفاظوکی بیان کړي ده، وَاَلۡقَی الۡاَلۡوَاحَ، د، اَلۡقَاء لغوی معنیٰ غورځول دی او، اَلۡوَاح دلوح جمع ده چی معنیٰ یی ده تختی، دلته دلفظ دالقاء څخه داشبهه کیدی سی چی حضرت موسیٰ ﷺ دغصی په حالت کی دتورات دتختو بی ادبی وکړه چی ویی غورځولی.

لیکن داظاهره ده چی دتورات دتختوپه بی ادبی سره غورځول لویه ګناه ده، اوانبیاء علیهم السلام دټولو ګناهونو څخه معصوم دی، په دی وجه دآیت مراد دادی چی اصل مقصود دحضرت هارون. دنیولو دپاره لاس خالی کول وو اودغصی په حالت کی یی په تلواری سره هغه کښیښوولی چی لیدونکی داسی وګڼی چی ویی غورځولی، داقرآن کریم په طور دخبرداری دغورځولوپه لفظ سره تعبیرکړي دی (بیان القرآن) تردی وروسته په دی خیال چی حضرت هارون ﷺ په خپلو فرضو دنیابت کی کوتاهی کړي ده، دده دسر

Maktaba Tul Ishaat.com

وربښتان یې ونیول اورا کش یې کې نو حضرت هارون ﷺ عرض وکې چې زما قصور نه دی، قوم زما هیڅ خیال ونه کې اوزما یې هیڅ خبره نه اوریده بلکه نژدې وه چې زه دوی قتل کړی وای، په دی وجه ته زما سره داسې سلوك مه کوه چې، په هغه زما دښمنان خوشحاله سي اوته ما ددې ګمراهانو سره مه ګڼه، نو دحضرت موسٰی . غصه سړه سوه او الله ﷻ ته یې دعا وکړه چې ، رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِأَخِي وَأَدْخِلْنَا فِي رَحْمَتِكَ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ : یعنی ای زما پروردګاره ما هم معاف کې او زما ورور هم او مونږ په خپل رحمت کې داخل کې او ته تر ټولو رحمت کوونکو زیات رحم کوونکی یې .

په دی کې دخپل ورور حضرت هارون ﷺ دپاره خوبي په دی بنا دمغفرت دعا وکړه چې شاید دده څخه دقوم دګمراهي څخه په منع کولو کې څه کوتاهي سوې وي او دخان دپاره دعا دمغفرت یا خوبي په دی بنا وکړه چې په تلوار یې دتورات تختی کښیښولې کوم چې قرآن کریم په غورځولو سره تعبیر کړي دي اوپر یوه غلطي یې خبردار کړي دي ددې څخه یې مغفرت طلب کول مقصود وو اویا دا چې ددعا طریقه دا ده چې بل ته دعا کوي نوځان به په کښې هم شاملوي چې داسې ورڅخه محسوسه نه سي چې ګوندی دی ددعا څخه مستغني دی یعنی چې حاجت یې ورته نسته .

إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَكَذَٰلِكَ

البته کومو خلقو چې ګلیکې معبود جوړکې دوی ته به ورسیږي غضب دوی درب اوذلت ددنیا په ژوند کې اودغه

نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ ﴿١٥٢﴾ وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ ثُمَّ تَابُوا مِن

سزا ورکوو مونږ درواغ جوړونکو لره ، اوکومو خلقو چې وکړل ناکاره کارونه بیا یې توبه ویسته ددې څخه

بَعْدِهَا وَآمَنُوا إِنَّ رَبَّكَ مِن بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٥٣﴾ وَلَمَّا

وروسته او ایمان یې راوړی نو بیشکه ستا رب دتوبې څخه وروسته خامخا بخښونکی مهربانه دی ، او

سَكَتَ عَن مُّوسَى الْغَضَبُ أَخَذَ الْأَلْوَاحَ ۖ وَفِي نُسْخَتِهَا

کله چې سړه سوه دموسٰی غصه نو ده راواخیستلې تختې او څه چې په دی کې لیکلي وو

هُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ ﴿١٥٤﴾ وَاخْتَارَ مُوسَىٰ

په دی کې هدایت اورحمت وو ، دهغو دپاره څوك چې دخپل رب څخه بیریږي ، او غوره کړل موسٰی

قَوْمَهُ سَبْعِينَ رَجُلًا لِّمِيقَاتِنَا ۖ فَلَمَّا أَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ قَالَ

دخپل قوم څخه اویا (۷۰) سړی زمونږ دوعدې دوخت دراوستلو دپاره ، بیا کله چې دوی زلزلې ونیول ، نو ویې

Maktaba Tul Ishaat.com

رَبِّ لَوْ شِئْتَ اَهْلَكْتَهُمْ مِّنْ قَبْلُ وَاِيَّايَ ؕ اَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ

ویل ای زماربه ؛ که تا غوښتلی نواول به دی هلاك کړی وای دوی او ما ، آیا ته مونږ هلاکوی په هغه کار

السُّفَهَآءُ مِنَّا ۚ اِنْ هِيَ اِلَّا فِتْنَتُكَ ؕ تُضِلُّ بِهَا مَنْ تَشَآءُ وَتَهْدِيْ

چی وکی ، زمونږ دقوم بی عقلانو ، دانبول ستاآزمائش دی ، گمراه کوی په دی سره هغه څوك چی ته وغواړی اوهدایت کوی

مَنْ تَشَآءُ ؕ اَنْتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ

چاته چی وغواړی ، ته یی زمونږ کارساز نو وبخښی مونږ او رحم وکړی په مونږ او ته دټولو غښه بنه

الْغٰفِرِيْنَ ﴿۱۵۵﴾ وَاكْتُبْ لَنَا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ

بخښونکی یی ، او ولیکه زمونږ دپاره په دی دنیا کی نیکی او په اخرت کی

اِنَّا هُدْنَا اِلَيْكَ ؕ قَالَ عَذَابِيْٓ اُصِيْبُ بِهٖ مَنْ اَشَآءُ ۚ وَرَحْمَتِيْ

مونږ رجوع وکړه تاته ، ویی فرمایل عذاب زما غورځوم دا په چا چی وغوارم اوزما رحمت

وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ؕ فَسَاَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ

شامل دی هرشی لره ، نو وبه یی لیکم دهغو دپاره چی بیره لری او ورکوی زکوٰة

وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِنَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۵۶﴾ ۚ

او کوم چی زمونږ په خبرو باندی یقین ساتی .

لنډتفسیر: (بیا ددی گیلگی دعبادت کوونکو په باره کی حق تعالی حضرت موسیٰ ﷺ ته وفرمایل چی) کومو خلکو چی دگیلگی عبادت کړي دی (که اوس هم توبه ونه باسی نو) پردوی به ډیر ژر د دوی درب دطرف څخه غضب اوذلت ددنیا په دی ژوند کی راسی او (داخه ددوی تخصیص نه دی) مونږ (خو) افتراء یعنی دروغ جوړونکو ته داسی سزا ورکوو (چی په دنیا کی مغضوب اوذلیله کیږی ، که څه هم په څه وجه سره کله دا ذلت ښکاره نه وی یا وروسته وی ، لکه سامری چی توبه ونه کړه پر ده غضب اوذلت نازل سو چي قصه یی په سورت طٰهٰ کی ده : قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ فِي الْحَيٰوةِ اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ الخ) او کومو خلکو چی دگناه کارونه وکړل (مثلاً دگیلگی عبادت ددوی څخه وسو مگر) بیا دوی ددی (گناهونو) څخه وروسته توبه

Maktaba Tul Ishaat.com

وکې او (دغه کفر پرېږدي) ایمان راوړي، ستا رب تردې توبې وروسته (ددوی) ګناه معاف کوونکې او (ددوی پرحال) رحم کوونکې دی (که څه هم دتوبې مکمل کیدو دپاره د: أَقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ هم حکم سوی وو، ځکه چې اصل رحمت دآخرت دی، نو دتوبه کوونکو خطایې دغه ډول معاف سوه) اوکله چې (دحضرت هارون ﷺ دا عذر یې واورېدی نو) دموسٰی (ﷺ) غصه سړه سوه ، نو دغه تختې یې لوړې کړې او ددې (تختو) په مضامینو کې دهغو خلګو دپاره کوم چې دخپل رب څخه بېرېدل هدایت اورحمت وو (مراد ورڅخه احکام دي چې په دې عمل وکې نوهدایت یافته به سي اورحمت به پر وسي) او (کله چې دګیلګې قصه ختمه سوه نوحضرت موسٰی ﷺ په اطمینان سره دتورات احکام واورول، ددغو خلګو عادت شُبهې اوشکونه پیداکول وو نوپه دې کې یې هم شبهه پیدا کړه، چې مونږ ته به څنګه معلومه سي چې دا دخدای تعالی احکام دي که مونږته الله ﷻ په خپله ووایي نویقین به وکو، نو حضرت موسٰی ﷺ حق تعالی ته عرض وکې، دهغه دطرف څخه حکم وسو چې په دوی کې یوڅو داسې سړي منتخب کړه چې دوی یې معتبر ګڼي اوکوه طورته یې راوله، مونږبه په خپله دوی ته ووایو چې دازمونږ احکام دي اوددې راوستلو دپاره یو وخت مقرر سو لکه چې) موسٰی (ﷺ) اویا ۷۰ سړیان په خپل قوم کې زمونږ په مقرر وخت کې (دراوستلو) دپاره منتخب کړل (نوچې هلته ورسیدل اودوی دالله ﷻ کلام واورېدی نو ویې ویل چې خدای خبر دی چې دا څوک خبرې کوي ، مونږ خو به هله یقین وکو چې په ډاګه یې په خپلو سترګو سره ووینو، لکه داقول دالله ﷻ دی ، لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً : خدای ﷻ ددې بې باکۍ سزا ورکړه دلاندې څخه سخته زلزله په شروع سوه ، دلوړې څخه ورباندې دبجلۍ داسې کړس وسو چې ټول هلته تم سول) نو کله چې دوی زلزلې ونیول نو موسٰی (وبېرېدی چې بنی اسرآئیل خوهسې هم جاهلان اوبد ګمانه دي، داسې به وګڼي چې یوځای یې بوتلل اومړه یې کړل نو وبېرېدی) عرض یې وکې چې ای زما پروردګاره (دا خو زما یقین دی چې دې خلګوته محضې سزا ورکول منظور دي، خاص هلاکول مقصود نه دي ځکه چې) که تاته دامنظوره وای نوتابه ددې څخه مخکې دوی او زه هلاک کړي وای (ځکه چې ددوی داوخت هلاکیدل دبنی اسرائیلو دلاسه زما هلاکیدل دي، پس که تا ته دامنظوره وای نوتا خو مخکې هم داسې کولی سوای، مګر کله چې دې داسې نه دي کړي نو معلومه سوه چې ددوی هلاکول ستا مقصود نه دي، ځکه چې په دې سره زما هلاکت هم دی (سره زما دبدنامۍ) خو زما اُمید دی چې ته به ما بدنام نه کې) اونه به زمونږ څخه دیوڅو بې وقوفو په حرکت سره ټوله هلاکوې (چې بې وقوفي خو وکې دا خلګ چې داسې ګستاخي وکې او ددې سره زه دبنی اسرائیلو دلاسه هم هلاک سم، ستا څخه زما اُمید دی چې ته به داسې نه کوې پس ثابته سوه چې) داواقعه (دزلزلې اوکړس) محض ستا دطرف څخه یو امتحان دی، په داسې امتحانونو سره څوک چې ته غواړې په ګمراهۍ کې اچوې (چې دالله ﷻ څخه شکایتونه او ناشکري وکې) اوڅوک چې ته غواړې پرهدایت باندې قائم ساتې (چې ددې په حکمتونو او مصلحتونو پوهیږي پس زه ستا په فضل او کرم سره ستا دحکیم والي علم لرم، په دې وجه په دې

Maktaba Tul Ishaat.com

امتحان کې مطمئن يم او) خاص ته زما خبر اخيستونکي يې په مونږ مغفرت اورحمت وفرمايې اوته
دټولو معافي کوونکو څخه زيات معافي کوونکې يې (پس ددوى دابې باکې هم معاف کې، لکه چې دغه
خلګ صحيح سالم پورته سول، په سورة بقرة کې ددې تفصيل وګورئ) او (ددې دعا سره دوى دتفصيلي
رحمت دپاره دا دعا هم وکړه چې) زمونږ دخلګو نوم په دنيا کې دنيك حالې وليکه او (دغه شان) په آخرت
کې هم (ځکه چې) مونږ ستا طرف ته (په خلوص اوطاعت سره) رجوع کوو (الله ﷻ دحضرت موسىٰ ﷺ
دعا قبوله کړه او) ويې فرمايل چې (اى موسىٰ اول خو مطلقًا زما رحمت پر غضب باندې مخکې دى
چنانچې) زه خپل عذاب (اوغضب) پرهغو واقع کوم پرچا چې وغواړم (که څه هم دعذاب مستحق خو هر
نافرمانه وى، ليکن بيا هم پرټولو يې نه واقع کوم، بلکه په دوى کې يې پرخاصو خاصو خلګو واقع کوم،
چې کوم ډير سرکښه او ضديان وى) او زما رحمت (داسې عام دى چې) ټول شيان يې راګير کړي دى (سره
ددې چې په دوى کې ډير مخلوق مثلاً سرکښه او عنادګر ددې مستحق نه وى، مګر په دوى هم يوقسم
رحمت دى که څه هم په دنياکې وى پس کله چې زمارحمت دغير مستحقينو دپاره هم عام دى) نودغه
رحمت دهغو خلګو په نوم خو (په کامل طور) به يې ضرور وليکم کوم چې (دوعدې مطابق ددې مستحق
هم دى ، په دې وجه چې دوى اطاعت کوى نو) دخداى ﷻ څخه بيريږى (کم چې دعملونو دزړه څخه دى)
اوزکوة ورکوى (کم چې دعملونو داندامونو څخه دى) اوکم چې زمونږ په آيتونو ايمان راوړى (کوم چې
دعقيدو څخه دى، نو داسې خلګ خو داول څخه مستحق درحمت دى، که څه هم تا درخواست هم نه وى
کړى او اوس خوته درخواست هم کوې ، اِرۡحَمۡنَا وَاكۡتُبۡ لَنَا ، نو مونږ دقبليدو زيرى درکوو ځکه چې ته
خو داسې يې اوستا په قوم کې هم کوم چې درحمت مستحق کيدل غواړى هغوى دې داسې اوصاف
اختيار کې چې مستحق سى)

معلومات اومسئلې: دا دسورة اعراف نولسمه رکوع ده ، ددې په مخکې آيت کې دګيلګې دپرستش
کوونکو اوپر دې دقائم پاته کيدونکو بنى اسرائيلو دبد انجام ذکردى چې په آخرت کې به دوى دالله ﷻ
په غضب کې اخته سى چې تردغه وروسته به يې دپناه هيڅ ځاى نه وى اوپه دنيا کې خو به د دوى ذلت
اوخوارى نصيب سى .

(دځينو ګناهونو څه سزا په دنيا کې هم حاصليږى)

لکه دسامرى اودده دملګرو حال چې دى ، چې دوى دګيلګې دعبادت څخه صحيح توبه ونه کړه نو الله
ﷻ دوى په دنيا کې هم خوار او ذليله کړل، ده ته حضرت موسىٰ ﷺ داحکم ورکې چې دى دې دټولو خلګو
څخه جلا اوسى ، نه دي دچا سره لاس لګوى اونه دې څوك دده سره لاس لګوى، لکه چې دى ټول
عمر دغه ډول دحيوانانو سره ګرځيدى يو انسان به ده ته نژدې نه ورتلې، په تفسيرِ قرطبى کې په روايت
دقتاده ﷺ ذکر دى چې الله ﷻ په ده داعذاب مسلط کړى وو چې کله به چاده ته لاس وروړى يابه ده چا ته
لاس وروړى نو فوراً به پردواړو تبه راغله .

Maktaba Tul Ishaat.com

(قرطبي) اوپه تفسیرِ روح البیان کې دي چې دا خاصیت دده په نسل کې هم تر اوسه پوري باقي دي.
دآیت په آخرکې ارشاد فرمایي، وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِيْنَ یعني کوم خلګ چې په الله ﷻ باندې دروغ جوړ وي، دوی ته هم داسې سزا ورکول کیږي، سفیان بن عینیه فرمایي چې کوم خلګ په دین کې بدعت اختیار وي، هغوی هم ددې افتراء عَلَى الله مجرمان کیږي او ددې سزا مستحق کیږي (مظهري)
امام مالك رحمه الله په دې آیت دلیل نیولی دی اوفرمایي چې په دین کې دخپل طرف څخه دبدعاتو دایجاد کوونکو دا سزا ده چې په آخرت کې به دالله ﷻ دغضب مستحق سي اوپه دنیا کې دذلت (قرطبي)
په دوهم آیت کې دهغو خلګو دحال ذکر دی کومو چې دحضرت موسٰی ﷺ ترپوهولو وروسته ددې جرم څخه توبه وکړه اودتوبې دپاره چې کوم سخت شرط الله ﷻ لګولی وو چې دا ټول خلګ دې په خپل مینځ کې یو بل قتل کې نو د دوی توبه به قبوله سي، دې خلګو داحکم په ځای کې نو حضرت موسٰی ﷺ دوی په حکم دالله ﷻ راوغوښتل چې ستاسې دټولو توبه قبوله سوه، په قتل عام کې چې کوم خلګ ووژل سوه هغه شهیدان سول اوکم چې باقي پاته سول دهغوی مغفرت وسو، په دې آیت کې ارشاد فرمایي چې کوم خلګ بد عملونه وکي برابره خبره ده که هرڅومره لویه ګناه، کفر اونافرماني یې کړې وي، که هغوی تردې وروسته توبه وکي اوایمان برابر کې یعني دایمان په مقتضٰی خپل عملونه برابرکې نوالله ﷻ به دا ټول په خپل رحمت سره معاف کې، په دې وجه انسان ته په کار دي چې کله کومه ګناه ورڅخه وسي، نو فوراً دې دتوبې طرف ته رجوع وکې.
په دریم آیت کې ددې بیان دی چې کله دحضرت موسٰی ﷺ غصه سړه سوه نو دتورات تختې چې په تلوار یې اینې وې بیایې را لوړې کړې اوددې په نسخه کې دالله ﷻ څخه دبیریدونکو دپاره هدایت او رحمت وو لفظ د: نسخه هغه لیکلو ته ویل کیږي کم چې دیو کتاب یابل شي څخه نقل سي، په ځینو روایتونوکې دي چې کله حضرت موسٰی ﷺ دتورات تختې په تلوار کښېښوولې نو هغه ماتې سوې وې، بیا الله ﷻ ورته په بل شي لیکل سوې ورکې، دې ته نسخه ویل سوي ده.

(داویا ۷۰ بني اسرآئیلو انتخاب او د دوی دهلاکت واقعه)

په څلورم آیت کې دیوې خاصې واقعې ذکردی چې حضرت موسٰی ﷺ کله دالله ﷻ کتاب تورات راوړی اوبني اسرائیلوته یې ورکې نودوی دخپل عناد اوبهانو لټولو په وجه سره وویل چې زمونږ به داځنګه یقین راسي چې دا دالله ﷻ کتاب دی، ممکنه ده چې تا دخپل طرف څخه لیکلی وي او راوړی دي وي، ددوی داطمینان دپاره حضرت موسٰی ﷺ دعا وکړه نو دالله ﷻ دطرف څخه دا ارشاد وسو چې ددې قوم منتخب سړي ته کوه طور ته راوله نو مونږ به دوی ته خپل کلام واورو و چې د دوی یقین راسي، حضرت موسٰی ﷺ په دوی کې اویا ۷۰ سړي منتخب کړل اوکوهِ طورته یې بوتلل دوعدې مطابق دوی په خپلو غوږونو سره دالله ﷻ کلام واوریدی، مګر کله چې دا دلیل هم پوره سو نو ویې ویل مونږ ته څه معلومه ده چې دا آواز دالله ﷻ دی اوکه دبل چا، مونږ خو به هله یقین وکو چې کله په ډاګه الله ﷻ ووینو، د دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

داسوال چې کله دعناد او جاهلت وو، نوپه دې ورته دالله ﷻ غضب متوجه سو، دلاندې ښځه وربانده زلزله راغله او دلوړې ښځه وبانده دتندر کړس وسو ټول په بې هوښه سول اوپه ظاهره مړه سول، په سورة بقره کې د، صاعقة لفظ راغلی دی او دلته د، رجفة، دصاعقة معنٰی دتندر کړس دی او درجفة معنٰی زلزله ده، په دې کې هیڅ لیری والی نسته چې دواړه شیان پر جمع سوي وي، پرهر حال داخلک داسې پریوتل لکه چې مړه وي، برابره خبره ده که حقیقةً مړه وي اوکه په ظاهرکې مړه په نظر راتلل حضرت موسٰی عليه السلام په دې واقعه سخت پریشانه سو اول خوپه دې چې داخلک دخپل قوم منتخب خلک وه، دوهم په دې وجه چې اوس به خپل قوم ته څه جواب ورکوي، هغوی به داتهمت ولګوي چې حضرت موسٰی عليه السلام دوی ټول یوځای بوتلل اوقتل یې کړل او تردې تهمت وروسته داهم ښکاره خبره ده چې مابه قتل کې، په دې وجه الله ﷻ ته یې عرض وکې چې ای زما پروردګاره! زه پوهیږم چې په دې واقعه کې ستا مقصد ددوی هلاکول نه دی ځکه چې که دامقصد وای نو تردې مخکې ډیر واقعات وه چې په هغه کې دوی هلاکیدی سوای، دفرعون سره به یې دوی غرق کړي وای، یا دګیلګي دعبادت په وخت کې به یې دې تر ټولو دمخه هلاک کړي وای اوکه تا غوښتې نو زه به دې هم د دوی سره هلاک کړي وم، مګر تا داسې ونه کړل، نومعلومه سوه چې داوخت هم د دوی هلاکول مقصود نه دی بلکه سزا ورکول او پوهول دي، اودا ځنګه کیدی سي چې ته مونږ دیوځو بې وقوفو دکارپه وجه هلاک کې، دلته یې دخپل ځان هلاکول ځکه ذکر کړل چې ددې اویا ۷۰ کسانو دغه شان دغائبانه هلاکت نتیجه داوه چې حضرت موسٰی عليه السلام به دخپل قوم دلاسه قتل سي.

بیایې عرض وکې چې زه پوهیږم چې دا محضې ستا امتحان دی دکم په ذریعه چې ته ځیني خلک ګمراه کوې چې دالله ﷻ ځخه شکایت اونا شکري وکې اوځیني پر هدایت باندې قائم ساتې چې دوی دالله ﷻ حکمتونه اومصلحتونه وپیژني او مطمئن په پاته سي، زه هم ستاپه فضل سره ستا دحکیم والي علم لرم، په دې وجه په دې امتحان کې مطمئن یم اوهم ته زمونږ خبرګیري کوونکی یې په مونږ مغفرت او رحمت وفرمایه اوته ترټولو معافي کوونکو زیات معافي کوونکی یې، په دې وجه د دوی دا بې باکي هم معاف کې، دغه شان دغه ټول خلک صحیح سالم پورته سول.

اوځیني تفسیر لیکونکي فرمایي چې دا اویا ۷۰ سري دکومو ذکر چې په دې آیت کې دی، هغه نه دي کومو چې د، أَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً درخواست کړی وو او دوی دتندر په ذریعه هلاک سوي وه، بلکه داهغه خلک وه کوم چې په خپله دګیلګي په عبادت کې شریك نه وه خو دقوم یې ددې کار ځخه دمنع کولو کوشش هم نه وو کړی، ددې په سزا کې په دوی زلزله راغله اوبې هوښه سول، پرهر حال داخلک دحضرت موسٰی عليه السلام په دعا سره ژوندي راپورته سول. والله تعالی اعلم

په پنځم آیت کې دحضرت موسٰی عليه السلام ددې دعا تکمله داهم ذکر ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاكْتُبْ لَنَا فِي هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْاٰخِرَةِ اِنَّا هُدْنَا اِلَيْكَ يعنى اى زمونږ پروردگاره! ته زمونږ دپاره په دى دنيا كى هم نيك حالي وليكي اوپه آخرت كى هم ځكه چى مونږ ستا طرف ته په خلوص او اطاعت سره رجوع كوو، ددى په جواب كى الله ﷻ ارشاد فرمايى.

عَذَابِيْ اُصِيْبُ بِهٖ مَنْ اَشَآءُ وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ فَسَاَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِنَا يُؤْمِنُوْنَ.

يعنى اى موسىٰ اول خو زما رحمت مطلقًا زما په غضب باندى مخكى دى نو زه خپل عذاب اوغضب خو يوازى په هغو واقع كوم په كوم چى وغوارم كه څه هم مستحق دعذاب هر نافرمان وى ليكن بياهم پرټولو عذاب نه واقع كوم، بلكه په دوى كى پرخاصو خاصو خلكو عذاب واقع كوم كوم چى انتهايى سركښه او عنادگر وى اوزما رحمت داسى عام دى چى هرشى يى راګير كړي دى ، سره ددى چى په دوى كى ډير خلګ مثلاً سركښه اونافرمانه خو وى ، نو كله چى زمارحمت دغيرِ مستحقينو دپاره عام دى ، نو دغه رحمت خو دهغو خلكو دپاره په كامل طور باندى به خامخا وليكم، كوم چى دوعدى مطابق ددى مستحق هم دى په وجه ددى چى اطاعت كوى، دخداى ﷻ څخه بيرېږى او زكوٰة هم وركوى اوكوم چى زمونږ په آيتونو ايمان راوړى ، نو دا خلګ د اول څخه بيرېږى او زكوٰة هم وركوى اوكوم چى زمونږ په آيتونو ايمان راوړى نو دا خلګ داول څخه مستحق درحمت دى په دى وجه تاته ددعا دقبليدو زيرى دركول كيږى ، ددى جواب په تقرير كى دتفسير ليكونكو حضراتو مختلف قولونه دى ، ځكه چى دلته په صفا لفظونو كى ددعا دقبليدو ذكر نسته لكه څنګه چى په نورو موقعو كى يى صفا فرمايلى دى ، قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ يٰمُوْسٰى يعنى اى موسىٰ ستا سوال پوره سو، اوبل ځاى ارشاد دى ، اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا يعنى اى موسىٰ او هارون ﷺ ستاسى ددواړو دعا قبوله سوه، دلته دغه ډول څه وضاحت نسته ، په دى وجه ځينو حضراتو ددى آيت مطلب دامقرر كريدى چى دحضرت دا درخواست دخپل امت په باره كى خوقبول نه سو البته دامت محمدى په حق كى قبول سو چى ذكر يى په وروسته آيت كى په وضاحت سره راځى ، مګر په تفسيرِ روح المعانى كى يى دا احتمال ډير ليرى مقرر كړي دى په دى وجه دجواب صحيح تقرير دا دى چى دحضرت موسىٰ ﷺ ددعا دوى برخى وى يوه داچى په كومو خلكو عتاب اوعذاب سوى دى ، هغوى ته معافى وركول سى او رحمت په وسى ، دوهم داچى زما دپاره او زما دپوره قوم دپاره په دنيا اوآخرت كى ګټه مكمله وليكى، داولى دعا جواب په دى آيت كى ذكردى او ددوهمى دعا جواب په دوهم آيت كى ذكر دى، داول آيت خلاصه داده چى زما عادت دادى چى زه هر يوه ګناهګار نه په عذابوم، بلكه يوازى هغه په عذابوم كمو ته چى (په وجه دډيرى سركښى) عذاب وركول وغوارم، په دى وجه داخلګ به هم په عذاب نه سى، ته بى فكره اوسه ، پاته سو درحمت درخواست نو زما رحمت خو پرهرشى باندى خپور او احاطه كوونكى دى، انسان وى اوكه غيرِ انسان، مومن وى اوكه كافر، فرمانبردار وى اوكه نافرمانه، بلكه كموته چى په دنياكى يو عذاب اوتكليف وركول كيږى، هغه هم درحمت څخه خالى نه وى، كم از كم داچى په كم مصيبت كى اخته وى، تردغه لوى مصيبت نه وى اچول

سوی حال دا دی چی الله ﷻ په دی هم قادر دی.
استاد محترم حضرت مولانا انور شاه صاحب فرمایی چی درحمت دفراخی دامعنٰی ده چی درحمت په دائره کی هرڅوك دننه دی، پرچا تنگه نه ده، ددی دامعنٰی نه ده چی هرشی مرحوم دی، لکه ابلیس ملعون ویل چی زه هم یوشی یم او هرشی مرحوم دی، نوپه دی وجه زه هم مرحوم یم، دقرآن کریم په الفاظو کی دی طرف ته اشاره موجوده ده چی داسی یی ونه فرمایل چی پرهر شی باندی به رحمت وسی، بلکه داسی یی وفرمایل چی صفت درحمت تنگ نه دی، پراخه دی پرچا چی الله ﷻ رحمت فرمایل وغواړی، فرمایل کیږی، په قرآن کریم کی ددی شهادت بل ځای داسی راغلی دی، فَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقُلْ رَبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَاسِعَةٍ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُهُ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ يعنی که داخلگ تا درواغجن کوی نو دوی ته وفرمایه چی ستاسی پروردگار پراخه رحمت والا دی، مگر دمجرمانو څخه دهغه عذاب څوك نه سی واپس کولی، په دی کی یی وښوول چی درحمت پراخی دمجرمانو دپه عذابولو سره منافی نه ده، په مجرمانو عذاب راتلی سی.
لنډه دا چی دحضرت موسٰی ﷺ دا دعا دهغو خلگو په حق کی بی دڅه شرط څخه قبوله سوه یعنی دمغفرت اومعافی هم او درحمت هم.
او دوهمه دعاپه کومه کی چی ددنیا اوآخرت دمکملی کامیابی د دوی دپاره دلیکلو درخواست وو، ددی متعلق یی څو شرطونه ولگول، مطلب دادی چی په دنیا کی خو پرهر مومن اوکافر عام رحمت کیدی سی، مگر آخرت دښه اوبد دفرق راوستلو مقام دی، دلته درحمت مستحق به یوازی هغه خلگ وی کوم چی څو شرطونه پوره کی، اول داچی دی تقوٰی او پرهیزگاری اختیار کی، یعنی شرعی واجبات تول ادا کی او دناجائزو څخه لیری اوسی، دوهم داچی دخپلو مالونو څخه دالله ﷻ دپاره زکوٰة وباسی، دریم دا چی زمونږ په ټولو آیتونو باندی دڅه استثناء اوتاویل پرته ایمان راوړی، دا موجوده خلگ هم که دا صفتونه پوره په ځان کی پیدا کی نو د دوی دپاره به هم ددنیا او آخرت مکمله کامیابی ولیکل سی.
لیکن ددی څخه په وروسته آیت کی یی دی طرف ته اشاره وکړه چی ددی صفتونو په جمع سره حاصلوونکی به هغه خلگ وی، کوم چی تردوی وروسته په آخره زمانه کی راځی او دنبی اُمّی تابعداری به کوی او ددی په نتیجه کی به دوی دمکملی علاج اوکامیابی مستحق وی، حضرت قتادة فرمایی چی کله آیت، وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ نازل سو نو ابلیس وویل، چی زه هم په دی رحمت کی داخل یم، لیکن په وروسته جملوکی یی دا وښووله چی دآخرت درحمت دپاره دایمان اونورو شرطونه دی، چی دا یی واوریدل نو ابلیس نا اُمیده سو، مگر یهودو او نصاراوو دعوٰی وکړه چی په مونږکی خودا صفتونه موجود دی یعنی تقوٰی اوزکوٰة ورکول اوایمان مگر تردی وروسته چی کوم شرط په نبی اُمّی باندی دایمان راوړو بیان سو نوددی څخه هغه یهود اونصارا ووتل کوموچی په نبی کریم ﷺ باندی ایمان رانه وړی مگرپه دی نادره اوعجیبه طریقه دبیان سره دحضرت موسٰی ﷺ ددعا دقبلیدو بیان هم وسو او دامت محمدی دخاصو فضیلتونو ذکر هم وسو.

Maktaba Tul Ishaat.com

الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ

هغه خلق کوم چې پیروی کوی دده رسول چې نبی امّی دی کوم چې پیدا کوی دوی لیکل سوی دخپل خان سره

وَالْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَ

په تورات او انجیل کی دی حکم کوی دوی ته دنیک کار اومنع کوی دوی دبدکار څخه

يُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ

اوحلالوی د دوی دپاره تول پاك شیان اوحراموی په دوی حرام شیان او ایسته کوی د دوی څخه

إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۚ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ

د دوی بار او هغه قیدونه چې په دوی باندی وه ، نو کوم خلق چې په ده ایمان راوړی ، اودده ملګرتیا وکړی

وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنزِلَ مَعَهُ ۙ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٥٧﴾

اودده مدد وکړی اوتابع سی دهغه نور چې دده سره نازل سوی دی ، دغه خلق ورسیدل خپل مراد ته .

لنډتفسیر: کوم خلګ چې دداسی رسول نبی امّی تابعداری کوی کوم چې دوی دځان سره په تورات او انجیل کی لیکلی پیدا کی (دکوم صفتونه چې دا هم دی چې) هغه دوی ته دنیکو کارونو حکم کوی او دبدو خبرو څخه یی منع کوی او پاکیزه شیان د دوی دپاره حلالوی (که څه هم په مخکی شریعتونوکی حرام وه) اوګنده شیان (په قانون سره) پردوی حراموی اوپر دی خلګوچې کم (په اولنو شریعتونوکی) بارونه اوطوقونه (بار وریه غاړه) وو (یعنی سخت اوګران کارونه اوحکمونه چې دوی یی پابند کړی وه) هغه لیری کوی (یعنی داسی سخت حکمونه دده په شریعت کی منسوخ کیږی) نوکوم خلق چې په دی نبی ایمان راوړی اودده ملګرتیاکوی اومددیی کوی اوددغه نورتابعداری کوی کوم چې دده سره رالیږل سوی دی (یعنی قرآن) داسی خلګ پوره مراد پیدا کوونکی دی (چې دهمیشه عذاب څخه به نجات پیدا کی)

معلومات اومسئلې

(دخاتم النبین محمد مصطفیٰ ﷺ او دده ﷺ دامت خاص صفتونه او فضیلتونه)

په تیر آیت کی دحضرت موسیٰ علیه السلام ددعاپه جواب کی ارشاد سوی وو چې هسی خو دالله ﷻ رحمت په هر شی اوهر سړی پراخه دی ستا موجوده امت هم ددی څخه محرومه نه دی لیکن دمکمل نعمت اورحمت مستحق به هغه خلګ وی کوم چې دایمان تقویٰ اوزکوٰة خاص شرطونه پوره کی .

په دی آیت کی یی ددغو خلګو پته وښووله چې پردی شرطونو پوره ختونکی به کوم خلګ وی اوویی

Maktaba Tul Ishaat.com

ښوروله چې دا به هغه خلګ وي کوم چې درسول امي ﷺ تابعداري وکي ، په دې ضمن کي يې دنبي کريم ﷺ يوڅو خاص فضيلتونه او کمالات او علامات هم ذکر کړل ، په دوي يې يوازي دايمان راوړلو نه بلکه د دوي دتابعداري حکم يې ورکړي دی ، ددې څخه معلومه سوه چې دآخرت دکاميابي دپاره دايمان سره دشريعت اوسنت تابعداري ضروري ده .

اَلرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ: دلته درسول اونبي د دوو لقبونو سره دده ﷺ يو دريم صفت اُمّي هم بيان سوی دی، داُمّي دلفظ معنیٰ ده ناخوانده کم چې په ليکلو ويلو باندي نه پوهيږي، دعربو عام قوم ته په قرآن کي اُمِّيِّين په دې وجه ويل سوي دي، چې په دوي کي دليکلو ويلو رواج ډير کم وو ، او اُمّي کيدل ديو انسان دپاره څه ښه صفت نه دی، بلکه دا يو عيب ګڼل کيږي، مګر دنبي کريم ﷺ دعلومو، معلوماتو او خصوصياتو او حالاتو او کمالاتو سره اُمّي کيدل دده ﷺ دپاره لوی صفت دکمال جوړ سوی دی ځکه چې که علمي، عملي او اخلاقي کمالات دتعليم يافته سړي څخه ظاهر سي نودا دده دتعليم نتيجه وي، ليکن ديو محض اُمّي څخه دداسي بيش بها علومو اوبې مثله حقيقتونو او معلوماتو ښکاره کيدل دده يوه داسي واضحه معجزه ده چې ددې څخه ديو انتهايي درجې عنادګر اومخالف هم انکار نه سي کولی ، خاص کر بيا کله چې ددوی عُمر شريف څلويښت کاله په مکه مکرمه کي دټولو په مخکي داسي تير سو، چې نه يې دچا څخه يوټکی ويلی اونه يې اِزده کړيدی، ټيک دڅلويښت کاله عمر په پوره کيدو باندي يك دم دده ﷺ په ژبه مبارکه باندي هغه کلام جاري سو دکوم ديوې وړوکي غوندي ټوټي دمثل راوړلو څخه چې ټوله دنيا عاجزه سوه ، نو په دې حالاتو کي دده ﷺ اُمّي والی دالله ﷻ دطرف څخه په رسالت او دقرآن په کلام الٰهي کيدو يو ډير لوی شهادت دی ، په دې وجه اُمّي والی که څه هم دنورو دپاره دتعريف قابل صفت نه دی مګر دنبي کريم ﷺ دپاره ډير لوی دتعريف اوکمال صفت دی ، لکه چې دمتکبر لفظ دعامو خلګو دپاره قابلِ تعريف صفت نه دی ، بلکه عيب دی ، مګر دالله ﷻ دپاره په خصوصيت سره دتعريف او مدح صفت دی ، په آيت کي څلورم صفت دنبي کريم ﷺ دا بيان سوی دی چې دغه خلګو ته په تورات اوانجيل کي ليکلی پيدا کړي، دلته دې خبري ته نظر کول په کار دی چې قرآن کريم دا ونه فرمايل چې ستا صفتونه اوحالات يې ليکلي پيدا کړه ، بلکه د. يَجِدُوْنَهٗ لفظ يې اختيار کي چې معنیٰ يې دا ده چې ته يې ليکلی پيدا کړي ، په دې کي اشاره ددې خبري طرف ته ده، چې په تورات اوانجيل کي به دنبي کريم ﷺ صفتونه په داسي تفصيل سره وي چې ددې کتل به داسي وي، لکه چې په خپله نبي کريم ﷺ ووينی او دتورات اوانجيل تخصيص يې دلته ځکه کړيدی چې بني اسرائيل ددې دوو کتابونو قائل دي، کني دنبي کريم ﷺ دحالاتو او صفاتو ذکر خو په زبور کي هم موجود دی، دذکر سوی آيت اصلي مخاطب حضرت موسیٰ ؑ دي، په دې کي يې ده ته ښورولی ده چې ددنيا او آخرت مکمله کاميابي ستا دامت دهغو خلګو حصه ده کم چې په نبي اُمّي خاتم الانبياء ؑ ايمان راوړي او تابعداري يې وکي دکوم ذکر چې دوی په تورات اوانجيل کي ليکلی پيدا کي .

Maktaba Tul Ishaat.com

(په تورات او انجیل کې دنبي کریم ﷺ صفتونه او نښاني)

موجوده تورات او انجیل ډیر ادلون بدلون اورد او بدل کولو په وجه داعتماد قابل نه دي پاته سوي، خو بیا هم ددې سره اوس په کښې داسې الفاظ موجود دي چې دنبي کریم ﷺ پته ورکوي او دومره خبره خو بالکل واضحه ده چې کله قرآن کریم دا اعلان وکې چې دخاتم الانبیاء ﷺ صفتونه او نښاني په تورات او انجیل کې لیکل سویدي، نو که داخبره دواقعي څخه خلاف وای نو ددغه زماني دیهودو او نصاراوو دپاره خو به داسلام خلاف لویه وسله په لاس ورغلې وای چې ددې په ذریعه بیا دوی قرآن دروغ کولی سوای چې په تورات او انجیل کې خو هیڅ ځای هم دنبي اُمّي دحالاتو ذکر نسته، لیکن ددغه وخت یهودو او نصاراوو ددې خلاف هیڅ اعلان ونه کې، داپه خپله ددې شاهدي ده چې دغه وخت په تورات او انجیل کې دنبي کریم ﷺ صفتونه او نښاني په واضح طور سره موجودې وې کومو چې ددغو خلګو په ژبو مهر ولګوی.

دخاتم الانبیاء ﷺ کوم صفتونه چې په تورات او انجیل کې لیکلي وه، ددې څه بیان خو په قرآن کریم کې په حواله دتورات او انجیل راغلي دي او څه داحادیثو په روایتونو کې دهغو حضراتو څخه نقل دي کومو چې اصلي تورات او انجیل لیدلي وو، او په دې کې یې دنبي کریم ﷺ ذکر مبارك ووایه او مسلمانان سول.

بیهقي په دلائل النبوة کې نقل کړي دي چې حضرت انس ﷺ فرمايي چې یو یهودي هلك به دنبي کریم ﷺ خدمت کوی، دی اتفاقًا ناجوړه سو نو حضور ﷺ یې دپوښتنې دپاره تشریف یووړی نو ویې لیدی چې پلار یې سرته ولاړ وو تورات یې وایه، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې ای یهودي زه تاته په خدای قسم درکوم، کوم چې په حضرت موسیٰ ﷺ تورات نازل کړي دي چې آیا ته په تورات کې زما حالات او صفتونه او زما دښکاره کیدو بیان پیدا وینې؟ هغه انکار وکی نو زوی یې وویل، یارسول الله! دی غلط وایي، په تورات کې مونږ ستا ذکر او ستا صفتونه پیدا کوو، او زه شاهدي کوم چې دالله ﷻ څخه ماسوا بل معبود نسته او ته دالله ﷻ رسول یې نبي کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته حکم وکی چې اوس دی مسلمان دی دمرګ څخه وروسته دی دده کفن او دفن مسلمانان وکي، پلار ته دي نه حواله کوي (مظهري)

او حضرت علي مرتضیٰ ﷺ فرمايي چې دنبي کریم ﷺ په ذمه دیو یهودي قرض وو، دی راغی خپل قرض یې وغوښتی، حضور ﷺ وفرمایل چې دا وخت زما سره هیڅ نسته څه مهلت راکړه، یهودي په سختۍ سره مطالبه وکړه او ویې ویل چې زه تا تر هغه وخته پورې نه پریږدم، ترڅو چې زما قرض ادا نه کې، نبي کریم ﷺ وفرمایل چې دا ستا اختیار دی زه به ستا سره ناست یم، نو نبي کریم ﷺ هلته کښینستی او دماپښین ماښیګر، ماښام، ماخستن، او بیا دبلې ورځې دسهار لمونځونه یې هلته وکړل، اصحابو کرامو ﷺ چې داحال ولیدی نو سخت خفه او غوصه سول او پټ پټ یې پر یهودي بیرې او ترهې تیرولې چې دی نبي کریم ﷺ پرېږدي، نبي کریم ﷺ په پوه سو او داصحابو ﷺ څخه یې پوښتنه وکړه چې داڅه کوي؟ نو هغوی وفرمایل چې یارسول الله! مونږ داڅنګه برداشت کولی سو چې یو یهودي دی تا قید کی، ده

Maktaba Tul Ishaat.com

وفرمایل چی زه خپل رب منع کړی یم چی په یو معاهد یابل چا ظلم وکړم ، یهودی دا هرڅه لیدل او اوریدل، چی سهار سو نویهودی وویل ، اَشْهَدُ اَنْ لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ اودغه ډول دغه یهودی مسلمان سو ، اوده وویل چی یارسول الله! ماخپل نیم مال دالله ﷻ په لاره کی ورکی او په خدای قسم دی چی ما داوخت څه چی وکړل، ددی مقصد یوازی دا امتحان کول وو چی په تورات کی ستا کوم صفتونه ښوول سوي دی ، هغه په تاکی په صحیح طور سره موجود دی اوکه نه ؟ ما په تورات کی ستا متعلق دا الفاظ ویلی دی ۔

محمد بن عبدالله دده پیدائش به په مکه کی وی اوهجرت به یی طیّبه طرف ته او ملك دده به شام وی نه به سخت مزاجه وی، نه سخته خبره کوونکی، نه په بازارونو کی شور کوونکی، دفحش اوبی حیایی څخه به لیری وی ۔

اوس ما ددی ټولو صفتونو امتحان وکی اوپه تاکی می صحیح پیدا کړل په دی وجه شاهدی کوم چی دالله ﷻ څخه ماسوا بل معبود نسته اوته دالله رسول یی اودا زما نیم مال دی، ستا اختیار دی چی څنګه غواړی خرڅ یی کړه، دا یهودی ډیر مالدار وو، دده نیم مال هم یو ډیر لوی دولت وو، داروایت مظهری په حواله ددلائل النبوت بیهقی نقل کړي دی ۔

اوامام بغوی په خپل سند سره دکعب احبار څخه نقل کړي دی چی دی فرمایی په تورات کی دنبی کریم ﷺ متعلق داسی لیکل سوی دی چی ۔

محمد دالله رسول او منتخب بنده دی نه سخت مزاجه دی، نه بی فآئدی خبری کوونکی، نه په بازارونو کی شور کوونکی، دبدی بدله په بدی نه ورکوی، بلکه معافی کوی، پیدائش دده په مکه کی اوهجرت به دده طیّبه ته وی ملك دده به شام وی اوامت به دده حَمّادین وی یعنی په راحت اوتکلیف دواړو حالتونو کی به دالله ﷻ حمد او شکر ادا کوی، هرلوړ ځای ته دختوپه وخت کی به تکبیر وایی، دی به دلمر پرسایه نظر ساتی چی ددی په ذریعه دوختونو پته ولګوی اوخپل لمونځونه پروخت ادا کی، دی به په خپل لاندی بدن باندی لنګ اچوی اوخپل لاسونه پښی به داودس په ذریعه پاك صفا ساتی، دده آذان کوونکی به په فضاکی آوازپورته کوی په جهادکی به ددوی صفونه داسی وی لکه دجماعت په لمانځه کی، دشپی به ددوی آوازونه په ذکر اوتلاوت کی داسی بنګیړی لکه دګبین مچی چی شور کوی ۔ (مظهری)

ابن سعد اوابن عساکر دحضرت سهل مولی خیثمه څخه په سند سره نقل کړی دی چی حضرت سهل فرمایی چی ماپه خپله په انجیل کی دمحمدِ مصطفی ﷺ دا صفتونه ویلی دی چی ۔

دی به نه پست قده وی ، نه دراز قده ، سپین رنګه دوو زلفو والا به وی، دده د دواړو اوږو په مینځ کی به دنبوت مهر وی، صدقه به نه قبلوی، پر خره او آس به سپریږی، دبزو شیدی به په خپله لوشی، پیوند لګیدلی قمیص به استعمالوی، او څوك چی داسی کوی هغه دتکبر څخه بیزار وی دی به دحضرت اسماعیل علیه السلام په اولاد کی وی، دده نوم به احمد وی ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او ابن سعد په طبقات کی، دارمی په خپل مسند کی، بیهقی به دلائل النبوة کی دحضرت عبدالله بن سلام ﷺ څخه روایت نقل کړي دی کوم چی دیهودو ترټولو لوی عالم او دتورات ماهر مشهور وو، دی فرمایی چی په تورات کی دنبی کریم ﷺ متعلق دا الفاظ ذکر دی.

ای نبی مونږ ته لیږلی یی پرټولو امتونو باندی شاهد جوړ کړی اونیك کارکوونکو ته زیری ورکوونکی او دبد کار کوونکو دپاره مو بیروونکی جوړ کړی یی او دأمِّیِّینو یعنی دعربو حفاظت کوونکی موجوړ کړی، ته زما بنده اورسول یی، ما ستانوم: مُتَوَکِّل ایښی دی، نه ته سخت مزاجه یی نه جګړه کوونکی، نه په بازارونو کی شور کوونکی، دبدی بدله په بدی سره نه ورکوی، بلکه معافی اودرګذر کوی، الله ﷻ به دی ترهغه وخته پوری نه وفات کوی ترڅو پوری چی دده په ذریعه کوږ قوم برابرنه کی تردی چی دوی د: لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ قائل سی اوړندی سترګی خلاصی کی، اوکاڼه غوږونه داوریدو قابل کی اوبند زړونه خلاص کی.

ددی په شان یوروایت په بخاری کی په روایت دعبد الله بن عمرو بن عاص ﷺ هم ذکر دی ، او دتیرو کتابونو دیو لوی ماهرِ عالم حضرت وهب بن منبه څخه بیهقی په دلائل النبوة کی نقل کړي دی چی.

الله ﷻ په زبور کی حضرت داود ﷺ ته داوحی وفرمایله چی ای داوده! ستا څخه وروسته به یونبی راسی چی نوم به یی احمد وی ، زه به هیڅکله دده څخه ناراضه نه سم اودی به هیڅکله زما نافرمانی ونه کی اوزه به دده مخکی او وروسته ټولی خطاګانی معاف کوم، دده اُمت اُمتِ مرحومه دی، مادوی ته هغه نوافل ورکړي دی ، کوم چی می انبیاوو ته ورکړی وه اوپر دوی می هغه فرائض اچولی (یعنی لازم کړی) دی ، کوم چی می پرتیرو انبیاوو لازم کړی وه ، تردی چی دوی به په محشرکی زمامخ ته داسی راسی چی د دوی نور به دانبیاوو ﷺ دنورپه شان وی، ای داوده! ما محمد او دهغه امت ته پرټولو امتونو فضیلت ورکړي دی ، ماشپږ شیان دوی ته په خاص طور سره ورکړي دی ، کوم چی می نورو امتونو ته نه دی ورکړی ، اول دا چی په خطا او هیره به دوی نه سی په عذابیدی ، کومه ګناه چی دوی بغیر دقصد څخه وکی که دوی ددی بخښنه زما څخه وغواړی نوزه به یی معاف کوم اوکوم مال چی دوی دزړه په خوښی دالله ﷻ په لاره کی خرځ کی نوزه به په دنیاکی دوی ته تردغه ډیر زیات ورکم اوکله چی پردوی څه مصیبت راسی اودوی ، اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَیْهِ رٰاجِعُوْن، ووایی نوزه به پردوی دغه مصیبت صلوٰةِ رحمت او دجنت طرف ته هدایت جوړ کړم، دوی چی څه دعا کوی زه به یی قبلوم ، کله داسی چی څه یی غوښتلی وی هغه به ورکوم اوکله داسی چی دغه دعابه د دوی دآخرت سامان جوړ کړم (روح المعانی)

په سورونو کی یوڅو روایتونه دتورات انجیل اوزبور په حوالی سره نقل سوه، پوره روایتونه محدثینو په مستقلو کتابونو کی جمع کړي دی.

په تورات اوانجیل کی دخاتم الانبیاء ﷺ اودده دامتِ مرحومه پر خاصو فضیلتونو صفتونو اونخښو نښانو پرتفصیل باندی عالمانو مستقل کتابونه لیکلی دی، په دی آخری دورکی حضرت مولانا

Maktaba Tul Ishaat.com

کیرانوی مهاجرمکی په خپل کتاب (اظهار الحق) کی داپه ډیر تفصیل ، تشریح اوتحقیق سره لیکلی دی ، په دی کی یی دموجوده زمانی دبدل سوو تورات اوانجیل چی ډیر تحریفات په کښی سوي دی ، په دی کی یی هم د ډیرو صفتونو او فضیلتونو موجودوالی ثابت کړي دی ، ددی دعربی څخه اُردو ترجمه شائع سوي ده چی دلیدو قابله ده .

په تیر آیت کی دنبی کریم ﷺ ددی صفتونو او نښانو تفصیلی بیان وو ، کوم چی په تورات اوانجیل اوزبور کی لیکل سوی وه په دی کی دنبی کریم ﷺ څه زیات صفتونه هم ذکر دی ، په دی کی اولنی صفت امر بالمعروف اونهی عن المنکر دی ، دمعروف لفظی معنیٰ اشنا ، اودو منکر لغوی معنیٰ نا اشنا دی چی نه پیژندل کیږی دلته دمعروف څخه مراد هغه نیك کار دی چی په اسلامی شریعت کی پیدا کیږی ، او دمنکر څخه مراد هغه بیکار کار دی چی په دین اوشریعت کی نه پیدا کیږی .

دلته دښو کارونو څخه دمعروف په لفظ سره او دبدو کارونو څخه دمنکر په لفظ سره په تعبیر کولوکی دی طرف ته اشاره موندل کیږی چی په دین کی نیك کار یوازی هغه ګڼل کیږی کم چی دقرنِ اول څخه په مسلمانانو کی رائج وی او پیژندل کیږی اوکوم چی داسی نه وی، هغه ته به منکر ویل کیږی، ددی څخه معلومه سوه چی اصحابو ﷺ او تابعینو ﷭ چی کوم کار نیك نه دی ګڼلی هغه برابره خبره ده که هر څومره نیك اوښه معلومیږی خو دشریعت په لحاظ سره هغه نیك اوښه نه دی، په صحیح احادیثوکی یی څکه هغو کارونو ته دکومو تعلیم چی دنبی کریم ﷺ او اصحابو ﷺ او تابعینو ﷭ څخه نه لیدل کیږی ، هغوی یی محدثات الامور او بدعت فرمایلی دی او ګمراهی یی مقرر کړي ده ، معنی دآیت ددی جملی داده چی نبی کریم ﷺ خلګوته به دنیکو کارونو حکم کوی او دبدو څخه به یی منع کوی .

داصفت که څه هم چی په ټولو انبیاوو علیهم السلام کی عام دی او په کار هم دی څکه چی هر یو نبی اورسول ددی کار دپاره لیږل کیږی ، چی خلګو ته دنیکو کارونو طرف ته هدایت وکی او دبدو کارونو څخه یی منع کی لیکن دلته دنبی کریم ﷺ دخصوصیاتو په موقع باندی ددی بیانول ددی خبر ورکوی چی نبی کریم ﷺ ته په دی خاص صفت کی تر نورو انبیاؤ علیهم السلام څه خاص امتیاز اوخصوصیت حاصل دی او دغه امتیاز په څو وجهو سره دی ، اول ددی کار خاص سلیقه چی دهری طبقی خلګو ته د دوی دحال په مناسبت سره پوهه ورکول په کومی سره چی خبره د دوی زړه ته لویږی اوګرانه ورته معلومه نه سی دنبی کریم ﷺ په تعلیماتوکی چی فکر وسی نو وبه لیدل سی چی ده ته الله ﷻ په دی کی یوخاص او امتیازی سلیقه ورکړی وه دعربو بدوان چی داوښ اوبزی څرولو څخه ماسوا په نور هیڅ نه پوهیدل دده سره به یی په داسی انداز خبری کولی اوباریك مضامین دعلم به یی ورته په داسی ساده الفاظوکی بیانول چی دغه بی تعلیمه خلګ به هم په پوهیدل او دقیصر اوکسریٰ او دنورو عجمی بادشاهانو او د دوی درالیږل سوو اهل علمو سفیرانو سره به یی د دوی دانداز مطابق خبری کولی او بی له څه استثناء څخه ټول به په دی خبرو متاثره کیدل بل ددوی دکلام خدا داد مقبولیت اوپه زړونوکی تاثیر هم یو معجزانه انداز

Maktaba Tul Ishaat.com _

لري، تر لوي لا لوي دښمن چې به هم کله ددوی کلام اوريدی نو دمتاثره کيدو څخه بغيربه نه پاته کيدی، لوړ چې دتورات په حواله کوم صفتونه دنبي کريم ﷺ بيان سوی وه په دی کي داهم وو چې دده ﷺ په ذريعه به الله ﷻ رندی سترګی بينا اوکانه غوږونه اوريدونکی جوړکی اوبند زړونه به خلاص کی، دا صفتونه شايد ددی خصوصيت نتيجه وی چې نبي کريم ﷺ ته الله ﷻ دامر بالمعروف اونهی عن المنکر دصفت امتيازی سليقه ورکړی وه ، دوهم صفت دابيان سوي دی چې نبي کريم ﷺ به دخلګو دپاره پاکيزه او دخوښی شيان حلال کی اوخراب شيان حرام، مراد دا دی چې ډير پاکيزه او دخوښی شيان کوم چې په بنی اسرآئيلو باندی په طور دسزا حرام سوی وه ، نبي کريم ﷺ به دهغه حراموالی ختم کی ، مثلاً دحلالو حيوانانو وازګه اونور کوم چې دبنی اسرائيلو دبدکاريو په سزا کی پردوی حرام سوی وه ، نبي کريم ﷺ هغه حلال کړل اوپه خرابو شيانوکی وينه اومردار حيوان، شراب اوټول حرام حيوانان داخل دی اوټوله په حرامه ذريعه حاصله سوی آمدنی هم مثلاً سود، رشوت، قمار اونور (سراج المنير) اوځينو حضراتو بد خويونه او عادتونه هم په مردارو شيانو کی شمار کړي دی .

دوهم صفت دا بيان سوي دی و وَيَضَعُ عَنْهُمْ اِصْرَهُمْ وَالْاَغْلٰلَ الَّتِيْ كَانَتْ عَلَيْهِمْ يعنی نبي کريم ﷺ به ليری کی دخلګو څخه هغه بار او بند کوم چې په دوی مسلط وو .

د، اِصر دلفظ معنی دروندباردی چې سړی دښوريدوڅخه منع کی او، اَغْلٰل دغِلّ جمع ده ، هغو لاس کړيو ته غِل ويل کيږی دکومو په ذريعه چې دمجرم لاسونه دځټ سره تړل کيږی اودی بالکل بی اختياره سی .

د، اِصر او: اَغْلٰل يعنی دروند بار او قيد څخه مراد په دی آيت کی هغه سخت او ګران احکام او واجبات دی کوم چې په اصل دين کی مقصود نه وه ، بلکه پربنی اسرائيلو په طور دسزا لازم سوی وه، مثلاً چې کپړه ناپاکه سی نوپه اوبو سره مينځل يی دبنی اسرائيلو دپاره کافی نه وه، بلکه واجب دا وو چې ناپاک ځای به يی پريکوی ، او دکفارو سره په جهادکی چې به ورته کوم مال په طور دغنيمت په لاس ورغی هغه به دوی ته حلال نه وو، بلکه دآسمان څخه به اور راتلی اوهغه به يی سوځی، دهفتی په ورځ ښکار کول ددوی دپاره حرام وو، دکوم اندام څخه چې به څه ګناه وسوه، دهغه اندام پريکول واجب وه، دچا قتل برابره خبره ده که قصداً وی اوکه خطاءً وی، په دواړو صورتونوکی قصاص يعنی دقاتل قتل کول واجب وو، دخون ددیت ورکولو قانون نه وو .

دا سخت اوګران احکام کوم چې په بنی اسرائيلو نافذ وه ، په قرآن کی يی ورته ، اِصر او: اَغْلٰل وفرمايل او دا خبر يی ورکی چې نبي کريم ﷺ به داسخت احکام منسوخ کی اوآسان احکام به جاری کی، دا خبره نبي کريم ﷺ په يو حديث کی فرمايلی ده چې ، ما تاسی په يوه آسان شريعت باندی پريښی ياست چې نه په کی مشقت سته، نه دګمراهی بيره، په يو حديث کی ارشاد دی ، اَلدِّيْنُ يُسْرٌ يعنی دين آسان دی ، قرآن کريم فرمايی ، وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ : يعنی الله ﷻ په تاسی ددين په معامله کی څه تنګی نه ده راوستلی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دنبي امي ﷺ دخاصو كمالي صفتونو تربيانولو وروسته ارشاد فرمايي.

فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنزِلَ مَعَهُ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ.

يعني په تورات او انجيل کې دنبي آخر زمان دواضحو صفتونو اوننبانو بنوولو دانتيجه ده، چې کوم خلګ په ده ايمان راوړي او دده تعظيم اومدد کوي او دهغه نور تابعداري کوي کوم چې دده سره نازل سوی دی يعني قرآن عظيم نو دغه خلګ مراد پيدا کوونکی دي.

دلته دفلاح يعني مراد پيدا کيدو دپاره څلور شرطونه ذکر سول، اول په نبي کريم ﷺ باندي ايمان، دوهم دده ﷺ عزت اوتعظيم، دريم دده ﷺ امداد اوڅلورم دقرآن کريم تابعداري، دتعظيم اوتکريم دپاره دلته عَزَّرُوهُ راوړل سويدی چې دتعزير څخه مشتق دی، دتعزير معنٰی په شفقت سره دمنع کولو، حفاظت کولو ده، حضرت عبد الله بن عباس ﷺ د عَزَّرُوهُ معنٰی دتعظيم اوتکريم کولو بنوولی ده او مُبَرّد وايي چې داعلی درجي تعظيم څخه په تعزير سره تعبير کول کيږي.

مراد دا دی چې هغه خلګ کوم چې دنبي کريم ﷺ دعظمت او محبت سره دده ﷺ تائيد او حمايت او دمخالفينو په مقابله کې دده ﷺ مدد کوي دغه مکمل مراد پيدا کوونکی دي، په زمانه دنبوت کې خو داتائيد اونصرت دده ﷺ دذات سره متعلق وو او دده ﷺ تروفات وروسته دده ﷺ دشريعت او ددين تائيد اومدد دنبي کريم ﷺ دتائيد اومدد کولو مصداق دی.

قرآن کريم يي په دی آيت کې دنور څخه تعبير کړي دی وجه داده چې لکه څنګه چې دنور په نوروالي باندي دڅه دليل ضرورت نسته، نور په خپله دخپل وجود دليل دی چې ديو محض اُمّي دژبي څخه داسی اعلی اوابلغ کلام راغي چې دمثل راوړلو څخه يي توله دنيا عاجزه سوه، دا په خپله هم روښانه وی اونورو تياری هم رڼا کوی، دغه شان قرآن کريم په تياروکی منبتی دنيا دتيارو څخه را وايستل اورڼا يي کړه.

(دقرآن سره دسنتو تابعداري هم فرض ده)

ددی آيت په شروع کې يي، يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ فرمايلي وو اوپه آخرکې يي، وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنزِلَ مَعَهُ وفرمايل، په دی کې په اوله جمله کې دنبي اُمّي دتابعداري حکم دی اوپه آخري جمله کې دقرآن کريم دتابعداري، ددی څخه ثابته سوه چې دآخرت نجات دکتاب اوسنت دواړو پر تابعداري باندي موقوف دی، څکه چې دنبي امي تابعداري دده دسنتو دتابعداري په ذريعه کيدی سی.

(درسول يوازی تابعداري کافي نه ده ادب او احترام يي هم فرض دی)

او ددی دواړو جملو په مينځ کې يي، عَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وفرمايل اوذی طرف ته يي اشاره وکړه چې دنبي کريم ﷺ داحکامو داسی تابعداري مقصود نه ده لکه دعامي دنيا دحکمونو تابعداري چې جبراً اوقهراً کول کيږي، بلکه هغه تابعداري مقصود ده کومه چې دعظمت اومحبت نتيجه وی، يعني دنبي کريم ﷺ عظمت اومحبت په زړه کې دومره وی چې ددی په وجه دده دحکمونو پرتابعداري مجبوره وی، څکه چې دامت دخپل رسول سره مختلف قسم تعلقات وی، يودا چې هغه امير اوحاکم دی اوامت محکوم

Maktaba Tul Ishaat.com

اورعیت ، دوهم داچې رسول محبوب دی اوټول امت دده محبان، یوداچې رسول دخپلو علمي اوعملي اخلاقي کمالاتو پربنا باندې دعظمت خاوند دی اوټول امت دده په مقابله کې لاندې اوعاجزه دي .
زمونږ په نبي کريم ﷺ کې ټول شانونه په کمال درجه سره موندل کيږي ، په دې وجه په امت لازمه ده چې په هر شان يې حق ادا کې ، په حيثيت درسول پرده ايمان راوړي په حيثيت دامير اوحاکم دده داحکامو تابعداري وکې په حيثيت دمحبوب دده سره ژور محبت وساتي اوپه حيثيت دکمالونو دنبوت دده تعظيم اوتکريم وکې ، دنبي کريم ﷺ اطاعت اوتابعداري خو هسې هم په امت فرض په کار وه ، ځکه چې دانبياوو عليهم السلام دليږلو مقصد ددې څخه بغير نه پوره کيږي ليکن الله سبحانه وتعالى زمونږ درسول مقبول ﷺ په باره کې يوازې پردې باندې بس ونه فرمايي ، بلکه په امت يې دده ﷺ تعظيم ، تکريم، احترام او ادب هم لازم کړي دی اوپه قرآن کريم کې يې ځاى په ځاى ددې طريقې ادبونه ښودلي دي .
په دې آيت کې خوبي د عَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ په الفاظوسره دې طرف ته اشاره کړې ده اوپه يو بل آيت کې هم وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ راغلي دي اوپه يوڅو آيتونو کې يې ددې ښوونه کړې ده چې دنبي کريم ﷺ په مخکې دې په داسې لوړ آوازسره خبرې نه کوي چې دده ﷺ په آواز باندې لوړ سي ، يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْۤا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ .
اويوبل ځاى ارشاد دی ، يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ يعني اى مسلمانانو! ترالله ﷺ او دهغه تررسول مه مخکې کيږئ ، يعنې په کوم مجلس کې چې حضور ﷺ تشريف فرماوي اوڅه معامله پيښه سي ترده ﷺ مخکې دې څوك خبرې نه کوي، حضرت سهل بن عبد الله ددې آيت معنى دا ښيې چې ترده ﷺ مخکې دې خبره نه کوي اوکله چې دی ﷺ خبره کوي نوټول دې يې په خاموشي سره اوري .
دقرآن کريم په يوبل آيت کې يې ددې ښوونه کړيده چې نبي کريم ﷺ ته دې دآواز کولوپه وخت کې دآدَبْ لحاظ ساتي، داسې آواز دې ورته نه کوي لکه څنګه چې يې په خپل مينځ کې يوبل ته کوي ، لَا تَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا دآيت په آخرکې يې ددې خبرې خبرداري ورکړې دی چې که څوك ددې خلاف دبې ادبي څه کار وکې نو ټول عملونو به يې حبطه او برباد سي دغه وجه ده چې اصحابِ کرام ﷺ سره ددې چې هر وخت او په هرحال کې به دنبي کريم ﷺ سره شريك کاره وه، اوپه داسې حالت کې داحترام اوتعظيم دادبونو لحاظ ساتل دير مشکل وي، ليکن ددوی داحال وو چې دذکر سوی آيت ترنازليدو وروسته حضرت صديق اکبر ﷺ چې به دنبي کريم ﷺ په خدمت کې څه عرض کوی نو داسې خبرې به يې کولې لکه څوك چې پټه خبره کرار کرار کوی دغه حال دحضرت فاروق اعظم ﷺ هم وو (شفآء) حضرت عمروبن عاص ﷺ فرمايي چې ترنبي کريم ﷺ زيات په دنياکې څوك ماته محبوب نه وو اوزما داحال وو چې په لوړو سترګوبه ما ده ﷺ ته کتلې نسواى او که څوك زماڅخه دهغه دحليې مبارکې په باره کې پوښتنه وکې نوزه يې په بيانولو ځکه قادر نه يم چې ما هيڅکله ده ﷺ ته په لوړ نظر کتلې نه دي .
ترمذي دحضرت انس ﷺ څخه نقل کړي دی چې داصحابو ﷺ مجلس ته چې به کله نبي کريم ﷺ تشريف راوړی نو ټولو به نظرونه کښته کړل ، يوازې صديق اکبر ﷺ اوفاروق اعظم ﷺ به ده ته کتل اونبي کريم

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ به دوی ته وکتل او تبسم به یی وفرمایی .

عُروه بن مسعود مکی والاوو دجاسوس په طور مدینی منوری ته دمسلمانانو دحال معلومولو دپاره ولیږی ، ده چی صحابه کرام ﷺ دپتنګانو په شان په حضور ﷺ قربانیدونکی او زاریدونکی ولیدل نو په واپسی کی یی دا راپور ورکی چی ما دکسرٰی اوقیصر دربارونه هم لیدلی دی او دنجاشی باچا سره هم یوځای سوی یم ، مګر کوم حال چی ما دمحمد ﷺ داصحابو ﷺ ولیدی هغه ما هیڅ ځای هم نه دی لیدلی زما خیال دا دی چی تاسی خلګ به د دوی په مقابله کی هیځکله هم کامیاب نه سی ، دحضرت مغیره بن شعبه ﷺ په حدیث کی دی چی کله به دی په کور کی تشریف فرماوو ، نو اصحابو ﷺ به ددباندی څخه په آواز کولو سره حضور ﷺ رابلل بی ادبی ګڼله ، دروازه به یی هم یوازی په نوکانو ټکوله چی زیات ټکار او شور ونه سی (ارشاد الساری)

دنبی کریم ﷺ تر وفات وروسته هم داصحابو ﷺ او تابعینو رحمهم الله معمول دا وو ، چی په مسجد نبوی کی په لوړ آواز سره خبری کول خو پریږده ، وعظ او تقریر به یی هم په زیات لوړ آواز سره نه خوښوی ، داکثرو حضراتو جال خودا ووچی کله به چا دنبی کریم ﷺ نوم مبارک واخیستی نو په ژړا به سول او هیبت به ورباندی راغی .

ددی تعظیم او عزت برکت وو ، چی دی حضراتو ته دنبوت دکمالاتو څخه خاص حصه حاصله سوه اوالله ﷺ دوی ته تر انبیاوو علیهم السلام وروسته تر ټولو لوړ مقام ورکی .

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ٱلَّذِى لَهُۥ

ته ووایه ای خلقو ! زه رسول یم دالله تاسی ټولو طرف ته دچاچی

مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ فَـَٔامِنُوا۟

حکومت دی په آسمانونو او په مځکه که هیڅوک دعبادت لائق نسته دهغه څخه ماسوا هغه ژوندی کول کوی او مړه کول کوی نو ایمان راوړی ،

بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِىِّ ٱلْأُمِّىِّ ٱلَّذِى يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ

په الله او دهغه په رالیږلی سوی نبی امی باندی کوم چی یقین ساتی په الله باندی او دهغه په ټولو کلامونو

وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٨﴾ وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِٱلْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٩﴾

او دهغه تابعداری کوی چی تاسی لار پیدا کوی ، او دموسی په قوم کی یوه ډله ده کومه چی لانبیی دحق او ددي موافق انصاف کوی .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: ته ووايه چې اې (ددنيا جهان) خلګو! زه ستاسې ټولو طرف ته دهغه الله دطرف څخه راليږل سوی (پيغمبر) يم دکوم چې حکومت دی په ټولو آسمانونو اومځکه کې ، دهغه څخه ماسوا څوک دعبادت لائق نسته هغه ژوند ورکوي اوهغه مرګ ورکوي ، په دې وجه په الله ايمان راوړی او دهغه په نبي اُمّي باندې (هم ايمان راوړی) کوم چې (په خپله هم) په الله او دهغه په احکامو باندې ايمان لري (يعنی کله چې سره ددومره لوی مرتبې ده ، په الله او ټولو کتابونو اورسولانو باندې دايمان راوړلو څخه شرم نه کوي نوتاسې په الله اورسول باندې دايمان راوړو څخه انکار کوی) اوددې (نبي) تابعداری کوی ددی دپاره چې تاسې پر (نيکه) لاره باندې سی او (که څه هم څينو خلګو ستا مخالفت وکی ليکن) په قوم دموسیٰ ﷺ کې يو جماعت داسې هم دی چې دحق دين (يعنی اسلام) موافق (خلګو ته) هدايت هم کوي او ددی موافق (په خپلو او دنورو په معاملوکې) انصاف هم کوي (مراد ددې څخه عبد الله بن سلام ﷺ اونور دي)

معلومات اومسئلي: په دې آيت کې داسلام داصولی مسئلو څخه درسالت دمسئلې ديو مهم اړخ بيان دی چې زمونږ درسول ﷺ رسالت ددنيا دټولو پيريانو اوانسانانو دپاره اوپه دوی کې هم ترقيامته پوری دراتلونکو نسلونو دپاره عام دی .

په دې آيت کې نبي کريم ﷺ ته ددې عام اعلان کولو حکم دی چې ته خلګوته ووايه چې زه تاسې ټولوته رسول جوړ سوی راليږل سوی يم ، زما راليږل او رسالت دتيرو پيغمبرانو په شان يو مخصوص قوم يا مخصوصې مځکې ته يا دمخصوص وخت دپاره نه دی، بلکه دټولې دنيا دانسانانو دپاره ددنيا دهرې حصې، هرملك، هرې آبادۍ او موجوده او راتلونکو نسلونو دپاره ترقيامته پوری عام دی او دانسانانو څخه علاوه پيريان هم په دې کې شريك دي.

(دنبي کريم ﷺ نبوت دټول عالم دپاره ترقيامته پوری دی په دی وجه په ده نبوت ختم دی)

هم دا اصلي راز دی دختم نبوت دمسئلې ، ځکه چې کله دنبي کريم ﷺ نبوت ترقيامته پورې دراتلونکو ټولو نسلونو دپاره عام دی ، نو بيا دبل چا رسول اونبي دراتلو نه څه ضرورت اونه څه ګنجائش سته .

اوهم دا راز دی دامت محمدی ﷺ ددې خصوصيت چې په دوی کې به دارشادِ نبوی مطابق هميشه يوداسې جماعت قائم کوم چې په دين کې دپيدا کيدونکو ټولو فتنو مقابله اوپه دينی معاملوکې دپيدا کيدونکو ټولو خنډونو بنديز کوی، دکتاب اوسنت څخه په مطلب اخيستو اوتفسير کې چې کمې غلطې درج کيږي، دا جماعت به هغه هم ليرې کوی، او دالله ﷻ خاص نصرت او امداد به دې جماعت ته حاصل وي دکوم په سبب چې به دوی په ټولو غالب راځي ، ځکه چې په حقيقت کې دا جماعت په خاص طور سره به دنبي کريم ﷺ درسالت په فرائضو ادا کولو کې دده قائمقام وي ، امام رازی رحمه الله دآيت ، كُونُوا مَعَ الصّٰدِقِينَ لاندې ليکي چې په دې آيت کې دا اشاره موجوده ده ، چې په دې امت کې به دصادقينو يو جماعت هميشه باقي وي کنې دنياته به يې دصادقينو دملګرتيا اوصحبت حکم نه وای ورکړی او ددې څخه امام رازی رحمه الله په هر دورکې داجماع امت حُجّتوالی شرعی ثابت کړي دی ، ځکه چې دصادقينو

Maktaba Tul Ishaat.com

دجماعت په موجودگی کی پرغلطه خبره یاگمراهی دټولو اجماع او اتفاق نه سی کیدی ، امام ابن کثیر رحمه الله فرمایی چی په دی آیت کی دنبی کریم ﷺ دخاتم النبیین او آخری پیغمبر کیدو طرف ته اشاره ده ، ځکه چی کله دده ﷺ بعثت او رسالت تر قیامته پوری دراتلونکو نسلونو دپاره او دپوره عالم دپاره عام سو نو اوس دبل نوی نبی اورسول ضرورت باقی پاته نه سو ، په دی وجه په آخره زمانه کی چی حضرت عیسی علیه السلام تشریف راوړی نو هغه به هم په خپل ځای سره ددی چی نبی وی خوپه شریعت محمدی به عمل کوی، لکه چی دصحیح روایتونو دحدیث څخه ثابته ده ، دنبی کریم ﷺ په بعثت اورسالت دټولی دنیا اوترقیامته پوری په عام کیدو دا آیت هم ډیر واضح ثبوت دی ، ددی څخه علاوه دقرآن کریم ډیر آیتونه پردی شاهد دی، مثلاً ارشاد دی ، وَاُوْحِیَ اِلَیَّ هٰذَا الْقُرْآنُ لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ یعنی دا قرآن په ما باندی په ذریعه دوحی رالیږل سوی دی چی زه تاسی دالله ﷻ دعذاب څخه وبیروم او هغه خلک هم چاته چی زما څخه وروسته دا قرآن ورسیږی .

دنبي کریم ﷺ یوځو مهم خصوصیات: او ابن کثیر رحمه الله په حواله دمسند احمد په قوی سند سره روایت کړی دی چی دتبوك دغزا په موقع باندی نبی کریم ﷺ دتهجد په لمانځه کی مشغول وو ، دصحابه کرامو رضی الله عنهم سره بیره سوه چی څوك دښمن حمله ونه کی ، په دی وجه پرده ﷺ باندی چاپیره سول ، کله چی دوی دلمانځه څخه فارغ سوه نو ویی فرمایل چی نن شپه پنځه شیان ماته داسی راکول سوه چی زما څخه مخکی یوه رسول اونبی ته نه دی ورکول سوی ، اول دا چی زما رسالت اونبوت دټولی دنیا دټولو قومونو دپاره عام دی ، او زما څخه مخکی چی څومره انبیاء علیهم السلام راغلی دی دهغوی دعوت اوبعثت یوازی دخپل خپل قوم سره مخصوص وو ، دوهمه خبره داده چی ماته زما ددښمن په مقابله کی داسی رعب راکول سویدی چی که هغه زما څخه دیوی میاشتی پرمسافت باندی وی خو زما رعب به پرهغه خپریږی ، دریم دا چی زما دپاره دکفارو څخه حاصل سوی مال غنیمت حلال سو ، حال دادی چی دتیرو امتونو دپاره حلال نه وو بلکه ددی استعمالول عظیمه گناه گڼل کیده ، ددوی دمالِ غنیمت یوازی دامصرف وو چی دآسمان څخه به یو اور راغی او هغه به یی وسوزی څلورم داچی زما دپاره ټوله مځکه مسجد او دپاکی ذریعه جوړه سوه چی زما لمونځونه دمځکی پرهر ځای کیږی دمسجد سره مخصوص نه دی، په خلاف دتیرو امتونو څخه چی ددوی عبادت یوازی ددوی دعبادتخانو سره مخصوص وو، په خپلو کورنو یابیابان اونورو کی ددوی لمونځ نه کیدی، دغه شان چی کله پر اوبو باندی قدرت نه وی دناروغی په وجه یا داوبو نه موندو په وجه، نو داودس پرځای دریږی دتیرو امتونو دپاره دا آسانی نه وه بیایی وفرمایل چی دپنځم شی خوگرسره پوښتنه نسته، هغه په خپله خپل مثل دی هغه داچی الله ﷻ خپل هر رسول ته یوه دعا داسی دقبلیدو دپاره ورکړیده چی دهغه څخه خلاف نه کیږی او هر رسول او نبی خپله خپله دعا دخپلو خاصو خاصو مقصدونو دپاره استعمال کړه او هغه مقصدونه یی حاصل سول، ماته دا وویل سوه چی ته یوه دعا وکړه، ماخپله دعا دآخرت دپاره محفوظه کړه، دغه دعا به ستاسی اوتر

Maktaba Tul Ishaat.com

قیامته پورې چې کم سړی د: لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ شاهدي ورکوونکی وي، په کار ورسي.
دارنګه دامام احمد په یوروایت کې دابو موسیٰ اشعري رضي الله عنه څخه نقل دي چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې کوم سړی زما دمبعوث کیدو څخه خبر سي، برابره خبره ده که زماپه امت کې وي اوکه یهودي یانصراني وي که دي په ما ایمان رانه وړی نوجهنم ته به ځي، اوپه صحیح بخاري کې تردي آیت لاندي په روایت دابو درداء رضي الله عنه نقل کوي چې دابوبکر اوعمر رضي الله عنه په مینځ کې پریوه خبره اختلاف راغی، حضرت عمر رضي الله عنه ناراضه سو او ولاړی، نوحضرت ابوبکر رضي الله عنه درضا کولو دپاره ورپسي ولاړی، مګر حضرت عمر رضي الله عنه ونه منله، تردي چې کورته ورسیدی، دروازه یې په ځان پسي بنده کړه نو مجبوراً صدیق اکبر رضي الله عنه راواپس سو اودنبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو بلي خوا ته څه ساعت وروسته حضرت عمر رضي الله عنه په دي خپلو کړو پریشانه سو اودي هم دکوره راووتی ، دنبي کریم ﷺ خدمت ته راغی حاضر سو اوخپله واقعه یې عرض کړه ، دحضرت ابو درداء رضي الله عنه بیان دی چې په دي نبي کریم ﷺ ناراضه سو، کله چې حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه ولیدل چې په حضرت عمر رضي الله عنه باندي عتاب کیږي ، نوعرض یې وکی چې یا رسول الله زیات قصور زما دی، نبي کریم ﷺ وفرمایل چې آیا ستا څخه دومره هم نه سوای کیدی چې زما یوملګری دخپلو ضررونو څخه محفوظ کې آیا ته نه پوهیږې چې کله ماپه اذن دخدای دا وویل چې.
يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا:
نو تاسي ټولو زه دروږغجن کړم یوازي ابوبکر رضي الله عنه وو چا چې په اول وار زما تصدیق وکی.
لنډه دا چې ددي آیت څخه دنبي کریم ﷺ دټولو موجوده اوراتلونکو نسلونو دپاره او دهر ملك دهري حصې داوسیدونکو دپاره او دهر قوم اوهري برداري دپاره عام رسول کیدل ثابت سوه او دا چې د دوی تربعثت وروسته کوم سړی چې په دوی ایمان رانه وړی ، که څه هم دي دتیر شریعت او کتاب یا دیو ملت او مذهب پوره پوره تابعدار په تقوي اواحتیاط سره هم وي ، خو دی به هیڅکله نجات پیدانه کی.
دآیت په آخرکې یې وفرمایل چې زه دهغه پاك ذات دطرف څخه رسول یم دچاپه ملکیت کې چې ټول آسمانونه اومځکې دي، هغه ژوندي کول کوي اوهغه مړه کول کوي.

تردي وروسته ارشاد فرمایي، فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ
یعنی کله چې داخبره معلومه سوه چې نبی کریم ﷺ دټولو قومونو دعالم دپاره رسول اونبي دی، دده دتابعداري کولو څخه بغیر بله چاره نسته نوضروري ده چې ایمان راوړی په الله اودهغه په رسول نبي اُمّي کم چې په خپله هم په الله اودهغه په کلمو ایمان راوړی او دده تابعداري وکې چې تاسي په صحیح لاره قائم پاته سي.
دالله ﷻ دکلمو څخه مراد دالله ﷻ کتابونه، تورات، انجیل قرآن اونور دي، دایمان دحکم څخه وروسته یې بیا دتابعداري کولو زیات حکم ورکی اودي طرف ته یې اشاره کړیده چې یوازي ایمان راوړل یازباني تصدیق کول، دده ﷺ دشریعت دتابعداري کولو څخه بغیر دهدایت دپاره کافي نه دي.
حضرت جنید بغدادي رحمه الله فرمایي چې پرمخلوق دالله ﷻ طرف ته درسیدو ټولي لارې بندي دي، بغیر

Maktaba Tul Ishaat.com

دهغه لاري څخه کمه چې نبي کريم ﷺ ښوولی ده.

(دحضرت موسیٰ عليه السلام په قوم کي يوحق پرست جماعت)

په دوهم آيت کی ارشاد فرمايي، وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰى اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ يعنی دحضرت موسیٰ عليه السلام په قوم کی يوجماعت داسی هم دی چی په خپله هم دحق تابعداری کوی، اوپه خپلو جګړو او معاملو کی هم فيصلی دحق موافق کوی.

په تيرو آيتونو کی دحضرت موسیٰ عليه السلام دقوم دعناد او ګمراهی بيان وو، په دی آيت کی يی وښوول چی ټول قوم دبنی اسرائيلو داسی نه دی بلکه په دوی کی څه خلګ ښه هم دی چی دحق تابعداری کوی اوحق فيصلی کوی داهغه خلګ دی کومو چی دتورات اوانجيل په زمانه کی ددی دهدایاتو موافق پوره عمل وکی اوکله چی خاتم الانبياء ﷺ راغی نو دتورات اوانجيل دخبر موافق يی په ده ﷺ ايمان راوړی اوده ﷺ تابعداری يی وکړه دبنی اسرائيلو ددی حق پرست جماعت ذکرهم په قرآن کی بار بار راغلی دی يوځای ارشاد دی، مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اُمَّةٌ قَآئِمَةٌ يَّتْلُوْنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ اٰنَآءَ الَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُوْنَ يعنی په اهل کتابو کی يو داسی جماعت هم سته چی پرحق قائم دی، دالله ﷻ آيتونه ټوله شپه تلاوت کوی اوسجدی کوی، يوبل ځای ارشاد دی، اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ يعنی هغه خلګ کومو ته چی تر نبی کريم ﷺ مخکی کتاب تورات اوانجيل ورکول سوی وو، دوی په نبی کريم ﷺ باندی ايمان راوړی.

او ابن جرير ابن کثير اونورو دلته يوه عجيبه قصه نقل کړي ده چی ددی جماعت څخه هغه جماعت مراد دی کم چی دبنی اسرائيلو دګمراهی بدو عملونو دانبياوو + دقتل اونور څخه تنګ سوه او ددوی څخه جلا سوه، دبنی اسرائيلو ددولسو قبيلو څخه يوه قبيله وه کمه چی دخپل قوم څخه تنګه سوه اودعا يی وکړه چی ياالله مونږ ددی خلګو څخه ليری يوبل ځای آباد کی چی په خپل دين په ښه شان سره عمل وکو، الله ﷻ دوی په خپل قدرت کامله سره ديونيم کال په مسافت سره دمشرق بعيد يوی مځکی ته ورسول چی هلته دوی خالص په عبادت کی مشغول سوه او دنبی کريم ﷺ تر مبعوث کيدو وروسته هم قدرت ددوی دمسلمانيدو دا اسباب تيار کړل چی دمعراج په شپه جبرائيل امين نبی کريم ﷺ دغه طرف ته بوتلی دغو خلګو په دوی ايمان راوړی، ده ﷺ ورته دقرآن کريم څه سورتونه هم وښوول او ددوی څخه يی پوښتنه وکړه چی آيا ستاسی سره دناپ اوتول څه انتظام سته او ستاسی دژوند څه سامان دی؟ هغه جواب ورکی چی مونږ په مځکه کی غله کرو، کله چی تياره سی نوپری يی کو اوهم هلته يی ډيری کو، هرسړی چی خومره يی ضرورت وی دهغه ځای څخه ځانته وړی دناپ اوتول ګرسره څه ضرورت نسته، دی ورڅخه پوښتنه وکړه چی په تاسی کی څوک دروغ هم وايي؟ عرض يی وکی چی نه، ځکه چی که څوک داسی وکی نوفوراً يو اور راسی اوهغه وسوزی، ده پوښتنه ورڅخه وکړه چی ستاسی دټولو داکورونه يو ډول ولی دی؟ عرض يی وکی، داځکه چی چاته پربل باندي دڅه لويی يا زياتوالی موقع حاصله نه سی، بيايی پوښتنه ورڅخه وکړه چی تاسی دخپلو کورونو په مخکی خپل قبرونه ولی جوړ

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي دي؟ عرض یې وکی داځکه چې مرګ مونږته هروخت یادوي، بیاچې نبي کریم ﷺ دمعراج څخه
واپس مکې ته تشریف راوړی، نودا آیت نازل سو، وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰى اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ
تفسیرِ قرطبي ددي ترنقل کولو وروسته ویلي دي چې غالبًا دا روایت صحیح نه دی.

په هرحال ددي آیت څخه دا معلومه سوه چې دحضرت موسٰی. په قوم کې یو جماعت داسي دی کوم چې
همیشه پرحق قائم دی برابره خبره ده که داهغه وي کومو چې دنبي کریم ﷺ دراتلو خبر واوریدی او
مسلمانان سول اوکه دغه دبني اسرائیلو دولسمه قبیله وي کومه چې الله ﷻ دمځکي په یوه خاص حصه
کې آباده کړي ده، چې دنورو رسیدل ورته نسته (والله اعلم)

وَقَطَّعْنٰهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ اَسْبَاطًا اُمَمًا ؕ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰۤى اِذِ اسْتَسْقٰىهُ قَوْمُهٗۤ اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ

اوجلا جلا کړل مونږ دوی، د دولسو (۱۲) نیکونو په اولاد کې نولوی لوی جماعتونه اوحکم ولیږی مونږ موسی
ته کله چې اوبه وغوښتې دده څخه خپل قوم چې ووهه خپله لکړه،

الْحَجَرَ ۚ فَانْۢبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ؕ قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ

په دې کاڼي، نو جاري سوې دهغه څخه دولس (۱۲) چینې، وپیژندی هري قبلې

مَّشْرَبَهُمْ ؕ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْهِمُ الْمَنَّ وَ

خپل ګودر او سایه وکړه مونږ په دوی وریځ او نازل کړل مونږ په دوی من

السَّلْوٰى ؕ كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْۤا

اوسلوی، خوری پاک شیان کوم چې مونږ درکړی دي تاسي ته، او دوی زمونږ هیڅ تاوان ونه کی لیکن

اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۶۰﴾ وَاِذْ قِيْلَ لَهُمُ اسْكُنُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ وَكُلُوْا

خپل نقصان یې وکی، او کله چې حکم وسو دوی ته چې اوسیږئ په دې ښارکې اوخوری

مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا نَّغْفِرْ

ددې څخه دکوم ځای څخه چې غواړئ او وایاست چې مونږ وبخښې اوداخلیږئ، په دروازه کې سجده کوونکی

لَكُمْ خَطِيْٓـٰٔتِكُمْ ؕ سَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۶۱﴾ فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ

نووبه بخښو مونږ ستاسي خطاګانې، البته زیات به ورکړو مونږ نیکي کوونکوته، نو بدل کړو ظالمانو د دوی

قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَظْلِمُونَ ﴿١٦٢﴾

څخه بل لفظ دهغه څخه ماسوا کوم چې دوی ته ویل سوي وو ، نو ولیږل مونږ په دوی عذاب دآسمان څخه په سبب د دوی دشرارت .

لنډتفسیر: او مونږ (یو انعام په بني اسرائیلو دا وکی چې ددوی داصلاح او انتظام دپاره) دوی په دولسو خاندانونو کی تقسیم کړل، ټول موجلا جلا جماعت مقرر کی (او پر هریوه مویو سردار دنګرانی دپاره مقرر کی چې ذکر یې دسورة مائده په دریمه رکوع کی دی ، وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا) او (یو انعام مودا وکی چې) مونږ موسیٰ (علیه السلام) ته حکم وکی کله چې دده قوم دده څخه اوبه وغوښتلی (او ده الله پاک ته دعا وکړه دغه وخت داحکم وسو) چې خپله داهمسا پرفلانی ډبره ووهه (اوبه به ورڅخه راووزی) بس (دوهلو سره فوراً دهغه څخه دوولس چینی (ددی دوولسو خاندانونو په شمیر) راووتلی (لکه چې) هر یوه سړي دخپلو اوبو چینبلو موقع معلومه کړه او (یو انعام مو داوکی چې) مونږ پر دوی باندی وریځ سایه کوونکی کړه او (یوانعام مودا وکی چې دغیبو څخه) ترنجبین اومرزان مو ورته ورسول (او اجازت مو ورته وکی چې) خوری دپاکو شیانو څخه کوم چې مونږ تاسی ته درکړیدی (لیکن دغو خلګوپه دی کی هم یوه خبره دحکم خلاف وکړه) او (په دی سره) دوی زمونږ څه نقصان ونه کی، لیکن خپل نقصان یې کوی (دا دوادی تیهه واقعات دی چې تفصیل یې په سورة بقره کی تیر سوي دی) او (په عاجزی سره) کښته کښته (یعنی ټیټ ټیټ) په دروازه کی داخلیږی، مونږ به ستاسی (تیری) خطاګانی معاف کو (داخو به دټولو دپاره وی او کم خلګ چې نیکی کوی هغوته به زیات پر دی نورهم ورکو، پس بدله کړه دی ظالمانو یوه بله کلمه چې خلاف وه دهغه کلمی دکمی (دویلو) چې دوی ته فرمائش سوی وو نوپه دی وجه مونږ پردوی دآسمان څخه یوآفت راولیږی، په دی وجه چې دوی حکم ضائع کی .

وَسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ إِذْ يَعْدُونَ فِي السَّبْتِ إِذْ تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ

اوپوښتنه وکړه د دوی څخه دحال دهغه کلی چې وو د دریاب په غاړه ، کله چې زیاتی کوی دوی په حکم دهفتی کی کله چې به را تلل دوی ته مهیان په ورځ دهفتی ،

شُرَّعًا وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُونَ لَا تَأْتِيهِمْ كَذَٰلِكَ نَبْلُوهُم بِمَا كَانُوا

داوبوسرته او کومه ورځ چې به هفته نه وه نه به راتلل ، دغسی مونږ د دوی آزمائش وکی خکه

يَفْسُقُونَ ﴿١٦٣﴾ وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا اللَّهُ

چې دوی نافرمانه وه او کله چې وویل په دوی کی یوی ډلی ولی نصیحت کوی ، هغو خلقو ته چالره چې الله غواړی

Maktaba Tul Ishaat.com

مُهْلِكُهُمْ اَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ۭ قَالُوْا مَعْذِرَةً اِلٰى رَبِّكُمْ

چې هلاکړی یایې په عذاب کړی سخت ،دوی وویل دالزام لیری کولو په غرض سره ستاسی درب په مخکې

وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۱۶۴﴾ فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖٓ اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ يَنْهَوْنَ

او ددی دپاره چې شاید که دوی وبیریږي ، بیاچې کله هغو هیرکړل هغه چې دوی ته ښوول سوی وو نونجات ورکی

مونږ هغو ته چې منع به یې کوله.

عَنِ السُّوْٓءِ وَاَخَذْنَا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا بِعَذَابٍۭ بَــِٔيْسٍۭ بِمَا كَانُوْا

دبدی څخه او نیول مونږ گناهگاران په ناکاره عذاب کی په سبب د دوی

يَفْسُقُوْنَ ﴿۱۶۵﴾ فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِـِٕيْنَ ﴿۱۶۶﴾

دنافرمانی،بیاکله چې زیات سوپه هغه کارکی چې منع سوی وو ورڅخه نومونږ حکم وکی چې سی بیزوگان ذلیله

لنډتفسیر: اوته دی (دخپلی زمانی یهودیانو) خلګوته (په طور دخبرداری) ددی کلی (والاوو) کوم چې ددریاب شور په خوا کی آباد وه (او یهودیان پکښی اوسیدل پر کمو چې دهفتی په ورځ ښکار کول منع وو) دهغه وخت دحال پوښتنه ورڅخه وکړه کله چې دوی (یعنی ددغه ځای اوسیدونکو) دهفتی (متعلق کوم حکم وو ددی) په باره کی د (شرعی) حد څخه وتلی وه، کله چې به ددوی دهفتی په ورځ (ددریاب) ماهی (داوبو څخه سرونه رابهر کول او) ښکاره کیدل (ددریاب پرسرسر به) دوی مخ ته راتلل اوکله چې به دهفتی ورځ نه وه نودوی ته به مخامخ نه راتلل (بلکه ددغه ځای څخه به یوځای لیری تلل اووجه ددی داوه چې) مونږ ددوی په دی شان سره (سخت) آزمائش کوی (چې څوك پرحکم ثابت قدم اوسی اوڅوك نه، اودا آزمائش) په دی سبب سره (وو) چې دوی (دمخکی څخه) حکم نه منی (په دی وجه په داسی سخت حکم سره ددوی آزمائش وسو او دحکم منونکو ازمایښت دنرمی، توفیق او تائید الهی سره تړلی وی) او (دهغه وخت دحال پوښتنه ورڅخه وکړه) کله چې په دوی کی یوی ډلی (کمی چې دوی ته نصیحت کوی اوداثر اونفع څخه مایوسه سوی وه داسی خلګوته چې اوس یی لاهم نصیحت کوی اودومره مایوسه سوی هم نه وه لکه چې د: لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ څخه معلومیږی) داسی وویل چې تاسی داسی خلګوته ولی نصیحت کوی دکومو (چې دقبول هیڅ اُمید نسته اوددی څخه معلومیږی چې لکه چې ددوی) چې الله ﷻ بالکل هلاکوونکی دی یا (که هلاك نه سی نو) دوی ته (په بل شان سره) سخته سزا ورکوونکی دی (یعنی دداسي خلګو سره ولی دماغ خوری) دوی جواب ورکی چې ستاسی (اوخپل) رب په مخکی دعذر جوړولو دپاره (دوی ته نصیحت کوو چې بیا دالله ﷻ په مخکی ووایو چې یا الله مونږ خودوی ته ویلی

Maktaba Tul Ishaat.com

وه خپله غاړه موآزاده کړی وه، مګر دوی نه اوریدل نوموړ معذور یو) او (دا رنګه) ددی دپاره چی شاید دوی وبیریږی (اوعمل شروع کی مګر هغوی کله عمل کوی) پس (آخر) کله چی دوی دغه کار پری نښودو کم چی دوی ته دپرینښولو ویل سوی وه (یعنی خبره یی ونه منله) نوموړ هغه خلګ خو (دعذاب څخه محفوظ کړل کومو چی ددې بدی خبری څخه منعه کوله (برابره خبره ده که په مخه منع کول یی کول اوکه دنا اُمیدی دعذر په وجه قرار سوه) اوهغو خلګو کمو چی (په ذکر سوی حکم کی) زیاتی کوی دوی (ددی حکم نه منلو په وجه سره) په یو سخت عذاب کی ونیول یعنی کله چی دوی دکوم کار څخه منع سوی وه په هغه کی ترحد تیر سول (دا خو تفسیر سو دهیرولو دهغه شی چی مَا ذُكِّرُوا بِهِ) نوموړ دوی ته (په قهر سره) وویل چی تاسی ذلیل بیزوګان جوړ سی (داتفسیر سو دعذاب بَئِيسٍ)

ددی ذکر سوو آیتونو داواقعات هم په سورة بقره کی په تفصیل اوتشریح سره تیری سویدی که ضرورت وی، هلته یی وګوری.

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ

او هغه وخت یادکړه کله چی خبرورکړی وو ستا رب چی خامخا به لیږل کیږي په یهودو باندی دقیامت تر ورځی

مَن يَسُومُهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ ۗ إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ الْعِقَابِ ۖ وَ

پوری داسی سړی چی ورکوی دوی ته ناره عذاب بیشکه ستا رب دیر ژر عذاب ورکوونکی دی

إِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٧﴾ وَقَطَّعْنَاهُمْ فِي الْأَرْضِ أُمَمًا ۖ مِّنْهُمُ

او هغه بخښنی والا مهربانه دی ، او پریکړل موږ دوی په ملك کی فرقی فرقی ، ځینی په دوی

الصَّالِحُونَ وَمِنْهُمْ دُونَ ذَٰلِكَ ۖ وَبَلَوْنَاهُم بِالْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ

کی نیکان او ځینی بل شان دی او موږ د دوی آزمائش وکی په نیکیو سره او په بدو سره

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿١٦٨﴾ فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا الْكِتَابَ

ددې دپاره چی دوی واپس سی ، با د دوی څخه وروسته را غلل نا خلفه چی وارثان جوړ سول دکتاب

يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا الْأَدْنَىٰ وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا وَإِن

اخلی اسباب ددې دنیا دژوند او وایی چی موږ ته به معاف کړل سی ، او که

Maktaba Tul Ishaat.com

يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهُ يَأْخُذُوْهُ ؕ اَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ مِّيْثَاقُ

داسی اسباب د دوی مخ ته بیا راسی نواخلی یی ، آیا د دوی څخه په کتاب کی عهد نه وو

الْكِتٰبِ اَنْ لَّا يَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ وَدَرَسُوْا مَا فِيْهِ ؕ وَ

اخستی سوی ، چی نه به وایی په الله باندی ماسوا د ربنتیا ؤ څخه او دوی ویلی دی څه چی په کی لیکلی

الدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿١٦٩﴾

دی ، او دآخرت کور ښه دی دبیریدونکو دپاره آیا تاسی نه پوهیږي ؟

تفسیر: اوهغه وخت یادول پکاردی چی کله ستارب (دبنی اسرائیلو دانبیاوو په معرفت) داخبره وښوله چی هغه به پردی یهودو (ددوی دبی باکیو اونافرمانیو په سزا کې) دقیامت (تر نژدی) پوری داسی (څه ناڅه) سړی خامخا مسلط کوی کوم چی به دوی ته دسختی سزا (دذلت او خواری او محکومیت) تکلیف رسوی (لکه چی یهودیان دموډو څخه دڅه ناڅه حکومت ترحکم لاندی مقهور راروان دی) بیشکه ستا رب واقعی (کله چی وغواړی) ډیر ژر سزا ورکوی او بیشکه هغه واقعی (که دوی واپس سی دګناه اونافرمانی څخه نو) لوی مغفرت اولوی رحمت والا (هم) دی، اومونږ په دنیاکی ددوی جلا جلا ډلی جوړی کړی (لکه چی) ځینی په دوی کی نیك (هم) وه اوځینی په دوی کی بل شان وه (یعنی بدان وه) او مونږ (دا بدان هم دخپلی مهربانی اوتربیت اواصلاح داسبابو جمع کولو څخه هیڅکله مهمل نه دی پاته کړی بلکه همیشه) مو دوی په خوشحالیو (یعنی روغو صحتونو اومالدارو) او بدو حالو (یعنی بیماریو اوفقیرانو کیدو) سره ازمایلی دی چی شاید (په دی سره) واپس سی (ځکه چی کله په خوشحالیو سره رغبت پیدا کیږی اوکله په بدحالیو سره بیره پیدا کیږی، داحال خو ددوی دپخوانیو مشرانو سو) بیا ددغو (تیرو مشرانو) څخه وروسته داسی خلګ ددوی جانشین سول چی کتاب (یعنی تورات خو) یی ددوی څخه حاصل کی (لیکن ددی سره حرام خواره داسی ډی چی دکتاب داحکامو په عوض کی) ددی فانی دنیا مال اومتاع (که حاصل سی نوبی تکلفه هغه) اخلی او (بی باکه خو دومره دی چی دا ګناه سپکه ګنی) وایی چی مونږ ته به خامخا بخښنه وسی (ځکه چی مونږ اَبْنَآءُ اللّٰهِ وَاَحِبَّآءُ اللّٰهِ یوه داسی ګناه زمونږ دمقبولیت په مقابله کی هیڅ شی نه ده) حال دادی چی (په خپلی بی باکی اوسپك ګڼلو دګناه دومره اصرار کوونکی دی چی) که دوی ته (بیا) هم دغسی (ددین خرڅولو په بدله کی) مال اومتاع راسی نو (په دغه شان بی باکی سره بیا) هغه اخلی (اوګناه سپکه ګڼل خوپه خپله کفردی چی دبخښنی احتمال وربانذی هم نسته، نویقین به وربانذی څه وسی، لکه چی مخ ته دا ارشاد دی چی) آیادوی څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی کتاب ددی مضمون وعده نه وه اخیستل سوی چی دخدای طرف ته به بغیر دحقی (او واقعی) خبری ښخه دبلی څه خبری نسبت نه کوی (مطلب دادی چی کله یو آسمانی کتاب منل کیږی نو دهغه معنٰی داوی چی مونږبه دده ټول مضامین منو) او (وعده ورښخه هم څه اجمالی وعده نه ده اخیستل سوی چی احتمال په کښی وی چی شاید داخاص مضمون به دوی ته په کتاب کی معلوم نه وی، بلکه په تفصیل سره ورښخه وعده اخیستل سویده لکه چی) دوی په دی کتاب کی چی څه (لیکلی) وه، دغه یی وویله (هم، چی په دی سره دغه احتمال هم ختم سو خو بیاهم دوی دداسی لویی خبری دعوه کوی چی سره ددی چی گناه سپکه گنی او دمغفرت عقیده لری کم چی په الله ﷻ باندی محض تهمت دی) او (دوی داټوله قصه ددنیا دپاره وکره، باقی) کور دآخرت دهغو خلگو دپاره (تردی دنیا) ښه دی کوم چی (ددی عقیدو اوناکاره کارونو ښخه) پرهیز کوی، بیا ولی (ای یهودو) تاسی (په دی خبره) نه پوهیږی ؟

معلومات اومسئلې: دذکر سوو آیتونو ښخه په مخکی آیتونوکی دحضرت موسٰی . دپاته قصه ترذکر کولو وروسته دده دامت (یهودو) دغلط کارو خلگو مذمت او ددوی دبد انجام بیان راغلی دی، په دی آیتونوکی هم ددوی دسزا اوبد انجام ذکر دی، په اول آیت کی ددوی ددوو سزاگانو بیان دی، کوم چی په دنیا کی په دوی مسلطی سوي دی ، اول داچی ترقیامته پوری به الله ﷻ پردوی یو داسی سړی خامخا مسلط ساتی کم چی دوی ته سخته سزا ورکوی، اوپه ذلت اوخواری کی یی مبتلا ساتی، لکه چی دهغه وخت ښخه ترننه پوری همیشه یهود هرځای مقهور اومغلوب اومحکوم دی، نن صبا پراسرائیلی حکومت باندی ددی شبهه ښکه نسی کیدی چی پوه خلگ په دی پوه دی چی په حقیقت کی نن هم داسرائیلو نه خپل څه قوت سته، نه حکومت، داخو دروس او امریکی داسلام دښمنی نتیجه ده او داسلام خلاف یو سازش دی او اسرائیلی حکومت ددوی یوه چاونی ده چی دوی داسلام خلاف قائمه کړي ده اونن هم اسرائیل دروس اوامریکی محکوم اومقهور دی په کمه ورځ اوکوم وخت چی دا دواړه ددوی دامداد ښخه لاس واخلی نوپه دغه ورځ داسرائیلو وجود دنیا ښخه ختمیدی سی .

په دوهم آیت کی پریهودو دیوی بلی سزا ذکر دی چی په دی دنیاکی دوی ته ورکول سوه، هغه داچی ددوی آبادی ددنیاپه مختلفو حصوکی خپره اوجلا جلا سوه، په یو ځای یا یو ملک کی دوی په جمع نه دی پاته: وَقَطَّعْنٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اُمَمًا ددی هم دغه مطلب دی، قَطَّعْنَا دمصدر، تَقْطِيْعٌ ښخه مشتق دی چی معنٰی یی ده ټکری ټکری کول او: اُمَمٌ د: اُمَّةٌ جمع ده، چی معنٰی یی ده یو جماعت یا یوه فرقه، مطلب دا دی چی مونږ دیهودو قوم ټکری ټکری دمځکی په مختلفو حصوکی خپور کړي دی .

ددی ښخه معلومه سوه چی دیوقوم په یو ځای جمع کیدل او ډیریدل دخدای ﷻ انعام اواحسان دی اوپه مختلفو ځایونوکی ددوی خپریدل دالله ﷻ یوقسم عذاب دی، په مسلمانانو دالله ﷻ دا انعام همیشه راغلی دی او انشاء الله چی تر قیامته پوری به وی چی دوی کوم ځای پاته کیږی نوهلته ددوی یو زبردست اجتماعی قوت پیدا سی، دمدینی طیبی ښخه داسلسله شروع سوه اوپه مشرق اومغرب کی هم

Maktaba Tul Ishaat.com

په دغه اندازې سره په حيرانوونکې طريقې سره خپره سو، مشرق بعيد کې پاکستان، اندونيشيا د اسلام مستقل حکومتونه ددې په نتيجه کې جوړ سول، ددې په مقابله کې ديهودو هميشه داحال پاته سوی دی چې په مختلفو ملکونو کې خپاره دي، مالدار که هرڅومره دي خو اقتدار او اختيار ددوی لاسونو ته ورنغی ديوځو کالو څخه دفلسطين په يوه حصه کې دي ددوی داجتماعي او مصنوعي اقتدار څخه څوك نه دوکه کيږي، جمع کيدل ددوی خو په دې ځای کې په آخره زمانه کې کيدل په کار وو، ځکه چې دربنتيني رسول ﷺ په صحيح احاديثوکې دا خبر ورکول سويدی چې په آخره زمانه کې به حضرت عيسیٰ ؑ را نازليږي، نصارا به ټول مسلمانان سي او ديهودو سره به جهاد وکي، دوی به قتل کي، خدايي مجرم دوارنټ او پوليسو په ذريعه نه نيول کيږي، بلکه هغه داسې تکويني اسباب جمع کي چې مجرم په خپلو پښو په زرګونو کوششونه کوي او خپل قتل ګاه ته ځان را رسوي، دحضرت عيسیٰ . نزول به دشام په ملك دمشق کې وي او ديهودو سره جنګ به هم دغه ځای وَی، چې حضرت عيسیٰ ؑ ته ددوی ختمول آسان وي، قدرت ددنيا په ټول عمرکې خو يهود ددنيا په مختلفو ملکونو کې خپاره وساتل، دمحکوميت او بې قدرې عذاب يې وَر وڅکې او په آخره زمانه کې يې دحضرت عيسیٰ ؑ دآسانۍ دپاره دوی په خپل قتل ګاه کې جمع کړل، په دې وجه داجمع کيدل د دوی ددغه عذاب سره منافي نه دی.

پاته سوه د دوی دموجوده حکومت او دمصنوعي اقتدار قضيه، پس دايوه داسې دوکه ده په کوم چې دنن مهذبې دنيا که څه هم چې رنګداره او خوبصورته پرده خپره کړې ده، ليکن ددنيا دسياست څخه خبردار انسان ديو منټ دپاره هم په دې سره نه سی دوکه کيدی، ځکه چې نن کمی حصی دمځکې ته داسرائيلو حکومت وايي، هغه په حقيقت کې دروس، امريکې او انګلينډ يوه شريکه چاوڼی ده. نور يې هيڅ حقيقت هم نسته، دغه يوازې ددې حکومتونو په امداد سره ژوندې دی او وجود يې يوازې ددوی په تابع فرمان اوسيدو کې دی، ښکاره خبره ده چې دی حقيقي غلامي ته دمجازي حکومت په نوم ورکولو سره ددې قوم څه اقتدار نه سی حاصليدی، قرآن کريم ددوی په باره کې ترقيامته پورې چې دکمی رسوايي او خوارې ذکر کړيدی هغه نن هم پرخپل ځای لکه دمځکې په شان قائمه ده چې ذکر يې ددې څخه په مخکې آيت کې په دې الفاظو سره راغلی دی ، وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَن يَسُومُهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ : يعنې کله چې ستا رب پخه اراده وکړه چې پردی خلکو به يو داسې طاقت ترقيامته پورې مسلط ساتې چې دوی به په ناکاره عذاب سره عذابوی لکه چې اول دحضرت سليمان ؑ دلاسه بيا دبخت نصر په ذريعه او په آخرکې دنبي کريم ﷺ دلاسه او باقي مانده دحضرت فاروق اعظم ؓ په ذريعه دهرځای څخه په ذلت او خوارې سره ددوی وتل مشهور او معلوم دی او په تاريخ کې منل سوې خبره ده، ددې آيت دوهمه جمله دا ده ، مِنْهُمُ الصَّالِحُونَ وَمِنْهُمْ دُونَ ذَٰلِكَ يعنې په دوی کې څه خلګ نيکان دی او څه بل ډول، مراد ورڅخه کافران، فاجران او بدکار خلګ دی، مطلب دادی چې يهود ټول يوشان نه دی څه په کښې نيک هم دی، مراد ددې څخه هغه خلګ دی چې دتورات په زمانه کې دتورات داحکامو پوره پابند وه، نه يې

Maktaba Tul Ishaat.com

ورڅخه نافرماني وكړه اونه يي په كښي تاويل او تحريف وكي او دا هم كيدى سي چي ددى څخه مراد هغه
حضرات وي كوم چي دقرآن دنزول څخه وروسته دده تابع سول اوپه نبي كريم ﷺ يي ايمان راوړى، ددى
په مقابله كي هغه خلك دي كم چي دتورات دآسماني كتاب منلو څخه وروسته دده څخه خلاف ورزي
وكړه يايي ددي په احكامو كي تحريف وكي اوخپل آخرت يي ددنيا دګنده شيانو په بدله كي خرڅ كي.

دآيت په آخركي ارشاد دى ، وَبَلَوْنٰهُمْ بِالْحَسَنٰتِ وَالسَّيِّاٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ يعني مونږ په ښو اوبدو حالاتو سره
ددوى امتحان واخستي چي دوى دخپلو حركتونو څخه راوګرځي دښو حالتونو څخه مراد دوى ته دمال
دولت ذخيرى او دعيش او عشرت سامان وركول دي، او دبدو حالتونو څخه مراد ياخو دذلت اوخوارى
هغه واقعات دي، كم چي په هره زمانه كي په مختلفو صورتونو سره دوى ته وړپيښ سويدى اويا په يو
وخت كي قحطي اوخوارى چي پردوى راغلي وى، هغه مراد وى، پرهر حال مطلب دادى چي دانسان
دفرمانبردارى ياسركښي دامتحان اخيستلو دوي طريقي دي، دواړي استعمال سوى، يوه داچي
انعامات اواحسانات پروسى چي دوى داحسان كوونكي اوانعام وركوونكي شكر ګذار اوفرمان بردار
كيږى اوكه نه ؟ دوهم داچي دوى په مختلفو تكليفونو او پريشانيوكي اخته سي او امتحان يي وسي چي
دوى خپل درب طرف ته رجوع كوى او دخپلو بدو عملونو څخه توبه كوى اوكه نه ؟ ليكن يهودي قوم په
دى دواړو امتحانونو كي ناكام سو .

كله چي الله ﷻ پردوى دنعمت دروازى خلاصي كړى اوپريمانه دولتونه يي وركړل نودوى وويل ، اِنَّ اللهَ
فَقِيْرٌ وَّنَحْنُ اَغْنِيَآءُ : يعني (معاذالله) الله ﷻ فقير دى او مونږ غنيان اوكله چي يي په خوارى اونادارى سره
وازمايل نو وئي ويل يَدُ اللهِ مَغْلُوْلَةٌ يعني (معاذ الله) دالله ﷻ لاس ونه تنګ سول .

فائدى: ددى آيت څخه يوه فائده خودا حاصله سوه چي ديوقوم په يوځاى كي جمع كيدل دالله ﷻ نعمت
دى او د دوى خواره واره كيدل عذاب دى، دوهمه فائده ورڅخه داحاصله سوه چي ددى دنيا راحت
اوتكليف، غم او خوشحالي په حقيقت كي دالله ﷻ دامتحان مختلفي پرچياني دى ، دكومو په ذريعه
چي دده دايمان اوخدا پرستى ازميښت كول كيږى نه ددى ځاى تكليف څه دزياتى ژړا او فرياد شي دى،
اونه يي راحت څه دخوشحاليدو اومغروره كيدو سامان دى پرانجام دفكر كوونكي هوښيار دپاره دا
دواړه شيان دتوجه قابل نه دى .

نه شادى داد ساماني نه غم آورد نقصاني — به بيش همت ماهر چي آمد بود مهماني

يعني نه يي په خوشحالي ماته څه راحت اوآرام حاصل سو اونه يي په غم ماته څه نقصان ورسيدى ددى
دنياغم اوخوشحالي دواړه زما دهمت په مخكي ميلمانه دى .

په دريم آيت كي ارشاد دى ، فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَّرِثُوا الْكِتٰبَ يَاْخُذُوْنَ عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰى وَيَقُوْلُوْنَ سَيُغْفَرُ لَنَا وَاِنْ يَّاْتِهِمْ
عَرَضٌ مِّثْلُهٗ يَاْخُذُوْهُ په دى كي اولني لفظ: خَلَفَ دخلافت مصدر څخه دماضى صيغه ده چي معنى يي دا
قائمقام اوخليفه ګان سوه، اودوهم لفظ: خَلْفُ مصدر دى چي دقائمقام او خليفه په معنى كي

Maktaba Tul Ishaat.com

استعماليږي، دمفرد او جمع دواړو دپاره يوشان ويل كيږي، ليكن ، خَلْفٌ په سكون دلام اكثره دبد خليفه دپاره استعماليږي چې دخپلو مشرانو دطريقې څخه خلاف په بدوكي اخته وي، او، خَلَفٌ په فتحې دلام سره ددې په مقابله كې نيك اوقابل خليفه ته ويل كيږي، كم چې دخپلو مشرانو پرنقش قدم باندې ځي او دهغوى مقصد پوره كوي، ددې لفظ داكثريت استعمال دغه شان دى، كله كله ددې څخه خلاف هم استعمال سوي دى .

وَرِثُوا الْكِتٰبَ : دوراثت څخه مشتق دى، هغه شې چې تر مړو وروسته ژوندو ته حاصليږي دى ته ميراث ياوراثت ويل كيږي، معنى داده چې دتورات كتاب دغو خلكوته دخپلو مشرانو څخه په وراثت كې حاصل سو يعنى دهغوى ترمرګ وروسته ددې خلكو لاس ته ورغى، لفظ د: عَرَضَ دسامان دمعنى دپاره ويل كيږي كوم چې دنقد مال په بدله كې اخيستل كيږي اوكله دمطلق مال په معنى كې هم استعماليږي برابره خبره ده كه نقدوى اوكه سامان، په تفسيرِ مظهرى كې دى چې دلته عامه معنى مراد ده اودلته دمال څخه په لفظ دعرض سره په تعبير كولوكې دې طرف ته اشاره ده چې ددنيا مال كه هرڅومره وي ناپائيدار دى اوعارى دى څكه چې دعرض لفظ دجوهر په مقابله كې دناپائيدار شې دپاره استعماليږي دكم چې خپل څه مستقل وجودنه وي، بلكه دى په خپل وجودكې دبل څه شې تابع وي، په دې وجه دعارضى لفظ دوريځې په معنى كې هم راځي څكه چې ددې وجود قائم پاته كيدونكې نه دى ډير ژر زائله اوختميږي، په قرآن كريم كې: هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ددې معنى دپاره راغلى دى .

په : هٰذَا الْاَدْنٰى كې لفظ د: أَدْنٰى ددُنُوٌ په معنى دنژدې څخه هم مشتق ويل كيږي، په دې صورت كې دادنٰى معنى ډير نژدې به سي، ددې مؤنث : دنيا دى چې معنى يې دنژدې ده، دآخرت په مقابله كې داجهان انسان ته نژدې دى، په دې وجه دى ته أدنٰى اودنيا وايي، اوبل احتمال داهم دى چې دا لفظ د: دَنَاءَةٌ په معنى دذلت څخه مشتق وي، نومعنى يې ذليل اوحقير به سي، دنيا اوددې ټول سامان په مقابله دآخرت كې ذليل اوسپك دى، په دې وجه دى ته دنيا او ادنٰى وايي .

معنى دآيت داده چې داول دور په يهوديانو كې دوه قسمه خلك وه څه نيكان صالحان دتورات دشريعت پابند ، اوڅه نافرمان اوګناهګار وه، مګر ددوى څخه وروسته چې كوم خلك د دوى په نسل كې د ذوى خليفه ګان او قائمقام او دتورات وارثان جوړ سول، دوى داحركت اختيار كې چې دالله ﷻ كتاب يې دسوداګرى مال جوړكى چې دغرض دخاوندانو څخه به يې رشوت اخيستى دالله ﷻ كلام به يې بدلوى او د دوى دمطلب موافق به يې جوړ وى .

وَيَقُوْلُوْنَ سَيُغْفَرُ لَنَا : په دې سربيره يې زيات زړه ورتوب دا وكى چې دايي ويل چې كه څه هم موږ داګناه كړې ده ، مګر داګناه به زموږ وبخښل سي الله ﷻ د دوى پردې غلطې باندې په راتلونكې جمله كې دوى ته داسې خبر وركى چې ، وَاِنْ يَّاْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهٗ يَاْخُذُوْهُ يعنى ددوى حال دادى چې كه داوخت هم دوى ته دكلام بدلولو په بدله كې څه مال حاصليږي نودوى اوس هم مال اخلي اوبدلون كوي، مطلب دادى چې

Maktaba Tul Ishaat.com

دالله ﷻ مغفرت اوبخشش پرځای اوحق دی، مګر دهغو خلګو دپاره کم چی په خپلو کړو پښیمانه وی اوآئنده دهغه دپاته کولو پوخ قصدوکی چی ددی اصطلاحی نوم توبه ده، داخلګ پرخپل جرم دپاته کیدو اوبیا بیا کولو باوجود دبخښنی اُمید کوی حال دادی چی داوخت که دوی ته پیسه حاصلیږی نوپه بدلولوکی کوتاهی نه کوی، په ګناه دپاته کیدو اوبیا بیا کولو باوجود دبخښنی اُمید لرل ځان ته ددوکی ورکولو څخه ماسوا نور هیڅ حقیقت نه لری.

آیا ددی خلګو څخه په تورات کی داوعده نه وه اخیستل سوی چی دوی به ددروغو نسبت الله ﷻ ته نه کوی بغیر دحقی خبری څخه اودی خلګو داوعده په تورات کی ویلی اونورو ته ویلی هم وه، داهول د دوی دانجام فکرنه کول دی، خبره داده چی دآخرت کور دپرهیزګارانو دپاره ډیر ښه لا زواله دولت دی آیا دوی په دومره خبره هم نه پوهیږی.

وَالَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِالْكِتٰبِ وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ

اوکوم خلق چی ښه ونیسی کتاب اوقائم ساتی لمونځ بیشکه مونږ نه ضائع کوو

الْمُصْلِحِينَ ﴿١٧٠﴾ وَإِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُ ظُلَّةٌ وَظَنُّوا

ثواب دنیکی کوونکو ، اوڅه وخت چی لوړ کړو مونږ غر سربیره د دوی په مثل دسائیوان او بیریدل

أَنَّهُ وَاقِعٌ بِهِمْ خُذُوا مَا آتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَاذْكُرُوا مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٧١﴾ ع

چی غورځیدونکی دی په دوی ، مونږ وویل چی ونیسی کوم چی مونږ تاسی ته درکړی دی په طاقت سره اویادکړی څه چی په دی کی دی چی تاسی ځان وساتی.

لنډتفسیر: او (په دوی کی) کوم خلګ چی دکتاب (یعنی تورات) پابندی (چی په دی کی په نبی کریم ﷺ دایمان راوړلو هم حکم دی نو پابندی دا ده چی مسلمانان سوه) او (دعقیدو سره دنیکو عملونو هم پابند وی لکه چی) دلمونځ پابندی کوی مونږ دداسی خلګو چی خپله (دغه ډول) اصلاح کوی ، ثواب به ضائع نه کو او هغه وخت هم دیادولو قابل دی کله چی مونږ غر لوړ کی دچت په شان پر دوی (بنی اسرائیلو) سربیره (په برابری سره) مو زوړندکی او د دوی یقین وسو چی اوس به پر دوی باندی راولویږی (اودغه وخت) مونږ وویل چی (ژر) قبول کی کوم کتاب چی مونږ تاسی ته درکړي دی (یعنی تورات او) په مضبوطی سره (یی قبول کی) اویاد کی کوم حکمونه چی په دی (کتاب) کی دی چی په دی سره اُمیددی تاسی به متقیان جوړسی.

معلومات اومسئلي: په تیرو آیتونوکی دیوی وعدی او میثاق ذکر وو، کم چی په خاص طور سره دبنی اسرائیلو دعالمانو څخه اخیستل سوی وو، چی په دی کی به څه تصرف اوتغیر نه کوی او دالله ﷻ طرف

Maktaba Tul Ishaat.com

نه به بغير دحقى اوصحيح خبرى څخه دبل شي نسبت نه كوي اودا خبره مخكي بيان سوي وه چي دبني اسرائيلو عالمانو وعده ماته كړي وه او دغرض دخاوندانو څخه به يي رشوتونه اخيستل دتورات حكمونه به يي بدلول او ددوي دغرض مطابق به يي دوي ته ښوول اوس دا آيت هم ددي مضمون مكمل كوونكي دي چي دبني اسرآئيلو عالمان ټول داسي نه دي په دوي كي ځيني هغه هم دي چاچي دتورات احكام په مضبوطي سره ونيول اودايمان سره دعمل هم پابند سول اولمونځ يي دپوره آدابو سره قائم كي دداسي خلګو په باره كي فرمايي چي الله ﷻ دخپل اصلاح كوونكو خلګو اجر نه ضائع كوي، نو كمو خلګوچي دايمان اوعمل دواړو فرائض ادا كړل اوخپله اصلاح يي وكړه نو د دوي اجر نه ضائع كيږي.

په دي آيت كي څوفائدي دفكر قابلي دي اول داچي دكتاب څخه مراد په دي كي هغه كتاب دي دكوم ذكر چي مخكي راغلى دي، يعني تورات، اوداهم ممكنه ده چي هريو آسماني كتاب تورات، انجيل اوقرآن ټول ورڅخه مراد وي.

دوهم داچي ددي آيت څخه معلومه سوه چي دالله ﷻ كتاب يوازي دخپل ځان سره په احتياط اوتعظيم ساتلو سره مقصد نه حاصليږي بلكه ددي داحكامو پابندي غواړي، شايد چي دي طرف ته داشاري كولو دپاره په دي آيت كي دكتاب اخيستو ياويلو ذكر نسته، كنه نود: يَأْخُذُوْنَ يا: يَقْرَءُوْنَ لفظ به واى، دلته د: يُمَسِّكُوْنَ لفظ اختيار سو چي معنى يي ده، په مضبوطي سره په پوره شان نيول، يعني ددي احكامو تعميل كول.

دريمه خبره دفكر قابله داده چي دلته دتورات داحكامو دتعميل اوپابندي ذكر وو او دتورات حكمونه په سوونو دي دلته يي يوازي داقامت صلوٰة پرذكر بس والي وكي، په دي كي اشاره ده ددي خبري طرف ته چي دكتاب الله په احكاموكي دټولو څخه زيات اهم اوښه اواعلي لمونځ دي دارنګه داچي دلمونځ پابندي دالله ﷻ دحكمونو دپابندي خاص ښښانه اوعلامه هم ده چي ددي په ذريعه دفرمان بردار او نافرمانه پيژندنه كيدى سي اوددي په پابندي كي دا خاصيت هم دي چي كم سړي دلمانځه پابند سو، ده ته دالله ﷻ دنورو حكمونو پابندي هم آسانه سي اوچا چي دلمانځه پابندي ونه كړه دهغه څخه دنورو احكامو پابندي هم نه سي كيدى لكه چي په صحيح حديث دنبي كريم ﷺ ارشاد دي چي لمونځ ددين ستن ده پردي يي آبادي ولاړه ده چاچي داستنه قائمه كړه نوده دين قائم كي اوچاچي دا ونړوله نوګواكي ده دټول دين آبادي ونړوله، په دي وجه په دي كتاب كي د: وَالَّذِيْنَ يُمَسِّكُوْنَ بِالْكِتٰبِ څخه وروسته يي، وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وفرمايل اودايي وښووله چي په كتاب سره تمسك كوونكي اوددي پابندي كوونكي به يوازي هغه خلګ ګڼل كيږي كم چي لمونځ سره دخپلو آدابو اوشرطونو په پابندي سره ادا كوي اوكم چي په لمانځه كي كوتاهي كوي، هغه هرڅومره وظائف چي وايي يامجاهدي كوي هغه دالله ﷻ په نزد هيڅ نه دي، که څه هم دده څخه كشف او كرامات هم ښكاره كيږي.

ترديځايه پوري دبني اسرائيلو دوعدي ماتولو اوپه تورات كي په تحريف كولو باندي دوي ته دخبر

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکولو بیان وو، ددی څخه وروسته په دوهم آیت کی دبنی اسرائیلو دیوی خاصی وعدی ذکر دی کمه چی ددوی څخه دتورات دحکمونو دپابندی کولو په بیرولو سره ګواکی په زبردستی سره اخیستی وه چی ذکر یی په سورة بقره کی هم راغلی دی.

په دی آیت کی لفظ د، نَتَقۡنَا د: نَتَق څخه مشتق دی چی معنی یی ده راکشول او لوړول، په سورة بقره کی ددی واقعی په ذکر کی لفظ د: رَفَعۡنَا راغلی په دی وجه دلته هم حضرت ابن عباس ؓ د، نَتَقۡنَا تفسیر په. رَفَعۡنَا سره کړي دی.

اولفظ د، ظُلَّةٌ د، ظِلَّةٌ (په معنی دسایی) څخه مشتق دی چی معنی یی ده سائبان، مگر لفظ دسائبان په عرف کی داسی شی ته ویل کیږی دکوم سایه چی پر سر لویږی مګر دی پریو ستنه باندی قائم وی او په دی واقعه کی غر ددوی پرسر باندی معلق سوی وو، دسائبان په صورت کی نه وو، په دی وجه یی داپه حرف دتشبیه سره ذکر کړ، معنی دآیت دا ده چی هغه وخت هم دیادولو قابل دی کله چی مونږ دبنی اسرائیلو پرسرونو باندی غر لوړ زوړند کی نودوی داسی وګڼله چی اوس به پرمونږ غر را ولویږی، په دی حالت کی دوی ته وویل سوه چی خُذُوۡا مَآ اٰتَیۡنٰكُمۡ بِقُوَّةٍ یعنی مضبوط ونیسی دا احکام کوم چی مونږ تاسی ته درکړیدی اویاد کی دتورات هدایتونه چی تاسی دبدو عملونو اوبدو اخلاقو څخه منعه سی.

واقعه دا ده چی کله دبنی اسرائیلو دخواهش اوفرمائش مطابق حضرت موسٰی ؑ دالله ﷻ څخه کتاب اوشریعت وغوښتی اودحکم مطابق په دی سلسله کی دڅلویښتو شپو اعتکاف پرکوهِ طور باندی دکولو څخه وروسته دالله ﷻ داکتاب حاصل سو اوبنی اسرائیلو ته یی واوروی نو په دی کی ډیر داسی احکام راغلل کوم چی د دوی دطبعیت اوآسانیو څخه خلاف وه چی دایی واوریدل نو انکار یی وکی چی زمونږ څخه خو په دی احکامو باندی عمل نه سی کیدی، دغه وخت الله ﷻ جبرائیل امین ؑ ته حکم وکی، هغه ؑ کوه طور په دغه کلی باندی زوړند کی، په کوم کی چی بنی اسرائیل آباد وه، ددی رقبه په تاریخی روایتونو کی دری مربع میله بیان سوي ده، دغه شان دی خلګو مرګ مخامخ ولیدی نوټول پرسجده پریوتل او دتورات دحکمونو دپابندی وعده یی وکړه، لیکن ددی باوجود یی بیاهم بار بار خلاف ورزی کوله.

(په دین کي جبر او اکراه نسته ددی صحیح مطلب او دشبهي جواب)

دلته دا خبره دفکر قابله ده چی دقرآن کریم عام اعلان دی، لَآ اِکۡرَاهَ فِی الدِّیۡنِ یعنی په دین کی جبر او اکراه نسته چی څوك پرحق دین قبلولو باندی مجبوره کړل سی او ددی واقعی څخه ښکاره کیږی چی بنی اسرائیل یی پرقبلولو باندی مجبوره کړل لیکن که لږ فکر پر وسی نوفرق ښکاره دی، چی غیرِ مسلم داسلام پرقبلولو هیڅ ځای او هیڅ کله نه دی مجبوره سوی، لیکن کم سړی چی مسلمان سی او داسلامی وعده میثاق پابند سی ددی څخه وروسته که دی داسلام داحکامو خلاف ورزی وکی نو پرده خامخا جبر کول کیږی او دخلاف ورزی په صورت کی سزا ورکول کیږی، په اسلامی تعزیراتو کی ډیری سزاګانی

Maktaba Tul Ishaat.com

دداسی خلګو دپاره مقرر دی، ددی څخه معلومه سوه چی د، لَآ اِکْرَاهَ فِی الدِّیْنِ تعلق دغیر مسلمو سره دی، چی دوی په جبر سره نه سی مسلمانیدی ، اودبنی اسرائیلوپه دی واقعه کی یی څوک په اسلام قبلولوسره نه دی مجبوره کړی بلکه دی خلګودمسلمانیدوباوجود دتورات دحکمونودپابندی څخه انکار وکی په دی وجه پردوی جبر اواِکراه کول اوپابند کول یی د ، لَآ اِکْرَاهَ فِی الدِّیْنِ څخه خلاف نه دی .

وَاِذْ اَخَذَ رَبُّكَ مِنْۢ بَنِیْٓ اٰدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّیَّتَهُمْ

او کله چی را ویستل ستا رب دانسان دشاګانو څخه د دوی اولاد

وَاَشْهَدَهُمْ عَلٰٓی اَنْفُسِهِمْ ۚ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ؕ قَالُوْا بَلٰی ۛ شَهِدْنَا ۛ

او اقرار یی پروکی د دوی په خپلو ځانونو آیا زه ستاسی رب نه یم ؟ وویی ویل چی هو ! یی مونږ اقرارکوو

اَنْ تَقُوْلُوْا یَوْمَ الْقِیٰمَةِ اِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا غٰفِلِیْنَ ﴿۱۷۲﴾ۙ

چی چیری ونه وایی دقیامت په ورځ چی مونږ خو ددی څخه خبر نه وو ،

اَوْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اَشْرَكَ اٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّیَّةً مِّنْۢ

یا دا ووایاست چی شرک خو را ایستلی وو زمونږ پلار نیکه زمونږ څخه مخکښ اوزمونږخودهغوی اولاد وو

بَعْدِهِمْ ۚ اَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۱۷۳﴾ وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ

د دوی څخه وروسته ، نو آیا ته هلاکوی مونږ په هغه کار چی کړی دی ګمراهانو ، او دغه شان مونږ واضح

الْاٰیٰتِ وَلَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ ﴿۱۷۴﴾

بیانوو آیتونه ددې دپاره چی دوی را وګرځی .

لنډتفسیر: او (دوی ته دهغه وخت واقعه ذکر کړه) کله چی ستا رب (په عالم ارواح کی دحضرت آدم علیه السلام دشا څخه خودده اولاد او) دآدم علیه السلام داولاد دشا څخه ددوی اولاد را وایستل او (دوی ته مو پوهه ورکړه) ددوی څخه مو ددوی متعلق اقرار واخیستی چی آیازه ستاسی رب نه یم، ټولو (په دغه خدای ورکړی عقل سره دمعاملی حقیقت وپیژندی) جواب یی ورکی چی ولی نه یی (واقعی ته زمونږ رب یی، الله ﷻ هلته چی څومره ملائکی اومخلوقات حاضر وه، ټوله شاهدان کړل، دټولو دطرف څخه یی وفرمایل) مونږ ټول (ددی واقعی) شاهدان جوړیږو (اودا اقرار اوشهادت ټول) ددی دپاره وسو چی تاسی خلګ (یعنی

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم چی په پاته کولو دتوحید اواختیارولو دشرك سزا پیدا کی) دقیامت په ورځ داسی ونه وایی چی مونږ خو ددی (توحید) څخه محض ناخبره وو یاداسی ووایی چی (اصل) شرك خو زمونږ مشرانو کړی وو اومونږ خو ددوی څخه وروسته ددوی په نسل کی راغلو (اوعادت خودا دی چی نسل په عقیدو اوخیالاتو کی دخپل اصل تابع وی، په دی وجه مونږ بی خطایو پس زمونږ پر کار باندی مونږته سزا نه راکول کیږی که وی نو لازمیږی چی ددغو مشرانو په خطا به مونږ ونیول سو) نو پس آیا ددغه غلطی لاری (را ایستونکو) والاوو په کار باندی ته مونږپه هلاکت کی اچوی (ددی اقرار اوشاهدی څخه وروسته تاسی عذرنه سی پیش کولی، بیاددی څخه وروسته ددی ټولو څخه وعده واخستل سوه چی داوعدهٔ به تاسی ته دپیغمبرانو په ذریعه سره دریادول کیږی، نوداسی وسوه، لکه چی دلته هم په اول کی د: اِذْ اَخَذَ دترجمی څخه معلومه سوه چی تاسی ته ددی واقعی دذکر کولو حکم وسو) او (په آخرکی هم دا یادګیرنه بیا دوباره کوی چی) مونږ دغه شان (خپل) آیتونه صفا صفا بیانوو (چی دوی ته ددی وعده کول معلوم سی) او ددی دپاره چی (دمعلومیدو څخه وروسته دشرك اونور څخه) دوی واپس سی.

معلومات اومسئلي

(دوعدی دأَلَستُ تفصیل او ددی تحقیق)

په دی آیتونو کی دهغه عظیم الشان عالم ګیر عهد اوپیمان ذکر دی، کوم چی دخالق اومخلوق بنده او معبودپه مینځ کی هغه وخت وسو کله چی مخلوق لادی جهان دکون اوفساد ته راغلی هم نه وو، کوم ته چی وعده دازل یا وعده دأَلَسْتُ وایی.

الله ﷻ دټولو عالمونو خالق اومالك دی، مځکه اوآسمانونه اوددوی په مینځ کی او ددوی څخه ماسوا چی هرڅه دی دده مخلوق اوملك دی، نه پرده باندی دچا قانون چلیږی اونه دده پرڅه کار باندی دچا دڅه سوال کولو حق سته، لیکن ده محض په خپل فضل اوکرم سره دعالم نظام داسی جوړ کړي دی چی دهرشي یوه قاعده اوقانون دی، دقانون موافق دچلیدونکو دپاره هرقسم دهمیشه همیشه راحت او دخلاف ورزی کوونکو دپاره هرقسم عذابِ مقرر دی.

بیاخلاف ورزی کوونکو مجرمانو ته دسزا ورکولو دپاره دده ذاتی احاطه کوونکی علم کافی وو، کوم چی دعالم یوه ذره قدر ورڅخه هم دباندی نه ده اوده ته ښکاره اوپټ ټول عملونه اوکارونه بلکه دزړونو پټی ارادی هم بالکل ښکاره دی، په دی وجه هیڅ ضرورت نه وو چی نګران پر مقررکی عملنامی ولیکل سی عملونه ټول کړل سی اوشاهدان پر ودرول سی، لیکن ده خالص په خپل فضل اوکرم سره داهم وغوښتله چی چاته ترهغه وخته پوری سزا ورنه کی، ترڅو چی لیکل سوی ثبوت او دناقابلِ انکار شهادتونوپه ذریعه دده جرم دده په مخکی داسی ښکاره نه کی چی دوی په خپله هم دخپل ځان دمجرم کیدو اقرار وکی اوخپل ځان دسزا مستحق وګڼی، ددی دپاره یی دهر انسان سره دده دقول اوعمل لیکونکی ملائکی مقرری کړی: مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلاّ لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ یعنی یوه کلمه دانسان دژبی څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

نه وي وتلی چی په هغه دالله ﷻ دطرف څخه نګرانی کوونکی ملایکه مقرره نه وي، اوفرمایی: كُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُسْتَطَرٌ یعنی دانسان هر کوچنی او لوی کار لیکل سویدی، بیابه په محشرکی میزان دعدل ودروی دانسان نیك اوبد عملونه به تلل کیږی که دنیکیو پله درنه سوه نو نجات به پیدا کی اوکه دګناهونو اوجرمونو پله درنه سوه نوپه عذاب کی به ګرفتار سی.

ددی څخه علاوه کله چی داحکم الحاکمین عام دربار په محشرکی قائم سی نو پر هریوه عمل باندی به شاهدان هم اخیستل کیږی، ځینی مجرمان به شاهدان دروغ کی نودده لاسونه اوپښی اونور ټول اندامونه اومځکه اومکان په کم چی یی دغه کارونه کړی وي، شاهدی به کوی، داټول به دالله ﷻ په حکم ګو یا سی صحیح صحیح واقعات به بیان کی، تردی پوری چی مجرمانو ته به دانکار اودروغ کولو هیڅ موقع پاته نه سی دوی به اعتراف اواقرار وکی فَاعْتَرَفُوا بِذَنْبِهِمْ فَسُحْقًا لِأَصْحٰبِ السَّعِيرِ بیادمشفق اومهربانه مالك دعدل او انصاف پرنظام قائمولو بس والی نه دی کړی اوددنیا دحکومتونوپه شان یی یوه قاعده اوقانون دوی لره یوازی نه دی ورکړی بلکه دقانون سره سره یی دتربیت یونظام هم قائم کړي دی.

لکه چی بغیر دتشبیه څخه یومشفق پلار دخپلو کورنیو معاملاتو دصحیح ساتلو دپاره اوخپل أهل اوعیال ته دتهذیب اوادب ښوولو دپاره یو کورنی قانون اوقاعده جوړ وي چی کوم سړی ددی خلاف وکی، هغه ته به سزا حاصله سی، مګر دده شفقت او مهربانی دی ته هم تیاروی چی یو داسی انتظام وکی چی دهغه په سبب په دوی کی څوك دسزا مستحق نه سی بلکه ټول دهغه قاعدی مطابق چلیږی، دکوچنی دپاره که سهار مکتب ته دتلو هدایت اوددی څخه په خلاف کولو باندی یی سزا مقرره کړي ده نو پلار سهار ددی هم فکر کوی چی کوچنی ددی کار دپاره دوخت څخه مخکی تیار سی، درب العٰلمین رحمت پرخپل مخلوق باندی دمور اوپلار درحمت اوشفقت څخه ډیر زیات دی، په دی وجه ده خپل کتاب محضی دقانون او تعزیراتو کتاب نه دی جوړ کړی، بلکه یوه هدایت نامه یی جوړه کړي ده او دهریو قانون سره یی داسی طریقی هم ښوولی دی چی دهغو په ذریعه په قانون باندی عمل آسانیږی.

ددی پالونکی ربوبیتی نظام په تقاضی سره یی خپل انبیاء علیهم السلام راولیږل او ددوی سره یی آسمانی هدایت نامی را ولیږلی، دملایکو یو ډیر لوی تعداد یی دنیکیو طرف ته دهدایت کولو اومدد کولودپاره مقرر کی.

ددی پالونکی تربیت کوونکی ربوبیتی نظام یوه تقاضا داهم وه، چی دهر قوم اوهر فرد دغفلت څخه دبیدارولو او دخپل رب کریم یادولو دپاره مختلف قسم سامان پیداکی، دمځکی او آسمان پرټولو مخلوقاتو او دشپی او ورځی په اَدلون بَدلُون اوپه خپله دانسان دخپل وجود په کائناتوکی دځان یادولو داسی نښانی ایښی دی چی که لږ غوندی دهوش څخه کار واخیستل سی، نوهیڅ وخت به هم خپل مالك هیر نسی: وَفِي الْأَرْضِ اٰيٰتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ، وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ، یعنی په مځکه کی دیقین کوونکو دپاره زمونږ نښانی دی اوپه خپله ستاسی په وجود کی هم، آیا بیا هم تاسی نه وینی، دغه ډول دغافل

Maktaba Tul Ishaat.com

انسان دبیدارولو اوپر نیك عمل باندی دلګولو دپاره یوداسی نظام رب العٰلمین داهم فرمایلی دی چی دافرادو جماعتونو اوقومونو څخه یی په مختلفو اوقاتو اوحالاتوکی دخپلو انبیاوو علیهم السلام په ذریعه عهد او پیمان واخیستی، دوی یی دقانون دپابندی دپاره تیار کړل.

دقرآن مجید په ډیرو آیتونوکی دډیرو وعدو او میثاقونو ذکر سوی دی کم چی دمختلفو جماعتونو څخه په مختلفو وختونو اوحالاتو کی اخیستل سوي دی دانبیاء علیهم السلام څخه یی وعده واخیسته چی څه دوی ته دالله ﷻ دطرف څخه درسالت پیغام حاصل سی، دوی به یی خپلو خپلو امتونوته خامخا رسوی په دی کی به دوی دچا څخه دڅه خطری اوملامتی اوسپکاوی فکر نه کوی، دالله ﷻ دی پاك جماعت دخپلی دی وعدی پوره حق ادا کی درسالت دپیغام په رسولوکی یی خپل هرڅه قربان کړل، دغه شان دهر رسول اونبی دامت څخه ددی وعده واخیستل سوه چی دوی به دخپلو خپلو انبیاوو تابعداری کوی، بیا په خاصو خاصو مهمو معاملوکی په خصوصیت سره ددی په پوره کولوکی دخپلو ټولو طاقتونو صرف کولو وعده واخیستل سوه کومه چی ځینو پوره کړه او ځینو نه.

په دی وعدوکی یوه مهمه وعده هغه ده کومه چی دټولو انبیاوو علیهم السلام څخه زمونږ دنبی کریم ﷺ په باره کی اخیستل سوي ده چی ټول انبیاء علیهم السلام به دنبی امی خاتم الانبیاء ﷺ تابعداری کوی اوکله چی موقع پیداکی نومدد به یی کوی چی ذکریی په دی آیت کی دی، وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَآ اٰتَيْتُكُمْ مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ دا ټولی وعدی او میثاقونه دالله ﷻ دکامل رحمت مظاهر دی او مقصد ددی دا دی چی انسان کوم چی ډیر هیروونکی دی اکثره ورڅخه خپل فرائض هیر سی نو دوی یی بار بار ددی وعدو په ذریعه هوښیار کړل، چی دوی ددی په خلاف ورزی کولو سره په هلاکت ونه لویږی.

دبیعت اخیستو حقیقت: په انبیاء علیهم السلام او د دوی په نائبینو عالمانو او مشائخوکی هم کوم چی دبیعت اخیستو دستور دی، دغه هم ددی الٰهی سنتو تابعداری ده، په خپله نبی کریم ﷺ په ډیرو معاملوکی داصحابو کرامو رضی الله عنهم څخه بیعت اخیستی دی چی په دی کی دبیعتِ رضوان ذکر په قرآن شریف کی په دی الفاظو سره موجود دی، لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ، یعنی الله ﷻ راضی سو دهغو خلګو څخه چاچی تریوی خاصی درختی لاندی ستا پرلاسونو باندی بیعت وکی، دهجرت څخه مخکی دمدینی دانصارو بیعتِ عقبه هم ددی قسم وعدو څخه دی، دډیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه یی داېمان اوعمل صالح پرپابندی باندی بیعت واخیستی په صوفیاءِ کرامو کی چی کم بیعت رواج دی هغه هم دایمان اوعمل صالح پرپابندی او دګناهونو څخه په ځان ساتلو باندی وعده ده اوهم دغه دالهی سنتو او دانبیاوو علیهم السلام دسنتو تابعداری ده، په دی وجه په دی کی خاص برکتونه دی چی انسان ته وربانډی دګناهونو څخه دمحفوظ کیدو او دشرعی حکمونو په ځای کولو همت اوتوفیق زیاتیږی.

دبیعت دحقیقت معلومیدو څخه دا هم واضحه سوه چی لکه څنګه چی په عامو جاهلانوکی دبیعت رواج دی چی دیوبزرګ په لاس کی لاس کښیږدی اودغه دنجات دپاره کافی ګڼی، دا سراسر جهالت دی،

Maktaba Tul Ishaat.com

بیعت دیوی وعدی نوم دی ددی فائده هله حاصلیږی کله چی داوعده عملاً پوره سی کنه دتاوان خطره ده
دسورۃِ اعراف په تیرو آیتونو کی دهغو وعدو ذکر وو کم چی دبنی اسرائیلو څخه دتورات دحکمونو
دپابندی په سلسله کی اخیستل سوی وی اوپه دی ذکر سوو آیتونو کی دهغه عالم گیری وعدی بیان
دی، کمه چی دحضرت آدم . دټول اولاد څخه دی، دنیاته تر راتلو هم مخکی په ازل کی اخیستل سوی وه،
کمه چی په عامو ژبو کی دوعدی اَلَسْتُ په نوم سره مشهوره ده .

وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِىٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ الآية .

په دی آیتونو کی دآدم ﷺ داولاد دپاره لفظ دذُرِّيَّة استعمال سوي دی ، امام راغب اصفهانی رحمه الله
فرمایی چی دالفظ په اصل کی دلفظ ، ذَرَءَ څخه مشتق دی چی معنی یی ده پیدا کول، په قرآن کریم کی
څو ځایه دا لفظ ددی معنی دپاره استعمال سوي دی ، وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا اونور، په دی وجه دذریت
لفظی ترجمه مخلوق سوه، په دی لفظ سره اشاره وسوه چی داوعده دهغو ټولو خلکو دپاره عامه
اوشامله وه کم چی دحضرت آدم . په واسطه سره په دی دنیا کی پیدا کول کیږی .

دحدیثو په روایتونو کی دازل ددی وعدی څه زیات تفصیلات راغلی دی، امام مالك، ابوداود ، ترمذی
اوامام احمد په روایت دمسلم بن یسار ﷺ نقل کړي دی چی څو کسانو دحضرت فاروق اعظم ﷺ څخه
ددی آیت دمطلب پوښتنه وکړه نو دوی وفرمایل چی دنبی کریم ﷺ څخه ددی آیت دمطلب پوښتنه سوی
وه نو دهغوی څخه چی ماکوم جواب اوریدلی دی هغه دا دی چی .

الله ﷻ اول حضرت آدم ﷺ پیدا کی بیایی خپل لاس دقدرت دهغه پر شا راکش کی نو دهغه دشا څخه
چی کوم نیك انسان پیدا کیدونکی وه هغه ورڅخه راووتل نو ویی فرمایل چی دوی ما دجنت دپاره پیدا
کړي دی او دوی به دجنت کارکوی ، بیایی دوهم وار دهغه پرشا خپل دقدرت لاس راتیر کی، نوځومره
بدکرداره گناهگاره انسانان چی دده په نسل کی پیدا کیدونکی وه، هغه ورڅخه راووتل اوویی فرمایل
چی دوی ماددوزخ دپاره پیدا کړیدی اودوی به دوزخ ته دتللو کارونه کوی په اصحابو ﷺ کی یوسړی
عرض وکی یارسول الله ﷺ کله چی دمخکی څخه جنتیان او دوزخیان مقرر سوی دی، نوبیا دعمل کولو
مقصد څه دی ؟ ده ﷺ وفرمایل ، چی کله الله ﷻ څوك دجنت دپاره پیداکړی وی نوهغه به عمل هم
دجنتیانو کوی ، تردی چی دده خاتمه به هم پریو داسی کار باندی وسی چی هغه به دجنتیانو کار وی او
کله چی الله ﷻ څوك د دوزخ دپاره پیدا کړی وی نودی لگیا هم د دوزخیانو په کارکی وی تردی چی
خاتمه به یی هم پر یو داسی کار وسی چی د دوزخیانو کار به کوی .

مطلب دا دی چی کله انسان ته معلومه نه ده چی دی په کومه طبقه کی داخل دی نوده لره خپل طاقتونه او
اختیارات په داسی کارونو کی خرڅ کول په کار دی ، کوم چی دجنتیانو کار دی او هم دا اُمید ساتل په
کار دی چی دی به د دوی څخه وی .

او دامام احمد په روایت کی دا مضمون په روایت دحضرت ابودرداء ﷺ نقل دی په دی کی دومره نوره

Maktaba Tul Ishaat.com

زیاته ده چی اول وارکوم خلک دحضرت آدم ﷺ دشا څخه راووتل هغه دسپین رنګ وه، کومو ته چی یی جنتیان وویل او د دوهم وار راوتونکی دتور رنګ وه، کومو ته چی یی دوږخیان وویل.
او په ترمذی کی دا مضمون په روایت دابوهریره ﷺ نقل دی ، په دی کی دا هم دی چی دغه دول تر قیامته پوری پیدا کیدونکی دحضرت آدم ﷺ اولاد کوم چی په ظهور کنبی راغلل ، په دوی کی دهریوه په تندی یو خاص قسم بریښنا وه.
اوس دفکر طلب دا ده چی په دی احادیثو کی خو دذریة دحضرت آدم ﷺ دشا څخه درا ایستلو ذکر دی ، تطبیق ددی دا دی چی دحضرت آدم ﷺ دشا څخه هغه خلک را وایستل سول کوم چی بلا واسطی دحضرت آدم ﷺ څخه پیدا کیدونکی وه، بیا یی دهغه ددغه نسل دشاګانو څخه نور او دغه شان په کوم ترتیب چی په دی دنیا کی دآدم ﷺ اولاد پیدا کیدونکی وو، په دغه ترتیب سره یی د دوی دشاګانو څخه را وایستل ، په حدیث کی دټولو دحضرت آدم ﷺ دشا څخه درا ایستلو مطلب هم دا دی چی دحضرت آدم ﷺ څخه دده اولاد بیا ددغه اولاده څخه د دوی اولاد په ترتیب سره پیدا سو، په قرآن کریم کی دحضرت آدم ﷺ دټول اولاد څخه دخپل رب والی په اقرار اخیستوکی دی طرف ته هم اشاره لیدل کیږی چی دغه اولاد دآدم ﷺ کوم چی دغه وخت دشاګانو څخه را وایستل سو، یوازی ارواحان نه وه ، بلکه دروح او جسم یو داسی مرکب ووکوم چی دجسم د ډیرو بارکو اجزاؤ څخه جوړسوی وو، ځکه چی دربوبیت اوتربیت ضرورت زیات ترهغه ځای وی کوم ځای چی جسم او روح مرکب وی اوکوم ته چی دیر حال څخه بل حال ته ترقی کول وی، دروحونو دا شان نه دی، دوی خو داول څخه ترآخره پوری پریو حال باندی وی، ددی څخه علاوه په ذکر سوو احادیثو کی کوم چی د دوی رنګونه سپین او تور ذکر دی یایی دتندیو بریښیدل ذکر دی ، ددی څخه همدا معلومیږی چی یوازی روحونه بی له جسمونو څخه نه وه، کنی دروح خوڅه رنګ نه وی، دا صفتونه دجسم سره تعلق لری .
او په دی کی څه تعجب نه سی کیدی چی ترقیامته پوری پیدا کیدونکی انسانان په یوځای کی ځنګه ځای سول، ځکه چی دحضرت ابودرداء ﷺ په ذکرسوی حدیث کی ددی وضاحت هم دی چی دغه وخت کوم اولاد چی دحضرت آدم ﷺ دشا څخه را وایستل سو، هغوی په خپل دی ډول اوډال سره نه وه په کوم کی چی به دوی دنیا ته راتلل ، بلکه دسرکی میږیو په شکل کی وه، او په دی سائنسی دور کی خو یو پوه انسان ته هم په دی کی څه تعجب اواشکال نه سی راتلی چی دومره غټ بدن والا انسان دمیږی په شکل کی ځنګه ښکاره سو نن خو ټول نظام شمسی دایټم په یوه ذره کی دځای کولو تجربی کیږی ، او دفلم په ذریعه تر لویو لا لوی شی دیوی نقطی په مقدار کی اینبوول کیږی، نوالله ﷻ ته داڅه مشکله ده چی ددغه وعدی اومیثاق په وخت کی یی ټولو انسانانو ته دکوچنیو کوچنیو میږیو په شکلونو کی وجودونه ورکړی وی .
دوعدی اَلَستُ متعلق څو سوالونه او جوابونه : ددی عهدِ ازل متعلق څوشیان نور قابل دی ، اول داچی

داوعده اواقرار کوم ځای اوڅه وخت واخیستل سو؟ دوهم داچي کله اقرارپه داسي حال کي واخیستل سو چي دحضرت آدم ﷵ څخه ماسوا بل انسان پیدا سوی هم نه وو، نودوی ته داعقل اوعلم څنګه حاصل سو چي دوی الله ﷻ وپیژني اودده درب والي اقرار وکی ځکه چي درب والي اقرار هغه کولی سی چا چي شان دتربیت لیدلی وی اودا لیدل په دي دنیا کي ترپیدا کیدو وروسته کیدی سی، اولنی سوال چي داوعده اواقرار کوم ځای اوپه څه وخت کي واخیستل سو ؟ ددی متعلق دقرآن دتفسیر کوونکی حضرت عبد الله بن عباس ﷺ څخه په قوی سند سره چي کم روایت امام احمد، نسائي اوحاکم نقل کړي دی ، هغه دادی چي دا وعده او اقرار هغه وخت واخیستل سوکله چي حضرت آدم ﷵ دجنت څخه مځکی ته راکښته سو ، اومقام ددی اقرار وادی نعمان دی کوم چي دمیدانِ عرفات په نوم سره معلوم او مشهور دی (تفسیر مظهری)

پاته سو دوهم سوال چي دا نوی مخلوق کوم ته چي لا تراوسه عنصری وجود هم پوره نه وو ورکول سوی هغه څه پوهیږي چي زمونږ څوك پیدا کوونکی او پروردګار سته، په داسي حالت کي دده څخه پوښتنه کول هم یوقسم ناقابل برداشت تکلیف دی اوهغه به جواب څه ورکول سی ؟ ددی جواب دا دی چي خالق کائنات چاچي په خپل کامل قدرت سره ټول انسانان دیوی ذری په صورت کي پیدا کړل، دهغه دپاره داڅه مشکله ده چي هغه ورلره دغه وخت شعور، فهم اوعقل هم په قدر دضرورت ورکړی وی اودا حقیقت دی چي الله ﷻ په دی مختصر غوندی وجود کي دانسان ټول قوتونه جمعه کړی وه چي په دی کي ترټولو لوی قوت دعقل او شعور دی .

دانسان په خپل وجودکي دالله ﷻ دلویي اوقدر هغه بی شمیره نښاني دی، په کومو چي لږ غوندی فکر کوونکی دالله ﷻ دپیژندو څخه غافل نه سی پاته کیدی ، دقرآن کریم ارشاد دی ، وَفِي الْاَرْضِ اٰيٰتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ ، وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ. یعنی په مځکه کي دالله ﷻ نښاني دی ، دپوهیدونکو دپاره اوپه خپله ستاسی په بدن کي هم ، آیا بیا هم تاسی نه ګوری؟

دلته یو دریم سوال داهم پیدا کیدی سی ، چي دا ازلي عهد اوپیمان که هر څومره یقیني اوصحیح هم وی مګرکم ازکم داخو ټولوته معلومه ده چي دی دنیاته تر راتلو وروسته داوعده هیچاته هم یاده نه ده نوبیا دوعدي فائده څه سوه ؟ ددی جواب دادی چي اول خوپه دی نوع دانسان کي ډیر داسی افراد هم سته کومو چي دا اقرار کړي دی چي مونږته دغه وعده په پوره شان سره یاده ده حضرت ذو النون مصری فرمایی چي داوعده اومیثاق ماته داسی یاددی لکه چي ګواکي داوخت یی زه اورم او ځینو خو تر دی پوری ویلی دی چي ماته دا هم یاد دی چي څه وخت دا اقرار واخیستل سو، زما خوا اوشاته کوم کوم خلګ موجود وه، البته دانبکاره خبره ده چي داسی افراد دشاذ اونادر په درجه کي دی، په دی وجه دعامو خلګو دپوهیدو خبره داده چي ډیر کارونه داسی وی چي خاص اثر لري برابره خبره ده که هغه کار چاته یادوی اوکه نه، بلکه خبریی ورته هم نه وی، مګر هغه خپل اثر کوی دا وعده او اقرار هم داسی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

چی په اصل کی دی اقرار دهر انسان په زړه کی دحق دمعرفت تخم کرلی دی ، کوم چی په کښی پرورش پیدا کی برابره خبره ده که دی ورڅخه خبر وی اوکه نه، اودا ددی تخم ګلونه اومیوه ده چی دهر انسان په فطرت کی دالله ﷻ محبت اوعظمت پیدا کیږي، برابره خبره ده که ددی ظهور دبت پرستی او مخلوق پرستی په غلطه پیرایه کی وی هغه څو بدنصیبه خلګ دکمو فطرت چی مسخه سی ددوی دعقل ذائقه خرابه سی اوخوږ اوتریخ نه پیژني، ددوی څخه علاوه ددنیا په اربونو انسانان دالله ﷻ دخیال اوعظمت څخه خالي نه دی، بیا برابره خبره ده که په مادی خواهشاتوکی اخته سی یاپه یوه ګمراه چاپیریال کی ولویږي اوهیر یې کی .

دنبی کریم ﷺ ارشاد دی : كُلُّ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ اوپه ځینو روایتونو کی دی: عَلٰی هٰذِهِ الْمِلَّةِ (بخاري اومسلم) یعنی هریو پیدا کیدونکی پردین فطرت یعنی اسلام باندی پیدا کیږي، بیا دده مور اوپلار دی په نورو خیالاتوکی اخته کوي .

او دصحیح مسلم په یوحدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ فرمایی چی ماخپل بندګان حنیف یعنی دیوه خدای منونکی پیدا کړي دی ، بیاشیطانان په دوی پسی سول او دوی یې دصحیح لاری څخه بوتلل .

دغه ډول خاص اثر لرونکی ډیرعملونه اوخبری دی چی په دی دنیا کی هم دانبیاوو علیهم السلام په تعلیم سره جاری دی، نو دهغو اثر دادی چی که څوك په دی باندی پوهیږي اوکه نه، اویادوی یې اوکه نه، خوهغوی په هرحال خپل کار اوخپل اثر ښکاره کوي .

مثلاً دکوچنی پیدا کیدوپه وخت کی دده په راسته غوږکی آذان اوپه چپه غوږکی داقامت اوتکبیر کول کوم سنت چی هرمسلمان پیژني ، او الحمد لله چی په ټوله عام اسلام کی جاری دی که څه هم چی کوچنی نه دکلموپه معنٰی پوهیږي اونه ترلوئیدو وروسته دده یادوی چی زمایه غوږونو کی څه الفاظ ویل سوی وه، ددی حکمت خو دادی چی ددی په ذریعه دغه ازلی اقرار ته قوت رسوی دغوږونو پر لاره باندی په زړه کی دایمان تخم کرل کیږي اوددی دا اثر لیدل کیږي چی دلوئیدو څخه وروسته که څه هم دی داسلام او اسلامیاتو څخه هرڅومره لیری وی، مګر خپل ځان ته مسلمان وایی او دمسلمانانو دفهرست څخه وتل انتهایی بد ګڼي، دغه شان کم خلګ چی دقرآن په ژبه باندی نه پوهیږي، دوی ته هم دقرآن دتلاوت حکم شاید پر دی حکمت باندی مبنی دی چی ددی څخه هم کم از کم دا پټه فائده ضرور رسیږي چی دانسان په زړه کی دایمان نور تازه کیږي .

په دی وجه دآیت په آخرکی ارشاد فرمایی اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا غٰفِلِيْنَ یعنی دا اقرار مونږ ځکه اخیستی دی چی تاسی دقیامت په ورځ داسی ونه وایاست چی مونږخو ددی څخه ناخبره وو، اشاره ددی خبری طرف ته ده چی ددی ازلی سوال اوجواب څخه ستاسی په زړونو کی دایمان بنیاد داسی قائم سی چی که لږ غوندی دغوراوفکرڅخه کاروا خلی نو دالله ﷻ درب والی داقرارڅخه بغیربه څه چاره پاته نه سی

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی څخه وروسته په دوهم آیت کی ارشاد فرمایی: اَوْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اَشْرَكَ اٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنْۢ بَعْدِهِمْ اَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُوْنَ : یعنی دا اقرار مونږ په دی وجه هم اخیستی دی چی بیا تاسی دقیامت په ورځ داعذر ونه کی چی شرك اوبت پرستی خو په اصل کی زمونږ مشرانو اختیار کړی وه اومونږ خو ددوی څخه وروسته ددوی اولاد وو، کره او کوته، صحیح اوغلط راته نه وو معلوم په دی وجه مشرانو چی څه کول مونږ هم هغه اختیار کړل نو دمشرانو دجرم سزا مونږته ولی راکول کیږی، الله ﷻ وښووله چی دنورو دکار سزا تاسی ته نه ده درکول سوی بلکه په خپله ستاسی دغفلت سزا ده، ځکه چی دی ازلی اقرارپه انسان کی دیو داسی عقل او بصیرت تخم غورزولی وو، چی که دلږ غور اوفکر څخه یی کار اخیستی وی نو په دومره خبره باندی ځان پوهول هیڅ مشکل نه وو چی دا دډبری بت کم چی مونږ په خپلو لاسو تراشلی دی یا اور او اوبه او درخته یایو انسان په دی کی هیڅ شی هم داسی نه دی چی هغه یو انسان خپل پیدا کوونکی او پروردګار یاحاجت روا او مشکل کشا وګنی، په دریم آیت کی ددی مضمون بیان داسی راغلی دی ، وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ یعنی مونږ دغه ډول خپلی نښانی ښکاره بیانوو چی خلګ دغفلت اوعناد څخه راوګرځی، مراد دادی چی که لږهم دالله ﷻ په آیتونو کی فکر وکی نو ددی وعدی اومیثاق طرف ته به راوګرځی کوم چی په ازل کی سوی وه ، یعنی دالله ﷻ درب والی اقرار به وکی او ددی په نتیجه کی به دهغه عبادت لازم وګنی ، او فرمان برداری به اختیار کی.

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ الَّذِيْٓ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿۱۷۵﴾

او واوروه دوی ته حال دهغه سړی چالره چی ورکړی وو مونږ خپل آیتونه بیاهغه پاته کړل هغه بیاورپسی سو شیطان نو سو دی دګمراهانو څخه ،

وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا وَلٰكِنَّهٗٓ اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ وَاتَّبَعَ

او که مونږ غوښتلی نو پورته کړی به وای ورباندی مونږ دده مرتبه لیکن وغورځیدی مځکی ته او وریسی

هَوٰىهُ ۚ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الْكَلْبِ ۚ اِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ اَوْ

سو دخپلو خواهشونو نو دده حال داسی دی لکه سپی ، په ده کی بار اچوی نو هم هو کیږي ،

تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ

او که پریږدی یی نو هم هو کیږي، دا مثال دی دهغه قوم چا چی دروا غجن کړل زمونږ آیتونه ،

فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۱۷۶﴾ سَآءَ مَثَلًا الْقَوْمُ

نو بیان کره دا حال ددې دپاره چې دوی فکر وکړی ، بد مثال دی دهغو خلقو

Maktaba Tul Ishaat.com

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاَنْفُسَهُمْ كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ (۱۷۷)

چې دروغجن يې کړل زمونږ آيتونه او دوی خپل نقصان کوی

لنډتفسير: اودی خلګو ته (دعبرت دپاره) دهغه سړی حال واوروه چې ده ته مونږ خپل آيتونه ورکړل (يعنې علم داحکامو مو ورکی) بيا هغه ددی (آيتونو) څخه بالکل ووتی بيا شيطان په هغه پسی ولګيدی ورروسته (هغه په ګمراه خلګوکی داخل سو اوکه مونږ غوښتلی نوده ته به مو ددی آيتونو (په مقتضا دعمل کولو) په برکت مرتبه لوړه کړی وای (يعنی که ده په دغه آيتونو عمل کولی چې ددی سره قضا او قدر تړل سوی معلوم کاردی نودده دقبوليت مرتبه به زياته سوی وای) ليکن دی ددنيا طرف ته مائل سو او (ددی ميلان په سبب) دخپل نفسانی خواهش پيروی يې شروع کړه (اوپه آيتونو او حکمونو يې عمل پرينښووی) پس (دآيتونو په پرينښوولو چې کمه پريشانی اوهميشه ذلت دده نصيب سوپه دی اعتبار سره) دده حالت دسپی په شان سو چې که ته پرده حمله کوی (او وهی او باسی يې) نوهم هو کيږی اوکه دی (دده پرحالت) پريږدی نوهم هو کيږی (په هيڅ حالت کی هم ده ته راحت نسته، دغه شان دغه سړی په ذلت کی خو دسپی په شان سو اوپه پريشانی کی دسپی په دی صفت کی شريک سو، پس څه رنګه چې ددی سړی حالت سو) داحالت (په عام طور) دهغه خلګو دی کم چې زمونږ آيتونه (چې پرتوحيد اورسالت دلالت کوی) دروغ کړل (چې دحق تر واضح کيدو ورروسته محض دخواهشاتو په سبب حق پريږدی) پس ته داحال بيان کړه، شايد دغه خلګ (دا واوری) څه سوچ وکی (په حقيقت کی) دهغو خلګو حالت هم ناکاره دی کم چې زمونږ آيتونه (چې پرتوحيد اورسالت دلالت کوی) دروغ کوی او (په دی دروغ کولو سره) دوی خپل نقصان کوی.

معلومات اومسئلې: په دی ذکر سوو آيتونوکی دبنی اسرائيلو يوه عبرتناکه قصه ذکرده چې په دی کی دبنی اسرآئيلو ديولوی عالم اومشهور پيشوا دعلم اومعرفت په اعلی معيار کيدو څخه ورروسته ناځاپه دګمراه او مردود کيدو واقعه داسبابو سره بيان سوي ده ، په دی کی ډير عبرتونه دی.

اومناسبت ددی واقعی دتيرو آيتونو سره دا دی چې په دغو کی دوعدی او ميثاق ذکر وو کوم چې په ازل کی الله ﷻ دټولو انسانانو څخه اوبياپه خاصو خاصو حالاتو کی دخاصو خاصو قومونو يهودو اونصاراوو اونورو څخه اخيستل سوی وو، اوپه ذکر سوو آيتونوکی ددی هم ذکر راغلی وو چې په وعده کوونکو کی ډير خلګ په دی وعده قائم پاته نسول، لکه يهودو چې دحضرت خاتم الانبياء ﷺ دی دنيا ته تر تشريف راوړلو مخکی دده ﷺ دراتلو انتظار کوی اودده ﷺ صفتونه به يې خلګو ته بيانول اوتصديق به يې ورلره کوی مګرکله چې نبی کريم ﷺ مبعوث سونو ددنيا دذليلو غرضونوپه خاطر پرده ﷺ دايمان راوړو اوتابعداری کولو څخه راوګرځيده .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دبني اسرآئيلو ديو عالم او پيشوا دگمراهي عبرتناکه واقعه)

په دې آيتونو کې نبي کريم ﷺ ته حکم کيږي چې ته خپل قوم ته دا واقعه واوره په کومه کې چې دبني اسرآئيلو ديو لوی عالم او مشهور پيشوا داسې حال چې دعروج څخه وروسته دزوال او دهدايت څخه وروسته يې دګمراهۍ ذکر دی چې دلوی علم او پوره معرفت حاصليدو باوجود کله چې نفساني غرضونه پرده غالب سول نو دغه ټول علم او معرفت او مقبوليت يې ختم سو او ذليل او خوار سو.

په قرآن کې ددې سړي نوم او تشخص ذکر نه دی، دتفسير داما مانو اصحابو ﷺ او تابعينو رحمهم الله څخه په دې باره کې مختلف روايتونه ذکر دي، په دې کې زيات مشهور او دجمهورو په نزد داعتماد قابل روايت هغه دی کوم چې حضرت ابن مردويه دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه نقل کړي دی چې ددې سړي نوم بلعم بن باعوراء دی، دی دشام دملك بيت المقدس ته نژدې دکنعان اوسيدونکی وو، او په يو روايت کې دي چې دبني اسرائيلو څخه وو، دالله ﷻ دځينو کتابونو علم ده ته حاصل وو، په قرآن کريم کې چې يې کوم دده په صفت کې، اَلَّذِيْٓ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فرمايلي دي ددې څخه ددې علم طرف ته اشاره ده، کله چې دفرعون دغرقيدو او مصر فتح کيدو څخه وروسته حضرت موسیٰ ﷺ او بني اسرائيلو ته دجبارينو سره دجهاد کولو حکم حاصل سو او جبارينو وليدل چې حضرت موسیٰ ﷺ دټولو بني اسرائيلو دلښکر سره را ورسيدی او ددوی دمقابل فرعون او دده دقوم غرقيدل دوی ته دمخکې څخه معلوم سوی وه، نو د دوی سره فکر سو او جمعه سول بلعم بن باعوراء ته راغلل او ويې ويل چې حضرت موسیٰ ﷺ سخت سړی دی او دده سره ډير لښکر دی او هغه ددې دپاره راغلی دی چې موږ دخپل ملك څخه وباسي ته الله ﷻ ته داسې سوال وکه چې دی زموږ دمقابلې څخه واپس کې، وجه ذاوه چې بلعم بن باعوراء ته اسم اعظم معلوم وو، ده چې به ددې په ذريعه کومه دعا کوله هغه به قبليده.

بلعم وويل چې افسوس دی تاسې دا څه خبره کوی، هغه دالله ﷻ نبي دی دهغه سره دالله ﷻ ملائکې دي، زه دهغه خلاف ښرا څنګه کولی سم حال دا دی چې دهغه دالله ﷻ سره چې کوم مقام دی هغه هم زه پيژنم که زه داسې دعا وکړم نو زما دين او دنيا به دواړه تباه سي، دی خلګو ډير منت او زاري وکړی، نو بلعم وويل چې ښه ده، زه به دخپل رب څخه په دې معامله کې معلومه کړم چې دداسې دعا کولو اجازت سته او که نه؟ ده دخپل معمول مطابق دمعلومولو دپاره استخاره يا بل عمل وکی، په خوب کې ده ته وښوول سوه چې هيڅکله داسې ونه کې ده قوم ته وويل چې زه دښيرو کولو څخه منعه سوم، دغه وخت دجبارينو قوم بلعم ته يو لويه ډالۍ وړاندې کړه چې په حقيقت کې رشوت وو، ده ډالۍ قبوله کړه نو بيا دقوم خلګ په ده پسې سول چې ته خامخا دا کار وکه او بې حده زاري او منت يې وکی او په يو روايت کې دي چې ده ته ښځې مشوره ورکړه چې دا رشوت قبول کړه او ددوی دا کار وکړه، دغه وخت دښځې رضا کولو او دمال محبت دی مخ ته کړی وو، ده دحضرت موسیٰ ﷺ او دبني اسرائيلو خلاف ښرا شروع کړه.

دغه وخت دالله ﷻ دقدرت عجيبه کرشمه دا ښکاره سوه چې ده به کومه ښرا دحضرت موسیٰ ﷺ او دده

Maktaba Tul Ishaat.com

دقوم دپاره کوله ، دده دژبې څخه به هغه الفاظ دښرا په خپله دخپل قوم جبارينو دپاره وتل هغوی چيغې کړې چې ته خو مونږ ته ښرا کوې ، بلعم جواب ورکې چې دا زما داختيار څخه بهر خبره ده زما ژبه ددې څخه په خلاف کولو قادره نه ده، نتيجه دا سوه چې دده پرقوم باندې هم تباهي نازله سوه اوبلعم ته داسزا حاصله سوه چې ژبه يې راووتله، پرسينه وځړيده اوس ده خپل قوم ته وويل چې زما خودنيا اوآخرت دواړه تباه سول اوس زما دعا نه چليږي ، ليکن زه تاسې ته يو تدبير ښيم دکوم په ذريعه چې تاسې دحضرت موسىٰ ﷺ پرقوم باندې غالب راتلی سې، هغه دادې چې تاسې خپلې ښائسته انجونې سنګار کې، دبنی اسرائيلو لښکرته يې ور ولېږئ اودوی ته داتاکيد وکې چې دبنی اسرائيلو خلک ددوی سره څه چې کوی کوی دې، دوی دې نه منعه کوی، داخلګ مسافران دی اوډير وخت سوی وو چې دخپلو کورونو څخه راوتلی دی، په دې تدبير سره ممکنه ده چې دغه خلګ په حرام کاري کې اخته سی او دالله ﷻ په نزد حرام کاری ډير مبغوض شی دی، په کوم قوم کې چې داکاروسی پر هغوی خامخا قهر اوعذاب نازليږي، فتح مند کيدی نسی، دبلعم په دې شيطانی چال دوی پوه سول اوپه دې يې عمل وکې، دبنی اسرائيلو يو لوی سړی په دې چال کې ګير سو، حضرت موسىٰ ﷺ دی منعه کی مګر دی منعه نه سو او په دې شيطانی چال کې اخته سو .

ددې نتيجه دا سوه چې پربنی اسرائيلو يو سخت قسم طاعون خپور سو چې په هغه باندې په يوه ورځ کې اويا زره ۷۰۰۰۰ اسرائيليان مړه سول، تردې چې کم سړی دا کار کړی وو، دغه جوړه بنی اسرآئيلو قتل کړه او بر سړی عام يې وځړول چې ټول خلک ورڅخه عبرت واخلی اوتوبه وباسی ، نو دغه وخت داطاعون ختم سو .

دقرآن کريم په ذکر سوو آيتونوکی ددې په حقله فرمايي ، فَانسَلَخَ مِنْهَا يعنی مونږ خپل آيتونه او ددې علم اومعرفت دې سړی ته ورکړی وو، ليکن دی ددی څخه ووتی ، دانسلاخ لفظ په اصل کی دحيوان دڅرمنی څخه او دمار دخپل پوست څخه وتلوته وايي، دلته يې دآيتونو علم ته دجامې ياڅرمنې سره تشبيه ورکړه اودايي وښوله چې داسړی دعلم اومعرفت څخه بالکل جلا سو ، فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ چې شيطان په ده پسې سو، مطلب دا دی چې ترڅو پوری دآيتونو علم او دالله ﷻ ذکر دده سره وو، دشيطان واك په ده نه چليدی ، خوکله چې ورڅخه دغه ولاړل نو شيطان پرده حمله پيدا کړه، فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ يعنی بيادې دګمراهانو څخه سو، مطلب دا دی چې دشيطان په حمله کې دراتلو نتيجه داسوه چې دی په ګمراهانو کی شامل سو، په دوهم آيت کی ارشاد فرمايي: وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا وَلٰكِنَّهٗ اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ يعنی که مونږ غوښتلی نو ددې آيتونو په ذريعه به مونږ دده مرتبه لوړه کړې وای، ليکن هغه ددنيا طرف ته مائله سو اوپه نفسانی خواهشاتو پسی سو، لفظ د: اَخْلَدَ د اِخْلَادْ څخه مشتق دی چې معنیٰ يې ده ديوشي طرف ته ميلان، يايو ځای لازم نيول، اود اَرْض اصل معنیٰ مځکه ده، ددنيا څومره شيان چې دی هغه په خپله يامځکه دی يا دمځکی سره متعلق کور، جايداد، مځکې باغونه اونور دې يا

Maktaba Tul Ishaat.com

دمخکې څخه پیدا کیدونکې په کرورنو شیان دي پرکم چې دانسان دژوند اوعیش دار اومدار دي، په دې وجه لفظ د أرض یې وویل اوپوره دنیا یې ورڅخه مراد اخیستی ده. په دې آیت کې دې طرف ته اشاره وسوه چې دالله ﷻ دآیتونو احترام ونه کې او ددنیا ذلیل خواهشونه دالله ﷻ پرآیتونو مقدم وګڼي نو دهغه دپاره دا علم یو تاوان جوړیږي، ددې تاوان په آیت کې ذکر داسې سویدي: فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث دلفظ لهث اصل معنی داده چې ژبه راوباسي اوپه سختی سره ساه اخلي، هریو زنده سرپه خپل ژوندکې دې ته محتاجه دې چې ددننه څخه ګرمه او زهرناکه هوا دباندې را وباسي او ددباندې څخه تازه هوا دحلق او پوزې پرلاره باندې دننه بوزي پردي دجاندار دژوند مدار دي اوالله ﷻ دهر جاندار دپاره دا مهم کار داسې آسان کړیدې چې بې ارادې آوبې محنته دده ددننه هوا دباندې او ددباندې هوا دننه دپوزې په سوریو یعنې په سپیږمو ددننه او دباندې کیږي، په دې کې نه دده ته څه زور لګولو حاجت وي اونه دڅه اختیاري عمل ضرورت وي، په قدرتي اوفطري طور باندې داکار مسلسل خود به خوده کیږي.

په جاندارو کې یوازې سپې داسې حیوان دې چې دخپلې ساه په دننه او دباندې کولوکې ورته دژبې را ایستلو زور لګولو او محنت کولو ضرورت وي او دنورو حیوانانو داحال یوازې په هغه وخت وي کله چې په دوی یو حمله وسي یاسترې سي یاڅه اتفاقي محنت په دوی ولویږي.

قرآن کریم ددې سړي مثال دسپي سره ورکې، وجه دا ده چې دخدای ﷻ دحکم په خلاف ورزې ده ته دا سزا حاصله سوې وه ، چې ژبه یې دخلې څخه راوتلې پرسینه زوړنده سوې وه اودې به دسپي په شان هوکیدې ، برابره خبره ده که څوك په ده حمله کوي اوکه یې نه کوي خودې برابر هوکیږي.

ددې څخه وروسته فرمایي ، ذَٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا یعنې دا مثال دې دهغو خلګو کومو چې زمونږ آیتونه دروغ کړل ، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایي چې مراد ددې څخه مکې والا دي چې دا خواهشونه یې همیشه کول چې دوې ته څوك لار ښوونکې اوهدایت کوونکې راسې کوم چې دوې ته دالله ﷻ داطاعت طرف ته را وبولي او داطاعت صحیح طریقې ورته وښیي بیاچې کله دغه لار ښوونکې راغې او دداسې ښکاره نښانو سره راغې چې په رښتیاوالې اوحقوالې کې یې یوه ذره قدر دشك او شبهې ځای نه وو، نودوی په دروغ کولو او دالله ﷻ دآیتونو څخه په مخ اړولو شروع سول، اوځینې تفسیر لیکونکې حضرات فرمایي چې ددې څخه مراد بنی اسرائیل دې کوم چې دنبي کریم ﷺ دبعثت څخه مخکې دده ﷺ علامې او خاصیتونه به یې په تورات کې ویل اوخلګو ته به یې ښوول او دده ﷺ دتشریف راوړلو انتظاریې کوې ، مګرکله چې ده ﷺ تشریف راوړې نوتر ټولو زیات مخالفت اودښمنې یې دغو خلګو وکړه او دتورات دحکمونو څخه داسې صفا ووتل لکه بلعم بن باعوراء چې وتلې وو.

دآیت په آخرکې فرمایي ، فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ یعنې ته دهغه سړي قصه دې خلګوته واوروه شاید چې دوی څه سوچ وکې اوددې واقعې څخه عبرت واخلي، په دریم آیت کې فرمایي چې دالله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

آیتونه ددروغ کوونکو ناکاره حال دی اودا خلک پرخپلو ځانونو باندی ظلم کوی اودبل چا هیڅ نسی
خرابولی په ذکر سوو آیتونو کی اوپه دی کی په بیان سوی واقعه کی دفکر دخاوندانو دپاره ډیری فائدی
اوعبرتونه اونصیحتونه دی.
اول داچی چاته په خپل علم اوفضل اوپرهیزګاری اوعبادت باندی نازنه نه دی کول په کار. په حالاتو
بدلیدو او ورانیدوکی څه وخت نه لګیږی لکه دبلعم بن باعوراء حشر چی سو، دطاعت اوعبادت سره
سره پردی باندی دالله ﷻ شکر په کار دی او داستقامت دعا کول، اوپه الله ﷻ توکل په کار دی.
دوهم دا چی دداسی موقعو او مقدمو څخه هم انسان ته په کار دی چی ځان وساتی کوم ځای چی د دی
دخپل دین دخرابی بیره وی خاص کر دمال، اهل اوعیال محبت ددی په بد انجام کی همیشه ترنظر لاندی
ساتل په کار دی.
دریم دا چی دفسادیانو اوګمراهانو خلګو سره تعلق او ددوی ډالی یا دعوت اونور قبلولو څخه هم ځان
ساتل په کار دی، بلعم په دی بلاء کی د دوی دډالی دقبلولو په سبب اخته سو.
څلورم دا چی بی حیایی اوحرام کاری دپوره قوم دپاره دتباهی اوبربادی سامان وی، کوم قوم چی ځان
دبلاګانو اوآفتونو څخه محفوظ ساتل غواړی، پردوی لازم دی چی خپل قوم دبی حیایی دکارونو څخه
په پوره اهتمام سره منعه کړی کنی دخدای ﷻ عذاب ته دعوت ورکول دی.
پنځم دا چی دالله ﷻ دآیتونو خلاف ورزی په خپله یوعذاب دی اوددی په وجه سره شیطان پرده غالب
راسی په زرګونو خرابیو کی یی اخته کوی، په دی وجه کوم سری ته چی الله ﷻ علم دین ورکړی وی،
هغه ته په کار دی چی قدر یی وکی او دعمل داصلاح دفکر څخه هیڅ وخت فارغ نه وی.

مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِيْ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۷۸﴾

څوک چی الله په لاری کړی هغه لار پیداکوی اوڅوک چی هغه ګمراه کړی نو هغوی دی په تاوان کی،

وَلَقَدْ ذَرَاْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيْرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۖ لَهُمْ قُلُوْبٌ

اومونږ پیدا کړی دی د دوږخ دپاره ډیر، پیریان او انسانان د دوی زړونه دی

لَّا يَفْقَهُوْنَ بِهَا ۫ وَلَهُمْ اَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُوْنَ بِهَا ۫ وَلَهُمْ اٰذَانٌ

چی پوهه په کی نسته، او د دوی سترګی دی چی لیدل په کی نسته، او د دوی غوږونه دی

لَّا يَسْمَعُوْنَ بِهَا ۭ اُولٰٓئِكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ ۭ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿۱۷۹﴾

چی اوری ورځخه، دغه داسی دی لکه څاروی بلکه د دوی څخه هم زیات بی لاری دی دغه دی غافلان

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسیر: چاته الله ﷻ هدایت کوي، پس هدایت پیدا کوونکی هغه وي او څوك چې ګمراه کې نو داسې خلګ (همیشه) په تاوان کې لویږي، (بیا ددوی څخه دهدایت اُمید کول اوپه هدایت نه منونکو سره یې غمجن کیدل بیکاره دي) او (کله چې دغه خلګ دخپلو پیدا کړو قوتونو څخه کار اخلي، نوهدایت به دکمه پیداکي، پس ددوی په نصیب کې خوهم دغه دوږخ دی، لکه چې) مونږ داسې ډیر پیریان او انسانان په دوږخ (کې داوسیدو) دپاره پیداکړي دي دکوموچې (په نوم سره خو) زړونه (دي مګر) داسې دي په کومو سره چې (حقه خبره) نه پیژني (چې ګرسره اراده یې هم نه کوي) او دکوموچې (په نوم سره خو) سترګې (دي مګر) داسې دي په کومو سره چې (ددلیل نیولوپه طور سره څه شي ته) نه ګوري او دکومو چې (په نامه خو) غوږونه (دي مګر) داسې دي په کومو سره چې (حقه خبره) نه اوري (غرض) داخلګ (دآخرت څخه په بې فکره کیدو کې) دحیوانانو په شان دي بلکه (په دې حیثیت سره چې حیوان دآخرت په فکر مکلف نه دی نو ددوی نه متوجه کیدل بده خبره نه ده، اودوی ته خوددي حکم دی، بیاهم بې توجهي کوي پس په دې اعتبار سره) دا خلګ (ددې حیوانانو څخه هم) زیات بې لارې دي (ځکه چې) داخلګ (سره دتوجه ورکولو هم دآخرت څخه) غافله دي (په خلاف دحیوانانو څخه لکه چې لوړ بیان سو)

معلومات اومسئلې: داولنی آیت مضمون دادی چې چاته الله ﷻ دصحیح لارې هدایت وکې چې هم هدایت پیداکوونکی دی اوڅوك چې ګمراه کې، نو هم هغه په خساره اونقصان کې پریوتونکی دی.

دامضمون دقرآن مجید په ډیرو آیتونوکې بار بار راغلی دی، په کوموکې چې ښوول سوي دي چې دهدایت اوګمراهي اوهر خیر اوشر ښه اوبد خالق یوازې الله ﷻ دی، دانسان مخ ته یې ښه اوبده صحیح اوغلطي دواړې لارې ښوولې دي، او دوی ته یې یوخاص قسم اختیار ورکړي دی، دی دغه خپل اختیار که په ښه اوصحیح لارې کې خرڅ کې نودثواب اوجنت مستحق کیږي اوکه په بده اوغلطه لاره کې یې خرڅ کوي نو عذاب او جهنم یې ځای کیږي دلته دا خبره هم دفکر قابله ده چې هدایت پیدا کوونکی یې په صیغه دمفرد ذکر کړل اوګمراهي یې په صیغه دجمع ذکرکړه، په دې کې اشاره ددې خبرې طرف ته ده چې دهدایت لار یوازې یوحق دین دی کوم چې دحضرت آدم ﵇ څخه شروع سوي ده، ترخاتم الانبیاء ﷺ پورې دټولو انبیاوو ﷺ لار پاته سوي ده، اصول دټولو مشترك او یودي، په دې وجه دحق پیروي کوونکی برابره خبره ده که په کومه زمانه کې او دکوم نبي په امت کې او دکوم دین او مذهب سره چې تعلق لري، هغه ټول یو دي.

او دګمراهي په زرګونو لارې جلا جلا دي، په دې وجه ګمراهان یې په صیغه دجمع، فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ وفرمایل، دارنګه په دې آیت کې داخبره دفکر کولو ده چې دګمراهي اختیارونکو خو یې دسزا اوبد انجام ذکر وکې چې دغه خلګ په تاوان کې پریوتونکي دي، ددې په مقابله کې یې دهدایت موندونکو دڅه خاص جزاء ذکر ونه کې، بلکه یوازې پردومره ویناییې بس والي وکې چې دغه هدایت موندونکی دی، په دې کې اشاره ده، ددې خبرې طرف ته چې هدایت داسې عظیم الشان نعمت دی کم

Maktaba Tul Ishaat.com

چی ددنیا اودین پرتولو نعمتونو او راحتونو باندې حاوي دی، په دنیا کی پاك ژوند او په آخرت کی دجنت لا زواله نعمتونه ټول دهدایت سره تړل سویدی، په دی لحاظ سره هدایت په خپله یوغټ نعمت او ډیر لوی انعام دی تر کم وروسته چی ددی نعمتونو دشمیرلو ضرورت نسته، کوم چی دهدایت په صله کی حاصلیږی.

ددی مثال داسی دی چی لکه دلوی حکومت اوسلطنت مالك چاته دا ووایی چی ته زمامقرب یی، مونږ به ستا خبره منواواور نو هریو په دی پوهیږی چی ددی څخه لویه وعده یامرتبه یادولت دده دپاره نه سی کیدی دغه شان کله چی الله ﷻ چاته دهدایت یافته خطاب ورکی نوده ته ددین اودنیا ټول نعمتونه حاصل سول، په دی وجه تیرو بزرگانو فرمایلی دی چی دالله ﷻ ذکر او عبادت په خپله خپله جزاء اودالله ﷻ عظیم الشان بخشش دی کوم سړی چی دالله ﷻ په ذکر کی مشغول وی، دی دغه وخت دالله ﷻ نقد انعام پیداکی، آخرت اوجنت خو بل نعمت دی، په دی سره دقرآن کریم ددی آیت مطلب هم معلومیږی، په کوم کی چی فرمایی، جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً چی یو شی ته یی جزاء هم وفرمایله اوعطاء هم، حال دا دی چی دواړه شیان جلا جلا دی، جزاء دیوعمل معاوضه وی اوعطاء بلا معاوضی وی، په دی کی یی دجزاء اوعطاء حقیقت وښووی چی کوم شی تاسی جزاء او دعمل معاوضه ګڼی، هغه هم په حقیقت کی زمونږ عطاء او انعام دی څکه چی دکوم عمل چی دابدله حاصله سوه، دغه عمل په خپله زمونږ انعام وو.

په دوهم آیت کی هم ددی مضمون زیات وضاحت دی چی هدایت اوګمراهی دواړه دالله ﷻ دقدرت په قبضه کی دی، چاته چی هدایت حاصل سو دده څخه ټول کارونه دهدایت مناسب کیږی.

خرد چون دفتر تلقین کشاید زمن آن در وجود آید که باید

عقل چی کله دتلقین کتاب خلاص کی نومعلومه سی چی هم هغه زما څخه صادریږی کم چی په تقدیر کی لیکلی وی او دالله ﷻ رضا وی.

اوخوك چی په ګمراهی کی پریوتل دهغه ټول کار هم بیا په دی انداز سره وی. په دی وجه فرمایی.

وَلَقَدْ ذَرَاْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيْرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ لَهُمْ قُلُوْبٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ بِهَا وَلَهُمْ اَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُوْنَ بِهَا وَلَهُمْ اٰذَانٌ لَّا يَسْمَعُوْنَ بِهَا.

یعنی مونږ دجهنم دپاره پیدا کړي دی ډیر پیریان اوبنی آدم دکمو چی نښانی دادی چی د دوی سره، دپوهیدو دپاره زړونه او دلیدو دپاره سترګی او داوریدو دپاره غوږونه هرڅه موجود دی، کوم چی دوی صحیح استعمال کی نو نیکه لار به پیداکی اونفع اونقصان په وپیژنی، لیکن ددوی دا حال دی چی نه په زړونو سره په خبره پوهیږی اونه په سترګو سره دلیدو شیان وینی اونه په غوږونو سره په خبره پوهیږی اونه په سترګو سره دلیدو شیان وینی اونه په غوږونو سره داوریدو شیان اوری.

په دی کی یی دا وښوولی چی که څه هم تقدیرِ الٰهی یو پټ راز دی دکم چی هیچاته په دی دنیاکی علم نسی کیدی، لیکن په نښانو سره ددی څه اندازه لګول کیږی، ددوږخیانو نښانه دا ده چی دوی دالله ﷻ ورکړی قوتونه په صحیح کارونو کی نه لګوی، دصحیح علم اومعرفت دپاره چی الله ﷻ کوم عقل

Maktaba Tul Ishaat.com

سترګی او غوږونه ورکړی دی دا دوی په بی ځایه شیانوکی لګوی او اصل مقصد دکوم چی په ذریعه چی همیشه او لا زواله راحت او دولت حاصلیږی ، دهغه طرف ته خیال نه کوی .

(په آیت کې دکافرانو څخه دپوهیدو، لیدو، اوریدو، نفي کومه چې دظاهر څخه خلاف ده، په کوم حقیقت باندې مبني ده ؟)

په دی آیت کی یی ددی خلګو څخه پوهه اولیدل او اوریدل ټول شیان بالکل نفی کړي دی چی دا د دوی نسته، نه دوی په څه پوهیږی، نه څه شی وینی، نه څه خبره اوری، حال دا دی چی واقعه او مشاهده دا ده چی دا خلګ خوڅه پاګلان اولیونی نه دی چی په څه نه پوهیږی اونه ړانده دی چی څه نه وینی اونه کانه دی چی نه څه اوری بلکه داسی لیدل کیږی چی ددنیاپه کارونوکی خودوی داکثرو خلګو څخه زیات چالاک او هوښیار په نظر راځی .

مګرخبره دا ده چی الله ﷻ دخپلو مخلوقاتو څخه په هریو مخلوق کی دده دضرورت مطابق او دده دژوند دمقصد مناسب عقل اوپوهه ایښی ده ، کوم شیانو ته چی مونږ بی عقله، بی حسه اوبی شعوره وایو اوګڼو یی ، په حقیقت کی هغه هم حس او ادراک، عقل او شعور لری، البته داشیان په دوی کی په هغه مقدار سره دی په کم مقدار چی ددوی دبدن دمقصد پوره کولو دپاره کافی وی، ترټولو کم عقل شعور اوحس په جماداتو یعنی خاوره او ډبره اونورو کی دی، کم چی نه غتیږی اونه دخپل ځای څخه څه حرکت، وتل او تلل کولی سی، دغه دومره لږ دی چی په دوی کی دژوند ښنانی معلومول هم ډیر ګران دی، ددوی څخه څه لږ زیات په نباتاتو کی دی، دکمو دوجود په مقصد کی چی غټیدل اوترقی کول داخل دی، ددی په مناسب یی عقل او ادراک دوی لره ورکی، ددی څخه وروسته دحیواناتو نمبر دی دکومو دوجود په مقصدکی چی لوئیدل هم داخل دی ، ګرځیدل اوتلل هم ، اوپه ګرځیدو اوتللو سره خپل خوراک حاصلول هم، او دضرر رسوونکو اوهلاکوونکو شیانو څخه ځان ساتل اوتښتیدل هم اونسل پیداکول هم، په دی وجه دوی ته چی کوم عقل او شعور حاصل سوی دی ، هغه دنورو څخه زیات دی، مګر دومره دی په کوم سره چی دوی دخپل خوراک چنباک، اوبیده کیدو او ویښیدو انتظام وکی او ددښمن څخه ځان وساتی، دټولو څخه وروسته دانسان نمبر دی دکم دوجود مقصد چی ددی ټولو شیانو څخه اول دادی چی خپل پیدا کوونکی او پالونکی وپیژنی، دهغه دخوښی مطابق وچلیږی دهغه دناخوښه شیانو څخه ځان وساتی دټول مخلوقات پرحقیقتونو باندی نظر واچوی اوکار ورڅخه واخلی او دهرشی نتیجی اوانجام وپیژنی کره کوټه اوښه او بد وپیژنی، دبدو څخه ځان وساتی او ښه اختیار کی، ددی انسانی نوع دا خصوصیت دی چی ده ته دترقی کولو لوی میدان حاصل دی کوم چی نورو نوعو ته حاصل نه دی، دی چی کله ترقی کوی نو دملائکو دصف څخه هم مخ ته مقام پیدا کی، دده دا خصوصیت دی چی دده په عملونو اوکارونو باندی جزا اوسزا ده په دی وجه ده ته عقل اوشعور دټولو قسمونو دمخلوقاتو څخه زیات حاصل دی، چی دی دعامو حیواناتو دسطح څخه لوړ سی دخپل وجود

Maktaba Tul Ishaat.com

دمقصد په مناسبو کارونو کی مشغول سی، دالله ﷻ ورکړی عقل اوشعور اودده ورکړی نظر او اوریدل، دهغه په کارکی ولګوی.

کله چی دا حقیقت معلوم سو نو دیو انسان پوهه، لیدل او اوریدل دنورو حیواناتو دپوهی، لیدلو او اوریدلو څخه مختلف په کار دی، که چیری ده هم یوازی په دغو شیانو کی دخپل عقل، لیدو اواوریدو طاقتونه ولګول، په کوموکی چی نور حیوانان یی لګوی، اوکوم کار چی دانسان دپاره خاص وو، چی دهر شی په نتیجه او انجام باندی نظر وساتی او دبدو څخه محفوظ سی اونیکی اختیار کی، دی ته یی خیال ونه کی نوده ته سره دعقله بی عقله، دلیدونکی ړوند، او داوریدونکی کوڼ ویل کیږی، په دی وجه قرآن کریم بل ځای داسی خلګوته، صُمٌّ بُکۡمٌ عُمۡیٌ یعنی کانه، ګونګیان او ړانده ویلی دی.

په دی کی ددی بیان نسته چی دی دخپل خوراك چیښاك، اوسیدو، بیده کیدو او ویښیدو ضرورتونه نه پیژنی یادا چی ددی متعلق شیان وینی، او اوری نه، بلکه په خپله قرآن کریم ددی خلګوپه باره کی یوځای فرمایی، یَعۡلَمُوۡنَ ظَاهِرًا مِّنَ الۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَا وَهُمۡ عَنِ الۡاٰخِرَةِ هُمۡ غٰفِلُوۡنَ یعنی داخلګ ددنیا ظاهری ژوند ښه پیژنی، مګر دآخرت څخه غافله اوجاهله دی او دفرعون اوهامان او د دوی دقومونو په باره کی فرمایی وَکَانُوۡا مُسۡتَبۡصِرِیۡنَ یعنی داخلګ ډیر روشن خیاله وه، مګر چی کله ددوی پوهه اونظر یوازی دومره وو، لکه څومره چی دعامو حیواناتو وی، چی دخپل تن او بدن خدمت وکړی، دروح دخدمت اودده دراحت متعلق یی نه سوچ کوی اونه یی لیدل، په دی وجه که دوی په دی معاشیاتو او عمرانیاتو (یعنی دژوند تیرولو او اوسیدو په کارونو) کی څومره هم ترقی وکی سپوږمۍ او مریخ ته ورسیږی اوپه مصنوعی سیارو سره ددنیا فضا ډکه کی، لیکن داټول خدمت یوازی دتن بدن دډانچی او دګیډی دی، تردی مخ ته هیڅ نه دی، کوم چی روح لره ددائمی آرام او راحت سامان جوړ سی، په دی وجه ورته قرآن کریم ړوند اوکوڼ وایی اوپه دی آیت کی یی ددوی پوهه لیدل او اوریدل نیستی کړي دی، مطلب دا دی چی دی خلګو ته کمه پوهه چی په کار وه هغه پوهه یی ونه سوه، کم لیدل چی ورلره په کار وه، هغه یی ونه کړل، کم اوریدل چی ورلره په کار وه، هغه یی وانه وریدل اوپه څه چی دوی پوه سوه اوڅه چی دوی واوریدل اوڅه چی دوی ولیدل هغه دعامو حیواناتو دسطح شیان وه، په کموکی چی خر، آس، غویی، بزه ټول دغه شریك دی.

په دی وجه دذکر سوی آیت په آخرکی ددی خلګوپه باره کی فرمایی، اُولٰٓئِكَ کَالۡاَنۡعَامِ چی داخلګ دحیواناتو په شان دی، چی یوازی دبدن دموجوده ډانچی په خدمت کی لګیدلی دی، ډوډۍ اوګیډه ددوی آخری معراج دی، بیا فرمایی: بَلۡ هُمۡ اَضَلُّ بلکه داخلګ دحیواناتو اوځناورو څخه هم زیات بی وقوفه دی، وجه دا ده چی حیوان دشرعی احکامو مکلف نه دی دهغوی دپاره جزاء اوسزاء نسته ددوی مقصد که یوازی دموجوده ژوند اوددی ډانچی تر برابرولو پوری وی نوصحیح ده، مګر انسان خوبه دخپلو عملونو حساب اوکتاب ورکوی اوجزا اوسزا به پیداکی، په دی دده داکارونه خپل مقصد ګڼل

ترحیوانانو زیاته بی وقوفی ده، ددی څخه علاوه حیوان دخپل مالك پوره خدمت کوی اونافرمانه انسان دخپل رب اومالك په خدمت کی کوتاهی کوی، په دی وجه دی ترحیوانانو زیات بی وقوفه اوغافله مقرر سو څکه فرمایی ، اُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ .

وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا

او دالله ﷻ دپاره دی ټول غوره نومونه ، نو هغه بلئ په هغو سره او پرېږدی

الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اَسْمَآئِهٖ ۭ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝۱۸۰

هغه چی کوم کوږوالی را وباسی دهغه په نومونو کی دوی به بدله پیدا کی دخپلو کړو

لنډتفسیر: اوښه ښه (مخصوص) نومونه الله پاك لره دی (خاص) پس په دی نومونو سره الله یادوی او (نورو ته دا نومونه مه ورکوی بلکه) دداسی خلکو سره تعلق هم مه ساتی کوم چی په دی (ذکر سوو) نومونوکی کوږوالی راولی (داسی چی غیروته هم ددغو نومونو نسبت کوی لکه چی دغه خلک دوی ته په عقیده سره معبود اواله وایی) دی خلکوته به ددوی دکړو ضرور سزا حاصله سی.

معلومات اومسئلې: په تیرو آیتونو کی ددوږخیانو ذکر وو، کومو چی خپل عقل او حواس دالله ﷻ دنښانو په لیدو، اوریدو او پوهیدو کی خرځ نه کړل او دآخرت دهمیشه او لازواله ژوند دپاره یی څه سامان جمع نه کی، چی نتیجه یی داسوه چی دوی خدای ورکړی عقل اوبصیرت ضائع کی ، دالله ﷻ دذکر په ذریعه دخپل نفس داصلاح اوکامیابی څخه غافله سول او دحیوانانو څخه زیات په گمراهی اوبی وقوفی کی اخته سول.

په ذکر سوی آیت کی ددی مرض علاج او د درد دوا ښوول سوي ده چی هغه دالله ﷻ څخه دعا او دالله ﷻ دذکر ډیر کول دی، فرمایی ، وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا یعنی دالله ﷻ دپاره دی ښه نومونه ، نو تاسی بلی هغه ﷻ په دی نومونو سره.

داَسمَاءِ حُسنا تشریح : دښو نومونو څخه مراد هغه نومونه دی، کوم چی دکمالی صفتونو پراعلی درجه باندی دلالت کوونکی وی او ښکاره خبره ده چی دیو کمال اعلی درجه ترکمی چی لوړه بله درجه نه وی هغه یوازی خالق کائنات ﷻ ته حاصله ده ، دده څخه علاوه بل یو مخلوق ته دامقام نه سی حاصلیدی ، څکه چی دهریو کامل څخه بل سری اکمل او دفاضل څخه افضل کیدی سی ، دفَوْقَ كُلِّ ذِيْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ دا مطلب دی چی دهرخاوند دعلم څخه دپاسه بل عالم کیدی سی.

په دی وجه په دی آیت کی داسی عبارت اختیار سو دکم څخه چی معلومه ده چی دا اسماء حسنٰی یوازی دالله ﷻ خصوصیت دی، نوروته حاصل نه دی ، فَادْعُوْهُ بِهَا یعنی کله چی دامعلومه سوه چی دالله ﷻ دپاره اسماءِ حسنٰی دی او دغه نومونه دده دذات سره خاص دی نولازمه سوه چی الله ﷻ بلی او په دغو

Maktaba Tul Ishaat.com

اسماءِ حسنٰی یی وبلی.
آواز کول یابلل ددعا ترجمه ده او ددعا لفظ په قرآن کریم په دوو معناوو سره استعمالیږي، یو دالله ﷻ په ذکر دده په حمد اوثنا تسبیح اوپاکی او لویی سره ، دوهم دحاجتونواومشکلاتو په وخت کی دالله ﷻ څخه خپل حاجت غوښتل، او دمصیبتونو او آفتونو دخلاصون او دمشکلاتو دآسانی درخواست کول.
په دی آیت کی د، فَادْعُوْهُ بِهَا لفظ دواړو معناوو ته شامل دی نومعنٰی دآیت دا سوه چی دحمد، ثنا اوتسبیح لائق هم یوازی دهغه پاك ذات دی ، اودمشکلاتو او مصیبتونو څخه خلاصون اوحاجتونه پوره کول هم یوازی دهغه په قبضه کی دی په دی وجه چی حمد او ثنا کوی نو دهغه یی کوی اوکه دحاجتونو پوره کیدو یا مشکلاتو لیری کیدو دپاره څه غوښتنه کوی نو دهغه څخه یی کوی ، او دغوښتنی طریقه یی هم دا وښووله چی په دغو اسماءِ حسنٰی سره ورته آواز کوی ، کوم چی دالله ﷻ دپاره ثابت دی.
ددعا غوښتني آداب: په دی وجه ددی آیت څخه دوه هدایتونه امت ته حاصل سوه ، یو داچی دالله ﷻ څخه ماسوا هیڅ ذات دحقیقی حمد اوثنا یا دمشکلاتو لیری کولو او حاجتونو پوره کولو دپاره دبللو اوآواز کولو لائق نه دی، دوهم داچی ددی بللو دپاره هم هرسړی آزاد نه دی چی کم الفاظ غواړی اختیار کی، بلکه الله ﷻ په خپل فضل اوکرم سره مونږته هغه الفاظ هم وښوول کم چی دهغه دشان سره لائق دی او مونږیی پابند کړوچی په دغه الفاظو سره هغه وبلو، دخپل ځان څخه نور الفاظ جوړ نه کو ځکه چی دانسان طاقت نسته چی دهغه دشان سره مناسب الفاظ جوړ کی، بخاری اومسلم دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت کړي دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی، چی دالله ﷻ یوکم سل نومونه دی، کوم سړی چی دا یاد کی ، دی به جنت ته داخل سی دا یو کم سل نومونه ترمذی اوحاکم په تفصیل سره ښوولی دی.
دالله ﷻ دا یوکم سل نومونه چی څوك ووایی اودکوم مقصد دپاره دعا وکی قبوله به سی، دالله ﷻ وعده ده ، اُدْعُوْنِیْٓ اَسْتَجِبْ لَکُمْ یعنی تاسی ما بلی زه به ستاسی دعا قبلوم، دحاجتونو اومشکلاتو دپاره تردعا لوی څه تدبیر داسی نسته چی دڅه ضرر بیره په کښی نه وی اونفع یی یقینی وی ، دخپلو حاجتونو دپاره دالله ﷻ په دعا کولوکی دڅه نقصان خوګرسره احتمال نسته اویوه نفعه نقده ده چی دعا یو عبادت دی، ددی ثواب دده په عملنامه کی لیکل کیږي، په حدیث شریف کی دی ، اَلدُّعَآءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ یعنی دعا کول دعبادت مغز دی ، اودکوم مقصد دپاره چی ده دعا کړي ده ، اکثره خو هغه مقصد بعینه پوره سی اوکله داسی هم وسی ، چی کوم شی ده خپل مقصد جوړ کړی وو، هغه دده په حق کی فائده مند نه وو، الله ﷻ په خپل فضل سره دده دعا بل طرف ته وګرځوی کوم چی دده دپاره فائده مند وی اوپه حمد اوثنا سره دالله ﷻ ذکر کول دایمان غذا ده چی په نتیجه کی یی دانسان رغبت اومحبت دالله ﷻ سره ترل کیږی ، او ددنیا تکلیفونه که ورته را هم سی ، نو ډیر سپك اوآسان سی.
په دی وجه دبخاری مسلم، ترمذی، اونسایی په صحیح احادیثو کی راغلی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی ته څه غم یابی آرامی یاڅه مهم کار مخ ته راسی ، ده ته په کار دی چی داکلمی ووایی،

Maktaba Tul Ishaat.com

تول مشکلات به یې آسان سي ، هغه کلمې دا دي .
لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ الْعَظِيْمُ الْحَلِيْمُ، لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ، لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ . او په مستدرك دحاكم كې په روايت دحضرت انس ﷺ ذكر دي چې نبي كريم ﷺ حضرت فاطمه زهراء ﷺ ته وفرمايل چې تاته څه شي منع كوونكې دي ددې چې ته زما وصيت واورې اوپه دې عمل وكې ، هغه وصيت دا دي چې سهار اوماښام دا دعا كوه .
يَاحَيُّ يَا قَيُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ اَسْتَغِيْثُ اَصْلِحْ لِيْ شَانِيْ كُلَّهُ وَلَا تَكِلْنِيْ اِلٰى نَفْسِيْ طَرْفَةَ عَيْنٍ . دا دعا هم دټولو حاجتونو او مشكلاتو دپاره بې مثله دعا ده، لنډه دا ده چې دذكر سوې آيت په دې جمله كې دوه هدايتونه امت ته وركول سوه، يودا چې حمد اوثنا او دمشكلاتو او حاجتونو دپاره يوازې الله ﷻ بللې ، مخلوقات نه، دوهم دا چې هغه هم په هغو نومونو سره بللې كوم چې دالله ﷻ دپاره ثابت دي ، دهغه الفاظ بدلوې مه .
دآيت په مخ ته جمله كې ددې متعلق ارشاد فرمايي .
وَذَرُوْا الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اَسْمَآئِهٖ سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ : يعني پرېږدې هغه خلک كوم چې دالله ﷻ په نومونو كې الحاد يعنې كوږوالى كوي دوى ته به ددوى دكړيدو بدله حاصله سي، په لغت كې دالحاد معنىٰ ميلان او ددرميانه لارې څخه، په څنګ كيدو ده، په دې وجه دقبر لحد ته لحد وايي، ځكه چې هغه ددرميان يوطرف ته وي، په قرآن كريم كې لفظ د: الحاد دقرآن كريم دصحيح معنىٰ پاته كول او هاخوا ديخوا تاويلونه او دبدلولو په معنىٰ كې راځي .
په دې آيت كې نبي كريم ﷺ ته داهدايت سويدى چې ته دداسې خلكوسره تعلق هم پرېږده كم چې دالله ﷻ په اسماء حسنىٰ كې دالحاد يعني كجروى څخه كار اخلي .

(دالله ﷻ په نومونو كې دكجروى ممانعت او ددې مختلف صورتونه)

دالله ﷻ په نومونو كې تحريف يعنې دادلون بدلون او كجروى يعنې كږولو مختلف صورتونه كيدى سي، هغه ټول ددې آيت په مضمون كې دا خل دي .
اول داچې دالله ﷻ دپاره هغه نوم استعمال كې، كوم چې په قرآن اوحديث كې دالله ﷻ دپاره ثابت نه وي دعلماءِ حق اتفاق دى چې دالله ﷻ په نوم او صفتونو كې دچا دا اختيار نسته چې څه غواړې نوم ورته كښيږدي ياپه كوم صفت سره چې غواړي دهغه حمد اوثنا كوي ، بلكه يوازې هغه الفاظ ضروري دي، كوم چې په قرآن او حديث كې دالله دپاره په طور دنوم ياصفت ذكر سوي دي ، مثلاً الله ﷻ ته كريم ويل كيږي ، سخي نه ويل كيږي، نور ويل كيږي، ابيض نه ويل كيږي، شافي ويل كيږي طبيب نه ويل كيږي، ځكه چې دانور الفاظ منقول نه دي، كه څه هم ددې الفاظو هم معنى دي ، دوهم صورت دالحادپه اسماوو كې دادى چې دالله ﷻ كوم نومونه په قرآن اوسنت سره ثابت دي په هغوى كې يونوم نامناسب ګڼل اوپاته كول دابې ادبي ده .
يوسړي دالله ﷻ په خاص نوم سره مسمىٰ كول يا مخاطب كول جائز نه دي ، دريم صورت دا دي چې دالله

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷻ په خاصو نومونو سره یوبل سړی مسمّیٰ یا مخاطب کی، مګر په دی کی دا تفصیل دی چی په اسماء حسنٰی کی ځینی نومونه داسی دی، کوم چی په قرآن اوحدیث کی دنورو خلګو دپاره هم استعمال سوي دی اوځینی هغه دی کوم چی ماسوا دالله ﷻ ځخه دبل چا دپاره استعمالول په قرآن اوحدیث سره ثابت نه دی نو دکومو نومونو استعمال چی دغیر الله دپاره په قرآن اوحدیث سره ثابت دی، هغه نومونه دنورو دپاره هم استعمالیدی سی، لکه رجیم، رشید، علی، کریم، عزیز اونور، اوپه اسماء حسنٰی کی هغه نومونه کوم چی دغیر الله دپاره استعمالول په قرآن اوحدیث سره ثابت نه دی، هغه یوازی دالله ﷻ دپاره خاص دی، دغه دغیر الله دپاره استعمالول په ذکر سوی الحاد کی داخل اونا جائز اوحرام دی،مثلاً رحمان، سبحان، رزاق، خالق، غفار، قدوس اونور.

بیا دا مخصوص نومونه که دغیر الله دپاره استعمالول څه په غلطه عقیده سره وی چی دی خالق یارازق وګڼی اوپه دی الفاظو سره خطاب کوی نوبیا خو داسی ویل کفر دی اوکه عقیده یی غلطه نه وی، محض په بی فکری یا ناپوهی سره چاته، خالق، رازق، رحمٰن یا سبحانووایی نو که څه هم کفرنه دی مګر مشرکانه الفاظ دی، په دی وجه سخته ګناه ده.

افسوس دی چی نن صبا عام مسلمانان په دی غلطی کی اخته دی، څه خلګ خوهغه دی چاچی اسلامی نومونه اینښوول پرییښی دی، په صورت اوسیرت سره خو دوی دمخکی ځخه هم مسلمان ګڼل مشکل وو، دنوم ځخه به پته لګیده اوس نوی نومونه په انګریزی طرز باندی اینښوول شروع سوه، دانجونو نومونه داسلام دطرز ځخه خلاف دخدیجی، عائشی، فاطمی، پرځای نسیم، شمیم، شهناز، نجمه اوپرون شروع سوه، اوددی ځخه زیاته افسوسناکه خبره داده چی دکمو خلګو اسلامی نومونه، عبد الرحمان، عبد الخالق، عبد الرّزاق، عبد الغفار، عبد القدوس اونور دی نوپه دی کی دآسانی دپاره داغلطه طریقه اختیار سوه چی یوازی آخری لفظ دټول نوم پرځای بلل کیږی اورحمان، خالق، رزاق اوغفار ورته وایی، اوتردی زیاته دغضب خبره داده چی قدرت الله ته الله صاحب اوقدرت خدا ته خدا صاحب وایی، داټول ناجائز، حرام اوګناه کبیره ده، هرڅو واره چی دالفظ ویل کیږی، دومره واره ګناه کبیره کیږی او اوریدونکی هم دګناه ځخه خالی نه وی.

دابی خونده اوبی فائدی داسی ګناه ده، کمه چی زمونږ په زرګونو ورونه شپه اوورځ کوی اوهیڅ فکرنه کوی چی په ظاهره ددی لږشان حرکت څومره خطرناك انجام دی، دکم طرف ته چی دذکر سوی آیت په آخری جمله کی خبرداری فرمایل سویدی: سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ یعنی دوی ته به دخپلو کړو بدله ورکول سی، ددغه بدلی تعین نه دی سوی نو ددی ابهام اشاره دسخت عذاب طرف ته ده.

په کومو ګناهونو کی چی څه دنیوی فائده یاخوند اوراحت دی، په دی کی خوخوك داهم ویلی سی چی زه دخپل خواهش یاضرورت ځخه مجبوره وم، مګر افسوس دا دی چی دنن مسلمان په داسی ډیرو فضولو ګناهونو کی دخپل جهالت یاغفلت په وجه اخته په نظر راځی، په کموکی چی نه ددنیا څه فائده ده، نه

Maktaba Tul Ishaat.com

دادنی درجی څه راحت اوخوند وی، وجه داده چی حلال اوحرام اوجائز اونا جائز ته ګرسره ګوری نه، نعوذ بالله منها .

وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ أُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَالَّذِيْنَ

او دهغو خلقو څخه کوم چی مونږ پیدا کړی دی یو جماعت دی چی لار ښیی رښتینی او ددی موافق انصاف کوی اوچاچی

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۲﴾ وَاُمْلِيْ

درواغجن کړل زمونږ آیتونه مونږ به دوی کرار کرار ونیسو دداسی ځای څخه دکوم څخه چی به دوی خبرهم نه وی

لَهُمْ ۭ اِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ ﴿۱۸۳﴾ اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا ۫ مَا بِصَاحِبِهِمْ مِّنْ

اومونږدوی ته مهلت ورکوو ، بیشکه زمونږ تدبیر پوخ دی ، آیادوی فکر ونه کی ، چی د دوی په ملګری کی

جِنَّةٍ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۸۴﴾ اَوَلَمْ يَنْظُرُوْا فِيْ مَلَكُوْتِ

هیڅ هم لیونتوب نسته خو بیرونکی دی ښکاره ، آیا دوی نظر نه کوی حکومت د

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۙ وَّاَنْ عَسٰٓى

آسمانونو او مځکی ته او څه چی پیداکړی دی الله دهرشی څخه او په دی کی

اَنْ يَّكُوْنَ قَدِ اقْتَرَبَ اَجَلُهُمْ ۚ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۢ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۸۵﴾

شاید چی نږدی راغلی وی د دوی وخت (وعده) نو ددې څخه دوی په کومه خبره ایمان راوړی .

لنډتفسیر: او زمونږ په مخلوق پیریانو او انسانانو کی (ټول ګمراه نه دی بلکه) یو جماعت (په دوی کی) داسی هم دی کوم چی دحق (دین یعنی اسلام) موافق (خلګو ته) هدایت (هم) کوی اوددی موافق (په خپلو او دنورو په معاملاتو کی) انصاف هم کوی اوکوم خلګ چی زمونږ آیتونه دروغ کوی مونږ دوی کرار کرار (دجهنم طرف ته) بیایو، په دی طور سره چی دوی ته خبرهم نه وی او (په دنیا کی دعذاب نازلولو په وجه) دوی ته مهلت ورکوو، بیشکه زما تدبیر دیر مضبوط دی، آیا دی خلګوپه دی خبره کی فکرونه کی چی ددوی دچاسره معامله ده، پرده یوه ذره هم لیونتوب نسته دی خو یوازی یوصفا صفا (دعذاب څخه بیرورونکی دی (کوم چی دا دپیغمبر کار وی) او آیادی خلګو فکرونه کی ، دآسمانونو اومځکی په عالم کی او (دارنګه) په نورو شیانوکی کم چی الله ﷻ پیداکړي دی (ددی دپاره چی دوی ته په دلیل سره دتوحید علم حاصل سوی وی) اوپه دی خبره کی (بی هم فکرونه کی) چی ممکنه ده چی ددوی اجل نږدی

راغلی وی (چی دعذاب داحتمال څخه بیریدی اوددی څخه یی دبچ کیدو فکر کوی اوپه دی فکر سره به ورته حق دین حاصل سوی وای، او داجل نژدی والی خو هروخت دی اوکله چی دقرآن په شان په مؤثر کلام سره ددوی فکر په حرکت کی رانغی نو) بیادقرآن څخه وروسته په کومه خبره به داخلق ایمان راوړی

معلومات اومسئلي: په تیرو آیتونوکی د دوړخیانو حالات او صفتونه او د دوی دګمراهی دا سبب بیان سوی وو چی دوی دخدای ورکړی عقل او بصیرت اوفطری قوتونو څخه د دوی اصلی کار وانه خستی اوضائع یی کی، بیایی ددوی دمرض علاج دالله ﷻ په نومونو او دذکر الله په ذریعه سره ښوولی وو. دذکر سوو آیتونو څخه په اولنی آیت کی ددوی په مقابله کی دایماندارو او دحق دخاوندانو ذکر دی کم چی دخدای ورکړی عقل څخه کار واخیستی او صحیح لار یی اختیار کړه، ارشاد دی، ﴿وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ﴾ یعنی کوم خلک چی مونږ پیدا کړي دی په دوی کی یو امت داسی دی کوم چی دحق موافق هدایت کوی یعنی خلګوته دصراط مستقیم طرف ته لار ښیی اوکله چی د دوی په خپل مینځ کی څه جګړه یا مقدمه پیښه سی نو دخپلو جګړو فیصله هم په حق یعنی دالله ﷻ ترقانون لاندی کوی

دتفسیر امام ابن جریر رحمه الله په خپل سند سره نقل کوی چی نبی کریم ﷺ دا آیت تلاوت کی او ارشاد یی وفرمایی، چی دا امت دکم ذکر چی په دی آیت کی دی زما امت دی کم چی به دخپلو تولو جګړو فیصلی دحق او انصاف یعنی دالله ﷻ دقانون مطابق کوی او دورکړی راکړی په تولو معاملوکی به حق او انصاف مخ ته ایږدی.

او دعبد بن حمیدپه یوروایت کی دی چی نبی کریم ﷺ اصحابو کرامو رضی الله عنهم ته خطاب وفرمایی چی دا آیت ستاسی په حق کی راغلی دی اوستاسی څخه مخکی هم یو امت ته دا صفتونه ورکړل سویدی، بیایی دا آیت وفرمایی، ﴿وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ﴾ مراد دادی چی دحضرت موسی علیه السلام په امت کی هم یو جماعت داصفتونه درلودل چی خلګوته په لار ښودوکی او دخپل مینځ دجګړو په فیصله کولوکی به یی دحق یعنی دالله ﷻ دشریعت مکمله تابعداری کوله اوامت محمدی ﷺ ته هم الله ﷻ په دی صفتونو کی خصوصی امتیاز وربخښلی دی.

خلاصه ددی دوه خصلتونه دی، یودا چی دنورو خلګوپه مشری کولو او لار ښوولو یامشوره ورکولو کی دشریعت تابعداری کوی، دوهم داچی که څه جګړه په خپل مینځ کی پیښه سی نوهم دادوه خصلتونه دی چی دیږ قوم دخیر اوښه والی او دنیا او آخرت دکامیابی ضمانت ورکول کیږی، چی په صلح اوجنګ، دوستی او دښمنی هرحالت کی ددوی نصب العین حق اوانصاف وی، خپلو دوستانو او ملګرو ته چی کمه دکارښوونه کوی په هغه کی هم دحق تابعداروی اوددښمنانو اومقابلوپه جګړو کی هم دحق په مخکی خپل تول خواهشونه او خیالات پریږدی چی ددی خلاصه ده حق پرستی.

دامت محمدی پرنورو امتونو باندی دښه والی لوړوالی راز اوددوی دامتیاز نخښه هم داحق پرستی ده چی دوی خپل تول ژوند دحق تابع کی، دکم جماعت یاپارتی مشری او رهنمایی چی یی وکړه، نوهغه یی

هم خالصه دحق دتقاضاو و مطابق وکړه، خپلو ذاتي خواهشاتو اوخانداني یا قومي رسمونو ته یې مطلق په دې کې دخل ورنه کې، او دخپل مینځ په جګړو کې یې هم همیشه دحق په مخکې سرکښته کې ، او داصحابو رضي الله عنهم او تابعینو رحمهم الله پوره تاریخ ددې آئینه دار دی ، او دکله څخه چې په دې امت کې په دې دوو خصلتونو کې خلل اونقصان راغلی دی دهغه وخته ددوی تنزل او غورزیدل شروع سوه .

ډیر دغم او دافسوس مقام دی چې نن دغه حق پرست امت خالص هوا پرست جوړ سوي دی ، پارتۍ اوجماعتونه په کښې جوړیږي ، خو هغه هم خالص دنفساني غرضونو او ددنیا درذیلي او ذلیلي نفع په بنیادونو جوړیږي یو بل ته چې دکومو کارونو دپابندۍ طرف ته دعوت ورکول کیږي هغه هم خالص نفساني خواهشونه یاخانداني رسمونه وي، که څوك ددې خلاف کوي نوټول یې مقابلې ته تیار وي، لیکن دحق او شریعت مطابق دچلیدو نه یوځای وعده کیږي اونه ددې دتابعداري کولو څوك چا ته وايي اونه ددې په خلاف ورزي کیدو دچا پرتندې باندې غوټه راځي .

دغه شان دخپل مینځ په جګړو کې اوپه مقدموکې ددنیا دیوځو ورځو وهمي نفع په خاطر دالله ﷻ قانون پریږدي او دشیطاني قوانینو په ذریعه په فیصله کولو راضي دي، ددې دغه بد انجام دی چې هرځای اوپه هرملك کې لیدل کیږي چې دا امت هر ځای ذلیل اوخوار ښکاري، الاّ ما شآء الله، دوی دحق څخه مخ واړوی اوحق د دوی دنصرت او امداد څخه مخ واړوی .

دحق پرستۍ په ځای هوا پرستي اختیار سوه، هرسړی دخپلې دنیوي نفع په حاصلولو کې مشغول سو، که نور ټول قوم اوملت تباه کیږي نونه خو ورته څوك ګوري اونه یې څوك اوري ، که دا ټول امت فلاح اوترقي غواړي نوددې څخه ماسوا بله چاره نسته چې داقرآني اصول په مضبوطۍ سره ونیول سي په خپله هم په دې عمل وسي او دنورو هم ددې دپابندۍ کولو کوشش وسي .

په دوهم آیت کې ددې شبهې جواب دی چې کله دقومي ترقي مدار حق پرستي اودحق انصاف پیروي ده نو دا نور غیر مسلم قومونه کم چې دحق څخه سراسر لیرې دي ، هغوی ولې په دنیا کې داسې په ترقي اوخوشحالي دي .

جواب دا دی و وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ یعني مونږ دخپلو آیتونو دروغ کوونکي دخپل حکمت او رحمت په بنا سره فوراً نه نیسو، بلکه کرار کرار په خوند خوند یې نیسو دکوم چې دوی ته خبرهم نه وي په دې وجه په دنیا کې دکافرانو اوفاجرانو په مالداري یاعزت اومرتبې سره مه دوکه کیږي، څکه چې دغه په حقیقت کې ددوی دپاره دڅه کامیابی سامان نه دی، بلکه دالله ﷻ دطرف څخه استدراج دی ، داستدراج معنی په کرار کرار سره دیوکار کول دي، دقرآن اوسنت په اصطلاح کې استدراج دې ته ویل کیږي چې دبنده په ګناه باندې په دنیا کې څه تکلیف اومصیبت رانه سي بلکه څومره چې دی په ګناه کې زیاتیږي ، دنیاوي ساز اوسامان یې نور زیاتیږي ددې انجام داوي چې دی په خپله بد عملۍ ګرسره خبرنه وي او دغفلت څخه نه بیداره کیږي اوخپل بد عملونه ده ته بدنه ښکاري چې دی ورڅخه

Maktaba Tul Ishaat.com

دراګرځیدو فکر وکی .
دانسان دا حالت دهغه لا علاجه مریض په شان دی کوم چی ناروغی شفا اوزهر تریاق وګنی او استعمالوی یی، ددی نتیجه داوی چی کله خوپه دنیاکی داسری ناڅاپه په عذاب کی ونیول سی او کله تر مرګه پوری دا سلسله چلیږی او بالآخر مرګ دده دمستی اوبی هوښی خاتمه وکی او دهمیشه عذاب دده په برخه سی .
قرآن کریم په مختلفو سورتونو او آیتونو کی ددی استدراج ذکر فرمایلی دی ارشاد دی .

فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتّٰى اِذَا فَرِحُوْا بِمَا اُوْتُوْا اَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ .

یعنی کله چی دغو خلګو هغه شی هیرکی کوم چی دوی ته یادسوی وو، نوموږ پردوی دهرشی دروازی خلاصی کړی تردی چی دوی په خپل حاصل سوی نعمت اودولت باندی مغروره سوه نوموږ دوی ناڅاپه په عذاب کی ونیول نو دوی دخلاصون څخه نا اُمیده سول، دا استدراج دکفارو سره هم کیږی اودګناهګارو مسلمانانو سره هم په دی وجه اصحابو ﷺ اوتیرو صالحانو ته به چی کله ددنیا دولت اونعمت الله ﷻ ورکی نو دډیری بیری په وجه به داستدراج څخه بیریدل چی هسی نه ددنیا دا دولت زموږ دپاره استدارج نه وی .
په دریم آیت کی ددی استدارج بیان دی ، وَاُمْلِیْ لَهُمْ اِنَّ كَيْدِیْ مَتِيْنٌ یعنی زه دی ګناهګارو ته مهلت ورکوم زما تدبیر ډیر مضبوط دی .
په څلورم آیت کی دکفارو ددی عبث خیال تردید دی چی معاذ الله. نبی کریم ﷺ په لیونتوب کی رنځور دی فرمایی ، اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا مَا بِصَاحِبِهِمْ مِّنْ جِنَّةٍ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ یعنی آیادی خلګو غور اوفکر ونه کی چی د دوی دچا سره پیښه ده پرده باندی یوه ذره هم لیونتوب نسته، دده عقل اوحکمت ته خو دټولی دنیا عاقلان او حاکمان حیران دی، دده په باره کی خو دلیونتوب ګمان کول په خپله لیونتوب دی، نبی کریم ﷺ خو دصفا صفا حقیقتونو بیانوونکی ، دآخرت او دخدای دعذاب څخه بیروونکی دی، په پنځم آیت کی یی دوی ته ددوو شیانو طرف ته دفکر کولو دعوت ورکړیدی، اول دالله ﷻ په مخلوقاتو، آسمان اومځکه او ددی په مینځ کی په بی شمیره جوړو سوو عجائباتوکی غور اوفکر کول، دوهم دعمرپه خپله موده او دعمل پرفرصت باندی نظر کول، دقدرت په جوړو سوو شیانوکی په لږ شان عقل اوپوهی سره چی غور اوفکر وسی نو دمعمولی عقل والا انسان هم دالله ﷻ دقدرت دشان معرفت حاصلولی سی اولږ ژور نظر کوونکی ته خو دعالم ذره ذره دقادر مطلق او حکیم مطلق حمد اوثنا ویونکی په نظر راځی، چی تردی وروسته په الله ﷻ ایمان راوړل یو فطری خواهش جوړ سی .
او دخپل عمرپه موده کی خو دغور اوفکر دا نتیجه ده چی کله انسان په دی پوه سی چی دمرګ وخت معلوم نه دی چی کله به راځی نو دضروری کارونو په پوره کولو کی دغفلت څخه راوګرځی اوپه تلوار سره کار کوی، دمرګ څخه غفلت انسان په ټولو خرافاتو او ګناهونو کی اخته کوی، او دمرګ راتلل هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

شي دی کوم چی انسان دډیرو ګناهونو څخه ځان ساتلوته تیاروی، په دی وجه نبی کریم ﷺ فرمایی اَكْثِرُوْا ذِكْرَ هَادِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ یعنی تاسی هغه شی ډیر یادوی کوم چی دټولو خوندونو ختموونکی دی یعنی مرګ، په دی وجه په ذکرسوی آیت کی فرمایی.

اَوَلَمْ یَنْظُرُوْا فِیْ مَلَكُوْتِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَیْءٍ وَّاَنْ عَسٰۤی اَنْ یَّكُوْنَ قَدِ اقْتَرَبَ اَجَلُهُمْ ، دملك په معنٰی کی دمبالغی دپاره ویل کیږی، ددی معنٰی ده: عظیم ملك معنٰی دآیت دا ده چی آیا دی منکرانو دالله ﷻ په لوی ملك کی غور ونه کی کوم چی په آسمانونو اومځکو اوبی شمیره شیانو باندی محیط دی اوآیا په دی یی نظرونه کی چی داکیدی سی چی د دوی مرګ نژدی وی دکوم څخه وروسته چی به دایمان اوعمل فرصت ختم سی.

دآیت په آخرکی فرمایی ، فَبِاَیِّ حَدِیْثٍۭ بَعْدَهٗ یُؤْمِنُوْنَ ، یعنی کوم خلګ چی دقرآن کریم په داسی واضحو نښانو باندی هم ایمان نه راوړی ، هغوی به نورپه څه شی باندی ایمان راوړی.

مَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِیَ لَهٗ ؕ وَیَذَرُهُمْ فِیْ طُغْیَانِهِمْ

څوك چی الله ګمراه کړی هغه ته هیڅوك نسته لارښوونکی او الله پریږدی دوی د دوی په شرارت کی

یَعْمَهُوْنَ ﴿۱۸۶﴾ یَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَیَّانَ مُرْسٰىهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا

سرګردان ، ستا څخه پوښتنه کوی دقیامت چی کله به وی ددې دقائمیدو وخت، ته ووایه

عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّیْ ۚ لَا یُجَلِّیْهَا لِوَقْتِهَاۤ اِلَّا هُوَ ۘؔ ثَقُلَتْ فِی السَّمٰوٰتِ

چی ددې خبر زما رب سره دی ، هغه به ښکاره کوی دا دده په وخت ، هغه ډیره درنه خبره ده په آسمانونو

وَالْاَرْضِ ؕ لَا تَاْتِیْكُمْ اِلَّا بَغْتَةً ؕ یَسْـَٔلُوْنَكَ كَاَنَّكَ حَفِیٌّ عَنْهَا ؕ

او په مځکه باندی ، کله چی په تاسی راسی نو بی خبره به راځی ، ستاڅخه پوښتنه کوی ، لکه چی ته ددې

قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۷﴾

په تلاښ کی یی ، ته ووایه چی ددې خبر خاص دالله سره دی لیکن اکثر خلق نه پوهیږي.

لنډتفسیر: څوك چی الله ګمراه کی هغه څوك نه سی په لار کولی (نوبیا غم یی بی فائدی دی) اوالله ﷻ دوی ددوی په ګمراهی کی سرګردانه پریږدی (چی په یو وار ورلره پوره سزا ورکی) خلګ ستا څخه دقیامت متعلق پوښتنه کوی چی ددی واقع کیدل به کله وی، ته ووایه چی ددی (دا) علم (چی کله به واقع کیږی) یوازی زمادرب سره دی (بل هیچاته ددی خبرنسته) پرخپل وخت باندی به دی ماسوا دالله ﷻ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

بل هیڅوک ظاهر نکړای سی (او هغه ظاهرول به داوی چی دا به واقع کی، دغه وخت به تول خبرسی، ددی ښخه مخکی خویی هسی دښوولو دپاره نه ظاهروی ځکه چی) دغه به پرآسمانونو او مځکه ډیره درنه ورغ وی (په دی وجه) دغه پر تاسی باندی محضی ناڅاپه (په بی خبری کی) را لویږی (ددی دپاره چی هغه لګه ښکه چی پرجسمونو باندی ددوی په متغیر او ګډوډ کولو کی درنه ده، دغه ډول پر زړونو باندی هم ددی ددروندوالی اثر وی اوچی داول ښخه وښوول سی نودا خبره به په کښی بیانه وی، اوپوښتنه هم ددوی په معمولی طور باندی نه ده بلکه) دوی ستا ښخه داسی (په اصرار اومبالغی سره) پوښتنه کوی چی لکه ګواکی ددی چی تاتحقیق کړی وی (او دتحقیق ښخه وروسته ته ددی ښخه پوره خبر سوی یی) ته ووایه چی ددی علم (مذکور) خاص دالله ﷺ سره دی، لیکن اکثره خلګ (په دی خبره) نه پوهیږی (چی ځینی علمونه الله ﷺ دځپلو غیبوپه خزانو دعلم کی پټ ایښی دی، پیغمبرانوته یی هم په تفصیل سره اطلاع نه ده ورکړی پس ددی په علم نه لرلو سره دوی داګنی چی دی معاذ الله نبی نه دی، داسی چی داعلم دنبوت سره لازم دي اوکله چی لازم نسته نو ملزوم هم نسته، حالانکه اوله مقدمه محضی غلطه ده)

معلومات اومسئلي: ددی ښخه په مخکی آیتونوکی دکفارو اومنکرانو دضد اوعناد اوپه ښکاره آیتونو دقدرت دایمان نه راوړلو ذکر وو، دامضمون دنبی کریم ﷺ دپاره دامت اوعام مخلوق سره ډیر شفقت اورحمت پربنا باندی دډیرغم اوخفګان سبب کیدی سو، په دی وجه دذکر سوو درو آیتونو ښخه په اولنی آیت کی ده ﷺ ته دتسلی دپاره ارشاد فرمایی چی، ځوك چی الله ﷺ ګمراه کی هغه هیڅوك نه سی په لاره کولی او الله ﷺ داسی خلګ په ګمراهی کی سرګردانه پریږدی.

مطلب دا دی چی ددی خلګوپه عناد اودحق ښخه په مخ اړولو اونه قبلولوته خفه کیږه مه، ځکه چی ستا منصبی فرض دومره وو چی حقه خبره صفا صفا په اثرناك انداز کی ورسوی اوهغه تاپوره کړه اوستا ذمه واری ختمه سوه اوس دچا منل یانه منل دایو تقدیری کاردی، چی په دی کی ستا دخل نسته، بیانه غمګین ولی یی.

ددی سورة په مضامینوکی دری مضامین ډیر مهم وه، توحید، رسالت، آخرت، اودا دری شیان دایمان اواسلام اصل بنیادونه دی، په دی کی دتوحید اورسالت مضمون په تیرو آیتونوکی په تفصیل سره راغلی دی، دذکر سوو آیتونو آخری دوه آیتونه دمضمون دآخرت اوقیامت په بیان کی دی، چی ددوی دنزول یوه خاصه واقعه ده، کمه چی دتفسیر امام ابن جریر اوعبد بن حمید په روایت دقتاده نقل کړې ده چی دمکی قریشو دنبی کریم ﷺ ښخه په طور دټوکو اومسخرو پوښتنه وکړه چی ته دقیامت دراتلو خبرونه ورکوی اوخلګ ورښخه بیروی که ته رښتینی یی نوصحیح وخت یی وښیه چی قیامت به په کوم کال اوکوم تاریخ باندی راځی، چی مونږ ددی تر راتلو مخکی څه تیاری وکو زمونږ اوستا په مینځ کی چی کم درشته داری تعلقات دی دهغوی تقاضا هم دا ده چی که ته په عام طور سره خلګوته ښوول نه غواړی نو کم از کم مونږته خویی وښیه پردی باندی دا آیت نازل سو، يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ الآية په دی کی

Maktaba Tul Ishaat.com

لفظ دالسّاعة په عربي لغت کی لږغوندی زمانی ته ویل کیږی چی خاص حدیی دلغت په اعتبار سره نسته او دنجومیانو په اصطلاح کی دشپی اوورځی په ځلیر ویشتو ۲۴ حصوکی دیوی حصی نوم ، ساعة دی، چی په اُردو کی ورته گنټه ویل کیږی، او دقران کریم په اصطلاح کی دالفظ هغه ورځی ته ویل کیږی کمه چی به دټول مخلوقات دمرګ ورځ وی اوهغه ورځ ته هم په کمه کی چی ټول مخلوقات به دوباره ژوندی سی اودرب العٰلمین په دربارکی به حاضر سی، دآیّانَ معنیٰ کله او دو مُرسٰی معنیٰ داو دریدو اود قائمیدو ده ، لَایُجَلِّیهَا : دتجلیه څخه مشتق دی ، چی معنی یی ده خلاصول اوظاهرول، د بَغۡتَةً معنیٰ ناڅاپه، د حَفِیٌّ معنیٰ حضرت عبدالله بن عباس ﷺ دعالم اویا خبر بیان کړیده اوپه اصل کی هغه سړی ته حفی ویل کیږی کوم چی په سوالاتو کولو سره دیوی معاملی پوره تحقیق وکی .

مطلب دآیت دا دی چی داخلک ستا څخه دقیامت په باره کی سوال کوی چی دغه به کله راځی، ته دوی ته ووایه چی ددی دتعین صحیح علم زما درب سره دی، نه دمخکی څخه بل چاته معلوم دی اوعین پروخت باندی به هم اول چاته معلوم نه وی، کله چی مقرر وخت راسی نوپه خپله به الله ﷻ دا ظاهر کی، هیڅ واسطه به په درمیان کی نه وی، دقیامت داحادثه به پرآسمانونو اومځکو باندی ډیره درنه واقعه وی، دوی به ټکری ټکری سی وابه لوزی، په دی وجه دحکمت تقاضا داده چی داسی سخته واقعه دمخکی څخه ظاهره نه کی کنه نو دیقین کوونکو ژوند به تریخ سی اومنکرانو ته به زیاته دټوکو اومسخرو موقع حاصله سی، په دی وجه یی وفرمایل چی: لَاتَاۡتِیۡکُمۡ اِلَّا بَغۡتَةً یعنی قیامت به تاسی ته ناڅاپه راځی .

دبخاری اومسلم په حدیث کی په روایت دحضرت ابوهریره ﷺ نقل دی چی نبی کریم ﷺ دقیامت دناڅاپه راتلو متعلق دابیان فرمایلی دی چی خلک به په خپل کاروبار کی مشغول وی، یوسړی به ګراک ته دښورلو دپاره دکپړی تان غوړولی وی او دوی به لامعامله نه وی ختمه کړی چی قیامت به قائم سی ، یوسړی به خپلی اوښی ته دلوشلو دپاره ورغلی وی اولا کار به یی نه وی کړی چی قیامت به قائم سی، یو سړی به دخپل حوض مرمت کوی اولا فارغ سوی به نه وی چی قیامت به قائم سی ، یو سړی به دخوراک ګوله خُلی ته لوړه کړی اولا خُلی ته کړی به یی نه وی ، چی قیامت به قائم سی (روح المعانی)

مقصد ددی دا دی چی لکه څنګه چی دسړی دشخصی مرګ تاریخ او وخت په پټ ساتلوکی لوی حکمتونه دی ، دغه ډول قیامت چی دټول عالم اجتماعی مرګ دی، ددی هم په پټ ساتلوکی لوی حکمتونه دی، اول خودادی چی دیقین کوونکو دپاره به په دی صورت کی ژوند ګران او ددنیا کارونه به مشکل سی اومنکرانو ته به داوږد میعاد په اوریدو باندی دټوقو اومسخرو دپاره بهانه حاصله سی او د دوی په سرکښی کی به نوره اضافه وسی .

په دی وجه دحکمت په تقاضا سره ددی تاریخ یی پټ وساتی چی خلک ددی دهیبت ناکو واقعاتو څخه همیشه په بیره کی وی او دا بیره دانسان دجرمونو څخه دلیری ساتلو ترټولو زیاته اثرناکه علاج دی ، په

Maktaba Tul Ishaat.com

دی وجه په دی آیتونو سره یی دا ښوونه وکړه چی کله دایقینی خبره ده چی قیامت به یوه ورځ راځی او درب العلمین په مخکی به دټولو پیش کیدل وی، ددوی دټول عمر دلوی کوچنی اوښه اوبد ټولو عملونو جائزه به اخیستل کیږی ، ددی په نتیجه کی به یا دجنت: تراندازی وتلی او لا زواله نعمتونه حاصلیږی اویابه معاذ الله ددوزخ هغه سخت عذاب وی دکوم چی په تصور سره تریخی اوبه کیږی، نوبیا یو هوښیار ته داسی کول نه دی پکار چی دعمل دفرصت وخت په دی بحثونو کی ضائع کی چی دا واقعه به کله اوپه کم سن اوپه کوم تاریخ وی، بلکه دعقل تقاضا داده چی دعمر فرصت غنیمت وګنی، دهغه ورځی دپاره په تیاری کی مشغول سی، درب العلمین داحکامو دخلاف ورزی څخه داسی وبیریږی، لکه داور څخه چی هرانسان بیریږی .

دآیت په آخر کی بیا ددی خلکو سوال دوباره کوی فرمایی ، یَسْـَٔلُوْنَكَ كَاَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا اول سوال خو ددی خبری په حقله وو چی کله داسی مهمه واقعه کیدونکی ده نومونږ ته ددی پوره پوره دصحیح تاریخ او دوخت علم پکار دی ددی جواب ورکول سوچی داسوال دبی عقلی اوبی وقوفی څخه پیدا سویدی، دعقل تقاضا خو داده چی ددی دمقرر وخت څخه هیڅوك خبرنه سی چی هریو عمل کوونکی هروخت دآخرت دعذاب څخه وبیریږی، دښه عمل اختیارولو او بدو عملونو څخه دلیری اوسیدو کارته پوره توجه ورکی .

او ددی دوهم سوال منشاء ددغو خلکو دا ګڼل دی چی نبی کریم ﷺ ته خامخا دقیامت صحیح تاریخ او وخت معلوم دی، اوده دالله ﷻ څخه تحقیق کړي دی او ددی علم یی خامخا حاصل کړي دی مګر دی یی په هیڅ وجه سره نه ښیی، په دی وجه دخپلولی اورشته داری واسطه یی ورته وراندی کړه او سوال یی ورڅخه وکی چی مونږ ته دقیامت پوره پته وښیه، ددی سوال په جواب کی ارشاد وسو.

قُـلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ : یعنی ته خلکو ته وښیه چی حقیقت دا دی چی دقیامت دصحیح تاریخ ماسوا دالله ﷻ څخه هیڅ ملائکی یانبی ته هم علم نسته ، لیکن ډیر خلک ددی حقیقت څخه ناخبره دی چی ډیر علمونه الله ﷻ یوازی دخپل ځان دپاره محفوظ ایږدی دکومو چی هیڅ فرښتی یانبی ته هم پته نه وی، خلګ دخپل جهالت څخه داګڼی چی دقیامت دتاریخ علم دنبوت اورسالت دپاره لازمی دی اوبیا ددی دانتیجه راباسی چی کله نبی کریم ﷺ ته ددی پوره علم نسته نودا علامه ددی ده چی معاذ الله دی نبی نه دی ، مګر لوړ معلومه سوه چی دا خیال دسره غلط دی ، لنده داچی داسی سوالات کوونکی ډیر بی وقوفه او بی خبره دی نه دوی ته دمسئلی حقیقت معلوم دی، نه ددی حکمت اونه دسوال کولو طریقه .

البته ، نبی کریم ﷺ ته دقیامت دځینو ښانو علم ورکول سوی وو اودا چی هغه اوس نژدی دی ، دا نبی کریم ﷺ په ډیرو صحیحو احادیثوکی په واضح طور سره بیان کړي دی ارشاد فرمایی چی زما راتلل او قیامت دواړه داسی نژدی دی لکه دلاس دوی ګوتی (ترمذی)

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپه خینو اسلامی کتابونو کی چی یی ددنیا عمر اووه زره کلونه ۷۰۰۰ ښوولی دی ، داڅه دنبی کریم ﷺ حدیث نه دی، بلکه داسرائیلی روایتونو څخه را اخیستل سوی مضمون دی، دطبقات الارض عالمانو چی کوم دنوی تحقیقاتو څخه ددنیا عمر په لکهونو کاله ښوولی دی، دانه دڅه قرآنی آیت سره ټکر خوری اونه دڅه حدیث سره، په اسلامی روایتونو کی داسی کچه اوبی سنده خبری دداخلولو مقصد شاید داسلام خلاف بدګمانی پیدا کول وی، دکمو تردید چی په خپله په صحیح احادیثو کی موجود دی، په یو صحیح حدیث کی په خپله نبی کریم ﷺ خپل امت ته ارشاد فرمایی چی ستاسی مثال دتیرو امتونو په مقابله کی داسی دی لکه دتور غوایی پر بدن باندی چی یو سپین وریښته وی، ددی څخه هرسړی په ښه شان سره اندازه لګولی سی، چی دنبی کریم ﷺ په نظرکی ددنیا عمر څومره اوږد دی چی دهغه اندازه لګول هم ګران دی، په دی وجه حافظ ابن حزم اندلسی فرمایی چی زمونږ عقیده دا ده چی ددنیا دعمر هیڅوك پوره اندازه نه سی لګولی ، ددی صحیح علم یوازی پیدا کوونکی ته دی (مراغی)

قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِىْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ وَلَوْ كُنْتُ

ته ووایه چی زه مالك نه یم دخپل ځان دپاره دنفع او نه دنقصان مګر کوم چی الله وغواړی او که زه

اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ ۛۚ وَمَا مَسَّنِىَ السُّوْٓءُ ۛۚ

پوهیدی دغیبو په خبره ، نو ډیری ګټی دغیبو په خبره نو ډیری ګټی به می حاصلی کړی وای

اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ وَّبَشِيْرٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿١٨٨﴾ هُوَ الَّذِىْ

اوماته به چیری نقصان نه وو رسیدلی ، زه خو صرف بیره اوخوشخبری اورونکی یم ، ایماندارو خلقو ته هغه

خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ

دی چاچی تاسی پیدا کړاست دیو نفس څخه ، او دده څخه یی جوړه کړه دده جوړه چی ددې سره ارام

اِلَيْهَا ۚ فَلَمَّا تَغَشّٰهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيْفًا فَمَرَّتْ بِهٖ ۚ فَلَمَّآ

ونیسی ، بیا کله چی سړی ښځه پټه کړه حمل یی ونیوی سپك حمل نوګرځیده به ورسره ، بیا چی کله

اَثْقَلَتْ دَّعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ اٰتَيْتَنَا صَالِحًا لَّنَكُوْنَنَّ مِنَ

درنه سوه نو دواړو وبللو الله خپل رب چی که تا راکی مونږ ته روغ جوړ نیك مونږ به ستا

Maktaba Tul Ishaat.com

الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۸۹﴾ فَلَمَّآ اٰتٰىهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ فِيْمَآ اٰتٰىهُمَا

شکر ادا کړو ، بیا چې هرکله دوی ته یې ورکې روغ جوړ نیك نو جوړ یې کړو هغه شریکان په دې ور

فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹۰﴾ اَيُشْرِكُوْنَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْئًا وَّهُمْ

کړې شی کې ، نو الله لوی دې د دوی د شریك جوړولو څخه ، آیا شریك جوړوی هغه چې نه سی پیدا کولی یو شی هم

يُخْلَقُوْنَ ﴿۱۹۱﴾ وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ لَهُمْ نَصْرًا وَّلَآ اَنْفُسَهُمْ

او دوی په خپله پیدا سوی دی ، او نه د دوی مدد کولی سی اونه خپل

يَنْصُرُوْنَ ﴿۱۹۲﴾ وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى لَا يَتَّبِعُوْكُمْ

مدد کولی سی ، او که تاسی دوی را وبلی لاری ته نو نه ځی ستاسی په بلنه باندی

سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ اَدَعَوْتُمُوْهُمْ اَمْ اَنْتُمْ صَامِتُوْنَ ﴿۱۹۳﴾

برابر تاسی لره که دوی بلی او که چپ اوسی .

لنډتفسیر: ته ووایه چې زه په خپله دخپل ذات دپاره (هم نور لاځه کوی چې دبل دپاره) دځه نفع (تکوینی حاصلولو) اختیار نه لرم اونه دځه ضرر (تکوینی دفع کولو اختیار لرم) مګر دومره ده چې څومره خدای غوښتی وی (چې ماته اختیار راکی اوپه کم کارکی چې یې اختیار نه دی راکړی، په دی کی څینی وخت نفع فوت کیږی اوضرر واقع کیږی یوه مقدمه خوداسوه) او (بله مقدمه داده چې) که ما دغیب خبری (داختیاری امورو متعلق) پیژندی نوما به (دخپل ځان دپاره) ډیری فائدی حاصلولی اوهیڅ ضرربه پرما نه واقع کیدی (ځکه چې دعلم غیب په سبب به معلومیده چې فلانی کار یقینًا زما دپاره نافع دی نوهغه به می اختیارولی اوفلانی کار زما دپاره یقینًا مضردی، دهغه څخه به می ځان ساتی او اوس چې کله علم غیب نسته په دی وجه څینی وخت دنفع مند علم راته نه وی چې هغه اختیار کم، دغه ډول دمضر علم راته نه وی چې ځان ورڅخه وساتم، بلکه کله په عکس سره نافع ته مضر اومضر ته نافع وایم، ددلیل حاصل داسو چې دعلم غیب دپاره دنفع اوضرر مالك کیدل لازم وو، دامقدمه په ذکرکی وروستنی ده اولازم بی نسته اودامقدمه په ذکرکی مخکی ده چې ملزوم یعنی علم نسته، چې دامطلوب هم دی، غرض دادی چې زه ددا سی کارونو علم نه لرم) زه خو محض (شرعی حکمونه بنیم دثواب) زیری ورکونکی او (دعذاب څخه) بیرونکی یم هغو خلګو لره کم چې ایمان لری (لنډه داچې دنبوت اصلی مقصد دتکوینی کارونو

Maktaba Tul Ishaat.com

احاطه کول نه دي، په دي وجه ددغه کارونو علم چي په هغه کي تعين دقيامت هم داخل دی، نبي ته حاصليدل ضروري نه دي البته دنبوت اصل مقصد دشرعي کارونو په علم پوهيدل دی، نوهغه ماته حاصل دی) هغه الله داسی (قادر اومنعم) دی چاچي تاسي ديوتن څخه (يعني حضرت آدم ﷺ څخه) پيدا کراست اودده څخه يې دده جوړه جوړه کړه (مراد حواده چي کيفيت يې دسورة نساء دتفسير په شروع کي تير سوی دی) ددی دپاره چي هغه ددې جوړي سره الفت حاصل کي (پس کله چي هغه خالق هم دی اومحسن هم، نوعبادت دهغه حق دی) بيا (مخ ته ددوی اولاد زيات سو او په دوی کي هم ښځه او خاوند جوړ سول، ليکن په دوی کي دځينو داحالت سو چي) کله چي خاوند بي بي ته نژدي سو نو ددي حمل سو (کم چي اول اول) سپك شان (وو) پس هغې به دغه (په ګيډه کي) اخيستي (بي تکليفه) ګرځيده راګرځيده، بياچي کله هغه (حامله ددي حمل زياتيدو څخه) درنه سوه (او ددواړو ښځي اوخاوند يقين وسو چي حمل دی) نو (دغه وخت دوی ته قسم قسم احتمالات او وهمونه شروع سول، لکه چي په ځينو حملوکي خطري راځي په دي وجه) دواړو ښځي اوخاوند الله ته چي ددوی مالك دی دعا وکړه چي که تا مونږته صحيح سالم اولاد راکی نومونږ به ښه شکر ګذاري وکو (لکه چي عام عادت دی چي دمصيبت په وخت کي دالله ﷻ سره لوی لوی وعدی کول کيږي) پس کله چي الله ﷻ دی دواړو لره صحيح سالم اولاد ورکی نو دالله په ورکول سوی شی دغو دواړو الله ﷻ ته شريك مقرر کی (په مختلف طور سره چاپه عقيده سره، چي دا اولاد فلاني ژوندی يامړی راکړيدی چاپه عمل سره چي دده په نوم سره يې نذر اوناز ورکی يايې کوچنۍ بوتلي اوتندي يې دده په مخکي ورلره ولګوی، ياپه قول سره چي دده په بندګي يې ورلره نوم کښيښووی لکه عبد الشمس يابندهٔ علي اونور، يعني داحق دخدای وو چي منعم او خالق او قادر او محسن دی اودی يې صرف کی دنورو معبودانو دپاره) نو الله ﷻ پاك دی د دوی دشرك څخه (تردې ځايه پوري خو دالله ﷻ صفتونه ذکر وه ، ددی مقتضٰی دا ده چي دعبادت مستحق هغه دی، مخ ته دباطلو خدايانو دنقصانونو ذکردی چي مقتضٰی يې داده چي دوی دعبادت مستحق نه دی، پس فرمايي چي) آيا داسي شی دالله ﷻ سره شريکوی چي يوشی نسي پيدا کولی او (بلکه) دوی په خپله جوړ سوی دی (لکه چي ظاهره ده چي بت پرست بت په خپله دوی تراشي) او (دڅه شی جوړولو خو لويه خبره ده) دغه (خو داسي عاجزدي چي ددي څخه آسان کارهم نه سی کولی مثلاً) دوی ته هيڅ قسم مدد (هم) نه سی ورکولی او (ددي څخه زياته داده چي) دغه خوخپل مدد هم نه سی کولی (که څه حادثه دوی ته ورپيښه سی مثلاً څوك يې ماتوی) او (ددي څخه هم زياته داچي) که تاسي دوی ته دڅه خبري دښوولو دپاره آواز کوی نو ستاسي په وينانه چليږي (ددی دوه مطلبه کيدی سی يوداچي که تاسي دوی ته آواز کوی چي دوی تاسي ته يوخبره وښيي نوستاسي وينا نه سی پوره کولی يعني نه يې سی ښوولی اودوهمه ددي څخه زياته داچي که تاسي دوی ته آواز کوی چي راسي چي مونږ تاته ښوونه وکړو نوستاسي په وينا نه سی چليدی يعني ستاسي په ښوول سوی خبره باندي عمل نسی کولی په هرحال) ستاسي په اعتبار سره دواړه کارونه

Maktaba Tul Ishaat.com

برابر دی برابره خبره که تاسی دوی ته آواز کوی (خوهم یی نه اوری) اوکه تاسی چپ پاته کیږی (نوبیا خونه اوریدل ښکاره خبره ده، لنډه داده چی کوم کار ترټولو زیات آسان دی چی دځه ښوونی دپاره آواز کول او اوریدل، نودوی خوددی څخه عاجزدی نوکم کارچی تردی مشکل دی چی خپل حفاظت وکی اوبیاکوم چی تردی زیات مشکل دی چی دنورو امداد کول دی اوبیا تردی ټولو چی کم دیر سخت دی چی دیو شی پیدا کول دی نوددی څخه خوپه درجه اولی زیات عاجزه دی بیاداسی عاجز محتاج کله دمعبود جوړیدو لائق کیدی سی)

معلومات اومسئلي: په اولنی آیت کی دمشرکانو اوعوامو ددی غلطی عقیدی رد دی کوم چی دی خلکو دپیغمبرانو علیهم السلام په باره کی قائمه کړی وه چی دوی غیبدان وی ، د دوی علم دالله ﷻ په شان دټولو کائناتو په ذره ذره حاوی وی ، دارنګه داچی دوی دهر نفع اونقصان مالکان وی، چاته چی غواړی نفع یانقصان ورکولی سی .

او ددی عقیدی په سبب دوی درسول الله ﷺ څخه دقیامت دمعین تاریخ ښوولو مطالبه کوله چی ذکر یی ددی څخه په مخکی آیت کی تیر سوي دی .

په دی آیت کی یی ددوی ددی مشرکانه عقیدی تردید وکی وبی ښووله چی علم غیب او دټولو کائناتو دذری ذری علم محیط یوازی دالله ﷻ خاص صفت دی، په دی کی چامخلوق لره شریك کول برابره خبره ده که ملایکه وی اوکه نبی یا رسول عظیم شریك دی اولوی ظلم دی، دغه شان دهری نفع اونقصان مالك والی یوازی دالله ﷻ خاص صفت دی په دی کی څوك شریکول هم شرك دی دکم دختمولو دپاره چی قرآن کریم نازل سو اونبی کریم ﷺ مبعوث سو .

قرآن کریم په بی شمیره آیتونوکی بار بار دا واضحه کړي ده چی علم غیب اوعلم محیط دکوم څخه چی یوه ذره هم پټه نه وی دایوازی دالله ﷻ خاص صفت دی، دغه ډول مطلق قدرت چی هرنفع نقصان یی په قبضه کی وی داهم خاص صفت دی دالله ﷻ، په دی صفتونوکی غیرالله شریکول شرك دی ، په دی آیت کی نبی کریم ﷺ ته حکم ورکول سوی دی چی ته ددی اعلان وکړه چی زه دخپل نفس دپاره هم دنفع او نقصان مالك نه یم نو نوروته دنفع نقصان رسولو څه ذکر دی .

دغه ډول یی دا اعلان هم وکی چی زه په غیبو عالم نه یم چی دهرشی علم زما دپاره ضروری وی او که ماته دغیبو علم وای نو مابه دنفع هر یوشی ضرور حاصلولی او هیڅ نفع به زما دلاس څخه نه وای فوت سوی او دهر نقصانی شی څخه به همیشه محفوظ وم، اوهیڅ کله به ماته څه نقصان نه وای رسیدلی،

حال دادی چی دادواړی خبری نسته ډیرکارونه داسی دی چی نبی کریم ﷺ یی حاصلول غوښتل مگر حاصل نه سوه اوډیر تکلیفونه اوضرورنه داسی دی دکومو څخه چی نبی کریم ﷺ دمحفوظ کیدو اراده وکړه مگر هغه تکلیف أوضرر ورته ورسیدی ، دحدیبی دغزا په موقع باندی ده دصحابه کرامو سره احرام وتړی او دعمری اراده یی وکړه، دحرم حدونوته ورسیدل مگر حرم ته داخله او دعمری ادا کول دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت ونه سوه ، نولو احرام مات کی او واپس سول .
دغه ډول دأحد په غزاکی نبی کریم ﷺ ته زخم ورسیدی او مسلمانانو عارضی شکست وخوړی ، دغسی نور ډیر واقعات دی چې دنبی کریم ﷺ په ژوندکی معلوم اومشهور دی ، شاید دداسی واقعاتو دظاهرولو مقصد هم دا وی چې خلکو ته عملاً داخبره واضحه سی چې انبیاء علیهم السلام که څه هم دالله ﷻ په نزد دټول مخلوق څخه زیات غوره اومقبول دی ، مګر هغوی بیاهم دخدای ﷻ دعلم اوقدرت مالکان نه دی چې هسی نه خلک په دی غلط فهمی کی اخته سی په کومه کی چې عیسایان او نصرانیان اخته سوی دی ، چې خپل رسولان یې دخدایی مالکان ګڼلی دی اوپه شرک کی اخته سوی دی .
دی آیت داهم واضحه کړه چې انبیاء علیهم السلام نه قادرمطلق وی نه عالم الغیب، بلکه دوی ته دعلم اوقدرت دومره حصه حاصلیږی څومره چې دالله ﷻ دطرف څخه دوی ته ورکول سی البته؛ په دی کی شك اوشبه نسته چې کمه حصه دعلم دوی ته ورکول کیږی هغه ترټول مخلوقات زیات وی اوخاص بیا زموږ نبی کریم ﷺ ته داولینو او آخرینو علم ورکول سوی وو ، یعنی ټولو انبیاوو علیهم السلام ته چې څومره علم ورکول سوی وو ، هغه ټول او تردی زیات نورهم ده ﷺ ته ورکول سوی وو ، او ددی ورکول سوی علم مطابق ده ﷺ دزرګونو غیبو دخبرو خبرونه ورکړي دی ، چې رښتینوالی یې هر خاص او عام لیدلی دی په دی وجه دا خو ویل کیدی سی چې نبی کریم ﷺ ته دزرګونو اولکونو غیبو دخبرو علم ورکول سوی وو ، خودی ته دقرآن په اصطلاح کی علم غیب نه ویل کیږی اوپه دی وجه نبی کریم ﷺ ته عالم الغیب نه ویل کیږی .
دآیت په آخرکی ارشاد فرمایی ، اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِیْرٌ وَّبَشِیْرٌ لِّقَوْمٍ یُّؤْمِنُوْنَ یعنی نبی کریم ﷺ دی دا اعلان هم وکی چې زما منصبی فرض دادی چې زه بدکارو ته بیره ورکړم اونیکو خلګوته دلوی ثواب خوشخبری ورکړم، په دوهم آیت کی دتوحید دعقیدی ذکر دی کومه چې داسلام ترټولو لویه بنیادی عقیده ده او ددی سره دشرك دباطل والی بیان څه قدر په تفصیل سره راغلی دی .
دآیت په شروع کی الله ﷻ دخپل کامل قدرت یوه نښانه دحضرت آدم اوحوا ﷺ دپیدائش داسی بیان کړي ده ، هُوَ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِیَسْكُنَ اِلَیْهَا یعنی دالله ﷻ شان دا دی ، چاچی ټول انسانان دیوه ذات آدم ﷺ څخه پیدا کړل ، او دده څخه یې دده ښځه حضرت حواء ﷺ پیدا کړه ددی مقصد دا وو چې حضرت آدم ﷺ ته دخپل هم جنس اوهم دم په ذریعه سکون حاصل سی .
دالله ﷻ ددی عجیبه کاریګری تقاضا داوه چې ټول اولاد دآدم ﷺ همیشه دده شکر ګذاروی اوبل مخلوق یې دده سره دده په کاملو صفتونوکی نه شریکوی ، مګر غفلت کوونکی انسان ددی څخه معامله په خلاف وکړه چې بیان یې ددی آیت په دوهمه جمله او وروسته بل آیت کی داسی فرمایی .

فَلَمَّا تَغَشّٰىهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِیْفًا فَمَرَّتْ بِهٖ فَلَمَّاۤ اَثْقَلَتْ دَّعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا لَىِٕنْ اٰتَیْتَنَا صَالِحًا لَّنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِیْنَ ۝ فَلَمَّاۤ اٰتٰىهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ فِیْمَاۤ اٰتٰىهُمَا فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ... یعنی دحضرت آدم ﷺ اولاد دخپل غفلت او نا شکری په وجه په دی معامله کی داسی کار وکی چې کله دنر او مادی په خلط کیدو سره حمل وسو نوپه شروع شروع کی

Maktaba Tul Ishaat.com

چې حمل دروند نه وو، ښځه به په آزادۍ سره ګرځیده راګرځیده بیاچې کله الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره په درو تیارو کې دننه ددغه حمل تربیت وکې، دی یې لوی کې او دروندوالی یې محسوس سو نو اوس مور اوپلار په فکرکې سوه اودا بیره پیدا سوه چې ددې حملې څخه به څنګه اولاد پیدا کیږي ځکه چې ځینې وخت دانسان دګیډې څخه عجیبه عجیبه قسم مخلوق هم پیدا کیږي او ځینې وخت په بدن ناقصه کوچنې هم پیدا کیږي، ړوند یا ګونګ یاکوڼ یاپه لاسو اوپښو معذور، ددې بیرې په وجه مور اوپلار دا دعاګانې کولې چې یا الله مونږ ته صحیح سالم بچې راکې، که صحیح سالم بچې پیدا سو نومونږ به شکر ګذار سو، لیکن کله چې الله ﷻ د دوی دعاګانې واوریدې اوصحیح سالم بچې یې ورکې نو اوس دشکر ګذارۍ پرځای په شرك کې اخته سوه، او دا اولاد ددوی په شرك کې داخته کیدو سبب جوړ سو چې ددې مختلف صورتونه کیدی سی کله خوعقیده فاسده سی، داسې ګنې چې دا زوی چاولي یا بزرګ راکړې دی کله داسې وی چې عملاً دابچې دیو ژوندی یامړ بزرګ طرف ته منسوب کې اودده په نوم نذر اونیاز ورکوی یابچې بوزی اوهغه ته یې سرپه مځکه ایږدی اوکله دبچې په نوم ایښوولو کې مشرکانه انداز اختیاروی، عبد اللات، عبد العزیٰ یاعبد الشمس یا بندهٔ علی اونور نومونه ورله ایږدی، په دې سره داسې ګڼل کیږي چې دابچې دالله ﷻ په ځای ددې بتانو یابزرګانو پیدا سوی دی دا ټولې مشرکانه عقیدې اوعملونه دی، کوم چې دالله ﷻ دنعمت په مقابله کې دشکر په ځای دناشکرۍ مختلف صورتونه دی.

د دریم آیت په آخرکې ددې خلګو دبې لارې کیدو اوکږیدو ښکاره کولو دپاره فرمایي، فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا یُشْرِكُوْنَ یعنی پاك دی الله ﷻ ددې شرك څخه کوم چې دې خلګو اختیار کړي دی، دذکر سوو آیتونو ددې تفسیر څخه دا خبره واضحه سوه چې ددې آیت په اوله جمله کې یې دحضرت آدم اوحواء ﷺ ذکر وکې او دآدم اولاد ته یې ددې دتابعدارۍ اوشکر ګذارۍ تعلیم ورکړي دی، اوپه آخرۍ جملوکې دآدم ﷺ دوروسته راتلونکې اولاد دګمراهۍ او کږیدو بیان سوي دی چې دوی پرځای دشکر ګذارۍ شرك اختیار کې، ددې څخه معلومه سوه چې دشرك اختیاروونکو دمعاملې تعلق دحضرت آدم اوحواء سره مطلق نسته، دکوم په سبب چې دحضرت آدم ﷺ په پاکدامنۍ باندې شبه راځي، بلکه ددې تعلق دوروسته راتلونکې نسل دعمل سره دی، اودا تفسیرکوم چې مونږ اختیار کړي دی په تفسیر در منثور کې په روایت دابن المنذر اوابن ابی حاتم دقرآن دتفسیر کوونکې حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه نقل کړي دی، دترمذی اوحاکم په روایتونوکې چې یوه قصه دحضرت آدم اوحواء او دشیطان دفریب ورکولو ذکر ده، دی ته ځینې اسرائیلي روایت وایي او ناقابل اعتماد یې ګنې، لیکن ډیرومحدثینو ددې توثیق هم کړي دی نوکه داقصه په دې ذکر سوی تفسیر باندې صحیح هم ومنل سی نو بیا هم دآیت په تفسیرکې څه اشکال اوشبه باقي نه پاته کیږي.

ددې آیت څخه ځواحکام اوفائدې حاصلې سوې اول داچې الله ﷻ دښځې اوسړي جوړه همجنس جوړه کړا

Maktaba Tul Ishaat.com

چې طبعي موافقت اوپوره الفت یې دیوبل سره حاصل سي اودښځي اوخاوند ژوندپه کوم کې چې ددنیا دآبادي
فاندي دي هغه په پوره طورسره سرته ورسیږي دوهم داچي دښځي اوخاوندپه ژوندکې چې څومره حقونه
اوذمه واري پردواړو ښځي اوخاوند راځي ، ددې ټولو خلاصه او اصل مقصد سکون دی ، ددنیا په نوی
معاشرت اونوو رسمونوکې چې کوم شیان سکون بربادوونکي دي هغه دښځي اوخاوند دتعلقاتو بنیادي
دښمنان دي اودنن په مهذبه دنیاکې چې کوم کورنی ژوند تریخ ښکاري اوهر طرف ته دطلاقونو برمار
دی ددې ټرټولو لوی سبب دادی چې په معاشره کې داسي شیان ښه ګڼل سویدي کم چې دکورنی ژوند
دسکون سراسر بربادوونکي دي، دښځي دآزادي په نوم چې دبې پردګۍ اوبې حیایۍ کم طوفان پردنیا
باندې خپریږي، دا دکورنی سکون په بربادولو کې لوی دخل دی او تجربه شاهده ده چې څومره څومره بې
پردګۍ اوبې حیایی په ښځوکې زیاتیږي، په دې رفتار سره دکورنی ژوند سکون او اطمینان ختمیږي .
دریم دا چې دکوچنیانو داسي نومونه ایښوول دکومو څخه چې مشرکانه مطلب اخیستل کیږي ، برابره
خبره که دنوم ایښوونکی نیت دا نه وي ، خوبیاهم دمشرکانه رسم په سبب لویه ګناه ده ، لکه عبد
الشمس، عبد العزی اونور نوم ایښوول سوه .
څلورم دا چې دکوچنیانو په نوم ایښودو کې هم دشکر ادا کولو طریقه دا ده چې د دوی نومونه دالله ﷻ
او درسول په نومونو پوري کښیښوول سي ، په دې وجه نبي کریم ﷺ عبد الرّحمان ، عبد الله اونور نومونه
ډیر زیات خوښ کړي دي .
افسوس دی چې نن په مسلمانانو کې دامعمولي پاته اسلامي رسم هم ختمیږي، اول خونوم غیرِ اسلام
ایښوول کیږي اوکله چې مور اوپلار اسلامي نوم کښیښږدي هم، نوهغه دانګریزي مخففو حروفوته
واړول سي اوختم سي ، په سیرت اوصورت سره خو دچا مسلمان ګڼل داول څخه ګران سوی وه او
دنومونو دې طرز داسلام آخري نښانه هم رخصت کړه، الله ﷻ دې مونږ ته ددین پوه او د اسلام سره محبت
راکي . آمین ثم آمین ثم آمین ....

إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُوا

کوم چې تاسي بلئ دالله څخه ماسوا هغه بندګان دي ستاسي په شان نو وبلي دوی نو په کاردي چې دوی قبوله کړي بلنه

لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٩٤﴾ أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَا أَمْ

ستاسي ، که تاسي رښتیني یاست ، آیا د دوی پښې سته په کومو چې ځي یا د دوی

لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَا أَمْ

لاسونه دي په کومو چې نیسي یا د دوی سترګې دي په کومو چېویني ،

Maktaba Tul Ishaat.com

لَهُمْ اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ بِهَا ۭ قُلِ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيْدُوْنِ

یاددوی غوږونه دي په کومو چي اوري ، ته ووایه چي را وبلی خپل شریکان ، بیا بدی وکړی زما په حق کی

فَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۱۹۵﴾ اِنَّ وَلِیِّۦَ اللّٰهُ الَّذِیْ نَزَّلَ الْكِتٰبَ ۖ وَهُوَ

او ماته مهلت مه را کوی ، زما حمایت کوونکی الله دی کوم چي نازل کړی دی کتاب او هغه

يَتَوَلَّى الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۹۶﴾ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

حمایت کوی دنیکو بندګانو ، او څوک چي تاسی بلی دهغه څخه ماسوا هغه نه سی کولی

نَصْرَكُمْ وَلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ﴿۱۹۷﴾ وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى

ستاسی مدد او نه خپل ځان محفوظ کولی ، اوکه تاسی دوی وبلی لاری ته

لَا يَسْمَعُوْا ۭ وَتَرٰىهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۹۸﴾

نوهیڅ نه اوري ، او ته وینی دوی چي تاته ګوري خو دوی هیڅ نه وینی .

تفسیر: (غرض داچي) واقعي تاسی چي خدای پریږدی او دکومو عبادت چي کوی دغه هم ستاسی په شان (دالله ﷻ مملوك) بندګان دي (یعني ترتاسی زیات نه دي برابره خبره که پری سوی وي) پس (مونږ خوبه تاسی رښتینی هله وګڼو چي) تاسی (خو) دوی راوبلی (او) بیا دوی ته په کار دي چي ستاسی خبره ومنی که تاسی (د دوی په عقیده دخدایی کی) رښتینی یاست (اودغه عاجزان خوستاسی وینا لاڅه کوی دخبی منلو آلات هم دوی ته نصیب نه دي اوګوری) آیا ددوی پښی سته په کومو چي دوی ځی یا د دوی لاسونه سته په کومو چي یو شی ونیسی یا د دوی سترګی سته په کومو چي دویووینی یا د دوی غوږونه سته په کومو چي دوی واوری (نوکله چي په دوی کی دکار طاقتونه نسته نویو کاربه څنګه ورڅخه صادرسی او) ته (داهم) ووایه چي (لکه څنګه چي دوی خپلو عقیدتمندو ته دنفع رسولو څخه عاجزه دي دغه ډول خپلو مخالفوته ضررهم نه سی رسولی ، لکه چي تاسی وایاست چي زمونږ دبتانو بی ادبی مه کوی، کنی دوی به پرتاسی څه آفت نازل کی، را ایستلی دي دا حدیث په لباب کی دعبد الرزاق څخه دالله ﷻ تردی قول لاندی ، وَيُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ او که تاسی دا ګنی چي دغه ماته ضرر رسولی سی نو) تاسی (خپل ارمان وباسی او) خپلو ټول شریکان راوبلی بیا (ټول یوسی) ماته دضرر رسولو تدبیروکی بیا (کله چي تدبیر برابرکی نو) ماته یوه ذره مهلت مه راکوی (بلکه فوراً یی وکی ګورو چي څه

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږي اوخاوري به وسی څکه چې دغه شریکان خومحض مهمل شیان سوه، تاسی که څه لاسونه اوپښی وهی خوتاسی زما څکه څه نسی کولی چې) یقیناً زما مددګار الله ﷻ دی (د) کوم (چې دمددګاری ښکاره ثبوت دا دی) چې (هغه پر ما باندی) داکتاب (مبارك ددواړو جهانو دخیر جمع کوونکی) نازل کی (اوکه زما مددګار اوملګری نه وای نودومره لوی نعمت به یی ولی راکوی) او (ددی خاص دلیل څخه علاوه په یوه عامه قاعده سره هم دهغه مددګاری معلومه ده، هغه قاعده دا ده چې) هغه (په عام طور سره) دنیکو بندګانو مدد کوی (نو انبیاء علیهم السلام خوپه دغو نیکو بندګانو کی کامل افراد دی اوزه نبی یم نو زما به هم خامخا مددګار وی، غرض داچې تاسی دچا دضرر څخه ما بیروی، هغه عاجزان دی، اوکم چې ما دضرر څخه محفوظ کوی، هغه قادر دی، بیا بیره دڅه ده) او (ګواکی ددوی عاجزی لوړه په بلیغ اندازکی بیان سوه، لیکن هلته دابیان وو چې دوی غیرته څه نفع یانقصان نه سی رسولی او مقصودی خبره داده چې دوی مستحق دعبادت نه دی په دی وجه مخ ته بیا دعجز مقصوداً بیانوی چې) تاسی چې خدای پرېږدی او دبل چا عبادت کوی هغوی (ستاسی ددښمن په مقابله کی لکه چې زه یم) مدد نه سی کولی ستاسی اونه (دخپل دښمن په مقابله کی لکه چې زه یم) خپل مدد کولی سی او (مدد کول خولویه خبره ده) دوی ته (خو) که څوك دخبری ښوولو دپاره آواز وکی نوهغه (خو هم) نه اوری (ددی هم دغه لوړی ذکرسوی دواړی معناوی کیدی سی) او (لکه څنګه چې ددوی سره داوریدو آله نسته، دغه ډول ورسره دلیدو آله هم نسته، اوددوی په تصویروکی چې کمی سترګی جوړول کیږي، هغه محض دنوم وی دکارنه وی لکه چې) دغه (بتان) ته وینی چې ګواکی دوی تاته ګوری (څکه چې شکل خو دسترګو په شان جوړ دی) اوهغوی (په واقع کی) هیڅ هم نه وینی (څکه چې په حقیقت کی دغه سترګی نه دی، دغه ډول نور پښی او لاسونه یی هم دکارنه دی نوپس دداسی عاجزانو څخه دڅه بیرول کوی؟

معلومات اومسئلي

اِنَّ وَلِیِّ ۦَ اللّٰهُ الَّذِیْ نَزَّلَ الْكِتٰبَ وَهُوَ یَتَوَلَّی الصّٰلِحِیْنَ . دلته دولی معنٰی ده محافظ اومددګار، او د، کتاب څخه مراد قرآن کریم اود ، صَالِحِیْنَ څخه مراد په قول دابن عباس ﷺ هغه خلګ دی کوم چې دالله ﷻ سره څوك نه برابر وی په دی کی دانبیاء علیهم السلام څخه واخله تر عامو نیکو مسلمانانو پوری ټول دا خل دی .

او معنٰی دآیت دا ده چې زما ستاسی په مخالفت څکه پرواه نسته چې زما محافظ او مددګار الله ﷻ دی چاچې په ما قرآن نازل کړي دی ، دلته یی دالله ﷻ په ټولو صفتونو کی دقرآن نازلول په خصوصیت سره څکه ذکر کړل چې تاسی کوم زماپه مخالفت او دښمنی باندی اړ یاست ، ددی وجه دقرآن تعلیم اودعوت دی کوم چې زه تاسی ته درکوم ، نو چا چې په ما دا قرآن نازل کړي دی ، هغه زما مددګار اومحافظ دی په دی وجه زما سره به ولی فکر وی ؟

تردی وروسته په آخری جمله کی یی عامه قاعده وښووله چې دانبیاوو علیهم السلام خو لوی شان دی دعامو صالحانو اونیکانو مسلمانانو هم الله ﷻ ولی اوکفیل دی ، د دوی مدد کوی ، په دی وجه دوی ته دڅه

Maktaba Tul Ishaat.com

دښمن دمخالفت اودښمنۍ ضرر نه سي رسيدى، اکثره خوپه دنياکي پردوى باندى غالب کول کيږي
اوکه څه وخت په تقاضادحکمت غالب هم نه سي، نوبيا هم ددوى په اصل مقصدکي څه خلل نه راځي،
دوى په ظاهر کي دناکامه کيدو سره داصل مقصد په لحاظ کامياب وى ، ځکه چي دمومن صالح اصل
مقصد په هرکارکي دالله ﷻ راضي کول او دهغه حکم منل وى ، که دى په دنيا کي په څه وجه سره ناکامه
هم سي خو دالله ﷻ درضا اصل مقصد بيا ذه ته حاصل وى او دى کامياب وى . والله اعلم بالصواب

خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴿١٩٩﴾ وَإِمَّا

عفو (بخښنه) عادت کړه او حکم کوه دنيك کار او منعه کوه دجاهلانو څخه ، اوکه

يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ۚ إِنَّهٗ سَمِيْعٌ

راوپاروى تا دشيطان چيرل نوپناه غواړه دالله څخه ، هغه دى اوريدونكى

عَلِيْمٌ ﴿٢٠٠﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيْطٰنِ

پوه ، دچا په زړه کي چي بيره وى کله چي اورسيږي دوى ته شيطانان

تَذَكَّرُوْا فَإِذَا هُمْ مُّبْصِرُوْنَ ﴿٢٠١﴾ وَإِخْوَانُهُمْ يَمُدُّوْنَهُمْ فِي

نو دوى ته را ياد سي نوبيا دغه وخت دوى ته سوچ راسي، اوکوم چي دشيطانانو ورونه دي هغه دوى

الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُوْنَ ﴿٢٠٢﴾

راکشوى گمراهي ته بيا دوى کمي نه کوى .

لنډتفسير: (دخلګو سره داسي سلوك کوه چي ددوى دعملونو او اخلاقو څخه) سرسري (په نظرکي چي
کوم) سلوك (معقول اومناسب معلوم وى هغه) قبلوه (دوېښ اوحقيقت تلاښ يي مه کوه، بلکه په ظاهري
نظرکي په سرسري طور سره چي کوم کار دچا سره ښه وى، هغه په ښه والي حمل کوه، دباطن حال الله ﷻ
ته سپاره ځکه چي پوره اخلاص او دقبوليت شرطونه جمعه کول دخاصو خاصانو حصه ده، حاصل دا دى
چي دخلګو سره په ژوند تيرولوکي آساني ساتي سختي مه کوى، داسلوك په ښو کارونوکي دى) او (کوم
کارچي په ظاهر نظرکي هم بدوى، په دى کي داسي سلوك ساته چي په دى باب کي) دنيك کار تعليم کوه
او دجاهلانو څخه مخ اړوه (او ډيرمه ورپسي کيږه) اوکه چيرى (اتفاقًا ددوى په جهالت) تاته څه وسوسه
دشيطان دطرف څخه (دغصي) راسي (چي په دى کي احتمال وى چي څه خبره دمصلحت خلاف صادره

Maktaba Tul Ishaat.com

سي) نو (په داسې حالت کې فوراً) دالله ﷻ څخه پناه غواړه بیشکه هغه ښه اوریدونکی، ښه پوهیدونکی دی (ستا پناه غوښتل اوري ستا په مقصود پوه دی، هغه به تاته ددې څخه پناه درکي اولکه څنګه چې پناه غوښتل اوالله ﷻ ته توجه کول ستا دپاره فائده ده، دغه ډول دخدای څخه دټولو بیریدونکو خلګو دپاره هم نفع ده لکه چې) یقیناً (داخبره ده چې) کوم خلګ چې دخدای څخه وبیریږي کله چې دوی ته څه خطره دشیطان دطرف څخه (دغصې یا دیوبل کار) راسي نوهغوی (فوراً دخدای) په یادولو کې شروع سي (لکه اعوذ بالله اودعا وکي، دخدای ﷻ لویي او عذاب اوثواب یاد کي) نو یکدم د دوی سترګې وغوړیږي (او دکار حقیقت دوی ته ښکاره سي چې په دې سره دغه خطره اثرونه کي) او (ددوی برخلاف) کوم چې دشیطانانو تابعدار دي هغوی (شیطانان) دوی ګمراهۍ ته راکشوي پس دغه (تابعداران دګمراهۍ څخه) نه راګرځي (نه دوی اعوذ بالله وایي اونه محفوظ کیږي، نو دغه مشرکان خو دشیطانانو تابعدار دي دوی کله واپس کیږي په دې وجه ددوی په غم اوغصه کې لویدل بې کاره دي)

معلومات اومسئلي

(دقرآني اخلاقو یوه جامعه هدایت نامه)

په ذکرسوو آیتونوکی دقرآني غوره اخلاقو یوه جامعه هدایت نامه ده، دکوموپه ذریعه چې یې دنبي کریم ﷺ تربیت وکي، ده ته یې په ټولو اولینو او آخرینوکې صاحب دخُلق عظیم (یعني دلویو اخلاقو دمالك) خطاب ورکي.

په تیرو آیتونوکې داسلام ددښمنانو دعناد اوبدو اخلاقو دذکر کولو څخه وروسته په دې آیتونوکې ددې په مقابله کې نبي کریم ﷺ ته دښه اخلاقو هدایت ورکول سویدی، چې ددې درو جملې اوله جمله: خُذِ الْعَفْوَ ده، دعربي دلغت په اعتبار سره دلفظ د، عَفْو ډیرې معناوې کیدې سي اوپه دې موقع دهرې یوې معنی ګنجائش سته، په دې وجه دتفسیر دعالمانو مختلفو ډلو مختلفې معناوې اخیستې دي، جمهورو تفسیر لیکونکو چې کمه معنیٰ اختیار کړیده، هغه داده چې: عَفْوَ ویل کیږي هرداسې کارته کوم چې په آسانۍ سره بغیر دڅه تکلیف اومشقت څخه وسي، نومعنیٰ ددې جملې داسوه چې ته قبلوه هغه شی کوم چې خلګ په آسانۍ سره کولی سي، یعني په شرعي واجباتوکې دخلګو څخه دلوړ معیار مطالبه مه کوه، بلکه څومره چې دوی په آسانۍ سره کولی سي، هم هغه ورڅخه قبلوه، مثلاً دلمونځ اصل حقیقت خودا دی چې بنده دټولې دنیا څخه قطع سي اوپه یك طرفي سره دخپل رب په مخکې لاس پرنامه کښیږدي داسې ودریږي چې دحمد اوثنا سره خپل عرضونه بلا واسطې دالله ﷻ په دربارکې په خپله پیش کوي چې ګواکې دی دا وخت نیغ په نیغه دالله ﷻ سره مخاطب دی، ددې چې کمې نښانې دخشوع اوعاجزۍ، ادب او احترام په کار دي، ظاهره ده چې په لکونو لمونځ کوونکو کې به یوځای یوه دالله بنده ته نصیب وي، عام خلګ دادرجې نسې درلودی، نودې آیت نبي کریم ﷺ ته دا تعلیم ورکی چې ته ددې خلګو څخه ددې اعلیٰ معیار مطالبه مه کوه، بلکه کومه درجه چې دوی په آسانۍ سره حاصلولی سي، هغه قبلوه دغه شان نور عبادتونه زکوٰة، روژه، حج اوعامو معاملاتو اودمعاشرت په شرعي واجباتوکې

Maktaba Tul Ishaat.com

چې کوم خلګ پوره پوره حق نه سي ادا کولی د دوی څخه سرسری اطاعت اوفرمان برداری قبلوه.
په صحیح بخاری کی په روایت دعبدالله بن زبیر ﷺ په خپله دنبی کریم ﷺ څخه دا معنی نقل سوې ده،
اوپه یو روایت کی دی چې نبی کریم ﷺ ددی آیت په نازلیدو باندی وفرمایل چې ماته الله ﷻ دخلګو په
عملونو او اخلاقوکی دسرسری اطاعت قبلولو حکم راکړي دی، ماقصد کړي دی چې ترڅو پوری زه په
دی خلګوکی یم داسی عمل به کوم (ابن کثیر)
دتفسیر داامامانو یولوی جماعت حضرت عبدالله بن عمرؓ، عبدالله بن زبیرؓ عائشه صدیقهؓ
اومجاهد اونور ددی جملی هم دا معنیٰ مقرره کړي ده.
دلته دامعنیٰ مراد اخیستی ده او ددی جملی یی دامطلب مقرر کړي دی چې ته دګناهګارانو او
خطاکارانو ګناه او قصور معاف کوه.
دتفسیر امام ابن جریر طبری نقل کړي دی چې کله دا آیت نازل سو، نونبی کریم ﷺ دجبرائیل امین څخه
ددی آیت دمطلب پوښتنه وکړه نو جبرائیل امین داالله ﷻ څخه دپوښتنی کولو څخه وروسته دامطلب
وښووی چې په دی آیت کی تاته داحکم در کول سویدی چې کوم سړی پرتا ظلم کوی، ته هغه معاف کړه
اوڅوک چې تاته څه در نه کړی ته په هغه بخشش کوه اوڅوک چې ستاسره تعلق قطع کوی، ته دده سره هم
تعلقات جوړوه، دلته ابن مردویه په روایت دسعدبن عباده نقل کړي دی چې داُحُد په غزا کی چې کله
دنبی کریم ﷺ اکا حضرت حمزه ؓ شهید سو اوپه ډیره بی دردی سره دده اندامونه پریکړل سول او دلاش
بی حرمتی یی وسوه، نونبی کریم ﷺ چې لاش په دی حالت کی ولیدی نوویی فرمایل چې کومو خلګو
دحمزه ؓ سره داسی معامله کړي ده، زه به دهغوی داویاوو ۷۰ کسانو سره داسی معامله کوم، په دی
باندی دا آیت نازل سو په کوم کی چې یی ده ته وښووله چې ستا دامقام نه دی، ستا دشان سره مناسب
داده چې دعفوی او درګذر څخه کار واخلی.
ددی مضمون تائید ددی حدیث څخه هم کیږی کوم چې امام احمد دعقبه ابن عامرؓ په روایت سره نقل
کړي دی چې ده ته نبی کریم ﷺ دکومو اخلاقو تعلیم ورکی هغه داوو چې کوم سړی په تاظلم وکی هغه
معاف کوه څوک چې ستاسره تعلق قطع کوی ته یی ورسره جوړوه، کوم چې تا محرومه کوی، ته ورته
بخشش کوه.
اوبیهقی په روایت دعلی مرتضیٰ ؓ نقل کړي دی چې نبی کریم ﷺ ده ته وفرمایل چې زه تاته داولینو
اوآخرینو تراخلاقو ښه اخلاق ښیم، هغه داچې کوم سړی تا محرومه کی، ته هغه ته بخشش کوه، کوم
چې په تا ظلم وکی، ته هغه معاف کوه، څوک چې درسره تعلق پریکوی ته یی ورسره جوړوه، دلفظ د:
عَفْوِ په اوله او دوهمه معنیٰ کی که څه هم فرق دی، لیکن خلاصه ددواړو یودی، چې دخلګو په عملونو
او اخلاقو کی سرسری اطاعت اوفرمان برداری قبلوه، زیات تجسس اولټون مه کوه او د دوی څخه
داعلیٰ معیار دفرمان برداری مطالبه مه کوه، او ددوی په خطاګانو او قصور باندی درګزر کوه، دظلم

Maktaba Tul Ishaat.com

بدله مه اخله، لکه چی دنبی کریم ﷺ اعمال او اخلاق همیشه په دی ډول جوړ سوی وه، ددی پوره مظاهره هغه وخت وسوه، څه وخت چی مکه فتحه سوه اوخاني دښمنان دده ﷺ په قبضه کی راغلل، نوټول یې آزاد کړل ویی فرمایل چی ستاسی دظلمونو بدله اخیستل خوښه کوی مونږ تاسی ستاسی پرتیرو معاملو باندی ملامت کوو هم نه.

دوهمه جمله ددی هدایت نامی ، وَأمُرْ بِالْعُرْفِ ده، عرف په معنی دمعروف هرښه او غوره کارته ویل کیږی ، مطلب دا دی چی کم خلک ستاسی سره بدی اوظلم وکی ته ددوی ښخه بدله مه اخله، بلکه معافی کوه، مگر ددی سره دوی ته دنیك کارهدایت هم کوه، گواکی دبدی بدله په نیکی سره، دظلم بدله یوازی په انصاف سره نه، بلکه په احسان سره ورکوه.

دریمه جمله ، وَاَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِیْنَ ده چی معنی یی دا ده چی دجاهلانو ښخه ته مخ اړوه ، مطلب دا دی چی دظلم بدله پریږده ، ته ددوی سره دخیر خواهی او همدر دی معامله کوه ، اوپه نرمی سره دوی ته حقه خبره ښیه، مگر ډیر جاهلان به داسی هم وی کم چی په دی شریفانه معامله سره پردوی اثر نه کیږی، ددی باوجود په جهالت اوسختی سره مخ ته راځی، نو دداسی خلگو سره ستا معامله داسی په کار ده چی د دوی زړه آزاروونکی اوجاهلانه خبری پرتا هیڅکله اثر ونه کی، او ددوی په شان سختی خبری ورته ونه کی، بلکه ددوی ښخه منعه کوه.

دتفسیر امام ابن کثیر رحمه الله فرمایی چی دمنعه کولو همدا مطلب دی چی ددوی دبدی جواب په بدی سره ورنه کی دامعنی نه ده چی دوی ته هدایت کول پریږدی چی دا وظیفه درسالت دشان سره لائقه نه ده.

په صحیح بخاری کی دلته یوه واقعه دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه ښخه نقل سوي ده ، چی دحضرت فاروق اعظم رضی الله عنه دخلافت په زمانه کی عیینه ابن حصین مدینی ته راغی او دخپل وراره حُرّ ابن قیس میلمه سو، حضرت حُرّ بن قیس رضی الله عنه په هغو اهل علمو حضراتوکی وو کوم چی به دحضرت فاروق اعظم رضی الله عنه په مجلس دمشاورت کی شریکیده، عیینه خپل وراره حُرّ بن قیس ته وویل چی ته امیر المومنین ته نژدی یی زما دپاره دهغه ښخه دملاقات څه وخت واخله ، حُرّ بن قیس رضی الله عنه فاروق اعظم رضی الله عنه ته درخواست وکی چی زما اکا عیینه ستا سره لیدل غواړی ، ده رضی الله عنه ورلره اجازت ورکی، مگر عیینه چی دحضرت فاروق اعظم رضی الله عنه مجلس ته ورسیدی نوډیری غیر مهذبی اوغلطی خبری یی وکړی، چی نه ته مونږته زمونږ پوره حق را کوی اونه زمونږ سره انصاف کوی، حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه ته په دی باندی غصه ورغله نو حُرّ بن قیس رضی الله عنه عرض وکی چی امیر المومنین! الله ﷻ فرمایلی دی ، خُذِ الْعَفْوَ وَأمُرْ بِالْعُرْفِ وَاَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِیْنَ او دا سړی هم دجاهلانو ښخه دی ، ددی آیت په اوریدو سره دحضرت فاروق اعظم رضی الله عنه ټوله غصه ختمه سوه اوده ته یی هیڅ ونه ویل ، دحضرت فاروق اعظم رضی الله عنه دا عادت معروف اومشهور وو چی کَانَ وَقَّافًا عِنْدَ کِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ ، یعنی دکتاب الله احکامو ته به یی سر کښته کوی.

دا آیت دمکارم اخلاقو دپاره یو جامع آیت دی ، ځینو علماؤ ددی خلاصه دابیان کړي ده چی خلک دوه

Maktaba Tul Ishaat.com

قسمه دی ، یومحسن یعنی ښه کار کوونکی، دوهم بدکاره ظالمان، دی آیت ددواړو طبقوسره دښو اخلاقو ساتلو داهدایت کړې دی چی دنیکو کار کوونکو ظاهری نیکی قبلوی په زیات لټون اوتلاښ کی مه لویږی او دنیکی داعلی معیار ددوی څخه مطالبه مه کوی بلکه څومره چی دوی په آسانی سره کولی سی، دغه کافی ګڼی، او دبد کارو په معامله کی یی داهدایت کړې دی ، چی دوی ته نیک کار ښیاست او دنیکی لار ورته برابروی نوکه دوی یی قبلوی نه اوپه خپله ګمراهی اوغلطی باندی کلك وی او جاهلانه خبری درسره کوی نومنع ورڅخه کوی او ددوی دجاهلانه خبرو جواب مه ورکوی ، په دی طرز سره دا اُمید دی چی دوی به یووخت پوه سی او دخپلی غلطی څخه به راوګرځی. په دوهم آیت کی ارشادفرمایی.

وَاِمَّا یَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّیْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ اِنَّهٗ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ : یعنی که تاته دشیطان دطرف څخه څه وسوسه راسی نو دالله ﷻ څخه پناه غواړه هغه اوریدونکی پوه دی، په حقیقت کی دا آیت هم داولنی آیت دمضمون مکمل کوونکی دی څکه چی په دی کی کوم هدایت ورکول سوي دی چی دظلم کوونکو او جاهلانو دخطاګانو څخه درګزر کوه د دوی دبدی جواب په بدی سره مه ورکوی ، دا خبره دانسانی طبیعت دپاره ترټولو زیاته ګرانه اوسخته ده ، اوبیا شیطان خو په داسی موقعو کی ښه اونیك بنده ته هم غصه ورولی او دجنګ اوجګړی دپاره یی تیاروی، په دی وجه په دی بل آیت کی ددی تلقین وسو چی که داسی دبی صبری په موقعوکی دغصی جذبات را پاریدونکی سی نو پوه سی چی دا دشیطان دطرف څخه دی اوعلاج یی دا دی چی دالله ﷻ څخه پناه غواړی.

په حدیث شریف کی دی چی دوه سړی دنبی کریم ﷺ په مخکی په جګړه وه اویو به په کښی دغصی څخه بی واکه کیدی ، ده چی ولیدل نو ویی فرمایل چی ماته یوه داسی کلمه معلومه ده چی که داسړی دغه کلمه ووایی نودده داپه اشتعال (جوش) کی راتلل به ختم سی وي فرمایل هغه کلمه داده اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ دی سړی چی دنبی کریم ﷺ څخه واوریدل نو فوراً یی وویل نوټوله غصه او جوش یی ختم سو.

عجیبه فائده: دتفسیر امام ابن کثیر رحمہ اللہ دلته یوه عجیبه خبره دا لیکلی ده چی په ټول قرآن کریم کی دری آیتونه دښو اوغوره اخلاقو دتعلیم دپاره جامع راغلی دی او ددرو واړوپه آخرکی دشیطان څخه دپناه غوښتلو ذکر دی، یوخو دا دسورة اعراف آیت دی ، دوهم دسورة مومن دا آیت دی ، اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ السَّیِّئَةَ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا یَصِفُوْنَ ° وَقُلْ رَّبِّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ هَمَزٰتِ الشَّیٰطِیْنِ ° وَاَعُوْذُ بِكَ رَبِّ اَنْ یَّحْضُرُوْنِ . یعنی دفعه کوه بدی په نیکی سره مونږ ته ښه معلوم دی داخلګ چی څه وایی ، او ته داسی دعا کوه چی ای زما پروردګاره ! زه ستا پناه غواړم ددی خبری څخه چی شیطانان ماته را جمع سی ، دریم آیت دسورة حٰمٓ السجده دا دی ، وَلَا تَسْتَوِی الْحَسَنَةُ وَلَا السَّیِّئَةُ اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِیْ بَیْنَكَ وَبَیْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِیٌّ حَمِیْمٌ ° وَمَا یُلَقّٰهَا اِلَّا الَّذِیْنَ صَبَرُوْا وَمَا یُلَقّٰهَا اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِیْمٍ ° وَاِمَّا یَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّیْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ، یعنی نیکی اوبدی برابر نه وی ، ته په نیك سلوك سره دفع کوه بیابه یکدم ستا او دکوم سړی په مینځ کی چی دښمنی وه، هغه به داسی سی لکه دی چی یو مخلص وی اودا خبره هغه چاته نصیب کیږی کوم چی ډیر نصیب

Maktaba Tul Ishaat.com

دار وی اوکه تاته دشیطان دطرف څخه څه وسوسه راسی نو دالله ﷻ څخه پناه غواړه بیشکه هغه ښه اوریدونکی اوښه پوهیدونکی دی.

په دی درو واړو آیتونوکی یی دغصه وروستونکو سره دعفو، درګزر او دبدی په ځای دنیکی کولو دهدایت سره سره دشیطان څخه دپناه غوښتلو هدایت کړیدی، ددی څخه معلومیږی چی دشیطان دخلګو دجګړو سره خاصه دلچسپی ده، کوم ځای چی دجګړی څه موقع پیښیږی، شیطانان یی خپل دښکار ځای جوړوی او ترلویو لا لوی بردبار او صبرناك بنده ته غصه ورولی او ترحد یی ورتیروی.

ددی علاج دا دی چی کله په غصه کی بی واکه کیږی نو پوه دی سی چی شیطان په ماباندی غالب کیږی نو دالله ﷻ طرف ته دی رجوع کړی او پناه دی ورڅخه غواړی نو دمکارم اخلاقو مکمل والی به یی وسی په دی وجه وروسته په دریم اوخلورم آیت کی هم دشیطان څخه دپناه غوښتلو هدایت ورکول سوي دی.

وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِم بِآيَةٍ قَالُوا لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا ۚ قُلْ إِنَّمَا أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ مِن رَّبِّي ۚ هَٰذَا بَصَائِرُ

اوکله چی ته را نه وړی دوی ته نښه نو وایی ولی دی خوښه نه کړه دخپل طرف څخه، ته ووایه چی زه خوچلیږم په هغه کوم چی حکم راسی ماته زما درب دطرف څخه، دا خو دپوهی خبری دی،

مِن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠٣﴾ وَإِذَا

ستاسی درب دطرف څخه اوهدایت اورحمت دی هغه خلق چی مؤمنان دی، اوکله چی

قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾

قرآن ویل کیږي نو دی ته غوږ اږدی او چپ وسیږي چی په تاسی رحم وسی

لنډتفسیر: اوکله چی ته (د دوی دفرمائشی معجزو څخه دکومو فرمائش چی دوی په وجه دعناد کړی وی) څه معجزه د دوی په مخکی ظاهره نه کی (په وجه ددی چی الله ﷻ دغه معجزه په مقتضا دحکمت پیدا نه کی) نو دغه خلګ (ستا څخه درسالت نفی کولو په قصد) وایی چی ته (که نبی یی نو) معجزه ولی (ښکاره کیدو ته) نه راوړی، ته ووایه چی (زما کار معجزی په خپل اختیار راوړل نه دی، بلکه زما اصلی کار دا دی چی) زه دهغه تابعداری کړم کوم چی پرما باندی زما درب دطرف څخه حکم لیږل سویدی (په دی کی تبلیغ هم راغی، البته دنبوت داثبات دپاره نفس معجزه ضروری ده پس هغه واقع سوي ده لکه چی په دی کی ترټولو لویه معجزه یو داقرآن دی، دکوم چی داشان دی چی) دا (پرخپل ځای) ګواکی ډیر دلیلونه دی ستاسی درب دطرف څخه (ځکه چی مثلاً ددی هرمقدار سورة مثلاً یوه معجزه ده نوپه دی حساب سره ټول مجموعه څومره دلیلونه سول اوددی دادلیل والی خوعام دی) او (پاته سوه ددی نفع په عمل سره نوهغه خاص دده دمنونکو دپاره ده لکه چی دا) هدایت اورحمت دی هغو خلګو لره کوم چی (په دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

ایمان لري او (ته دوی ته دا هم ووایه چي) کله قرآن ویل کیږی (مثلاً نبی کریم ﷺ ددی تبلیغ فرمایي) نو ددی طرف ته غوږونه ایږدی اوچپ اوسی (ددی دپاره چي ددی معجزه کیدل او ددی دتعلیم ښه والی ستاسی په پوهه کی راسی چي په دی سره) اُمید دی چي پر تاسی رحمت وسي (نوی یازیات)

معلومات اومسئلي: په ذکر سوو آیتونوکی دنبی کریم ﷺ دبرحق رسول کیدو ثبوت اوپه دوی باندی دمخالفینو دشبهو جواب اوددی په ضمن کی دځو شرعی حکمونو ذکرفرمایل سوي دی ، درسالت دثبوت دپاره ټولو انبیاوو علیهم السلام ته معجزی ورکول کیږی سید الانبیاء ته په دي مناسبت سره دومره معجزی ورکول سوي دی کوم چي دتیرو انبیاوو علیهم السلام تر معجزو ډیری زیاتی هم دی او واضحی هم. دنبی کریم ﷺ معجزی کمی چي په قرآن مجید او صحیح روایتونو دحدیث سره ثابتی دی، د دوی شمیر ډیر دی ، عالمانو پردی مستقل کتابونه لیکلی دی، دعلامه سیوطی کتاب (الخصآئص الکبریٰ) په دوو غټو جلدونو کی پردی موضوع لیکل سوی مشهورکتاب دی مگر دنبی کریم ﷺ دبی شمیره معجزو ښکاره کیدوسره بیاهم مخالفین دخپل ضداوعناد څخه منعه نسول او دخپل طرف څخه به یی دعناد اوضد په وجه دنورو نورو معجزو ښکاره کولو مطالبی کولی چي دکمو ذکرپه دی سورة کی اول هم راغلی دی.

دذکر سوو دوو آیتونو څخه په اول آیت کی دوی ته یو اصولی جواب ورکول سوی دی چي دهغه خلاصه دا ده چي دپیغمبر معجزه دده رسالت یو شهادت او ثبوت وی اوکله چي دمدعی دعوی په یومعتبر شهادت سره ثابته سی اومخالف فریق څه جرح هم نه وی په کړی ، نو ده ته ددنیا په یو عدالت کی هم داحق نه سی ورکول کیدی چي دی دمدعی څخه ددی مطالبه وکی چي دفلانیو فلانیو خاصو خلکو شهادت پیش کی نوموږبه یی ومنو ، په موجوده شهادت باندی دڅه جرح پیش کولو څخه بغیر موږ دا نه منو په دی وجه دډیرو واضحو معجزوترلیدو وروسته دمخالفینو داویناچي فلانی قسم خاص معجزه وښیه نوموږبه تارسول ومنو ، دایوه دعناد اوضد مطالبه ده چي یو عدالت یی هم صحیح نه تسلیم کوی.

لکه چي په اولنی آیت کی ارشاد فرمایی چي کله ته ددی خلکو مقرر کړل سوی یو خاص معجزه ونه ښیی نودوی ستا درسالت څخه دانکار کولو دپاره وایی چي تا فلانی معجزه ولی ونه ښووله، نوته دوی ته داجواب ورکړه چي زما کارپه خپل اختیار سره معجزی ښوول نه دی، بلکه زما اصلی کار دادی چي زه دهغو حکمونو تابعداری وکړم کوم چي پرما باندی زما درب دطرف څخه په ذریعه دوحی رالیږل کیږی، چي په هغه کی تبلیغ هم شامل دی ، په دی وجه زه په خپل اصلی کارکی مشغول یم او درسالت دپاره دغه نوری معجزی هم پوره دی کوم چي تاسی ټولو خلکو ته مخامخ ښوول سوي دی ، ددغو دلیلو څخه وروسته دڅه خاص معجزی مطالبه یوه دعناد مطالبه ده دمنلو قابله نه ده .

اوکومی معجزی چي ښوول سوي دی ، په دی کی قرآن کریم په خپله یوه عظیمه معجزه ده، کوم چي ټولی دنیاته دخپل بلکه دخپل یو کوچنی غوندی سورت دمثل راوړلو چیلنج ورکی، اوټوله دنیاسره دپوره کوشش ددی دمثل راوړو څخه عاجزه سوه، کوم چي ډیره واضحه نسخه ده ددی خبری چي قرآن

Maktaba Tul Ishaat.com

کریم دیو بشر کلام نه دی بلکه دالله ﷻ بی مثله کلام دی، په دی وجه فرمایي ، هٰذَا بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ یعنی دا قرآن ستاسی درب دطرف څخه ډیرو دلیلونو اومعجزو مجموعه ده، په دی کی معمولی فکر لرونکی ته هم دایقین حاصلیږی چی دا دالله ﷻ کلام دی دکم مخلوق په دی کی هیڅ دخل نسته، ددی څخه وروسته فرمایي ، وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ یعنی داقرآن دحق دلیل خو دټول جهان دپاره دی، مګر مقصدته رسوونکی او دالله ﷻ درحمت مستحق جوړوونکی یوازی دهغو خلګو دپاره دی کوم چی په ده باندی ایمان راوړی، په دوهم آیت کی یی وښوولی چی قرآن مجید دمومنانو دپاره رحمت دی مګر ددی رحمت څخه دفائدی حاصلولو دپاره څه شرطونه اوآداب دی، کوم چی یی په عام خطاب کولو سره داسی ذکر وفرمایل ، وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا یعنی کله چی قرآن کریم ویل کیږی نوتاسی دی ته غوږونه ایږدی اوچپ اوسی، ددی آیت په شان نزول کی روایتونه مختلف دی چی داحکم دلمانځه دقرآت په باره کی راغلی دی اوکه دخطبی اوکه دمطلق قرآت دقرآن، برابره خبره که لمونځ وی یاخطبه یابل حال، لیکن دجمهورو تفسیر لیکونکو په نزد صحیح داده چی لکه څنګه چی دآیت الفاظ عام دی، دغه ډول یی حکم هم ټولو حالاتو لره عام دی بغیر دخاصو استثنایی موقعو څخه .

په دی وجه حنفیانو په دی آیت سره ددی خبری دلیل نیولی دی چی په امام پسی مقتدیانوته قران نه دی کول په کار اوکومو فقهاوو چی مقتدی ته دفاتحی ویلو هدایت کړي دی ، په دوی کی هم ځینو دا رعایت ساتلی دی چی دامام دسکتی په وخت کی دی فاتحه وایی، دلته ددی بحث موقع نسته ، په دی بحث باندی عالمانو مستقل کتابونه لوی او کوچنی ډیر لیکلی دی هغه دی وکتل سی .

اصلی مضمون دآیت دا دی چی قرآن کریم دخلګو دپاره رحمت مقرر سوي دی شرط دا دی چی دوی دقرآن ادب او احترام وپیژنی اوعمل په وکی اولوی ادب دقرآن دا دی چی کله دی ویل کیږی نو اوریدونکی دی ورته غوږ کښیږدی اوچپ دی اوسی .

په غوږ ایښولو کی داهم داخل دی چی دا اوری اودا هم چی ددی په احکامو دعمل کولو جد اوجهد کوی (مظهری وقرطبی)

دآیت په آخر کی یی ، لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ وفرمایل او دی طرف ته یی اشاره وکړه چی دقرآن رحمت کیدل ددی دذکر سوو آدابو په پوره کولو باندی موقوف دی .

(دقرآن دتلاوت په وخت کي دچپ کیدو او اوریدو متعلق یو څو ضروری مسئلي)

ددی په مقابله کی دا په خپله ښکاره خبره ده چی که چا ددی خلاف ورزی وکړه او دقرآن بی حرمتی یی وکړه نودغه به درحمت پرځای دقهر اوغضب مستحق وی .

په لمانځه کی دننه خو دقرآن طرف ته غوږ ایښوول اوچپ کیدل په عام طور سره مسلمانانو ته معلوم دی، که څه هم په عمل کی کوتاهی کوی، ځینی خلګو ته خودا هم پته نه وی چی امام کم سورة ویلی دی، پردوی لازم ده چی دوی دقرآن عظمت وپیژنی او داوریدو طرف ته خیال ساتی، دجمعی دخطبی اونورو

Maktaba Tul Ishaat.com

هم شرعًا داحکم دی، ددی آیت څخه علاوه دنبی کریم ﷺ ارشاد په خاص طور سره دخطبی متعلق دا راغلی دی چی: اِذَا خَرَجَ الْاِمَامُ فَلَاَ صَلٰوةَ وَلَاَ کَلَامَ یعنی کله چی امام دخطبی دپاره را ووزی نونه لمونځ سته، نه خبری.

او په یو حدیث کی دا هم دی چی دغه وخت به یو سړی بل ته دنصیحت په طورهم چپ سه نه وایی (په لاس اشاره که ضروری وه نو ودی کی) غرض داچی دخطبی په دوران کی څه قسم خبری، تسبیح، درود یا لمونځ اونور جائزنه دی.

فقهاوو فرمایلی دی چی کوم حکم دجمعی دخطبی دی ، هغه داخترونو دخطبی او دنکاح اونورو دخطبوهم دی، چی دغه وخت غوږ اینبوول اوچپ اوسیدل واجب دی، البته دلمونځ اوخطبی څخه علاوه په عامو حالاتوکی که څوك څان ته تلاوت کوی نوپر نورو خلګو باندی چپ اوسیدل اوده ته غوږ اینبول واجب دی اوکه نه ؟ په دی کی دفقهاوو قولونه مختلف دی، ځینو حضراتوپه دی صورت کی هم غوږ اینبوول اوخاموش پاته کیدل واجب اوددی خلاف کول ګناه ګنلی ده، اوپه دی وجه یی په داسی ځای کی کوم چی خلګ په خپلو کارونوکی مشغول وی یا آرام کوی په لوړ آواز قرآن ویل جائز نه دی ګرځولی، اوکم سړی چی په داسی موقعو کی قرآن کریم په لوړ آواز وایی ده ته یی ګناهګار ویلی دی، په خلاصة الفتاویٰ اونورو کی داسی لیکلی دی.

لیکن ځینو نورو فقهاوو داتفصیل فرمایلی دی چی غوږ اینبوول او اوریدل یوازی په هغو ځایونو کی واجب دی ، کوم ځای چی قرآن کریم داورولو دپاره ویل کیږی، لکه په لمانځه خطبه اونوروکی، اوکه یوسړی ځانته تلاوت کوی یاڅو کسان په یو مکان کی خپل خپل تلاوت کوی نودبل آوازته غوږ اینبوول اوخاموش کیدل واجب نه دی، ځکه چی دصحیح احادیثو څخه ثابته ده چی نبی کریم ﷺ به دشپی په لمانځه کی په جهر سره قرآت فرمایی اوپاکی بیبیانی به دغه وخت بیدی وی، ځینی وخت به دحجری څخه دباندی هم دنبی کریم ﷺ آواز اوریدل کیدی.

او دبخاری اومسلم په یوحدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ په یوسفر کی دشپی تر پړاو اچولو وروسته سهار وفرمایل چی ماخپل دسفر اَشعَرِی ملګری ددوی دتلاوت په آوازونو سره دشپی په تیاره کی پیژندل چی ددوی خیمی کم طرف ته اوکوم ځای دی که څه هم دورځی ماته ددوی دقیام ځای معلوم نه وو په دی واقعه کی هم نبی کریم ﷺ دغه اشعری حضرات ددی څخه منعه نه کړل چی په لوړ آواز مرولی قرات کوی اونه یی خوب کوونکو ته هدایت وفرمایی چی کله قرآن کریم ویل کیږی نوتاسی تول کښینی اوقرآن اوری ، په دی قسم روایتونو سره فقهاوو رحمهم الله دلمانځه څخه دباندی دتلاوت په معامله کی لږ ګنجائش ورکړی دی لیکن بنه اومناسب دتولو په نزد داده چی دلمانځه څخه دباندی هم کله چی دیوطرف څخه دتلاوت آواز راسی نو غوږ دی کښیږدی او چپ دی سی او په دی وجه په داسی موقعوکی کوم ځای چی خلق په خوب یاخپل کاروبارکی مشغول وی دقرآن تلاوت په لوړآوازسره کول مناسب نه دی

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی ځخه دهغو حضراتو غلطی معلومه سوه چی کوم دقرآن دتلاوت په وخت کی ریډیو په داسی مجلسونو کی چالوکی کوم ځای چی خلک ددی داوریدو طرف ته متوجه نه وی، دغه شان دمسجدونو ځخه دشپی په لاوډ اسپیکرونوکی په لوړ آواز سره دقران تلاوت کول چی دبیده کیدونکو په خوب یا دکار کوونکو په کارکی خلل راسی صحیح نه دی، علامه ابن همام ﷺ لیکلی دی چی څه وخت امام په لمانځه کی یاخطیب په خطبه کی یو مضمون دجنت اودوږخ متعلق ووایی، نودغه وخت دجنت دعا یا ددوږخ ځخه پناه غوښتل هم جائزنه دی، ځکه چی ددی آیت په بناسره دالله ﷻ درحمت وعده دهغه چا دپاره ده کوم چی دقرآن کریم دتلاوت په وخت کی خاموش وی او ځوك چی خاموش نه وی دهغه سره وعده نسته البته په نفل لمونځونو کی دداسی آیتونو دتلاوت ځخه وروسته پټه دعا غوښتل په حدیث سره ثابته ده اوثواب یی دی (مظهری)

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيْفَةً وَّدُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ

اویاد وه خپل رب په خپل زړه کی په عاجزی او په بیره سره او په داسی آواز سره چی

الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿٢٠٥﴾ إِنَّ

دچغی وهلوځخه کم وی دسهار په وخت اودماښام په وخت او مه کیږه بی خبره ، بیشکه

الَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيُسَبِّحُوْنَهٗ

کوم چی ستاسی رب ته نژدی دی هغوی تکبر نه کوی دهغه دبندگی کولو ځخه اویادوی دهغه

وَلَهٗ يَسْجُدُوْنَ ﴿٢٠٦﴾ ع السجدة

پاك ذات او هغه ته سجده کوی .

لنډتفسیر: او (ته هرسړی ته داهم ووایه چی) ای بنده خپل رب یادوه (په قرآن کریم یاپه تسبیح اونور سره برابره خبره که) په خپل زړه کی (یعنی په کرار آواز سره) په عاجزی سره او (برابره خبره که) دچیغی دآواز په نسبت په کوم آواز سره (هم په دی عاجزی اوبیره سره) سهار اوماښام (یعنی همیشه) او (دهمیشه مطلب دا دی چی) په غفلت کوونکوکی شمار نه سی (چی دکومو ذکرونو امر درته سوي دی هغه هم پریږ دی) یقیناً کمی (ملائکی) چی ستارب ته نژدی (مقرب) دی، هغه دده دعبادت ځخه (چی اصل په کښی عقیدی دی) تکبر نه کوی او دهغه پاکی بیانوی (کوم چی دژبی عبادت دی) اوهغه سجده کوی (کوم چی داندامونو عمل دی)

معلومات اومسئلي: ددی ځخه په مخکی آیتونوکی دقرآن کریم داوریدو ذکر اوددی دآدابو بیان وو، په

دی دوو آیتونو کی دجمهورو په نزد مطلق دالله ﷻ د ذکر حکم او ددی دآدابو بیان دی چی دقرآن تلاوت په کی هم شامل دی او دحضرت عبدالله بن عباس ؓ په نزد په دی کی هم دذکر څخه مراد قرآن دی او کم آداب چی په دی کی بیان سوي دی ، دغه هم دقرآن دتلاوت سره متعلق دی، لیکن داخه اختلاف نه دی، ځکه چی علاوه دقرآن څخه دنورو ذکرونو هم دټولو په نزد داحکم او آداب دی.

لنډه دا ده چی په دی آیت کی انسان ته دالله ﷻ دیاد او دذکر حکم دی او ددی سره ددی دوختونو او آدابو بیان دی.

دپټ او جهري ذکر حکمونه: اولنی ادب دذکر دپټ اوپه لوړ آواز سره دکولو متعلق دی، په دی باره کی قرآن کریم په دی آیت کی دوه قسمه اختیار ورکړیدی، دپټ ذکر او دجهري، دذکر خفي یعني پټ ذکر متعلق فرمایي: وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ یعني خپل رب یادوه په خپل زړه کی، ددی هم دوه صورتونه دی، یودا چی بغیر دژبی دحرکت څخه یوازی په زړه کی فکر اوخیال دالله ﷻ دذات اوصفاتو کوه چی ذکر قلبي یا تفکر ورته ویل کیږي، دوهم دا چی ددی سره ژبه هم بنورووی او کرار دالله ﷻ نوم ونه اخلی ترټولو ښه اوافضل صورت دا دی چی کوم ذکر کوی دهغه دمطلب په زړه کی هم تصور وی او په ژبه سره یی هم ادا کوی ، ځکه چی په دی صورت کی ژبه هم دزړه سره په ذکرکی شریکه سی، اوکه یوازی په زړه کی په ذکر مشغول وی په ژبه حرف نه ادا کوی نودا هم لوی ثواب دی، او ترټولو کمه درجه ددی ده چی یوازی په ژبه ذکر وی اوزړه خالي اوغافله وی ، داسی ذکر ته مولانا رومی رحمه الله فرمایي.

بر زبان تسبیح ودر دل گاو وخر این چنین تسبیح کی دارد اثر

اومقصد دمولانا رومی رحمه الله ددی چی دغافل زړه په ذکر کولو سره دذکر آثار اوبرکتونه کامل نه سی حاصلیدی . ددی څخه انکار نسته چی دایوازی زباني ذکرهم دثواب او فائدی څخه خالي نه دی، ځکه چی ځینی اوقات دازباني ذکر دزړه دذکر ذریعه او سبب جوړیږی، په ژبه سره په ویلو زړه هم متاثره کیږي اوکم ازکم یو اندام خوپه ذکرکی مشغول دی نودغه هم دثواب څخه خالي نه دی، په دی وجه کومو خلګو ته چی په ذکر اوتسبیح کی دل جمعی او استحضار نه وی، هغوی دی هم داسی ذکرپه بی فائده ګڼلو نه پریږدی جاري دی ساتی او داستحضار یعني دزړه دحضوری کوشش دی کوی، دوهمه طریقه دذکر یی په دی آیت کی دا وښووله: وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ یعني دچیغی دآواز په نسبت په کوم آواز سره یعني دالله ﷻ په ذکرکی مشغول لیدونکی ته داهم اختیار دی چی په آواز سره ذکر وکی مګر ددی ادب دا دی چی ډیری په زوره چیغی دی نه کوی ، په درمیانه آواز سره دی ذکرکوی چی دادب او احترام لحاظ یی په کی ساتلی وی، ډیرپه زور سره ذکر اوتلاوت کول ددی نښانه وی چی دمخاطب ادب اواحترام ددہ په زړه کی نسته، دکمی هستی ادب اواحترام اورعب چی دانسان په زړه کی وی دهغه په مخکی په طبعي ډول انسان ډیرپه زوره خبری نه سی کولی، په دی وجه عام ذکر که دالله وی اوکه دقرآن تلاوت کله چی په زوره کول کیږي، نوددی رعایت ساتل په کار دی چی دضرورت څخه زیات آواز لوړ نه وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډه داده چې ددې آیت څخه دذکر الله اوتلاوت دقرآن درې طریقې حاصلې سوې، یوه داچې یوازې په زړه سره ذکر وي یعنې دقرآن اوذکر په معناوو په تصور اوفکر سره اکتفا کوي، ژبه بالکل نه ښوروي، دوهم داچې ددې سره ژبه هم ښوروي مگر آواز نه لوړوي چې بل يې واوري، دا دواړې طریقې دذکر دالله ﷺ په دې ارشاد: وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ کې داخلې دي، اودریمه طریقه داده چې دزړه دحضور اوفکر سره دژبې حرکت هم وي او آوازهم مگر ددې طریقې دپاره ادب دا دی چې آواز زيات نه لوړوي، ددرمیانه درجې څخه دې نه ماسوا کیږي، دا طریقه دقرآن دارشاد وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ څخه حاصله ده.

دقرآن کریم یوبل آیت ددې زيات وضاحت په دې الفاظوکې فرمایلی دی. وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا په دې کې نبي کریم ﷺ ته حکم دی چې په خپل قرات کې مه زيات جهر کوه اومه بالکل پټوالی، بلکه دجهر او اخفاء په درمیانې حالت کې چلیږه دلمانځه دقرآنت متعلق نبي کریم ﷺ حضرت ابوبکر صدیق ؓ اوفاروق اعظم ؓ ته داهدایت فرمایلی وو.

په صحیح حدیث کې دی چې یووار نبي کریم ﷺ دشپې په آخرکې دکوره راووتی دحضرت ابوبکر صدیق ؓ کور ته ورسیدی نوویې لیدی چې دی په لمانځه کې مشغول وو، مگر تلاوت یې کرار کوي، بیا دحضرت عمربن خطاب ؓ کور ته ورسیدی نوویې لیدی چې ډیرپه لوړ آواز سره تلاوت کوي، کله چې سهار سو نو دوی دواړه حضرات په خدمت کې حاضر سول نوحضور ﷺ صدیق اکبر ؓ ته وفرمایل چې زه دشپې ستا خواته درغلم نوتا ډیرپه کرار آواز سره تلاوت کوي، صدیق ؓ عرض وکې چې یارسول الله ﷺ ماچې کوم ذات ته اوروی نو دهغه داوریدو دپاره دغه کافي وو، دغه شان فاروق اعظم ؓ ته یې وفرمایل، چې تاپه لوړ آواز سره تلاوت کوي، هغه عرض وکې چې په قرآنت کې دجهر کولو څخه زما مقصد داوو چې خوب به رالره نه راځي اوشیطان وتښتي، نبي کریم ﷺ دافیصله وفرمایله اوصدیق اکبر ؓ ته یې داهدایت وکې چې لږ آواز لوړوه اوفاروق اعظم ؓ ته دا چې لږ آواز کښته کوه (ابوداؤد)

په ترمذي کې روایت دی چې دحضرت عائشې ؓ څخه دنبي کریم ﷺ دتلاوت په باره کې ځینې حضراتو پوښتنه وکړه چې په زوره به یې کوی که په پټه؟ دې وفرمایل چې کله په زوره کله په پټه، دواړه قسمه تلاوت به یې فرمایی.

دشپې په نفلو لمونځونو کې اودلمانځه څخه دباندې تلاوت کې ځینو حضراتو جهر غوره کړی دی، ځینو په پټه، دغسې امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله فرمایي چې دتلاوت کوونکي خوښه ده، څنګه چې غواړي تلاوت دې کوي، البته په آواز سره په تلاوت کولوکې څو شرطونه دهغوی په نزد ضروري دي، اول داچې نوم او نمائش اوریا پکښې نه وي، دوهم آواز یې دنورو خلکو دپاره تکلیف نه وي، دبل سړي په لمانځه تلاوت یا آرام کې خلل نه اچوي اوکوم ځای چې دنوم نمائش اوریا بیره وي، یادنورو خلکوپه کار یا آرام کې دخلل بیره وي نوبیا دټولو په نزد کرار ویل ښه او بهتر دي، اوکم حکم چې دقرآن دتلاوت دی،

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه دنورو ذکرونو او تسبیحاتو دی چی په کرار اوپه زوره دواړه قسمه جائزدی، په دی شرط چی آواز دومره لوړ نه وی کوم چی دخشوع اوخضوع اوادب خلاف وی، دارنګه دده په آواز سره دنورو خلګو په کار یا آرام کی خلل نه راځی.

او دا فیصله چی په سرًا اوجهرًا کی کوم افضل دی ، دخلګو اوحالاتو په اعتبار سره مختلفه ده، دځینو خلګو دپاره جهربنه دی دځینو دپاره په پټه، دارنګه ځینی وخت جهر ښه وی اوځینی وخت پټ (مظهری وروح البیان اونور)

دوهم ادب دتلاوت اوذکر دادی چی په عاجزی اوپه زاری سره ذکروسی ، کومه نتیجه چی ددی وی چی انسان ته دالله ﷻ لویی اوجلال حاضرسی اوکوم ذکرچی کوی ددی په معنٰی اومطلب باندی دده نظر وی

دریم ادب یی ددی آیت په لفظ: خِیفَةً سره ښوول سویدی چی دذکر اوتلاوت په وخت کی پرانسان هیبت اوبیره غالبه پکارده، بیره ددی چی مونږ دالله ﷻ دعبادت اوعظمت حق نه سو ادا کولی ، ممکنه ده چی زمونږ څخه څه بی ادبی وسی، دارنګه خپل ګناهونه خانته را وړاندی کی او دالله ﷻ دعذاب څخه بیره، دارنګه دانجام او خاتمی بیره چی معلومه نه ده زمونږ خاتمه پرڅه حال کیدونکی ده؟ په هرحال ذکر اوتلاوت داسی په کار دی ، لکه هیبت زده بیریدونکی چی یی کوی.

دآدابو ددعا څخه ددی سورة اعراف په شروع کی هم په یوآیت کی داسی راغلی دی ، اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً : په دی کی د ، خِیفَةً په ځای د: خُفْيَةً لفظ راغلی دی چی ددی معنٰی ده په کرار آواز سره ذکر کول ، ګواکی دذکر اوتلاوت یو ادب داهم دی چی په کرار اوغلی آواز سره وسی، لیکن دی آیت ددی معنٰی هم واضحه کړه چی که څه هم په آواز سره ذکر کول منعه نه دی مګر شرط دا دی چی دضرورت څخه زیات آواز لوړنه کی دارنګه دومره یی په چیغونه کوی چی خشوع اوخضوع اوزاری عاجزی په کښی ختمه سی.

دآیت په آخرکی یی دذکر اوتلاوت وختونه وښوول چی سهار اومابنام پکار دی ددی دامعنٰی هم کیدی سی چی کم ازکم په شپه اوورځ کی دوه واره سهار اومابنام دالله ﷻ په ذکرکی مشغولیدل په کار دی، اوداهم کیدی سی چی سهاراومابنام یی وویل مرادورڅخه دشپی اوورځی ټول وختونه وی، لکه دمشرق اومغرب ویلو څخه ټوله دنیا مرادکیدلی سی په دی صورت کی به معنٰی دآیت داسی چی پرانسان لازمه ده چی همیشه په هرحالت کی دذکر اوتلاوت پابند وی ، حضرت عائشه ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ به په هرحالت اوهر حال کی دالله ﷻ په ذکرکی مشغول وو، دآیت په آخرکی فرمایی ، وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ یعنی دالله ﷻ یادمه پرېږده اوپه غفلت کوونکو کی مه شامیلږه چی دا ډیره لویه خساره او تاوان دی.

په بل آیت کی دخلګو دعبرت اونصیحت دپاره دالله ﷻ دمقربو یومخصوص حال بیان سوی دی ، چی کوم خلګ دالله ﷻ سره دی ، هغوی دده دعبادت څخه تکبرنه کوی ، دالله ﷻ سره دکیدو څخه مراد دالله ﷻ مقبول کړل دی چی [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

دتکبر کولو مطلب دادی چی دخپل خان په لوی گڼلو سره دهغه په عبادتونوکی کمی نه کوی بلکه خپل خان عاجز اومحتاج گڼی، همدغه دالله ﷻ په یاد اوعبادت کی مشغول وی اوتسبیح کوی اوالله ﷻ ته سجده کوی ، ددی څخه داهم معلومه سوه چی کومو خلکو ته دهمیشه عبادت اوخدای یادولو توفیق ورکول سوی وی نو دا ددی نښانه ده چی دی هر وخت دالله ﷻ سره دی او دالله ﷻ ملگرتیاورته حاصله ده

(دسجدې ځیني فضیلتونه اوحکمونه)

دلته دلمونځ په عبادت کی یوازی دسجدی ذکر ځکه وسو چی دلمونځ په ټولو ارکانو کی سجدی ته خاص فضیلت حاصل دی .

په صحیح مسلم کی دی چی یوسړی حضرت ثوبان ؓ ته وویل چی ماته یو داسی عمل وښیه چی په هغه سره زه جنت ته ولاړ سم ، حضرت ثوبان ؓ خاموش سو، ده بیا سوال وکی، بیاهم خاموش سو چی په دریم واریی سوال وکی نو هغه وویل چی ما داسوال دنبی کریم ﷺ څخه کړی وو ، هغه ماته دا وصیت فرمایلی ووچی ډیری سجدی کوه ، ځکه چی کله ته یوه سجده کوی نودهغه په وجه سره الله ﷻ ستا یوه درجه زیاتوی اویوه گناه دی معاف کوی ، دا سړی وایی چی دحضرت ثوبان ؓ څخه وروسته ما دحضرت ابودرداء ؓ څخه دا سوال وکی هغه هم دا جواب راکی .

او په صحیح مسلم کی په روایت دحضرت ابوهریرة ؓ نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی بنده خپل رب ته ترټولو نژدی هغه وخت وی کله چی بنده په سجده کی وی، په دی وجه تاسی دسجدی په حالت کی ښه دعا کوی چی په دی حالت کی دقبلیدو اُمید ډیر زیات دی .

یوه مسه : چی یوازی سجده څه معلوم عبادت نه دی ، په دی وجه دامام اعظم ابو حنیفه رحمه الله په نزد دډیرو سجدو څخه مراد دا دی چی نفلونه ډیر کوه ځومره چی نفلونه زیات وی سجدی به زیاتی وی .

لیکن که یو سړی یوازی سجده کوی او دعا کوی نو په دی کی هم څه باك نسته اوپه سجده کی ددعا کولو هدایت دنفلی لمونځونو دپاره خاص دی ، په فرضوکی نسته .

سورة اعراف ختم سو ، ددی سورة آخری آیت دسجدی آیت دی، په صحیح مسلم کی په روایت دحضرت ابوهریرة ؓ نقل دی چی کله دآدم یو زوی دسجدی یو آیت ووایی اوبیا دتلاوت سجده کوی نو شیطان چیغی وهی ژاړی اوتښتی اووایی چی های افسوس دی ، انسان ته دسجدی کولو حکم حاصل سو او ده ومنی سجده یی وکړه نو دده ځای جنت سو او ماته دسجدی کولو حکم وسو نوما نافرمانی وکړه نو ځای می دوزخ سو .

سورة اعراف ختم سو

الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِين

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿سورة الانفال﴾

سُوۡرَةُ الۡاَنۡفَالِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ خَمۡسٌ وَّسَبۡعُوۡنَ اٰيَةً وَّعَشۡرُ رُكُوۡعَاتٍ

سورة الانفال په مدینه کی نازل سو او په دی کی پنځه اویا (۷۵) آیتونه او لس (۱۰) رکوع ګانی دی

شروع کوم دالله په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی

يَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنِ الۡاَنۡفَالِ ؕ قُلِ الۡاَنۡفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوۡلِ ۚ فَاتَّقُوا

پوښتنه کوی ستا څخه دحکم دغنیمت، ته ووایه چی مال دغنیمت دالله دی او درسول نو بیره کوی

اللّٰهَ وَاَصۡلِحُوۡا ذَاتَ بَيۡنِكُمۡ ۪ وَاَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗۤ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ①

دالله څخه او صلح کوی په خپل مینځ کی او حکم منی دالله پاك او دهغه درسول که ایمان لری

دسورة مضمونونه: سورة الانفال کوم چی اوس شروع کیږی ، دا مدنی سورت دی ، تردی په مخکی سورة یعنی سورة اعراف کی دمشرکانو او اهل کتابو دجهل عناد، کفر او فساد ذکر اوددی دمتعلقه بحثونو بیان وو.

په دی سورة کی زیات تره مضمونونه دبدر دغزا پر موقع باندی دهغو خلکو دبد انجام، ناکامی او شکست، او دهغو په مقابله کی دمسلمانانو دکامیابی او فتوحاتو سره تعلق لری، کوم چی دمسلمانانو دپاره احسان او انعام او دکافرانو دپاره عذاب او انتقام وو، او کله چی ددی انعام ترټولو لویه وجه دمسلمانانو خلوص او للهیت او دیوبل سره اتفاق دی نو دا اخلاص او اتفاق، نتیجه ده دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ دمکملی فرمانبرداری ، په دی وجه دسورة په شروع کی دتقوی او دالله ﷻ دحکم منلو او دالله ﷻ دذکر او دتوکل او نورو تعلیم ورکول سوی دی .

لنډتفسیر: داخلک ستا څخه دغنیمتونو دحکم پوښتنه کوی ته ورفرمایه چی دا غنیمتونه دالله ﷻ (یعنی دغه دالله ﷻ ملکیت دی دهغه حق دی چی ددی متعلق څه حکم غواړی هغه کوی) او درسول دی (په دی معنی چی هغه دالله ﷻ حکم پیدا کی او هغه په کښی نافذ کړی، حاصل دادی چی دغنیمتونو دمالونو په باره کی ستاسی رایی او انتخاب ته هیڅ دخل نسته بلکه ددی فیصله به په شرعی حکم باندی وی) نو تاسی (ددنیا حرص مه کوی دآخرت طلب کوی داسی چی) دالله ﷻ څخه بیره کوه او په خپل مینځ کی دتعلقاتو اصلاح کوی (چی ستاسی په مینځ کی بغض او حسد پاته نه سی) او دالله ﷻ او دهغه درسول حکم منی که تاسی ایماندار یاست.

معلومات او مسئلي: دا آیت دبدر په غزا کی دپیښی سوی واقعی سره تعلق لری دآیت تر مفصل تفسیر مخکی دغه واقعه مخ ته راولی نو په تفسیر پوهیدل به آسان سی ، واقعه دا ده چی دبدر غزا کومه چی دکفر او اسلام ترټولو اوله جګړه وه، په دی کی چی کله مسلمانانو فتح پیدا کړه او د [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

په لاس ورغی نو داصحابو کرامو ﷺ په مینځ کی ددی دتقسیم متعلق یوه داسی واقعه پیښه سوه کومه چی داخلاص او اتفاق ددغه مقام سره نه ښائیده په کوم کی چی داصحابو کرامو ﷺ پوره ژوند برابر سوی وو، په دی وجه یی ترټولو اول په آیت کی ددی فیصله وفرمایله چی ددی پاکی ټولی په زړونوکی دصدق، اخلاص او اتفاق اوقربانی څخه ماسوا څه پاته نه سی، ددی واقعی تفصیل دبدر په غزاکی دشریك حضرت عباده زبانی په مسند احمد، ترمذی، ابن ماجه؛ مستدرك حاکم اونوروکی داسی نقل دی چی دحضرت عباده بن صامت ﷺ څخه چاپه دی آیت کی دلفظ د: انفال دمطلب پوښتنه وکړه، نوده وفرمایل چی دا آیت خو زموږ یعنی دبدر داصحابو ﷺ په باره کی نازل سوی دی چی واقعه یی داوه چی دغنیمت دمال دتقسیم په باره کی زموږ په مینځ کی څه اختلاف پیدا سوی وه، کوم چی زموږ په اخلاقو باندی بد اثر واچوی، الله ﷺ ددی آیت په ذریعه دغنیمت مالونه زموږ دلاسو څخه واخیستل اونبی کریم ﷺ ته یی وسپارل اونبی کریم ﷺ پرټولو حاضرینو دبدر باندی برابر برابر تقسیم کړل، صورت داسی پیښ سوی وو، چی موږ ټول دنبی کریم ﷺ سره دبدر غزا ته ووتلو او ددواړو ډلوپه مینځ کی دزبردست جنګ څخه وروسته الله ﷺ دښمن لره شکست ورکی، نواوس زموږ لښکر دری حصی سوځه خلګ په دښمن پسی ولاړل چی دوی بیرته راونه ګرځی څه خلګ دکفارو دپاته کړی مال په جمع کولو کی ولګیدل څه خلګ پرنبی کریم ﷺ چاپیره جمع سول چی هسی نه پټ دښمن پرنبی کریم ﷺ حمله ونه کی، کله چی جنګ ختم سو او دشپی هرسړی خپل خپل دآرام خای ته راورسیدی نوکومو خلګو چی دغنیمت مال جمع کړی وو، هغو وویل چی دا مال خوموږ جمع کړی دی، په دی وجه په دی کی زموږ څخه ماسوا دبل چا هیڅ حصه نسته، اوکم خلګ چی په دښمن پسی تللی وه، هغو وویل چی تاسی خلګ ترموږ زیات ددی حقدارنه یاست، ځکه چی دښمن موږ پرشا تښتولی وو اوتاسی ته دا موقع موږ په لاس درکړه، چی په بی فکری سره تاسی دامال راجمع کی اوکم خلګ چی پرنبی کریم ﷺ دحفاظت دپاره چاپیره سوی وه، هغوی وویل چی که موږ غوښتلی نوموږ به هم دغنیمت دمال په جمع کولوکی ستاسی سره شریك سوی وای لیکن دنبی کریم ﷺ حفاظت کوم چی دجهاد ترټولو مهم کار وو، موږ په دی کی مشغول وو، په دی وجه موږ هم ددی مستحق یو.

دصحابه کرامو ﷺ داخبری اتری نبی کریم ﷺ ته ورسیدی نو پردی باندی داذکر سوی آیت نازل سو کوم چی واضح کړه چی دا مال دالله ﷺ دی، ددی هیڅوك مالك او حقدار نسته، بغیر دهغه څخه کوم ته چی یی نبی کریم ﷺ ورکی، نبی کریم ﷺ دالله ﷺ دارشاد مطابق دغه مال پرټولو شریکانو دجهاد برابر تقسیم کی (ابن کثیر)

اوټول دالله ﷺ او رسول په دی فیصله راضی سول او ددوی دشان خلاف چی د دوی کوم صورت حال جوړ سوی وو، په هغه باندی ټول پښیمانه سول.

اوپه مسند احمد کی ددی آیت دشان نزول یوه بله واقعه دحضرت سعد بن ابی وقاص ﷺ هم نقل دی، هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمايي چي دبدر په جهاد کې زما ورو عمير رضي الله عنه شهيد سو، ما دده په مقابله کې د مشرکينو څخه سعيد بن العاص قتل کې، او د هغه څخه مې توره واخيسته د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سوم، ما غوښتله چي داتوره ما ته حاصله سي، مګر نبي کريم ﷺ حکم وکې چي دا د غنيمت په مال کې جمع کړه، زه په حکم منلو مجبوره وم مګر زما زړه په دې سره سخت درديدی، چي زما ورور شهيد سو او ما د هغه په مقابله کې يو دښمن مړکې د هغه توره مې حاصله کړه، هغه زما څخه واخيستل سوه مګر سره ددې مې د حکم تعميل وکې او په مال د غنيمت کې د جمع کولو دپاره روان سوم، نولا ليرې نه وم تللی چي پر نبي کريم ﷺ د سورة انفال دا آيت نازل سو اوزه يې راوبللم اودا توره يې ماته عنايت وفرمايله، په څينو روايتونو کې دا هم دي چي حضرت سعد رضي الله عنه نبي کريم ﷺ ته عرض هم کړی وو، چي داتوره دې ماته راکول سي، مګر ده ﷺ وفرمايل چي نه دازما شی دی چي چاته يې يې ورکړم او نه ستا ملك دی، دا په پوره مال د غنيمت کې جمعه کړه تردې چي الله ﷻ څه فيصله وفرمايي هغسې به کيږي (ابن کثير، مظهري)

په دې کې هيڅ ليرې والی نسته چي دا دواړه واقعې پيښې سوې وي او د دواړو په جواب کې دا آيت نازل سوی وي.

(دآيت پوره تفسير دا دی)

په دې کې لفظ د: أنفَال دنفل جمع ده چي معنٰی يې ده فضل او انعام، نفلي لمونځ، روژه، او صدقې ته هم نفل ځکه وايي، چي دا دچا پر ذمه لازم او واجب نه وي، کوونکی يې په خپله خوښې سره کوي، د قرآن او سنت په اصطلاح کې لفظ دنفل او انفال د غنيمت مال ته هم ويل کيږي کوم چي د کفارو څخه د جهاد په وخت کې حاصليږي، مګر په قرآن کريم ددې معنٰی دپاره درې لفظونه استعمال سوي دي، انفال، غنيمة فئ، لفظ دانفال خو په دې آيت کې ذکر دی، او لفظ د: غنيمة او د هغه تفصيل ددې سورة په يو څلوېښتم ۴۱ آيت کې راتلونکی دی، او لفظ دفئ او ددې متعلقه تفسير په سورة حشر کې بيان سوي دی، وَمَآ اَفَآءَ اللّٰہُ الآية او ددې درې سره وو معناوي په لږ لږ فرق سره مختلفې دي، د معمولي او لږ فرق والي په وجه سره څينې وخت يو لفظ دبل پرځای مطلق د مال د غنيمت دپاره هم استعماليږي.

غنيمة: په عام طور سره هغه مال ته ويل کيږي، کوم چي د جنګ او جهاد په ذريعه د مخالف فريق څخه حاصل سي، او، فئ هغه مال ته ويل کيږي کوم چي بغير د جنګ او جګړې څخه د کفارو څخه حاصل سي، برابره خبره که هغوی وتښتي او مال پريږدي، او که په رضامندی سره يې ورکول قبول کي، او د نفل او انفال لفظ اکثر هغه انعام ته ويل کيږي کم چي د جهاد امير يو خاص مجاهد ته دده د کار ګزاری په صله کې علاوه پر حصې د غنيمت په طور د انعام ورکي، دا معنٰی په تفسير ابن جرير کې د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه نقل سوي ده (ابن کثير)

او کله مطلق مال د غنيمت ته نفل او انفال ويل کيږي، په دې آيت کې اکثرو تفسير ليکونکو دا عامه معنٰی اخيستی ده، په صحيح بخاری کې د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه دا عامه معنٰی نقل سوې ده او

Maktaba Tul Ishaat.com

حقیقت دا دی چی دالفظ دعام اوخاص دواړو معناوو دپاره ویل کیږي ، په دی وجه څه اختلاف نسته ، او ددی بهترینه تشریح اوتحقیق هغه دی کوم چی امام ابوعبید په خپل کتاب الاموال کی ذکر کړي دی ، دی فرمایی چی په اصل لغت کی نفل وایی فضل اوانعام ته اوپر دی امت مرحومه باندی دالله ﷻ دافضل اوخصوصی انعام دی چی دجهاد اوقتال په ذریعه کوم مالونه دکفارو څخه حاصل سی دغه یی دمسلمانانو دپاره حلال کړي دی ، کنی په تیرو امتونوکی دا دستور نه وو ، بلکه دغنیمت ټول مالونه به یی یو ځای جمع کول او دآسمان څخه به په قدرتی طور سره یواور ، بریښنا راتله اوهغه به یی سوزی اوایری کوی به یی ، دغه به ددغه جهاد دالله ﷻ په نزد دقبلیدو نښانه وه ، اوکه دغه دغنیمت مال به اور ونه سوزی نودابه نښانه ددی وه چی دغه جهاد دالله ﷻ په نزد مقبول نه دی، په دی وجه به یی دغه دغنیمت مال مردود اومنحوس گڼی اودغه به هیچا نه استعمالوی، دنبی کریم ﷺ څخه په روایت دحضرت جابر رضي الله عنه په بخاری او مسلم کی نقل دی چی ده فرمایلی دی چی ماته پنځه شیان داسی راکول سوی دی چی زما څخه مخکی یوه پیغمبر او ددوی امت ته نه وه ورکول سوی، په دغو پنځو شیانوکی یو دادی چی أُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ وَلَمْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي، یعنی زمادپاره دغنیمت مالونه حلال کړه سوي دی حال دادی چی زما څخه مخکی دهیچا دپاره نه وه حلال، په ذکرسوی آیت کی دانفال حکم دا ښودل سوي دی چی دغه دالله ﷻ او درسول دی ، معنی ددی دا ده چی اصلی ملکیت خو دالله ﷻ دی اوتصرف کوونکی په دی کی دالله ﷻ رسول دی، کوم چی دالله ﷻ دحکم مطابق یی په خپل صوابدید سره په دوی تقسیموی .

په دی وجه دتفسیر داماماتو یوه ډله چی په دوی کی حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه مجاهد ﷫ عکرمه ﷫ سدی، اونور داخل دی ، دا فرمایی چی داحکم داسلام په اول کی وو ، کله چی دغنیمتونو دتقسیم هغه قانون نه وو نازل سوی، کوم چی ددی سورة په پنځمه رکوع کی را روان دی ، څکه چی په دی کی دغنیمت پوره مال یی دنبی کریم ﷺ په رضا یعنی صوابدید باندی پریښنی دی، چی څنگه غواړی تصرف پکښی کوی، او مخکی چی کوم تفصیلی حکمونه راغلی دی ، په هغه کی دا دی چی دټول مال دغنیمت پنځمه حصه دی په بیت المال کی دعامو مسلمانانو دضرورتونو دپاره محفوظه کړی اوڅلور حصی دی په جهاد کی په شریکو خلګو تر یو خاص قانون لاندی تقسیم سی ، چی تفصیل یی په صحیح احادیثو کی ذکر دی ، دی تفصیلی بیان دسورة انفال اولنی آیت منسوخ کی .

اوځینی حضرات فرمایی چی دلته څه ناسخ او منسوخ نسته بلکه داجمال اوتفصیل فرق دی، دسورة انفال په اولنی آیت کی اجمال دی اوپه یو څلویښتم آیت کی ددی تفصیل دی، البته مال د ، فئ دکوم حکمونه چی په سورة حشرکی بیان سوي دی ، دغه پوره په پوره دنبی کریم ﷺ په تصرف کی دی ، دی ﷺ چی دخپل صوابدید مطابق څنگه وغواړی عمل دی په کوی، په دی وجه یی هلته داحکامو بیانولو څخه وروسته دا ارشاد فرمایلی دی: وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا یعنی څه چی تاسی ته زموږ رسول درکوی هغه اخلی اوکوم چی منع کړی ، دهغه څخه ځان ساتی.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی تفصیل څخه معلومه سوه چی مال دغنیمت هغه دی کوم چی دجنګ اوجهاد په ذریعه په لاس راسی اومال دفئ هغه دی کم چی بغیر دجنګ اوجهاد څخه په لاس راسی اولفظ دانفال د دوارو دپاره عام هم وبل کیږی ، اوخاص هغه انعام ته هم وبل کیږی کوم چی یوغازی ته دجهاد امیر ورکوی .

په دی سلسله کی غازیانو ته دانعام ورکولو څلور صورتونه دنبی کریم ﷺ دزمانی څخه رائج دی . یو دا چی دا اعلان وکی چی کم سړی څوک مخالف قتل کی نو دهٔ لپاره سوی سپاهی څخه چی کوم سامان په لاس ورسی دغه دهغه دی چاچی دی قتل کړی وی، دغه سامان په مال غنیمت کی نه جمع کیږی، دوهم داچی دلوی لښکر څخه یوه ډله جلا کی، یوطرف ته یی دجهاد دپاره ولیږی اودا حکم ورته وکی چی دغه طرف څخه کوم دغنیمت مال حاصل سو هغه به ددغه خاصی ډلی وی، کمه چی هلته تللی ده، یوازی دومره به وی چی ددغه مال څخه به پنځمه حصه دبیت لمال دپاره لیږی کول کیږی ، دریم داچی پنځمه حصه کومه چی په بیت المال کی جمعه کول کیږی په دی کی یوخاص غازی ته دهغه په اعلی کارګزاری سره په صله کی ورکول سی، دامیر دصوابدید مطابق، څلورم داچی دپوره مال دغنیمت څخه څه حصه جلا کی او خدمت کوونکو خلګو ته یی په طور دانعام ورکوی ، کوم چی دمجاهدینو دآسونو اونورو حفاظت کوی او د دوی سره په کارونو کی مدد کوی (ابن کثیر)

دآیت دمضمون خلاصه دا سوه چی نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی او فرمایی چی خلګ ستا څخه دانفالو متعلق پوښتنه کوی ته دوی ته ووایه چی انفال تول دالله ﷻ دی او دهغه درسول، یعنی په خپله څوک ددی حقدار یامالک نه دی، دالله ﷻ په حکم سره دهغه رسول چی څه فیصله وکی هغه به نافذه وی .

(دخلګو په مینځ کي داتفاق او اتحاد بنیاد په تقوی او دخدای ﷻ څخه په یېره باندي دی)

ددی آیت په آخری جمله کی ارشاد فرمایی ، فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ: چی په دی کی اصحابو کرامو ؓ ته خطاب کوی او فرمایی چی دالله ﷻ څخه بیره کوی او په خپل مینځ کی تعلقات برابر ساتی ، په دی کی اشاره دهغه واقعی طرف ته ده کمه چی دبدرپه غزاکی دغنیمت دمال دتقسیم په باره کی داصحابه کرامو ؓ په مینځ کی پیښه سوی وه، چی په هغه کی دیوبل سره دورانی اوخفګان بیره پیدا سوی وه، الله ﷻ دغنیمت دتقسیم معامله په خپله ددی آیت په ذریعه فیصله کړه اوس یی ددوی دزړونو داصلاح او دیو بل سره دتعلقاتو دښه کولو تدبیر وښوی چی مرکزی نقطه په کښی تقوی او دخدای څخه بیره ده .

تجربه شاهده ده چی کله تقوی اودخدای بیره اودآخرت بیره غالبه سی نولوی لوی جګړی په منټو کی ختمیږی، دیوبل څخه دنفرت غرونه ګردجورسی وَالُوزي دتقوی دارو حال په قول دمولانا رومی رحمه الله داسی سی

خود چی جائی جنګ وجدل نیک وبد کین الم از صلحها هم میرمد

یعنی دداسی خلګو دچا دجنګ اوجګړو سره څه کاروی، دوی ته خو دومره فرصت هم نه وی چی دخلګو اصلاح اودرستی په کښی وکی ، ځکه دچا زړه چی دالله ﷻ په محبت بیره اویاد کی مشغول وی هغه ته

Maktaba Tul Ishaat.com

دنور مخلوق سره دتعلقاتو زیاتولو فرصت نه وی

بسودائی جانان مشتغل بذکر حبیب از جهان مشتغل

یعنی ددوست اوحبیب په فکرکی دخان څخه ناخبره وی اودحبیب په یادوکی ددنیا څخه ناخبره وی

په دی وجه په دی آیت کی یی دتقوی تدبیر وښووی: اَصْلِحُوْا ذَاتَ بَیْنِکُمْ یعنی په ذریعه دتقوی دخپلو تعلقاتو اصلاح وکی، ددی زیاته تشریح یی داسی وفرمایله ، وَاَطِیْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ اِنْ کُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ یعنی دالله ﷻ اورسول مکمله فرمانبرداری دی وی که تاسی مومنان یاست ، یعنی دایمان تقاضا ده فرمانبرداری اود فرمانبرداری نتیجه ده تقوی اوکله چی خلګوته داشیان حاصل سی ، نو د دوی په مینځ کی به جګړی خو دبخوده ختمی سی او ددښمنی په ځای به په زړونو کی الفت او محبت پیدا سی .

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِیْنَ اِذَا ذُکِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ

ایماندار هغه دی چی کله ورته نوم وریاد کړل سی دالله نو بیریږی

قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِیَتْ عَلَیْهِمْ اٰیٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِیْمَانًا وَّعَلٰی رَبِّهِمْ

د دوی زړونه او کله چی وویل سی په دوی دهغه کلام نو زیات سی د دوی ایمان او دوی په خپل رب باندی

یَتَوَکَّلُوْنَ ﴿۲﴾ الَّذِیْنَ یُقِیْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ یُنْفِقُوْنَ ﴿۳﴾

توکل ساتی ، هغه خلق کوم چی قائم ساتی لمونځ اومونږ چی دوی ته کوم رزق ورکړی دی

اُولٰٓئِکَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ

دهغه څخه خرڅ کوی ، دغه دی رښتینی ایمانداران د دوی دپاره درجی دی دخپل رب سره ،

وَمَغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ کَرِیْمٌ ﴿۴﴾

او معافی او رزق دعزت دی .

تفسیر: (پس) ایماندار خو هغه خلګ دی چی کله (د دوی په مخکی) دالله ﷻ ذکر راسی نو (دهغه لویی ورته رامخ ته سی) ددوی زړونه وبیریږی اوکله چی دالله ﷻ آیتونه ویل کیږی دوی ته نودغه آیتونه ددوی ایمان نور زیات (مضبوط) کړی او دغه خلګ پرخپل رب توکل کوی (او) کم چی لمونځ قائم ساتی اومونږ چی دوی ته څه ورکړیدی، دهغه څخه دوی یی خرڅوی (بس) رښتینی ایماندار داخلګ دی ددوی دپاره لوی ... مغفرت دی او عزت رزق ...

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات او مسئلې

(دمومن خاص صفتونه)

په ذکر سوو آیتونو کې د هغو خاصو صفتونو بیان دی کوم چې په هر مومن کې په کاردي په دې کې اشاره ده چې هر مومن دې دځپلو ظاهري او باطني حالاتو او صفتونو جائزه اخلي، که دا صفتونه په ده کې موجود وي نو دالله ﷻ شکر دې ادا کې چې هغه ده ته دمومنانو صفتونه ورکړيدي او که په ده کې څه صفت موجود نه وي یاوي مګر ضعیف او کمزوري وي، نو ددې دحاصلولو یاقوي کولو فکر دې شروع کې.

(اولنی صفت دخدای ﷻ یره)

اولنی صفت یې دابیان کې، ﴿الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ﴾ یعنی کله چې ددوی په مخکې دالله ﷻ ذکر وسي نو د دوی زړونه وبیریږي مطلب دا دی چې دالله ﷻ لویې او محبت د دوی په زړونو کې ځای سوی اوډك وي چې ددې یوه تقاضا هیبت او بیره ده، دقرآن کریم په یو بل آیت کې ددې ذکر کوي، دمحبت خاوندانو ته زیري ورکوي، ﴿وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ﴾ یعنی خوشخبري ورکړه هغو تواضع کوونکو نرم خویه خلګو ته دکومو زړونه چې بیریږي کله چې ددوی په مخکې دالله ﷻ ذکر وسي، په دې دواړو آیتونو کې دالله ﷻ دذکر او یاد دیوې خاصې تقاضا ذکردی یعنی هیبت او بیره، او په بل آیت کې یې دالله ﷻ دذکر داخاصیت هم بیان کړی دی چې په دې سره زړه مطمئن کیږي: ﴿أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾ یعنی خاص دالله ﷻ په یاد سره زړونه مطمئن کیږي.

ددې څخه معلومه سوه چې په دې آیت کې چې دکمې بیرې او هیبت ذکر دی هغه دزړه دسکون او اطمینان خلاف نه دی لکه دډرنده یادښمن بیره چې دزړه سکون بربادوي، دالله ﷻ دذکر سره په زړه کې پیدا کیدونکې بیره ددې څخه بالکل مختلفه ده او په دې وجه دلته لفظ دبیرې استعمال نه سو بلکه په لفظ د ، ﴿وَجَلٌ﴾ سره یې ورڅخه تعبیر وکړ، چې ددې ترجمه مطلق بیره نه ده بلکه هغه هیبت دی کوم چې دمشرانو دلوی شان په وجه په زړه کې پیدا کیږي، ځینې تفسیر لیکونکې فرمایي چې دلته دالله ﷻ دذکر او یاد څخه مراد دادې چې یو ځای یو بنده دڅه ګناه کولو اراده کوله، چې په دې حال کې ده ته خدای یاد سو نودې دالله ﷻ دعذاب څخه وبیریدی او دګناه څخه را وګرځیدی، په دې صورت کې دبیرې څخه مراد دعذاب څخه بیره ده (البحر المحیط)

(دوهم صفت په ایمان کې ترقي)

دمومن دوهم صفت یې دا وښوی چې کله دده په مخکې دالله ﷻ آیتونه تلاوت کیږي، نودده ایمان زیاتیږي، دایمان زیاتیدو داسې معنی چې پرهغه دټولو عالمانو تفسیر لیکونکو او محدثینو اتفاق دی داده چې دایمان په قوت او کیفیت او نورکې ترقي کیږي، اودا تجربه سوې اولیدل سویده چې په نیکو عملونو سره په ایمان کې قوت او داسې سینه خلاصیدل پیدا کیږي چې نیك عملونه بیا دده عادت طبعي جوړسي چې په پرېښودلو یې بیا ده ته تکلیف وي او دګناه څخه دده طبعي نفرت پیداسي چې بیا ور ته نه

Maktaba Tul Ishaat.com

نژدی کیږی ، دایمان دا مقام یی په حدیث کی دحلاوت ایمان په لفظ سره تعبیر فرمایلی دی، چی دا یوچا داسی په نظم کی ویلی دی.

وَاِذَا حَلَتِ الْحَلَاوَةُ قَلْبًا
لَنَشِطَتْ فِي الْعِبَادَةِ الْاَعْضَاءُ

یعنی کله چی په زړه کی خوږوالی دایمان خای ونیسی نودده لاس اوپښی اوټول اندامونه به په عبادت کی راحت اومزه محسوسوی.

په دی وجه خلاصه دآیت دمضمون داسوه چی په کامل مومن کی داصفت پکاردی چی کله دده په مخکی دالله ﷻ آیتونه ویل کیږی نو دده په ایمان کی رڼا اوترقی راځی اونیکو کارونوته یی مینه زیاته سی ددی څخه داهم معلومه سوه چی لکه څنګه چی عام مسلمان قرآن وایی اواوری، چی نه ورسره دقرآن دادب اواحترام څه اهتمام وی نه دالله ﷻ عظمت ته ګوری ، داسی تلاوت دمقصود اواعلی نتیجو پیدا کوونکی نه دی ، که څه هم دثواب څخه خالی نه دی.

دریم صفت پرالله توکل : دریم صفت یی دمومن دابیان کړي دی چی دی په الله ﷻ توکل کوی ، دتوکل معنی اعتماد اوباور دی ، مطلب دا دی چی په خپلو ټولو کارونو او حالاتوکی دده مکمل اعتماد اوباور یوازی پریوه ذات الله ﷻ باندی وی ، په صحیح حدیث کی نبی کریم ﷺ فرمایی چی ددی معنی دا نه ده چی دخپلو ضروریاتو دپاره مادی اسباب او تدبیرونه پرېښول سی ، بلکه مطلب دا دی چی مادی اسباب او آلات داصلی کامیابی دپاره کافی نه ګڼی، بلکه په قدر دقدرت او همت مادی اسباب او تدبیرونه هم کوی اوددوی تراستعمال وروسته معامله الله ﷻ ته سپاری اوداسی ګڼی چی داسبابو پیدا کوونکی هم هغه دی او ددی اسبابو دفاندو پیدا کوونکی هم هغه دی، کیږی به هغه چی الله ﷻ یی غواړی.

په یو حدیث کی فرمایی ، اَجْمِلُوْا فِي الطَّلَبِ وَتَوَكَّلُوْا عَلَيْهِ ، یعنی درزق اوخپلو حاجتونو دحاصلولو دپاره دمتوسط درجی طلب او دمادی اسبابوپه ذریعه کوشش کوه، بیا معامله الله ﷻ ته سپاره، خپل زړه اودماغ یوازی په مادی تدبیرونو او اسبابو کی ګیر کړی مه ساته.

څلورم صفت دلمانځه قائمول: څلورم صفت یی دمومن قائم ساتل دلمانځه ښوولی دی په دی کی داخبره دیادولو وړ ده، چی دلته یی دلمانځه کول نه دی ویلی بلکه دلمانځه قائمولو څخه مراد دادی چی لمونځ دپوره شرطونه اوآدابو سره داسی ادا کوی څنګه چی نبی کریم ﷺ په خپل قول اوعمل سره ښوولی دی، که دآدابو او شرائطو کوتاهی په کښی وسوه نوهغه ته لمونځ کول خوویل کیږی مګرلمونځ قائمول ورته نه ویل کیږی، په قرآن کریم چی دلمانځه کمی فائدی اوبرکتونه ذکر سوي دی اوفرمایلی یی دی ، اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ: یعنی لمونځ دبی حیایی اوهری ګناه څخه منعه کول کوی، داپر لمونځ قائم ساتلو باندی موقوف دی، کله چی دلمونځ په آدابوکی کوتاهی وسی، نوکه څه هم دفتوی په لحاظ سره دده لمونځ ته جائز ویل کیږی، مګر دلمونځ په برکتونوکی به دکوتاهی په مقدار فرق راځی او په ځینو صورتونوکی خو به کلی طور [illegible] محروم وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

پنځم صفت دالله ﷻ په لاره کې خرڅ کول: پنځم صفت دمومن دابیان سوې دی چې الله ﷻ ده ته کوم رزق ورکړی وی، دی دهغه څخه دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کوی دا دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کول عام دی تولو صدقو او خیراتونو او وقف اوصله لره چی زکوٰة صدقه فطر اونور شرعی واجبات پکښی هم داخل دی اونفلی صدقی او بخششونه هم او دمیلمنو دوستانو مشرانو مالی خدمتونه هم.

دمومن ددی پنځو صفتونوبیانولو څخه وروسته ارشادفرمایی، أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا یعنی داسی خلک رښتینی مومنان دی دکموچی ظاهر اوباطن یودول اوزړه او ژبه متفق وی، کنه نوپه چاکی چی داصفتونه نه وی هغه په ژبه خو: اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ وایی، مگر دذوی په زړونوکی نه دتوحید رنګ اونه درسول اطاعت وی، ددوی عملونه ددوی دوینا رد کوی، په دی آیت کی دی طرف ته هم اشاره ده چی دهرحق یوحقیقت وی، کله چی دغه حاصل نه وی، حق نه حاصلیږی، یوسړی دحسن بصری رحمه الله څخه پوښتنه وکړه چی ای ابوسعید! آیاته مومن یی؟ نوده وفرمایل چی وروره ایمان دوه قسمه دی، ستا دسوال مطلب که داوی چی زه په الله ﷻ اودهغه په ملائکو کتابونو اورسولانو اوجنت او دوزخ اوقیامت اوحساب کتاب ایمان لرم اوکه نه؟ نوجواب دادی چی بیشکه زه مومن یم اوکه ستا دسوال مطلب دا وی چی زه هغه مومن کامل یم دکم ذکرچی دسورة انفال په آیت کی دی نوماته نه ده معلومه چی زه په دغوکی داخل یم اوکه نه، دسورة انفال دآیت څخه هغه آیت مراد دی کوم چی اوس تاسی واوریدی.

په ذکرسوی آیت کی دربښتینی مومن دصفتونو اوښانو بیانولو څخه وروسته ارشاد فرمایی، لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ، په دی کی دربښتینی مومن دپاره ددرو شیانو وعده یی وفرمایله، یولوړی درجی، دوهم مغفرت، دریم دعزت رزق.

په تفسیر بحر محیط کی دی چی ددی څخه په مخکی آیتونوکی چی دربښتونی مومن کوم صفتونه بیان سوی دی، هغه دری قسمه دی، یوهغه چی تعلق یی دزړه او باطن سره دی، لکه ایمان، دخدای بیره، پرالله توکل، دوهم هغه چی تعلق یی دجسم اوعمل سره دی، لکه لمونځ اونور، دریم هغه چی تعلق یی دانسان دمال سره دی، لکه دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کول، ددی درو واړو قسمونوپه مقابله کی ددرو انعامونو ذکر راغلی دی، لوړی درجی دزړه اوباطنی صفتونو په مقابله کی، او مغفرت دهغو عملونوپه مقابله کی چی دانسان دظاهر بدن سره تعلق لری، لکه لمونځ روژه اونور، لکه چی په حدیث کی راغلی دی، چی لمونځ دګناهونو کفاره ده اورزق کریم دالله ﷻ په لاره کی دخرڅ کولوپه مقابله کی راغلی دی چی څه یی خرڅ کړل، دهغه څخه ډیر ښه اوزیات به ده ته په اخرت کی حاصلیږی.

كَمَآ اَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْۢ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ ۪ وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَكٰرِهُوْنَ ۝۵ يُجَادِلُوْنَكَ فِي الْحَقِّ

لکه چی ویستلاست ستا رب ستادکور څخه دحق کار دپاره اویوه ډله دایماندارو څخه راضی نه وه دوی ستاسره جګړه کوله په حق خبره کی،

Maktaba Tul Ishaat.com

بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنظُرُونَ ﴿٦﴾

دهغه دظاهر يدو څخه وروسته ، ګوياچې دوی راکشول کيږي مرګ طرف ته او دوی ګوري او وينی

لنډتفسير: دغنيمت دمال دخلکوپه رضانه تقسيمدل، بلکه دالله دطرف څخه ددی تقسيمدل که څه هم ځينو خلکوته طبعاً ګران وو، مګر دډيرو مصلحتونو په وجه سره داخير اوغوره دی، اودا معامله که دطبيعتونو څخه خلاف ده، مګر ډير مصلحتونه په کښی داسی دی، لکه چی ستارب ستا دکور (اوکلی) څخه دمصلحت په بنا سره ته (دبدر طرف ته) روان کی او دمسلمانانو يوی ډلی (دخپل شمير او سامان دکموالی په وجه سره طبعاً) دا ګرانه ګڼله، هغوی په دی مصلحت (په کار) کی (يعنی دجهاد او دلښکر دمقابلی په معامله کی) پس ددی څخه چی دهغه ظهور سوی وو (دخپل حفاظت دپاره په طور دمشوری) ستاسی داسی جګړه کوله چی ګواکی څوك دوی دمرګ طرف ته راکشوی او دوی (مرګ ګواکی) وينی (مګر آخر انجام ددی هم ښه سو چی اسلام غالب او کفر مغلوب سو)

معلومات اومسئلې: دسورة په شروع کی دابيان سوی دی چی دسورت انفال ډير مضمونونه پرمشرکانو اوکافرانو باندی دعذاب اوانتقام اوپر مسلمانانو داحسان اوانعام متعلق دی اوددی په ضمن کی ددواړو فرقو دپاره دعبرت اونصيحت احکام بيان سويدی، اوپه دی معاملوکی ترټولو اوله اوتر ټولو مهمه واقعه دبدر غزا وه چی په دی کی دډير ساز اوسامان شمير اوقوت باوجود مشرکانوته دجانی اومالی نقصانونو سره شکست او مسلمانانو ته سره دهرقسم کموالی اوبی سامانی لويه فتح نصيب سوه، په دی صورت کی دبدر دواقعی تفصيلی بيان دی چی دذکر سوو آيتونو څخه شروع کيږی.

په اولنی آيت کی ددی خبری ذکر دی چی دځينو مسلمانانو دبدرپه موقع جهاد کول خوښ نه وه مګر الله ﷻ دخپل خاص فرمان په ذريعه خپل رسول ﷺ ته دجهاد حکم ورکی نو ناخوښونکی هم ورسره سوه، ددی خبری دبيانولو دپاره چی قرآن کريم کوم الفاظ اختيار کړي دی ، هغه په خو قسمه دغور قابل دی.

اول دا چی دآيت شروع د ، كَمَآ اَخْرَجَكَ څخه کيږی، په دی کی لفظ د : كَمَا يو داسی لفظ دی، چی دتشبيه دپاره استعماليږی نوغور طلب خبره داده چی دلته تشبيه دڅه شی سره ده؟ تفسيرکوونکی حضرات ددی مختلف توجيهات بيان فرمايي، دتفسير امام ابوحيان دغه ډول پنځلس اقوال نقل کړيدی په دی کی زيات نژدی دری احتمالونه دی، اول داچی ددی تشبيه څخه مقصد دابيانول دی چی لکه څنګه چی دبدر دغزا دغنيمت دمال دتقسيم په وخت کی داصحابو کرامو ؓ په مينځ کی اختلاف رايه سوی وو، بيا دالله ﷻ ترحکم لاندی ټولو ستا دحکم تعميل وکی او ددی برکتونه اوښی نتيجی مخ ته راغلی، دغه ډول ددی جهاد په شروع کی دځه خلکو دطرفه دناخوښی اظهار وسو، بيا دالله ﷻ ترحکم لاندی ټولو فرمان برداری وکړه اوددی غوره نتيجی اوغوره فائدی وليدل سوی، ددی توجيه نسبت دفراء او مبرد طرف ته دی (بحرِ محيط)، اودی ته يی په بيان القرآن کی ترجيح ورکړي ده ، لکه چی دلند تفسير څخه معلومه سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهم احتمال دا دی چی په تیرو آیتونوکی دربنتینو مومنانو دپاره په آخرت کی لوړی درجی او دمغفرت او دعزتمند رزق وعده سوی وه ، په دی آیتونوکی یی ددغی وعدی دیقینی کیدو ذکر داسی وکی چی دآخرت وعده که څه هم اوس دسترګو څخه پناه ده ، مګر دالله ﷻ کومه وعده دنصرت اوفتح چی دبدر په غزا کی سترګو ولیده ، ددی څخه عبرت واخلی اویقین وکی، چی لکه څنګه چی داوعده په دنیاکی پوره سوه دغه ډول دآخرت وعده به هم خامخا پوره سی (قرطبی بحواله نحاس) دریم احتمال هغه دی کوم چی ابوحیان دتفسیر لیکونکو دپنځلسو اقوالو ترنقل کولو وروسته لیکلی دی چی ماته په دی کی پریوه قول باندی اطمینان نه وو یوه ورځ ماپه دی آیت کی غور اوفکر کوی چی بیده سوم، نوما په خوب کی ولیدل چی زه یوځای ځم اویو سړی زما سره دی زه ددی آیت متعلق دده سره بحث کوم اودا ورته وایم چی ماته هیڅکله داسی مشکل نه دی راپیښ سوی، لکه ددی آیت په الفاظو کی چی راپیښ سو، داسی معلومیږی چی دلته څه لفظ محذوف دی، بیا ناڅاپه په خوب کی زما په زړه کی راغلل چی دلته لفظ د: نَصَرَكَ محذوف دی، داپه خپله ماهم خوښ کی اودکوم سړی سره چی می بحث کوی ، هغه هم خوښ کی تر بیداریدو وروسته می غور پر وکی نوزما اشکال ختم سو، څکه چی په دی صورت کی: كَمَا دتشبیه دپاره نه دی، بلکه دبیان دسبب دپاره استعمال سوي دی اومعنیٰ دآیت دا سوه چی دبدر په غزا کی چی دالله ﷻ دطرفه کوم خاص نصرت او امداد ستا سوی وو دهغه سبب داوو چی په دی جهاد کی چی تاځه وکړل هغه په خپل خواهش اورایی سره نه دی، بلکه خالص دالله ﷻ دامر اوحکم تابع دی وکړه ، دده په حکم سره ته دخپل کور څخه ووتلی اودحق داطاعت دانتیجه وی اوداسی کیږی چی دالله ﷻ امداد اونصرت دهغه ملګری کیږی .

په هر حال دآیت په دی جمله کی دا دری واړه احتمالونه ستره او صحیح دی، ددی څخه وروسته پردی نظر واچوی چی قرآن کریم ددی جهاد دپاره دنبی کریم ﷺ په خپله وتل ذکرنه کړه ، بلکه داپی بیان کړل چی الله ﷻ ته وایستلی ، په دی کی اشاره ده دنبی کریم ﷺ کمالِ بندګی او اطاعت ته ، چی دده فعل یعنی کار په حقیقت کی دالله ﷻ فعل دی کم چی دده په اندامو سره صادریږی، لکه په یوحدیث قدسی کی نبی کریم ﷺ فرمایی چی کله یوبنده په بندګی اوفرمانبرداری سره الله ﷻ ته نژدیکت حاصل کی، نوالله ﷻ دده په باره کی دا فرمایی چی زه دده سترګی سم دی چی څه وینی زماپه ذریعه یی وینی، زه دده غوږونه سم دی چی څه اوری زماپه ذریعه یی اوری ، زه دده لاس اوپښی جوړ سم، دی چی څه نیسی زما په ذریعه یی نیسی ، کوم طرف ته چی ځی زماپه ذریعه ځی ، ددی خلاصه دا ده چی دالله ﷻ خاص نصرت او امداد دده سره سی ، کوم کارونه چی په ظاهره دده دسترګو غوږونو یالاسونو اوپښو څخه کیږی ، په حقیقت کی په هغه کی دالله ﷻ قدرت کارفرماوی .

رشته در گردنم افگنده دوست | میبرد هر جا که خاطر خواه اوست

نده دا ده چی په لفظ د . أَخْرَجَكَ یی دی طرفته اشاره وکړه چی دنبی کریم ﷺ دجهاد دپاره وتل په

Maktaba Tul Ishaat.com

حقیقت کې دالله ﷻ وتل وو، کوم چې ستا دذات څخه ظاهره سوه ، دلته دا خبره هم دنظر قابله ده چې اخرجك ربك یې وفرمایل چې په دې کې یې دالله ﷻ ذکر په صفت درب سره وکی او دې طرف ته یې اشاره وکړه چې ددې جهاد دپاره ستا ایستل په شان دربوبیت سره او دتربیت په تقاضا سره وو ، ځکه چې ددې په ذریعه دمظلومو او مقهورو مسلمانانو دپاره فتحیاب کیدل او دمغرورو او ظالمانو کفارو دپاره اول دعذاب مظاهره کول وو .

د ، مِنْ بَیْتِكَ معنی ده ، ستا دکور څخه، مطلب داسو چې وایستلی ته ستارب دکور څخه، دجمهورو تفسیر لیکونکو په نزد ددې کور څخه مراد دمدینې طیبې کور یا په خپله مدینه طیبه ده، په کوم کې چې ترهجرت څخه وروسته ته مقیم سوی ځکه چې دبدر واقعه دهجرت په دوهم کال پیښه سوه ، ددې سره لفظ د ، بِالْحَقِّ یې ورسره زیات کی دایې وښووله چې داټوله کاروایي دحق، حق کولو اودباطل باطل کولو دپاره وسوه ، دنورو حکومتونو په شان دملک ګیری هوس یا دباچهانو غصه ددې سبب نه وو ، دآیت په آخرکی یې وفرمایل ، وَاِنَّ فَرِیْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِیْنَ لَکٰرِھُوْنَ یعنی یوی ډلی دمسلمانانو داجهاد ګران وګڼی اوناخوښ یې وو اصحابو کرامو : ته داګرانی څنګه اوولې پیښه سوه، په دې دپوهیدو دپاره دارنګه په راتلونکو نورو آیتونو دپوهیدو دپاره دبدر دغزا پوره واقعه واوری .

دابن عقبه او ابن عامر دبیان مطابق واقعه دا ده چې نبی کریم ﷺ ته په مدینه طیبه کی داخبر حاصل سو چې ابو سفیان دیوی تجارتی قافلی سره دشام څخه دتجارت مال را اخیستی دی او دمکی طرف ته را روان دی او په دې تجارت کی دمکی ټول قریش شریك دی ، دابن عقبه دبیان مطابق دمکی یو قریشی سړی یاښځه باقی نه وه پاته ، چې په دې کی یې حصه نه وه ، که دچا سره یو مثقال (یعنی څلور نیمی ماشی) سره زرهم وه ، نو هغه په دې کی خپله حصه اچولې وه ، ددې قافلی دټولی سرمایې متعلق دابن عقبه روایت دا دی ، چې پنځوس زره دیناره وه ، دینار دسرو زرو سکه ده چې څلور نیمی ماشی وی ، دسرو دموجوده نرخ (قیمت) په حساب سره دیو دینار قیمت دوه پنځوس روپی او دټولی سرمایې قیمت شپږ ویشت لکه روپی جوړیږی اودا هم دنن نه بلکه دنن څخه څوارلس سوه کاله مخکی شپږویشت لکه روپی دی، چې نن ترشپږ ویشت کروړه هم زیات حیثیت لری، ددې تجارتی قافلی دحفاظت او کار وبار دپاره دقریشو اویا څوانان اوسرداران وه، ددې څخه معلومه سوه چې دا تجارتی قافله په حقیقت کی دمکی دقریشو یوه تجارتی کمپنی وه .

بغوی په روایت دابن عباس ؓ اونورو نقل کړی دی چې په دې قافله کی دقریشو څلویښت سپاره دقریشو دسردارانو څخه وه ، چې په کښې عمرو بن العاص ، مخرمه بن نوفل په خاص طور سره دذکر قابل دی او دا هم معلومه ده چې دقریشو ترټولو څخه لوی طاقت ددوی داتجارت اوتجارتی سرمایه وه ، دکوم په زور سره چې دوی نبی کریم ﷺ او ددہ ملګری تنګ کړل او په مکه پرېښوولو یې مجبوره کړی وه دا وخت کله چې نبی کریم ﷺ ته [illegible]

Maktaba-Tul-Ishaat.com

مقرره سره چی دا وخت ددی قافلی دمقابلی کولو او دقریشو دطاقت ماتولو موقع ده ، داصحابو کرامو سره یی مشوره وکړه، نو درمضان میاشت وه او دمخکی څخه دځه جنګ تیاری نه وه ځینو حضراتو خو دچستی او همت اظهار وکی مګر ځینو څه ارنګ دورنګ وکی، ده هم پرتولو باندی ددی جهاد شرکت لازم نه کی ، بلکه داحکم یی وکی چی دکومو خلګو سره سپرلی موجودی دی، هغه دی زمونږ سره ځی. دغه وخت ډیر خلګ دجهاد دتللو څخه پاته سول او کمو خلګو چی تلل غوښتل او دهغوی سپرلی په کلو کی وی ، هغوی اجازت وغوښتی چی مونږ خپلی سپرلی راولو ، اوستاسی سره روان سو ، مګر وخت د دومره انتظارنه وو ، په دی وجه حکم وسو چی دکومو خلګو سره سپرلی موجودی دی او دوی تلل غواړی جهاد ته ، یوازی هغه خلګ دی روان سی، ددباندی څخه دسپرلیو راغوښتلو وخت نسته په دی وجه دده ﷺ سره په تلونکو خلګو کی هم لږ خلګ تیار سول او دکومو حضراتو چی دی جهادته دتللو اراده نه وه دهغه سبب هم دا وو ، چی ده دټولو پرذمه دجهاد شرکت نه وو واجب کړی ، او ددی خلګو دا هم اطمینان وو چی دا خو تجارتی قافله ده ، څه جنګی لښکرنه دی چی دمقابلی دپاره یی نبی کریم ﷺ ته دډیر لښکر او مجاهدینو ضرورت دی ، په دی وجه داصحابو کرامو ؓ ډیر لوی جماعت په دی جهاد کی شریك نه سو .

نبی کریم ﷺ چی کله بیرِ سقیاته ورسیدیٰ نوقیس بن صعصعه ؓ ته یی حکم وکی چی لښکر وشمیری ، نوهغه ترشمیرلو وروسته خبر ورکی چی دری سوه دیارلس ۳۱۳ کسان دی ، نبی کریم ﷺ چی دا وریدل نو خوشحاله سو اووی وویل چی داتعداد دطالوت داصحابو دی په دی وجه فال نیك دفتح او کامیابی دی داصحابو کرامو ؓ سره ټول اویا اوښان وه ، دهرو درو سړو دپاره یو اوښ وو دوی به ورباندی په وار وار سپریدل ، په خپله دنبی کریم ﷺ سره هم دوه حضرات په یو اوښ کی شریك وه، ابولبابه ؓ او حضرت علی ؓ کله چی به دده وار دپیاده تلو راغی نودی حضراتو به عرض کوی چی ته سپور اوسه، مونږ به ستا دپاره پیاده ځو ، خو درحمةِ للعٰلمین دطرف څخه به داجواب حاصلیدی چی نه تاسی ترما زیات قوت مند یاست اونه زه دآخرت دثواب څخه بی حاجته یم، چی دخپل ثواب موقع تاسی ته درکړم ، په دی وجه په خپل وار به حضور ﷺ پیاده تلی .

بل طرف ته یوسړی دشام دملك مشهور مقام عینِ زرقا ته ورسیدی او دقافلی سالار ابو سفیان ته یی داخبر ورسوی چی نبی کریم ﷺ ددی قافلی په انتظارکی دی په تاسی به پسی کیږی، ابوسفیان احتیاطی تدبیرونه اختیار کړل کله چی دا قافله دحجاز په حدونوکی داخله سوه نو یو هوښیار او چابکدست سړی ضمضم بن عمرو ته یی شل مثقاله سره یعنی تقریبًا دوه زره روپی مزدوری ورکړه اوپه دی یی راضی کی چی دی پر تیز رفتاره اوښه باندی سپور سی او ژر تر ژره مکی ته خبر ورسوی چی د دوی قافلی ته داصحابو ؓ څخه خطره ده .

ضمضم بن عمرو دهغه زمانی دخاص رسم مطابق دخطری داعلان دپاره ...

Maktaba Tul Ishaat.com

پریکی اوخپلی جامی یی دمخکی او وروسته څخه څیری کړی اوچپه کجاوه یی داوښی پرشا باندی کښېښوولـه داننبانه په هغه زمانه کی دخطری ګڼتی ګڼل کیده. کله چی هغه په دی شان سره مکی ته داخل سو کوم خلګ چی ددی جنګ دپاره وتلی سوه، په خپله ووتل اوکوم چی په څه وجه سره معذور وه، هغوی پرخپل ځای بل دجنګ دپاره تیار کی اویوازی په درو ورځو کی دا لښکر په پوره ساز اوسامان سره تیار سو.

په دوی کی چی کم خلګ ددی جنګ دشرکت څخه مخکی او وروسته کیدل هغوی ته به دی خلګو دشک په نظر سره کتل او دمسلمانانو هم خیال به یی ګڼل، په دی وجه داسی خلګ به یی په خاص طور سره جنګ ته دوتلو دپاره مجبوره کول کوم خلګ چی په داګه مسلمانان وه او لا تراوسه یی دخپلو عذرونو په وجه لاهجرت نه وو کړی، بلکه په مکه کی پاته وه، دوی او دبنو هاشم په خاندان کی چی پرچا هم دا ګمان ووچی چی دی دمسلمانانوسره همدردی ساتی، دوی یی هم ددی جنګ دپاره په وتلو مجبوره کړل، په دی مجبورو خلګوکی دنبی کریم ﷺ اکا حضرت عباس ؓ او دابو طالب دوه زامن طالب اوعقیل هم وه دغه ډول په دی لښکرکی زر تنه ځوانان، دوه سوه آسونه اوشپږ سوه زغری او سندری ویونکی مینځی وی او دوی نغاری واخیستی، دبدر طرف ته روان سول، پرهر منزل به لس اوښان ددی خلګو دخوراک دپاره ذبح کیدل.

بل طرف ته نبی کریم ﷺ یوازی دیو تجارتی قافلی دمقابلی په انداز سره تیاری وکړه ، درمضان په دولسمه دخالی په ورځ دمدینی طیبی څخه ووتل او دیوځو منزله تللو څخه وروسته چی بدرته نژدی ورسیدلنو دوه تنه سری یی مخکی ولیږل ، چی دابو سفیان دقافلی خبر راوړی (مظهری)

مخبرانو داخبر راوړی چی دابو سفیان قافله دنبی کریم ﷺ دتعاقب (وریسی کیدلو) څخه خبره سوې ده او د دریاب په غاړه غاړه تیره سوه او دهغوی دحفاظت او دمسلمانانو دمقابلی دپاره دمکی مکرمی څخه دزرو تنو ځوانانو لښکر دجنګ دپاره راروان دی (ابن کثیر)

ظاهره خبره ده چی دی خبر دحالاتو نقشه بدله کړه، دغه وخت نبی کریم ﷺ دخپلو ملګرو اصحابو کرامو ؓ سره مشوره وفرمایله چی ددی راتلونکی لښکر سره جنګ کوو اوکه نه؟ حضرت ابو ایّوب انصاری اوځینو نورو حضراتو عرض وکی چی په مونږ کی د دوی دمقابلی طاقت نسته اونه مونږ په دی قصد سره راغلی یو په دی خبره حضرت صدیق اکبر ؓ پاڅیدی او دحکم منلو دپاره یی خپل ځان پیش کی، بیا فاروق اعظم ؓ پاڅیدی اودغه ډول دحکم منلو او دجهاد دپاره دخپل ځان پیش کولو اظهار یی وکی ، په دی باندی حضرت مقداد ؓ پاڅیدی اوعرض یی وکی چی، یارسول الله! چی دالله ﷻ دطرف څخه څه حکم حاصل دی ته هغه جاری کړه مونږ ستاسی سره یو په خدای قسم دی مونږ به تاته هغه جواب درنه کو کوم چی بنی اسرائیلو حضرت موسی ؑ ته ورکړی وو فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ یعنی ته اوستارب ولاړ سی جنګ وکی مونږ به دلته ناست یو ، قسم دی په هغه ذات کوم چی ته دحق دین سره الیږلی یی

Maktaba Tul Ishaat.com

که ته مونږ دحبشو په ملك کی دبرك الغماد ترمقام پوری هم بیایی نومونږ به ستاسره دجنګ دپاره خو
نبی کریم ﷺ خوشحاله سو او ده ته یی دعاګانی وکړی مګر تراوسه پوری دانصارو دطرف څخه دموافقت
څه آواز پورته نه سو او دا احتمال وو چی انصارو حضراتو کومه معاهده دنبی کریم ﷺ سره دنصرت او
امداد کړی وه هغه دمدینی دننه وه ، دمدینی څخه دباندی دامداد کولو دوی پابندنه دی ، په دی وجه
حضور ﷺ بیا مجمع ته خطاب وکی ، ویی فرمایل چی خلګو مشوره راکی ، جنګ کوو اوکه نه ، ددی
خطاب دخبری مخ دانصارو طرف ته وو ، حضرت سعدبن معاذ ؓ انصاری پوه سو او عرض یی وکی چی
یارسول الله آیا تاسی زمونږ څخه پوښتنه کوی ، حضور ﷺ وفرمایل چی هو! سعد بن معاذ ؓ عرض وکی
یارسول الله! مونږ په تا ایمان راوړی او ددی شهادت موکړی دی چی تاسی څه فرمایاست هغه ټول حق دی
اومونږ ستاسره وعده اوپیمان کړی دی چی په هرحال کی به ستا فرمانبرداری کوو ، په دی وجه تاته چی
دالله ﷻ څخه څه حکم حاصل سوی دی ، هغه جاری که ، قسم دی په هغه ذات چاچی ته دحق دین سره
رالیږلی یی ، که ته مونږ دریاب ته بیایی نو مونږبه ستاسره دریاب ته ننوځو ، په مونږکی به یوسړی هم
ستا څخه وروسته پاته نه سی ، مونږ ته دا هیڅ ګرانه نه ده چی ته مونږ صباهم ددښمن سره وجنګوی
زمونږ أمید دی چی الله ﷻ به تاته زمونږ دکار هغه حالات وښیی چی ستا سترګی به په یخی سی مونږ
دالله ﷻ په نوم چی کومی خواته غواړی بیایی .

نبی کریم ﷺ چی دا واریدل نو دیر خوشحال سو او قافلی ته یی حکم وکی چی دالله ﷻ په نوم باندی روان
سی او دا خوشخبری یی ورته واوروله چی زما سره الله ﷻ دا وعده فرمایلی ده چی په دی دواړو ډلوکی
به په یوه ډله زمونږ غلبه وی ، د دواړو ډلو څخه مراد یوه دابو سفیان تجارتی قافله او دوهمه دا دمکی
څخه راتلونکی لښکر دی ، بیایی وفرمایل چی په خدای قسم زه ګواکی په خپلو سترګو سره دمشرکانو
دقتل ځای وینم ، دا پوره واقعه دتفسیر ابن کثیر اومظهری څخه اخیستل سوی ده .

دواقعی دتفصیل اوریدو څخه وروسته دی ذکر سوو آیتونوته وګوری ، په اول آیت کی چی دا ارشاد
فرمایی ، وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ لَكَارِهُونَ یعنی یوی ډلی دمسلمانانو داجهاد ګران ګڼی ، په دی سره اشاره
دهغه حال طرف ته ده کوم چی داصحابو کرامو ؓ څخه دمشوری اخیستو په وخت کی ظاهر سو چی
دوی دجهاد څخه پست همتی ښکاره کړه .

او ددی واقعی بیان په بل آیت کی دی ، يُجَادِلُونَكَ فِي الْحَقِّ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنظُرُونَ : یعنی
داخلک ستاسره په حقه معامله کی جګړه اواختلاف کوی ، ګواکی دوی دمرګ طرف ته راکشول کیږی ،
کوم چی دوی په خپلو سترګو سره وینی .

اصحابو کرامو ؓ که څه هم دحکم څخه څه تجاوزنه وو کړی بلکه دمشوری په جواب کی یی دخپل ضعف
او کوم همتی اظهار کړی وو ، مګر درسول دملګرو څخه داسی رایی ظاهریدل ، هم د دوی دلوړ مقام په
اعتبار سره دالله ﷻ په نزد ناخوښه وه ، په دی وجه دنا اضکی الفاظ سره ... دا بیان کړ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاِذۡ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ اِحۡدَى الطَّآئِفَتَيۡنِ اَنَّهَا لَكُمۡ وَتَوَدُّوۡنَ

او کوم وخت چې تاسې وعده کوله الله چې د دوو ډلو څخه به یوه ستاسې په لاس راسي او تاسې غوښتله

اَنَّ غَيۡرَ ذَاتِ الشَّوۡكَةِ تَكُوۡنُ لَكُمۡ وَيُرِيۡدُ اللّٰهُ اَنۡ يُّحِقَّ الۡحَقَّ

چې په کومه کې ازغي نسته دغه ستاسې په لاس راسي او الله ﷻ غوښتله چې رښتیا کړي رښتیا

بِكَلِمٰتِهٖ وَيَقۡطَعَ دَابِرَ الۡكٰفِرِيۡنَ ۝٧ لِيُحِقَّ الۡحَقَّ وَيُبۡطِلَ

په خپلو کلمو سره او پرېکړي بیخ دکافرانو . ددې دپاره چې رښتیا کړي رښتیا ، او دروغ

الۡبَاطِلَ وَلَوۡ كَرِهَ الۡمُجۡرِمُوۡنَ ۝٨ اِذۡ تَسۡتَغِيۡثُوۡنَ رَبَّكُمۡ فَاسۡتَجَابَ

کړي دروغ ، که څه هم ناراضه وي مجرمان . کله چې تاسې فریاد کوی خپل رب ته نو هغه ورسیدی

لَكُمۡ اَنِّىۡ مُمِدُّكُمۡ بِاَلۡفٍ مِّنَ الۡمَلٰٓئِكَةِ مُرۡدِفِيۡنَ ۝٩ وَمَا جَعَلَهُ

ستاسې فریادته چې زه به ستاسې مدد ته درولیږم زر ملائکې پرله پسې راتلونکې ، او دا خو الله

اللّٰهُ اِلَّا بُشۡرٰى وَلِتَطۡمَئِنَّ بِهٖ قُلُوۡبُكُمۡ ۚ وَمَا النَّصۡرُ اِلَّا مِنۡ

ﷻ فقط خوشخبری درکړه ، او چې مطمئن سي په دې ستاسې زړونه ، او مدد نه دی مګر

عِنۡدِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيۡزٌ حَكِيۡمٌ ۝١٠ ع

دالله دطرف څخه دی ، بیشکه الله ﷻ زور آور دی حکمت والا

لنډتفسیر: او تاسې خلک هغه وخت یادکی چې الله ﷻ ستاسې سره دهغو دوو ډلو (یعنی تجارتی قافلې یالښکر) څخه دیوی (ډلې) وعده کوله چې دغه (ډله) به ستاسې لاس ته درسي (یعنی مغلوبه به سي دا وعده دمسلمانانو سره په واسطه دنبی کریم ﷺ په ذریعه دوحی سوی وه) او تاسې په دې خواهش کی واست بی وسلې ډله (یعنی تجارتی قافله) به ستاسې لاس ته درسي او الله ﷻ ته دا منظوره وه چې په خپلو حکمونو سره دحق حقوالی (لره عملاً غلبه ورکړي) ثابت کړي او (دا ورته منظوره وه) چې ددې کافرانو بنیاد پرېکړي چې دحق حقوالی او دباطل باطلوالی (عملاً) ثابت کې که څه هم دامجرمان خلک (یعنی مغلوب سوی کافران دا خومره) ناخوښه کوی ، هغه وخت یاد کړه کله چې تاسې خپل رب ته (حی

Maktaba Tul Ishaat.com

خپل کموالی دشمیر اولږوالی دسامان مو ولیدی او، فریاد موکوی نو الله ﷻ ستاسی فریاد واوریدی (او وعده یی وکړه) چی ستاسی به په زرو ملائکو سره مدد وکړم کوم چی به پرلپسی راروانی وی او الله ﷻ دا امداد یوازی ددی (حکمت) دپاره وکی چی (تاسی ته دغلبی پیدا کیدو) زیری وی او چی ستاسی زړونو ته قرار راسی (یعنی دانسان تسلی په طبعی طورسره په اسبابو اوسامان سره کیږی، په دی وجه هغه هم جمع سوه) او (په واقع کی خو) نصرت (اوغلبه) یوازی دالله ﷻ دطرف څخه ده کوم چی زبردست حکمت والا دی.

معلومات اومسئلې: په ذکر سوو آیتونوکی دبدر دغزا واقعه اوپه دی کی چی کوم دالله ﷻ دطرف څخه دنصرت اوامداد مخصوص انعامونه پرمسلمانانو باندی سوی وه دهغه بیان دی، په اول اودوهم آیت کی دابیان سویدی چی څه وخت نبی کریم ﷺ اواصحابو کرامو: ته دا اطلاع حاصله سوه چی دقریشو یو لوی لښکر دخپلی تجارتی قافلی دحفاظت دپاره دمکی څخه راوتلی دی نو اوس دمسلمانانو په مخکی دوه جماعتونه وه یوه تجارتی قافله چی په روایتونو کی ورته عیر ویل سویدی اودوهم دامسلح فوج چی دمکی څخه راروان وو چی په روایتونو کی ورته نفیر ویل سویدی، په دی آیت کی یی دا وښوول چی داوخت الله ﷻ دخپل رسول ﷺ اودده په واسطه دټولو مسلمانانو سره داوعده وفرمایله چی په دی دواړو ډلو کی پریوه ډله به ستاسی مکمله قبضه راسی چی ددوی متعلق تاسی څه غواړی کولی به یی سی.

اوس داظاهره ده چی پرتجارتی قافله قبضه آسانه وه اوبیره پکښی نه وه اوپرمسلح فوج باندی مشکله اودخطرو څخه ډکه وه، په دی وجه غیر واضحه وعده یی چی واوریدله نو دډیرو اصحابو کرامو ﷺ آرزو اوخواهش داسو چی هغه ډله پرکمه چی دمسلمانانو دقبضی الله ﷻ وعده کړي ده دغه بی وسلی تجارتی قافله دی سی، لیکن دنبی کریم ﷺ او د ډیرو مشرانو اصحابو کرامو ﷺ دالله ﷻ په اشارو باندی دا اراده سوه چی په مسلح فوج باندی چی قبضه وسی نو دا غوره ده.

په دی آیت کی یی پرقافله قبضه غوښتونکی مسلمانان خبردار کړیدی چی تاسی ته خو دخپلی آسانی اوبی بیری کیدو په وجه دا خوښه وه چی پربی وسلی قافله باندی ستاسی قبضه راسی، مګر دالله ﷻ اراده داوه چی دااسلام اصلی مقصد حاصل سی یعنی دحق حق کیدل واضح سی او دکافرانو بیخ پری سی اوظاهره ده چی دا کار هغه وخت کیدی چی دمسلح فوج سره مقابله اوپه دوی دمسلمانانو مکمله قبضه اوغلبه وی.

خلاصه دا ده چی مسلمانان په دی خبرول دی چی تاسی کوم صورت خوښ کی دغه ډیر دکم همتی اوآرام طلبی اووقتی فاندی شی وو اوالله چی کومه اراده وفرمایله دا دلوی همت اولوړو مقصدونو اومکملو اوپر همیشه فاندو باندی مشتمله وه، بیاپه دوهم آیت کی دازیاته واضحه کړی چی دالله ﷻ دقدرت دقبضی څخه خوهیڅ شی دباندی نه وو، که هغه غوښتلی نوپر تجارتی قافله به دمسلمانانو غلبه اوقبضه سوی وای، مګر هغه دنبی کریم ﷺ اواصحابو ﷺ دشان مناسب داوګڼله چی دبا وسله لښکر سره مقابله وسی اوپر دوی قبضه وسی چی دحق حقوالی او دباطل باطلوالی ښکاره سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته داخبره دغور کولو قابله ده چې الله ﷻ خو پوه او خبردار او دهرکار داول اوآخر څخه باخبره دی ، دهغه دطرف څخه په دی غیرِ واضحه وعده کې څه مصلحت وو چې په دی دواړو ډلوکې به پرېوه ډله دمسلمانانو قبضه وسی ، ده خو ورڅخه يوه متعينه کولی سوه اوفرمايلی یې سوای چې په فلانی ډله به قبضه وسی ددی غيرواضحه کولوپه وجه خوالله ﷻ پوه دی دامعلومیږی چې په دی کې داصحابو کرامو ؓ امتحان اخيستل وو چې آسان کارخوښوی اوکه مشکل او د دوی اخلاقی تربيت کول هم وو ، دکوم په ذريعه چې یې دوی ته عالی همتی ، دلويو مقصدونو دپارهٔ جد اوجهد اودخطرو څخه بيريدل وښوول په دريم اوڅلورم آيتونوکې دهغه واقعی بيان دی کوم چې دباوسله لښکر سره دمقابلی مقررکيدوڅخه وروسته مخ ته راغی ، چې نبی کريم ﷺ چې کله دا وليدل چې دده په ملګروکې يوازی دری سوه ديارلس ۳۱۳ کسان اوهغه هم اکثره بی وسلی دی ، اوپه مقابله کې یې تقريبًا دزروتنو خوانانو باوسله لښکردی نودالله ﷻ په دربارکې یې دنصرت اوامداد ددعا دپاره لاسونه لوړ کړل ، ده به دعا غوښتله اواصحابو کرامو ؓ به آمين وايه.

حضرت عبدالله بن عباس ؓ دنبی کريم ﷺ ددعا داکلمی نقل کړي دی.

یاالله! زماسره چې کومه وعده تا فرمايلی ده ، هغه ژر پوره کې ، یا الله! که دمسلمانانو دالږ غوندی جماعت فنا سو نو بيابه په مځکه کې څوك ستا عبادت کوونکی پاتٔه نه سی (ځکه چې توله مځکه دشرك اوکفر څخه ډکه ده ، دا يو څو مسلمانان دی کوم چې صحيح عبادت کوونکی دی)

نبی کريم ﷺ برابردغه ډول په زاری اوعاجزی سره په دعاکې مشغول وو تردی چې څادر دده داوږو مبارکو څخه وښوي دی ، حضرت ابوبکرِ صديق ؓ راوړاندی سو اوڅادر یې پرده ﷺ برابرکې اوعرض یې وکې يارسول الله! تاسی زيات فکرمه کوی الله ﷻ به ستاسی دعا ضرور قبوله کې اوخپله وعده به پوره کې.

په آيت کې د ﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ﴾ دالفاظو څخه دا واقعه مراد ده چې ددی معنٰی دا ده چې هغه وخت دیادولو قابل دی کله چې تاسی خپل رب ته فرياد کوی اومدد مو طلب کوی ، دا استغاثه خوکه څه هم دنبی کريم ﷺ دطرفه سوی وه ، مګر تولو اصحابو ؓ به آمين په وايه په دی وجه یې تول جماعت ته نسبت وسو.

ددی څخه وروسته ددی دعا دقبوليت بيان داسی فرمايی ، ﴿فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ﴾ يعنی الله ﷻ ستاسی فرياد واوريدی اووېی فرمايل چې په زرو فرښتو سره به ستاسی مدد وکړم ، کوم چې به په يوبل پسی دقطار په صورت کې راروانی وی ، ملائکوته چې الله ﷻ کوم یې مثله قوت اوطاقت ورکړي دی ، دهغه اندازه دهغه واقعی څخه کيږی کومه چې دحضرت لوط ؑ په قوم دمځکی اړولو په وخت کې پيښه سوه، چې جبرئيل امين ؑ دخپل وزر په ذريعه پرېل مخ واړوله، دداسی بی مثاله طاقت والاملائکو ددومره لوی تعداد دمقابلی دپاره دليږلوضرورت نه وو يوه هم کافی وه مګر الله ﷻ دخپلوبندګانو دفطرت څخه واقف دی چې دوی په تعداد (ډيريدو) سره هم متاثره کيږی په دی وجه دمقابل فريق دشمير مطابق یې دملائکو دشمير [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

په خلورم آیت کی هم دامضمون ارشاد فرمایی : وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى وَلِتَطْمَئِنَّ بِهٖ قُلُوْبُكُمْ یعنی الله ﷻ دا صرف ددی دپاره وکړل چی تاسی ته خوشخبری حاصله سی او ستاسی زړونه مطمئن سی ، دبدر په غزا کی چی کومی ملائکی الله ﷻ دامداد پاره راولیږلی د دوی شمیر دلته زر ذکردی او په سورة آل عمران کی دری زره او پنځه زره ذکر سوي دی ، ددی سبب په اصل کی دری مختلفی وعدی دی کومی چی په مختلفو حالاتوکی سوی وی ، اوله وعده دزرو ملائکو وسوه چی سبب یی دنبی کریم ﷺ دعا او دعامو مسلمانانو فریاد وو ، دوهمه وعده کومه چی د درو زره ملائکو دسورة آل عمران په اول کی ذکر سوي ده دا هغه وخت سوی وه کله چی مسلمانانو ته دا خبر حاصل سو چی دقریشو دلښکر دپاره نور ملک راروان دی، په روح المعانی کی دابن ابی شیبه اوابن المنذر اونورو څخه په روایت دشعبی ؒ نقل دی. چی مسلمانانو ته دبدر په ورځ دا خبر ورسیدی چی کرز بن جابر محاربی دمشرکانو دامداد دپاره کمک راروان کی، په دی خبر سره په مسلمانانوکی پریشانی پیدا سوه نوپردی دآل عمران آیت ، اِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِیْنَ اَلَنْ یَّكْفِیَكُمْ اَنْ یُّمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِیْنَ، نازل سو او په دی کی ددری زره ملائکو دامداد دپاره دآسمان څخه دنازلولو وعده ذکر سوه، اودریمه وعده دپنځو زروپه دی شرط پوری تړل سوی وه چی که مخالف فریق په یو وار حمله وکړه نو دپنځو زرو ملایکو مدد به راولیږل سی، دغه دآل عمران ذکر سوی آیت څخه وروسته په آیت کی داسی ذکردی: بَلٰٓى اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا وَیَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا یُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِیْنَ یعنی که تاسی ثابت قدم پاته سواست اوپر تقوی قائم پاته سواست اومقابل لښکر پرتاسی یو وار حمله وکړه نو ستاسی رب به ستاسی امداد په پنځه زره ملائکو وکی چی په خاص نښانو سره یعنی په خاص وردی (جامه) کی به وی .

ځینی حضرات مفسرین فرمایی چی په دی وعده کی دری شرطونه وه، یو ثابت قدمی، دوهم تقوی، دریم دمخالف فریق په یو وار حمله، اولنی دوه شرطونه خو په صحابه کرامو ؓ کی موجود وه او په دی میدان کی داول څخه ترآخره پوری په دوی کی څه فرق رانغی، مګر دریم شرط چی په یو وار پردوی ددښمن حمله کول وو واقع نسو په دی وجه دپنځو زرو ملائکو دلښکر نوبت رانغی .

نوپه دی وجه معامله په یوزراوپه دری زره کی پاته سوه په کوم کی چی دااحتمال هم دی چی ددی سره یی دوه زره نوری شاملی کړی دری زره یی کړی اوداهم احتمال دی چی دا دری زره ددغو زرو څخه علاوه وی دلته دا خبره هم دنظر قابله ده چی په دی درو آیتونوکی دملائکو ددرو جماعتونو دلیږلو وعده ده او دهر جماعت سره یو خاص صفت ذکردی دسورة انفال په آیت کی په کوم کی چی دزرو وعده ده په دی کی خوددی ملائکو په صفت کی ، مُرْدِفِیْنَ راغلی دی چی معنی یی ده په یو بل پسی، په دی کی شاید دی طرف ته یی اول اشاره کړیده چی په دی ملائکو پسی نوری هم راتلونکی دی اودسورة آل عمران په اول آیت کی یی دملائکو صفت ، مُنْزَلِیْنَ فرمایلی دی ، یعنی دا ملائکی به دآسمان څخه نازلیږی ، په دی کی اشاره دخاص اهمیت طرف ته ده [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

خخه دکار اخیستو په خای په خاص اهتمام سره داملائکی دآسمان خخه ددی کار دپاره لیږل کیږی او
دآل عمران په دوهم آیت کی چی دپنځو زرو ذکر دی په دی کی یی دملائکو صفت ، مُسَوِّمِيْنَ ارشاد
فرمایلی دی چی دغه به په یو خاص لباس اونښانو سره وی ، لکه چی دحدیث په روایتونو کی دی چی په
بدرکی دملائکو لنګوټی سپینی اوپه حُنین کی دراغلو ملائکو لنګوټی سری وی ، دآیت په آخرکی
ارشاد فرمایی ، وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللهِ اِنَّ اللهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ په دی کی یی مسلمانانو ته خطاب فرمایلی
دی چی هرمدد هم دهر خای خخه چی حاصلیږی برابره خبره ده که په ظاهری صورت سره وی اوکه په پټ
انداز سره ټول دالله ﷻ دطرف خخه دی ، دهغه په قبضه کی دی ، دملائکو مدد هم دده دفرمان تابع دی ،
په دی وجه ستاسی نظر یوازی دهغه ذات وحده لاشریك له طرف ته په کار دی ، خکه چی هغه لوی قدرت
والا حکمت والا دی .

اِذْ يُغَشِّيْكُمُ النُّعَاسَ اَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُمْ بِهٖ وَيُذْهِبَ

کوم وخت چی وغورخوله هغه په تاسی اورمی دخپل طرف خخه دتسکین دپاره اونازلی کری په تاسی دآسمان
خخه اوبه چی په هغه سره تاسی پاك کری اولیری کری ،

عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ

ستاسی خخه دشیطان پلتی اومضبوط کری ستاسی زړونه اوثابت کری په دی سره

الْاَقْدَامَ ﴿۱۱﴾ اِذْ يُوْحِيْ رَبُّكَ اِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ اَنِّيْ مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا

ستاسی قدمونه ، کله چی حکم ولیږی ستارب ملائکو ته چی زه ستاسی سره یم نو تاسی

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۭ سَاُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ

ثابت کری زړونه دمسلمانانو زه به وغورځوم په زړونو دکافرانو کی رعب (بیره)

فَاضْرِبُوْا فَوْقَ الْاَعْنَاقِ وَاضْرِبُوْا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴿۱۲﴾ ۭ

نو وهی په ختونو او پریکری د دوی بندونه

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَاۗقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ

دا په دی وجه دی چی دوی مخالف سول دالله او دهغه درسول او خوك چی مخالف سو دالله

Maktaba Tul Ishaat.com

وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِیْدُ الْعِقَابِ ﴿۱۳﴾ ذٰلِكُمْ فَذُوْقُوْهُ وَاَنَّ

او دهغه درسول نو بیشکه دالله ﷻ عذاب سخت دی ، دا خو تاسی وڅکئ اوپوه سی

لِلْكٰفِرِیْنَ عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۴﴾

چی دکافرانو دپاره دی عذاب د دوزخ .

لنډتفسیر: هغه وخت یادکی کله چی الله ﷻ پرتاسی اررمی راوستی دخپل طرف څخه دآرام دکولو دپاره اوپر تاسی باندی یی دآسمان څخه اوبه واورولی چی ددی اوبو په ذریعه تاسی (دبی اودسی یابی غسله کیدو دحالت څخه) پاك کی او (چی ددی په ذریعه) ستاسی څخه شیطانی وسوسه دفع کی او (چی) ستاسی زړونه مضبوط کی او (چی) ستاسی رب (دغو) ملائکوته (کوم چی دامداد دپاره نازلی سوی) حکم ورکوی چی زه ستاسی سره یم نوتاسی دایماندارو همت زیاتوی زه اوس دکفاروپه زړونوکی رعب اچوم، پس تاسی دکفارو څټونه (په نیزه) وهی اود دوی بندونه بندونه وهی، دا ددی خبری سزاده چی دوی دالله او دهغه درسول مخالفت کریدی اوڅوك چی دالله اودهغه درسول مخالفت کوی نو الله ﷻ (ده ته) سخته سزا ورکوونکی دی (برابره خبره که په دنیاکی په یو حکمت سره یاپه آخرت کی یاپه دواړوکی) پس (بالفعل) داسزا وڅکئ اوپوه سی چی دکافرانو دپاره ددوزخ عذاب مقرر دی .

معلومات اومسئلی: دسورة انفال دشروع څخه دالله ﷻ دهغو انعامونو بیان راروان دی، کوم چی پرفرمان بردارو بندګانو باندی سوی وو، دبدر دغزا واقعات هم ددی سلسلی کړی دی ، په بدرکی چی کوم انعامونه دحق تعالی دطرف څخه سوی وه ، په هغوی اولنی انعام خو په څپله ددی جهاد دپاره دمسلمانانو وتل دی چی بیان یی په آیت ، كَمَآ اَخْرَجَكَ رَبُّكَ کی سوی دی ، دوهم انعام دملائکو دمدد وعده ده ، چی ذکر یی په آیت ، اِذْ یَعِدُكُمُ اللّٰهُ کی راغلی دی ، دریم انعام ددعا قبلول او دمدد وعده کیدل دی چی ذکر یی په آیت ، اِذْ تَسْتَغِیْثُوْنَ رَبَّكُمْ کی سوي دی دذکر سوو آیتونو څخه په اولنی کی دڅلورم انعام ذکر دی په کوم کی چی دمسلمانانو دپاره ددوو نعمتونو ذکر دی ، یو په تولو دخوب غالب کیدل دپریشانی اوستړی والی لیری کیدل ، دوهم دباران په ذریعه ددوی دپاره اوبه پیداکول اومیدانی جنګ ددوی دپاره کلکول او ددښمن دپاره په کښی ختی جوړول .

تفصیل ددی واقعی دادی چی کوم وخت دکفر اواسلام دا اولنی جنګ مقرر سو نو دمکی دکافرانو لښکر اول ورسیدی اوپه یو داسی مقام یی پړاو وغورزوی ، کوم چی پرلوړ ځای وو، اوبه ورته نژدی وی، نبی کریم ﷺ او اصحاب کرام ﷺ چی دی ځای ته ورسیدل نو دمیدان په لاندی حصه کی ورته ځای حاصل سو قرآن کریم ددی میدانِ جنګ نقشه ددی سورة په دوڅلویښتم آیت کی داسی بیان کړی ده ، اِذْ

اَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْیَا وَهُمْ بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوٰی [illegible] به تفصیل سره [illegible] روستو راځی .

Maktaba-Tul-Ishaat.com

کوم ځای ته چی ورسیدل او نبی کریم ﷺ اول قیام وفرمایی ددغه مقام څخه واقف کار حضرت خباب بن منذر ؓ دا په جنګی اعتبار سره نامناسب وګڼی، عرض یی وکی چی یارسول الله! کوم مقام چی تاسی اختیار کی، دا دالله ﷻ په حکم سره دی چی په دی کی مونږ ته هیڅ اختیار نسته او که محض درایی اومصلحت په بنا مو اختیار کړی دی ؟ ده ارشاد وفرمایی چی نه! دا دخدای پاك څخه حکم نه دی ، په دی کی ادل اوبدل کیدی سی، پس حضرت خباب ؓ عرض وکی چی بیا خو بنه دا ده چی ددی مقام څخه مخکی دمکی دسردارانو مقام ته نژدی داوبو یو مقام دی چی په هغه قبضه وسی ، هلته به مونږ ته اوبه دیری حاصلیږی ، نبی کریم ﷺ دده مشوره قبوله کړه او هلته ولاړل په اوبو یی قبضه وکړه ، یو حوض یی د اوبو دپاره جوړ کی او داوبو ذخیره یی په کښی جمعه کړه .

ددی څخه چی بی غمه سول نو حضرت سعدبن معاذ ؓ عرض وکی یارسول الله زما خیال دا دی چی مونږ ستاسی دپاره په محفوظ ځای کی یو سائبان جوړکو چی تاسی په کښنی اوسی او ستاسی سپرلی هم ستاسی په خوا کی وی .

منشاء ددی دا ده چی مونږ به ددښمن په مقابله کی جهاد کوو که الله ﷻ مونږ ته فتح نصیب کړه نو خو دا مقصد دی او که خدای مه کړه څه بل صورت پیښ سی نو ته به پرخپلی سپرلی سپور سی او دهغو اصحابو ؓ سره به ولاړ سی اویو ځای سی کم چی په مدینه طیبه کی پاته سویدی، ځکه چی زما ګمان دادی چی دغه خلګ هم په جان نثاری اوستا سره په محبت کی ترمونږ کم نه دی او که ددوی ته ستا دراتلو په وخت کی داخیال وای چی ستاسی به ددی باوسله لښکر سره مقابله وی، نو په دوی کی به یوهم وروسته نه وای پاته سوی، ته به مدینی ته ولاړسی نوهغوی به ستاسی ملګری سی نبی کریم ﷺ دده ته پردی جانبازانه پیش کش دعاګانی وکړی او یو مختصر غوندی سائبان یی دده دپاره جوړ کی چی په هغه کی دنبی کریم ﷺ او حضرت صدیق اکبر ؓ څخه ماسوا بل څوک نه وو، حضرت معاذ ؓ په دروازه دحفاظت دپاره توره په لاس ولاړ وو .

دجنګ اوله شپه وه ددری سوه دیارلس بی سامانه خلګو مقابله دځان څخه ددری چنده زیاتو یعنی یو زر باوسله فوج سره وه، دمیدان جنګ هم بنه مقام دهغوی په قبضه کی وو ، لاندی حصه او هغه هم سخته شګلنه چی تلل په کښی ګران وه، دمسلمانانو په قبضه کی وه، طبعی پریشانی اوفکر دټولو سره وو، دخینو خلګو په زړونو کی خو شیطان دا وسوسی اچول شروع کړی چی تاسی ځانته پرحقه وایاست اودا وخت هم پرځای دآرام کولو دتهجد په لمونځ کی مشغول یاست، مګرحال دادی چی دښمن په هر حیثیت سره پرتاسی غالب اوترتاسی زیات دی په دی حالاتو کی الله ﷻ پرمسلمانانو یوخاص قسم خوب مسلط کی چی هریو مسلمان برابره خبره ده که اراده یی دبیده کیدو وه او که نه وه بی اختیاره بیده سول .

دحدیث حافظ ابو یعلی نقل کړی دی چی حضرت علی مرتضیٰ ؓ فرمایی چی دبدر دغزا په دی شپه په مونږ کی څوک داسی باقی نه وو چی بیده سوی نه وو پرته نبی کریم ﷺ ټوله شپه بیدار وو، تر...

Maktaba Tul Ishaat.com

پوری په تهجد کی مشغول وو.

او ابن کثیرپه صحیح حواله سره نقل کړي دي چی نبی کریم ﷺ په دی شپه کی کله چی په خپل عریش یعنی سایوان کی دتهجد په لمونځ کی مشغول وو ده ته هم یو څه قدر ارومی راغی ، مګر فوراً په خنداسره بیدارسو ویی فرمایل ، ای ابوبکره! خوشخبری واوره دادی جبرئیل ؑ دشلي خواته ولاړ دی او دا یی وویل ، دخپل سایوان څخه دباندی په راوتلو یی دا آیت تلاوت کوی ، سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ یعنی ډیر ژربه ددښمن لښکر شکست وخوري اوشابه کی، وبه تښتي؛ په ځینو روایتونو کی دی چی دی ﷺ دباندی راووتی مختلفو ځایونو ته یی اشاره وکړه او ویی فرمایل چی دغه ځای دابو جهل دقتل دی اودغه دفلانی اودغه فلانی اوبیا صحیح هم دغسی وسوه (تفسیرِ مظهری)

اولکه څنګه چی دبدرپه غزاکی دستړی والی اوپریشانی لیری کولو دپاره الله ﷻ په ټولو اصحابو کرامو ؓ خاص قسم خوب مسلط کی دغه شان دأُحُد په غزا کی هم داسی واقعه وسوه، سفیان ثوری په روایت دحضرت عبدالله بن مسعود ؓ نقل کړي دي چی دجنګ په حالت کی خوب دشیطان دطرفه وی (ابن کثیر)

دوهم نعمت مسلمانانوته په دی شپه کی داحاصل سوچی باران وسو، کوم چی دمیدان جنګ نقشه بالکل بدله کړه ، دقریشو لښکر چی پرکوم ځای قبضه کړی وه ، هلته باران ډیر تیز وسو اوپه میدان کی یی ختی جوړی کړی، چی تلل په کښی ګران سو اوکم ځای چی نبی کریم ﷺ او اصحاب : مقیم وه، هلته دشګو په وجه تلل ګران وو ، دلته باران لږ وسو ، شګی یی کلکی کړی اومیدان یی هوار کی.

په ذکر سوی آیت کی ددی دواړو نعمتونو ذکر دی ، خوب اوباران کوم چی دجنګ دمیدان نقشه بدله کړه هغه شیطانی وسوسی یی ومینځلی کوم چی په ځینو کمزورو خلګوکی راپیدا سوی وی ، چی مونږ سره ددی چی په حق باندی یو مقهور اومغلوب په نظر راځو اودښمن سره ددی چی په باطله دی خوبیاهم په قوت، شوکت او اطمینان کی دی ، په ذکر سوی آیت کی فرمایی چی هغه وخت یادکی کله چی الله ﷻ په تاسی خوب راوستی دآرام درکولو دپاره اوپر تاسی یی اوبه واورولی چی تاسی په پاک کی اوستاسی څخه شیطانی وسوسی لیری کی ستاسی زړونه مضبوط کی اوستاسی پښی کلکی کړی.

په دوهم آیت کی دپنځم انعام ذکردی کوم چی دبدر دغزاپه دی میدان دجنګ کی پر مسلمانانو باندی سوی وو ، هغه دا چی الله ﷻ کومی ملائکی دمسلمانانو دامداد دپاره رالیږلی وی، هغوی ته یی خطاب وکی اوویی فرمایل چی زه ستاسی سره یم تاسی دایماندارو همت زیاتوی زه اوس دکفاروپه زړونوکی رعب اچوم ، پس تاسی دکفارو پرخټونو نیزی را اچوی او د دوی بندونه بندونه وهی.

په دی کی ملائکوته دوه کارونه وسپارل سوه، یودا چی دمسلمانانو همت زیات کی، دا داسی هم کیدی چی ملائکی میدان ته راسی ، د دوی دله زیاته کی او د دوی سره یوځای سی په جنګ کی حصه واخلی او داسی هم چی په خپل تصرف سره دمسلمانانو زړونه مضبوط کی ، او په دوی کی قوت پیداکی ، دوهم کار دوی ته دا هم وسپارل سو چی ملائکی په خپله په جنګ کی حصه واخلی اوپه کفاروحمله وکی

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی آیت ځغه داخبره ښکاره ده چی ملائکو دواړه کارونه وکړل دمسلمانانو په زړونو کی یی تصرف وکی، همت اوقوت یی ورلره زیات کی اوپه جنګ کی یی حصه هم واخیسته. اوددی تائید دحدیث دځو روایتونو ځغه هم کیږی، کوم چی په تفسیر دُرِّ منثور اومظهری کی په تفصیل سره بیان سوي دی او دملائکو دجنګ په سترګو لیدلی شهادتونه یی داصحابو کرامو ﷺ ځغه نقل کړي دی

په دریم آیت کی دا ارشاد فرمایی ، چی دکفر اواسلام په دی جنګ کی چی څه وسول ددی سبب دا وو چی دی کفارو دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ مخالفت وکی اوڅوک چی دالله ﷻ اودهغه درسول مخالفت کوی دهغه دپاره دالله ﷻ عذاب تر سختو لا سخت وی ، ددی ځغه معلومه سوه چی دبدر په غزا کی یوطرف ته خوپر مسلمانانو انعامات نازل سول، فتح اونصرت دوی ته حاصل سو، بل طرف ته پر کفارو دمسلمانانو دلاسه عذاب نازل سو اودوی ته یی دبدو عملونو لږ غوندی سزا ورکړه ، او ددی ځغه زیاته سزاپه آخرت کی ورکیدونکی ده، کمه چی یی په ځلورم آیت کی وفرمایله. ذٰلِكُمْ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلْكٰفِرِينَ عَذَابَ النَّارِ، یعنی دا زمونږ لږ شان عذاب دی داوڅکی اوپوه سی چی تردی وروسته کافرانو ته ددوزخ عذاب راتلونکی دی، کم چی زیات سخت، اوږد او دقیاس ځغه وتلی دی

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ ﴿١٥﴾ وَمَن يُوَلِّهِمْ

ای ایماندارو ! کله چی مخامخ سی تاسی دکافرانو سره په میدان دجنګ کی نو مه ګرځوی دوی ته شا . اوڅوک چی دوی ته شا کړی

يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدْ

په دغه ورځ ، مګر دا چی هنرکوی په جنګ کی یا رسیږي دفوج سره نودغه اخته سو

بَاءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٦﴾

دالله په غضب او دده ځای دوزخ دی اودغه بدځای د ورتلو دی ،

فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ

نو تاسی دوی نه دی قتل کړی لیکن الله دوی قتل کړل اوتا نه دی ویشتلی خاوری کله چی ویشتلی دی

وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ ۚ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا ۚ إِنَّ

لیکن الله وویشتل او چی وکړی په ایماندارو دخپل طرف ځغه ښه احسان ، بیشکه

Maktaba Tul Ishaat.com

اللهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿١٧﴾ ذٰلِكُمْ وَاَنَّ اللهَ مُوْهِنُ كَيْدِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٨﴾

الله دی اوریدونکی پوهیدونکی ، دا خو وسوه اوپوه سی چی الله سست کوونکی دی تدبیر دکافرانو ،

اِنْ تَسْتَفْتِحُوْا فَقَدْ جَآءَكُمُ الْفَتْحُ ۚ وَاِنْ تَنْتَهُوْا فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ

که چیری تاسی غواړی فیصله نو ورسیده تاسی ته فیصله ، اوکه منع سواست نوستاسی دپاره به ده

وَاِنْ تَعُوْدُوْا نَعُدْ ۚ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْـًٔا وَّلَوْ كَثُرَتْ ۙ

اوکه بیا داسی کوی نو موږ به هم بیا داسی وکړو ، او به کار به هیڅ ورنه سی ستاسی ډله که څه هم ډیره

وَاَنَّ اللهَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٩﴾ ع

سی او پوهه سی چی الله د ایماندارو سره دی

لنډتفسیر ای ایماندارو! کله چی دکافرانو سره (په جهادکی) دوه په دوه مقابل سی نو دوی ته شا مه گرځوی (یعنی دجهاد څخه مه تښتی) اوکوم سړی چی ددوی څخه په دی موقع (یعنی دمقابلی په وخت کی) شا وگرځوی مگر البته کم چی دجنگ دپاره نقشه بدلوی یاکوم چی خپلی ډلی ته دپناه اخیستو دپاره راځی هغه ورځخه مستثنی دی باقی بل څوک چی داسی وکی، هغه به دالله په غضب کی راسی او دده ځای به دوږخ وی او هغه ډیر ناکاره ځای دی (فلم تقتلوهم الایة کی هم دیوی قصی طرف ته اشاره ده، هغه داچی ده دبدر په ورځ یوموټی خاوری دکافرانو طرف ته وویشتلی چی ذری یی دټولو په سترگوکی ولویدی اودوی شکست وخوړی اودملائکو دامداد دپاره راتلل لوړ ذکر سوي دی په دی باندی په طور دتفریع فرمایی چی کله داسی عجیبه واقعات وسوه کم چی بالکل ستا داختیار څخه خارج دی، پس (ددی څخه معلومه سوه چی دحقیقی تاثیر په مرتبه کی) تاسی دا (کافران) قتل نه کړل لیکن (البته په دی مرتبه کی) الله ﷻ (بیشکه) دوی قتل کړل (یعنی حقیقی اثر کوونکی دهغه قدرت دی) دی) او (دغه شان دحقیقی تاثیر په مرتبه کی) تا دخاورو موټی (ددوی طرف ته) نه وو اچولی لیکن (البته په دی مرتبه کی) الله ﷻ (واقعی) دغه اچولی وی او (سره ددی چی حقیقی اثر کوونکی دحق تعالی قدرت دی، بیا کمی نښانی دقتل اونوری چی قدرت پر بنده باندی مرتب وفرمایلی نو په دی کی حکمت دادی چی) ددی دپاره چی مسلمانانو ته دخپل طرف څخه (ددوی عمل) ښه اجر ورکی (او اجر حاصلیدل دالله ﷻ دستنو موافق موقوف دی پر دی چی فعل دده په قصد او اختیار سره صادر سی) بیشکه الله ﷻ (ددی دمومنانو خبرو) ښه اوریدونکی (او ددوی په کارونو او په حالاتو) ښه پوهیدونکی دی (دا خبری دفریاد او کارونو دجنگ

Maktaba Tul Ishaat.com

او دپریشانیو حالاتو اونورو کې چې کم تکلیف دوی ته پیښ سو مونږ ددې څخه خبر یو پردې به دوی لره جزا ورکې) یوه خبره خودا سوه اوبله خبره داده چې الله ﷻ دکافرانو تدبیر کمزوری کوي (اوزیاته کمزوري هغه وخت ښکاره کیږي کله چې دخپل برابر والا یادخان څخه دکمزوري دلاسه مغلوب سي اوداهم موقوفه ده پردې باندې چې دغه نښانې دمومنانو دلاسه ظاهري سي، کنې دابه یې ویلې سوای چې تدبیرونه خو زمونږ قوي وه، لیکن دزیات قوي په مخکې چې دالله ﷻ تدبیر دی ونه چلیدل نو په دې سره به آئنده دمسلمانانو په مقابله کې ددوی حوصله نه لاندې کیږي، ځکه چې دوی خوبې ضعیف ګڼل) که تاسې خلګ فیصله غواړی نو دغه فیصله خو تاسې ته موجوده سوه (چې کوم حق وو هغوی غلبه پیدا کړه) اوکه (اوس دحق زیات واضحه کیدو څخه وروسته دنبي کریم ﷺ دمخالفت څخه) را وګرځیداست نو دا ستاسې دپاره ډیره ښه ده اوکه (اوس هم نه راګرځې بلکه) تاسې بیا دغه کار وکې (یعنې مخالفت) نو مونږ به هم بیا دغه کار وکو (یعنې ستاسې مغلوب کول او دمسلمانانو غالب کول) او (که تاسې په خپله ډله مغروره یاست چې اوس به داوار ډیر زیات جمع کې نو یاد ساتئ چې) ستاسې ډله به ستاسې هیڅ په کار درنه سي که څه هم هرخومره زیاته وي اوواقعي خبره داده چې الله ﷻ (په اصل کې) دایماندارو سره (یعنې د دوی مددګار) دی (که څه هم دیو عارض په وجه سره یو وخت ددوی غلبه ښکاره نسي، لیکن اصل محل دغلبې هم دوی دي چې ورسره مقابله کول خپل نقصان کول دي)

معلومات اومسئلې: دذکر سوو آیتونو څخه په اولو دوو آیتونوکې داسلام یوجنګې قانون ښوول سوي دی په اولنی آیت کې دلفظ د، زَحْفَ څخه مراد د دواړو لښکرو مقابله کیدل اوګډوډ کیدل دي ، معنې دا ده چې دداسې جنګ اونښتو څخه وروسته شاکول اودمیدان څخه تښتیدل دمسلمانانو دپاره جائز نه دي په دوهم آیت کې ددې حکم څخه دیوې استثناء ذکردی اوپه ناجائزه دتښتیدونکو دسخت عذاب بیان دی، استثناء په دوو حالتونوکې ده: اِلاَّ مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ اَوْ مُتَحَيِّزًا اِلٰى فِئَةٍ یعنې دجنګ په وخت کې شاکول صرف په دوو حالتونوکې جائز دي، یوداچې دمیدان څخه شا ګرځول محض دیوجنګې چال په طور باندې دښمن ته دښوولو دپاره وي، حقیقتًا یې دمیدان څخه په شنګ کیدل نه وي مقصد بلکه خپل مخالف په یوغفلت کې اچول اوپه یو وار ورباندې حمله کول یې مقصد وي، دا معنې ده د ، اِلاَّ مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ ځکه چې دتحرف معنې یوطرف ته مائل کیدل دي (روح المعاني)

دوهم استثنایي حالت په کم کې چې میدان ته دشا کولو اجازت دی، دادی چې دخپل موجوده لښکر دکمزوري احساس وکې، په دې وجه شاته سي چې دمجاهدینو زیات کومك حاصل کې بیاحمله وکې د ، اَوْ مُتَحَيِّزًا اِلٰى فِئَةٍ دا معنې ده، ځکه چې دتحیز لفظي معنې پیوست کیدل اویو ځاې کیدل دي او د: فِئَةٍ معنې جماعت ده، مطلب دا دی چې دخپل جماعت سره یوځای سي قوت جاصل کې اوبیا حمله وکې نوپه دې نیت سره که میدان پریږدي نو دا جائز دي.

ددې استثناء ذکرکولو څخه وروسته دهغو خلکو دسزا ذکر دی [illegible] چې ددې استثنائي حالت [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

ناجائز طورسره میدان پرېښودی یایی شاکره ارشاد دی ، فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَمَأْوٰهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ یعنی دمیدان څخه تښتیدونکی دالله ﷺ دغضب سره واپس کیږی او د دوی ځای دوزخ دی اودغه ډیر ناکاره ځای دی .

په دی دواړوآیتونو کی داحکم معلوم سو چی مخالفت فریق که هرڅومره په زیات شمیر ، طاقت اوشوکت کی وی خو مسلمانانو ته ددوی په مقابله کی شا کول حرام دی بغیر د دوو استثنایی صورتونو څخه چی ذکر یی وسو ، دا آیاتونه دبدر په غزا کی نازل سویدی هغه وخت داحکم عام وو چی برابره خبره که دهرڅومره لوی شمیر سره مقابله وی اودوی یی په مقابله کی ډیرکم هم وی خوبیا هم شا کول اومیدان پرېښوول جائزنه دی ، دبدر په میدان کی دا صورت وو ، چی د دری سوه دیارلسو په مقابله کی دری چنده یعنی زر تنه وه ، بیا وروسته دکمی حکمونه دسورة انفال په آیت (۶۵) او (۶۶) کی نازل سول. په آیت (۶۵) کی شلو مسلمانانوته ددوه سوه کافرانو اوسلو مسلمانانوته دزرو کافرانو په مقابله کی دجهاد کولو حکم دی اوپه آیت (۶۶) کی دزیات کموالی داقانون نازل سو ، اَلْـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ الآية یعنی اوس الله ﷺ ستاسی دپاره آسانی وکړه اوستاسی کمزوری یی ولیده نودا قانون یی جاری کی چی که مسلمانان سل تنه ثابت قدم وی نو پر دوه سوه کفارو به غلبه پیداکی ، په دی کی یی اشاره وکړه چی دخپل ځان څخه تردو چنده تعداد پوری خو دمسلمانانو دغالب کیدو اُمید دی ، په دی وجه شا گرځول جائزنه دی ، البته که دمخالف فریق تعداد تردوچنده هم زیات سی نوپه داسی حالت کی دمیدان پرېښوول جائز دی .

حضرت عبدالله بن عباس ؓ فرمایی چی کوم سړی یوازی د دری تنو دمقابلی څخه وتښتیدی ، دی تښتیدلی نه دی ، هاکوم چی د دوو تنو دمقابلی څخه وتښتیدی ، دی تښتیدونکی دی یعنی گناه کبیره یی وکړه (روح البیان)

اوس دا حکم ترقیامته پوری باقی دی ، دجمهور امت اوڅلورو امامانوپه نزد شرعی حکم دا دی چی ترڅو پوری دمخالف فریق تعداد تردو چنده زیات نه وی تر هغه وخته پوری دمیدان څخه تښتیدل حرام اوگناه کبیره ده .

په صحیحینوکی په روایت دحضرت ابوهریرة ؓ نقل دی چی نبی کریم ﷺ اووه کارونه دانسان دپاره هلاکوونکی فرمایلی دی په دی کی یی دمیدان جنگ څخه تښتیدل هم شمار کړی دی ، اودحنین دغزاپه واقعه کی داصحابو ؓ ابتدایی وروسته کیدلوته قرآن کریم پوشیطانی خطا ویلی ده کوم چی د دوی دلوی گناه کیدو دلیل دی ، ارشاد فرمایی ، اِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطٰنُ .

اودترمذی او ابوداودپه یوروایت کی چی کومه قصه دحضرت عبدالله بن عمر ؓ نقل ده چی یو وار دجنگ څخه وتښتیدی اوپه مدینه کی یی پناه واخیسته اودنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو اودجرم اقرار یی وکی چی موږ دمیدان جنگ څخه تښتیدونکی ...

Maktaba-Tul-Ishaat.com

هغه ته تسلی ورکړه اووېي فرمايل ، ﴿فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ﴾ يعني ته تښتيدونکی نه يي بلکه کمك حاصلوونکی يي اودوباره حمله کوونکی يي اوزه ستا کومك يم، په دی کی نبی کريم ﷺ داحقيقت واضح کی چی ددی خلګو تښتيدل اوپه مدينه کی پناه اخيستل په دغه استثناء کی داخل دی په کوم کی چی دکمك حاصلولو دپاره دميدان پريښوولو اجازت دی حضرت عبدالله بن عمر ﷺ ته چی دالله ﷺ څخه دبيری اوهيبت اوعظمت کوم خاص مقام حاصل وو ، پردغه بنا باندی دی ددغه ظاهری په شاکيدو څخه هم وبيريدی اوخپل ځان يي دمجرم په حيثيت سره دنبی کريم ﷺ په خدمت کی پيش کی .

په دريم آيت کی دبدر دغزا دباقی واقعی په بيانولو سره يي مسلمانانو ته ددی هدايت کړيدی چی دبدر دغزا په معجزانه فتح کی ډيرو په لږو سره او دقوت په ضعف سره مغلوب کيدل دخپل کوشش اوعمل نتيجه مه ګڼی ، بلکه دهغه پاك ذات دطرف څخه يي ګڼی دکوم نصرت او امداد چی دجنګ دا نقشه پرمخی کړه ز

کومه واقعه چی په دی آيت کی بيان سوه ، ددی تفصيل ابن جرير ، طبری اوبيهقی اونورو دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ اونورو څخه دانقل کړي دی چی دبدر دجنګ په ورځ کله چی دمکی څخه دزرو خوانانو لښکر دشلی دشا څخه ميدان ته راغی نو دمسلمانانو په کموالی او کمزوری اوخپل په ډيروالی اوقوت فخر کوونکی په متکبرانه اندازکی راغی، دغه وخت نبی کريم ﷺ دعا وکړه چی يا الله! داستا دروغ کوونکی قريش په فخر اوتکبر سره راروان دی ، تاچی کومه وعده دفتحه زما سره کړي ده دا ډيره ژر پوره کی «روح البيان»

نوجبرئيل امين ﷺ نازل سو اوعرض يي وکی چی ته يو موټی دخاورو واخله او ددښمن طرف ته يي وروغورځوه، ده ﷺ داسی وکړل، اوابن ابی حاتم په روايت دابن زيد نقل کړي دی چی نبی کريم ﷺ دری واره دخاورو اوشګو څخه موټی ډك کړل يوموټی يي دلښکر راسته طرف، بل چپه طرف اوبل مخامخ ته وروغورځول چی نتيجه يي داسوه چی دغه يو يادری موټی خاوری قدرت په معجزانه اندازکی داسی خپری کړی چی دمخالف لښکر يوسړی هم داسی پاته نسو چی سترګو اومخ ته يي دغه خاوری اوشګی نه وی رسيدلی، ددی په اثر سره په ټول لښکر کی يوه افراتفری خپره سوه او مسلمانان ورپسی سول اوملائکی ورسره هم په جنګ کی شريکی وی «مظهری، روح»

آخرڅه خلګ دمخالف فريق قتل سول ، څه ګرفتار سول اوباقی وتښتيدل اوميدان دمسلمانانوپه لاس کی ورغی .

بالکل دمايوسی اونا اميدی په وخت کی دا عظيمه فتح مسلمانانو ته حاصله سوه دميدان جنګ څخه واپس راتلل په خپل مينځ کی خبری شروع سوی اصحابو کرامو : خپلی خپلی کارنامی يوبل ته بيانول شروع کړی، پردی دا آيت نازل سو ، ﴿فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ﴾ په دی کی يي داهدايت دری ته وکی چی په خپل کوشش اوکار باندی [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

بلکه خالص دالله ﷻ دنصرت اوامداد میوه ده ، کوم دښمنان چی ستاسی په لاس قتل سول دوی په حقیقت کی تاسی نه دی قتل کړی بلکه الله ﷻ قتل کړي دی .

دغه دول نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی اوارشاد فرمایی چی ، وَمَا رَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى (یعنی دغه موټی دشګو چی تا وویشتی داپه حقیقت کی تا نه دی ویشتلی بلکه الله ﷻ ویشتلی دی ، مطلب دادی چی دویشتلو دا نتیجه چی ددښمن دلښکر دهر سړی سترګوته ورسیدی او ټول یی ګوډ کړل دا ستا دویشتلو اثر نه وو ، بلکه الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره دا صورت پیدا کی .

ما رمیت اذ رمیت گفت حق کار ما بر کارها دارد سبق

(یعنی الله ﷻ وفرمایل چی دغه شګی کومی چی تاویشتلی دی دا تا نه دی ویشتلی ، بلکه زما کار په ټولو کارونو مخکی وی)

چی غور په وسی نو دمسلمانانو دپاره دجهاد دفتح اوکامیابی څخه زیات قیمتی داهدایت وو کوم چی د دوی ذهنونه داسبابو څخه وګرځول او داسبابو دپیداکوونکی سره یی وتړل اووددی په ذریعه یی دغه فخر اوتکبر دخرابی څخه وساتل ، دکوم په نشه کی چی په عام طورسره فتحه پیدا کوونکی قومونه مبتلا کیږی ، او ددی څخه وروسته یی داوښوولـه چی فتحه اوشکست زماتابع دی اوزمونږ فتح او نصرت دهغو خلګو سره وی ، کوم چی فرمان بردار وی و وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِيْنَ مِنْهُ بَلَاۤءً حَسَنًا دا عظیمه فتح مونږ ځکه ورکړه چی مومنانو ته ددوی دمحنت پوره صله حاصله سی ، د ، بَلَاۤء لفظی معنی امتحان دی ، او دالله ﷻ امتحان کله په مصیبت اومشقت کی په اخته کولو سره وی اوکله په راحت اودولت ورکولو سره ، بَلَاۤءً حَسَنًا هغه امتحان ته ویل کیږی ، چی راحت ، دولت او فتح اونصرت ورکی ، او اخلی یی ، چی داخلګ دا زمونږ انعام ګڼی ، شکر ګزاری کوی اوکه خپل ذاتی قابلیت یی ګڼی فخر اوناز په کوی ، خپل عمل بربادوی ځکه چی دالله ﷻ په دربارکی دفخر اوناز هیڅ ګنجائش نسته په قول دمولانا رومی رحمه الله

فهم وخاطر تیز کردن نیست راه جز شکسته می نگیرد فضل شاه

په فخر اوناز لار نه پیدا کیږی ، دباچا فضل غورزیدلی لوروی

په څلورم آیت کی ددی په مقابله کی ددی فتح یوه بله فائده یی دا وښوولـه چی ، ذٰلِكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ مُوْهِنُ كَيْدِ الْكٰفِرِيْنَ یعنی دافتح اونصرت په دی وجه هم مسلمانانو ته ورکول سوچی ددی په ذریعه دکافرانو تدبیرونه ناکامه اوناکاره کی چی په دی سره دغه کافران پوه سی چی دالله ﷻ مدد د دوی سره نه دی اوهیڅ تدبیر بغیر دالله ﷻ دمدد څخه نه سی کامیابه کیدی .

په پنځم آیت کی شکست خوړلو قریشو کافرانوته خطاب او دیوی واقعی طرف ته اشاره ده کم چی دقریشو لښکرته دمسلمانانو دمقابلی دپاره دمکی څخه دراوتلو په وخت کی پیښه سوی وه ، هغه داچی کله دقریشو کافرانو لښکر دمسلمانانو دمقابلی دپاره تیار سو نو دمکی څخه تر راوتلو مخکی دلښکر سردار ابو جهل او نور [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

کی دوی دخپلی فتح ددعا کولو پر ځای په عامو الفاظو کی داسی دعا یې وغوښتله یا الله په دوارو لښکرونو کی چې کم اعلی او افضل دی اوپه دوارو ډلوکی چې کمه زیاته پرهدایت باندی ده اوپه دوارو پارټیوکی چې کمه زیاته شریفه اوکریمه ده اوپه دواړوکی چې دچا دین افضل اوښه دی هغوی ته فتح ورکی (مظهری) دی بی وقوفو داسی ګڼله چې دمسلمانانو په مقابله کی مونږ اعلی او افضل اوزیات پرهدایت باندی یو، په دی وجه دادعا زمونږ په حق کی ده اوددی دعاپه ذریعه دوی غوښتل چې دحق اوباطل فیصله وسی اوکله چې مونږ فتح پیدا کو دا ګواکی دالله ﷻ دطرف څخه به فیصله وی ، چې مونږ په حقه یو .

مګر دوی ددی څخه نه وه خبر چې په دی دعاکی دوی په حقیقت کی ځان ته ښراوی اومسلمانانو ته دعا کوی، دجنګ انجام چې مخ ته راغی نوالله ﷻ دوی ته وښوروله ، اِنْ تَسْتَفْتِحُوْا فَقَدْ جَآءَكُمُ الْفَتْحُ یعنی که تاسی خدایی فیصله غواړی نو هغه ښکاره سوه چې حق فتحمند سو اوباطل شکست وخوړی وَاِنْ تَنْتَهُوْا فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ اوکه تاسی اوس هم دخپل کفر اوعناد څخه را وګرځیداست نوستاسی دپاره ښه ده: وَاِنْ تَعُوْدُوْا نَعُدْ اوکه تاسی بیا دخپل شرارت اوجنګ طرف ته وګرځیداست نو مونږ به هم دمسلمانانو دامداد طرف ته وګرځو: وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْئًا وَّلَوْ كَثُرَتْ یعنی ستاسی جماعت اوډله که هرڅومره زیاته سی خودالله ﷻ دنصرت په مقابله کی ستاسی په هیڅ کار نسی درتلی: وَاَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ یعنی یوجماعت اوډله ستاسی په کار نسی درتلی کله چې قادرِ مطلق الله ﷻ دمسلمانانو سره ملګری دی .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَاَنْتُمْ تَسْمَعُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا

ای ایماندارو ! حکم منی دالله اودهغه درسول اومخ مه اړوی دده څخه او واوری ، او دهغو په ډول مه کیږي

كَالَّذِيْنَ قَالُوْا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۲۱﴾ اِنَّ شَرَّ

کوم چې وویل مونږ واوریده او دوی اوری نه بیشکه په ټولو

الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَ

جاندارانو کی دالله په نزد ناکاره هغه کوڼ اوګونګی دی کوم چې نه پوهیږي ،

لَوْ عَلِمَ اللّٰهُ فِيْهِمْ خَيْرًا لَّاَسْمَعَهُمْ ؕ وَلَوْ اَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوْا

اوکه الله ته معلوم وی په دوی کی څه خیرنو دوی به یې اوریدونکی کړی وای ، اوکه دوی اوس اوریدونکی کړی

وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۳﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ

نو خامخا به تېښتی مخ اړونکی ، ای ایماندارو حکم منی دالله

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ

او د رسول کوم وخت چی تاسی وبلی هغه کار ته چی ستاسی ژوند دی په کی او پوه سی چی الله

بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾

بندوی دبنده څخه دده زړه او دا چی هغه ته به تاسی جمع سی

لنډتفسير: ای ایماندارو! دالله خبره منی او دهغه درسول او ددی خبری منلو څخه مخ مه اړوی او تاسی (په عقیده سره) خواوری (یعنی لکه څنگه چی مو پراوریدو عقیده ده او اوری یی نو دغسی عمل هم کوی او تاسی (په حکم نه منلو کی) دهغو خلگو په شان مه کیږی چی دعوی خو کوی چی مونږ واوریده (لکه کفار چی مطلق داوریدو او منافقین داوریدو سره دعقیدی دعوی کوونکی وه) حال دادی چی دوی هیڅ اوری را اوری نه (څکه چی نه په پوهیږی او نه یی عقیده پرسته څکه چی فائده په عقیده سره په اوریدو کی ده سره دعمله او کله چی عمل ونسو نو په خپنو وجهو کی مشابه ډدی سوه لکه چی په عقیده سره یی اوریدلی نه وی، کوم چی تاسی هم سخت بد گنی) بیشکه (داخبره ضروری ده چی په عقیده سره اوریدونکی او عمل نه کوونکی اوبی دعقیدی اوریدونکی چی دنه اوریدونکی په مثال دی په بدوالی کی خو یی فرق خامخا سته چی کافر او گناهکار برابرنه دی لکه چی) بدترین په مخلوقاتو کی دالله ﷻ په نزد هغه خلگ دی کم چی (دحقی خبری په عقیده سره داوریدو څخه) کانه دی (او دحقی خبری ویلو څخه) گونگیان دی (او) کم چی (په حقه خبره) یوه ذره نه پوهیږی (او سره دعقیدی دکومو څخه چی په عمل کی کوتاهی کیږی هغوی بد ترینه دی که څه هم بد دی پس بد کیدل هم نه دی په کار) او (دکومو حال چی ذکر سو چی دوی په عقیده سره نه اوری وجه یی داده چی په دوی کی دلوی خوبی کموالی دی او هغه خوبی دحق طلب دی ، څکه چی اعتقاد پیدا کیږی دطلب او تلاښ که څه هم دا وخت د دوی عقیده خونه ری ، مگر کم از کم تردد خو وی نو ددی تردد او طلب په برکت سره حق واضح کیږی او دغه تردد عقیده جوړیږی پر کم چی داوریدو نفعه مند کیدل موقوف دی، پس په دوی کی داخوبی نسته لکه چی) که چیری الله ﷻ په دوی کی څه خوبی لیدی (مراد دادی چی که په دوی کی داذکر سوی خوبی وای، څکه چی دخوبی دوجود په وخت کی دالله ﷻ دعلم تعلق لازم دی پس لازم یی وویل او ملزوم یی ورڅخه مراد کی او څه خوبی یی څکه وویل چی کله چی داسی خوبی نسته چی مدار دنجات پروی نو گواکی هیڅ خوبی هم نسته، که څه هم په دوی کی طلب دحق وی) نو (الله ﷻ به) دوی ته (دعقیدی سره) داوریدو توفیق ورکړی وای (لکه چی ذکر سوه چی دطلب څخه عقیده پیدا کیږی) او که چیری (الله ﷻ) دوی اوس (په موجوده حالت کی چی په دوی کی دحق طلب نسته) اوروونکی کړی (لکه چی کله کله په ظاهری غوږونو سرا

او [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

وروسته په وجه دښکاره کیدو دغلطی یی مخ اړولی وی، ځکه چی دلته دغلطی نوم اونښان هم نسته، بلکه غضب خودا دی چی دی خواته گرسره توجه هم نه کوی او) ای مسلمانانو (مونږ چی کوم لوړ تاسی ته دفرمان برداری حکم کړیدی نویاد ساتی، په دی کی ستاسی فائده ده چی دغه همیشه ژوند دی کله چی خبره داده نو) تاسی دالله ﷻ او درسول خبری پرځای کی کله چی رسول (چی ارشاد یی دخدای ارشاد دی) تاسی تاسی ته دژوند بخښلو دشی طرف ته (یعنی ددین طرف ته چی په دی سره همیشه ژوند حاصلیږی) رابلی (نوپه داسی حالت کی چی په هردول سره ستاسی فائده ده، هیڅ وجه نسته چی تاسی عمل نه کوی) او (ددی متعلق دوی خبری نوری) یادی کی (یوه خبره دا ده) چی الله ﷻ په ده جوړیږی دبنده او دده دزړه په مینځ کی (په دوو طریقو سره یوه طریقه داده چی دمومن زړه ته دطاعت په برکت سره کفر اوگناه نه راپریږدی دوهمه طریقه داده چی دکافر زړه ته دمخالفت په کم بختی سره ایمان اوطاعت نه راپریږدی ددی څخه معلومه سوه چی په طاعت همیشوالی لوی نفع مندشی دی اوپه مخالفت همیشوالی دیرید اوضرر رسوونکی شی دی) او (دوهمه خبره دا واوری چی) بیشکه تاسی به ټول دخدای خواته جمع کړل سی (دغه وخت به په طاعت جزااوپه مخالفت سزاوی په دی سره هم دطاعت نفع مندکیدل او دمخالفت ضررناك کیدل ثابت سوه)

معلومات اومسئلي: دبدر غزا دکومی واقعه چی په تیرو آیتونوکی څه قدر په تفصیل سره بیان سوی ده ، په دی کی دمسلمانانو اوکافرانو دواړو دپاره دحکمت اوعبرت ډیر سبقونه دی ، دکومو طرف ته چی دقصی په درمیانی جملوکی خبرداری ورکول سوی دی ، مثلاً په تیرو آیتونوکی دمکی دمشرکانو دشکست اوذلت واقعی بیانولو څخه وروسته یی ارشاد فرمایلی وو: ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ یعنی دهرقسم قوت اوسامان باوجود دمکی دمشرکانو دشکست اصل سبب دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ مخالفت وو ، په دی کی دهغو خلکو دپاره دعبرت یوه تازیانه ده کم چی دمځکی اوآسمان دخالق اومالك دکامل قدرت اوغیبی قوت څخه قطع نظر کوی، یوازی پرمادی قوتونو باندی باور کوی یا دالله ﷻ دنافرمانیو باوجود دهغه دامداد اونصرت په غلطو آرزوگانو سره خپل ځان ته دوکه ورکوی.

په ذکر سوو آیتونوکی ددی مسئلی .دوهم طرف مسلمانانوته بیانوی، چی ددی خلاصه داده چی مسلمانانوته سره دکموالی دشمیر اوبی سامانی داعظیمه فتح یوازی دالله ﷻ په نصرت اوامداد سره حاصله سوه او دا نصرت او امداد نتیجه ده د دوی دفرمانبرداری دحق ، نو په دی اطاعت باندی په مضبوطی سره دقائم پاته کیدو دپاره مسلمانانوته حکم ورکول سو ، یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ای مسلمانانو! دالله اوهغه درسول الله ﷺ فرمان برداری اختیار کی او پر دی په مضبوطی سره قائم اوسی ، بیا ددی مضمون دزیات تاکید دپاره فرمایی ، وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَاَنْتُمْ تَسْمَعُوْنَ یعنی دقرآن اودحق کلمی د اوریدو باوجود دفرمان برداری څخه مخ مه اړوی، داوریدو څخه مراد دحقی خبری اوریدل دی او داوریدو خلور درجی دی یوه داچی یو اواز یوازی په غوږونو سره اوری مگر نه وریاندی دپوهیدو

Maktaba Tul Ishaat.com

کوشش کوی اونه په پوهیږی اونه اعتماد پروکی اونه عمل په کوی اودریم داچی واوری یی هم اوپوهم سی وربااندی اوعقیده او اعتماد هم پروکی، مگر عمل وربااندی ونه کی، څلورم داچی واوری یی هم، پوه هم سی وربااندی، اعتماد هم پر وکی او عمل هم، دانبکاره خبره چی داوریدو اصل مقصدپه پوره ډول په څلورمه درجه سره حاصلیږی، کوم چی دکاملو مومنانو مقام دی اوپه اولنیو درو درجوکی اوریدل ناقص اونا مکمل دی، کم ته چی په یوحیثیت سره نه اوریدل هم ویل کیږی لکه چی په راتلونکو آیتونوکی راځی، اودریمه درجه په کمه کی چی حق اوریدل، پوهیدل اواعتقاد کول خوموجود دی، مگرعمل نسته په دی کی که څه هم داوریدو اصل مقصد پوره نه دی، مگر اعتقادهم یوخاص اهمیت لری، په دی وجه دغه هم بی کاره نه دی، دادرجه دگناهگارو مسلمانانو ده اودوهمه درجه چی په هغه کی یوازی اوریدل اوپوهیدل دی، نه عقیده سته نه عمل، دا دمنافقانو درجه ده چی قرآن کریم اوری هم اوپه پوهیږی هم، اوپه ظاهرکی داعتقاد اوعمل دعوه هم کوی، مگرپه حقیقت کی دعقیدی اوعمل څخه خالی وی اواوله درجه دعامو مشرکانو او کفارو ده، کم چی دحق کلمه او دقرآن آیتونه په غور ،بنو سره خو واوریدل مگر هیڅکله یی دپوهیدو اوغور کولو طرف ته خیال نه دی کړی.

په ذکر سوی آیت کی مسلمانانو ته خطاب دی چی تاسی خلگ حقه خبره خو اوری یعنی اوریدل، پوهیدل اواعتقاد ساتل خوستاسی دطرف څخه موجود دی مگر مخ ته په دی عمل هم پوره کوی، دفرمان برداری څخه مخ مه اړوی چی داوریدو اصل مقصد مکمل سی په دوهم آیت کی ددی مضمون دزیات تاکید دپاره ارشاد فرمایی ، وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ قَالُوا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ يعنی تاسی دهغه خلگو په شان مه کیږی کوم چی وایی داسی چی مونږ واوریدل مگرپه حقیقت کی دوی هیڅ نه وی اوریدلی ددی خلگو څخه مراد عام کفارهم دی، کم چی داوریدو دعویٰ کوی، داعتقاد یی نه کوی ، اومنافقان هم دی کوم چی داوریدو سره دپوهیدو اوعقیدی هم دعویٰ کوی، مگر حقیقت دادی چی دغور اوفکر اوصحیح پوهی څخه دوی دواړه محروم دی، په دی وجه د دوی اوریدل دنه اوریدو په حکم کی دی مسلمانان یی ددی خلگو سره دمشابه کیدو څخه منعه کړل.

په دریم آیت کی ددی خلگو سخت ناکاروالی دی کم چی حقه خبره په غور او فکر سره نه اوری اوقبلوی یی نه، داسی خلگ یی ترحیوانانو هم زیات بدتر گڼلی دی، ارشاد فرمایی ، اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ .

لفظ د: دوآبّ دابة جمع ده، داصل لغت په اعتبار سره هر په مځکه تلونکوته دآبة وایی ، مگر په عرف اوپه محاوره کی یوازی چارپایه حیوانانو ته دابة وایی، معنیٰ دآیت داسوه چی ترټولو بدترین حیوان دالله ﷻ په نزد هغه دی کوم چی دحق اوریدو څخه کانه او دقبلولو څخه یی گونگیان دی اوپه کنو او گونگیانو کی که څه عقل وی نو هغوی هم په اشارو سره دخپل زړه خبره ویلی سی او دنورو په خبرا

Maktaba Tul Ishaat.com

پوهیږي خودا خلک دکون کیدو اوګونګی کیدو سره بی عقله هم دی اودا ښکاره خبره ده چی کوم کوڼ او ګونګی دعقل څخه هم خالي وو دهغه دپوهولو هیڅ لار نسته .

په دی آیت کی الله ﷻ دا واضحه کړه چی انسان کوم چی په ، أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ سره پیداسوي دی او اشرف المخلوقات اومخدوم الکائنات یی جوړ کړي دی دا ټول انعامات یوازی دحق په فرمانبرداری کی منحصر دی ، کله چی انسان دحقی خبری منلو ، اوریدلو اوپوهیدلو څخه منع وکړه نودا ټول انعامات دده څخه واخستل سی اودی تر حیوانانو هم زیات بد تر سی .

په تفسیر روح البیان کی دی چی انسان دخپل اصلی پیدائش په اعتبار سره ترټولو حیوانانو افضل اواعلی دی او دملائکو څخه په کمه درجه کی دی ، لیکن کله چی په خپل کوشش اوعمل اوپه طاعت دحق کی جد اوجهد کوی نوترملائکو هم اعلی اواشرف سی اوکه ده دحق داطاعت څخه مخ واړوی، نوبیا دی أَسْفَلَ السَّافِلِينَ ته ولاړ سی او تر حیوانانو زیات بدتر سی .

په څلورم آیت کی ارشاد دی ، وَلَوْ عَلِمَ اللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَأَسْمَعَهُمْ وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوْا وَهُمْ مُعْرِضُونَ یعنی که الله ﷻ په دوی کی څه ښه والی لیدی نودوی ته به یی دعقیدی سره داوریدو توفیق ورکړی وای اوکه دوی ته په موجوده حالت کی چی په دوی کی دحق طلب نسته ، حقه خبره واوروی نودوی به خامخا مخ اړول وکی په بی مخی کولو ، دښه والی څخه مراد دلته . طلب دحق دی ، چی دطلب په ذریعه دفکر اوپوهی دروازی خلاصیږی اوپه دی سره داعتقاد اوعمل توفیق پیداکیږی اوپه کوم کی چی طلب دحق نه وی، ګواکی په دوی کی څه ښه والی نسته معنی داده چی که په دوی کی څه ښه والی موجود وای نوظاهره ده چی دغه به دالله ﷻ په علم کی وای ، کله چی دالله ﷻ په علم کی په دوی کی څه ښه والی نسته ، نو معلومه سوه چی دوی په حقیقت کی دهرښه والی څخه محرومه دی اوددی محرومی په حالت کی که دوی ته دغور، تدبّر اوعقیدی دحق دعوت ورکول سی ، نودوی به یی هیڅکله قبول نکی بلکه مخ به ورځخه واړوی اوبه تښتی ورځخه، یعنی ددوی دامخ اړول به پردی بنا نه وی چی په دین کی دوی ته داعتراض څه خبره په نظر ورغله، په دی وجه یی نه منی، بلکه حقیقت دادی چی دوی دحقی خبری ته فکر ونه کی .

په دی تقریر سره دغه منطقی شبهه هم دفعه سوه، کمه چی داهل علموپه زړونوکی ازغی کیږی چی دا دقیاس شکل اول دی چی حد اوسط ورځخه حذف سی نونتیجه غلطه راوزی، جواب دا دی چی دلته په حقیقت کی حد اوسط مکرر نه دی ، ځکه چی داولنی: لَأَسْمَعَهُمْ مفهوم جلا دی، ددوهم: أَسْمَعَهُمْ دا جلا دی، په اول کی سماع دقبول او دفائدی مراده ده، ددوهم څخه صرف سماع .

په پنځم آیت کی بیا اهلِ ایمانوته خطاب کوی، دالله او رسول داحکامو تعمیل او داطاعت حکم یی په یوخاص اندازکی ورکړیدی چی الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ تاسی ته دکوم شی دعوت درکوی ، په دوی کی دالله او درسول خپله څه فائده نسته بلکه ټول احکام ستاسی دفائدی دپاره تاسی ته درکوی .

Maktaba Tul Ishaat.com

ارشاد فرمایي ، اسْتَجِيبُوا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ يعني خبره ومنی دالله ﷻ او درسول ﷺ ، کله چي رسول تاسي دداسي شي طرف ته رابللی کم چي تاسي لره ژوند درکوونکی دی ، دغه ژوند دکوم ذکرچي په دي آیت کي دی څه دی؟ په دي کي ډیر احتمالات دي په دي وجه دتفسیر عالمانو مختلفي خبري اختیارکړي دي ، سدي وایي چي دغه ژوند بخښونکی شی ایمان دی، ځکه چي کافر مړ دی، قتاده فرمایي چي داقرآن دی په کوم کي چي ددنیا اوآخرت ژوند اوکامیابي ده، مجاهد فرمایي چي دغه حق دی، ابن اسحاق فرمایي چي مراد ددې څخه جهاد دی ، دکوم په ذریعه چي الله ﷻ مسلمانانوته عزت ورکړی او دا ټول احتمالات پرخپل خپل ځای صحیح دي، په دوی کي هیڅ تضاد نسته اومراد دادی چي ایمان یاقرآن یا تابعداری دحق اونور داسي شیان دي په کمو سره چي دانسان زړه ژوندی کیږي او دزړه ژوند دادی چي دبنده اوالله ﷻ په مینځ کي کم دغفلت او خواهشاتو پردې حائلي دي، هغه دمینځ څخه لیري سي او دپردو تیاره لیري سي دمعرفت نورپه زړه کي ځای ونیسي .

ترمذي اونسائي په روایت دحضرت ابوهریرة ﷺ نقل کړي دي چي نبي کریم ﷺ یوه ورځ ابی ابن کعب ﷺ راوغوښتی ، ابی ابن کعب ﷺ لمونځ کوی ژر ژر یي لمونځ پوره کی او حاضر سو ، ده وفرمایل چي زما په رابللو ژر ولي رانغلی ، ابي ابن کعب ﷺ عرض وکی ، چي زه په لمانځه کي وم ، ده ﷺ وفرمایل چي آیا تا دالله ﷻ دا ارشاد نه دی اوریدلی ، اسْتَجِيبُوا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُولِ الآية ابي ابن کعب ﷺ عرض وکی چي آئنده به ددې اطاعت کوم که په حالت دلمانځه کي می هم تاسي راوبلي، فوراً به حاضریږم ، ددې حدیث پرښنا ځیني فقهاء فرمایي چي درسول دحکم په اطاعت سره چي کم یو کارهم په لمانځه کي وکي، په دې سره په لمانځه کي خلل نه راځي اوځیني فرمایي چي که څه هم دلمانځه څخه په خلاف کارونو سره په لمانځه کي خلل راځي اوماتیږي اوبیايي قضا کول لازمیږي لیکن کول هم داپه کار دي چي کله نبي کریم ﷺ څوك راوبلي اوهغه په لمانځه کي هم وي څولمونځ به ماتوي اودحکم تعمیل به کوي .

داصورت خو یوازي دنبي کریم ﷺ سره خاص دی، لیکن نور داسي کارونه په کومو کي چي په تاخیر کیدو سره دسخت نقصان خطره وي ، دغه وخت هم لمونځ ماتول اوبیايي قضا کول په کار دي ، لکه څوك په لمانځه کي دا ووینی چي روند سړی څاه یاکندي ته نژدی سویدی او ورلویږي نوفوراً دلمانځه ماتول اودده ساتل په کار دي .

دآیت په آخرکي ارشاد فرمایي ، وَاعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ یعني په دي خبره پوه سي چي الله ﷻ حائل کیږي دسړي او دده دزړه په مینځ کي ، ددې جملي دوی معناوي کیدي سي او په دواړو کي عظیم حکمت اونصیحت دی کوم چي هر انسان ته هر وخت یاد ساتل په کار دي .

یوه معنی خودا کیدی سي چي کله دڅه نیك کار کولو یادګناه څخه دمحفوظ کیدو موقع راسي، نودغه فوراً کوه وخت پکښي مه اړوه اودوخت دافرصت غنیمت وګڼه ځکه چي ځیني وخت دسړي دارادې په مینځ کي دقدرت تقدیر حائل کیږي اودی په خپله اراده کښي نه کامیابیږي، څه ناروغي راسي یامرګ

Maktaba Tul Ishaat.com

راسي يايو داسي شغل پيښ سی چې دغه كار ته فرصت حاصل نه سی، په دې وجه انسان ته پكار دي
چې دعمر فرصت او دوخت فرصت غنيمت وګڼي، دنن كار دې صباته نه پرېږدي، خكه چې معلومه نه ده
چې صبا څه كيږي

من نمی گویم زیان کن یا بفکر سود باش
ای زفرصت بی خبر در هر چی باشی زود باش

يعني زه دانه وايم چې تاوان كوه يادنفع فكر كوه خواې دفرصت دوخت څخه بې خبره، فرصت غنيمت
وګڼه اوهرڅه چې كوې خو في الحال يې كوه.

اودوهم مطلب ددې جملې داكيدي سی چې په دې كې دالله ﷻ دخپل بنده سره ډېر زيات نژدې والي
ښوول سوي دی، لكه په بل آيت كې، نَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ. دالله ﷻ انسان ته ترمرۍ درګونو هم
دزيات نژدې والي دی.

مطلب داچې دانسان زړه هروخت دالله ﷻ په خاص تصرف كې دی، كله چې هغه ديوه بنده دبدو څخه
محفوظ كول وغواړي نودده دزړه او دګناهونو په مينځ كې حائل سي اوكله چې دچا بدبختي په تقدير
كې وي نودده دزړه او دنيكو كارونو په مينځ كې حائل سي، په دې وجه نبی كريم ﷺ به اكثره په خپلو
دعاګانو كې دا دعا غوښتله ، يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلٰى دِيْنِكَ، يعني ای دزړونو اړونكی زما زړه
پرخپل دين ثابت اوقائم ولرې.

خلاصه ددې هم هغه ده چې دالله او درسول په احكامو منلوكې وخت مه اړوه او فرصت غنيمت وګڼه.
فوراً يې كوه، معلومه نه ده چې بياپه زړه كې دنيكې جذبه او مينه باقي پاته كيږي اوكه نه.

وَاتَّقُوْا فِتْنَةً لَّا تُصِيْبَنَّ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْكُمْ خَاۤصَّةً ۚ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ

اوخان ساتئ دهغه فساد څخه چې نه لوېږي په تاسې كې خاص په ظالمانو باندې اوپوه سئ چې دالله

شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٢٥﴾ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ اَنْتُمْ قَلِيْلٌ مُّسْتَضْعَفُوْنَ

عذاب سخت دی ، اوياد كړئ كوم وخت چې تاسې لږ واست كمزوري ګڼل كيداست

فِي الْاَرْضِ تَخَافُوْنَ اَنْ يَّتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَاٰوٰىكُمْ وَ

په مځكه كې بيرېداست چې وبه تښتوي تاسې خلق بيا هغه تاسې ته

اَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهٖ وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٢٦﴾

ځای دركی اوقوت يې دركی تاسی لره په خپل مدد سره او رزق يې دركی تاسی ته دپاكو شيانو چې تاسې شكر وباسی

Maktaba Tul Ishaat.com

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَخُونُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓا۟

ای ایماندارو! خیانت مه کوی دالله سره او درسول سره اوخیانت مه کوی

أَمَٰنَٰتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٧﴾ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَ

په خپل مینځ کی په امانتونو کی اوتاسی پوهیږی . اوپوه سی چی بیشکه ستاسی مالونه

أَوْلَٰدُكُمْ فِتْنَةٌ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٢٨﴾ ع

او اولاد په خرابی کی اچوونکی دی اودا چی دالله سره لوی ثواب دی

لنډتفسير او (ځنګه چی په تاسی دخپلی اصلاح په باره کی طاعت واجب دی دغه شان داهم په واجب طاعت کی داخله ده چی په قدر دطاقت دنورو په اصلاح کی په طریقه دامر بالمعروف اونهی عن المنکر (په لاسونو یاپه ژبه، پاته کول داختلاط یانفرت په زړه کی کمه چی آخری درجه ده) کوشش کوی که نوکه خلط ورسره ساتی نوددغو بدو عملونو وبال لکه ځنګه چی پردغو کوونکو باندی واقع کیږی داسی په یوڅه درجه کی به پردی خلط ساتونکو باندی هم ورسره واقع سی، کله چی دا خبره ده نو) تاسی دداسی وبال څخه ځان ساتی کم چی خاص پرهغو خلکو باندی نه واقع کیږی کوم چی په تاسی کی دغه ګناهونه کوی (بلکه کوم خلک چی دغه ګناهونه کیدل وینی اوڅه نه پروایی، هغوی به هم په دوی کی شریک وی اوودی څخه محفوظ کیدل دادی چی خوش آمدید مه کوی) اوپه دی پوه سی چی الله ﷻ سخته سزا ورکوونکی دی (دده دسزا څخه بیره کوی، خوش آمدید مه کوی) او (په دی غرض سره چی دنعمتونوپه یادولوسره دنعمت ورکوونکی داطاعت شوق پیداکیږی دخدای ﷻ نعمتونه اوخاص کړ داحالت یادکی کله چی تاسی (په یووخت کی یعنی دهجرت څخه مخکی په شمیرکی هم) لږ واست (اودقوت په اعتبار سره هم) په مځکه (دمکی) کی کمزوری ګڼل کیداست (او ددیری کمزوری څخه) په دی بیره کی واست چی تاسی (مخالف) خلګ ونه تښتوی نو (په داسی حالت کی) الله ﷻ تاسی ته (په مدینه کی په اطمینان سره) داوسیدو ځای درکی اوتاسی ته یی پخپل مدد سره قوت درکی (په سامان سره هم اودمردم شماری په زیاتولو سره هم چی په دی سره کموالی کمزوری اوبیره ټول ختم سول) او (یوازی دانه ده چی ستاسی کمزوری اومصیبت یی لیری کی بلکه داعلی درجی خوشحالی یی هم درکړ چی پر دښمنانو یی تاسی ته غلبه درکړه په ډیرو فتوحاتو سره) تاسی ته یی اعلی شیان درکړل چی (ددی نعمتونو) شکر وکی (اولوی شکر دادی چی اطاعت یی وکی) ای ایماندارو (مونږ دمخالفت او معصیت

Maktaba Tul Ishaat.com

ځکه په دې وجه ممانعت کوو چې دالله او رسول پر تاسې باندې څه حقوق دې چې نفع يې تاسې ته راګرځي او په معصيت سره په دې حقونو کې خلل راځي، چې په دې سره په واقع کې ستاسې خپلې نفع ته نقصان رسيږي کله چې خبره داده نو، تاسې دالله ﷻ او د رسول په حقونو کې خلل مه اچوئ او (په اعتبار دانجام دې مضمون ته داسې ويل کيږي چې تاسې) په خپلو دحفاظت په جوګه شيانو کې (چې دغه ستاسې نفعې دې کمې چې پر عملونو باندې مرتب کيږي) خلل مه اچوئ او تاسې خو (ددې ضرر) پيژنئ او (په اکثرو وختونو کې دمال او اولاد محبت په طاعت کې خلل کيږي، په دې وجه تاسې ته خبر ورکړل کيږي چې) تاسې په دې خبره باندې پوه سئ چې ستاسې مالونه او ستاسې اولاد ديو امتحان شی دی (چې وګورو چې څوك ددوی محبت ته ترجيح ورکوي او څوك دالله ﷻ محبت ته ترجيح ورکوي پس تاسې ددوی محبت ته ترجيح مه ورکوئ) او (که ددوی نفعو ته ګوری نو تاسې) په دې خبره باندې هم پوه سئ چې دالله ﷻ سره (دهغو خلکو دپاره کم چې دالله ﷻ محبت ته ترجيح ورکوي) ډير لوی اجر (موجود) دی (چې دهغوی په مخکې دافانی هيڅ هم نه دی)

معلومات او مسئلې: قرآن کريم دبدر دغزا څه تفصيلات او په دې کې پر مسلمانانو باندې دخپلو انعامونو تذکر کولو وروسته ددې ځخه حاصلې سوې نتيجې او ددغو په مناسبت سره مسلمانانو ته څه دپند او نصيحت ارشادات بيان کړيدي چې سلسله يې د: يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ ځخه شروع سوې ده، ددې سلسلې دا آيتونه دې کوم چې لوړ ليکل سوې دي.

ددې په اولنی آيت کې دداسې ګناه ځخه دځان ساتلو په خاص طور سره هدايت سوی دی دکوم چې سخت عذاب يوازې په ګناه کوونکو باندې نه راځي، بلکه کومو خلکو چې ګناه نه وي کړې هغوی هم په کښې اخته کيږي

هغه ګناه کمه يوه ده؟ په دې کې دتفسير دعالمانو خبرې مختلفې دي ځينې حضرات فرمايي چې دا ګناه امر بالمعروف او نهی عن المنکر يعنی خلکو ته دنيکو کارونو هدايت او دبدو کارونو ځخه دمنع کولو جد او جهد پريښودل دي.

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمايي چې الله ﷻ مسلمانانو ته ددې حکم کړي دی چې څه جرم او ګناه په خپل ماحول کې مه پريږدئ، ځکه چې که دوی داسې ونه کې يعنې جرم او ګناه وينې او سره دقدرت ته يې نه منعه کوی نو الله ﷻ به پر دې تولو باندې خپل عام عذاب نازل کې چې نه به ګناهکار ورځخه خلاص سی او نه بې ګناه.

او دبې ګناه ځخه مراد دلته هغه خلک دي کوم چې په اصل ګناه کې د دوی سره شريك نه وي، مګر دامر بالمعروف دپريښولو ګناهګار خو دوی هم دی په دې وجه دلته دا شبهه کول نه دي په کار چې ديوه دګناه عذاب په بل باندې اچول بې انصافی او دقرآن دفيصلې، لَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ځخه خلاف ده ځکه چې دلته ګناهګار په خپل اصل ګناه کې او بې ګناه دامر بالمعروف پريښوولو په ګناه کې ونيول سو، ديوه ګناه پر بل باندې نه ده اچولې سې.

Maktaba Tul Ishaat.com

امام بغوی رحمه الله په شرح السنة او معالم کی په روایت دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه او عائشی صدیقی رضی الله عنها داروایت نقل کړي دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ دیو خاص جماعت دگناه عذاب پر عامو خلگونه اچوی، ترڅو چی داسی صورت پیدانه سی چی دوی په خپل ماحول کی گناه کیدل وینی اودوی ته داقدرت هم وی چی دغه منع کولی سی اوددی باوجود دوی دغه منعه نه کی، نودغه وخت دالله ﷻ عذاب دوی ټوله راگیروی ، اوپه ترمذی او ابوداؤد اونورو کی په صحیح سند سره نقل دی چی حضرت ابوبکر رضی الله عنه په خپله یوه خطبه کی وفرمایل چی ما دنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چی ده ﷺ فرمایل ، کله چی خلک یو ظالم وړینی او دظلم څخه ده لاس منع نه کی نونژدی ده چی الله ﷻ په دی ټولو خپل عام عذاب را ولیږی ، په صحیح بخاری کی دحضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه په روایت سره نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کم خلک دالله ﷻ دقانون ماتوونکی مجرمان دی اوکوم خلک چی دوی وینی اوخوش آمدی بی کوی یعنی سره دقدرته دوی دگناه څخه نه منع کوی، ددی دواړو طبقو مثال داسی دی لکه په بحری جهاز کی چی دوی طبقی وی او دلاندی طبقی والا لوړ راسی دخپل ضرورت دپاره اوبه اخلی او په دی باندی لوړی طبقی والا تکلیف محسوس کی لاندی طبقی والا چی دا وړینی نودا صورت اختیارکی چی دکښتی په لاندی حصه کی سوری وکي ، اوبه حاصلی کی او دلوړی طبقی خلگ داوینی اومنع یی نه کی، نوښکاره خبره ده چی ټوله کښتی به داوبو څخه ډکه سی اوچی لاندی طبقی والا غرقیږی نو دلوړی هغی هم نه سی ورڅخه محفوظ کیدی .

ددی روایتونو په بنا باندی ډیرو تفسیر کوونکو حضراتو دا مقرره کړي ده چی په دی آیت کی دفتنی څخه مراد داگناه ده یعنی امر بالمعروف اونهی عن المنکرپریښودل اوپه تفسیر مظهری کی دی چی ددی گناه څخه مراد دجهاد پریښودلو گناه ده او خصوصاً هغه وخت کله چی دمؤمنانو امیر دجهاد دعوت عامو مسلمانانو ته ورکی اودا سلامی شعائرو حفاظت بغیرددی څخه نسی کیدی، ځکه چی دغه وخت دجهاد دپریښوولو وبال یوازی دجهاد پر پریښودونکونه دی بلکه پرټولو مسلمانانو راځی دکفارو دغلبی په سبب ښځی، کوچنیان، بوډاگان اوډیر بی گناه مسلمانان قتل او لوټ کیږی، بدنونه اومالونه یی په خطره کی سی په دی صورت کی دعذاب څخه مراد ددنیا مصیبتونه او تکلیفونه دی.

اوقرینه ددی تفسیر دا ده چی په تیرو آیتونو کی هم پرجهاد پریښودونکو باندی ملامتیا ویل سوی ده ، وَإِنَّ فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ لَكَارِهُونَ، او: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ : اونور تیر آیتونه په دی بیان کی راغلی دی ، او داحد په غزا کی کله چی دیو څو مسلمانانو څخه خطا وسوه چی دکنډ حفاظت یی پریښووی اولاندی راغلل ، نو د دوی دمصیبت وبال یوازی په غلطی کوونکو نه بلکه پرټول لښکر داسلام باندی پریوتی ، تردی چی په خپله په نبی کریم ﷺ هم زخم راغی .

Maktaba Tul Ishaat.com

په دوهم آیت کی دالله ﷻ داطاعت دآسانولو اودترغیب ورکولو دپاره مسلمانانوته ددوی دتیری بدحالی کمزوری اوبیا پردی باندی دخپل فضل اوانعام په سبب دحالاتو بدلولو اودوی ته دقوت اوطاقت اواطمینان ورکولو ذکردی ارشاد فرمایی.

وَاذْكُرُوْٓا اِذْ اَنْتُمْ قَلِيْلٌ مُّسْتَضْعَفُوْنَ فِي الْاَرْضِ تَخَافُوْنَ اَنْ يَّتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَاٰوٰىكُمْ وَاَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهٖ وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ.

یعنی ای مسلمانانو خپل هغه حال یادکی کوم چی مخکی دهجرت څخه په مکه معظمه کی وو، چی په شمیرکی هم کم واست اوپه قوت کی هم، هروخت درسره دابیره وه چی خلگ یعنی دښمنان به تاسی په پنجو کی وتښتوی، الله ﷻ درلره په مدینه منوره کی ځای درکی دیرښه، اوستاسی تائید اومدد یی وکی اوپر دښمنانو فتح اوعظیم مالونه اونعمتونه یی درکړل، دآیت په آخر کی فرمایی، لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ یعنی ستاسی دحالاتو بدلولو او دالهی انعاماتو مقصد دادی چی تاسی شکر گزار بندگان جوړ سی، اودا خو ښکاره خبره ده چی شکر گزاری دهغه دحکمونو په منلو کی ده.

په دریم آیت کی مسلمانانوته دا حکم ورکول سوي دی چی دالله ﷻ په حقونو کی یاپه خپل مینځ کی دبندگانو په حقونو کی خیانت مه کوی چی حق نه ادا کوی یا په کښنی کوتاهی کوی، دآیت په آخرکی یی وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ وفرمایل اودایی وښوول چی تاسی دخیانت بدوالی اووبال پیژنی اوبیایی هم کوی نودا هوښیارتوب نه دی او کله چی دالله ﷻ او دبندگانو دحقونو دادا کولو څخه دغفلت او کوتاهی سبب په عام طورسره دانسان مال اواولاد وی په دی وجه پردی دخبردارکولو دپاره فرمایی، وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ : یعنی داخبره ومنی چی ستاسی مال او اولاد ستاسی دپاره فتنه ده.

دفتنی معنی امتحان هم راځی اوعذاب هم او داسی شیانو ته هم فتنه ویل کیږی کوم چی دعذاب سبب جوړ سی دقرآن کریم په مختلفو آیتونو کی ددی درو واړو معناوو دپاره لفظ دفتنی استعمال سوي دی، دلته ددرو واړو معناوو گنجائش سته، ځینی وخت مال او اولاد په خپله دانسان دپاره په دنیاکی هم وبال جان جوړسی او ددوی په سبب سره په غفلت اوگناه کی اخته سی او دعذاب سبب جوړیدل خو یی بالکل ښکاره خبره ده اول داچی دمال او اولاد په ذریعه ستاسی امتحان اخیستل مقصود دی چی داشیان زمونږ انعامات دی تاسی دانعام په اخیستو شکر گزار اوطاعت گزاره جوړیږی اوکه ناشکره اونا فرمانه، دوهمه اودریمه معنی داهم کیدی سی چی که دمال او اولاد په محبت کی اخته سواست اوالله ﷻ مو ناراضه کی نودا مال او اولاد به ستاسی دپاره عذاب جوړسی، ځینی وخت په دنیاکی داشیان انسان په سخت مصیبت کی اخته کوی اوپه دنیاکی مال او اولاد دی عذاب گنی اوکه داسی ونه سی نودا خو لازمی خبره ده چی په دنیاکی یی کم مال دالله ﷻ دحکم څخه خلاف گټلی یاخرځ کړی وی، دغه مال خوبه په آخرت کی دده دپاره ماران لړمان اوپه اور کی دداغو ورکولو ذریعه جوړیږی، لکه چی په قرآن کریم کی په ډیرو آیتونوکی او دحدیث په بی شمیره روایتونو کی ددی وضاحتونه موجود دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

او دریمه معنی دا چی داشیان تول به دعذاب سبب جوړ سی، داخو ظاهره ده چی کله داشیان دالله ﷺ دغفلت او دده دحکمونو څخه دخلاف ورزي سبب جوړ سی ، نو دعذاب سبب سول

دآیت په آخر کی فرمایی ، وَاَنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗۤ اَجْرٌ عَظِيْمٌ یعنی په دی هم پوه سی چی کوم سړی دالله ﷺ او درسول ﷺ داحکامو په پوره کولو کی دمال او اولاد دمحبت څخه مغلوب نه وی ، دهغه دپاره دالله ﷺ سره ډیر لوی اجر دی

ددی آیت مضمون خو دټولو مسلمانانو دپاره عام او شامل دی ، مگر ددی دنزول واقعه داکثرو تفسیر لیکونکو په نزد دحضرت ابولبابه ﷺ قصه ده کمه چی دبنی قریظه وو په غزا کی پیښه سوه چی نبی کریم ﷺ او اصحابو کرامو ﷺ دبنی قریظه وو دقلعه یو ویشت ۲۱ ورځی محاصره جاری وساتله نو په دی باندی دوی تنگ سول او دوطن پرېښولو اوشام ته دتلو درخواست یی وکی، خو حضور ﷺ د دوی دشرارتونو په وجه باندی داقبول نه کی، بلکه دا ارشاد یی وفرمایی چی دصلح صرف یو صورت دی چی سعدبن معاذ ﷺ ستاسی په باره کی څه فیصله وکی په هغه باندی راضی سی دوی درخواست وکی چی دسعدبن معاذ ﷺ پرځای دی ابو لبابه ﷺ ته داکار وسپارل سی څکه چی دابولبابه ﷺ اهل اوعیال اوجایداد په بنی قریظه وو کی وو، د دوی دا خیال وو چی دی به زمونږ په باره کی رعایت وکی ، حضور ﷺ د دوی په درخواست باندی ابولبابه ﷺ ولیږی ، دبنی قریظه وو ټولی ښځی اوسړی پرده چاپیره سول اوپه ژړا سول اوپوښتنه یی ورڅخه وکړه چی که مونږ دنبی کریم ﷺ په حکم راکښته سو آیا دوی به زمونږ په معامله کی څه نرمی وکی؟ ابولبابه ﷺ ته معلومه وه چی ددوی په معامله کی دنرمی رایه نسته نودی څه ددی خلگو په ژړا اوفریاد اوڅه دخپل اهل اوعیال په محبت سره متاثره سو اوخپل لاس یی دتوری په شان په غاړی باندی راکش کی اوپه اشاره یی دوی ته وښووله چی تول به حلال کی گواکی په دی شان سره یی دنبی کریم ﷺ راز په داگه کی .

دمال او اولاد په محبت کی خو یی داکار وکی مگر فوراً پوه سو چی دنبی کریم ﷺ سره می خیانت وکی، کله چی دهغه ځای څخه واپس سو نو دومره ستومانه سوچی دحضور ﷺ په خدمت کی دحاضریدو په ځای سیده مسجد ته ورسیدی او دمسجد په یوی ستنی پوری یی ځان وتړی اوقسم یی واخیستی چی ترڅو پوری زما توبه قبوله نسی هم دغسی به تړلی یم برابره خبره که په دی حالت کی می مرگ هم راسی نواووه ورځی دغه ډول تړلی ولاړ وو ، ښځی اوکوچنیانوبه یی ساتنه کوله دانسانی ضرورت اودلمانځه په وخت کی به یی خلاص کی اوبیابه یی وتړی خوراك اوڅښاك به یی نه کوی تردی چی بی هوښی راتلل په وربانذی شروع سوه .

نبی کریم ﷺ ته چی کله په اول وار ددی اطلاع حاصله سوه نو ویی فرمایل چی که دی اول زما خوانه راغلی وای نومابه ورلره استغفار کړی وای اوتوبه به یی قبوله سوی وای اوس چی هغه داکار وکی نو دتوبی دقبلیدو ترنازلیدو پوری به اوس انتظار کول وی ، دا ډول اووه ورځی وروسته دشپی په آخره کی دا آیتونه دتوبی دقبلیدو نازل سول، ځینو حضراتو ورته خوشخبری ورسوله او دده خلاصول یی غوښتل

Maktaba Tul Ishaat.com

خوده وویل چی ترڅو پوری په خپله نبی کریم ﷺ ما خلاص نه کی زه خلاصول نه خوښوم. لکه چی کله
دسهار لمانځه ته حضور ﷺ تشریف راوړی نو په خپلو مبارکو لاسونو یی خلاص کی، په ذکر سوی آیت
کی چی کم دخیانت کولو او دمال او داولاد دمحبت څخه دمغلوب کیدو ممانعت راغلی دی. ددی اصل
سبب دا واقعه ده والله تعالی اعلم

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن تَتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنكُمْ

ای ایماندارو ! که تاسی ببریږي دالله څخه نو وبه کړی په تاسی کی فیصله اولیری به کړی

سَيِّـَٔاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢٩﴾ وَإِذْ

ستاسی څخه ستاسی گناهونه اوتاسی به وبخښی او دالله فضل لوی دی . او کله

يَمْكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ ۚ

چی فریب کوی کافرانو چی تا قیدی کی یا قتل کړی تا او یا وباسی تا

وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ ٱللَّهُ ۖ وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلْمَٰكِرِينَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ

او دوی هم تدبیر کوی اوالله هم تدبیر کوی او دالله تدبیر دټولو څخه ښه دی . اوکله چی وویل سی

عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا قَالُوا۟ قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هَٰذَآ ۙ

په دوی زمونږ آیتونه نو وایی مونږ واوریدل که مونږ وغواړو مونږ به هم ووایو داسی

إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذْ قَالُوا۟ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ

دا خو نه دی مگر حالات دپخوانیو خلقو دی ، او کله چی دوی وویل چی یا الله که دا

هَٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ

دین حق دی ستا دطرف څخه نو ووروه په مونږ کانی دآسمان څخه

أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٢﴾ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ

یا راوله په مونږ یو عذاب دردناک او الله ... نه ...

Maktaba Tul Ishaat.com

فِيهِمْ ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿٣٣﴾

په هغو کی يی. او هيڅکله الله نه عذابوی هغوی ترڅو چی هغوی معافی غواړی

تفسیر: (او) ای ايماندارو (دفرمان برداری نور برکتونه واوری هغه داچی) که تاسی دالله ﷻ ښخه وبيريږی (فرمان بردارسی) نوالله ﷻ به تاسی ته يو دفيصلی شی درکی (په دی هدايت اونور دزړه. په کوم سره چی په حق اوباطل کی علمی فيصله کيدی سی، اوغلبه پردښمن اونجات دآخرت په کوم سره چی په حق اوباطل کی عملی فيصله کيدی سی. تول راغلل) او ستاسی ښخه به ستاسی گناه ليری کی او تاسی به وبخښی اوالله ﷻ لوی فضل والا دی (اوخدای خبرچی په خپل فضل سره به نورڅه اوڅه درکی کوم چی په قياس اوگمان کی هم نه راځی) او (ای محمد ﷺ دمسلمانانو په مخکی دپاره دانعام يادولو) هغه واقعه هم ياده کړه کله چی کافرانو خلکو ستاپه نسبت (ناکاره ناکاره) تدبيرونه سوچ کول چی (آيا) تا قيدکی ياتا قتل کی ياتا دوطن ښخه وباسی، اودوی خوخپل تدبيرونه کول اوالله خپل تدبير (ددوی دتدبرونو ددفع کولو دپاره) کوی او ترټولو زيات محکم تدبير کوونکی الله ﷻ دی (چی دهغه په مخکی د دوی تول تدبيرونه بی کاره ثابت سوه اوته بالکل محفوظ پاته سوی اوصحيح سالم مدينی ته ورسيدی، کله چی ستاپه دی دول سره محفوظ کيدل دمومنانوپه حق کی دنيك بختی دبی انتهايی دروازو خلاصولو کيلی ده په دی وجه ددی واقعی دذکر کولو حکم يی وفرمايی) او (ددی کفارو داحالت دی چی) کله دوی ته زمونږ آيتونه ويل کيږی نووايی چی مونږ واوريدل (وليدل، داخوڅه معجزه نه ده ښکه چی) که مونږ اراده وکو نوددی په شان به مونږهم ووايو (پس) دا (قرآن کريم) خو (دالله ﷻ کلام اومعجزه اونور) هيڅ نه دی پوازی بی سنده خبری دی چی دتيرو خلکو ښخه راروانی دی (چی تيرو امتونوهم دادعوه دتوحيد او پيغمبر راتلو اونور کړيدی، دهغوی هغه مضمونونه ته نقل کوی) او (تردی زيات دذکر قابل هغه حالت دی) کله چی دی خلکو (په خپل دی جهل مرکب کی دزيات سخت والی اوکلکوالی ظاهرولوپه خاطر داهم) وويل چی يا الله! که داقرآن واقعی ستا دطرف ښخه وی نوپر مونږ باندی (ددی دنه منلوپه وجه سره) دآسمان ښخه کانی را واوروه يا پرمونږ يو (بل) دردناك عذاب واقع کړه (چی خارق العادة دکانو باران په شان وی اوکله چی داسی عذاب واقع نسو نوپه خپل حقوالی نازکوی) او (داسی نه گنی چی سره ددی دروغ کولو بياهم عذاب دڅه خاصو ذکر سوو موانعو په وجه نه نازليږی ددغو موانعو بيان دادی چی) الله ﷻ داسی نه کوی چی په دوی کی ته موجود يی اودوی ته (داسی) عذاب نه ورکی او (دارنگه) الله ﷻ دوی ته (داسی) عذاب نه ورکوی په کم حالت کی چی دوی استغفار هم کوی (که څه هم دغه په آخرت کی په وجه دنيستوالی دايمان به نفعه نه ورکوی، ليکن بياهم نيك عمل دی، په دنياکی خوکفاروته نفع ورکولی سی، مطلب دادی چی ددی خارق العادة عذابونو ښخه دوه کارونه مانع دی يو

Maktaba Tul Ishaat.com

دنبي كريم ﷺ په مكه كې يا په دنياكې تشريف درلودل اودوهم ددې خلكو پخپل طواف اونوركې غفرانك ويل. كم چې وروسته ترهجرت او وروسته تروفات هم باقي دى، اويومانع په احاديثوكې دى چې دحضور ﷺ په امت كې دچا امتي كيدل په دنياكې دامانع سره دچا داستغفارنه كول هم باقي دى. پس داكارونه في نفسه مانع سوه، كه څه هم كله كله سره ددې مانعه هم څه عذاب خارق دځه عارضي مصلحت په وجه واقع سي، لكه په مځكه كې ننوتل ياصورت بدليدل (يعني قذف اومسخ) اونور چې قيامت ته نژدې بې واقع كيدل په حديثوكې ذكر دى.

معلومات اومسئلې: په تير آيت كې ددې ذكر وو چې دانسان دپاره مال او اولاد يوه فتنه يعنې دآزمائش شې دى څكه چې ددې شيانو په محبت كې په اخته كيدو سره انسان په عام طور سره دخداى ﷺ اوآخرت څخه غافله كيږي، حال دادى چې ددې عظيم نعمت تقاضا دا وه چې دې دالله ﷺ داحسان په وجه دهغه طرف ته زيات را وګرځي، دذكر سوو آيتونوپه اولنى آيت كې ددغه مضمون تكمله ده، په دې كې فرمايي چې كم سړى عقل پرطبيعيت باندې غالب ولري اوپه دې آزمائش كې ثابت قدم پاته سي، اودالله ﷺ فرمان برداري اومحبت پرتولو شيانو باندې مخكى كې، كوم ته چې دقرآن اوشريعت په اصطلاح كې تقوىٰ وايي نوده ته ددې په صله كې درې شيان وركول كيدى سي، فرقان، دګناهونو كفاره، مغفرت، فرقان اوفرق دواړو مصدرونه په يوه معنىٰ دى، په محاوراتوكې فرقان هغه شى ته ويل كيږي، كوم چې په دوو شيانوكې واضح فرق اوجدايي راولي په دې وجه فيصلې ته فرقان وايي څكه چې داپه حق اوناحق كې فرق ښكاره كوي دالله ﷺ مددته هم فرقان ويل كيږي، څكه چې ددې په ذريعه دحق خاوندانو ته فتح اوددوى مخالف ته شكست وركول كيږي او دحق اوباطل فرق واضح سي، په قرآن كريم ددې معنىٰ دپاره دبدر غزا ته يوم الفرقان ويل سوي دى.

په دې آيت كې دتقوىٰ اختيارونكو ته، دفرقان وركولو داكثرو تفسير ليكونكو اصحابو ؓ په نزد دا مطلب دى چې دالله ﷺ نصرت او امداد او حفاظت د دوى سره وي ، هيڅ دښمن دوى ته ضرر نه سي رسولى او په ټولو مقصدونو كې كاميابي د دوى ملګري وي.

هر كه ترسيد از حق وتقوىٰ گزيد ترسد از وى جن وانس وهر كه ديد

څوك چې خداى څخه وبيريږي اوتقوىٰ اختياركى ده څخه بيا بيريان انسان اوهر څوك چې يې وينى ټول ورڅخه بيريږي.

په تفسير مهائمي كې دى چې په دې كې ددې خبرې طرف ته اشاره ده چې په تيره واقعه كې چې دحضرت ابولبابه ؓ څخه داخپل اهل اوعيال دحفاظت په خاطركمه خطا سوې وه، هغه په دې وجه هم خطاوه، چې داهل اوعيال دحفاظت هم صحيح لار داوه، چې دالله ﷺ او دهغه درسول ﷺ مكمل اطاعت يې اختيار كړي وى ، نوټول مال او اولاد به يې دالله ﷺ په حفاظت كې راغلى واى.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوخيني تفسير ليكونكي فرمايي چي دفرقان څخه مراد په دی آيت کی هغه عقل او پوه ده دکم په ذريعه **چي دحق اوباطل** کړ، او کوته فرق آسان سی نومعنی داسوه چی تقوی اختيارونکو ته الله ﷻ داسی پوه **اوعقل ورکی** چی ده ته په بنه اوبد کی فيصله کول اسان سی، دوهم شی کوم چی دتقوی په صله کی **ورکول کيږي** د، **گناهونو** کفاره ده يعنی کمی خطاگانی چی دده څخه سوي وي، په دنيا کی دهغو کفاره **اوبدل** د کرخول سی، يعنی ده ته دداسی نيکو عملونو نوفيق ورکول سی کوم چی دده پرتولو خطاگانو **باندي** غالب سی

دريم شی کوم چی دتقوی په صله کی حاصليږي هغه دآخرت مغفرت اودتولو گناهونو خطاگانو معافی ده دآيت په آخرکی ارشاد فرمايي ، وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ يعنی الله ﷻ دلوی فضل او احسان مالك دی ، په دی کی يی دی طرف ته اشاره وکړه چی دعمل جزا خو دعمل په تول باندی وی ، دلته هم دتقوی چی دکومی نيکی جزا دری شيان ذکر دی ، دغه خو دجزا اوبدلی په طور دی، مگر الله ﷻ لوی فضل اواحسان والا دی ، دهغه عطاء اوبخشش په وزن اوپيمانی پوری ترلی نه دی ، او دهغه داحسان اوانعام هيڅوك اندازه نسی کولی، په دی وجه دتقوی اختيارونکو دپاره په کار دی چی دالله ﷻ دفضل اوانعام ددی درو شيانو څخه علاوه نور هم دير اميدونه ولری، په دوهم آيت کی دالله ﷻ ديوخاص انعام اواحسان ذکر دی کوم چی پرنبی کريم ﷺ اواصحابو کرامو ﷺ بلکه په تولی دنيا باندی سوي دی چی تر هجرت مخکی کله چی نبی کريم ﷺ دکفارو په گيره کی وو اودغو دده ﷺ دقيدولو ياقتلولو مشوری کولی نو الله ﷻ ددوی ناپاکی ارادی په خاوروکی واچولی اونبی کريم ﷺ يی په خير اوعافيت سره مدينی منوری ته ورسوی.

دکوم واقعه چی تفسيرِ ابن کثير اومظهری په روايت دمحمدبن اسحاق اوامام احمد او ابن جرير او نورو داسی نقل کړي ده ، چی کله دمدينی منوری څخه دراتلونکو انصارو مسلمانان کيدل په مکه کی مشهور سوه نو دمکی دقريشو سره دافکر سو چی تر اوسه خودده معامله يوازی ترمکی پوری محدوده وه، چی دلته هر قسم طاقت زمونږ په لاس کی دی اواوس چی کله په مدينه منوره کی داسلام خپريدل شروع سوه اوډيرو اصحابو کرامو : هجرت وکی مدينی ته ورسيدل نواوس ددوی يومرکز مدينه طيبه قائم سو، چی هلته دوی هرقسم قوت زمونږ خلاف جمع کولی سی اوبيا پرمونږ حمله کولی سی اودوی ته دا احساس هم وسو چی تراوسه پوری خو يوڅو اصحابو کرامو : هجرت کړيدی اومدينی ته رسيدلی دی، اوس داهم قوی امکان دی چی محمد (ﷺ) هم هلته ولاړسی، په دی وجه دمکی سردارانو دمشوری دپاره په دار الندوة کی يوخاص مجلس راوغوښتی، دار الندوة دمسجدِ حرام سره متصل دقصی بن کلاب کور وو ، کوم چی دی خلکوپه قومی مسئلوکی دمشوری اومجلس کولو دپاره مخصوص کړی وو اودغه يی اوس داسلام په زمانه کی په مسجدِ حرام کی داخل کړي دی ، ويل کيږي چی موجوده باب الزيادات دغه ځای وو، کومه چی په يي دار الندوة ويل

Maktaba Tul Ishaat.com

دعادت مطابق ددې مهمې مشورې دپاره دقريشو سردران په دار الندوة کې جمع سول چې په دوی کې ابوجهل، نضربن حارث، عتبه، شيبه، اميه بن خلف، ابو سفيان او نور دقريشو تول مشوری سری شامل سول او دنبی کريم ﷺ او اسلام دزياتيدونکی قوت دمقابلې دپاره پرتدبيرونو غور سو.

اوس دمشورې مجلس شروع کيدی چې ابليس لعين ديو بوډا عربی شيخ په صورت کې دار الندوة دروازې ته راغی او ودريدی، خلګو ورځخه پوښتنه وکړه چې ته څوك يې ولی راغلی يې ؟ ده ورته وويل چې زه دنجد اوسيدونکی يم، ماته معلومه سوه چې تاسی خلګ يوه مهمه مشوره کوی، نو دقومی همدردي په توګه زه هم حاضرسوی يم، چې ممکنه ده څه فائده منده مشوره زه هم درکرم ، چې دايې واوريدل نو دی يې دننه راوغوښتی اومشوره شروع سوه نو دسهيلی دروايت مطابق ابو البختری ابن هشام دامشوره پيش کړه چې دی يعنی نبی کريم ﷺ دې داوسپنی په زنځيرونو کې قيد سی او دکور دروازه دې وربسی بنده سی اودې دی په کښې پاته سی تردې پورې چې معاذ الله دی په خپله په خپل مرګ ورسيږي، شيخ نجدي ابليس لعين چې داواوريدل نوري ويل چې دارايه صحيح نه ده، ځکه چې که تاسی داسی وکړل نو معامله به پټه پاته نه سی بلکه ددې خبره ترلیرې ليرې پورې ورسيږي اوده داصحابو اوملګروپرده دځان قربانولو کارنامې خوستاسی په مخکی دی، ديره ممکنه ده چې دغه خلګ جمع سی، پرتاسی حمله وکی اوخپل قيدی ستاسی څخه آزادکی تولو وويل چې دشيخ نجدي خبره صحيح ده، ددې څخه وروسته ابو الاسود دا رايه پيش کړه چې دی دې دمکی څخه وايستل سی دباندې دې ولاړسی چې څه غواړی هغه دې کوی زموږ ښاربه ددوی دفساد څخه په امن سی اوموږ به دجنګ جګړو څخه په امان سو شيخ نجدي چې دا واوريدل نو ويې ويل چې دارايه هم صحيح نه ده، آيا تاسی ته معلومه نه ده چې دی څومره خوږ ژبی دی، خلګ چې دده خبرې اوری نوعاشقان کيږی باندي، که دی دغسې آزاد پريښوول سو نوډير ژر به خپل يو طاقتور جماعت جوړکی اوپر تاسی به حمله وکی شکست به درکی، اوس ابو جهل وويل چې کم دکولو کاردی، هغه په تاسی کی دهيچاپه خيال کی رانغی، زماپه خيال کی يوه خبره راغلی ده هغه داچې موږ دعربو دټولو قبيلو څخه دهری يوی قبيلی يو يو سری راواخلو اوهريوه ته يوه ښه کار کوونکی توره ورکو اودا ټول خلګ په يوه وار پرده حمله وکی اوقتل يی کی، موږبه په دی طريقه سره دده دفساد څخه خلاص سو ، اوس پاته سوه دده دقبيلی بنو عبد مناف مطالبه چې دده دقتل په سبب به پرموږ نه کوی، نوپه داسی صورت کی چې قتل يوه سرې نه وی کړی، بلکه دهری قبيلی يوه سرې کړی وی نو دقصاص يعنی دنفس په بدله دنفس مطالبه خوباقی نه پاته کيږی، يوازی دخون قيمت ياديت دمال مطالبه به پاته سی هغه به موږ دټولو قبيلو څخه جمع کو اودوی ته به يی ورکو اوده څخه به بی فکره سو .

شيخ نجدي ابليس لعين چې دا واوريدل نو ويې ويل چې بس رايه هم دا ده او ددې څخه ماسوا بل شی کار کوونکی نسته، ټول مجلس دارايه قبوله کړه اوهره دې خوشحاله يې دخپل دې ناپاکی ارادی ...

Maktaba Tul Ishaat.com

کولو تیاری وکړه ز
مګر دپیغمبرانو ... یی طاقت دی جاهلانو ته څه معلوم وو ، بل طرف ته جبرئیل امین ؑ ددی مشوری دټول حال څ... نبی کریم ﷺ خبرکی اودا تدبیر یی ورته وښووی چی نن به ته پرخپله بستره آرام نه فرمایی اواوس ا... ﷻ تاته دمکی څخه دهجرت کولو اجازت فرمایلی دی .

بلی ... نه دمشوری مطابق سم دماښامه دقریشو ځوانانو دنبی کریم ﷺ په کور محاصره راچوله ، نبی کریم ﷺ چی داولیدل نوحضرت علی مرتضیٰ ؓ ته یی حکم وکی چی نن شپه دی دنبی کریم ﷺ پر بستره ... رام وفرمایی او دا خوشخبری یی ورلره ورکړه چی په دی که څه هم ستا دنفس خطره ده، مګر دښمن په تا هیڅ نه سی کولی ، حضرت علی ؓ ددی کار دپاره خپل ځان پیش کی او دده پربستره باندی پریوتی ، مګر اوس مشکل دا وو چی نبی کریم ﷺ به ددی محاصری څخه څنګه وزی ، دامشکل الله ﷻ دیوی معجزی په ذریعه حل کی هغه داسی چی نبی کریم ﷺ دالله ﷻ په حکم په یوه موټ کی خاوری را واخیستی دباندی یی تشریف راوړی، اومحاصری اچوونکو چی دده ﷺ په باره کی څه خبری کولی دهغه جواب یی ورکی ، مګر الله ﷻ د دوی نظرونه اوفکرونه ددوی دطرف څخه وارول چی هیچا هم دی ونه لیدی اوحال داوو چی ده ﷺ دهر یوه پرسر خاوری اچولی اوتلی، دده ترتشریف وړلو وروسته یوه دلاری تلونکی ددی خلګو څخه پوښتنه وکړه، چی دلته څښتی ته ولاړ یاست، نوددوی وویل چی دمحمد ﷺ په انتظار کی، هغه ورته وویل چی داتاسی په څه خیال کی یاست هغه خوددی ځای څخه وتلی اوتللی دی اوستاسی دهریو پرسر یی خاوری اچولی دی، دی خلګو چی پر خپلو خپلو سرونو لاسونه کښیښوول نومعلومه سوه ورته چی دهریو پرسر خاوری پرتی دی .

حضرت علی ؓ دده پربستره پروت وو ، خودی خلګو وپیژندی چی دامحمد ﷺ نه دی په دی وجه یی دده دقتل اراده ونه کړه ترسهاره پوری دمحاصری اچولو څخه وروسته ذاخلګ ناکامه اونا مراده واپس سول دا شپه اوپه دی کی دنبی کریم ﷺ دپاره خپل ځان په خطره کی اچول دحضرت علی مرتضیٰ ؓ دخاصو فضیلتونو څخه دی .

دقریشو سردارانو چی کومی دری رایی دنبی کریم ﷺ متعلق پیش کړی وی دا دری سره قرآن کریم په دی آیت کی ذکر کړي دی .

وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ : یعنی هغه وخت دیادولو قابل دی کله چی کافرانو ستا خلاف تدبیرونه کول چی قید کی تا یاقتل کی تا یادی دښار څخه وباسی، مګر الله ﷻ د دوی ټول تدبیرونه خاوری کړل ، په دی وجه دآیت په آخرکی فرمایی ، وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ یعنی الله ﷻ ښه تدبیر کوونکی دی ، کوم چی پرټولو تدبیرونو غالب راځی، لکه چی په دی واقعه کی ولیدل سول .

دلفظ د ، مکر معنی دعربی لغت په اعتبار سره دا ده چی په حیله اوتدبیر سره خپل مقابل دښمن دهغه دارادی څخه منع کی، بیا که دا کار په [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

مقصد سره وسی نومذموم اوناکاره دی، په دی وجه دالفظ دانسان دپاره هم وی[illegible]ری او دالله ﷻ دپاره هم، مګر دالله ﷻ دپاره یوازی په داسی ماحول کی دا استعمالیږی کوم خای چی په [illegible] کی دمخکی او ورسته بیان په ذریعه دمذموم مکر شبه نه وی (مظهری) (لکه دلته چی دی)

دلته دا خبره دنظر کولو قابله ده چی دآیت په آخرکی کوم الفاظ ارشاد سوي دی هغه په صی[illegible] مضارع دی، کوم چی په حال موجوده اوراتلونکی دواړو زمانو دلالت کوی ارشاد فرمایی . وَیَمْکُرُونَ [illegible] الله یعنی دغه خلګ ایماندارو ته دضرر سولو تدبیرونه کوی اوالله ﷻ د دوی دناکامه کولو تدبی[illegible] کوی په دی کی اشاره ده چی داکار دکفارو دهمیشه په مخه دکولو شعاردی چی مسلمانانو ته ب[illegible] ضررونه رسوی دغه ډول دالله ﷻ نصرت او امداد هم همیشه دربنتینو مسلمانانو خخه د دوی تدبیرونه دفعه کوی.

په یو دیرشم او دوه دیرشم آیتونوکی ددغه دار الندوة دیوه شریك نضر بن حارث دغه عبثی خبری اوپه دری دیرشم آیت کی یی جواب ذکردی، نضربن حارث تجارت کسبه سړی وو، دمختلفو ملکونوپه سفرونوکی یی دیهودو اونصاراو کتابونه او ددوی عبادتونه بار بار لیدلی وه، په دی وجه کله چی ده په قرآن کریم کی دتیرو امتونو حالات واوریدل نوویی ویل ، قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَاۤءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَآ اِنْ هٰذَآ اِلَّاۤ اَسَاطِیْرُ الْاَوَّلِیْنَ : یعنی دا خبری خو مونږ او ریدلی دی که مونږ وغواړو نو هم داسی ویلی سو دا خو دمخکنیو خلګو قصی دی ، اوکله چی خینو اصحابو ﷺ دی لا جوابه کی چی که ته داسی کلام ویل سی نوبیا ولی یی نه وایی؟ کله چی قرآن کریم دحق اوباطل فیصله پردی مقرره کړي ده اوتولی دنیاته یی چیلنج ورکړي دی چی که خلاف کوونکی ربنتینی وی نودقرآن کریم دیوکوچنی غوندی سورة مثال دی پیش کی اوپه خلاف کی دخان اومال او اولاد قربانی کوونکو تولوپه جمعه هم دیو کوچنی سورة مقابله ونه سوه نو اوس داوینا چی که مونږ وغواړو نوهم داغسی کلام ویلی سو، یوه داسی خبره ده چی یو غیرتمند سړی یی نسی کولی، بیاکله چی نضربن حارث ته اصحابو کرامو ﷺ دقرآن حق والی بیان کی ، نوپه خپل مذهب باندی دپوخ والی بنوولو دپاره یی وویل ، اَللّٰهُمَّ اِنْ کَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِکَ فَاَمْطِرْ عَلَیْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَاۤءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِیْمٍ : یعنی ای الله ، که داقرآن ستا دطرف خخه حق وی نوپر مونږ کانی را واوروه یابل سخت عذاب نازل کړه.

قرآن کریم په خپله ددی جواب ورکی، اول یی ارشاد وفرمایه ، وَمَا کَانَ اللّٰهُ لِیُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ فِیْهِمْ یعنی الله ﷻ داسی نه کوی چی ته په مکه کی یی اوپر دوی عذاب نازل کی، خکه چی اول خو دتولو انبیاوو ﷺ سره دالله ﷻ دستور دادی چی په کم کلی کی دوی موجود وی پردوی ترهغه وخته پوری عذاب نه نازلوی ترخو چی خپل پیغمبران دهغه خای خخه ونه باسی، لکه دحضرت هود، حضرت صالح اوحضرت لوط ﷺ په واقعاتوکی چی ولیدل سوه چی ترخو پوری دغه حضرات په کلی کی وه عذاب نه راتلی، کله چی دوی دهغه خای خخه ولیږل [illegible]

Maktaba-Tul-Ishaat.com

ورکړیدی [illegible] لی دی، نو دده په یوکلی کی موجود کیدل اوعذاب پرهغوی راتلل دده دشان خخه خلاف [illegible] ب خلاصه دا سوه چی تاسی خو دقرآن اواسلام دمخالفت په وجه ددی مستحق یاست چی پر [illegible] ری واورول سی، مګر دنبی کریم ﷺ په مکه کی موجودوالی ددی خخه مانع دی.

[illegible] جریر فرمایی چی دآیت داحصه هغه وخت نازله سوه کله چی دی په مکه مکرمه کی موجود وو. [illegible] دمدینی منوری دهجرت خخه وروسته دآیت دوهمه حصه دانازله سوه: وَمَا كَانَ اللهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ یعنی الله ﷻ په دوی عذاب نه نازلوی ترڅوچی دوی استغفار کوی مراد ددی خخه دا دی چی ستا مدینی منوری ته ترتلو وروسته که څه هم دعام عذاب دامانع لیری سو چی ستا هلته موجودوالی وو، مګر داوخت هم یومانع دعذاب موجود دی چی ډیر کمزوری مسلمانان کم چی هجرت یی نه سوای کولی په مکه کی پاته سوی وه اوهغوی دالله ﷻ خخه استغفار غوښتی د دوی په خاطر په مکی والاوو باندی عذاب نازل نه سو.

بیاچی کله دی تولو حضراتوهم هجرت وکی اومدینی منوی ته ورسیدل نو دوروسته آیت داجمله نازله سوه. وَمَا لَهُمْ اَلاَّ يُعَذِّبَهُمُ اللهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ یعنی دا څنګه کیدی سی چی الله ﷻ دوی ته عذاب ورنه کی، حال دادی چی دوی خلګ په مسجدِ حرام کی دعبادت خخه منع کوی؟

مطلب دا دی چی اوس دواړه مانعه ختم سوه، نه خونبی کریم ﷺ په مکه کی سته اونه استغفار کوونکی مسلمانان په مکه کی باقی دی نو اوس دعذاب راتلو څه بندیز باقی پاته نه سو، خاصکر ددوی دعذاب په مستحق کیدو کی په خپله داسلام دمخالفت خخه علاوه ددی جرم هم اضافه وسوه چی دوی په خپله خو دعبادت قابل نه وه اوکوم مسلمانان چی دعبادت عمری اوطواف دپاره مسجدِ حرام ته تلل غواړی هغوی منع کوی نواوس ددوی مستحق کیدل دعذاب بالکل مکمل سوه، لکه چی دمکی دفتح په ذریعه په دوی عذاب نازل سو.

مسجدِ حرام ته دداخلیدو دمنعه کولو واقعه دحدیبی په غزاکی پیښه سوی وه، کله چی نبی کریم ﷺ داصحابو ﷺ سره دعمری اراده کړی وه، تشریف یی یوړی او دمکی مشرکانو دوی مکی ته دداخلیدو خخه منعه کړل اودوی اوټول صحابه کرام ﷺ یی په احرام خلاصولو او واپس کیدلو باندی مجبوره کړل، داواقعه دسنه ۶ هجری ده، ددی خخه وروسته په سنه ۸ هجری کی دوه کاله وروسته مکه مکرمه فتحه سوه، دغه دول پردوی دمسلمانانو دلاسه دالله ﷻ عذاب نازل سو.

دابن جریر ددی تفسیر مدار پردی دی چی مانع دعذاب ددوی په مکه کی پاته کیدل مقررسی اوخینی حضرات فرمایی چی دنبی کریم ﷺ په دنیاکی موجود کیدل دعذاب خخه مانع دی، ترڅو چی دی په دنیا کی تشریف فرماوی دده په قوم باندی عذاب نسی راتلی اووجه ددی ظاهره ده چی دده حال دنورو پیغمبرانو په شان نه دی چی هغوی دخاصو خاصو مقامونو قبیلوته رالیږل سوی وه، کله چی به دهغه خای خخه ووتل یوبل خای اومقام ته به ولاړل نوبیا دغه قوم به عذاب راتلی په خلاف [illegible] دانبیاوو

Maktaba Tul Ishaat.com

علیه السلام چی دده نبوت اورسالت دټول عالم دپاره اوتر قیامته پوری عام اوشامل دی تو له دنیا دده مقام دراليږلو اودائره درسالت ده ترڅو پوری چی دی ددنیا په یوحصه کی موجود وی ددوی قوم عذاب نه سی راتلی، ددی تفسیر مطلب به داسی چی دمکی والاوو دکارونو تقاضا خو دا وه چی پوی کانی واورول سی مګر دوه شیان ددی عذاب څخه مانع سوه یو دنبی کریم ﷺ په دنیاکی تشریف فرما کیدل، دوهم دمکی والاوو استغفار کول ځکه چی دی خلګوبه دشرك اوکفر باوجود په خپل طواف اونورو کی غُفْرَانَكَ غُفْرَانَكَ، ویل او دالله ﷻ څخه به یی مغفرت غوښتی، ددوی دا استغفار دکفر اوشرك سره که څه هم په آخرت کی نفع نه ورکوی، مګرپه دنیاکی ددی دانفع دوی ته حاصله سوه چی په دنیاکی دعذاب څخه محفوظ سول الله ﷻ دچا عمل ضائع کوی نه کفار اومشرکان که یو نیك عمل کوی نوبدله دوی ته په دنیاکی ورکول کیږی

ددی څخه وروسته چی کوم دا ارشاد فرمایی چی داځنګه کیدی سی چی الله ﷻ دوی ته عذاب ورنه کی حال دا دی چی دا خلګ مسلمانان دمسجدحرام څخه منع کوی (دعبادت څخه) ددی مطلب په دی صورت کی به داسی چی په دنیا کی په نه عذابیدو دی داخلګ نه مغروره کیږی اونه دی مطمئن کیږی چی ګوندی مونږ مجرمان نه یو یا پرمونږ به عذاب نه وی، که دعذاب څخه په دنیاکی محفوظ سوه نو دآخرت دعذاب څخه خو په هیڅ شان نه سی محفوظ کیدی، پردی تفسیر به په: مَا لَهُمْ اَلاَّ يُعَذِّبَهُمْ کی دعذاب څخه دآخرت عذاب مراد وی.

دذکر سوی آیت څخه څو فائدی حاصلی سوی اوله دا چی په کوم کلی کی خلګ استغفار کوی دالله ﷻ دستور دا دی چی په هغو عذاب نه نازلوی.

دوهم دا چی دنبی کریم ﷺ په موجودګی کی دده ﷺ په امت کی مسلمان وی اوکه کافر عذاب نه راځی اومراد ددی څخه عام عذاب دی چی ټول قوم په تباه کیږی، داسی عذاب به نه راځی لکه پرقوم دنوح ﷺ ، قوم دلوط ﷺ ، قوم دشعیب ﷺ اونورو چی راغلی وو ، چی د دوی ټول اونشان په ورك سو پرلږو ډیرو افرادو عذاب راتلل ددی سره منافی نه دی ، لکه چی په خپله نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایلی دی چی زما په امت کی به دخسف اومسخ عذاب راسی دخسف معنی ده په مځکه کی ننوتل، او دمسخ معنی ده صورت بدلیدل، بیزو یاخنزیر اونور جوړیدل، ددی څخه مراد دادی چی پرځینو ځینو افرادو دامت به داسی عذاب هم راځی.

دنبی کریم ﷺ په دنیاکی موجود کیدل ترقیامته پوری باقی دی ځکه چی دده ﷺ رسالت ترقیامته پوری دی، دوهم نبی کریم ﷺ داوخت هم ژوندی دی، که څه هم دغه ژوند صورت دمځکی ژوند څخه مختلف دی اودا بحث لغو او فضول دی، چی په دی دواړو ژوندونو کی فرق څه دی ځکه چی نه پردی باندی دامت څه دینی یادنیوی کار موقوف دی، اونه په خپله نبی کریم ﷺ اواصحابو ﷺ داسی فضول او بی ضرورته بحثونه غوره کړی دی ، بلکه منع یی ورڅخه فرمایلی ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

لنده دا چی دنبی کریم ﷺ په خپله روضه کی ژوند او دده ﷺ درسالت تر قیامته پوری قائم پاته کیدل ددی دلیل دی چی دی ﷺ ترقیامته پوری په دنیاکی موجود دی، په دی وجه دا امت به ترقیامته پوری دعام عذاب څخه په امن وی.

وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

د په دوی کی څه خبره ده چی الله به عذاب پر را نه ولی ، او دوی خومنع کوی دمسجد حرام څخه

وَمَا كَانُوا أَوْلِيَاءَهُ ۚ إِنْ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَّا الْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ

او دوی دده اختیار مند نه دی دده اختیارمند خو هغه دی کوم چی پرهیزګار دی لیکن په دوی کی ډیرونه

لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً

ددې خبر نسته . او ددوی لمونځ نه وو دکعبی سره مګر شپیلی وهل

وَتَصْدِيَةً ۚ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٥﴾ إِنَّ

اولاسونه توکول . نو وڅکئ عذاب په بدله دخپل کفر کی . بیشکه

الَّذِينَ كَفَرُوا يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ۚ

کوم خلق چی کافران دی دوی خرڅ کوی خپل مالونه چی بند کړی دالله دلاری څخه ،

فَسَيُنْفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۗ

نو اوس به نور خرڅ کوی بیا به آخروی دغه په دوی باندی افسوس او آخر به مغلوب سی .

وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴿٣٦﴾ لِيَمِيزَ اللَّهُ الْخَبِيثَ

او کوم چی کافران دی دوی به دوزخ طرف ته را وشړل سی ، چی جلا کی الله ﷻ ناپاک

مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلَىٰ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ

دپاکو څخه او وګرځوی ناپاک په یو بل سربیره نو ډیری به کړی

Maktaba Tul Ishaat.com

جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٣٧﴾ قُل

بوځای بیا به وغورځوی دوی په دوزخ کی ، دغه خلق دی په نقصان کی ، ته ووایه

لِّلَّذِينَ كَفَرُوا إِن يَنتَهُوا يُغْفَرْ لَهُم مَّا قَدْ سَلَفَ وَإِن

کافرانو ته چی که دوی منع سول نو معاف به سی دوی ته څه چی سوی دی او که

يَعُودُوا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾

بیا دغه کار وکړی نو جوړه سوی ده لار دتیرو خلقو

لنډتفسیر: او (ددی موانعو په سبب بالکل دعذاب نه نازلیدو څخه دی نه مطمئن کیږی، ځکه لکه څنګه چی په ذکر سوو کارونو کی عذاب مانع دی، دغه ډول ددوی کارونه هم مقتضی دعذاب دی پس دمانع اثر دادی چی عذاب خارق به نه راځی، البته نفس عذاب به دمقتضی په وجه ظاهرېږی چی دغیرِخارق په شکل کی به وی، نو دمقتضی بیان فرمایی چی) ددوی څه حق دی چی دوی ته به الله ﷻ (بالکل معمولی، سزا (هم) نه ورکوی حال دادی چی (ددوی دغه حرکتونه مقتضی دسزا دی مثلاً) دوی خلک (نبی کریم ﷺ اومسلمانان) دمسجدِ حرام (ته دتللو څخه اوپه دی کی دلمونځ کولو اوطواف کولو) څخه منع کوی (لکه په حدیبیه کی چی یی حقیقةً منع کړل او دمکی دقیام په زمانه کی حکماً چی دومره یی تنګ کړل چی هجرت ته تیار سول) حال دادی چی دغه خلک ددی مسجد دمتولی (جوړیدو هم لائق) نه دی (اودعبادت کوونکو بندول خو لاپرېږده چی ددوی دبندولو حق خومتولی ته هم نسته) ددی متولیان (جوړیدل) خو ماسوا دمتقیانو څخه (چی هغوی مومنان دی) بل هیڅوک هم نسته لیکن په دوی کی اکثره خلک (دخپلی نالایقی) علم نه لری (برابره خبره که ګرسره یی علم نه وی یاوی خوعمل په ونه کی، نو دغه علم په شان دنه علم سو، غرض داچی کم چی رښتینی لمونځ کوونکی وه هغوی خویی دغه ډول منع کړل) او (په خپله یی دمسجد څنګه حق اداکی اوپه دی کی یی څنګه لمونځونه وکړل چی بیان یی دادی چی) ددوی لمونځ په خانه کعبه (مسجدِ حرام) کی یوازی داوو شپیلی وهل اولاسونه ټکول (یعنی پرځای دلمانځه ددوی دانامعقول حرکتونه وه) پس (ددی حرکتونو په وجه به پردوی څه ناڅه عذاب که څه هم معمولی اوعادی وی نازل سی، دوی ته به وویل سی چی) اوس ددی عذاب خوند وڅکی دخپل کفرپه سبب (دکم چی یو اثر هغه قول دی: لَوْ نَشَآءُ اویو اثریی هغه قول دی ، اِنْ كَانَ هٰذَا الخ اویو اثریی هغه فعل دی ، يَصُدُّونَ الخ اویو اثریی هغه فعل دی مُكَآءً وَتَصْدِيَةً الخ لکه چی په ډیرو غزاګانو کی پردوی داسزا واقع سوه لکه چی ددی سورة په دوهمه رکوع کی هم دی ، ذٰلِكُمْ فَذُوْقُوْهُ الخ بَعْدَ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا الخ تردی ځایه پوری

خودری خلک ... مخ ... ددوی دمالی ...

Maktaba Tul Ishaat.com

کافران خلک خپل مالونه ددی دپاره خرڅوی چی دالله ﷺ دلاری څخه (یعنی ددین څخه خلک) منع کی
(لکه چی دنبی کریم ﷺ دمقابلی اومخالفت دپاره په سامان جمع کولو کی ښکاره خبره ده چی کوم خرڅ
کیدی په دغه کی هم داغرض وو) نو داخلک خوخپل مالونه (ددی غرض دپاره) خرڅوی (مګر) بیا (چی په
آخر کی (ناکامی نښانی ووینی) دغه مال به ددوی په حق کی دافسوس باعث سی (چی هسی مال خرڅ سو
او) بیا (آخر) به مغلوبه سی (چی دمال ضائع کولو دافسوس سره به یی دابل افسوس دمغلوب کیدو جمع
سی) او (داسزا اوافسوس اومغلوب کیدل خوددوی په دنیاکی دی باقی دآخرت سزاجلا ده دهغه بیان
دادی چی) کافران خلک به ددوزخ طرف ته (دبیولو دپاره په قیامت کی) جمع سی چی الله ﷺ ناپاکه
(خلک) دپاکو (خلکو) څخه جلا کی (څکه چی دوزخیان به ددوزخ طرف ته بوتلل سی نوچی جنتیان ددوی
څخه جلا کړل سی) او (ددوی څخه به یی جلا کی) ناپاکه به دیوبل سره یوځای کی، یعنی ټول به پیوست
کی بیابه (یوځای) دوی ټوله جهنم ته واچوی خاص داسی خلک په پوره تاوان کی دی (چی ددی څه انتها
نسته، ای محمد ﷺ ته دی کافرانوته ووایه چی که داخلک (دخپل کفر څخه) راوګرځی سی (او اسلام
قبول کی) نوددوی ټول ګناهونه کم چی (تراسلام) مخکی سوېدی، ټول به معاف سی (داحکم خو داسلام
دحالت سو) اوکه په خپله دغه (دکفر) پرعادت پاته سوه نو (دوی ته واوروه چی) دتیرو کافرانوپه حق کی
(زمونږ) قانون نافذ سوی دی (چی په دنیاکی هلاکت اوپه آخرت کی عذاب دی دغه به ستاسی دپاره وی،
لکه چی په قتل سره هلاک هم سول اودغیر کفارو دعرب هلاکیدل ذمی کیدل هم دی تاسی پوه سی)

معلومات اومسئلې: په تیرو آیتونوکی دابنوول سوی وه چی دمکی مشرکان دخپل کفر او انکارپه وجه که
څه هم ددی مستحق دی چی پردوی آسمانی عذاب راسی، لیکن دنبی کریم ﷺ په مکه کی موجودوالی
دعام عذاب راتلو څخه مانع دی او ترهجرت وروسته دهغو ضعیفانو مسلمانانوپه وجه سره داسی
عذاب نه سی راتلی کم چی په مکه کی اوسی او استغفار کوی، په ذکر سوو آیتونوکی دابیان دی چی
دنبی کریم ﷺ یاکمزورو مسلمانانوپه رعایت سره که په دنیاکی ددوی څخه عذاب منع سو نودا خلک دی
داسی نه ګڼی چی دوی دعذاب مستحق نه دی، بلکه ددوی دعذاب مستحق والی خوښکاره دی او دکفر
اوانکار څخه علاوه خو نورهم د دوی داسی جرمونه دی دکومو په وجه چی په دوی عذاب راتلل په کار
دی ، په دی دوارو آیتونوکی د دوی دری جرمونه شمار سوي دی.

اول داچی دا خلک خو خپله په مسجدِ حرام کی دعبادت کولو قابل نه دی اوکوم مسلمانان چی هلته
دعبادت لمونځ طواف اونورو دپاره ځی ، دوی منع کوی ، په دی کی دحُدیبیی واقعی ته اشاره ده کومه
چی په سنه ۶ هجری کی نبی کریم ﷺ داصحابو ﵁ سره دعمری ادا کولو دپاره مکی مکرمی ته رسیدلی
وه او دمکی مشرکانو دوی منع کړل اوپه واپس کیدو یی مجبوره کړل.

دوهم جرم دا فرمایی چی دا بی وقوفه داسی ګڼی اووایی چی مونږ دمسجدِ حرام متولیان یوچاته چی
غواړو دراتلو اجازت به ورکړو اوچاته چی وغواړو نه به یی ورکړو ، د دوی دا خیال د دوی غلط فهمی

Maktaba Tul Ishaat.com

نتیجه وه اول دا چی خپل خانونه یی دمسجدِ حرام متولیان گڼل ، حال دا دی چی یو کافر دمسجد متولی نه سی کیدی ، دوهم دا چی متولی ته داحق دی چی چاته وغواړی مسجد ته دراتلو څخه یی منع کی حال دادی چی مسجد دخدای کور دی ده ته دراتلو څخه دمنع کولو دهیچا حق نسته بغیر دداسی خاصو صورتونو څخه په کومو کی چی دمسجد بی حرمتی یانورو لمونځ کوونکوته دتکلیف بیره وی، لکه نبی کریم ﷺ فرمایی چی خپل مسجدونه وساتی دکوچنیانو بچیانو څخه دکومو څخه چی دپلیتی بیره وی او دپاگلانو څخه او دیوبل سره دجګړو څخه. دکوچنی بچیانو څخه هغه کوچنیان مراد دی چی دکومو څخه دپلیتی بیره وی او دپاگلانو څخه هم دپلیتی بیره ده اولمونځ کوونکو ته دآزار رسولوهم اوپه جنګ او جګړوکی دمسجد بی حرمتی هم ده اولمونځ کوونکو ته دآزار رسیدو بیره هم

ددی حدیث په وجه سره دمسجد متولی ته خودا حق سته چی داسی کوچنیان او پاګلان مسجد ته نه پریږدی او جنګ اوجګړی هم په جمات کی نه پریږدی لیکن بغیر دداسی صورتونو څخه یومسلمان دجمات څخه دمنع کولو حق هیچاته نسته نه دمسجد متولی ته اونه بل ته، دقرآن کریم په ذکر سوی آیت کی یی داولی خبری په بیانولو بس والی وکی چی داخلګ به دجمات متولیان څنګه ومنل سی، کله چی اصول دادی چی دجمات متولی یوازی متقی مسلمان کیدی سی ددی څخه معلومه سوه چی دجمات متولی مسلمان دیندار پرهیزګار پکاردی اوځینی تفسیر لیکونکی حضرات د. اِنْ اَوْلِیَآءُهٗ ضمیر دالله ﷻ طرف ته راجع کوی او دا معنی لیکی چی دالله ﷻ ولیان یوازی متقیان پرهیزګاران خلګ کیدی سی .

ددی تفسیر مطابق دآیت څخه دانتیجه راووتله چی کوم خلق دشریعت اوسنت خلاف عمل کولو باوجود دولی الله کیدودعوی کوی هغه دروغ دی اوخوك چی داسی خلګ ولیُ الله ګڼی هغوی په دوکه کی دی دریم جرم ددی خلکو یی دا وښوری چی دکفر اوشرك ګندګی خو هسی هم په دوی وه، لیکن د دوی عملونه اوکارونه خو دعامی انسانی سطحی څخه هم لویدلی دی، ځکه چی داخلګ خپل کم کارته چی لمونځ وایی هغه بغیر ددی څخه نورڅه نه دی چی په دی کی څه په خُلو شپیلی وهی اوڅه خو لاسونه ټکوی اودا خو ښکاره خبره ده چی په چاکی لږغوندی هم څه عقل اوپوهه وی نوداسی کارونه عبادت او لمونځ خوڅه کوی، صحیح انسانی کارهم نه ګڼی، په دی وجه دآیت په آخرکی ارشاد فرمایی ، فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ یعنی ستاسی دکفر اوجرمونو انجام دا دی چی اوس دالله ﷻ عذاب وڅکی ، دعذاب څخه دلته دآخرت عذاب هم مراد کیدی سی او ددنیا هم ، کوم چی په غزا دبدرکی دمسلمانانو دلاسه په دوی نازل سو .

ددی څخه وروسته په شپږ دیرشم آیت کی دمکی دکافرانو دیوی بلی واقعی بیان دی، په کومه کی چی دوی داسلام او مسلمانانو خلاف دقوت جمع کولو دپاره عظیم مال جمعه کی اوبیایی هغه دحق دین اومسلمانانو دختمولو دپاره خرڅ کی، مګر انجام یی داسو چی هغه مال هم دلاسه ولاړی او دمقصد حاصلولو په ځای په خپله خوار او ذلیل سول.

Maktaba Tul Ishaat.com

قعه ددی په روایت دمحمدبن اسحاق دحضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه څخه دانقل ده چی دبدر په غزاکی
کست وهلی زخم خوړلی، پاته لږ ډیر دمکی کافران کله چی هلته واپس مکی ته ورسیدل نو دکمو
لگو پلرونه اوزامن چی په دی جنگ کی مړه سوی وه، هغوی دتجارتی قافلی امیر ابو سفیان ته راغلل
ویی ویل چی تاته معلومه ده چی داجنگ ستا دقافلی دحفاظت دپاره سویدی چی په نتیجه کی یی
ومره جانی اومالی نقصانونه وسوه نوته اوس ددغه تجارتی سامان څخه زمونږ مدد وکړه چی مونږ
سلمانانو څخه خپل بدل واخلو نوهغه منظوره کړه اوډیر لوی رقیم یی ورڅخه ورکی چی دوی دبدر
ل اخیستو دپاره دأحد په غزاکی خرڅ کی او دهغه هم انجام دا سو چی دوی مغلوب سول او
کست خوړلو دغم سره یی دمال ضائع کیدو غم نور هم زیات سو.
آن کریم په دی آیت کی ددی واقعی پیښیدو څخه مخکی نبی کریم ﷺ ته ددی دانجام خبر ورکی،
شاد فرمایی، کوم خلگ چی کافران دی خپل مالونه ددی کار دپاره خرڅ کول غواړی چی خلگ دالله
ﷻ ددین څخه منع کی، نو ددی انجام به داسی چی دوی به خپل مالونه هم خرڅ کی اوبیابه دمال په خرڅ
ولو افسوس کوی اوانجام کار به دوی مغلوب سی، لکه چی دأحد په غزاکی هم دغسی وسوه، چی جمع
ړی مال یی هم خرڅ کی اومغلوب هم سول.
بغوی اونورو ځینو تفسیر لیکونکو ددی آیت مضمون په خپله دبدر پرغزا باندی او ددی پر خرچو
ندی حمل کړیدی چی په بدر کی دزرو خوانانو کوم لښکر دمسلمانانو مقابلی ته تللی وو، ددوی
فوراك چښاك اونور ټول اخراجات دمکی دولسو سردارانو پرخپل ذمه باندی اخیستی وو، چی په
ږی کی ابوجهل، عتبه، شیبه اونور شامل وه، ظاهره ده چی دزرو تنو دتلو راتلو خوراك چښاك
ونورو اخراجاتو باندی ډیر لوی رقم خرڅ کیږی، نودی خلگوته دخپل شکست سره پر خپل مل ضائع
یدو هم سخت افسوس وسو «مظهری»

یت په آخرکی دآخرت په اعتبار سره ددی خلگو دبد انجام بیان دی و وَالَّذِينَ كَفَرُوٓا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحۡشَرُونَ. یعنی
م خلگ چی کافران دی دوی به جهنم ته را ټول سی.
ذکر سوو آیتونوکی دحق دین څخه دمنع کولو دپاره دمال خرڅولو چی کم بد انجام ذکر سویدی، په
ه کی دنن هغه کفار هم داخل دی کوم چی خلگ داسلام څخه دمنعه کولو اودخپل باطل دین طرف ته
دعوت ورکولو باندی په لکونو روپی دشفاخانو، مدرسو، صدقو، اوخیراتونو په عنوان سره خرڅ
ی، دغه شان هغه گمراه خلگ هم په دی کی داخل دی کوم چی داسلام په مجموعی عقیدو کی شبهی
رهمونه پیدا کوی اوددی خلاف خلگوته دعوت ورکوی اوخپل مالونه خرڅ کوی لیکن الله ﷻ دخپل
ن حفاظت کوی اوپه ډیرو موقعوکی دالیدل سوی هم ده چی دغه خلگ سره ددی چی ډیر مالونه
څوی اوپه خپل مقصد کی کامیاب نه سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په اووه دیرشم آیت کی دذکر سوو واقعو دځه نتیجو بیان دی چی خلاصه دا ده چی کفاروکوم خپل مالونه داسلام خلاف استعمال کړل اوبیادوی ته افسوس اوپښیمانی وسوه، ددی فائده دا ده چی ، لِيَمِيزَ اللّٰهُ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ یعنی چی الله ﷻ په ګنده شی اوپاك شی کی فرق ښکاره کی، لفظ دخبیث اوطیب دوه مقابل لفظونه دی، لفظ دخبیث ناپاك ګنده اوحرام شی ته ویل کیږی، اوطیب ددی په مقابله کی پاك صاف اوحلال شی ته ویل کیږی، دلته ددی دواړو لفظونو ځخه دکفارو مالونه خبیث او دمسلمانانو مالونه، طیبه هم مراد کیدی سی، په دی صورت کی مطلب دا دی چی کفارو کوم عظیم مال خرڅ کی دغه مال خبیث اوناپاك وو، ددی بده نتیجه دا حاصله سوه چی مال هم ولاړی اوځانونه یی هم ولاړل، ددی په مقابله کی مسلمانانو ډیر لږمال خرڅ کی، مګر دغه مال پاك اوحلال وو ددی خرڅ کوونکی کامیاب سول اونور مال دغنیمت هم په لاس ورغلی ددی ځخه وروسته ارشاد فرمایی ، وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلَىٰ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ : یعنی الله ﷻ جمع کوی یوخبیث دبل خبیث سره بیابه دغه ټول جمع کی په جهنم کی، داخلګ په تاوان کی لویدونکی دی، مطلب دا دی چی لکه ځنګه چی په دنیا کی مقناطیس اوسپنه راکشوی، کهربا واښه راکاږی او دنوی سائنس په تجربو کی خو دټولی دنیا نظام دیوبل پرکشش باندی قائم دی، دغه ډول په عملونو او اخلاقو کی هم کشش دی، یوبد عمل بل بد عمل اویو ښه عمل بل ښه عمل راجلبوی، یوخبیث مال بل خبیث مال راجلبوی اوبیا داخبیث مال اثرهم خبیث پیدا کوی، ددی نتیجه داده چی الله ﷻ به په آخرت کی ټول خبیث مالونه په جهنم کی جمع کی اودا مال والا به په خساره کی لویږی، اوډیرو تفسیر لیکونکو حضراتو دلته دخبیث اوطیب عامه معنی مراد کړیده یعنی پاك اوناپاك یعنی په مومن اوکافر کی فرق وکی مومنان په جنت کی او کافران به ټول په دوږخ کی جمع کی.

په اته دیرشم آیت کی دکفارو دپاره بیا یو مرتبانه خطاب دی په کم کی چی ترغیب هم دی او ترهیب هم. ترغیب ددی دی چی که دوی ددغو ټولو بدو کارونو ځخه اوس هم توبه وکی اوایمان راوړی نو تیر ګناهونه به یی معاف سی، اوترهیب داچی که دوی اوس هم واپس نه سی نوپوه سی چی ددوی دپاره الله ﷻ ته یونوی قانون جوړول نه پښیږی دتیری زمانی دکافرانو دپاره چی کوم قانون جاری سوی دی ، دغه به پردوی هم جاری وی، چی په دنیاکی به هلاك اوبرباد سی اوپه آخرت کی به دعذاب مستحق سی.

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ۚ فَإِنِ انتَهَوْا فَإِنَّ

او جنګ کوی د دوی سره ترهغه وخته پوری چی پاته نه سی فساد او سی حکم ټول دالله ، بیا که دوی منع سول

اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٣٩﴾ وَإِن تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ

نو الله د دوی کار وینکی اوکه دوی ...

Maktaba Tul Ishaat.com

مَوْلٰىكُمْ ۚ نِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿٤٠﴾

ستاسی مدد گار دی ، خه ښه حمایت کوونکی دی او خه ښه مدد گار دی

لنډتفسیر او (بیا ددوی دکافر پاته کیدو په صورت کی ای مسلمانانو) تاسی ددوی (کافرانو دعربو) سره ترهغه وخته پوری جنګ کوی، چی په دوی کی دعقیدی فساد (یعنی شرك) پاته نه سی او (دالله) دین (خالص) دالله سی (اودچا ددین خالص دالله دپاره کیدل موقوف دی پرقبول داسلام، نوحاصل دا سو چی شرك پاته کی، اسلام اختیارکی لنډه داچی که اسلام نه راوړی نو ددوی سره جنګ کوی ترڅو اسلام رانه وړی ځکه چی دعربو دکافرانو څخه جزیه نه اخستل کیږی) بیاکه دوی (دکفر څخه) واپس سی نو (ددوی څخه ظاهری اسلام قبول کی، دزړه حال یی مه لټوی ځکه چی که دوی په زړه سره ایمان رانه وړی نو) الله ﷻ د دوی عملونه ښه وینی (هغه به ورسره په خپله پوه سی ستاسی یی په څه) اوکه چیری (داسلام څخه مخ اړول وکی نو (دالله ﷻ نوم اخلی د دوی دمقابلې څخه مه راګرځی او) یقین ساتی چی الله ﷻ (د دوی په مقابله کی) ستاسی ملګری دی هغه ډیر ښه ملګری دی اوډیر ښه مددګار دی (نو هغه به ستاسی ملګرتیا اومدد وکی)

معلومات اومسئلې: دا دسورة انفال یوکم څلویښتم آیت دی ، په دی کی دوه لفظونه دغور قابل دی، یولفظ د: فتنی بل د: دین دادواړه لفظونه دعربی لغت په اعتبار سره دځو معناوو دپاره استعمالیږی، دتفسیر داامامانو، اصحابو ﷺ اوتابعینو رحمهم الله څخه دلته دوی معناوی نقل دی یوه داچی د: فتنی څخه مراد کفر اوشرك او ددین څخه مراد دین اسلام واخیستل سی دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه داتفسیر نقل دی ، پردی تفسیر باندی دآیت معنی به داسی چی مسلمانانو دکفارو سره جنګ ترهغه وخته پوری جاری ساتل پکاردی ترڅوچی کفرختم نه سی ، ددی په ځای اسلام راسی داسلام څخه ماسوا بل دین اومذهب پاته نسی په دی صورت کی داحکم به یوازی داهل مکه وو اوعربو دپاره خاص وی، ځکه چی جزیرة العرب داسلام دپاره کوردی، په دی کی چی داسلام څخه ماسوا بل دین پاته سی نو داسلام دپاره خطره ده، باقی په نوره دنیاکی نور دینونه اومذهبونه قائم پاته کیدی سی لکه چی دقرآن کریم نور آیتونه او دحدیثو روایتونه پردی باندی شاهد دی .

اودوهم تفسیرکوم چی دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ اونورو څخه نقل دی هغه دا دی چی دفتنی څخه مراد دلته هغه آزار اوعذاب اومصیبت دی دکوم سلسله چی دمکی دکافرانو دطرف څخه پرمسلمانانو همیشه جاری پاته سویده، ترڅو چی دوی په مکه کی وه، نوهر وخت د دوی په آزار اومصیبت کی مبتلی وه ، بیاچی یی مدینی طیبی ته هجرت وکی نوپه یوه یوه مسلمان پسی به پسی کیدل اوقتل اولوټ کول به یی، اوچی مدینی ته ورسیدل نوپر پوره مدینه باندی بیاهم دحملوپه صورت کی د دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

غیظ اوغضب ظاهریدی .

او ددی په مقابل کی ددین معنی غلبه اوقوت دی، په دی صورت کی تفسیر دآیت داسو چی مسلمانانو ته ترهغه دکفارو سره جنګ پکار دی ترڅو چی ددی ظلمونو څخه مسلمان محفوظ نه سی اودین داسلام غالب نه سی چی دمسلمانانو دحفاظت قابل سی، دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ دیوی واقعی څخه هم ددی تفسیر تائید کیږی، واقعه داده چی کله دمکی دامیر حضرت عبد الله بن زبیر ﷺ په مقابله کی حجاج بن یوسف فوج راوغورزوی اودواړه طرف ته دمسلمانانو توری دمسلمانانو په مقابله کی چلیدی نودوه سړی عبدالله بن عمر ﷺ ته حاضر سوه اوویی ویل چی دا وخت مسلمانان په کوم مصیبت کی اخته دی ته یی وینی، حال دادی چی ته دعمر بن خطاب ﷺ زوی یی چی داسی فتنی په هیڅ حال هغه نه سی برداشت کولی څه سبب دی چی ته ددی فتنی ختمولو دپاره میدان ته نه راځی نوعبد الله بن عمر ﷺ وفرمایل چی سبب دادی چی الله ﷻ دیوه مسلمان وینه بیول حرامه کړې ده ، نو دوی دواړو عرض ورته وکی چی آیاته دقرآن دا آیت نه وایی ، وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ یعنی جنګ کوی تردی چی فتنه پاته نه سی، عبدالله بن عمر ﷺ وفرمایل چی بیشکه زه دا آیت وایم اوپه دی عمل هم کوم، مونږ ددی آیت مطابق دکفار سره جنګ جاری وساتی تردی چی فتنه ختمه سوه او داسلام غلبه وسوه اوتاسی خلک دا غواړی چی اوس مونږ دیو بل سره جنګ وکو فتنه بیا پیداکو اوغلبه دغیر الله او دحق دین خلاف وسی مطلب دا ور چی دجهاد اوقتال حکم دکافرانو په مقابله کی وو، هغه مونږ وکی اوکوو یی تردی چی دغه فتنه ختمه سوه، دمسلمانانو خانه جنګی پردی قیاس کول صحیح نه دی بلکه دمسلمانانو دخانه جنګی په وخت کی خو دنبی کریم ﷺ هدایات دا دی چی په دی کی ناست تر ولاړ ښه دی

خلاصه ددی تفسیر دا ده چی پرمسلمانانو داسلام ددښمنانو خلاف جهاد اوقتال تر هغه وخته پوری واجب دی ترڅو پوری چی پرمسلمانانو ددوی دظلمونو فتنه ختمه نه سی اواسلام ته پرټولو دینونو غلبه حاصله نه سی اودا صورت به یوازی قیامت ته نژدی وی ، په دی وجه دجهاد حکم ترقیامته پوری جاری اوباقی دی .

داسلام ددښمنانو خلاف دجهاد اوقتال په نتیجه کی دوه صورتونه پیدا کیدی سی یودا چی دوی پرمسلمانانو دزور اوزیاتی څخه منع سی برابره خبره که داسی چی په اسلامی برادری کی شامل سی اومسلمانان سی یا داسی چی پرخپل مذهب دپاته کیدو سره پرمسلمانانو زور اوزیاتی بندکی اودفرمانبرداری معاهده وکی .

دوهم دا چی دوی په دی دواړو صورتونوکی یوهم قبول نه کی اوپر مقابله قائم پاته سی، په راتلونکی آیت کی ددی دواړو صورتونو حکمونه ذکر دی ارشاد فرمایی ، فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ یعنی که کی راوګرځیدل نوالله ﷻ د دوی عملونه ښه وینی ، ددغو مطابق به ورسره معامله وفرمایی چی ددی حاصل دادی چی که دوی منع [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

مسلمانانوته کیدی سوه چی دا دکفارو دطرفه دصلح معاهده یا دمسلمانیدو اظهار دیره ممکنه ده چی محض جنگی چال وی یادوکه وی، په داسی صورت کی جنگ بندول دمسلمانانو دپاره مضر کیدی سی نوددی جواب یی په دی الفاظوکی ورکی چی مسلمانان خو دظاهری عملونو پابند دی دپتو رازونو عالم خو یوازی الله دی نوچی دوی داسلام اظهار وکی یادصلح وعده وکی نو مسلمانان په دی مجبوره دی چی جهاد بند کی، پاته سوه داخبره چی دوی په خپله صلح یا ایمان کی ربنتینی دی که دوکه ده ، دغه الله ﷻ ښه وینی ، که دوی داسی وکی نو بل انتظام به یی وسی.

مسلمانانوته په دی خیالاتو اوخطراتو باندی دخپلو معاملو بنیاد نه دی ایښوول په کار، که دصلح یا داسلام داظهار څخه وروسته په دوی لاس لوړ سو نو جهاد کوونکی به مجرمان سی ، لکه چی دصحیح بخاری اومسلم په یوحدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی ماته ددی حکم سوي دی چی داسلام ددښمنانو سره جنگ کوم ، تردی چی دوی کلمه د: لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ، قبوله کی اولمونځ قائم کی او زکوٰة ادا کی اوکله چی دوی داسی وکی نو د دوی وینه اومال تولله به محفوظ سی ، بغیر ددی څخه چی تراسلامی قانون لاندی دوی ته دڅه جرم په بدله کی سزا ورکول سی او د دوی دزړونو حال اوحساب به په الله ﷻ وی چی دوی په ربنتیا سره اسلام قبول کړی دی اوکه په نفاق سره.

دوهم یو حدیث کوم چی ابوداود دډیرو اصحابو کرامو ؓ په روایت سره نقل کړي دی دا دی چی نبی کریم ﷺ فرمائلی دی چی که سړی پر یو معاهد یعنی پرهغه چا چی داسلامی حکومت دوفاداری وعده یی کړی وی ... خوڅ ظلم وکی یا د...ه نقصان ... سوی یا ... ده څخه یو داسی کار واخلی چی دده ترطاقت زیات وی یا ورڅخه یو شی په زور واخلی نو زه به دقیامت په ورځ ددغه مسلمان خلاف دمعاهد مدد کوم، او ملګرتیا به یی کوم دقرآن مجید دکر سوی آیت اودحدیثو روایتونو په ظاهره مسلمانان په یوه سیاسی خطره کی اخته کړل چی ترلوی لا لوی داسلام دښمن کله چی ددوی په ضدکی راسی اومحض دخان خلاصولو دپاره داسلام کلمه ووایی نوپر مسلمانانو یی لازمه کړه چی فوراً خپل لاس ونیسی دغه ډول خودوی پرهیځ دښمن واك هم نه سی پیدا کولی مګر الله ﷻ د دوی پټ رازونه پرخپله ذمه واخیستل او په معجزانه انداز یی داسی وښوول چی په عملی طور سره خو مسلمانانو ته په یومیدان جنګ کی داسی آزمائش وړپیښ نه سو ، البته دصلح په حالت کی په سوونو منافقان پیدا سول کومو چی د دوکی ورکولو دپاره خپل خان مسلمان ظاهرکی ، اوپه ظاهره یی لمونځ روژه هم ادا کړل ، په دوی کی دځینو کم اصلو خودا مقصد وو چی دمسلمانانو څخه څه فائدی حاصلی کړی او ددښمنی کولو باوجود ددوی دانتقام یعنی بدل اخستو څخه محفوظه سی او ځینی هغه هم وه کوم چی دسیاسی مقصد دپاره دمسلمانانو دراز معلومولو او دمخالفینو سره دجوړ جاړی کولو دپاره یی داسی کول، مګر دالله ﷻ قانون ددی تولو په باره کی مسلمانانو ته دا هدایت ورکی چی ددوی سره دی دمسلمانانو په شان معامله کوی، ترڅو چی په خپله ددوی دطرف څخه اسلام دښمنی او دوعدی خلاف ورزی ثابته نه سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دقرآن دا حکم خو په هغه صورت کی وو چی د اسلام دښمنان دخپلی دښمنی څخه دواپس کیدو اقرار وعده وکی،

او دوهم صورت دادی چی دوی پرخپل ضد اوعناد قائم وی ، د دوی په باره کی حکم ددی څخه په وروسته آیت کی راځی ، ارشاد دی چی

وَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ مَوْلَاكُمْ نِعْمَ الْمَوْلَى وَنِعْمَ النَّصِيرُ

یعنی که هغوی خبره نه منی نوتاسی پوه سی چی الله ﷻ ستاسی مددگار حمایتی دی او هغه ډیر ښه حمایتی او ډیر ښه مددگار دی

ددی خلاصه دا ده چی که دوی دخپل ظلم، زیاتی، کفر اوشرك څخه راونه گرځی نو دمسلمانانو پرذمه هغه حکم دی کوم چی لوړ ذکر سو چی ددوی سره جنگ جاری ساتی اوجهاد اوقتال چی کله لوی لښکر اوډیره وسله اوساز وسامان عادةً غواړی اودا شیان په عام طور سره مسلمانانوته ډیرکم حاصل وه په دی وجه دا کیدی سوه چی مسلمانانو ته دقتال حکم گران معلوم سی یا دوی دخپل کموالی دشمیر او کموالی دسامان په وجه سره دا محسوسه کی چی موږ په جنگ کی نه سو کامیابیدی په دی وجه ددی علاج یی داسی وکی چی مسلمانانوته یی وښوولو چی که څه هم تعداد اوسامان ددغو خلکو سره ترمسلمانانو زیات هم وی. مگر دوی به دالله ﷻ غیبی نصرت اوحمایت دکومه څخه راوړی کوم چی مسلمانانوته حاصل دی ، کوم چی دوی په هرمیدان کی دخپل خان سره وینی اوویی فرمایل چی دغسی خو امداد او حمایت په دنیا کی هرفریق دیو څا نا یوچا څخه حاصلوی، مگر مدار ددغه مدد کوونکی پرقوت اوطاقت اوعلم اوتجربه باندی وی اودا ظاهره ده چی دالله ﷻ دقوت اوطاقت اوعلم څخه زیات لا څه برابر هم ټول جهان ته نه سی حاصلیدی ، ځکه چی هغه ترټولو ښه او لوی حمایتی او مددگار دی.

نهمه پاره ختمه سوه

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

Maktaba Tul Ishaat.com